روحاني رابطه

او

روحاني تړون

تاليف د عبدالحليم اثرافغاني

اشاعت اول اکتوبر ۱۹۶۶ء
اشاعت دوم فروري ۱۹۶۷ء
اشاعت دريم فروي۱۹۶۹ء

بسم الله الرحمان الرحيم ه

روحاني رابطه
او
روحاني تړون

تاليف د عبدالحليم اثر افغاني
ژبه ... پښتو
سائز ..... ۶ x ۹
تعداد د مخونو ۱۵۰۵
کمپوزنګ ...عبدالقاسم موسی زئی
طباعت ..... پيښور
طبع دريم .. ۱۹۶۹ء
قيمت في جلد ... ۹۰

بسم الله الرحمان الرحيم.

الحمد لله رب العالمين 0 الرحمن الرحيم0 مالک يوم الدين0 اياک نعبدو اياک نستعين0 اهدنا الصراط المستقيم0 صراط الذين انعمت عليهم0 غير المغضوب عليهم ولاالضالين0

آمين

وانمايخشي الله من عباده العلماؤ

0

الا ان اولياء الله لا خوف عليهم ولاهم يحزنون

0

ولا تقولوالمن يقتل في سبيلل الله اموات ط بل احياؤ لكن لا تشعرون

0

الله ولي الذين امنو او يخرجهم من الظالمات الي النور

0

وصلي الله تعالى علي خير خلقه و نور عرشه محمد واله واصحابه اجمعين.

0

اولیاء الله

(فوجد عبدامن عباد نا اتینه من لدنا علما)

که نظر کا څوک په کار د درويشانو
خو د به اوويني
درويشانو

په دغه لارے به ورشي خدائي رسول
که څوک يون کاندي ب
درويشانو

هر گفتار به يئے د خدائ په در قبول وي
چه قبول يئے وي گ
درويشانو

هسے گرم بازار بل په جهان نشته
لکه گرم دے با
درويشانو

په يوه قدم تر عرشه پورے رسي
ما ليدلے دے رف
درويشانو

همبره خلق يئے زيارت کا پس له مرگه
چه بازار وي په
درويشانو

بادشاهان د دے دنيا واړه پراته وي
لکه خاورے په د
درويشانو

هر بهار لره خزان په جهان شته دے
خزان نه لري ب
درويشانو

د جنت د باغ گلونه به يئے هيروي
که څوک اوويني گ
درويشانو

چه دنيا يئے کړه د خدائ د پاره ترکه
صد رحمت شه په رو
درويشانو

د قارون و حال ته ګوره راشه مه کوه ان
حال یئے څۀ شو درویشانو

د قارون و حال ته ګوره راشه مه کوه ان
حال یئے څۀ شو درویشانو

په هر چا چه د غضب لینده خطانه د درومي
کاکشه درویشانو

درست دیوان د رحمن زار تر دا
غزل شه
چه بیان یئے کړو کردار د
درویشانو

فهرست

نمبر شمار	عنوان	زمانه	صفحه
1.	تشکر		17
2.	فهرست دحوالے د کتابونو		24
3.	تړون		35
4.	دیباچه		38
5.	تقریظ د حافظ محمد ادریس مرحوم	۱۹،ستمبر ۱۹۲۳ء	50
6.	تقریظ د محمد یونس سیټهي	۱۰، اکتوبر ۱۹۲۳ء	55
7.	تقریظ د سید	۱۶، اکتوبر۱۹۲۳ء	60

	نصر من الله مشواني		
8.	تقريظ د خان عبدالودود خان	۱۴،نومبر۱۹۲۳ء	65
9.	تقريظ د شيخ محمد حيسن صاحب	۲۵،نومبر ۱۹۲۳ء	68
10.	حضرت سنان ابن محبق هدلي المعروف په اصحاب بابا رضي الله عنه. شهيد	۴۵هـ	73
11.	سيد جلال بخاري گنج علم شهيد	۳۹۲هـ	83
12.	مولانا علي ابن يوسف دلازاک	۳۹۲هـ	88
13.	حضرت دا تاگنج بخش لاهوري	۴۵۹هـ	91
14.	حضرت مديح بابا چشتي	۴۰۰هـ	177
15.	شيخ ابوبکر صالح	هـ	184
16.	حضرت اتو	۵۴۷هـ	186

	شوریاني خویشکي		
.17	حضرت میران محي الدین شیخ عبدالقادر جیلاني	۵۶۲ هـ	200
.18	حضرت سخي سرور سلطان	۵۷۷ هـ	219
.19	سلطان بختیار خلجي مشرقي پاکستان	۶۰۲هـ	227
.20	سید امیر کبیر. سندهي	۶۳۰هـ	239
.21	شیخ شهاب الدین سهروردي	۶۳۲هـ	244
.22	حضرت خواجه معین الدین حسن چشتي	۶۳۲هـ	250
.23	حضرت سید مبارک غزنوي	۶۳۲هـ	322
.24	حضرت شیخ لعل شهباز قلندر سهروردي	۶۵۰هـ	335
.25	حضرت شیخ ابراهیم دانشمند انصاري	۶۶۰هـ	341

26.	حضرت شیخ بهاء الدین زکریا ملتاني	۶۶۶ھـ	346
27.	خواجه بابا فرید گنج	۶۷۰ھـ	362
28.	حضرت جلال الدین میر سرخ بخاري	۶۹۰ھـ	380
29.	اولیائے مشرقي پاکستان		400
30.	شیخ شرف الدین تواله	۷۲۵ھـ	415
31.	شیخ جلال الدین تبریزي	۷۴۳ھـ	423
32.	سلطان فخر الدین مبارک شاه	۷۴۷ھـ	443
33.	سلطان علاء الدین علي شاه	۷۴۷ھـ	444
34.	حاجي الیاس شاه	۷۵۱ھـ	446
35.	غیاث الدین اعظم شاه	۷۸۶ ھـ ۸۰۱ ھـ	447
36.	مولانا سراج الدین عطاء	۷۱۵ھـ	449
37.	حضرت شیخ	۷۵۰ھـ	455

		راجا بياباني	
458	٧٥٣هـ	عثمان اخي سراج	.38
462	٧٨٣هـ	شيخ علاء الحق	.39
465	٧٨٨هـ	حضرت مخدوم جهانيان	.40
498	٧٩١هـ	خواجه بهاء الدين نقشبندي	.41
510	٧٩٤هـ	حضرت بدر عالم زاهدي	.42
524	٨٠٠هـ	قاضي سراج الدين صديقي	.43
531	٨١٨هـ	نور قطب عالم	.44
534	٨٢١هـ	حضرت پير قتال زاهدي	.45
539	٨٢٥هـ	حضرت خواجه محمد كيسودراز (ثاني)	.46
542	٤٠٠هـ	سيد محمد كيسو دراز اول	.47
560	١٠٥٣هـ	سيد نام آدم بنوري	.48
563		سادات تارن	.49
563	٤٠٠هـ	سيد نا محمد طاهر الحسيني	.50

51.	خواجه یحی کبیر غورغشتي	۸۳۴هـ	565
52.	شیخ صدر الدین صدر جهان	۹۳۲هـ	577
53.	حضرت پیر سید ابراهیم شاه شیرازي المعروف حصار بابا	۹۶۳ هـ	584
54.	حضرت سید علي ترمذي، پیر بابا	۹۹۱هـ	595
55.	مولانا شیخ احمد سون	۱۰۳۰هـ	633
56.	حضرت سید پیر ابراهیم بخاري	۱۰۳۳هـ	643
57.	مولانا عبدالوهاب اخون پنجو بابا	۱۰۴۰هـ	651
58.	شیخ محمد طاهر بندګي	۱۰۴۰هـ	718
59.	حضرت مولانا اخوند درویزه	۱۰۴۸هـ	723
60.	شیخ سید خواجه ذکریا	۱۰۵۵هـ	775
61.	اخون محمد	۱۰۵۹	784

	يونس كيلاني		
62.	شيخ امام الدين خليل	١٠٦٠هـ	803
63.	حضرت شيخ رحمكار كاكا صاحب	١٠٦٣هـ	811
64.	شيخ حميد دانشمند (مشرقي پاكستان)	١٠٥٣هـ	842
65.	شيخ حاجي بهادر كوهاټي	١٠٧٨ هـ يا ١٠٩٠هـ	849
66.	حضرت اخوند الياس يوسفزايئے	١٠٨٦ هـ	879
67.	حضرت شيخ حبيب پشاور	١٠٩٣هـ	898
68.	حضرت اخوند مامون يوسفزائے	١٠٩٩هـ	901
69.	مولانا سعد الله خان وزير آباد	١١٠٢هـ	903
70.	مولانا شيخ سعدي لاهوري	١١٠٨هـ	908
71.	مولانا سيد محمد قطب بنوري	١١٠٨هـ	914

72.	حضرت مولانا محمد اسماعيل غوري	١١١١هـ	919
73.	حضرت پير سيد حسن پشاور	١١١٥هـ	923
74.	حضرت شيخ عبد الغفور پشاور	١١١٦هـ	938
75.	حضرت ميا عبد الحئ سندهي	١١١٧ هـ	949
76.	حضرت اخوند ميا نعيم	١١٢١هـ	964
77.	حضرت شيخ محمد يحى د اټک	١١٣١هـ	967
78.	حضرت شيخ شهباز قلندر قادري	١١٣٣هـ	983
79.	حضرت شيخ شهبازمهمند	١١٤٦هـ	986
80.	حضرت شاه محمد غوث قادري لاهور	١١٥٢هـ	987
81.	حضرت ميا عبد الحكيم كاكړ	١١٥٣هـ	1016
82.	حضرت شاه عبد الرحيم	١١٥٨هـ	1037

	(مشرقي پاکستان)		
.83	حضرت شيخ جنيد پشاور	۱۱۶۲هـ	1041
.84	حضرت شاه عبداللطيف بهٽائي	۱۱۶۵هـ	1048
.85	حضرت شيخ محمد مؤمن	۱۱۸۴هـ	1065
.86	حضرت ميا محمد عمر چمکني	۱۱۹۰هـ	1067
.87	حضرت شيخ اخوند محمد نقشبندي	۱۱۹۱هـ	1107
.88	حضرت اخوند محمد صديق پهلواړي	۱۱۹۵هـ	1113
.89	حضرت اخوند حافظ محمد صديق بشواني	۱۱۹۸هـ	1115
.90	اخوند حافظ محمد عمر زاے	۱۲۰۶هـ	1120
.91	حضرت سوفي سيد محمد دائم (مشرقي پاکستان)	۱۲۱۲هـ	1123
.92	اخوند سيد شير محمد	۱۲۱۴هـ	1126

		بنوخي	
1139	۱۲۱۵ هـ	حضرت حافظ عبد المقتدر، الپوری	.93
1147	۱۲۲۰هـ	حضرت محمد صاحب زاده، چمکني	.94
1157	۱۲۳۲هـ	حضرت فضل احمد معصومي	.95
1178	۱۲۳۳هـ	حضرت عبيد الله مياكل چمکني	.96
1182	۱۲۳۴هـ	اخون ذاده فيض الله	.97
1185	۱۲۳۵هـ	بابا محمد فيض الله تيراهي	.98
1191	۱۲۳۶هـ	حضرت سيد عبد الحکيم بخاري	.99
1200	۱۲۴۲هـ	حضرت سجل سرمست (سندهي)	100
1209	۱۲۴۶هـ	حضرت سيد احمد شهيد بريلوي	101
1252	۱۲۶۷هـ	حضرت شاه سليمان	102

	تونسوي		
103	حضرت نور محمد تيراهي	۱۲۶۸هـ	1266
104	حضرت ميا مستجاب (قبائيلي علاقه مهمند)	۱۲۷۵هـ	1269
105	حضرت سيد محمد امير د کوټي	۱۲۹۴هـ	1277
106	حضرت شيخ عبدالغفور د سوات	۱۲۹۵ هـ	1342
107	حضرت شاؤ بابا صاحب د دير	۱۳۱۲هـ	1384
108	حضرت مولانا نجم الدين د هډے	۱۳۱۹هـ	1392
109	حضرت ميا فقير الله جلال آبادي		1396
110	حضرت مولانا عبدالوهاب د مانکي	۱۳۲۲هـ	1403
111	حضرت مولانا محمد اسرائيل شهيد	۱۳۳۴هـ	1418
112	حضرت خواجه	۱۳۵۲هـ	1436

	سید مهر علي شاه د ګولړه		
113	حضرت پیر فضل واحد حاجي صاحب د ترنګزاۍ	١٣٥٧هـ	1446
114	حضرت سید میر آغا جان ګیلاني	١٣٦٩هـ	1478
115	حضرت سید بادشاه جان	١٣٧٢هـ	1491

تشکر

الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علي نبیه محمد والیه واصحابه الطیبین الطاهرین ولي عباده الصالحین چه څما دا تالیف "روحاني رابطه" او "روحاني ترون" تکمیل ته اورسیده. د ټولونه اول زۀ د الله تعلي جل وعلي شانه شکریه ادا کوؤم چه ماله ئې د خپلو نیکو بندګانو، عالمانو، بزرګانو، شهیدانو د تذکرے او

سوانح حیات لیکلو توفیق راکړو. چه عامو مسلمانانو رونړو ته ترینه فائده اورسیږي. او ځما د پاره د نیک بختئ موجب اوګرځیږي بے شمیره درود او سلام دے وي په روح پرفتوح د حضرت محمد مصطفي صلي الله علیه وسلم او د هغوئ په آل او اصحابو باندے چه د هغوئ د روحاني فیوضاتو شفقت او مهربانئ په برکت دا نیک بختي ځما نصیب شوه. او د هغے ټولو اولیاء الله درجے دے خدائی بلندے کړي چه د چا تذکره په دے کتاب کښې راغلے ده او کنه ده لیکن ځما روحاني سر پرستي او رهنمائي ئې فرمائیلے ده. او په دے سلسله کښې په ظاهري او باطني دواړه طریقو سره بے شمیره مهربانئ راسره کړي دي. د دے نه پس چه کومو رونړو او مشفق دوستانو چه د دے علمي. ادبي. تاریخي او تحقیقي روحاني تذکرے د تالیف او اشاعت په سلسله کښې په مختلفو طریقو سره ځما امداد کړے دے. او ځما حوصله افزائي ئیے کړے ده. د هغوی شکریه ادا کول هم په ما لازم دي. ځکه چه و من لم یشکر الناس لم یشکر الله. خدایی دے ټولو له نیک اجر ورکړي.

د ډیرے زمانے راسے د اولیائے کرام "په موضوع به د ملک په مختلفو اخبارونو او رسالو کښې ځما مضمونونه چاپ کیدل. په مارچ ۱۹۲۳ء کښې یوه ورځ ځما عزیز ترین دوست او مشفق جناب محمد یونس سیټهي چشتي نظامي ډپټي ډاءریکټر محکمه اطلاعات قبائل پیښور راته دا خبره راوړاندے کړله. چه دے خپلو مطبوعه مضامینو له د نورو

واضافو سره که یو کتابي شکل ورکړے نو فائده به ئې زیاته شي. او یو مستقل علمي او روحاني یادګار به پاتے شي. دشاغلي موصوف دا یو ډیر نیک تجویز وو. خدائي دے ورله د دے نیک اجر ورکړي. د حدیث شریف الفاظ هم داسے دي الدال علے الخیر کفاعلیه. د دوئ دا خبره څما زړهٔ ته پریوته. او تر اګست ۱۹۲۳ء م د مشرقي او مغربي پاکستان د یو څو مشاهرو (۴۲) اولیاء الله دومره حالات راجمع کړل چه د هغے نه د پنځه سوه صفحاتو کتاب جوړیدلے شه. څه وخت چه دا مسوده م خپلو عالمانو او فاضلانو رونړو او دوستانو ته پیش کړله. چه هغوئي ئیے ملا خطه کړي. اصلاح او ترمیم پکښې اوکړي او ضروري مشورے راکړي. نو هغوئ د خپلو نیکو مشورو او هدایاتو سره سره دا کتاب ډیر زیات خوش کړو. ډیر تعریف ئیے اوکړو او په ډیرو موزونو الفاظو کښې ئې تقریظونه پرے اولیکل چې روستو به ملا خطه کړے شي. کومو فاضلانو عالمونو بزرګانو او ادیبانو چه دا مسوده ملا خطه کړے ده. په هغے کښې (۱) د قدوة السالکین حضرت لاله عبدالرحیم نیازي استاذ د فلسفه او الهیات د پیښور یونیورسټۍ (۲) حضرت آغا سید عنایت علي شاه ضیائ جعفري قادري، چشتي (۳) آغا سید محمد امیر شاه ګیلاني قادري (۴) جناب سید محمد امین ګیلاني. قادري (خوګیاني) (۵) جناب عبدالودود خان ریسرچ آفیسر د وزارت اطلاعات مرکزي حکومت پاکستان (۶) جناب محمد یونس سیټهي چشتي

نظامي (۷) جناب سيد نصر من الله مشراني (۸) او جناب محمد امين مائل ابن مولانا غازي سيف الرحمان الكوزي عليه الرحمة نومونه د يادولو دي.

په دې تقريظونو كښې يو تقريظ د سيد حافظ محمد ادريس شهيد هم دې. چه د هغه اولنې تقريظ دې. او د ټولونه اول ما دا مسوده حافظ شهيد ته د ملا خطې دپاره حواله كړې وه. حافظ شهيد ځما همدرس او همزولې وو. او ماته د خپل رور نه ګران وو. حافظ شهيد چه د پيښور يونيورسټئ د شعبه عربيه صدر وو. فاضل عالم ادبې مثله اديب وو. ځما په دوه نورو كتابونو (۱) پښتو ادب (۲) تذكره د سيد افغاني هم هغه تقريظونه ليكلي دي. حافظ شهيد به ځما په كتاب صرف تقريظ نه ليكلو بلكه ځما د كتاب ټوله مسوده به ئې په خپل تيز او تند تنقيد سره په بل مخ راته واړه وله. او ما ته به ئي دوباره مسودې له ترتيب وركول را پغاړه كړل. د دې كتاب سره هم حافظ شهيد دغه شان سلوك كړې وو. او بيا چه د غه مسوده م ښاغلي محمد يونس چشتي ته د ملاخطې د پاره وركړله نو هغوئ پكښې هم د بې شميره ترميم او اضافې د پاره ښودنې راته اوكړلې. او په دې شان سره د كتاب مسودې له م په دوئم ځل نوې ترتيب وركړ. او د كتابت د پاره م كاتب ته حواله كړلو.

ځما په دې كتاب كښې د ټولو نه زيات تاريخي او تحقيقي مضمون د حضرت سيد علي

الهجويري المروف په دا تاګنج بخش لاهوري قدس سره په حقله دے. په دے مضمون کښې د بعض حوالو د زيات تحقيقي د پاره په جنوري ۱۹۲۴ء کښې لاهور ته تلے ووم هلته م د جناب شيخ محمد اکرام صاحب سي. ايس. په چيف ايډ منسټريټر محکمه او قاف حکومت مغربي پاکستان سره په دے غرض ملاقات کړے وو. چه موصوف لوي فاضل عالم مورخ او اديب دے. د اسلامي تصوف وسيع مطالعه لري. "رود کوثر" "آب کوثر" "موج کوثر" د هغوئ داسے قابل قدر تاليفات دي چه ترابده به د دوئ د علمي فضيلت يادګار پاتے وي. د ۱۹۳۴ء راسے د موصوف سره ځما ادبي تعلق موجود دے. او ډير شفقت راسره فرمائي. خيال م د او وچه ځما په دے په مسوده به موصوف هم يو به مفيد مشورے او هدايات راکړي. چه ځما د دے تاليف افاديت نور هم زيات شي. هر کله چې هغوئ د دے کتاب مسوده اوليدله. نو ډير زيات ئے خوښ کړ. د موصوف په نظر کښې ځما د دے تالليف لوئ تعريف دا وو. چه په دے کښې په خصوصيت سره د شمال مغربي پاکستان د هغه بے شميره بزرګانو عالمانو او شهيدانو تذکره راغلے ده. چه تر اوسه پورے د پاکستان د بل يو اديب او مؤرخ په کومه تذکره کښې نه دے راغلے. موصوف ډيرے نيکے مشورے هم راکړے او علاوه د هغے نه ئے د دې کتاب د اشاعت د آخراجاتو د پاره د محکمه اوقاف حکومت مغربي پاکستان د طرف نه څلورنيم زره روپئ هم په طور د "قرض حسنه" سره منظورے کړلے. او د يو سل کتابونو خريد

کولو منظوري ئے هم او فرمائیله. دا یقیناً چه ډیر لوئ عملي امداد او شاباشے وو. چه څما حوصله ئے نوره هم اوچته کړله. او زۀ ئي د دے قابل کړم. چه دا خپل تالیف نور هم په ښه او مکمله طریقه سره د خپلے ادارے اشاعتي "دارالاشاعة باجوړ" په اهتمام سره چاپ کړلے شم. په دے علمي او عملي امداد چه زۀ د ښاغلي شیخ محمد اکرام صاحب هر څومره شکریه ادا کړم کمه به وي. په دے منځ کښې علي حضرت شهریار جهانزیب خان والي سوات د سل کتابونو اخستلو منظورۍ او فرمائیله او د عزتمند جناب "شیخ محمد حسین" پي اے کرم اینجسي او عزتمند جناب سید "نصرمن الله" پي اے شمالي وزیر ستان (میرانشاه) هم د دے کتاب د اشاعت د پاره پنځه پنځه سوه روپئ پطور د پیشګئ راکلو او د پنځه پنځه سوه کتابونو خرید کولو مهرباني اوکړله. او د عزتمند جناب سید "اجلال حیدر زیدي صاحب پي. اے ملاکنډ ایجنسی یو زر روپئ په طور د پیشګئ راکړلے. او ورسره ئې دوه سوه کتابونه خرید کول هم منظور کړل. او د ښاغلي صدر مملکت پاکستان میا مارشل محمد ایوب خان صاحب د سکریټریټ د طرف نه د دے کتاب د پنځه سوه جلدونو د خریدارئ منظور هم راته را اورسیده. نو ما دا خیال اوکړ. چه ماله د دے دوستانو او مشرانو د دے حوصله افزایئے نه دا فائده اخیستل پکار دي. چه کتاب که لږ روستو چاپ شي خیر دے. لیکن چه هر څومره ممکن کیدلے شي. هغه هومره نورے اضافے پکښې

اوکړلے شي. په خصوصیت سره د شمال مغربي پاکستان د هر ځومره نورو بزرګانو حالات چه په لاس راتللے شي هغه پکښې شامل کړلے شي. د بزرګانو په حالاتو او واقعاتو تاریخي او تحقیقي نظر واچوؤلے شي. او په دے شان سره دا کتاب په زیات نه زیات مکمل شکل کښې پیش کړلے شي. د دے نتیجه دا شوه چه روغ کتاب د اول نه تر آخره پورے په ځلورم ځل د نوي سر نه لیکلو ته م ملا اوتړله. د بزرګانو د حالاتو راغونډه ولو د پاره تر لرے لرے علاقو مزلونه م اوکړل. د بے شمیره کتب خانو د قلمي او مطبوعه ذخیرو او ذاتي یاد داشتوتو او بیا ضونو نه م فائده واخیستله د نوي سر نه م تر تیب ورکړ. د هر ځومره حصے چه کتابت شوے وو. په هغے کښې ردو بدل تر میم او اضافے م اوکړلے او په دے شان سره د دے کتاب "روحاني رابطه" او "روحاني تړون" د تالیف کوم مهم کار چه په مارچ ۱۹۲۳ء کښې م شروع کړے وو. هغه اوس په اکتوبر ۱۹۲۵ء کښې په درے کاله زمانه کښې د خدائ په فضل اوکرم سره سر ته اورسیده. او هغه مسوده چه په هغے کښې د (۴۲) بزرګانو حالات وو. او په ۵۱۲ صفحاتو مشتمله وه اوس د ۱۰۵ بزرګانو په حالاتو او ۱۰۷۲ صفحاتو مشتمله ده. والحمدلله علے ذلک.

په آخر کښې زه د هغه ټولو اصحابو شکریه ادا کؤوم د چا د علمي ذخیرو نه چه ما فائده اخیستي ده.او د خپل ګران رور

مولا نا عبدالقاسم نقشبندي د موضع موسی زئی ضلع پشاور په خاص طور سره شکریه ادا کوؤم. چه هغوئي د دے کتاب کتابت په بهترین پښتو رسم الخط کښې کړے دے. او د کتاب په حسن او خوبئ کښې ئے اضافه کړے ده.

(۱۱ اکتوبر ۱۹۲۹ء)

(عبدالحلیم اثر افغان)

د حوالے د کتابونو فهرست

په دے کتاب "روحاني تړون" کښې چه د کومو قلمي کتابونو، بیا ځونو ذاتي یاد داشتونو او شجره نسبونو او مطبوعه کتابونونه حوالے آخیستے شوي دي. پخپله خپله موقعه د هر یو کتاب نوم ورسره ورسره درج کړے شوے دے. چه دا اقتباس د فلانکي کتاب ځنے اخیستے شویدے. او چه کومے قلمي نسخے دي هغه چه د کومو عالمانو یا خاندانونون سره موجود دے دي. د هغوئي حوالے ورسره په دےغرض ورکړ شویدي. چه کومو کسانو دا علمي خزانه تر نن ورځے پورے محفوظه ساتلے ده. د هغوئ نومونه د شکریئے په ډول ذکر کوؤل راته مناسب بلکه لازمي معلومیدل. د حوالے او ماخذ د کتابونو نومونه دا دي.

(۱) تاریخ فرشته (۲) تاریخ کامل ابن اثیر (۳) افغانستان ویک نکاه اجمالي به تاریخ آن (۴) تاریخ یعقوبي (۵) تاریخ بلازري (۶) چچ نامه (۷) کتاب الهند د البیروني (۸) تذکرة الابرار د اخوند درویزه (۹) نظم الدري في سلک السیر (۱۰) شجره پیران مانکي (۱۱) تاریخ خورشید جهان (۱۲) تاریخ صولت افغاني (۱۳) شجره پیران مردان (۱۴) تذکرة مشایخ چشت (۱۵) مقاله عبدالحئ حبیب (۱۶) فواءد الفؤاد (۱۷) سفینة الا ولیاء (۱۸) آئینه تصوف (۱۹) آئین اکبري (۲۰) ثمرات القدس (۲۱) کشف الظنون (۲۲) قاموس الا علام (۲۳) خزینة الصفیاء (۲۴) نفحات الانس د مولانا عبدالرحمان جامي (۲۵) اخبار الاصفیاء (۲۶) تاریخ مخزن پنجاب (۲۷) نزهة الخواطر (۲۸) ماثر الکرم. (۲۹) مقاله د مولانا محمد شفیع لاهوري مرحوم (۳۰) حدائق الحنفة (۳۱) معارج الوایت (۳۲) دائرة العارف اسلامي مقاله د هدایت حسین جلد نمبر۲ (۳۳) فهرست د موسیو دیو نمبر۳۳ (۳۴) تذکره علماء هند (۳۵) سبک شناسي د ملک الشعراء بهار ایراني (۳۴) تاریخ د تصوف اسلام (۳۷) اسماء المصنفین (۳۸) بزم صوفیه (۳۹) آب کوثر د شیخ محمد اکرام (۴۰) کتبه د مزار د حضرت دا تاګنج بخش (۴۱) دیباچه د کشف المحجوب تالیف د نکلس (۴۲) کشف المحجوب (الف) طبع لاهور (ب) طبع سمر قند (ج) طبع لینن ګراد (د) قلمي

نسخه ملکیت د مولانا محمد شفیع لاهوري مرحوم (۴۳) اسرار التوحید (۴۴) تاریخ السام د امام ذهبي (۴۵) وخیات الاعیان تالیف د ابن خلکان (۴۶) طبقات الصوفیه تالیف د خواجه انصاري هروي (۴۷)کتاب المنتظم تالیف د ابن جوزي (۴۸) مرات الجنان تالیف د امام یافعي (۴۹) تحقیقات چشتي تالیف د نور احمد چشتي لاهوري (۵۰) طبقات ناصري (۵۱) تاریخ لاهوري تالیف د کنهیالال (۵۲) مقاله د بزمي انصاري د کراچئ اشاعت سروش کراچي (۵۳) سیرا العافین د شیخ جمالي طبع د هلي (۵۴) "دا تاګنج بخش" تالیف د محمد الدین فوق (۵۵) کشف الا سرار (۵۶) تاریخ مخزن افغاني تالیف د نعمت الله خان هروي (۵۷) مجمع الانساب تالیف د نور محمد کوهاټي (قلمي) (۵۸) تاریخ مرصع تالیف د محمد افضل خان خټک (قلمي) (۵۹) منتخب التواریخ د بدریواني (۶۰) سر الا سرار فیما یحتاج الیه الابرار تالیف د حضرت میران محي الدین شیخ عبدالقادر جیلاني طبع بمبئ (۶۱) د تاریخ نوے مطالعه (قلمي) (۶۲) مقدمه د اسرار الا سرار (۶۳) تاریخ وزیر ستان مطبوعه ۱۸۷۶ء (۶۴) اولیاءے مشرقي پاکستنا (۶۵) خواجه غریب نواز تالیف اداره علمیه (۶۶) مقاله د حافظ محمد اسلام (۶۷) مقاله د حضرت آغا عنایت علي شاه ضیاء جعفري قادري (۶۸) تاریخ ابن هوتل بغدادي (۶۹) تاریخ اسطخري (۷۰)

تاریخ د بشاري مقدسي (۷۱) اخبار الصالحین (۷۲) تذژخره اولیاء افغان (۷۳) د پښتو ادبیاتو تاریخ (۷۴) آئینه حقیقت نما تالیف د اکبر شاه خان سلار زائیے نجیب آبادي (۷۵) تاریخ حیات افغاني تالیف د نواب محمد حیات خان ټوانه (۷۶) تذکرة اولیائے ملتان (۷۷) اخبار الا خیار تالیف د شیخ عبدالحق دهلوي (۷۸) انوار اصفیاء تالیف د اداره علمیه (۷۹) شجره د سادات بخاري د پیښور (قلمي) (۸۰) تحفة السادات (۸۱) مکتوب د سید غلام حسن کاظمي د آزاد کشمیر (۸۲) شجره د سادات بخاري د گوجر گړهئ (۸۳) شجره سادات پیر ابراهیم خیل بخاري د باجوړ (۸۴) مخدوم جهانیان جهان گشت تالیف د محمد ایوب قادري (۸۵) بهارکزټ (د صوبه بهار انډیا) بابت ۱۹۶۰ء (۸۶) مناقب الا صفیاء (۸۷) بزم مملوکیه. (۸۸) نام حق (فارسي) (۸۹) سفر نامه ابن بطوطه (۹۰) مسلم بنگله ساهیة (۹۱) گلزار ابرار (۹۲) ریاض الساطین (۹۳) مراة السرار (۹۴) لطاءف اشرفي تالیف د حضرت شاه اشرف جهانگیر (۹۵) مکتوبات د شاه شرف الدین منیري (۹۶) مناقب الولایت (۹۷) سیع سنابل (قلمي) (۹۷) دیوان د پیر مطیع الله گیلاني کوهاټي (قلمي) (۹۹) شجره د سادات مشواني د شرارود (۱۰۰) شجره اکمملیه (۱۰۱) بیاض د ابو القاسم نصیر الدین (قلمي) (۱۰۲) سیر محمدي (۱۰۳) معراج العاشقین (۱۰۴)

تاريخ الا فغان تاليف د سيد جمال الدين افغاني (۱۰۵) تاريخ افاغنه (۱۰۶) بياض د سادات پلوسئ د پيښور (۱۰۷) العالي شرح آمالي تاليف د مياڼ محمد عمر چمکني (۱۰۸) حالات مشواني تاليف د مياڼ محمد يوسف مشواني د هزارے (۱۰۹) ګزيټير آف دي هزاره ډسټرکټ بابت ۱۹۰۷ء تاليف د ايچ ډي. والټن (۱۱۰) نارتھ ويسټ فرنټير پراونس ډسټرکټ ګزيټير بابت پشاور او هزاره (۱۱۱) بلو چستان ډسټرکټ ګزيټير کويټه پشين ډسټرکټ تاليف د آر. هيوز. بټلو او ديوان جمعيت رائيے. (۱۱۲) پروموشن آف لونګ ان محمدن پيريډ (۱۱۳) لوکل ګورنمنټ بحواله دفعه نمبر ۱۵ ايکټ ۳۳ سال ۱۸۷۳ء شجره نسب مشواني (۱۱۴) ګزيټيردي باجوړ ټرائيبس تاليف د هنټر (۱۱۵) بياض د سادات مشواني د باجوړ (۱۱۶) مقاله د مسټرجے کوټ مين (۱۱۷) کليات د ادين (۱۱۸) بياض د سيد نصر الله جان مشواني (قلمي) (۱۱۹) پخواني ليکوال (قلمي) (۱۲۰) شجره سادات مهمند (قلمي) (۱۲۳) فرمان د شهنشاه جلال الدين اکبري بابت ۱۰۰۴ء (۱۲۴) تاريخ باجوړ تاليف د غلام محمد خان ابراهيم خيل خان د اسمار (قلمي) (۱۲۵) مکتوب سادات چنار کوټ باجوړ (۱۲۶) "کتاب الخزويه" تاليف د اخوند سالاک (قلمي) (۱۲۷) مناقب د شيخ عبدالوهاب العروف په اخون پنجو تاليف د شيخ عبالغفور عباسي (قلمي) (۱۲۸) مناقب

اخوند پنجو تالیف د میا علي چشتي (قلمي) (۱۲۹) کتاب الا نوار تالیف د ملاخاکي (قلمي) (۱۳۰) مناقب منظوم تالیف د میا بادشاه (قلمي) (۱۳۱) بیاض د میا غلام صدیق (قلمي) (۱۳۲) بیاض د حکیم ابو حامد امجد (قلمي) (۱۳۳) پښتانه شاعران (۱۳۴) تذکره د شیخ رحمکار (۱۳۵) تحفة الاولیاء تالیف د رضواني (۱۳۶) تاریخ یوسفزیے (۱۳۷) مشایخ و علماء سرحد (۱۳۸) تحفه صالح تالیف د الله یار الکوزي (قلمي) (۱۳۹) سلوک الکزاة تالیف د ملمست شنواري (قلمي) (۱۴۰) سالنامه مجله اولس کوئټه (۱۴۱) قاموس اعلام جغرافیائی افغانستان (۱۴۲) تاریخ پشاور طبع ۱۴۸۲ء (۱۴۳) الروع علي اهل الهوا دالبدع تالیف د عبدالرحیم مانکراوي (۱۴۴) اکبر نامه (۱۴۵) تزک جهانګیري (۱۴۶) اقبال نامه (۱۴۷) منتخب اللباب (۱۴۸) تمهیدابي شکور سالمي (۱۴۹) کتاب العوارف تالیف د شیخ شهاب الدین سهرو ردي (۱۵۰) آءین اکبري (۱۵۱) پښتانه مؤورخان (قلمي) (۱۵۲) خزینة الاسرار تالیف د میا محمد عمر چمکني (قلمي) (۱۵۳) تبیان الحایق (قلمي) (۱۵۴) مجرالفراست (قلمي) (۱۵۵) دیوان د حافظ الپورئ (۱۵۲) رشد نامه تالیف د مولانا رکن الدین. (۱۵۷) شرح جام جهان ننما تالیف د میاں کریمداد ابن اخوندرویزه (قلمي) (۱۵۸) د پښتو ادب درے کورینی تالیف د عبدالئ حبیب (۱۵۹) ارشاد

المريدين تاليف د اخوند درويزه (۱۶۰) ارشاد الطالبين تالف د اخوند درويزه (۱۶۱) مخزن الا سلام تاليف د اخوند رويزه (قلمي او مطبوعه نسخے) (۱۶۲) فواءد الشريعت د اخوند قاسم پاپين خيل (قلمي) (۱۶۳)ديوان د ميا كريمداد (قلمي) (۱۶۴) بياض د ملا صالح اعوان (قلمي) (۱۶۵) طبقات ناسري (۱۶۶) پټه خزانه تاليف د محمد هوتک (۱۶۷) حالنامه تاليف د بايزيد روښان (قلمي) (۱۶۸) ديوان د علي محمد مخلص (قلمي) (۱۶۹) ديوان د ملا علي ارزاني (قلمي) (۱۷۰)ديوان د دولت لوانړي (قلمي) (۱۷۱) ديواند مرزا خان بيضوي انصاري (۱۷۲) مقصود المؤمنين تاليف د بايزيد روښان (۱۷۳) خير البيان تاليف د بايزيد روښان (۱۷۴) شرح قصيده آمالي تاليف د اخوند درويزه (۱۷۵) تحفهة الخانيه تاليف د ميا كريمداد ابن اخوند درويزه (۱۷۶) حقيقة الايمان (۱۷۷) مقامات قطبيه تاليف د حليم ګل (۱۷۸) شجره سادات پشين (۱۸۹)تيسير القرات (قلمي) (۱۸۰) بياض د ميا حيم ګل (قلمي) (۱۸۱) بياض د ميا محمد وسيم (قلمي) (۱۸۲) توضيح المعاني تاليف د ميامحمد عمر ثمكني (قلمي) (۱۸۳) مكتوبات امام رباني محدود الف ژاني (۱۸۴) د پښتو هار او بهار تاليف د ډار مستهر (۱۸۵) ديوان د مصري خان ګکيانړي. (۱۸۶) تذكره د اخون الياس (۱۹۷)مناقب الحضرات تاليف د محمد امين

بد خشي مکي (قلمي) (۱۸۸) نکات الا سرار تاليف د سيد نا آدم بنوري (قلمي) (۱۸۹) خلاصة المعارف تاليف د سيد نا آدم بنوري (قلمي) (۱۹۰) تير هير شاعران تاليف د اثر افغاني (۱۹۱) نور الهدي (۱۹۲) سعديه شرح خلاصه کيلاني (قلمي) (۱۹۳) ديوان د جان محمد کاکړ (۱۹۴) شجره سادات عبدالوزاتي (قلمي) (۱۹۵) مصباح اليقين تاليف د اخوند اسماعيل ابن مهرجان عمر زاے هشنغر (۱۹۶) تذکرة جميل (قلمي) (۱۹۷) ګلزار محبت د بهار الدين نقشبند (قلمي) (۱۹۸) مدح الا برار تاليف د سيد احمد (۱۹۹) مخزن الاسرار تاليف د صفي الله (قلمي) (۲۰۰) بدر منير تاليف د صفي الله (قلمي) (۲۰۱) ګنج سعادت تاليف د فيض الله اکند زاده (قلمي) (۲۰۲) تحفة الناظمين تاليف د ميا وسيم (قلم) (۲۰۳) کنزالد قايق منظوم فارسي تاليف د نصر الله بن محمد جمال لودهي (قلمي) (۲۰۴) بياض د شيخ عبدالخالق قصوري پشاوري (قلمي) (۲۰۵) لطاءف المعارف د ثعالبي (۲۰۶) کتاب المسالک والممالک د امام جويني (۲۰۷) کتاب ترکستان د موسيو بار ټولډ (۲۰۸) بياض د محمد مسعود قصوري (قلمي) (۲۰۹) بياض د نور محمد پشاوري (قلمي) (۲۱۰) قائد الانام (قلمي) (۲۱۱) حاشيه لاجبوکئ تاليف د ملا باز مير اخندزاده (قلمي) (۲۱۲) شجره شيخ محمد ګل کاکا خيل (قلمي) (۲۱۳) شجره صديقيه و

غفوریه (قلمي) (۲۱۴) بیاض د سید محمد شاه تارن سدومي (قلمي) (۲۱۵) نافع المسلمین تالیف د اخوند ګدا (۲۱۶) الشرایع والا حکام (قلمي) (۲۱۷) قصدیده د محمد خان عمر زاے (قلمي) (۲۱۸) تذکره غوشیه تالیف د شاه محمد غوژ قادري (۲۱۹) تاریخ کشمیر (قلمي) تالیف د مفتي محمد شاه سعادت. (۲۲۰) نغات لطیف (۲۲۱) شجره خلفاء حاجي بهادر (قلمي) (۲۲۲) ذخیرة القرآ (قلمي) (۲۲۳) مفید المفتي تالیف د عالمي عبدالعلي آسي مدراسي (۲۲۴) تحفة المرشد (۲۲۵) تکمله د تحفة المرشد تالیف د محمد حسن (۲۲۶) خوارق عادت تالیف د شاه غلام قادري (قلمي) (۲۲۷) یاد رفته ګان تالیف د محمد الدین فوق (۲۲۸) تاریخ سلطاني (۲۲۹) مقدمه د حصن الایمان (۲۳۰) تذکرة الاولیائ الافغان (قلمي) (۲۳۱) صقال الضمائرو مسافرة السراءر تالیف د خواجه محمد سعید نقشبندي سندهي طبع بمبئ ۱۲۹۸ء (۲۳۲) شرح تصیده برده (قلمي) تالیف د نور محمد قریشي (۲۳۵) ریا حین الصلوة (قلمي) تالیف د محمد سعید باز ګل (۲۳۶) شمایل بنوي (قلمي) تالیف د میا محمد عمر چمکني (۲۳۷) تاریخي دستاویز مملوکه ډاکټر سید انور الحق ګیلاني (قلمي) (۲۳۸) دیوان د حافظ الپورئ (۲۳۹) مقاصد الفقهه (قلمي) تالیف د محمدي صاحبزاده (۲۴۰) درود محمدي (قلمي) تالیف د محمدي صاحبزاده (۲۴۱) شجره نسب حضرت طوطکان

(قلمي) (۲۴۲) تجويد القرآن طبع دهلي
(۲۴۳) حاشيه د كتاب المباحث العلميه
(قلمي) تاليف د ميا وسيم (۲۴۴) تضمين د
پند نامه عطارو (قلمي) (۲۴۵) شجره طريقت
منظوم (قلمي) تاليف د عبيد الله ميا گل
(۲۴۶) تذکره سعيديه (قلمي) (۲۴۷) رساله
سچل سائين (۲۴۸) اولياءے کرام (۲۴۹)
ملفوظات شيخ (۲۵۰) تذکره د ميا مستجاب
(قلمي) (۲۵۱) حاشيه د هداية المخلصين
(قلمي) (۲۵۲) مناقب غوث تاليف د ميا ولي
محمد چچي (قلمي) (۲۵۷) واقعات جهاد
ملاکنډ تاليف د عبدالكريم (قلمي) (۲۵۸)
هداية السالكين تاليلف د محمد حسن
چغرزايے (۲۵۹) شجره نسب د حاجي صاحب
ترنگزايے تاليف د مير عبدالله (قلمي)
(۲۶۰) ما هوار مجله هاتف بابت اپريل
۱۹۲۶ء (۲۶۱) كتاب تحريک ريشمي رومال
(۲۶۲) كتاب حاجي صاحب د تر نگزايے تاليف
د نصر الله خان نصر (۲۶۳) كتاب "سلسله
قادريه" تاليف د حاجي محمد آمين ماشو
خيل مرحوم (۲۶۴) بحرالانوار تاليف د
عبدالرؤف (۲۶۵) مكتوب د محمد امين
خوگياني (قلمي) (۲۶۶) مناقب غوثيه تاليف
د استاذ مرحوم مولانا محمد اسماعيل گيلاني
د طورو (قلمي) (۲۶۷) تاريخ سندخ طبع
اعظم گډهــ (۲۶۸) دبستان مذاهب (۲۶۹)
تحفة سعادت تاليف د سيد عبدالستار شاه
بينوا نيازي، نظامي، چشتي، قادري (قلمي)
(۲۷۰) "روضة السلام" د مولانا شرف الدين

کشمیري (قلمي) (۲۷۱) مکتوبات د سید
ابوالمعالي کشمیري (قلمي) (۲۷۲) شرح د
صحیح بخاري تالیف د شاه محمد غوڅ قادري
(قلمي) (۲۷۳) مجمع البرکات (قلمي)
(۲۷۴) "جامع العلوم" تالیف د شاه محمد
عوث ګیلاني قادري (قلمي) (۲۸۵) مراة
الاولیاء" تالیف د حافظ اخوند محمد شعیب
د تور ډهیری (قلمي) (۲۸۶) "صفت نامه"
(قلمي)

بسم الله الرحمان الرحيم

تړون

دا کتاب "روحاني تړون" د اولياء الله او دين اسلام د بزرګانو او عالمانو د ژوند په حالاتو او د هغوي په مبارکو تعليماتو بانده مشتمل ده. اوکوم پاکيزه تعليمات چه څمونږ ده بزرګانو علماً او عملاً مونږ ته راکړي دي. او کوم پيغام چه دوئ مونږه ته رارسولے ده د ده تولو سر چشمه يوه ده چه هغه د رسول مقبول محمد مصطفے صلي الله عليه وسلم مبارک تعليمات دي او پاکيزه پيغام ده. نو په ده وجه څما دا آرزو وه چه زۀ د ده خپل تاليف تړون د انتساب) د خاندان نبوت او رسالت د يو ممتاز فرد د نام نامي او اسم ګرامي سره اوکړم چنانچه هم په ده بناما د ده خپل کتاب تړون د عزتمند جناب سيد جلال حيدر زيدي غزنوي.

پوليټيکل ايجنټ د ملاکنډ ايجنسئ

د مبارک نوم سره اوکړلو. اميد ده چه د دوئ له برکته ده کتاب ته مقبوليت حاصل شي.

دا کتاب د دارالا شاعت باجوړ قباءيلي علاقے ملاکنډ ايجنسئ نه شائع کوؤلے شي. او

زۀ پخپله هم د باجوړ تر کلاني قوم د سلارزئ قبيلې د فتح خانخيل کورنۍ يو فرد يم. په دې اعتبار سره د موصوف په نوم د دې کتاب د منسوب کولو چه بله کومه تاريخي وجه ده. په دې موقع هغې ته اشاره کؤول هم ضروري ګنړم.

هغه تاريخي وجه دا ده. چې عزتمند جناب سيد اجلال حيدر زيدي صاحب د حضرت سيد مبارک الغزنوي عليه الرحمة نمسې دې. هغه سيد مبارک الغزنوې چه د حضرت شيخ الا سلام والمسلمين شيخ شهاب الدين عمر سهروردي عليه الرحمة خوريئې وو. او هغه سيد مبارک الغزنوي چه د سلطان شهاب محمد ابن سام غوري په درخواست باندې د هغوئي د روحاني رهنماءي د پاره په ۵۸۶ء کښې هندوستان له غزاله راغلې وو. او د دوي د روحاني رهنمايئ او نيکو دعا ګانو په برکت په ۵۹۰ء بمطابق ۱۱۹۳ء کښې د هلې فتح کړې شوې وو.

مختلفو چه هر کله د قبائيلو فتح کړلې شه. او په ۵۹۲ء کښې دا واپس شول. نو په دې غزا کښې چه د مختافو پښتونو قباءيلو کوم غزيان ورسره وو. هغه ئې په کوهستان روه. کوه سليمان او کوه قيسي کښې. او په وادئ پيښور. هشنغر. سوات. دير او باجوړ کښې آباد کړي وو. په دې اعتبار مونړه د دې پورته ياد کړو شوؤ علاقو موجوده پښتانه د هغه غازيانو او لاديو چه د حضرت سيد مبارکه الغزنوي په روحاني رهنمايئ کښې يې د هندوستان په

زمکه جهادونه کړي دي. د اسلام بلوغ یې پورته کړے دے. او بیا هم د هغوئ په دعا سره دلته آباد شوي یو. او دا حسن اتفاق دے. چه د ملاکنډ ایجنسئ پولیټکل ایجنټ جناب سید اجلال حیدر زیدي هم د دغه حضرت سید مبارک غزنوي سهروردي په اولاد کښې یو ممتاز فرد دے.

هر کله چه د ساداتو د دے بختور خاندان سره څمونږ د دیر. سوات باجوړ د پښتنو دغه زوړ تاریخي حقداري او احسان هم دے. او په دے شان سره د جناب سید اجلال حیدر زیدي د خاندان سره څمونږ د ۵۹۲ء راسے د اوه سوه یو نوي (۷۹۱) کالو پخوانے "روحاني تړون" موجود دے. نو په دے وجه هم زۀ دا خبره خپله نیک بختي کنړم چه د دے خپل تالیف انتساب د دوئ مبارک نوم ته اوکړم امید دے چه قبولیت عامه ورته حاصل شي. والحمدلله رب العلمین.

عبدالحلیم اثر افغاني

سلار زائے فتح خانخیل د باجوړ

۲۷ ، رمضان

المبارک ۱۳۸۳ء

دیباچه

بسم الله الرحمان الرحیم

اسلام چه دنیا ته کوم نظام پیش کړے دے. هغه د توحید مذهب دے. د دے معنی دا ده چې په یو خداي. یو روسول. یو قرآن باندے د ایمان راوړلو. او یوے کښې ته د مخ کولونه پس چه ټول مسلمانان په دے یوه کلمه د توحید.

لا اله الا الله محمد رسول الله.

باندے راغونډ شي. نو د دوئ تر منځه یو روحاني تړون (رابطه) پیدا شي. په قرآن مجید کښې د دغے تعبیر په **انما المومنون اخوة** سره شویدے او په حدیث شریف کښې د دے په حقله داسے هدایات شوے دے. **المومنون لجسم واحد ازا اتستکي عضو منه اشتکي کله.** معنی دا چه ټول مسلمانان د یو وجود په مثال دي. "هر کله چه د بدن یو اندام په دړد شي. نو نور ټول وجود ورسره خوګیږي". دغه مثال د مسلمانانو دے. د هر یو مسلمان انفرادي تکلیف به ټول مسلمانان په اجتماعي شکل سره محسوس کوي. ښکاره خبره ده. چه د مشرق د یو مسلمان په دړدکه د مغرب یو مسلمان ددړدیږي. نو د دغے وجه هم فقط د اسلام روحاني تړون (رابطه/ و تعلق) کیدلے

شي. او اسلام هم دغه "پاکيزه روح" او "روحاني تړون" په بني نوع انسان کښې پيدا کړے دے او پيدا کوئي ئې غواړي. او مونږه مسلمانانو ته ئې دا هدايت کړے دے. چه دا "روحاني تړون" دے مضبوط اوساتو. او که فکر او کړو نو د آيت شريف و اعتصموا بجبل الله جميعا ولا تفرقوا هم دغه مطلب دے.

ځمونږ بزرګان اوليا. الله او روحاني پيشوايان چه هر څومره تير شوي دي. او هغوي پخپله خپله زمانه کوم تعليم او درس خلقو ته ورکړے دے. او خپل ژوند ئيے په کوم کار کښې صرف کړے دے. مونږه چه په هغے غور اوکړو. نو د هغوي ټول عمر په دے کښې تير شوے دے. او دا ئيے شغل او کار وو. چه د مسلمانانو په زړونو کښې روحاني صفايئ راشي. د مسلمانانو د زرونو نه خيرے لرے شي. او مسلمانان په رشتيا سره داسے صحيح مسلمانانو د زړونو نه خيرے لرے شي. او مسلمانان په رشتيا سره داسے صحيح مسلمانان شي. لکه چه په قرآن مجيد کښې په اشداء علي الکفار رحماء بينهم ط سره ستائيلي شوي دي. د مسلمانانو په منځ کښې د رحماء بينهم د تعريف او توصيف پيدا کولو د پاره ځمونږه بزرګانو او روحاني پيشو ايانو کوشش کړے دے. چه د مسلمانانو زړونه د يو بل سره نز دے کړي. او د مسلمانانو تر منځه دغه "روحاني تړون" مضبوط کړی. او دا ښکاره خبره ده. چه مسلمانان صحيح مسلمانان شي. د اسلام صحيح روح او پيژني. نو پخپله هغه بيا د خدائي

پاک د رضانه بله نه شي کوؤلے. او د خدای رضا هم دغه ده. چه مسلمانان دے نور ټول امتیازات ختم کړي. ځان دے یو. "امة مسلمة" او "خیر امة" اوګنړي. او ټول دے یو تن او وجود شي.

په بر صغیر پاک او هند کښې د "اسلام رنړا" څمونړه روحاني پیشوایانو او بزرګانو خوره کړے ده. ځکه چه د اسلام تعلق د زړه او روح سره دے. مسلمان هغه دے. چه ایمان ئے راوړے وي. ایمان څه شے دے. "اقرا اربا للسان و تصدیق بالقلب" دے. د زړپ تصدیق او یقین هاله راتللے شي. چه د اسلام رنړا زړۀ ته اورسیږي. او د خدائے د مخلوق زړونو ته که د اسلام مینه او د خدائے او رسول سره د تلعق ساتلو محبت ننوتلے دے. نو هغه هم څمونړ د دے روحاني رهنمایانو په همت سره هر څه شوي دي.

بیشکه څمونړه پخوانو مسلمانونو بادشهانو عزاګانے او جهادونه کړي. دي او د کفارو او مشرکانو په ملکونوئیے د اسلام بیرغونه اودره ولي دي. لیکن د جنګ نه روستو د غیر مسلم خلقو زړونه په خپلو نیکو احلاقو او پاکیزه وؤ تعلیماتو او روحاني تصرفاتو سره هم دے بزرګانوپه قبضه کښې راوستلي دي. او څوک چه د اسلام دښمنان وو. هغه ئیے د اسلام جان نثار سپاهیان کړي دي.

که فکر او کړو اسلام یو تبلیغي مذهب دے. د نیکی او پاکیزګئ مذهب دے. د نیکو

اخلاقو. خویونو او عادتونو مذهب دے. او د روحانی صفائیی مذهب دے. په دے وجه دا یوه منلے شوے خبره ده. چه د اسلام ټول فتوحات. اخلاقي فتوحات دي. او دا اخلاقي فتوحات او په څلور کنجه دنیا کښې د اسلام د رنړا خورولو کار نامه څمونږه روحاني پیشوایانو او بزرګانو انجام ته رسوؤلے ده.

حقیقت دا دے. چه د اسلام دعوت او هدایت د ټول بني نوع انسان د پاره عام دے. او هر هغه انسان چه د اسلام په دائره کښې داخل شوے دے. که هغه د هر ملک او هر قوم چه دے. هره ژبه چه وائي. په رنګ تور دے. که سپین. که سور دے که زیړ. که بادشاه دے. که غریب ټول یو شان مسلمانان دي. او ټول یو رونړه. دي او د دے عملي ثبوت څمونږه د روحاني بزرګانو په مبارک ژوند کښې موندلے شي.

څمونږ د بزرګانو او روحاني پیشوایانو لوئي تعریف دا دے. چه د کمال او بزرګۍ حاصلولو نه پس د دنیا هر هغه حصے ته یے ځان رسولے چرته چې د اسلام د تبلیغ زیات ضرورت وو د دوئي د یو ملک هم نه وو. او بیا سره د دغے نه د هر یو ملک هم وو. د دے په حقله حضرت شیخ عبدالحلیم ابن عبدالله ابن اخوند درویزه علیه الرحمة څومره ښکلے خبره کړے ده. فرمائي.

په هر یو وطن کښې
ګرځي، غریب نه وي

بے پروائی وي
هر يو ملک لره چه
ورشي هغه ملک د ده
د خدائي وي

ځمونږ د بزرګانو دا عقيده وه. چه ټول ملکونه د خدائي دي. ټول مخلوق د خدائی مخلوق دے. او د دوئي کار د خدائی مخلوق ته د خدائی پيغام رسؤل دي. او ښکاره خبره ده. چه د خدائی او رسول د پيغام روح دا دے چه د دنيا ټول مسلمانان يو رونړه دي.

ما په دے کتاب "روحاني ترون" کښې د پاکستان د دواړو حصو مشرقي او مګربي د ګنړو مشهورو بزرګانو حالات راجمع کړي دي. د دوئي ژوند. د دوئي تعليمات. او روحاني درس ځمونړه د وړاندے دے د دوئي د حالاتو د مطالعه کؤلونه به معلومه شي. چه ځمونړه دا بزرګان که دملک په يو حصه کښې پيدا شوے وي. او کمال ئيے حاصل کړے دے. نو بيا ئې په کور. کلي ملک او وطن پورے زړۀ نه دے تړلے. بلکه د يو او چت مقصد حاصلولو د پاره چه هغه د خدائي او رسول رضا ده. او د دين اسلام اشاعت او تبليغ دے. د ملک بلے حصے ته تلي دي. او هغه لوړ مقصد ئيے حاصل کړے دے.

زۀ به د دے خپلے خبرے وضاحت په يو مثال پيش کؤلو سره او کړم. او هغه دا دے. چه حضرت سيد عبدالله ګيلاني عليه الرحمة چه د بغداد شريف نقيب الا شراف

وو. روحاني رهنما وو. د بغداد شريف نه د مملكت شام "حما" نوے علاقے ته ځي. بيا د هغه ځائي نه د بحيره عرب" په لاره د وادئ سندهـ " مشهور بندرګاه د يوال ته ځي. بيا مشهور تاريخي ښهر "ټهټه" کښې استوګن کيږي. دلته کښې وفات کيږي. مزار مبارک ئيے د ټهټه په تاريخي قبرستان مکلي، کښې جوړيږي. او د "سيد عبدالله صحابئ رسول" په مخوز لقب ياديږي. ليکن د ده ځوي پير سيد حسن القادري ګيلاني په ټهټه بنهر پورے زړۀ نه تړي. د وادئ سندهـ په لاره پيښور ښهر ته راځي. دلته کښې آباديږي جماعت جوړه وي. درس ورکوي. امر معروف کوي. د خدائي مخلوق ترينه بيعت کوي. روحاني فيوضات ترينه حاصله وي. لنګرونه ورکوي. مګر خپل سکه رور شاه محمد فاضل کشمير ته ليږي. چه زيارت ئې هلته په سري نګر کښې جوړيږي. بيا د حضرت پير سيد حسن القادري نه روستو دوه ځامن پاتے کيږي. يو حضرت سيد زين العابدين چه هغه هم د پيښور ښهر نه هزارے ته ځي. مزار مبارک ئې د هزارے د حويليا نومے ښهر سره دے. او دويم ځوي ئې حضرت شاه محمد غوث قادري ګيلاني لاهور پنجاب، ته ځي چه مزار ئے په لاهور ښهر کښې جوړيږي. ورپسے د دے خاندان يوه کورني کابل ته ځي. بله جهلم ته ځي. او نن د ساداتو د دے نقيب الا شراف خاندان بزرګان په بغداد حيدر باد سندهـ پيښور. کشمير لاهور، کابل او جهلم کښې يعنے ټولو اهمو اسلامي ملکونو او مرکزونو کښې پراته دي. نو که فکر اوکړو دا يو

مثال دے. چه ئے بزرګانو په هيڅ يو ملک پورے زړۀ نه تړلو بلکه د دوئ په وړاندے د اسلام د خدمت يو عظيم مقصد پروت وو. يو نصب العين وو. او هغے ته د رسيدلو د پاره به ئے کوشش کولو. ديته ئے نه کتل چه زۀ چرته پيدا شوے يم. او څما کوم کور. کلے او وطن دے. که بالفرض هغوئي دے خبروته کتلے. او د پلار په سجاده. ګدئ او مال هال پورے ئې زړۀ تړلے نو بيا ځمونږ د دغه پورتني مثال په طور د حضرت پير سيد حسن القادري والد ماجد حضرت سيد عبدالله ګيلاني په ټهټه ښهر کښې ډير لوئي روحاني پيشوا وؤ. ډير قدر عزت او خدمت پۀ وو. د "اصحابيئ رسول. په مغرز لقب ياديدلو. بيا خو د حضرت پير سيد حسن القادري ګيلاني عليه الرحمة د پاره دا خبره ډير آسانه وه چه هم هلته په ټهټه ښهر کښې پاتے شوے ويے. سجاده نشين شوے وے. او د آرام ژوند ئے تير ولے. دغه شان حضرت پير سيد حسن القادري چه کله پيښور ښهر ته تشريف راوړلو. نو دلته د دوئي هم ډير لوئي قدر او عزت وو. د دے ملک مشهور خانان، نوابان ئيے ټول مريدان وو. د پيښور مشهور نواب، نواب محسن خان مهمند رچه نن ورځے د پيښور مشهور کلے کوټله محسن خان هم د ده په نوم آباد دے. ورله خپله لور بي بي په نکاح ورکړے وه. د کابل ګورنر نواب امير خان ئې مريد وو. ليکن سره د دغے نه چه کله حضرت پير سيد حسن قادري ګيلاني عليه الرحمة و فات شه. نو د ده مشر ځوي چه د لور د طرف نه د

نواب محسن خان نمسے وو. هغه هزارے ته ځي. او کشر ځوي. ئې حضرت شا محمد غوث لاهور ته ځي. او په دواړو رونړو کښې يو هم د پيښور ګدئي، مال، هال، عزت دولت شهرت ته اسه نه کوي.

د دے وجه څۀ وه.؟ د دے وجه دا ده چه ځمونړه دا مشران بزرګان په دے حقيقت بانددے پوهه وو. چه اسلام يو تبليغي مذهب دے. يو مشن دے. او ټول ژوند دغے ته وقف کؤول دي.او هم دا هغه څيز دے چه ځمونړه ټول مشران او روحاني رهنمايان د جهاد د پاره او د اسلام د تبليغ د پاره د دنيا د يو سر نه بل سرته رسيدلي دي. چه د غزني نه به راروان شول او په سومنات به ئې په غزا کښې ځان شهيد کولو. د بخارا او تبريز نه به راروان شول او په بنګال او اسام کښې ئيے د دين تبليغ کولو. د دے وجه هم دغه وه چه د هغوئ ژوند د اسلام د پاره وقف وو. او د موجوده دور د مسلمانانو په شان په کور په پټي. په مال په هال. په کلي په چم په کندي په دور په عزيز پورے ئيے زړۀ نه ووتړلے. او نن هم د دوئي په برکت د دنيا ټول مسلمانان يو رونړه شوي دي. د دنيا ګوټ ګوټ ته د اسلامي روروالئ دا پيغام دوئ روسؤولے دے.

که فکر او کړو دا يو مثال دے. او ځمونړ د دے مشاهيرو بزرګانو په روحاني رهنمايئ سره چه د مسلمانانو تر مينځه کوم"اسلامي روحاني تړون" عملي شکل موندلے دے. يو خوا ته د هغے انعدازه لګوؤل به

تـریـنـه آسـان شي او بـل خـوا تـه ځـما دا آرزو ده. چـه د دے بـزرګـانـو د حـالاتـو د مطالـعـے نـه مونـږ دا سبق واخلو چه ځمونـږ هـر یـو مسلمـان د خپل زړهٔ نـه دا خیـال اوبـاسي. چه دے چرتـه پـیدا شوے دے. او د ده کـور کـلے او وطن کـوم یـو دے؟ بـلکه دا خیـال پـه زړه کښې پـیدا کړي چه د دے خپل لـوئـي اسلامـي مـلک او مملکت هر هغه ځـائ چرتـه د دیـن اسلام او مسلمـانـان شیګړه پـه ده کیـدلـي شي. هغے تـه د ځـان رسولـو کـوشش اوکړي.

پـه دے کـتـاب کښې د ۴۰۰ء نـه د روستـو زمـانـے د بـزرګـانـو حـالات لـیکلـي شوي دي. چونـکه د ځـنـے بـزرګـانـو د ولادت صحیح تـاریخونـه معلـوم نـه دي. پـه دوجه د تـاریـخ وفـات د زمـانـے پـه لـحاظ چه سلسله وار پـه وړانـد روستـو زمـانـه کښې دا هـر څـومـره بـزرګـان تـیـر شوي دي پـه هغـه مـنـاسبت ئـے حـالات دلـتـه درج کـړلـے شول.

تـر دے وخـتـه پـورے چه د هـر څـومـره بـزرګـانـو د حـالاتـو تـذکـرے ځـمـا د نظر نـه تـیـر شوے دي. پـه هغے کښې زیـات بـحث د هـر یـو بـزرګ د کشف کـرامت پـه واقـعـاتـو بـانـدے وي. لـیکن حقـیقت دا دے چه کشف او کـرامت د یـو بـزرګ د پـاره وقـتـي څـیز دے. او د بـزرګـئ اصلـي مقصد نـه دے. کـه چه روستـو د حضرت پـیـر بـابـا علـیه الـرحمة پـه تـذکـره کښې بـه پـه تـفـصیل سره پـرے بـحث راشي. هـر یـو مسلمـان لـه چه خدائ پـاک د بـزرګـئ مرتـبـه ورکـړي. او خپـلـو اولـیـاؤ کښې ئـے شمـار کـړي. نـو فـوري طور هغه لـه دوه نـعمـتـونـه ورکـړي

یو دا چه خلق پرے رامات شي. شهرت یئے اوشي. په ظاهره کښې خو داسے ښکاريږي. چه دا شهرت د دغه بزرګ د پاره د عزت خبره ده. ليکن په حقيقت کښې دا په هغه باندے د خدائے د طرف نه يو امتحان وي. او دا هغه ته يو کار حواله شوے وي. چه د خدائے مخلوق ته به د دين اسلام تبليغ کوے. هدايت به ورته کوے. د دوئ د اخلاقو اصلاح به کوے. نو بيا که يو بزرګ په دے امتحان کښې ثابت قدم پاتے شي. او دغه شهرت د خپل ذاتي عزت، و جاهت او مرتبے او مال راټولو ذريعه او نۀ ګرځوي. نو هغه له د کشف او کرامت مرتبه ورکړي. او بيا دا مرتبه هم فقط د دے د پاره ورکوي. چه د خلقو عقيدت ورسره پيدا شي. او دے چه د دين اسلام کوم تبليغ هغوئ ته کوي. د ناکاره رسمونو او رواجونو نه ئې منع کوي. د هغوئ اخلاقي. معاشي. معاشرتي اصلاح کوي. نو چه خلق د دۀ په نصيحت او هدايت باندے عمل ته تيار شي.

چنانچه په دے وجه مونږه دا اووئيل چه کشف او کرامت مقصد نه دے. بلکه د مقصد د حصول د پاره اسباب دي. او هغه آسانتيا ګانے دي. چه د دين اسلام د خدمت په کار کښې د کاميابيدلو د پاره خدائے پاک ئيے خپل يو نيک بنده له ورکړي. په دے بناء دايو وقتي څيز دے. او اصلي څيز هغه پيغام دے. هغه تعليمات دي. چه يو بزرګ قوم ته پيش کړي وي.

د دې پورته وجوهاتو له مخه ما په دې خپل کتاب "روحاني تړون" کښې د ټولو بزرګانو په تذکرو کښې د هغوئ د کشف او کرامت په حقله بحث نه دې کړې. بلکه د بحث بنيادي نقطه م راګرځولې ده. چه څمونږه هغه روحاني رهنمايات او پيشويان چه د چا د تبليغ، رشد، او هدايت په برکت چه نن په دې زمکه دومره مسلمانان پيدا شول. چه هغوئ په دې برصغير کښې د لا اله الا الله محمد رسول الله.

بيرغ اودره ولو او د حضرت محمد مصطفی صلي الله عليه وسلم د دين د سر لوړئ د پاره ئيې د "پاکستان" په نوم يو اسلامي مملک جوړ کړلو. او د چا د برکته چه نن مونږه ټول په "يو روحاني تړون" يو رونړه يو نو چه دا معلومه کړو چه څمونږه دغه روحاني مشران څوک وو. کله پيدا شول؟ روحاني رنړا ئيې د چا نه حاصله کړې وه؟ د دوئ صحيح تاريخي حالات او تاريخي مقام څه دې؟ او نن څمونږه په دې مملکت کښې په کومه کومه خاوره پراته دي.؟

په دې اعتبار سره څما دا تليف "روحاني تړون" يو قسم تاريخي او تحقيقي تذکره ده. او ډير داسې بزرګان چه د هغوئ تاريخي حالات معلوم نه وو. يا په هغې کښې اختلاف وو. په هغې باندې ورسره ورسره علمي او تاريخي بحثونه هم شوي دي. او په خصوصيت سره د مغربي پاکستان د شمال مغربي علاقو د ډيرو داسې بزرګانو حالات پکښې راغونډ شوي دي. چه تراوسه پورې ئيې

ذکر نه وو شوے. توفیق ورکوؤنکے الله تعالی دے او هم د الله تعالی جل و علي شانه د پاک ذات نه امید لرم چه دے کتاب ته مقبولیت حاصل شي. والحمد لله رب العلمین

عبدالحلیم اثر افغاني ولد سید کریم ولد سید احمد ولد خواص خان تر کلانے. سلا دزائے. فتح خانخیل د باجوړ. ملاکنډ ایجنسي (رمضان المبارک ۱۳۸۳ء)

تقريظ (رائي)

(له قلمه د عزتمند جناب مولانا حافظ محمد ادريس) صدر شعبۀ عربي پشاور يونيورسټي، پشاور)

خلق چه د مور پلار قبر له څو ورځې لاړشي. نو د شوق جذبه ئې کمه شي. او چه څه موده تيره شي. نو د ميراتې دنيا په لانجو کښې داسې اخته شي. چه په اختر، شبقدر کښې هم ورته تږ ګران ښکاري. خو سره د دې څنې قبرونه داسې دي. چه خلق د هغې په زيارت نه ستړي کيږي. او چه هر ځل مزار ته ئې دعا کوي نو نوې خوند بيا مومي. که وخت پکار وي. که ئې د مټو زور پکار وي. او که پيسې پکار وي. په هيڅ څيز دريغ نه کوي. او د مزار د سر نه هر څه زار کوي. دا ولې؟

دا ځکه چه د دغه مزارونو خاوندان په خپل ژوند کښې د برخې خاوندان وو. او د هغوئ د زړة رنړا د خلقو په زړونو کښې رنړاګانې پيدا کړولې. د هغوی مثال د روښانه مشعل وو. چه ټول ځائ پرې روښانه وو. هغوی د اسلام بيرغ اوچت کړې وو. او بې خبره خلق ئې د خدائي او رسول د لارې نه خبره ول. د خدائ په مينه مست وو. او د هغه د دين عاشقان وو. نو داسې ژوند ئې بيا مونده. چه نن د قبر د تورو تيرو نه د لکونو خلقو په زړونو حکومت کوي. او

کوم سرونه چه هیچا ته نه ټیټیږي. د هغوئ د سلي چونے ته زوړند پراته وي. دغے ته "روحاني تړون" وئیلے شي. او مونږ مسلمانان هغوئ د ځان سره په دے "تړون" کلک تړلي یو.

دے وینا ته حاجت نشته چه نن چه په "پښتونخواه" کښې د اسلام کومه رنړا خوره ده. دا د دغه یو څو مزارونو د پاکو ارواحو برکت دے. چه ټول وطن ئیے د اسلام په پړي تړلے دے. او هر سړے ئې د خدائ د مینے لیواله کړے دے.

عجیبه خبره دا ده چه په پښتو ژبه کښې تر اوسه هیڅ یو عالم یا د مصلے خاوند دا کار نه دے کړے. چه د دغه بزرګانو د ژوند پاکیزه حالات دے د قام نرو، ښځو ته اواوره وي. او هغوئ ته د سبق اخستلو موقع په لاس ورکړي.

ځمونږ عزتمند اشنا او خصوصاً ځما د سبق ملګرے قاضي عبدالحلیم اثر افغاني په دے حقله د مبارکئ وړ دے. چه هغه په دے پاکه موضوع قلم اوچت که. او تش د پښتونخواه نه بلکه د قبلیزاو نمر ختیز پاکستان د ډیرو بزرګانو حالات ئیے په ډیر محنت سره راغونډ کړل. او یوه ښائسته مجموعه ئیے مونږه ته راوړاندے کړله.

قاضي صاحب د دنیا ډیرے تودے سړے لیدلے دي. خوشکر دے چه تود سوړ شوے نه دے. د هغه قلم چه د پښتو په مزکه کښې روان شي. نو بے اختیاره لعلونه او

ملغلرے رابرځیره کړي. او په کوم موضوع چه لیکل شروع کړي. نو د خوږے. پستے. روانے. او آوارے ژبے سره الله پاک ورله د تحقیق او تالاش داسے طاقت ورکړے دے. چه په هغے موضوع باندے غر او میدان دواړه آوار کړي. شپه او ورځ په ځان یوه کړي. او داسے عجیبه عجیبه نکتے رااوباسي. چه عاقلان ورته حیران پاتے شي. و د زړۀ د اخلاصه د ده د ژور عملي او تاریخي تحقیق قدر او تعریف اوکړي. لیکل به هر څوک اوکړي. خو د تحقیق د میدان شاه ځلمي ځنے ځنے وي. او د کتابونو نه راغونډه به هر څوک اوکړي. خو په هغے کښې د عقل نیلے زغلولو. او د منطق او فلسفے په تله سنجؤل د یو نیم کار دے. او قاضي عبدالحلیم اثر افغاني له رب العالمین دا ټول شائیستونه په یو ځائ ورکړي دي. زۀ کله وائم چه قاضي صاحب د مصنفانو د باغ یو داسے مالیار دے. چه شاړے مزکے ته اړم شي. نو شاهي باغ او وزیر باغ ترینه جوړ کړي. او د ښکلي تحقیقي په ښائسته وو ګلونو د خپل تالیف رونق زیات کړي. په دے کتاب روحاني تړون کښې په خصوصیت سره د حضرت دا تاګنج بخش علیه الرحمة. حضرت خواجه معین الدین حسن چشتي اجمیري علیه الرحمة او حضرت حاجي عبدالله بهادر کوهاټي علیه الرحمة په حقله چه کومه تاریخي او تحقیقي څیړنه ئیے کړے ده. هغه د یو تاریخي شاهکار حیثیت لري. او زۀ ئیے د خپلے خبرے په ثبوت کښې پیش کؤولے شم.

"پښتو ادب" "تذکره سید افغاني" "تیر هیر شاعران" "تالیق پشتو" "پښتو قواعد" او سیرت د پاک رسول، ډیرمشهور دي. اوس چه ما د هغوي نوے کتاب "روحاني تړون" ولید. چه د بزرګانو تیر هیر حالات ئیے پکښې راغونډ کړي دي. نو بے اختیاره م ئیے لاس ښکل کړل. او مرحبا م ورته اووے. ځکه چه د بزرګانو حالات ئیے په داسے طرز کښې راغونډ کړي دي. چه هغه د کراماتو جونګ نۀ دے. بلکه سم تاریخي حالات ئیے رایو ځائي کړي دي. او د هغوي تعلیمات ئیے راڅرګند کړي دي. کرامت وقتي څیز دے. او تعلیم تل ترتله دائم او قائم څیز وي. ځما په خیال په دے موضوع باندے تر اوسه په اردو کښې هم داسے کتاب لیکلے شوے نه دے. چه په هغے کښې سوچه تاریخي حالات او تعلیمات راغونډ شوي وي. په دے موضوع چه کوم کتابونه بازار کښې خرڅیږي هغه د تاریخ او عقل دواړو نه لرے لرے وي. د حقیقت په ځاي شک او شبه پیدا کوي.

الله پاک دے د قاضي صاحب دا کوشش په خپل دربار کښې قبول کړي او د "روحاني تړون" په لړونو کښې دے ټول پاکستاني مسلمانان را اوتړي. آمین

دستخط

حافظ محمد ادریس

(صدر شعبه عربي پشاور یونیورسټي)

۲۹، ستمبر ۱۹۲۳ء

تقريظ (رائي)

(له قلمه د عزتمند جناب محمد يونس سيهټي، ډپټي ډائرکټر د محکمه نشرو اشاعت قبائيل پښاور)

په پښتو، اردو، فارسي کښې او نورو ژبو کښې د مسلمانانو روحاني پيشوايانو، اسلامي مبلغانو او د دين علمانو تذکرے داسے خو ډيرے ليکلے شوے دي. ولے يوه تذکره هم تر اوسه څما د نظره داسے نه ده تير شوے. چه په هغے کښې صرف د هغو وليانو او مرشدانو د ژوند حالات او تعليمات راغونډ کړي شوي وي. کومو چه مغربي او مشرقي پاکستان کښې استوګنه کړے وي. او د هغوئ مبارک مزارونه هم په پاکستان کښې موجود وي. څما په خيال د داسے يو کتاب ضرورت د موجوده وقت د ټولونه لويه تقاضا وه. په دے وجه هم چه د پاکستان د اسلامي مملکت نوي کؤل ته د هغو پاکو هستو پيژاند ګلوئي ضروري ګنړلے شي. کومو چه د ټولونه اول په دے علاقو کښې د علم او عرفان رنړا خوره کړے ده. او دلته ئيے د اسلام جنډے د تورے او ټوپک په زور نه بلکه د هدايت او ارشاد په ذريعه او چتے کړے دي. او په مونږه باندے يئے لوي احسان کړے دے. او بيا په دے وجه هم د داسے يو کتاب ضرورت ډير محسوس کيدو. چه پاکستان مونږه د اسلام په نوم جوړ کړے دے. او په موجوده وخت کښې د

پاکستان د حکومت او عوامو دا کوشش دے. چه داسے لارے چارے او لټوي چه په هغے د عمل کولو په ذريعه د پاکستان مسلمانان د اسلامي تعليماتو او رواياتو مطابق خپل انفرادي او اولسي ژوند تير کړي. او د مادي ترقۍ سره سره خپل روحاني او اسلامي قدرونه هم ژوندي اوساتي. او هم دغه د وخت تقاضا ده.

"روحاني تړون" چه د ښاغلي "اثر" يو قيمتي، تاريخي او تحقيقي اثر دے. ډير په ښه ډول سره د وخت دا اهمه تقاضا پوره کوي. تر کمه چه ځما معلومات دي پښتو ژبه کښې بل داسے کتاب نشته. چه په هغے کښې ځمونږ د مشرقي او مغربي پاکستان د روحاني پيشوايانو او د اسلامي د رهنمايانو د ژوند حالات دومره په تحقيق سره ليکلي شوي وي. لوستونکيو ته به پخپله دا خبره څرګنده شي. چه هم دا پاکے هستئ وے. چه د هغوئ په ذريعه د پاک پيغمبر صلي الله عليه وسلم صحيح اسلامي تعليم مونږ ته رارسيدلے دے. نو د دوئ په تابعدارئ او پيروي کښې ځمونږ د پاره د ديني او دنياوي فلاح او نجات راز پروت دے. دوئ په خپل عمل او خپل تعليم سره مونږ ته دا خبره ښودلے ده. چه ټول مسلمانان د يو بل سره په داسے مضبوط "روحاني" او مذهبي رشتو تړلي دي. چه هيڅ طاقت دوئ د يو بل نه نۀ شي جدا کوؤلے.

دا "اسلامي او روحاني تړون" د جغرافيائي نسلي او لساني حدودونه ډير

اوچت دے. مسلمانان که هغوئ مشرق کښې دي. او که مغرب کښې د یو بل سره د مذهب اسلام په حقیقي او "روحاني تړون" سره تړلي دي. د دے پیشوایانو او مبارکو هستو دا پاک او سپیڅلے تعلیم اوس څمونږ د ژوند د لاري د پاره د مثال کار ورکوؤلے شي.

حقیقت دا دے. چه هم د دے پاکو هستو په روحاني طاقت په مرسته، څمونږه اسلامي ملک پاکستان اجوړ شو. او انشاء الله هم د دوئ په روحاني رهنمائیے او هدایت به د پاکستان مسلمانان په یو نه شلیدونکے روحاني رشته کښې سره تل تر تله تړلي وي. او د اسلامي روزولئ په یو همیل کښې به تر ابده پءیلي وي.

د دے تولو مرشدانو د ژوند یو مقصد وو. او هغه نصب العین په ډیرو مختصرو لفظونو کښې اعلاي کلمة الله وو.

د کتاب مؤولف ښاغلي عبدالحلیم اثر د دے کتاب په تالیف کښې چه کومه خواري کړے ده. او د خپل تحقیقي او څیړنے په ذریعه کوم حقائق ئے بر څیره کړي دي. هغه یواځے هم د دوئ برخه ده. هم داسے اهل قلم د یو ملت شانداره تاریخي پس منظر د خپل قلم په سوکه نمایانه او روښانه کوي. په یو ملت کښې د دغسے اهل قلمو فقدان د ملت د ګمنامئ باعث ګرځیږي د فارسی ژبے یو شاعر په دے حقله ښه وئیلي دي:

در د فتر زمانه

فتدنامش از

قلم
ہر ملتے کہ
مردم صاحب
قلم نداشت

ښاغلي عبدالحليم اثر د پاکستاني ملت د روحاني پيشوايانو د ژوند حالات او د هغوئ تعليمات په ډير تحقيق سره ليکلي دي. چه د ملت موجوده او آئنده نسلونه خپل ديني او قومي مشران هير نه کړي. او د دے مشرانو د لوړ نصب العين په لاره کښې د ځان د مال عملي قربانئ ورکولو ته هر وخت تيار وي. پکار دي چه دا کتاب د هر پاکستاني مسلمان په کور کښې موجود وي. او هر څوک د دے رهنمايانو د ژوند حالات او ارشادات دے او لولي او خپل ايمان دے پر تازه کړي. د دغه کار د دے هستو د احسان ادا کولو د ټولونه بهتره طريقه ده.

زۀ په آخر کښې يو ځل بيا فاضل مؤلف ته د داسے مفيد. جامع او تحقيقي کتاب په پيش کولو مبارکباد وائم. او اميد کوؤ چه دا به د پاکستاني ملت د روشن فکره او منوره طبقے د پاره ډير ګټه ور ثابت شي. او دوئ به د خوږ وطن د مادي ترقئ د کوششونو سره سره د خپل "روحاني تړون".

د مضبوطه ولو د پاره زيات تکل اوکړي.

خدائ دے فاضل مؤلف ته نور هم برکت ورکړي او دا کتاب دے د عامو مسلمانانو د فائدے د پاره مقبول اوګرځوي.

محمد یونس سیټهي

ډپټي ډائریکټر
ټرایبل پبلسټي
آرګنایزیشن، پشاور

(مورخه ۱۰، اکتوبر ۱۹۲۳ء)

تقریظ (رائي)

(له قلمه د عالي قدر عزتمند جناب سید نصر من الله مشواني پي اے میرانشاه شمالي وزیرستان)

ما د دے کتاب "روحاني تړون" زیاتے حصے اولوستلے په دے کښې د پاکستان د مشرقي او مغربي دواړو حصو د هغه مشاهیر و اولیاء الله بزرګانو عالمانو او قومي مشرانو د ژوند حالات په پوره تحقیقي سره راجمع کړي شوي دي. چه هغوئ پخپل ژوند کښې د خپلے نیکئ پاکیزګۍ تقوي او پرهیز ګارئ په وجه کامیاب او د عزت او افتخار ژوند تیر کړے دے. او د خپلے روحاني صفایئ په ذریعه ئې د عامو مسلمانانو د روحاني رهنمائے او پیشوالئ او چته درجه موندلے ده.

اسلام مونږ ته د زړهٔ. دماغ او روح د صفایئے تعلیم راکوي. اسلام مونږه ته د نیکو اخلاقو او پاکیزه ژوند تیره ولو درس راکوي. اسلام مونږ ته د اښائي. چه ټول مسلمانان یو رونړه دي. اتحاد او اتفاق د اسلام هغه پاکیزه تعلیم دے. چه نن د دے په برکت ټول مسلمان قوم یو وحدت دے. او یو ملت دے. او څمونږه دغه بزرګان او روحاني رهنمایان چه نن د هغوي نومونه د اسلامي تاریخ پانړو پاتے دي. او څمونږ عوام او خواص ټول د هغوي نومونه ډیر په

قدر او عزت سره اخلي. د هغے باعث هم دغه دے. چه دوئ پخپله هم د اسلام په اصولو محکمه پاتے شوي دي. ا وقوم ته يئے هم د نيکئ نيکو کارئ اوچتو اخلاقو. انسانيت. دوستئ. انصاف مساوات. رواداري. اتحاد. اتفاق او د اسلام او د مسلمانانو د سرلوړئ د پاره د قربانئ ايثار او خلوص نه کار آخيستلو تعليم ورکړے دے. او دا هم د هغوئ د نيکو کوششونو نتيجه ده. چه نن په برصغير پاک او هند کښې دين اسلام. او مسلمان قوم يو عظيم الشان قوت او طاقت دے.

د دے کتاب نوم "روحاني تړون" ډير موزون نوم دے. مونږه د ټولے دنيا مسلمانان د يو "روحاني تړون" په بناء د يو بل سره رونړه يو. داسے رونړه چه د نسل، ملک. وطن او قوم هيڅ يو امتياز د دغے په منځ کښې نه شي حائل کيدلے. او مونږه د پاکستان لس کروړه مسلمانان هم د دے. اسلامي "روحاني تړون" په بناء چه هر کله يو لاس يو موټے او يو طاقت شولو. نو د دنيا په نقشه باندے د پاکستان په نوم يو عظيم الشان اسلامي حکومت او مملکت په وجود کښې راغلے دے. او نن هم د دغه " روحاني تړون" برکت دے. چه مونږه د مشرقي او مغربي پاکستان ټول مسلمانان ئيے يو تن او وجود کړي يو. او څمونږ نه يئې د دنيا يو عظيم قوم او ملت جوړ کړے دے. او هم دغه د اسلام عظيم الشان روحاني تړون دے. چه نن د پاکستان اسلامي حکومت د دنيا د ټولو اسلامي حکومتونو غمدرد او خوشحالي

دواړه داسې ګنړي لکه خپل.او په هره نازکه موقع بانده د دنیائي اسلام د هر یو ملک او هریو قوم سره چه پاکستان کومه همدردي او ملګرتیا کړې ده. او هر وخت یئې کوي. او کوم د رورولئ لاس او امداد چه ئې ورسره کړې دې او اوس یئې هم کوي.و د دې ټولې همدردي باعث هم دغه "اسلامي روحاني تړون" دې.

نن که اسلام او مسلمان قوم د دنیا یو لوئي عظیم الشان قوت او طاقت دې. نو د دې راز هم دغه دې. چه په یو خدائي. یو رسول او یو قرآن باندې ایمان لرلو. یوې قبلې ته مخ کؤلو. او یوې کلمې وئیلو په وجه د ټولو مسلمانانو په زړونو او روح کښې یو والې موجود دې. یو لوئي روحاني وحدت موجود دې او دا یو داسې عظیم الشان قوت او طاقت دې. چه د دنیا ټول مادي طاقتونه د دې په مخکښې نه شي اودریدلې.

د دې کتاب "روحاني تړون" افادي پهلو دا ده. چه په دې کښې مونږه ته د خپلو هغه مشرانو پاکیزه کار نامې راوړاندې شوې دي. چه هغوئ خپل ژوندون خالص د خدائ د رضا د پاره د مسلمان قوم د دیني او دنیاوي بهترئ د پاره وقف کړې وو. او د مسلمان قوم د معاشي معاشرتي. تهذیبي او تمدني ترقئ د پاره ا وپه قوم کښې د وحدت او اتفاق راوستلو د پاره ئي کوششونه کړي وو. ښکاره خبره ده. چه د خپلو داسې مشاهیرو د حالاتو نه خبردار کیدل په عام پاکستاني ملت او خصوصاً ځمونږ په نوي کول

کښې د خلوص او ایثار جذبه پیدا کوؤلے شي. او نن ورځے چه څمونږه کوم موجوده نسل دے دوئي ته اوورپسے راتلونکي نسل ته هم د دے څیز ضرورت دے.

د دے کتاب یوه بله پهلوچه هغه دستائینے حق لري. دا ده. چه دا کتاب په علمي، تاریخي او تحقیقي طور سره لیکلے شوے دے. په دے سلسله کښې د مثال په طور د حضرت خواجه یحي کبیر، حضرت سید شیخ رحمکار کاکا صاحب، حضرت شیخ عبدالله المعروف حاجي بهادر د کوهاټ او د حضرت پیر سید علي پیر بابا. حضرت شاه محمد غوث قادري او پیر سید ابراهیم شاه شیرازي حالات چه م لوستلي دي. نو د هغے له مخه دا وئیلے شم. چه فاضل مؤلف عبدالحلیم اثر افغاني په دے خپل کتاب کښې صرف تاریخي واقعات او حالات نه دي راجمع کړي. او نه یئے د بزرګانو د عامو تذکرو او سوانحعمرو په شان فقط د کرامتونو په واقعاتو راټولو لو اکتفاء کړے ده. بلکه د هریو بزرګ د ژوند د تاریخي حالاتو بیانولو په سلسله کښې یئے په خالص علمي تحقیقي او تاریخي رنګ کښې تفصیلي بحثونه کړي دي. د هغه تاریخي زمانه یئے متعینه کړے ده. او هم په دغه طرز سره یئے د هغه د ژوند واقعاتو او د هغه پیغام او تعلیماتو له ترتیب ورکړے دے. چه په هغو باندے دا کتاب د نورو عامو تذکرو نه ممتاز شوے دے. امید دے چه د دے کتاب د مؤلف دا کوشش به د خدائ پاک

په بارګاه کښې مقبول شي او عامو مسلمانانو ته به ترینه فائده اورسیږي.

دستخط

د سید نصر من الله مشواني. پولیټیکل ایجنټ د میر انشاه شمالي وزیرستان

(۱۶،اکتوبر ۱۹۶۳ء)

تقريظ (رائي)

(له قلمه د عزتمند جناب عبدالودود خان ريسرچ آفيسر د وزارت تعليم او اطلاعات د مرکزي حکومت پاکستان راولپنډي)

په سر د مزکې هر قدم
په احتياط سره ږده
د مزکې لاندي عجب ښکلي
نازنين پراته دي

(حاجي محمد امين مرحوم)

د آدم نه واخله تر دې دمه د مرګ او ژوند سلسله روانه ده. او تر قيامته به جاري وي. ډير ښکلي ښکلي کسان د دې تورو خاور لاندې شول. مونږ وينو چه د دې مړو په بعض قبرونو جنډې لګې ښکاري. د جمعې په شپه پرې ډيوې بليږي. او خلق د لرې لرې نه د دوئ سلام ته راځي. دا ځکه چه دې کسانو په خپل ژوند کښې هميشه د الله رضا کړې وه. د ژوند واګې يئې د نفس نه تروړلې ويې. هم دا وجه ده. چه دوئي په اولياء الله نوميږي.

عام پښتانه اولياء الله ته "د خدائ پاک نيازبين" او د برخې خاوندان وائي. د هر پښتون په مازغو کښې دا خبره ناسته

ده. چه دے کسانو له خدائے پاک په ژوند کښې څه برخه ورکړے وه. او دهغے برخے په وجه دوئ ته دا لوړه درجه حاصله شوے ده.

مونږ پخپل ژوند کښې د بابا ګانو د مقام نه سترګے نه شو پټولے. مونږ دے باباګانو، د خداى نیازبینو، او د برخے خاوندانو له څو. او د دوي په طفیل د خدائ پاک نه خپل مرادونه غواړو. ولے مونږ له دا هم پکار دي. چه د دے بزرګانو د حال نه ځان خبر کړو. او د هغوئ د نیک سیرت په قالب کښې خپل ژوند هم واچوؤ. د دے د پاره ضرورت وو. چه دے بزرګانو د ژوند په کومه طریقو تیرولو. چه د دوئ دا دومره لویه مرتبه حاصله کړے ده. که کیدے شي. چه مونږه هم د دوئ د ماضي په رنړا کښې د خپل حال سرسنړه داسے اوکړو چه مستقبل مو روښانه شي. دا کار د قاضي عبدالحلیم اثر په شاند یو پوهے او خواري کښې لیکوال نه په غیر بل چانه شو کوؤلے. آفرین شه. په هغه چه راپاسیده. او د ټول پاکستان د "برخے خاوندان" یئےد "روحاني تړون" په شپول کښې په داسے رنګ پیش کړل. چه نه یواځے دا ضرورت پوره شه. بلکه د پښتو ادب یوه زبردسته خلاء هم ډکه شوه. زۀ هغه له په دے داسے ښه کار مبارکي ورکوؤم. او امید کوؤم چه ډیر پښتانه رونړه به د دے نه فائده واخلي.

دے کتاب ته تریب د تاریخ په لحاظ ورکړے شوے دے. د ۴۰۰هـ نه شروع کیږي او په ۱۳۲۱هـ باند ختم کیږي یعنے که څوک څه

کم د "زړوکالو تاریخ" او د "روحاني مشرانو" د ژوند حالات په یو ځائ مطالعه کول غواړي. نو هغوئ دے د _ګران اثر صاحب" دا "اثر" اولولي.

دا خبره به مونږ د مشرانو نه آوریده چه پښتانه په ایږ مسلمانان شوی دي د دوئ او د اسلام رشته ډیره مضبوطه ده. د قاضي صاحب دا کتاب په تاسو ته اوښایئ چه د روحاني مشن اکثر چلوؤنکي پښتانه وو. که هغو په ډهاکه کښې وو. که په پنجاب کښې وو. او یا که په سندهـ کښې وو.

دستخط

۱۴، نومبر ۱۹۶۳ء

عبدالودود خان ریسرچ آفیسر د مرکزي وزارت تعلیمات او اطلاعات

د حکومت پاکستان، راولپنډي

تقریظ (رائي)

(له قلمه د عزتمند جناب شیخ محمد حسین صاحب پولیټیکل ایجنټ د کرم ایجنسی)

په قرآن مجید کښې او د رسول پاک صلي الله علیه وسلم په احادیثو کښې ځائ په ځائي د خدائ سره د تعلق قائم کؤلو. خدائ ته ځان رسول. په خدائ توکل کولو. د نفس او شیطان د مخالفت کولو هدایت شوے دے. او دا هغه منزلونه او مقامات دي. چه هغه د اسلام د تعلیم اصلي او صحیح تقاضاده. او په دے باندے د اسلام د روحانیت او معرفت بنیاد قائم دے.

مونږ له د اسلامي روحانیت او معرفت په معنی ځان پوهه کول پکار دي خبره دا ده چه د شریعت، طریقت، حقیقت، او معرفت مجموعي ته روحاني صفایئ وئیلے شي. او د معرفت خاوند هغه وي چه د دے څلورو واړو بنیادي څیزونو د حاصلیدلو په ذریعه د هغه په زړهٔ او روح کښې صفایئ راغلے وي. او ایمان یئے پرے قوي شوے وي. د دے خبرے وضاحت داسے دے. چه شریعت یو دستور العمل. ضابطه او قانون دے. او هم په دے دستور العمل باندے عمل کولو ته طریقت وائي. بیا د دغه عمل کولو په ذریعه چه یو بنده د خدائ پاک په کومو رازونو باندے آګاه شي دغے ته حقیقت وائي. بیا د دغه آګاهئ نه یعنے د علم د عملي اړخ نه

چه د یو مسلمان په زړهٔ کښې کومه رنړا حاصله شي. هغې ته معرفت وئیلي شي او چه دا معرفت چاته حاصل شوے وي. یعنے زړهٔ یئے روښانه شوے وي. هغې ته عارف او بزرګ وئیلے شي.

څمونږ د مسلمانانو تاریخ په دے ګواه دے. چه د کومے ورځے نه دنیا ته دا مقدس دین اسلام راغلے دے. د هغے نه واخله تر نن ورځے پورے دا دنیا د دغه شان عارفانو او بزرګانو نه خالي شوے نه ده. او د مسلمانانو تیر شوے د څوارلس سوه کالو تاریخ مونږ ته دا ښائي چه عامو مسلمانانو په هر یو دور کښې د دے خپلو روحاني مشرانو. عارفانو او بزرګانو په ژوند کښې هم قدر کړے دے. او د هغوئ د وفات نه روستو یئے هم ورسره عقیدت ساتلے دے. او ثبوت یئې هغه بے شمیره مزارات دي چه د ملک په ګوټ ګوټ کښې څمونږ دپخوانو بزرګانو او روحاني رهنمایانو د یارګارونو په شکل تر اوسه باقي پاتے دي. او د عامو خاصو مسلمانانو د عقیدت مرکزونه دي.

مونږه پاکستان د اسلام په نوم حاصل کړے دے. او دا مو پخه اراده ده. چه د مادي ترقۍ سره سره د خپل اسلامي تهذیب، تاریخ او ثقافت هغه روایات او اقدار هم راژوندي کړو چه د اغیارو د غلامئ په ورځو کښې یا څمونږ نه هیر شوي دي. یا ترینه غافله شوي یو. د دے نیک مقصد حاصلولو د پاره چه کومے ګنړے طریقے کیدلے شي. په

هغے کښې یوه لویه طریقه دا ده. چه مونږه خپل ځان د خپلو روحاني رهنمایانو د ژوند د حالاتو ته او د هغوئ د تعلیماتو نه خبر کړو. او په هغے بانډے د عمل کولو کوشش اوکړو. او د دنیا په دے یو څو ورځے ژوند کښې د ځان د پاره د آخرت توښه اولټوؤ.

دپاکستان په مشرقي او مغربي دواړو حصو کښې بے شمیره اولیاء الله تیر شوي دي. او په اردو. فارسي ژبو کښې د هغوئ د حالاتو ګنړ کتابونه موجود دي. لیکن دا کتابونه عام طور بیلے بیلے علاقے د بزرګانو په حقله دي. لکه سندهــ د بزرګانو د حالاتو ځان له کتابونه دي. د پنجاب د بزرګانو ځان او د بنګال د بزرګانو ځان له. یو خو ترنن ورځے پورے د سرحد او قبائیلي بزرګانو په حالاتو بانډے کوم کتاب نه وو. او بله دا چه تر اوسه پورے په اردو. فارسئ. پښتو. سندهی یوه ژبه کښې هم داسے کتاب نه وو چاپ شوے چه په هغے کښې د پاکستان د دواړو حصو د بزرګانو د حالاتو سره سره په خصوصیت بانډے د پاکستان د قبائلي علاقو د بزرګانو حالات هم بیان شوي وي.

زۀ د ښاغلي رور عبدالحلیم اثر افغاني د دے قابل قدر تالیف "روحاني تړون" په لیدلو زیات په دے خوشحاله شوم. چه دے پخپله هم د پاکستان د قبائیلي علاقے ملاکنډ ایجنسی یو قبائلي دے. او څرنګ چه ده د پاکستان په ادبي تاریخ کښې په اول ځل د اسلامي ادب او تاریخ یو داسے

شاهکار پیش کړو چه په هغې کښې د پاکستان مشرقي او مغربي دواړو سانګو د بزرګانو حالات په تحقیقي رنګ کښې په یو "روحاني تړون" کښې راغونډ کړي شوي دي. نو هم دغه شان په اول ځل یئې دا شانداره کارنامه هم انجام ته اورسوؤله. چه د پاکستان د قبائلي علاقو د بزرګانو د حالاتو نه یئې د باقي پاتې پاکستان عام مسلمانان خبردار کړل. او ورسره ورسره خپل قبائلي رونړه یئې د خپلو هغه بزرګانو د حالاتو نه هم خبرداره کړل. چه سوؤنه کاله پخوا د دې قبائلي علاقونه روان شوي وو. د روحانیت او معرفت رونړ مشال یئې په لاس کښې آخیستې وو. او د برصغیر پاک او هند تر آخر سر پورې یئې رسؤلې وو.

ما چه د ښاغلي اثر افغاني په دې کتاب کښې د پیښور او ډیره ډویژنونو د قبائلي علاقو په بزرګانو کښې د حضرت اخون صاحب د سوات. حضرت اخون الیاس صاحب د دیر. اخون فیض الله صاحب د اورکزئ تیراه. حضرت شیخ ابراهیم دانشمندار مړ د وزیرستان. شیخ صدر جهان د درابن ډیره اسماعیل خان. او حضرت میا عبدالحکیم کاکړ د کوئیټه ډویژن حالات او لوستل. چه د نن ورځ نه سوؤنه کاله پخوایئې د هند نه واخله تر بنګال پورې د اسلام رنړا خوره کړې ده. او جهادونه یئې کړي دي. نو دا م محسوسه کړله چه د پاکستاني قبائیلو ایماني جذبه به د دې خپلو مشاهیرو د حالاتو په لوستلو نوره هم مضبوطه شي. او د دغه پخوانو مشاهیر و بزرګانو د تعلیم

په آثر به دوئ هم هغه شان د دين اسلام خدمتونه انجام ته اورسولے شي. لکه چه د ده بزرگانو په ژوند کښې د هغه زمانے پخوانو قبائيلو چه سرته رسولي وو.

ځما په نظر کښې دا کتاب "روحاني تړون" په هر لحاظ سره ډير غوره او بهترين کتاب دے. زۀ د دے په تاليف ښاغلي عبدالحليم اثر له مبارکي ورکوؤم. او دعا کوؤم چه کوم نيک مقصد د پاره دا کتاب ليکلے شوے دے. عامو مسلمانانو ته ترينه دغه نيکه فائده اورسيږي. او د خدائي پاک درگاه کښې ورته مقبوليت حاصل شي.

شيخ محمد حسين

(سي. ايس. پي) پوليټيکل ايجنټ کورم ايجنسي پاړه چنار

۲۵، نومبر ۱۹۶۳ء

حضرت اصحاب بابا رضي الله عنه

حضرت اصحاب بابا رضي الله عنه د رسول پاک صلی الله علیه وسلم یو جلید القدر اصحابي دے د دوئ نوم مبارک حضرت سنان ابي سلمه، ابن محبق هذلي دے. په ۴۵ء کښې د مغربي پاکستان د وادئ پیښور په علاقه داودزائ کښې د کفارو په خلاف په جهاد کښې شهید شوے دے او مزار مبارک یئے د علاقه داود زائی د موضع متۀ خوا سره دے.

هر کله چه د سابق صوبه سرحد په علاقه کښې د حضرت اصحاب بابا د مزار مبارک سره د عام او خاص مسلمانانو ډیر زیات عقیدت دے. او د دے علاقے د ټولو بزرگانو په زیارتونو کښې یوه ممتازه درجه لري. او بل خوا ته سره د دغے ته عام خلق د دے نه نا خبره دي چه دا د رسول پاک صلي الله علیه وسلم د کوم یو صحابي مزار دے. په دے وجه دا مناسب معلومیږي چه دادئ پیښور ته د دوئ د راتللو او شهادت موندلو د بیان نه مخکښې بر صغیر پاک او هند ته دمسلمانانو د راتللو او د غزاگانو ابتدائ حالات په اختصار سره بیان کړو.

په دے سلسله کښې دا یاد لرل پکار دي. چه کومے علاقے نن ورځے په جغرافیائی

طبعي او سياسي طور سره د ايران. افغانستان. سرحد. پنجاب، سندهـ، او بلوچستان په نومونو ياديږي. د مسلمانانو د راتللو په وخت کښې د دے پورتتو علاقو او ملکونو نومونه دا وو. ايران، کومان، مکران، سيستان، طخاوستان، کابل، ذابل، خراستان، زرنج، قفص روه، توران، سندهـ. په دے کښة د وادئ پيښور پخوانے د ۱۲۰۰ق م زوړ نوم روه وو. او بيا چه د ۲۵۶ق م نه روستو په دے علاقه بدهـ مذهب ته عروج حاصل شه نو بيا دا علاقه د څه نورو علاقو په شموليت سره د بدهيه په نوم ياديدله. د تاريخ فرشته (جلد۱ ص۱۸) د بيان مطابق د بدهيه علاقه په اوړدوالي د باجوړ نه د قلات ډويژن د پخواني مقام قندا بيل پورے وه. او پلنوالے ئيے د کويټه دويژن د سبتي نومے مقام نه د دريائے سندهـ پورے وو.

د تاريخ کامل ابن اثير (جلد نمبر۳ ص۳۵) د روايت مطابق ايرنا کومان. سيستان، درے واړه ملکونه تر ۲۴هـ پورے د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کښې فتح شوي وو. په ۲۲هـ کښې چه ايران په مکمل طور سره فتح کړلے شه. نو د حضرت عبدالله ابن عامر ابن ربيع رضي الله عنه په مشرئ کښې پرله پسے د کرمان سيستان او مکران علاقے هم فتح شوے. څۀ ورځے پس د دے علاقو خلقو چه بغاوت اوکړ. نو په ۲۳هـ کښې د حضرت سهد ابن عدي او حضرت عبدالله ابن عبدالله ابن عتبان رضي الله عنهم په

مشرق کښې دوباره مکران فتح کړلے شه. د حضرت عاصم ابن عمر او حضرت عبدالله ابن عمیر رضي الله عنهم په مشرق کښې سیستان فتح کړلے شه. او د حضرت حکم ابن عمر تغلبي په مشرق کښې د مکران علاقه فتح کړلے شوه. او د دے فتوحاتو حاصلولو نه پس د حضرت عمر رضي الله عنه د یو حکم مطابق نوره پیش قدمي کوؤل بنده کړے شوه.

په ۲۴هـ کښې چه حضرت عثمان رضي الله عنه خلیفه شه. نو په ۲۵هـکښې د حضرت عبدالله ابن عامر ابن کویز رضي علله عنه پ مشرق کښې کابل فتح کړے شه. لیکن چه د مسلمانانو لښکر واپس شه نو دے خلقو بغاوت اوکړو. په ۲۸هـ کښې د حضرت عبدالرحمان ابن سمره ابن حبیب قریشي رضي الله عنه په مشرق کښې چه دوباره کابل فتح کړلے شه. نو د کتاب "افغانستان ویک نګاه اجمالي به تاریخ آن" د روایت مطابق د کابل په علاقه کښې خلقو ته د اسلام د تعلیم ورکولو د پاره حضرت عبدالرحمان ابن تمیم رضي الله عنه او حضرت جبیر رضي الله عنه مقرر کړلے شول. څه موده پس د کابل بادشاه او لګیده په بے خبرئ کښې ئې دغه دواړه اصحاب کرام شهیدان کړل. د دوئ دواړو زیارتو نه د کابل په ښهر کښې واقع دي. او په شهدائیے صالعین یادیږي. په دغة پسے په ۲۹هـ کښې چه د حضرت عبدالله ابن عامر رضي الله په ځائ حضرت ابو موسی اشرعي رضي الله عنه د ټولو مشرقي ملکونو حاکم اعلي مقرر کړلے شه. نو حضرت

عبدالله ابن عميريشي رضي الله عنه ئيےد سيستان حاكم قرر كړلو او د هغوئ په مشرئ كښې كابل په دريم ځل فتح كړلے شه (كامل ابن اثير جلد نمبر۳ صفحه۷۷)

دغه شان هم په دے ۲۹هـ كښې د مكران علاقه يو ځل بيا د حضرت عبيد الله ابن معمروضي الله عنه په لاس. او د كرمان علاقه د حضرت عبدالرحمان ابن عبيس رضي الله عنه په لاس سر دوباره فتح شولے. د سيستان حكومت حضرت ربيع ابن زياد حرچي رضي الله عنه ته او د كرمان حكومت حضرت مجاشع ابن مسعود رضي الله عنه ته حولاه شه. او حضرت ابن معمر پخپله د خراسان په لور جهاد له روان شه.

حضرت مجاشع ابن مسعود رضي الله عنه، د كرمان د علاقے نه د افغاني سيستان په لوري غزاله رواروان شه. او د موجود كا قلات غلزائي او دومندئ د علاقو فتح كولو نه روستو د موجوده خوست علاقه ئيے هم فتح كړله. او دلته ئيې د عربو غازيانو څه خاندانونه هم آباد كړل. (تاريخ كامل ابن اثير جلد نمبر۳ ص ۱۰۰)

د دغے نه روستو د حضرت ربيع ابن زياد رضي الله عنه په مشرئ كښې د افغاني سيستان، موجوده جنوبي افغانستان. د مغربي پاكستان د ډيره ډويژن قبائيلي علاقے او د بلوچستان شمالي او شمال مغربي حصے فتح شولے. څه موده پس چه حضرت ربيع ابن زياد رضي الله عنه خراسان ته د حاكم

اعلي حضرت عبدالله ابن عامر رضي الله عنه ليدلوله لاړ. نو مقامي خلقو بغاوت اوکړلو. او مقامي مسلمانان حاکمان ئيے د دے علاقو والي مقرر کړلو. چونکه حضرت ابن سمره رضي الله عنه يو تجربه کار افسر وو. د حضرت رسول پاک صلي الله عليه وسلم محبت يافته اصحابي وو. او د دے نه مخکښې ئے په ۲۸هـ کښې کابل فتح کړے وو. هغه چه راغلو نو د زنج نهيرئىے فتح کړلو. بيا د زرمل او برمل او کوه کسئ په منځ کښې چه کومه علاقه ده. (يعنے د افغانستان د سمت جنوبي او د مغربي پاکستان ډيره ډويژن د شمالي او جنوبي وزير ستان او د کوئټه، ويژن د فورټ سنډيمين علاقے) دا ئيے فتح کړئے ورپسےميداني علاقو ته راشکته شه. د بنون. ډيره اسماعيل خان کوهاټ علاقے ئيےفتح کړلے. د دے ته چه فارغ شه نو د وادئ کرم په لاره واپس شه. او د کابل. غزني او قندهار په علاقو کښې چه کوم خلق باغيان شوي. وو. د هغوئ علاقے ئے دوباره فتح کړلے. او دارالحکومة زربخ ته واپس را اوګرزيده. په دے اعتبار سره د سابق صوبه سرحدجنوبي اضلاع او ملحقه قبائيلي علاقے. او د بلوچستان د کويټه ډويژن علاقه او د افغانستان د سمت جنوبي علاقے په اول ځل او په مکمل طور سره د حضرت رسول پاک د دغه جليل القدر اصحابي حضرت عبدالله ابن سمره ابن حبيب قريشي رضي الله عنه په لاس په ۲۹-۳۰هـ کښې فتح شوے دي چه د دغه د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت زمانه وه.

په ۳۵هــ کښې چه حضرت علي رضي الـلـه عنه خليفه شه. نو د دوئ د خلافت په زمانه کښې د حضرت ربعي ابن کاسر عنبري رضي الله عنه په لاس د سيستان توله علاقه سر دوباره فتح شوله او د حضرت ثابت ابن دعورا رضي الله عنه په مشرئ کښې د جنوبي افغانستان او قلات ډويژن علاقے سر دوباره فتح کړلے شوے.

په ۴۰هــ کښې د حضرت علي رضي الله عنه د شهادت نه پس چه حضرت امير معاويه رضي الله عنه امير شه. نو په ۴۲هــ کښې حضرت حارث ابن مره عبدي رضي الله عنه د بلوچستان د قلات (قيقانان) په علاقه باندے يوه سخته حمله اوکړله. او په هغے کښې دے سره د نورو اکثرو غازيانو شهيد شه د دوئ د شهادت نه پس حضرت عبدالله ابن سوار عبدي رضي الله د دے علاقے د فتح کولو د پاره مقرر کړلے شه. هغه د څلورزره غازيانو سره راغے. مکران ئيې فتح کولو د پاره مقرر کړلے شه. هغه د څلور زره غازيانو سره راغے. مکران ئيے فتح کړو. څو مياشتے ئې دلته تيرے کړے. بيا ئې د قلات ډويژن باقي پاتے علاقه فتح کړله. او بيا واپس د مشق (شام) ته لاړ. څه نيټه روستو بيا قلات ډويژن ته راغے او د تاريخ يعقوبي جلد نمبر۱ صفحه ۲۷۸ او تاريخ کامل ابن اثير جلد نمبر۳ صفحه ۳۶۶ مطابق مطابق د مقمي ترک قوم د لاس نه سره د خپلو غازيانو ملګرو شهيدان شول. چه د دے

ټولو اصحاب کرامو رضي الله عنه مبارک مزارونه په قلات کښې دي.

دیخوا ته دا واقعات پیښ شول او بل خوا ته حضرت عبدالرحمان ابن سمره رضي الله عنه چه د کابل د فتح نه اوزګار شه. نو د خپل لښکر یو بهادر غازي او د رسول پاک جلیل القدر اصحابي حضرت مهلب ابن ابي صفره رضي الله عنه له ئیے د مجاهدین اسلام یو لوئي لښکر ورکړو. هغه د کابل. ننګرهار په لاره راغے درهٔ خیبرئیے فتح کړ. وادئ پیښور ته راغے. دا علاقے ئیے فتح کړے. دا ټک نه پورے ووټ. د ملتان پورے د پنجاب شمالي او جنوبي علاقے ئې فتح کړے. ورپسے د وادئ سندهـ شمالي علاقے او د بلوچستان د کوئټه ډویژن علاقے ئیے فتح کړلے. د قلات په مقام ئیے د ترک قوم د کفارو سره سخته غزا اوکړله. او دلته ئیے هم برے بیا مونده. په تاریخي اعتبار سره حضرت سهلب ابن ابي صفره د رسول پاک صلي الله علیه وسلم اولنے اصحابي دے. چه د دوئ په مشرئ کښې په ۴۴هـ کښې د درهٔ خیبر په لاره د وادئ پیښور علاقه مسلمانانو فتح کړے ده. او دلته د کلمهٔ توحید لا اله الله محمد رسول الله نعره پورته شوے ده. ظاهره خبره ده. چه دوئ په دے غزا کښې د وادئ پیښور اع پنجاب علاقے فتح کوؤلے. نو په دے اسلامي لښکر کښې چه د رسول پاک صلي الله علیه وسلم کوم اصحاب شامل وو. په هغوئ کښې به بے شمیره اصحاب کرامؓ په دے علاقو کښې شهیدان شوي

دي. او نن چه په خصوصيت سره د پښاور ډويژن په علاقو کښې د پخوانو کفارو د آبادو د ډهير کوپه خو اپورے د شهيد انو کوم مزارت دي. په هغے کښې به د دغه ۴۴هــ د اولنی جهاد په موقع د شهيدان شوؤ اصحاب کرام رضي الله عنهم مبارک مزارونه هم موجود دي.

مخکښې دا بحث تير شوے دے. چه حضرت عبدالله ابن سوار عبدي رضي الله عنه په ۴۷هــ کښې د قلات په مقام سره د خپلو ملګرو غازيانو شهيد شوے وو. چنانچه د دے واقعے نه دوه کاله روستو په ۴۴هــ کښې د خراسان حاکم اعلي حضرت زياد رضي الله عنه او لګيده د حضرت عبدالله ابن سوار عبدي شهيد د نيمګړي پاتے مهم د سرته رسولو د پاره يئے حضرت سنان ابن سلمه ابن محبق هذلي رضي عنه مقرر کړلو. د تاريخ بلا زري ص۴۳۲ د بيان مطابق حضرت سنان رضي الله عنه ډير لوئ عالم. فاضل او د خدائي نه ويره لرونکے انسان وو. کم وخت چه دے د هندوستان پولے ته راوورسيده نو د مکران خلق باغيان شو وي. حالانکه د ده نه مخکښې حضرت حکم ابن جبله عبدي رضي الله عنه دا علاقه فتح کړے وه. حضرت سنان رضي الله عنه چې راورسيده نو په ډيره بهادرئ سره يئے دا علاقه يو ځل بيا فتح کړله. او د دے علاقے د آبادئ د پاره ئے اقدامات اوکړل. څه ورځے پس د خراسان حاکم اعلي زياد رضي الله عنه اولګيده. د حضرت سنان ابن مسمله رضي الله عنه په

ځائي ئې حضرت راشد ابن عمر جديدي رضي الله عنه د دې علاقو حکمران کړو. ليکن لږې ورځې پس د قلات د غزانه د واپسئ په موقع د مندړ او بهروج قبيلو په منځنو غرونو کښې‌ه ميدنوې قوم د پخوس زره لښکر سره يئې مقابله راغله او په هغې کښې حضرت راشد رضي الله عنه شهيد شه. او د هغه په ځائې حضرت سنان رضي الله عنه د اسلامي لښکر واګې په لاس کښې واخيستلې او يو ځل بيا حضرت سنان رضي الله عنه د دې علاقوڼ حکمران شه حضرت سنان رضي الله عنه را اوګرزيده. د قلات او کوئټه ډويژن ټولې علاقې ئيې فتح کړلې. دوه کاله ئې دلته تير کړل. د ملک د امن امان قائم کولو پاخه انتظامات يئې اوکړل. او بيا يئې د جنوبي وزير ستان او ډيره اسماعيل خان په طرف مخه اوکړله. د علاقې يئې فتح کړلې د بنو او کوهاټ د علاقو فتح کولو نه روستو وادء پيښور ته را اورسيده. د مرکزي مقام پيښور د فتح نه روستو د بدهيه په دې علاقوڼ شمال طرف ته د مټئ او ميچنئ په مزکه يئې د وادئ پيښور او قبائلي علاق مهمند باجوړ سوات وغيره د بدهـ مذهب د پيروکارانو د يو لويئ لښکر سره سخت جنګ او شه. او هم په دغه جهاد کښې سره د خپلو غازيانو ملګرو په ۴۵هـ کښې شهيد شه.

(د حوالې د پاره ملا خطه کړئ تاريخ بلاذري صفحه نمبر۲۳۳ او چچ نامه صفحه نمبر ۳۷)

په تاريخي اعتبار سره حضرت سنان ابن مسلمه ابن محبق هذلي رضي الله عنه حضرت رسول پاک صلي الله عليه وسلم هغه جليل القدر اصحابي دے. چه د مجاهدين اسلام د امير په حيثيت د مغربي پاکستان شمال مغربي علاقے وادئ پيښور ته د اسلام رڼړا اوړے ده. او صحيح تاريخي استناد سره د دوئ مزار مبارک معلوم دے. او هم دغه شان په تاريخي اعتبار سره د دوئ مزار مبارک په دے زمکه باندے اولنے "گنج شهيدان" دے چه د دوئ چه ډير اوږد مزار کښې د دوئ نه علاوه نور بے شمير غازيان او اصحاب کرام هم ورسره يو ځائ دفن کړے شوي دي. رضوان الله عليهم اجمعين. دغه شان هر کله چه د دوئ د شهادت دا واقعه په ۴۵هـ کښې پيښه شوے ده. نو نن چه ۱۳۷۴هـ دے. د دوئ په شهادت (۱۳۲۹) د يارلس سوه او يو کم څلويښت کاله زمانه تيره شوے ده. او د بل خواته د سابق صوبه جنوبي اضلاع يعنے د ډيره ډويژن علاقو ته د اسلام رڼړا په ۳۰هـ کښې او شمالي اضلاع يعنے د پښاور ډويژن ميداني علاقو ته په ۴۴هـ او بيا په ۴۵هـ کښې رارسيدلے ده.

په روستو راتلونکو پاڼړو کښې مونړه د ۳۸۶هـ نه د روستنۍ زمانے د مسلمانانو مشاهيرو بزرگانو حالات به درج کوؤ د ۴۵هـ نه تر ۳۸۶هـ پورے دغه منځنۍ۳۴۱ کاله کاله زمانے چه کوم اسلامي تاريخ دے. هغه ځان له د يو جدا تحقيقي بحث حقدار دے. چه يو تفصيلي کتاب پرے او ليکلے شي.

حضرت سيد جلال بخاري
ګنج علم شهيد
عليه الرحمة ۳۸۶ هـ

حضرت سيد اسادات شيخ المشائح محمد جلال الدين جعفري بخاري ګنج علم شهيد په ديارلسمه پيړۍ كښې د حضرت سيد الشهداء امام حسين نمسے دے. شجره د نسب ئے داسے ده.

سيد جلال الدين جعفر بخاري ګنج علم ځوي د سيد امير علي ځوي د سيد محمود مكي. ځوي د سيد محمد مهدي ځوي د سيد حسن عكسري ځوي د سيد امام علي نقي ځوي د سيد امام محمد نفي ځوي د سيد امام علي رضا ځوي د سيا امام موسي كاظم ځوي د سيد امام جعفر صادق ځوي د سيد امام محمد باقر ځوي د سيد امام علي زين العابدين ځوي د حضرت سيد الشهداء امام حسين عليهم السلام رضي الله عنهم اجمعين.

د حضرت سيد جلال بخاري ګنج علم شهيد مزار مبارك د ملاكنډ ايجنسۍ په رياست دير

کښې په تالاش نومې علاقه کښې دې. او په کوم کلي کښې چه د دوئ مزار مبارک واقع دې هغې ته هم ددوئ د مزار مبارک په مناسبت سره "زيارت" کلې وائي. د ملاکنډ نه چه چترال ته کوم پوخ سړک تلې دې. دا کلې د دغه پوخ سړک په غاړه باندې دې. او د ملاکنډ نه دوه ويشت او چکدره نه د ديارلس ميلونو په فاصله باندې شمال طرف ته واقع دې.

د ابوريحان البيروني او نورو مؤرخينو د بيان مطابق په ۳۸۶هـ کښې چه د حضرت امير سبکتګين او راجه جي پال تر منځه په وادئ لمغان کښې خونړې جنګ او شه (امير سبکتګين غزنوي د راجه پال د اوړي د موسم په دارالحکمة لمعنان باند حمله اوکړه). او د جې پال فوځونه په ماتې سر شول نو بيا ورپسې چه دغه غازيان په هپه باند راروان شول او د کفارو دغه مات شوې لښکر ئې راپه مخه کړو. نو غازيانو د راجه جې پال د ژمي د موسم دارالحکومت هغه (تحصيل صوابی) ته د ننګرهار کنړ، باجوړ او سوات په ذمکو د پرله پسې غزاګانو کولو نه روستو ځانونه رااوښکلي وو. او په دغه زمانه چه په دې پورته يادوشوو علاقو او ملکونو کښې د کفارو کوم حکومتونه. قلعه ګانې وې. او کومې پخې او مضبوطې آبادئ د مضبوطو مورچه په شکل کښې موجود دې وې نو هغه د غازيانو په لاس هسې په آسانه باندې فتح شوې نۀ وې. بلکه په قدم قدم او ټوټه ټوټه ذمکه باندې د کفارو او مشرانو د فوځونو او اولسي خلقو

او د مسلمنانو غازیانو تر منځه بے شمیره خونړئ جنګونه شوي وو. په دے غزاګانو کښې چه د کنړ، باجوړ سوات، بونیر، مردان، پیښور په غرئیزه او میداني علاقو کښې کوم مسلمانان شهیدان شوي دي. هغه ځان له جدا اوږد بحث غواړي. په دے ټولو علاقو کښې چرته چه د کفارو پخوانۍ آبادی دي. او د هغے د کهنډراتو او آثار قدیمه و کیر چاپیره د بے شمیره شهیدانو زیارتونه چه موجود دي. دا هم د دغه دور شهیدان دي چه اکثر په دوئ کښې ډیر لوئ لوئ عالمان، بزرګان او سیدان وو. د لرے لرے هیوادونو نه د اسلامي لښکرو سره دلته راغلي دي او د اسلام د سرلوړئ او اشاعت د پاره یئے په دے زمکو د شهادت جام څښلے دے. چنانچه په دغه شهیدانو کښې یو نامور شهید حضرت سید السادات محمد جلال الدین جعفر بخاري ګنج علم دے. چه د تالاش په علاقه کښې په جهاد کښې شهید شوے وو. او نن هم د دغه "زیارت کلي" په خواؤ شا کښې د کفارو پخوانۍ اوزړے مکرپخے آبادئ او د هغے کنډرونه او اثار قدیمه موجود دي.

په دے سلسله کښې د حضرت اخوند درویزه بابا روایت داسے دے. چه حضرت سید جلال بخاري ګنج علم په دغه غزاګانو کښې د سوات په زمکه باند شهید شوے وو. او زیارت ئیے د وادئ سوات په "ابوها" نومے کلي کښې جوړ شوے وو. دا زیارت ۳۸۶هـ نه تر ۸۲۷هـ پورے هم په دے ځائ باندے وو. هر کله چه په ۸۲۷هـ کښې د یو سفزو قبیلے

خلق د سوات زمکے ته راشریک شول. او بیا روستو د یوسفزی قام د ملي زئ نومے قبیلے خلق د سوات ځنے اوچت شول. او د موجوده ریاست دیر په تالاش نومے علاقے بانده آباد شول. نو د دے ملي زی قبیلے یو څو کسانو د شپے په پټه د حضرت سید جلال بخاري تابوت د ابوها نومے کلي د دغه پخواني قبر نه اوکښلو او د تالاش په موجوده زیارت نومے کلي کښې ئې خښ کړلو. او په دغه وجه په زیارت اوبها دواړو کلي کښې د سید جلال بخاري په نوم د دوئ زیارتونه موجود دي.

لیکن څرنګ چه مونږه روستو د حضرت سید حسین جلال بخاري مخدوم جهانیان جهان ګشت (متوفي ۷۸۸هـ) په تذکره کښې واضحه کړے ده. په موضع ابوها کښې چه د سید جلال بخاري په نوم کوم مزار دے. دغه په حقیقت کښې د دے مخدوم جهانیان جهان ګشت د ګدئي ځائے او خلوت خانه وه. چه روستو ترینه خلقو مزار جوړ کړے دے. او د تالاش په علاقه کښې چه کوم مزار دے هغه د دے سید محمد جلال الدین بخاري ګنج علم شهید مزار دے.

د حضرت سید جلال بخاري ګنج علم شهید تزکره په دوه ؤ وجو سره مونږه د دے خپل کتاب په اول سر کښې راوړله.

الف:

یوه وجه دا ده چه د مغربي پاکستان په دے شمال مغربي حصه کښې چه د حضرت

رسول مقبول محمد مصطفي صلي الله علیه وسلم په اولاد کښې کو مونا مورو سیدانو د اسلام د سر لوړئ د پاره جهادونه او غزاګانې کړې دي. د هغوئ په مبارکو قدمونو ځمونږ دا ملک بختور شوې دے. او په آخره ئې د شهادت جام څښلے دے. او ددوئ د پاکو وینو په قربانئ ځمونږ په دے ملک کښې د اسلام باغ ښیرازه شوے دے. په دغه سید انو کښې زمانے په لحاظ چه د کوم یو د ټولونه پخواني آل رسول صلي الله علیه وسلم حالات په صحیح تاریخي ډول سره مونږ ته معلوم دي هغه حضرت جلال الدین بخاري ګنج علم شهید علیه الرحمة والرضوان دے.

ب:

بله وجه دا دچه د دوئ په اولاد کښې د دے نور داسے کسان تیر شوي دي. چه هغوئ د ګنج علم شهید خصوصي تعریفونه ژوندي ساتلي دي. او ځمونږه د مغربي پاکستان خاوره ئې په هغے بختوره کړے حضرت سید جلال بخاري عالم وو. او د عالم کار خلقو ته رشد او هدایت کول وي. حضرت ګنج علم شهید مجاهدوو. او دمجاهد او غازي کار په خپلو پاکو وینو د اسلام د نهالګی او باغ آبیاري کؤل وي. او دا دواړه فراءض د دوئ دغه د دے واړه نمسو په ښه شان سره سرته رسولي دي. په دے وجه په مونږه ټولو د دوئ ډیر لوئ حق او احسان دے. چه الله پاک دے د هغے په بدله کښې د دوئ په ګوربانړد د انوارو باران اوکړي.

حضرت شیخ مولانا علي ابن یوسف دلازاک

د ذینته التواریخ اور نورو ګنړو تاریخونو د روایت مطابق هر کله چه د لمغان په مقام د راجه جے پال درے لکه فوځ له حضرت امیر سبکتګین عذنوي علیه الرحمة د غازیانو په شپیته زره فوځ باندے شکست ورکړلو. او بیا د کنړ. باجوړ، سوات اوسمے په لاره د اباسین تر غاړے پورے ئے د کفارو لښکر په ماتے را اوزغلاوه. او دهنډ په مقام د آخري شکست ورکولو نه روستو راجه جے پال ئیے سره د باقي پاتے هندو لښکر د اباسیند نه پورے ایستلو نو دوادئ پښاور د حفاظ د پاره ئیے خپل یو سردار د لس زره مسلمانانو غازیانو د لښکر سره پریښودلو. او پخپله غزني ته واپس شه. دا ټول د ۳۸۶هـ واقعات دي. په دے موقع چه دغه لس زره غازیان په وادئ پیښور کښې آچوؤلي شوي وو. په دوئ کښې د پښتنو د مختلفو قبیلو خلق شامل وو چه هغوئ کښې ګدانه او دلازاک په خاص طور سره د یاددولو دي. د غازیانو په دے لښکر کښې دوه لوئ مشهور عالمان او روحاني پیشوایان وو. چه د یو نوم وو حضرت شیخ مولانا یوسف دلازاک او د بل نوم وو حضرت شیخ مولانا علي ابن یوسف د لازاک علیهم الرحمة دواړه پلار او ځوي وو. او د امیر

سبکتکین د طرف نه د غازیانو د دے لښکر سره په دے علاقه باندے د محکمه قضا په عهده مقرر شوي وو. روستو په ۳۸۷هـ کښې چه امیر سبکتکین غزنوي وفات شه او دهغه په ځاي د هغي ځوي سلطان محمود غزنوي بادشاه شه. نو د دے سلطان محمود غزنوي په زمانه کښې په محرم ۳۹۱هـ کښې د وادئ پیښور مسلمان نائب الحکومتة سلطان محمودغزنوي ته سولا جواب اولیږه چه راجه جے پال سره د لوئ لښکر نه په وادئ پیښور باندے د حملے کولو په نیت د لاهور نه راروان شوے دے. ورپسے پوره دلس میاشتے تیارئ نه نه پس راجه جے پال فوځونه په میاشت د سوال ۳۹۱هـ کښې اټک ته پورے وتل. او دبلے ډډے نه د سلطان محمود غزنوي اسلامي لښکرے هم وادئ پیښور کښې د مسلمانانو او مشرکانو د فوځونو تر منځه پورے درے میاشتے (شوال، ذي قعده، ذالحجه) جنګ اوشه. او آخر په شپږ تاریخ د محرم الرحام ۳۹۲هـ مطابق ۵، اګست ۱۰۰۱ء د مسلمانانو لښکر له خدائي فتح ورکړه. او راجه جے پال د سلطان محمود غزنوي په بند کښې غزني ته بندیوان بوتللے شه. د دے جهاد په موقع حضرت شیخ مولانا یوسف دلازاک علیه الرحمة د ضلع مردان د مرکزي ښهر مردان سره تزدے د بغداده نومے کلي په مقام شهید شه. چه مزار مبارک یئے د دے کلي نه قبیلے غاړے ته هدیره کښے دے او د ده نامور فرزند حضرت شیخ مولانا علي دلازاک علیه الرحمة د ضلع پیښور د مشهور کلي چارسده په مقام شهید شوے وو. چه

مزار مبارک ئیے د چارسدے په لویه هدیره کښې دے. په بابا صاحب علیه الرحمة مشهور دے او زیارتګاه د خاص د عام دے.

حضرت شیخ مولانا علي دلازاک علیه الرحمة د سلسله عالیه جنیدیه بغدادیه په مشاهرو اولیاؤ کښې دے. او لکه چه روستو به ذکر راشي حضرت خواجه معین الدین حسن چشتي اجیري چه هندوستان ته تشریف وړلونو په دغه سفر کښې ئې د چارسدے په مقام د دے حضرت شیخ مولانا علي دلازاک علیه الرحمة په مزار مبارک چیله اوکښلے وه.

د نن ورځے نه تر څه مخکښې مودے پورے د دوئ د مزار مبارک سرته یوه کتبه موجوده وه. چه په هغوئ کښې د دوئ نوم "علي" لیکلے شوے وو. د دے نوم په وجه په عوامو کښې دا روایت مشهور شے وو. چه دا د حضرت سید نا علي ابن ابي طالب کرم الله وجهه مزار دے. حالانکه د اروایت بیخي غلط دے. وئیلے شي چه د وادئ پیښور دوه مشهور علمي او روحاني خاندانونه یعنے د بڼهني د قاضیانو خاندان او مانکي شریف د پیرانو صاحبانو خاندان دواړه په نسب باند د دوئي اولاد دے.

په تاریخي اعتبار حضرت بابا صاحب د چارسدے د وادئ پیښور په مشاهیرو اولیائ کښې د اولني پیرئ ولي الله. عالم او شهید دے. مزار مبارک یئے د روحاني انوارو مرکز دے. او چار چاپیره ټوله علاقه پرے روښانه ده. قدس سره العزیزي.

حضرت شیخ الشیوخ سید ابو الحسن علي، الهجویري، داتاګنج بخش ۴۸۵ء

۱. (د) "هجویر موجوده نوم"شیلګر" دے او نن ورځے د دے ځائیے دغه پخوانے نوم "هجویر" ډیرو کمو خلقو ته معلوم دے. (اثر)

که نظر که څوک
په کار د
درویشانو
خو د به وویني
وقار د
درویشانو

عبدالرحمان بابا په دے پورتني شعر کښې بالکل رښتیا خبره کړے ده. درویشي او فقیري داسے سپرلے دے. چه بیخي خزان نه لري. د دنیا مادي زور او قوت که هر څومره زیات شي. خو لوئ عیب ئې دا دے چه پائیښت نه لري. د بادیوه چپه وي تیره شي. مګر د روح او معنی او زړونو سلطنت تر ډیره ډیره پائیږي. او پاتے کیږي. زرګونه، زرګونه کلونه پرے تیر شي. بیا

هم يادونه يئے باقي وي. ژوندي وي. او روښانه وي.

زرکاله مخکښې د غزني له لويه ښهره دوه فاتحان را اووتل. يو مزکے او ښهر نيے واخستلے.او د الاندے ئے کړلے. او دويم فاتح زړونه اونيول. او د زړونو ښهر يئے فتح کړے. ملکونه او هوادونه پاتے نه شول. خزانے ميراتے شولے. او فاتحين ئے تورو خاؤرو ته کوز شول. خو هغه چا چه زړونه فتح کړي وو. او په زړونو يئے سلطنت، کولو، د هغوئ بے تاجه بادشاهي تر اوسه پورے چليږي. او آثار ئ‌ئې داسے ښائي. چه د فقر او درويشی دغه بادشاهی به تر عمره عمره باقي وي.

د غزني لومړے فاتخ سلطان محمود وو. چه په مزکوئے سلطنت کا وه. مګر دوئم فاتح علي هجويري دے. چه سلطنت ئے تر اوسه قائم دے. د دے لوئی روحاني فاتح د حالاتو نه ځان خبرول ځمونږ د پاره يقيناً. چه د نيک بختئ خبره ده. چه د غزني نه راروان شوے دے. او په لاهور يئے ديره نيولے ده.

حضرت شيخ، سيد علي هجويري المعروف دا تاګنج بخش هغه بزرګه او مقدسه هستي ده. چه د هغوئ ژوند مبارک د هر يو مسلمان د پاره د تقليد او پيروئ کؤلو نمونه دے. په پنځمه صدئ هجري، کښي چه کومو روحاني پيشوايانو او مشهورو بزرګانو د پاکستان خاورے ته تشريف راوړے

دے. په هغوي ټولو کښې دوئ ته ممتاز مقام حاصل دے. دوئ په خپل اخلاقي او روحاني قوت سره د خلقو زړونه اسلام ته راکښل. او د اسلام د صداقت او حقانيت سره ئې آشنا کړل.

د حضرت "دا تاګنج بخش" نوم علي دے. کنيت يئے ابو الحسن دے. او د باباجي نوم يئے عثمان دے. حسني سيد دے. او په نهم پشت کښې د نسب سلسله يئے حضرت امام حسن رضي الله عنه ته رسيږي.

د دوي د خپل کتاب "کشف المحجوب" او نورو تاريخي کتابونو او تذکرو نه چه د دوئ کوم حالات معلوم شوي دي. هغه دلته درج کؤولے شي.

د غزني شهر په پخوانى زمانه کښې په يوه لوړه ډيرئ باندے آباد يو قلعه بند شهر وو. په هغه زمانه د دے شهر نه چار چاپيره ګنړ کلي وو. چه هغه هم يو قسم له د دے شهر باهرني محلے وے په دغه محلو کښې د يوے نوم "هجوير" وو. او دبلے محلے نوم جلاب وه. او دا دواړه محلے يا کلي د يو بل سره پيوست وو. په دے وجه د حضرت "داتاګنج بخش" عليه الرحمة د نوم مبارک سره "هجويري" او جلابي دوه نسبتي نومونه ليکلے شي.

د دوئ د پيدائش صحيح تاريخ نه دے معلوم. تر نن ورځے پورے چه عامو مؤرخانو په دے باب کښې څۀ ليکلي دي. د هغے خلاصه دا دده چه هر کله د دوئ عمر او يا کله

وو. او په۴۲۵ هـ کښې وفات شوے دے نو د دغے نه په قياس سره دا اندازه لګوؤلے شي. چه د دوئ د پيدائش کال به ۳۹۵هـ وو. ليکن په دے سلسله کښې چه څما خپل کوم تحقيقي دے. او په دغه باندے به روستو په تفصيلي طريقه سره تاريخي او تحقيقي بحث راشي د هغے له مخه دعامو مؤرخانو دا د ريواړه خبرے غلطے وي. بلکه:

(الف) حضرت داتاګنج بخش په ۴۰۰ هـ کښې پيدا شوے وو.

(ب) د دوئ عمر مبارک اوه اتيا کاله وو.

(ج) او په ۴۸۵هـ کښې وفات شوے وو.

(د) دغه شان د عامو مؤرخانو هغه روايت هم صحيح نه دے چه حضرت دا تاګنج بخش په ۴۲۱هـ يا ۴۳۱هـ کښې لاهور ته تشريف راوړے وو. بلکه څما دا وګد تحقيقي بحث په رڼا کښې چه روستو به راشي. حضرت تاګنج بخش عليه الرحمة په ۴۴۰هـ زمانه کښې لاهور ته راغلے وو.

دغه زمانه چه په کومه کښې حضرت دا تاګنج بخش علي الهجويري عليه الرحمة پيدا شوے وو. د غزني په تاريخ کښې د "زرين عهد" او "تاريخي زمانے" په نومونو سره ياديږي. دا امير سبکتګين او ورپسے دهغه د نامور فرزند سلطان محمود غزنوي په برکت په زرګونو عالمان، فاضلان او د پوهے او عقل خاوندان په غزني کښې راجمع

کښې او روستو دا ښهر د علم او فن په اعتباره سره دومره آباد شه. چه هر کوڅه او هره محله کښې ئې ديني او عملي مدرسے وي. او د علم ادب او حکمت دور دوره وه.حضرت دا تاګنج بخش په غزني کښې د هغه وخت د نامورو عالمانو نه ابتدائي ديني علومونه حاصل کړل. په دے سلسله کښې چه دوئ د غزني د کومو عالمانو څنے فيض حاصل کړے دے. د هغوئ نومونه دا دي.

١, شيخ ابو الفضل ابن الا سعدي
٢. شيخ غدتق اسماعيل

٣, شيخ ابو عبدالله محمد ابن الحکم المعروف ٤. شيخ سعيد ابن ابي سعيد

په غزني کښې دا ابتدائي ديني علومو حاصلولو نه روستو د نور علمي فضيلت او روحاني تربيت د پاره د هغه وخت د اسلامي ملکونو په سفر روان شول. او د هغه زمانے د نورو عالمانو او بزرګانو د عامے قاوعدے مطابق د علم او معرفت په طلب کښې يئې د ټولو اسلامي ملکونو د ګنړو بزرګانو. مشائخو او عالمانو نه استفاده اوکړله.

د حضرت دا تاګنج عليه الرحمة په زمانه کښې چه په چار چاپيره اسلامي ملکونو کښې کوم مشاهير علماء او مشائخ موجود وو. او د دوئ ورسره ملاقات شوے دے. او د هغوی نه ئې فيض حاصل کړے دے. د دغه

اکثر بزرګانو او عالمانو حالات دوئ پخپل کتاب "کشف المحجوب" کښې بیان کړي دي. چه د هغوئ تعداد د سوؤنونو نه هم زيات دے. د اختصار په وجه د دوئ د يو څو نامورو استازانو او مشائخونو مونه دلته ليکلي شي.

الف: د شام او عراق په عالمانو او بزرګانو کښې:

(۱) شيخ ذکي العلاء (۲) شيخ ابو القاسم سدي

(۳) شيخ ابو الحسن سالبه

(ب) په اهل فارس (ايران) کښې:

(۴) شيخ ابو احساق ابن شرمار
(۵) ابو الحسن علي ابن مکرون

(۶) شيخ ابو مسلم بردي (۷) شيخ ابو الفتح

(۸) شيخ ابو طالب (۹) شيخ الشيوخ ابو اسحاق

(ج) په اهل کرمان کښې:

(۱۰) خواجه ابو علي الحسين برکاتي
(۱۱) شيخ محمد ابن مسلمه

(د) د خراسان په عالمانو کښې:

(۱۲) شيخ مجتهد ابو العباس داستائي
(۱۳) خواجه ابو جعفر محمد ابن علي

(۱۴) خواجه محمود نيشا پوري (۱۵) خواجه احمد "خاوي، سرخي([1])

(۱۶) شيخ احمد سمر قندي (۱۷) خواجه عبدالله انصازي هروي

(ه) د آد ذبايئجان په عالمانو کښې:

(۱۸) شيخ شفيع فرخ (۱۹) شيخ ابو عبدالله

(۲۰) شيخ ابو طاهر کشوف (۲۱) خواجه حسين سمر قندي

(۲۲) شيخ سهلکي (۲۳) شيخ احمد ځوی د شيخ خرقان

(۲۴) شيخ اديب کنويئ

(و) د ماوراء النهر په عالمانو کښې:

(۲۵) خواجه امام خواص (۲۶) ابو جعفر ابن محمد الحسن

(۲۷) خواجه فقيهه ابو محمد پاتزايے
(۲۸) احمد ايلاني

---

[1] د کابل ښهر په جنوب کښي د وادئ لهو گر په چرخ (سرخ) نوے علاقه کښي "خاوه" د يو گلي نوم دے. چه خادي هغے ته نسبتي نوم دے.

(۲۹) خواجه عارف علي ابن اسحاق
(۳۰) شیخ ابو انفصل ابن حسن الختلي

لکه چه مخکښې ذکر او شه حضرت دا تاګنج بخش د علم د حاصلولو د پار ده دلرے لرے ملکونو سفرے کړي دي. مثلاً د آوز بائیجان، قهستان، خوزستان، فرغانه، ماوراء النهر، عراق (بغداد) شام د بیت المقدس (ومشق) طبرستان، طوس، ترکستان. خراسان، (هرات. کابل) وغېره ملکونه شول. او په دے ملکونو کښې د اپورته چه یادشول. دغه عالمان او نور بے شمیره عالمان یئے لیدلي دي. د هغوئ په صحبت او درس کښې پاتے شوے دے. او د هغوئ نه یئے دیني علمونو مثلاً فقهه. حدیث. تفسیر او نور د منقول او معقول علمونه حاصل کړي وو. او په خصوصیت سره د حنفي مذهب د فقهے او اصول لوئي عالم او د حنفي مذهب پیرو کار وو. او د حضرت امام اعظم ابو حنیفه نعمان کوفي رضي الله عنه سره ئے زیاته مینه وه.

د علم حاصلولو په دے سفرونو کښې چه د طریقت او معرفت د کومو مشهورو بزرګانو سره یئے لیدل کتل شوي دي. په هغوئي کښې دیو مشهور بزرګ نوم دے حضرت شیخ ابو الفضل ابن الحسن الختلي الجنیدي.

چه هغه د حضرت شیخ ابو الحسن حضرمي مریدوو. او د هغوی د طریقت سلسله حضرت سید ایطاءفه جنید بغدادي علیه الرحمة ته رسیږي او هم د دغه په نسبت سره دا سلسله

په جنيديه سره مشهور ده. چنانچه حضرت دا تاګنج بخش په خصوصيت سره د دے حضرت ابو الفضل الختلي مريد وو. د دغے نه علاوه د طريقت او معرفت د نورو کومو مشاهيرو بزرګانو سره چه د دوئ ملاقات شوے دے. د هغوي په صحبت کښې پاتے شوے دے. او د هغوي نه يئے فيض حاصل کړے دے. په هغوي کښې د يو څو بزرګانو نومونه دا دي:

(۱) حضرت شيخ ابو سعيد ابوالخير عليه الرحمة

(۲) حضرت شيخ ابو العباس احمد الا شکاني عليه الرحمة

(۳) حضرت شيخ ابو القاسم ګرګاني عليه الرحمة

(۴) حضرت شيخ ابو جعفر ابن المصاح الصيداني عليه الرحمة

د حضرت دا تاګنج بخش لاهور ته راتلل

لاهور ښهرته د حضرت داتا ګنج بخش د راتللو په حقله یوه قیصله بیانولے شي. چه هر کله حضرت دا تاګنج بخش د شریعت او معرفت په ټولو ظاهري او باطني علمونو کښې کمال حاصل کړلو. نو د خپل پیر شیخ ابو الفضل ابن الحسن الختلي علیه الرحمة د طرف نه ورته حکم اوشه چه لاهور ته لاړ شه. د دغے په جواب کښې دوي خپل پیر ته عرض اوکړه چه په لاهور کښې خو ځما پیر بهائي شیخ حسین زنجاني موجود دے او د اسلام د اشاعت او تبلیغ خدمت لګیا دے کوي. نو په داسے حال کښې لاهور ته ځما د تللو څه حاجت دے؟ لیکن د دے په جواب کښې خپل پیر صاحب ورته او فرمائیل چه بحث مه کوه فوراً ځان لاهور ته اورسوه.

چنانچه د خپل پیر د طرف نه د دے حکم په آوریدلو حضرت دا تاګنج بخش رارووان شه چه لاهور ته را اورسیده. او دلا هور ښهر نه باهر یئے په یوه سرائ کښې شپه تیره کړله. او صباله ښهر ته ننوتلو نو که څۀ ګوری چه خلقو یوه جنازه راخیستے وه. د وئ تپوس اوکړو چه دا جنازه د چا ده؟ خلقو ورله جواب ورکړ. چه دا د فخر الدین حسین زنجاني جنازه ده. نو د خپل پیر بهاءي حسین زنجاني د نوم آوریدلو سره

سمدستي ورله د خپل پير طرقت هغه حکم ورايادشه. چه فوراً لاهور ته ځان اورسوه. چنانچه د دغه حکم په اسرارو او د الله تعالی په حکمت باندے حيران پاتے شه. بيا د خلقو سره روان شه او د خپل پير بهائي په جنازه او تدفين کښې شامل شه".

دا قيصله هم په دے جوړ باندے د حضرت شيخ المشائخ نظام الدين اولياءٔ عليه الرحمة په کتاب "فواءد الفواد" کښې بيان شوے ده. بيا د هغے نه نورو مختلفو تذکره ليکونکو لکه مفتي غلام سرور لاهوري وغيره پخپلو کتابونو کښې رانقل کړے ده. ليکن په تاريخي اعتبار سره دا قيصه ډيره زياته عجيبه ده. چه روستو به په دے باندے تفصيل سره بحث راشي. بيا هم د دے قيصے نه د حضرت دا تاګنج بخش لاهور ته د راتللو چه کوم غرض او مقصد دے. هغه واضحه کيدلے شي. او هغه دا دے. چه د وئ د خپل پير په هدايت او حکم سره لاهور شهر ته تشريف راوړے وو. او دا د هغه خبرے ثبوت دے. چه کومه په ديباچه کښې مونږه ليکلے ده. چه ځمونږه هر ځومره مشران بزرګان چه د دنيا د يو سر نه به روانيدل او بل سر ته اولړے لړے ملکونو له به تلل. هلته به به آباديدل. نو د آئيے د خپلو پيرانو او استاذانو په حکم سره به کوؤل. او بيا د خپلو پيرانو او استاذانو په حکم سره په خاص طور باندے هغه علاقو ته به ليږلے شول. چه هلته به د اسلام د تبليغ ذيات ضرورت وو. په دے بناء خپل پير روشن ضمير چه دۍئي لاهور ته راليږلو.

نو په دے غرض يئے رالیږلے وو. چه د دغه ذمکے د خدائي مخلوق ته ترينه ديني فائده اورسيږي. او دا د حضرت دا تاګنج بخش د کامل پير څومره لوئ کرامت دے. چه هغوئ دا خپل مريد چه په ۴۴۰هـ کښې لاهور ته د دين اسلام د فيوضاتو او تعليماتو خوره ولو د پاره رالیږلے وو. هغه سلسله تر اوسه پورے چه نن د ۱۳۸۳هـ کال دے.۹۴۳ کاله تير شول او هغه شان جاري ده.

شهزاده دا راشکوه پخپل کتاب "سفينة الاولياء" کښې ليکلي دي چه:

"هر کله چه حضرت دا تاګنج بخش عليه الرحمة لاهور ته تشريف راؤړو. نو د ټولونه مخکښې د خپلے ديرے خواته د يو جماعت بنيادېئے کيښود.دا هم هغه جماعت دے. چه د هغے په صحن کښې نمرخاته طرف ته نن ورځ د دوئ مزار مبارک واقع دے.

د داتاګنج بخش د دے جماعت په حقله په تاريخونو او تذکرو کښې يو روايت ليکلے شوے دے. او هغه دا دے چه کله دا جماعت جوړيدلو نو داسے معلوميده چه د دے جماعت مخه (قبله) لږه شان سهيل (جنوب) طرف ته مائيله ده. په دغے بانډے د لاهور ښهر ټولو عالمانو اعتراض اوکړ. مګر حضرت دا تاګنج بخش پخپله د نمانځه امامتئ کولو ته وړاندے شه. د جمع نمونځ ئے اوګزاره. دغا منځه نه روستو ئې خلقو ته اوفرمائيل چه اوګورئ کعبة الله کوم خواته ده؟ د حضرت دا تا صاحب په کرامت د

هغوئ د دے خبرے کولو سره سم د خلقو دسترګو نه پردے پورته شوے چه د جماعت محراب ته ئے اوکتل. نو مخامخ ئې کعبه شريف (بيت الله) په نظر راغے. او پخپلو سترګو ئې اوليدل چه د جماعت قبله کعبے شريف ته بالکل برابره ده. په دے باندے قول عالمان پخپلو اعتراضونو ستومانه شول. معافي ئې اوغوښتله او د دے واقعے په وجه د حضرت دا تا صاحب د کرامت او ولايت آوازه او شهره تر لرے لرے خوره شوه. او د خدائي مخلوق پرے رامات شه.

حضرت دا تاګنج بخش عليه الرحمة چه په لاهور کښې استوګنه اختيار کړه نو د حق دين اسلام د تبليغ د پاره ئې سلسله شروع کړه. د پنجاب او لاهور خلقو ته د دوئ د اخلاق او روحاني فيوضاتو نه لويه برخه و حصه نصيب شوه. او بے شميره د خدائي مخلوق د دوئ د اخلاق حسنه او تاثير نه ډک وعظ او نصيحت نه فيض ياب شول او په دين اسلام شرف شول. حضرت دا تاګنج بخش په حقيقت کښې د علم او عرفان يو داسے عظيم الشان درياب وو. چه هر خواته د دوئ د فيض ولے او نهرونو خواره شول. او د کفر ستان هند هغه د کفر او شرک په اور باندے اوچ شوے اوسوزيدلے هيوا ديئے د اسلام په اوبو سيراب کړ.

کوم جماعت چه حضرت دا تاګنج بخش جوړ کړے دے. هغه نن ورځے پورے د دين اسلام د تعليم تبليغ او تربيت درسګاه دے. او په دے کښې د رشد او هدايت سلسله هم هغه شان

جاري ده. او امید دے چه ترقیامته به جاري وي.

د هغے زمانے په کفارو او مشرکانو کښې چه کوم اولنی غیر مسلم د دوئ په مبارکو لاسونو اسلام قبول کړے وو. د هغه نوم "رائي راجو" وو. دا سړے د غزنوي سلطان د طرف نه د پنجاب نائب الحکومة وو. او د هندو مزهب پیروکار وو. د اسلام قبلولو نه روستو هر کله چه حضرت دا تاګنج بخش هغه د خپلو فیوضاتو نه مستفیض کړ. او هغه له یئے د "شیخ هندي" خطاب ورکړ. نو بیا دغه شیخ هندي خپل ټول ژوند د اسلام خدمت ته وقف کړ. دنیا او دنیا دارئ ته یئے شاکړله. د ده زیارت هم داتاګنج بخش د درګاه په احاطه کښې دے. علیه الرحمة والغفرات.

تاریخي بحث

لکه چه مخکښې ورته اشاره شوے ده. د حضرت دا تاګنج بخش علیه الرحمة د تاریخ ولادت او وفات دواړو په تاریخونو کښې اختلات دے. او د دغے په وجه د دے صحیح اندازه لګول ګران دي. چه دوئ لاهور ته په کوم وخت کښې راغلي وو. او د دوئ ټول ژوند څومره کلونه وو.؟ په دے سلسله کښې څمونږه خپلو عامو مؤرخانو او غیر ملکي مستشر قینو او تذکره لیکونکو چه څه لیکلي دي. مختصراً هغه دا یو څو خبرے دي.

(۱) یوه خبره دا چه د دا تاګنج بخش د ولادت صحیح تاریخ نه دے معلوم.

(۲) البته په دے خبره د ټولو اتفاق دے چه د دوئ عمر اویا کاله وو.

(۳) دا دوئمه خبره یعنے چه د حضرت دا تا ګنج بخش عمر اویا کاله وو. په دي باندے د اتفاق نه روستو اکثرو مؤر خانو او تذکره لیکونکو د دوئ وفات ۴۶۵هـ بیان کړے دے. فقط یو غیر ملکي مسشرق اختلاف کړے دے. او هغه د دوئ وفات د ۴۷۰هـ خواؤ شازمانه بیان کړے ده.

(۴) هر کله چه عامو مؤر خانو یو خوا ته د دوئ عمر اویا کاله ښودلے دے. او بل خوا د دوئ وفات ئے په ۴۶۵هـ کښې بیان کړے دے. نو د دے په اعتبار په قیاس سره د دوئ د ولادت کال یئے ۳۹۵هـ اندازه کړے دے.

(۵) په آئینه تصوف نومے کتاب کښې د دوئ ولادت یئے ۴۰۰هـ ښودلے دے. لیکن ورسره د وفات کال یئے ۴۶۵هـ ښودلے دے.

(۶) څنے مؤورخان لیکي چه دا تاګنج بخش په ۴۶۴، ۴۶۳هـ کښې لاهور ته راغلے وو. او څنے نورو د دوئ

لاهور ته د راتللو کال ۴۳۱هـ بیان کړے دے. دا پورته چه کومے خبرے بیان شولیے په دے کښې چه کوم اختلاف دے.

هغه ښکاره دے. په دے وجه دا سوال حل کول غواړي چه په دے کښې صحیح خبره کومه یوه ده.؟ په دے وجه مونږه دا ضروري اوګنړله چه دلته اول د ټولو تاریخونو او تذکرو هغه ټول تاریخي روایتونه او بیانونه نقل کړو. چه کوم تر دے وخته پورے مونږه ته په لاس راغلي دي. او په کومو کښې چه په خصوصیت سره د "دا تاګنج بخش تاریخ وفات" بیان شوے دے. او بیا په هغے بندے یو تحقیقي او تنقیدي نظر واچوؤ. د پاره د دے چه د دے خونده ور "تاریخي بحث" په ذریعه دعامو خلقو معلومات زیات شي. د حضرت دا تاګنج بخش ولادت او وفات صحیح تاریخونه ترینه معلوم شي. او ورسره دعا مو مؤرخانو په بیانونو کښې چه کوم تضاد دے او غلطئ دي. هغه هم ترینه واضحه شي. او دا هم واضحه شي. چه د عامو مؤورخانو د بیانونو کومه خلاصه چه مونږه پورته درج کړله او روستو به یئے په تفصیل سره بیان راشي. په دغه ټولو خبرو کښې یوه هم صحیح نه ده. او د دے نه به دا اندازه لګول آسان شي چه څمونږه عامو مؤرخانو څومره د غفلت نه کار آغیستے دے.

تاریخ وفات

(۱) د حضرت دا تاګنج بخش په حقله په "آئین اکبري" کښې څه ذکر نشته دے.

(۲) د میرزا لعلي بیګ لعلي ولد شاه قلي سلطان بد خشي (چه د شهزاده مراد بخش بخشي وو) په تالیف "ثمرات القدس" کښې (چه دا کتاب دغه فاضل مؤلف د شهنشاه دهلي جلال الدین اکبر په زمانه کښې لیکلے دے) لیکي: چه حضرت دا تاګنج بخش په ۴۶۵هـ کښې وفات شوے دے.

(۳) داراشکوه په خپل تالیف "سفینة الولیاء" د بطع لکهنو ۱۸۷۲ء صفحه نمبر ۱۲۵ کښې لیکي چې حضرت داتاګنج بخش په ۴۶۵ هـ او په بل روایت کښې په ۴۶۴هـ کښې وفات شوے دے.

(۴) حاجي خلیفه پخپل کتاب "کشف الظنون" کښې لیکي چه دا تاګنج بخش په ۴۶۵هـ کښې وفات شوے دے.

(۵) مرزا سامي بیګ پخپل کتاب "قاموس الاعلام" کښې د داتاګنج بخش تاریخ د وفات کال ۴۶۵هـ لیکلے دے.

(۶) مفتي غلام سرور لاهوري پخپل کتاب خزینة الا صفیاء کښې (چه دا کتاب ئے په ۱۲۸۴هـ کښې تالیف

کړے دے) په صفحه نمبر۲۳۳ جلد دوئم کښې لیکي:

"وفات د هغے جامع الکمالات په قول د صاحب د "سفینة الاولیاء" (تالیف د شهزاده دا رالشکوه) په کال ۴۶۴هـ یا ۴۶۶هـ کښې واقع شوے دے. او صاحب د نفحات الانس" د مولانا عبدالرحمان جامي او صاحب د کتاب "اخبار ال صفیاء" د معتبرو روایتونو په سند سره د دوئ وفات کال ۴۲۵هـ لیکلے دے"

د دے پورته شپږے حوالے په سلسله کښې دا یوه ضروري خبره یادلرل پکار دي. چه مفتي غلام سرور چه د نفحات الانس تالیف مولانا عبید الرحمان جامي کومه حواله ورکړے ده. دغه څه حقیقت نه لري. ځکه چه د نفحات الانس ټولے چاپ شوے او قلمي زړے نسخے چه تر اوس پورے ځمونږ د نظر نه تیر شوے دي. د دے کتاب په هیڅ یوه نسخه کښې هم د داتاګنج بخش د وفات تاریخ په حقله څه قسم ذکر نشته دے بیشکه حضرت مولانا نا عبدالرحمان جامي علیه الرحمن د حضرت دا تاګنج بخش علیه الرحمة د ژوند حالات لیکلي دي. لیکن دوئ د وفات تاریخ ئے نه دے لیکلے. حیرانتیا ده چه مفتي غلام سرور د نفحات الانس حواله څرنګه ورکړے ده.؟ په دے سلسله کښې مولانا محمد شفیع مرحوم لائیبریرین د پبلک لائربریري پنجاب (لاهور) چه په خپله یوه مقاله

کښې په مفتي غلام سرور د نیک ګمان اظهار کړے دے چه ممکنه ده د مفتي غلام سرور سره به د نفحات الانس کوه یوه داسے نسخه موجوده وه چه په هغے کښې به د حضرت دا تاګنج بخش علیه الرحمة د وفات تاریخ هم درجه وو. نو البته دا یوه داسے وجه ده چه مونړه د مفتي غلام سرور بیان پرے قبلولے شو.

(۶) د مفتي غلام سرور لاهوري د بیان څه حصه په فقره نمبر۵ کښې درج کړے شوه. د دغه بیان نه روستو لکه چه د مفتي غلام سرور عامه قائده ده. پخپله یئے د داتاګنج بخش د وفات هم دغه تاریخ ۴۶۵هـ په نظم کړے دے. او چه د تاریخ وفات کومے قطعات ئې پخپله جوړے کړے دي. د هغے نه علاوه نورو خلقو چه د حضرت دا تا صاحب د تاریخ وفات په حقله کوم قطعات لیکلي دي. هغه یئے هم رانقل کړي دي.

د مثال په طور شیخ حامد کشمیري چه د نفحات الانس په شرح کښې کومه د تاریخ وفات قطعه لیکلے ده. په هغے کښې یئے د لفظ "سردار" ۴۶۵هـ نه د حضرت "شیخ هجویري" وفات تاریخ ۴۶۵هـ را اوکښلے دے.

(۷) په کتاب "ماثر الکرام" کښې يئے د حضرت دا تاګنج بخش د وفات کال ۴۶۵هـ ليکلے دے

(۹) په کتاب "تر هة الخواطر کښې يئے د حضرت دا تاګنج بخش د وفات کال ۴۶۵هـ ليکلے دے

(۱۰) په کتاب "حدائق الحنفيه" کښې يئے د حضرت دا تاګنج بخش د وفات کال ۴۶۵هـ ليکلے دے

(۱۱) په کتاب معارج الولايت تاليف د عبدالرزاق خويشکي قصوري کښې د حضرت دا تاګنج بخش د وفات تاريخ نه دے ليکلے شوے.

(۱۲) هدايت حسين په خپله مقاله دا تاګنج بخش چه په "دائره المعارف اسلامي" جلد نمبر۲ صفحه ۹۲۷ کښې چاپ شوے ده. د داتاګنج بخش د وفات تاريخ ۴۶۵هـ ليکلے دے.

(۱۳) موسيوديو د فارسی قلمي نسخو په فهرست جلد نمبر۱ صفحه۳۴۳ کښې د داتاګنج بخش د وفات تاريخ کال ۴۶۵هـ ليکلے دے.

(۱۴) رحمان علي لاهوري پخپل کتاب"تذکرة علماء هند" صفحه۵۹

کښي حضرت دا تاګنج بخش د وفات تاريخ ۴۶۵هـ ليکلے دے.

(۱۵) مرحوم ملک الشعرائ بهادر (ايراني) پخپل کتاب "سبک شناسي "جلد۲ صفحه۱۸۷ کښي د داتا صاحب تاريخ د وفات۴۶۵هـ ليکلے دے.

(۱۶) مولانا عبدالماجد دريا آبادي پخپل کتاب "تصوف اسلام" جلد۲ صفحه ۵۳ کښي د داتاګنج بخش د وفات تاريخ ۴۶۵هـ ليکلے دے.

(۱۷) اسماعيل پاشا بغدادي پخپل کتاب "اسمائ المصنفين" جلد نمبر۱ صفحه۲۹۱ کښي د داتاګنج بخش د وفات تاريخ ۴۶۵هـ ليکلے دے

(۱۸) سيد صباح الدين په خپل کتاب "بزم صوفيه" صفحه نمبر۸ کښي دا تاګنج بخش د وفات تاريخ ۴۶۵هـ ليکلے دے.

(۱۹) فقير محمد حسن رامپوري پخپل کتاب "آئينه تصوف" صفحه نمبر۱۷۱ کښي د داتاګنج بخش د وفات تاريخ ۴۶۵هـ ليکلے دے.

(۲۰) شيخ محمد اکرام پخپل کتاب "آب کوثر" صفحه نمبر ۸۶ کښي د داتاګنج بخش تاريخ وفات ۴۶۵هـ ليکلے دے.

(۲۱) د حضرت دا تاګنج بخش د مزار مبارک سرته په ګنبد کښې دننه چه کومه کتبه لګیدلے ده. په هغے کښې د وفات تاریخ یئے ۴۶۵هـ لیکلے شوے دے.

(۲۲) نور بے شمیر ادیبانو او مضمون نګارو په مختلفو اخبارونو او رسالو کښې د "دا تاګنج بخش" په عنوان سره په خپلو مقالو کښې د حضرت دا تګنج بخش د وفات تاریخ ۴۶۵هـ لیکلے دے.

(۲۳) ډاکټر عبدالغني پخپل تالیف "تصوف اسلام" صفحه نمبر۵ کښې د حضرت دا تاګنج بخش د وفات تاریخ د ۴۸۰هـ خواؤ شا زمانه یاده کړے ده. یعنے کوم خاص تاریخ ئے نۀ دے ښودلے بلکه خبره یئے شک منه کړے ده. چه کم از کم د ۴۲۵هـ منځنئ زمان ترینه مراد کیدلے شي.

(۲۴) مشهور انګریز مستشرق پروفیسر نکلسن د "کشف المحجوب" د انګریزئ ترجمے په دیباچه کښې په قیاس سره لیکي چه:

"قیاس دا دے چه د داتاګنج بخش وفات د کال ۴۶۵هـ او ۴۶۹هـ په منځ کښې واقع شوے دے"

یاد ګیرنه

پورته په فقره نمبر۲۱ کښې د داتاګنج بخش د مزار مبارک د کتبے په حواله د دوئ د وفات تاریخ ۴۶۵ھـ درج شوے دے. لیکن د دے کتبے په حقله دا یو څو خبرے د تاریخي یادګیرنے په طور سره په ذهن کښې یاد ساتل پکار دي.

(الف) یوه خبره دا ده چه د حضرت دا تاګنج بخش د وفات په وخت کښې غزني او لاهور دواړو باندے د حضرت ظهیر الدوله سلطان ابراهیم ابن مسعود غزنوي بادشاهي وه. دغه سلطان ابراهیم په ۴۴۹ھـ مطابق ۱۰۵۸ء کښې بادشاه شوے وو. او په ۴۶۵ھـ کښې وفات شوے وو. چه څه وخت حضرت دا تاګنج بخش وفات شه. او د خپل جماعت مخے ته په صحن کښې دفن کړلے شه. نو دغه سلطان ابراهیم پرے مزار جوړ کړے وو. د دهغے نه څه زمانه روستو د دهلي مشهور بادشاه سلطان جلال الدین اکبر د دے مزار مبارک په تعمیر کښې حصه اخیستے وه. د هغے نه پس په ۱۲۴۵ھـ کښې د لاهور ښهر یو نیک سړي چه دهغه ما عوض نوم وو. د دے مزار مبارک نه چار دیواري چاپیره کړه. او بیا د هغے نه روستو د خزینة الا صفیاء جلد نمبر۲ صفحه۲۳۴ (طبع نوالکشور) د بیان مطابق په۱۲۷۸ء کښې د لاهور ښهر د مشهور خاندان فقیران یو مشر حاجي نور محمد فیقر چه هم د دے لاهور اوسیدونکے وو. په دے مزار مبارک باندے ګنبد جوړ

کړو او پخوانے جماعت یئې د نوي سرنه ساز کړ.

(ب): بله خبره دا ده چه د حضرت دا تاګنج بخش د مزار مبارک سرته چه کومه کتبه لګیدلے ده. او په هغے کښې د دوئ د وفات تاریخ ۴۶۵هـ لیکلے شوے دے. د دغے کتبے رسم الخط په فني نقطه نګاه سره د سلطان ابراهیم (۴۴۹هـ تا ۴۸۹هـ) یا د شهنشاه جلال الدین اکبر د زمانے (۱۰۱۴هـ) هوګز نه معلومیږي. د دے دواړو نامورو بادشاهانو په زمانه کښې چه د فارسئ ژبے د رسم الخط کوم طرزوو. د دے موجوده کتبے رسم الخط د هغے دنه د ډیرے روستنئ زمانے د رسم الخط په نمونه دے. بلکه د دے موجوده کتبے د رسم الخط نه دا صفا معلومیږي چه دا هم هغه د ۱۲۴۵هـ یا ۱۲۷۲هـ د زمانے جوړه شوے ده. او د دے دوه وجوهاتو له مخه په تاریخي اعتبار سره د دے کتبے په طور د سند سره منل څه خاص اهمیت نه لري.

یو تحقیقي او تنقیدي نظر

دا ټولے تاریخي حوالے چه کومے پورته درج کړلے شوے. په دے چه یو نظر واچؤلے شي. نو دا نتیجه په لاس راځي. چه د ۱۰۰۰هـ نه راپه دیخوا ته چه هر څومره مؤرخان تیر شوي دي. هغوئ ټولو په شریکه هم دا یوه خبره لیکلے ده. چه حضرت دا تاګنج بخش په ۴۶۹هـ او ۴۷۰هـ هم ذکر کړے

دے. لیکن دغور، فکر او توجه قابله خبره دا ده. چه دا ټول مورخان چه په کومه خبره متفق شوي دي. چه دا تا صاحب په ۴۶۵هـ یا ۴۷۰هـ کښې وفات شوي دي. دا ټول د دے قسم نه بیانات دي. چه د دے خبرو سره د داتا ګنج بخش علیه الرحمة خپل کتاب "کشف المحجوب" او د ۱۰۰۰هـ نه د مخکښې زمانے پخواني تاریخي کتابونه او تذکرے قطعاً اتفاق نه کوي.

د دے وضاحت داسے دے. چه حضرت دا تاګنج بخش پخپل تالیف "کشف المحجوب" کښې د خپلو دوه قسمه استاذانو او پیرانو ذکر کړے دے.

(الف) یو هغه چه د ده په ژوند کښې وفات شوي دي. او دے د هغوئ د نوم آخیستلو سره سم د عائیه لفظ "رحمة الله علیه" ورسره لیکي.

(ب) دوئم هغه چه د ده د خپل ژوند په زمانه کښې لا ژوندي وي. چنانچه د حضرت دا تاګنج بخش په دغه اولني قسم استاذانو کښې چه کوم د ده د خپل ژوند په زمانه کښې وفات شوے دے. د یو داسےا ستاذ ذکر یئے هم کړے دے. چه هغه په ۴۷۱هـ کښې وفات شوے دے. نو هر کله چه حضرت دا تاګنج بخش د خپل یو داسے استاذ ذکر هم کړے دے. چه هغه په ۴۷۱هـ کښې مړ دے. نو د دے لازمي نتیجه دا شوه. چه مونږله ورسره دا هم منل پکار دي چه په دغه نیټه یعنے ۴۸۲هـ کښې حضرت دا تانګج بخش پخپله

ژونده، روغ وو. لیکل یئے کوؤلے شول. او چه هر کله په دغه ۴۷۱هـ کښے د دۀ یو استاذ په حق اورسیدۀ نو دۀ چه د هغوئ نه د کومو نیکو خبرو سبق حاصل کړے وو. او دوئ هغه خبر لیکلے نو د خپل استاز د نوم سره یئے د رحمة الله علیه جمله هم اولیکله.

په دے سلسله کښې بنیادي سوال دا دے. چه که بالغرض دا اومنلے شي. چه حضرت دا تاګنج بخش په ۴۶۵هـ کښې وفات شوے دے. نو بیا دوئ د خپلو هغه استاذانو ذکر په کوم جوړ اوکړلے شو. چه هغوئ د ۴۷۱هـ نه هم روستو وفات شوي دي؟

د دے نه خو داسے معلومیږي. چه هر څومره د پخوانئ زمانے یا روستنئ زمانے. یا د موجوده زمانے مؤرخانو یا تذکره لیکونکو په یوه خواله او یو اتفاق د حضرت دا تاګنج بخش تارنج وفات ۴۶۵هـ لیکلو دا سلسله راشروع کړے ده. هغوئ هډو بیخي د حضرت دا تاګنج بخش د تالیف "کشف المحجوب" په غور سره او تحقیقي او تنقیدي نقطه نګاه سره د مطالعه کؤلو تکلیف نه دے کړے.

په دے اعتبار سره د حضرت دا تاګنج بخش علیه الرحمة د تاریخ وفات دا مسله یقینا! چه یوه ګرانه او مشکله تاریخي مسله ده. تفصیلي بحث پرے کول ضروري دي. او د دے د پاره پکار ده چه د ټولو نه پخواني کتاب یعنے "کشف الحجوب" او ورپسے

ځنې نور پخواني تاريخي کتابونه او تذکرې په تحقيقي او تنقيدي نظر سره مطالعه کړلې شي. او په دې جوړيوې صحيح نتيجې ته اورسيدلې شو. او دا واضحه شي چه د بحث په تنقيدي نقطه نګار سره د حضرت "شيخ هجويري" د ژوند زمانه تر کومې نيټې پورې رسيږي؟ او د دوئ د وفات تاريخ په کوم کال کښې اندازه کوؤلې شو.؟

د کشف المحجوب تصريحات

دلته مونږه د "کشف المحجوب" د خپلو تصريحات ومطابق خبره د سر نه را واخلو چه د دغې نه يوه دا خبره معلومه شي. چه حضرت دا تاګنج بخش د دې خپل تاريخي کتاب په ليکلو په کومه زمانه کښې شروع کړې وه. چه د دغې نه به ورسره ورسره په لاهور کښې د دوئ د موجود ګئ زمانه او تاريخ هم معلوم شي. او د ابه هم معلومه شي چه دا تاګنج بخش ترکومې زمانې پورې د دې کتاب ليکل جاري ساتلي وو.

د آسانتيا د پاره د "کشف المحجوب" د دې نونې تصريحات، اوور سره په هغې باندې خپل تحقيقي او تنقيدي بحث د سن او تاريخ په لحاظ سره سلسله وار دلته درج کوؤ. چه په معلوماتو حاصلول کښې او د هغې نه صحيح نتيجې ته په رسيدلو کښې آساني راشي. ۴۴۰هـ

"د کشف المحجوب" د ځنې اشاراتو نه دا اندازه لګيدلې شي. چه د دې کتاب په

لیکلو یئے د ۴۴۰هــ نه روستو شروع کړے ده. مثلاٍ د "فقر او غنا" د فضیلت په فصل کښې لیکي:

"یحي معاذ الوازي ... او ...د متاخرینو نه شیخ المشائیخ ابو سعید فضل الله ابن المحمد المیهني "رحمهم الله" ټول په دے خبره اتفاق لري چه غني والے او مالداري. د فقیر توب، خوارئ او نیستکارئ نه زیات ښه څیز دے"

(کشف المحجوب (صفحه نمبر۲۶) طبع سمرقند)

په دے پورته حواله کښې لفظ د "رحمهم الله" به په خیال کښې اوساتلے شي. او ورسره به دیته هم فکر او کړے شي. چه دغه حضرت شیخ ابوسعید ابو الخیر د قابل اعتماد مؤور خانو په قول په څلورم تاریخ د شعبان المعظم ۴۴۰هــ وفات شوے دے. د حوالے د پاره ملا حظه کړ کتاب "اسرار التوحید" صفحه نمبر۳۵۶)

د دے نه مونږ دے نتیجے ته رسیدلے شو. چه د "کشف المحجوب" په لیکلو باندے د ۴۴۰هــ نه روستو شروع شوے ده. ځکه چه دا واقعه د کتاب په اول سر (صفحه نمبر ۲۶) کښې لیکلے شوے ده. او په دغه نیټه ابو سیعد ابو الخیر وفات شوے وو. هر کله چه شیخ هجویري په پوره وضاحت سره د "کشف المحجوب" د لیکلو په وخت کښې د ابو سعید

ابوالخیر د نوم سره "رحمت الله علیه" لیکلے دے. او دعایئې ورته کړے ده. نو هر هغه څوک چه د عربي او فارسی ادب او انشائ سره څه نه څه واقفیت لري. هغه په دے پوهیږي چه "رحمة الله علیه" یوه داسے جمله ده چه دا فقط دهغه چا د نوم سره لیکلے شي. چه هغه وفات شوے وي.

او هر کله چه حضرت شیخ سید علي الهجویري دا خپل کتاب "کشف المحجوب" په لاهور ښهر کښې لیکلے دے. نو په دے وجه دا وئیلے شو، چه په ۴۴۰هـ کښې حضرت دا تاګنج بخش په لاهور کښې وو. او د دغه ۴۴۰هـ نه روستو یئے د دے کتاب په لیکلو شروع کړے ده.

۴۵۰ء

بل هغه بزرګ چه د حضرت دا تاګنج بخش استاذ دے . او د کشف المحجوب په صفحه نمبر۲۱۱ بانداے د هغه ذکر یئے کړے دے. هغه حضرت ابوالقاسم بن علي بن عبدالله ګرګاني علیه الرحمة دے. د ده د نوم سره لیکن: متعنا الله والمسلمین ببقائه (ترجمه خدایئے دے دے ژوندے لري) او د ده په ژوند دے مونږه ټول مسلمانان بهره مند کړي.)

دغه شان هم د دے ابو القاسم ګرګاني په حقله په صفحه نمبر۲۵۴ باندے لیکن: او شیخ ابوالقاسم ګرګاني چه نن ورځے مرتبه د قطب مدار لري. او مدار د عالم په هغه دے. خدائ دے ژوندے لوی". (ا اهل تصوف په

اصطلاح کښې قطب مدار "غوث ته وائي) د دې پورته دواړو څوالو نه صفا معلوميږي. چه دکشف المحجوب د دې حصې ليکلو په وخت کښې حضرت ابو القاسم ګرګاني ژوندې وو.

دا ابو القاسم هغه بزرګ دې. چه د حضرت دا تاګنج بخش او د دوئ تر منځه په طوس نومې ښهر کښې ملاقات شوې وو. او دې د حضرت ابو سعيد ابوالخير په همعصرو بزرګانو کښې شمار لې شي. او په تاريخ ۴۵۰هـ کښې وفات شوې دې. روحوالې د پاره ملا خطه کړئ. تاريخ تصوف اسلام" صفحه ۴۷۸ او خزينة الاصفيائ جلد نمبر۲ صفحه نمبر۸)

د کشف المحجوب د دې پورته حوالې نه مونږه دا نتيجه اخلو، چه حضرت شيخ هجويري د کال ۴۵۰هـ نه مخکښې په لاهور کښې استوګنه لرله. او د "کشف المحجوب" په ليکلو کښې مصروف وو.

۴۶۰هـ

حضرت ابو الفضل محمد ابن حسن الختلي عليه الرحمة ډير لوئ شيخ، روحاني رهنما او د حضرت دا تاګنج بخش استاز او مرشد وو. د ده په حقله د کشف المحجوب په صفحه نمبر۱۲۰ کښې ليکي: "په طريقت کښې څما اقتداء په شيخ ابوافضل محمد ابن حسن ختلي پسې ده"

حضرت شيخ هجويري د دې خپل استاذ او مرشد د وفات واقعه په دې الفاظو بيانوي:

"کومه ورځ چې هغه وفات کیده. نو په "بیت الجن" کښې اوسیده، دا یو کلے دے. چه د عقبه نه بره د دمشق (شام) په علاقه کښې دے. د وفات په وخت کښې د هغوئ سر مبارک ځما په غیږ کښې وو.....

ډیر اوږد وصیت یئے راته اوکړ. او روح مبارک یئے خدائي ته او سپاره"

(د حوالے د پاره ملا خطه کړئ" کشف المحجوب" صفحه نمبر۲۰۹ طبع سمر قند)

د حضرت دا تاګنج بخش دا پورتنے بیان په دے خبره باندے پوره دلیل دے. چه حضرت هجویري د خپل استاز د مرګ په بالښت باندے په د مشق (شام) کښې موجود ښائي.

مونږه د داتاګنج بخش د دے استاز او روحاني رهنما نوم د "کشف المحجوب" په ذریعه پیژنو. حضرت مولانا عبدالرحمان جامي نقشبندي په خپل کتاب نفحات الانس صفحه (نمبر ۲۹۰) کښې دوئ هم دغه قدر حالات لیکلي دي. کوم چه په کشف المحبوب کښې درج دي. د خپل طرف نه څه اضافه یئے پرے نه ده کړے. او نه یئے د هغه د وفات تاریخ لیکلے دے.

د حضرت هجویري د دے استاز او پیر طریقت حضرت ابو لفضل محمد ابن حسن ختلي

د وفات په حقله امام ذهبي پخپل کتاب "تاريخ الاسلام" کښې ليکي:

"حسن ختلي په ۴۶۰هـ کښې وفات شوے دے. څه وخت چه وفات کيدهٔ. نو د شام په د مشق نوم ښهر کښې په بيت الجن نوم مقام کښې اوسيده. او په دغه موقع د ده مريد حضرت سيد علي هجويري موجود وو"

(د امام ذهبي د تاليف "تاريخ السلام" يوه قلمي نسخه په برټيش ميوزم لندن کښې موجوده ده)

مفتي غلام سرور لاهوري پخپل کتاب "خزينة الا صفياء" جلد نمبر۲ کښې ليکي:

"ما د نفحات الانس د يوے قلمي نسخے په حاشيه باندے دا عبارت ليکلے ليدلے دے چه حضرت شيخ محمد ابن حسن ختلي په ۴۵۳هـ کښې وفات شوے دے"

ليکن هر کله چه د مفتي غلام سورور د قول په مقابله کښې د امام ذهبي عبارت بالکل واضحه دے. په دے وجه د دوئ د وفات تاريخ هم دغه ۴۶۰هـ صحيح دے ځکه چه مفتي غلام سرور په بيان کښې د وضاحت نيشته دے. چه د "نفحات الانس" په حاشيه باندے دغه عبارت چا ليکلے دے. او سند يئے څه دے.؟

د کشف المحجوب د دے حوالے نه معلوميږي. چه حضرت دا تاګنج بخش د لاهور د اوسيدلو په دوران کښې يو ځل بيا د ملک شام او عراق سفر کړے دے. او د دغه سفر

په دوران کښې په ۴۶۰هـ کښې د د مشق (شام) په بيت الجن نومے مقام کښې وو. چه د حضرت جامي عليه الرحمة د وضاجت مطابق لکه چه ذکر او شه دغه بيت الجن نومے مقام د مملکت شام د د مشق په علاقه کښې دے. په دغه دوران کښې حضرت هجويري د خپل استاز حضرت حسن ختلي د وفات واقعه ليدلے وه. او بيا د هغے نه روستو يو ځل بيا لاهور ته راغلے دے. که بالغرض دا اووايو چه د خپل استاز د وفات دواقعے نه فوراً روستو راغلے دے. او د غه فورا لاهور ته راروانيدل ئې د هغه الفاظونه فهم کړو. چه "ډير اوږد وصيت يئے راته اوکړ" او دا اووايو چه خپل استاذ حضرت حسن ختلي به ورته په دغه وصيت کښې فوراً لاهور ته د تللو هم فرمائيلي وي. نو بيا هم دهغه زمانے د تګ راتګ او د سفر تکليفاتو ته چه خيال اوکړو. نو دا وئيلے شو. چه حضرت دا تاکنج بخش به په دوئم ځل باندے د ۴۶۱هـ په خواؤ شا کښې رارسيدلے وي. او د لته د رارسيدلو نه روستو يئے بيا د خپل استاز او پير د وفات دا واقعه ليکلے ده. او دا خبره د دوئ د دغه الفاظو نه معلوميږي. چه چرته فرمائي: "د خپل پير د وفات په وخت کښې زۀ هلته حاضر ووم".

د پښتو ژبے لفظ ووم او د فارسئ ژبے بودم د دے دواړو ژبو د ګراءمر مطابق د ماضي قريب او بعيد دواړو د پاره استعماليږي. او دا ښائي چه دا واقعه د

حضرت دا تاګنج بخش د دغه لیکلو نه وړاندې تیره شوې ده.

۴۶۵هـ

د حضرت دا تاګنج بخش د یو استاذ نوم امام ابوا لقاسم عبدالکریم بن هوازن بن عبدالملک بن طلحه قشیري نیشا پوري شافعي دې. دا امام ابوالقاسم په ۳۷۶هـ کښې پیدا شوې. او په ۴۶۵هـ کښې وفات شوې دې. حضرت دا تاګنج بخش په نیشا پور کښې دوه سره دیره شوې وو. او د "کشف المحجوب" اکثر مضامین او عنوانات یئې هم د دې خپل استاز په تالیف "رساله فشیریه" باندې بناء کړي دي. د کشف المحجوب په صفحه نمبر۳۰ ، نمبر ۳۶۸ (طبع سمر قند) کښې ګنړ ځایونه حضرت شیخ هجویري دا د ذکر کړې دې. چه دا خبرې م:

"د خپل استاذ امام ابوالقاسم قشیري "رحمة الله علیه" نه آوریدلي دي".

د کشف المحجوب په دې روایت کښې هم به د "رحمة الله علیه" جمله او د "آوریدلي دي" جمله دواړه په خیال کښې اوساتلې شي. ځکه چه دا دواړه جملې دا ښائي چه د کشف المحجوب په صفحاتو نمبر۳۰ ، نمبر ۲۰۵، ۳۶۸ کښې چه کومې خبرې لیکلې شوې دي. دغه د حضرت امام ابوالقاسم قشیري د وفات نه روستو لیکلي شوي دي. او هر کله چه حضرت امام قشیري د صحیح روایتونو، او دعامو مؤرخانو د متفقه

بیان مطابق په ۴۶۵هـ کښې وفات شوے دے. (د حوالے د پاره ملاحظه کړئ کتاب "وفیات الاعیان" تالیف د علامه ابن خلکان جلد نمبر۲ صفحه نمبر۳۷۵ او ورپسے راتلونکي نؤ صفحات)

نو د دے پورته معلوماتو او شهادتونو په رڼرا کښې مونږه دا فیصله کؤولے شو. چه حضرت شیخ هجویري دا تاګنج بخش د۴۶۵ هـ نه روستو ژوندے وو. په لاهور کښې او سیده او د کشف المحجوب په لیکلو کښې مشغول وو. او لکه چه عامو مؤرخانو لیکلي دي چه دے په ۴۶۵هـ کښې وفات شوے دے. دغه خبره بیخي غلطه ثابته شوه. او دا څکه لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوله. د امام قشیري د تذکرے په سلسله کښې په ګنړو ځایونو کښې یئے د ده په حق کښې هم هغه شان او په دغه لفظونون (یعنے رحمة الله علیه) سره دعاغو ښتلے ده. چه دغه الفاظ د مړو شوؤ خلقو د پاره مخصوص دي. مطلب دا چه د حضرت دا تاګنج بخش د هریو بیان نه د اثار بتیړي چه دغه خپل استاز امام قشیري یئے د وفات شوو بزرګانو په ټولګي کښے شمار کړے دے. د مثال په طور د "کشف المحجوب" طبع سمر قند په صفحه نمبر۲۰۰۹ کښې لیکي چه:

استاز امام زین الا سلام ابو القاسم عبدالکریم څوي د هوازن فشیري په په خپله زمانه کښې خپل مثال نه لرلو. د لوئ قدر او اوچتي مرتبے خاوند وو"

د دے تصریح نه دا صفا څرګندیږي. چه د کشف المحجوب دا حصه یئے د امام قشیري د تاریخ وفات ۴۶۵هـ نه روستو لیکلے ده. فرض کړه. چه په ۴۶۶هـ یا په ۴۶۷هـ کښې یئے لیکلے ده. بیا هم د دغے نه دا یوه نتیجه په یقین سره په لاس راځي. چه دا تاګنج بخش په ۴۶۵هـ کښې ژوندے وو. چه دے واقعاتو سرے اوګکوري. نو حیران شي. چه دغه ټول مؤورخان د چابیانونه چه مخکښې درج شول. آخر هغوء په کومه بناء او کوم دلیل باند د حضرت هجویري تاریخ وفات ۴۶۵هـ لیکلے دے؟

حضرت مولانا عبدالرحمان جامي نقشبندي پخپل کتاب"نفحات الانس" (صفحه ۶۸۸) کښې لیکي:

"استاز امام قشیري علیه الرحمة په میشات ربیع الاخر۴۶۵هـ کښې په حق رسیدلے دے. او په قول د ابن الجوزي چه په خپل کتاب "المنتظم في تاریخ الا مم" جلد نمبر۸ صفحه نمبر۳۸۰ کښې یئے لیکلے دي. په نیشا پور کښې د خپل استاذ ابو علي د قاق د قبر په خوا کښې د فن کړلے شه".

د دے دواړو روایتو نو په رڼړا کښې هر کله چه امام قشیري په نیشاپور (ایران) کښې وفات شوے وو. نو لازمي خبره ده چه د هغه د وفات خبر به ددغه ۴۶۵هـ نه څه موده روستو لاهور ته رارسیدلے وي. ځکه چه حضرت داتاګنج بخش د کشف المحبوب په صفحه نمبر۲۰۹ باندے په پورتنئ حواله

کښې د مام قشیري حالات او اقوال په صیغه د ماضي بعیده سره لیکي. د مثال په طور دا عبارت یئے شه:

"او الله تعالي د امام قشیري حال او ژبه د فضول کارونو او خبرو نه په خپل حفاظت کښې ساتلي وو".

په دے پورتني عبارت کښې په لفظ "ساتلي وو" بانده غور پکار دے. د دے وجوهاتو په بناء دا خبره یقین ته رسیږي. چه حضرت دا تاګنج بخش علیه الرحمة د ۴۶۵هـ نه روستو هم ژوندے وو. په لاهور کښې وو. او د "کشف المحجوب" په لیکلو مصروف وو.

۴۷۳هـ

مخکښې مونږه د پنځویشتو مؤرخانو د کتابونو اقتبسات پیش کړي دي. چه هغوئ د داتاګنج بخش وفات په ۴۶۵هـ، ۴۶۹هـ، ۴۷۰هـ کښې ښودلے دے. لیکن ځمونږ د دے لاندے حوالے نه به معلومه شي چه حضرت شیخ هجریري په ۴۷۳هـ کښې هم ژوندے وو. د دے وضاحت داسے دے چه:

"حضرت ابو الحسین سالبه ځوي د ابراهیم علیه الرحمة د ملک ایران د شیراز نومي شهر په بزرګانو کښې دا اوچتے مرتبے بزرګ تیر شوے دے. دے بزرګ یو لوئ درګاه او خانقاه ساز کړے

وه. چه د لرے لرے ملکونونه لوئ لوئ بزرګان او صوفیان به راتلل او په دغه خانقاه کښې به دیره وو"

(د حوالے د پاره ملاخطه کړئ "طبقات الصوفه" هروي (قلمي نسخه) صفحه نمبر ۴۴۵)

"حضرت شیخ ابواسحاق شهریار ګازروني هم د دے شیخ ابو الحسین سالبه ملاقات له ورغلے وو"

(د حوالے د پاره ملا خطه کرئ کتاب"فردوس المرشدیه" صفحه ۱۱۰)

چنانچه هم د دے نامور ترین بزرګ شیخ ابو الحسین سالبه علیه الرحمة تذخره حضرت دا تاګنج بخش په خپل کتاب کشف المحجوب کښې په دے الفاظو سره کوي (د حوالے د پاره ملا خطه کړئ کشف المحجوب صفځه نمبر۱۳۵ ، و نمبر۶۱۴) فرمائ:

"حضرت شیخ السیوخ ابو الفتح سالبه ډیر زیات فصیح اللسان بزرګ وو. او شیخ حسین سالبه د خپله د خپل پلار ابو الفتح نیک فرزند دے. او د هغه د اوچت مقام امیدوار دے"

د "كشف المحجوب" په دے پورته حواله كښې د پلار او ځوئ د ذكر نه په وضاحت سره دا ثابته ده. چه څۀ وخت دا تاګنج بخش د "كشف المحجوب" دغه حصه او دغه پورتني مضمون ليكلونو په دغه نيته پلار يعنے ابو الفتح سالبه وفات شوے وو. او ځوي يعنے شيخ حسين سالبه ژوندے وو. ځكه چه د پلار ذكر يئے د ماضي په صيغے سره كړے دے. فرمائي (بزرګ وو) او د ځوئ ذكر يئے د حال په صيغے سره كړے دے. فرمائي دا اميدوار دے)

د دے حقيقتونو په خيال كښې راوستلو نه روستو اوس به ديته فكر اوكړو چه دغه شيخ ابو الفتح چه د شيخ حسين سالبه پلار دے او په دغه اعتبار سره يو لقب يئے ابوالحسين هم دے چه دے په كوم تاريخ وفات شوے دے؟ په دے سلسله كښې د علامه ابن جوزي د كتاب "المنتظم" جلد نمبر۸ صفحه نمبر۳۲۸ ، او د مولانا عبدالرحمن جامي د كتاب نفحات الانس صفحه نمبر۳۵۹ دواړو تصريحات څمونږه دوړاندے دي. چه "حضرت شيخ ابوالقتح ابوالحسين سالبه په ۴۷۳هـ كښې وفات شوے دے". چنانچه دا يوه داسے تاريخي حواله او تاريخي حقيقت دے چه د دے نه د اصفا ثابتيږي چه حضرت دا تاګنج بخش په ۴۷۲ هـ كښې ژوندے وو. او د "كشف المحجوب په ليكلو كښې مشغول وو.

۴۷۷هـ

د پورته حوالو د مخه دا ثابته شوه چه په ۴۷۳هـ کښې حضرت داتا ګنج بخش ژوندے وو. اوس دا کتل پار دي چه ورپسے روستو تر کوم تاريخه د دوئ د ژوند په حقله معلومات په لاس رتللے شي.؟ په دے سلسله کښې د "کشف المحجوب" صفحه نمبر۲۱۱ په دے بيان باندے به يو نظر واچوؤ. په دے بيان کښې يئے د خپل يو معاصرصوفي بزرګ ذکر په دے الفاظ سره کړے دے.

"ابو علي فضل ابن محمد فارمدي افاه الله تعالي"

(ترجمه) ابو علي فضل ځوي د محمد فارمدي خدا ے دے يئے ژوندے او په عافيت لري.

د دا تاګنج بخش د دے عبارت او د عانه معلوميږي چه د دے تحرير په وخت کښې ابو علي فضل ژوندےے وو. او بيا روستو په ۴۷۷هـ کښے وفات شوے دے.

د دے ابو علي فارمدي په حقله د عبدالغافر ابن اسماعيل چه ابو القاسم قشيري نمسے دے. (دا عبدالغافر په ۴۵۱هـ کښې پيدا شوے او په ۵۲۹هـ کښې په مقام د نيشا پور وفات شوے دے) او د مولانا عبدالرحمان جامي دواړو دا بيان دے. چه د ابو علي فارمدي عُمر او يا کاله وو. (يعنے ولادت ۴۰۷هـ او وفات يئے ۴۷۷هـ وو) (د حوالے د پاره ملا خطه کړئ

(الف) "مراة الجنان" د امام یافعي جلد نمبر۳ صفحه نمبر ۱۲۲)

(ب) " نفحات الانس" د مولانا جامي صفحه ۳۳۳.

(ج) "خزینة الاصفیاء" جلد نمبر۲ صفحه نمبر ۹

دا پورته چه بیان شول داسے حقیقتونه دي. چه د دے له مخه مونږه دا وئیلے شو چه حضرت دا تاګنج بخش علیه الرحمة د ۴۷۷هـ نه روستو هم ژوندے وو. په لاهور کښې اوسیده. او د کشف المحجوب لیکلو کښې مصروف وو.

۴۴۹هـ

په پورتینئ حواله کښې دا ثابته شوه چه حضرت دا تاګنج بخش ۴۷۷هـ نه روستو ژوندے وو. اوس مونږ له دا کتل پکار دي چه د دوئ د ژوند نیټه ورپسے نوره تر کومے پورے رسیږي. په دے سلسله کښې مونږ له د کشف المحجوب د لاندیني دوه حوالے لوستل پکار دي.

(الف) د کشف المحجوب (طبع انارکلي لاهور) په صفحه نمبر۱۱۸ کښې د حضرت شیخ سهلکي علیه الرحمة ذکر په دے الفاظو سره شوے دے.

_امام د هغه وطن وو. او د هغه یو نیکو کار ځوي هم وو"

د امام ذهبي د تاليف " تاريخ السام" د بيان مطابق دغه شيخ سهلكي په ۴۷۷هـ کښې وفات شوے دے.

(ب) د کشف المحجوب په صفحه نمبر۱۲۱ باندے د حضرت شيخ امام اشقاني ذکر په دے الفاظو شوے دے.

"حضرت شيخ امام اشقاني په بعض علمو نو کښې ځما استاذ وو"

او دغه استاز ما اشقاني عليه الرحمة د تاريخ الاسلام د امام ذهبي د تصريح مطابق په ۴۷۹هـ کښې وفات شوے دے.

هر کله چه د دے دواړو مشائيخو ذکرهم په صيغه د ماضي بعيده سره شوے دے نو د دے په نتيجه کښې مونږه دا وايو چه حضرت داتاګنج بخش په ۴۷۷هـ او په ۴۷۹هـ کښې ژوندے وو. په لاهور کښې اوسيده. او د کشف المجوب روستنئ حصه يئے ليکلے.

۳۷۱هـ

په پورتنو حوالو کښې د ا ثابته شوه چه حضرت دا تاګنج بخش عليه الرحمه د ۴۷۹هـ نه روست هم ژوندے وو. په دے سلسله کښې يو بل لوئ قوي دليل او غټ شهادت چه د هغے نه دا ثابتيږي چه حضرت شيخ سيد علي الهجويري دا تاګنج بخش عليه الرحمة د ۴۷۱هـ نه روستو هم ژوندے وو. د ملاخطه کولو دے.

د فائدے د زیاتوالي په خاطر مونږه لږ شان په تفصیل سره په دے دلیل باندے بحث کول غواړو. دلیل دا دے چه حضرت دا تاګنج بخش پخپل کتاب کشف المحجوب کښې د حضرت شیخ الا سلام خواجه عبدالله انصاري علیه الرحمة تذکره لیکلے ده. دغه حضرت شیخ الا سلام د شهر هرات لوئ مشهور صوفي او عارف بزرګ تیر شوے دے. او د تمامي مؤرخانو په اتفاق شره په ۴۷۱هـ کښې په شهر هرات کښې وفات شوے دے.

د مرحوم استاذ میا محمد شفیع لائبریرین د پبلک لاءبیریري پنجاب په کتبخانه کښې د "کشف المحجوب" یوه داسے قلمي نسخه موجوده وه. چه هغه په ۲۲۵هـ کښې لیکلے شوے وه. او د دغې په حقله دا خیال وو چه شاید چرته بل ځائے کښې د دے نه زیاته پخوانئ نسخه به موجوده نه وي. د دے قلمي نسخے په صفحه نمبر۱۷ باندے دا عبارت د غور قابل دے فرمائ.

"پیر اووئیل یعنے خواجه عبدالله انصاري رحمة الله علیه..."

چنانچه هم دغه پورتنے عبارت د کشف المحجوب په:

(الف) نسخه طبع لاهور کښې په صفحه نمبر۱۹۳ باندے

(ب) نسخه طبع سمر قندر کښې په صفحه نمبر۳۱ باندے

هم لکه د پورتنئ قلمي نسخے صفحه نمبر۱۸ د عبارت په شان لفظ په لفظ ليکلے شوے دے.

"پير عبدالله انصاري هروي رحمة الله عليه"

(ج) البته د کشف المحجوب په نسخه طبع لينن ګراډ صفحه ۲۸ باندے دا عبارت داسے ليکلے شوے دے.

"پير ګفت رضي الله عنه، خواجه عبدالله انصارفي يعنے د لينن ګراډ په مطبوعه نسخه کښې د لاهور او سمر قند د مطبوعه نسخو او قلمي نسخے برکعس د "رحمة الله عليه" په ځائ "رضي الله عنه" ليکلے شوے دے. هر کله چه کلمات "رحمة الله عليه" او "رضي الله عنه" دواړه د معنى په اعتبار سره يو څيز دے. څه فرق نه لري او د واره د وفات شوؤ خلقو سره مخصوص الفاظ دي. نو ددے نه مونږه دا نتيجه اخلو چه په داسے وخت کښې چه دا تاکنج بخش د کشف المحجوب دغه حصے ليکلے. "پير د هرات" وفات شوے وو. او دا يقينا هغه زمانه ده کومه چه د ۴۸۱هــ نه روستو وه او د دغے نه مخکښې په هيڅ صورت نه شي کيدلے. او په نتيجه کښې يئے دا هم وئيلے شو. چه د دغه ۴۸۱هــ نه روستو حضرت "شيخ هجويري" په لاهور کښې ژوندے موجود وو. او د کشف المحجوب دغه حصے يئے ليکلے.

د "پير هرات" خواجه عبدالله انصاري تاليف "طبقات الصوفيه" او د حضرت دا تاګنج بخش تاليف" کشف المحجوب " دواړه چه سره مقابله کړلے شي. نو د دواړو په مباحثو کښې ښکاره فرق دے. د دغے نه دا معلوميږي چه دا تاګنج بخش ته د "پيرهرات" دغه کتاب نه وورسيدلے. که رسيدلے وے. نو دغه اختلافات به پکښې نه وو پاتے شوي. او د دے کتاب دا تاګنج بخش ته د نه رسيدلو يو وجه ده. او هغه دا ده چه دغه کتاب پخپله براه راست خواجه عبدالله انصاري عليه الرحمة نه دے تاليف کړے. بلکه د دهغه "امالي" ده. (امالي ديته وائي. چه يو استاذ په يو موضوع باندے تقريرونه کوي. او شاګردان يئے په باقاعدګئ سره دوزانه نقل کوي. او بيا روستو هم دغه شاګردان ورله ترتيب ورکړي.) په دے اعتبار سره د "پير هرات" کتاب "طبقات الصوفيه" هم هغوئ د تقريرونو هغه نو ټونه دي. چه د تصوف په موضوع يئے وخت په وخت کړي دي. د هغوي په مريدانو کښې يو کس ليکلي او جمع کړي دي. او د پيرهرات د وفات نه روستو يئے ورله ترتيب ورکړے دے. د دے وجوهاتو په رڼرا کښې د "طبقات الصوفيه" د تاليف زمانه د ۴۸۱هـ او ۵۰۰هـ تر مينځه متعين کيدلے شي. او په دے بنائ دا وئيلے شو چه د "کشف الحجوب" او "طبقات الصوفيه" دواړو د تاليف يوه زمانه وه. او هم په دے وجه دا کتاب "يعنے طبقات هروي" د حضرت دا تاګنج بخش لاس ته نه دے رارسيدلے چه د هغے نه

يئې استفاده کړې وې. يا يئې د هغې نه اقتباسات اخيستي وې.

دا معلومات چه پورته درجه کړلے شول. د دې له مخه مونږه د "کشف المحجوب د تاليف زمانه د ۴۴۰هـ نه تر ۴۷۱هـ او ۴۷۵هـ اندازه کوؤلے شو. او بله دا چه حضرت شيخ هجويري تر دغه ۴۷۵هـ مطابق ۱۰۹۳هـ پورې ژوندے وو. او په لاهور کښې اوسيده او هم د دې وجوهاتو له مخه دا ثابته شوه چه کومو خلقو د حضرت هجريري وفات ۴۶۵هـ ښودلے دے. دغه بيخي غلط دے. او د دوئ درائي په غلط والي باندې دا يو څو نور دليلونه هم دغور قابل دي.

(۱) يو دليل دا دے. چه په ۴۶۵هـ کښې د حضرت دا تاګنج بخش وفات کيدل يوه داسې خبره ده چه عقل يئې هم نه مني. د مثال په طور ديته به فکر اوکړو. چه هر کله د امام ذهبي د کتاب "تاريخ الاسلام" د تصريح مطابق حضرت دا تاګنج بخش په ۴۶۰هـ کښې د خپل پير حضرت شيخ حسن ختلي د وفات په موقع په د مشق (شام) کښې وو. نو که دا اووئيلے شي. چه دے د خپل پير د وفات نه فوراً روستو هم په دغه کال ۴۶۰هـ کښې لاهور (پنجاب) ته د راتللو د پاره راروان شوے دے. نو بيا هم د دمشق او لاهور تر منځه فاصلے ته د هغه زمانے پياده مزلونه. او د دومره اوږدے لارے د سفر مشکلاتو ته چه او کتلے شي نو دا به اووئيلے شي کم از کم د ۴۶۱هـ په آخر کښې

به دوئ لاهور ته رارسيدلي وي. نو بيا كه ورپسې په ۴۶۵هـ كښې د دوئ وفات او منلې شي. نو آياد دا خبره عقل اخلي چه... فقط په درےت ځلور كاله مختصره شان زمانه كښې دوئ دومره لوئ شهرت حاصل كړے وو. چه د لاهور او پنجاب او نورو خواؤ شا علاقو بے شميره د خدائي مخلوق يئے ځان ته راكښلو. چه دهغے په حقله شهزاده دارا شكوه پخپل كتاب "سفينة الاولياء" كښې ليكي:

"د ټول پنجاب خلق د حضرت دا تاكنج بخش عليه الرحمة مريدان شول" (سفينة الاولياء صفحه نمر ۱۶۵)

ظاهره ده. چه دومره لوئ روحاني اثر او رسوخ پيداكيدل چه ټول پنجاب يئې ځان ته راكښلے وو. دا د لږے مودے كار نه شي كيدلے. ځكه چه د دے سره سره د هغه زمانے د پنجاب او لاهور حالت هم په نظر كښې ساتل غواړي. د مثال په طور د ۴۴۱هـ نه تر ۴۶۵هـ پورے چه په لاهور كښې د داتاكنج بخش داستوركنے زمانه فرض كړے شي. نو دا يوه داسے زمانه ده چه په دے كښې او د دے نه څو كاله مخكښې سلطان محمود غزنوي سلطان مسعود غنزوي. سلطان مود و د غزنوي. سلطان علي ابن ربيع ابن مسعود او سلطان ابراهيم غزنوي. پرله پسے په لاهور او پنجاب غزاكانے كړے وے. او د دے ملك پخوانو كفارو او مشركانو له يئے عبرتناك شكستونه وركړي وو. او غالبه دا ده چه اكثر هغه خلق به موجود او ژوندي هم وو. چه چا د مسلمانانو غازيانو او مجاهديو د

لاسه شکستونه خوړلي وو. بل خواته حضرت دا تا صاحب هم د غزني او سیدونکے وو. نو قدرتي طور هغه غیر مسلم خلق چه دوئ به ورته تبلیغ کول غوښته. هغوئ به ورسره پټ په زړۀ کښې تعصب ساتلو. او مونږه له دا هم هیره ول نه دي پکار چه کوم هندوان او مشرکان چه د حضرت دا تاګنج بخش په لاسونو مبارکو باندے مسلمانان شول. هغوئ فطرتي طور هم پخپلو خیالاتو کښې انتهائي تنګ نظره او متعصب خلق وو. او یواځے هغه زمانه څه چه نن یئے هم دغه حال دے. نو په داسے حالاتو کښې که حضرت دا تاګنج بخش به هغوئ اسلام ته رابلل نو هغوئ به ورله خواته چرته راتلل. بیا د داسے نفرت کوؤنکو او ترهدیونکو خلقو زړونه چه حضرت دا تاګنج بخش علیه الرحمة پخپلو پاکو اخلاق او خپلے روحاني صفایئ ځان ته را مائیله کړي وي. د دے ته یئے جوړ کړي وي. او د دے رواداړ کړي یئے وي. چه د حضرت دا تاګنج بخش دوه نصیحت او تبلیغ مجلسونو ته دے حاضر شي. د حق دین اسلام احکامو اوریدلو ته دے غوږ کیږدي. او د هغے منلو ته دے غاړه کیږدي. او مسلمانان دے شي. یقیناً چه ددے به ډیر اوږد وخت اخیستے وي. دا دومره لوئے کار په لاهور کښې د ۴۶۱هـ نه تر ۴۶۵هـ پورے په درے څلور کاله مختصره نیټه کښې نه شي کیدلے. او نه دا خبره امکان لري چه په لاهور کښې په دومره مختسره زمانه قیام کښې دے. د وئ یو داسے جماعت هم جوړ کړے وي. چه هغه

د لاهور ښهر د ټولونه او لنے جماعت ګنړلے شي.

اولنے جماعت

په دے سلسله کښې د حضرت دا تاګنج بخش علیه الرحمة د جماعت په حقله چه کوم روایت دے. چه دا د لاهور ښهر د ټولونه اولنے جماعت دے دغے هم یو نظر اچول پکار دي. ځکه چه په دغه روایت کښې یوه خبره دا هم وئیلے شوے ده. "چه کله دوئ د جماعت تاده کیښودله. نو د هغه وخت عالمانو پرے اعتراض اوکړو. د دے عبارت نه دوه خبرے معلومیږي.

(الف) یوه خبره دا ده چه په لاهور کښې په دغه نیټه نور عالمان هم موجود وو.

(ب) بله دا ده چه په لاهور کښې د دغه نه پخواني جوړ شوي نور جماعتونه هم موجود وو. چه د هغے په مقابله کښې د دے جماعت قبله لږه شنا جنوب طرف ته سنګزنه معلومیدله.

او دا دواړه خبرے عقل هم اخلي. ځکه چه د داتاګنج بخش لاهور ته د راتللو زمانه که ۴۲۳هـ او منلے شي. او که ۴۳۱هـ یا ۴۴۰هـ او ۴۶۱هـ بهر حال لاهور د دغے نه مخکښې د سلطان محمود غزنوي په زمانه کښې په ۳۰۲هـ کښې فتح شوے وو. و د هغه سره چه د غازیانو په لښکرو کښې کوم عالمان. صالحان. سید ان او مشائیخ راغلي

وو. دلته کښې يئې ورځې شپې آړولې ويې. او بيا دلته د اسلام د تبليغ او اشاعت د پاره پاتې شوي وو. نو دا نا ممکنه خبره ده. چه هغوئ به جماعتونه وو جوړ کړي. البته دا به معلومول غواړي. چه اولنې جماعت چه په لاهور کښې جوړ شوې وو. هغه کوم يو وو. په کومه سنه کښې جوړ شوې وو. او چا جوړ کړې وو؟

اوس به په هغه قيصه بانډې يو نظر واچوؤ چه لاهور ته د دا تاګنج بخش عليه الرحمة در او سيد لو او هم په دهغه ورځ بانډې د حضرت شيخ حسين زنجاني د وفات کيدلو په حقله جوړ شوې ده. د پاره د دې چه دا معلومه شي چه يو تاريخي واقعې له څرنګ افسانوي رنګ ورکړي شوې دې.

حضرت دا تاګنج بخش او شيخ حسين زنجاني

مخکښې دا بحث تير شوې دې. چه د حضرت دا تاګنج بخش لاهوري ته د راتللو په موقع پورې چه کومه قيصه په خلقو کښې مشهور ده. او تقريبا هر يو مؤرخ او تذکره ليکونکي نقل کړې ده. چه د حضرت شيخ هجويري لاهور ښهر ته د ننوتلو په ورځ د ده د پير بهاءي شيخ حسين زنجاني جنازه ده ښهر نه باهر ته راوتله" دا يوه داسې قيصه ده چه په تاريخي اعبتار سره غلطه ده. او حيرانتيا دا ده چه تر اوسه پورې دې خبرې ته هڅو چا فکر کړې نه دې.

د دے وضاحت داسے دے. چه دا روایت د حضرت شیخ نظام الدین اولیائ د کتاب فوائد الفواد د صفحه نمبر۱۹ دے. لیکي چه: "شیخ هجویري او شیخ حسین زنجاني دواړه هم عصر وو. د یو پیر طریقت مریدان وو. لیکن دا روایت ځکه صحیح نه دے چه:

(الف) پیر سید علي هجویري د ۴۸۵هـ په خواؤ شا کښې وفات شوے دے. لکه چه مخکښې په تفصیل سره بحث اوشه.

(ب) او د شیخ زنجاني په حقله مفتي غلام سرور لاهوري پخپل کتاب خزینة الاصفیاء جلد نمبر۲ صفحه نمبر۲۵ کښې لیکلي دي. چه "د شیخ حیسن زناجني د وفات کال د صحیح اقوالو په بناء سره ۶۰۶هـ دے. یعنے چه د شیخ هجویري وفات ۴۸۵هـ او منلے شي نو بیا هم د شیخ زنجاني د وفات ۶۰۶هـ نه دا تاګنج بخش یو سل یو ویشت کاله وړاندے وفات شوے دے. لیکن په دے سلسله کښې زیاته د حیرانتیاه خبره دا ده چه هر کله مفتي غلام سرور لاهوري پخپله یو خواته د حضرت دا تا ګنج بخش تاریخ وفات ۴۶۵هـ لیکي. او د دے دواړو تاریخونو په منځ کښې روغ جوړ یو څلویښت د پاسه سل کاله فرق هم موجود دے. نو د دغے یوے نیمے صدئ د فرق باوجود بیا دا څرنګ لیکي چه شیخ هجویري او شیخ زنجاني دواړه پیر بهائیان وو.؟ او نۀ صرف دا چه پیر بهاءیان وو. بلکه شیخ حسین زنجاني د خپل صحیح تاریخ وفات ۶۰۶هـ نه یو سل درے اتیا کاله

مخکښې په ۴۲۳هـ کښې یا یو سل پنځه اویا کاله مخکښې په ۴۳۱هـ کښې یا یو سل شپږ شپیته کاله مخکښې په ۴۴۰هـ کښې لاهور ته د حضرت دا تاګنج بخش د راتلو په نیټه باندې وفات شوې هم وو. یو ځل د شیخ هجویري د راتللو په وخت کښې وفات شوې وو. چه هغه یئې جنازه اوګزارله. او دوئم ځل په ۶۰۶هـ کښې وفات شه؟

خبره دا ده چه مفتي غلام سرور لاهوري مؤرخ وو. لیکن محقق عالم نه وو. په ذهن کښې یئې د تحقیقي او تنقیدي نظر اچولو ما ده نه وه. او دا یئې او نه کړلې شول. چه د حضرت نظام الدین او لیاءپه بیان کښې چه کوم فرق دې. هغې ته فکر اوکړلې شي. ځکه چه دا زیاته ممکنه ده. چه حضرت شیخ نظام الدین اولیاء علیه الرحمة صحیح خبره لیکلي وي. لیکن روستو د کتابت په غلطئ سره بل شان شوې وي.

د حضرت محبوب آلهي شیخ المشائخ نظام الدین اولیاء د پورتني روایت مونږه دوه توجیهـ کوؤلې شو.

(الف) یوه دا چه ممکنه ده حضرت نظام الدین اولیاء داسې لیکلي وي. چه شیخ هجویري او شیخ زنجاني دواړه د یو مسلک یعني "سلسله جنیدیه" مریدان وو. او دا اختمال ځکه عقل اخلي چه په دګه زمانه باندې د موجوده ځلورو سلسلو قادریه چشتیه

سهرورد يه او نقشبند دغهنه پخوانئ سلسله جيند يه زياته مشهوره وه. نو ځکه دا ممکنه کيدلے شي. چه روستو کاتبانو په غلطئ سره د "يوے سلسلے د پيرو کارانو" په ځاي "د يو پير مريدانو" الفاظ ليکلي وي.

(ب) او که دا اولنئ توجيهـ او منلے شي. نو بيا دا خبره ممکنه ده. چه د "شيخ زنجاني" په نوم دوه بزرګان تير شوي وي او دواړه د لاهور اوسيدونکي وي.

(۱) يو هغه وي چه د حضرت دا تاګنج بخش د راتللو ۴۴۰هـ په وخت کښې وفات شوے دي.

(۲) او دويم هغه شيخ حسين زنجاني وي چه په ۶۰۶هـ کښې وفات شوے وي. زياته ممکنه ده چه دا دوئم حسين زنجاني د دغه اولني حسين زنجاني نمسے وي. ځکه چه په پخواني زمانه کښے د نيکه نوم په نمسي باندے و کيښودلو عام رواج وو.

دا دواړه تو جيهات مونړه مجبوراً پيش کړل. ځکه چه د ۶۰۰هـ په شاؤ خوا کښې د شيخ زنجاني نومے يو بزرګ ژوند او وفات بالکل يقيني خبره ده. په کتاب طبقات ناصري جلد نمبر۱ صفحه نمبر۴۷۴ کښې

لیکي چه څه وخت سلطان معزالدین محمد ابن سام غوري د جهلم په خواؤ شا کښې په "دیمک" نومے مقام کښې په ۶۰۲هـکښې شهید کړلے شه. نو په دغه وخت کښې حضرت شیخ حسین زنجاني علیه الرحمة ژوندے وو. او په لاهور کښې اوسیده. د تاریخ صولت افغاني د روایت مطابق معزالدین محمد بن سام غوري په دریم تاریخ د ماه شعبان العظم ۶۰۲هـ مطابق ۱۲۰۶هـ کښې شهید کړلے شوے دے. او د وفات ماده د تاریخ یئے دا جمله ده "صاحب السریر"

مخکښې ذکر اوشه چه مفتي غلام سرور لاهوري د دے شیخ حسین زنجاني وفات په ۶۰۶هـ کښې صحیح روایت ګنړلے دے. لیکن منشي محمد الدین په حواله:ـ

(۱) د کتاب "دا تاګنج بخش" صفحات نمبر۴۱ و نمبر۴۳

(۲) د کتاب "تحقیقات چشتي" صفحه نمبر۶۳۶

(۳) د کتاب "تاریخ لاهور" تالیف د کنهیا لال

سره د حضرت شیخ حسین زنجاني علیه الرحمة تاریخ د وفات ۵۰۴هـ لیکلے دے. مګر د منشي محمد الدین فوق د دے بیان په مقابله کښې د مفتي غلام سرور قول زیات صحیح دے. او د شیخ زنجاني د وفات هم دغه ۶۰۶هـ ګنړل پکار دي. ځکه چه د دے قول په

تائيد کښې نور بے شماره تاريخي شهادتونه موجود يئ.

دلته دا خبره هيره ول نه دي پکار چه هر کله په موجوده تاريخونو کښې فقط د يو شيخ حسين زنجاني متوفي ۶۰۶هـ ذکر موجود دے. او د بل شيخ حسين زنجاني متوفي ۴۴۰هـ څه ذکر نشته دے. نو په دے بنائ د وايو چه د حضرت نظام الدين اولياء د کتاب "فواءد الفواد" د روايت په حقله چه پورته مونړه کوم دوه توجيهات پيش کړل. که په هغے دا دوئمه توجِيهـ قبوله نه کړلے شي. نو بيا به لازماً دا اوايو چه مفتي غلام سرور لاهوري چه د "فوائيد الفؤاد" په حواله دغه کوم روايت او قيصه د حضرت دا تاګنج بخش لاهور ته د تشريف راوړلو په موقع پورے بيان کړے ده. او د هغے نه روستو تر نن ورځے پورے بيانولے شي او يو افسانوي شکل يئے اختيار کړے دے. دغه صحيح نه ده. ځکه چه هر کله حضرت شيخ حسين زنجاني په ۶۰۶هـ کښے وفات شوے دے. نو لکه چه مخکښې هم ذکر اوشه. آخر دا څنګه ممکن کيدلے شي. چه دے د داتاګنج بخش لاهورته د راتللو په نيټه په ۴۴۰هـ کښې ۱۶۶ کاله مخکښے دے هم وفات شوے وي. يا دا چه د حضرت دا تاګنج بخش پير بهاءي او د حضرت شيخ ابوالحسن ختلي متوفي ۴۶۰هـ مريد دے او منلے شي.

التبه د کراچۍ د يو فاضل رور "برمي انصاري" خبره داسے معلميږي چه مفتي غلام

سرور لاهوري د حضرت نظام الدين اولياء د اوچتې مرتبې په لحاظ د هغه بيان لفظ په لفظ نقل کړے دے. او په هغے کښې چه کوم تاريخي تضاد موجود وو. هغے ته يئے هډو فکر نه دے کړے.

زيات عجيبه روايت

د حضرت دا تاګنج بخش علیه الرحمة په حقله د ټولونه زيات عجيبه روايت د حضرت شيخ حامد بن فضل الله المعروف په "شيخ جمالي" دريوش کښوه د هلوي دے.

دا بزرګ د سلطان سکندر لود هي همعصر دے (سکندر لودهي په تاريخ اووم د شعبان المعظم ۸۹۴هـ کښې وفات شوے وو.) د تاريخ صولت افغاني د روايت مطابق چه څۀ وخت دا شيخ جمالي د ماوراء النهر، خراسان، عراق، آذرباءيجان، روم، شام د سفر نه واپس د هلي ته راورسيده. نو (سکندر لودهي د فارسئ ژبے قادر الکلام شاعر وو. تخلص يئے ګلرخ وو) چه په هغے کښې يئے د هغه د ملاقات د آرزو مندئ او دربار ته د راتللو اظهار کړے وو. د دغه نظم اولنے شعر دا دے.

اے مخزن ګنج لايزالی
دے سالګ راه دين
جمالی

دے شيخ جمالي د دومره اوږد سفر نه روستو د خپلے زمانے او د پخوانئ زمانے د بزرګانو په حالاتو يوه تذکره ليکلے ده. چه د هغے "سيرالعارفين" نوم دے. او دا کتاب په ۱۳۱۱هـ کښې په دهلي کښې چاپ شوے دے. د دے کتاب په صفحه نمبر۱۲ باندے ليکي:

"حضرت زبدة الاولیائ والمشاءخ معین الحق والدین حسن اجمري پخپله د غزني په طرف راروان شه. حضرت شمس العارفین عبدالواحد قدس سره. چه د حضرت شیخ نظام الدین ابو الؤید پیر وو. هغه هم په غزني کښې وو. د دواړو ملاقات اوشه. د هغه ځائي نه خواجه اجمیري لاهور ته راغے. حضرت شیخ المشاءخ پیر علي هجویري قدس سره چه (الفقرة عندي من لا قلب له ولاریب له) قول د هغوئ دے. هم په دغه کال باندے وفات شوے وو. لیکن حضرت شیخ المشائخ حسین زنجاني چه پیر د حضرت شیخ سعد الدین قدس سره دے. په دغه وخت کښې ژوندے وو. په منځ د زبدة المشاءخ والاولیائ حضرت معین الحق والدین حسن اجمیري قدس سره. او حضرت شیخ المشاءخ شیخ حسین زنجاني قدس سره کښې مینه، محبت، او اتحاد د حد او حساب نه زیات پیدا شه. مګر هم په دغه ورځو کښې سلطان معزالدین محمد سام (قبر یئے روښانه شه) د هلے فتح کړے وو. او سلطان قطب الدین ایبک چه د ده خاص غلام وو. په دارالخلافه د دهلي کښې یئے خپل نائب الحکومة مقرر کړے وو. او په طرف د غزني روان شوے وو... چه په حق اورسیده. حضرت زبدة المشاءخ معین لاحق والدین حسن سنجري د حضرت شیخ زنجاني علیه الرحمة نه د رخصت کیدلو اجازت واخیست. او د ارالخلافه دهلي ته روان شه".

د حضرت شیخ جمالي دا پورتنے بیان په تاریخي اعتبار سره دومره زیات عجیبه دے.

چه حد پرے تمام دے. د دے بیان خلاف مفهوم ترتیب وار دا دے چه:

(۱) حضرت معین الحق والد حسن سنجري اجمیري چه په کوم کال لاهور ته رااورسیده. نو هم په دغه کال باندے حضرت دا تاګنج بخش وفات شوے وو.

(۲) هم په دغه ورځو کښې سلطان معزالدین محمد سام غوري دهلے فتح کړے وو. ایبک یئے نائب پریښوده. غزني ته روان شه. او په لاره کښې په حق اورسیدۀ.

د شیخ جمالي د دے بیان په دواړو حصو په غور اوکړو. او په دے کښې په کومے خبرے صحیح دي او کومے نه دي. هغه به په نښه کړو چه تاریخي فائیده ئے زیاته شي. په دے سلسله کښې د حضرت شیخ جمالي دا یو څو روایتو نه صحیح دي.

(الف) یو دا روایت یئے صحیح دے. چه حضرت خواجه معین الدین حسن چشتي اجمیرجي د ۶۰۰هـ په زمانه کښې لاهور ته رارسیدلے دے. ځکه چه د دے تائید د چشتیه سلسلے د نورو ګنړو تذکرو نه هم کیږي.

(ب) دا خبره یئے هم صحیح ده. چه سلطان معزالدین محمد ابن سام غوري په دغه ورځو کښې (یعنے په کومو کښې چه حضرت خواجه غریبا

نواز په لاهور کښې اوسیده) شهید شوے وو. ځکه چه عام تاریخونه پرے شهادت کوي.

(ج) دا خبره یئے هم صحیح ده. چه حضرت شیخ زنجاني په دغه نیټه (یعني په ۶۰۰هـ کښې چه کله خواجه غریب نواز لاهور ته راته. او په ۶۰۲هـ کښې چه کله سطان محمد غوري شهید کیده) ژوندے وو. او په لاهور کښې اوسیده. ځکه چه مخکښې دطبقات ناصري حواله درج شوے ده. چه د سلطان محمد غوري د شهادت په وخت یعنے ۶۰۲هـ کښې شیخ زنجاني ژوندے وو او په لاهور کښې استوګن وو.

(د) د شیخ جمالي د روایت نه مونږه ته دا فائده هم په لاس راځي چه حضرت خواجه معین الدین حسن چشتي اجمیري علیه الرحمة د سطلان محمد غوري د شهادت نه مخکښې لاهورته په ۶۰۰هـ کښې راغلے وو. او بیا د حضرت شیخ زنجاني د وفات ۶۰۶هـ نه مخکښې په ۶۰۴هـ کښې دهلي ته یئے تشریف وړے دے. او په دے اعتبار یئے په لاهور کښې دوه څلور کاله زمانه تیر کړے ده. او په دغه دوران کښې یئے د حضرت دا تاګنج

بخش په درګاه کښې چیله هم اوکښلے ده.

لیکن سره د دے نه د حضرت شیخ جمالي دا دوه روایتو نه په خصوصیت سره صحیح نه دي.

(۱) یو دا چه هم په دغه ورځو کښې سلطان معزالدین محمد غوري دهلے فتح کړے وو. قطب الدین ایبک یئے د دهلي نائب الحکومةکړو. غزني ته روان شه. او په منځ لاره کښې شهید شه" په دے روایت کښې چه کوم فرق دے. هغه دا دے. چه سلطان معزالدین محمد غوري په ۵۹۰هـ مطابق ۱۱۹۳ء کښې دهلے فتح کړے وو. په ۶۰۱-۶۰۰هـ کښې ئے قطن الدین ایبک خپل نائب الحکومة کړے وو. په ۶۰۲هـ کښې غزني ته روان شوے وو. او بیا هم په دغه کال شهید شوے وو. لیکن حضرت شیخ جمالي علیه الرحمة د دولس کالو د زمانے څلور مختلف واقعات په داسے ترتیب سره بیانوي لکه چه د ا هر څه په یو کال کښې شوي دي.

(۲) دوئم یئے دا روایت صحیح نه دے. چې حضرت خواجه غریب نواز علیه الرحمة په هغه کال لاهور ته راغلے وو. په کوم کال چه حضرت دا تاګنج بخش وفات شوے وو. ځکه

چه دا خو ثابته شوه چه حضرت خواجه عزیب نواز په ۶۰۰هـ کښې لاهور ته رارسیدلے دے. مګر دا بیان یئے څنګه او منو چه پیر علي هجویري هم په دغه کال ۶۰۰هـ کښې وفات شوے دے؟ لکه چه مخکښې پرے په تفصیل سره بحث اوشه دا تاګنج بخش په ۴۸۵هـ کښې په حق رسیدلے دے. نو د دے حقیقت په موجودګئ کښې یو سل پنځلس کاله پس په ۶۰۰هـ کښې دوباره څرنګ په حق اورسیده.

د حضرت شیخ جمالي د پورتني روایت نه یو څو نورے تاریخي فائدے هم مونږه ته په لاس راځي چه هغے ته اشاره کول مناسب معلومیږي.

(الف) یوه دا ده چه د دے راویت نه یو خواته د مفتي غلام سرور لاهوري د هغه خبرے تصدیق کیږي. چه حضرت شیخ زنجاني په ۶۰۶هـ کښې وفات شوے دے. او بل خواته ورسره ورسره د مفتي غلام سرور هغه قیصه هم غلطه ثابتوي چه څۀ وخت حضرت دا تاګنج بخش لاهور ته راغے. نو هم په هغه ورځ بانددے حضرت شیخ زنجاني وفات شوے وو.

(ب) دوئمه تاریخي فائده دا ده. چه د حضرت شیخ جمالي د دے بیان نه د منشي محمد الدین فوق کشمیري هغه بیان هم غلط

ثابتیږي. چه پخپل تالف "دا تاګنج بخش ربطع دوئم لاهور ۱۳۳۹هـ مطابق ۱۹۲۰ء (کښې په صفحه نمبر۱۴۱) باندے یئے د مولوي نور احمد چشتي د تالیف "تحقیقات چشتي په حوالاه باندے د حضرت خواجه معین الدین چشتي اجمیري لاهور ته د راتللو تاریخ ۵۰۰هـ او ۵۲۵هـ لیکلے دے.

د دے بیان د غلطوالي یوه وجه دا ده. چه په دے سلسله کښې حضرت شیخ جمالي بیان بالکل واضحه دے. چه خواجه غریب نواز سلطان محمد غوري په زمانه کښې لاهور ته راغلے دے. بله وجه دا ده چه هر کله د ټولو مؤرخانو په اتفاق سره حضرت خواجه معین الدین حسن چشتي اجمیري په ۵۳۷هـ کښې پیدا شوے دے. او په۶۳۳ هـ کښې وفات شوے دے. نو د منشي فوق دا خبره څنګه او منلي شي حضرت خواجه اجمیري په ۵۰۰هـ کښې لاهور ته راغلے وو. سوال دا دے چه د خپلو پیدا کیدلو د تاریخ ۵۳۷هـ نه هم د دے څلویښت کاله وړاندے په ۵۰۰هـ کښې لاهور ته څرنګ راغے؟ څه به اووایو چه دے کله پیدا شوے وو؟ ځکه چه په ۵۰۰هـ کښې لاهور ته راتللو نو خامخا د دوئ عمر به دیرش څلویښت کاله وو. او بیا چه هر کله وفات په ۶۳۳هـ کښې یقیني دے. نو څه به وایو چه د دوئ عمر ۱۸۰کاله وو.؟ حالانکه په دے کښې یوه خبره هم صحیح نه ده. لیکن زیاته د حیرانتیا خبره دا ده. چه مولوي نور احمد چشتي پخپل تالیف "تحقیقات چشتي" کښې دا دومره په تاریخي لحاظ سره

انتهائ فحش غلطه خبره په دومره واضحه الفاظو کښې داسې ليکلې ده.

"درود حضرت خواجه معين الدين چشتی در لاہور درسته پانچصد ہجری نوده"

(د حوالې او تحقيقي د پاره ملا خطه کړئ کتاب "تحقيقات چشتي" طبع ثاني. لاهور ۱۳۲۴هـ صفحه نمبر۱۳۹)

البته په مولوي نور احمد مرحوم باندې د نيک گمان کولو په خاطر د اتوجيهـ يئې کولې شو. چه د کتابت په غلطئ سره به د "ششصد" په ځای "پانچصد" ليکلې شوې وي. مگر بيا هم په دې کښې هيڅ شک نشته دې. چه د دې کتاب دغه بيان په دې موجوده شکل کښې انتهاء غلط دې. او پکار ده چه صحت يئې اوشي.

لاهور ته د حضرت دا تاگنج بخش عليه الرحمة راتلل

په "خزينته الاصفياء" کښې ليکي چه "حضرت دا تاگنج بخش" د سلطان مسعود ابن محمود غزنوي د فوځونو سره لاهور ته تشريف راوړي وو. او د کشف الاسرار نومې کتاب په اردو ترجمه کښې ليکلي دي.چه دوئ. په ۴۲۱هـ کښې لاهور ته راغلي وو. او په دې دواړو بيانونو کښې اول به د مفتي غلام سرور په بيان يو نظر واچوؤ

(۱) دمفتي غلام سرور په بیان یو نظر

دا معلومه ده. چه حضرت سلطان محمود غزنوي علیه الرحة په ۴۲۱هـ مطابق ۲۹، اپریل ۱۰۲۰هـ وفات شوے دے. د هغه نه روستو د هغه ځوي سلطان محمد یو څو ورځے بادشاه وو. په هغه پسے سلطان مسعود ابن سلطان محمود بادشاه شه. او درے کاله پس ۴۲۳-۴۲۴هـ کښې یئے په هندوستان حمله اوکړه. لاهور یئے قبضه کړ. او کشمیر ئے هم فتح کړ. دوئمه حمله یئے بیا په ۴۲۷هـ کښې کړے وه.

که د خزینته الاصفیاء دغه روایت او منلے شي . چه حضرت دا تا ګنج بخش د سلطان مسعود د لښکرو سره لاهور ته راغلے وو. نو د دے مطلب به داشي چې دوئ ۴۲۴-۴۲۳هـ کښې د سلطان مسعود د اولنئ حمله یا په ۴۲۷هـ کښې د دوئمے حملے په وخت کښې لاهور ته راغلي وو. او دغه نیټه بهر حال ۴۲۱هـ نه شي کیدلے. او هر کله چه سلطان مسعود غنزوي د لس کاله حکومت کولو نه پس د خپل رور ابو محمد دلاس نه په ۴۳۰هـ مطابق ۴۰-۱۰۳۹ء کښې قتل شوے دے. نو د "کشف الاسرار" د هغه بیان سره چه حضرت داتا صاحب په ۴۳۱هـ کښې لاهور ته راغلے دے. "د خزینته الا صفیاء" د بیان په دے طریقه سره.

هم تطبیق نه شي راتللے. چه مونږه د ا اووایو چه حضرت دا تاګنج بخش علیه

الرحمة به د سلطان مسعود د حکومت په آخري ورځو کښې راغلے وي.

خبره دا ده. چه لاهور ته د حضرت دا تاګنج بخش په ۴۲۱هـ، ۴۲۳هـ، ۴۲۴هـ، ۴۲۷هـ يا ۴۳۱هـ کښې راتلل دا ټول داسے بيانو نه وي. چه د دا تاګنج بخش د خپل کتاب "کشف المحجوب" نه د دے تصديق نه شي کيدلے. لکه چه مخکښې بحث تير شوے دے. په "کشف المحجوب" کښې د ۴۴۰هـ نه د روستو زمانے د لاهور د قيام حالات بيان شوي دي. نو که بالغرض حضرت دا تانج بخش په کال (۴۲۱هـ، ۴۲۳هـ، ۴۲۴هـ، ۴۲۷هـ يا ۴۳۱هـ) کښې راغلے وے. نو لازماً په دے خپل کتاب کښې د هغے تذکره به يئے هم کړے وے. ځکه چه په تاريخي اعتبار سره د "کشف المحجوب" حيثيت د يوے "روحاني روز نامچے" دے. چه ټول واقعات پکښې د سن او تاريخ په لحاظ سره سلسله وار بيان شوي دي.

داسے معلوميږي چه د "خزينته الاصفياء" مولف غلام سرور لاهوري ته د دے کتاب د ليکلو په وخت يعنے ۱۲۸۴هـ کښې د پورتنئ اشتباه د يوے تاريخي واقعے په وجه پيښه شوے وه. چه دے د هغے په صحيح مطلب نه وو پوهه شوے. او د هغے نه يئے غلطه نتيجه اخيستے ده. هغه واقعه دا ده. چه يو عام روايت داسے دے. چه د حضرت دا تاګنج بخش په لاس يو هندوراجا مسلمان شوے وو. چه د هغه نوم "رائے راجو" وو. چه روستو په "شيخ هندي" مشهور شوے دے. او

دا سړے د هندو توب په زمانه کښې د غزنوي سلطان د طرف نه د پنجاب نائب الحکومت وو. کيدے شي. چه مفتي غلام سرور دا خيال کړے وي. چه دغه "رائئ جو" به د سلطان مسعود د اولنئ حملے (۴۲۱-۴۲۳هـ) په وخت کښې په لاهور حکمران وو. او چه څه وخت مسعود لاهور فتح کړے وي. نو "رائئ جو" به يئې بدستور د لاهور حکمران او د پنجاب نائب الحکومة پريښے وي. او هغه به په حيثيت د نائب الحکومة د پنجاب حاکم وو. او بيا د دے خيال په بناء مفتي غلام سرور به دا خبره هم قياس کړے وي. چه هر کله حضرت دا تاګنج بخش د سلطان مسعود په لښکر کښې موجود وو. نو "رائئ جو" به د هغه په لاس مسلمان شوے وي.

که فکر اوکړو. دا خيال په دے وجه پيدا شوے دے. چه د سلطان مسعود د غزنوي سياسي حکمت عملي دا وه. چه د فوځ او انتظامي معاملو ګنړے اهمي عهدے يئے غير مسلمو کسانو ته حواله کړے وے. د مثال په طور د "تاريخ صولت افغاني" مؤلف د "تاريخ مخزن افغاني" په حواله په صفحه نمبر۹۹ کښې ليکي.

"په ۴۲۵هـ کښې مسعود په لاهور کښې وو. په شمال مغربي او مغربي افغانستان کښې چه سلجو قيانو شورش پورته کړ. نو مسعود د دغه فتنے دفع کولو د

پاره چه کوم فوځونه اولیږل. په هغې کښې د هندوستاني فوځ سر لښکر. جې سنګهـ نومې هندو وو".

په دے وجه زمونږ اووئیل. ممکنه دا مفتي غلام سرور دا خیال کړے وي. چه "رائي جو" المعروف په "شیخ هندي" به هم د سلطان مسعود د زمانے وو. او د هغه له طرفه به د پنجاب په علاقه نائب الحکومة وو. او هم د دے وجوهاتو په رنړا کښې یئے دارائي ښکاره کړه چه حضرت دا تاګنج بخش د سلطان مسعود غنزوي د حکومت په زمانه کښې لاهور ته راغلے وو.

لکه چه وړاندے ورته اشاره اوشوه. مفتي غلام سرور دغه خپل کتاب "خزینة الا صفیاء" په ۱۲۸۴هـ کښې لیکلے دے. لاهور ته د حضرت دا تاګنج بخش د راتللو په حقله په دغه زمانه کښې دوه هم دغه قدرته معلومات وو. کوم چه پورته بیان شول. لیکن د خزینة الاصفیاء د تالیف او چاپ کیدلو ۱۲۸۴هـ نه پوره لس کاله روستو په ۱۲۹۴هـ کښې یئے یو بل کتاب لیکلے دے. چه د هغې نوم "تاریخ مخزن پنجاب" دے. د دے کتاب په جلد نمبر۴ صفحه نمبر۴۵۱ یئے دا لاندیني حالات په دے ترتیب سره سلسله وار لیکلي دي.

(۱) د سلطان محمود غزنوي د حکومت په دوران لاهور د څاکم ایاد علیه الرحمة حالات.

(۲) د سلطان مسعود غنزوي د حکمت په دوران کښې د لاهور د درج ذیل حاکمانو حالات.

(الف) احمد ابن الپتګین حکمران لاهور حالات.

(ب) مولک بن حسین غزنوي حکمران لاهور حالات

(ج) د سلطان مودود غزنوي د حکمت په دوران کښې.

(الف) د ابو المجد ابن مسعود د خپل، تالیق ایاز په مرسته د لاهور د خود مختاره حکمران په حیثیت سره حالات.

(ب) د احسن الله بیګ غزنوي د لاهور د حکمرانۍ حالات.

(ج) د سلطان مودودي غزنوي د ځوي ابو القاسم محمود د لاهور د حکمرانۍ حالات.

د دے تولو حالاتو بیانو لونه روستو په دغه تاریخ مخزن پنجاب جلد نمبر۴ صفحه۴۵۱ کښې لیکي:

"هر کله چه د سلطان مودودي غزنوي د وفات ۴۳۹هـ مطابق ۲۰۴۹ء نه روستو ابو الحسن علي ابن مودود بادشاه شه. نو د ده په وخت کښې علي ابن ربيع ابن مسعود غزنوي د خپل وکيل ميرک په اتفاق سره په پيښور، لاهور. ملتان بلکه ټول پنجاب باندې قبضه اوکړه. او لاهور يئې خپل دارالحکومت مقرر کړو. د ده په زمانه کښې مخدوم "علي" گنج بخش هجويري د عزنين نه لاهور ته تشريف راوړ. او دلته ئې قيام او فرمايه"

د مفتي غلام سرور دا دوئم بيان بالکل صاف دې او صحيح هم دې. او چه د داتاگنج بخش د خپل کتاب "کشف المحجوب" سره يئې مقابله کړو. چه په هغې کښې د لاهور د قيام د حالاتو ابتدائ د ۴۴۰هـ نه شوې ده. نو واضحه کيږي. چه مفتي غلام سرور چه په پورته جمله کښې دا ښائي.

"د ده د حکومت په زمانه کښې يئې لاهورته تشريف راوړ" نو د دې جملې مطلب دا گنړل پکار دي. چه علي ابن ربيع ابن مسعود غزنوي په ۴۴۰هـ کښې حضرت مخدوم "علي" گنج بخش هجويري لاهور ته تشريف راوړې دې.

چه فکر او کړلے شي. نو دا يوه داسې خبره ده. چه عقل يئې هم اخلي. ځکه چه مخکښې مونږه کوم تفصيلي بحث کړې دې. په هغې کښې دا واضحه شوې ده. چه د حضرت دا تاگنج بخش چه لاهور ته راتللو. نو د دغه

وړانـدې یـئـې د ټـولـو اسلامي مـلـكـونـو سیـاحت کړې وو. څه د پـاسه درې سوه عـالـمـانـو او مشائخونـه یـئـې فیض حـاصل کړې وو. او د كمـال درجې تـه رسیـدلـې وو نـو پـه دې اعـتـبـار سره چه مونږ هغه روایت تسلیم کړو. چه دا تـاګـنج بـخش پـه ۳۹۵هـ كښې پـیـدا شوې وو. نـو لاهور تـه د راتـلـلـو پـه وخت كښې د دوئ عمر بـه پـنځه څلویـښت كـالـه وو. او چه د "آئـیـنـه تـصوف" نـومې تـزكـرې روایـت تـسلـیـم كړو چه د دوئ ولادت پـه ۴۰۰هــ كښې وو. نـو بـیـا بـه د څلویـښت كـالـو پـه عمر كښې لاهور تـه د دوئ راتـلـل حساب كړې شي. او پـه دې دواړو صورتـونـو كښې دا خبـره عقـل تـه پـریـوتـلـې شي. چه تـر څلویـښت او پـنځه څلویـښت كـالـه عمر بـه دوئ د ظاهري او بـاطني علمونـو د حاصلولـو نـه فـارغ شوي وي.

فـائـده

مخكښې چې د مفـتي غلام سرور لاهوري د تـالـیف "مخزن پـنجاب" پـه حوالـه د حضرت دا تـاګـنج بـخش لاهور تـه د راتـلـلـو نـه وړانـدې د لاهور ښهر او پـنجاب د مسلمانـانـو حكمرانـانـو او د حكومت غزنـي لـه طرفـه د نـائـب الـحكموتـه ګـانـو كوم تـفـصیـل درج كړې شه. خصوصاً د حضرت سلطان محمود غزنـوي علیـه الـرحمة د محبوب غلام ایـاز علیـه الـرحمة چه د هغه سر د لاهور پـه اولـنئ حملـه ۴۰۲هــ كښې لاهور تـه راغلـې وو. او بـیـا د دغه خپـل محسن آقـا د طرف نـه د لاهور نـائـب الـحكومة شه. او روستـو د ابـو

المجد ابن مسعود غزنوي په لاهور د حکمرانی په زمانه کښې په ۱۰۵۸-۴۴۹هـ کښې وفات شوے دے. نو لکه چه مونږه وړاندے د لاهور د اولنی جماعت په بحث کښې بیان کړے دے. چې د دا تاګنج بخش د راتللو نه مخکښې به په لاهور کښې نور جماعتونه د پخوانه جوړ شوي وو. د دغه وضاحتونو په رنړا کښې دا وئیلے شو. چه د لاهور ښهر د ټولونه اولنے جماعت هم هغه کیدلے شي. چه کوم به ملک ایاز علیه الرحمة په ۴۰۲هـ کښې د سلطان محمود غزنوي د ورود په موقع په لاهور کښې جوړ کړے وو. او ډیره ممکنه ده چه د لاهور دغه اولنے جماعت د لاهور ښهر د فیصل نه باهر د غازیانو په فوځي کیمپ کښې جوړ شوے وي. او دا هم هغه جماعت وي. په کوم کښې چه نن ورځے د حضرت ملک ایاز علیه الرحمة زیارت دے. او د مسجد وزیر خان سره نزدے په مینځ بازار کښې واقع دے. بهر حال دا به نور تحقیقي غواړي.

د دے پورته بیان نه دا نوره هم واضحه شوه. چه په لاهور کښې د حضرت دا تاګنج بخش علیه الرحمة د راتللو نه مخکښې هم عالمان او صالحان موجود وو. فقط دومره ده. چه د هغوئ مثال د دین اسلام د روښانه ستورو په شان وو. او د حضرت دا تاګنج بخش لاهور ته تشریف راوړل داسے شول. لکه د لاهور او پنجاب په زمکه چه د علم او عرفان روښانه نمر راختلے وي. چه د هغوئ انوار په دے ذمکه ځه چه په ټول بر صغیر پاک او هندیو شان ځلیږي.

د بحث په دے مرحله به د حضرت دا تاګنج بخش په تاريخ وفات يو نظر بيا واچوؤ. د "کشف المحجوب" د خپلو د اخلي تاريخي شهادتونو نه تر ۴۸۱هـ پورے د دوئ ژوند يقيني دے. د دے سره چه مونږ هغه روايت په نظر کښې اوساتو چې په دوئ باندے د ټولو نه اولنے مزار سلطان ابراهيم ابن مسعود ابن محمود غزنوي عليه الرحمة جوړ کړے دے. نو لکه چه مخکښې ذکر شوے دےل. چه سلطان ابراهيم په ۴۴۹هـ کښې بادشاه شوے او په ۴۸۹هـ کښې وفات شوے دے. نو د دے په رڼرا کښې دا وئيلے شو. چه دا تاګنج بخش په د سلطان ابراهيم د وفات ۴۸۹هـ نه مخکښې وفات شوے دي. او ډيره ممکنه ده چه په ۴۸۵هـ کښې يئې وفات واقع شوے وي. روستو مؤورخان د ده تاريخ وفات داسے ليکے وي.

"توني في سنة اربعماة و ثمانين و خمسة"

ليکن کا تبانو په غلطئ سره د ثمانين په ځاي "ستين" ليکلي دي. يعنے توفي في سنة اربع ماة و ستين وخمسة" يئے ليکلي وي. او په دے طريقه سره د ۴۸۵هـ نه ۴۶۵هـ جوړ شوے وي.

بهر حال چه په ۴۸۵هـ کښې د حضرت دا تاګنج بخش وفات کيدل يقيني او منلے شي نو په دے اعتبار سره هغه روايت يقيناً غلط دے. په کوم کښې چه د دوئ عمر او يا کله ښودلے شوے دے. ځکه چه په دے حساب د دوئ عمر پنځه اتيا څلور نيمے شلے کاله

جوړیږي. او ډیره ممکنه ده چه د نور تحقیق نه روستو د دوئ عمر د دے نه هم زیات ثابت شي.

د فیض او برکت آستانه

د حضرت دا تاګنج بخش سید، مخدوم، شیخ "علي" الهجویري، جلابي، عزنوي لاهوري علیه الرحمة ذات بابرکات په اسلامي هندو کښې د اسلام د سر لوړئ. روحاني عظمت او "روحاني تړون"

یو عظیم الشانن مظهر او مرکز ګنړلے شي. د دوئ د فیض او برکت نه ډکه استانه هغه عظیم الشانه آستانه ده. چه حضرت سلطان الهند خواجه معین الدین حسن چشتي اجمیري د دوئ د درګاه نه فیض حاصل کړ. نو په ډیر نیاز سره یئې عرض اوکړ:

ګنج بخش فیض عام مظہر نور خدا
ناقصاں را پیر کامل کاملاں رارہنما

او نن د دغه بزرګ او کامل روحاني پیشواله برکته په هغه ښهر چرته چه د دوئ مزار پرانوار دے. د دنیا د یو لوی اسلامي حکومت د پاکستان اسلامي بیرغ ولاړ دے. نو د داسے مبارکے هستئ په حقله دا تاریخي او معلوماتي څیړنه (تحقیق) م په دے غرض ضروري اوګنړله چه ځمونږه د بر صغیر پاک او هند د دے "روحاني محسن" د صحیح حالاتو نه که مونږه نا خبره پاتے شو. نو دا به ښه خبره نه وي. بیا خصوصاً په داسے حالاتو کښې چه په بغیر د څه تمیز نه د ټول پاکستان بلکه د ټول عالم اسلام هر یو فرد

د دوئ سره عقيدت لري نيکي او احسان يئے منـي. او د دوئ مبارک تعليمات د خپل ژوند د پاره راهنما اصول ګنړي.

د حضرت دا تاګنج بخش عليه الرحمة د ذات ګرامي صفات سره مونږه پاکستانے ملت چه په خصوصيت سره کوم عقيدت لرو. په هغے کښې يوه وجه دا هم ده. چه مونږه د "عالمګير اسلامي وځدت" او "اسلامي اتحاد" په نظريه باند د مملکت پاکستان بنياد ايښے دے. او چه د حضرت دا تاګنج بخش د استاذانو او مشائخو په ډير اوګد فهرست باندے نظر واچوؤ. نو صفا څرګنده شي. چه حضرت دا تاګنج بخش د ټول عالم اسلامي د ټولو اسلامي مشاهيرو عالمانو او مشايخونه ظاهري او باطني فيوضات راجمع کړي دي. او د ټول عالم اسلام دغه متحده او لويه روحاني سرمايه او د فيوضاتو خزانے يئے په خپله ځولئ کښې راخيستے ده. لاهور ته يئے راوړے ده. او په قول د حضرت خواجه غريب نواز عليه الرحمة.

> "دغه حضرت شيخ علي الهجويري چه د پاک خدائے د انوارو مظهروے د ټول عالم اسلامي د روحاني فيوضاتو خزانه په مرکزي ښهر لاهور کښې په شاه اوګدا ټولو باندے يو شان ويشي. او بخشش کوے يئے."

د حضرت دا تاګنج بخش علیه الرحمة په ذات ګرامي صفات کښې د ټول عالم اسلامي روحاني فیوضات راجمع کیدل د هغه لوئ او عظیم الشان "روحاني ترون" په طرف څمونږه رهنمایني کوي. چه په کوم څمونږه عقیده او ایمان دے.

د حضرت دا تاګنج بخش علمي فیوضات

حضرت دا تاګنج بخش علیه الرحمة د علم او عمل خانو دوو. ښه اخلاق یئے لرل. د سمے لارے ښودونکے وو. د بني نوع انسان همدرد او رهنما وو. د اسلام داعي او مبلغ وو. د عامو مسلمانانو د رشد او هدایت د پاره یئے ګنړ کتابونه لیکلي دي. چه هغه علاوه د روحاني فیوضاتو او تعلیماتو نه څمونږه د پاره د علمي فویضاتو لویه قیمتي ذخیره او سرمایه ده. تر دے وخته پورے چه د دوئ د کومو تالیفاتو نومونه مونږ ته معلوم شوي دي. هغه دا دي:

(۱) دا اشعارو دیوان چه "وجدان" نوم یئے دے.

(۲) منهاج الدین "د شریعت د احکامو په بیان کښې.

(۳) "کتاب الفتاء والبقاء" د اسلام د ظاهري او باطني علمونو د اسراروپه بیان کښې.

(۴) کتاب الخرق و المؤنات" د اولیائ الله چه کوم کرامات دي د هغے د اسرارو په بیان کښې.

(۵) "کتاب البیان لاهل العیان" د ظاهري شریعت د بنیاد اصولو په بیان کښې.

(۶) "بحرالقلوب" د علم توحید په بیان کښې.

(۷) الرعایة الحقوق الله "د اسلام د معاشي، معاشرتي، مذهبي اصولو په بیان کښې.

(۸) شرح کلام منصورحلاج" د منصور حلاج د نعرهٔ انا الحق په بیان کښې.چه په دے کښې د شریعت په روسره څه خرابي وه. او د هغه وخت عالمانو او مشائیخو چه په هغه باندے د قتل حکم ورکړے وو د هغے د جواز او تائید په حقله د دلائیلو تفصیل.

(۹) "کشف المحجوب" دا کتاب هم تذکره ده. هم ادب او اخلاق دي. هم د ظاهري شریعت احکام دي. او هم د طریقت او معوفت د اسرار و او رموز و بیان دے.

د حضرت دا تاګنج بخش علیه الرحمة دغه ټول تالیفات څه په فارسئ ژبه کښې دي او څه په عربي ژبه کښې دي. چه په دغه ټولو کښې د مضمون او افادیت په لحاظ سره

کشف المحجوب ډیر اهم کتاب دے. ژبه یئے فارسي ده. او په ټولو کتابونو کښې یئے فقط دا کتاب نن ورځے باقي پاتے دے. د دے کتاب اردو ترجمه هم چاپ شوے ده. او د دنیا په نورو ګڼړو ژبو کښې یئے هم ترجمه شوے ده. او دغه شان د برصغیر پاک و هند نه علاوه د دنیا په نورو ګڼړو ملکونو کښې هم چاپ شوے دے.

د تصوف په کتابونو کښې کشف المحجوب ډیر اهم کتاب ګنړلے شي. په دے کتاب کښې:

(الف) د اسلام د بنیيادي عقیدو.

(ب) د صحیح اسلامي معاشرے د بنیادي فرائیضو او ذمه دارو په باب په ډیرو ښکلے. او زړه راکښونکے طریقه سره وضاحت شوے دے. او د ریاکارانو تصوف. او غیر اسلامي ژوند د غلطو طریقو په خلاف ئے جهاد کړے دے. او د اخلاقو د اصلاح او د سیرت او کردار په پاکئ او پاکیزګئ باندے یئې زور ورکړے دے. د فائیدے په لحاظ د "کشف المحجوب" یو څو اقتباسات درج کوؤلے شي.

اولنے ارشاد

د حنفي مذهب علمان په دے خبره اتفاق لري. چه علم او معرفت دواړه یو څیز دے په دے کښې فرق نشته دے.

دوئ (یعنے ځني علمانو) دا خبره هم کړے ده. چه هغوعلم چه ور سره عمل هم وي. او حال هم وي. او د دغه نمونے عالم دا

خپل حالونه څرګند کړي. (خپل راز ونه اووائی) نو دغے ته معرفت وئیلے شي. او د دغه نمونے عالم ته عارف وئیلے شي.

(په دے اعتبار سره د عالم معنی شوه پوهه. پوهیدلے. پوهیدونکے اګاه. او خبردار او د عارف معني شوه پیژندونکے. رسیدونکے یعنے چه په څه پوهه شوے وي. د هغے تل. بیخ جرړے. راز او حقیقت ته رسیدلے وي (اثر))

کوم علم چه د عمل نه جدا وي. (یعنے تشه پوهه وي. او د عمل او امعني) نه خالي وجي. هغے ته علم وئیلے شي.لیکن په عین دغه څالي کښې هغه جاهل او ناپوهه هم دے. ځکه چه هغه دا حقیقت نه دے پیژندلے چه د علم نه اصلي غرض او د علم حقیقي روح فقط "عمل" دے. ځکه چه علم خو یو ذهني کیفیت دے. تر څو چه دغه ذهني کیفیت په خارج کښې په عملي شکل کښې اونه ښودلے شي. د هغے نه څه نتیجه نه ولاړیږي. او نه ترینه څه فائده حاصلیږي "اثر").

او چه کوم سړے د څه څیز معنی او حقیقت ته رسیدلے وي. هغه عارف دے. هم دا وجه ده. چه صوفیان خلق چه څه وخت د خپلو همعصرو نوم اخلي نو "دانشمند" یعنے د عقل او پوهے خاوند ورته وائي. (هوښیار په دے معنی چه دا سړے چه په کوم څیز پوهه شوے دے. د هغے تل ته ئې ځان رسولے دے. د مثال په طور چه په دے پوهه شوے دے. چه اسلام یو داسے لفظ دے. چه د دے

لغوي معنی ده "غاړه کیښودل" او د دے معنی روح دا دے. چه "بنده خدائے دلته ته غاړه کیږدي" نو دا عالم د دے لفظ د دغه لغوي معنی په دغه روح پوهیدلو او د خبرے جرړے ته د رسیدلو سره سم په عملي شکل چه د خدائي احکامو ته غاړه کیږدي. نو دے عارف دے. اثر.)

عام خلق چه د "دانشمند" لفظ واوري. نو په مطلب یئے نۀ پوهیږي. حالانکه (د دے مطلب بالکل صفا دے)د صوفیانو مراد دا وي. چه یو سړے علم حاصل کړی. نو بیا د هغه هښیار تیا او دانشمندي دا ده. چه هغه علم د ځان نه جدا نه کړي.

(یعنے علم خو یو نور دے. پکار ده چه دے پرے خپله بانده خپل ځان او زړۀ روښانه کړي. او د هغه ساده سړي په شان کار او نه کړي. چه ډیوه. تیل. باتیئ. ماچس د اور) هر څه ورکړه موجود وي. لیکن سره د دغے په تیاره کښې ناست وي. اثر)

د دے خبرو خلاصه مطلب دا شه. چه عالم پخپله ځان او خپل ذات پورے تړلے وي. او عارف پخپل الله پورے تړلے وي.

دوئم نصیحت

د درے قسمه بنیاد مونه ځان ساتئ:.

(الف) د غافله عالمانو نه.

(ب) د مستو فقیرانو نه.

(ج) د جاهلو صوفیانو نه.

دریم نصیحت

څلور څیزه دي. چه د هغے د غلام کیدلونه خپل ځان بچ ساتل پکار دي چه هغه دا دي:

(۱) حرص (۲) طمع (۳) ریا
(۴) خواهشات

یاد لرئ.

(الف) "حرص" که په بادشاه غالب شي. نو ظالم یئے کړي. بیا ظلمونه راواخلي.

(ب) "طمع" که په عالمانو کښې پیداشي. نو فاسقان یئے کړي. فسق فجور پکښې پیدا شي.

(ج) "ریا" که په زاهدانو، پیرانو، فقیرانو کښې پیدا شي. نو په نقاق او منافقت کښې یئے مبتلا کړي.

(د) "نفساني خواهشات" چه په چا باندې غالب شي. نو په رقص او سرور او عيش او عشرت کښې يئې مبتلا کړي.

څلورم ارشاد

تصوف د نيکو اخلاقو نوم دے. او غوره کار او ښه خوئ خصلت دا دے چه بنده په هر حال او احوال کښې په يو خدائي باندې تکيه اوساتي. او هم د يو الله تعالى زات د خپل هر څه د پاره کافي وګنړي.

پنځم ارشاد

تصوف (فقيري، درويشي، او بزرګي) په جامه او لباس پورے اړه (انحصار) نه لري. بلکه په عمل پورے موقفتيا لري. د خدائي نيک بندګان په عمل پيژندلے شي. جاموته يئې نه شي کتلے.

شپږم ارشاد

څوک چه د عقل په بلند او ښودنه عمل کوي. هغه ايمان بيا مومي او څوک چه د هوا اوهوس بندګي شروع کړي. هغه په کفر او ګمراهۍ کښې مبتلا شي.

اووم ارشاد

(ياد لرئ!) لس څيزونه د لسو څيزونو خوراک دے.

(۱) "توبه" دا یو داسې څیز دی چه د الګیري او "ګناه" خوري.

(۲) "چغلي"دا یو داسې څیز دی چه د الګیري او "عمل" خوري.

(۳) "غم" دا یو داسې څیز دی چه د الګیري او "عمر" خوري.

(۴) "صدقه" دا یو داسې څیز دی چه د الګیري او "بلا" خوري.

(۵) "غصه" دا یو داسې څیز دی چه د الګیري او "عقل" خوري.

(۶) "پښیماني" دا یو داسې څیز دی چه د الګیري او "سخاوت" خوري.

(۷) "تکبر" دا یو داسې څیز دی چه د الګیري او "علم" خوري.

(۸) "نیکي" دا یو داسې څیز دی چه د الګیري او "بدي" خوري.

(۹) "دروغ" دا یو داسې څیز دی چه د الګیري او "رزق" خوري.

(۱۰) "ظلم" دا یو داسې څیز دی چه د الګیري او "عدل" خوري.

(په دی وجه د دی لسو ناکاره اخلاق نه ځان ساتل پکار دي. چه په دی کښې د دین او دنیا دواړو فائده ده. "اثر")

اتم ارشاد

"علمونه" ډیر دي. او د بنیادم عمر لږ دے. په دے وجه د ټولو علمونو زده کړه په بنیادم فرض نه ده. البته د دومره علم زدکړه په بنیادم فرض ده. چه په هغے یئے عمل برابر شي.

نهم ارشاد

د نفس مثال د شیطان دے. په دے وجه د نفس د خواهشاتو مخالفت کؤل یو داسے څیز دے چه دغه په حقیقت کښې د ټولو عبادتونو جرړه ده. او د ټولو ریاضتونو او مجاهدو کمال دے.

لسم ارشاد

صوفي (یعنے اصلي پیر او بزرګ) هغه سړے دے. چه د هغه ګفتار او کردار (یعنے د خلے وینا او عمل دواړه یو شان وي. او خپل اخلاق یئے په شرعه باندے درست کړي وي. په شرعه برابر وي

یوؤلسم ارشاد

بوډګانو له پکار دي. چه د نوجوانانو لحاظ اوساتي. ځکه چه کم عمرۍ په وجه د دے بوډاګانو په مقابله کښې د دغه نوجوانانو ګناهونه کم وي.

او نوجوانانو له په کار دي. چه د بوډاګانو او سپین ږیرو ادب او عزت او

کړي. ځکه چه دغه مشران د دے نوجوانانو په مقابله کښې زيات تقوی دار وي. عبادت کوؤنکي او تجربه کار وي.

دولسم ارشاد

دولت يو عزاب دے. ليکن د دے په ذريعه چه د غريبانانو، مسيکنانو او يتيمانو وغيره سره امداد او کړلے شي. نو دغه د آخرت د پاره نيکه توښه ده.

ديارلسم ارشاد

د بنيادم د پاره د ټولونه زيات مشکل کار د الله عالی پيژندل دي.

څوارلسم ارشاد

کومو بزرګانو ته چه عارف وئيلے شي. هغه لازما عالم وي. عرفان په غير د عالم ځنے نه نه حاصليږي. ليکن دا ضروري نه ده. چه څوک عالم وي هغه دي عارف هم وي (يعنے د عرفان مرتبه په علم پسے دوئمه مرتبه ده. لکه چه د يو عارف د پاره دا ضروري ده. چه دے به خامخا اول علم حاصلوي. دغه شان پکار ده. چه يو عالم هم د علم حاصلولونه روستو کوشش اوکړي. چه د معرفت لوړه مرتبه حاصل کړی. او په صحيح معنی کښې عالم شي. اثر)

پنځلسم ارشاد

رضا په دوه قسمه ده. یوه د خدایی پاک رضا د بنده نه. او بله د بنده رضا د خپل خدائی نه. بنده چه د خپل خدایئ نه رضا شي د هغې نښه دا ده. چه یادے د خپل خدایئ په حکم او فرمان قائم پاتے وي. او د خپل خدائ د حکمونو ځنے ګردن پیچي نه کوي. (په دغه حالت کښې بیا خدایئ هم د ده نه رضا شي او د زیات نه زیات نیکئ توفیق ورکړي.)

شپارسم ارشاد

غني نوم خاص د خدایی سره لایق دے (په حقیقت کښې غني هم یو خدایی دے.) بندګان د دے نوم مستحق نه شي کیدلے. او د فقر نوم د خلقو سره ښائي. دا فقر یو داسے نوم دے. چه د دے نسبت الله تعالی ته نه شي کیدلے. که خدایئ پاک پخپله مهربانی کرم یو بنده په غني توب سر فراز کړي. نو دا د دغه بنده د پاره یو نعمت دے. مګر په دے نعمت کښې غفلت (یعنے شومتیا او د خدائ په لار کښې خرڅ نه کؤل د خدایئ حقونه پوره نه ادا کؤل) داسے مثال لري لکه یو فقیر چه حرصناک شي.

اولسم ارشاد

د خپلو استاذانو د حق ادا کولو خیال اوساتئ پام کوئ چه د استاد حق درنه ضاءع نه شي. او ناراضه یئے نه کړئ.

حضرت مدیح بابا علیه الرحمة

یوسزایئے، سړبني ۴۰۰هـ

په وادئ پیښور کښې د زمانے په لحاظ سره چه کوم پخواني بزرګان تیر شوي دي. په هغئ کښې د تولو نه پخوانے مشر. او د اوچتے عرفاني مرتبے خاوند مشهور بزرګ حضرت شیخ المشاءیخ مدیح بابا علیه الرحمة دے.

د پښتنو د عالم الانساب په کتابونو کښې چه د ده کومه شجره د نسب درج ده. هغه داسے ده:

مدیح ولد ابا ولد بابو ولد اکو ولد یوسف ولد مند ولد خشے ولد کند ولد سړبن ولد قیس (عبدالرشید)

د علم اصول تاریخ په رنړا کښې د یوے صدئ د پاره څلور کسان یا درے کسان یا درے کسان حسابیږي. هر کله چه د پښتون قوم د مشرانو اوسط عمرونه زیات دي. د هر یو مشر نیکه به تقریباً سل شپږ شلے کاله عمر وو. بله دا چه د دوئ ژوند هم ابتدائي قبائیلي ژوند وو. یعنے دوئ به عام طور ودونه د دیرش څلویښت کالو په پوخ عمر کښې کوؤل. په دے بنائ باندے چه دیته فکر اوکړو. چه د پښتنو مورث اعلی

قيس (عبدالرشيد) د حضرت رسول مقبول محمد مصطفے صلي الله عليه وسلم صحابي دے. او زما نه يئې د ۹هـ نه شروع کيږي. او حضرت مديح بابا دهغه په لسمه پيړۍ کښې نمسے دے. نو د دے نه د "مديح" بابا د زمانے معلومولو خبره اسانيږي. چه د تاريخ په لحاظ سره دے د ۲۵۰-۳۴۰هـ د خواؤ شا زمانے بزرگ دے.

د عالم اصول تاريخ يوه بله مسئله دا ده. چه که د يو سړي خپله زمانه معلومه نه وي. نو د هغه دنورو همعصرو د زمانے په قياس سره د ده زمانه معلومليدلے شي. د دے مسئلے په رنړا کښې چه فکر او کړو نو حضرت مديح بابا عليه الرحمة او حضرت سيد علي الهجويري داتاګنج بخش عليه الرحمة دواړه د يوے زمانے دي. ځکه چه څرنګ مديح بابا عليه الرحمة په لسمه پيړۍ کښې د رسول پاک صلي عليه وسلم د يو صحابي (قيس عبدالرشيد) نمسے دے. دغه شان حضرت دا تاګنج بخش عليه الرحمة هم په لسمه پيړۍ کښې د رسول پاک صلي الله عليه وسلم نمسے دے. او هر کله چه حضرت دا تاګنج بخش په اختلاف د اقوالو په ۳۹۵هـ يا ۴۰۰هـ کښې پيدا شوے دے. او په ۴۸۵هـ پورے ټوله پنځه ديرش کاله وه. د برصغير پاک او هند په غزاګانو کښې چه د ده سره د مختلفو پښتنو قبائيلو، قبائيلی سرداران، او مشران سره د خپلو قبائيلي لښکرو شامل شوي وو. د هغوئ نومونه دا دي.

(۱) ملک خانو (۲) ملک عامون (۳) ملک داؤد (۴) ملک يحي (۵) ملک احمد (۶) ملک محمود (۷) ملک محمد (۸) ملک عارف (۹) ملک غازي

(په دوئ کښې ملک غازي هغه بزرګ دے. چه د پير خوشحال په نوم مشهور دے. او د سلطان محمود غزنوي په ملګرتيا کښې د سوات په غزا کښې شهيد شوے دے)

دا ملکان د خپلو خپلو قبائيلي لښکرو سره په خصوصيت سره د سومنات د فتح په جنګ کښې د سلطان محمود غزنوي سره ملګري وو.په دے سلسله کښې د پښتنو مورخانو يو روايت دا هم دے چه پورته د پښتنو کوم نهه کسان قبائيلي سرداران ياد شول دوئ يو کم ديرش کاله د سلطان محمود غزنوي سره په جهادونو کښې شامل وو. د دے مطلب دا شه. چه پورته د کوموپښتنو مشرانو نومونه يادشول. دوئ د خپلو خپلو قامونو او قبيلو د قومي لښکرو او بيرغونو سره په ۳۹۲هـ کښې د سلطان محمود غزنوي د حکومت په شپږم کال د غزا د پاره راوتلي وو. او په وادئ پيښور باندے چه کومه اولنۍ غزا شوے وه. دوئ په هغے کښې شامل وو.

د حضرت اخوندرويزه يو روايت داسے دے. چه هر کله د سلطان محمود غزنوي سره د پښتنو غازيانو لښکرے راروانے شولے. نو په دغه غازيانو کښې يو دوه روحاني بزرګان هم وو. چه د يو "مدے" (مديح) نوم

وو. د دلته دا يادلول پکار دي. چه اوس هم پښتانه په خپل مخصوصه اصطلاح او لهجه کښې د دے بزرګ نوم "مديح" نۀ وائي. بلکه "مدے بابا" ورته وائي.) او د دوئم بزرګ نوم "مدد" وو. او د هغوئ د کرامت او ولايت په برکت هر ځائ غازيانو ته فتح او برے حاصليدلو چنانچه د دے پورتنو تاريخ معلوماتو او روايتونونه هم د مديح (مدے) بابا په زمانه متعين کولو کښې آسانتيا په لاس راځي.

د دے معلوماتو او واقعاتو په بناء سره حضرت مديح بابا عله الرحمة.

(الف) په قام باندے يو سفزايئے دے.

(ب) بيا په يوسفزو کښې "اکوزے" دے.

(ج) بيا په اکوزو کښې "بابوزے" دے.

(د) بيا په بابوزو کښې "اباخيل" دے.

او په ۳۹۲هـ کښې د غازيانو د لښکرو سره د قندهار دارغستان نومے علاقے نه په خصوصيت سره د يوسفزي قبيلے د غازيانو سره دے ملک ته راغلے دے. او د وادئ پيښور علاقے چه د دغه غازيانو په لاس فتح شوے دي. نو بيا هم دلته پاتے شوے دے.

فائده

په تاريخي اعتبار سره پښتانه قبائل وادئ پيښور ته په درے مختلفو زمانو کښې راغلي دي. چه په اختصار سره ورته اشاره کؤول مناسب معلوميږي.

الف: يو ځل لکه چه ذکر اوشه. د دغه په اول ګزار په ۳۹۲هـ کښې د سلطان محمود غزنوي عليه الرحمة په ملګرتيا کښې د جهاد د پاره د دوئ راتلل دي.

ب: دوئم ځل هر کله چه په ۶۰۰هـ کښې سلطان شهاب الدين غوري المعورف په معزالدين محمد بن سام غوري عليه الرحمة د هندوستان د دوئيمے کاميابے حملے نه را واپس شه. نو د تاريخ صولت افغاني (صفحه۳۱۵) د بيان مطابق د دهٔ په لښکر کښې چه کوم يو لکهـ دولس زره کسان پښتانه غازيان وو. هغه يئے په (۱) کوهستان روه (۲) کوه سليمان (۳) اشنغر (۴) سوات او باجوړ کښې آباد کړل. په دے خلقو کښې هغهٔ کورنئ چه په قام مداخيل يوسفزي وو. د سمه او باجوړ په علاقه آباد شول. د دلازاک قبيلے خلق هم په دے نيټه دلته راغلے دے.

ج: دريم ځل د پښتنو قبائلو هغه نقل و حمل دے. چه د ارغستان نه د قلات، غزني، کابل، پاپين

باسول په لاره د شيخ ملي او ملک احمد په مشرئي کښې په ۸۱۰هـ کښې په خصوصيت سره د يوسفزي قبيلے خلق وادئ پيښور ته راغلے وو.

د دے وضاحتونو په رنړا کښې هر کله چه په تاريخي اعتبار سره حضرت مديح بابا عليه الرحمة د غازيانو د وړانديني لښکر سره دے ملک ته راغلے دے. نو ځکه مونږه دا اووئيل چه وادئ پيښورته د غازيانو د نورو هر څومره لښکرو سره چه نور هر څومره مشاهير بزرګان راغلي دي. په هغوي کښې دے پخواني بزرګ دے.

د حضرت مديح بابا عليه الرحمة اولاد ته مداخيل وائي. پيران هم ورته وائي. د مغولي حکومت په زمانه کښې چه د يوسفزي قوم ټول مردم شماری حساب شوے وه. نو په هغے کښې يواځے مداخيل د ټول يو سفزي شپږمه حصه وو. د مداخيل قبيلے خلق په سمه سوات. بنير. اباسيندهـ کوهستان او باجوړ علاقو کښې خواره پراته دي. او ښه آباد دي.

د مديح بابا په اولاد کښې پير ګل محمد نومے يو بزرګ تير شوے دے. چه د شهنشاه دهلي جلال الدين اکبر هم عصر وو. او د ۱۰۰۰هـ په خواؤ شا کښې ژوندے وو. روايت دے چه د ضلع مردان مرکزي مقام مردان نومے کلے ده آباد کړے دے. دے خاندان ته پيران او پير خيل وائي. لوئي

لوئي بزرګان پکښې تير شوي دي. د نن ورځے نه شپږ شلے کاله وړاندے په ۱۳۲۳هـ کښې پير "عرب شاه" او پير ضامن شاه پکښې مشهور بزرګان تير شوي دي.

حضرت مديح بابا عليه الرحمة څرنګ چه د يوسفزي پښتنو د يوے لوئي قبيلے مداخيل، پيرانو، مورث اعلی دے. او په دغه وجه ډير بختور انسان دے. دغه شان يو ډير لوئي روحاني پيشوا روحاني رهنما او ولي الله هم دے. او په سلسله عاليه جنيد نه او "حسنيه" کښې د حضرت شيخ المشاءيخ مودود چشتي مريد وو.

احمد ابدال چشتي

په چشتيه طريقه کښې د حضرت مودود چشتي په نوم باندے دوه بزرګان تير شوي دي. يو هغه مودود چشتي دے. چه د حضرت غورث الاعظم د ستګير شيخ عبدالقادر جيلاني همعصر وو. او د ۵۵۰هـ پخوانو پيرانو کښې د ۴۰۰هـ په خواؤ شا زمانه کښې د خراسان په حشت نومے علاقه کښې يو بل بزرګ تير شوے دے. چه د هغه نوم احمد مودود چشتي دے. او "مودود" يئے روحاني لقب دے. (ود په عربي ژبه کښې محبت ته وائ. معني هغه سړے چه خدائ او رسول ورسره مينه فرمائيلے ده. بزرګي او ولايت ئے ورکړے دے) او د "چشت" نومے علاقے په نسبت سره ورته چشتي وائي.

د دے حضرت احمد ابدال مودود چشتي اول طریقه هم لکه د هغه زمانے د نورو بزرګانو جنیدیه طریقه وه (چه حضرت شیخ جنید بغدادي علیه الرحمة ته منسوبه ده) او حضرت مدیح د مدے بابا هم د طریقت په دغه پخوانو سلسلو کښې د حضرت مودود چشتي اول مرید وو. او د تصوف او عرفان په سلسله کښې پخپله زمانه کښې قطب تیر شوے دے. او د قطبیت د مرتبے انوار او فیوضات یئے اوس هم څرګند دي.

د حضرت مدیح بابا علیه الرحمة مزار مبارک په ضلع مردان. تحصیل مردان کښې د "جلاله" نومے کلي سره نزدے دے. او زیارت ګاه د خاص او عام دے. تصرفات او فیوضات یئے ښکاره دي. او د خدائي مخلوق ته ترینه ډیر لوئ فیض رسیدلے دے او رسیږي.

شیخ ابو بکر صالح علیه الرحمة

د حضرت مدیح بابا ځنے کرامات ډیر مشهور دي. دوئ په ولاد کښې پرله پسے تر دولسم پشته پورے ډیر لوئي لوئي مشاهیر بزرګان تیر شوي دي. چه په خپل خپل وخت یئے د دے وطن د مسلمانانو روحاني رهنمایني او دیني خدمتونه کړي دي. د حضرت مدیح بابا علیه الرحمة په دغه دولسو بزرګانو نمسو کښې یو بزرګ چه هغه په پنځم پشت کښې د حضرت مدیح بابا علیه الرحمة نمسے وو. و د هغه شیخ ابوبکر صالح علیه الرحمة نوم وو. دے د حضرت سید نا شیخ میران محي الدین عبدالقادر جیلاني

عليه الرحمة مريد وو. او روستو د مردان په علاقه په يوه غزا کښې شهيد شوے دے.

که فکر اوکړو د حضرت مديح بابا عليه الرحمة د ټولونه لوئي کرامت دا دے چه د ده په روحاني مشرئي کښې د غازيانو لښکرو د اسلام بيرغ تر دے علاقو پورے رارسؤلے دے. او د دوئ له برکته دا وطن نن هم د اسلام په رڼرا روښانه دے. عليهم الرحمة و الغفران.

حضرت شیخ الاسلام شیخ اتو

شوریاني، خویشکي

قصور، سهرور دي ۵۵۱هـ

یاګیرنه:

حضرت سید عطاء الله المعروف په شیخ اتوپه قام بختیاري سید دے. شجره یئے داسے ده. سید باقرا الملقب په عطاء الله المعروف په شیخ اتو ابن محمد المقلب په بختیار ابن سید ابي سعید اسحاق ابن جعفر ابن نظام ابن عیسي ابن محي الدین ابن محمد ابن حافظ ابن نور ابن سید جمال ابن امو علي جعفر ابن یادګار علي ابن نشان علي ابن علي زین العابدین ابن سید الشهداء امام حسین رضي الله عنهم اجمعین.

دا توزي شاخ سیدان په آتوزي او اټو خیل نومونو یادیږي روستو د غرغشتي قوم. د زیلي شاخ خویشکي سره وصل شویدي. په دغه وجه په اتوزي شیراني خویشکي نامه یاد شول. د تفصیل د پاره ملاحظه کړء. څمونږه بل کتاب سادات افاغنه. (عبدالحلیم اثر)

حضرت شیخ الا سلام شیخ اتـو شوريـانـي

قـصوري، سهرو دي

زرداد خان نـاغر، غورغشتي پـه خپل تـالـيف صولـت افـغانـي صفحه نـمبر۶۳۹ كښې د نـعمت الـلـه خان هروي د تـالـيف "مخزن افـغانـي" او د يـو بـل نـايـاب تـاريـخي كـتـاب "تـذكـيرالاخوان و تـقويـة الا يـمان" پـه حوالـه بـانـدې او ښاغلي شيخ محمد اكـرام پـخپل تـارلـيف "رود كـوثـر" صفحه نـمبر۳۵۹ كښې د شيخ عبدالـقادر خويـشكي قـصوري د تـالـيف "اخبـار الاولـيـاء من لـسان الا صفـيـاء" پـه حوالـه بـانـدې لـيكي چه:

د پـنجاب پـه قـصور نـومې ښهر كښې چه كـوم خويـشكي پـښتـانـه آبـاد دي. او ددلـتـه چه پـه دې قـام كښې څومره بـزرګـان. اولـيـاء الـلـه او مشهور مشائـخ تـير شوي دي. د دوئ مورث اعلـیٰ پـير كـبـا (يـعنـې "لـوئـي پـير" شيخ "دتـو" علـيـه الـرحمة وو. د خپل وطن نـه راروان شه. خراسان تـه لاړ. پـه چشت نـومې ځاى كښې ئـې د حضرت خواجه مودود چشتـي (ثـانـي) علـيـه الـرحمة نـه لاس نـيـوه اوكړه. او د خپل پـير پـه خدمت كښې د ډيـرې مودې تـيره ولـو او د كـمال درجې حاصلـولـو نـه روستـو بـيـا واپـس خپل وطن تـه راغې. دلـتـه يـئې د خدائـي مخلـوق تـه د حق ديـن اسلام

تبليغ او هدايت كولو. چه اخر په ۵۵۱هـ مطابق ۱۱۵۵ء كښې په پيښور (سرحد) كښې په حق اورسيده.

پورته چه د كومو دوه وو مؤلفانو تاريخي حوالے درج شوے. په دغے كښې دوئ د دے نامور بزرگ نوم شيخ دتو ضبط كړے دے. ليكن په كتاب "مجمع الانساب" تاليف د ميا محمد نور ولد ميا محمد قاسم ولد حضرت حاجي عبدالله المعروف حاجي بهادر كوهاټي كښې دا نوم شيخ "اتو" ضبط شوے دے. او چه فكر اوكړو. نو د مجمع الانساب دا روايت صحيح معلوميږي. د دے وجه دا ده چه پښتانه په نسل باندے بني اسرائيل دي. او په دغه لحاظ د دوئ د نيكونو پخوانيئ ژبه عبراني وه. په عبراني ژبه كښې د حروف (غ) په ځاي د حروف (الف) تلفظ كولے شي. او د حروف (ط) په ځاي د حروف (ت) تلفظ كولے شي. (او په بعض لهجو كښې حروف الف په واو بدلولو لے شي.) په دے اعتبار سره لفظ (اتو) د لفظ (عطا) آړولے شكل دے. چنانچه تر نن ورځے پورے پښتانه هم د دغے خپلے زړے عبراني ژبے دريشے مطابق د لفظ عطا تلفظ په "اتو" سره كوي. هر كله چه د دے حضرت "شيخ الاسلام" خپل اصلي پوره نوم عطاء الله وو. او روستو د پوره نوم په ځائے په "شيخ عطا سره بللے شه. نو دهغے نه پس د پښتو ژبے د لهجے مطابق په "شيخ اتو" سره ياد شوے دے. د دغے نه علاوه چه د دے شيخ اتو د ځامنو په نومونو غور اوشي. نو د هغے نه په قياس سره دا نتيجه

په لاس راځي. چه د دهٔ اصلي نوم عطاء الله وو.

د مهشور مؤرخ محمد افضل خان ابن اشرف خان ابن خان خوشحال خان خټک په کتاب "تاريخ مرصع" (قلمي نسخه د پبلک لاءبريري پنجاب صفحه نمبر۴۶۵) کښې د ابي سعيد المعروف بختيار پنځه ځامن ياد شوي دي (۱) اتو (۲) اکو (۳) کرني (۴) پيري (۵) توري. په دےپنځه واړو کښې د اتو په حقله د تاريخ مرصع خپل وضاحت داسے دے.

اتوغه عطاء الله دے. ليکن په قبيله کښې يئے د شيراني شهرت په اتو بيا مونده. له اتو سيد محمد پيدا شه. له سيد محمد خواجه الياس اوله خواجه الياس "يحی کبير پيدا شه. او له يحي کبير شيخ نرے...."

د تاريخ مرصع د دے وضاحت نه روستو په دے کښې څه شک نه پاتے کيږي چه د مجمع الانساب بيان صحيح دے. د دے شيخ نوم اتو دے چه د عطا بدل شوے شکل دے او پوره نوم يئے عطاء الله دے. او کومو مؤورخانو چه دا نوم شيخ "دتو" ضبط کړے دے. د غه صحيح نه دے. هر کله چه د شيخ د تو د لفظ هيڅ يو تعبير هم سمون نه شه خوړلے په دے وجه دا ضروري وضاحت او تحقيقي بحث دلته راوړلے شه. او هم د دے په رنړا کښې مونږه د دے بزرگ دغه مشهور نوم "شيخ اتو" دلته درج کړے دے.

په تاريخ "صولت افغاني" کښې د دے شيخ اتو عليه الرحمة حالات په دے الفاظ بيان شوي دي:

ذکر د هغه معرفت د ستګاه. هغه مظهر د اسماء صفات الهي. هغه غريق د بحر فناء. هغه سياح د صحرائيے تحقيقي. هغه قابل او مقبول د التفات يزداني. شيخ اتو شورياني. خويشکي عليه الرحمة ... دے. شيخ اتو عليه الرحمة ديرش کاله د خپل پير طريقت حضرت مودود چشتي په خدمت کښې تير کړل. په آخر عمر کښې ورله خپل پير خپل خاص خلعت او خرقه د خلافت ورکړله. او د رشد او هدايت اجازت او حکم يئے ورته اوکړ. مهرباني يئے ورسره اوکړه. او قصور ته د تللو اجازت يئے ورته وکړلو. ليکن دے د خپل پير د وفات نه روست پنځه کاله نور هم هلته پاتے شه. او پوره پنځه ديرش کاله پس د خويشکي قبيلے د نورو

کېږو سره راروان شول.
او پېښور (سرحد) ته ئې
تشريف راوړ. د دوئ په
تشريف راوړلو د ملک په
دې حصه کښې د اسلام
رنړا اخوره شوله."

د حضرت "شيخ اتو" کرامات له حده ډېر دي. او د خدائې پاک ډېر زيات مخلوق نه ترينه فائده رسيدلې ده. او نن هم رسيږي. د دوئ په همعصرو بزرګانو کښې د دې مشاهيرو مشائخو نومونه د يادو لودي.

(۱) شيخ ابراهيم دانشمند ارمړ د وزيرستان.

(۲) شيخ احمد سخي سرور سلطان د ډيره غازه خان.

(۳) شيخ الاسلام غوث العالم بهاء الدين ذکريا د ملتان.

(چه روستو به د دې درې واړه مشاهيرو مشائيخو تذکره په تفصيل سره راشي) په دې اعتبار سره د مغربي پاکستان په دغه ټولو علاقو يعنې وزيرستان ډيره غازي خان، ملتان او قسور کښې د هغه يو مشعل رنړا وه. چه د قادريه سهروردية. چشتيه سلسلو بزرګانو د بغداد شريف نه دلته راليږلې وه. او د دې رنړا د راليږلو نه ئې لوئي بنيادي او اصلي غرض په دې زمکه د کفر او شرک تياره ورکول وو.

په دےسلسله کښې دا يوه خاصه نکته ياد ساتل پکار دي. چه که حضرت شيخ ابراهيم دانشمندار مړ. او حضرت شيخ اتو خويشکے په قام قريشي عرب وو. او حضرت شيخ احمد سخي سرور سلطان په قام باندے سيد وو. نو دغه څيز او دغه فرق د منځ نه ورک وو. اصلي څيز هغه روحاني فيض وو چه سر چشمه ئے يوه وه. يو "روحاني تړون" وو. او ټولو مسلمانانو ته ايکي يو شان فيض رسيدلو. د دے مشرانو مينه او محبت او شفقت هر څه د اسلام سره وو. او چه د دوئ يو مريد به د محنت. مشقت. زهد او رياضت نه روستو د کمال درجے ته اورسيدلو. نو بيا به يئے هغه ځاے ته او هغه ملک ته ليږلو. چه چرته به د دين اسلام د تبليغ زيات ضرورت وو.

د حضرت شيخ اتو عليه الرحمة شپږ ځامن وو. نو مونه يئې دا دي.

(۱) حضرت شيخ ميان چنو (ثناء الله) چه د ده د نسل خلق د "چنوزائي" په نامه

ياديږي.

(۲) حضرت شيخ ميا عارف الله. چه د ده اولاد ته "عارف زائي" وئيلے شي.

(۳) حضرت شيخ ميا "محمد" چه اولاد يئے "محمد زائي" بللے شي.

(۴) حضرت شيخ ميا "شبابنب" (سهاب الدين) چه اولاد يئے شبابن زائي بللے شي.

(۵) حضرت شیخ میا "محمد ابراهیم" چه اولاد دے "چه اولاد ئے"" ابراهیم زائي"یادیږي.

(۶) حضرت شیخ میا محمد عیسی چه په شیخ عیسو او عیشو مشهور دے او اولاد ئے د "عشوزي" په نامه بللے شي.

حضرت شیخ میا چنو، شوریاني خویشکي

د حضرت شیخ عطاء الله المعروف شیخ اتو علیه الرحمة مشر ځوي حضرت ثناء الله المعروف په شیخ "چنو" او میڼ "چنو" د خپل وخت لوئي بزرګ وو. د دهٔ د نسل خلق د "چنو زائي" په نامه یادیږي د ده د نوم "چنو" په حقله یو روایت دا هم دے. چه لفظ چنو د هغه زمانے (۵۵۱هـ مطابق ۱۱۵۵ء) د پنجاب د مقامي ژبے لغت دے. چه د مینے په طور د لفظ چاند (سپوږمئ) مخفف دے.

څه وخت چه حضرت سید اتو علیه الرحمة وفات شه. نو دهغه په ګدئي باندے حضرت میا چنو علیه الرحمة ګدي نشین شه. او د دین اسلام د تبلیغ او رشد او هدایت خدمت ئے کولو. د لاهور او قصور او خواؤ شا علاقو په مسلمانانو کښې د دوئ ډیر لوئ قدر عزت او احترام وو. د تاریخ صولت افغاني (صفحه ۶۳۵) د ردایت مطابق "میا چنو" د ډیر لوئے روحاني درجے خاوند وو.

د لاهور او ملتان په ریلوے لائن باندے د لاهور نه ۱۵۰ میلونو په فاصله. د منټګمرئ نه اته ټیسنه وړاندے. او د

خانیوال نه څلور ټیسنه رادے. خواته یعني د منټکمرئ او خانیوال تر منځه د یو ریلوے سټیشن نوم "میا چنو" دے. چه دغه مقام هم د دے خویشکي بزرګ په نوم مشهور دے. حضرت شیخ میا چنو چشتي سهرود دي قصوري علیه الرحمة د "قصور" نه دغه علاقے ته تلے وو. هلته آباد شوے وو. او هم دغلته د دوئ مزار مبارک واقع دے. علیه الرحمة والغفران.

د حضرت شیخ عطاء الله المعروف شیخ اتو علیه الرحمة په دے خاندان کښې چه په قصور کښې کوم مشهور بزرګان تیر شوي دي. په هغوئ کښې د یو څو بزرګانو نومونه دلته لیکلے شي.

(۱) حضرت شیخ حاجي اویس اتوزائي قصوري چشتي چه په ۱۰۰۹هـ مطابق ۱۵۹۷ء کښې وفات شوے دے او مزار ئے په قصور کښې دے.

(۲) حضرت شیخ سعید اتوزا هے قصوري چشتي چه په ۱۰۲۱هـ مطابق ۱۶۰۹ء کښې وفات شوے دے. او مزار مبارک یئے په قصور کښې دے.

(۳) حضرت شیخ رحمت اتوزائ قصوري چه په ۱۰۲۸هـ مطابق ۱۲۱۲ء کښې وفات شوے دے. او مزار مبارک ئے په قصور کښې دے.

(۴) حضرت مولانا شیخ احمد اتوازئ شوریاني خویشکي. قصوري چه په ۱۰۳۳هـ مطابق ۱۲۲۱ء کښې وفات شوے دے. او مزار مبارک یئے په قصور کښې دے.

په دے پورته ځلوروواړه بزرګانو کښې د حضرت شیخ احمد اتوازئ مختصره تذکره درج کؤول مناسب معلومیږي.

حضرت شیخ احمد اتوازئ قصور

د تذکرۀ "رود کوثر" مؤلف د حضرت مولانا شیخ احمد اتوازئي علیه الرحمة په حالاتو کښې لیکي چه:

حضرت مولانا شیخ احمد د قصور د خویشکي قام په پښتنو بزرګانو کښې ټولونه زیات نامور بزرګ تیر شے دے. دے هم د پیر کبار حضرت شیخ اتو علیه الرحمة په اولاد کښې وو. ظاهري او باطني علمونو تکمیل یئے په لاهور ښهر کښې د حضرت شیخ اسحاق ابن حضرت "شاه کاکو" چشتي لاهوري ته کړے وو. چه دغه شیخ اسحاق د شهنشاه جلال الدین اکبر په زمانه کښې د ملک په ممتازو عالمانو کښې شمیرلے شه. (د حوالے دپاره ملاحظه کړئ د ملا عبدالقادر بدایوني کتاب "منتخب التواریخ")

حضرت شیخ احمد قصوري پخپل قوم کښې اولنے بزرګ وو. چه د دوئ د باطني کمالاتو سره ظاهري علمونه جمع کړي وو. په زهد او ریاضت کښې یئے خپل نظر او مثال نه لرلو.

او ورسره په علم او فضل کښې هم د دوئ آوازه تر لرے لرے پورے رسيدلے وه. د ده په همعصرو بزرګانو کښې د دے ځوبزرګانو نومونه د يادولو دي.

(۱) حضرت شيخ احمد سرهندي مجدد الف ثاني عليه الرحمة.

(۲) حضرت شيخ احمد سون غورغشتي د جالندهر. عليه الرحمة.

(۳) حضرت شيخ عبدالحق محدث ددهلوي عليه الرحمة.

(۴) حضرت شيخ عيسى برهانپوري سندهي. عليه الرحمة.

دے څلورو واړو بزرګانو به د ده ډير زيات قدر او احترام کؤلو. بلکه يو بل مشهور صوفي بزرګ او فاضل عالم حضرت شيخ عبداللطيف برهانپوري خو دا هم فرمائيل. چه ما پخپل عمر کښې داسے عالمان چه په علوم ظاهري او باطني دواړو کښې يو شان کاملان وي. فقط دره کسان ليدلي دي. يو شيخ عبدالوهاب مرضيعي. او دوئم شيخ احمد اتوازئ قصوری، خويشکي، چنانچه د قصور د خواؤ شا علاقے نه به چه که څوک سړے د طريقے کؤلو او فيض حاصلولو د پاره برهان پور ته مولانا عبداللطيف له ورغے. نو هغه به يئے بيرته قصور ته واپس ليږلو او هغه ته به يئے فرمائيل چه هر کله په قصور کښې داسے د فيض چينه موجوده ده. نو ته د هغے نه خپله تنده ولے نه ماتوے؟

حضرت شيخ احمد اتو زايئے ډير لوئي عالم وو. زيات وخت به ئے خلقو ته د علم دين په درس او تدريس کؤولو کښې تيريده. "سوالات احمدي" نومے يو تاليف ئے يادګار پاتے دے. عليه الرحمة والغفران.

حاجي لګن اتوازئي، قصوري، خويشکي

په دے خاندان کښې يو بل بزرګ حضرت شيخ حاجي لګن اتوزائي شورياني خويشکي قصوري تير شوے دے. چه اوه حجونه يئے کري وو. ډير لوئي زاهد پرهيزګار او مشهور بزرګ وو. د حضرت شيخ عيسی مشوانړي نه يئے لاس نيوه کړے وه. په ۱۰۴۶هـ مطابق ۱۶۳۴ء کښې وفات شوے دے. عليه الرحمة.

د قصور پنجاب د خويشکي خاندان پښتانه بزرګان د چشتيه سلسلے بزرګان وو. د مغرفت او طريقت او د علم او فضل د اشاعت او درس او تدريس او فيضان نه علاوه دوئ ډير ادبي خدمات هم کړي دي. او د دغے نه علاوه په دوئ کښې د ډير لوئي جاه و جلال خاوندان مشهور حکمرانان هم تير شوي دي. لکه د مبارزالدوله پير ابراهيم خان خويشکي قصوري نوم پکښې په خاص طور سره د يادولو دے.

د حضرت شيخ عطاء الله المعروف شيخ اتو او د هغه د خاندان د بزرګانو د حالاتو د دے مختصربيان نه ډيره په آسانتياه سره دا اندازه لګيدلے شي. چه د

خویشکي پښتنو د دې نامور بزرګ د تاریخ وفات (۵۵۱هـ مطابق ۱۱۵۵ء) نه راپه دې خوا په تیرو شوؤاتۀ وؤ سوؤ کلونو کښې د مغربي پاکستان د پنجاب په علاقه کښې د دې خاندان بزرګان د دین اسلام او مسلمانانو څومره خدمتونه کړي دي. او دا خبره د خویشکي قبیلے د هغه خلقو د پاره چه د ضلع پیښور په تحصیل نو ښهر کښې آباد دي. ډیره لویه د فخر او عزت خبره ده. او ورسره دا هم ترینه واضحه کیږي. چه د ملک په دې دواړو حصو کښې هم د دوئ په برکت سره چه کوم مضبوط "روحاني تړون" موجود دې انشاء الله چه تر عمره عمره به موجود وي.

حضرت سید نــامیران مـحي الـدیـن
شیخ عبدالـقــادر جیلانـــي ۵۶۲هـــ

شیخ المشائخ، حضرت سیدنا غوث الا عظم، محبوب سبحاني شیخ عبدالقادر جیلاني

(متوفي ۵۶۲ هجري)

د حضرت شیخ المشاءیخ غوث الا عظم، د ستګیر نوم مبارک سید عبدالقادر دے. کنیت یئے ابو محمد دے. او لقبونه یئے بے شمیره دي. لکه غوث صمداي قطب دباني، محبوب سبحاني، غوث الا عظم، میر میران، لوئ پیر، سلطان الاولیاء محي الدین جیلاني.

پښتانه ورته "لوئي ځوان" "پیرانو پیر" او "غوث پاک" وائي. حضرت غوث پاک په قام باندے سید دے. د پلار د طرف نه حسني او د مور د طرف نه حسیني سید دے.

(الف) د پلار د طرف نه شجره د نسب یئے داسے ده، حضرت سیدنا محي الدین عبدالقادر جیلاني ابن الا مام سید ابي صالح موسی جنګي دوست این الامام سید عبدالله ابن الا مام سید عبدالله ابن الامام سید یحي الزاهد ابن الا مام السید محمد ابن الا مام سید

داؤد ابن الامام سيد موسى ابن الامام السيد عبدالله ابن الامام سيد موسى الجنون ابن الامام سيد عبدالله المحض ابن الامام سيد حسين مثنى ابن الامام الهام سيد نا الحسن السبط ابن سيد ناومولنا اميرالمؤمنين ابي الحسنين الامام سيد نا علي ابن ابي طالب رضي الله عنهم اجمعين.

(ب) او د مور بي بي د طرف نه د حضرت سيدنا او مولانا غوث الا عظم سيد شيخ عبدالقادر جيلاني شجره د نسب داسے ده. چه د دوئ د والدے ماجدے نوم دے. سيده امالخيرامة الجبار فاطمة بنت سيد عبدالله صومعي انواهد ابن سيد ابي جمال الدين محمد ابن سيد محمود ابن سيد ابوالعطاء عبدالله ابن الد كمال الدين عيسى ابن الدالامام ابي علائ الدين محمد الجراد ابن سيد الا مام علي رضا ابن سيد الامام موسى كاظم ابن سيد الا مام جعفرالصادق ابن الا مام محمد الباقرابن الا مام زين العابدين علي ابن الا مام الهام الحسين شهيد كر بلا ابن الا مام الهام امير المؤمنين سيد نا علي ابن طالب رضي الله تعالى عنهم اجمعين.

په ایران نومے ملک کښې طبرستان نومے وطن دے. په هغے کښې ګیلان نومےیوه علاقه ده. په دے علاقه کښې نیق نومي کلے دے. په هغے کښې د ساداتو یوه کورنئ اوسیدله. حضرت غوث پاک په دغه بختوره کورنئ کښې په اولنی تاریخ د رمضان المبارک ۴۷۰هـ یا ۴۷۱هـ کښې پیدا شوے دے. هر کله چه د دوئ پیداءش په ګیلان نومے علاقه کښې شوے دے. په دغه مناسبت د دوئ د مبارک نوم سره ګیلاني لیکلے شي (په دے سلسله کښې یو نوي تحقیق طرف ته اشاره کؤول هم مناسب معلومیږي. چه د حضرت رسول اکرم صلي الله علیه وسلم په نیکونو کښې د یو نیکه نوم دے. مضر چه په ۵۵۰ ق م کښې تیر شوے دے. د هغه دوه ځامن وو. (۱) الیاس چه د قریش قبیلے خلق د ده په اولاد کښې دي. (۲) غیلان چه د نبي اسماعیل قوم قیسی نومے قبیله د ده په اولاد کښې ده. د دے غیلان قبیلے خلق په ۲۰۰ ق مکښې د موجوده افغانستان علاقے ته راغلي وو. او د غزني او قندهار تر منځه چه نن ورځے کوم ځائي د "مقر" په نوم یادیږي. دغلته آباد شوي وو. د دے مقرنچوانے نوم غیلان دے چه هم دغه غیلان ابن مضر ته منسوب دے. کیدے شي چه حضرت غوث پاک هم د دے غیلان ګیلان وي. مقرر چه پخوانے نوم یئے غیلان، ګیلان دے. د کابل او قندرهار ترمنځه د غزني په لاره باندے پروت دے. مقر د کابل نه د (۱۵۲) میله. او د غزني نه د (۶۲) میله په فاصله پروت دے. د کابل او غزني تر منځه

(۹۰) میله لار ده بیا د مقر نه تر قندهاره پورې (۱۶۷) میله فاصله ده. مقر د کابل ښهر نه جنوب مغرب طرف ته واقع دې. بهر حال دا یوه داسې خبره ده چه زیاتي تحقیقي به غواړي.)

حضرت سید نا عبدالقادر ګیلاني چه لږ لوئي شه. نو والد بزرګوار ادور ته سبق شروع کړو. اول یئې قرآن مجید اولوست او بیایئې د دیني علمونو ابتدائي واړه واړه کتابونه شروع کړل. په دغه منځ کښې د دوئ پلار وفات شه. او ماشوم عبدالقادر یتیم پاتې شه. خو د غې در یتیم سبق پرې نښوده. او د لسو کالو تر عمره یئې په خپل کلي کښې لوستنه اوکړه. بیایئې د مور بي بي نه اجازت واخستلو. او په سبق پسې بغداد ته روان شه. په دغه زمانه په بغداد باندې د خلیفه المستظهر بالله عباسي (د۴۷۰ هـ نه تر ۵۱۲هـ) د خلافت زمانه وه. او په ایران کښې د سلجوقیانو بادشاهي وه. او په افغانستان او مغربي پاکستان دواړو علاقو باندې د سلطان شهاب الدین غوري حکومت وو. (شهاب الدین غوري په ۵۷۱هـ کښې په ملتان او اوچ باندې بیا قابض شوې وو. او تر ۵۷۸هـ یئې ټول سندهـ قبضه کړې وو.) لیکن په دغه دوران کښې د باطنیه اسماعیلیه فرقې کوم مشر چه د شیخ الجبال په نوم یادیده. او د فدایانو او مریدانو یو داسې ټولې یئې پیدا کړې وو. چه قلعه الموت نومې مقام یئې مرکز وو. او د هغې نه چار چاپیره ملک یئې اړې کړې

وو. د وسله بند لښکرو په شکل چپاؤ نه په يئې وهل. لارې به يئې وهلې او د هغوئ د لاسه قافلې به په امن سره په لارې تيريدې نه شولې. په داسې حالاتو کښې غوث پاک د بغداد په نيت د کورونه په سفر روان شه.

حضرت غوث پاک چه د کوره روانيده. نو مور ورله د واسکټ په ترخونو کښې د ننه اړک ته څلويښت اشرفئ اوګنډلې. او دا نصيحت يئې ورته اوکرو. چه بچيه! تل رښتيا وايه. او چرې دروغ مه وايه. بيا د ډيرو دعاګانو سره يئې خپل يتيم ځوئي د خدائي په نوم د دين په سبق پسې بغداد ته رخصت کړو.

په لاره کښې په قافله باندې ډاکه پريوته. ا د همدان په خوا کښې ټول سوداګران او لوټلې شو. د لوټ مار په منځ کښې يو ډاکو د حضرت غوث پاک رضي الله عنه، نه تپوس اوکړو. چه ستا په واسکټ کښې څه مال شته دې؟ اوکه نه؟ حضرت او فرمائيل. هو! ماسره څلويښت اشرفئ شته دې. ډاکو زريو ملګري ته اواز اوکړو. چه راشه دا ماشوم وائي چه ماسره څلويښت اشرفئ شته. دوئم ډاکو چه ترينه تپوس اوکړو. نو حضرت ورته زر واسکټ کوز کړو. اوپوره څلويښت اشرفئ ترينه را اوختې. نه يوه کمه او نه يوه زياته.

ډاکوانو چه دا قيصئ خپل مشرته بيان کړه. نو هغه حضرت پيران پير رضي الله عنه را اوغوښتلو او ونه يئې تپوس اوکړو.

چه تاولے خپل مال خرګند کړو. او خان دے اوچ په اوچه تاواني کړو.؟

حضرت او فرمائیل چه ما د خپلے خورې مور سره لوظ کړے دے. چه هیچرے به زه دروغ نه وائم. نو ځکه م سم حال اووے چه دروغژن نه شم.

د حضرت غوث پاک دے وینا د ډاکوانو په سردار دومره اثر او کړو. چه په ژړا شو. او ویئے وئیل چه تا یوازے د خپلے مورسره لوظ کړے دے. او په هغے ټینګ ولاړ یئے. او مونږه چه د خدائي پاک سره لوظ کړے دے. چه ظلم زیاتے به نه کوؤ. نو بیاهم هر وخت په حرامو کښې بوخت پراته یو. او د خپل لوظ هیڅ خیال نه ساتو. دا خو ډیره د شرم خبره ده. ځما د نن ورځے نه توبه ده. چه بیا به د ګناه هیڅ کار نه کوؤم. په دے بانډے هغوئي ټولو توبه اویستله. لوټ کړي مالونه یئې سوداګرو ته پستنه کړل. او بیا د پاره یئې د پاکیزه ژوند تیرولو اراده اوکړله.

په بغداد کښې تعلیم:

روایت دے. چه حضرت غوث پاک بغداد شریف ته په کال ۴۷۷ هجري کښې د صفر المظفر په میاشت کښې رسیدلے وو. په دے اعتبار سره بغداد شریف ته دوئ د اولسو یا اتلسو کالو په عمر کښې رارسیدلي دي. که د ګیلان نه د دوئ بغداد ته د روانیدلو صحیح تاریخ معلوم شي. نو دهغے په رنړا

کښې به دا خبره اسانه شي چه دوئ په څومره موده کښې بغداد ته رسیدلي وو. او په لاره کښې په کومو کومو علاقو کښې یئې څومره موده تیره کړې وه.

په بغداد کښې یئې د قاضي القضاة حضرت ابو سعید نه فقهه او لوستله. بیائے د حضرت ابوبکر احمد ابن مظظفر نه احادیث اولوستل. او د افضل العلماء حضرت ابو محمد او د بحرالعلوم ابو سعید روماني یئے تفسیر اولست. او په دې تولو علمونو کښې د هر چا د پاسه شو. اواته کاله پس په میاشت د ذالحجه ۴۹۶هـ کښې د تحصیل علم نه فارغ شه.ا و په خپلو ملګرو کښې د ټولونه اوچته د علمي فضیلت درجه ورته حاصله شوه. عالمان د دوئ په تعریف کښې لیکي چه: "فاق الکل في الکل. وصارمرجع الجمیع في الجمیع" یعنې په تولو علمونو کښې د ټولو نه بره مرتبه ورته حاصله شوه او په ټولو علمونو کښې د ټولو عالمانو مرجع او دراغویدید لو ځائ شولو.

لاس نیوه:

د علم حاصلولو نه پس حضرت غوث پاک د حضرت ابو سعید المبارک محزمي نه لاس نیوه اوکړه. او پنځویشت کاله ئې په بغداد کښې او د عراق په ځنګلونو کښې د ګرانو نه ګرانې مجاد هې او ریاضتونه اوکړل. او په دې سلسله کښې بې شمیره سختئ یئې په ځان تیرې کړې. او د عرفان هغه لوړه مرتبه ورته حاصله شوه. چه د هغې نه په غوث

صمداني او محبوب سبحاني سره تعبير کيږي. او د حضرت شاه ولي الله صاحب د قول مطابق: وله سريان في العالم فصار کالملاء الا علي: ترجمه:حضرت غوث پاک ته په ټول عالم کښې داسے تصرف او نفوذ ورکړے شوے دے. لکه هوا چه چليږي. او په مرتبه د ملا اعلی ګرزولے شوے دے. يعنے په دے اعتبار د دوئ لقب غوث الا عظم دے.

درس:

د لوئي رياضت او ډير محنت نه پس حضرت غوث پاک پستنه بغداد ته لاړو. او د خپل پيرابو سعيد المبارک محزمي په جوړه کړے مدرسه کښې يئے د ديني علمونو درس ورکوؤل شروع کړه. داوړه غوندے مدرسه د باب الازج په محله کښې جوړه وه. په لږو ورځو کښې د حضرت غوث پاک په برکت د طالب علمانو او شيخانو تعداد دومره زيات شو. چه روغه مدرسه پرے تنګه شوه. او ګير چاپير ځايونه په مدرسه کښې شامل کړے شول. دغه توسيع په ۵۲۸هـ کښې شوے وه. او د دغے نه پس دا مدرسه د حضرت شيخ عبدالقادر ګيلاني په نوم مشهوره شوه.

د دے مدرسے په توسيع کښې خلقو د ډير خلوص نه کار اخستے وو. تر دے حده چه يوے ښځے خپل ګلکار خاوند راوست چه په ده باند ځما شل اشرفئ مهر پورے دے. لس دے مدرسے ته ورکړی او نورے لس به ورته اوبه خم. هغه سړي چه په مدرسه کښې د پنځهؤ اشرفو کار اوکړو. نو حضرت ورته نور رقم

معاف کړو. او مهرنامه یئے ورته واپس کړه.

و عظ:

حضرت غوث پاک به په هفته کښې درے ورځے وعظ کؤلو. د جمعے په سحر او د نهي په شپه به ئې په مدرسه کښې وعظ کؤلو. او د شورو (چار شنبے) په سحر به ئے په خپله مهمانخانه کښې نصیحت کؤلو. دا کار د ۵۳هـ نه شروع شوے وو. او تر آخر وخته پورے جاري وو.

د دے نه علاوه د فقهے او اخلاقیاتو درس به ئې هم ورکؤلو. او سحر او ماښام به ئې د تفسیر. حدیث اصول فقهه او د علم نحو سبقونه هم ښودل. او د ما سپخین د نمانځه نه پس په ئے د قرآن مجید درس هم ورکولو د څلورو واړو مذهبونو د فقهے مطابق په یئې فتوی ورکوله. او پخپله د اجتها د مرتبے ته رسیدلے وو. خو په دے څلورو واړو مزهبونو کښې حنبلي مذهب ته زیات مائله وو.

د حضرت غوث پاک دغه آسماني وعظ وو. چه پنځه زره یهودیان او عیساءیان پرے مسلمانان شوي وو. او په لکونو خلقو د بدوکارونو نه توبه اوویستله. او حضرت غوث پاک ته یئے د ذوالبیانین صاحب البرهانین امام الفریقین. امام الطریقین. ذوالسراجین. او ذوالنها جین خطابونه ورکړل.

تسنيفات:

د حضرت شيخ سيد پيران پير صاحب په تصنيفاتو کښې غنية الطالبين او فتوح الغيب او مکتوبات ډير زيات مشهور دي. چې د دغې ترجمې په مختلفو ژبو کښې شوي دي عالمان صوفيان او عوام ټول ترينه فائده اوچتوي. د حضرت پاک يو بل تاليف دے. چه هغه نن ورځې ډير ناياب دے. د هغې نوم دے "سرالاسرار فيما يحتاج اليه الابرار" په دے کتاب کښې د طريقت او عرفان د مسائلو او اصولو ذکر دے. لکه چه پخپله غوث پاک د دے کتاب په ديباچه کښې فرمائي: لانا ذکرنا فيه ما يطلب غالباً في الشريعة والطريقه و الحقيقة و جعلنا مشتملا علي مقدمة وار بعون فصلاً بعد د حروف کلمة: لااله الا الله محمد رسول الله. وعدد ساعات الليل والنهار" د دے مبارک کتاب يوه نسخه څما مؤلف (عبدالحليم اثر) سره موجوده ده.

د دوئ په وعظاو نصيحت کښې ډير لوئ تاثير وو. چه يو ځل هم چا په واوريدلو که په کافروو نو مسلمان به شه. او که به بد عمله مسلمان وو. نيک عمله به شه. د دوئ د وعظ يوه طريقه دا وه چه يوسړي ته به يئے براه راست محتاطبه نه فرمائيله که يوسړے به د وعظ په مجلس کښې حاضر وو. او په هغه کښې به يو خاص عيب وو. نو هغه ته به ئے کوته نه نيوله. د هغه پړده به ئے نه فاش کوؤله. بلکه په خبرو خبرو کښې به ئي د هغے ګناه او ناکاره عيب داسے

وضاحت او فرمایه چه هغه سړي به د ځان سره دا محسوس کړه چه دا اشاره خو په حقیقت کښې ماته ده. او دا هر څه ځما د اصلاح او فائدے د پاره فرمائي او هغه به توبه تائب شه. او په دے طریقه سره ډیر غاوره غاوره حاکمان چه څرګند عیبونه به پکښې وو. د حضور غوث پاک د وعظ مجلس له چه راغلي دي. نو اصلاح یئے شوے ده.

روایت دے. چه د هغه زمانے د بغداد خلیفة المسلمین به ورله کله کله د شپے ملاقات له راغے. نو حضرت به په خپله وظیفه او عبادت کښې داسے مشغول وو. چه تر سحره به ئے ملاقات او نه شو. پاتے شو د حضرت دربار ته تلل نو دا څیز دوئ نه خوښولو. او فرمائیل به یئے چه: د بادشاهانو دربار ته تلل یا د هغوئ په دستر خوان باندے کیناستل دا عقوبت عاجله دے؟

وفات:

مرګ حق دے. او خلاصے ترینه نشته دے. په ربیع الشاني ۵۶۲هـ کښې حضرت غوث پاک ناجوړه شه. او د دغے مبارکے میاشتے په یوؤلسم تاریخ د حضرت د بدن مبارک نه روح پرواز اوکړو د دوئ د وفات تاریخ د دے جملے نه راوتلے شي (محشوق الهي) د حضرت پیران پیر صاحب په جنازه کښې دومره ګڼړ مخلوق راجمع شوے وو. چه لارے، کوڅے او بازارونه ډک وو. د دے وجهے نه د ورځے د کفن د فن انتظام او نه شو. آخر چه ماښام

شو. او د شپے تورے وزرے د مزکے پـه مخ را اوغوړیدلے او ګنړه خوره شوه نو د حضرت د کفن د فن انتظام پـه اطمینان سره اوکړلے شه. پـه خپله مدرسه کښې دننه د یو سپر لاندے ورلـه قبر اوکنستے شو. خو اول د مدرسے ورونـه بـنـد کړلے شول. او د هغے نـه پس دا کار سرتـه اورسؤولے شه. د هغے ورځے نـه تـر نـن ورځے پورے د حضرت پـه مزار مبارک بـانـدے پـه زرګونـو خلق هره ورځ دعا لـه حاضریږي اګر کـه پـه بغداد کښې عباسي خلافت پاتے نـه شه. او کوم بغداد چـه "عروس البلاء" ګنړلے شو. هغه د زړو عمارتونو د کنډرو ډهیره کـۍ شوے. خو حضرت پیران پیر غوث الا عظم د ستګیر صاحب اوس هم د خپل مزار پرانـوار نـه پـه څلور کنجه دنیا حکومت کوي. او د ټولے دنیا د مسلمانانو زړونـه ئې پـه خپل موټي کښې ټینګ نیولي دي.

اولاد او فیوضات:

د حضرت غوث پاک د دوه ځامنو نومونـه زیات مشهور دي سید نـا عبدالوهاب او سید نـا عبدالرزاق دوئ دواړه پـه سلسله عالیه قادریه کښې د خپل والد ماجد خلیفه ګان وو. څرنګ چـه د دوئ پـه ذریعه د حضور غوث پاک د اولاد او نسل سلسله پـه دنیا کښې خوره شوے ده. د غه شان درو حانیت او طریقت سلسله هم خوره شوے ده. د مثال پـه طور حضرت سید شرف الدین علیه الرحمة.

چه د مغربي پنجاب د ښهر لاهور د باغ جناح د جيم خانه کلب سره نمر خانه طرف ته ئ‌ئے مزار مبارک دے دا حضرت سيد شرف الدين عليه الرحمة د حضرت غوث پاک د فرزند ارجمند حضرت سيدنا ابوبکر عبدالوهاب خليفه او مازون وو.

په برصغير پاک ډُهند کښې چه هر ځو مره روحاني پيشوايان تير شوي دي. په دوئ کښې زيات تعداد د هغه بزرګانو دے. چه په سلسله عاليه قادريه کښې يئے تربيت او کمال حاصل کړے دے. او بيا په خصوصيت سره د پاکستان په دواړو حصو کښې يعني په مغربي پاکستان او مشرقي پاکستان کښې چه د دے سلسلے کوم مشاهير بزرګان تير شوي دي. په هغوئ کښې.

(الف) يو هغه دي چه د حضور غوث پاک اولاد دے.

(ب) دويم هغه دي چه د حضور غوث پاک براه راست خليفه ګان او ما ذونان دي.

په دے ضمن کښې ځمونږه د پاکستاني مسلمانانو د نيک بختئ او خوش قسمتئ نښه دا ده چه د حضرت محبوب سبحاني قطب رباني. غوث صمداني شيخ عبدالقادر جيلاني مزار پر انوار که په بغداد شريف کښې دے. نو د هغوئ د نامورد خليفه ګانو د سلسلے مريدان او په خصوصيت سره د غوث پاک د د دواړو ځامنو يعنے حضرت سيدنا عبدالوهاب او حضرت سيدنا عبدالرزاق قدس سره هم العزيز د نسل سادات په اوچ بهاولپور.

ملتان. شیرګړهـ. (منټګمري) لاهور. سندهـ. کشمیر. بلوچستان. وزیرستان. جهلم. بنو. کوهاټ. پیښور. چارسده او سوات کښې او نورو مختلفو علاقو کلے آباد دي او ډیر لوئ لوئ بزرګان پکښې تیر شوي دي. په دوئ کښې په خصوصیت سره د بهاولپور د اوچ. او ملتان. منټګمري ګیلاني سادات هم د حضرت سید نا عبدالوهاب د نسل ځنے دي. د دے نسل سادات په ټول مغربي پاکستان کښې هم خواره دي. او د پیښور. بنو. وزیرستان سادات په خصوصیت سره د سیدنا عبدالرزاق د نسل ځنے دي. او د دے نسل سادات هم په ټول مغربي پاکستان او افغانستان کښې خواره دي. دلته د یو څو مشاهیرو ګیلاني او قادري بزرګانو نومونه لیکلے شي.

(۱) شیخ داؤود کرماني قادري:ـ د دوئ مزار مبارک په موضع شیر ګړهـ ضلع منټګمرئ کښې دے.

(۲) سید شیر شاه قادري: د دوئ مزار مبارک د ملتان په خواؤ شا کښې دے.

(۳) سید بهاول شیر ګیلاني قادري: د دوئ مزار په موضوع حجره شاه مقیم ممنټګمرئ کښې دے.

(۴) سید محمد مقیم محکم الدین ګیلاني: د دوئ مزار په موضع حجره شاه مقیم منټګمرئ کښې دے.

(۵) شیخ خیر محمد قادري: د دوئ مزار مبارک په موضع پنډي بټهان کښې دے.

(۶) سید میر قادري ګیلاني: د دوئ مزار مبارک په موضع سیدواله دو آبه د چناب ضلع منټګمرئ کښې دے.

(۷) سید احمد علي شاه قادري ګیلاني: چه د شیخ الهند په لقب یادیدلو. د بغداد شریف نه یئے د شهنشاه عالمګیر په زمانه دے ملک ته تشریف راوړے وو. او په مقام د کوټله پیران یئے عبادت خانه جوړه کړه استوګنه یئے اختیار کړه. او د حق طالبانو ته یئے هدایت او ارشاد به کؤلو. روستو د بنده بیراګي بر خلاف سره د خپلو مریدانو غزاله تلے وو. په مقام د بټالے شهید شه. مریدانو یئے نعش مبارک دلته راوړلو. مزار یئے پرے جوړ کړلو. حضرت سید احمد علي شاه شهید د حضرت سید نا عبدالرزاق ابن غوث الا عظیم په اولاد کښې وو.

(۸) سید د لاور شاه د حضرت غوث پاک د فرزند ارجمند سید نا عبدالرزاق په نزدے نمسو کښې د یو نمسي نوم سید محمود وو. چه په "تاج الدین شهزاده اصفهاني" لقب باندے مشهور وو. روستو دغه حضرت سید نا شهزاده اصفهاني د افغانستان سمت جنوبي ته راغے.

دلته آباد شه. چه نن ورځے مزار مبارک ئے په "برمل" نومے علاقه کښې دے. او د دوئ اولاد چه په کوم کلي کښې آباد دے هغے ته په خصوصیت سره" سادات پیر کوټی" وائي. د دے حضرت سید ناشهزاده اصفهاني په اولاد کښې حضرت سیدنا دلاور شاه علیه الرحمة د اکبر بادشاه په زمانه کښې د شمالي وزیر ستان "سپین دام" نومے علاقے ته راغے. دا مقام د میران شاه نه ۳۵ میله جنوب مشرق طرف ته واقع دے. د "سپین وام" ګیلاني عبدالرزاق سادات د ټول وزیرستان پیر خانه ده. حضرت سید مقتدا صاحب پکښې اوس اوس ډیر لوئ برزګ تیر شوے دے. علیهم الرحمة والغفران.

د غوث الا عظم ارشادات

د حضرت غوث الا عظم یو څو قیمتي اقوال اوار شادات د فائیدے په خاطر دلته درج کوؤلے شي. فرمائي:

(۱) تاسو د خپل نفس د خواهشاتو په پوره کولو کښې لګیا یئے. او هغه ستاسو په بربادولو کښې مصروف دے.

(۲) د بنیادم ناکاره بد عمله ملګرے په حقیقت کښې د هغه بد ترین دشمن دے.

(۳) مه د چاسره په محبت. مینه کولو کښې جلتي کوی. او مه د چا سره په عداوت او د ښمنئ کولو کښې د تادئ نه کار اخلي.

(۴) چه چا درنه تپوس نه وي کړے. بے ځایه ګریدل نه دي پکار.

(۵) څرنګ چه ستاسو نفس د خدائے د حکم منلونه انکار کوي. دغه شان تاسو هم د خپل نفس د وینا او لمسون منلو نه انکار اوکړئ.

(۶) ماله په هغے سړي تعجب راځي څوک چه په دے پوهه وي چه خدائي پاک د ده په هر یو حال خبرداره دے. او سره د دغے نه بیا هم دے ګناه کوي تجب دے په هغه چا چه دا دنیا فاني ګنړي او بیا هم ورسره مینه ساتي.

(۷) خلق هغه چاته لوئ سړے وائي چه په هغه کښې تواضع وي. خاکپائ او عاجزي وي. تکبر کؤنکي ته څوک لوئ سړے نه وائي.

(۸) د مؤمن سړي نښه دا ده چه هغه خپل اهل وعیال په الله باندے

سپاري. او منافق سړے يئے خپل مال دولت ته سپاري.

(۹) دنيا او مال دولت د زړۀ نه را اوباسی په لاس کښې يئې او نيسئ! يعنے مال او دولت ګټئ! ليکن په لاس کښې يئې ساتيئ. او ديته يئې مه پريږدئ چه د دنيا مينه ستاسو په زړۀ باندے قبضه اوکړی.

(۱۰) د حرامے روزئ نه ځان اوساته ځکه چه د نيکو اعمالو جرړه هم دا ده.

(۱۱) اخلاص ديته وائي چه بنده هر کار د خدائي د رضا د پاره اوکړی او د خلقو د شه يا بدوئيلو خيال او پرواه اونه ساتي.

(۱۲) چا چه مخلوق ته مخ او ګرزاوه. پوهه شه چه هغه خدائ. ته شاکړه.

(۱۳) د خدائي د مخلوق سره د محبت او مينے ساتلو معنی دا ده چه ته د هغوئ خير خواهي اوکړے.

(۱۴) د خلقو په نظر کښې خپل وقار قائم ساتل پکار دي. که خپله نيستمندي او افلاس ورته ښرګند کړے نو د خلقو په نظر کښې به سپک راځے.

(۱۵) قول داسې دې لکه صورت. او عمل داسې دې لکه روح.

(۱۶) د مالدارو سره په وقار او هسکه غړئ روزګار ساته. او د فقیرانو سره په عاجزي او انکسار.!

(۱۷) څوک چه د بادشاهانو سره ناسته ولاړه ساتي. د هغه زړة سخت او مغروره کیږي څوک چه د هلکانو سره کښیني پاسي. په هغه کښې د ټوقو او خندا عادتونه پیدا کیږي. څوک چه د زنانه وؤ په مجلس کښې ناست پاست وي. په هغه کښې جهالت او ناکاره خواهشتونه زیاتیږي. څوک چه د بد عمله او فاسقانو سره نشست او برخاست لري. هغه په ګناهونو کولو کښې زړه ورکیږي. او د توبې او کښلو توفیق یئې نه نصیب کیږي څوک چه د علمانو سره کښیني پاسي، هغه پرهیز ګاره کیږي او علم حاصلوي.

حضرت سيد احمد سخي سرور سلطان سهروردي ٥٧٧هـ

حضرت سید احمد سخي سرور سلطان سهروردي

علیه الرحمة

د حضرت سید نا امام جعفر صادق رضي الله عنه په اولاد کښې په نولسم پشت کښې یو سید وو. چه د هغه سید زین العابدین نوم وو. دے په ۵۲۰هـ کښې د بغداد شریف نه راروان شه. او د "ملتان" په خواؤ شاه کښې په "شهر کوټ" نومے ځای کښې یئې استوګنه اختیار کړه. دغلته د "کهوکهر" نومے قوم خلق آباد وو. د هغوئ یو مشر ملک وو. چه "پیر محمد" المعروف "پیرے" نوم یئے وو. هغه او لګیده خپل لور "عائشه بي بي" یئې حضرت سید زین العابدین ته په نکاح ورکړله. د هغه بي بي نې یئې ځوي پیدا شه. په هغه بانديے احمد نوم کیښودلے شه. چه نن ورځے د

حضرت سید احمد سخي سرور سلطان سهروي علیه الرحمة په نام بانديے مشهور دے د دوئ د ولادت تاریخ ۴۸۲هـ بیانولے شي.

په ۵۰۵هـ کښې چه حضرت سید زین العابدین وفات شه. نو حضرت سید احمد علیه الرحمة د هغے نه یو کال پس په ۵۰۶هـ کښې بغداد شریف ته لاړلو. او هلته

يئې ديني علمونه حاصل کړل. او بيايئې د درې مشهورو بزرګانو.

(الف) حضرت غوث الا عظم د ستګير ميران محي الدين شيخ عبدالقادر جيلاني قدس سره.

(ب) حضرت شيخ الشيوخ شهباز طريقت شهاب الدين سهرور دي عليه الرحمة.

(ج) او حضرت خواجه خواجګان شيخ مودود چشتي عليه الرحمة.

څني فيض حاصل کړو. بيا چه د ۵۵۱هـ په شاؤ خوا کښې د بغداد شريف نه ئې واپس دې وطن ته تشريف راوړلو. نو څه موده ئې د موجوده ضلع ګوجرانواله په موضع "دحونکل" کښې تيره کړه. بيا يئې ملتان ته تشريف يوړلو. په هغه زمانه چه د ملتان څوک حاکم وو. هغه ورله خپله لور په نکاح ورکړله. څه زمان پس يئې دوئم واده هم اوکړ. او د حضرت سيد عبدالرازق ملتاني لور بي بي يئې په نکاح کړله. بيا د ملتان نه راروان شه. لاهور ته راغې. او دلته يئې د حضرت سيد اسحاق لاهوري عليه الرحمة نه علوم ظاهري حاصل کړل. بيا د لاهور نه "شاه کزټ" ته يئې تشريف يوړلو. او دغلته يئې سکونت اختيار کړ.

نن ورځې د دوئ مزار مبارک په موضع "نګاهه" ضلع ډيره غازيخان" کښې دې. او د مغربي پنجاب په ټولو زيارتونو کښې زيات مشهور زيارت دې، نو هغه هم دا د حضرت

سيد احمد سخي سرور سلطان قادري، سهروردي، چشتي مزار مبارک دے. د ټول پنجاب، سرحد. سندھ. بلوچستان او ټولو قبائيلي علاقو ټول مسلمانان ورسره يو شان عقيدت لري. او د دوئ د درګاه نه ټولو ته يو شان روحاني فيوضات رسيږي.

د پهګنړ او چيتر په مياشتو کښې زرګونه خلق روغے روغے قافلے د سيالکوټ. ګوجرانو اله. ګوجرات. منټګمري. ملتان. لاهور. راولپنډي. ميا والي. ډيره اسماعيل خان. پيښور. سندھ او بلوچستان وغيره نه دلته حاضريږي. او د بيساکهئ د مياشتے په اوله ورځ دلته يوه عظيم الشانه ميله لګيږي. چه د "سخي سرور ميله" ورته وائي. او دومره خلق پکښې راغونډ شي. چه سړے دا خيال کوی چه روغ مغربي پاکستان يو ځائي ته راجمع شوے دے.

د پاکستان د جوړيدلونه مخکښې د "سحي سرور ميلے" او "کليزے" (عرس) له به د موجوده مشرقي پنجاب د جالندهر. هوشيار پور. او ګور داسپور ته هم په خصوصيت سره ډير زيات خلق راتلل. او قابل ذکر خبره پکښې دا ده. چه د حضرت سخي سرور درګاه ته به هندوان او سکهان هم په ډير زيات تعداد کښې راتلل. روايت دے. چه د حضرت سخي سرور په مبارکو لاسونو چه څومره زيات کافران او مشرکان مسلمانان شوي دي. د هغے اندازه لګول ګران دي.

د زمانې په لحاظ سره حضرت سيد احمد سخي سرور سلطان د د حضرت شيخ الا سلام غوث العالم بهاء الدين ذكريا ملتاني. او د حضرت شيخ المشائخ شيخ ابراهيم دانشمند ارمړ دواړو نه د مخکښې زمانې بزرګ دے. او مشر دے. او په روحاني اعتبار سره حضرت سيد احمد سخي سرور يو دريم مشال وو. چه د بغداد شريف نه د موجوده مغربي پاکستان علاقو ته راليږلے شوے وه. او ا خلق د هغے په برکت د کفر. شرک، او ګمراهئ د تورو تيارونه خلاص شوي وو. حضرت سخي سرور سلطان عليه الرحمة په ۵۷۷هـ کښې وفات شوے دے. عليه الرحمة والرضوان.

که مونږه د حضرت سيد احمد سخي سرور سلطان. حضرت ابراهيم دانشمند ارمړ. او حضرت بهاء الدين ذكريا درے واړو په ژوند باندے يو نظر واچوؤ. نو د سړي زړهٔ او روح پرے تازه شي. په حقيقت کښې اسلام يو داسے دين دے. چه د دے دين دعوت او پيغام د ټولے دنيا د ټولو بنيادمو د پاره ايکي يو شان دے. د قام ملک. رنګ او نسل په کښې هيڅ فرق او تميز نشته دے. او هر هغه څوک چه په دين اسلام باندے ايمان راوړي. هغه ټول بيا يو رونړه وي. يو مذهبي وحدت ترينه جوړ شي. او د يو عالمګير "روحاني تړون" شکل اختيار کړي.

هو بهو هم په دغه شکل سره څمونږ د مذهب اسلام د ټولونه لويو روحاني پيشوايانو او مشهورو بزرګانو يعنے (۱) حضرت سيدنا شيخ ميران محي الدين

عبدالقادر جیلاني. سید ناحضرت شیخ شهاب الدین سهروردي. سید نا حضرت شیخ مودود چشتي علیهم الرحمة درے واړه په شریکه چه خپل درے مشهور خلیفه ګان (۱) حضرت غوث العالم شیخ ذکریا علیه الرحمة. څمونږ د مغربي پاکستان علاقو ته رااولیږل نو د دے درے واړو بزرګانو په درګاهونو کښې چه به کوم مسلمانان راغونډیدل. او فیض او برکت به ئے حاصلولو. یا غیر مسلم خلق په راتلل او په ایمان به مشرف کیدل. نو په هغے کښې هډو دا سوال نه وو. چه دا په قام څوک دي. د کومے زمکے او کومے علاقے دي. او د کوم ځائي دي. بلکه د دے بزرګانو مثال د یوے داسے خوږے او سفا چینے وو. چه ټول عالم به پرے راپنډ وو. او هغه د حضرت شیخ سعدي علي الرحمة خبر هښ

ہر کجا چشمۂ بود شیرین
مردم و مور و مار گرو آتیند

او دا یو داسے روحاني برکت وو. چه د مسلمانانو و جودونه او جوسے که ګنړے وے. بیلے بیلے وے. لیکن روح یئې یو وو. او هم د دے روحاني یو والي په برکت باندے څمونږه مشرانو د اسلام شاندار خدمات کړي دي. او کامیابي یئې حاصله کړے ده. او تر نن ورځے پورے په دے علاقو کښې د اسلام روح باقي دے. او امید دے چه تر قیامته به باقي وي.

دا خبره داسے ده. چه مونږه د حضرت سيد احمد سخي سرور سلطان مثال د دے په ثبوت کښې پيش کوؤلے شو. د دوئ خاص خدمتګاران په شماره باندے درے کسان وو. (۱) د يو ګوهر نوم وو. په قام باندے کلنهک وو. چه اولاد يئې کلنهکي بللے شي. (۲) د دويم حيرت نوم وو. په قام باندے "لنګاه" وو. چه اولاد يئے متهن بللے شي. (۳)د دريم نوم احمد خان وو. په قام باندے پښتون وو. چه اولاد يئې شيخان بللے شي.

او نن ورځے د دے درے واړه خدمتګارانو اولاد يو شان د حضرت سيد احمد سخي سرور سلطان د درګاه مجاوران دي.

او د حضرت سخي سرور يو بل کرامت ته به فکر اوکړو. چه ددے درے واړو منجاورانو د اولاد او خاندان د خلقو مجموعي تعداد او شمير د ديارلس نيم سوه کسانو نه هيڅکله او په هيڅ وخت کښې نه زياتيږي. يعنے په دے درے واړو خاندانونو کښې د هر يو خاندان د نارينه کسانو تعداد څلور يم سوه وي. که په کوم يو خاندان کښې هر څومره ماشومان نارينه فرزندان پيدا شي. هم په هغه شماره او حساب باندے به د لوئ عمر نارينه فرزندان په حق رسيږي. او زوړ تعداد (۴۵۰) به پوره کيږي. په دے کښې د کلتهکي. لنګاه او پښتون هيڅ فرق نشته دے. يو بارګاه دے يو شان خدمتګاران دي. او د ټولو يو حال دے. چنانچه دا هغه د اسلام "روحاني تړون"

دے. چه په دنیا کښې د دے مثال نشته دے. او هم دا هغه څیز دے چه مونږه ټول مسلمانانو یئې یو رونړه کړي یو.

حضرت اختيار الدين محمد بختيار خلجي

٦٠٢هـ

(مشرقي پاڪستان)

حضرت اختیار الدین محمد بختیار خلجي علیه الرحمة

په مشرقي پاکستان او بنګال دواړو حصو کښې د اسلام د تبلیغ او د مسلمانانو د راتلو او اقتدار حاصلولو په حقله چه کوم صحیح تاریخي معلومات په لاس راغلي دي. د هغې په رنړا کښې دا خبره ثبوت ته رسیدلې ده. چه هر کله په ۵۹۲هـ مطابق ۱۱۹۷ء کښې حضرت اختیار الدین محمد بختیار خلجي علیه الرحمة په مشرقي پاکستان او مغربي بنګال (بهارت) باندې جهاد اوکړ. د دغه ملک هندو راجه "لکشمن سین" له ئې شکست ورکړ. د بنګال په دارالحکومت "ندیا" یئې قبضه اوکړه او د اسلامي اقتدار او حکومت بنیادې کیښوده. نو د بنګال په زمکه د اسلام بیرغ او دره ولې شه. چه په هغې د "الله اکبر" کلمه لیکلې وه.

د دغې نه روستو اسلام په ټول بنګال کښې خورشه. ځکه چه د حضرت بختیار خلجي سره. او د هغه د فتح نه روستو د هغه په زمانه کښې بیا ورپسې په راتلونکې زمانه کښې د نورو مختلفو مسلمانانو حکمرانانو او سلطانانو په زمانه کښې بې شمیره

عالمان او مشائیخ دلته راغلي وو. او هغوئ د کلمه توحید لااله الا الله محمد رسول الله سره د خلقو غوږو نه او ژبونه اشنا کړل.

حضرت بختیار خلجي علیه الرحمة چه د بنګال د ټولونه اولنے فاتح دے. د حضرت سلطان شهاب الدین محمد ابن سام غوري نه روستو په قنوج کښې حکمران وو. او د دے نه مخکښې په ۵۸۷هـ کښې ئے د دهلي د فتح په جهاد کښې حصه اخیستے وه. په دے اعتبارسره د حضرت معزالدین الملقب په شهاب الدین محمد ابن سام غوري علیه الرحمة په قیادت کښې د دهلي د فتح نه پنځه کاله پس د بنګال هیواد د مسلمانانو په لاس فتح شه. او د اسلام رنړا د یو مجاهد پښتون بختیار خلجي په لاسونو تر هغے هیوادونو او رسیدله.

د حضرت بختیار خلجي علیه الرحمة نه روستو په دے زمکه باندے ګنړ او پرله پسے اسلامي حکومتونه قائم شول. چه د دغه مسلمانانو بادشاهانو د حکومتونو په زمانه کښې بنګال ته وخت په وخت د راغلو عالمانو. صوفیاتو. او مشائیخو په برکت د اسلام رنړا د دے ملک په ګوټ ګوټ کښې خوره شوله. په هغه زمانه ځرنګ چه په رکهن. ګجرات.ا و جونپور کښې طاقتور او مستقبل اسلامي حکومتونه قائم شوي وو. په بنګال کښې هم دغه شان مضبوط اسلامي حکومتونه جوړ شوي وو. او د اسلام د تبلیغ او اشاعت د پاره باقاعده انتظامات شوي وو.

په بنګال باندې د مسلمانانو حکومت او اقتدار د ۵۹۲هـ مطابق ۱۱۹۷ء نه تر ۱۱۷۷هـ مطابق ۱۷۶۴ء پورې قائم وو. يعنې پوره پنځه سوه او شپيته (۵۶۷) کاله په ټول مشرقي پاکستان او بنګال (بهارت) باندې د اسلام او مسلمانانو اقتدار وو. په دغه منځکښې د ۱۷۶۴ء نه را په ديخو د دے هيواد صرف په يوه حصه مشرقي پاکستان (مشرقي بنګال) باندې يو ځل بيا د مسلمانانو اقتدار راغلے دے. مخکښې خدائے مالک دے. او که د هغه رضا شي. نو دا هيڅ ګرانه نه ده. چه دغه ټول هواد چه مسلمانانو پرے پنځه نيم سوه کاله حکومت کړے دے. يو ځل بيا د اسلام د بيرغ لاندے راشي.

د ۵۸۷هـ مطابق ۱۱۹۲ء نه روستو د هندوستان په مختلفو علاقو کښې چه د مسلمانانو کوم حکومتونه قائم شوي وو. په هغو ټولو کښې د دهلي د مرکزي حکومت قائم شوي وو. په هغو ټولو کښې د دهلي د مرکزي حکومت نه په دوئم نمبر باندے د سلطنت د جغرافيائ حدود د وسعت. د قيام د زمانے د زيات والي. او د اقتصادي مضبوطوالي په اعبتار سره لوئ او طاقتور حکومت هم د "بنګال اسلامي حکومت" وو. په هغه زمانه د بنګال په اسلامي حکومت کښې چه کومے علاقے شاملے وے. د هغے نومونه دا دي. موجوده مشرقي پاکستان (يعنے مشرقي بنګال. مغربي بنګال. صوبه بهار، جنوبي آسام. تري پوره. او د صوبه اړيسه هغه منلے چه د

بنګال سره يئې پوله جنګيدلے ده. دا دومره لوئي ملک چه د مسلمانانو په لاس د فتح کيدلو نه روستو "اسلامي ملک" ګرځيدلے وو. په دے اعتبار چه د دے هيواد مقامي غير مسلم خلق په دين اسلام مشرف شول. دا يو داسے خدمت دے. چه بنياد ئې حضرت بختيار خلجي کيښودلے وو. او ورپسے د هغه زمانے صوفيائے کرامو او روحاني پيشوايانو او مسلمانانو حکمرانانو په شريک همت باندے سر ته رسوؤلے وو. او د تاريخ په پانړو د سرو زرو په اوبو د ليکلو حق لري. څمونږ مشران بزرګان د بنګال د فتح کيدلو نه روستو د بنګال کوټ کوټ ته اورسيدل. په ځان يئې تکليفونه تير کړل. او د اسلام تبليغ يئې اوکړ. او د خدائي پاک هغه مخلوق چه د کفر او شريک په توره تياره کښې پراته وو. هغوئ ته يئې د اسلام رنړا ښکاره کړله. د اسلامي د ورولئ او مساوات په نعمت يئې سفرفرازه کړل. او په دے خاوره يو عظيم الشان روحاني تړون په وجود کښې راغے.

د پاک او هند په دغه پورتنو علاقو کښې چه په هغه زمانه د بنګال د اسلامي حکومت په حدود دو کښې داخلے وے. د اسلام د رنړا خوره ولو د پاره چه کوم تبليغي مهم چلوؤلے شوے وو. د هغے بنياد کيښودونکے حضرت اختيار الدين بختيار خلجي عليه الرحمة وو. پخپله دوئ او د دوئ نه روستو د بنګال نورو سلطانانو او بادشاهانو نه دغه تبليغي مهم کښې په دے جوړ مقصد اخيستے وه. چه عالمانو

بزرګانو. صوفیانو او مشائیخو به د اسلام تبلیغ کولو. او د دے مسلمانانو بادشاهانو به د هغوئ حوصله افزائي کؤله. مدرسے جماعتونه. خانقاهونه او د بزرګانو درګاهونه به یئې جوړه ول. آباد ده ول دهغے ساتنه او پالنه به یئې کوؤله. او په ډیره فیاضئ سره به یئے د هغے د اخراجاتو پوره کولو د پاره جاګیرونه او اوقاف مقرر کوؤل. او د عالمانو او مشائخو د ګزارے د پره به ئې په خصوصیت سره جاګیرونه او وظیفے مقرر کوؤلے او په دے شان به یئې د اسلام خدمت کؤلو. د بنګال د مسلمانانو بادشاهانو د حوصله افزائیے په وجه د هندوستان د مختلفو علاقو نه بے شمیره بزرګان. عالمان او مشاهیر اولیاء الله بنګال ته په کڼه لاړل اکثر په کښې هلته په کڼه استوګن شول.

د بنګال دغه اولنی مسلمان فاتح او حکرمان حضرت اختیارالدین بختیار خلجي په بنګال کښې صرف لس کاله حکومت کړے دے. په دے دومره لږه موده کښې سره د دے نه چه د هغه زیات وخت په غزاګانو کښې او د ملک په انتظامي معاملاتو سموؤلو کښې تیر شوي وو. بیا هم چه هر څومره علاقے یئے فتح کړے وے. په هغے کښې یئے جماعتونه. مدرسے او خانقاهونه جوړ کړي. وو. او د عالمانو او بزرګانو د پاره یئې د اسلام د تبلیغ اسانتیا ګانے پیدا کړے وے. او پخپله یئے هم د اسلام د تبلیغ فریضه اد اکړے وه. چنانچه د کوچ نومے قبیلے یو قبائیلي سردار د ده په لاس باندے اسلام قبول کړے

وه. چه د هغه اسلامي نوم "علي میچ" وو. د غے قبائیلي سردار د مسلمانیدو نه روستو د اسلام ډیر خدمت کړے وو. او غزاګانے یئې کړے وے. د نیفا او تبت په غزاګانو کښې د حضرت بختیار خلجي رهنمایئ هم دغه علي میچ علیه الرحمة کړے وه. او د ده په همت او برکت مسلمانانو غازیانو ته فتح حاصله شوے وه.

حضرت اختیار الدین بختیار خلجي علیه الرحمة یو کتاب لیکلے دے. چه د هغے نوم دے. عجائب الاسفار"په دے کتاب کښې یئې د هغے ټولو بزرګانو او عالمانو کارنامے او دیني تبلیغي او مجاهدانه کوششونه په تفصیل سره بیان کړي دي. چه د ده په زمانه کښې یئې د اسلام د اشاعت د پاره کړي وو. بختیار خلجي په دغه کتاب کښې لیکي چه یو نیم سو (۱۵۰) ګدئي. آستانے. خانقاهونه او مدرسے تر دے وخته پورے (یعني هم د ده د حکومت په زمانه کښې) په بنګال کښې قائمے شوے دي. چه خلق د خدائي حق دین اسلام ته رابلي. او په اسلام یئےمشرف کوي. په څلور کاله مختصره زمانه کښې په شماره یو نیم سو د اسلام د تبلیغ او اشاعت ادارے. مدرسے. او خانقاهونه قائم کیدل دا د بنګال د دے اولنی فاتح حضرت اختیار الدین بختیار خلجي علیه الرحمة یوه داسے کارنامه ده. چه ترڅو د بنګال په خاوره د اسلام نوم ژوندے وي. نو هیریدلے نه شي. دا نامور غازي سلطان په ۶۰۲هـ کښې وفات شه.

د حضرت اختیار الدین بختیار خلجي علیه الرحمة په زمانه کښې چه مشرقي پاکستان او بنګال ته کوم مشاهیر عالمان او بزرګان راغلي وو. په هغوئ کښې د دوه بزرګانو نومونه خاص طور سره د یادولودي. چه د یو بزرګ نوم دے.

حضرت مخدوم شاه محمد غزنوي المعروف راهي پیر علیه الرحمة

حضرت محدوم شاه محمد غزنوي د حضرت سید مبارک غزنوي علیه الرحمة د خاندان ځنے وو. د دهلي په جهاد کښې شامل وو. د هغے نه روستو په ۵۹۶هـ مطابق ۱۲۰۲ء کښې د بنګال منګل کوټ نومے علاقے ته راغے. دلته یئے د اسلام تبلیغ شروع کړو. او بیا هم دلته وفات شه. د منګل کوټ په "ډیوټ" نومے مقام کښې په یوه اوچته ډهیرئ بانده د دوئ مزار مبارک واقع دے. چه د "شاه بخاري" په درګاه بانده مشهور دے.

(۲) حضرت خواجه عبدالله کرماني علیه الرحمة

د دوئم زبرګ نوم دے حضرت خواجه عبدالله کرماني علیه الرحمة. چه د خواجه خواجګان خواجه معین الدین حسن چشتي اجمیري علیه الرحمة خلیفه او ماذون وو. بنګال ته یئې تشریف اوړے وو. او د موجوده مغربي بنګال په "بهرم" نومے علاقه کښې استوګن۶ شوے وو. د اسلام تبلیغ یئے

کؤلو او هم دغلته په ۶۴۵هـ مطابق ۱۲۳۶ء کښې وفات شوے وو.

د حضرت بختيار خلجي عليه الرحمة نه روستو د بنکال ټولو پښتنو سلطانانو د جهادونو او غزاګانو کؤلو. او د اسلام د تبليغ کؤلو فريضه په ښۀ شان سره اد اکړے ده. او د عالمانو او مشائيخو د قدر داني. سره پرستئ او همکارئ کومه تاده چه حضرت بختيار خليجي ايښې وه. هغه يئې په ښۀ طريقه سره سرته رسؤلے ده. چنانچه په دے سلسله کښې تاريخ ګواه دے. چه د هر يو سلطان د وفات نه روستو چه کوم يو نوے سلطان راغلے دے. او بادشاه شوے دے. هغه هم د سلطان بختيار خلجي په هغه زړۀ طريقه باندے د خپلے خپلے زمانے دعالمانو او مشاهيرو بزرګانو سره د دين اسلام په تبليغ کښې پوره پوره حصه اخيستے وه. د دے نامورو مشاهيرو د زرينو ديني کارنامو نه د خبريدلو په خاطر دلته يوه مختصره تاريخي جاءزه او تذکره پيش کوؤل مناسب معلوميږي. چه د بنکال په خاؤره څمونږه کومو مشرانو د اسلام خدمت کړے دے او د حضرت بختيار خلجي عليه الرحمة نه روستو څه کم شپږ سوه کاله يئې د اسلام دغه مشعل روښانه ساتلے وو. چه د هغوئ ياد تازه شي. او د هغوئ په مجاهدانه کارنامو ملا خطه کؤلو څمونږه په زړونو او روح کښې حرارت او جذبه پيدا شي. او د خدائ ته روفيق او غواړو چه مونږه هم د دغه خپلو مشاهيرو بزرګانو په شان د اسلام خذمت اوکړلے شو. چنانچه په دے سلسله کښې د

حضرت سلطان غياث الدين عوض خلجي عليه الرحمة

نوم د يادولو دے. دا مسلمان بادشاه د صحيح اسلامي جذبے خاوند وو. د اسلامي وحدت او د "اسلامي روحاني تړون" د قاءم ساتلو او مضبوطولو د پاره يئې ډير شاندارے کارنامے سر ته رسؤولے دي. چه په هغے کښې د ده دوه زرينے کارنامے د تاريخ په پانړو يادګار پاتے دي. (۱) يوه دا چه د خپلے زمانے د بغداد د خليفة المسلمين سره يئے تعلق قائم کولو. او خپل حکومت يئے د اسلام د مرکزي حکومت او خلافت بغداد يوه صوبه اوګر ځوله. پخپل تول حکومت کښې يئے د بغداد د خليفة المسلمين په نوم د خطبے وئيلو حکم ورکړ. او سکه او ضرب هر څه يئے د خليفة المسلين په نوم کړل. (۲) بله دا چه د فيروزه کوه يو سيد زاده حضرت سيد جمال الدين ابن سيد جمال الدين له ئې ډير انعامونه او بخششونه ورکړي وو. خاص په دے خبره باندے چه دغه سيد زاده د حضرت سيد الشهداء امام حسين رضي الله عنه په مدح او منقبت کښې يوه ډيره ښکلے قيصده وئيلے وه. په دے کښې د عبرت خبره دا ده چه عام طور بادشاهان هغه چاله انعام ورکوي. چه هغه د بادشاه په مدح کښې قصيده اووايئ. او حضرت غياث الدين عوض خلي عليه الرحمة هغه چاله انعام ورکړ چه هغه د حضرت رسول مقبول صلي الله عليه وسلم د نمسي په مدح کښې قصيده وئيلے وه. د دے نه د دے مسلمان

بادشاه د اسلام سره مینه او محبت معلومیدے شي. علیه الرحمة والغفران

حضرت علي مردان خلجي علیه الرحمة

د حضرت علي مردان خلجي علیه الرحمة په زمانه کښې د اسلام د تبلیغ کوم خدمتونه شوي دي او د ده په زمانه کښې چه د بنګال په خاوره کوم مشاهیر عالمان او بزرګان موجود وو. په هغوئ کښې د

حضرت شیخ رکن الدین سمر قندجي علیه الرحمة

نودپادوودےدبنګال په مشاهیرو عالمانو او بزرګانو کښې حضرت شیخ رکن الدین سمر قندي علیه الرحمة د ډیرے لویئے مرتبے خاوند وو. دے د حضرت علي مودان خلجي علیه الرحمة په زمانه کښې د سطلنت بنګال د مرکزي دارالحکومت "ندیا"قاضي وو. او عزئي. فارسئ. بنګالئ ژبو نه علاوه د نورو ګنړو ژبو فاضل عالم هم وو. د ده یو کتاب لیکلے دے. چه د هغے نوم دے "حوض الحیاة" دا کتاب په اصل کښې د پنډت "بهوجج برهمن" تالیف دے. چه په سنسکرت ژبه کښې یئے لیکلے وو. او "امرکنډ" نوم یئے پرے ایښے وو. چه حضرت شیخ رکن الدین هم دغه د پنډت بهوج کتاب اول په عربئ ژبه او بیا په فارسئ ژبه کښې ترجمه کړې وو. او حوض الحیاة "نوم ئے پرے ایښے وو. پنډت بهوج برهمن د

کامروپ (آسام) اوسیدونکے وو. د علمي مناظرے او بحث د پاره په حضرت قاضي شیخ رکن الدین پسے ندیاته راغلے وو. د "ندیا" په جامع مسجد کښې یئې سره مناظره او بحثونه اوکړل. په دغے کښې په بهوج برهمن باندے د حضرت شیخ رکن الدین د بحث دومره اثر اوشو. چه هم هغه وخت مسلمان شه. او د هغه په مریدانو کښې شامل شه علیهم الرحمة و الغفران.

حضرت سلطان غیاث الدین ارظغرل علیه الرحمة

حضرت سلطان غیاث الدین ارطغرل علیه الرحمة د بنګال په مسلمانانو بادشاهانو کښې یو نامور حکمران تیر شوے دے. چه په ګوړ. لکهنوتي کښې د ده دارالحکمومته وو. د ده په زمانه کښې په ګوړ کښې د قلندریه سلسلے د مشائیخو او صوفیانو مرکز وو. او پخپله دے هم د طریقت د دغے سلسلے معتقد وو.

حضرت شيخ سيد امير كبير مدني سندهي عليه الرحمة ٦٣٠هـ

حضرت شیخ سید امیر کبیرمدني

(سندهي)

په برصغیر پاک او هند کښې د اسلام شمع د دین بزرګانو روښانه کړے ده. او د دے عظیم ملک په ګوټ ګوټ کښې د حضرت محمد مصطفے صلي الله علیه وسلم تعلیمات فقراء او مشائیخو خواره کړي دي. چنانچه په دوه اعتبارونو سره د دے زمکے په دوه بیلو بیلو علاقو کښې اسلام د ټولونه اول ښور شوے دے.

الف: په تبلیغي طریقه سره د ټولونه اول چه په کومه علاقه کښې اسلام خور شوے دے. هغه د جنوبي هند د دکهن علاقه ده. چه د مالا بار په ساحلي علاقو کښې د برصغیر د ټولونه اولنے جماعت جوړ شه او په هغے کښې دا آواز پورته کړے شه چه:

لا اله الله محمد رسول الله

ب: او په سیاسي او اجتماعي طریقه سره د ټولونه اول چه کومه علاقه کښې اسلام خورشوے دے. هغه د "وادئ مهران" (سندهـ) علاقه ده

چه په دے زمکه باندے د اسلام سیاسي او روحاني بیرغ او درولے شه. او د دے ملک په گوټ گوټ کښې د کلمۀ توحید او نعره تکبیر.

"الله اکبر"

آوازه خوره شوه. محمد ابن قاسم په ۹۲هـ کښې د سندهـ علاقے ته راتنوتلے دے. دغه د اسلام اولنئ صدئ وه. د دغے نه روستو دا ټوله علاقه د انگریزانو د حکومت د راتللو تر زمانے پورے څه د پاسه یوؤلس سوه کاله د مسلمانانو بادشاهانو په حکومت کښې پاتے شوے ده. خواه که هغه مسلمانان بادشاهان به په مقامي طور سره خود مختار وو. او که د نورو لویو لویو مسلمانانو بادشاهانو ماتحت به وو.

په داسے حالاتو کښې د محمد قاسم د زمانے نه روستو په زرگونو زرگونو عالمان. مشائیخ او سادات دے زمکے ته راغلے دي. او د اسلام د زرینو اصولو په برابرئ یئې د دے ملک د عامو مسلمانانا نورو حاني تربیت کړے دے. او د دے ملک د مسلمانانو تعلق ئے د اسلام په مقدسه رشته باندے د ټول عالم اسلام د مسلمانانو سره راوستلے دے. او د یو عظیم الشان "اسلامي وحدت" په شکل ئے دغه اسلامي "روحاني تړون" قائم کړے دے. او مضبوط کړے دے.

د دے زمکے په پخواني تاریخ کښې ډیر داسے نامور ادیبان. عالمان مشائیخ او

اولياء الله تير شوي دي. چه په عراق او عرب دواړو کښې يئے ډير لوئي نوم او شهرت لرلو. دغه د لوئي نوم او شهرت لرلو او روحاني فيض لرونکي مشاهير د سندھ د تاريخي ښهرونو ټهټه. بهکر. سيوستان. اربيله نه پورته شوي وو. هم دغه شان د دنيا يئې اسلام د روحاني مرکزونو مکة. مدينه بغداد شريف ته ا د نيا نورو روحاني مرکزونو لکه ملتان. سرهند لاهور پيښور او غزني نه لوئ لوئ روحاني مشاهير وخت په وخت دے زمکے ته راغلي دي. او د هغوئ په راتللو په دے ملک کښې د اسلام رنړا نوره هم خوره شوے ده. او د مسلمانانو تر منځه دغه روحاني تړون نور هم مضبوط شوے دے. چه په دے کښې د حضرت شيخ سيد امير کبير قطب الدين مدني سندهي عليه الرحمة نوم مبارک د يادولو دے.

حضرت سيد امير کبير په نسب باندے حسني او حسني سيدوو. او د حضرت امير کبير، پيرانو پير، غوث الا عظم د ستګير شيخ محي الدين عبدالقادر جيلاني قدس سره العزيز د خورځوئ يعنے خوريئے وو. دوئ ابتدائ تعليم د خپل ماما حضرت محبوب سبحاني. غوث صمداني، پير د ستتګير قدس سره نه حاصل کړے وو. او د هغے نه پس يئے د حضرت شيخ نجم الدين عليه الرحمة نه په قادريه طريقه کښې بيعت کړے وو.

حضرت غوث الا عظم قدس سره چه په ۴۷۱-۴۷۰هـ کښې پيدا شوے. او په ۵۶۲-۶۱هـ کښې وفات شوے دے. د دغے نه د حضرت امير کبير

قطب الدين د زمانے اندازه لگيدلے شي. د شپږمے صدۍ (۶۰۰هـ) په منځنۍ حصه کښې د دوۍ مدينے منورے ته لاړل. هلته ورته د حضور پر نور رسول مقبول صلي الله عليه وسلم د طرف نه په روحاني طريقه سره هدايت او فرمائيلے شه. چه د اسلام د تبليغ د پاره هندوستان ته لاړ شه. چنانچه دوۍ د حضور خواجۀ کون و مکان بنۍ آخرالزمان د ارشاد مطابق په ۶۰۰هـ کښې د دولس زره مريد انو سره "وادۍ مهران" (سندهـ) ته تشريف راوړلو. او دلته يئے د سلسله عاليه قدريه فيوضات خواره کړل. او د دے ځاي نه بيا دهلی اوکړهـ مانکپور ته يئے تشريف يوړلو.

د وادۍ سندهـ په زمکه د سلسله عاليه قادريه اولنے روحاني رهنما هم دغه امير کبير دے. چه دلته راغلے دے. د دے نه روستو چه د دے سلسلے کوم مشاهير بزرگان دلته راغلي دي. په هغوۍ کښې ډير لوئي نامور او مشهور بزرگ حضرت لعل شهباز قلمندر عليه الرحمة دے. چه د دهغه ذکر به روستو راشي. عليهم الرحمة والغفران.

حضرت شيخ المشائيخ شهاب الدين سهروردي قدس سره العزيز

٦٣٢هـ

حضرت شيخ المشايخ شيخ شهاب الدين سهروردي ۶۳۲هـ

لکه چه مخکښې هم ورته اشاره شوې ده. د پاکستان په مغربي او مشرقي دواړو حصو کښې د روحانيت او معرفت څلور طريقې او سلسلې زياتې مشهور دي.

(الف) قادريه طريقه:

چه د حضرت غوث الا عظم ميران محي الدين شيخ عبدالقادر جيلاني قدس سره نه شروع شوې ده.

(ب) چشتيه طريقه:

چه د حضرت مودود چشتي نه شروع شوې ده.

(ج) سهروديه طريقه:

چه د حضرت شيخ شهاب الدين سهروردي نه شروع شوې ده.

د دې درې واړه سلسلو دا مشاهير بزرګان په يو وخت او يوه زمانه کښې په بغداد کښې اسيدل. او د هغه ځاي نه د دې هرې يوې سلسلې مشاهير

بزرګان ځمونږ دے ملک ته د اسلام د تبليغ د پاره راغلي دي.

(د) نقشبنديه طريقه:

چه د حضرت خواجه بهاء الدين نقش بندنه شروع شوے ده. دغه حضرت شاه نقشبند په بخارا کښې اوسيدل. او د هغه ځائ نه د معرفت او حقيقت دانوارو رنړا ځمونږه دے ملک ته راخوره شوے ده.

هر کله چه ځمونږه په دے ملک کښې د سلسله عاليه سهرورديه بے شميره مشاهير بزرګان تير شوي دي. چه هغوئ هر يو پخپل خپل وخت د دين اسلام ډير لوئ خدمتونه کړي دي. او ځمونږه دا ملک د هغوئ په روحاني انوارو تر نن ورځے پورے روښانه دے. او د هغوئ د مبارکو تعليماتو او مجاهدانه کارنامو په برکت چه د دے زمکے د مسلمانانو تر منځه کوم "روحاني تړون" قائم شوے دے. هغه لا هغه شان قائم دے. په دے وجه د حضرت شيخ شهاب الدين سهروردي په حقله مختصره تزکره دلته درج کوؤلے شي.

روايت دے. چه په بغداد شريف کښې يو نيک سړے وو. د هغه شيخ محمد عمر ابن عبدالله نوم وو. دغه شيخ محمد عمر عليه الرحمة يوه ورځ د حضرت غوث الاعظم، ميران محي الدين شيخ عبدالقادر جيلاني قدس سره په خدمت کښې حاضر شه. عرض يئے اوکړ. چه نارينه اولاد نه لرم. دعا راته اوکړئ

حضور غوث پاک ورته دعا او فرمائيله. او دا ئې هم ورته او فرمائيل چه خدائي پاک ځوئ درکړي نو په هغه باندے شيخ شهاب الدين عمر نوم کيږده. هغه به ځما روحاني ځوي او متنبي وي. ډير لوئ ژوند به خدائ پاک ورکړي. او د هغه مريدان به د ډيرو لويو لويو مرتبو خاوندان وي. چنانچه د حضرت غوث الاعظم شاه جيلاني وينا او دعا خدائي پاک ته قبوله شوه. شيخ شهاب الدين ته دومره اوچته مرتبه حاصله شوه. چه د هغه په مشهورو مريدانو کښې د حضرت شيخ مصلح الدين سعدي شيرازي عليه الرحمة او د حضرت قاضي حميد الدين ناګورئ عليه الرحمة په شان لوئ لوئ بزرګان پيدا شول. حضرت شيخ الشيوخ شهاب الدين سهروردي په پنځم يا پنځلسم تاريخ د رجب المرجب ۵۳۸هـ پيدا شوے وو. او د څلور نوي کالو په عمر کښې يکم محرم الحرام ۶۳۲هـ کښې وفات شوے دے عليه الرحمة والغفران.

په پاکستان کښې د سلسله عاليه سهرورديه چه کوم مشاهير بزرګان دي. نو هغه يا خو هغه دي. چه براه راست د حضرت شيخ الاسلام والمسلمين شهاب الدين سهروردي خليفه ګان دي لکه:

(الف) په مشرقي پاکستان کښې. حضرت شيخ قاضي حميد الدين ناګورى عليه الرحمة.

(ب) او په مغربي پاکستان کښې

(۱) حضرت شیخ الاسلام ابراهیم دانشمند ارمړ د وزیر ستان (مزار مبارک ئې په ډهاکه مشرقي پاکستان کښې دے)

(۲) حضرت شیخ الاسلام غوث العالم بهاء الدین ذکریا ملتاني.

(۳) حضرت شیخ الاسلام خواجه فرید الدین ګنج شکر د پاک پټن.

یا هغه بزرګان دي. چه د دے سلسله عالیه سهروردیه روښانه ستوري دي. او ځمونږ دا وطن پرے روښانه دے. لکه

(۱) حضرت شیخ نورالدین ولي کشمیري چه د میر محمد ابن میر علي همداني مرید وو. او په ۸۴۲هـ کښې وفات شوے دے. مزار مبارک یئې په کشمیر کښې دے.

(۲) حضرت شیخ عبدالجلیل "قطب عالم" چوهړ قیرشي سهروردي. متوفي ۹۱۰هـ چه مزار مبارک ئې په لاهور کښې د حضرت شیخ موسی سهروردي د مزار سره نزدے واقع هے.

یادګیرنه:

د حضرت سلطان بهلول لودهي یو لور بي بي په دے شیخ عبدالجلیل علیه الرحمة باندے واده. اولاد یئې د لاهور سره تر دے په "رته" نومے ځاي کښې اوس هم

موجود دے. قريشي، هاشمي خاندان دے (د حوالے د پاره ملاحظه کړئ تاريخ مخزن پنجاب جلد نمبر۵ صفحه ۵۲۳)

(۳) حضرت شيخ موسی سهروردي. چه مزار مبارک يئې د لاهور ښهر په قلعه گوجر سنگهـ کښې دے. او د شين رنگ گنبد پرے جوړ دے. متوفي ۹۲۵هـ

(۴) حضرت شيخ الاسلام سيد نا شيخ رحمکار کاکا صاحب عليه الرحمة متوفي ۱۰۶۳هـ چه مزار مبارک يئے په ضلع پيښور تحصيل نوښهر کښې دے. او روستو په دے سلسله عاليه سهروديه کښې د دوئ چه څومره خليفه گان تير شوي دي. د هغے بحث به روستو راشي. عليهم الرحمة والغفوان.

حضرت شيخ المشائيخ سيد
نا قطب العارفين
معين الحق والملة
والدين
حسن سنجري چشتي اجميري
عليه الرحمة والغفران
۶۳۳هـ

حضرت شیخ المشائیخ سیدنا قطب العارفین
معین الحق والملة والدین

حسن سنجري چشتي اجمیري

(علیه الرحمة والغفران)

حضرت خواجه بزرگ، خواجه خواجگان معین الحق والملة والدین حسن، سنجري چشتي اجمیري علیه الرحمة والغفران د دنیائے اسلام په لویونامورو او لیاؤ کښې هغه لوئ. ممتاز ترین او نامور ترین ولي د خدائ دے. چه د هغوئ په ذات مبارک به زمانه د همیش د پاره فخر کوي. دوئ ته په دے اعتبار سره یو امتیازي شان حاصل دے. چه په کفرستان د هند کښې د اسلام رنړ په لویه پیمانه سره د دوئ د نیکو کوششونو په ذریعه او برکت سره خوره شوے ده. تاریخ گواه دے. چه اجمیر شریف ته د حضور غریب نواز په تشریف د اوړلو او دلته د قیام فرمائیلو په برکت د هندوستان په گوټ گوټ کښې د توحید او تکبیر نعره او چته شوله. او په دے برصغیر کښې دیو داسے شاندار اسلامي حکومتي بنیاد مضبوط او محکم شه. او استقلال ورته حاصل شه. چه د داسے حکومت مثال د دنیا په تاریخ کښې نه شي پیدا کیدلے. و په حقیقت کښې هم دغه د خواجه د خواجه بزرگ علیه الرحمة لویه روحاني کار نامه ده. او د هم دغه د دوئ لوئ تعریف

دے. خدائ دے د دوئ درجے نورے هم بلند کړي.

یوه تاریخي جائزه

د حضرت خواجه بزرگ علیه الرحمه د مبارک ژوند او بر صغیر پاک و هند ته د دوئ د راتللو په سلسله کښې د مختلفو تذکرو د بیانونو یوه تاریخي جائزه اخستل مناسب ګڼړو. بر صغیر پاک او هند ته د حضرت خواجه بزرگ راتلل. د هغې روحاني پس منظر او د هغے دیر پا او ژوندي اثرات ځان له یو مستقل تاریخ دے. البته چه څرنګ د دے حق دے هغه شان بحث پرے نه دے شوے. او دلته که پوره په تفصیل سره دا بحث تر سره نه کړے شو. اشاره کول ورته ضروري ګڼړم.

ظاهر ده. چه د پاکستان د قیام نه پس د حضرت خواجه بزرگ مزار پر انوار د بهارت په جغرافیائی علاقه کښې واقع دے. او څمونږ دا کتاب "روحاني تړون" د "اولیاءے پاکستان تذکره" ده. لیکن هر کله چه په مغربي او مشرقي پاکستان دواړو حصو کښې اکثر مشاهیرو اولیائ الله هغه دي. چه هغوئ د حضرت خواجه بزرګ د روحانیاو عرفاني فیوضا تو دسر چشمے نه فیض یاب شوي دي. او څمونږ دا اسلامي مملکت پاکستان هم په حقیقت کښې د حضرت خواجه بزرګ د روحاني فیوضاتو یوه مبارکه نتیجه ده. او یخ یو تاریخ د خپل ماضي نه مستغني کیدلے نه شي. په دے وجه دا ضروري

ده. چه د هغه روحاني او عرفاني حکرت او جدید نه واقفیت حاصل کړو. چه د هغے سر خېل او میر کاروان حضرت خواجه بزرګ علیه الرحمة وو. او د هغے په برکت په برصغیر پاک او هند کښې د پاکستان په نوم یو اسلامي حکومت جوړ شه. او د بهارت په زمکه هم څلور نیم کروړه د کلمه توحید لا اله الا الله محمد رسول الله ویو نکي موجود دي. او ورسره ورسه دا هم واضح شي. چه په دے تول اسلامي جدوجهد کښې د حضرت خواجه بزرګ علیهم الرحمة کردار او مقام څه وو. په خصوصیت سره اجمیر شریف ته د دوئ تشریف راوړل څه څیز ته اشاره کوی؟ که مونږ په دغه راز ځان پوهه کړو. نو دومره به اووایو چه کیدے شي چه د اجمیر په شاؤ کوا کښې یو ځل بیا نعره تکبیر الله اکبر واوریدلے شي. و ما ذالک علي الله بعزیز (خدائے پاک ته د اهیڅ ګرانه نه ده!)

یو حدیث شریف دے. من رای منکم منکراً فلیغیره بیده اوبلسانه فان لم یستطع فلیکرهه في قلبه و ذلک اضعف الایمان ط دا و کمال قال علیه السلام د دے حدیث شریف معني دا آخیستے شوے ده. چه د یو منکراو نا کاره کاردلاس اوطاقت په ذریعه برابرول د اسلامي حکومت کار دے چه جهاد او غزا ورپسے اوکړي. د کفر او شرک نه زیات لوئ ناکاره او منکر کاربل څڅه کیدے شي. ځمونږه مشرانو چه جهادونه کړي دي. غزاګانے ئے کړے دي. د کلونو کولو په مزل یئے په لرے لرے ملکونو کښې د شهادت درجه

حاصل کړے ده. هغه د دے د پاره چه د کفر او شرک تیاره د اسلام په رنړا بدله کړلے شي. د فکر او شرک په جغرافیائ حدود کښې د اسلام بیرغ او درول د مسلمانانو حکمرانو او مسلمانانو غازیانو کار دے. او بیا د جهاد نه روستو په دوئمه مرحله کښې د خلے په ذریعه د وعظ او تبلیغ په شکل سره دا فرض ادا کول او د غیر مسلمو خلقو زړونه او روح د ایمان په رنړا روښانه کول په خصوصیت سره د علماء اسلام او مشائخو او بزرګانو کار دے. او دا ښکاره خبره ده. چه په کفر ستان د هند کښې که د اسلام بیرغ څمونږ مسلمانانو غازیانو بادشهانو اودرولے دے. لکه محمد ابن قاسم. سلطان محمود غزنوي. او شهاب الدین المقلب په معزالدین محمد ابن سام غوري شول. نو دغه شان د ژبے او تبلیغ په ذریعه د اسلام په علماؤ او مشائیخو کښې په منځني دور کښې حضرت دا تاګنج بخش علي هجویري شیخ شاه دوله د ریائی (ګجرات کا تهیاواړ) او حضرت خواجه معین الدین حسن چشتي اجمیري علیهم الرحمة و الغفران دا فرض ادا کړے دے. د حضرت محمد ابن قاسم علیه الرحمة د زمانے (۹۴هـ) نه راواخله تر نن ورځے (۱۳۸۳هـ) پورے په دے دولس سوه کاله کښې په برصغیر پاک و هند کښې په زرګونو لکڅونو مسلمانان حکمرانان لوئ واړه تیر شوي دي. چه هغوئ هر یو تر خپل وس او طاقت د اسلام د سرلوړی د پاره جهادونه او غزاګانے کړي دي. دغه شان په زرګونو او لکڅونو علماء او مشاءخ هم تیر

شوي دي. چه هغوئ هم په جهاد کښې حصه اخيستي ده ا وهم ئې د خپل علمي. روحاني او عرفاني تبليغ په ذريعه اسلام خور کړے دے. په برصغير پاک وهند کښې اسلام په تدريجي طريقه سره خور شوے دے. د يوے يوے انچے زمکے دپاره جهادونه شوي دي. توفيق ورکونکے الله تعالی دے. چا په ډيره حصه زمکه کښې اسلام خور کړے دے. چا په لږه کښې. او چه په دغه نقطه نظروته فکر اوکړو. نو د برصغير پاک وهند په ټول اسلامي تاريخ کښې (۹۴هـ نه تر ۱۳۸۳هـ) د حضرت خواجه بزرگ زمانه د۶۰۰ هـ منځنئ زمانه ده. د دوئ په راتللو د تيرو شو شپږو سؤ کلونو د اسلامي جدوجهد تکميل اوشه او اسلام په ټول هندو کښې خورشده. يعنے حضرت خواجه بزرگ که برصغير پاک او هند ته د تاريخ په هردور کښې چه چه راغلے دے. مگر د کار. د هغے د نتيجے او د اثراتو په لحاظ سره د دوئ په فيوضاتو کښې همه گير والے دے. او دائره يئې تر ټول برصغير خوره ده. او هم دغه دحضرت خواجه بزرگ صحيح مقام دے. د دے نه د دوئ د مقام او مرتبے عظمت معلوميږي. "په لويو کښې د لويئے مرتبے خاوند هغه وي چه په لويو کښې لويه کارنامه انجام ته اورسوؤلے شي". ! دحضرت خواجه بزرگ په لويو کښې لويه کارنامه دا ده چه د دوئ په برکت د اسلام شان او شوکت ته عظمت او دوام حاصل شوے دے. خدائي دے د دوئ اجر نور هم لوئي کړي او د دوئ له مخه دے په برصغير پاک او هند کښې اسلام ته نور هم

شوکت او عظمت ورکړي. دکان ذالک علي الله يسيراً راو دا کار خدائ ته ډير آسان دے.

د پورته بيان د زياتے پوهے د پاره به د برصغير پاک او هند د اسلام په مجاهدينو حکمرانانو يو نظر واچوؤ. د حضرت محدم ابن قاسم ۹۴هـ نه واخله د ملتان د شيخ حميد لودهي پورے د اسلام اشاعت تر سندهـ او څه حصے پنجاب پورے شوے وو. د هغے نه پس د سلطان محمود غزنوي په زمانه کښې د اسلام دغه پوله لږه وړاندے شوه.د سندهـ او شمالغربي هندنه تر څه ځصې او د جنوبي هند ترڅه حصے اورسيدله. ليکن په کفر ستان د هند کښې د اسلامي حکومت د مستقبل بنيادباني سلطان شهاب الدين الملقب په معزالدين محمد ابن سام غوري ګنړلے شي. چه د شمالي. وسطي جنوبي هندنه واخله تر آسام او تبت پورے هغه او د هغه بهادرانو جرنيلانو او جانشينانو د اسلام بيرغ اورسؤلو. د محمد ابن سام غوري نه مخکښې د ټولو مجاهدينو د اسلام د مجاهداته کوششونو تکميل په ده اوشه. د حضرت خواجه بزرګ عليه الرحمة حال ته چه فکر اوکړو. نو د دوئ صحيح تاريخي مقام د تبليغي کارنامو د نوعيت په لحاظ سره هم هغه د معزالدين محمد ابن سام غوري عليه الرحمة په شان دے. ځکه په د حضرت خواجه بزرګ نه مخکښې هم برصغير پاک وهندته چه ځومره ګنړ مشاهير بزرګان راغلي وو. د هغوئ د فيوضاتو دائره تريوے خاصے علاقے پورے محدود وه. او د خواجه

بزرګ انوار په ټول برصغیر خواره شول. د مثال په طور:.

(۱) په چشتیه طریقه کښې د حضرت خواجه بزرګ په شپږمه پیړۍ کښې د مشر پیر طریقت نوم دے. حضرت خواجه ناصر الدین شیخ ابواحمد یوسف چشتي علیه الرحمة چه په احمد ابدال [2] چشتي نامه باندے مشهور دے. ابواحمد ابدال چشتي علیه الرحمة یو مرید حضرت مدیح بابا علیه الرحمة د ۴۰۰هـ په شاؤ خوا کښې د سابق صوبه سرحد علاقے ته تشریف رراوړے دے. چه د دوئ د فیوضاتو دائره د سابق صوبه سرحد او قبائلي علاقو پورے خوره وه (مخکښې د دوئ حالات په تفصیل سره بیان شوي دي.)

(۲) د جنیدیه بغدادیه سلسلے په مشرانو مشائیخو کښې حضرت شیخ دانا ګنج بخش علي الهجویري په (۴۳۹هـ) کښې د سابق مکربي پنجاب مرکزي ښهر لاهور ته راغلے وو. چه د دوئ د فیوضاتو سر چشمه تر پنجاب او سندڅ خوره (د دوئ تذکره مخکښې درج شوےده)

(۲) د حضرت خواجه بزرګ په دریمه پیړۍ کښې د مشر پیر نوم دے.

---

[2] د حضرت خواجه ابو احمد ابدال چشتي ولادت ۲۶۰هـ او وفات ۳۵۵هـ دے. (اثر)

حضرت مودود چشتي علیه الرحمة د دوئ دوه مریدان (۱) سید احمد سخي سرور سلطان (۲) او حضرت اتو شوریاني خویشکي د سابق مغربي پنجاب علاقے ته راغلي وو. او دا علاقه یئې په خپلو روحاني انوارو رنړا کړے وه. (مخکښې د دوئ حالات بیان شویدي.)

(۴) د جنوبي هند علاقو ته د حضرت غوث الا عظم پیر د ستګیر شیخ عبدالقادر جیلاني علیه الرحمة ممتاز خلیفه حضرت شاه د وله دریائي علیه الرحمة تشریف[3] راوړے وواو د ګجرات او کاټهیا واړ په علاقو کښې یئې د اسلام رنړا خوره کړے وه. بیا ئے بنګال ته تشریف وړے وو.او مزار مبارک یئې په "ګوړ" کښې دے.

لیکن چه څه وخت حضرت خواجه بزرګ تشریف راوړلو. نو د برصغیر پاک وهند په منځنئ علاقه اجمیرکښې یئې مقام او نیولو. او د دے ځائي نه دوئ:

---

[3] د مغربي پنجاب په ګجرات نومے ښهر کښې شاه دوله دریائی ګجراتي نومے یو بزرګ تیر شوے دے. لیکن دے د دور وستنئ زمانے بزرګ دے. او په ۱۰۸۵هـ کښې وفات شویدے. د اولني شا دوله دیرائی مزار په بنګال کښې دے. د سابق صبه سرحد په علاقه کښې چه کوم وقادر به سلسلے بزرګان دي هغه د دغه اولنی شاه دوله دریائ سلسله ده چه براه راست د حضرت غوث پاک ښیفه وو.

(الف) د برصغیر هرے حصے ته خپل مریدان او خلیفه ګان خواره کړل. (چه روستو به یئې تفصیل راشي.)

(ب) د قادریه او سهروردیه دواړو طریقو هر څومره مشاءیخ او بزرګان چه د برصغیر په چار چاپیره علاقو کښې د اسلام په تبلیغ کښې مصروف وو. د هغوئ سر پرستي یئے اوفرمائیله.

که په حقیقت باندے غور اوشي. نو دوئ ته د "هندوالي" خطاب په دے مناسبت ورکړے شوے دے. چه که نور بزرګان د برصغیر د بیل بیل ولایت روحاني رهنمایان او مبلغان وو. نو د دوئ د پاره هندوستان یو ولایت وو او خواجه بزرګ د دے ټول ولایت "روحاني بادشاه" وه او والي وو. علیه الرحمة والغفران.

په دے خبره باندے د پوره پوهیدلو د پاره به لږ وضاحت اوکړو لکه چه مخکښې ورته اشاره شوے ده په برصغیر پاک و هند کښې د مستقل او همه ګیر اسلامي حکومت باني حضرت سلطان شهاب الدین الملقب په معزالدین محمدابن سام غوري دے. چه په ۵۷۱هـ کښې یئې په ملتان اولنئ حمله کړے وه[4]. او په ۶۰۰هـ کښې د ده د یو جرنیل محمد ابن بختیار خلجي په زریعه د اسلام

---

[4]طبقات ناصر ص ۱۱۶. لیکن په تاریخ فرشته کښې د دے حملے تاریخ ۵۷۶هـ لیکلے شیودے.

بیرغ تر آسام پوري رسیدلے وو. په تاریخي اعتبار سره دا دیرش کاله زمانه ده. چه هم په دے کښې اسلام د دے برصغیر د برسرنه تر کوزه سره پورے رسیدلے دے. د ملتان په مقام د جهاد په میدان کښې چه ملکیا د غرشین غبر کړے وو.

غازیانو راشئ د شهاب پرتلاشئ

نو دغه غبر د برصغیر پاک وهندنه بره غاړے ته په ټول عالم اسلامي کښې اوریدلے شوے وو. په دے غبر چه ځومره مسلمانان او خصوصا اولیاء الله راغلي وو او د شهاب الدین ګوري سره ملګري شوي وو. په هغے چه یو نظر واچوؤ نو په هغے کښې ډیر لوئ تعداد د قادریه سهرور د په او چشتیه خاندانونو د بزرګانو دے. پخپله سلطان شهاب الدین غوري د حضرت شهاب الدین سهروردي میره عقیدت لولو. د حضرت غوث پاک زمانه لېره شان مخکښې ده. (۵۳۹هـ تا ۶۳۲هـ) دواړه همعصر بلکه همزولي دي. حضرت خواجه سهرور دي د حضرت غوث پاک متنبی او تربیت یافته وو. سلسله عاله سهرورد په حقیقت د سلسله عالیه قادریه معنوي شاخ دے. د دے دواړو سلسلو د فیوضاتو مرکز بغداد وو. د حضرت خواجه بزرګ د روحاني فیوضاتو ابتدائ هم د بغداد نه کیږي. د حضرت ابو اللیث شمر قندي په مسجد جامع کښې چه حضرت قطب الدین بختیار کاکي ته حضرت خواجه بزرګ بیعت ورکؤلو نو په دغه موقع او مجلس کښې

شیخ شهاب الدین سهروردي. شیخ داؤد کرماني شیخ برهان الیدن چشتي. شیخ تاج الدین محمد اصفهاني[5] وغیره موجود وو. د دے بیان نه دا ښودل غرض وو. چه د دے دواړو مشائخو په منځکښې څومره خوږ تعلق وو. چه یو شیخ یعنے خواجه بزرګ خپل یو مرید یعنے خواجه قطب الدین بختیار کاکي رح ته بیعت ورکوي. نو د تبرک د پاره د حضرت خواجه سهرور دي په حضور کښې ورته بیعت کوي. ځکه چه دغه وخت د حضور غوث پاک د وفات (۵۶۲هـ) نه روستو د هغوئ روحاني جانشین حضرت خواجه سهروري وو. دلته دا هم یادلرل پکار دي چه د حضرت خواجه بزرګ بغداد ته په دریم ځل د تشریف راوړلو په دے موقع (۵۸۴هـ) باندے چه کوم اولیلاء موجود وو. د هغوئ نومونه دا دي (۱) خواجه شمس الدین محمد تبریزي (۲) خواجه فرید الدین عطاء (۳) شیخ او حدالدین کرماني (۴) مولانا بهاء الدین بخاري (۵) خواجه اجل شیرازي (۶) شیخ جلال الدین تبریزي (۷) شهاب الدین محمد بغدادي (۸) مولانا عماد الدین بخاري (۹) شیخ عبدالواحد برهان غزنوي (۱۰) شیخ علي سنجري (۱۱) شیخ سیف الدین ناخرزي (۱۲) خواجه سلیمان عبدالرحمان او چه مخکښې یئې نومونه ذکر شول (۱۳) شیخ شهاب الدین سهرور دي. (۱۴) شیخ بهاء الدین ذکریا

---

[5]شیخ تاج الدین محمد اصفهاني د حضور غوث پاک نمسے دے او زیارت یئے د مغربي پاکستان د قبائیلي علاقے وزیرستان سره نزدے د افغانستان په حد کښې په برمل نومے ځائي کښې دے

ملتاني (۱۵) شيخ داؤد كرماني (۱۶) شيخ برهاالدين محمد چشتي (۱۷) شيخ تاج الدين محمود اصفهاني.

د دې سره سره په دغه دور کښې چه د دې بزرګانو د يو بل سره کوم خوږ تعلق وو. په هغې به هم يو نظر واچوؤ. د مثال په طور شيخ او حدالدين کرماني دغوث پاک د مشهور خليفه شيخ اکبر محي الدين ابن عربي هم مريد وو. د شيخ اکبر په مشهور کتاب فتوحات مکيه کښې يئې ذکر راغلے دے. بيا د شيخ شهاب الدين سهروردي او خواجه شمس الدين محمد تبريزي هم مريد شوے وو. او چه کله په ۵۶۴هـ کښې خواجه بزرګ بغداد شريف ته راغے نو د دے خپلو ټول پخوانو پيرانو په موجودګئ کښې د خواجه بزرګ نه ئے هم خرفه د خلافت حاصله کړه. دا يو مثال دے. د دے نه که د دغه دور د روحاني رهنمايانو په پرخلوصه او د مينے نه ډک تعلقات تو باندے رنړا پريوزي. نو ورسره دا هم معلوميدلے شي. چه دا وحدالدين کرماني په شان باکماله بزرګ هم چه د خواجۀ خواجګان په لمن پورے ځان پښلول خپله نيک بختي ګنړي او د هغه دواړه پيران حضرت شيخ شهاب الدين او شمس الدين محمد تبريزي هم دا خپل مريد د حضرت خواجه بزرګ په خدمت کښې پيش کوؤل مبارک ګنړي نو د دے نه د خواجه بزرګ د اوچت عرفاني مقام اندازه لګيدلے شي.

دلته يوه بله خبره هم يادلول پکار دي. لکه چله روستو به يئے تفصيل راشي د

سلله عالیه چشتیه دا چشتیه لقب د ډیر پخوانه موجود وو. او د سلسله عالیه قادریه او سهرود به دا دواړه نسبتي نومونه په دغه نزدے زمانه کښې شروع شوي وو. په دغه زمانه د طریقت او معرفت ټولے څوارلس سلسلے وے. چه دا درے واړه سلسلے (قادریه. چتیه. سهروردیه) هم په هغے کښې شمار دے. او حضرت خواه بزرګ ته په دے ټولو سلسلو کښې نسبت حاصل وو.

دا پورته بیان مو په دے غرض دلته راوړلو. چه په تاریخي اعتبار سره دا ټول د ۵۸۴هـ واقعات دي. چه په دے کال حضرت خواجه بزرګ بغداد ته راغلے وو. د دے نه دوه کاله پس چه په ۵۸۶هـ کښې حضرت سلطان شهاب الدین غوري د راجه پر تهوي راج سره د "ترای" په مقام په اولنی جنګ کښې برے او نه مونده. او حضرت خواجه شهاب الدین سهروردي ته یئے د امداد د پاره درخواست اولیږه. او هغه پخپل ځاي بانډے خپل خوریئے حضرت سید مبارک غزنوي رااولیلږه. نو داسے معلومیږي چه د حضرت شهاب الدین غوري په دے درخواست په ټول عالم اسلام کښې یو انګور پورته شوے وو. او په دغے باندے د ټول عالم اسلام د څوارلس واړه سلسلو بزرګان رالږزیدلي وو.

د حضرت شهاب الدین غوري په دے درخواست چه هر کله دور حانیت د مرکز بغداد نه او نور ګیر چاپیر عالم اسلام نه دور حانیت او طریقت د مشهور څوارلسو سلسلو او په خصوصیت سره د دے واړه سلسلو

قادريه چشتيه. سهرور ديه د مشائيخو او بزرګانو ډير لوئ تعداد راخور شه. په دے غرض چه په برصغير پاک و هند کښې د اسلام رنړا خورهٔ شي. د اسلام او مسلمانانو لښکر واو غازيانو ته فتحه حاصله شي. په برصغير پاک و هند کښې اسلامي حکومت قائم شي. او نوی قائم کيدونکي اسلامي حکومت ته استحکام حاصل شي. نو که مونږ د هغے دور بزرګانو يو نظر واچوؤ. نو د آسانئ د پاره به صرف د حضرت خواجه شهاب الدين سهروردي خليفه ګان او مريدان واخلو. او دا به راته معلومه شي چه د حضرت خواجه سهروردي چه هر څومره ممتاز خليفه ګان وو. هغه ټول برصغير پاک وهند ته په دغه موقع د جهاد دپاره رارسيدلي دي. د مثال په طور.

(الف) يواځے د بنګال په يو مقام کښې چه د يو ګان نوم يئے دے. دلته د حضرت خواجه شهاب الدين سهرور دي د اولس ممتازو خليفه ګانو مزارات مبارک دي. (چه روستو به ئيې تفصيل راشي.)

(ب) د سابق صوبه سرحد د مشهور تاريخي شخصيت پيرو روښان په شپږم پشت کښې نيکه حضرت ابراهيم دانشمندار مرچه د حضرت شيخ شهاب الدين سهروردي خليفه وو. د هغه مزار په "سونارګاو" مشرقي پاکستان کښې دے. او د هغه دځوئ حضرت سراج الدين

المعروف په مولانا عطاء چه د خپل پلار د پیر بهائی حضرت بهاء الدین ذکریا ملتاني مرید وو د هغه مزار په مشرقي پاکستان کښې دے.

(ج) هغه چه په بغداد کښې ئیے د حضرت خواجه بزرگ سره یئے صحبتونه وو. خواجه محمد شمس الدین تبریزي د هغه مزار مبارک په ملتان کښې دے (د دوئ د ولادت تاریخ ۵۶۰هـ او د وفات تاریخ ۶۴۵هـ دے)

(د) حضرت خواجه شاه جلال الدین تبریزي چه د حضرت خواجه سهروردي خلیفه وو. او د حضرت خواجه قطب الدین بختیاري کاکي او حضرت او حدالدین کرماني سره ملګرے د بغداد نه ملتان ته راغے وو. د هغة مزار مبارک په مشرقي پاکستان کښې دے.

دا یو مختصر مثال دے. او د دے په رنړا کښې وئیلے شو. چه:.

(الف) د ۵۷۱هـ نه تر ۶۰۰هـ پورے چه د برصغیر پاک و هند په زمکه د اسلام کوم بیرغ او دریدلے وو. د هغے د استحکام د پاره.

(ب) او په دے پورتنئ زمانه کښې چه د طریقت. معرفت او شریعت د

هرخومره سلسلو بزرګانو او مشايخ دے زمکے ته راغلے وو. د هغوئ د روحاني امداد او سر پرستئ د پاره او په هغے کښې د مرکزيت پيدا کولو د پاره.

د دے دواړو کارونو په ښه طريقه سره سرته رسؤلو د پاره خدائ پاک خواجه بزرګ له دا لوئ عزت ورکړو. د "هندالولي" مرتبه يئې ورته و بخښله. او په سرزمين هند کښې د اسلام د تبليغ د پاره د "نائب رسول" اوچت مقام يئے ورته عطا کړو. دوئ هندوستان ته تشريف راوړلو. دلته يئے د توحيد د تبليغ مرکز قائم کړو دلته چه کوم اولياءِ الله د اسلام په خدمت کښې مصرورف وو. د هغوئ مټے مضبوطے شولے او د دوئ د مبارکو قدمونو او کوششونو په نتيجه کښې په دے سرزمين کښې د اسلام رنړا داسے خوره شوه. او داسے استحکام ورته حاصل شه. چه نن د برصغير پاک و هنديوا هم طاقت اسلام او مسلمان دے.

نظر اعتبار

يو طرف ته د حضرت خواجه خواجګان معين الحق د الملة والدين حسن سنجري، چشتي اجميري دا دومره اوچت روحاني. عرفاني او د اسلام د نشرو اشاعت او تبليغ په سلسله کښې د شاندارو خدماتو دا دومره عظيم الشان مقام دے. او بل خوا ته د دوئ په سوانح حيات کښې چه نن ورځے هر څومره تزکرے ليکلے شوے دي. يا ليکلے شي. د هغے

اکثر بیانونه په تاریخي اعتبار سره د افسوسناکو غلطو نه ډک دي. د مثال په طور یو غلطي به یئے واخلو د نن ورځے ټولو تذکره لیکونکو دا متفقه روایت دے. چه حضرت خواجه بزرګ په ۵۶۱هـ کښې اجمیر ته تشریف راوړے دے. لیکن د انصافدار دیته فکر نه کوي چه هر کله حضرت خواجه بزرګ په ۵۳۷هـ کښې پیدا شوے دے. په ۵۵۳هـ کښې د خپل والد ماجد علیه الرحمة د وفات نه روست و دعلم په طلب کښې بخارا او سمر قند ته یئے تشریف وړے دے پنځه کاله یئے هلته درس لوستلے دے. او په ۵۵۹-۵۶۰هـ کښې بغداد شریف ته راغلے دے او په ۵۶۲هـ کښې دلته د دیني علومو نو د تکمیل نه فارغ کیږي. او د طریقت د ژوند ابتدا کوی. نو په ۵۶۱هـ کښې اجمیر ته څرنګ راغلے وو.؟

لکه چه روست ومونږه په تفصیل سره پورے بحث کړے دے. او د هغے نه به پوره واضحه شي. خواجه بزرګ د بغداد نه په ۶۳-۵۶۲هـ کښې د ایران نیشاپور نومے ښهر ته رسیږي. هلته په هارون نومے کلي کښې د حضرت خواجه عثمان هاروني نه لاس نیوه کوي. او د بیعت نه روستو پوره شل کاله تر ۵۷۳-۷۴هـ پورے د خپل پیر طریقت په خدمت کښې پاتے کیږي. د هغے نه روستو بیا د دنیائے اسلام په سفر روانیږي. په ۸۵-۵۸۴هـ کښې بغداد شریف ته راځي. او لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه. په بغداد کښې د مشاهیرو بزرګانو سره ملاقاتو نه کوي. نو آخر په کوم دلیل او کومه بناء

دا ممکنه کیدلی شي. چه په ۵۶۱هـ کښې چه هیله د دوئ عمر مبارک ۲۴ کاله وو. او لا د علم د تحصیل نه فارغه شوي هم نه وو. د دوئ دے اجمیر ته راغلي وي.

بیا د دغے نه علاوه دے تذکره لیکونکو بل کار دا کړے دے. چه یو ځل ئې په غلطئ سره او په بے احتیاطئ باندے په ۵۶۱هـ کښې اجمیر ته د دوئ تشریف راوړل فرض کړي دي. نو بیا د دے خپل غلط روایت د راټینګولو د پاره یئے د ۵۶۱هـ نه تر ۶۰۰هـ پورے دا اجمیر د قیام د دوران داسے قیصے او افسانے د حضرت خواجه بزرګ علیه الرحمة ذات مبارک ته منسوبے کړے دي. چه سړے ورته حیران پاتے شي. په دے کښې هیڅ شک نیشته دے. چه د حضرت خواجه ذات مبارک ډیره لویه هستي ده. د هغوئ عرفاني او روحاني مقام دومره اوچت دے. چه هغے ته څمونږ فکر او خیال رسیدلے هم نه شي. د هغوئ ذات مبارک په دے بر صغیر کښې د انوارویوه مناره ده. چه دا برصغیر پرے ټول رنړا دے. د اسلام د شوکت او عظمت یوه ستن ده. چه په دے بر صغیر کښې د اسلام عمارت پرے ټینګ ولاړ دے. د هغوئ د ذات سره د دے برصغیر د هر مسلمان په زړهٔ کښې د عقیدت موجودګی یو قدرتي څیز دے. لیکن د عقیدت په بناء د یو تاریخ او تذکره لیکونکي دپاره تاریخي حقائق مسخ کول مناسب نه وي.

دے مؤرخانو دا کار کړے دے. چه هر کله په ۵۶۱هـ کښې یئے د حضرت خواجه بزرګ

علیه الرحمة اجمیر ته راتلل فرض کړي دي. او بیا یئے د شهاب الدین محمد ابن سام غوری د لاس نه د "ترائن" په مقام د راجه "پرتهوي راج" شکست او نورټول فتوحات د خواجه بزرګ روحاني تصوفات ښوولي دي. نو بیا یئے ورپسے د داسے واقعاتو نسبت د خواجه بزرګ ذات مبارک ته کړے دے. چه که د هغے تجزیه او کړلے شي. نو هغه په هیڅ صورت سره د "خواجه بزرګ" د تعریف خبره نه شي کیدلے خدائ پاک دے د خواجه بزرګ درجے بلندے کړے. د هغوئ مبارک شان د داسے واقعاتو او افسانو نه بالکل پاک دے. د کومو نسبت چه د موجوده دور تذکره لیکونکو او مؤورخانو هغوئ ته کړے دے. حال دا چه په پخوانو تذکرو کښې دا غلط واقعات نشته دے.

د مثال په طور یو کتاب دے. د هغے نوم دے "خواجه غریب نواز" د هغے په صفحه نمبر۶۰ باندے لیکي: (د اردو نه ترجمه)

په رائي پتهورا د خواجه عتاب

"راجه رائي پتهورا چه په غصه کښې د حضرت خواجه په خلاف کوم الفاظ د خلے نه ویستلي وو. هغه خواجه صاحب ته رااورسیدل. چنانچه خواجه صاحب هم په غصه کښې راغے. او د کاغذ په یوه پرزه یئے دا الفاظ اولیکل. او وردیئے لیږل "که من ترابه لشکر اسلام سپردم" یعني که ته ما د اجمیر نه اوباسے که نۀ اوباسے ماته

اونیولے او ژوندے م د اسلام لښکر ته حواله کړے".

بیا په صفحه نمبر۶۴ مخکښې لیکي. "په ۵۸۸هـ کښې د "تراوړي" په میدان کښې راجه پرتهوي راج د شهاب الدین غوري د لاسه شکست او خوړلو. او نیولے شه. او وژلے شه. او غرض دا چه په دے طریقه سره د حضرت خواجه پیشین ګویئ پورته شوله".

بیا د صفحه نمبر۶۴ په دے پورتنی عبارت په حاشیه کښې لیکي:

وئیلے شي چه کومه ورځ حضرت خواجه په غصه کښې راغے. او رائ پتهورا ته ئې اولیکل" چه ته ما اونیولے او ژوندے م د اسلام لښکر ته او سپارلے؟ نو په دغه شپه حضرت خواجه بزرګ په خواب کښې سلطان شهاب الدین غوري ته په هندوستان د فوراً حملے کولو حکم ورکړلو. او ورته یئے دا هم اووئیل چه دا پیره به تا ته خدائ پاک ضرور فتح درکړی."

د دے پورته عبارت خلاصه مطلب دا شه. چه د سلطان شهاب الدین غوري د لاسه د رائي پتهورا دغه شکست او مرګ دا هر څه د خواجه صاحب د قهر او غصے په وجه اوشول. که رائ پتهورا دا غلطي نه وے کړے او خواجه بزرګ یئے غصه کړے نه وے. نو د تراین په مقام چه د رائ پتهور د لاس نه په ۵۸۶هـ کښې شهاب الدین غوري شکست خوړلے وو. دوباره په ۵۸۸هـ کښې به بیا

سلطان شهاب الدین حمله نه وے کړے. او رائي پتهوارا به پکښې نه وي مړ. د دے پورته بیان نه دا هم معلومه شوه چه د خواجه بزرګ اورائي پتهورا تر منځه دغه خفګان د ترائن د اولني جنګ ۵۸۶هــ او دوئم جنګ ۵۸۸هــ په منځنی زمانه کښې راغلے وو. لیکن سوال دا دے چه هر کله د دے مورخانو په قول حضرت خواجه په کال ۵۶۱هــ کښې اجمیر ته راغلے وو. نو د ۵۸۶هــ پورے په تیرو شوو پنځویشتو کالو نو کښې چه خواجه بزرګ د اسلام تبلیغ کؤلو. نو په هغے راجه نه خفه کیده؟ او روغ جوړ پنځه ویشت کاله پس یئے خفګان پیښ شه. حضرت خواجه بزرګ د راۍ پتهورانه په دے خوخفه نه شه چه د ترائن په مقام یئے شهاب الدین غوري له شکست ورکؤلو. او د جهاد په دغه موقع یئے د سلطان شهاب الدین سره هیڅ روحاني امداد او نه کړ. لیکن هر کله چه راۍ پتهورا په خواجه صاحب د اجمیر نه د اوکښلو د باؤاو کړونو ماله قهر ورغے سلطان ته یئے په خوب کښې د حملے کولو حکم ورکړو. او په نتیجه کښې یئې رائی پتهورا ختم شه. لاحول ولا قوة الا بالله العظیم دا څومره غلط خیال دے او د حضرت خواجه په شان مبارک کښې څومره لویه بے ادبي ده حاشا وکلا. حاشا وکلا د حضرت خواجه بزرګ ذات مبارک د داسے غلطو افسانو نه ډیر پاک دے.

د دے غلطو افسانو په سلسله کښې د ټولونه لویه خبره دا ده. لکه چه روستو

به یځی په تفصیل سره بیان کړو د رائ پتهورا او سلطان شهاب الدین غوري تر منځه چه د ترائن په مقام اولنی جنګ کیدلو نو په دغه ۵۸۶هـ کښې حضرت خواجه بزرګ د بغداد شریف نه د اوه میلونو په فاصله په سبحان نومې مقام کښې د حضرت نجم الدین عمر کبری ابن محد ابن عبدالله (متولد ۵۰۴هـ متوفي ۶۱۸ء) سره وو. حضرت نجم الدین کبری د حضرت غوث الثقلین محي الدین شیخ عبدالقادر جیلاني په مشرانو خلفاؤ کښې وو. مشهوره سلسله، سلسله کبرویه دوئ ته منسوبه ده. حضرت خواجه بزرګ په سلسله عالیه قادریه او سلسله کبرویه کښې د دوئ نه فیض حاصلولو او ظاهره ده چه په دغه نیټه لا حضرت خواجه بزرګ برصغیر پاک و هند ته نه وو راغلی او د ترائن په مقام د دویم جنګ (۵۸۸هـ) په ورځو کښې حضرت خواجه بزرګ په اصفهان کښې وو. د دې نه دا اندازاه لګؤل آسانیدلې شي. چه د پورتنۍ افسانې تاریخ حقیقت څۀ دې؟

لکه چه مونږه مخکښې ورته اشاره کړې ده. چه د دې نمونې افسانو د حضرت خواجه بزرګ ذات مبارک ته نسبت کوؤل نه شائي. د هغې وجه دا ده چه که بالغرض حضرت خواجه بزرګ په دغه نیټه په اجمیر کښې موجود هم وې. او رائ پتورا د هغوئ په شان کښې بې ادبي او ګستاخي کړې وې. نو دغه بیا د دوئ ذاتي معامله جوړیدله. او په دغه صورت کښې رائ پتهورا له سزا ورکوؤلو به

د ذاتي انتقام شکل اختيار کړے وے. حال د
چه مونږ خواجه بزرګ ته "نائب رسول"
وايو. او د رسول پاک صلي الله عليه وسلم
په تعريفونو او صفتونو کښې يو مبارک صفت
دا دے چه هغوئ د هيچا نه هم ذاتي انتقام
نه وو اخيستے. بلکه دا چه حضرت خواجه
بزرګ د حضرت (سد الله الغالب علي ابن
ابي طالب کرم الله وجه نمسے دے. او مونږ
ته په صحيح روايتونو دا روايت رارسيدلے
دے چه حضرت خواجه بزرګ په صورت او سيرت
دواړو په هر لحاظ سره د دغه خپل جدا
مسجد په صفتونو موصوف وو. او لکه چه
روايت دے. چه په يوه موقعه حضرت علي رضي
الله عنه په يو کافر ګزار اوکړو هغة
کافر پريوتلو او د دوئ يئے په سينه
کيناستل. او دهغه د د وژلو اراده
فرمائيله چه په دے کښې هغه کافر د دوئ
په مخ مبارک توکانړي ګزار کړل نو د وئ
فوراً د هغه د سينے نه پورته شول او د
هغه د مرګ نه يئے لاس اونيول. چه کافر
تپوس اوکړو. نو دوئ او فرمائيل چه اول م
د اسلام په خاطر وژلے اوس که دے وژنم. نو
چونکه تا څما په مخ توکانړي ګزار کړي دي
بے ادبي دے کړے ده. نو هسے نه ستا دا
مرګ څما د ذاتي انتقامي جذبے فعل او نه
ګڼړلے شي. نو د دغه سيدنا و مولانا علي
ابن طالب رضي الله عنه د صحيح جانشين او
نمسي حضرت خواجه بزرګ په شان کښې که
بالغرض رائے پرتهوي راج "بے ادبي هم کړے
وے. نو حضرت خواجه بزرګ بيا د هغه نه
انتقام نه شه اخيستلے دا يوه ډيره

باریکه نکته ده. او افسوس دے چه د موجوده دور عامو مورخانو او تذکره لیکونکو ورته فکر نه دے کړے. او د دے نمونے نورے بے شمیره افسانے یئے په حضرت خواجه بزرګ پورے تړلے دي. چه په روحاني طور سره درد ناکے دي زړهٔ ته تکلیف رسوي. او په تاریخي طور سره غلطے دي.

دلته یوے بلے اهمے نکتے ته هم اشاره کول مناسب ګنړم او هغه دا ده چه په روحاني او تاریخي دواړه اعتبارونو سره دا خبره هیڅ اهمیت نه لري چه حضرت خواجه بزرګ کله پیدا شوے دے. او کله یئې برصغیر پاک و هند ته تشریف راوړے دے. بلکه کومه خبره چه اهمیت لري. هغه دا ده. چه د هندوستان په خاوره چه هر څومره اولیائ دي دے د هغوئ "سلطان" دے حضرت خواجه بزرګ "خواجه خواجګان" دے. "سلطان الاولیاء والعارفین" دے. "هندالولي" دے. او "نائب رسول" دے چه کله خدائ ته منظوره شوه چه بر صغیر پاک او هند کښې دے اسلام یو ژوندے طاقت شي. نو ددغے طاقت د سر پرستئ د پاره یئے خواجه بزرګ له دا لویه مرتبه ورکړه او دلته ئې را اولیږیلو. او دغه د انوارو مرکز تر نن ورځے پورے لا هغه شان باقي دے. روښانه دے. او د انوارو پلوشے یئے چار چارپیره لاهغه شان خوریږي. د دے داسے مثال دے. لکه حضرت غوث الثقلین محبوب سبحاني. قطب رباني محي الدین شیخ عبدالقادر جیلاني قدس سره العزیز د ۴۷۰هـ تر ۶۶۲-۶۶۱هـ د زمانے وو. لیکن مرتبه یئې د رسول پاک

صلي الله علیه وسلم د اصحابو کرامونه راپه دیخوا د ټولو او لینو او آخرینو اولیاؤنه اوچته وه. خدائي پاک ډیر لوئ ذات دے. د هغه د ربوبیت په اسرارو هم هغه پخپله عالم دانادے. په دے وجه مونږ له د حضرت خواجه بزرګ د ذاتي حالاتو. د هغوئ د تعلیماتو او د اسلام د پاره د خدماتو ځان واقف کوؤل پکار دي لیکن د دے ټولو خبرو سره د اسلام د تعلیماتو د ادب کولو خیال او لحاظ هم پکار دے.

د خواجه بزرګ د ژوند حالات

برصغیر پاک وهند ته د حضرت خواجه بزرګ د تشریف راولو په دے مسله باندے مونږه مخکښې د حضرت دا تاګنج بخش علیه الرحمة په تذکره کښې هم مختصراً بحث کړے دے. او دلته غواړو چه د خواجه بزرګ د ژوند مبارک حالات او واقعات په تاریخي او تحقیقي شکل سره په تفصیل سره بیان کړو.

د حضرت خواجه بزرګ مبارک نوم حسن دے. "معین الدین"یئے لقب دے. د دے نه علاوه حبیب الله. غوث المشائیخ. قطب العارفین. هندالولي. عطایے رسول. نائب النبي خواجه خواجګان. سرکار غریب نواز هم د دوئ مبارک القاب دي.

په ۱۴، تاریخ د رجب المرجب ۵۳۷هـ په ورځ د دوشنبے په وخت د صبح صادق باند د سیستان په علاقه کښې په سنجر نومے کلي کښې دے دنیا ته یئے تشریف راوړے وو.

د والد ماجد نوم يئې "غياث الدين حسن" وو. چه د خپل وخت يو عابد او زاهد انسان وو. او د ډير قدر او عزت او مال او دولت خاوند وو. د دوئ د نسب سلسله په څوارلسم پشت کښې حضرت مولائے کائنات علي ابن ابي طالب كرام الله وجهه ته رسيږي. شجره مبارکه يئے داده.

حضرت خواجه معين الدين حسنابن سيد طاهر ابن سيد عبدالعزيز ابن سيد ابراهيم ابن امام علي الرضا ابن امام موسى كاظم ابن امام جعفر صادق ابن مام محمد باقرابن امام علي زين العابدين ابن حضرت سيد الشهداء امام حسين ابن سيدنا علي المرتضي رضوان الله تعالى عنهم اجمعين.

لکه چه مخکښې ذکر او شه. حضرت خواجه بزرګ د سيستان په سنجر نوم کلي کښې پيداا شويدے. نن ورځے د سيستان په علاقه په سياسي طور سره په دوه حصو کښې تقسيم ده. يوه ايراني سيستان. دوئمه افغاني سيستان. دغه سنجر نومے کلے چه حضرت خواجه بزرګ پکښې پيدا شوے دے. په جغرافيائی طور سره په افغاني سيستان کښې واقع دے. او د دے کلي په نسبت سره د دوئ يو لقب معين الدين حسن سنجري دے.

د حضرت خواجه بزرګ عليه الرحمة په القابو کښې يو مشهور لقب دے. "چشتي" په دے نوم سره د دوئ د يادېدلو وجه دا ده چه د دوئ د طريقت او ارادت سلسله په اوومه پيړئ کښې بره حضرت خواجه ابو

اسحاق شامي چشتي عليه الرحمة ته رسيږي. او په دے لقب "چشتي" باندے د ټولونه اول هغة ياد شوے وو. چنانچه د هغوئ نه روستو چه د هغوئ د مريدانو کومه سلسله راخوره شوے ده هغوئ ټول د دے خپل پير طريقت د دے نسبتي نوم په مناسبت سره د خپل نوم سره "چشتي " ليکي.

د حضرت خواجه بزرگ د طريقت شجره داسے ده.[6]

د حضرت خواجه معين الدين حسن سنجري دله حضرت شيخ عثمان هاروني[7]. له حاجي شريف ترمذي[8].له حضرت مودود چشتي[9]. له کواجه ناصر الدين محمود چشتي. له خواجه ناصرا لدين شيخ ابواحد يوسف المعروف په شيخ ابدال چشتي[10]. له خواجه ابو اسحاق شامي چشتي له ممشاد علو دينوري له خواجه ابو هبيره بصري له ابو حذيفه مرغشي له سلطان ابراهيم ابن ادهم. له فضيل ابن عياض له عبدالواحد ابن زيد. (متوفي ۱۷۷هـ) له امام حسين بصري. له امير المومنين علي المرتضي کرم الله وجهه.

---

[6]دا حاشيه په بل مخ ملا خطه کړء.

[7]د حضرت خواجه عثمانهاروني د ولادت صحيح تاريخ نه دے معلوم. البته د ډيرا اوږد عمر خاوند وو. په ۱۶ تاريخ د شوال ۶۰۸هـ يا ۶۱۷هـ کښې وفات شوے دے. مزار مبارک يئې د مکےمکرمے او جنت المعلي په منځ کښ وو. عليه الرحمة والغفران.

[8]د حوالے د پاره اوګورئ تذکرة الا برار والشرار د اخوند درويزه صفحه نمبر۱۲۸

[9]متوفي ۲، رجب ۵۸۶هـ

[10]متوفي ۵۶۷هـ مزار هرات.

لکه چه مخکښې ورته اشاره او شوه د چشتي لقب ابتداء د حضرت خواجه ابو اسحاق شامي ته شوے ده. چشت د خراسان (موجوده افغانستان) په علاقه کښې د يو کلي نوم دے. چه د مشهور ښهر هرات نه د ديرش کوس په فاصله دے. خواجه ابو اسحاق په اصل د شام وو. ليکن د خدائي د مخلوق د هدايت او ارشاد د پاره په دغه چشت نومے ځائے کښې يئې استوګنه اختيار کړے وه. هغة يئے د خپلو روحاني فيوضاتو مرکز ګرزولے وو. او دلته يئې د طريقت او معرفت يوه داسے خانقاه او مدرسه جاري کړے وه. چه د هغے نه د دين اسلام بے شميره بزرګان پورته شول. او د حقيقت او عرفان پيغام يئې د چا چاپيره دنيا مسلمانانو او رسؤلو. او د هغوئ په برکت د دغه ورکوټي شان کلي نوم په ټوله دنيا کښې ژوندے پاتے شه. په دے اعتبار سره لفظ "چشتي" يو جغرافيائ نسبتي نوم دے. چه ابتداء يئے د ۴۰۰هـ نه روستو شوے ده.

د سيستان د علالقے يو پخوانے نوم "سجستان" هم دے. د دا دواړه نومونه په حقيقت کښې يو څيز دے. صرف دومره فرق دے. چه د علاقئ لهجو د اختلاف له مخه د لفظ سيستان حرف دي، په حرف (ج) بدله شويده. او سجستان لوستلے شويدے) چنانچه د دے دوئم نوم په مناسبت سر حضرت خواجه بزرګ د خواجه معين الدين سنجري، سجزي په نوم هم ياد ولے شي.

حضرت خواجه بزرګ په یو روایت د یوولس کالو وو. او په بل روایت د دولسو کالو وو چه په ۵۴۸هـ یا ۵۴۹هـ کښې والده ماجده ئې وفات شوه. په دے کښې دغه دوئم روایت چه د والدے ماجدے د وفات په وخت کښې د دوئ عمر مبارک دولس کاله وو زیات صحیح معلیږي او د روستو نورو واقعاتو نه ئې تصدیق کیږي. په دے اعتبار د دوئ د والدے ماجدے د وفات کال ۵۴۹هـ دے.

یو مقاله نګار د حافظ محمد اسلام، لیکلي دي. چه دوئ په ۵۴۴هـ کښې په مدرسه کښې داخل کړلے شول. لیکن د مدرسے نوم یئے نۀ دے ښودلے چه چرته وه. په دے اعتبار دا وئیلے شو چه دوئ د اوه کالو په عمر کښې مدرسے ته لیږلي شوي وو. هم دغه راوي روستو لیکي. چه په ۵۵۰هـ کښې واپس کورته راغلل. د دے مطلب دا شه د والدے ماجدے د وفات نه روستو او په مدرسه کښې د سپږ کاله درس لوستونه واپس ئے کورته تشریف راوړے وو.

په دغه زمانه د افغاني سیستان سره نزدے علمي مزکزونه او مدرسے په بست، سبزه وار. غزني او هرات کښې وے. دا به معلومول غواړي چه دوئ کومي یوے مدرسے ته تلي وو. بلله دا چه په دے پورته ټولو علمي مرکزونو کښې د ساداتو خاندانونه آباد وو. په داسے کم عمر کښې یوے مدرسے ته لیږل ئے دا ښائي چه په هغه علمي مرکز کښې به لازماً د دوئ د خپلوانو ساداتو کورینئ وه.

بیا چه ددوئ عمر مبارک د پنځلسو کالو وو. په ۵۵۲هـ کښې والد یئے وفات شه علیه الرحمة والغفران. په دے سلسله کښې د ټولو تزکره لیکونکو د متفقه روایت دے. چه د والد ماجد د وفات نه روستو دوئ ته یو باغ او یوه جرنده په میراث کښې پاتے شول. په هغے به یئے ګزاره کؤله. او ټول کار به یئے په خپلو لاسونو مبارکو کؤلو. د باغ خصمانه او د کشت وکار ژوند یئے شروع کړلو. په دغه منځ کښې یوه ورځ د دوئ باغ ته یو مجذوب فقیر حضرت ابراهیم فندوزي علیه الرحمة تشریف راوړلو دوئ ورته هر کلے ووایه. د یوے ونے د سویري لاندے یئے کینولو. او انګور یئے ورته مخے ته کیښودل. فقیر کچکول راواخیسته. یوه وچه ټکړه یئے ترینه راوکښله. په خپل خوله کښې یئے اوژویله. بیائے حضرت خواجه بزرګ ته ورپخواله کړه. هغه غړئ د حلق نه تیریدل وو. چه د دحضرت خواجه بزرګ په زړهٔ او خیالاتو کښې انقلاب راغے. او د الله پاک جل و علي شانه مینے او محبت د دوئ په زړهٔ کښې جوش او وهلو. فقیر خولاړ خپله لار یئے اونیوله. او حضرت خوجاه بزرګ باندے یئے دا اثر پریښوده. چه مال متاع هر څه یئے خرڅ کړل. په فقیرانو یئې خیرات کړل. په خدایئې یئے توکل! وکړ. او د علم په طلب کښې د کوره روان شه.

مونږ چه په دے پورته بیان غور اوکړو نو دا وئیلے شو. چه هر کله د حضرت خواجه بزرګ والد ماجد په ۵۵۲هـ کښې وفات شوے

دے. نو د حضرت ابراهیم قندوزي سره د دوئ ملاقات به یا هم په دغه کال ۵۵۳هـ یا ۵۵۳هـ کښې شوے وي. او د علم په سفر د دوئ. د روانیدلو نیټه هم دغه ۵۵۳هـ اندازه کوؤلے شو. چه د دغه وخت به د دوئ عمر مبارک د شپاړسو کالو وو. او ځلمے هلک به وو. او هم د دغه ځلمي توب په زمانه کښې به د علم په طلب روان شوے وو.

د ټولو تذکرو دا متفقه روایت دے. چه د علم د حاصلولو د پاره دوئ بخار او سمر قند ته تشریف وړے وو. په بخاراو سمر قند کښې چه د دوئ د کومو عالمانو نه درس حاصل کړے دے. د هغوئ پوره نومونه نه دي معلوم. فقط دومره معلومه ده. چه د مولانا حسام الدین بخاري علیه الرحمة نه یئے په بخارا کښې درس لوستلے وو. او قرآن مجید یئے په یادو یاد کړے وو. او په علم فقهه، تفسیر او حدیث کښې یئے پوره مهارت حاصل کړے وو.

په دے سلسله کښې حافظ محمد اسلام په خپلو مقاله کښې لیکي. چه دوئ پنځه کاله په بخارا او سمر قند کښې درس لوستلے وو. په دے اعتبار سره چه د سنجر(سیستان) نه په ۵۵۳هـ کښې د دوئ په سفر باندے روانیدل او ګنړلے شي. او د سنجر (سیستان) او سمر قند تر منځه ډیر اوګد مزل دے. لازماً یو کال به یئې د بخارا او سمر قند په دے سفر کښې په لاره باندے تیر کړے وي. او په ۵۵۴هـ کښې به هلته رسیدلي

وي. او د پورتنۍ روايت مطابق تر ۵۵۰هـ پورې به ئې هلته درس لوستلې وي. او لکه چه مخکښې ذکر اوشه. د دغې نه وړاندې د ۵۴۴هـ نه تر ۸۵۰هـ پورې شپږ کاله يئې د سنجر په خواو شا علاقو کښې په کومه يوه مدرسه کښې هم درس لوستلې وو. او په دې حساب سره د دوئ عمر مبارک دولس کاله زمانه خالص د ديني علمونو په حاصلولو کښې تيره شوې ده.

بيعت او طريقت

حضرت خواجه بزرگ چه د ديني علومونو د حاصلولو او تکميل نه فارغه شوې دې. او بيا يئې د خپل پير طريقت نه بيعت او لاس نيوه کړې ده. په دې سلسله کښې چه په عامو تذکرو کښې کوم روايت دې. اول دلته هغه درج کوؤ. او بيا پرې روستو يو تحقيقي نظر اچول غواړو. چه په بعض روايتونو کښې تضاد دې چه د هغې تطبيق راشي.

په دې سلسله کښې موجوده روايت دا دې چه هر کله حضرت خواجه بزرگ په سمر قند او بخارا کښې د علم د حصول نه فارغه شه. نو دهغه ځائي نه راواپس شه. او د خراسان د موجوده افغانستان لاره باندې په نيشا پور (ايران) باندې مخکښې عراق ته د تللو په نيت روان وو. د سلوک او معرفت په لاره کښې د رهنمايئې حاصلولو او د پير طريقت نه د لاس نيوې کولو اراده يئې کړې وه. په دغه منځ لاره کښې د ايران د نيشا پور

نومے ښهر خواته په هارون نومے کلي کښې يئے د حضرت خواجه عثمان هاروني عليه الرحمة سره ملاقات اوشولو. او د هغوئ په ليدلو يئےے دا محسوسه کړله. چه دمقصود د کوم ګوهر په تالاش کښې چه دوئ روان شوي وو. هغه هم دغه دے او په لاس راغے. څو ورځے يئې د حضرت شيخ په خدمت کښې تيرے کړے. ورځ په ورځ ئے ورسره دومره عقيدت زياتيدلو. چه حضرت عثمان هاروني هم د دوئ د باطني حالاتو اندازه اولګوله. شفقت يئې پر اوفرماياه. د دوئ وجود يئې ډير زيات مبارک اوګڼړلو. او په دے شان د خپلو مريدانو په حلقه کښې يئے شامل کړلو.

حضرت خواجه بزرګ عليه الرحمة چه د خپل بيعت کولو دا واقعه پخپله څرنګ بيان کړے ده. هغه دلته په دے غرض درج کولے شي. چه د دے نه به دا اندازه اولګيدلے شي. چه د کوم يو پير طريقت مريد د خواجه خواجګان معين الدين حسن چشتي په شان عظيم الشان بزرګ وو. نو چه د دغه پير طريقت يعنے حضرت خواجه عثمان هاروني مرتبه به څومره او چته وه.

حضرت خواجه بزرګ فرمائي: په يو داسے صحبت کښې چه په هغے کښې ډير لوئ لوئ معظم او محترم مشائخ کبار جمع وو. زۀ په ډير ادب سره د حضرت شيخ عثمان هاروني په خدمت کښې حاضر شوم. او دعاجزئ او نياز مخ مې په زمکي کيښوده. حضرت مرشد حکم اوکړو. چه د دوه رکعته نمونځ اوکړه. ما

فوراً د حکم تعلیم اوکړلو. بیائې او فرمائیل مخ په قبله کښینه. ما په ادب سره قبیلے ته مخ کړلو. او کښیناستلم. بیا ئې ارشاد او فرمائیلو چه د سورت بقر تلاوت اوکړه. ما په خلوص او عقیدت سره دا د دوه نیمے سپارے) سورت تلاو کړلو. بیایئې او فرمائیل شپیته ځله "سبحان الله" اووایه. ما د دے حکم تعمیل هم اوکړلو. د دے مدار جو ته روستو حضرت مرشد قبیله پخپله پاسیده. اودریده. او ځما لاس یئے په لاس کښې اونیولو. آسمان طرف ته یئے مخ کړ. او وے فرمائیل. "خدایه ما دا ستا بنده تا ته اوسپارلو". د دے ټولو مرحلو ختم کیدلو نه پس حضرت مرشد قبیله یو خاص قسم له ټوپۍ چه هغے ته "کلاه چارترکي" وائي ځما په سر کیښودله. او خپله چغه یئے ماته په اوږو واچواله. او بیا یئے او فرمائیل کښینه! زۀ فوراً کښیناستم. بیا یئے ارشاد او فرمایه چه یو زر ځله سورت "قل هوالله احد" اولوله.! ما دغه ختم اوکړلو بیا یئې اوفرمائیل چه ځمونږه د مشائیخو په طبقه کښې بس هم دا د یوے شپے ورځے مجاهده ده. لهذا ورځه لاړ شه. او د یوے شپے ورځے ځلیریشت کهنټے مجاهده اوکړه. چنانچه د هغوئ د ارشادمطابق پوره یوه ورځ او شپه م د خدائ په عبادت، نمونځ او طاعت کښې تیره کړه. په صبا له بله ورځ بیا حاضر شوم. او د عاجزئ مخ م په زمکه کیښودلو. حکم یئے راته او فرمائیلو. چه کښینه.! زۀ کښیناستم. بیا یئے ارشاد

اوفرمایه. "چه پورته اوګوره. ما د آسمان په لوري پورته اوکتل. تپوس یئې او فرمائیلو چه تر کومه پورے دے نظر لګیږي. ما عرض اوکړو. تر عرش معلي پورے. بیا یئے راته حکم اوکړو. چه ښکته اوګوره. ما سترګے د زمکے طرف ته واړه ولے. بیا یئے راته هم هغه تپوس اوکړلو. چه تر کمه ځایه دے نظر لګیږي.؟ ما عرض اوکړو تر تحت الثری پورے. بیائے راته حکم اوکړو چه اوس بیا یو زر ځله د سورة "قل هوالله احد" تلاوت اوکړه. چه ما د دے حکم تعمیل اوکړو. نو بیا یئے راته او فرمائیل. چه د آسمان طرف ته اوګوره او اووایه چه تر کمه دے نظر لګیږي. ما عرض اوکړو چه د حق سبحانه تعلی د عظمتونو د حجاب پورے. بیا یئے راته او فرمائیل چه سترګے پټے کړه. ما سترګے پټے کړے. بیا یئے ارشاد او فرمایه. "سترګے پرانزه"ما سترګے پرانستے بیا حضرت مرشد قبله خپلے دوه ګوتے مبارکے ځما سترګو ته مخامخا اونیولے. او وے فرمائیل. چه ده وینے.؟ ما عرض اوکړو. اتلس زره عالمونه وینم. چه ځما د خلے نه یئے دا خبره واوریدله. نو اوئیے فرمائیل چه بس! اوس ستا کار پوره شه. بیا یئے یوے خښتي طرف ته اوکتل. چه مخامخ پرته وه. اووے فرمائیل چه دا اوچته کړه.د هغے د لاندے څه اشرفئ پرتے وے. او یئے فرمائیل. چه دا یوسه. او په فقیرانو یئے خیرات کړه. چنانچه ما د هغوئ د حکم مطابق عمل اوکړو.

دا دے د حضرت خواجه بزرګ د پیر طریقت حضرت خواجه عثمان هاروني څه لږ شان حال چه د دے یوے واقعے نه د هغوئ دا اوچتے عرفاني مرتبے اندازه لګیدلے شي. او ورسره د اهم معلومیدلے شي چه هر کله د خواجه بزرګ د عرفاني مرتبے ابتداء دومره عظیم الشانه وه. نو چه روستو به د دوئ روحاني مرتبه کښې څومره ترقي شوے وه. او څومره اوچته به وه. قدس الله اسرار هم.

ضروري وضاحت

د خواجه بزرګ دا واقعه چه په مختلفو تذکرو کښې په پورتني تفصیل سره بیان شوے ده. د پاره د دے چه بعض ضروري وضاحتونه پیش کړلے شو. په دے باندے یو تحقیقي نظر اچول ضروري ګڼړو.

[11]په دے سلسله کښې د ټولو نه اولنئ خبره دا ده. چه حضرت خواجه بزرګ چه د خپل بیعت دا واقعه په څه طریقه سره بیان فرمائیلے ده. د دے نه بعض تذکره لیکونکو په غلطي سره دا نتیجه اخیستے ده. ده هر کله حضرت خواجه بزرګ ته په دوه شپو او ورځو کښې د کمال مرتبه حاصل شوے وه. نو په دغه وجه حضرت خواجه بزرګ به د خپل پیر طریقت نه ډیر زر رخصت اخیستے وي. او هم د دے نمونے خیال او قیاس په وجه د کتاب "خواجه غریب نواز" مؤلف لیکلي دي.

[11]تذکرة الا برار صفحه نمبر ۱۳۰

چه:. حضرت خواجه بزرګ فقط دوه نیم کاله د خپل پیر طریقت په خدمت کښې پاتے شوے وو."

لیکن واقعات دا دے چه د دے موجوده دور د مورخانو او تذکره لیکونکو دا وینا صحیح نه ده. حضرت خواجه بزرګ چه د خپل مرشد قبله پخدمت کښې څومره موده تیر کړے ده. د هغے په حقله حضرت اخوندرویزه فرمائي: (د فارسئ نه ترجمه)

"نقل دے د خواجه معین الدین چشتي نه. چه هر کله په خدمت د شیخ عثماني هاروني کښې حاضر شوم. په هغه وخت کښې یئې زهٔ مرتبے د شیخ والي ته اورسوؤلم. لیکن د هغے نه روستو شل کاله زمانه م د حضرت مرشد قبله خدمتونه اوکړل. چنانچه د هغوئ جا نماز او بستره به م په اوږه پورته کړي ده. او د هغوئ په خدمت کښې به روان ووم".

(۲) څما د عبدالحلیم (اثر) مخدوم محترم او معظم جناب آغا سید عنایت علي

شاه قادري، چشتي پخپله يوه مقاله کښې فرمائي[12]: (روان ووم)

"خواجه بزرګ چه د حضرت خواجه عثماني هاروني په خدمت با برکت کښې اورسيده بيعت يئے اوکړ. شيخ کامل په يو نظر سره درجے د کمال ته اورسؤلو. د هغے نه پس د خپل شيخ په خدمت کښې په سفر او حضرت کښې تر شل کاله پورے پاتے شه."

د دے پورتنو دوه حوالو نه علاوه په نورو ټولو پخوانو تاريخو نو او تذکرو کښې دا متفقه روايت درج دے چه د بيعت کؤلونه پس خواجه بزرګ پوره شل کاله د خپل پير طريقت په ملګرتيا کښې د عالم اسلام سياحت اوکړو.

(۲) دوئمه خبره چه د هغے وضاحت ضروري دے. هغه دا ده. چه د پرتني بيان نه معلوميږي. چه حضرت خوجه بزرګ چه د ړکارا نه راروان شه. نو اګر چه عراق يعنے بغداد ته تللو. او په دغه اداره روان وو. ليکن په منځ لاره کښې د "ايران" په "نيشا پور" کښې د خواجه عثماني هاروني سره يئے ملاقات اوشه. مريد شه. او

[12]مقاله "خواجه معين الدين حسن" صفحه نمبر ۲

بیا د مرشد قبله په ملګرتیا کښې یئے شل کاله تیر کړل.

د دے بیان سره به هغه بل بحث چه مخکښې تیر شوے دے. هغه به هم راپه یاد کړو. چه خواجه بزرګ په ۵۶۰ء کښې به یئے د خواجه عثمان هاروني نه بیعت کړے وي. او بیا تر ۵۸۰هـ پورے به د هغوئ په خدمت کښې پاتے شوے وي.

لیکن د دے پورته دواړه خبرو سره مونږ له دا دوه نورے خبرے هم په خیال کښې ساتل پکار دي. او هغه دا دي:

(۱) یوه خبر دا ده. چه څه وخت خواجه بزرګ بیعت اوکړو. نو په پسے سمدستي روستو حضرت خواجه عثماني هاروني د دنیا ئے اسلام په سیاحت روان شوے دے. او د پوره لس کاله سیاحت نه روستو بغداد ته راغلے دے.

(۲) دوئمه خبره دا ده. چه په مختلفو تذکرو کښې دا مشهور روایت بیان شوے دے. لکه څما مخدوم مکرم سید عنایت علي شاه ضیائ جعفري په خپله مقاله کښې لیکي: (د اردونه ترجمه)

"خواجه بزرګ د حضرت میران محي الدین شیخ عبدالقادر جیلاني په خدمت کښې حاضر شه.

د هغوئ نه يئے فيوضات
حاصل کړل. او د دعا ئے
سيفي اذن يئے د هغوئ
نه واخيست."

د دے پورتنو روايتونو په بناء که مونږ دا اومنو چه خواجه بزرگ چه د بخارا نه راروان شه. عراق (بغداد) ته تللو. ليکن په منځ لاره کښې پاتے شه او په ۵۶۰هـ کښې يئې د خواجه عثمان هاروني نه بيعت اوکړو.نو بيا د دے خبرے سره به لازماً دا هم منو چه دوئ د ۵۶۰هـ نه روستو د خپل مرشد قبله سره چه په سفر روان شول. نو لس کاله پس په ۵۷۹ء کښې په اول ځل بغداد ته به رارسيدلي وو. مګر د دے خبرے منل دا مشکلات پيدا کوي. چه بيا د حضرت خواجه بزرګ او حضرت مير ميران غوث الا عظم د ستګير ملاقات ممکن کيدلے نه شي. ځکه چه حضرت غوث پاک په ۵۶۲هـ کښې وفات شوے دے.

په دے وجه ځما دا خيال دے. چه مخلفو مؤرخانو چه د بخارا نه د خواجه بزرګ په ۵۵۹هـ کښې راروانيدل شودلي دي. نو دغه بيان خو صحيح دے ليکن دا بيان به ئې صحح نه وي. چه عراق (بغداد) ته تللو ليکن په منځ لاره کښې په نيشا پور کښې پاتے شه. بلکه زيات صحيح به دا وي چه حضرت خواجه بزرګ به د خپل کوم استاذ سره د سمر قند نه راروان شوے وي. او په ۵۶۰هـ کښې چه په دغه نيټه به د دوئ عمر مبارک ۲۳کاله

وو. د بخارا او هرات په لاره به عراق ته رسيدلے وي. او دلته به يئے د بغداد مختلفو مشاهيرو عالمانو نه د ديني علمونو تكميل كړے وي. او هم په دغه دوران كښې به يئې د حضور غوث پاک نه هم فيض حاصل كړے وي. او په خصوصيت سره د "دعايئے سيفي" اذن به يئے ترينه اخيستے وي. او بيا چه په ۵۶۲هـ كښې حضور غوث پاک وفات شوے وي. نو هاله به دوئ د ايران نيشاپورته راغلي وي. د دغه وخت به د دوئ عمر مبارک ۲۵ كاله وو. او دلته به ئې په ۵۶۳هـ كښې د حضرت خواجه عثمان هاروني قدس سره نه لاس نيوه كړے وي. په اصل كښې د خواجه بزرګ او حضرت غوث الا عظم د ملاقات دا مسئله يوه مشكله تاريخي مسئله ده. او ډير مؤرخان يئے په شک او پريشانئ كښې اچولي دي. د مثال په طور مولا نا عبدالحليم شرر لكهنوي مرحوم په خپل كتاب "خواجه معين الدين چشتي" كښې ليكي:

"بعض خلقو دا ليكلي دي. چه د حضرت غوث الا عظم شيخ عبدالقادر جيلاني عليه الرحمة سره د خواجه بزرګ ملاقات شوے دے. مګر دا خبره غلطه معلوميږي. ځكه چه حضرت غوث الا عظم د دوئ بغداد ته د راتللو نه

مخکښې په ربیع الثاني ۵۶۱هـ کښې وفات شوے وو."

چنانچه هم د دے قسم تاریخي مشکلاتو حل کولو د پاره دغه توجیهـ چه مونږه بیان کړله. بغیر د دے نه دا مشکله مسئله حل کیدلے نه شي. او نۀ د دے مشهور و تاریخي روایتونو تطبیق راتللے شي.

ځمونږ دا خیال دے. چه د خواجه بزرګ د بیعت کؤلو صحیح تاریخ هم دغه ۶۳-۵۶۲هـ دے. او د دے نه مخکښې دوئ د حضور غوث پاک نه فیض حاصل کړے وو. هر کله چه حضور خواجه بزرګ په روحاني طور سره په برصغیر پاک و هند کښې د حضرت میران محي الدین شیخ عبدالقادر جیلاني جانشین هم دے. نو ډیره ممکنه ده. چه د غوث پاک د وفات نه مخکښې خدائی تعالی جل و علي شانه داسے اسباب جوړ کړي وي. چه دوئ دے بغداد ته تشریف راوړے وي. او د هغوئ نه دے فیض حاصل کړے وي. د دے تاریخي مشکلے مسئلے د حل کؤلو د پاره چه کومه امکاني وجه مونږه پورته بیان کړه. هم د دغے په بنیاد مونږه روستو د خواجه بزرګ د ژوند مبارک حالات په تاریخي ترتیب سره بیان کړي دي. او د دوئ د بیعت کال مونږه ۶۳-۵۶۲هـ ګنړلے دے.

د بیعت نه روستو

حضرت خواجه بزرګ چه څه وخت د حضرت شيخ المشائيخ خواجه عثمان هاروني عليه الرحمة نه لاس نيوه اوکړه. نو د هغې نه څه ورځې روستو د دوئ پير طريقت حضرت خواجه هاروني د حج په سفر روان شه. په دې سفر کښې خواجه بزرګ د خپل پير طريقت سره ملګرې وو. مکې شريفې ته لاړل حج يئې او ګزاره. او بيا د هغه ځائې نه مدينې منورې ته لاړل. او د حضرت رسول مقبول محمد مصطفى صلي الله عليه وسلم د روضې مبارکې زيارت او سلام يئې اوکړلو. بيا د دې ځاي نه بد خشان (موجوده سمت شمالي افغانستان) ته راغلل. او په دې خواؤشا علاقه کښې چه کوم اولياء الله او مشاءيخ وو. د هغوئ سره ئې ملاقاتونه او صحبتونه او شول. غرض دا چه پوره لس کاله يئې په دې سياحت کښې تير کړل. او په ۵۷۲-۷۳هـ کښې په دوءم ځل بغداد ته راغلل.

دا به معلومول غواړي چه په دې لس کاله زمانه کښې دوئ د بدخشان نه علاوه د نورو کومو علاقو سياحت کړې دې. ځکه چه دا ډيره ممکنه ده چه هم په دې اولني لس کاله سفر کښې دوئ د موجوده سمت شمالي افغانستان نه علاوه د افغانستان سمت مشرقي او وادئ پيښور ته هم تشريف راوړې وي.

څه موده په بغداد کښې د قيام نه پس حضرت خواعثمان هاروني او د هغوئ په ملګرتيا کښې حضرت خواجه بزرګ بيا په سفر روان شول او پوره لس کاله پس په ۵۸۲-۸۳هـ

کښې په دوئم ځل بیا بغداد ته راغلل. د حضرت خواجه بزرگ مشر خلیفه حضرت قطب الدین بختیار کاکي علیه الرحمة یو کتاب لیکلے دے. د هغے "دلیل العارفین" نوم دے. په دے کښې یئې د خواجه بزرگ ملفوظات او حکایات راجمع کړي دي. په دغے کښې د خواجه بزرگ ته یو دا روایت یئے لیکلے دے. "چه زۀ د خپل مرشد قبیله خواجه عثمان هاروني سره په "سیوستان" کښې ووم. د دیو درویش خواجه صدر الدین سره مو ملاقات اوشه".

دلته د دے حوالے ذکر کولو نه څمونږ غرض په لفظ "سیوستان" کښې دے د پخوانو مسلمانانو جغرافیه لیکونکي لکه ابن حوقل بغدادي (۳۶۷هـ) د جغرافیائي نقشے نه معلومیږي. چه په دغه زمانه سیوستان د هغه علاقے یا صوبے نوم وو. چه د موجوده سکهر نومے ښهر نه مغرب او شمال طرف ته تر "بدهیه" (ضلع ډیره غازي خان. میا والي. ډیره اسماعیل خان بنو، کوهاټ. پښاور) او تر "طوران" موجوده کوئیټه ډویژن پورے یئے حدود رسیدلي وو. د دے "سیوستان د مرکزي مقام نوم ابن حوقل "سدوسان" لیکلے دے. ابو اسحاق اسطخري "سیوان" لیکلے دے بشاري مقدسي (۳۷۵هـ) "سدوستان" لیکے دے. په موجود جغرافیه سندهـ کښې د دے علاقے نوم سهوان دے چه د شمالي سندهـ (لار) علاقه د دے ځائي نه شروع کیږي.

د دے پورتـه وضاحت مطلب دا شه چه حضرت خواجه بزرگ د خپل پیر طریقت خواجه عثمان هاروني په ملکرتیا کښې د سابق صوبه سندهـ هغه علاقه چه د دریاے سندهـ نه قبیلے غاړے ته ده. د دے سیاحت هم کړے وو. او د دے په بناء دا وئیلے شو چه تر موجوده سکهراو "سیوهن" پورے د سیاحت په دوران کښې دوئ به د وادئ پیښور. وادئ کرم. او بلوچستان د دره هم فرمائیلے وي. په هغه زمانه "خراسان" د موجوده کوئټه او قلات ډیوژنونو د شمالمغربي او مغربي څه حصه هم نوم وو.

په ۵۸۲-۸۳هـ کښې چه په درئم ځل بغداد شریف ته راغلل. نو دلته د څه ورځو تیرولونه پس حضرت خواجه بزرگ د خپل پیر طریقت نه د بغداد شریف په مقام اجازت واخیستلو. یو ځل بیا ئې د عالم اسلام سیاحت شروع کړلو او د ټولو نه اول د حج ګزارلو په اراده روان شول. په دے سفر کښې دوئ د "مشق" (شام) په لاره حجاز ته اورسیدل. مکے معظمے ته لاړل. حج یئے اوګزاره. بیا مدینے منورے ته راغے د پاک رسول د روضے مبارکے زیارت ئے اوکړ. او د دے ځائ نه بغداد ته رار وان شه. په لاره کښې یئے د علماؤ او مشائیخو سره ملاقاتو نه اوکړل. او په ۵۸۴هـ کښې په څلورم ځل بغداد شریف ته راغے. بغداد شریف ته د دوئ دا هم هغه راتلل دي. چه مونږه مخکښې په تفصیل سره پرے بحث کړے دے. او په دے

موقع بانـد حضرت قطب الـدين بـختيار كـاكي عليه الـرحمة د دوئ نه بيعت كړے وو.

د پيره حضرت خواجه بـزرگ تقريبا دوه كاله په بغداد كښې اوسيدلے وو. او لكه چه مخكښې ورته اشار شوے ده. د ۵۸۶هـ په شاؤخوا كښې يئے د "بغداد" سره نزدے دا وه ميلونو په فاصله په "سنجان" نومے مقام كښې د حضرت خواجه نجم الدين كبرى عليه الرحمة نه هم فيض حاصل كړے وو.

د دے ځائ نه چه دوئ روان شول. نو همدان ته لاړل. په دے سلسله كښې د كتاب "اخبار الصالحين" صفحه نمبر۲۰۴ او كتاب "خزينة الا صفياء" جلد نمبر۱ صفحه نمبر۲۵۷ هغه روايت صحيح نه دے. چه حضرت خواجه بزرگ عليه الرحمة د همدان د قيام په ورځو كښې د حضرت خواجه شيخ يوسف همداني عليه الرحمة سره ملاقات كړے وو. ځكه چه هم په دغه كتاب "اخبار الصالحين" اونورو ټولو تذكرو كښې په وضاحت سره يئے دا ليكلي دي. چه حضرت شيخ يوسفز همداني په ۵۳۵هـ كښې وفات شوے[13]دے. نو هر كله چه

---

[13]حضرت شيخ ابو يعقوب يوسف همداني د خپل وخت امام او بے مثله عارف وو. د همدان په خوا كښې په "بوزبخر" نومے كلي كښې اوسيدۀ. په ۴۴۰هـ كښې پيدا شوے وو. د والد ماجد نوم يئے ابو ابوب حسين ابن شعيب وو. د شيخ ابو علي فارمدي مريدي وو. د دغے نه علاوه د شيخ عبدالله جويئ. شيخ حسن سهنائی. او ابو اسحاق شيرازي نه يئې هم فيض موندلے وو. حضرت غوث الثقلين شيخ محي الدين عبدالقادر جيلاني قدس سره په علم تصوف كښې د دوئ نه فيض حاصښ كړے وو. مولانا عبدالرحمان جامي پخپل كتاب نفحات الانس كښې د خواجه يوسف همداني د دے تاليفاتو نومونو ذكر كړي دي.

۱. منازل السالكين

خواجه بزرګ په ۵۳۷هـ کښې (یعنے د خواجه یوسف همداني د وفات نه دوه کاله پس) پیدا شوے دے. نو د دوئ د واړو د ملاقات امکان څرنګ کیدلے شي.؟

خواجه بزرګ د همدان نه بیا تبریز[14] ته راغے.وئیلے شي. چه دلته یئے د حضرت ابو سعید تبریزي علیه الرحمة سره ملاقات اوشو. یو څو ورځے یئے د دوئ سره تیرے کړے. حضرت شیخ ابو سعید د خپل وخت مشهور ولي الله تیر شوے دے. په زرګونو مریدان یئے وو. او یا کسان پکښې ډیر نامور او مشهور بزرګان تیر شوي دي. چه یو د هغونه حضرت شیخ جلال الدین تبریزي علیه الرحمة وو. روستو دغه حضرت شیخ جلال الدین تبریزي. د حضرت شیخ شهاب الدین سهرور دي مرید شوے وو. او د هغه په نامورو خلیفه ګانو کښې حسابیږي. (روستو به د دوئ تذکره په تفصیل سره راشي.)

خواجه بزرګ بیا د تبریز نه اصفهان ته تشریف راوړلو. او دلته د حضرت تاج الدین محمود اصفهاني سره یئې ملاقات اوشولو. د دوئ سره یئې د دغے نه وړاندے په بغداد کښېهم صحبتونه تیر شوي وو. دا پوره نه ده معلومه چه په اصفهان کښې د وئ څومره ورځے تیرے کړے. بیا د دغه ځائي نه یئې "خرقان"ته تشریف راوړلو. د خرقان

---

۲. منازل السءرین

۳. زبدة الحیوة (علیهم الرحمة والغفران)

[14]تبریز د ایران یو مشهور شهر دے. چه د ترکي او ایران په سرحد باندے د بحیرۀ کیس پین په مغربي غاړه واقع دے.

په خواؤ شا علاقه کښې يئې په وعظ، تبليغ. او روحاني فيوضاتو خورولو کښې روغ دوه کاله تير کړل. او د دے ځائي نه بيا استر آباد ته روان شول.

پورته چه کوم بيان اوشه. د هغے په تفصيل چه نظر واچوؤ. نو داسے معلوميږي چه خواجه بزرګ د خرقان نه استر آباد ته په ۵۸۸-۸۹هـ کښې روان شوے دے. او که فکر اوکړو نو هم دا هغه کال دے. چه په دے کښې د "ترائن" په مقام د شهاب الدين غوري او راجه پرتهوي راج تر منځه جنګ شوے وو. راجه پکښې مړشوے وو. او مسلمانانو ته فتح حاصل شوے وو.

حضرت خواجه بزرګ چه استر آباد ته تشريف راوړلو نو دلته يئې د دے ځاي د مشهور کامل ولي حضرت شيخ ناصر الدين سره ملاقات اوشو حضرت ناصر الدين د ډيراوږد عمر خاوند وو. دغه وخت د هغوئ عمر دوه د پاسه شپږ شلے کاله وو. او په دوه واسطو سره د حضرت بايزيد بسطامي عليه الرحمة مريد وو. په دے لحاظ دا يو قابل احترما هستي وه. حضرت خواجه بزرګ څه موده د دوئ سره تيره کړه او فيوضات يئې ترينه حاصل کړل.

د استر آباد نه چه خواجه بزرګ راروان شه. نو د مختلفو علاقو د سياځت نه روستو هرات ته رااورسيده. دلته د حضرت خواجه عبدالله انصاري (متوفي ۴۸۵هـ) مزار مبارک واقع دے. حضرت خواجه انصاري

ډیر لوئي ولی د خدائے تیر شوے دے. حضرت دا تاګنج بخش هم د دوئ نه فیض حاصل کړے وو.

حضرت خواجه بزرګ چه هرات ته راغے. د ورځے به باهر ګرځیدلو اوشپے له به د حضرت خواجه انصاري مزار مبارک ته حاضریدلو. دلته به یئے ټوله شپه په عبادت تیروله.ا و د ماخښتن په اودس به یئې د سحر نمونځ ګزارلو. د دوئ دلته څه موده تیره کړه. خو چه خلق پرے رامات شول. نو د هرات نه د سبزوار په لوري روان شول.

په سبزوار کښې د څه مودے تیرولو نه پس خواجه بزرګ بلغ ته تشریف یوړلو. او هلته یئے د حضرت شیخ احمد خضرویه علیه الرحمة په خانقاه کښې قیام او فرمائیلو. په بلخ کښې یو مشهور او نامور حکم او فلسفي عالم وو. چه د حکم ضیاء الدین فلسفي په نوم مشهور وو. هغه د حضرت خواجه بزرګ مرید شه. په لږ و ورځو کښې یئے د هغه ترتیب او فرمائیلو. د خلافت خرقه یئے ورته ورکړه او په بلخ کښې د څه مودے تیرولو نه پس حضرت خواجه بزرګ غزني ته رارروان شه.

داسے معلومیږي چه غزني ته دوئ په ۵۹۰-۹۱هـ کښې رارسیدي وي. او چه د تاریخ واقعاتو سره یئې مقابله اوکرو. نو دا هغه نیټه ده. چه دے نیټه حضرت شهاب الدین غوري الملقب په معزالدین محمد ابن

سام غوري د دهلي. اجمير. سرسوتي. سامانه. کهرام. هانسي. قنوج د فتح نه اوزګار شوے وو. او ډير لوئ مال غنيمت سره واپس غزني ته راروان وو.

په سبزوار کښې د څه مودے تيرولو نه پس خواجه بزرګ بلخ ته تشريف يوړلو. او هلته يئې د حضرت شيخ احمد خضرويه عليه الرحمة په خانقاه کښې قيام او فرمائيلو په بلغ کښې يو مشهور او نامور حکيم او فلسفي عالم وو. چه د حکيم ضياځ الدين فلسفي په نوم مشهور وو. هغه د حضرت خواجه بزرګ مريد شه. په لږ وورځو کښې يئې د حضرت ترتيب او فرمائيلو د خلافت خرقه يئې ورته ورکړه. او په بلخ کښې د څه مودے تيرولو نه پس حضرت خواجه بزرګ غزني ته راوروان شه.

داسے معلوميږي چه غزني ته دوئ په ۵۹۰-۹۱هـ کښې رارسيدلي وو. او چه د تاريخي واقعاتو سره يئې مقابله اوکړو. نو دا هغه نيټه ده. چه دے نيټه حضرت شهاب الدين غوري الملقب په معزالدين محمد ابن سام غوري د دهلي. اجمير. سرسوتي. سامانه. کهرام. هانسي. فنوج د فتح نه اوزګار شوے وو. او ډير لرئ مال غنيمت سره واپس غنزي ته راروان وو.

په غزني کښې چه په دغه زمانه کوم اولياء الله موجود وو. په هغے کښې د شيخ عبدالواحد برهان غنزوي نوم زيات مشهور دے. باکماله بزرګ وو. د ده په مريدانو

کښې حضرت شیخ نظام الدین ابو الموید مشهور بزرګ تیر شوے دے. د شیخ جمالي کنبوه په روایت د دوئ سره د حضرت خواجه بزرګ ملاقات شوے وو.

دا نه ده معلومه چه په غزني کښې حضرت خواجه بزرګ څومره موده تیره کړے ده. البته د بعض نورو واقعاتو نه په قیاس دا اندازه لګوولے شو چه د دوئ په ۵۹۱-۵۹۲هـ کښې د غزني نه د کابل په لاره باندے رارون شوے وو. او د دغے نه روستو د پیښور په لاره باندے لاهور ته یئې تشریف وړے وو.

لکه چه مخکښې مونږه د داتاګنج بخش په تذکره کښې پرے بحث کړے دے. لاهور ته د حضرت خواجه بزرګ د راتللو نیټه کال ۶۰۱هـ ښودلے شوے دے. او د ابیان د شیخ جمال کنبوه د تالیف "سیر العارفین" دے لیکن د شیخ جمالي په دے پورته بیان چه نظر واچوؤ. نو دے نتیجے ته رسیږو چه لاهور ته د خواجه بزرګ د راتللو صحیح نیټه په حقیقت کښې ۵۹۶-۹۷هـ کیدلے شي په دے کال چه د دوئ دلته راغلل. نو د حافظ محمد اسلام د روایت مطابق یئې دلته لس میاشتے تیرے کړي. د حضرت دا تانګج بخش علیه الرحمة په مزار مبارک کښې یئې اعتکاف او فرمائیلو. او د دغے نه پس بیا ملتان ته لاړل. پنځه کاله یئې هلته تیر کړل. او په ۶۰۰-۶۰۱هـ کښې د حضرت خواجه بزرګ لاهور ته راتلل بیان کړي دي. دا یئې

په حقیقت کښې د حضرت خواجه بزرګ په دوئم ځل لاهور ته د راتللو واقعه بیان کړې ده.

د دې پورتني تفصیل په رنړا کښې چه خواجه بزرګ په (۹۷-۵۹۶هـ) کښې په اول ځل د راتللو نه روستو لس میاشتې او په دوئم ځل په (۶۰۱-۶۰۰هـ) کښې د راتللو نه رستو تقریبا درې کاله په لاهور کښې تیر کړي دي. وئیلے شو چه دوئ څه کم او زیات څلورکاله زمانه په لاهور کښې تیره کړې ده.

شیخ جمالي دا هم وائي. چه د شهاب الدین غوري د شهادت (۶۰۲هـ)د واقعې په وخت کښې خواجه بزرګ په لاهور کښې وو. د حضرت شیخ حسین زنجاني (متوفي ۶۰۶هـ) سره یئې صحبتونه لرل. بیا د شیخ زنجاني علیه الرحمة نه یئې رخصت واخیستلو او د هلي ته روان شه.

هر کله چه د حضرت شهاب الدین غوري د شهادت نه روستو په دهلي باندې حضرت قطب الدین ایبک بادشاه شوے وو. نو د دې مطلب دا شه. چه حضرت خواجه بزرګ په ۶۰۳هـ کښې د قطب الدین ایبک د بادشاهی په زمانه کښې د پټیالے په لاره باندې د هلي ته تشریف وړے وو.

څمونږه دا وینا چه خواجه بزرګ په ۶۰۳هـ کښې دهلي ته تشریف وړے دے. د دې تائید د یوې بلے واقعے نه هم کیږي. چه مونږه روستو د حضرت خواجه فرید الدین ګنج

شکریه تذکره کښې بیان کړے ده. د هغې خلاصه دا ده. چه څه وخت حضرت خواجه شاه جلال الدین تیریزي. حضرت شیخ قطب الدین بختیار کاکي. او حضرت شیخ او څدالایدن کرماني د دے واړه د بغداد شریف نه راروان شول. ملتان ته د حضرت شیخ بهاؤ الدین ذکریا ځائي ته راغلل. په دغه زمانه په ملتان باند د ناصر الدین قباچه حکومت وو. او د غلته دوئ ته معلومه شوه. چه حضرت خواجه بزرګ دهلي ته تشریف وړے دے. دے درے واړو بزرګانو چه دلته څه ورځے تیرے کړے. نو حضرت شاه جلال الدین تبیرزي واپس غزني ته لاړلو. حضرت او حدالدین کرماني د بلوچستان په لاره واپس بغداد شریف ته لاړلو. خواجه فرید الدین ګنج شکر چه د غه نیټه هلک وو. هغه هم ورسره بغداد ته لاړه. او حضرت قطب الدین بختیار کاکي علیه الرحمة د خپل مرشد قبله خواجه بزرګ سلام له د لاهور په لاره باندے د هلي ته لاړلو.

په دے پورتني بیان به د تاریخ په رنړا کښې غور او کړو. سلطان شهاب الدین غوري چه په ۵۷۲هـ تا ۵۷۸هـ کښې "د بیل او ګجرات فتح کړو. نو د ملتان. اوچ د یول یعني تمامي سندهـ د فتح نه روستو خپل سپه سالار "علي کرماخ" یئې په سندهـ باندے والي مقرر کړو. او بیا چه په ۵۸۲هـ کښې یئې لاهور فتح کړو. نو علي کرماخ یئې د سندهـ نه رابدل کړو د لاهور نائب الحکومة یئې کړو. او د هغه په ځاي

باندے یئې "ناصر الدین قباچه" د سندھ نائب الحکومة کړو. بیا چه د دهلي او اجمیر د فتح نه په ۹۲-۵۹۱ ھ کښې راوپس شه. نو په دهلي باندئے قطب الدین ایبک "ناءب الحکمة کړو. او بیا چه په ۶۰۱-۶۰۰ کښې په پنجاب کښې ګکهړ قبیلے بغاوت اوکړاو د هغے شورش د ختم کولو د پاره پخپله راغے. او دغه شورش یئې ختم کړاو په ۶۰۱ھ کښې لاهور ته راغے نو قطب الدین ایبک" یئے هغه شان بدستور د دهلي نائب الحکمة او ساته چه روست په ۶۰۲ھ کښې د شهاب الدین غوري د شهادت نه پس قطب الدین ایبک د دهلي بادشاه ته د ایبک د مرګ ۶۰۷ھ پورے ناصر الدین قباچه د مرکز دهلي ماتحت وو لیکن په ۶۰۷کښې د ایبک په ځائي چه شمس الدین التمش بادشاه شه. نو قباچه د خپلے خود مختارئ اعلان اوکړلو.

د دے تاریخي پس منظر په رنړا کښې چه په پورتني بیان نظر واچوؤ. نو معلومه شي چه دا خو صحیح ده چه د حضرت قطب الدین بختار کاکي علیه الرحمة ملتان ته د تشریف راوړلو په نیته په ملتان د ناصرالدین قباچه حکومت وو. ځکه چه د ۵۸۲ھ نه هغه دلته حکمران وو. لیکن دبحث خبره دا ده چه خواجه بختار کاکي علیه الرحمة د ۶۰۲ھ نه روستو تشریف راوړے دے. او دا نتیجه مونږ د دے نه اوباسو چه که حضرت خواجه بختیار کاکي په ۶۰۱-۶۰۰ھ کښې ملتان ته راغلے وے. نو حضرت خواجه بزرګ په یئې په ملتان کښې

لیدلے وے. که په ۶۰۲هـ کښې راګے وے. نو بیا به یئے په لاهور کښې لیدلے وے. په دے وجه لازماً به هم دا وایو چه خواجه بختیار کاکي د ۶۰۳هـ په آخر کښې ملتان ته راغلي وو. او د حضرت خواجه بهاء الدین ذکریا نه چه ورته معلومه شوي وي. چه حضرت خواجه بزرګ دهلي ته تشریف وړے دے. نو دوئ به ورپسے هم په دغه کال ۶۰۳هـ دهلي ته روان شوي وي.

په دے اعتبار د خواجه بختیار کاکي علیه الرحمة د هلي ته د رسیدلو کال ۶۰۴هـ کیدلے شي او هر کله چه خواجه بختیار کاکي دهلي ته اورسیده نو د دوئ سره یو ځائي خواجه بزرګ یو کال نور په دهلي کښې قیام فرمائیلے دے. بیا یئے په دهلي کښې خواجه بختیار کاکي علیه الرحمة پخپل ځائ بانده قائیم مقام پریښے دے. او د دوئ په ۶۰۵هـ کښې اجمیر ته تشریف وړے دے.

اجمیر شریف ته د خواجه بزرګ خواجه خواجګان معین الحق والملة والدین حسن سنجری چشتيٍ اجمیري علیه الرحمة د تشریف راوړلو صحیح تاریخ هم دغه ۶۰۵هـ دے او په دے سلسله کښې د تاریخ فرشته چه کوم بیان دے. هغه بالکل واضحه دے. البته په دے خبره افسوز دے. چه روستو مؤورخانو او تذکره لیکونکو د هغه دغه صحیح بیان د خپلو فرضي او غلطو روایاتو او افسانو په پړ دوکښې داسے پټه کړے دے. چه په ډیره

ګرانه ورته فکر ورسیږي. د تاریخ فرشته مؤلف لیکي:

حضرت خواجه معین الدین حسن چشتي د قطب الدین ایبک په زمانه اجمیر ته تشریف راوړلو. په دغه نیټه په اجمیر باندې. د قطب الدین ایبک د طرف نه. حضرت سید حسن مشهدي المشهور په خواجه خنګ سوار. د ښهر دا روغه وو. هغه په ډیره ګر مجوشئ او حسن عقیدت سره د حضرت خواجه بزرګ استقبال اوکړو.

لکه چه مخکښې هم ورته اشاره شوې ده. د شیخ جمالي دا بیان چه خواجه بزرګ په ۶۰۲هـ کښې په لاهور کښې وو. او د هغې نه روستو د هلي ته روان شوې دې. او د تاریخ فرشته دا بیان چه خواجه بزرګ د قطب الدین ایبک په زمانه کښې اجمیر ته راغلے دې. دا دواړه دومره واضحه دي چه د دې په رنړا کښې د موجوده دور د مؤور خانو او تذکره لیکونکو هغه بیانو نه صریحاً غلط ثابتیږي کوم چه په ۶۵۶۱هـ کښې اجمیر ته د خواجه بزرګ راتلل ښائی. او هر کله چه دا ثابته شوه چه دا روایات غلط دي. نو بیا د ۵۶۱هـ نه تر ۶۰۰هـ پورې د دې منځ زمانے کوم واقعات چه په حضرت خواجه بزرګ

پورے تړلي شوي دي. او يو افسانوي رنګ ورکړے شوے دے. هغه يقيناً چه ټول غلط دي. حضرت خواجه بزرګ په ۶،رجب المرجب ۶۳۳هـ ددے دنيا نه سفر اوکړو او په اجمير کښې دفن شه عليه الرحمة والغفران.

د بحث او توجه خبرے

هر کله چه دا معلومه شوله چه حضرت خواجه بزرګ په ۵۹۱-۹۲هـ کښې د غزني نه راروان شوے دے. او په ۵۹۶-۹۷هـ کښې لاهور ته رسيدلے دے. نو د دے نه دا هم واضحه کيږي چه د ۵۹۱-۹۲هـ پورے دغه منځنۍ پنځه شپږ کاله زمانه يئې د غزني اولاهور تر منځه په کابل او وادئ پيښور کښې تيره کړے ده.

روستو مونږه د حضرت سيد مبارک غزنوي عليه الرحمة په تذکره کښې په دے خبره بحث کړے دے. چه د حضرت سلطان شهاب الدين غوري سره د "ترائن" (۵۸۸هـ) په دوئم غزا کښې دوه لکهه غازيان وو. چه په هغے کښې د تاريخ صولت افغاني د روايت مطابق يو لکهه دولس زره د مختلفو پښتنو قبائلو غازيان وو. او چه په ۵۹۱-۹۱هـ کښې شهاب الدين غوري د دهلي نه راوپس شه. نو د مختلفو پښتنو قبائلو چه کوم غازيان ورسره وو. هغة يئې دا باسندهـ نه قبلے غاړے ته د وادئ پيښور په سمه. هشنغر. او قبائلي علاقو. سوات. باجوړ. مهمند. تيراه. او د کوه سفيد او کوه سليمان په علاقو کښې آباد کړل. (يعنے د موجوده

پشاور ډویژن او دیره ډویژن د اضلاعو او ایجنسو په علاقو کښې یئې خواره کړل.)

د دے دوه تاریخي واقعات وپه رنړا کښې فکر او کړونو داسے معلومیږي. چه حضرت خواجه بزرگ چه د غزني نه راروان شے دے. نو په کابل او د کابل نه راښکته د افغانستان په سمت مشرقي او د "مغربي پاکستان" د شمالي او جنوبي وزیرستان په علاقو کښې یئې دومره موده تیره کړے ده. او د بنو. کوهاټ په لاره باندے پیښور ته په هغه زمانه کښې رارسیدلے دے. په کومه نیټه چه حضرت شهاب الدین غوري سره د پښتنو قبائلو د غازیانو نه وادئ پیښور ته رارسیدلے وو. او بیارو ستو د حضرت شهاب الدین غوري په مشرئ کښې او د حضرت خواجه خواجگان معین الدین حسن چشتي او حضرت سید مبارک غزنوي په رهنمایئې کښې د پښتنو غازیانو قبائیل دلته آباد شوي دي.

مونږ دا خبره د یو څو داسے تاریخي وجوهاتو په بنائ کوو. چه تر اوسه پورے په هغے بحث نه دے شوے.

(الف) یوه وجه دا ده. چه د چشتیه خاندان سره د پښتنو قبائلو تعلق ډیر زوړ دے. مکخښې د ۴۰۰هـ د زمانے د یو پښتون بزرگ حضرت مدیح بابا یوسفزی بحث تیر شوے دے. چه دے د حضرت خواجه ناصر الدین احمد یوسف چشتي مرید وو. او هم دغه رنګ د درانی قام مشر

نیکه احمد هم د دے شیخ احمد یوسف چشتي مرید وو. او د ه پرے باندے خپل لقب ابدال ایښے وو. یا لکه حضرت شیخ اتو شوریانی خویشکي علیه الرحمة شه. چه د دحضرت شیخ مودود چشتي مرید وو.

نو په داسے ورځو کښې چه پښتانه قبائل د جهاد نه راواپس شوي وو. او په دے نوے زمکه (وادئ پیښور وغیره) آبادیدل. نو په دغه شان وخت کښې چه د دوئ د منلے شوے پیر خانے یعنے سلسله عالیه چشتیه آفتاب عالمتاب حضرت خواجه بزرگ به دلته راغلے وو.نو یقیناً چه دوئ به ترینه ولاړ ځاریدل. او دا کیدلے نه شي چه خواجه بزرگ به د دوئ سره ورځے نه وي تیرے کړے.

(ب) بله وجه دا ده چه مونږه له د حضرت خواجه بزرگ چه برصغیر پاک وهند ته راروان وو. نو لکه د عظیم دریاب په شان په قلارج. سکون او وقار سره راروان وو. او حقیقت هم دا دے چه دے د روحانیت او عرفان یو عظیم الشان سمندر وو. د حضرت خواجه بزرگ په روستو ټول ژوند چه یو نظر واچوؤ. نو معلومه شي چه د دوئ د عمر شل کاله ژوند د خپل پیر طریقت خواجه عثمان هاروني

په ملګرتیا کښې او بیا په ۵۸۴هـ کښې د هغوئ نه د جدا کیدلو نه پس تر ۹۳-۵۸۲هـ یعنې وادئ پیښور ته د رارسیدلو د زمانې پورې. په بیله بیله علاقه ګرځیدلو کښې تیر شوې دې. اول:

(۱) د خپل وخت د مشاهیرو او لیاؤ سره یئې لیدل کړي دي. د هغوئ نه یئې فیض حاصل کړے دے.

(۲) په هره علاقه کښې چه کوم نیکبخت خلق وو. او د هغوئ به قسمت کښې دا لیکلي وو. چه د حضرت خواجه بزرګ نه فیض حاصل کړي. هغه یئې د کمال درجې ته رسوؤلي دي. او پریښي دي. لکه د بلخ د ضیاء الدین فلسفي. او دا صفهان د سید تاج الدین محمود مثالونه ځمونږ د وړاندې دي.

(۳) او بعض مریدان چه د ذاتي تربیت د پاره یئې د خپل ځان سره د هغوئ ملګري کؤل مناسب ګنړلي دي. هغه یئې د ځان سره اخیستي دي. او د دے تائید د هغه روایت نه کیږي چه "څه وخت خواجه بزرګ د لاهور نه دهلي ته تللو نو څلویښت مریدان ورسره ملګري وو.

(۴) په هره علاقه کښې چه کوم پخوانی اولیاء تیر شوي وو. د هغوئ په

زيارتونو کښې يئې اعتکاف فرمائيلے دے. لکه د هرات د خواجه عبدالله انصاري د بلغ د احمد خضرويه او د لاهور د شيخ علي هجويري دا تاګنج بخش مشالونه څمونږ د وړاندے دي.

مونږ د خواجه بزرګ دے د عام طريق کار په رنړا کښې که فکر او کړو. نو وئيل شو چه په وادئ پيښور کښې چه د ۴۰۰هـ د زمانے نوم مشاهير مشائيخ او بزرګان تير شوي دي. او مزارات يئې موجود دي. لکه حضرت خواجه مديح بابا د مردان يا خواجه شيخ علي ابن يوسف غزنوي المروف په بابا صاحب د چارسدے شول. نو ډيره ممکنه ده. چه حضرت خواجه بزرګ د دوئ مزار توله راغلے وي. او دلته يئے اعتکاف فرمائيلے وي.

بله دا چه په وادئ پيښور کښې او قبائيلي علاقو کښې چه د خواجه بزرګ کوم پښتانه خليفه ګان دي. ډيره ممکنه ده. چه کوم پښتانه قبائل چه د دوئ په موجودګئ کښې د هندوستان د جهاد نه راواپس شوي وو. او دلته آباديدل د دوئ دا پښتانه خليفه ګان هم په دغه غازيانو کښې مقتدر کسان وو. چه د دوئ نه به يئې لاس نيوه کړے وي. د کمال درجے ته به يئې رسول وي. خلافت به يئے ورکړے و. او بيا به يئې هم په دے خپلو قبائلو کښې د خپلو نائبانو او خليفه ګانو په طور مقرر کړي وي.

(الف)   د حضرت خواجه بزرګ د دے قسم پښتانه خليفه ګان مونږ په دوه برخو کښې ويشلے شو. يو هغه دي. چه خواجه بزرګ لاهندوستان ته تشريف نه وو وړے. د مغربي پاکستان، خراسان، طخارستان (افغانستان) ايران عراق دوره يئې کړله. او په دغه منځ کښې دے پښتنو مشاهيرو د حضرت خواجه بزرګ نه بيعت کړے وو. خلافت ئے حاصل کړے وو. او چونکه هلته په هندوستان کښې جهاد شروع وو. نو دوئ د خواجه بزرګ په هدايت هندوستنا ته ځان رسولے وو. او هلته شهيدان شوي وو. د دے نه دا هم معلوممېدلے شي. چه په کومو ورځو کښې په هندوستان کښې جهاد کيدلو. او خواجه بزرګ په دے پورتنو ملکونو کښې دوره فرمائيله. نو د هغے يوه فائده دا هم وه چه د شهاب الدين محمد ابن سام غوري د امداد د پاره يئې د خپلو مريدانو. خليفه ګانو او عامو مسلمانانو لښکرے ليږلے. او د دے لوئ دليل دا دے چه د محمد ابن سام غوري سره په اولني جهاد کښې فقط د ولس زه لښکروو. او دوه کاله پس په دوئم جهاد کښې ورسره دوه لکهے د غازيانو لښکر موجود وو. چه په هغے کښې د حضرت خواجه بزرګ کنړ مريدان او خلفه ګان هم شامل وو.

د حضرت خواجه بزرګ هغه پښتانه خليفه ګان چه هندوستان ته د خواجه بزرګ د تللو نه وړاندے په جهادونو کښې شهيدان شوي. دي د يو څو مشاهيرو بزرګانو نومونه دا دي.

(۱) حضرت شیخ احمد کابلي علیه الرحمة چه په ۵۸۶هـ کښې یئې خرقه د خلافت حاصله کړې وه. او په محرم ۵۹۶هـ کښې په بنارس کښې شهید شوې دې.

(۲) حضرت شیخ احمد غلزئ چه په محرم ۵۸۰هـ کښې یئې خرقه د خلافت حاصل کړې ده. او په ۱۸، ذي قعدة الحرام ۶۰۳هـ کښې په قنوج کښې شهید شوې دې[15].

(۳) حضرت احمد خان دراني چه په صفر ۵۸۰هـ کښې یئې خرقه د خلافت حاصله کړې وه. او په ۴، شعبان ۵۹۰هـ په مقام د اجمیر په جهاد کښې شهید شوې وو.

(۴) حضرت یعقوب خان چه په ۱۴،ربیع الاول ۵۸۷هـ کښې یئې خرقه د خلافت حاصله کړې وه او په ۵۸۸هـ کښې د ترائین او دهلي په جهاد کښې شهید شوې وو.

(ب) دویم قسم د حضرت خواجه بزرګ هغه خلیفه ګان دي. چه د جهاد نه واپس شوي دي. او بیا د مغربي پاکستان او

[15] د احمد خان غلزئ او احمد خان دراني په ۵۸۰هـ کښې د خرقه خلافت حاصلولو نه دا هم معلومیدلې شي چه په دغه نیته حضرت خواجه بزرګ په قلات غلزاې او قندهار کښې وو. خپل مرشد قبله خواجه عثمان هاروني اګر چه ورسره وو. لیکن دوئ به هم مریدانو ته بیعت فرمائیلو. (اثر)

افغانستان په علاقو کښې پاتې شوي دي او مزارات يئې دلته موجود دي. چه په هغې د يو څو مشاهيرو بزرګانو نومونه دا دي:

(۱) حضرت خواجه سبحان ګرشکي چه په ۵۹۱هـ کښې يئې خرقه د خلاف حاصله کړې ده. او په ۶۱۲هـ کښې وفات شوے دے. مزار مبارک يئې د مهمند ايجنسئ د شبقدر په علاقه کښې دے.

(۲) حضرت خواجه فقير محدم عليه الرحمة چه په ۵۸۸هـ کښې يئې خرقه د خلافت حاصله کړې ده. او مزار مبارک يئې د خيبر ايجنسئ په جمرود کښې دے. او په جمادي الاخر ۶۱۱هـ کښې وفات شوے دے.

(۳) حضرت خواجه يادګار خرم چه په ۵۸۹هـ کښې يئې خرقه د خلافت حاصل کرے ده. په محرم ۶۴۰هـ کښې وفات شوے دے. او مزار مبارک يئې په غزني کښې دے.

(۴) حضرت خواجه سبزيادګاري چه په ۵۸۱هـ کښې يئې خرقه د خلافت حاصله کړې ده. په ذي الحجه ۶۴۵هـ کښې وفات شوے دے. او مزار مبارک يئې په قندهار کښې دے.

د دے علاوه د حضرت خواجه بزرګ بے شميره خليفه ګان نور هم دي.چه په مختلفو

تذکرو کښې د دوئ د شپیته وؤ خلیفه ګانو ذکر موجود دے. مونږ دلته د حضرت قطب الدین بختیار کاکی. حضرت عبدالله کرماني ذکر مناسب کنړو. لیکن د دغے نه وړاندے د یوے بلے خبرے وضاحت ضروري معلومیږي. هغه دا ده چه د تصور او طریقت په اصولو کښې یوه قاعده ده. او هغه دا ده چه د هر یو پیر طریقت خلیفه ګان په دوه قسمه دي.

(الف) یو قسم ته "خلیفه اکبر" وائي. د هغے مطلب دا وي چه د پیر طریقت د کمال ټولے درجے هغه ته حاصلے وي. او چه روستو هر څومره مریدان د دغه پیر نه طریقت کوي. نو د خراقه خلافت ورکولو نه روستو یا وړاندے د هغه د تربیت کار دغه خلیفه اکبر ته حواله وي. په دے اعتبار سره خلیفه اکبر په حقیقت کښې د خپل پیر په ژوند باندے د هغه جانشین وي. او د خپل پیر د ټولو مریدانو سر پرست اعلی وي. او هغه د روحاني رازونو امانت داروي.

(ب) او دوئم قسم ته "خلیفه اصغر" وائي. د دے مطلب دا وي. چه د خلافت خرقه ورته د خپل پیر د طرف نه ورکړے شوے وي. لیکن تربیت یئے "خلفه اکبر" کړے وي. او بیا سره د دے نه چه خلیفه اکبر یئے تربیت کړے وي. لیکن

بیعت ورنه د خپل مرشد قبله نه حاصل وي. نو د ادب د وجهے نه هغ د خلیفه اکبر مرید نه شي ګنړلے کیدلے.

البته که د مرشد قبله په ژوند خلیفه اکبر چاته بیعت ورکړي. او بیا خلفه اکبر اولګیږي. د برکت د پاره دغه خپل مرید د خپل مرشد قبله یه حضور کښې پیش کړي. لکه چه حضرت قطب الدین بختیار کاکي خپل مرید خواجه فرید الدین ګنج شکر د حضرت خواجه غریب نواز په څضور کښې پشي کړے وو. نو په دغه صورت کښې اګر که مرشد قبله د مهربانی په وجه د خپل خلیفه اکبر مریدله فیوضات ورکړي. بیا هم هغه مرید د خلیفه اکبر مرید ګنړلے شي. او د مرشد قبله فیوضات یئې خصوسي نسبت ګنړلے شي.

د دے وضاحت په رنړا کښې د حضرت خواجۀ خواجګان معین الدین حسن چشتي علیه الرحمة فقط یو خلیفه اکبر وو.

حضرت قطب الدین بختیار کاکي علیه الرحمة

حضرت قطب الدین بختیار کاکي علیه الرحمة د ټولو پښتنو مورخینو په متفقه روایت سره په قام باندے سید افغان دے او د بختیاري ساداتو د قبیلے نه دے. په تاریخ صولت افغاني کښې د دے بختیاري قبیلے ذکر په تفصیل سره موجود دے. چه دا قبیله په لویه کښې په مورث اعلی غرغشت

ورګډيي. د بختياري قبيلے يو شاخ په ايران کښې اوسيده. چه نن ورځے هم په ايران کښې بختياري قبيله يوه مقتدره قبيله ده. د دے قبيلے يوه کورنۍ د ماوراء النهر په اوش نومے علاقه کښې اوسيدله. دغلته په ۲۴، تاريخ د رمضان المبارک ۵۴۸هــ کښې خواجه قطب الدين بختيار کاکي پيدا شه.

ابتدائي تعليم يئې د مولانا ابو حفص نه حاصل کړے وو. د هغه ځاي نه اصفهان نه لاړلو. بيا بغداد ته. او هلته يئې د خواجه بزرګ نه بيعت کړے وو. او خرقه د خلافت يئې حاصله کړے وو. بيا د هغوئ نه جدا شوے وو. د اسلامي دنيا سياحت يئې کولو. او لکه چه وړاندے ورته اشاره شوے ده. په کومو ورځو کښې چه خواجه بزرګ دهلي ته رسيدلے وو. دے هم هلته لاړلو. د هغوئ په خدمت کښې حاضر شولو. او بيا چه کله خواجه بزرګ دهلي ته تشريف يوړلو. نو دے يئې په دهلي کښې پخپل ځاي قائم مقام پريښودلو.

سلطان قطب الدين ايبک او د هغه نه روستو سلطان شمس الدين النمش ور سره ډيره عقيدت لرلو. التمش يئې په خاصو مريدانو کښې وو. د دهلي شيخ الاسلام جمالي الدين بيتالي ترينه بيعت کړے وو. قاضي حميد الدين ناکوري چه په اصل کښې د خواجه بزرګ خليفه وو. هغه به اکثر د دوئ په خدمت کښې حاضر وو. د دهلي تول لوئ واړه. اميران عالمان او مشائخ يئې د حد

نه زيات معتقد وو. د دوئ ډير مريدان او خليفه ګان وو. چه په دغه ټولو کښې خليفه اکبر يئے حضرت شيخ الشيوخ فريد الملة والدين خواجه ګنج شکر عليه الرحمة وو. (چه روستو به ئے تذکره راشي)

حضرت خواجه قطب الدين بختيار کاکي عليه الرحمة د دهلي خواته په "مهرولي" نومے مقام کښې اوسيده. او هم هلته په څلورم تاريخ د ربيع الاول ۶۲۳هـ وفات شه. او هم هلته يئے مزار مبارک جوړشه.

حضرت سلطان شمس الدين التمش

په دوئ پسے پنځه مياشتے روستے يعنے په څوالرسم تاريخ د شعبان المعظم ۶۳۳هـ د دوئ مخلص مريد سلطان شمس الدين عليه الرحمة وفات شه. چه مزار مبارک يئے. د قطب مينار سره متصل جوړ شوي جماعت کښې دننه په شمالي حجره کښې دے. ساده جوړ دے. خواته ورسره نور قبرونه نشته دے. پورته پرے چت هم نشته دے. زهٔ (عبدالحليم اثر) يئے زيارت او سلام له ورغلے ووم. مزار مبارک يئے د فيوضاتو اوانوارو مرکز دے. حضرت سلطان شمس الدين التمش د حضرت خواجه بزرګ نه هم فيض موندلے وو.

حضرت خواجه عبدالله کرماني

د حضرت خواجه بزرګ عليه الرحمة په مشاهيرو خليفه ګانو کښې حضرت خواجه عبدالله کرماني د اوچتے روحاني او

عرفاني مرتبې خاوند وو. د اسلام د تبليغ د پاره بنګال ته يئے تشريف وړے وو. د (موجوده بنګال) په "پير پهوم" نومے ځي کښې اوسيدلو. په ۶۳۶هـ کښې هلته وفات شه. مزار مبارک يئے موجع د خاص و عام دے عليه الرحمة الغفران.

د حضرت خواجه بزرګ تعليمات

حضرت خواجه قطب الدين بختيار کاکي عليه الرحمة "دليل العارفين" نموے يو کتاب ليکلے دے. چه په هغے کښې يئے د خواجه بزرګ ملفوظات راجمع کړي دي. او د دوئ پاکيزه ارشادات او تعليمات يئې رانقل کړي دجي. د خواجه بزرګ يو څو ارشادات عليه دا دي:

حضرت خواجه بختيار کاکي فرمائي چه خواجه بزرګ "ډير خوش خلقه انسان وو. د مينے نه ډک او نرم طبعيت مالک وو. عفوه. بخښانه. صبر. شفقت.او پت مروت ساتل د دوئ خالص صفتونه وو. د تعصب نه بالکل پاک وو. هم دا وجه وه. چه د هر مذهب او هرے فرقے خلقو به د دوئ قدر کؤلو. او په عقيدت سره به د دوئ دربار ته راتلل. او په اولنی ملاقات کښې به پرے مئين کيدل. په ټول عمر کښې ما دا نه ده ليدلے چه چرته دوئ کوم يو چاته قهر يا غصه کړے وي.

خواجه بزرګ فرمائ:

(۱) د مومن معراج نمونځ دے. د دے نه په غیر د الله تعالی د قرب درجه نه شي حاصلیدلے.

(۲) نمونځ د الله تعالی یو امانت دے. چه بندګانو ته یئے سپارلے دے. چنانچه په بندګانو دا وجب دي. چه د پاک خداي په دے امانت کښې هیڅ قسم خیانت اونۀ کړي. او بله دا چه رکوع او سجده دے په صحیح طریقه سره ادا کوي.

(۳) متوکل (یعنے په خداے توکل کؤونکے) په اصل کښې هغه څوک دے. چه به غیر د خدائ نه د بندګانو نه امداد نه غواړي.

(۴) ګسے لاس د خوراک او مخ وینځلو د پاره دے. او ګس لاس د استنجا د پاره دے. بنده چه جماعت ته ننوزي. پکار ده چه اول ښئ پښه دننه کړي. او چه د جماعت نه باهر ته راځی. نو اول دے ګسه پښه رابهر کوي.

(۵) په صحبت، مجلس، ناسته ولاړه کښې خامخا تاثیر وي. که بد عمله سړے د نیکانو خلقو سره کښینی نو ډیر ممکنه ده. چه دے هم نیک شي دغه شان نیک سړے که د ناکاره خلقو سره کښیني، پاسي، نو د دے به هم ناکاره شي. هر

چا چه څه مونډلي دي. هغه يئې د صحبت او مجلس نه مونډلي دي. د نيکو کارو خلقو سره د کيناستلو په برکت سړي ته نعمتونه په لاس ورځي. د نيکانو خلقو سره کيناستل د نيک کار نه زيات غوره دي. او د بدکاره خلقو سره کيناستل د بد کار نه هم ناکاره دي.

(۶) ما د حضرت خواجه عثمان هاروني عليه الرحمة نه آوريدلي دي: چه کوم سړي کښې دا دے خويونه موجود وي. نو پوهه شه چه هغه د خداى پاک دوست دے.

(الف) چه سخاوت يئې د سمندر د رياب په شان سخاوت وي . (عالم وي د هر چا د پاره وي.)

(ب) چه شفقت يئې د نمر په مثال وي (په وچه په لمده په سمه په غريو شان وي په هر چا وي)

(ج) چه تواضع (عاجزي او خاکساري) يئې د زمکے په شان وي (هر يو بار او د هر چا بار زغمي)

(۷) په ګناه کولو تاسو ته دومره نقصان نه شي رسيدلے. څومره چه د يو مسلمان رور په بے عزته کولو نقصان رسيدلے شي.

(۸) په ټولو کښې بهتر وقت د بنده د پاره هغه دے چه زړهٔ يئے د وسوسو نه خالي وي.

(۹) درويش هغه ته وئيل پکار دي. چه د هغه د دربار نه څوک حاجتمند بنده تشه جولئ لاړ نه شي.

(۱۰) د عارف (ولي د خدائ) مثال د نمبر دے. ټوله دنيا پرے روښانه وي. او د دنيا هيڅ څيز د هغه د روښايئے نه محرومه نه وي:

حضرت شيخ المشائخ سيد مبارک الغزنوي

۶۳۲ هـ

د حضرت شيخ شهاب الدين سهروردي عليه الرحمة د کومو خليفه ګانو او مريدانو په برکت چه په برصغير پاک او هند کښې د دين اسلام رنړا خوره شوے ده. په هغوئ کښې د دوئ يو ممتاز خليفه حضرت سيد نورالدين مبارک الغزنوي عليه الرحمة وو. چه د دے د حضرت شيخ الشيوخ شهاب الدين سهروردي خور يئے هم وواو د پلار د طرف نه د نسب سلسله يئے حضرت زيد ابن امام علي زين العابدين رضي الله عنه تر رسيدلے وه. په دغه مناسبت سره د دوئ خاندان د غزني د

ساداتو په خاندان کښې په زيدي ساداتو مشهور وو.

په دغه زمانه کښې په غزني باندے د حضرت سلطان شهاب الدين المقلب په مغزالدين محمد ابن سام غوري حکومت وو. حضرت محمد ابن سام غوري د حضرت شيخ الاسلام والمسلمين شيخ شهاب الدين سهروردي عليه الرحمة سره عقيدت لرلو. او د هغوئ مريد وو. او هر کله چه دے د نامور سلطان د دين السلام د سرلوړئ د پاره غزا کانے کؤولے. نو په هغه مناسبت سره حضرت شيخ الا سلام په محمد ابن سام باندے خپل خصوصي لقب شهاب الدين ايښے وو.

حضرت سلطان شهاب الدين غوري په ۵۳۰هـ کښې پيدا شوے. او په ۵۶۹هـ کښې بادشاه شوے وو. د طبقات ناصري (صفحه نمبر۱۱۶ طبع کلکته) د روايت مطابق په ۵۷۱هـ کښې او د تاريخ فرشته د روايت مطابق په ۵۷۶هـ کښېئې ملتان فتح کړو. د ملتان په دے تاريخي غزا کښې د حضرت ملکيار غرشين عليه الرحمة هغه رجزيه نظم په هر لحاظ باندے د يادساتلو دے. چه د تاريخ په هر دور کښې د ملت اسلاميه د مجاهدينو په زړۀ او روح کښې د الله تعالى په حقه لاره اسلام کښې د جان نثارئ او جان بازئ روح تازه کوي. فرمائي:

ښتن مومل دے
اوس مويرګل دے

هیواد د بل دے

غازیانو ګورئ * څښتن
مومل دے
توري تیر کړئ * دښمن
مو پرے کړئ !
منګلے سرے کړئ * څله
به تښتو !

څښتن
مومل
دے

که ټینګ کړو زړونه *
پرے بري یو نه
چه زمری یو نه * اسلام
راڅخه دے

څښتن
مومل
دے

غازیانو راشئ ! * ټول
شاؤ خوا شئ !
د شهاب پر ملاشئ ! *
دښمن مو غوڅ کړئ !

خښتن
مومل
دے

هم په دغه کال ۷۳-۵۷۲هـ کښې يئے "اچ" هم فتحه کړو. او خپل فوځي سالار "علي کر ماخ" يئے په سندهـ حکمران مقرر کړو. او واپس غزني ته لاړه. په ۵۷۵هـ کښې سلطان يو ځل بيا د غزني نه پيښور طرف ته کوچ اوکړ. پيښور ښهر او د پنجاب مغربي ضلع يئے فتح کړے. او چه د دے علاقو د انتظام نه فارغ شه نو په ۵۷۷هـ کښې يئې په لاهور حمله اوکړه. په لاهور باندے سلطان خسرو ملک غنزوي بادشاه وو. مقابله يئے اونه کړے شوه. قلا بند شه. بيا يئے روغه اوکړه خپل ځويرغمل ورکړو سلطان شهاب الدين قلا بندي او چته کړه غزني ته واپس شه او ټول حالات يئے خپل رور سلطان غياث الدين غوري ته وړاندے کړ. د پنجاب د کشالے نه چه اوزګار شه او خسرو ملک هم ماتښتي او منله نو د ګجرات د راجه او د قلعه الحوت د ملحدانو د شورش ختم کولو په تابيا کښې شه. د ۷۷۸هـ په ابتداء کښې د غزني نه يو ځل بيا را اوخوريده. د وادئ سندهـ په جنوب کښې د سمندر په غاړه مشهور تاريخي ښهر "ديبل" ئے فتح کړو. او ورپسے هم په دغه ۵۷۶ هـ کښې د ګجرات د علالقے په دارالحکومت "اهلواړه" حمله اوکړله.ا و چه د دغے نه راواپس شه او په ۵۸۶هـ کښې يئې لاهور فتح کړو. نو "علي کرماخ" يئے ورجته حواله کړو. او د هغه په ځائ په

سندهـ باندې يئې "ناسر الدين قباچه" ناءب الحکومة کړو.

په ۵۸۵هـ کښې سلطان شهاب الدين غوري د دهلي د فتح کولو په غرض روان شه. دهلي ته د رسيدلو نه وړاندې د دهلي نه شمال مغرب طرف ته د (۷۹) ميلونو په فاصله باندې يو ښهر دې چه د هغې نوم دې "هانسي" حصار" دلته يئې د "راجه رائ پتهورا" د لښکر سره اولنئ مقابله او شوه. د جهاد په دې موقع د مسلمانانو په دې لښکر کښې چه کوم دوه مشهور اولياء الله وو. يعنې حضرت شيخ نعمت الله ولي، او حضرت شيخ مير حسين عليهم الرحمة نو په دوئ کښې دغه اولنې بزرګ حضرت شيخ نعمت الله ولي د مانسي نومې ښهر په خوا کښې شهيد شه. چه مزار ئې د دې ښهر په قلعه کښې دننه شمال طرف ته واقع دې. د دې بزرګ نه علاوه د دې ښهر په غزا کښې چه کوم نور بې شميره اوليائ الله او عام مسلمانان شهيدان شوي وو. او په يو شريک لوئ قبر کښې يو ځائې دفن کړې شوې وو نن ورځې په دغه مناسبت سره د دغه شهيدانو دېشريک او اجتماعي قبر ته "ګنج شهيدان" وائي. لکه چه د وادئ پيښور په علاقه کښې د دې نمونې "ګنج شهيدان" ته "چهل ګزي" وائي. د دغه قسم يو "ګنج شهيدان" د هانسي ښهر د قلعه نه باهر موجود دې.

د هانسي او حصار د فتح نه روستو چه شهاب الدين غوري د دهلي په طرف مخ په وړاندې روان شه. او په ۸۷-۵۷۶هـ مطابق

۱۱۹۰ء کښې په ترين" نومې مقام کښې د کفارو او مشرکانو په خلاف جهاد کښې حضرت سلطان شهاب الدين غوري پخپله زخمي شه. بله دا چې د کفارو فوځ د يو لکھ نه هم زيات وو. او د غازيانو لښکر فقط د ولس زره کسان وو[16]. بهر حال د مسلمانانو فوځونه را اوتبيدل. او مشکلات ورته پيښ شول. نو حضرت سلطان معزالدين محمد ابن سام غوري را او ګرزيده. د دهلي د فتح کؤلو د پاره يئې د نوي سرنه تابيا شروع کړه. او په وطن کښې د غازيانو يو طاقتور لښکر يئې په يو ځومياشتې کښې تيار کړو. دلته دا يادلول پکار دي. چه په ۵۸۶-۵۸۷هـ کښې چه د "رائ پتهورا" سره د مسلمانانو کومه غزا شوي ده په عامو تاريخونو کښې د دغې مقام نوم "ترائن" او "تراوړي" ليکلې شوې دې. البته په تاريخ مخزن پنجاب جلد نمبر۱ صفحه نمبر۷۳ کښې د دې مقام نوم "تروري" ذکر شوې دې. دا مقام د "سرهند" په علاقه کښې په خه سړک باندې آباد دې. چه کوم د کرنال نه تهانيسر ته راغلې دې. دغه "تروړي" نومې مقام د کرنال نه اته ميله شمال طرف ته او د ټهانيسر نه پنځلس ميله جنوب طرف ته واقعه دې.

غرض دا چه هر کله حضرت شهاب الدين غوري د "تروري" د دې غزانه راواپس شه. غزني ته اورسيده. او په ټول وطن کښې د

---

[16]مولانا اکبر شاه خان نجيب آبادي سلارزئ پخپل کتاب آئينه حقيقت نما کښې د مسلمانانو د دې لښکر تعداد فقط د دې زړه بيان کړې دې. ليکن ځمونږه دا روايت صحيح دې چه د دې لښکر تعداد تقريبا دولس زره وو. (اثر)

عامو مسلمانانو خصوصاً پښتونو غازيانو د لښکر تياره ولو په تکل کښې شه. نو ورسره يئے بغداد شريف ته د حضرت شيخ المشيوخ شهاب الدين عمر سهرور دي عليه الرحمة په خدمات کښې يوه عريضه اوليږله چه که حضرت شيخ الاسلام والمسلمين مهرباني او فرمائي . او د هندوستان په مرکز دهلي باندے د مخکښې ځله راتلونکے دوئمے حملے او دوئم جهاد په موقع پخپله تشريف راوړي. او د اسلام د غازيانو رهنمايئ اوکړئ. چه ستاسو دعا او روحاني تصرفاتو په برکت مسلمانان غازيانو ته کاميابي حاصل شي. چنانچه د حضرت معز الدين محمد ابن سام غوري د دے درخواست په جواب کښې حضرت شيخ الا سلام والمسلمين په کامل مهربانئ سره په دے موقع باندے خپل لقب "شهاب الدين" په محمد ابن سام غوري باندے کيښوده. او جواب يئے ورته راوليږي. چه زۀ پخپله ځاني عاجزه شوے يم. د سفر کؤلول قابل نه يم او ځما خوريئې

سيد مبارک الغزنوي

ته م هدايت او اجازت ورکړلو. چه د غزني نه د مجاهدين اسلام د لښکرو سره او ځما د نورو بے شميره مريدانو او خليفه ګانو سره په دے راتلونکے غزا کښې ستاسو سره شامل شي. د جهاد او تبليغ فريضه ادا کړي. ځما نيکے دعاګانے به درسره وي. او انشاء الله تعلی د خدائي په فضل او کرم سره به فتح او نصرت ستاسو نصيب شي.

چنانچه حضرت سید مبارک الغزنوي علیه الرحمة د مجاهدین اسلام د یو لوئ لښکر او د حضرت شیخ شهاب الدین سهروردي د بے شمیره خلیفه ګانو او ماذونانو سره د حضرت معزالدین محمد ابن سام غوري په ملګرتیا کښے راروان شه. او په دے جوړ د غازیانو دا لښکر سره هند ته را اور سیده.

د دے دوئیمے غزا د پاره چه د غازیانو کوم لښکر په دا پیره راروان شوے وو. په دے کښې د پښتنو د مختلفو قبیلو په زرګونو غازیان شامل وو. د تاریخ صولت افغاني د روایت مطابق "تروري، تراءین" په دے دوئمه غزا کښې د حضرت سلطان شهاب العین غوري او حضرت سید مبارک الغزنوي سره د غزني قلات. قندهار او پیښور. بلوچستان د پښتنو قباءلو یو لکڅ دولس زره غازیان میړونه شامل وو. د تاریخ فرشته دروایت مطابق د دوئم جهاد د پاره تیار شوي لښکر کښې په دے وجه پښتانه غازیان په زیارت تعداد کښې شامل کړي شوي وو. چه د "ترائین" په اولنی جنګ کښې چه هرڅومره پښتانه میړونه وو. هغوئ په میدان جنګ کښې د سلطان شهاب الدین غوري سره هم رکاب پاتے شوي وو خپل ځانونه ئې قربان کړي وو. شهدان شوي وو. لیکن د ماتے کؤلو او تیښتے کولو بد نامي یئے په ځان نه وه پورے کړے. او کله چه شهاب الدین غوري په میدان جنګ کښې زخمي شوے بیهوشه پروت وو نویو غلجي پښتون میړه د میدان نه سلامت راوا کښلے وو.

ببیا چه کله د دهلي د فتح نه په ۵۹۱هـ کښې راوپس شول. نو حضرت شهاب الدین غوري اولګیده. د پښتنو قبائیلو دغه غازیان ئې په کوه سلیمان. کوه کسي. کوهستان روه. ډیره. بنو. کوهاټ. پیښور. هشنغر. سوات او باجوړ کښې آباد کړل. او د دے آباد کارئ په دوران کښې هم د دوئ روحاني رهنمائي حضرت غازي سید مبارک الغزنوي علیه الرحمة کوؤله.

د تاریخ مخزن پنجاب او تاریخ صولت افغاني د روایت مطابق په ۵۸۸هـ مطابق ۱۱۹۲ء کښې سلطان شهاب الدین غوري په هغه اولني مقام "ټراین" تروري" باندے د کفارو او مشرکینو په لښکرو دوئمه حمله اوکړله. د تاریخ هند د روایت مطابق د مسلمانانو مجاهدیونو په لښکر کښې د اتیا زره پیاده فوځ نه علاوه یو لکهـ شال زره سواره وو. او د دوئ په مقابله کښې د کفارو او مشرکینو لښکر د حد او حساب نه بهر وو.

مګر د لوئ خدائ په مهربانئ. د حضرت شیخ الشیوخ شیخ شهاب الدین سهوردي علیه الرحمة د نیکو دعاګانو او د حضرت سید مبارک غزنوي د روحاني تصرفاتو په برکت مسلمانانو ته فتح او نصرت نصیب شه. د "تاریخ مخزن پنجاب"د روایت مطابق په زرګونو مشرکین قتل شول. او په مقابله کښې په زرګونو مسلمانان هم پکښې شهیدان شول او د هندوانو فوځونو ماتے اوکړله. د هندوانو مشر راجه" رائي پرتهوي راج"

ژوندے او نیولے شه. او قتل کړلے شه. وو پسے بیا مخے کال له په ۱۱۹۲-۵۸۹هـ کښې د هندوستان دارالحکومت د هلے فتح شه او د اسلام بیرغ پرے اود رولے شه.

د پورتني تفصیل له مخه حضرت سید مبارک الغزنوي علیه الرحمة په ۵۸۹هـ مطابق ۱۱۹۲ء کښې دهلي ته رسیدلے وو. هم هلته آباد شه د مولانا شیخ عبدالحق محدث دهلوي د کتاب "اخبار الاخیار" د روایت مطابق دوئ په ۶۳۲هـ کښې وفات شوي دي. مزار مبارک یئې د مشهور "حوج شمسي" نمر کاته طرف ته دے او مرجع د خاص و عام دے.

په دغه کتاب "اخبار الا خیار" کښې د دوئ په تذکره کښې لیکي:

حضرت سید مبارک غزنوي د حضرت شیخ الشیوخ شهاب الدین سهروردي خلیفه وو. د دهلي روحاني پیشوا او شیخ الا سلام وو. د سلطان شمس الدین التمش په زمانه (۳۰۷هـ تا ۶۲۲هـ) کښې دے د "امیر دهلي" په لقب سره مشهور وو.

په کتاب فوائد الفواد" کښې لیکلي دي چه یوه ورځ حضرت سید نور الدین مبارک غزنوي علیه الرحمة د احکایت بیان فرمائیلو.

چه شیخ نظام الدین ابو الموید ډیر لوئ بزرګ تیر شوے دے. یو ځل نو د یوے مودے پورے باران اونه شه. خلقو دے مجبور کړو چه د باران کیدلو د پاره دعا او

فرمايئې. حضرت ابو المئيد منبر ته او ختلو او د باران د پاره يئے دعا او فرمائيله. بيا يئے آسمان ته پورته مخ کړو. او دايئے اووئيل چه:

يا الله لکه ته باران نه کوے. نو زۀ به په ابادئ کښې اوسيدل پريږدم" دا ئې اووے. او د منبر نه کوز شه. د خدائ تعلي په فضل او کرم سره باران اوشه. د دے واقعے نه روستو سيد قطب الدين چه سلام له ورغے. غرض يئے اوکړو چه مونږه په تاو باندے کامل اعتماد لرو. او دا هم راته معلومه ده چه تاسو ته په بارګاه خداوندي کښې د نياز مندئ درجه حاصله ده. مګر هغه وخت تاسو دا خبره ولے اوکړه چه "که تاباران اونه کړو. نو زۀ به په آبادئ کښې استوګنه پريږدم" حضرت نظام الدين ابوالمويد جواب ورکړو. چونکه ماته معلومه وه. چه هغه به ضرور باران کوي. ځکه م دا خبره اوکړه.

د حضرت شيخ نصير الدين محمود چراغ دهلوي قدس سره نه روايت دے هغوئ فرمائ. چه په غزني کښې يو بزرګ اوسيده. د هغه نوم وو. شيخ محمد اجل شيرازي. حضرت سيد مبارک غزنوي ته په ابتداء کښې د هغوئ نه فيض حاصل شوے وو. حضرت چراغ فرمائ. دا قيصه داسے وه چه په هغه زمانه د حضرت شيخ محمد اجل په مريدانو کښې يو سوداګر وو. هغه خپل پير له راغے. عرض يئے اوکړو چه ځما په کور کښې هلک پيدا شوے دے. ستاسو بالکے دے. دعا ورنه او فرمايئے.

حضرت شيخ ورته په جواب کښې اوفرمائيل بهتره به دا وي چه صبا له چه زۀ د سحر نمونځ ادا کړم. هغه وخت ته خپل ماشوم ځوي د ځان سره راوله. او ځما ښي طرف ته يئے ماته مخامخ کړه. حسن اتفاق ته ګوره. هم په دغه ورځ باندے حضرت سيد مبارک الغزنوي هم پيدا شوے وو. او د د دوئ والد ماجد هم په دغه مجلس کښې حاضر وو. چه د دوئ دا خبره واوريدله. نو دوئ په زړۀ کښې اوونيل چه که خدائي ته منظوره وي. صباله به زۀ هم خپل ماشوم په غيږ کښې راوړم. او د شيخ مخے ته به يئے وړاندے کړم. چنانچه په صباله باندے د سحر نمانځه په وخت کښې سوداګر په وختي راتللو کښې محطلتيا اوکړه او د حضرت سيد مبارک غزنوي والد ماجد وختي رابيدار شه. راغے. په دے کښې موذن تکبير او کړو. نمونز خلاص شه او د سلام ګرځولو سره سم د سيد مبارک والد ماجد د ښي طرف نه راغے. او دا خپل ماشوم يئې هغوئ ته وړاندے کړو. شيخ محمد اجل شيرازي عليه الرحمة د کامل په يو نظر ورته اوکتل. او خپل ټول فيوضات او برکتونه يئے ورته او بخښل. وئيلے شي. چه بيا روستو هغه سوداګر راغے. نو حضرت شيخ ورته او فرمائيل چه "څۀ فيوضات وو هغه خو سيد زاده يوړل".

حضرت سلطان المشائخ نظام الدين اولياء او حضرت شيخ المشائخ ناصر الدين محمود چراغ دهلوي دواړه پخپله ډېر لوئ بزرګان دي. د دوئ چه په څومره ادب او احترام د حضرت سيد مبارک الغزنوي تعريف

کوي. د دے نه د حضرت سید علیه الرحمة د روحاني او عرفاني درجے اوچت والے معلومیږي.

د شهنشاه جلال الدین اکبر په زمانه کښې د دے حضرت سید مبارک غزنوي علیه الرحمة سهروردي په اولاد کښې یو بزرګ کر نال ته تشریف وړے وو. او د غلته د "صدر الصدور" په ممتازه عهده بانده سر فراز وو. او د "سید صدرجهان" په معززلقب به یادیلو.

د حضرت سید مبارک الغزنوي علیه الرحمة اولاد د

زیدي ساداتو

دا خاندان په بر صغیر پاک او هند کښې د ډیر لوئ شهرت او عزت خاندان دے. او د تاریخي په هر دور کښې یئے د اسلام د سرلوړئ د پاره ډیر شاندار خدمتونه کړي دي. او په خصوصیت سره په موجوده دور کښې د تحریک پاکستان د کامیاب کولو د پاره د دے خاندان د نامورو افراد و خدمات د یاد ساتلو دي.

عزتمند جناب سید جلال حیدر زیدي پولیټیکل ایجنټ د ملاکنډ ایجنسئ هم د دے نامور خاندان چشم و چراغ دے. او په رشتیا سره په اسلام او مسلمانانو مئین دے.

حضرت شیخ سید عثمان المعرف لعل شهباز قلندر

(۵۳۸هـ تا ۶۵۰هـ)

د برصغیر پاک او هند په پخوانو بزرگانو کښې د حضرت شیخ لعل شهباز قلندر نوم ډیر زیات مشهور دے. تقریباً ځمونږه د دے ملک په هره حصه کښې داسے درویشان موجود دي. چه ځان ته قلندري فقیران وائي. او خپل تعلق د دے حضرت لعل شهباز قلندر سره ښائي.

د حضرت لعل شهباز خپل اصلي نوم سید عثمان دے. او لقب یئې شمس الدین دے. ددوئ د والد الماجد نوم سید ابراهیم کبیر دے. او د نسب سلسله یئے په یؤولسم پشت کښې حضرت امام جعفر صادق رضي الله عنه ته رسیږي.

د دوئ والد ماجد د مملکت ایران په ازار بائیجان نومے علاقه کښې اسیده. په دغه ملک کښې په کوم ښهر کښې چه دوئ اوسیدل د هغے. "مروند" نوم وو. د دغه ښهر داستوګنے په زمانه کښې د حضرت سید ابراهیم کبیر علیه الرحمة په کود بعض په ۵۳۸هـ کښې یو نارینه فرزند پیدا شو په هغه باندے عثمان نوم کیښودلے شه. په

ابتدائي عمر کښې يئې قرآن مجيد حفظ کړو. او د ظاهري علمونو د تکميل نه روستو د باطني علمونو حاصلولو په تکل کښې شو. او د حضرت بابا ابرهيم کر بلائي نه يئې لاس ينوه اکوړه. او په طريقت او معرفت کښې د کمال حاصلولو نه پس د خپل مرشد د طرف نه د خلافت خرقه ورته ورکړلے شوه.

د سلسله عاليه قادريه په خصوصيتونو کښې يو لوئي خصوصيت دا دے چه د دے طريقے کوم يو بزرګ ته درجه د کمال حاصله شي. نو هغه امر معروف شروع کړی. علاقه په علاقه ګرځی. خلقو ته د اسلام تبليغ کوي. او د خدائي مخلوق د نيکئ او نيکو کارئ لارے ته راغواړي. چنانچه هم د دغے عامے قاعدے مطابق حضرت شيخ سيد عثمان شمس الدين د آذر بائيجان (ايران) نه د دين اسلام د تبليغ په اراده رااروان شه.مکران ته راغے. او د لته چه په کوم کلي کښې نے استوګنه اختيار کړه. د هغے کلي نوم شهباز وو. په دے شهباز نومے کلي کښې د څه مودے تيرولو نه پس رااروان شول. او ملتان ته ئے تشريف راوړ. په دغه زمانه په ملتان کښې حضرت شيخ الا سلام غوث العالم بهاء الدين ذکريا ملتاني د سهرورد يه په طريقت لوئي شيخ وو. حضرت سيد عثمان شمس الدين په سهرورديه طريقه کښې د هغوئ نه بيعت اوکړو. د هغوئ د مريدانو په حلقه کښې داخل شه. او ډيره اوچته مرتبه يئے حاصله کړه. چه نن ورځے د حضرت غوث العالم په نامور و خليفه ګانو کښې د دوئ نوم زيات ښکاره دے. او د

خدائي پاک زيات مخلوق ته ترينه فيوضات رسيدلي دي.

هر کله چه دوئ ملتان ته د موجوده "قلات ډويژن" د مکران" نومے ملک د شهباز نومے کلي نه راغلي وو. په دغه مناسبت سره د "شهباز" نومے کلي قيمتي لعل (لعل شهباز) ورته وئيلے شه. بيا دا نوم د فارسئ ژبے د قاعبدے مطابق د اضافتي نوم په حيثيت د لفظ لعل په کسره سره "لعل شهباز" د دوئ يو تعريفي نوم او ګرځيده. چه دغه نوم روستو د دوئ د مشهور لقبي نوم "شمس الدين" نه علاوه دوئم لقبي نوم شه" او چونکه دوئ ټول عمر واده نۀ وو کړے. مجرد ژوند يئے تيره ولو په دے وجه د دوئ د نوم سره دريم تعريفي نوم "قلندر" زيات ګنړلے شه. ليکن څومره د افسوز مقام دے چه نن ورځے ډير کم خلق به د دے نه خبر وي چه:

(الف) د دوئ اصلي نوم عثمان دے.

(ب) په نسب باندے حسيني "سيد" دے.

(ج) اصلي لقب يئے "شمس الدين" دے.

(د) تصوفي مسلک يئے قادري او سهرور دي دے.

(ه) او "لعل شهباز" د دوئ اضافتي او نسبتي نوم دے. چه د مکران د شهباز نومے کلي قيمتي لعل ورته وئيلے شوے دے.

او په دے اعتبار دايئے يو تعريفي لقب دے.

او د دوے صحيح معلومات په ځاي فقط د "لعل شهباز قلندر" په نوم خويئے هر څوک پيژني. ليکن په دے سلسله کښې چه کوم ظلم کؤولے شي. هغه دا دے چه د دوئ تصوفي او عرفاني مسلک قلندري ګنړلے شي. حالانکه "قلندري" د دوئ د وادۀ نه کولول په وجه خپل خوصي تعريف وو. او دغه ده دوئ تصوفي او عرفاني مسلک نه وو. ځکه چه د دوئ د طريقت او معرفت لاره قادريه او سهرورديه وه. چه دغه په هر حالت کښې د شريعت اسلام د ظاهري او باطني احکامو او افعالو د مکملے پابندئ. د پانتدارئ. پاکيزګئ او باشريعته ژوند تيرولو مسلک دے. او په دے کښې د هغه ټولو کارونو د پاره هيڅ جواز. هيڅ ځاي. او هيڅ ګنجائيش نشته دے. کوم چه نن ورځے د قلندر طريقے په نوم کؤولے شي. البته دا به اووايو چه د بزرګانو په نيک نوم باندے چه کوم ناروا کارونه کوؤلے شي. دا د هغے بد ترين مثال دے. آخر د قادريه طريقے يو بزرګ داسے کارونه څرنګ خوښولے شي. چه هغه سراسري د شريعت محمد د واضحه احکامو خلاف وي.

په کومو ورځو کښې چه حضرت سيد عثمان شمس الدين قادري. المعروف لعل د شهباز د مکران" نه ملتان ته تشريف راوړلو. په دغه ورځو کښې شهزاده محمد د ملتان حکمران وو. دا شهزاده نيک سړے وو. د علم او ادب او عالمانو فاضلانو او بزرګانو،

ډېر زيات قدر دان. پالونکے. او عقيدت مند وو. د دے نيک زړي حکمران د دے قدر دانئ په وجه د لرے لرے ملکونو نه عالمان. مشائخ او صوفيان. اديبان او شاعران د ملتان ښهر ته راټول شوي وو. چه څه وخت حضرت سيد شمس الدين عثمان تشريف راوړلو. نو دغه شهزاده د دوئ سره خصوصي عقيدت ښکاره کړ. د ځان سره يئې په طور د ميلمه باندے ډيره کړلو. او بيايئے د استوګنے او د دوئ د مريدانو د ناستے ولاړے د پاره يو خانقاه هم جوړ کړ.

په ملتان کښې د څه زمانے استوګنے نه روستو د سلطان ناصر الدين محمود په زمانه کښې په ۶۴۹هـ کښې دوئ د وادئ سندهـ "سيوهن" نومے مقام ته تشريف راوړلو. او دلته يئے په هغه ځائ استوګنه اختيار کړله. چرته چه نن ورځے د دوئ مزار مبارک دے.

په سندهـ کښې دوئ ډيره لږه موده ژوندي پاتے شول. او بالآخر په يووشتم د شعبان المعظم ۶۵۰هـ د يو سل دولس کالو په عمر کښې وفات شول. قدس سرهٔ العزيز، و عليه الرحمة والغفران.

د دوئ د وفات نه روستو د دوئ مريدانو او خليفه ګانو د وادئ سندهـ په پورتنئ حصه کښې د امر معروف او تبليغ اسلام سلسله جاري او ساتله او د قادريه طريقے روحاني مسلک له يئے ترقي ورکړه. او د مسلمانانو تر منځه د "رومان تړون"

قائم کولو د پاره یئے شاندار خدمت سر ته اورسول. رحمة الله علیهم اجمعین.

حضرت شیخ ملهي قتال علیه الرحمة

دحضرت لعل شهباز قلندر علیه الرحمة په مشهورو مریدانو کښې حضرت شیخ ملهي قتل شیرواني د ډیرے لویئے درجے خاوند تیر شوے دے. چه د دوئ مزار مبارک د ضلع ډیره اسماعیل خان په موضع د رابن کښې دے. او روستو د دوئ په اولاد کښې حضرت شیخ صدر الدین صدر جهان زنده پیر لوي بزرګ تیر شوے دے. علیه الرحمة والغفران.

حضرت شیخ ابراهیم دانشمند ارمړ، انصاري

۶۶۰هـ

د پښتونخواه په علاقه کښې د بازید انصاري المعروف په "پیر روښان" نوم ډیر زیات مشهور دے. د ده شجره د نسب داسے ده بائد انصاري. ولد عبدالله ولد محمد شیخ ولد بازید اول ولد شیخ محمود ولد شیخ سراج الدین ولد شیخ ابراهیم دانشمند رارمړ. انصاري چې سلسله د نسب یئې حضرت ابي ایوب انصاري رضي الله عنه ته وسیږي.

په دوئ کښې د بازید انصاري المعروف پیر روښان دغه په اوومه پیړئ کښې نیکه یعني حضرت شیخ ابراهیم دانشمند علیه الرحمة ما زون او خلیفه وو. او د بغداد شریف نه یئے د خپل پیر په حکم سره څمونړه د مغربي پاکستان د ډیره اسماعیل خان ډویژن قبائلي "وزیرستان" ته تشریف راوړے وو. او په "کاني کرم" کښې یئے استوګنه اختیار کړے وه. د دے علاقو د پښتنو قبائلو عملي مذهبي او روحاني رهنمایئي یئے کوؤله. او د کسئ غر. کوه سفید. کوه سلیمان د ټولو غرونو په لمنو کښې یئے د دین اسلام رنړا خوره کړله. په دے اعتبار سره د بغداد شریف دوه لویو پیرانو یعنے (۱) حضرت شیخ المشائخ غوث

الا عظم د ستګیر عبدالقادر جیلاني قدس سره (۲) او حضرت شیخ الشیوخ شهاب الدین سهروردي علیه الرحمة. چه د دین اسلام کوم بل کړے او روښانه مشال حضرت شیخ ابراهیم داشمندله ورکړے وو. دوئ د هغے په رنړا باندے د مغربي پاکستان د قبلیئزو غرونو او میداني علاقو خواؤ شا روښانه کړے. لکه چه ځرنګ هم د دغه دواړو روحاني پیشوایا نو د دوئم روښانه نمر یعنے حضرت غوث العالم شیخ بهاء الدین ذکریا ملتاني په ذریعه د ملتان. بهاولپور. سندهـ. او پنجاب په میداني علاقو کښې چار چاپیره ذمکه روښانه شوے وه. او د خدائي د مخلوق زړونه یئے د اسلام په رنړا مشرف کړي وو.

پیغام یو وو. رنړا یوه وه. ا د یو مرکز بغداد نه راخوره شوے وه! مګر په دوه لاسونو! یو لاس د شیخ ابراهیم دانشمند ارمړ وو.! او بل لاس د شیخ بهاء الدین ذکریا قریشي وو.

حضرت شیخ ابراهیم داشمند په قام باندے انصاري وو. د پښتنو په ارمړ نومے قبیله کښې یوه وړه مګر مشهوره قبیله ده. چه د هغے برکي نوم دے. په دے برکي قبیله کښې یو یو ښاخ دے. د هغے انصاري نوم دے. حضرت شیخ ابراهیم داشمند علیه الرحمة د دے انصاري قبیلے دے.

ارمړ قوم په اوچته پیړئ کښې په شل لویو قبیلو تقسیم دے. په دے کښې د یوے

قبیلې او ښاخ یئې کاني ګرم نوم دے[17].چه نن ورځے هم د دے قوم د نوم په مناسبت سره په وزیرستان کښې د یو مشهور ځائ نوم "ګانی ګرم" دے. دغه انصاري قبیله چه په حقیقت کښې د برکي قبیلے یو شاخ دے. د خپلو رونړو نه جدا شوے وه. او په کاني ګرم کښې او سیدله. په دے اعتباره سره حضرت شیخ ابراهیم داشمند په قام برکے. ارمړ دے. لیکن استوګنه یئے د کاني ګرم نومے بلے ارمړ قبیلے سره وه. او د موجوده شمالي او جنوبي وزیرستان او خواؤ شا غره ایزو او میداني علاقو خلقو ته یئے د دین اسلام د احکامو د ښودنه او تبلیغ کؤلو. او د خدائي په یادو به یئے عمر تیره ولو.

لکه چه مخکښې هم دا بحث تیر شوے دے. حضرت شهاب الدین غوري چه د ۵۸۶-۵۸۷هــ د ترآئن په مقام د اولنئ حملے او جهاد نه روستو په غزني کښې د مجاهدین اسلام نوے لښکر تیا کړو. او ورسره یئے بغداد شریف ته سوال جواب اولیږلو. او د حضرت خواجه شهاب الدین سهروردي علیه الرحمة نه یئې دعا او امداد اوغوختلو او د حضر خواجه سهروردي دبے شمیره مریدانو او خلیفه ګانو په شمرئ کښې د مختلوف وپښتنو قبائیلو غازیان د ۵۸۷-۵۸۸هــ د نیتے د ترائن نومے مقام دوئم جهاد له راروان

---

[17]د حوالے د پاره ملاخطه کړء "صولت افغاني" د زردار خان ناغر او "حیات افغاني" د نواب حیات محمد خان توانه بحث د ارمړ. په حواله د کتاب "نسب نه مه اړمړ تالیف د میا محمد عمر علیه الرحمة د څمکنو. (اثر)

شول. نو په هغے کښې د حضرت خواجه سهروردي دغه نامور خليفه حضرت ابراهيم دانشمند هم وزيرستان د مشهورو قبيلو دوړ، وزير، محسود، بيټني او په خصوصيت سره د ارمړ قام د يو لوئ لښکر سره روان شه او د ترائين په مقام د ۵۸۸هـ په دغه جهاد کښې شامل شه.

بيا چه په ۵۹۱هـ کښې د دهلي. اجمير او قنوج د فتح نه روستو د پښتنو غازيانو قبائل د حضرت سلطان شهاب الدين غوري عليه الرحمة سره د حضرت سيد مبارک غزنوي په روښاني رهنمائي روان شول او دغه قبائيل ئي وادئ پيښور. سمه. سوات باجوړ کوه سفيد وغيره کښې آبادول. نو په هغے کښې د ارمړ قوم څه حصه خلق يئے د وادئ پيښور د ضلع او تحصيل پيښور په جنوب مشرقي حصه کښې آباد کړل. چه تر نن ورځے د دے قام د دے کلي د ارمړ په نوم باندے په دغه علاقه کښې موجود دي.

د دغے نه علاوه د دے ارمړ قوم څه حصه خلق هلته په دهلي کښې د قطب الدين ايبک سره پاتے شه. او بيا روستو د قطب الدين ايبک په مشرقئ کښې په بهار. بنګال (مغربي) ګجرات او بندهيل کهنډ کښې ئے جهادونه اوکړل. حضرت شيخ ابراهيم دانمشند عليه الرحمة په دے جهادونو کښې شامل وو. څه موده پس په د کن کښې او پسے په بنګال کښې ارمړ قبيلے رياستونه هم جوړ کړي وو. د دغے نه څه نيټه پس چه حضرت محمد بختيار خلجي بنګال فتح کړلو.

نو حضرت ابراهیم دانشمند د خواجه شهاب الدین سهرودي د نورو خلیفه ګانو سره د اسلام د دعوت او تبلیغ د پاره بنګال ته تشریف یوړلو. هلته پاتې شه او هم هلته وفات شه. د دې حضرت شیخ خواجه ابراهیم دانشمند ارمړ چه په اصل د قبائلي علاقې وزیرستان دې. مزار مبارک یئې د مشرقي پاکستان په "سونارګاؤ" کښې دې. او په ۶۶۰هـ کښې وفات شوې دې. علیه الرحمة والغفران. د دوئ د ځوی شیخ سراج الدین تذکره به روستو راشي.

حضرت شیخ الاسلام بهاء الدین ذکریا ملتاني

۶۶۶هـ

د حضرت شیخ الاسلام غوث العالم بهاء الدین ذکریا لقب ابو محمد ابوالبرکات دے. د والد ماجد نوم یئے وجیهالدین ولد کمال الدین علي شاه قریشي دے. د دوئ کورنئ په قریشو کښې د بني اسد قبیلے یو ښاخ دے.

د حضرت شیخ ذکریا علیه الرحمة نیکه یعنے حضرت کمال الدین علي شاه قریشي اسدي. د مکے معظمے نه ملتان ته تشریف راوړے وو. او دلته آباد شوے وو. دے پخپله زمانه کښې ډیر لوئ بزرگ او روحاني پیشواوو. او هم په دغه وجه عام او خاص ټولو خلقو به یئے ډیر زیات قدر، عزت او احترام کولو.

د حضرت کمال الدین صاحب ځوي حضرت وجیهـ الدین صاحب هم لکه د خپل پلار په شان بزرگ سړے وو. او په دینداریئ او پرهیز ګاریئ کښې یئے ثاني نه لرلو. ډیر د اوچتو اخلاقو خاوند او عزمتند بزرګ وو. د دوئ چه دلته آباد شول نو د ملتان د یو بل بزرګ عالم حضرت مولانا شاه حساب الدین د لوربي بي سره د حضرت وجیهـ الدین صاحب

نکاح اوشه. او د دغة پاکے بي بي پي غیږ کښې په ۵۵۳هـ مطابق ۱۱۶۹ء کښې په مقام د قلعه "کوټ کروړ" حضرت بهاء الدین ذکریا ملتاني پیدا شه.

روایت دے چه د دوئ عمر دولس کاله ته رسیدۀ نو بیا یئے قرآن مجید په یادو یاد کړے وو او هم په دغه منځ کښې د دوئ والد ماجد حضرت وجیهـ الدین صاحب علیه الرحمة وفات شه. رحمة الله علیه.

د خپل والد د وفات نه روستو هم په دغه کم عمر کښې او د یتیم والي په حالت کښې حضرت بهاء الدین د دیني علمونو د حاصلو د پاره روان شه. خراسان ته راغے په دغه زمانه بدانے خرراسان د علم او فضل مرکز وو. دوئ تر اوه کالو پورے د خراسان د عالمانو او بزرګانو نه فیض حاصل کړ د ظاهري او باطني محاسنو او معارفو د تکمیل نه روستو د ماورالنهر مشهور علمي مرکزو بخاراته لاړل. ټول ظاهري علمونه یئے هلته دوباره په درس اولوستل. د اجتهاد مرتبه یئے حاصله کړه. او ډیر لوئي شهرت یئے بیا مونده. وئیلے شي چه د بخارا د سفر نه مخکښې د پنځلس کالو په عمر کښې یعنے لا په هلکوالي کښې بیا دوئ دیني علمونه حاصل کري وو. او شاګردانو ته به یئے درس ورکؤلو. او د دوۀ دبے مثله علم آوازه دومره تر لرے لرے پورے خوره شوه. چه بے شمیره خلق پرے رامات شه. دا هم روایت دے چه روزانه به

شپیته، اویا کسان ترینه چاپیره ناست وو. او د دیني علمونو درس به یئے حاصلولو.

د بخارا د قیام نه روستو حج له یئے تشریف یوړلو. پنځه کاله یئے په مدینه منوره کښې تیر کړل. او هلته یئے د ډیرو عالمانو او بزرګانو نه ظاهري او باطني فیض حاصل کړو. په دغه دوران کښې یئے د حضرت شیخ کمال الدین محمد یمسني علیه الرحمة نه د احادیثو کتابونه اولسوستل. او د هغوئ نه یئے په علم حدیث کښې سند حاصل کړ.

د هغه ځاي نه بیا شام او بیت المقدس ته لاړهٔ. د پیغمبرانو علیهم السلام زیارتونه یئے اوګذارل. او د هغه ځاي نه بیا بغداد ته راغے. د دے ځاي د مشائیخو او بزرګانو زیارتونه یئے اوکړل. او دلته یئے د حضرت شیخ شهاب الدین عمر سهروردي علیه الرحمة نه لاس نیوه (بیعت) اوکړه. د لاس نیوے کولو په وخت کښې دے دومره د کمال درجے ته رسیدلے وو. چه فقط اولس ورځے یئے د خپل پیر وخت په خدمت کښې تیرے کړے. د سهروردیه طریقے دا ورادو او وظائیفو او باطني شغلو نو ټول منزلونه یئے تر سره کړل. او په او لسمه ورځ ورله هغوئ د خپل خلافت خرقه ورکړله ماذون یئے کړلو. او بیا یئے ورته او فرمائیل چه:

"ملتان ته لاړ شه.
او هلته د خدائ مخلوق
ته د اسلام د حق دین او

مذهب د تعلیماتو تبلیغ
شروع کړه. چه د خدائ
مخلوق د ګمراهئ نه بچ
شي.او د اسلام صفا او
حقے لارے ته په صدق سره
راواوړي"

چنانچه د خپل پیر طرقت حضرت شهاب الدین سهروردي په حکم سره چه د دوئ ملتان ته تشریف راوړلو. نو په دغه سفر کښې د ضلع بنو او ډیره اسماعیل خان تر منځه د "پیزو" نومے مقام سره نزدے په اوچت غرهٔ باندے یئے چله او کښله او د سلوک او عرفان منزلونه یئے رالنډ کړل. نن ورځے دغه غر د دوئ د مبارکو قدمونو په برکت سره په "کوه شیخ بهاء الدین" نامه باندے مشهور دے. چه روستو دا نوم مخفف شوے دے. او "کوه شیخ بودین" ورته وئیلے شي. دغه متبرک او تاریخي غر نن ورځے د ډیره اسماعیل خان ډویژن یو صحت افزا ګرمائ مقام دے.

بیا دغه "کوه شیخ بدن" نه چه رارروان شول. نو ملتان ته یئے تشریف راوړلو. او دلته ئے استوګنه اختیار کړه. بیشکه د دوئ نه وړاندے هم په ملتان کښې د خدائ نیک بندګان او بزرګان موجود وو. لیکن د روحاني فیوضاتو کومه سرچشمه چه د دوئ په تشریف راوړلو سره په دے ملک کښې جاري شوله. د دغے د شرف او بزرګئ مثال نه شي پیدا کیدلے. تر دے حده چه نن هم د دوئ په مبارک وجود یواځے ملتان څه چه ټول

مغربي او مشرقي پاکستان ګل او ګلزار دے. او د دوئ د روحاني انوارو په رنړا د برصغير پاک او هند ټولے علاقے يو شان روښانه دي.

حضرت شيخ عبدالحق محدث د هلوي پخپل کتاب اخبار الاخيار کښې ليکي:

حضرت بهاء الدين شيخ ابو محمد ذکريا ملتاني قدس سره په هندوستان کښې رئيس الاولياء وو. په ظاهري علمونو کښې فاضل عالم وو. او د روحانيت او عرفان په کشف کرامت. او د مشاهداتو په احوال او مقاماتو کښې کامل وو. د اکثر اولياء الله سلسلے د دوئ نه شروع شوي دي. خلقو ته يئے د حق دين اسلام هدايت او فرمائيلو او د کفر نه د ايمان په طرف او د ګنهګارئ نه د نيکو کارئ په طرف او د نفساني خواهشاتو د پيروئ نه د روحانيت په طرف يئے را اوبلل. د خدايئے مخلوق ته ترينه لويه فائده اورسيدله. او دے د ډيرلوئ شان او بزرګئ خاوند وو.

د حضرت شيخ عبدالحق داپورتنے بيان بالکل رشتيا دے. د حضرت شيخ عوث عالم بهاء الدين ذکريا عليه الرحمة نه چه کوم فيض څمونړه په دے ملک کښې خورشوے دے. او څمونړ دا مملکت پاکستان (مشرقي او مغربي دواړه) د هغوئ په روحاني رنړا روښانه شوے دے. او د يو "روحاني ترون" شکل يئے اختيار کړے دے. هغه د دوئ د هغه مذهبي او اسلامي خدمتونو برکت دے چه خپل ژوند

مبارک کښې يئے د اسلام د تعليم. تبليغ او تربيت د پاره کړي دي. او چه کله دوئ وفات شول نو د دوئ نه روستو ددوئ د روحاني فيوضاتو دغه سلسله د دوئ صلبي (نسلي يعنے خپل اولاد ځامنو او نمسو) او روحاني اولاد (يعنے مريدانو او خليفه ګانو) جاري او ساتله. عليهم الرحمة والغفران.

حضرت غوث العالم شيخ الشيوخ ابو محمد بهاء الدين ذکريا ملتاني عليه الرحمة په ۶۶۶هـ کښې په اوم تاريخ د صفر المضفر وفات شه. د وفات تاريخ يئے د دے جملے نه خيژي.

عاشق صادق

په کتاب اخبارالاخيار کښې د دوئ د وفات ۶۶۱هـ او په ځنے نورو تذکرو کښې ۶۶۵هـ ذکر شوے دہ. ليکن ځمونږه دغه مخکښې روايت زيات صحيح معلوميږي. روضه مبارک يئے په ملتان ښهر کښې دہ. او زيارت ګاه د خاص وه عام دہ. قدس سره.

د دين اسلام اشاعت

د حضرت شيخ الشيوخ ابو محمد بهاء الدين ذکريا ملتاني عليه الرحمة په وعظ او نصيحت کښې ډير زيات جذب، کشش او اثر وو. چنانچه هم د دغے په برکت سره د سندهـ، ملتان او لاهور په خواؤ شا علاقو او ملکونو کښې په زرګونو زرګونو کفار او

مشرکان. بلکه روغ قومونه او قبیلے په دین اسلام مشرف شول. د دوئ د تعلیم او تربیت او د اسلام د تبلیغ او اشاعت طریقه داوه. چه هر هغه سړے خواه که هغة به هندو وو. که مسلمان چه د حضرت شیخ په خدمت کښې به حاضر شه. نو هغه ته د تبلیغ کؤلو په طریقه او طرز کښې به څه فرق نه وو. اایکي یو شان تعلیم او پیغام به وو. چه هغه به یئے ورته وړاندے کؤلو. یعنے دا چه دا اوچتے روحاني او عرفاني درجے د حاصلولو هدایت به یئے ورته کؤلو. او د اسلامي تعلیماتو چه کوم روح دے. هغه به یئے ورته وړاندے کؤلو. په دے شان چه.

(الف) عامو خلقو ته به یئے مذهبي درس ورکؤلو. غیر مسلم به د دوئ د تبلیغ په اثر دین اسلام ته رااوړلیدل. اسلام به یئے قبلولو. او مسلمانان به توبه تائب کیدل. او بے عیبه پاکیزه ژوند تیره ولو ته به جوړیدل.

(ب) او د حق طالبان او د طریقت مریدان به یئے د علم او عرفان په فیضاتو سرفرازه کؤول.

د حضرت شیخ رحمة الله علیه خپل حالت دا ؤوچه: څرنګ به د یو غیر مسلم په کلمه تو حید لا اله الا الله محمد رسول الله وئیلو او مسلمانیدلو د حد نه زیات خوشحالیدلو. نو هو بهو هم دغه شان به د یو مسلمان په توبه او ښکلو او د پاکیزه

ژوند تیره ولو په وعده او اراده کؤلو باندے هم خوشحالیدلو. د دوئ به فرمائیل چه زیات ضروري څیز د مسلمانانو د اخلاقو او د اعمالو پاکیزګي ده. چه د مسلمانانو عملونه نیک شي. او اخلاق یئے پاکیزه شي. بیا پخپله چه غیر مسلم ورته ګورې نو د هغوئي به هم اسلام ته زړونه مائیله کیږي. مینه به یئے ورسره پیدا کیږي. او اسلام به قبلوي. او چه د مسلمانانو خپل اعمال ښه نه وي. اخلاق یئے پاکیزه نوي. نو نور خلق به د دوئ نه څه عبرت واخلي.

(ج) د حضرت شیخ د تعلیم او تربیت بله طریقه دا وه. چه د شریعت او معرفت د تعلیماتو سره سره به یئے د هغوئ د اقتصادي حالات ښه کیدلو هم خیال ساتلو. او د زراعت او تجارت د کار او کسب کؤلو ښودنه او هدایت به یئے هم ورته کؤلو. چنانچه د ملتان په شا او خوا علاقو کښې چه کومے شاړے او بنجرے زمکے وے. او ځنګلونه وو. خپلو مریدانو ته به یئے د دغه شړو. بنجرو. او ځنګلونو د زمکو صفا کؤلو او په هغے کښې دَ کر کروندے کؤلو حکم ورکؤلو. د نهرونو کنستلو. د اوبو د کوهیانو جوړولو او ملک آباده ولو هدایت به یئے ورته کؤلو. چه ملک آباد شي. رزق روزي یئے فراخه شي. او د خدائ مخلوق پرے ښاد او آباد شي.

چنانچه د دوئ د دے مبارک تعلیم او هدایاتو په برکت ملتان او د هغے خواؤ شا علاقے سر سبزے او آبادے شوے. خلق یئے دینداره او نیکوکار شول. او په دے شان سره عام خلق په مادي او روحاني دواړه او نیکو کار شول. او په دے شان سره عام خلق په مادي او روحاني دواړه قسمه نعمتونو باندي سرفرازه شول. د دوئ د تبلیغ په برکت ډیر لوئ لوئ مالداره هندوانو او راجا ګانو دین اسلام قبول کړے وو. او د دوئ په مریدانو کښې شامل شوي وو. یعنے د دوئ د روحاني فیوضاتو نه عوامو او خو اصو ته یوشان فائده اورسیدله.

لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه. حضرت شیخ رحمة الله علیه به خپلو مریدانو ته د دنیاوي کاروبار ترک کؤلو. یا په ګوټ کښې کښیناستل. یا دنیا ته شاکولو تعلیم نه ورکؤلو. بلکه هغوئ ته به یئے د خپل اقتصادي او معاشي حالات ښه کولو د پاره د زراعت او تجارت او د حلال رزق ګتلو د پاره د حلال کسب او کار کولو ترغیب ورکؤلو او په دے شان سره د مسلمانانو د دین او دنیا دواړو د بهترئ د پاره خپل نیک کوششونه یئے جاري ساتلي وو.

اولاد او خلیفه ګان

د حضرت شیخ بهاء الدین ذکریا علیه الرحمة د یو ځوئ نوم شیخ صدر الدین عارف وو. چه د خپل والد ماجد د وفات نه رستو

د هغوئ سجاده نشين شوے وو. بيا د هغه د ځوئ نوم ابو الفتح رکن الدين رکن عالم وو. چه د دے شيخ عارف د وفات نه روستو په ګدئ ناست وو. د دوئ پلار او ځوي دواړه د حضرت شيخ ذکريا مريدان وو. عليهم الرحمة والغفران.

حضرت صدر الدين عارف

د حضرت شيخ ذکريا بزرګ ځوئ شيخ صدر الدين په ۶۲۱هـ کښې پيدا شوے وو. او د خپل والد بزرګوار نه يئے تعليم او تربيت موندلے وو. د قرآن مجيد سره يئے زياته مينه لرله. ځکه په عارف نامه مشهور شوے وو. دے ډير لوئ فاضل عالم وو. درس به يئے ورکولو په عالم صرف کښې "تصريف جدولي" نوم کتاب د دوئ تاليف دے. د دوئ ملفوظات ارشادات او تعليمات په کتابي شکل کښې د کنوزالفوائيد په نوم سره د دوئ يو مريد شيخ ضياءالدين راجمع کړي دي. د دوئ په ممتازو مريدانو او خليفه ګانو کښې يو د ده خپل ځوي ابو الفتح رکن الدين رکن عالم وو. بل شيخ حسام الدين المعروف په جمال ملتاني (متوفي ۶۸۷هـ) وو چه په بدايون کښې اوسيده. او بل شيخ احمد کبير بخاري عليه الرحمة وو چه د حضرت مخدوم جهانيان والد ماجد وو. عليهم الرحمة والغفران. حضرت شيخ صدر الدين په ۷۰۹هـ کښې وفات شوے دے. او مزار مبارک يئے په ملتان کښې دے.

حضرت شيخ رکن الدين رکن عالم

حضرت شیخ رکن الدین رکن عالم په ۶۴۹هـ کښې پیدا شوے وو. د خپل نیکه حضرت شیخ بهاء الدین ذکریا مرید او د خپل پلار صدر الدین عارف خلیفه وو. د خپل پلار د وفات نه روستو په ګدئ کښیناست. د خپلے زمانےنامور بزرګ وو. د حضرت شیخ نظام الیدن اولیاء او د دوئ ترمنځه ډیره پرخلوصه مینه او محبت وو. د دوئ په نامورو خلیفه ګانو کښې حضرت شیخ وجیهه الدین سنامي (متوفي ۷۳۸هـ) حضرت حمید الدین حاکم او حضرت شیخ مخدوم جهانیان جهان ګشت زیات مشهور دي. په ۷۳۵هـ کښې وفات شےو دے. ا ومزار مبارک یئے په ملتان کښې دے. چه د دنیا په عالیشان عمارتونو کښې شمارلے شي.

د دے نه علاوه چه د حضرت شیخ ابو محمد بهاء الدین ذکریا نور کوم مشهور خلیفه ګان وو. په هغوئ کښې د یو څو بزرګانو نومونه دلته ذکر کوؤل مناسب ګنړو.

حضرت میر حسیني سادات

د حضرت شیخ ذکریا علیه الرحمة مرید او خلیفه وو. د "نزهة الارواح" نومے کتاب مؤلف دے. چه د علم تصوف په بهترینو او معتبرو کتابونو کښې شمارلے شي. د حضرت شیخ ذکریا علیه الرحمة د وفات نه روستو یئے د هغوئ د ځوي او سجاده نشین حضرت شیخ صدر الدین نه هم د خلافت خرقه حاصله

کړے وه. په ۷۱۸هـ کښې وفات شوے دے. علیه الرحمة والغفران.

حضرت شیخ فخر الدین عراقي

د حضرت شیخ بهاء الدین ذکریا علیه الرحمة په مشاهرو خلیفه ګانو کښې د حضرت شیخ فخرالدین عراقي علیه الرحمة نوم د یادلولو دے چه د حضرت شیخ ذکریا د خدمت شرف یئے حاصل کړے او د دوي په تربیت او سر پرستئ کښې یئے د علوم ظاهري او باطني فیضان حاصل کړے وو. د خپل وخت فاضل عالم او کامل روحاني پیشوا وو. د حضرت شیخ عراقي کتاب چه "لمعات" نوم یئے دے. د علم شریعت او طریقت بهترین کتاب دے.

د ده پوره نوم شیخ فخر الدین ابراهیم دے. د پلار په نوم کښې یئے اختلاف دے. په یو روایت کښې بزرجمهرابن عبدالغفار ایجو القي دے او په بل روایت کښې شهریا ابن عبدالغفار دے. دغه شان یو روایت دا دے چه حضرت شیخ بهاء الدین ذکریا یئے سکه ماما وو. او بل روایت دا دے چه حضرت شیخ شهاب الدین عمر سهروردي یئے ماما وو. د همدان په خواؤ شاه کښې په مکجان نومے کلي کښې په ۶۰۰هـ کښې پیدا شوے وو. د اولس کالو په عمر کښې د معقول او منقول علمونو د تحصیل نه چه فارغ شه. نو په بغداد کښې د حضرت شیخ شهاب الدین سهروردي مرید شه. د خپل پیر په صحبت کښې یئے ډیر کلونه په عبادت او ریاضت کښې تیر کړل. حضرت شیخ شهاب الدین

سهروردي ورلـه عراقـي تخلص كيشوده او هندوستـان تـه د تـللو هدايت يـئـے ورتـه اوکړ. ملـتان تـه راغـے دلـتـه د حضرت شيخ بـهاء الـديـن ذكريـا نـه يـئـے خلافت حاصل کړو. حضرت شيخ ذكريـا ورتـه خپله لـور بـي بـي پـه نـکاح ورکړه. پـنځه ديشت کالـه پـه مـلـتان کښې پـاتـے شه. بيـا عدن تـه لاړ. د هغه ځائ نـه حج لـه لاړ. د بيت الـلـه الـحرام او مديـنـه منوره زيـارتونـه يـئـے اوکړل. د هغه ځائي نـه روم تـه لاړ. د شيخ محي الـديـن ابـن عربـي د خليفـه شيخ صدر الـديـن سره يـئـے څه موده تيـره کړه. دغلـه يـئـے د ابـن عربـي کـتـاب "فصوص الـحكم" مطالـعه کړو. او د هغے پـه مثال يـو بل كتاب "لـمعات" يـئـے تالـيف کړو. پـه آخر كښې د مشق (شام) تـه راغـے. او پـه ۶۸۸هـ كښې دلـتـه وفات شه. مزار مبارک يـئـے د دمشق پـه محلـه صالـحيـه کښې دے. د حضرت شيخ محي الـديـن ابـن عربـي او حضرت شيخ اوحدالـديـن کرمانـي مزارات هم دلـتـه دي. رحمة الـلـه عليـهم.

حضرت خواجه فريـد الـديـن گنج شكر

د حضرت شيخ الـشيوخ ابـو محمد بـهاء الـديـن ذكريـا مملـتانـي پـه ممتـازو خليـفـه گانـو کښې د حضرت خواجه فريـد الـديـن مسعود گنج شكر نـوم زيـات ممتـازے دے. حضرت شيخ فريـد الـديـن لـكـه چه پـه چشتيـه طريـقـه کښې د حضرت خواجه قطب الـديـن بـختيـار کاکي عليـه الـرحمة خليـفـه وو. نـو هم دغه شان پـه سلسلـه عليـه سهرورديـه کښې د حضرت شيخ الـشيوخ بـهاء الـديـن ذكريـا مـلـتانـي عليـه

الرحمة هم خليفه وو. (د دوئ تذخره به روستو په تفصيل سره راشي.)

حضرت خوجاه سراج الدين ارمړ

د حضرت خواجه بهاء الدين ذکريا عليه الرحمة په مشهورو اونا مورو خليفه ګانو کښې د حضرت شيخ سراج الدين ارمړ نوم د يادلولو دے. چه روستو په مشرقي پاکستان کښې يئےد اسلام تبليغ او اشاعت او جهادونه کړي دي. د ده والد ماجد حضرت شيخ ابراهيم دانشمند او حضرت خواجه بهاء الدين ذکريا ملتاني دواړه پير بائيان وو. (روستو به د دے شيخ سراج الدين تذکره راشي)

حضرت سلطان طيب سهروردي

حضرت سلطان طيب په اصل کښې د سابق صوبه سندھ د علاقے او سيدونکے وو. د هغه ځائي نه د سابق صوبه مغربي پنجاب "هرند" (موجوده ضلع ډيره غازي خان) علاقے ته په (۶۳۵هـ) کښې راغے. دلته يئے استوګنه اختيار کړه. بيا ملتان ته لاړو. او د حضرت خواجه بهاء الحق والملة والدين شيخ ذکريا ملتاني مريد شه. درجه د کمال او خرقه د خلافت ئے حاصله کړه. صاحب د کشف او کرامت وو. د ګورچاني قوم خلق يئے مريدان شول. او ډير د خدائ مخلوق يئے د اسلام حقے لارے ته راواړولو. روستو د ده د ځوي نوم سلطان يوسف وو. د هغه د ځوی نوم سلطان طيب ثاني وو. د هغوئي د ځوئ نوم

دوست محمد وو. د هغه د ځوئ نوم پناه علي وو. چه د دے حضرت پناه علي عليه الرحمة په نوم بانډے يو کلے د "بستي پناه علي" په نوم سره په ضلع ډيره غازي خان کښې موجود دے. د حضرت سلطان طيب عليه الرحمة په خاندان کښې دا چه پورته ئې نومونه ياد شول. ټول د خپل وخت مشاهير بزرګان تير شوي دي. د حضرت سلطان طيب د وفات صحيح تاريخ راته نه دے معلوم شوے. عليهم الرحمة والغفران.

حضرت شيخ حسن افغان سهروردي

حضرت شيخ عبدالحق محدث دهلوی پخپل کتاب "اخبارالاخيار" کښې د دوئ په حقله دا لاندينې حالات درج کړي دي. فرمائي:

حضرت شيخ خواجه حسن افغان د حضرت شيخ بهاء الدين ذکريا ملتاني په مريدانو کښې دے. محبوب الي شيخ نظام الدين اولياء د ده په حقله بيان فرمائي. چه شيخ حسن افغان صاحب د ولايت او بلند پايه بزرګ وو. يوه ورځ په يوه کوځه تيريدلو. ازان يئے واوريدلو. جماعت ته ورننوتلو چه اقامت اوشه. امام راغے مخکښې شه. خلقو ورپسے نيت او تړلو. چه نمونځ اوګزارلے شه. خلق لاړل او جماعت خالي شه نو حضرت خواجه حسن افغان ور پاسيده. د امام خواله ورغے او ورته يئے اووئيل چه جناب مولانا صاحبه يو عرض درته کوؤم. څۀ وخت چه ته په نمانځه او دريدلے. نو ما هم درپسے نيت اوتړلو. هسے خو ته په مصلی

ولاړ وے. لیکن په فکر او خیال کښې دے نور نور څه ګرزیدل شروع شول. د نمونځ خیال د زړۀ نه اووتلو. په تصور کښې روان شوے. د هلي ته اورسیدلے هلته دے سوداګري شروع کړه. په بازار کښې ګرځیدلے یو غلام (مریئے) دے په بیه واخست. د هغه ځاي نه راروان شوے بل ښهر له راغلے. بیا د هغه ځائ نه راروان شوے ملتان ته رااورسیدے. چونکه ما درپسے نیت تړلے وو. نو زۀ هم د ناکامه درپسے روان ووم. پریشان سرګردان د دے ځایے نه تر دهلي درپسے ګرځیدم. انصافدارهٍ آخر دیته به څوک نمونځ اووایئ.

په تاریخ صولت افغاني کښې لیکي چه حضرت خواجه حسن افغان د مغربي پاکستان د قبائلي علاقے نه ملتان ته تلے وو. او بیا هم هلته په ملتان کښې د خپل پیر سره پاتے شوے وو. هلته اوسیده. او هم هلته وفات شه. تاریخ وفات یئے معلوم نه دے. علیه الرحمة والغفران.

حضرت شیخ جلال الدین بخاري

د حضرت شیخ بهاء الدین ذکر یا په مشاهیرو خلیفه ګانو کښې حضرت شیخ جلال الدین حسن المعروف میر سرخ بخاري زیات مشهوردے. چه روستو به ئے تذکره راشي.

حضرت خواجه بابا فرید شکر ګنج علیه الرحمة

(۶۷۰هـ)

د حضرت خواجه خواجګان بابا فرید الدین ګنج شکر نوم مبارک "مسعود" وو. القاب یئے. شیخ فرید الملة والدین" "شیخ فرید الدین" شیخ فرید" "شید فرید الحق" "ګنج شکر" " شیخ الا سلام" او "شیخ الشیوخ" دي. بلکه د دے نه علاوه د شپیته نور القاب یئے هم مشهور دي. د دوئ د نسب سلسله د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه سره لګیږي. د بعض مؤورخانو دا خیال دے. چه دے په قام سیدوو. بهر حال په دے خبره د ټولو اتفاق دے. چه په اصل او نسب باندے "قریش" وو. او د والد ماجد نوم یئے حضرت شیخ جمال الدین سلمان ابن شعیب علیها لرحمة وو. د دوئ پلار او نیکه دواړه د سلطان شهاب الدین غوري علیه الرحمة په زمانه کښې د افغانستان نه هندوستان اته راغلي وو. او دلته دا ستوګننے نه پس تر ډیرے موجودے پورے د "لاهور" قاضي وو. حضرت شیخ عبدالحق محدث دهلوي په خپل کتاب " اخبار الا خیار" کښې د دوي تذکره د نورو اولیاء کرامو سره کړے ده. او د دوئ د اوچتے روحاني او عرفاني مرتبے ستائنه یئے کړے ده.

"لاهور" کښې د څه مودے قیام نه روستو د دوئ والد ماجد حضرت شیخ سلیمان علیه الرحمة ملتان ته راغے. او دلته په "کهیتوال" نومے یو کلي کښې په ۵۸۲هـ کښې حضرت شیخ فرید علیه الرحمة پیدا شه. لا ماشوم وو. چه پلار یئے وفات شه. مور بي بي سبق ته کښینولو. ذهن یئے ډیر ښه وو. په کم عمر کښې یئے قرآن مجید حفظ کړو.

مشهور پښتون مؤرخ زرداد خان ناغر پخپل کتاب "صولت افغاني" کښې لیکي. "چه هر کله حضرت خواجه قطب الدین "بختیار کاکي" علیه الرحمة د بغداد شریف نه د (۱) حضرت شیخ او حدالدین کرماني (۲) او شیخ جلال الدین تبریزي په ملګرتیا کښې راروان شول. او د مغربي پاکستان قدیم ترین ښهر ملتان ته رااورسیدل. تو دلته یئے د حضرت غوث عالم شیخ بهاء الدین ذکریا ملتاني سره ملاقات کړے وو. په دغه ورځو کښې په ملتان باندے د ناصر الدین قباچه ترکمان بادشاهي وه. (دلته دا یادلرل پکار دي چه ناصر الدین قباچه د سلطان قبط الدین ایک د وفات ۶۲۴هـ پورے یئے په حیثیت د خود مختار حکمران حکومت وو. چه بیا هم په دغه کال ۶۲۴هـ کښې سلطان شمس الدین التمش ورله شکست ورکړ. د دے پورتني بیان نه معلومیږي چه حضرت خواجه قطب الدین بختیار کاکي علیه الرحمة د ۶۰۲هـ نه روستو ملتان ته راغلے وو. او دلته ورته بیا دا معلومه شوے ده چه خواجه بزرګ د لاهور نه دهلي ته تشریف

وړے دے. (مخکښې د خواجه بزرګ په تذکره کښې د دے خبرے په حقله په تفصیل سره بحث تیر شوي)

هر کله چه حضرت بابا شیخ فرید ګنج شکر" په دغه ورځو کښې په ملتان کښې علم حاصلولو. د حضرت غوث العالم شیخ بهاء الدین ذکریا ملتاني په دیره (خانقاه) کښې یئے د حضرت قطب الا قطاب خواجه بختیار کاکي علیه الرحمة سره ملاقات او شه او په سلسله عالیه چشتیه کښې یئې ترینه لاس نیوه اوکړه. څه نیټه پس چه حضرت قطب الدین بختیار کاکي علیه الرحمة دهلي ته تشریف یوړلو. حضرت شیخ جلال الدین تبریزي غزني ته لاړ. او حضرت شیخ او حدالدین کرماني قدس سره واپس بغداد شریف ته تللونو حضرت شیخ فرید الدین ګنج شکر هم د هغوئ په ملګرتیا کښې د قندهار په لاره باندے بغداد شریف ته لاړلو. هلته یئې د حضرت شیخ شهاب الدین سهروردي د ملاقات شرف حاصل کړ. او په بغداد شریف کښې چه په دغه نیټه باندے کوم نور مشاهیر بزرګانو موجود وو. د هغوئ نه یئے هم فیوضات حاصل کړل. چه په هغوئي کښې د حضرت شیخ سیف الدین باخرزائ علیه الرحمة نوم د یادولو دے.

په بغداد شریف کښې د څه موده عمر تیره ولو نه روستو د هرات په ملتان ته راغے. دلته د حضرت غوث العالم بهاء الحق والملة والدین ذکریا ملتاني علیه الرحمة په صحبت کښې تر ډیره عمره پورے پاتے شه.

او د ملتان دا قیام یئے د دے خپل پیر طریقت سره د پخے دوستئ بلکه د رشته دارئ باعث اوکرځیده.

د طریقت او عرفان په سلسله کښې کوم مجاهدات او ریاضتونه چه د دوئ کړي دي. د هغے بیان په الفاظو کښې نه شي کیدلے. یو ځله بابا فرید علیه الرحمة د ملتان نه دهلي ته تللے وو. چه په چشتیه طریقت کښې د خپل پیر طریقت حضرت خواجه قبط الدین بختیار کاکي علیه الرحمة سلام اوکړي. د خوش بختئ نه په دغه موقع حضرت خواجه خواجګان معین الملة والدین حسن سنجري، چشتي، اجمیري علیه الرحمة هم دهلي ته تشریف راوړے وو. چه هغوئ د حضرت شیخ فرید بابا د حالاتو نه خبر شول. نو د دومره سخت ریاضت نه یئې منع کړ. او بیائې په ډیر شفقت او مهربانئ سره د خواجه قطب الا قطاب بختیار کاکي او خپل ځان تر منځه او دروهلو. او د دواړو پیرانو حضرت بابا فرید ته توجه او فرمائیله. او روحاني برخے یئے ورله ورکړے. او د خلافت خرقه یئے ورته او پخله.

د تصوف او روحانیت په دنیا کښې د حضرت بابا فرید الدین ګنج شکر د روحاني مرتبے او خلافت مثال نه پیدا کیږي. په دوه وجهو سره.

(الف) یوه وجه دا ده چه حضرت بابا فرید علیه الرحمة د حضرت

غوث العالم شيخ الا سلام والمسلمين بهاء الحق والملة والدين ذكريا ملتاني مريد هم دے. او د هغه د پير طريقت حضرت شيخ شهاب الدين سهروردي نه يئے براه راست هم فيض حاصل کړے دے. او مريد يئے دے.

(ب) بله دا چه د حضرت قطب الا قطاب خواجه بختيار کاکي عليه الرحمة مريد هم دے او د هغه د پير طريقت حضرت خواجه خواجگان خواجه غريب نواز مريد هم دے. او د هغوئ نه يئے براه راست هم فيض حاصل کړيدے. هر کله چه حضرت شيخ شهاب الدين سهروردي او حضرت خواجه معين الدين حسن چشتي اجميري دواړو د حضرت شيخ المشائخ غوث صمداني. قطب رباني. محبوب سبحاني شهباز لا مکاني شيخ عبدالغادر جيلاني رضي الله عنه د فيوضاتو ځنے حصه موندلے ده. نو د بغداد. ملتان. اجمير درے واړو روحاني مرکزونو د فيوضاتو نه ډکه ځوليئ لړونکے دغه شيخ فريد العصر. فريد الدهر. فريد الدين. گنج شکر نن د مغربي پاکستان په خاوره هغه عظيم الشانه روحانه سر چشمه ده. چه ژوند بخښونکے هم ده. او روح پالونکے هم ده.

حضرت خواجه ګنج شکر په دهلي کښې د خلافت حاصلولو نه پس څه زمانه په هانسي نوم ښهر کښې وو بيا د هغه ځای نه راروان شه. او د مغربي پنجاب د ضلع منټګمري اجودهن نومې کلي ته ئي تشريف راوړ. روستو د دغه کلي نوم د د اوسيدولو په برکت سره په "پاکپټن" نامه باندې مشهور شه. او د روحاني انوارو د دې مرکز ته د اسلام رنړا د علاقې ترلرې لرې ګوټونو پورې خوره شوه. او ځاي په ځاي درانه، درانه جماعتونه. ديني مدرسې او د روحانيت او عرفان د حصول خانقاهونه جوړشول. چه د "الله اکبر" او لا اله الا الله په خوږو کلمو کانړي. بوټي. او بنيادم د يو الله او حق دين د امام په لوري رامات شول. د دوئ په بابرکت صحبت او درس کښې مشاهيرو عالمانو او بزرګانو خپلې جولئ د علم او عرفان د فيوضاتو نه ډکې کړلي. او د ملک په هر لوري خواره شول او د السلام په لاره کښې يئې جهادونه اوکړل. غزاګانې يئې اوکړلې. او د اسلام د سر لوړي د پاره يئې خپل سرونه قربان کړل.

حضرت خواجه فريد الدين ګنج شکر عليه الرحمة خپل ټول ژوند د اسلام په خدمت کښې صرف کړو. او د نسل. نسب. قوميت. ملک او وطن د امتيازنه په بغير د خداي پاک ټول مخلوق ته يئې د خدائي د حق دين اسلام دعوت او پيغام اورسؤلو. او په ډير زيات تعداد کښې عوام او مشرکان او د مشرکانو مذهبي مشران او حکمرانان په دين اسلام مشرف شول.

د حضرت خواجه فريد الدين ګنج شکريه په خانقاه کښې به هر وخت د علم ظاهري او باطني په زرګونو طالبان او مريدان ديره وو. د دوئ نه علاوه نور عام مسافران او ميلمانه به هم ډير راتلل. د هغوئ د پاره به شامدام لنګر جاري وو. په سوؤنو منونو غله به پخيدله. مګر پخپله بابا فريد عليه الرحمة به د اوربشو ډوډئ هم په مړه ګيډه نه خوړله. روايت دے چه د دوئ په لنګر کښې هر څومره خادمانو چه په کاراو خدمت کؤلو. هغه څه معمولي عام خادمان نه وو. بلکه د خداي پاک داسے نيک بندګان وو. چه هيڅ يو کس په هيڅ وخت کښې هم د خداءي د يادونه غافله نه وو.

حضرت شيخ فريد الدين ګنج شکر اګر چه په قادريه، سهرورديه. او چشتيه ګنړو طريقو کښې مجاز او ماذون وو. ليکن د سلسله عاليه چشتيه نسب پورے غالب وو. په دے اعتبار سره دا وئيلے شو چه حضرت خواجه جګان معين الدين حسن چشتي اجميري چه درشد او هدايت کومه شمع بله کړے وه. د هغے شمعے نه دا مشال روښانه شوے وو. او د دوئ په برکت د اسلام په انوارو د پاک و هند دواړه هيوادونه ترنن ورځے پورے روښانه دي.

د حضرت خواجه فريدالدين ګنج شکر کرامات ډير زيات او مشهور دي. د دوئ د خپلو پير خواجه قطب الدين بختيار کاکي عليه الرحمة ملفوظات او ارشادات په يو کتاب کښې راجمع کړيدي چه د هغے "فواءد

السالکین" نوم دے. د دے کتاب د مطالعے نه د دوئ د پاکیزه ژوند او پاکیزه اخلاقو اندازه لګیدلے شي. د دوئ لوي تعریف دا وو. چه ډیر صبر ناک او خوش خلقه وو. او د خپلو ښو او نیکو اخلاق وپه وجه د هر چا به ورسره مینه وه.

حضرت خواجه فرید الدین مسعود ګنج شکریه په دے سره د پاکیزه ژوند تیره ولو او د خداي مخلوق ته د دین اسلام د ظاهري او باطني تعلیم ورکؤلو نه پس په پنځم تاریخ د محرم الحرام ۶۷۰هـ کښې وفات شول. علیه الرحمة والغفران.

د دوي د وفات تاریخ د دے جملونه راخیژي. چه په حقیقت کښې دا د دواړه جملے د دوي د خصوصي تعریفونو ترجماني هم کوي. (۱) یوه جمله ده (سخي ۶۷۰) (۲) دوئمه جمله ده (دیانتدار۶۷۰)

په کتاب اکبار الا خیار کښې د دوي د وفات تاریخ ۶۶۴هـ لیکلے شوے دے. لیکن دغه اولنے تاریخ ۶۷۰هـ زیات صحیح معلومیږي.

د حضرت خواجه ګنج شکر دتاریخ وفات په ورځ یعنے په پنځم تاریخ د محرم الرحام بانده هر کال د دوي په مزار باندےد عقیدتمندانو لویه میله وي. چه په هغے کښې د پاک و هند د هرے حصے نه مسلمانان راجمع کیږي.ا و د دے عظیم

الشان "روحاني تړون" ښکلے منظر د هر مسلمان زړه او روح تازه کوي.

اولاد او خليفه ګان

د حضرت خواجه فريد الدين مسعود ګنج شکر پنځه ځامن وو. خواجه نصير الدين. خواجه بد رالدين سليمان. خواجه شهاب الدين. خواجه نظام الدين خواجه يعقوب. دا پنځه واړه د دوي مريدان وو. او د مرتبے او بزرګی خاوندان تير شوي دي. په دوئ کښې حضرت خواجه شيخ بدر الدين سليمان د خپل پلار د وفات نه پس د خپل مشر رور او کشرانو نرو ټولو په اتفاق سره د پلار ګدئ بانديے کښيناست. د چشتيه طريقے با کماله پير وو. خواجه نظام الدين د کفارو سره په بوجهاد کښې شهيد شوے وو. چه روستو يئے لاش او نه موندلے شه. څلورم ځوي خواجه يعقوب عليه الرحمة په مرتبه د ابدالو کښې وو. چه "مردان غيب" ورته وائي. په دے وجه د ده قبر هم معلوم نه دے. په پاک پټن کښې فقط د دوئ د دوه مشرانو ځامنو خواجه نصير الدين او خواجه بد الردين زيارتونه موجود دي. عليهم الرحمة والغفران.

د حضرت خواجه ګنج شکر خليفه ګان او ماذونان داوه زره نه زيات وو. چه په هغئ کښې د يو څو مشاهيرو خليفه ګانو مختصراًتذکره دلته د تبرک په طور کؤولے شي.

(۱) حضرت خواجه علاء الدین صابر کلیري

د حضرت خواجه ګنج شکر د یو مشهور خلیفه نوم حضرت خواجه علاء الدین صابر کلیري دے. د حضرت خواجه ګنج شکر خوریئے او ځوم هم وو. د دوئ نه د سلسله چشتیه صابریه" په نوم یوه لویه سلسله خوره شوے ده. چه روستو په دے کښې حضرت شیخ عبدالقدوس ګنګوهي ډیر لوئ بزرګ تیر شوے دے. دوسطي هند د چشتیه سلسلے اکثر بزرګان په دے صابریه طریقه کښې دي. د وادي پیښور مشهور روحاني رهنما حضرت شیخ مولانا عبدالوهاب المعروف "اخون پنجو بابا" په دے "صابریه" سلسله کښې مشهور بزرګ تیر شوے دے. (د حضرت خواجه صابر ولادت په ۵۹۲هـ او وفات په ۶۹۰هـ کښې وو)

(۲) حضرت خواجه نظام الدین اولیاء دهلوي

د حضرت شیخ الشیوخ فرید دالدین ګنج په خلیفه ګانو کښې حضرت خواجه نظام الدین اولیائ ډیر زیات مشهور بزرګ تیر شوے دے. خپل نوم یئے محمد ابن احمد ابن علي بخاري دے. او القاب یئے ډیر دي. لکه "سلطان المشائخ، نظام المشائخ، نظام الدین اولیاء، محبوب الهي، وغیره شول. په بارګاه الهي کښې محبوب او مقرب وو. برصغیر پاک او هند د دوي د فیوضاتو نه ډک دے. د دوي نیکه خواجه علي او ور نیکه خواجه عرب دواړه د بخارا نه راغلي وو.

څه موده په لاهور کښې وو. بیا بدیوان ته لاړل. هلته آباد شول. د خواجه محبوب الهي پیدایش هم په بدیوان کښې شوی دی. د خپل وخت فاضل عالم وو. د دیني علمونو د حصوصل د پاره د هلي ته راغلے وو. اصول. فقهه. تفسیر. حدیث وغیره علمونه یئے دلته حاصل کړي وو. د علم ادب مشهور کتاب مقامات حریري او علم حدیث یئے په دهلي کښې د مولانا صدر ولایت شمس الملک نه حاصل کړي وو. او د حضرت خواجه شهابالدین سهروردي مشهور کتاب عوارف المعارف او د علم عقائد مشهور کتاب "تمهیدابي شکور سالي" یئے په پاک پټن کښې د خواجه فریدالدین ګنج شکر نه لوستلي وو.

روستو چه د خواجه فرید الدین ګنج شکر نه یئے بیعت اوکړلو. او خرقه د خلافت یئے حاصله کړه نو د هلي ته راغے. او بیا څه موده پس په دهلي کښې "غیاث پور" نومے علاقے ته راغے. او بیا روستو چه په ورځ د چا شنبے یوؤلسم تاریخ د ربیع الوال ۷۲۵هـ وفات شه. نو هم په دغه غیاث پور کښې یئے مزار مبارک جوړ شه. علیه الرحمة والغفران. (د ولادت تاریخ یئے ۶۳۶هـ دے.)

د حضرت خواجه محدم المعروف نظام الدین اولیاء نه د سلسله چشتیه نظامیه په نوم بانده یوه لویه سلسله خوره شوې ده. چه په برصغیر پاک و هند کښې عموماً او په خصوصیت سره د وسطي هند. جنوبي هند نه علاوه د موجوده مشرقي او مغربي پاکستان د چشتیه طریقے اکثر بزرګان په

دےسلسله عالیه نظامیه کښې دي. د مثال په طور د مغربي پاکستان د شمال مغربي علاقو د ټولونه زیات مشهور بزرګ حضرت پیر سید علي ترمذي المعروف پیر بابا علیه الرحمة هم د دے سلسله عالیه نظامیه بزرګ دے.

په دے اعتبار سره د حضرت فرید الدین ګنج شکر د سلسلے د دواړه شاخونو "صابریه" او "نظامیه" بزرګان د پاکستان په هر ګوټ کښې خواره دي. او د دوئ د فیض د لوئ اباسین نه بے شمیره والے او نهرونه دي چه جاري شوي دي.او د دے وطن د خلقو روحاني تنده یئے ماته کړے ده.

(۳) حضرت مولانا بدر الدین اسحاق

حضرت مولنا بدر الدین اسحاق د حضرت علي ابن اسحاق دهلوي ځوي وو. او د حضرت خواجه فرید الدین ګنج شکر خلیفه او ځوم هم وو. د خپلے زمانے په بزرګانو کښې په زهد. پرهیز ګارئ فقر او عشق کښې یئې ثاني نه لرلو. فاضل عالم وو. د "اسرار الاولیاء" په نوم یو کتاب د ده تالیف دے. زیارت مبارک یئے د پاک پټن د پخواني جامع مسجد په صحن کښې دے. د وفات تاریخ یئے نه دے معلوم. علیه الرحمة والغفران.

(۴) حضرت شیخ جمال الدین احمد

حضرت شیخ جمال الدین احمد فاضل عالم وو. خطیب وو. د نسب سلسله ئي حضرت امام ابو حنیفه رضي الله ته رسیدله. د شیخ المشیوخ فرید الدین ګنج شکر ممتاز خلیفه

وو. په هانسي حصار کښې اوسیده د ظاهري او باطني کمالاتو جامع وو. د حضرت ګنج شکر ورسره دومره بے حده مینه وه. او هم د دغه بے دریغه مینے په وجه دولس کاله یئے د دے خپل مرید سره په هانسي کښې تیر کړي وو. او بیا چه د دے اجودهن (موجوده پاک پټن) ته راغے. نو چه څوک به یئے مرید کؤلو. نو هغه به یئے د مرید کؤلو نه اول حضرت شیخ جمال الدین احمد ته اولیږه. چه لاړه شه. هغه ته ځان اوښایه.ا و د هغه نه اجازت راوړه که هغه اجازت اوکړو هاله به دے مرید کړم. خواجه ګنج شکربه فرمائیل: "جمال، جمال ماست" (جمال، ځمونږه جمال دے) کله نا کله به یئے دا هم فرمائیل: "جماله! زړه م غواړي چه ستا نه ګیر چاپیره طواف اوکړم" د دے نه د شیخ جمال د مرتبے اوچتوالے معلومیدلے شي. د خواجه شیخ جمال مزار مبارک اګر چه نن ورځے د برصغیر په هندوستان نومے حصه کښې دے. لیکن هر کله چه د دے بابا فرید جمال دے. په دے وجه د بابا فرید د تذکرے سره د هغه د "جمال" تذکره کول لازمي وو. علیه الرحمة والغفران.

(۵) حضرت شیخ عارف علیه الرحمة

حضرت شیخ عارف د اوچ بهاولپور اوسیدونکے د حضرت خواجه ګنج شکر مرید شه. د خپل پیر بے حده خدمتونه یئے کړي وو. روحاني استقامت یئے نصیب شوے وو. د خلافت خرقه او د مریدانو نیولو اجازت

ورته حاصله شوې وه. د خپل پیر په حکم سیوستان (شمالي سنده) ته تلې وو. هلته یئې د خدائ مخلوق ته روحاني فیوضات رسول. هم هلته وفات شه. تاریخ وفات یئې نه دې معلوم. علیه الرحمة والغفران.

(۶) حضرت سید امام علي لا حق شهید سیالکوټي

د حضرت سلطان علاء الدین غوري علیه الرحمة په زمانه کښې په سیالکوټ باندې درې ځله جهاد شوې وو. په دې جهاد کښې د حضرت خواجه فرید الدین ګنج شکر مشهور مرید او خلیفه حضرت سید امام علي لاحق د خپلو رونړو او مریدانو سره شامل شوې وو. د دوي د رونړو نومونه دا دي. سید امام ناصرالدین سید میران بر خوردار علیهم الرحمة.

اولنې جنګ د جالندهر په مقام شوې وو. دلته حضرت سید امام ناصر الدین شهید شه. مزار مبارک یئې په جالند هر کښې دې ورپسې دوئیم جهاد د پسرور په مقام اوشه. دلته حضرت سید میران برخوردار شهید شه. مزار مبارک یئې دلته جوړ کړې شه. ورپسې څلورم غزا په "آدم دراز" نومې ځاي کښې اوشوله دلته د غازیانو سر لښکر حضرت عزیل غازي او نوربې شمیره مسلمانان شهیدان شول. د دې ټولو شهیدانو د پاره یو لوې قبر او کنستلې شه. په هغې کښې او سپارلې شول. چه د غه "ګنج شهیدان" تر نن ورځې دغلته موجود دې او د بې شمیره

شهیدانو شیرک زیارت دے. ورپسے آخري غزا او جهاد خاص په سیالکوټ ښهر باندے اوشوه. حضرت سید امام علي لا حق رحمة الله علیه په دے کښې (په ۶۸۶هـ) کښې شهید شه. او بیا په کومه ورځ چه د ښهر قلعه فتح کیدله. او غازیان په دروازه وزنوتل. نور سا په دروازه کښې حضرت میران محمد فتح المعروف سید سرک شهید غازي علیه الرحمة د شهادت مرتبه حاصله کړه. د حضرت میران محمد شهید مزار مبارک د سیالکوټ ښهر د دروازے د ننه موجود دے. او د حضرت سید امام علي لاحق شهید مزار مبارک د ښهر نه باهر شمال طرف ته دے. چه پوخ زیارت پرے حضرت شیخ شاه دوله ګجراتي سهروردي علیه الرحمة جوړ کړےدے. د دوئ په مزار مبارک باندے د زیارت یعنے پخشبنے په ورځ او د دواړو اخترونو او عاشورے په ورځ لویه میله وي. علیه الرحمة والغفران.

تعلیمات او ارشادات

په آخر کښې د حضرت خواجه فرید الدین ګنج شکر علیه الرحمة د تعلیماتو او ارشاداتو په لړ کښې د دوي یو څو زرین اقوال درج کوؤلے شي. فرمائي:

(۱) څومره چه د خپل ظاهر نه واقفیت لرئ. د هغے نه زیات د خپل باطن نه ځان خبرداره اوساتئ.

(۲) د شمن له په نیکه مشوره ورکولو باندې شکست ورکړئ. او د دوستان په خپلو ښو اخلاقو او تواضع کولو په ځان مئین کړئ.

(۳) بنیادم له پکار دي چه د خپل نفس علاج اوکړي.

(۴) فقیران د عشق خاوندان دي. او عالمان د عقل خاوندان دي. په دوئ کښې کامل سړے هغه دے. چه عشق او عقل دواړه لري.

(۵) خپله معامله خالص د ایکي یو الله سره ساتئ. ځکه چه بې د الله تعا لی نه نور هر څوک چه دي. هغه ټول په راکړه کښې دي. ستا نه به څه غواړي. فقط یو الله تعالی داسے ذات دے. چه هغه ورکوؤنکے دے. هر چاله ورکړه کوي. او د ټولونه لویه خبره داد ده چه خدای پاک چاله څه ورکړي. د دنیا هیڅ طاقت ترینه هغه نه شي اخیستےتر څو چه پخپله خدائي یئے تري نه وانه خلي.

(۶) په درویشئ او فقیرئ کښې هیڅ داسے مقام نشته چه هغه د خوف او امید دواړو نه خالي وي. اصلي فقیر هغه دے چه هم د خدای نه امید لري هم ویره.

(۷) د خدای او بنده تر منځه د ټولونه لویه پرده دنیاده (د دنیا مینه ده)

(۸) د خدای پاک نه په ویریدلو خپل زړونه ژوندي کړئ.

(۹) د هر چا ډوډئ مه خورئ. بلکه په هر چا ډوډئ خوروئ.

(۱۰) که دشمن هر څومره ستا سونه خوشحاله په نظر راځي. لیکن پام کوئ چه غافله تر ے نه شي.

(۱۱) چه چاله څه ورکوئ نو خپل ځاند منځ نه اوباسئ. او خپل ځان ته مه غاوره کیږئ. یعنے په دے مۀ غاوره کیږئ. چه زۀ چاله ورکړه کوؤلے شم. بلکه دا خیال کوئ چه زۀ خو په منځ کښې فقط د یو سبب، وسیلے او ذریعےپه مثال یم. اصلي ورکوونکے او مهرباني کوؤنکے خو الله تعالی دے.

(۱۲) که عزت غواړئ نو د عدل او انصاف نه کار واخلئ.

(۱۳) که آرام او آسودګی غواړئ. نو د هیچا سره هم حسد مه کوئ:

(۱۴) که خلقوته د علم قدر او قیمت معلوم شي. نو ددنیا نور ټول

کارونه به پرېږدي او په علم حاصلولو پسې به اولګیږي.

(۱۵) د مومن زړه د پاکې زمکې په شان دې. که په دیکښې د مینې او محبت تخم او کړلې شي. نو د هغې نه قسم قسم نعمتونه پیدا کیږي.

(۱۶) کوم سړې چه هر څومره د خداي نه غافله وي. هم هغه هومره به د دنیا په لانجو کښې مبتلاوي.

(۱۷) په قیاس او اټکل خبرې کؤل نه دي پکار. او د خپل زړهٔ نه د شیطان د لوبو ګوډاګې جوړول نه دي پکار یعنې هغه خبرې کول پکار دي چه د علم او عقل په کنډه پوره او د خداي په نزد برابرې وي.

حضرت جلال الدین ابوالبرکات میرسرخ بخاري

ولادت .... په بخارا کښې ۵۹۵هـ

وفات .... په باولپور کښې ۶۹۰هـ

د حضرت شيخ المشائيخ ابو البركات سيد جلال الدين المتقب په جلال اعظم مير سرخ بخاري خپل اصلي او محضه نوم حسن دے. "جلال الدين" ئے خانداني لقب دے. او "جلال اعظم" او "ميرسرخ" يئے خپل ذاتي القاب دي. او چونکه په بخارا کښې پيدا شوے وو. په دے وجه د دوئ د نوم سره لفظ "بخاري" ليکلے شي د نسب سلسله يئے حضرت امام علي نقي رضي الله ته رسيږي. شجره يئے داسے ده.

ابو البركات سيد جلال الدين حسن المعروف په مير سرخ بخاري. ابن سيد ابو محمد ناصر الدين محمود اصغر. ابن سيد ابي يوسف وابو محمود شيخ المشائيخ احمد قتال. ابن سيد ابو احمد شهاب الدين عبدالله. ابن سيد ابي عبدالله علي اصغر الملقب په اشتر. ابن سيد ابو علي، جعفر

المرتضي الملقب په خليل الله ثاني او جعفر ثاني ابن الا امام ابو الحسن ثابت محمد لعي نقي رضي الله تعالى عنهم اجمعين.

ضروري وضاحت

په دے پورتنۍ شجره کښې چه هر څومره نومونه ذکر شول د دے هر يو نوم په حقله په اختصار سره څنے ضروري وضاحتونه دلته سلسله وار درج کوؤلے شي. د پاره د دے چه په مختلفو تزکرو او شجره نسبونو کښې چه کوم فرق موجود دے يا اشتباهات دي هغه رفيع شي او فائده يئے عامه شي.

(۱) د پيښور ښهر د بخاري ساداتو په شجره کښې او نورو عامو تذکرو کښې دا نوم فقط. جلال الدين مير سرخ بخاري ليکلے شوے دے. حالانکه دغه د دوي القاب دي. اصلي نوم يئې نه دے. د باجوړ د بخاري ساداتو په شجره کښې د دوئ اصلي او محضه نوم "حسن" درج دے. او د سيد افتخار علي شاه نقوي بخاري مرحوم په تاليف. تحفه السادات کښې او د اوچ بهاولپور د مشهور تذکرو ليکونکي خواجه فيض محمد مرحوم په شجره کښې د دوئ نوم داسے ليکلے شوے دے. مخدوم سيد جلال الدين حيدر سرخ پوش بخاري "(په حواله د مکتوب د سيد غلام شبير

بخاري د لاهور پنجاب) او د سيد غلام حسن کاظمهي د مظفر آباد آزاد کشمير په يو مکتوب کښې د دوئ نوم "حسين" درج دے. ليکن څمونږ د تحقيقي مطابق د باجوړ د بخاري ساداتو د شجرے روايت زيات صحيح دے. ځکه مونږه هم دلته د دوئ نوم حسن درج کړلو.

(۲) د دے شجرے دويم نوم دے "علي ابوالويد" د قبايلي علاقے باجوړو بخاري ساداتو په شجره کښې دا نوم "سيد ولي محمد" درج دے او د اوچ شريف بهاولپور په شجره کښې دا نوم " سيد محمد داصغر" درج دے. ليکن د پيښور ښهر د بخاري ساداتو د شجرے او د سيد غلام حسين کاظمي د مکتوب مطابق مونږه دا نوم "سيد علي ابوالمويد درج کړلو چه دا زيات صحيح رويت دے مزار مبارک يئې په بخارا کښې دے. او په ۵۷۵هـ کښې وفات شوے دے.

(۳) د دے شجرے درئم نو دے. سيد ابو علي جعفر" د اوچ د ساداتو په شجره کښې دا نوم داسے درج دے " سيد جعفر" او د باجوړ د ساداتو په شجره کښې هم دا نوم سيد جعفر درج د. ليکن د ګوجرو ګړهئ د بخارى ساداتو د شجرے مطابق د دوئ پوره نوم سيد ابو علي جعفر

دے. مزار مبارک یئے په بخار اکښې دے. او په ۵۷۸هــ کښې وفات شوے دے.

(۴) د دے شجرے څلورم نوم "سید ابوالفتح صفي الدین محمد" دے. د باجوړ پیښور ښهر. ګوجروګرهئ. بهاولپور په ټولو شجرو کښې د دوئ نوم "سید محمد" درج دے. لیکن د دوئ پوره نوم سید ابو الفتح صفي الدین محمد" دے. مزار مبارک یئې په بخارا کښې دے. او په ۵۱۹هــ کښې وفات شوے دے.

(۵) د دے شجرے پنځم نوم "محمود" دے. د قبائیلي علاقے باجوړ د بخاري ساداتو په شجره کښې دا نوم "سید ولي محمد" درج دے. او د اوچ شریف بهاولپور په شمجره کښې دا نوم سید محمود اصغر درج دے. د ضلع مردان د ګوجرو ګړهئ د بخاري ساداتو په شجره کښې دا نوم صرف "سید محمود بخاري" درج دے. چنانچه په دے سلسله کښې د باجوړ د شجرے روایت صحیح نه دے. او د دوئ پوره نوم "ابي محمد ناصر الدین محمود اصغر" دے. اصغر ورته په دے بناء وئیلے شي. چه دوئ دوه رونړه وو. د یو نوم علي وو چه هغه په "سید علي اکبر" نامه یادیدلو.

او د ده نوم محمود وو. چونکه
دے کشر وو. په دغه مناسبت سره
په محمود اصغر نامه یادیلولو د
دوئ کنیت ابو محمد دے. او لقب
یئے ناصر الدین دے. په ۳۷۰هـ
کښې پیدا شوے دے. او په ۵۶۷هـ
کښې وفات شوے دے. مزار مبارک
یئے په بخارا کښې دے. د والدے
ماجدے د طرف نه شجره د نسب یئے
داسے ده. سید محمود اصغر بن
زینب بنت سید مرتضي بن سید
محمد بن سید مظهر بن سید ابو
الفضل محمد.

(۶) د دے شجرے شپږم نوم سید ابو
یوسف و ابو محمود شیخ المشائیخ
احمد قتال" دے. د دوئ اصلي
محضه نوم احمد دے. کنیت یئے
ابو یوسفز او ابو محمود دے. او
قتال یئے لقب دے. د باجوړ او
ګوجرو ګړهئ په شجرو کښې دا نوم
"سید احمد کبیر" درج دے. او
داوچ په شجره کښې دا نوم ابو
یوسف احمد درج دے. لیکن پوره
نوم ئے هغه دے کوم چه مونږ
پورته اولیکلو. د والدے ماجدے
نوم یئے سکینه بنت سید محمد بن
سید مظهر بن سید ابو الفضل
محمد دے. حضرت شیخ احمد قتال
په ۳۴۰هـ کښې پیدا شوے او په

۴۱۲ هـ کښې وفات شوے دے. مزار مبارک یئے په بخارا کښې دے.

(۷) د دے شجرے اووم نوم "سید ابو احمد شهاب الدین عبدالله" دے. د پیښور ښهر د بخاري ساداتو په شجره کښې دا نوم داسے درج دے. سید عبدالله جعفر" د باجوړ په شجره کښې دا نوم داسے درج دے "سید عبدالله جعفر ثاني" دغه شان د اوچ شریف اوګو ګهړئ په شجره کښې دا نوم داسے درج دے. "سید عبدالله". په دے سلسله کښې د پیښور اوباجوړ دواړو رویات صحیح نه دے. ځکه چه جعفر په حقیقت کښې د سید عبدالله د نیکه نوم دے. بلکه څرنګ چه مونږه پورته تصریح اوکره د دوئ اصلي محضه نوم عبدالله دے. اسم کنیه ئې ابو احمد دے. او لقب یئے شهاب الدین دے. د والدے ماجدے نومیئے خدیجه بنت سید مظهربن سید ابو الفضل محمد شریف فاضل دے. په ۲۹۱هـ کښې پیدا شوے دے. او په ۳۵۲هـ کښې وفات شوے دے مزار مبارک یئے د عراق په سامره نومے ښهر کښې د خپل نیکه د مزار مبارک خواته دے. د دوئ دوه ځامن وو.

(۱) سید محمد نازوک علیه الرحمة چه دوه اولاد په بني نزوک نامه

یادیږي. د ده پنځه ځامن وو.
سید عیس. سید ابو الغنائم
عبدالله. سید محمد. سید علي.
سید یحي.

(۲) او د دوئم ځوي ئې سید ابو یوسف احمد قتال نوم وو چه مخکښې یئې ذکر اوشه. د دے نه دا هم معلومه شوه چه بخاراته هم دغه حضرت سید ابو یوسف احمد قتال راغلے وو.

(۸) د دے شجرے اتم نوم دے "سید ابو عبدالله علي اصغر الملقب په اشتر" د ګوجر ګرهئ د بخاري ساداتو په شجره کښې دا نوم "علي اشکر، درج دے. او د اوچ په شجره کښې "علي اصغر" درج دے. په دے دواړو بیانونو کښې چه کوم فرق دے. د هغے وضاحت داسے دے. چه د دوئ خپل نوم "علي" دے. "اصغر" یئے لقب دے. د والدے ماجدے نوم یئې دے. زینب بنت سید ابو الفضل محمد شریف فاضل بن سید ابو القاسم علي نقیب قم (ایران) بن سید محمد بن سید حمزه مشهور بن سید احمد السرخ بن سید محمد بن سید اسماعیل بن سید محمد الا قط بن سید عبدالله باهر بن امام زین العابدین علي بن سید امام حسین رضي الله تعالی عنهم اجمین.

حضرت سید علي اشتر په ۲۵۷هـ کښې پیدا شوے دے. او په ۳۲۱هـ کښې وفات شوے دے. مزار مبارک یئے په سامره (عراق) کښې د خپل پدر بزرګوار خواته دے. د ده څلور ځامن وو. محمد. جعفر. اسماعیل عبدالله. په دوئ کښې حضرت سید اسماعیل د وادئ سندهـ دبهکرنومے ښهر د ساداتو نیکه دے. او هر کله چه حضرت میر سرخ بخاري علیه الرحمة بهکر ته تشریف راوړلو. نو هم د دے ساداتو په کورني کښې یئے واده کړے وو.

(۹) د دے شجرے نهم نوم "سید جعفر" دے. د باجوړ، پیښور او ګوجر ګرهئ د بخاری ساداتو په شجرو کښې دا نوم داسے درج دے. "سید جعفر ثاني". او د اوچ شریف بهاولپور په شجره کښې دا نوم داسے درج دے. "سید جعفر ثاني تواب. زکي". د دوئ اصلي نوم جعفر دے. ابو علي یئے کنیت دے. جعفر ثاني. جعفر المرتضي. جعفر التوب. جعفرز کي. خلیل الله ثاني یئے القاب دي. رضي الله عنه (فائده) د ملتان او پیښور دواړو په شجرو کښې د جعفر ثاني او علي نقي تر منفه د امام حسن عکسري نوم نشته دے. فقط د

باجوړ د شجرے دا روایت غلط دے.
په دے سلسله کښې د ګوجر ګړهئ
په شجره کښې چه کوم وضاحت دے
هغه دا مسله صفا کوي. او هغه
دا دے چه د حضرت امام علي نقي
درے ځامن وو. (۱) امام حسن
عکسري. حسین. جعفر ثاني چه په
دوئ کښې دغه دریم کشر ځوي سید
جعفر ثاني د حضرت میر سرخ
بخاري علیه الرحمة نیکه دے.
رحمة الله علیهم اجمعین.

حضرت ابو البرکات سید جلال الدین حسن میر سرخ بخاري. علیه الرحمة په ۵۹۵هـ کښې په بخارا کښې پیدا شوے وو. بیا د بخارا نه یئې د څلویښت کالو په عمر کښې په ۲۳۵هـ کښې د وادئ سنده بهکر نومے ښهر ته تشریف راوړلو. او هم دلته یئے استوګنه اختیار کړله. څه موده پس د دغه ځاي نه ملتان ته راغے. او د حضرت شیخ الشیخ بهاء الدین ذکریا ملتاني علیه الرحمة نه یئے په سلسله عالیه سهروردیه کښې لاس نیوه اوکړه. لکه چه وړاندے ذکر شوے دے. حضرت ابو محمد شیخ بهاء الدین ذکریا د حضرت شیخ الشیوخ شهاب الدین عمر سهرودي علیه الرځؤة ممتاز خلیفه وو.

حضرت سید جلال الدین میر سرخ بخاري ته خپل مرشد کامل د خلافت خرقه ورکړے وه. دے د ظاهري او باطني دواړو علمونو ډیر لوي فاضل عاتم او د ډیرے اوچتے روحاني مرتبے او کمالاتو خاوند وو. او د خپل وخت

په جليل القدر بزرګانو کښې د دوئ د علمي او روحاني مرتبې اوچتوالے منلے شوے وو.

د بهکر د استوګنے په زمانه کښې يئے په ۶۵۴هـ کښې د دغه ښهر د يو مشهور بزرګ حضرت سيد بدر الدين عليه الرحمة د کشري لور بي بي سره نکاح اوشه. حضرت شيخ عبدالحق محدث دهلوي پخپل کتاب اخبار الا خيار کښې ليکي: چه حضرت مير سرخ بخاري ته د دے نکاح زيرے د حضرت رسول مقبول صلي الله عليه وسلم د طرف نه ورکړے شوے وو.

د واده کولو نه څه نيټه روستو دوي بهکرنه په کړه باندے په ۶۵۷هـ کښې د بهاولپور اوچ نومے خاي ته راغلل. او دلته يئے استوګنه اختيار کړله. په اوچ شريف کښې چه دوئ په کومه محله کښې استوګنه اختيار کړے وه. هغه تر نن ورځے په محله بخاريان سره مشهوره ده.

دلته دا خبره هم يادلرل پکار دي. چه د بهاولپور دغه اوچ نومے مقام ډير بختور ځاي دے. دلته د سيدانو دوه کورنۍ اوسيږي.

(الف) يوه د بخاري ساداتو کورنۍ ده. چه مورث اعلع يئے هم دغه حضرت مير سرخ بخاري دے.

(ب) شيخ عبدالحق محدث دهلوي پخپل کتاب اخبارالاخيار کښې د دوی

دوه ځامن یاد کړي دي (۱) محمد (۲) احمد

(ج) د پیښور ښهر د بخاري ساداتو په شجره کښې د دوی د څلورو ځامنو نو مونه درج دي (۱) محمد غوث (۲) احمد کبیر (۳) معصوم علي (۴) جعفر.

(د) د اوچ شریف د بخاري ساداتو په شجره او د مخدوم سید غلام شبیر بخاري د تره سید افتخار علي شاه نقوي بخاري مرحوم په تالیف "تحفه السادات" کښې د دوئ د پنځه ځامنونومونه درج دي (۱) سید علي. (۲) سید جعفر (۳) سید محمد غوث (۴) سلطان سید احمد کبیر (۵) سید معصوم.

(۱) د دے پورتنو روایتونو په اختلاف چه فکر اوکړو. نو دے یوڅو نیتیجو ته رسیږو داچه د تاریخ مخزن پنجاب په روایت کښې چه د دریم ځوي نوم سید بهار الدین یاد شوے دے. نو دغه یئې د دریم ځوي نوم نه دے. بلکه د سید احمد کبیر لقب دے. ځکه چه د سید محمد کبیر د نوم سره په طور د لقب باندے شیخ صدر الدین ذکر شوے دے. هم دغه شان د سید احمد کبیر د نوم سره کلمه د

بهاء الدين په طور د لقب استعمال شویده.

(۲) بله خبره داده چه په کتاب اخبار الا خيار کښې ذکر شوے نوم "محمد" او په تاريخ مخزن پنجاب کښې ذکر شوے نوم "محمد کبير" او د پيښور اوچ بهاولپور او د باجوړ د بخاري ساداتو د شجرو نوم "محمد غوث" دا درے واړه په حقيقت کښې د يو سړي نوم دے. وضاحت يئې داسے دے. چه د ده اصلي نوم "محمد" دے. او غوث. کبير. صدر الدين يئې تعيرفي القاب دي.

(۳) بله دا چه په اخبار الا خيار او مخزن پنجاب کښې د حضرت سيد جلال الدين ميرسرخ بخاري فقط د دوه مشرانو ځامنو نومونه ياد شوي دي. او د پيښور. اوچ. باجوړ د بخاري ساداتو شجرے چونکه خانداني ياد داشتو نه دي. په دے وجه په دے کښې د ده د ټولو ځامنونو مونه راغلي دي.

(۴) بله خبره چه ځمونږ د پاره د غور او بحث قابله ده. هغه د هغے فرق په حقله ده. چه د حضرت مير سرخ بخاري د ځامنو د نومونو په ترتيب کښې په مختلفو تاريخي کتابونو او تذکرو کښې

په نظر راځي. په اختصار سره وضاحت کول یئے ضروري ګڼړو.

د پیښور په شجره کښې د دوئ د ځامنونو مونه په دے ترتیب لیکلي شوي دي. محمد. احمد. معصوم علي. جعفر. او د اوچ بهاولپور په شجره کښې د پیښور د شجرے نه برعکس دوه قسمه فرق موجود دے. یو د نومونو په ترتیب کښې فرق دے. چه هغه داسے دے. علي. جعفر. محمد. احمد. معصوم. دویم دا چه په دے کښې د پیښور د شجرے یو نوم "معصوم علي" دوه ټوټے شوے دے. یوه ټوه علي او دوئمه معصوم. په دوئ کښې علي د ټولونه د مشري او ړومبني ځوي نوم ښودلے شوے دے. او معصوم د ټولونه د کشري پنځم ځوي. نوم ښودلے شوے دے. د اوچ د شجره نسب دے. بیان چه روستو کوم تاریخي مشکلات پیدا کړي دي. د هغے په وجه اکثر تذکره لیکونکي او مؤرخان په اضطراب کښې پریوتلي دي. د مثال په ضور د اوچ دا شجره نسب چه مفتي غلام سرور لاهوري (۱۸۷۲ء) له په لاس ورغے ده. نو د دے په خپل کتاب خزینته لا صفیاء جلد نمبر۲ صفحه ۲۸ کښې لیکلي دي. چه د حضرت میر سرخ بخاري دوه ځامن علي او

جعفر ورسره د بخارانه راغلي وو. او څه زمانه په هندوستان (پاکستان) کښې د اوسيدلو نه روستو واپس بخاراته لاړل. بيا ورپسے هم د دے خزينته الاصفياځ په جلد نمبر۲ صفحه نمبر۳۸ کښې او په سير العافين (صفحه ۱۵۵) او تاريخ فرشته (صفحه ۶۸۲) کښې چه حضرت مير سرخ بخاري د حضرت بدر الدين بهکرى يوه لور په نکاح کړے وه. او چه هغه وفات شوه نو بيا يئے د هغوئ بله لور په نکاخ کړه. او د دے ببيانو نه يئے پرله پسے درے ځامن اوشول. د اولنئ بي بي نه بهاالدين او محمد غوث او د دوغے نه احمد کبير.

په دے پورته بيانونو کښې په خصوصيت سره د مفتي غلام سرور په بيانونو کښې چه کوم فرق دے هغة ډير عجيبه دے. ځکه چه يو خواته دے پخپل کتاب مخزن پنجاب کښې د حضرت مير سرخ بخاري د ځامنو نومونه په دے ترتيب سره ليکي. محمد. احمد. بهاالدين او بل خواته په خزينته الاصفياء کښې هم دغه نومونه په دے ترتيب سره ليکي. بهاء الدين محمد. احمد. ليکن څرنګ چه مونږه وړاندے د حضرت داتاګنج بخش په تذکره کښې تصريح کړے ده. چه د زمانےپه لحاظ سره خزينته الا صفياء د مفتي غلام سرور اولني د ۱۲۸۲هـ د زمانے تاليف دے.

او مخزن پنجاب ئې د ۱۳۹۲هـ د زمانې روستنې تاليف دے. په دے وجه د حضرت مير سرخ بخاري د ځامنو هغه ترتيب يئې صحيح دے کوم په مخزن پنجاب کښې ئي محمد. احمد . بهاء الدين درج کړےدے. ځکه چه دا ترتيب د حضرت شيخ عبدالحق محدث دهلوي د کتاب اخبار الا خيار د بيان کړي ترتيب مطابق دے. او لکه چه په پورته په نزدے کوښو کښې مونږه واضحه کړے ده. بهاء الدين د حضرت مير سرخ بخاري د درئم ځوي نوم نه دے. بلکه د حضرت احمد کبير لقب دے.

دے پورتنو بيا نو نو چه کوم تاريخي مشکلات پيدا کړي دي. هغه دا دي چه که مونږه په دے روايتونو اعتماد اوکړو. نو د دے مطلب به داشي چه د خزينته الا صفياء د پورتني روايت مطابق دا نتيجه به اخيستل غواړي چه حضرت مير سرخ بخاري د درے ودونه کړي وو. يو يئې په بحارا کښې کړے وو. چه د هغي نه يئې علي او جعفر دوه ځامن پيدا شوي وو. هغه ورسره د بخارانه بهکر ته راغلي وو. او د لته د څو ورځې قيام نه پس بيرته بخارا ته تلي وو. (حالانکه نواب صديق حسن خان په خپل کتاب الفرع النامي صفحه نمبر۴۰ کښې ليکي چه د حضرت مير سرخ بخاري يو ځوي چه د هغه علي نوم وو. هغه ورسره په سنده کښې اوسيده) او بيا د دغې نه روستو حضرت مير سرخ بخاري د حضرت سيد بدر الدين بهکري د

دوه لونړو سره پرله پسې ودونه کړي وو چه د هغې نه يئې درې ځامن پيدا شوي وو.

ليکن حقيقت دغه شان نه دې ځرنګ چه بيان شوې دې. په دې کښې يو خوا ته په اصلي واقعاتو کښې خلط ملط راغلې دې. او بل خواته بعض حقائق نظر انداز شوي دي. خبره دا ده چه:

(الف) په دې سلسله کښې د پيښور د بخاري ساداتو د شجره نسب بيان صحيح دې. چه د حضرت مري سرخ بخاري د مشرانو ځامنو نومونه علي الترتيب محمد او احمد دي. د دې تائيد د اخبار الا خيار نه د باجوړ د بخاري ساداتو او د ګوجر ګړهئ د بخاری ساداتو د شجره نسبونو نه کيږي. دغه دواړه مشران ځامن محمد او احمد يئې د حضرت سيد بدر الدين بهکري د مشرې لور بي بي نه يعنې د مير سرخ بخاري د اولنی ټبر نه پيدا شوي وو. او معصوم علي او جعفر يئې علي الترتيب دريم او څلورم کشران ځامن وو. او د حضرت بدرالدين د دوءمې لور يا دمير سرخ بخاري د دوئم ټبر نه پيدا شوي وو. حضرت سيد جلال الدين مير سرخ بخاري په ۲۳۵هـ کښې بهکرته راغلې وو. د اولني واده نيټه يئې هم دغه ۳۶-۶۳۵هـ متعين کوؤلې شو چه دغه وخت د دوئ عمر څلويښت کاله وو. بيا چه دا ټبريئې وفات شه. نو د حضرت سيد بدر الدين د دوئمې لور بي بي سره يئې په ۶۵۴هـ کښې نکاح کړې وو. او بيا هم د دې بي بي نه

يئے دوه ځامن معصوم علي او جعفر پيدا شوي وو.

په اصل کښې په بخارا کښې د حضرت مير سرخ بخاري د واده کؤلو او بيا ورسهر د هغه ځاي نه د دوه ځامنو علي او جعفر د راتللو سوال ځکه نه پيدا کيږي. چه د اخبار الا خيار روايت بالکل صاف دے. چه د بهکر د سيد بدر الدين د لور بي بي سره د واده کولو زيرے ورته حضرت نبي کريم عليه التحية واتسليم ورکړے وو. او د بخارا نه بهکر ته د دوئ د راتللو اصلي باعث هم په حقيقت کښې دغه وو.

حضرت سيد محمد غوث کبير بخاري

د حضرت سيد جلال الدين حسن المعروف مير سرخ بخاري د مشر ځوي حضرت سيد صدر الدين محمد غوث کبير بخاري څلور ځامن وو. (۱) ابو سعيد (۲) ابو الغيث (۳) شمش الدين (۴) سيد ابو الکريم. دا پورتنے روايت د کتاب "تحفة السادات" دے. د باجوړ د بخاري ساداتو په شجره کښې د دے دوئم ځوي نوم "سيد غوث ليکے شوے دے. چه دا روايت زيات صحيح معلوميږي. د پيښور ښهر د کريم شاهي بخاري ساداتو ګورنئ د دے حضرت سيد محمد غوث اولاد دے.

د دغے نه علاوه د قبائلي علاقے باجوړ (مالاکنډ ايجنسي پشاور ډويژن) په مختلفو حصو کښې چه د بخاري ساداتو کوم خاندانونه دي. هغه هم د دے حضرت سيد

محمد غوث کبیر بخاري اولاد دے. د دے سید محمد غوث کبیر د دویم ځوي حضرت سید غوث علیه الرحمة په اولاد کښې شکته په اوومه پیړۍ کښې یونمسے وو. چه د هغه حضرت سید ابراهیم نوم وو. هغه د ملتان نه باجوړ ته راغلے وو. او د هغه نه بیا د باجوړ د بخاري ساداتو سلسله خوره شوے ده. (روستو به د دے سید ابراهیم تذکره راشي)

حضرت سید احمد کبیر بخاري

د حضرت سید جلال الدین حسن میر سرخ بخاري د دوئم ځوي. حضرت سید بهاء الدین سلطان احمد کبیر بخاري دوه ځامن وو. (۱) حضرت سید جلال الدین حسین المعروف په مخدوم جهانیان جهان گشت. او دوئم حضرت مخدوم شیخ صدر الدین محمد راجن قتال علیهم الرحمة.

د حضرت مخدوم جهانیان تذکره به روستو په تفصیل سره راشی. او د دوئ د رور حضرت مخدوم قتال نوم د پیښور ښهر په شجره نسب کښې داسے لیکلے شوے دے. "شیر جان قتال" په کتاب رود کوثر (صفحه ۶۶) کښې دا نوم "سید راجوقتال" درج دے. په تاریخ مخزن پنجاب (جلد نمبر۲ صفحه نمبر۳۳۴) کښې دا نوم تمید راجن قتال" درج دے. او په کتاب مناقب الولایت د حامد گنج بخش (صفحه۲) کښې هم دا نوم "راجن کتال" درج دے. البته د سید غلام حسن کاظمي په قلمي یاد داشتونو کښې دانوم داسے لیکلے دے. "دیوان سید محمد صدر

الدين شاه راجو قتال" يعنې نوم يو دې. فقط د علاقائي لهجو د اختلاف په وجه په تلفظ کښې يئے اختلاف راغے دے. په ۸۶۷هـ کښې وفات شوے دے. او مزار مبارک يئے په دهلي کښې دے. نوره تذکره به يئے روستو د مخدوم جهانيان د تذکرے په ضمن کښې راشي.

په بعض تذکرو کښې د حضرت سيد احمد کبير د يو بل دريم ځوي سيد صدر الدين ذکر هم شوے دے ليکن دغه صحيح نه دے. د پيښور په شجره کښې دا دريم ځوى نوم نه دے. بلکه لکه چه پورته ورته اشاره او شوه صدر الدين د حضرت سيد راجن قتال لقب دے. چه په مکتوبات د سيد اشرف جهانګير سمناني کښې د دوئ دا لقب په ډير وضاحت سره ذکر شوے دے.

وفات

حضرت مير سرخ بخاري عليه الرحمة په ۶۹۰هـ مطابق ۲۱۹۴ء کښې وفات شوے دے. مزار مبارک يئے په اوچ بهاولپور کښې دے. او مرجع د خاص او عام دے.

خلفاء او مريدان

د حضرت سيد جلال الدين مير سرخ بخاري عليه الرحمة په مريد انو کښې حضرت سيد شرف الدين شاه ولايت متوفي ۷۳۹هـ مشهور بزرګ تير شوے دے. چه د هندوستان د مشهور ښهر "امروهه" د ساداتو مورث على دے. روستو هم د دے شاه ولايت په اولاد کښې په

اووم پشت کښې يو نمسے تير شوے دے. چه د هغه نوم وو.

حضرت سيد محمد عليه الرحمة

دغه حضرت سيد محمد ډير لوئ عالم وو. په علوم ظاهري او باطني دواړو کښې د لوئ مرتبے خاوند وو. ډيره موده يئے د شهنشاه جلال الدين اکبر په دربار کښې د "مير عدل" يعنے قاضي القضاة په عهده باندے يئے فرائض ادا کړي وو. په آخر عمر کښې د صوبۀ سندهـ نائب الحکومة (گورنر) مقرر کړلے شه. سندهـ ته يئے تشريف راوړلو. او په مرکزي مقام سکهر کښې يئے سندهـ د حکمران په حيثيت سره استوګنه اختيار کړه. د تاريخ معصومي د روايت مطابق حضرت سيد محمد عليه الرحمة په ۱۱، تاريخ د رمضان المبارک ۹۸۳هـ سندهـ ته راغلے وو. چه روستو هم دلته وفات شه. مزار مبارک يئے په سکهر کښې دے. عليه الرحمة والغفران:

اولیائ مشرقي پاکستان

حضرت شیخ شرف الدین توله
حضرت شیخ جلال الدین تبریزي

حضرت شیخ راجا بیاباني حضرت شیخ مولانا عطاء

حضرت عثمان اخي سراج حضرت شیخ علاء الحق

حضرت بدر عالم زاهدي حضرت سراج الدین صدیقي

حضرت نور قطب عالم حضرت پیر قتال

حضرت سلطان شمس الدین

حضرت سلطان مبارک شاه حضرت سلطان علاء الدین علي شاه

حضرت سلطان الیاس شاه حضرت سلطان غیاث الدین اعظم شاه

د مشرقي پاکستان اولياء الله

په مشرقي پاکستان کښې د اسلام رڼړا چه د کومو اولياء الله ؤ. مشائخو عالمانو او مسلمانانو بادشاهانو په ذريعه خوره شورے ده. په هغوئ کښې د حضرت سلطان بختيار خلجي، حضرت ابراهيم دانشمند ارمر. حضرت مخدوم شاه محمد غزنوي. حضرت خواجه عبدالله کرماني. حضرت سلطان غياث الدين عوض خلجي. حضرت علي مردان خلجي. حضرت شيخ رکن الدين سمر قندي او حضرت سلطان ارطغرل عليهم الرحمة تذکره مخکښې بيان شوے ده. د حضرت سلطان بختيار خليجي او د هغه د پسمانده ګانو نه روستو په دے زمکه باندے ګنړ او پرله پسے اسلامي حکومتونه قائم شول. چه د دغه مسلمانانو بادشاهانو او د هغوئ په زمانه کښې دے ملک ته راغلو عالمانو. صوفيانو او روحاني مشايخو په برکت د اسلم رڼړا د دے ملک ته راغلو عالمانو. صوفيانو او روحاني مشايخو په برکت د اسلام رڼړا د دے ملک په ګوټ ګوټ کښې خوره شوله. په هغه زمانه کښې څرنګ چه په دکهن. ګجرات. او جونپور کښې طاقتور و مستقل اسلامي حکومتونه قائم شوي وو. په بنګال (مشرقي پاکستان او مغربي بنګال) کښې هم دغه شان مضبوط اسلامي حکومتونه قائم شوي وو. او د

اسلام د تبلیغ تعلیم. او اشاعت د پاره باقاعده انتظامات شوي وو.

حضرت سلطان شمس الدین

په دے سلسله کښې د بنګال د کوږ نومے علاقے د یونامور سلطان حضرت شمس الدین علایه الرحمة نوم د یادولو دے. چه علاوه د بادشاهۍ او حکمرانئ نه پخپله زمانه کښې د خدائي پاک ډیر نیک بنده او تقوی دار بزرګ وو. حضرت سلطان شمس الدین او د دهلي مشهور بادشاه سلطان علاء الدین خلجي دواړه همعصروو.سلطان شمس الدین د بنګال د زمکے په مسلمانانو بادشاهانو کښې ډیر الوالعزم بادشاه تیر شوے دے. د دے نامور بادشاه د اسلام ډیر لوئ خدمتونه کړي دي. د سلهټ په علاقه کښې هم د ده په زمانه کښې اسلام خورشوے دے. او د بنګال او آسام ټولے علاقے سر دوباره په مکمل طور سره هم ده فتح کړے وے او په خپل اسلامي حکومت کښې یئے شاملے کړے وے. د ۶۹۸هـ نه تر ۷۰۹هـ پورے یئے حکومت کړے وو.

تبلیغي مهمونه

هر کله چه د حضرت سلطان شمس الدین علیه الرحمة په مبارکو کوششونو په بنګال کښېد مسلمانانو د اقتدار په مکمل طور سره قائم شه. نو دوئ د انتظامي مورو له مخه د بنګال مملکت په ګنړو حدونو او تپو کښې تقسیم کړلو. په سرحدي علاقو کښې یئے فوځي چهاؤنړی جوړے کړے. تجارت او صنعت

له یئے ترقي ورکړه. بندرګاهونه یئے جوړ کړل. او د مشرقي بعید چین او مشرق وسطی د ملکونو سره یئې تعلیقات قائم کړل. او دغه ملکونو ته ئې د اسلام د تبلیغ د پاره تبلیغي مهمونه اولیږل. په ست ګاؤ (هګلي) سونارګام. چاټ ګام. هالنګ (سلهټ) کښې لوئ لوئ بندرګاهونه او تجارتي مرکزونه وو. او په دغه زمانه چه کوم مرکزي مقامات وو. او هلته د اسلام د تبلیغ او نشر او اشاعت د پاره دیني مدرسے او خانقاهونه قائم وو. د هغے نومونه دلته درج کوؤلء شي. چه په دے کښې اکثر مقاماتو د مرکزي یا علاقائ اسلامي دارالحکومتونو حیثیت هم لرلو. هغه مقامات دا وو. د یوکوټ لکهؤتي. ګوړ. پنډوه. ظفر آباد. ست ګاؤ، سورناګاؤ. چاټ کام. هالنګ (سلهټ لکهور. میسی. بهار شریف. حاجي پور وغیره.

دا ټول مقامات د اسلامي تهذیب او ثقافت مرکزونه وو. عالمان او مشایخ چه به د کوه سلیمان او کوه کسئ (روه. اوبلوچستان) حیدر آباد. (سندھ) لاهور. ملتان. پیښور او کشمیر وا دهلي نه روان شول نوجونپور ته به راغلل. د هغه ځاي نه به بهار شریف ته اورسیدل. او بیا به د هغه ځاي نه د بنګال خاورے ته اورسیدل. په مختلفو علاقو ښهر یو او مرکزونو کښې به خواره شول. استوګنه به یئے اختیار کړه. او پخپل تبلیغي مهم کښې به مشغول شول. د هغه زمانے سلطانانو به دا خپله ذمه واری ګنړله. چه هر یو نوے عالم

یاروحاني پیشوا به دغه خاورے ته ورشریک شه. نو دهغه سره به هر څومره شاګردان. طالب علمان یا مریدان وو. د هغوئ د استوګنے او خرڅ خوراک انتظام به ئے کولو. او هم د دے "روحاني تړون" په برکت د اسلام رنړا د زیاتے نه زیاته خوره شوے وه.

مشرقي پاکستان او مغربي بنګال ته چه عالمان او مشایخ په څومره زیات تعداد کښې راغلي دي. هلته استوګن شویدي. او د اسلام خذمتونه یئے کړي دي. د هغے اندازه د حضرت مخدوم سید اشرف جهانګیر سمناني علیه الرحمة د یو تاریخي مکتوب نه لګیدلے شي. چه د جونپور حکمران حضرت سلطان ابراهیم شاه شرقي علیه الرحمة ته یئے په ۸۲۹هـ کښې لیږلے وو. حضرت سید اشرف علیه الرحمة په دغه خپل مکتوب کښې لیکي:

"د بنګال هیواد هم څومره ښکلے ملک دے. چه دلته د مختلفو مقاماتو نه بے شمیره عالمان او مشائیخ راغلي دي. او د دایئے خپل وطن ګرزولے دے. دلته استوګن شوي دي. او بیا هم په دے خاوره کښې وفات شوي دي. او دفن شوي دي. د مثال په طور "دیوګان" نومے علاقه واخلئ. دلته د حضرت شیخ الاسلام والمسلمین خواجه شهاب الدین عمر سهروردي علیه الرحمة اولس ممتاز مریدادن او خلیفه ګان په ابدي خواږه خوب

اوده دي[18].د سلسله عاليه سهروردیه ګنړ محتاز بزرګان په "میسي" نومے علاقه کښې د فن دي. هم دغة حال د "دیوتله" نومے مقام دے. چه دلته د سلسله جلالته بے شمیره بزرګان د فن دي. د "نارکوټي" په مقام د حضرت شیخ المشایخ شاه جلال تبریزي او حضرت شیخ احمد[19] دمشقي علیهم الرحمة د بعض بهترینو ملګرو او پیر بهائیانو مزارونه واقعي دي.

د سلسله عالیه قادریه په مشاهیرو بزرګانو کښې په شماره دولس بزرګانو زیارتونه په موضع سورنا ګاؤ کښې دي چه په دے دولسو بزرګانو کښې د یو نوم حضرت شیخ شرف الدین توامه علیه الرحمة دے (روستو به د دوئ تذکره په تفصیل سره راشي) حضرت شیخ شریف الدین توامه چه څومره عظیم الشان روحاني پیشوا تیر شوے دے. د هغے اندازه د دے نه لګیدلے شي. چه د حضرت شیخ شرف الدین یحی منیري په شان شهرهٔ آفاق بزرګ هم د ده په خاصو شاګردانو کښې شمیرلے شي د دوئ نه روستو حضرت باد عالم قدس سره او حضرت بدر عالم زاهدي قدس سره تیر شوي دي. لنډه خبره دا ده. چه د بنګال ښهرونه خو لاپریږده. چه

---

[18]د حضرت شیخ شهاب الدین سهروردي په حکم او هدایت سره چه د شهاب الدین غوري په ملګرتیا کښې د ترائن دویمے غزاله د حضرت شیخ شهاب الدین سهروردي کوم بے شمیره خلیفه ګان راغلي وو. او بیا روستو د بختیار خلجي سره د بنګال غزاله راغلي او دلته شهیدان شوي وو. دا د هغه بزرګانو مزارات دي. (اثر)

[19]حضرت شاه جلال تبریزي او شیخ احمد (مشقي دواړه د حضرت خواجه شهاب الدین سهروردي نامور خلیفهګان وو. (اثر)

په دے هيواد کښې داسے هيڅ يوه قصبه او کلے هم نشته. چه هلته د دين بزرګان عالمان او مشائيخ نه دي اوسيدلي او هلته آباد شوي نه دي". (مکتوب دلته ختم شه)

د مشرقي پاکستان ډير اولياء الله داسے دي. چه د هغوئ زمانه د بختيار خلجي نه مخکښې بيانولے شي. ليکن بيا هم بالکل غلطه هم ورته نه شي ويلے کيدے. او دا ممکمنه ده چه د بختيار خلجي د فتوځاتو نه وړاندے مسلمانان مبلغان دے علاقو ته راغلي وي. ځکه چه د اسلام د اولنئ صدئ راسے د مسلمانانو تاجرانو تګ راتګ دے علاقو ته جاري وو. او لوئ ثبوت يئے دا دے. چه پخپله سلطان بختيار خلجي هم د اسونو د سوداګرو په جامه کښې د بنګال دارالحکومتة "نديا" ته داخل شوے وو. او درياب په لاره باندے د چاټ ګام علاقے ته د عربو سوداګرانو باقاعده تګ راتګ د ۳۰۰هـ په ابتداء کښې شروع شوے وو. او هم په دغه ۳۰۰هـ مطابق ۹۰۰ء کښې د عروبو يوه ځان له قصبه او يو ورکوټے شان رياست هم په دے علاقه کښې قائم شوے وو. چه د هغے حکمران به د سلطان په نامه ياديلول. په ۹۵۱ء کښې دا راکان د راجه او د چاټ ګام د سلطان تر منځه چه کوم جنګ شوے وو. د هغے تاريخي ثبوت موجود دے. د اسلام د ابتدائي درے صدو په دوران کښې کوم بزرګان چه بنګال ته راغلي دي. د هغوئ په حقله ځان له د يو مستقل تاريخي و تحقيقي کتاب ليکلو ضرورت دے.

په هر حال په دے کښې هيڅ شک نشته دے. چه د سلطان بختار خلجي د فتوحاتو نه روستو د بنګال خاورے ته د علماؤ او مشائيخو باقاعده راتګ شروع شوے وو. او بيا د سلطان شمس الدين په زمانه او د هغه نه روستو نزدے زمانے مسلمانانو په وخت کښې عروج ته رسيدلے وو. او لکه چه مخکښې ورته اشاره شوے ده. نه صرف د برصغير پاک او هند د مختلفو ښهرونو او مرکزونونو نه بلکه د بخارا. سمرقند. او تبريز او نورو اسلامي هيوادونه مشاهير بزرګان دلته راغلي وو. دلته استوګن شوي وو او عمرونه يئې د اسلام په تبليغ کښې صرف کړي وو.

په تاريخي اعتباره سره د بنګال خاورے ته د ټولونه وړاندے د سلسله عاليه قادريه او سهروديه مشائيخ راغلي وو. او د دے ملک په اولني جهاد کښې يئے حصه اخيستے وه. او چه کوم د دے جهادونونه روستو ژوندي پاتے شوي وو. هغئ د تبليغ حق ادا کړے وو. ورپسے د سلسله عاليه چشتيه مشايخ دلته راغلي وو. چه په هغوئ کښې د يو مشر بزرګ د حضرت خواجه غريب نوا زمشهور خليفه حضرت عبدالله کرماني نوم د يادولو دے. په ابتداء کښې سهروديه سلسلے ته ښه پوره عروض حاصل شوے وو. او څه زمانه پس د حضرت نظام الدين اولياء د مشهور خليفه حضرت اخي سراج په وجه د سلسله چشتيه په مقبوليت کښې اضافه شوے وه. (د حضرت اخي سراج تفصيلي تذکره په روستو راشي) هم په دغه زمانه کښې د حضرت

پیر بدر عالم زاهدي علیه الرحمة په زریعه د سلسله عالیه زاهدیه هم ښه اشاعت شوے وو. د دغے نه علاوه د طریقت او روحانیت د درے نورو سلسلو مداریه. قلندریه. فردوسیه هم ډیر نیک اثرات په عامو خلقو باندے پریوتلي وو. او د خلقو زړونه یئے د خدائي او رسول په مینه ښیرازه کړي وو.

دلته دا خبره یادلرل پکار دي. چه ځمونږ د پخوانی زمانے دغه ټول روحاني پیشوایان د شریعت او طریقت دواړو د ټولو علمونو د اسرارو او موزونو ځنے واقف وو. د دوئ په نظر کښې په شریعت او طریقت کښې هیڅ فرق نه وو. او د ظاهري او باطني دواړو علمونو په ذریعه به یئے د خدائ مخلوق د اسلام حق دین ته رابللو. او په اسلام به یئے مشرف کؤلو. او چه کوم به مسلمانان وو. د هغوئ نه به یئے صالحه مسلمانان جوړول.

سرزمین اولیاء

د مشرقي پاکستان او مغربي بنگال په طول و عرض کښې د اولیاء کرامو بے شمیره مقبرے او مزارات دي. چه د هغے په وجه مونږ دے هیواد ته. "سرزمین اولیاء" وئیلے شو. په گوړ. پنډوه. ظفر آباد. دیوکوټ. سونار گاؤ. چاټ گام. سلهټ. ډهاکه او د دے په مضافاتو کښې د لویو لویو اولیاء الله ؤ درگاهونه دي. چه هغے له عقیدتمندان سلام او دعا ته حاضریږي.

دلته د مثال په طور د یو څو اولیاء کرامو نومونه لیکلي شي.

(۱) حضرت شاه محسن اولیاء متوفي ۷۹۵هـ مزار مبارک ډهاکه مشرقي پاکستان.

(۲) حضرت شیخ پیر شاه راستي مزار مبارک پټره.

(۳) حضرت شیخ شاه انور قلي منوفي ۷۷۳هـ مزار مبارک فرفره شریف (میوګلي)

(۴) حضرت شیخ صفي الدین مزار مبارک چڅوټا پنډوه.

(۵) حضرت شیخ پیر شاه دوله دریائ قادري مزار مبارک ګوړ.

(۶) حضرت شیخ پیر ګورا چاند قادري مزار مبارک ګوړ.

(۷) حضرت شیخ مولانا برخوردار متوفي ۸۸۵هـ مزار مبارک ګوړ.

(۸) حضرت شیخ نعمت الله خان بت شکن مزار مبارک ډهاکه

(۹) حضرت شیخ جلال د کني (د دوئ مزار مبارک د ګورنمنټ هاؤس ډځاکه د احاطه دلکشا سره دے)

(۱۰) حضرت شیخ ملک پیریمني مزار مبارک ډځاکه (د صوبائ سکریټري ایټ سره)

(۱۱) حضرت شیخ شاه علي بغدادي متوفي ۸۸۰هـ مزار مبارک ډهاکه قصبه دهمراۍ(ډهاکه)

(۱۲) حضرت شیخ سید جلال الدین عاملي متوفي ۹۳۰هـ مزار مبارک سپشکړا.

(۱۳) حضرت شیخ حاجي بابا صالح علیه الرحمة مزار مبارک نراین ګنج.

(۱۴) حضرت شیخ المشایخ ابراهیم دانمشند ارمړ انصاري سهروردي، مزار مبارک سونار ګاؤ.

(۱۵) حضرت شیخ سید علي ترمزي مزار مبارک موضع ډهمراۍ(ډهاکه)

په دے کښې بعض بزرګان داسے هم دي چه په پخوانو تذکرو کښې یئې فقط نومونه قدرته ذکر شوي دي. و هغه هم په غیر واضح و نامکمل شکل سره او د یوڅو مشهورو بزرګانو نه په غیر د نورو حالات چرته هم نه پیدا کیږي. د ځنے بزرګانو نومونه په روایتونو کښې یادیږي. لیکن د هغوئ زمانه او صحیح حالات نه معلومیږي بعض درګاهونه داسے هم شته دے چه. هغه داسے مکتلف مشهورو امامانو او مشایخ کرامو ته منسوب دي. چه د دغه مشایخو بنګال ته راتلل نه شي ثابتیدلے. د مثال په طور:

(۱) په چاټ ګام کښې یوه درګاه حضرت بایزید بسطامي علیه الرحمة ته منسوب دے.

(۲) په ډهاکه کښې د عظیم پورنومے قبرستان نه باهر شمال طرف ته یو قبر دے. د دے قبر په حقله وئیلې شي چه دا د حضرت ابراهیم ابن ادهم بلخي علیه الرحمة مزار دے.

(۳) په چاټ ګام کښې یوه چینه ده د هغے نسبت حضرت شیخ فرید الدین ګنج شکر علیه الرحمة ته کوؤلے شي.

(۴) په چاټ ګام کښې د حضرت پیر بدر عالم ناهدي علیه الرحمة یوه چله خانه ده. چه هغے له هوبهو د زیارت شکل ورکړے شوے دے. لکه په مغربي پاکستان کښې چه ځائ په ځائ د حضرت سید جلال الدین حسین الملقب په مخدوم جهانیان جهان ګشت کومے چله خانے دي. هغے ټولو له د زیارتونو شکل ورکړے شوے دے. لیکن بهر حال دا ټول د ناموروروحاني پیشوایانو په نوم جوړ شوي آثار دي. او د عوامو د عقیدت مرکزونه ګرځیدلي دي.

شهیدان او مجاهدین

د مشرقي پاکستان او مغربي بنګال په هیواد کښې دیرے مقبرے په اصل کښې د شهیدانو او مجاهدین اسلام دي. چه هغه د

بزرګانو د زیارتونو په نامه یادیږي. او نن ورځې په هغې بانـد عرس او چراغان هم کوؤلې شي. د دې وجه په اصل کښې دا ده. چه په تاریخ اسلام کښې د داسې ډیرو فوځي سالارانو او جرنیلانو نومونه موجود دي. چه هغوئ غزاګانې کړې دي. فقوځات یئې حاصل کړي دي. او د هغې نه روستو د یو عالم دین. مبلغ اسلام او روحاني پیشوا په شکل کښې یئې د اسلام رنړا هم خوره کړې ده. پخپله هم د مزهب پابند وو. او د شریعت خدمت یئې د تبلیغ په ذریعه هم کوؤلو او لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه د بنګال په خاوره په غزا کښې خو د سلسله عالیه قادریه او سهروردیه بیشمیره مشائخو د فوځي سپه سالارانو په شکل حصه اخیستې وه.

د دې قسم نه چه کوم مجاهدین سپه سالاران او امیران تیر شوي دي. د وفات نه روستو عام خلق ورسره د روحاني پیشوایانو په حیثت سره عقیدت ساتي. لکه حضرت سالار مسعود غازي المعروف "غازي میا" یا "بالې میا" چه د حضرت سلطان محمود غزنوي په زمانه کښې تیر شوې دې او مزار مبارک په بهرایچ کښې دې یا لکه د حضرت امام تاج فقیهه مخدوم الملک مشیر نیکه فاتح بهار (منیر) شه. یا لکه حضرت سید ابراهیم المعروف ملک بیاد بهار شریف شه.

د مشرقي پاکستان او مغربي بنګال په خاوره حضرت بابا آدم شهید (مزار پکرم پور ډهاکه) حضر ظفر خان غازي (مزار تریني) حضرت اسماعیل ګازي (مزار رنګ

پور) حضرت سید العارفین. مرنا مور خان. حضرت خان جهان او حضرت غازي ملک اکرم خان ټول هم د دے قسم مجاهدین اسلام امیران او سپه سالاران وو. دا ټول د ابتدائي دور جرنیلان او سپه سالاران مجاهدین وو. چه د خپل خپل حکومت په دوران کښې یئے د اسلام لوئ خدمتونه کړي دي. په دوئ کښې حضرت خان جهان د چارشنبے په ورځ ۲۴، ذلحجه ۸۶۳هـ وفات شوے دے. مزار مبارک یئے په باګوهاټ (کهلنا) کښې دے. د موقع کهلنا د شپیته وګنبدونو والا عظیم الشان جماعت د ده یاد ګار پاتے دے.

په مجموعي طور سره د بنګال (مشرقي او مغربي بنګال) په مشاهیرو او روحاني پیشوایانو کښې د حضرت اختیار الدین بختیار خلجي. حضرت شیخ دریائي قادري. خواجه رکن الدین سمر قدني. حضرت شیخ شاه جلال تبریزي. حضرت راجابېیاباني. حضرت شیخ سراج الدین عطا. حضرت شیخ عثمان اخي سراج. حضرت شیخ علاء الحق. حضرت شیخ مخدوم الملک پیر بدر عالم زاهدي. حضرت قاضي سراج الدین صدیقي حضرت شیخ نور قطب عالم. حضرت پیر قتال. حضرت شیخ حمید دانشمند منګل کوټي. او په مسلمانانو سلاطینو کښې د حضرت سلطان مبارک شاه. حضرت سلطان علاء الدین علي شاه. حضرت سلطان الیاس شاه او حضرت سلطان غیاث الدین اعظم شاه نومونه د یادولو دي. چه د دوئ پیشرو او سر خیل حضرت اختیار الدین محمد بختیار خلجي بزرګ پښتون سلطان وو.

په دې پورتنو بزرګانو او مشاهيرو کښې د مخکينو پنځه وو تذکره وړاندې بيان شوې ده. د روستونو پنځلس بزرګانو حالات او تذکره به په پوره تفصيل سره روستو درج کړلے شي. د دې چه د بنګال په هيواد کښې چه څمونږ د مشاهيرو په کوششونو کوم "روحاني تړون" په وجود کښې راغے دے. د هغے ياد تزه کړلے شو. د الحمد الله رب العالمين

حضرت شيخ شرف الدين توامه عليه الرحمة

۷۲۵هـ

د بنګال (مشرقي پاکستان او مغربي بنګال) په عالمانو او مشائيخو کښې حضرت مولانا شرف الدين توامه د ډيرے مقتدر هستئ خاوند بزرګ تير شوے دے. په سونار ګاؤ مشرقي پاکستان کلے د دوئ ديني مدرسه ډيره مشهوره وه. حضرت مخدوم الملک شرف الدين بهاري هم په دے مدرسه کښې تعليم حاصل کړے وو. مخدوم الملک په خپل کتاب "خوان پر نعمت" کښې د دے خپل نامور استاذ د علمي استعداد تذکره په دے الفاظو کښې کړے ده.

"مولانا شرف الدين توامه د هندوستان په عالمانو کښې دومره زيات مشهور وو. چه د دوئ په علم کښې د هيچا شک نه وو. د دوئ به ريشمين پټکے او پرتوغاښ استعمالولو. دوئ داسے احکام او مسائل ليکلي دي. چه نورو عالمانو له هم دوئ تقليد پکار دے. که شاګرد ته د سبق ښودلو په دوران کښې به څه مشکل ورته پيښ شه. نو غور او فکر به يئې شروع کړلو. د دوئ د دے قسم غور او فکر نښه داوه. چه د پټکي شمله به يئے په اوګه راواچوله. او د شملے پيلسکے به يئې په ګوتو کښې مښلور

امښلو. تر دے حده چه هغه ګرانه او مشکله مسئله به ئې حل کړله. د پټکي شله به یئے شاته ګزراه کړله. او د مسئلے باریکات بیانول به یئے شروع کړل."

د حضرت مخدوم الملک شرف الدین بهاري یو د ترۀ ځوي وو. چې دهغوئ نوم حضرت مخدوم شاه شعیب علیه الرحمة وو. او د صوبه بهار ضلع مونګیر په په موضع شیخ پوره کښې یئے مزار مبارک دے. دغه حضرت مخدوم شاه شعیب پخپل کتاب "مناقب الا صفیاء" کښې د حضرت مولانا شرف الدین تواله تذکره په دے الفاظو کړے ده.

په دے زمانه کښې د مولانا شرف الدین تواله د عظمت، بزرګي او دانشمندئ شهرت یواځے د هند په مملک کښې څه چه په عرب او عجم کښې هم خور شوے وو په تمامي علومونو کښې یئے درجه د کمال لرله حتی چه په علم کیمیا او سیمیا کښې یئے هم مهارت لرلو. په دیني علمونو کښې د علماء دین ملک وو. عوام او خواص امیران او بادشاهان ټول یئے یو شان معتقد او فرمان بردار وو. په علم سیمیا کښې به یئے عجیبه تماشے خلقو ته ښودلے. د ملک بنګال ټول خلق یئے دومره فرمانبردار وو. چه د دهلي بادشاه سره دا ویره پیدا شوه. هسے نه د بنګال په بادشاهئ باندي قبضه اونه کړي څه ذریعے یئے اولټولے چه حضرت مولانا شرف الدین سونار ګاؤ ته تشریف یوسي. په هغه زمانه د بنګال علاقه د سلطنت دهلي ماتحت وو. حضرت مولانا چه په دغے پوهه

شه. نو د فراست نه يئے کار واخيست. او په دے خيال چه اطاعت او لوالامر واجب دے. سورنا ګاؤ ته يئے تشريف يوړلو. او هلته يئے هغه عظيم الشانه ديني مدرسه بناء کړه چه مشاهيرو بزرګانو پکښې فيض حاصل کړے دے.

د حضرت مخدوم الملک او حضرت مخدوم شاه شعيب دواړو د پورتنو بيانونو نه صرف د حضرت مولانا شيخ شرف الدين توامه په علمي تجربانده رنړا پويوزي ليکن د دوئ زمانه ترينه متعين کيدلے نه شي. په دے سلسله کښې زياتي نور معلومات دا هم په لاس راغلي دي. چه څه وخت حضرت مولانا شرف الدين توامه عليه الرحمة د دهلي نه سونار ګاؤ ته تشريف راوړلو. نو ښه ډيره موده يئے د بهاشريف په منير نومے مقام کښې د حضرت مخدوميحی منيري عليه الرحمة سره تيره کړے وه. او چه څۀ وخت د دے ځاي نه رخصت کيدلو نو مخدوم الملک شيخ شرف الدين بهاري يئے د ځان سره سورنار ګاؤ ته بوتلے وو. په دے سلسله کښې د کتاب مناقب الا صفياء بيان دا دے چه حضرت مخدوم الملک شيخ شرف الدين بهاري په دغه نيته ځلمے وو. او د ديني علمونو د تحصيل نه فارغه شوے وو. ليکن په تحقيقي انداز کښې د علمونو د تکميل د پاره د حضرت شيخ توامه عليه الرحمة سره سورنا ګاؤ ته تلے وو. ډيره موده يئے په سورنا ګاؤ کښې تيره کړے وه. او دلته يئے وادۀ هم کړے وو. دلته يئے يو ځوئ پيدا شه. روستو يئے بال بچ منير (بهار)ته راوستلو. او پخپله

د پیر طریقت په تالاش کښې دهلي ته لاړلو. په دهلي کښې یئې د حضرت شیخ نظام الدین اولیاء او حضرت بو علي شاه قلندد یعنې شیخ شرف الدین پاني پستي علیهم الرحمة سره ملاقاتونه اوشول. او بیا یئې د حضرت نجیب الدین فردوسي علیه الرحمة نه لاس نیوه اوکړله."

دا پورته بیان څمونږ د وړاندې دے. چه مونږ په غور سره په دے نظر واچوؤ. نو معلومه شی. چه د حضرت مخدوم الملک شرف الدین بهاري سونار ګاؤ ته تلل. بیا واپس بهارته راګرځیدل او د دے ځاي نه دهلي ته تلل د نزدے زمانې واقعات دي. څه وخت چه مخدوم الملک دهلي ته رسیږي. نو حضرت شیخ المشایخ نظام الدین اولیاء او حضرت بو علي شاه قلندر دواړو ژوندي وو. او روستو دواړه علي الترتیب په ۷۲۴هـ او ۷۲۵هـ کښې وفات شوي دي. او د دے نه په قیاس سره دا وئیلے شو چه حضرت مخدوم الملک به د ۷۰۰هـ نه څه لږے ورځے روستو دلته راغلے وي او هم د دے نه مونږ د حضرت مولانا شرف الدین زمانه ۷۲۵هـ اندازه کړے ده.

اوس بل خواته چه د سونار ګاؤ تاریخي جائزه واخلو نو د تاریخي حقائیقو په رنړا کښې معلومه شي. چه د ټولونه په اول ځل رکن الدین کیکاؤس په ۶۹۰هـ کښې د سونار ګاؤ نه خراج وصول کړے دے. د کیکاؤس جانشین او رور سلطان فیروز شاه شهنشاه دهلي چه یوالو العزم حکمران تیر

شوے دے. هغه په مکمل طور سره د بنګال مملکت په خپل سلطنت کښې شامل کړے وو. په ۷۰۵هـ کښې يئے هلته ټکسال قائم کړے وو. او د خپل سلطنت د مشرقي اقيلم مرکزي مقام يئے سونار ګاؤ مقرر کړے وو. د دے نه دا اندازه لګيدلے شي چه حضرت مولانا شرف الدين توامه قدس سره د ۷۰۰هـ نه روستو او داتمے صدئ هجري په ابتدائ کلونو کښې سورنا ګاؤ ته تلے وو.

د حضرت شيخ رکن الدين سمر قندي او حضرت مولانا تقي الدين مهوي نه روستو حضرت مولانا شرف الدين توامه د بنګال په عالمانو کښې دريم عظيم الشان بزرګ وو. چه د دوئ په برکت په دے هيواد کښې د اسلام رنړا د زياتے نه زياته خوره شويده.

په فارسی ژبه کښې د علم فقهه يو ورکوټے منظوم کتاب دے. چه د هغے نوم دے "فام حق" اولنے شعر يئے داسے دے

نا حق بر زبان ہمے دا تم
کہ یہ جان ودیس ہمے خوانم

دا کتاب په لسم تاريخ د جمادي الاول ۶۹۳هـ کښې حضرت مولانا توامه په موضع سونار ګاؤ مشرقي پاکستان کښې تاليف کړے دے. په دے کښې ۱۸۰ يوسل اتيا اشعاري دي. چه په لس بابونو مشتمل دي. د دے کتاب نه معلوميږي چه حضرت مولانا توامه عليه الرحمة په اصل کښې د بخارا او سيدونکے وو. د دے کتاب "نام حق" دے لاتدينې شعرته

دومره عظیم الشان مقبولیت حاصل شیودے. چه د برصغیر پاک دهند د اکثر و جماعتونو په دیوالو نر پاس لیکلے شوے وي. شعر دا دے.

روزحشر کو جان گداز
بود
اولین پرسش نماز بود

دا رساله د پاکستان د قیام نه وړاندے په بنګال او بهار کښې طالب علمانو ته به د ګلستان. بوستان نه وړاندے په درس لولولے شوه. او په مغربي پاکستان خصوصاً سابق صوبه سرحد. قبائلي علاقو او افغانستان کښې د مولانا شرف الدین دغه کتاب "نام حق" د مولانا مصلح الدین سعدي شیرازي کتاب "کریما" ا د حضرت شیخ عطار "پنج ګنج" په نوم د ګلستان او بوستان نه مخکښې په ټولو دیني مدرسو او جماعتونو کښې په درس لولولے شي.

په موضع سونار ګاؤ کښې په مقام د "مؤکراپاړا" په یوه آزاد چونتره باندے د حضرت مولانا شرف الدین توامه علیه الرحمة مزار مبارک واقع دے. د دغه چونترے د پاسه نور ګنړ زیارتونه هم موجود دي. چه د دوئ د خاندان د افرادو افواد و معلومیږي. د دوئ د یوے لور بي بي نکاح د حضرت مخدوم الملک شرف الدین بهاري علیه الرحمة سره شوے وو. د مولانا شرف الدین توامه حالات ځان له جدا په کومه تذکره

کښې نه شي موندلے. صرف مخدوم الملک او مخدوم محمد شعيب يئے تذکره کړے دے. او د دغے نه علاوه د مخدوم الملک د تذکرے په ضمن کښې يئې ځاي په ځاي زکر راغلے دے.

د ۷۰۰هـ تر ۷۲۵هـ د زمانے په خواؤشا کښې د دهلي په عالمانو کښې مونږ ته يو داسے نوم په نظر راځي. چه په هغه باندے د شرف الدين توامه قدس سره شک کيدلے شي. چه هغه به هم دا وي. او دغه نامور شخصيت د سلطان بلبن د زمانے مولانا شرف الدين الوالجي عليه الرحمة دے. جناب صباح الدين عبدالرحمان پخپل کتاب "بزم مملوکيه کښې ليکي دي. چه حضرت مولانا شرف الدين الوالجي د عالمانو په ډله کښې مقتدر عالم وو. ډير لوئ. فقيهه وو. چه په دهلي کښې د فقهه درس د پاره زيات شهرت يئے لولو. "فتاوي الوالجي" د دوئ مشهور او مستند تاليف دے. سلطان بلبن د حضرت مولانا شرف الدين توامه ډير زيات قدر او عزت به کولؤ. د دغے نه علاوه د دهلي په عالمانو کښې د شرف الدين په نامه بل کوم يو عالم د دومره لوئ عالمي استعداد او فضيلت خاوند نه دے تير شوے. د کوم علمي تجراو فضيلت ستائينه او نسبت چه حضرت مخدوم الملک او مخدوم محمد شعيب د حضرت شرف الدين توامه ذات مبارک ته کړے دے. په دے وجه دا خيال پيدا کيږي چه شرف الدين توامه او شرف الدين الواجي دواړه نومونه به هم د دغه يو عالم وي. چه د دهلي نه د بهار په لاره سورنار کاؤ ته يئے تشريف وړے وو. په نوم کښې فقط د

تـوامـه. او الـوالـجي فـرق دے. لـيكن پـه تـاريـخ كـښې د ډيـرو داسـے عـالـمـانـو نـومـونـه مـوجـود دي. لـكه حضرت خـواجـه مـعـين الـديـن حسن پـه اجـمـيـري چـشـتـي. سـنـجـري دره واړه نـسـبـتـي نـومـونـو او لـقـبـو نـو سـره مـشـهـور دے. يـا لـكـه حضرت مـخـدوم الـمـلـك شـرف الـديـن مـتـيـري چـه پـه بـهـاري. فـردوسـي. او مـنـري دره واړه لـقـبـونـو سـره شـهـرت لـري. پـه دے وجـه د تـوامـه او اولـوالـجي. لـقـبـونـو تـر مـنـځـه فـرق دومـره لـوئ فـرق نـه پـيـدا كـوي. او ځـكـه مـونـږ اووئـيـل چـه كـيـدے شي چـه دا دوړه هـم د يـو عـالـم لـقـبـونـه وي. د دے نـه عـلاوه د دوئ دغـه لـقـب تـوامـه تـوالـه هـم زكـر شوے دے. پـه ځـنـے تـذكـرو كـښې تـوامـه او پـه ځـنـے كـښې تـوالـه راغـے دے. پـه هـر حـال پـه سـونـار گـاؤ مـشـرقـي پـاكـسـتـان كـښې د دے نـامـور عـالـم بـنـاء كـړے مـدرسـه او د دوئ شـهـره آفـاق تـالـيـف "نـام حق" د دوئ داسـے فـيـض دے. چـه د آسـام نـه تـر آمـور پـورے پـه بـرصـغـيـر پـاك و هـنـد او افـغـانـسـتـان كـښې ټـولـو مـسـلـمـانـانـو تـه يـو شـان رسـيـدلـے دے. اورسـيـږي او دا يـو داسـے روحـانـي تـړون دے. چـه د بـخـارا او سـونـار گـاؤ تـر مـنـځـه فـاصـلـے يـئـے رالـنـډے كـړي دي. عـلـيـه الـرحـمـة والـغـفـران.

حضرت شيخ جلال الدين تبريزي

(مشرقي پاکستان) ۷۴۸هـ

دحضرت شيخ المشائخ شاه ابو القاسم جلال الدين تبريزي عليه الرحمة نوم د مشرقي پاکستان د ابتدائ دور په مسلمانانو عارفانو مبلغانو کښې ډير ښکاره دے. دے د قونيه د مشهور بزرګ حضرت شيخ ابو سعيد تبريزي عليه الرحمة مريدوو. او د حضرت شيخ الشيوخ خواجه شهاب الدين سهروردي خليفه وو.

مونږة مخکښې د خواجه بزرګ معين الدين حسن چشتي اجميري په تذکره کښې مختصراً د ده زکر کړے دے. حضرت شيخ جلال الدين تبريزي د برصغير پاک او هند په نامورو بزرګانو کښې شمارلے شي. د خپل وخت عالمانو بزرګانو اميرانو او بادشاهانو به يئے ډير زيات قدر او عزت کؤلو.

وئيلے شي چه دے په اول سر کښې لوئي د دبدبه او شان او شوکت لرونکے بادشاه وو. مګر چه زړۀ يئې د خدائي په مينه روښانه شه. نو بادشاهي يئے ځوي ته حواله کړه. د حضرت شيخ الشيوخ خواجه شهاب الدين عمر سهروردي په دربار کښې حاضري

شه. لاس نیوه یئے تړینه اوکړه. او ورپسے اوه کاله یئے د خپل دغة پیر طریقت په خدمت کښې تیر کړل. او د شریعت او طریقت ټول رموز یئے د هغوئ نه زده کړل. په دغه نیټه چه دے د خپل پیر طریقت په حضور کښې په بغداد کښې وو. حضرت خواجه بهاء الدین ذکریا ملتاني بغداد شریف ته راغلے وو. او د حضرت خواجه شهاب الدین شهروردي نه یئې لاس نیوه کړے وه. او هم دغلته د حضرت خواجه جلال الدین تبریزي او خواجه بهاء الدین ذکریا ملتاني ترمنځه خوږه دوستانه جوړه شوے وه. او د پیر په صحبت کښې داوه کاله زمانے تیرولو نه روستو حضرت خواجه جالال الدین او حضرت خواجه بهاء الدین ذکریا د دنیایے اسلام ایران. ترکي عرب وغیره سیاحت له روان شوي وو. د سیاحت په دوران کښې چه حضرت خواجه جالال الدین تبریزي د حضرت خواجه فرالدین عطار سره لیدل اوشول نو د دغة واقعے نه روستو حضرت خواجه بهاء الدین. ذکریا ترینه بیل شه ملتان ته یئے تشیرف رراوړلو. او حضرت خواجه جالال الدین تبریزي یو ځل بیا بغداد ته راغے. ورپسے څه زمانه روستو حضرت خواجه جلال الدین تبریزي. حضرت خواجه او حدالدین کرماني او حضرت خواجه قطب الدین بختیار کاکي علیهم الرحمة د دے واره ملګري شول ملتان ته راغلل او دلته یئے څه زمانه د حضرت خواجه بهاء الدین ذکریا سره تیره کړله. لکه چه وړاندے ذکر شوے دے حضرت خواجه فرید الدین ګنج شکر ه دغه ورځو کښې په ملتان

کښې د حضرت خواجه بهاء الدین ذکریا په درس کښې دیره وو. سبق یئې لوستلو بیا چه څه وخت حضرت خواجه او حد الدین کرماني واپس بغداد ته روان شه او حضرت خواجه فرید الدین ګنج شکر هم ورسره ملګرے بغداد ته لاړلو. او حضرت خواجه قبط الدین بختیار کاکي د لاهور په لاره دهلي ته روان شه. نو حضرت خواجه جلال الدین تبریز علیه الرحمة د ملتان نه واپس غزني ته لاړلو دا واقعات د ۵۸۶هـ او ۶۰۰هـ د منځ زمانے دي.

داسے معلومیږي چه د غزني نه بیا دوباره د سلطان شهاب الدین غوري سره په ۶۰۱هـ کښې برصغیر پاک او هند ته راغلے دے. په لاهور او ملتان کښې د دوئ د دوباره قیام صحیح تاریخونه راته تر اوسه پورے معلوم شوي نه دي. البته دومره معلومه ده. چه د سلطان شمس الدین التمش په زمانه (۶۰۷هـ تر ۶۳۳هـ) کښې دهلي ته راغلے وو. او څه زمانه یئے دلته تیره کړے وو د دهلي ته بیا بدایوان ته لاړلو. او دغلته د څه مودے تیرولو نه پس بنګال ته یئې تشریف یوړلو. د بنګال په مشرقي او مغربي دواړو حصو کښې په مختلفو مقاماتو کښې یئې تبلیغ او کړلو. په زرګونو غیر مسلم خلق د دوئ په لاس مسلمانان شول. او د هندو مذهب ډیر لوئ لوئ پنډتان د دوي سره د بحث مباحثے کولو نه روستو د دوئ معتقد او په ایمان مشرف شول. د بنګال په زمکه باندے سلسله عالیه

سهرور دیه له دوئ فروغ ورکړے وو. حضرت شیخ جلال الدین تبریز د علم او معرفت او کشف او کرامت لرونکے بزرګ تیر شوے دے.

په بنګال کښې "هلاوت مصر" نومے یو هندو پنډت تیر شوے دے. هغه یو کتاب لیکلے دے. د هغے نوم "شیخ سهبودیا" (یعنے شیخ فیضر سان عالم) په دے کتاب کښې یئے د حضرت شیخ جلال الدین تبریزي د کرامت او خلاف عادت کارونو حالاتو په تفصیل سره بیان کړي دي. دا کتاب په سنسکرت ژبه کښې دے. څه زمانه کیږي د بنګالئ ژبے یو فاضلي عالم ډاکټر "سیوکمارسین" په بنګالئ ژبه کښې د دے کتاب ترجمه شائع کړے ده. د دغے نه علاوه د بزرګانو د حالاتو چه هر څومره تاریخونه او تذکرے دي. په هغے ټولو کښې د دوئ حالات لیکلي شوي دي. مولانا عبدالحق محدث دهلوي پخپل کتاب اخبار الا خیار کښې او مشهور سیاح ابن بطوطه پخپله سفر نامه کښې د دوئ ذکر په تفصیل سره کړے دے. چه دلته د پورته ذکر شوو مختلفو تذکرو نه په اختصار سره د دوئ حالات اقتباس کوؤلے شي.

روایت دے چه څه وخت دوئ دهلي ته را اوسیدل نو چار چاپیره یئے آوازه خوره شوله. د دهلي ښهر ټول خلق پرے رامات شه. پخپله سلطان شمس الدین التمش هم د خپلو درباري او حکومتي مشرانو سره د دوئ سلام له ورغے او په شاهانه طریقه سره یئې د دوئ د میلمستیا او دیرے انتظام او کړلو.

حضرت شیخ جلال الدین تبریزي چه قرارے اونیوه نو د حضرت شیخ قطب الدین بختیار کاکي لیدلوله ورغے. هغوئ چه د دوئ د راتلو نه خبر شول نو مخے له ورله راغے او په ډیر محبت او عزت سره یئے خپلے دیرے او خانقاه ته بوتللو په دهلي کښې د دے دواړو بزرګانو په وجه د طریقت او معرفت محفلونه نور هم ګرم شول. د حضرت شیخ شهاب الدین سهروردي مشهور خلیفه حضرت قاضي حمید الدین ناګوري هم په دغه ورځو کښې په دهلي کښې وه او د دوئ نه صحبتونو کښې به شامل وو. مخکښې د خواجه غریب نواز په تذکره کښې دا بحث تیر شویدے. چه هر کله په بغداد شریف کښې خواجه بزرګ خپل نامور خلیفه حضرت قطب الدین بختیار کاکي ته بیعت ورکؤلو او په دغه موقع کوم مشاهیر بزرګان موجود وو. یو په هغوئ کښې حضرت شیخ جلال الدین تبریزي هم وو. بلکه دا چه حضرت خواجه بزرګ غریب نواز او حضرت خواجه جلال الدین تبریزي دواړو د حضرت خواجه ابوسعید تبریزي نه فیض حاصل کړے وو. چنانچه د دے حقائیقو او واقعاتو په رنړا کښې دا اندازه لګول اسانیدے شي چه حضرت قطب الدین بختیار کاکي چه د حضرت جلال الدین تبریزي ډیر زیات عزت او احترام کولو د هغے وجه دا وه چه حضرت جلال الدین تبریزي د حضرت قطب صاحب د پیر طریقت حضرت خواجه بزرګ پیر بهاءي او ملګرے وو. او د دغے نه حضرت سلطان شمس الدین التمش یئے زیات قدر عزت او احترام ځکه کؤلو چه

سلطان شمس الدين التمش عليه الرحمة د حضرت قطب الدين بختيار كاكي عليه الرحمة مريد وو. او د دے نه اندازه لګيدلے شي. چه هر کله د دهلي روحاني پيشوا حضرت جلال الدين تبريزي دومره زيات اخترام کؤلو. نو چه د دهلي د عوامو او خواسو ټولو په زړونو کښې به د دوئ څومره قدر او منزلت وو. ليکن د خدائ شان دے. په هره يوه خبره کښې استشناء وي. هم په دغه دهلي کښې د حکومت صدر الصدور او قاضي القضاة شيخ الا سلام نجم الدين صغري يو داسے انسان وو. چه هغه اوله د قطب الا قطاب قطب الدين بختيار کاکي په راتللو بيا د قاضي حميد الدين ناګوري په راتللو او بيا د حضرت شيخ شاه جلال په راتللو او د قدر او اخترام په دومره اوچت اعزاز موندلو خفه او زهير وو. د دے بزرګانو سره يئے په زړهٔ کښې بعض او کينه پيدا شوه. شيخ نجم الدين صغرى او لګيده د خپل بعض اوکينے په وجه يئے يو سازش جوړ کړو. ليکن د هغے سازش نتيجه آړولے او خته پخپله شيخ نجم الدين صغري پړے ذليله شه او د حضرت شيخ جلال الدين تبريزي عليه الرحمة د عظمت او بزرګئ درجه نوره هم اوچه او مشهوره شوه.

دا واقعه داسے وه. چه څه وخت حضرت شيخ جلال الدين تبريزي عليه الرحمة دهلي ته را اورسيده. نو شهنشاه التمش په ډير عقيدت او احترام سره د دوئ استقبال اوکړلو. او د خپل شاهي محل سره نزدے په يوه بالا خانه کښې ئيے د دوئ دا ستوګنے د

پاره انتظام اوکړلو. لکه چه مخکښې ذکر اوشه. یو خواته د بادشاه د طرف نه یئے دومره قدر او عزت وو. او بل خواته یئے په ټول دهلي ښهر کښې له حد نه زیات عزت او احترام وو. چه هر څومره عالمان او مشاءیخ وو هغوئ به د دوئ قدمبوسي خپل سعادت ګنړلو. لیکن په دغه زمانه چه د دهلي کوم شیخ الا سلام یعنے صدر الصدور یا قاضي القضاة شیخ نجم الدین صغری نومے وو. فقط هغه یو داسے سړے وو چه د هغه په زړهٔ کښې د حضرت شیخ جلال الدین تبریزي په خلاف کینه او خسد پیدا شه. چه دا خلق ولے د دے میلمه بزرګ دومره قدر او عزت کوي. او په څه طریقه یئے د دوئ د بدنام کولو کوشش شروع کړو. یوه ورځ په داسے وخت کښې چه حضرت شیخ جلال الدین تبریزي د سحر د نمانځه نه فارغ شوے دے. پخپله بالا خانه کښې ملاست دے. او یو مرید ورله چاپي کوي. چه په دغه منځکښې نجم الدین صغری اولګیده. سلطان شمس الدین التمش ته یئے اووئیل حضور تاسو ورته اوګورئ. شیخ جلال الدین د جمع نمانځه له رانغے. او په یو ښائسته غلام باندے چاپي کوي. سلطان شمس الدین التمش د دے خبرے په آوریدلو باندے شیخ الاسلام ته په قهر شه. زورنه یئے ورله ورکړه. چه ته ځان ته صدر الصدور (شیخ الا سلام) وایئے. او سره د دغے نه داسے غیر ذمه دارانه خبرے کوے. او په نیکانو خلقو بدګماني کوے.

چه په دغے اونه شوه. نو شیخ الا سلام داسے کار اوکړلو چه د حضرت شاه جلال

الدین تبریزي په خلاف یئے یو ګنده سازش جوړ کړلو. او هغه دا چه یوې ډمے او فاحشه ښځے له یئے بډے او رشوت ورکړو. او هغه یئے دیته تیاره کړه چه په حضرت شاه جلال الدین تبریزي باندې د زنا او بدکارۍ الزام اولګوي. چنانچه ډمه راغله. د بادشاه په دربار کښې یئې فریاد او درخواست پیش کړو او د شیخ الاسلام د ښودلے. مشورې او سازش مطابق یئے په حضرت شاه جلال الدین تبریزي باندې دغه الزام اولګولو. معاملے ډیر نازک او سنګین صورت اختیار کړلو. اګر چه د سلطان شمس الدین التمش دا یقین وو. چه د حضرت شاه جلال الدین قدس سره لمن د دې داغ نه پاکه ده. لیکن مشکله داوه. چه هغه فاحشه ښځے کلکه دعوی کوله پخپله یئے اقرار کولو. او چغے یئےوهلے او دا یوه داسے خبره وه چه د دې فیصله لازماً شریعت مطابق پکار وه.

آخر بادشاه دسے کار اوکړو. چه په هغه زمانه چه د هغه په سلطنت کښې هر څومره مشهور عالمان او مشاءیخ موجود وو. د هغے ټولو یوه جرګه یئے رااوغوښتله. ه دغه سلسله کښې بیا شیخ الا سلام نجم الدین ذکریا دې هم راوغوښتلے شو. او هم هغه دې د عالمانو او بزرګانو د دې جرګے صدر مقرر کړلے شي. چه دا شریعت هغه فیصله کړي. چنانچه خاص هم د دې غرض د پاره حضرت شیخ بهاء الدین ذکریا قدس سره ملتان نه دهلي ته رااوبللے شه او هغه راغے.

دلته دا یادلرل پکار دي چه شیخ الا سلام نجم الدین صغری چه دا تجویز پیش کړے وو. چه شیخ بهاء الدین ذکریا دے د دے مجلس صدر وي. په دغے کښې د ده یو پټ غرض وو. او هغه دا وو چه: ده ته معلومه شوے وه. چه اګر چه شیخ شاه جلال الدین تبریزي او خواجه بهاء الدین ذکریا ملتاني دواړه د حضرت شیخ الشیوخ شهاب الدین سهروردي خلیفه ګان دي. لیکن د څه مودے راسے د دوئ دواړو پخپل منځ کښې تعلقات ښه نه دي. خفګان هم د خواجه بهاء الدین ذکریا پیدا شوے دے. او هغه د خواجه جلال الدین نه خفه شوے دے. او تر دے حده رسیدلے دے چه د دواړو تر منځه خبرے اترے سوال جواب هر څه بند دي. په دے وجه نجم الدین صغری په زړهٔ کښې دا سودا جوړه کړے وه. چه شیخ بهاء الدین ذکریا چه راشی او د شرعیت د مجلس صدر شي. نو چونکه دے د شیخ جلال الدین تبریزي نه خفه دے. په دے وجه خامخا به د شیخ جلال الدین په خلاف فیصله اوکړی. او په دے طریقه سره به د ده سازش کامیاب شي او په شاه جلال الدین چه ده کوم الزام لګولے دے هغه به ثابت شي.

حضرت شیخ المشائیخ خواجه بهاء الدین ذکریا ملتاني او د وخت ټول عالمان او مشائیخ راغلل د فیصلے عدالت او مجمع جوړه شوه. فاحشه ښځه ډمه حاضره شوه. او په حضرت شیخ، شاه جلال الدین تبریزي قدس سره پسے د حاضریدلو حکم او لیږلے شه. چه څه وخت حضرت شیخ جلال الدین تبریزي مجلس ته راښکاره شه. او خپلو پنړو او کښلو ته

يـئے لاس كړو. چه مجلس تـه را ننوځي. چه پـه دے كښې د حضرت خواجه بـهاء الـديـن ذكـريـا ورتـه فـكر شه. سمدستي پـاسيده. بے اختيـاره يـئے ور منډه كړلـه. او د حضرت شاه جلال الـديـن پـنړے يـئے پـه دواړو لاسونـو را اوچتے كړلے. او پـه ډير ادب او تـعظيم پـه حضرت شيخ شاه جلال الـديـن پسے لـكه د شاګردانـو او مـريـدانـو روستو راروان شه. حضرت مـوصوف يـئے مخامخ مـنبـر تـه اورسؤلـو. د مشرۍ پـه ځاي يـئے كښينولـو. او حضرت شيخ ذكريـا پـه ډيـر ادب سره. د هغوئ پـه مخكښې كښيـنـاست.

حضرت خواجه بـهراء الـديـن ذكر يـا چه د ټـول حـاضريـن مجلس او بـادشاه پـه موجودګئ كښې پـه كومه بے اختيـاره طريـقـه د حضرت شيخ جلال الـديـن تـبـريـزي ادب او اخترام او كړو پـه هغے بـانـدے د ټـولـو دا يـقيـن راغے. چه هر كلـه حضرت خواجه بـهاء الـديـن ذكـريـا يـو جليـل الـقـدر بـزرګ دے. ولـي الـلـه دے. د كشف او كرامت خاونـد دے. او د ديـني علمونـو بے مثالـه عالـم هم دے. او دے د شيخ شاه جلال الـديـن تـبـريـزي دومره ادب او احتـرام كوي. نـو دے كلـه هم دے قسم فحش ګنـاه ارتـكاب نـه شي كوؤولے. چنانچه پـه دغه منځكښې سلطان شمس الـديـن الـتمش راپـورتـه شه او ځان يـئے ديـتـه جوړ كړلـو. چه پـه غيـر د څه اثـبـات ثـبـوت د حضرت شيخ جلال الـديـن تـبـريـزي د بے ګنـاهئ اعلان اوكړي. مګر حضرت خواجه بـهاء الـديـن ذكريـا چونـكه پـه دغه وخت د شريـعت د دے مجلس صدر مقـرر شوے وو. هغه بـادشاه تـه اوويے. تـاسو آرام اوكړئ تـا دي مه كوئ. اوس چه شريـعت مقـرر شوے

دے. نو دا ضروري ده. چه هر څه فیصله شریعت برابر اوکړلے شي. کومے فاحشه زنانه چه دعوي کړے ده. هغه به خپل بیان اوکړي او د هغے په موجب به د شریعت حکم واوره ولے شي. چنانچه بادشاه په خپل ځاي کشیناست او ټول مجلس دم خدشه.

د دے نه پس حضرت شیخ المشائیخ بهاء الدین ذکریا ملتاني حکم او فرمائیلو چه کومے ښځے په حضرت شاه جلال الدین باندے الزام لګوؤلے دے. هغه دے راوړاندے کړلے شي. چه هغه ښځه مجلس ته حاضره کړے شوه. او حضرت شیخ ذکریا ته مخامخ شوه. نو په هغے باند یو قسم له هیبت راغے. لړزان پرے اولګیده. او په ډک مجلس کښې یئے د شیخ الا سلام نجم الدین صغری د سازش ټول حال بیان کړلو.چه په دے جوړیئے پنځه وه دیناره د فلانکي بقال په مخکښې رشوت راکړے دے. او هم دے شیخ الا سلام راته ښود نه کړے ده. او زهٔ یئے دیته جوړه کړے یم چه په حضرت شاه جلال الدین باندے په دروغه سر دا الزام اولګوؤم. چنانچه هغه بقال هم را اوغوښتلے شه تپوس ترے اوشه.هغه هم تائید اوکړو چه د دے ښځے له شیخ الا سلام رشوت ورکړے دے.

چه څه وخت ښځے د شیخ الا سلام نجم الدین صغری د سازش دا قیصه شروع کړه. نو په هغه باندے بد حال راغے. لړزان پرے ګډ شه. او بے هوشه پریوت. سلطان شمس الدین القش په هغه وخت حکم اوکړلو. د شیخ الا سلام د عهدے نه یئے موقوف کړلو. او حضرت

شیخ المشائیخ بهاء الدین ذکریا ته یئے
درخواست اوکړو چې د شیخ السلام دا منصب
اوس تاسو قبول کړئ. او په دے شان سره د
حضرت شیخ شاه جلال الدین د بزرګی او
کرامت آوازه خوره شوله.

لیکن د دے پورتنئ واقعے په پیښیدلو
د حضرت شاه جلال طبیعت ډیر زهیر شه لړے
ورځے پس د دهلي نه روان شه بدیوان ته
یئے تشریف یوړلو. او د تللو په وخت کښې
یئے دا او فرمائیل:. چه څه وخت زهٔ دهلي
ته راغلے ووم دلته هر څه سره زر وو. اوس
هر څه سپین زر دي". بدیوان په هغه زمانه
لکه د پیښور. ملتان. دهلي. اجمیر په شان
اهم ښهر وو. د سهروردیه طریقے ګنړ
بزرګان هم دلته د پخوانه موجود وو. په
دغه وجه حضرت شیخ جلال الدین دلته تشریف
راوړے وو. د بد یوان د حاکم قاضي کمال
الدین نوم وو. هغة د حضرت شیخ جلال الدین
نه لاس نیوه اوکړه. د قاضي صاحب ځوئ شیخ
برهان الدین یئے هم مرید شه. چه روستو د
اوچتے مرتبے بزرګ وو. حضرت مولانا
عبدالحق دهلوي پخپل کتاب اخبار الا خیار
کښې لیکي:. په کومو ورځو کښې چه دوئ په
بدیوان کښې وو. دغلته یو هندو ګوجر وو.
چه په اصل کښې د ډاکے مارانو سردار وو.
هغه د حضرت شیخ جلال الدین تبریزي په لاس
توبه اوښکله او مسلمان شه. هغه درے لکه
روپئ (چیتل) د لوټ مار په ذریعه جمع کړے
وے. هغه ئې راوړے د حضرت شیخ په خدمت
کښې یئې ډیرے کړے. حضرت شیخ ورته او
فرمائیل چه دا ټول رقم واخله او په

غریبانو یئے خیرات کړه. د مسلمانیدلو نه پس د دغه هندو ګوجر نوم علي مالا کیښودلے شوے وو. چه روستو د ډیرے لوئے مرتبے خاوند شوے وو. او د حضرت شاه جلال الدین په مشهور خلیفه ګانو کښې شمیرلے شي.

په خزینة الا صفیاء کښې د دوئ د وفات کال ۶۳۸هـ ښودلے شویدے. او په کتاب "تاریخ اولیاے هند" کښې د حضرت شیخ شاه جلال الدین تبریزي د وفات کال ۶۳۱هـ ښودلے شوے دے. لیکن د ابن بطوطه د روایت مطابق دوئ دیو سل پنځوس کالو (۱۵۰) په عمر په ۷۴۳هـ کښې وفات شوي دي. د خزینة الا صفیاء او "تاریخ اولیاء هند" دواړو روایتونه صحیح نه دي. ځکه چه د دغه ۲۳۱۰هـ او ۶۳۸هـ نه تر ډیرے روستو مودے د شاه جلال ژوند یقیني دے.

ابن بطوطه پخپله سفر نامه کښې لیکي چه دوئ ته خدائي پاک ډیر لوئ عمر ورکړے وو. حضرت شاه جلال ماته پخپله قیصه کړیده. چه د خلیفه مستعصم عباسي د قتل په وخت کښې دوئ په بغداد کښې موجود وو. بیا ابن بطوطه چه د مشرقي پاکستان نه روان شه او د انډوینیشیا د سیاحت نه روستو چین ته اورسیده. نو ده ته هلته د حضرت شیخ جلال تبریزي د وفات خبر رسیدلے وو. لیکي چه څه زمانه پس د هغوئ په مریدانو کښې د یو مرید سره هم دغلته په چین کښې ځما ملاقات اوشه او هغه راته اووے. چه د حضرت شاه جلال وصال شوے دے. د

هغوئ عمر يو نيم سو (۱۵۰) كاله وو. د عمر په روستنو ځلويښتو كالو كښې به شامدام روژه وو. او افطار به ئيے هر لس ورځے پس كولو. يوه غوايئے ساتلے وه. صرف د هغے په پئ او شودوبه يئے روژه ماتوله. او اكثر به يئے هر لس ورځے پس افظار كولو. روغه روغه شپه به په نمانځه ولاړ وو. شوګيره به يئے فرمائيله.

ابن بطوطه د حضرت شيخ جلال الدين تبريزي عليه الرحمة د بعض داسے كرامتونو ذكر هم كړے دے. چه هغه كرامتونه ده پخپلو ستركو ليدلي دي. ليكن د ابن بطوطه دا بيان په تاريخي اعتبار سره ډير عجيبه دے. د دے نه ګنړ سوالونه پيدا كيږي. او د هغے حل كوؤل ځكه ضروري دي. چه د بعض نورو تاريخي تذكرو او د ده د بيان تر منځه چه كوم فرق دے چه هغه واضحه شي.

خبره داسے ده. چه د عباسيه خاندان ۳۷ حكمران خليفه مستعصم بالله په۶۴۰ هـ كښې بادشاه شوے او په ۶۵۶هـ كښې شهيد كړے شوے وو. كه د ابن بطوطه دا روايت صحيح او منلے نو د دے مطلب داشه چه شاه جلال د۶۵۶ هـ ته روستو هندوستان ته راغلے وو. حالانكه پورته چه كومه واقعه بيان شوله. د هغے له مخه دے د سلطان شمس الدين التمش په زمانه كښې راغلے وو او سلطان التمش په ۶۰۷هـ كښې بادشاه شوے او په ۶۳۳هـ كښې وفات شوے دے. كه شاه جلال په ۶۵۶هـ كښې راغے فرض كړے وو. نو بيا

دا تلمش په زمانه کښې د دغه پورتنئ واقعے پیښیدلو امکان نه شي کیدلے. حالانکه دغه واقعه یقیني ده. او پیښه شوے وه. البته دا امکان کیدلے شي چه شاه جلال د دهلي راتللو نه روستو یو ځل بیا بغداد ته تلے وي. او د خلیفه مستعصم باللہ د شهادت په زمانه کښې به دے هلته موجود وو. لیکن د دے سره د ابن بطوطه دا وینا چه دے په ۷۴۳هـ کښې وفات شوے دے. او د وفات په وخت کښې دوئ عمر (۱۵۰) کاله وو. دا خبره نه واضحه کیږي. ځکه چه که مونږه په ۷۴۳هـ کښې یعنے د وفات په وخت کښې د دوئ عمر ۱۵۰کاله اوګنړو. نو په دغه اعتبار د دوئ د ولادت کال ۵۹۳هـ کیږي. حال دا دے چه مخکښې د خواجه بزرګ په تذکره کښې په تفصیل سره په دے بحث کړے دے. چه په ۵۸۴هـ کښې خواجه شاه جلال تبریزي په بغداد کښې موجود وو. او د خواجه شهاب الدین سهروردي نه یئے بیعت کړے وو. او دا عقل نه اخلي چه په ۵۹۳هـ کښې پیدا شوے د نهه کالو ماشوم دے په ۵۷۴هـ کښې خلافت حاصل کړے وي. او بله دا چه په ۶۰۳هـ کښې د قطب الدین بختیار کاکي او شیخ او حد الدین کرماني په ملګر تیا کښې ملتان ته د دوئ راتلل او بیا غزني ته تلل یئے هم یقیني دي. نو ځکه مونږ په ۵۹۳هـ کښې د دوئ پیدا کیدل نه شو منلے. په دے ټولو خبرو چه غور اوکړو نو دا وئیلے شو چه د ابن بطوطه په بیان کښې به د کتابت په غلطئ سره د "وکان

عمره اذا ماه و تسعين. په ځاي. ماة و خمسين" ليکلې شوې دي. يعنې ابن بطوطه په يوسل نوي کاله ليکلې وو. او په کتابت کښې به يوس پنځوس کاله شوې وي. که څمونږ دا توجيهـ او منلې شي نو بيا په دې اعتبار د دوئ د پيدائش کال ۵۵۳هـ جوړيږي. او پورته چه کوم تاريخ مشکلات بيان شول هغه نه پيدا کيږي.

د حضرت شاه جلال تبريزي عليه الرحمة مزار مبارک په سلهټ کښې دې. روايت دې چه بنګال حکمران سلطان شمس الدين فيروزشاه په ۶۹۹هـ مطابق ۱۳۰۳ء کښې هم د دوئ د هداياتو او ارشاداتو په مطابق په سلهټ نومې ملک باندې جهاد کړې وو. او د دې سلهټ (موجوده مشرقي پاکستان) په دې جهاد کښې حضرت شاه جلال تبريزي عليه الرحمة پخپله هم د فقيرانو او مشائخو د يولوئ جماعت سره شامل وو.

سلطان علاؤالدين علي شاه په پنډوه (مغربي بنګال) کښې د حضرت شاه جلال تبريزي يو "درګاه" جوړ کړې دې. د دې په حقله د کتاب "رياض السلاطين" مؤلف ليکي: چه په کومو ورځو کښې سلطان علاء الدين علي شاه د بنګال فتح کولو د پاره راروان وو. نو حضرت شاه جلال تبريزي په هغه باندې په خوب کښې حضور شه. په بنګال باندې د بادشاه کيدلو زيرې يئې ورته ورکړو. او ورسره يئې ورته دا او فرمائيل. چه ځما د پاره يو مکال "درګاه" "خانقاه"جوړ کړه. مګر چه څه وخت سلطان

علاء الدين علي شاه بادشاه شه. نو په خپله عيش و عشرت کښې مصروف شه. او د حضرت شاه جلال هغه هدايات ورنه هير شول .څه ورځې پس بيا په خوب کښې ورته شاه جلال عليه الرحمة د دغه "خانقاه" د تعمير کولو حکم او فرمايه. او د هغې د پاره يئے ورته ځاي په نخښه کړو. چه په فلانکي ځاى کښې يئے جوړه کړه. په صباله چه سحر سلطان علي شاه د خوب نه پاسيده. نو د هغه ځاي په تلاش کښې روان شه. چه حضرت شاه جلال ورته په خوب کښې د هغې نښه ورکړے وه. د هغې نه روستو يئے په هغه ځائ باندے يو شاندار "خانقاه او درګاه" جوړکړلو. چه نن ورځے هم په پنډوه (مغربي بنګال) کښې موجود دے. او "بړي درګاه "يعنے" لوئ دربار" ورته وئيلي شي.

دا ډير متبرک "درګاه" دے. په هر زمانه کښې د خدائي مخلوق پرے رامات وي. زيارت له يئے راځي. د اميرانو سلطانانو او حکمرانانو د طرف نه د دے د غور او مرمت خيال ساتلے شي. او زيارت يئے کوي. دا مکان. عمارت يادګاره. خانقاه. درګاه په اصل کښې په هغه ځائي باندے جوړ شوے دے. چه په دغه ځائ باندے حضرت شاه جلال په ژوند کښې عبادت او رياضت کړے وو. او چلے يئے اوکښلے وے. او لکه چه مخکښې ذکر او شه د دوئ اصلي مزار په سلهټ مشرقي پاکستان کښې دے.

د بعض خلقو دا خيال دے. چه شاه جلال تبريزي او شاه جلال سلهټي دوه جدا جدا

شخصيتونه دي. او ځان له بيل بيل بزرګان دي. او د "ابن بطوطه" ملاقات هم د دغه حضرت شاه جلال سلهټي سره به شوے وي. ليکن دا خيال صحيح نه دے. ځکه چه ابن بطوطه چه په کوم تفصيل سره او وضاحت سره د شاه جلال سره د خپل ملاقات حال ليکلے دے. د هغے نه هم دغه ثابتيږي چه په حقيقت کښې شاه جلال تبريزي هم دغه شاه جلال سلهټي دے او دا دواړه نومونه د يو بزرګ دي. بهر حال په بنګال کښې حضرت خواجه شيخ شاه جلال الدين تبريزي عليه الرحمة ته بے پناه مقبوليت حاصل شوے وو. او تر نن ورځے پورے د آسام. مغربي بنګال او مشرقي پاکستان په مختلفو مقاماتو کښې د دوئ بے شميره آثار او تبرکات موجود دي. عليه الرحمة والغفران.

د دوئ په اقوالو او ارشاداتو کښې دا دوه خبرے د يادلولو دي. فرماني.

(الف) هر هغه چا چه صانع يعنے الله تعالى پريښوده او په مصنوع يعنے مخلوق پورے ئے زړهٔ او تړلو نو د هغه انجام داشي چه ريا کار بنده ترينه جوړ شي.

(ب) حضرت شيخ بهاء الدين ذکريا ملتاني عليه الرحمة ته يئے په يو خط کښې ليکلي وو. هر هغه چا چه د زنانه ؤ د کوناټو سره مينه پيدا کړه. هغه کله هم د نجات لار نه شي موندلے.

د حضرت شيخ جلال الدين تبريزي عليه الرحمة دا مبارک ارشاد حضرت عبدالرحمان بابا په يو شعر کښې داسې بيان کړے دے.

په شپه پورت يئے د عورتے په سينه
ياده وے په خوله مکه او مدينه

د اسلام درے ستوري

د ۷۵۲هـ نه تر ۷۶۸هـ په زمانه کښې د بنګال متحده اسلامي سلطنت بيا په درے خود مختاره اسلامي حکومتونو کښې تقسيم شوے وو. او په بيله بيله حصه باندے جدا جدا مسلمان بادشاه وو. چه هر يو د سلطان په نوم بللے شه. او د درے واړو تعلق د دهلي د مرکزي اسلامي حکومت نه قطنع شوے وو.

(۱) په مشرقي بنګال (مشرقي پاکستان) باندے فخر الدين مبارک شاه حکمران وو. او سونار ګاؤ يئے دارالحکومت وو.

(۲) په مغربي بنګال باندے د علاء الدين علي شاه حکومت وو. او سست ګاؤ (هوګلي) يئے دار الحکومت وو.

(۳) او په شمالي بنګال باندے د حضرت حاجي سلطان الياس شاه حکومت وو. هر کله چه د دے درے واړه سلطانانو زمانه يوه ده. او هر يو پخپل خپل سلطنت کښې د خپل خپل وخت د مشاهيرو عالمانو او بزرګانو په ملګرتيا کښې اسلام شاندار خدمتونه کړي دي. او روستو د اکثر بزرګانو په تذکره کښې د دوئ نومونه به هم

یادولے شي. په دے وجه مونږ دا درے واړه سلطانان د اسلام د "درے ستورو" په نامه یاد کړل. او د فائده د زیاتوالي په خاطر دلته مختصراً د هر یو سلطان اوه هغه د جانشینانو تزکره ځان له جدا جدا درج کوؤلے شي.

(۱) حضرت سلطان فخر الدین مبارک شاه

حضرت فخر الدین مبارک شاه په ۷۳۴هـ نه تر ۷۴۷هـ کښې د بنګال په مشرقي حصه (موجوده مشرقي پاکستان) باندے حکمران وو. دارالحکومة یئے سورنا ګاؤ وو. دے ډیرنیک دیندارہ. عادل او غازي سلطان وو. د "چاټ ګام" علاقه د ده په زمانه په دوئم ځل مسلمانانو فتح کړے وه. د دے بنګال د مشهور پیر طریقت حضرت شیخ بدر عالم زاهدي علیه الرحمة مرید وو. (د پیر بدر عالم تذکره به روستو راشي) ښاغلے ډاکټر انعام الحق په خپل تالیف معلومه شوے وه. چه د درویش بدر الدین علامه المعروف "بدرپیر" په هدایت او حکم باندے د سلطان فخر الدین مبارک شاه یو جرنیل حضرت "قدل خان" علیه الرحمة د "چاټګام" غزاله تلے وو. او دغه علاقه یئے فتح کړے وه.

د سلطان فخر الدین مبارک شاه په زمانه کښې د ګجرات او جنوبي هند د نورو علاقو نه ګنر عالمان او مشاءخ او بزرګان بنګال ته راغلي وو. او دلته ئے د

روحانیت او معرفت شمعے یئے بلے کړے وے. چه په هغے کښې د سلسله عالیه قادریه او سلسله عالیه چشتیه مشائیخ خاص طور سره د یادولو دي. او د سلسله عالیه سهروردیه په مشائیخو کښې د حضرت خواجه شاه جلال الدین تبریزي علیه الرحمة نوم ډیر ښکاره دے. لکه چه مخکښې ذکر اوشه حضرت شیخ حلال الدین تبریزي هم د دے فخر الدین مبارک شاه په زمانه کښې بنګال ته راغلے وو. او په سونار ګاؤ. چاټ ګام او نورو ښهرونو کښې څه زمانه یئے تیره کړے وه. او د ابن بطوطه او شیخ جلال الدین تبریزي تر منځه ملاقات هم په دغه زمانه کښې د "ګام روپ" (آسام) په علاقه کښې شوے وو. علیه الرحمة والغفران.

(۲) حضرت سلطان علاء الدین علي شاه

لکه چه مخکښې ذکر اوشه. د مغربي بنګال په علاقه باندے د حضرت سلطان علاء الدین علي شاه علیه الرحمة حکومت وو. دے ډیر نیک دینداره صاحب طریقت او معرفت حکمران وو. دے د حضرت شیخ جلال الدین تبریزي سهروردي علیه الرحمة معتقد او مرید وو. هر کله چه حضرت شیخ جلال په ۷۴۷هـ کښې د فات شولو. او د سهلټ په پنډور نومے مقام کښې دفن کړے شه. نو حضرت سلطان علاء الدین علي شاه پرے پوخ مزار جوړ کړلو. د سلهټ او اسام په علاقو کښې د اسلام رنړا د دے دینداره. عادل او

غازي بادشاه په مجاهد انه کوششونو خوره شوے ده. علیهم الرحمة والغفران.

د حضرت علاء الدین علي شاه په اولاد کښې حضرت سلطان علاء الدین حسین شاه یو ډیر نامور مسلمان بادشاه تیر شوے دے. چه روستو د دے سلطان حسین شاه په مناسبت سره د مشرقي پاکستان او بنګال په تاریخ کښې د سلطانانو دا کورنۍ د "حسین شاهي خاندان" په نوم سره یادیږي. پخپله دے سلطان حسین شاه او د ده نه روستو د دے خاندان نورو سلطانانو چه د بنګال په خاوره ګومره جماعتونه. مدرسے او د بزرګانو زیارتونه جوړ کړي دي. هغه د دے نامور خاندان د اسلامي کارنامو د تاریخ یو زرین باب دے.

د حضرت شیخ غوث منډوي د تالیف "تذکرۀ ګلزار ابرار" د بیان مطابق حضرت سلطان علاء الدین حسین شاه د بهار شریف د حضرت شیخ فخر الدین فخر زاهدي علیه الرحمة عقیدت مند او مرید وو. او بیا د ده فرزند ارجمند محمود ثالث علیه الرحمة چه د ۸۴۶هـ نه تر ۸۵۳هـ پورے په دے ملک حکمران وو. دغه محمود ثالث د حضرت شیخ پیر بدر عالم زاهدي علیه الرحمة معتقد او مرید وو. او د دے خپل نامور پیر سره یئے دومره زیات پر خلوصه عقیدت وو. چه خپل لقب یئے عبدالبدر اختیار کړے وو. او پخپله خطبه او سکه (ضرب) کښې یه یئے هم دغه لقب استعمالولو.

(۳) حضرت سلطان حاجي الياس شاه

د مملکت بنګال په شمالي علاقه باندے د حضرت حاجي سلطان الياس شاه خود مختاره اسلامي حکومت قائم وو. حضرت حاجي الياس شاه د حضرت راجا بياباني او حضرت شيخ علاء الحق معتقد او مريد وو. (د دے دواړه بزرګانو تذکره به روستو راشي) د بنګال په خاوره د مسلمانانو بادشاهانو د کوم خاندان مشر حکمران چه حضرت سلطان حاجي الياس شاه وو. د ده نه روستو په دے خاندان کښې ګنړ نامور سلطانان تير شوي دي. او دا کورنۍ په الياس شاهي خاندان مشهوره ده. د حضرت سلطان الياس شاه نه روستو د دۀ ځوي حضرت سلطان سکندر شاه بادشاه شه. د دے دهلي نه د بادشاه فيروز شاه تعلق همعصر وو. او په ۷۸۶هـ کښې وفات شوے دے. حضرت سلطان سکندر شاه د حضرت مخدوم الملک شيخ شرف الدين بهاري عليه الرحمة معتقد او مريد وو. د هغوۍ سره به يئے خط او کتابت کولو. او په ديني کارونو کښې به يئے د هغوي نه صلاح او مشوره اخيستله.

د حضرت سلطان الياس شاه عليه الرحمة په زمانه کښې په ديناج پور ضلع کښې يو بزرګ او سيده. چه د هغه حضرت شيخ عطا نوم وو. او په ۷۵۱هـ کښې وفات شوے وو. د دے بزرګ په مزار باندے په ۷۷۶هـ کښې سلطان سکندر شاه پوخ زيارت جوړ کړے وو.

چه د هغې په کتبو کښې دا الفاظ درج دي. "قطب الاولياء جيد المحققين سراج الحق والشرع والدين مولانا عطاء عليه الرحمة. (د دې مولانا عطاء نوره تذکره به روستو راشي) د دې نه اندازه ليګيدلې شي چه سلطان الياس شاه او د هغه ځوي سلطان سکندر شاه پخپله زمانه کښې د دين اسلام د بزرګانو او عالمانو سره يوه روحاني رابطه. تعلق او تړون لولو. او د دغه روحاني تړون په وجه د دوئ د مشترکه کوششونو په برکت د بنګال په خاوره د اسلام رنړا ورځ په ورځ خوريدله.

حضرت سلطان غياث الدين اعظم شاه

د حضرت سلطان سکندر شاه د نامور ځوي نوم حضرت سلطان غياث الدين اعظم شاه وو. چه دې د حضرت مخدوم الملک شيخ شرف الدين بهاری د مشهور خليفه حضرت مولانا مظفر بلخي عليه الرحمة معتقد او مريد وو. سلطان غياث الدين د ۷۸۶هـ نه تر ۸۰۱هـ پورې د بنګال په شمالي علاقو باند حکمران وو.

حضرت سلطان غياث الدين لوئ علم پرور بادشاه تير شوې دې. د عالمانو او مشائيخو به يئې ډير قدر کؤلو وجه يئې دا وه. چه دې پخپله فاضل عالم هم وو. او د طريقت او معرفت خاوند هم وو. د دې نه يئې اندازه لګيدلې شي چه د بنګال دوه مشهور بزرګان حضرت قاضي سراج الدين

صديقي او حضرت شيخ نور قطب عالم پنډوي. او پخپله سلطان غياث الدين درے واړه د يو استاذ شاګردان او د يو پير طريقت مريدان وو. (د دے دواړو بزرګانو تذکره به روستو راشي) او هم دا هغه نامور بادشاه تير شوے دے. چه حضرت حافظ شيرازي عليه الرحمة ته يئې بنګال ته د راتللو دعوت ورکړے وو. د دے واقعاتو نه دا اندازه لګيدلے شي. چه څمونږ په مشاهيرو حکمرانانو. سلطانانو او بادشاهانو باندے د عالمانو. مشائيخو او بزرګانو ډير زيات اثر وو. او د هغے په وجه د دے مقتدرو حکمرانانو زيارت وخت به د اسلامي علمونو په اشاعت او د اسلام په تبليغ کښې تيريده. او هم دا وجه وه. چه د دے "روحاني تړون" په برکت د اسلام رنړا په ډيره کاميابئ سره په دغه ملک کښې خوره شويده.

حضرت شیخ سراج الدین عطا ارمړ

انصاري، سهروردي

دیناج پور، مشرقي پاکستان

مخکښې د حضرت شیخ المشائیخ ابراهیم دانشمند ارمړ علیه الرحمة تذکره درج کړے شوے ده. د دوه د ځوي شیخ سراج الدین نوم وو. او دے د حضرت شیخ بهاء الدین ذکریا ملتاني علیه الرحمة خلیفه او ماذون وو. یعنے د خپل پلار د پیر بهائ نه ئې طریقه کړے وه. او خرقه د خلافت یئے حاصله کړے وه. د دے لاس نیوے کولو چه کومه لویه فائده څرګنده شوے وه. هغه داوه چه د حضرت شیخ سراج الدین په وجه د وزیرستان او ملتان دوه روحاني خاندانونه سره یو شوي وو. دوه مشعلونه او دوه رنړا ګانے یو شوے وے. او د کوه سلیمان نه واخله د ملتان. بهاولپور. سندهـ. پنجاب او مشرقي پاکستان پورے ټولے علاقے پرے یو شان روښانه شوے دے.

په کومه زمانه چه حضرت شیخ ابراهیم دانشمند علیه الرحمة بنګال ته تشریف وړے وو. د هغے نه څه زمانه روستو حضرت شیخ سراج الدین هم دغه ملک ته ورغلے وو. او په ۷۱۵هـ کښې وفات شوے دے. د مشرقي

پاکستان په دیناج پور نومے ضلع کښې یو کلے دے. چه د هغے "کنګارام پور" نوم دے. د حضرت مولانا شیخ سراج الدین عطا ارمړ مزار مبارک په دغه کلي کښې دے. پاتے شوه دا خبره چه د دوئ مزار مبارک چه جوړ کړے دے. د هغے د پاره د لاندینے تفصیل د لوستلو دے.

واقعات داسي دي چه د حضرت مولانا سراج الدین عطا د وفات په دغه زمانه په بنګال باندے د سلطان بلبن د ځوي سلطان ناصر الدین بغراخان حکومت وو. چه دارالحکومة یئے لکهنوتئ نوم مقام وو. سطان ناصر الدین بغراخان د سلطان محمد تغلق په زمانه کښې په ۷۲۶هـ کښې چه وفات شه. نو د هغه په ځاي ملک بیدار غلزی له د قدر خان خطاب ورکړے شه او هغه په لکهنؤتي حکمران شه. بیا په ۷۳۹هـ کښې چه د فخرالدین لودهي دلاسه ته _ملک بیدار" الملقب په قدر خان قتل شه. او ورپسے لږے ورځے پس د سلطان قدر خانیو سپه سالار علي مبارک غلزي او لګیده فخزالدین له یئے شکست ورکړو. په لکهنوتي یئے قبضه اوکړه او د سلطان علاء الدین علي شاه په نوم یئے حکومت شروع کړو. نو په دغه پسے لږے ورځے پس د ملک بیدار الملقب په قدر خان د یو بل جرنیل حاجي الیاس دلاسه نه سلطان علاء الدین قتل شه. او په لکهنوتي هغه قبضه اوکړه. بیا په ۷۴۰هـ کښې چه سلطان محمد تغلق په بنګال لشکر کشي او کړه او فخر الدین لودهي یئے قتل کړو. او د

بنګال د لکهنوتي او سنار ګاؤ دواړه حکومتنه یئے حاجي الیاس پنی ته حواله کړل او د هغے نه روستو په ۷۶۰هـ کښې دغه سلطان حاجي الیاس شاه وفات شه او د هغه ځوی سلطان سکندر شاه بادشاه شو. نو هم دغه سلطان سکندر شاه د خپل حکومت په څلورم کال په ۷۶۴هـ کښې د حضرت شیخ مولانا سراج الدین عطاء ارمړ مزار مبارک پوخ تعمیر کړے وو. او د دغه مزار په کتبه یئے د حضرت مولانا عطاء په شان کښې دا القاب درج کړي دي.

"قطب الاولیاء و حید المحققین سراج الحق والشرع والدین بن مولانا عطاء"

د هغے نه روستو د جلال الدین فتح شاه لودهي په زمانه کښې د دوئ په مزار مبارک کښې نوره هم توسیع اوشوه . د دے دویم تعمیر په کتبه کښې۸۸۷ هـ درج ده. په دوئم ځل د سلطان شمس الدین مظفر شاه په زمانه کښې په دے مزار مبارک کښې نور تعمیر کار شوے وو. چه د دغے تعمیر په کتبه کښې ۸۹۶هـ درج ده او دا الفاظ پکښې لیکلي شوي دي:

"مخدوم المشهور قطب الا ولیاء مولانا عطاء قدس سره"

داسے معلومیږي چه په دے مزار کښې د سلطان سید علاء الدین حسین په زمانه کښې هم تعمیري کار شوے دے. ځکه چه د دے بادشاه د زمانے ۹۱۸هـ یوه کتبه هم په

مزار مبارک کښې موجوده ده. او په هغې کښې دا الفاظ ليکلي دي.

حضرت شيخ المشائيخ شيخ عطا قدس سره

د مشرقي پاکستان په مختلفو تذکرو د دوئ حالات نه پيدا کيږي. البته په يو ياداشت کښې داسې ليکلي شوي دي. چه دے په ۷۵۶هـ کښې د حاجي سلطان الياس شاه د حکومت په زمانه کښې وفات شوے وو. ليکن دغه روايت صحيح نه دے.

د حضرت شيخ سراج الدين لملقب په شيخ عطاء د ځوي نوم شيخ محمود عليه الرحمة وو. د دغه شيخ محمود درے ځامن وو. بازيد اول. محمد آمين. زيد آقا. په دوئ کښې د "بازيد اول" درے ځامن وو محمد شيخ. شيخ ابراهيم. عبدالرحيم. روستو د بهلول لودهي سره چه کوم پښتانه قبائل هندوستان له غزاله تلي وو. په هغې کښې د ارمړ قوم خصوصاً برکي قبيلے خلق د جالندهر په علاقه کښې آباد شوے وو. دغازيانو او مجاهدينو په دغه لښکر کښې د حضرت شيخ سراج الدين انصاري ارمړ سهروردي په اولاد کښې حضرت محمد شيخ عليه الرحمة هم شامل وو. چه د جالند هر په علاقه کښې آباد شوے وو. او د خپل قوم او د دغه علاقے د عامو خلقو روحاني پيشوا وو. روستو د دے محمد شيخ ځوئ شيخ عبدالله سهروردي (د پير روښان والد ماجد) هم په دغه علاقه کښې د علوم شريعت او طريقت رهنما او د سلطان ابراهيم لودهي د طرف نه د اقاضي القضاة

په عهده باندے مقرر وو. او چه هر کله په ۹۳۲هـ کښې د سلطان ابراهيم لودهي حکومت واوړيده نو بيا هم په دغه وجه حضرت مولانا شيخ عبدالله دجالندهر نه واپس خپل وطن کاني ګرم (وزيرستان) ته په کډه لاړلو. د تاريخ مخزن پنجاب (جلد دوئم صفحه ۱۹۴) د روايت مطابق په جالدهر دو آب کښې "ارمړ" نومے يوه لويه مشهوره او آباده قصبه اوس هم موجوده ده. اکثر مکانونه يئے پاخه دي. زمکه يئے آباده او نهري ده. دغلے پيداوار يئے زيات دے. او د ښهر يئې د آبادۍ نه باهر يو پوخ ګنبد جوړ دے. په هغے کښې يو کانړے پروت دے. وئيلي شي چه په دے کانړي باندے چه د بنيادم د پښے کوم منډ دے. دغه دحضرت علي کرمالله وجهه د قدم مبارک نقش دے. عام او خاص خلق يئے زيارت له ورځي. په دے علاقه کښې د ارمړ قبيلے نور هم ډير آثار موجود دي او د دے خاندان د يو مشهور بزرګ حضرت شيخ "صدر ديوان انصاري عليه الرحمة مزار مبارک په قصور نومے ښهر کښې موجود دے.

د جالندهر په علاقه کښې چه د ارمړ قوم خصوصاً قبيله برکي کوم خلق آباد وو. لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه. د دوئ سره د حضرت شيخ الا سلام سراج الدين انصاري الملقب په مولانا عطا ارمړ سهروردي د ستانے بزرګان هم دغلته آباد شوي وو. تر نن ورځے پورے چه د "انصاري شيخ" په نوم په جالندهر کښې کوم قام

آباد وو. هغه هم دغه د حضرت مولانا عطاء علیه الرحمة د ستانے ستانه دار وو. چه د تیرو شوؤ اته ؤ سوؤ کلونو راسے یئے په دغه علاقه کښې د اسلام تبلیغ کولو. داسے معلومیږي چه هلته په مشرقي پاکستان کښې د حضرت مولانا عطاء د وفات نه روستو چه په ۷۳۹-۷۴۰هـ کښې د پښتنو حکمرانانو تر مینځه کوم اړے ګړے پیښ شوے وو. او په ۷۴۰هـ کښې د سنار ګاؤ (ډهاکه) مشرقي پاکستان د بادشاه فخر الدین لودهي د مرګ نه پس چه دهغه خو یئے "ظفر لودهي" او نور پښتانه وطن ته را واپس کیدل. نو په دغه کښې د حضرت مولانا عطاء د خاندان افراد خصوصاً شیخ محمود هم ورسره راغلي وو. او بیا چه په ۷۵۸هـ کښې ظفر خان لودهي یو ځل بیا د هند په لوري راستون شوے وو. نو شیخ محمود او د دے خاندان څه نور کسان هم ورسره راغلي وو. بهر حال دا یو مبارک خاندان دے. چه د دے په برکت د وزیرستان پنجاب او مشرقي پاکستان تر منځه داسے "روحاني تړون" قائم شوے وو چه دهغے په وجه د دغه روحاني فیوضاتو او برکتونو نه بے د څه امتیاز او فرق نه هر چا فائیده موندله. علیهلم الرحمة والغفران.

حضرت شيخ راجا بيابانـي

د اتمے صدۍ هجري د نيمائي (۷۵۰هـ) د زمانے کوم مشاهير اولياء الله چه د مشرقي پاکستان او مغربي بنګال په خاوره استوګن وو. په هغوۍ کښې د حضرت مولانا شيخ راج بياباني عليه الرحمة او حضرت شيخ اخي سراج نومونه زيات مشهور دي. چه دلته د دے دواړو بزرګانو تذکره په اختصار سره درج کوؤلے شي.

حضرت شيخ راجا بياباني د دے دور باعظمت او بااثره شخصيت وو. چه په ۷۵۵هـ کښې وفات شوے دے. د دوۍ مختصره تذکره په کتاب "رياض الساطين کښې داسے ليکلے شويده. چه په کومو ورځو کښې د دهلي شهنشاه فيروز تغلق د بنګال په "اکداله" نومے قلعه کښې سلطان حاجي شمس الدين لاياس شاه محاصر کړے وو. نو په دغه دوران کښې يوه ورځ خبر راغے چه حضرت شيخ راجا بياباني د دنيا نه سفر اوکړو. حاجي الياس شاه د دے حضرت شيخ سره ډير زيات عقيدت لرلو. د فقيرانو جامے يئے واغوستلے. د قلعه نه ايکي يواځے په بدله جامه کښې اووت. "ګوړ" نومے مقام ته ورغے. او هلته د حضرت شيخ راجابياباني عليه الرحمة په تجهيز او تکفين او د جنازے په نمانځه کښې شريک شه. او بيا واپس هم دغه شان پټ په پټ خپلے

دارالخلافې "اکداله" ته راغې. بیا څه نیټه پس سلطان فیروز شاه تعلق چه د حاجي الیاس شه د دې حال نه خبره شه. نو د هغه په زړهٔ کښې هم د حضرت راجا بیابانې سره عقیدت او د حاجي الیاس د اسلام دوستئ قدر پیدا شه. او دا فیصله یئې اوکړله چه د قلعه اکداله د فتح کولو نه لاس واخلي. محاصره او قلعه بندي او چته کړي. او واپس شي. د دې په تائید کښې د ضیاء برني دا لاندیني الفاظ دلو ستلو دي. (د فاسی نه ترجمه)

"د ایمان او اسلام د تقاضو له مخه د سلطان فیروز شاه خلق په خاطر مبارک کښې دا خیال راغې. چه که څما لښکر د خندق د اوبو نه ورپورې شي. د شاهي لښکر هاتهیاںِ دد "اکداله" قلعه تاراج کړي. نو لازماً گنا هگار او بې گناه مخلوق په یو شان پکښې د تیغ نه تیر شي. جنگ د حاجي الیاس سره دې. لیکن نور ډیر بې گناه مسلمانان به پکښې قتل شي. او د سني مذهب مسلمانانو پرده دارې زنانه او بال بچ به بې پردې او درپه درشي. د کفارو او مشرکانو په لاس به پریوزي خو نریزي به اوشي. د خاندان د سلات او نبوت اولاد. عالمان. مشائیخ طالب عالمان. درویشان. گوشه نشینان. غریبانان او مسافران به پکښې ضائع شي.

دا پورته بیان څمونږ د وړاندې دې. یو خوا ته د سلطان حاجي الیاس شاه دومره لویئې خطرې ته غاړه کیښودل. چه بادشاه

دے. او د عين قلعه بندئ د تود جنګ په دوران کښې د فقيرانو په جامه کښې د اکداله نه بهرته اووځي. "ګوړ" ته ځي. او د خپل پير طريقت حضرت شيخ راجا بياباني عليه الرحمة جنازه ګذاري. او بيا واپس راځي. نو د دے واقعے نه څرنګ چه د سلطان حاجي الياس شاه د اسلام دوستئ او د خپل پير سره د انتهائ عقيدت پته لګيږي. دغه شان ورسره ورسره د حضرت شيخ راجا بياباني عليه الرحمة د روحاني مرتبے او مقام د عظمت پته هم لګيږي. چه د هغه زمانے د عوامو څه چه د خواصو هم ورسره دومره بے دريغه عقيدت او ارادت وو. او که فکر او کړو نو څمونږ د دے مشاهيرو بزرګانو د دے روحاني اثر او رسوخ له برکته د هغه زمانے عام او خاص خلق په اسلام مئين وو. د اسلام تبليغ يئے کؤولو. جهادونه يئے کؤل او د بنګال ګوټ ګوټ ته يئے د اسلام رنړا رسوله.

حضرت شيخ اخي سراج

(وفات ۷۵۸هـ)

د دے نامور بزرگ پوره نوم قطب الولايت شيخ سراج الدين عثمان دے. چه عام طور په "اخي سراج" نامه مشهور دے. د کمالات ظاهري او باطني جامع وو. او په عشق او محبت کښې يئے خپل نظير نه لرلو. حضرت شيخ عبدالحق د هلوي په خپل کتاب اخيار الا خيار کښې ليکي چه د ده اصلي وطن بنګال وو. د لکهنوتي نومے مقام اوسيدونکے وو. چه نن ورځے دغه لهنؤتي نومے مقام د "ګوړ" په نامه مشهور دے. د "مراة الا سرار" نومے کتاب د مؤلف دا خيال دے چه د ده مشران اول په اوده کښې اوسيدل. (د اودهـ نه مراد هغه علاقه ده. چه نن ورځے په اجود هيا او فيض آباد نومونو ياديږي) او بيا د دے ځاي نه د بنګال لکهنوتي ته تلي وو. غالباً هم په دغه مناسبت د "لطائف اشرفي" نوم کتاب مؤلف د دوئ د نوم سره "اودهي" ليکلے دے.

حضرت شيخ سراج الدين عثمان په ځلمي توب کښې د حضرت شيخ نظام الدين اولياء د مريدانو په حلقه کښې شامل شوے وو. د هغوئ په خدمت کښې به اوسيده او کله نا کله به د خپل مور پلار ليدلو له وطن ته تللو. او بيا به واپس راتللو حضرت سلطان لاوولياء والمشائيخ به ورسره ډيره مهرباني

کوله. مګر چونکه حضرت اخي سراج ظاهري علمونه نه وو حاصل کړي. په دے وجه خلافت يئے ورته نه ورکولو ورته يئے او فرمائيل. چه د علم باطني د پاره د مخکښې نه د علم ظاهري حاصلولو ډير ضروري دي. چنانچه هم د حضرت شيخ نظام الدين اولياء په هدايت يئے د حضرت مولانا فخر الدين رازي نه سبق لوستل شروع کړه. وروپسے د مولانا رکن الدين نه يئے کافيه. مفصل په علم نحو کښې. او قدروري او مجمع البحرين په علم فقهه کښې اولوستل. د ظاهري علمونو نه چه فارغ شه نو حضرت نظام الدين اولياء ورله د خلافت ليکے شوے سند چه په هغے يئے خپل مهر هم لږولے وو. ورکړلو. او خپل وطن بنګال (مشرقي پاکستان) ته د تللو اجازت يئے ورکړلوليکن دے د خپل پير تر ژونده بلکه د هغوئ د وفات (۷۶۵هـ) نه روستو تر ۷۲۸هـ پورے درے کاله نور هم په مقام د غياث پور دهلي کښې پاتے شه. او بيا يئے د حضرت شيخ د وقف کړے شوے کتب خانه نه يو څو کتابونه تبرکات او جامے مبارکے د ځان سره واخيستلے او خپل وطن ته روان شه.

په اخبار الا خيار کښې ذکر دے. چه هر کله د حضرت نظام المشائيخ په ژوند کښې ده ته خپل وطن ته د تللو اجازت ورکړے شه. نو په دغه موقع ده دا عرض پيش کړے وو. چه هلته په بنګال کښې يو ډير لوئ متجر عالم حضرت شيخ علاء الحق موجود دے.

ځما او د هغه ګزاره به ځرنګ کیږي. د دے په جواب کښې حضرت نظام الدین اولیاء ورته او فرمائیل. فکر مه کوه هغه به هم ستا مرید کیږي. چنانچه هم دغه شان کار اوشه. څه وخت چه حضرت اخي سراج علیه الرحمة بنګال ته اورسیده نو حضرت شیخ علاء الحق یئے مرید شه. او په دے طریقه سره سلسله عالیه چشتیه په بنګال کښې خوره شوه.

لکه چه مخکښې ورته اشاره شوے ده. د مملکت بنګال په خاوره د حضرت شیخ راجا بیاباني علیه الرحمة په معاصرینو بزرګانو کښې د ټولونه زیات شهرت او اثر او رسوخ عثمان اخي سراج علیه الرحمة ته حاصل شوے وو. په بنګال کښې چشتیه سلسلے ته چه څه فروغ حاصل شوے وو. هغة هم د دوئ په وجه وو. د سلطان المشائیخ نظام الدین اولیاء په ټولو خلیفه ګانو کښې درے ځلور بزرګان داسے تیر شوي دي. چه هم د هغوئ په وجه سلسله نظامیه ته عروج حاصل شوے وو.

(الف) یو حضرت مخدوم نصیر الدین محمود چراغ دهلوي وو. چه د دوئ نه سلسله صابریه نظامیه په خصوسیت سره د سرحد. پنجاب. راجپوتانه. ګجرات او د کن په علاقو کښې خوره شوے ده.

(ب) دوئم حضرت مخدوم اخي سراج وو. چه د دوئ نه سلسله سراجیه

نظامیه په خصوصیت سره په صوبه بهار. بنګال. آسام کښې خوره شوې ده.

(ج) درئم سالار هنین وو چه د دوئ په ذریعه سلسله نظامیه د مملکت چین په علاقه کښې خوره شوې ده.

حضرت اخي سراج فطرتاً ډیر ذهین او دانشمند وو. د حضرت شیخ نصیر الدین چراغ دهلوي نه روستو د دوئ نوم زیات مشهور دے. د خپل پیر نظام الدین اولیاء د هدایت مطابق چه خپل وطن ته راغے. نو په ګوړ (لکهنؤتي) کښې یئے قیام او فرمائیلو. او د دین اسلام د اشاعت د پاره یئے خپله توله زندګی وقف کړله. او ډیر زر د حقیقت او معرفت د طالبانو مرکز او ګرځیده. د بنګال په زمکه تر دغه زمانے پورے د سلسله عالیه سهروردیه اثر وو. او لکه چه مخکښې ذکر اوشه. د دوئ په وجه سلسله چشتیه طرف ته عام او خاص خلق رامات شول. په بنګال کښې د دوئ د مریدانو او خلیفه ګانو شمیره ډیره زیاته ده. چه په هغوئ کښې حضرت شیخ علاء الحق د پنډوه زیات مشهور دے. حضرت اخي سراج علیه الرحمة په ۷۵۸هـ کښې وفات شه. مزار مبارک یئے د ګوړ په علاقه کښې په سعد الله پور نومے مقام کښې دے. علیه الرحمة والغفران.

حضرت شیخ علاء الحق علیه الرحمة

د دے نامور بزرگ پوره نوم شیخ علاء الحق والدین بن اسد خان لاهوري بنګالي دے. مشران یئے د غیاث الدین تغلق په حکومت کښې د وزارت په عهده بانده ممتاز وو. او هم د دغه غیاث الدین تغلق په زمانه کښې د دوئ خاندان د بنګال ګوړ نومے مرکزي مقام ته راغلے وو. او تر ډیرے زمانے په حکومت کښې یئے لاس لرلو. د ده ځوي د لکهنوتي د بادشاه سکندر شاه په حکومت کښې په یوه لویه عهده بانده سرفراز وو. د حضرت شیخ علاء الحق سلسله د نسب حضرت خالد بن ولید رضي الله عنه ته رسیدله، یعنے په قام پښتون وو. دے په سلسله عالیه سهروردیه کښې د حضرت شیخ سلیمان مهوي مرید وو. چه حضرت سلیمان د حضرت شیخ تقي الدین احمد د مشقي مرید وو. او هغه د حضرت شیخ المشائیخ شهاب الدین سهروردي ممتاز مرید او خلیفه وو. په ابتداء کښې حضرت شیخ علاء الحق د سلسله عالیه سهرودیه پیر طریقت وو. مګر چه هر کله په ۷۶۸هـ کښې حضرت عثمان اخي سراج بنګال ته راغے. نو د هغوئ سره یئے تعلق پیدا شه. او په سلسله چشتیه کښې یئے چه د هغوئ نه هم خلافت حاصل کړلو. نو

بیا یئې خپلو مریدانو ته د سلسله چشتیه نظامیه بیعت هم ورکؤلو.

حضرت شیخ علاء الحق د بنګال د یو بل مشهور پیر طریقت حضرت شیخ بدر عالم زاهدي خور یئې وواو د خواجه فخر الدین بدر زاهدي مشرئ لور بي بي په ده واده وه. او کشرئ لور بي بي یئې د شیخ نظام الدین اولیاء د دور شیخ جمال الدین بدایوني په ځوي شیخ اسماعیل بدایوني واده وه. په دغه اعتباره د حضرت شیخ المشائیخ نظام الدین اولیاء سره یئې د دے رشته دارئ قربت هم لرلو.

د حضرت شیخ علاء الحق هغه مریدان چه په سلسله عالیه سهرودیه کښې یئې خلافت حاصل کړے وو. په هغوئ کښې مخدوم سید احمد چرم پوش تیغ برهنه (چه مزار یئې په محله انبیر بهار شریف کښې دے) او مخدوم شاه حسین ډهکړ پوش (چه مزار یئې په موضع پودینه کښې دے) نومونه د یاد ولو دي. او کومو مریدانو ته چه یئې په سلسله عالیه چشتیه کښې خلافت ورکړے وو. په هغوئ کښې د حضرت نور قطب عالم او مخدوم سید اشرف جهانګیر سمناني نومونه د یادولو دي.

په دار الحکومته ګوړ کښې د هر طبقے په خلقو باندے د حضرت شیخ علاء الحق اثر وو. او ډیر لویه لنګر خانه یئې وه. چه د هغے بے حد او حساب اخراجاتوته به پخپله بادشاه او امیران حیرانیدل. د شک او حسد به یئې پرے کؤلو. بادشاه به اکثر دا

خبره کوؤله. چه ځما خزانه د شیخ د والد ماجد سره ده. هغه یئے ورله ورکوي او حضرت شیخ علاء الحق یئے خرڅ کوي. چنانچه یو ځل د بادشاه امیرانو او وزیرانو بادشاه ته لمسون او کړچه د شیخ علاء الحق ځوی چه په حکومت کښې په لویه عهده بانډے دے. هغه د شاهي خزانے نه په پته دا روپئ او باسي او خپل پلارله یئے ورکوي که نه د شیخ علاء الحق سره دا دومره بے شمیر دولت آخر د کومے نه راځي. بادشاه دغه لمسون او منلو او حضرت شیخ یئے د ګوړ نه جلا وطن کړلو. حضرت شیخ د لکهنوتي نه سونار ګاؤ (ډهاکے) ته راغے او دوه کاله یئے دلته تیر کړل. چه سونار ګاؤ ته راغے نو خپل خادم ته یئے حکم ورکړو چه په لکهنوتي کښې د لنګر کوم اخراجات وو. دلته د هغے نه یو په دوه زیات خرڅ کوه. چنانچه یو ځل بیا ټول خلق حیران وو. چه دا دومره بے دریغه اخراجات چه په دومره عظیم الشان لنګر بانډے دوئ کوي. دا د کوم ځاي نه راضي. په سنار ګاؤ کښې د دوه کاله تیره ولونه روستو واپس "ګوړ" ته یئے تشریف یوړلو. او بیا په آخر عمر کښې "پنډوه" ته لاړلو. او بیا په ۷۸۴ھـ کښې یاد اخبارالا خیار په روایت په ۸۰۰ھـ کښې یئے انتقال او فرمایه مزار مبارک یئے په "پنډوه" کښې دے. علیه الرحمة والغفران.

حضرت مخدوم جهانیان جهان ګشت

ولادت .... اوچ بهاولپور ۷۰۷هـ

وفات .... اوچ بهاولپور ۷۸۵هـ

د حضرت مخدوم جهانیان جهان ګشت پوره نوم داسې دے. "حضرت سید، میر، جلال الدین حسین مخدوم جهانیان، جهان ګشت بخاري علیه الرحمة. دے په ۲۵، تاریخ د شوال المکرم ۷۰۷هـ په مقام د اوچ ریاست بهاولپور کښې د حضرت شیخ احمد کبیر ابن سید جلال الدین حسن الملقب په میر سرخ بخاري علیه الرحمة په کور کښې پیدا شوے دے. د دورکوټي والي نه د بزرګۍ او کرامت نخښې او علامې د دوئ په تندوي کښې ځلیدلې.

چه هر کله دا وه کالو په عمر شه. نو خپل والد ماجد روان کړ حضرت شیخ جمال خدنان د وله یئے بوتللو چه د علم دین درس ترینه حاصل کړي. دلته د ابتدائ کتابونو لوستلو نه روستو ملتان ته لاړ. او په هغه وخت چه په ملتان کښې کوم مشاهیر عالمان وو. د هغوئ نه او د حضرت شیخ رکن الدین رکن عالم نه یئے د علوم ظاهري تکمیل اوکړلو.او بیا یئے د خپل والد ماجد نه او د خپل تره حضرت شیخ

صدرالدین محمد غوث کبیرنه په سلسله عالیه سهروردیه کښې بیعت کړې وو. او ورپسې روستو یئې د حضرت شیخ رکن الدین نه خرقه د خلافت حاصله کړې وه.د دوئ د نوم سره "مخدوم جهانیان جهان گشت دوه لقبونه غبرگ لیکلې شي. په دې کښې مخدوم جهانیان لقب ورله خپل پیر حضرت رکن الدین ملتاني ورکړې دې. او دوئم لقب "جهان گشت" د دوئ د نوم سره په دې مناسبت لیکلې شي. چه د کتاب اخبارالاخیار د روایت مطابق د ټولې دنیا سفر او سیاحت یئې کړې دې. او دبې شمیره اولیاء نه یئې نعمت او برکت موندلې دې.

په "تاریخ فرشته جلد نمبر۲ صفحه نمبر۴۲۵ کښې د حضرت مخدوم جهانیان د پیر طریقت شیخ ابو الفتح رکن الدین نه دا روایت نقل شوې دې" چه څه وخت سید جلال الدین بخاري ځما سره د علوم ظاهري د تعلیم نه فارغه شه او په علوم طریقت کښې یئې هم ابتدائ دسترس حاصل کړو. نو د دنیا په سیاحت روان شه.د تاریخ فرشته. یو بیان دا هم دې چه حضرت مخدوم دوه ځله د ټولې دنیا سیاحت کړې دې. او په ۷۷۶هـ کښې واپس راغې او په اوچ کښې مقیم شوې وو.

هر کله چه د حضرت مخدوم د سیاحت په حقله د مختلفو تذکرو په بیانونو کښې ډیر زیات اضطراب دې. او په عام نظر دا ترینه نه معلومیږي چه دوئ څو ځله په سفر تلي وو. او په کومه زمانه تلي وو. په کومه

زمانه په سفر کښې وو. او په کومه زمانه په ملتان کښې وو. په دے وجه په اختصار سره څه لږ ډیر بحث پرے دلته کوؤلے شي.

د حضرت شیخ ابو الفتح رکن الدین د پورتني بیان نه دا لاندینۍ نتیجے مونږ ته په لاس راځي.

(۱) یوه دا چه حضرت شیخ رکن الدین رکن عالم په ۷۳۵هـ کښې وفات شوے دے. او هر کله چه مخدومجهانیان د هغوئ په ژوند کښې د دنیا په سیاحت روان شوے وو. نو مطلب یئے دا کیږي چه دے به د ۷۳۴-۷۳۳هـ په شاؤ خوا کښې د هغوئ نه رخصت شوے وو.

(۲) بله دا چه هر کله مخدوم جهانیان په ۷۰۷هـ کښې پیدا شوے وو. نو که په ۷۳۳-۷۳۴هـ کښې د دنیا په سیاځت د دوئ روانیدل او کنړو. نو وایه چه د ۲۶یا ۲۷کالو په عمر د ملتان نه په سفر روان شوے وو.

(۳) لکه چه مخکښې ورته اشاره شوے ده. د کتاب سیر العارفین. تاریخ فرشته. او الدرالمنظوم د دے واړو د روایت مطابق حضرت سید احمد کبیر دا خپل نامور ځوي داوه کالو په عمر په ۷۱۴هـ کښې د شیخ جمال خندان رور سره

سبق ته کښېنولے وو. هر کله چه د هغے زمانه د طريقته درس مطابق د اتلسو کالو تر عمره پورے سړے د ټولو علمونو د تحصيل نه فارغ کېده. نو وايه چه حضرت مخدوم به په ۷۲۵هـ کښې د ديني علمونو د تحصيل نه فارغه شوے وو. ورپسے نور راته کاله به يئے د خپل پلار سيد احمد کبير. خپل تره سيد صدر الدين محمد غوث کبير. او حضرت ابو الفتح رکن الدين رکن عالم ته په سلسله سهروردیه کښې سبقونه آخيستي وو. خرقه د خلافت به يئے حاصله کړے وه. او په ۷۳۳-۷۳۴هـ کښې به د علوم ظاهري او باطني د نورو فيوضاتو حاصلولو د پاره په سفر روان شوے وو.

د پورته بيان نه دا معلومه شوه چه بهر حال د دوئ اولنے سفر د ۷۳۵هـ نه مخکښې او د ۷۳۳-۷۳۴هـ په زمانه کښې وو. په دے سفر کښې د مفتي غلام سرور لاهوري د قول مطابق (خزينة الا صفياء جلد نمبر۱ صفحه نمبر ۸۵) د مصر. شام. عراق عرب، عراق عجم. بلغ. او خراسان سفرونه يئے اوکړل. د ګڼرولويو مشايخو نه يئے فيوضات حاصل کړل. ډير حجونه يئے اوګذارل. چه په هغے کښې شپږم حج اکبر وو. پوره اوه کاله يئے په مکه مکرمه کښې او دوه کاله

يئے په مدينه منوره کښې تير کړل. او د حضرت مخدوم جهانګير اشرف سمناني د قول مطابق (لطاءف اشرفي جلد نمبر۱ صفحه ۳۹۰)

"په دنيا کښې نور ډير داسے اولياء هم تير شوي دي چه هغوئ د معارف او حقائقو په تالاش کښې سياحتونه کړي دي. ليکن د مخدوم جهانيان همره سياحت هيچا هم نه دے کړے. دوئ د ټول ربع سکون سياحت کړے وو. او شايد دا سے کوم يو فقير به په کښې پاتے شوے وي. چه دوئ ترينه پوره فائده نه وه حاصله کړے.

ظاهره ده چه د خزينة الاصفياء او لطائف اشرفي دا بيانونه د حضرت مخدوم د هغه ټولو سياحتونو په حقله دي چه حضرت مخدوم په تول ژوند کښې کړي دي. دلته سولا دا دے چه حضرت مخدوم چه په ۷۳۳-۷۳۴هـ کښې په اول ځل په سفر کښې يئے اوه کاله په مکه مکرمه او او دوه کاله په مدينه کښې تير کړي وو. نو چه نور څومره کلونه يئے د نورو اسلامي ملکونو سفر کړے وو. او د دے اولني سفر نه کله واپس بهاولپور اوچ ته راغلے وو. په دے خبرو د پوهيدلو د پاره يه دا لانديني يو څو تاريخي حوالےپه نظر کښې اوساتو.

(۱) د خزانۀ جلالي "نومے کتاب د روايت مطابق په ۷۴۸هـ کښې حضرت مخدوم جهانيان د ملک فارس (ايران) په شو کاره نومے ښهر کښې د حضرت شيخ شرف الدين

محمود په خدمت کښې حاضر شوے وو.

(۲) د پښتنو مؤرخانو د روایت مطابق په ۷۴۹هـ کښې د "کوه سلیمان" په "سهرعلي" نومے مقام کښې وو. او دغلته حضرت محمد بختیار المعروف په خواجه یحی کبیر غورغشتي ترینه بیعت کړے وو.

په دے پورتنو روایتو نو د غور کولو نه معلومیږي چه حضرت مخدوم جهانیان چه په اول ځل په ۷۳۳-۳۴هـ کښې په سفر تلے وو. نو په ۷۵۰هـ کښې واپس اوچ بهاولپور ته رارسیدلے وو. او په ۷۴۷هـ کښې د شوکاره او په ۷۴۹هـ کښې د شهر علي قیام یئے د سفر د واپسئ په دوران کښې وو.

دوئم سفر

د مخدوم جهانیان د دوئم وار سفر او سیاحت په سلسله کښې په روایتونو کښې فرق دے. او د هغے په وجه دا معلول به غواړي چه دے په دوئم وار په کوم سن کښې روان شوے وو. او بیا کله راواپس شوے وو. دغه مختلف روایتونه دا دي.

(۱) د کتاب الدرالمنظرم (صفحه ۲۵۵) د روایت مطابق حضرت مخدوم جهانیان فرمائي:

سلطان محمد تغلق ماله د شیخ الا سلام عهده راکړه. او څلویښت خانقاهونه یئے

ځما په تحویل کښې راکړل. شیخ رکن الدین ابو الفتح راته په خوب کښې حضور شه. او یئے فرمائیل چه ته حج له لاړ شه غرق به شي. چه سحر شه د حضرت شیخ د درګاه امام راته اووئیل چه فوراً روانیږه. څۀ تیارئ کوے. شیخ تاته اشراه کړے ده. چنانچه ما د خپل والد نه رخصت واخیست روان شوم". په اخبار الا خیا صفحه نمبر۱۴۲ کښې هم دا لیکي چه محمد تغلق ورله د خانقاهونو سند ورکړے وو.

د دے روایت نه مونږ دے نتیجے ته رسیږو. چه هر کله په ۷۵۰هـ کښې مخدوم جهانیان واپس اوچ بهاولپور ته رارسیدلے وو. نو د ۷۵۱هـ په نیټه په سلطان محمد تغلق ورله د شیخ الا سلام عهده ورکړے وه. او هم په دغه ۷۵۱هـ کښې به سمدستي بیا دوباره د ځض په سفر روان شوے وو. د پورتنی روایت تسلیم کولو په صورت کښې په ۷۵۱هـ کښې د مخدوم جهانیان په دوئم سفر روانیدل به خامخا منو ځکه چه بیا د ۷۵۲هـ په ابتدا کښې یعنے په ۲۱، محرم ۷۵۲هـ کښې خو سلطان محمد تغلق د وادئ سندهـ په ټهټه نومے مقام کښې په حق رسیدلے وو.

(۲) د مخدوم جهانیان په حقله د "الدرالمنظوم" د پورتنئ حوالے په مقابله کښې د اکبر شاه خان سلارزی نجیب آبادي د کتاب

"آئينه حقيقت نما" بيان څه بل څه دے. هغه ليکي چه:

هر کله د سلطان محمد تغلق د وفات (۲۱، محرم ۷۵۲هـ)نه روستو په ۲۴، محرم ۷۵۲هـ فيروز شاه تغلق بادشاه شه. نو مخدوم جهانيان له يئے د شيخ الا سلام عهده ورکړه.

د دے روايت نه مونږ ته دا نتيجه په لاس راځي چه حضرت مخدوم له د "شيخ الاسلامئ عهده محمد تغلق نه وه ورکړے بلکه فيروز تغلق ورکړے وه. او دے خبرے ته تقيوت د دے نه هم رسيږي. چه د آئنه حقيقت نما (جلد نمبر ۲ صفحه ۵۶۳) د بيان مطابق فيروز شاه تغلق په حقيقت کښې د شيخ نصير الدين چراغ دهلوي عليه الرحمة په مرسته او امداد بادشاه شوے وو. او بل طرف ته حضرت مخدوم جهانيان چه د حج بيت الله نه واپس راغلے وو. نو د حضرت امام عبدالله يافعي شيخ مکه مکرمه د هدايت مطابق د حضرت شيخ نصير الدين چراغ دهلوي مريد شوے وو. هر کله چه سلطان فيروز تغلق د سلطان محمد تغلق د زمانے ټول حکومتي افسران مشائيخ او علما بدلول. او نور يئے د نوي سرنه مقرره ول. نو زياته ممکنه ده. چه په دغه سلسله کښې د شيخ نصير الدين چراغ دهلوي د مريدئ او خليفه والي په وجه يئې حضرت مخدوم جهانيان ته د سيوستان د خانقاه محمدي او نورو ځلويښتو خانقاهونو انتظام حواله کړے وو. مګر د خپل پير طريقت حضرت شيخ ابو الفتح

رکن الدین له طرفه چه په خوب کښې ورته کوم حکم شوے وو نو د هغے په بناء په۷۵۳-۷۵۲ هـ کښې به حضرت مخدوم د حج په سفر روان شوے وي. که دا روایت او دا توجیهـ او منلے شي نو بیا په دویم سفر د حضرت مخدوم د روانیدلو کال ۷۵۱هـ نه شي کیدلے. بلکه ۷۵۲-۵۳هـ به یئے ګنړو.

د مختلفو تذکرو په بیانونو چه غور اوکړو نو داسے معلومیږي. چه حضرت مخدوم د دے دویم سیاحت نه د ۷۵۷هـ کښې د ده پیر حضرت شیخ نصیر الدین چراغ دهلوي وفات شوے دے. او د ۷۶۰هـ نه مخکښې بهاولپور ته راتلل یئے څکه یقیني دي. چه د "مناقب الوالایت" نومے کتاب د روایت مطابق په ۲۰، شعبان ۷۶۰هـ د حضرت مخدم جهانیان کشرے دور حضرت سید صدر الدین محمد راجو قتال پیدا شوے دے. او د کتاب "سبع سنابل" (قلمي نسخه صفحه۱۸۰ او مطوبعه مطبع کانپور صفحه ۷۲) د بیان مطابق په کوم کال (۷۶۰هـ) چه سید راجو قتال پیدا شوے دے. هم په دغه کال د هغه والد ماجد سید احمد کبیر وفات شوے دے. او بله دا چه په دغه موقع حضرت مخدوم جهانیان په اوچ کښې موجود وو. او بیا په کتاب سمع سنابل کښې چه نور کوم تفصیل بیان شویدے د هغے نه هم معلومیږي چه حضرت مخدوم جهانیان په ۷۵۷-۷۵۸هـ کښې واپس بهاولپور ته راغے وو.

که مونږه دا روایتونه او د دے دا پورتنئ توجیه: اومنو نو وئیلے شو چه د مخدوم جهانیان د دے دویم سفر زمانه زیات نه زیات څلور یا پنځه کاله وه.

درئم سفر

په ۷۵۳هـ کښې د مخدوم جهانیان په اوچ کښې موجودګي د پورته بیانونو نه ثابته شوه. په دے سلسله کښې په آئینه حقیقت نماء (صفحه ۵۶۴) کښې دشمس سراج عفیف یو تفصیل بیان درج شویدے. چه هر کله په ۷۶۶هـ کښې د ټهټه او سندهـ په دوه حکمرانانو جام او بانبیهه باندے ملک فیروز شاه تغلق لښکر کشي اوکړه. نو د ټهټه د حکمران "جام" په درخواست باندے حضرت مخدوم جهانیان د اوچ نه ټهټه ته راغے. په مخه د بادشاه لښکر ته ورغے. هلته ډیر په قدر او عزت یئے اتقبال اوشه. د ټهټه خلق چه د دوئ د تشریف راوړلو نه خبر شول هغوئ هم ډیر خوشحال شول چه اوس به خدائ خیر کړي. چنانچه حضرت مخدوم د مسلمانانو د دے دواړو لښکرو تر منځه شه صلح یئے راوستله د پاره د دے چه دواړه طرف ته مسلمانان دي. چه دمسلمانانو د لاس نه د مسلمانان وینے او نه بهیږي.

د دے پورتنو روایتو نو له مخه د ۷۶۰هـ نه تر ۷۶۶هـ پورے په اوچ کښې د دوئ موجود والے معلومیږیاو ځمونږ سره څه داسے روایت نشته دے چه په دغه منځ کښې

دوئ د حج بیت الله د پاره تشریف وړے وو. که نه د دے نه علاوه یو دوه نور روایتونه داسے دي. چه د هغے نه د دوئ د دریم سفر او سیاحت پته معلومیږي.

(الف) په دے کښې یو روایت د تاریخ فرشته (جلد نمبر۲ صفحه نمبر ۴۱۶) دے. چه حضرت مخدومجهانیان په ۷۷۲هـ کښې د حج د سفر نه او سیاحت نه راواپس شوے دے.

(ب) او دویم روایت د تاریخ صولت افغاني دے. چه حضرت خواجه یحی کبیر غورغشتي د خپل پیر طریقت حضرت مخدوم جهانیان علیه الرحمة په ملکرتیا کښې په ۷۷۰هـ کښې حج ګزارلے وو. او د دے حج ګزارلونه مخکښې دوئ د خراسان بخارا. عراق سیاحت کړے وو. او د هغه زمانے د مشاهیرو او لیاء الله وسره یئے صحبتونه شوي وو.

د دے پورتنو دواړو روایتونو نه مونږ دا نتیجه اخیستلے شو. چه حضرت مخدوم به دا درئم سفر د ۷۶۷هـ په شا او خوا کښې کړے وي او د پنځه کاله سیاحت نه پس به په ۷۷۲هـ کښې واپس بهاولپور ته راغلے وي.

د ۷۷۲هـ نه تر ۸۰۰هـ پورے په دے منځ زمانه کښې د حضرت مخدوم د بل سفر او

سیاحت څه ذکر څما د نظر نه نه دے تیر شوے. نور تحقیقي به غواړي البته د ۸۰۰هـ نه تر ۸۰۴هـ پورے په اوچ کښې د دوئ موجود والے د یوے بلے واقعے نه ضمناً معلومیږي. او هغه دا ده. چه هر کله په اختلاف د روایاتو سره په ۸۰۰هـ یا ۷۸۲هـ یا ۷۸۴هـ کښې حضرت شیخ علاء الحق قطب بنګالي علیه الرحمة وفات کیده. نو هغه دا وصیت کړے وو. چه څما د جنازے دا مامتئ نمونځ دے د مخدوم جهانیان نه په غیر بل څوک نۀ ګذاري. د حضرت شیخ مریدان د دے خبرے په آوریدلو حیران شول. چه هر کله مخدوم جهانیان په اوچ بهاولپور کښې دے. نو د وفات نه روست و د عین جنازے په وخت کښې به حضرت مخدوم دزرګونو میله لرے فاصلے نه د حضرت شیخ علاء الحق د جنازے امامتي کولو د پاره د بنګال پنډوه نومے مقام ته څرنګ را اورسي. لیکن د حضرت شیخ توامه مریدان حیران پاتے شول. چه څه وخت شیخ علاء الحق وفات شه. جنازه یئے د نمانځه د پاره په میدان کښې کیښودلے شوه. نو که څه ګوري حضرت مخدوم جهانیان د جنازے د صفونو په مخکښې ولاړ وو. او د جنازے امامتي یئے ادا کړه. بیا حضرت مخدوم د دغے نه روستو څه ورځے نور هم د به جمال په پنډوه نومے مقام کښې پاتے شه ګنړ خلق یئے مریدان شول. د حضرت "نور قطب عالم" تربیت یئے او فرامئیلو او هغه یئے د حضرت شیخ علاء الحق په ګدئ کښینولو. نو بیا واپس اوچ ته راغے.

بهر حال هر کله چه حضرت مخدوم جهانیان په اول ځل د دنیا په سیاحت روان شه. او د حج په موقع بیت الله ته اورسیده. نو هلته په مکه مکرمه کښې یئے د حضرت شیخ غفیف الدین عبدالله صطروي نه بیعت اوکړو. ورپسے اوو کاله یئې نور په مکه مکرمه کښې د هغوئ په خدمت کښې تیر کړل. د سلسله سهروردیه د مشر بزرگ حضرت شهاب الدین سهروردي مشهور کتاب عواف المعارف یئے د هغوئ نه په درس اولوستلو. د هغوئ نه یئے هم خرقه د خلافت حاصل کړه. او بیا هم د دے شیخ علیه الرحمة د ارشاد مطابق کازون ته لاړ. او هلته یئے د حضرت شیخ امین الدین گاذروني نه فیض او مونده او خرقه د خلافت او تبرکات یئے حاصل کړل. د هغوئ په خدمت کښې څه موده تیرولو نه پس بیا روان شول. او د مصر. شام . عراق. عرب. عراق عجم. بحرین قطیف. عین اود عدن. بصیره اوکوفه. د مشق او لبانان. مدائن. بلخ. بخارا. سمر قند. ایران. شیراز. تبریز. نیشا پور. غزني. کابل. کوه سلیمان. خراسان. پیښور. دهلي او بنګال وغیره ملکونو سفریئے اوکړ. او په دغه منځ کښې شپږ ځله حج یئے هم اوګزاره. او هم دا اولنے سفر وو. چه د دے نه په ۷۵۰هـ کښې ملتان ته واپس راغلے وو. لکه چه مخکښې ورته ضمناً اشاره شوے ده. روایت دے. چه په دے سفر کښې په آخري ځل د حج ګزارلو په موقع د بیت الله الحرام نه واپس کیده. نو هلته په مکه مکرمه کښې د حضرت شیخ امام عبدالله یافعي نه یئے هم

فیض حاصل کړے وو. او بیا هم د دے حضرت امام یافعي علیه الرحمة د ارشاد مطابق مخدوم جهانیان چه ملتان ته واپس راورسیده نو نیغ دهلي ته لاړ او هلته یئے د حضرت خواجه نصیر الدین چراغ دهلوي نه په سلسله علیه چشتیه کښې بیعت کړے وو.او حرقه د خلافت یئے تیرنه حاصل کړے وه. شاید هم د دے تعلق په بناء چه کله د خواجه نصیر الدین چراغ د هلوي په کوشش سره په ۲۴، محرم ۷۵۲هـ کښې فیروز تغلق بادشاه شه نو هغه د مولانا رکن الدین په ځای حضرت مخدوم جهانیان ته د شیخ الا سلام او صدر الصدور عهده ورکړے وه.

کرامتونه

حضرت سید شرف جهانګیر سمناني په خپلو مکتوباتو کښې لیکي. چه څومره خوراق او کرامتونه د حضرت مخدوم جهانیان نه صادر شوي دي. په متاخرینو بزرګانو کښې د بل یو بزرګ هم نه دي نصیب شوي. د تبرک د پاره د دوئ د کرامت یو څو واقعات دلته درج کوؤلے شي.

(۱) د دوئ د کرامت یوه مشهوره واقعه ده. چه وړاندے د حضرت شیخ علاء الحق الملقب په "قطب بنګالي" او "شیخ علالئ" د جنازے په وخت کښې پنډوه ته د دوئ رسیدل وو. د سلوک او تصوف په اصطلاح کښې دا یوه مرتبه ده. چه دیته "طے مکان" او "طے زمان"

وئیلے شي. کوم بزرګ چه د ابدالو او ورپسے د قطب په مرتبه وي. هغه ته دغه د "طے مکان" مرتبه حاصل وي. او د سترګو په رپ کښې د دنیا د یو سر نه بل سرته رسیدلے شي. د مخدوم جهانیان د کرامت دا واقعه چه د حضرت علاء الحق د وفات نه پس عین د هغه د جنازے د نمونځ ګزارلو په موقع مخدوم جهانیان د اوچ بهاولپور نه په یوه لحظه ساعت کښې پنډوه ته رسیدلے وو. دا د "طے مکان" مرتبه ده. چه هر یو قطب او هر یو ابدال ته حاصله وي.د دے مرتبے مطلب دا وي چه د زمکے تنا بونه او فاصله رالنډه شي. د حضرت شیخ عبدالقادر جیلاني قدس سره د "اسبوع شریف" په دے جمله کښې **"هو القریب الذي یمحو جهات القرب والبعد عن عیوان العارفین ط** کښې هم دے ته اشارت دے. په دے پسے چه د "طے زمان" کومه مرتبه ده. د هغے یو مثال به روستو د حضرت شیخ عبدالغفور نقشبندي پشاوري په تذکره کښې راشي.

(۲) حضرت مخدوم سید اشرف جهانګیر سمناني لیکي. چه حضرت مخدوم جهانیان علیه الرحمة د حضرت سید نا شیخ عبدالقادر جیلاني

قدس سره سره بے دریغه عقیدت لرلو. په دے سلسله کښې روایت دے. چه یوه ورځ حضرت مخدوم جهانیان پخپل خانقاه کښې ناست وو. چه ناسا په د وښو په یو ټوپ باندے اور اولګیده. لمبے ئې وهلے. حضرت مخدوم جهانیان یوه چونډۍ خاوره راپورته کړله. په اوچت اواز یئے دا الفاظ اولستل. "یا شیخ محي الدین عبدالقادر جیلاني." او هغه چونډۍ خاوره یئے د اور طرف ته ګزاره کړله. د ګذارلو سره سم هم په هغه ساعت فوراً هغه اور داسے مړشه. لکه چه نوم نشان یئے نه وي.

(۳) روایت دے. چه یو ځل حضرت مخدوم جهانیان د اوچ په جامع مسجد کښې د ګڼرو عالمانو او درویشانو په ملګرتیا کښې معتکف وو. چه په دے منځ کښې د هغه وخت د اوچ حاکم د دوۍ زیات له راغے. حاکم چه د مخدوم جهانیان نه ګیر چاپیره درویشانو دا دومره ګڼره ګونړه اولیدله. نو په ډیرو درویشانو یئے دپکه دهوړ که او کړله. او د جماعت نه ئي اوکښل. د حضرت مخدوم جهانیان چه ورته فکر شه. نو حکم ته یئے اووئیل "اے بد بخته ته لیونے شوے یئے. چه درویشانو

ته تکلیف ورکوي". چنانچه د حضرت مخدوم جهانیان د خولې نه دا الفاظ وتل وو. چه سمدستي حاکم لیونې شه. جامې یئې اوشلولې. د جماعت نه په منډه اووتلو. تیر چاپیر خلق به یئې په کانړو ویشتل. او په لارو کوڅو کښې زغلیده. ډیر په مشکله خلقو راقابو کړلو. او په پښو کښې یئې ورته زنځیرونه واچول. د دغه حاکم بوډا پلار د حضرت مخدوم په خدمت کښې حاضر شه. معافي یئې اوغوښتله. حضرت مخدوم پرې رحم او فرمایه. ورته یئې اوویل چه لاړ شه. ځوئ له دې غسل ورکړه. نوې جامې ورته واغونده. بیا یئې د حضرت شیخ جمال اکندان رو زیارت له بوځه. چه زیارت اوګذاری. بیا یئې دلته راوله. د حاکم پلار لاړ. چه څرنګ ورته هدایت شوې و. د هغې تعمیل یئې اوکړ. او چه هغه لیونې‌یئې د حضرت مخدوم جهانیان مخې له راووست. په هغې دم روغ شه. بیا د حضرت مخدوم مرید شه. او د کمال درجې ته اورسیدۀ.

مبارک اخلاق

حضرت مخدوم جهانیان به د غیر شرعي رسمونو څخه ډیر پر هیرز کؤولو. تر دې حده چه په غیر شرعي تعظیم لکه پښې ښکلول

يا پښوته راښکته کيدلو به خفه کيدلو او د اخبرے به ئے قطعاً نه خوښولے که څوک مريد به راغے او د عزت په خاطر به په خاطر به يئے د دوئ د پښو ښکلولو کوشش کولو نو هغه به يئې پښو ته راښکته کيدلو ته نه پريښودلو. او نه به يئے کوم مريد ته دا اجازت ورکؤلو چه هغه راشي او د دوئ په پښو کښې دے سر کيږدي.

يو مريد د دوئ په تعريف کښې يو نظم ليکلے وو. په هغے کښې يئے حضرت مخدوم د نامے سره "سيا السادات" ليکلے وو. دوئ او فرمائيل چه ماته "سيد سادات" مه وايئے بلکه "گدايئے عالم" راته وايئے. که فکر اوکرو د دوئمه دا قول په انتهائي تواضع باندے د لالت کوي.

د دوئ په طبعيت کښې ډيره زياته خاکساري او کسر نفسي وه. د دے خبرے مثال دا دے چه يو ځل خواجه شيخ شرف الدين احمد منيري بهاري سهروردي خپلےپنړے دوئ ته را اوليږلے. غرض يئے دا وو. چه زهٔ ستاسو د پښو مبارکو د پنړو او پيزار په مثال يم. د هغے په جواب کښې حضرت مخدوم ورته خپل پټکے اوليږلو. مطلب يئے دا وو. چه ته ځما د پاره د "سرتاج" يئے.

حضرت مخدوم به د سماع (قوالئ) آوريدلو نه ډير زيات پرهيز کؤلو. فرمائيل به يئے په سماع کښې اختلاف دے. ليکن دا د هغه سړي د پاره مباح کيدلے شي. چه د قوالئ اوريدلو اهليت لري.

(دلته دا یادلرل پکار دي. چه د لفظ سماع لغوي معنی ده آوریدل. او په اصلاح کښې صرف هغه قوالئ ته سماع وئیلے شي. چه خوش آوازئ سره حمد او نعت اولوستلے شي. د زمانے په تیریدلو عارفانه او صوفیانه کلام چه هغه فحش نه وي. د هغے اوریدلو هم په دے تعریف کښې شامل کړلے شو. لیکن د دے شرطونو د پابندئ کولو سره. چه قوالي کونکے به ښځه نه وي. پي مخے هلک به نه وي. او ډنګ ډونګ یعنے سز او سرور به ورسره نه وي. که دا څیزونه ورسره وي. نو بیا په اتفاق د تولو بزرګانو او عالمانو سره دغه سماع او قوالي ناجائزه ده. د حضرت شیخ نظام الدین اولیاء په کتاب "فوائد الفواد" کښې راوړي دي. چه یوه ورځ د حضرت شیخ نظام الدین اولیاء نه چا تپوس اوکرو. چه یا شیخِ فلانکے بزرګ خو د قوالئ په وخت کښې ساز او سرور هم آوري. نو حضرت سلطان المشائیخ او فرمائیل. چه دا حرام کار دے او که بالغرض یو بزرګ یو حرام کار کوي نو د بزرګ په فعل هغه حرام کار نه حلالیږي. بلکه داسے وایه چه یو سړے ځان ته بزرګ هم وائي او خلاف شریعت کار هم کوي)

د حضرت مخدوم جهانیان لوئ کار د دین اسلام تبلیغ او نشر واشاعت وو. بے شمیره کفار او مشرکین د دوئ په مبارکو لاسونو مسلمانان شوي او په ایمان مشرف شوي وو.

وفات

دعامو تذکرو د روایت مطابق په ورځ د چار شنبے چه دغه د لوئ اختر ورځ هم وه. یعنے د ذالحجه لسم تاریخ وو. په ۷۸۵هـ کښې وفات شه. لیکن مفتي غلام سرور لاهوري پخپل کتاب خرینته الا صفیاء او مخزن پنجاب کښې د دوئ د وفات کال ۷۸۸هـ بیان کړے دے. او د وفات ماده د تاریخ یئے دا جمله لیکلے ده. (مخدوم زمان) مزار مبارک یئے په اوچ بهاولپور کښې دے. او مرجع د خاص او عام دے. اوچ د یو مشهور تاریخي مقام نوم دے. چه په سابق ریاست بهاولپور کښې واقع دے. او د ملتان نومےشهر ته جنوب مغرب طرف ته د اویا میلونو په فاصله دے.

ملفوظات

د دوئ ملفوظات چه د دوئ مریدانو په کتابي شکل کښې راجمع کړي دي. د هغے کتابونو نومونه دا دي. خزانه جلالي. سراج العدایه. جامع العلوم په دے کتابونو کښې د تصوف ټول حقایق او معارف او د علم اخلاق مسائل په ډیره ښکلے طریقه سره بیان شوي دي. چه د عامو مسلمانانو د روحاني مذهبي او اخلاقي اصلاح د پاره ډیر زیات فائیده مند کتابونه دي.

خلیفه ګان

روایت دے چه د حضرت مخدوم جهانیان د مریدانو ټول تعداد یو لکه دوه او یا زره

شپږ اتیا وو. چه دلته د دوئ د یو ځونا مورو خلیفه ګانونو نومونه لیکلے شي.

(۱) حضرت سید اشرف جهانګیر سمناني، عراقي، متوفي ۲۷، محرم الحرام ۸۰۸هـ.

(۲) حضرت سید صدر الدین محمد الملقب په راجو قتال. چه د حضرت مخدوم جهانیان خپل رور وو. او مزار مبارک یئے په دهلي کښې دے لیکن په بل روایت د دوئ مزار هم په اوچ کښې دے. په ۱۶، جمادي الاخر ۷۲۷هـ وفات شوے وو.

(۳) حضرت سید علم الدین د تر مذي ساداتو د خاندان نه وو. اصلي وطن پۀ قنوج وو. د مخذوم جهانیان مرید شه. جونپور ته لاړ. او هم هلته پاتے شه.

(۴) حضرت شیخ سراج الدین متوفي ۸۲۰هـ د قرآن مجید حافظ وو. مخدوم جهانیان ډیر کلونه ورپسے نمونځونه نه ګذارلي وو. مزار مبارک یئې په کالپئ کښې دے. د دے نه علاوه حضرت سید اشرف الدین مشهدي، سید علاء الدین حسیني. سید محمود شیرازي. شیخ تاج الدین بهکري. مولانا عطاء الله. حضرت نور قطب عالم زاهدي او حضرت خوجاه یحي کبیر غور

غشتي يئے هم مشهور خليفه ګان وو. (د خواجه يحي کبير تذکره په روستو راشي)

روحاني آثار

لکه چه مخکښې ذکر اوشه حضرت مخدوم جهانيان جهان ګشت دوه ځله د تمامي دنيا سياځت کړے وو. او په دوئم ځل سفر کښې ورسره خپل مشهور مريد خواجه يحي کبير غورغشتي هم ملګرے وو. حضرت مخدوم چه د دے دوئم ځل سياحت په دوران کښې د "پښتونخوا" په کوم کوم ځاي کښې ګرځيدلے وو. او چرته چرته يئے چهلے او کښلے وے. عبادتونه او رياضتونه يئے کړي وو. روستو بيا د هغه ځاي مسلمانانو د حضرت سيد جلال الدين حسين مخدوم جهانيان بخاري د عبادت او رياضت په دغه ځايونو باندے يا خو.

(الف) خانقاهونه جوړ کړي دي.

(ب) يا يئے پرے تسلي جوړ کړي دي.

چه نن ورځے د عوامو پښتنو دبے علمئ، ناوقضتيا. او بے خبرئ په وجه د سيد جلال الدين حسين بخاري د عبادت او رياضت دغه ټول ځايونه د "دوئ د زيارتونو" په نامه مشهور دي. بلکه د ډير ساده توب په وجه تر دے حده قيصے کؤولے شي. چه حضرت سيد جلال بخاري عليه الرحمة اوه ځايه ښخ دے. لاحول ولا قوة الا بالله.

چنانچه هم د دے بے خبرئ په وجه په سابق سرحد او قبائيلي علاقو کښې د دے نمونے اوه ځايونه داسے موجود دي. چه هغے هر يو ته د سيد جلال بخاري زيارت وئيلے شي. د مثال په طور:

(الف) د رياست سوات په "ابوها" نومے مقام کښې د سيد جلال بخاري زيارت.

(ب) په ضلع مردان کښې د مرکزي مقام مردان او هوتي تر منځه د آثار قديمه ؤ د پخوانئ ډهريئ د پاسه هديره کښے د سيد جلال بخاري زيارت

(ج) د ضلع پيښور په اتمانزئ کښې د تنګي چارسده سړک په غاړه د کلي جنوب طرف ته د سيد جلال بخاري زيارت.

(د) په کرم ايجنسئ کښې د پورتنئ کرم په علاقه کښې د سيد جلال بخاري زيات. شول د دے نه علاوه په پښتونخوا کښې چه نور هر څومره زيارتونه د سيد جلال بخاري په نوم سره مشهور دي. هغه په حقيقت کښې د کوم يو سيد جلال بخاري زيارتونه نه دي. بلکه په هغے کښې اکثر دحضرت مخدوم جهانيا جهان ګشت آستانے دي. د عبادت زهد او رياضت چيله خانے او تکيه ګانے دکي. او بعض پکښې داسے هم دي چه هغه د دے مخدوم جهانيان په اولاد کښې د نورو سيدانو مزارونه دي چه لفظ "جلال الدين" د هغوئ د نومونو سره په طور د لقب ذکر شوے

دے. او دا خبره غلطه ده. چه سید جلال الدین بخاري اوه ځایه ښخ شوے دے.

خبره دا ده چه لکه روستو به د مخدوم جهانیان د نامور خلیفه حضرت خواجه یحی کبیر غورغشتي په تذکره کښې هم پرے بحث راشي. هر کله چه په هغه زمانه د پښتونخواه د ټولو قبائیلو لوئ روحاني پیشوا هم دغه سید جلال الدین حسین مخدوم جهانیان جهان ګشت وو. په دے وجه هغوئ د خپل نامور خلیفه خواجه یحی کبیر غورغشتي د خواهش مطابق د پښتنو د هر یو ټمن. پښت او قبیلے سره چه په کومه کومه علاقه کښې ورځے او شپے تیرے کړے وے. په دے غرض چه د خدائ دغه مخلوق ته امر معروف او د اسلام د نیکے لارے تبلیغ او هدایت اوکړي. او د شریعت او طریقت په فیوضاتو باندے عام او خاص سر فرازه کړي. نو په دغه وجه په هغه زمانه عام او خاصو ټولو خلقو به د ده خانقاهونه خپلے آستانے ګنړلے. چه روستو د زمانے په تیریدلو. او نا واقفتیا او کم علمئ په سبب د هغے نه زیارتونه جوړ شول. او خبره تر دے حده رااورسیده چه نن وئیلے شي حضرت سید جلال بخاري اوه ځایه دفن دے.

که فکر اوکړي شي. نو نن هم په ټوله پښتونخوا کښې هر هغه ځائے متبرک ګڼړلے شي چه چرته کوم يو ښه سړي ناسته کړے وي. مګر افسوسناک شکل يئې دا دے. چه د يو بزرګ د ناستے د ځاي نه زيات جوړ کړلے شي. جهنډے پرے اولګولے شي. او ډيوے پرے بلے شي. او بيا زياته د افسوز خبره دا ده. چه هغوه بزرګ چه کوم تعليمات مونږ ته پريښي وي. يعنے د خدائ او رسول لاره راښيئنګؤل. د شريعت په احکامو پوره پوره عمل کوؤول. او د نيکئ د ينداريئ. د يانتداريئ. پاکيزه ژوند تيره ول. دغه هر څه هير کړے شي. او فقط د يو بزرګ نوم ياد او ساتلے شي. مونږ له د خپلو مشاهيرو بزرګانو د ژوند نه سبق اخيستل پکار دي. چه د دنيا په دے څو ورځے ژوند کښې د آخرت د پاره د نيکے توښے ګټلو کوشش اوکړو.

تاريخي فائده

دلته د تاريخي فائدے په خاطر د يو څو خبرو درج کوؤل مناسب ګڼړلے شي. يوه دا چه حضرت سيد جلال الدين بخاري ګنج علم (شهيد) ۶۹۰هـ په خاندانونو کښې لفظ د "جلال الدين" او "جلال" د هر يو بزرګ د نوم سره په طور د خانداني لقب استعماليږي. يعنے څرنګ چه د دوئ د نوم سره دوئم نسبتي نوم بخاري ليلکلے شي. د دے خبرے د ښودلو د پاره چه د ساداتو دا خاندان د بخارا استوګن وو. د غه شان د دوئ د نوم سره لفظ د جلال هم ليکلے شي. د

حضرت مخدوم جهانیان په یوؤلسم پشت کښې بره نیکه نوم احمد وو. چه قتال یئے عرف وو. ابو یوسف او ابو محمود یئے اسم کینت وو. او جلال الدین یئے لقب وو. په ۳۴۰هــ کښې پیدا شوے وو. او په ۴۱۲هــ کښې وفات شوے وو. د عراق نه بخارا ته هم دے راغلے وو. چونکه جمال الدین د ده لقب وجو. نو روستو د ده په خاندان کښې دا لقب په موروثني شکل کښې تے شي. د مثال په طور د دے سید احمد قتال د یو ځوي نوم علي وو. هغه په جلال الدین اکبرنامه مشهور وو. د دوئم ځوي نوم ئې محمود وو. هغه په جلال الدین اصغر نامه مشهور وو. او د هغے نه روستو د دے خاندان د هر یو فرد د نوم سره د غه لقب سید جلال الدین استعمال شوي دے.

(۱) دا چه پورته ذکر شوه دا یوه داسے تاریخي نکته ده. چه کومو خلقو فکر دیته نه دے رسیدلے. هغوئ د ځان نه عجیبه عجیبه قیصے جوړے کړے دي. ځکه مونږ اووئیل چه د حضرت مخدوم جهانیان اسم محضه حسین دے. ابو المحمود یئے اسم کنیت دے. جلال الدین یئے لقب دے. او بخاري یئې نسبتي نوم دے. لکه د دوئ د نیکه نوم چې حسن دے. جلال الدین او جلال اعظم یئے لقبونه دي. او میر سرخ بخاري یئے نسبتي نوم دے. او د دے تاریخي نکتے نه دا

هم واضحه کيدلے شي. چه هر کله د سابق صوبه سرحد او قبائيلي علاقو د بخاري ساداتو اکثر خاندانونه هغه دي چه د اوچ بهاولپور نه راخواره شوي دي. لکه د علاقه اورکزي تيراه کوهاټ. پيښور ښهر. هشنغر. سوات او باجوړ بخاري سيدان شول او په دے کښې اکثر د مخدوم جهانيان د خاندان بخاري سادات دي. په دے وجه دے خاندان د اکثرو مشاهيرو بزرګانو د نومونو سره لفظ د "سيد جلال الدين بخاري" په طور د خانداني لقب سره استعمال شوے دے. او ډيره ممکنه ده چه د پښتونخواه په علاقه کښې ځنے زيارتونه چه د سيد جلال الدين بخاري په نوم مشهور دي. هغه د مخدوم جهانيان په خاندان کښې د ډير روستو پيړۍ د بزرګانو سيد انور زيار تونه دي. بهر حالا دا يو داسے سوال دے چه زيات نور تحقيقي به غواړي.

(۲) دويمه نکته دا ده. چه د پيښور ښهر د بخاري ساداتو په قلمي شجره کښې د مخدوم جهانيان د نوم سره په طور د لقب "ګنج عالم" ليکلے شوے دے. دا لقب په نورو تزکرو کښې وجود نه لري. البته د مخدوم جهانيان په نمسو کښې د يو نمسي نوم داسے راغلے دے. سيد عبدالحمان ګنج

عالم ولد سيد سراج الدين ولد سيد نا ناصر الدين محمود ولد سيد جلال الدين حسين مخدوم جهانيان كه مونږ د پيښور د شجرے په سند سره د مخدوم جهانيان د نوم سره "گنج عالم" يو لقبي نوم شمار كړو. نو دا به اووايه چه دا هم د هغه نمونے لقب دے. لكه د حضرت شيخ بهاء الدين ذكريا قدس سره د نوم سره چه "ركن عالم" لقب دے. مگر دلته ورسره دا هم يادلرل پكار دي. چه د مخدوم جهانيان د نوم سره دغه لقب به "گنج عالم" لوستل پكار وي. ځكه چه د ۴۰۰هـ د زمانے د يو بل سيد جلال الدين بخاري تذكره چه مخكښې په تفصيل سره درج شوے ده چه مزار مبارك يئې په ملاكنډ ايجنسئ رياست دير كښې دے. د هغه لقب "گنج عالم" دے. بايد چه د دے فرق لحاظ او ساتلے شي.

بخاري سادات

مخكښې دے خبرے ته اشاره شوے ده. چه په مغربي پاكستان كښې د بخاري ساداتو اكثر خاندانونه د اوچ نه خواره شويدي. او په دوئ كښې زيات تعداد د مخدوم جهانيان د كورنۍ دے. د معلوماتو د زياتوالي په خاطر د دے مبارك خاندان په اختصار سره بيان مناسب معلوميږي.

د حضرت سيد جلال الدين حسين بخاري مخدوم جهانيان پنځه ځامن وو. نومونه يئې دا دي.

(۱) سید حاجي ناصر الدین (۲) سید بهاؤ الدین (۳) سید مکرم الدین (۴) سید حسین الدین. (۵) سید نور الدین.

په دوئ کښې د حضرت مخدوم د مشر ځوي سید ناصر الدین[20] لس ځامن وو چه نومونه یئې دا دي.

سید حامد کبیر، سید علم الدین. سید شهاب الدین. سید اسماعیل سید سراج الدین. سید فضل الله. سید برهان الدین (د ده اولاد په ګجرات کښې دے) سید منور الدین المعروف بندګی شیخ الا سلام (د ده اولاد د دبهارت په قنوج نومے ښهر کښې دے) سید شریف الدین (د ده اولاد په اوچ بهاولپور کښې دے) سید نظام الدین (د ده اولاد په قبائیلي علاقه اورکزائے تیراه کښې دے.)

لیکن چه مخکښې ورته اشاره شوے ده. د حضرت محدوم د مشری ځوی ناصر الدین محمود د پنځم ځوي سید سراج الدین د ځوي نوم سید عبدالرحمان "ګنج عالم" وو. د دے حضرت سید عبدالرحمان د ځوي نوم سید رکن الدین وو. بیا د ده د ځوي نوم سید بڈهاشاه وو. بیا د هغه د ځوي نوم وو.

حضرت سید شاه رحمت الله چهانګلا موج دریا

---

[20]متوني ۸۴۹هـ بحواله د خزینة الا صفیاء جلد نمبر۲ ص ۲۹

چه په موضع منګوره علاقه خوشحال ګړهـ ضلع کیمبل پور کښې یئے زیارت دے. د ده درے ځامن وو.

(۱) سید کنجکوارا (۲) سید امام علي (۳) امام حاجي شاه د دے درے واړه ځامنو قبرونه هم د خپل پلار حضرت موج دریا سره په موضع مینګوره کښې دي. بیا په دوئ کښې د حضرت سید امام حاجي شاه درے ځامن وو. د یو ځوي نوم وو.

سید نبي شاه علیه الرحمة

چه د ضلع پیښور د علاقه مهمند خصوصاً آدي زي، متني. اوکوهاټ ښهر د بخاري ساداتو خاندانونه د ده اولاد د ے. ددے سید نبي شاه په پنځم پشت کښې ښکته د یو نمسي نوم وو.

سید حسن شاه علیه الرحمة

دا سید حسن شاه د ۱۰۵۰هـ په شاؤ خوا کښې د موضع ادینزي. متني نه کوهاټ ښهر ته تلے وو. او هلته د کوهاټ ښهر په محله جنګل خیل کښې آباد شوے وو. اولاد یئے تر اوسه دغلته آباد دے. ډیره عزتمنده روحاني، علي او ادبي کورنئ ده. د دے خاندان نامورو افرادپه تیرو درے سوه کلونو کښې په دے ملک کښې د اسلام ډیر خدمت کړیدے. د پښتو شعبے نامود ادیب پیر مطیع الله هم په دے خاندان کښې تیر

شوے.د ده د یو مشهور مناجات ابتدائي دوه شعرونه داسے دي.

خبر زده کړه
آگاهو
معبود نشته
بے یاهو

تل یا هو
کړه. په زړه
مو
په دنیا مه
کړه هاهو

لا له الا هو

د حضرت سید حسن شاه د نسب شجره داسے ده. سید حسین شاه بن سید گوهر شاه بن سید رنگ شاه بن سید شیر شاه بن سید نجیب شاه بن سید نبي شاه بن سید امام حاجي شاه بن سید رحمت الله موج دریا علیهم الرحمة والغفران.

حضرت سید محمود پیر علیه الرحمة

د حضرت سید امام حاجي شاه د دویم ځوي نوم وو حضرت سید محمود "پیر علیه الرحمة چه د پیښور ښهر. تحصیل پیښور خصوصاً موضع دلازاک او او کانکوله وغیره د بخاري ساداتو خاندانونه د ده په اولاد کښې دي. د ضلع کیمبل پوره علاقے نه په

اول سر کښې هم دغه حضرت سيد محمود پير پيښور ښهر ته تشريف راوړے وو. بيا د دے ځاي نه موضع د لازاک ته لاړل. او هلته آباد شول. روستو تر پنځه وؤ پشتو نو پورے دا خاندان هم هلته په دلا زاکو کښې آباد وو. او بيا د هغه ځاي نه دوباره د دے خاندان سادات پيښو رښهر ته راغلي دي. په دے نزدے زمانه کښې سيد آغا لعل بادشاه په دے خاندان کښې مشهور تاريخي او سياسي شخصيت تير شويدے. په پيښور ښهر کښې د بخاري ساداتو يوه بله کورنئ هم ده چه په کريم شاهي بخاري ساداتو مشهوره ده. د دوئ د نسب شجره حضرت سيد محمد غوث عليه الرحمة ته رسيږي. چه دغه حضرت سيد محد غوث لکه چه مخکښې ورته اشاره شوے ده. د حضرت سيد مخدوم جهانيان مشر تره او استاذ او پير طريقت هم وو.

حضرت ميران محمد شاه موج دريا بخاري

د حضرت مخدوم جهانيان په اولاد کښې په ۱۰۱۳هـ کښې يو بزرگ نمسے تير شويدے. چه د هغه نوم "محمد" وو. او په حضرت "ميران محمد شاه موج دريا بخاري" مشهور وو. د اوچ نه لاهور ته راغلے وو. شهنشاه جلال الدين اکبر ورسره خصوصي عقيدت لرلو. د دوئ د خانقاه د اخراجاتو د پاره ئے په لاهور او بټاله کښې د يو لاکهـ روپو جاګير بخښلے وو. د دوئ دوه ځامن وو. سيد صفي الدين. او سيد بهاء الدين چه د دے دواړو

اولاد په لاهور او بټاله کښې آباد دے. او لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه حضرت "میران محمد شاه" په ۱۰۱۲ھ کښې وفات شوے دے. علیه الرحمة والغفران.

سید احمد بخاري

د حضرت سید محمود ناصر الدین اول ابن محدوم جهانیان علیه الرحمة د یو ځوي قوم سید فضل الدین وو. د هغه د ځوئ نوم سید علاء الدین وو. چه مزار ئے په کشمیر کښې دے. بیا د ده د ځوئ نوم سید ضیاء الدین وو. او بیا د ده د ځوي نوم سید احمد وو چه د کشممیر نه د ضلع کیمبل پور علاقه حج پر ملي نوم کلي ته راغلي وو. بیا د ضلع مردان موضع لاهور ته راغلے دوباره بیا پر ملي ته تلے وو. مزار یئے په پر ملي کښې دے. د دے حضرت سید احمد ... د ځوي نوم وو سید جمال الدین چه مزار یئے په قصبه لاهور ضلع مردان کښې دے. د سید جمال الدین درے ځامن وو. سید رحیم الدین مزار یئے په قصبه لاهور کښې دے. سید برخوردار مزار یئے په یعقوبي کښې دے د دویم ځوي نوم ئے راته معلوم شوے ته دے مګر مزار مبارک ئے په رستم (سدهوم) کښې دے د سید رحیم الدین د ځوي نوم وو سید سیف الدین د هغه د ځوي نوم سید سعد الدین دغه د ځوي نوم وو سید صدر الدین د دوئ ټولو زیارتونه په قصبه لاهور کښې دي. د سید صدر الدین د یو ځوي نوم وو حبیب شاه مزار یئے په رام پور (انډیا) کښې دے د بل ځوي نوم یئے وو سید

ذيب شاه مزار يئے په قصبه لاهور کښې دے.
د ده د ځوئ نوم وو سيد لذت شاه مزار يئے
په حيدر آباد دکن کريم لګر کښې دے. د ده
دوه ځامن وو سيد ولي او سيدان شاه
زيارتونه يئې په قصبه لاهور کښې دي. د
سيد سيدان شاه د دځوي وي نوم سيد محمد
شاه د ے چه نن ورځے ژوندے دے او ځما
خواږه او مشفق دوستان سيد مير بادشاه
بخاري ايډوکيټ او سيد طاهر بخاري د دوئ
عزتمند فرزندان دي.

حضرت خواجه بهاء الدين نقشبند

ولادت: .... بخارا ۷۱۸هـ

وفات:............. بخارا ۷۹۱هـ

هر کله چه د پاکستان په مشرقي او
مغربي دواړو حصو کښې د سلسله عاليه
نقشبنديه بے شميره مشاهير بزرګان تير
شوي دي. په دے وجه د دے مبارکے سلسلے د
باني حضرت خواجه محمد بهاء الدين نقشبند
عليه الرحمة د ژوند مختصر حالات بيانول
مناسب معلوميږي.

د دوئ اصلي نوم محمد ابن محمد بخاري
وو. په نسب حسيني سيد وو. سلسله د نسب
يئے داسے ده. خواجه بهاء الدين محمد
نقشبند بن مير جلال الدين محمد بن سيد
برهان الدين بن سيد عبدالله بن مير سيد

زين العابدين بن سيد، مير قاسم . بن سيد برهان الدين بن سيد محمود بن سيد ايلاق بن سيد امير نقيب بن سيد امير خلوتي بن امير سيد محي الدين بن سيد علي اكبر بن امام حسن عكسري تصوان الله تعالى عنهم اجمعين.

دے په محرم ۷۱۸هـ كښې په قصر عارفان نومے كلي كښې پيدا شوے وو. دا مقام د بخارا نه يو فرسنگ په فاصله دے. ابتدائ تعليم يئے په بخارا كښې حاصل كړے چه د اتلسو كالو په عمر شه نو خپل والد ماجد ورته او فرمائيل چه د روحاني تربيت د پاره حضرت خواجه محمد بابا سماسي له لاړ شه. چه هلته ورغے نو حضرت بابا صاحب اولګيده دے يئے د حضرت سيد امير كلال خدمت كښې پيش كرو. او هغوي ته يئې اووے "نقش بهاء الدين رابربند" يعنے د بهاء الدين د نقش بندي اوكړه. د ده زړۀ په روحاني نقش او نګار شايسته كړه وئيلے شي چه روستو د خواجه بهاء الدين القب چه "نقشبدن" مشهور شوے دے. د دے ابتداء د دغے نه شويده. بعض خلق دا وائي چه د دے لقب وجه دا ده چه كوم طالب د خداي به د دوئ خدمت كښې حاضر شه نو د دوئ روحاني تعليم به د هغه په زړۀ داسے نقش شه. چه هغه سړے به ډير زر خپل مقصد ته اورسيده بعض دا وجه بيانوي چه دوئ به خپلو مريدانو له د الله نوم نقش كړے يعنے ليكلے وركولو لو دا به يئے ورته هدايت كولو. چه په خپل زړۀ د لفظ الله تصور كوئ. چه زړۀ د الله ذكر شروع كړي.

ګویانه شي. او د خدائ د دغه اسم ذات الله او د هغه د صفاتو انوار پرے پریوزي روښانه او ژوندے شي. ځکه ورته نقشبند وائي.

په طریقت کښې د دوئ تربیت حضرت سید امیر کلال علیه الرحمة کړے وو. مګر په حقیقي کښې دده طریقه اویسي وه. او په روحاني طریقه سره خضرت عبدالخالق غجدواني یئے تربیت فرمائیلے وو. وئیلے شي چه د دوئ د پیدا کیدلو نه لا پخوا حضرت خواجه محمد بابا سماسي د دوئ د پیدا کیدلو زیرے ورکړے وو. او چه پیدا شه نو پخپل ځوي یئے نیولے وو. او حضرت سید امیر کلال ته د دوئ د پوره پوره تربیت تاکید کړے وو. او دا ئیے ورته فرمائیلي وو. چه ځما د دے فرزند د لبند په حق کښې په تربیت او شفقت کښې کوتاهي او نه کرے. چنانچه هغوئ دا حکم په سر سترګو منلے وو. هر کله چه حضرت سید امیر کلال د دوئ پوره پوره تربیت او فرمائیلو نو ورته یئے اووئیل چه ما د خپل مرشد د حکم مطابق ستا کار اوکړلو. لیکن ستا ستدعاد او حوصله ډیر لویه ده. په دے وجه ځما طرف نه تا ته اجازت دے. چه که د نورو مشائخو او بزرګانو نه فیض حاصلول غواړي نو لاړشه. چنانچه د دے اجازت موندلو نه پس حضرت خواجه بهاء الدین روان شه. د حضرت شیخ فتح او حضرت شیخ خلیل اقا په خدمت کښې حاضر شه او د هغوئ نه یئے باطني فیوضات حاصل کړل. د حضرت شیخ خلیل آقا په خدمت کښې یئے دولس کاله

تیر کړل. او دهغوئ سره یئے دوه ځله د حج بیت الله سفر اوکړو د خلیل آقا نه چه رخصت شه. نو بخارا ته سمر قندته لاړل. او د هغه ځاي د بزرګانو نه یئے فیض حاصل کړلو. بیا واپس بخاراته راغے. په دغه دوران کښې حضرت بابا سماسي وفات شوے وو. څه ورځے پس یئے واده او کړلو. او په "قصر عارفان" کښې یئے استوګنه اختیار کړه. چه هم دلته[21] په ۱۵، ربیع الوال ۷۹۱هـ کښې وفات شه. علیه الرحمة والغفران.

د حضرت خواجه بهاء الدین نقشبند روحاني او عرفاني مقام ډیر اوچت وو. د ده پیر طریقت حضرت شیخ فتح علیه الرحمة به فرمائیل. د بهاء الدین په سینه کښې چه د الله د طلب او معرفت کوم اور بلیږي. دغه د بخارا په زمکه شاید که د بل چا نصیب شوے وي.

په نقشبند په طریقه کښې یو اهم خصوصیت دا دے. چه د مرید په زړهٔ کښې د خپل پیر سره ډیره بے دریغه مینه او محبت پیدا کیږي. د دے ابتداء هم د حضرت خواجه بهاء الدین نقشبند نه شوے ده. د بیعت نه روستو د دوئ د خپل شیخ سید امیر کلال سره والهانه محبت لرلول. او دا محبت یئے تر دے حده رسیدلے وو. چه روایت دے یوه ورځ دے د خپل پیر ملاقات له تللو. په لاره کښې

[21]دغه "قصر عارفان" نومے مقام نن ورځے د اشتراکي روس په قبضه کلي دے. او روسي حکومت د حضرت خواجه صاحب د مزار اقدس نګراني کوي. (اثر)

په اس سوریو سړے مخے له درغے. هغة ورسره خبرے کوؤل غوښتل لیکن دوئ ورته توجه اونه کړله. په مخه ترینه لاړ. چه د شیخ په خدمت کښې حاضر شه. هغوئ ورته اووے په لاره کښې یو سور په مخه درغلے وو. هغه خضر علیه السلام وو.ستا سره یئے خبرے کول غوښتل. توجه د ورته ولے او نه کړه. عرض یئے اوکړ. زهٔ ستا سو طرف ته متوجه ووم. د بل چا طرف ته م توجه د خپل شیخ او پیر طریقت سره دے محبت ته د نقشبندیه طریقے په اصطلاح کښې "تصور شیخ" وائي. د دے فائده دا وي چه مرید بالکل "فنائي الشیخ" شي. او د شریعت د مکملے تابعدارئ سعادت او استقامت ورته حاصل شي. او د هغے په برکت د "فنافي الرسول" او فنائي في الله" مقامونون ته ترقي ورکول ورته اسان شي د "فنافي الشیخ" مقام ابتدائي مقام دے. چه د "لطیفه قلبي" نه روستو حاصلیږي او د لطیفهٔ روح. لطیفه خفي. لطیفه اخفي او "لطیفه سر" په دوران کښې کمال ته رسیږي.

حضرت خواجه بهاء الدین نقشبند د ډیرو اوچتو اخلاقو خاوند وو. هر څوک چه به د دوئ ملاقات له راغے نو ډیر په تواضع سره به یئے د هغه خدمت کولو. فرمرائیل به ئي. میمله په حقیقت کښې پخپلو راتللو په مونږ احسان کړے کړے دے. د فایدے په خاطر دلته د دوئ یو څو ارشادات درج کوؤلے شي.

ارشادات

(۱) فرمائي: د رسول پاک صلي الله عليه وسلم د سنت په تابعدارئ کښې خوب کوؤل د هغې نه بهتر دي. چه د شرعيت په خلاف ورزي کښې يو سړے بيدار پاتے شي.

(۲) دوئ به خپلو مريدانو ته ډير په تاکيد سره د سنت بنوي صلي الله عليه وسلم د پيروئ کؤلو حکم ورولو. او فرمائيل به يئے دخداي په رضا راضي اوسيږئ. خپله رضا او خپل اختيار پريږدئ. او د مخلصانه عمل په ذريعه معرفت حاصل کړئ.

(۳) يوه ورځ يئے او فرمائيل: هر چاته چه څه برخره رسيدلے ده. څه يئے موندلي دي. نو د ادب په برکت يئے موندلي دي. بے ادبه انسان محرومه پاتے کيږي.

(۴) فرمائ په نقشبنديه طريقه کښې رياضت او مجاهده نشته دے. صرف دومره کار کول لازمي دي. چه سړي د نفس په خواهشاتو پسے تلل پريږدي. بيا په لږ محنت سره ډيره فائده ورته حاصليدلے شي. ضرورت د دے خبرے دے. چه زړهٔ د کوم څيز سره تعلق لټوي. هغه دنياوي خواهشت پريښودلے شي. ځکه چه تر څو پورے مادي او دنياي وخواهشات په زړهٔ او نظر

کښې موجود وي. نو دالله تعالی دحق ذات مینه پکښې نه شي ځاي کیدلے. که یو کور خالي نه وي. نو میلمه که راشي. هغه به کوم ځي قیام کوي.

(۵) دوی به کراماتو او احوالو له چندان اهمیت نه ورکولو. فرمائیل به یئے دا څه د اعتماد قابلے خبرے نه دي. د کار خبره خو دا ده چه سړے په کار کښې مشغول پاتے شي. یعنے د خداي د یار نه غافله پاتے نه شي او د ذات د حقیقت په بے پایانه سمندر کښې لامبو اووهي.

(۶) دوئ به فرمائیل هو انسان له پکار دي. چه د خپل نفس محاسبه اوکړي. چه څومره ساعت یئے د خداي په یادو کښې او په حضور کښې تیر کړ. او څومره ساعت یئے د غیر په خیال کښې تیر کړ. که د حضور نه په غیر یئے وخت تیر کړے وي. نو دغه لویه د نقصان خبره ده (یعنے داسے ژوند تیرول پکار دي. چه دست برکارودل بایار") دیته په اصطلاح کښې "خلوت درجلوت" وائي.

(۷) د حضرت خواجه بهاء الدین نقشبند تعلیمات دومره واضح او دل نشین دي. چه واقعي په زړهٔ

نقش کیږي. او د هرے طبقے خلق ترینه فائده حاصلوي د دوي دا نصیحت ځومره دل نشین دے. فرمائي: خداي پاک مونږه د خپل فضل په دروازه دے دنیا ته رانسه ایستلي یو. او ځمونږ طریقه فرض. واجب او سنت مؤکده ادا کول دي. د پاک رسول د سنت او د صحابه کرام د آثارو پیروي کول دي. څوک چه ځمونږ په ملګرو کښې ځان شماری هغة له ځمونږ پیروي پکار ده. که داسے او نه کړي. نو هغه سره ځمونږ هیڅ تعلق نشته دے.

(۸) په بخارا کښې یو عالم ترینه تپوس اوکړو. چه په مانځه کښې د زړهٔ حضور په کوم څیز حاصلیږي دوئ ورته او فرمائیل چه په حالال رزق خوړلو سره. چه ښه په پوهه سره اوتسلئ کولو سره او خوړلے شي. چه آیا دا حالال دے. که حرام.

(۹) فرمائي: ولایت یو نعمت دے. ولي له پکار دي چه د خپلے بزرګي د مرتبے نه خبردار دے وي. د پاره د دے چه په دے نعمت د خداي شکر ادا کړي. ولي د خداي په مهربانئ سره محفوظ وي. د ټولو آفتونو نه یئے خداي بچ کوي. که د یوسړي نه خرق عادت کارونه او

احوال او کرامتونه څرګندیږي. نو دغه څه قابل اعتماد څیز نه دے. د کار خبره دا ده چه آبا دا سړے چه ځان ته بزرګ وائي چه دے د خداي او رسول په وینا باندے قولاً او فعلا ټینګ ولاړ دے که نه. د ده کارونه او وینا په شریعت برابري دي که نه. د دے لارے تلونکي چه د الله تعلي د احکامو پوره تابعدادي او په هغے عمل شروع کړي. نو هغه له د ولایت خاصه درجه ورکړے شي. د دے ډلے خلق د دے قسمه دي. مقلد. کامل، او کامل مکمل. مقلد چه څه آوري په هغے عمل کوي. او کامل د خپل ځان تجاویز نه کوي. ا ونه یئے کوؤلے شي. د یو مرید د پاره د دے صفتونه ضروري دي. اراده. تسلیم. عدم اختیار دا ډیر لوئ صفتونه دي. او په ځان کښې د دے پیدا کول ډیره لویه خبره ده. دا ارادے نه مراد د خپلے ارادے ترک کول دي. مرید له پکار دي چه د شیخ په مرضئ باندے خپل مرضي پریږدي. هم دغے ته تسلیم وئیلے شي.

(۱۰) فرمائي: مرشد په منزله د حاذق حکیم" وي. د ضرورت مطابق د مرید علاج کوي. د مرید د پاره په خپل علاج کښې د خپل اختیار

نه کار اخستل زهر دي. او دا يادلرل پکار دي. چه ذکر . تلقين. بيعت او لاس نيوه د کامل مکمل پير نه پکار ده. چه د هغے اثر په نظر کښې راشي. او نتيجه يئے ظاهره شي. د ذکر نه مراد دا دے چه ذکر د کلمه توحيد حقيقت ته اورسيږي (يعنے چه يو سړے مريد شي. پيرورته د کلمه توحيد ذکر او ښائي. نو که پير کامل مکمل وو. هال په د هغے دا اثر کيږي. چه مريد د کلمه توحيد زکر شروع کړي نو د دے کلمه توحيد حقيقت به ورته څرګند شي. که پير کامل مکمل نه وي. نو د مريد په احوالو کښې به هيڅ فرق نه راځي.) په داسے حال کښې دا ضروري نه ده. چه مريد دے کلمه توحيد په زړګونو ځله اووائي. د کلمه توحيد حقيقت دادے چه د دے په تکرار سره د ماسوا الله نفي راشي. او د مريد په زړهٔ کښې د خدائي نه په غير د نورو څيزونو مينه کمه شي.

(۱۱) فرمائي: د مغز حفاظت په پوستکي باندے کيږي. که د يوے دانےپوستکي خراب شي. مغز يئے لازماً خرابيږي. شريعت پوستکے دے او طريقت يئے مغزدے. که يو سړے د شريعت دا احکامو پوره پوره

پابندي نه کوي. نو د هغې نا
کاره اثر به د هغه د طريقت په
احوالو لازماً پريوزي. سلامت نه
شي پاتې کيدلې.

خليفه ګان

د حضرت خواجه بهاء الدين نقشبند مجلس ته به ډير لوئي لوئ عالمان راتلل او د دوئ نه به يئے فويضات حاصلول لکه په بخارا کښې مولانا حسام الدين اصيلي او مولانا حميد الدين شاشي. عليهم الرحمة شول. د برصغير هندو پاکستان مشهور بزرګ حضرت سيد اشرف جهانګير سمناني عليه الرحمة چه په اول سر کښې د حضرت مخدوم جهانيان جهان ګشت د اوچ بهاولپور او د شيخ علاء الحق قطب بنګالي مريد وو. په آخر عمل کښې بخارا ته تلې وو. او د حضرت خواجه بهاء الدين نقشبند نه يئے بيعت کړې وو.

د حضرت خواجه بهاء الدين نقشبند په مريدانو کښې د يو نامور خليفه نوم مولانا يعقوب چرخي وو. (چرخ د کابل او غزني تر منځه د يوې علاقې نوم دې) بيا د ده د نامور خليفه نوم عبيد الله اځرار وو. بيا د هغه د خليفه نوم خواجه زاهد محمد وو. او د دوئ د خليفه نوم حضرت خواجه باقي بالله وو. چه مزار مبارک يئے په دهلي کښې دې او په هندوستان پاکستان کښې د سلسله عاليه نقشبند په بنياد کيښودونکے دې. د حضرت خواجه باقي بالله

په نامور خلیفه ګانو کښې حضرت خواجه شیخ احمد فاروق سر هندي مجد د الف ثاني علیه الرحمة (ولادت ۹۷۱هـ وفات ۱۰۳۵هـ) د لوئ شان او مرتبے خاوند تیر شوے دے. د دئ نه روستو سلسله "نقشبندیه" په مجدریه" طریقه سره یادیږي. ځکه چه دوئ د نقشبندیه سلسلے د سیر او سلوک په طریقو کښې د تجدید نه کار اخسیتے دے. او د نورو درے واړه طریقو قادریه. چشتیه. سهروردیه فیوضات یئے هم پکښې شامل کړي دي.

د مغربي پاکستان خصوصاً پیښور ډیوژن. ډیره ډیژن. کوئټه. ډویژن او قبائل علاقو اکثر مشاهیر بزرګان هم د دے سلسله عالیه نقشبندیه بزرګان دي. لکه حضرت اخون الیاس علیه الرحمة د لاجبوک ریاست دي.ر حضرت میا نور محمد صاحب د سلامپور، ریاست سوات. حضرت شیخ حبیب صاحب د پیښور ښهر حضرت شیخ عبدالله ځاجي بهادر د کوهاټ علیهم الرحمة شول.

د نقشبندیه طریقے لوئ تعریف دا دے. چه څوک په دے طریقه کښې بیعت اوکړي. نو بیا هغه سرے پخپل ټول ژوند کښې د شریعت اسلام د احکام مکمله پیروي کوي. د پاک رسول الله علیه وسلم د سنت تابعدار وي. په نمونځ روژه. زکوة حج ادا کولو کښې قصور نه کوي. عمل یئے نیک شي. مخ سترګے اوزړهٔ یئے روښانه شي. او په تندي کښې یئے د ایمان نور ځلیږي. په داسے زمانه کښې چه هر خوا ته د فسق. فجور او بدعت

دور دوره وي. د نقشبند يه طريقے مشائخ او بزرګان د دين اسلام لوئے خدمت کوؤولے شي. په نقشبنديه طريقه کښې چه سړے داخل شي. د هغه په زړهٔ کښې مينه. سوز او درد پيدا شي. د خدائي سره مينه د خدائ د رسول سره مينه. د دين اسلام سره مينه او د خدائ د مخلوق سره مينه يئے پيدا شي. او ظاهره خبره ده چه. دا ټولے د نيک بختئ خبرے دي. او دا ټول د حضرت خواجه باء الدين نقشبندي د مبارکو انفاسو برکت دے.

عليهم الرحمة والغفران

حضرت پير بدر عالم زاهدى

(مشرقي پاکستان)

ولادت:...................................
. ميرټهـ ۷۰۴هـ

وفات:...................................
.. بهار ۷۹۴هـ

د مشرقي پاکستان. مغربي بنګال او بهار په مشائيخو او بزرګانو کښې حضرت شيخ الا صفياء. قطب بنګله. سيد. شاه مخدوم. پير بدر الدين بدر عالم زاهدي عليه الرحمة ډير جليل القدر اع عطيم

المرتبت بزرګ تير شويدے دے. خانداني شيخ طريقت وو. ممتاز عالم وو. د اسلام سرګرم مبلغ وو. او د يو لوئ وضاهت او وقار خاوند وو.

د پير بدر عالم پلار نيکو نه په اصل د روم اوسيدونکي وو. د ده په مشرانو نيکونو کښې د يو مشرنيکه يئے سلطان سيد احمد صوفي نوم وو. چه د يو رياست حکمران وو.د يو فقير د نصيحت اثر پرے اوشه. بادشاهي يئے پريښوده او فقيري يئے اختيار کړه. د دے سلطان سيد احمد صوفي د ځوي نوم خواجه شهاب الدين کبير امام کعبه وه.ا و ډيره موده يئے په کعبه مکرمه کښې اماماتي کړے وه. دے د سلطان شمس الدين التمش متوفي ۶۳۳هـ په زمانه کښې ميرټهـ نومے ښهر ته راغے. دلته استوګن شه او بيا په ۶۵۸هـ کښې په حق اورسيده. د ده د ځوي "خواجه فخر الدين خدا داد بزرګ" نوم وو. او د اسلام په اشاعت او تبليغ کښې يئے ډيره لويه حصه اخيستے ده. د خواجه فخر الدين د ځوي نوم خواجه شهاب الدين وو. چه روستو په "حق ګو شهيد" لقب باندے مشهور شويدے. څه وخت چه د دوهلي په تخت باندے د سلطان علاء الدين خلجي ځوي سلطان قطب الدين مبارک خلجي بادشاه شه. نو چونکه دے سلطان د حضرت خواجه شهاب الدين سره ډير عقيدت لرلو. نو د هغے په وجه يئے حضرت خواجه شهاب الدين حق ګو شهيد د ميرټهـ نه دهلي ته راواوبللو او دلته يئے د هغوئ د

استوګنے د پاره خانقاه وغیره جوړ کړل. د خلجي خاندان نه روستو د تغلق خا ندان حکومت چه شرو شه. نو د دے خاندان اولنے بادشاه غیاث الدین تغلق هم د دحضرت خواجه شهاب الدین ډیر معتقد وو. چنانچه د خواجه شهاب الدین ځوي چه فخر الدین ثاني نوم یئے وو. هغه له سلطان غیاث الدین تغلق خپله لور هم ورکړے[22] وه.لیکن چه په غیاث الدین تغلق پسے روستو محمد تغلق بادشاه شه. نو د هغه او خواجه شهاب الدین تعلقات خراب شول. د تعلقات تر خرابیدلو وجه دا وه. چه محمد تغلق دا غوښتل چه خواجه شهاب الدین دے هم لکه د نورو عالمانو د ستخط اوکړی چه سلطان محمد تغلق یو "عادل سلطان" دے. د دے په جواب کښې د حضرت خواجه شهاب الدین جواب دا وو. چه زهٔ دا دستخط نه شم کوؤلے. ځکه چه زهٔ ظالم ته عادل نشم وئیلے. چنانچه هم په دغے باندے محمد تغلق اولګیده. حضرت خواجه شهاب الدین یئے د تغلق آباد د قلعه د دیوال نه شکته ګزر کړ. شهید یئے کړ. او د دغے په وجه "حق ګو شهید" د دوئ لقب او ګرځیده. د دے واقعے ذکر د ابن بطوطه په سفر نامه "عجائب الا سفاد" کښې "تاریخ فرشته" منتخب التواریخ. اخبار الا خیار. او ګلزار ابرار کښې راغلے دے. د دے نه دا هم معلومیږي چه د هغة زمانے په اولیاء کرام کښې خواجه

---

[22]خواجه فخر الدین ثاني دویم واده هم کړے وو. او د حضرت شاه صلاح الدین (مزار یئے په محله چو کهنډی بهار شریف کښې دے) لور بي بي یئے په نکاح کړے وه. (اثر)

شهاب الدين حق ګو شهيد ته اهم مقام حاصل وو.

د اخبار الا خيار د روايت مطابق د حضرت خواجه شهاب الدين حق ګو شهيد د ځوي حضرت خواجه فخر الدين ثاني مزار مبارک هم په دهلي کښې د حضرت شاه عبدالعزيز دهلوي د قبر سره نزدے او د حوض شمسي خوا کښې دے. د خواجه فخر الدين ګنړ ځامن وو. چه په ةغوي کښې دا شلور ځامن يئے زيات مشهور شوي دي. (۱) شيخ حاجي چراغ هند (مزار ظفر آباد) (۲) شيخ صدر عالم (مزار جو نپور) (۳) شيخ بهاء الدين ګنج دوامي (مزار کالپی) (۴) شيخ بدر الدين بدر عالم زاهدي.

په دوئ کښې حضرت شيخ بدر عالم زاهدي په بهار او بنګال کلے د دين اسلام تبليغ اوکړ. او ډير لوئ نوم يئے پيدا کړ. او لکه چه مخکښې ذکر او شه دے په ګنړ والقابو سره ياديږي. لکه شيخ الا صفياء. قطب بنګاله. مخدوم. شاه. پير بدر الدين بدر عالم زاهدي. په مشرقي پاکستنا. مغربي بنګال. اراکان. برما کښې په "پير بدر او "بدر شاه" نومونو ياديږي. او د شمالي بهار په علاقه کښې د "جلوپير" په نامه ياديږي.

حضرت پير بدر عالم زاهدي په ۷۰۴هـ کښې په "ميرټهـ" کښې پيدا شوے وو. په هغه زمانه د دوي مشران دلته اوسيدل. بيا چه حضرت خواجه شهاب الدين حق ګو شهيد د

هلي ته لاړ. او هلته استوګن شه. نو دے هم ورسره وو. او هلته يئے تعليم او تربيت حاصل کړ. د خپل والد ماجد خواجه فخر الدين زاهدي نه يئے په سلسله زاهديه کښې لاس نيوه اوکړه. پير بدر عالم د دهلي نه روان شه جون پورته لاړ. هلته د ده مشر رور حضرت شيخ صدر عالم زاهدي او سيد لو. څه ورځے يئے د هغوي سره تير کړے. او د هغه ځاے نه د مشرق په طرف روان شه. بهار شريف ته لاړ. او هلته د حضرت مخدوم الملک شيخ شرف الدين بهاري په خذمت کښې حاضر شه. او د هغوئ په صحبت کښې يئے څه موده تيره کړه. حضرت مخدوم الملک ورته او فرمائيل. چه بنګال ته لاړ شه. هلته د دين اسلام تبليغ ضرورت لا باقي پاتے دے. د دغے نه روستو حضرت پير بدر عالم زاهدي د مختلفو مقاماتو د سياحت نه پس په ۷۴۰هـ کښې مشرقي پاکستان ته را اورسيده او سونار ګاؤ (ډهاکه) ته راغے. بيا چاټ ګام ته يئے تشريف يوړلو.

چاټ ګام

حضرت پير بدر عالم زاهدي چه چاټ ګام ته تشريف راوړلو. نو دغه يئے خپل مرکزي مقام اوګرځولو او په چار چاپيره علاقو کښې يئے د اسلام تبليغ شروع کړ. په دغه زمانه په سونار ګاؤ باندے سلطان فخر الدين مبارک شاه حکمران وو. او هغه د ده معتقد او مريد وو. د ابن بطوطه د بيان نه معلوميږي. چه د حضرت پير بدر عالم زاهدي په سلطان مبارک شاه او د هغه په

اميرانو وزيرانو باندے ډير زيات اثر وو. او دغه نامور سلطان هم د دے پير بدر عالم په هدايت باندے خپل جرنيل غازي قدل خان د چاټ ګام غزالي ليږلے وو. او دا علاقه يئے فتح کړے وه. او د هغے نه روستو دوي پخپله په چاټ ګام کښې استوګن اختيار کړے وه. دا واقعه په ۷۴۶هـ کښې چه چاټ ګام ته راغلے وو. نو حضرت پبر بدر عالم زاهدي دلته يعنے په چاټ ګام کښې وو. دے بندرګاه ترقي کړے وه. چين جاوا. سماټراته به د دے ځاي نه جهازونه تلل. د حضرت پير بدر عالم زاهدي سره چه په تبليغ مهم کښې کومو ملګرو حصه اخيستے ده. په هغوئ کښې د حضرت محسن المعروف په حاجي خليل عليه الرحمة نوم د يادولو دے.

په کومه زمانه کښې چه حضرت پير بدر عالم زاهدي "چاټ ګام" ته تشريف راوړے وو. په هغه نيټه دا علاقه ټوله ځنګل. ورانے ويجاړے کندے او شاړه وه. هر طرف ته وحش او بربريت وو. د اسلام د تعليم نه خلق بے خبره وو. د مقامي خلقو د روايت مطابق دا علاقه د پيريانو. ديوانو او بلاګانو ډکه وه. په داسے حالاتو کښې دلته قيام کؤل. او ځنګلي او وحشي قبائيلو ته تعليم او تبليغ کؤل څه آسان کار نه وو. ليکن خدائے پاک چه پير بدر عالم له کوم روحاني طاقت ورکړے وو. هغے ته دا هر څه اسان شول.

د چاټ ګام په خلقو کښې د پير بدر عالم په حقله د لچسپے قصے مشهورے دي.

وئيلي شي. چه د دے زمکے خلق به د پير بدر عالم زاهدي د تشريف راوړلو نه وړاندے د پيريانو. ښاپيرو. ديوانو او مګهـ نومے قبائيلي خلقو د لاس نه ډيره تنګ وو. چاټ ګام نه چه حضرت پير بدر را اورسيده. نو د يو غر په سره باندے يئے چراغ روښانه کړ. د ځان نه يئے ګير چاپيره اوه کرښے (حصار) تاؤ کړ. کشيناستلو. د چراغ بليدلو سره سمدستي پيريان ديوان ټول او تښتيدل. چه کوم کوم ځاي ته د چراغ رنړا رسيدله هغه ټوله علاقه محفوظه شوله. چونکه د دے علاقے په مقامي ژبه کښې چراغ ته "چټي" وائي. په دغه مناسبت سره د دے ځاي نوم "چټی ګرام" شه. او په کثرت استعمال سره چاټګام او چټګاؤ شه. نن ورځے په چاټ ګام کلي د "قدم مبارک مسجد" سره نزدے چه کوم غر دے. هغے ته چټير پهار" يعنے د "چراغ والا غر" ورته وائي. او کوم ځای چه د سرکاری عدالتونو آبادي ده. هغے ته "پری کي پهاړ" يعنے د پيريانو غرور ته وائي. وئيلي شي چه هم په دے ځاي کښې حضرت بدر پير چراغ روښانه کړے وو.

حضرت پير بدر عالم په مشرقي پاکستان، چاټ ګام کښې څه د پاسه څلويښت کاله تيرولو نه پس په ۷۸۲هـ کښې د حضرت مخدوم الملک شيخ شرف الدين بهاري عليه الرحمة په بلنه سره بهار شريف ته رواروان شه. د دوئ د رارسيدلو نه مخکښې د حضرت شيخ شرف الدين انتقال شوے وو. دوئ راغلل او د هغوئ مزار مبارک له يئے

غیبړ ورکړه. جخت ورسره کښیناست. د هغې نه پس د بهار شریف په قلعه کښې یئې څه ورځې قیام او فرمائیلو او بیا "سوه ډیهه" نومې مقام ته لاړ. هلته استوګن شه. د حضرت مخدوم الملک نه روستو د بهار د علاقې د "شاه ولایت" مرتبه دوئ ته ورکړې شوه. په ۷۹۴هـ کښې تقریباً د څلورنیمې شلو کالو په عمر وفات شه. د وفات ماده تاریخ یئې د دې جملې نه دا خیژي. "بدر حق پیوست" هم په دغه "سوه ډیهه" نومې کلي کښې وفات شوې وو. آستانه یئې هم دغلته ده. دا لویه محله ده. د شنهشاه فیروز تغلق په حکم سره دلته یو جماعت هم جوړ شوې وو. د پیر بدر عالم زاهدي درګاه او مزار په "چهوټي درګاه" یادیږي. او د حضرت مخدوم الملک زیارت په "بړي درګاه" یادیږي د دواړو تر منځه تقریبا نیم میل فاصله ده. په چاټ ګام کښې په کوم ځاي کښې چه دوئ چله اوکښلې وه. هلته یئې هم یو مصنوعي زیارت او قبر جوړ دې. خلق زیارت له ورځي. په مغربي بنګال کلې په مقام د کالنا (بردوان) کښې هم د دوي چله خانه موجوده ده.

په بهار شریف کښې په "چوټي درګاه" کښې چه د پیر بدر کومه آستانه ده. د هغې احاطه ډیره لویه ده. په هغې کښې دوه حلقې دي. په اولنۍ حلقه کښې د دوئ د خوي شاه سلطان زاهدي مزار دې. په دویمه حلقه کښې پخپله د پیر بدر او د دوئ د دوئمې بي بي حضرت بي بي ننهي علیها الرحمة زیارتونه دي. د فیروز شاه تغلق په زمانه

کښې چه دلته کوم جماعت جوړ شوے وو. هغے له اوس د عيد ګاه شکل ورکړے ويدے. د حضرت پير بدر په آثارو کښې د چاټ ګام چله خانه لوئ اهميت لري ځنے خلق د ناوقضتيا په وجه دغهد دوئ اصلي مزار ګنړي. حالانکه دغه خيال غلط دے. دا چله خانه د چاټ ګام په بخشي بازار کښې ده. عمارت يئے شاندار او وسيع دے. دننه پکښې ګنړے حلقے دي. په منځ کښې يوه حلقه ده. چه د پاسه پرے ګنبد جوړ دے په هغے کښې يو اوچت مصنعوعي قبر دے. چه په هغے باندے غلاف او سپين صافا څادر پروت وي. لوبان. اګربتي او نورے خوشبو يئے پکښې لګيدلے وي. د چاټ ګام خلق د دے درګاه سره ډير زيات عقيدت لري. دلته د هرے طبقے او هر مذهب خلق حاضريږي. نذرنياز او منښتے کوي. د خير او برکت په خيال اګر بتئ چه دلته بله کړی نو هم دغه شان بله کړے يئے کورونو او دوکانونوته وړي. او که په لاره کښې هغه اګر بتئ مړه شي. نو بد فالي يئے ګنړي. په چاټ ګام غريئزه علاقه. ارکان. اکياب. او د برما په ساحلي علاقو کښې ګنړ ځايونه. قديم عمارتونه. جماعتونه پير بدر ته منسوب دي. او هغے ته بدر مکان، بدر کنوا، بدر کهالي وغيره وئيلي شي. او په کوم ځي کښې چه د دوئ چله خانه ده هغے ته "بدريټی روډ" وئيلے شي.

واقعات دا دي چه حضرت پير بدر عالم زاهدي د مشرقي پاکستان د مختلفو علاقونه علاوه په تري پوره. اراکان. اکياب او د

برمانه پورتنئ علاقه او د خليج بنګال په مختلفو جزيرو کلې د اسلام تبليغ کړے وو. او څه د پاسه څلويښت کاله زمانه يئے دلته تيره کړے وه. د دوئ کوم مبارک اثار چه په دے علاقو کښې تر نن ورځے پورے موجود دي. دا دغه زمانے سره تعلق لري.

د مشرقي پاکستان او مغربي بنګال د عوامو په زړۀ او دماغ باندے د پير بدر عليه الرحمة زبردسته غلبه ده. خصوصاً د ملا حانو (مانړګيانو) لکه د خضر عليه السلام په شان محافظ او دستګير ګنړلے شي. د مشرقي پاکستان مانړګيان چه په طوفان کښې ګير شي نو داسے چغے اوباسي. الله. نبي. پانچ پير بدر. بدر:! د چاټ ګام په علاقه کلې چه مانړګيان د خپلے کشتئ يا جهاز لنګر پرانيزي نوم د الله. نبي د نوم اخيستلو نه روستو داسے نعره وهي. "مدد بدر" د چاټ ګام ډويژن په کلو کښې د کشتئ ګانو جنګولو ډير رواج دے. پهوانان چه کشتئ جنګوي ياپه پر زولو ورځي نو هم د "پير بدر" نوم ياده وي. خدائ ښه پوهيږي، د پير بدر" په نوم کښې څومره لوئ تاثير دے. چه څومره صدئ تيرے شوے. او د هغے باوجود د عامو خلقو په زړونو کښې د دوئ سره بے دريغه عقيدت هم هغه شان موجود دے. او په هغے کښې څه کمے نه راځي. د چاټ ګام نه په وړاندے د اراکان. اکياب. برما او ملايا پورے د پير بدر نوم اخيستلے شي.

د چاپ ګام نه علاوه په سونار ګاؤ (ډهاکه) کښې هم يو درګاه د "پناچ بدر پير" په نوم ياديږي. چه په هغې کلې د دوئ د مريدانو زيارتونه دي. په بنګال کښې د حضرت شاه جلال تبريزي او حضرت پير بدر عالم زاهدي په شان مقبوليت نورو بزرګانو ته نه دے حاصل شوے. په بهار کلې هم پير بدر په لايو مشائخو کښې شميرلے شي. او د حضرت مخدوم الملک شرف الدين نه روستو د دوئ نوم راځي. او هم په دغه وجه د مخدوم ستانے ته لرى درګاه وائى. او د ده ستانے ته ورکوټے درګاه وائي. د حضرت پير بدر په سينه باندے چه کوم ويشته وو. هغه داسے تاؤ راتاؤ شوي وو. چه د کلمه طيبه لا اله الا الله محمد رسول الله نقش به معلوميدل. د دوي بے شميره خليفه ګان وو. په بهار او بنګال کښې زاهديه سلسله د دوئ نه خوره شوے وه. دا سلسله د مشهور پير طريقت حضرت خواجه ابو اسحاق شهريار ګازروني په واسطه سير سيد الطاءفة خواجه جنيد بغدادي ته رسيږي. په بر صغير پاک و هند کښې دا سلسله د پير بدر عالم زاهدع مشرنيکه حضرت خواجه شهاب الدين کبيرا امام زاهدى رانجه کړے وه. او لکه چه مخکښې زکر او شه. په بنګال او بهار کښې ورله دوئ فروغ ورکړے وو.

لکه چه مخکښې ذکر شويودے سلطان مبارک شاه او د هغه وزيران اميران د ده مريدان وو. دغه شان په حسين شاهي بادشاهانو کښې سلطان محمود ثالث يئے دومره پر خلوصه عقيدتمند وو. چه د دوئ د

نوم په مناسبت سره خپل نوم او لقب يئے عبدالبدر ايښے وو. او په خپله خطبه او سکه کښې به يئے هم دغه "عبدالبدر" نوم استعمالولو.

د حضرت پير بدر عالم زاهدي عليه الرحمة دوه بيبيانے وے. يوه د سلطان فيروز شاه تغلق لور وه. د هغے نه يئے ځلور ځامن وو. مخدوم شهاب الدين پير قتال. مخدوم پير شاه ابو سعيد. حضرت شيخ جنيد. مخدوم تيز طبع. دريمه بي بي يئے د مهاراجه پر تهوي راج د خاندان ځنے وه. د دے نه يئے يو ځوي مخدوم شاه سلطان اويوه لور بي بي ابدال پيدا شوي وو.

نسلي او روحاني سلسله يئے د پير قتال. مخدوم شاه سلطان شاه ابو سعيد. او مخدوم بي بي ابدال نه قائم شوے وه. د بنګال او بهار په مختلفو مقاماتو کښې يئے تر اوسه پورے فيض جاري دے. د ده نه روستو شاه سلطان د ده ګدي نشين وو. هغه هم په خپلو زمانه کښې مشهور شيخ وو. او د بهار په لويو بزرګانو کښې شميرلے شي. د خپل والد ماجد سره نزدے په يو ځان له چار ديوارئ کښې يئے مزار دے.د شاه ابو سعيد مزار په چهوټي درګاه کښې د جماعت خوا سره دے. د حضرت شيخ جنيد مزار د بهار شريف د قلعه سره دے. او د حضرت مخدومه بي بي ابدال زيارت په محله "ديوي سراي کښې دے. حضرت مخذومه بي بي ابدال د بهار په خاوره مشهوره بزرګه تيره شوے ده. رحمة الله عليهم اجمعين.

د پیر بدر زاهدي همعصر بزرګان

په کومه نیټه چه حضرت پیر بدر عالم زاهدي په مشرقي پاکستان کښې اوسیده په هغه زمانه د دوئ چه کوم همعصر اولیاء الله وو. په هغوئ کښې د دے څو بزرګانو نومونه د یادولو دي. حضرت عثمان اخي سراج. حضرت راجا بیاباني. حضرت مولانا سراج الدین عطاء حضرت شاه جلال الدین تبریزي. خواجه نصیر الدین چراغ (دهلي) خواجه احمد سیستاني (بهار) مخدوم الملک شیخ شرف الدین. مخدوم احمد چرم پوش (بهار) مخدوم شاه شعیب (شیخ پوره مونګیر) شیخ علاء الحق (مغربي بنګال پنډوه) مخدوم سید جلال الدین حسین مخذوم جهانیان جهان ګشت. راوچ بهاولپور) حاجي چراغ هند (ظفر آباد) شیخ صدر عالم زاهدي. (جونپور) شیخ بهاء الدین ګنج دوامي (کالپي) سید محمد ګیسود راز (ګلبرګه. دکن) حضرت خواجه بهاء الدین نقشبند (بخارا) خواجه سید اشرف جهانګیر (سمنان) خواجه حافظ شیرازي. . د شیراز حضرت جلال الدین کبیراولیاء پاني پتي. او لکه چه مخکښې ذکر اوشه مشهور سیاح ابن بطوطه هم په دغه زمانه د دے ملک سیاحت کړلو.

مختصر دا چه پیر بدر عالم زاهدي یو باکماله عالم. باکماله مبلغ. پر جوش مصلح. باشریعته صاحب طریقت. برګزیده صوفي وو. او ټول عمر یئے په رشد او هدایت کښې تیر کړے وو. د حضرت سید نا

غوث الا عظم شیخ محي الدین عبدالقدر جیلاني قدس سره نه روحاني فیض ورته حاصل وو. او د مشرف پاکستان او خواؤ شاه ېولو علاقو زمکه تر اوسه د دوئ په انوار روښانه ده.

علیه الرحمة والغفران.

حضرت شیخ قاضي سراج الدین صدیقي علیه الرحمه

۸۰۰هـ

(مشرقي پاکستان)

دمشرقي پاکستان د الیاس شاهي خاندان دریم نامور حکمران حضرت سلطان غیاث الدین اعظم شاه ابن سلطان سکندر شاه ابن سلطان حاجي الیاس شاه وو.

حضرت سلطان غیاث الدین اعظم شاه په ۸۰۳هـ مطابق ۱۳۹۰ء کښې بادشاه شوے او په ۸۲۳هـ مطابق ۱۴۱۰ء کښې وفات شوے وو. د ده په زمانه کښې چه د سابق بنګال په وطن کښې کوم نامور بزرګان او عالمان موجود وو. په هغوئ کښې د حضرت شیخ قاضي سراج الدین صدیقي او حضرت نور قطب عالم علیهم الرحمة نومونه زیات مشهور دي. لکه چه مخکښې د حضرت شاه جلال تبریزي په بحث کښې ورته اشاره شوے ده. حضرت سلطان غیاث الدین اعظم شاه د بادشاهئ نه علاوه د خپل وخت یو دیني عالم. زاهد. عابد او بزرګ انسان هم وو. (د حضرت شیخ، نور قطب عالم تذکره به روستو راشي)

حضرت قاضي شیخ سراج الدین په قام قریش وو. او د حضرت خلیفه اول سیدنا ابوبکر صدیق رضي الله عنه په اولاد کښې وو. د دوئ د خاندان مشران د سلطان اختیار الدین بختیار خلجي سره په ۶۰۰هـ کښې بنګال ته راغلي وو. او د ده د زمانے

پورے په تیرو شوؤ دوه ؤ سوؤ کلونو کښې د بنګال په زمکه د اسلام د خوره ولو په سلسله کښې یئے ډیر لوئ خدمات کړي وو.

حضرت شیخ المشائخ قاضي حمید الدین ناګوري صدیقي

د دے حضرت قاضي سراج الدین صدیقي په خاندان کښې د ده نه په مخکښې زمانه کښې او د ده نه په روستو زمانه کښې ډیر لوئ مشاهیر بزرګان تیر شوي دي. چنانچه د دے خاندان په مشاهیرو کښې حضرت مولنا شیخ المشاءخ خواجه قاضي حمید الدین ناکوري صدیقي الملقب په خواجه ګنج نشین علیه الرحمة (متوفي ۶۴۱هـ) نوم د یادولو دے. چه د حضرت خواجه خوجګان خواجه جهان حضرت معین الدین حسن چشتي اجمیري علیه الرحمة مشهور او نامور خلیفه وو. او د دوئ په برکت د سلسله عالیه چشتیه فیوضات په جنوبي هند او سابق بنګال کښې خواره شوي دي. او بے شمیره مشرکان او کافران د دوئ د تبلیغ اورشد او هدایت په برکت په اسلام مشرف شوي دي. علیه الرحمة والغفران.

دغه شان په دے کورنئ کښې چه روستو کوم مشاهیر بزرګان تیر شوي دي. په هغوئ کښې د حضرت مولانا حمید الیدن دانشمند منګل کوټي نوم د یادولو دے. چه روستو به د هغوئ حالات ځان له جدا په تفصیل سره بیان کړلے شي.

حضرت شیخ سراج الدین دصدیقي د حضرت سلطان غیاث الدین اعظم شاه د سلطنت (ګوړ. لکهؤتي) قاضي القضاة وو. د دغې نه علاوه دوئ دواړه یعنې شیخ سراج الدین او سلطان غیاث الدین د یو استاذ شاګردان هم وو، او ورسره بیا د یو پیر طریقت حضرت مولانا شیخ مظفر بلخي مریدان هم وو. دلته د سلطان غیاث الدین او د هغه د قاضي حضرت سراج الدین صدیقي یوه واقعه درج کوؤلے شي. چه د هغے نه د دے دواړو همعصرو، همدرس، او هم مشرب مشاهیرو په پاکیزه اسلامي ژوند باندے ډیره ښکلے رنړا پریوځي. او ورسره څمونږ د پاره دا اوچت اسلامي کردار یو بهترین مثال ګرځیدلے شي. د دے دواړو مشاهیرو د دے واقعے نه که یو خواته د دوئ اوچت اسلامي کردار واضحه کیږي. نو ورسره مونږه ته دا نتیجه هم په لاس راځي چه په حقیقت کلیٖهم دا هغه عظیم الشان اسلامي

"روحاني تړون"

دے. چه د یو ملک حکمران بادشاه او قاضي دواړه په یوصف کښې اودره ولے شي. او د عدالت او بے نظره شریعت پروځي و ایمانداریٔ یو زرین مثال دنیا ته وړاندے کوؤلے شي.

خبره داسے وه چه یوه ورځ سلطان غیاث الدین په "غشي لینده" باندے نښه ویشتله. چه په هغے کښې د سلطان د یو غشي په ګذاردیوے کنډے زنانه څوئ او لګیده. او

مرشه. هغه بوډۍ فرياادي لاړه. د حضرت قاضي سراج الدين په عدالت کښې يئے د سلطان خلاف دعوی او کړله. قاضي خپل چپړاسي اوليږه. او د وقت بادشاه سلطان غياث الدين يئے په طور د ملزم خپل عدالت ته را اوغوښته بادشاه چه د قاضي مخے له راغے. نو قاضي صاحب ورته حکم اوکړ. چه لکه د نورو ملزمانو په شان سم په قطار کښې اوديږږي. خير مقدمه پيش شوه. او فيصله هم اوشوه. چونکه هغه هلک د بادشاه نه په غلطۍ سره لګيدلے وو. او د دے آيت شريف "و من يقتل مومنا متعمدا" دلاندے په قتل عمد کښې نه راته. نو بوډۍ پخپله خوښه او رضا باندے معاف کړ. او د دواړو تر منځه صله او صفايۍ او شوه. ليکن. څه وخت بادشاه د قاضي صاحب د عدالت نه وتلو. نو حضرت قاضي سراج الدين صاحب ته يئے اوويے. چه قاضي صاحب! زۀ ستا نه ډير زيات خوشحاله يم. چه تا د اسلام د اولنۍ پيړۍ د مسلمانانو د انصاف او عدالت او د هغے اولنۍ پيړۍ د قاضيانو د حق شناسي او ديندارۍ ياد تازه کړ. او بيايئے حکم اوکړ چه په دے باندے قاضي صاحب له ډير انعام او اکرام ورکړے شي. د دغے نه پس بيا يئے قاضي صاحب ته مخ را اوګرځولو. او ورته يئے اووے چه بالغرض که تاپه دے موقع باندے ځما لحاظ کړے وے. او ځما د بادشاهي خاطر دے کړے وے. او د دے عاجزے بوډۍ سره دے څه زياتے کړے وے. نو قسم په خدائ چه په دے توره باندے م ستا سر پريکؤلو.

مګرتا سو خبر یئ چه حضرت قاضي سراج الدین علیه الرحمة څه جواب ورکړ.؟

حضرت قاضي سراج الدین علیه الرحمة د سلطان د دغه خبرے په آوریدلو باندے د خپل فرش یو ګوټ راواړه ولو. د هغے نه یئے یو مضبوطه دره را اوکښله. ا ورته یئے اووئیل. چه اے غیاث الدین واوره.! ما ستا د راتلو نه مخکښې دا انتظام کړے وو. چه که ته دلته د حاضریدلونه پس د دغه عاجزے بوډئ سره یو ځاي او نه دریدلے. یادے نوره څه متعبره او د بادشاهئ رعب داب ښکاره کړے وے. نو د ادره م ورله ایښې وه. چه په دے به م په وهلو وهلو ستا پوټکے په بل مخ آړولے وو.

حضرت سلطان غیاث الدین اعظم شاه او حضرت قاضي سراج الدین صدیقي دواړو د طریقت سلسله په یو څو واسطو سره حضرت قاضي حمید الدین ګنج نشین صوفي ناګوری علیه الرحمة ته رسیږي. او لکه چه مخکښې ذکر او شه. مشهور روحاني رهنما حضرت نور قطب عالم د پنډوه هم د دوئ همعصر. هم مشرب او او همدرس وو. د دغے نه علاوه د دوئ په عمعصر و بزرګانو کلې د حضرت شیخ احمد عبدالحق ټوشه رودولوي علیه الرحمة او حضرت شیخ احمد مجد شیباني علیه الرحمة نومونه د یادلو دي.

حضرت سلطان غیاث الدین اعظم شاه په خصوصیت سره د حضرت شیخ احمد مجد شیباني علیه الرحمة د پیر طریقت حضرت خواجه

حسین ناګوري علیه الرحمه سره زیات عقیدت لرلو. سلطان به دا کوشش کؤلو چه حضرت خواجه حسین د دوئ د لاس نه څه نذر قبول کړي. لیکن هغوئ به همیشه انکار کؤلو. لیکن آخري یے د سلطان غیاث الدین اعظم شاه درخواست قبول کړ.ا و سلطان چه په نذر کښې هر څومره روپۍ پیش کړے حضرت خواجه حسین په هغه رقم باندے د حضرت خواجه خواجګان خواجه غریب نواز علیه الرحمة او حضرت خواجه حمید الدین ناګوري علیه الرحمة مزارونه مبارک جوړ کړل. او هغه رقم ئے په دے مبارک کار کښې صرف کړ. حضرت شیخ عبدالحق محدث دهلوي پخپل کتاب اخبار الا خیار کښې لیکي:.

"په هغه زمانه کلې
چه اجمیر شریف وران
شوے وو. او خواؤ شا
علاقه یئے دا سے ځنګل
شوے وه. چه زمري به
پکښې ګرځیدل په دغه
زمانه کښې د حضرت
خواجه غریب نواز په
قبر شریف باندے څه
آبادي نه وه. اولنے
سړے چه په دغه روضه
مبارکه باندے یئے
آبادي جوړه کړه عبارت
یئے ساز کړو. هغه حضرت
خواجه حسین ناګوري وو"
(او لکه چه مخکښې ذکر
اوشه د دے مبارک تعمیر

ټول اخراجات د سلطان
غياث الدين اعظم شاه
پر خلوصه نياز وو. او
دا څومره لوئ سعادت دے
چه د دے مسلمان بادشاه
نصيب شوے دے. عليه
الرحمة والغفران)

د مشرقي پاکستان په مشاهيرو او پخوانو بزرګانو کښې د دے عادل سلطان او انصاف پرور قاضي دواړو نومونه ډير ممتاز دي. او ځمونږ د مشاهيرو حکمرانانو هم د غه بے نظيره عدل دے. او ځمونږه د ديني عالمانو د غه بے مثله انصاف دے. چه ځمونږه اسلامي روح يئے تر نن ورځے پورے ژوندے او قوي ساتلے دے. او هم دا هغه مضبوط اسلامي روحاني تړون دے. چه نن ورځے د دے په برکت او قوت او طاقت د مغربي او مشرقي پاکستان دواړو حصو مسلمانان يئے يو رونړه يو تن او يو وجود کړي دي.

حضرت نور قطب عالم علیه الرحمة

۸۱۸هـ

حضرت شیخ، نور قطب عالم د حضرت شیخ علاء الحق فرزند ارجمند وو. او د حضرت پیر بدر عالم زاهدي خوریئے وو. په ۷۸۳هـ کښې د خپل والد ماجد د وفت نه روستو د حضرت مخدوم جهانیان جهان ګشت په واسطه د خپل پلار په ګډۍ باندے ناست وو. او روستو په عوامو کښې د مقبولیت او شهرت په لحاظ سره د خپل والد ماجد نه یئے هم لویه مرتبه او درجه موندلے وه. حقیقت دا دے چه په مشرقي پاکستان کښې د حضرت مخدوم شاه جلال الدین تبریزي او پیر پدر عالم زاهدي نه روستو عظیم ترین شهرت او مقبولیت هم دوئ ته حاصل شوے وو.

حضرت نور قطب عالم په سلسله چشتیه کښې د خپل والد ماجد شیخ علاء الحق مرید وو. او په سلسله سهرودیه کښې د حضرت مخدوم جهانیان جهان ګشت مرید وو. د سابق صوبه سرحد د نامور بزرګ حضرت شهنشاه خراسان پیر بابا سهروردیه سلسله هم د ده په واسطه سره حضرت مخدوم جهانیان ته ر سیږي. لکه چه مخکښې د قاضي سراج الدین صدیقي په تذکره کښې ورته اشاره شوے ده. حضرت نور قطب عالم او حضرت قاضي سراج

الدين صديقي دواړه د حضرت مولانا مظفر بلخي شاګرد ان وو. او د ديني علمونو درس يئے د هغوئ نه حاصل کړے وو.

د حضرت نور قطب عالم د ټولونه لويه کارنامه هغه ګنړلے شي چه دوئ د راجه کنس په زمانه کښې په سياسي معاملاتو کښې دخل ورکړ. او د بنګال مسلمانان يئے د ظلم نه خلاص کړل. دا واقعه داسے بيانولے شي. چه هر کله د مملکت بنګال د سلطان شهاب الدين بايزيد خان افغان نه روستو د مسلمانانو په قوت او طاقت کښې ضعف راغے. او د بتهوريا راجه کښې زبردست طاقت او اثر پيدا کړ. نو دغه هندو راجه دومره جبر او تشدد شروع کړ. چه مسلمانان عالمان او مشائيخ به يئے په زور دربار ته غوښتل. او هغوئ ته به يئے حکم کولو چه راجه ته سجده اوکړي. او چه هغوئ به انکار کولو نو سختے سختے سزا ګانے به يئے ورکوؤلے. او د هغوئ مال. هال او جائيداد هر څه به يئے ضبط کوؤل. بے شميره ممتاز عالمان او مشائيخ يئے قتل هم کړل. چه په هغے کښې د حضرت نور قطب عالم کشران ځامن شيخ انور او شيخ بدر الاسلام. او د حضرت مخدوم حسين دهکړ پوش دوه ځامن هم شامل وو. د راجه کنس د جبرا و تشدد نه خلقو له د نجات ورکولو د پاره حضرت نور قطب عالم د جنون پور سلطان ابراهيم شاه شرقي ته بلنه ورکړه. بل خواته حضرت مخدوم سيد اشرف جهانګير سمناني چه د حضرت نور قطب عالم د والد ماجد مريد وو. هغه هم ابراهيم شاه شرقي

ته یو مکتوب اولیږي. چه دغه مکتوب لوئ تاریخي اهمیت لري. او مخکښې د هغے مختصر شان اقتباس مونږ دلته کړے هم دے. چنانچه د دے دواړو بزرگانو په یاداشت حضرت ابراهیم شاه شرقي لښکر کشي او کړه رااورسیده. بیا د راجه کنس دومره زور چرته وو. چه د مجاهدین اسلام مقابله یئے کړے وے. درغے د حضرت نور قطب عالم په پښو کښې یئې سر کیښود چه بچ م کړه. آخر په دے صلح او شوه چه راجه کنس بادشاهي خپل ځوئ جیتو ته پریښودله. د ستربر داره شه. او جیتو او لیکده چه په تخت کیناست نو د حضرت نور قطب عالم په لاسونو مبارکو یئے ایمان قبول کړ. مسلمان شه. دا واقعه په ۸۱۷هـ کښې پیښه شوے وه.

هر کله چه ابراهیم شاه شرقي سره د لښکر نه واپس شه. نو راجه کنس، اولګیده د خپل ځوی جیتونه یئے بیا حکومت قبضه کړ.ا و د پخوانه په هم زیات ظلمونه شروع کړل. په دے دوران کښې په ۸۱۸هـ مطابق ۱۴۱۵ء مطابق ۱۴۱۵ء کښې حضرت نور قطب عالم په حق اورسیده او راجه کنس ته د ظلم کولو د پاره نوره هم لار خوشے شوله. (نور بحث به یئے روستو راشي) د حضرت نور قطب عالم مردیان او خلیفه ګان د هندوستان په مختلفو مقاماتو کښې خوره وو. چه په هغوئ کښې د حضرت حسام الدین مانک پوري او مخدوم فرید طویله بخش نومونه د یادولو دي. دا دوانړه د ده د ترور ځامن هم وو. زیارتونه یئے د بهار شریف د چاند پور

نـومـے مـقـام پـه مـقـبـره کښې دي. د حضرت شـيـخ سعـادت مـزار هم پـه دے مـحـلـه کښې دے.

د حضرت شيخ نـور قطب عـالـم د دوه ځـامـنـو نـومـونـه پـه تـذکـرو کښې راغـلـي دي. يـو شيخ دفـقـه الـديـن او دويـم شيخ انـور عـلـيـهـم الـرحـمـة د حضرت شيخ رفـقـه الـديـن د ځـوي نـوم شيخ زاهـد وو چـه پـخـپـلـه زمـانـه کښې لـوئ ولـي د خـدائ تـيـر شـويـدے. د حضرت شـيـخ نـور قـطـب عـالـم مـزار مـبـارک د خـپـل والـد مـاجـد شـيـخ علاء الـحـق خـوا سره پـه پـنـډوه (مـغـربـي بـنـګـال) کښې دے. او پـه چـهـوټـي درګـاه مـشـهـور دے. وجـه يـئـے دا ده چـه د بـنـګـال پـه خـاوره د حضرت شاه جلال تـبـريـزي چـلـه خـانـه پـه "بـړي درګـاه" نـامـه يـاديـږي. عـلـيـه الـرحـمـة والـغـفـران.

حضرت پـيـر قـتـال زاهـدي

د حضرت پـري قـتـال اصـلـي نـوم شـيـخ شـهـاب الـديـن زاهـدي دے. او د حضرت پـيـر بـدر عـالـم زاهـدي مـشر ځـوي وو. د راجـه کـنـس پـه خلاف د جـهـاد کـولـو پـه وجـه د پـيـر قـتـال پـه لـقـب سره مـشـهـور شـوے وو. د راجـه کـنـس د ظـلـمـونـو نـه خـلـقـو لـه پـه نـجـات ورکـولـو کښې د حضرت نـور قـطب عـالـم نـه روسـتـو د دوئ نـوم د يـادولـو دے. وئـيـلـي شي چـه هـر کـلـه د راجـه کـنـس د ظـلـم او تـشـدد سـلـسـلـه د حـد نـه واوخـتـه. نـو مـجـبـوراً مـسـلـمـانـو د حضرت پـيـر قـتـال پـه فـتـوی بـانـدے د دغـه ظـالـم او مـشـرک راجـه پـه خلاف د جـهـاد اعلان او کـړو. پـه "مـراة الـکـونـيـن" نـومـے کـتـاب کښې روايـت دے چـه حضرت پـيـر

قتال هم سره د خپلو مریدانو او معتقدانو د راجه کنس د مظالمو ښکاره شوے وو. دا واقعه داسے وه. چه د راجه کنس سره یو څو دښه نسل اوزیرے چیلي وو. یوه ورځ د هغه خپلو د درباریانو کلې کوم یو درباري یو چیلے حلال کړے وو. او د هغے الزام یئے د حضرت پیر قتال په مریدانو او لګاوه. په هغے باندے راجه کنس او لګیده پیر قتال یئے د لبار ته را اوغښته. دباوؤنه یئے پرے اوکړل او د دوئ د مریدانو سره یئې هم سپورے ستغے اوکړلے. پیر قتال د چیلي حلالونکي ته بد دعا اوکړله. هم په دغه شپه د هغه په ګیډه کښې سخت درد رولاړ شه. او داسے وویرده چه راغے د خپل جرم اقوار یئے اوکړ. او د پیر قتال نه یئے معافي اوغوښتله. د دے یو واقعے نه دا اندازه لګیلدے شي. چه د راجه کنس سلوک د عامو مسلمانانو سره څه چه د لویو لویو بزګانو سره هم داسے د بے عزتئ او بد سلوکئ وو.

هر کله چه د راجه کنس ظلمونه انتها ته اورسیدل او حضرت پیر قتال د هغه په خلاف د جهاد اعلان اوکړ. نو د راجه یو دوه خپلوان چه هغه د پیر قتال په لاس مسلمنان شوي وو. د راجه په محل ورننوتل. راجه کنس ئے قتل کړ. او دوباره یئے د راجه کنس هغه ځوئ چه جیتو نوم یئے وو. او د حضر نور قطب عالم په لاس مسلمان شوے وو. او یو ځل په تخت هم ناست وو. دوباره د بنګال بادشاه شه. سلطان جلال الدین لقب یئے ځان له کیښوده او د ۸۱۸هـ نه تر

۸۳۵هـ پورے په دغه ملک حکمران وو. لکه
چه مخکښې ذکر شوے دے. د حضرت پیر قتال
مزار په بهار ضلع سارن موضع قتال پور
کښې دے. د دوئ په مریدانو او خلیفه ګانو
کلې د دوئ د خپل ځوي سید رکن الدین
زاهدي او خپل خورنۍ سید محمود زاهدي
نومونه د یادولو دي. علیهم الرحمة
والغفران.

حضرت سید محمد کیسودراز علیه الرحمة

د حضرت سید محمد ګیسو دراز په نوم سره دوه مشهور بزرګان تیر شویدي. چه یو په مغربي پاکستان کښې دے او بل په بهارت کښې دے. د دواړونوم محمد دے. او دواړه حسیني سیدان دي. ا د دواړو یو لقب دے ګیسودراز. په دے چه د دوئ دواړو حالات سره ګډوډ شویدي. او د یو د حالاتو نسبت بل ته کوؤلے شي. حالانکه د دواړو د زمانے تر منځه څلور سوه کاله فرق دے.

(۱) په دوئ کښې یو سید محمد ګیسو دراز هغه دے. چه په تاریخي لحاظ سره د ۴۰۰-۴۳۰هـ د زمانے بزرګ دے. او سلسله د نسب یئے په دیار لسمه پیړئ کښې حضرت محمد رسول الله صلي الله علیه وسلم ته رسیږي. او د دوئ ذکر د ټولو پښتنو مؤرخانو په تاریخي کتابونو او تذکرو کښې موجود دے. لیکن د برصغیر پاک او هندد بزرګانو په تذکرو کښې یئے ذکر نه دے راغلے مزار مبارک یئے په کوه سلیمان کلې دے. او د ده په اولاد کښې په خصوصیت سره د ده د یو ځوي مشراني او لاد سادات مشواني د لکونو په تعدا دکښې د

مغربي پاکستان په کويټه او قلات ډويژنونو سندهـ، پنجاب. پيښوراو ډيره ډيوژنونو. قبائيلي علاقو او افغانستان او بهارت خواره دي.

(۲) دويم سيد محمد ګيسودراز هغه دے. چه د ۸۲۵هـ د زمانے دے. او سلسله د نسب يئے په پنځو يشتم پشت کښې حضرت محمد مصطفے صلي الله عليه وسلم ته رسيږي. او د دوئ ذکر د برصغير پاک او هندو د بزرګانو په ټولو تذکرو کښې موجود دے. مزار مبارک يئے په ګلبرګه د کن کښې دے. د ده فقط دوه ځامن وو. سيد محمد اکبر حسيني او سيد محمد اصغر حسيني چه اولاد يئے په دکن. بهار او بنګال کښې دے.

هر کله چه د دے دواړو بزرګانو نومونه القاب. قوميت هر څه يوشان دي. په دے وجه بعض خلق په اشتباه کښې پريوتلي دي. د اولني سيد محمد ګيسو دراز د اولاد خصوصاً سادات مشواني شجره د نسب يئے د دغه دويم سيدمحمد ګيسو دراز سره تړلے ده. په دے وجه دا مناسب معلوميږي. چه دلته اول د سيد محمګ ګيسو دراز ثاني" متوفي ۸۲۵هـ تذکره په اختصار سره او بيا د "سيد محمګ ګيس دراز اول" متوفي ۴۳۰هـ لږه په تفصيل سره درج کړلے شي. د پاره د ے چه فائده يئے عامه شي.

سید محمد گیسو دراز ثاني

د حضرت سید گیسو دراز ثاني اصلي نوم محمد دے. ابو الفتح یئے کنیت دے. او عام طور په خواجه بنده نواز گیسو دراز سره مشهور دے. په لاندینو کتابونو کښې د دوئ حالات په تفصیل سره بیان شویدي.

(۱) د سلسله عالیه چشتیه د بزرگانو ټولے تذکرے (۲) تذکره اولیلهٔ دکن تالیف د عدبالجبار (۳) بزم صوفیه (۴) انوار صوفیه (۵) اخبار الا خیار (۶) مکتوبات د سید اشرف جهانگیر سمناني (۷) بیاض د ابو القاسم نصیر الدین. (۸) خزینة الا صفیاء (۹) سیر محمدي (دا کتاب د دوئ خصوصي سوانخعمري ده) (۱۰) معراج العاشقین (دا کتاب د حضرت سید محمد گیسو دراز خپل تالیف دے)

په دے کښې د کتاب "سیر محمدي" د بیان مطابق د دوئ شجره د نسب داسے ده.

محمد بن یوسف. بن علي. بن محمد بن محمد بن یوسف. بن حسن بن محمد علي بن حمزه بن داود. بن زید بن ابو الحسن جیندي. بن حسین. بن ابي عبدالله بن محمد. بن عمر. بن یحي بن حسین بن زید المظلوم. بن علي اصغر. بن امام زین العابدین علي بن امام حسین بن علي ابن

ابي طالب. وفاطمه بتول الجنته بنت محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم

د سيد محمد گيسود راز مورث اعلي دهرات نه دهلي ته تشريف راوړے وو. او د ده د والد ماجد سيد يوسف په "سيد راجا" بانديے مشهور وو. د سلطان المشائيخ خواجه نظام الدين اولياء سره يئے عقيدت لرلو. د مور د طرف نه نيکه يئے هم د خواجه صاحب مريد وو. سيد محمد گيسود راز په۷۲۱ هـ کښې په دهلي کښې پيدا شه. بيا د سلطان محمد تغلق په زمانه کښې چه د ده پلار د دهلي نه ديو گير ته په کډه لار. نو په هغه نيټه سيد محمد گيسودراز د دے څلور کالو په عمرو وو. په ديو گير کلې شيخ بابو نومے يو بزرگ وو. د حضرت گيسو دراز والد ماجد به د هغوئ په صحبت کښې کيناسته پاسيده. په دے وجه دے نه هم د خپل پلار سره د هغوئ مجلس ته حاضريده. چنانچه د دغه ديني صحبت په دوئ بانديے هم نيک اثر اوشه او په ورکوټي والي کښې يئے د دين سره شوق پيدا شه. بيا چه د ده عمر لس کاله ته اورسيده. والد ماجد يئے په دولت آباد کښې وفات شه. او هم هلته يئے مزار جوړ شه چه نن ورځے هم مرجع د خاص او عام دے. د هغے نه روستو د مور د طرف نه نيکه به يئے تربيت کؤلو او په دغه منځ کښې د مختلفو استاذانو نه يئے تعليم حاصل کړو. د تعليم په دوران کښې ئې د خواجگان چشت سره مينه او محبت پيدا شه. ا د ايئے آرزو وه چه د حضرت خواجه نصير الدين چراغ دهلوي سره يئے ملاقات او

شولے. چه موده پس چه د دوئ والده ماجده د دولت آبا دنه واپس دهلي ته راغلي نو دے هم د خپلے والدے ماجدے سره دهلي ته راغے. په دهلي کښې به يئے د جمعے نمونځ د سلطان قطب الدين ايبک په جامع مسجد کښې اد اکولو. دغلته يئے د حضرت خواجه نصير الدين چراغ دهلوي سره ليدل اوشول. او د پنځلسو کالو په عمر کښې په ۱۶، رجب ۷۳۶هـ کښې يئے د هغوئ نه په سلسله عاليه چشتيه کښې لاس نيوه اوکړه. او پوره يوويشت کاله يئے د خپل پير په خدمت کښې تير کړل. او بيا چه په ۷۵۷هـ کښې حضرت نصير الدين چراغ دهلوي وفات شه. نو دے د هغوي په ځائ ګدي نشين شه. او په دهلي کښې يئے قيام او فرمايه.

د تذکره اولياءے د کن د روايت مطابق د سلطان فيروز شاه جهمني په زمانه کښې په ۸۱۵هـ کښې يئے د دهلي نه ګلبرګه د کن ته تشريف يوړلو. او په ۸۲۵هـ کښې يئے هلته انتقال او فرمايه. عليه الرحمة والغفران. حضرت سيد محمد ګيسو دراز ډير لوئ فاضل عالم هم وو. د دوئ بے شميره تصنيفات او تاليفات ياد ګار پاتے دي. د يو څو کتابونو نومونه يئے دا دي. ملتقط. تفسير کلام پاک. حواشي تفسير کشاف. شرح مشارق. ترجمه مشارق. معارف. ترجمه معارف شرح عوارف المعارف. شرح تعرف. شرح آداب المريدين. شرح فصوص الحکم. شرح تمهيدات. ترجمه رساله قشيريه. خطائر لقدس. رساله استقامة بطريقة الحقيقة. د دے نه علاوه

۲۱نور کتابونه او ۲۱مکتوبات یئے دي. او په دکني ژبه کښې اشعار یئے هم شته دے. په اشعارو کښې به یئے شهباز تخلص کولو. تالیف او اشعار یئے په عربئ فارسئ او دکهني اردو کښې دي.

سید محمد گیسو دراز اول

د حضرت سید محمد گیسو دراز حسیني اول علیه الرحمة تزکره د پښتنو وغیره مؤورخانو په دے لانیدنو کتابونو کښې راغلے ده.

تاریخ فرشته، آئین اکبري، مخزن افغاني، تاریخ الا فغان، صولت افغاني، تاریخ خورشید جهان، حیات افغاني، تاریخ افاغنه، بیاض سادات قلعه عبدالله کوئټه بلوچستان، شجره اکملیه و بیاض سادات شر اردو، بیاض سادات پلوسیئ، خزینة الا سرار، المعالي شرح آمالي، حالات مشواني، گزیټیر آف دي هزاره ډسټرکټ بابت ۱۹۰۸ء تالیف ایچ. ډي. والټن. نارتهــ ویسټ، فرنټیر پراونس ډسټرکټ گزیټیر جلد نمبر۱ الف بابت پشاورو هزاره. بلوچستان ډسټرکټ گزیټیر، کویټه پشین ډسټرکټ، تالیف آر. هیوز بټلر. و دیوان جمعیت رائ بابت نمبر۱ و نمبر۷۵ . پروموشن ف لرنڼگ ان محمد ن پریډ. لوکل گورنمنټ بحواله دفعه نمبر۱۵ ایکټ ۳۳سال۱۸۷۳ء شجره نسب مشواني. گزیټیر دي باجوړ ټرایبس تالیف د هنټر.

د دے پرتنو تاریخي یاد داشتونو مطابق د دے اولنی سید محمد گیسو دراز حسین شجره د نسب داسے ده. مرید سید محمد گیسو دراز بن سید غفار بن سید عمر بن سید جعفر المعروف به سید قاف بن سید قائن (قائم) بن سید الر جال محمد بن سید اسماعیل بن امام جعفر صادق بن امام محمد باقر. بن علي زین العابدین بن سید الشهدا امام حسین بن بتول الجنته بنت رسول الثقلین و بن اسد الله الغالب علي ابن طالب کرام الله وجهه.

د ده په حقله حضرت میا محمد عمر نقشبندی مجد دي (متوفي ۱۱۹۰هـ) پخپل کتاب المعالي شرح آمالي کښې فرمائي: حضرت سید محمد گیسو دراز صحیح النسب حسیني سید دے". د بلوچستان ډسټرکټ گزیټر، کوئیټه پشین ډسټرکټ بابت ۱۹۰۸ء په صفحة نمبر۷۴ کښې چه کوم تفصیل درج دے. د هغے نه هم د حضرت میا صاحب د پورتنی بیان تصدیق کیږي. لیکي: د سید محمد گیسو دراز سلسله د نسب په دیارلسم پشت کښې حضرت محمد مصطفی صلي الله علیه وسلم ته رسیږي. دے د بغداد شریف په مضافاتو کښې د اوش نومے کلي نه د "کوه سلیمان" علاقے ته راغلے وو. او د رود فرمل (برمل) په غاړه استوگن شوے وو. د دوه یوه بي بي د کاکړ قبیلے وه. د هغے نه یئے مشوانے نومے ځوئ پیدا شه. بله بي بي یئے د شیراني قبیلے وه چه د هغے نه یئے اشتراني نومے ځوي پیدا شه (چه نن

ورځے د دے اشتراني اولاد د بلوچستان د لوارالائی په علاقه کلي آباد دے) بله بي بي يئے د کړلاني قبيلے وه د هغے نه يئے دوه ځامن پيدا شول. وردګ هني (چه د دے دواړو نسل په ټول بلوچستان. افغانستان او سابق صوبه سرحد قبائيلي علاقو او سرحدي رياستو کښې خور دے.د علم اصول تاريخ په بناء د سل کاله زمانے د پاره حد درجه د دے کسان اندازه کوؤلے شي. هر کله چه سيد محمد ګيسو دراز د پاک نبي صلي الله عليه وسلم نه په ديار لسمه پيړۍ کښې دے. نو په دےا عتبار مونږه اووئيل چه دے د ۴۳۰-۴۰۰هـ د زمانے سره تعلق لري. او هر کله چه سيد محمد ګيسود راز ثاني په پنځويشتمه پيړۍ کښې دے نو د اصول تاريخ په بناء د هغه زمانه ۸۳۰هـ کيږي او واقعات هم دا دي چه هغه په ۸۲۵هـ کښې وفات شويدے.

داخبره چه سيد محمد ګيسو دراز اول د ۴۳۰-۴۰۰هـ د زمانے دے. د دے تائيد د هغه شجره نسب نه هم کيږي چه مرحوم سيد يوسف شاه مشواني د سري کوټ ضلع هزاره پخپل کتاب "حالات مشواني" کښې درج کړے ده. ليکي: سيد يوسف شاه بن حاجي سيد محمد نور (مزار مکه مکرمه) بن سيد ناصر بن سيد زوتان بن سيد شايسته بن سيد عظمت شاه بن سيد نعمت شاه بن سيد ولي دا د بن سيد سلطان شاه بن سيد رحمداد شاه بن حاجي سيد عمر شاه بن حاجي سيد سليمان شاه المعروف به لنډه بابا عليه الرحمة

بن سید حسین بن سید یوسف بن سید شاه مراد بن سید تفاحص بن سید غفور بن سید عبدالله بن سید کریم بن عبدالروف بن عبدالجلال بن عبدالغفور بن عبدالرحیم بن سید محمود بن سید یوسف بن سید صددر بن سید نخض بن مشوانے بن سید محمد ګیسو دراز علیهم الرحمة دے. د دے پورتنئ شجرے درج کؤلو نه دا غرض وو چه هر کله چه سید یوسف شاه د ۱۹۲۱ء د زمانے سړے دے. او د سید محمد ګیسو د رازنه په نمبر۲۹ پیړئ کښې دے. نو ظاهر ده چه سید محمد ګیسو دراز په دے حساب سره د ده نه ۹۶۳کاله مخکښې زمانے یعنے د ۱۰۴۸ء مطابق ۴۳۹هـ د زمانے دے. او په دے حساب د سلطان محمود غزنوي همعصر دے. ځکه چه حضرت سلطان محمود علیه الرحمة په ۱۰۳۰ء مطابق ۴۲۱هـ کښې وفات شویدے.

په دے سلسله کښې د سید محمد ګیسو دراز په حقله د ټولو پښتنو مؤرخانو بیان داسے دے. (د تاریخ خورشید جهان د فارسي بیان لفظي پښتو ترجمه دا ده) اما بعد کیفیت د حالاتو د مورث علی شیراني کلې یو سړے صالح. دیندراه متشرع. پرهز ګاره. صاحب د احوالو او کراماتو چه سید محمد نوم یئے وو. په منځ د آبادئ د درے تمن (قبائیل) کښې راغے. قرارے او سکونت یئے اختیار کړ. او د پاره داستوګنے خپلے یئے مینه جوړه کړه. چه یو خواته ترینه د کاکړ د تومنے زمکه وه. بل خوا ته یئے د کراني تمن وو. او بل طرف ته یئے د

شیراني تمن. ډیره موده یئے په دغه مکان کښې اقامت اوکړ. او د درے واړه تمن خلق د الله د دغه برګزیده انسان د ذات عالي صفات نه مستفید وو. اتفاقاً بلا ګانے. وبا ګانے، لویئے بیمارئ او سخته ویره، آفت په درے واړ تمن را دوڅاره شوے. ډیره نزدے وه. چه دوئ د حادثاتو دلاسه پایمال شي. رئیسان د دے واړه تمن په یو اتفاق (په اتفاق د التجاء، خواست) په جانب د میر سید محدم ورغلل. او همایت او امداد د دعاء یئے له هغه ولي الله نه او غوښت نذر، هدایا، او فتوحات ډیر یئے او منل، منښتے یئے اوکړے. حق سبحانه و تالی په برکت د دعا او توجه او همیت د بزرګوارانو بلاګانے او وباګانے د دغه پالے نه برطف کړے. اود دغه پس اعتقاد او یقین د درے واړه تپو په اڅوال خیر مآل د میر سید محمد زیات شه. او تحفه د خپلو منلو شوؤ منښتو یئے راغونډه او په نظر فیض منظر، کیمیا اثر د سید میر محمد کښې تیره کړله. حضرت سید محمد یو ځیز ته له هغه ځیزونو التفات اونه فرمایه. قبول یئے نه کړل. دغه ټولګے د مشران د دے واړه تمن مایوسه شه. ویئے غوښتل چه کوم یو خدمت غوره چه منظور په نظر شریف د دوئ کښې اوګرځیږي. وړاندے کول پکار دي. یو له بله یئے مصلحت اوکړ.ا و د پسه رئیس د هر یو تمن بخلے لوریانے په طور د نذر او نیاز د حضرت سید په خدمت کښې پیش کړے. میر سید محمد (د درے واړه تمن د مشرانو) درے واړه بخلے د پاره دنکاح

خپل منظورے کړے. او په عقد صحيح شرعي. محمدي سره يئے واده کړے. له هرے يوے مائينے يئے اولاد نارينه پيدا شه. سيد محمد پخپل هغه ځوي چه له کاکړے بي بي څه پيدا شوے وو. "مشوانے" نوم کيښوده[23]. او له شيراني ټبره پيدا شوي ځوي باندے يئے شيراني نوم. او له کرړاني ټبره پيدا شوؤ غبر گونو ځامونونو نومونه يئے وردگ. او هني کيښودل. له دے څلو رواړه ځامنو يئې کوم نمسي پيدا شول په ترتيب سره نومونه يئے دا دي.

مشواني:

د مشواني نهه ځامن پيدا شول نومونه يئې دا دي. تفض. لودين. متکاني، يالکاءي. سلماني (يا سهاري) روغاني. کزبوني (يا کزبوتے) غريب، خوبارے (يازريازے) رياض (غن) په دوي کښې د مشرى ځوي تفض څلور زهمن وو ترک، کيسور (خيسور) مهمند. بدور. او بيا د بدور څلور ذهمن وو. سنجر، موسى. آدم. يوسف. بيا د يوسف نه عثمان او محمود.

استراني:

د استراني پنځه ځامن وو. سخي. تري. مړيري. امرا خيل. سيد همر (عمر)

وردگ:

[23]سيد نا آدم نبوي پخپل کتاب نکات الا سرار کښې ليکي "د سيد محمد گيسود راز د ځوي نوم مسعود وو. په پښتنو کلي په سو او مشوياديده. اولاد يئے مشواني ياديږي. (اثر)

د وردګ څلور ځامن وو. سید نور. سید داني. سید میر. سید ګدا.

هني:

د هني پنځه ځامن وو. دولت. بوغرے. مردون. مجکے. زوشت (یا دوست محمد)

روستو سید محمد ګیسو دراز د هر یو ځوي د نسل نه لوئ لوئ قومونه او قبیلے جوړے شوے دي. په برصغیر پاک او هند وا افغانستان کلې خواره پراته دي. او تعداد یئے د لکونونه زیات دے. د پښتنو مؤرخانو د روایت مطابق حضرت سید مشوان. اشتران. وردګ او هني پخپله زمانه کښې مشهور اولیاء الله وو. او د دوئ زیارتونه د کوه سلیمان په مختلفو حصو کښې دي. او مرجع د خاص او عام دي. د دے څلور واړو بزرګانو اولاد په افغان قبائلو کښې سید زاد ګان ګنړلے شي. سیدان هم ورته وائي. او چونکه د دوئ میندے پښتنے وے. په دغه وجه افغانان هم ورته وئیلے شي. لیکن په خصوصیت سره د "سادات افاغنه" په امتیازي نوم سره یادیږي. یعنے دوئ هم د سیدان، دي (د پلار د طرف نه) او هم افګانان دي (د مور د طرف نه) ځکه د "سادات الافغان" په خصوصي نامه یاد شول. او "ستانه دار" ګنړلے شي.

په ټوله پښتونخواه او برصغیر پاک وهند کښې د "سادات افاغته" قبائل لکه د نورو وپښتنو قبائیلو په شان د تعداد او آبادئ په لحاظ سره ډیر زیات شوي دي. او

هر کله چه ستانه دارکنټرلے شي. په دے وجه د دے ساداتو مختلف خاندانونه د مختلفو پښتنو قبائیلو سره د ملک په مختلفو حصو کښې خواره واره پراته دي. او د روحاني پیشوایانو په طور د قوم رهنمائي کوي.

اشتراني سادات

په دوئ کښې اشتراني سادات په بلوچستان کښې د کاکړ او ترین وغیره قبائیلو سره او په ډیره ډویژن کښې د وزیر محسود. بیټیني. دور قبائیلو سره یو ځاي اوسیږي. په مغربي او مشرقي پنجاب کښې هم آباد وو. حضرت شیخ ملهي قتال او شیخ صدر جهان په دے کورنئ کښې لوئ بزرګان تیر شویدي.

وردګ او روغاني سادات

وردګ او روغاني سادات په بلوچستان. سابق صوبه سرحد. قبائیلي علاقو او افغانستان کښې خواره دي. په خصوصیت سره روغاني سادات په ضلع مردان کښې. او د ریاست دیر په درے درو کلي درهٔ تور منګ. دوهٔ ډوګ درهٔ ملاکنډ کښې زیات آبادي. او وردګ سادات په بلوچستان ضلع پیښور. ریاست دیر. سوات او د برصغیر پاک و هند په نورو مختلفو علاقو کلي او په خصوصیت په سمت جنوبي افغانستان کښې ډیر زیات آباد دي.

هني سادات

دا سادات هم د پیښتنو د مختلفو قبائیل سره شریک او خواره واره پراته دي. یو خاندان یئې په قبائیلي علاقه باجوړ کښې موجود دے. په دے خاندان کښې ډیر لوي اولیائ الله تیر شوي دي.

سادات مشواني

د سید محمد ګیسود راز په اولاد کښې زیات شهرت د ده د مشرى ځوي "مشوان" اولاد ته حاصل شوے دے. او لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه. په برصغیر پاک او هند او افغانستان کښې خواره دي. د مشواني قبیلے سادات د خپل نوم سره لفظ د میر یا میران استعمالوي. لکه چه نور سادات د خپل نوم سره لفظ د شاه لیکي. په بلوچستان ګزیټیر کښې لیکي چه مشواني سیدان دي. د سید محمد ګیسو دراز د نسل نه دي. چه سلسله د نسب یئې په دیار لسم پشت کښې پاک رسول ته رسیږي. او د بغداد شریف د اوچ نومے کلي نه راغلي وو. د مشواني ساداتو خلق چه په مختلفو علاقو کښې آباد دي. دلته په اختصار سره د فائدے په خاطر یو اجمالي تذکره یئے درج کوؤل مناسب ګڼړو.

(۱) د غزني خیل قبیلے په علاقے کښې مشواني خلق زیات دے. پنجپاے. محمد خیل. چي دا په کښې مشهورے قبیلے دي.

(۲) د دے درے واړه قبیلو خلق د افغانستان د ګرم سیر نومے ملک په شرارود نومے علاقه کښې هم آباد دے. شرار ود د قندهار ښهر نه جنوب طرف ته واقع دے. پنجپائ. میخاني زائ. سرکوزي. سیعد خیل، او محمد خیل یئے د کلو نومونه دي. په ۱۹۲۶ء کښې سید محمد اختر المعروف په اختر جان آغا ژوندے وو. او د قلمي یاد داشتو نویوه لویه ذخیره ورسره موجوده وه. چه ځما ګران دوست سید نصرالله جان مشواني د اسماعیلا ضلع مردان ورسره ملا خطه کړے وه. په ۱۹۰۷ء کښې په شرارود کلي د سادات مشواني مردم شماري ۵۰۰کورونه وه.په آئین اکبري کښې د شرارود د مشواني ساداتو ذکر موجود دے. د دے "شرارود" د مشواني ساداتو ځنے مشران د احمد شاه ابدالي په زمانه کلي د سابق صوبه سندهـ علاقے ته راغلي وو. د لاړ کانه سټیشن او جنکشن روک تر منځه په موضع منديجي کښې د دے ساداتو د نسل خلق تر نن ورځے پورے موجود دے. ډیر نیک خلق پکښې تیر شویدے.

(۳) د بلوچستان په تاریخونو کښې د سادات مشواني ذکر د اچک زي.

کاکړ. کاسمي وغيره قبائيلو د نومونو سره يو ځاي کوؤلے شي. او ستانه دار ګنړلے شي.

(۴) د هرات او قندهار تر منځه يو تاريخي مقام دے. چه نوم يئے "فراه" دے. (دا مقام د قندهار او هرات په سړک د قندهار نه د ۲۳۳ميله په فاصله دے. چه د دے نه بيا تر سبزوار ۹۴ميله او د سبزوار نه تر هرات ۸۰ ميله فاصله ده) په فراه کښې چه کوم مشواني سادات آباد دي. هغوئ ځان ته فاطمه خيل وائي. د دوي د مشهور کلي نوم جان محمد دے. خبره داسے ده. چه په فاطمه خيل ساداتو کښې درے مشاهير بزرګان وو. جان محمد. خير محمد ولي محمد. په دوي کښې د مورث اعلی جان محمد د نسل سادات په فراه کښې اوسيږي. د ولي محمد د نسل سادات د شرار وو په پنجپائ. محمد خيل او سعيد خيل نومے کلو کلي آبادي دي (په پنجپائ کلي سيد محمد امير چه محمد خيل کلي سيد شير محمد بابا. په چچي زائ کښې سيد رسول بخش او په موضع سر کوزي کښې سيد فيض محمد ياد کسان وو) او د مورث اعلی خير محمد د نسل خلق د دکن حيدر

آباد بهړوچ نومے علاقه کښې آباد وو.

(۵) د افغانستان په هرات نومے ښهر کښې د مشواني ساداتو شپيته اويا کورونه موجود دي. دوئ ته شکور خيل او چوپړا خيل وائي. د نورو ساداتو په شان جاګيردار دي. سيد عبدالرحمان او سيد مؤمن پکښې ياد سړي تير شوي دي. د دغے نه علاوه د هرات په صوبه کلےد مشواني ساداتو تقريبا يو زر خاندانو نه آباد دي. په موضع خوشاب (ده قلعه نو) ضلع بادغيس صوبۀ هرات کښې سيد بهاء الدين والد سيد صوفي عبدالغفار نامور سړے وو. او د خپلے علاقے نه د حکومت افغانستان د مجلس عالي ايمان رکن وو. په دے علاقه کښې سيد حاجي راز محمد خيل مشواني او سيد عبدالرحمان مشواني نامور کسان وو.

(۶) په قندهار افغانستان کښې د مشواني ساداتو تقريبا يو زر خاندانونه آباد دي. د شهر قندهار بازار هرات سيد شرف الدين اخند زاده لوئ عالم او د جامع مسجد امام وو. د قندهار د قلعه سر نزدے يئے خانقاه وو. د قندهار ښهر ته جنوب طرف ته د څلويښت ميله په فاصله په موضع

سنگ حصارک کښې د مشواني ساداتو د قبيلے حسن خيل او چوپړا خيل چچي زاے. پنجپائ او ميخاني زائ قبيلو خلق تقريباً پنځه سوه کورونه آباد دي. دوئ د ۱۸۷۰ء په خواؤ شا کښې دلته راغلي دي. سيد محمد اکبر او سيد جان محمد پکښې نيکان خلق تير شوي دي.

(۷) د افغانستان په کوه د امن نوے علاقه کښې د کابل ښهر نه شمال طرف ته د ۱۲ کوس په فاصله د مشواني ساداتو تقريباً شپږ سوه کورونه باد دي. د دوئ د مشهور کلي نوم "قره باغ" دے. دلته د آکاخيل قبيلے خلق زيات آباد دي. دغه شان د کابل هم په دے شمالي کوهستان کلي د ۱۸ کوس په فاصله قلعه سقيد کلې. او په مشهور تاريخي مقام "بخر" کښې هم د مشواني ساداتو تقريبا څلويښت کورونه آباد دي.

(۸) د کوئيټه ډيوژن په مرکزي ښهر کويټه او مضافاتو کلې د مشواني ساداتو تقريبا اويا خاندانونه آباد دي. د ديني علمونو عالمان او نيک خلق پکښې موجود دے.

(۹) د رياست سوات د مرکزي مقام منګوره سره مخامخ په موضع

کنالـه کلـې مشوانـي سادات مـوجـود دي.

(۱۰) د ضلع مردان په کومو کلو کښې چه مشوانـي سيدان آبـاد دي. د هغـے کلـو نـومـونـه دادي. شموزائ. بـابـوزئ، کوټکـے. اسماعيلا. يـار حسين. سړه چينـه.

سيد محمد کرم وسيد محمد اکرام مشوانـي

د ضلع مـردان پـه پـورتـنو کلـو کښې چه کوم مشوانـي سادات آبـاد وي. دا ټـول د يـو سړي اولاد دے. چه د هغوي نـوم حضرت سيد محمد کرم عليه الـرحمة وو. او پـه سلسله عـالـيه نـقشبـنديـه کښې د حضرت شيخ يـحى الـمعروف پـه حضرت جي صاحب دا ټک عليه الـرحمة خليفه او مـريـد وو. د حضرت سيد کرم د مشرور ورونـوم محمد اکرام وو. دا دواړه رونـړه پـه قـام حسن خيل الـمعروف سين خيل وو. د خپل پـير طريقت پـه حکم سره پـه ۱۱۰۰هــ کښې د ضلع مـردان اسماعيلـه نـومے کلي تـه راغي وو. او دلـتـه دا کو خيل نـومے قـام د مـلک زي نـومے قـبيلے د خلقـو سره يـو ځاي آبـاد شوه وو. او پـه احمد خيل قـبيلـه کښې يـئے واده کړے وجو. څه موده پس حضرت سيد محمد اکرم عليه الـرحمة د تـحصيل پـيښور ريګي نـومے کلي تـه پـه کډه لاړ او هلـتـه آبـاد شه. هو کلـه چه پـه ۱۱۳۶هــ کښې حضرت جي صاحب دا ټک عليه الـرحة وفـات شه. نـو حضرت سيد محمد اکرام عليه الـرحمة بـيا

د حضرت جي صاحب دا ټک د مشر خليفه حضرت ميا صاحب محد عمر د څمکنو نه تجديد د بيعت کړے وو. او د حضرت ميا صاحب په نامورو خليفه ګانو کلي شمارلے شي. د مسعود ګل پاسني د روايت مطابق حضرت شيخ سيد محمد اکرام لوئ بزرګ وو. او په مرتبه د اوتارو کښې وو. د ميانڼ صاحب د مناقبو په ټولو کتابونو او تذکرو د ده ذکر راغلے دے. د ده اولاد په ريګي کښې موجود دے.

(۱۱) د افغانستان او مغربي پاکستان په سرحد باندے د افغانستان د سمت مشرقي (صوبه ننګر هار) په انتهائ مشرق کښې په دا لګام. اسمار. نور ګل. نورستان. پيچ. ساؤ. ناړئ کښې او د مغربي پاکستان د قبائيلي علاقے باجوړ په درۀ باټوار کښې او د موجوده رياست دير په درۀ برول بالا. درۀ جندول درۀ کامبټ. درۀ مسکيني. درۀ شاهئ. درۀ جان بټئ. درۀ ميدان کښې آباد دي. د شمال مشرقي افغانستان او شمال مغربي پاکستان د پورنئ علاقے د يو بل سره پيوستے پرتے دي. په دے ټولو علاقو کښې تقريباً د پنځوس زره په تعداد کښې مشواني سادات آباد دي. او ډير لوئ لوئ عالمان او بزرګان پکښې تير شويدي. چه د هغوئ خانقا هونه او مزارونه تر نن ورځے پورے

موجع د خاص او عام دي. په نزدے زمانه کښې د درۀ مسکيني وادئ جندول په بوسته نومے کلي کښې د مشواني قوم په اکا خيل قبيله کلې مولانا سيد محمد گل زمان ولد سيد محمد بصير المعروف په باباجي صاحب د بوستے عليه الرحمة پکښې عالم او بزرگ سړے تير شيودے. دمغربي پاکستان په دے شمالمغربي علاقو کښې او ورسره د افغانستان په متصله شمال مشرقي علاقو کلې د مشواني ساداتو د کومو قبيلو خلق چه آباد دے. د هغوو قبيلو نومونه دا دي.

کاني خيل. اتو خيل. شنو خيل گلے زي. رستم خيل، علي خيل، عثمان خيل، چوپړا خيل، ميرو خيل، بابا خيل مغلکي. آکاخيل. د آکا خيل قبيلے خلق په خصوصيت سره په مواضعات بوسته. بني. ډل. ساړوکي. کوه کڅ کښې آباد دي. او ددے قبيلے مورث اعلی د کوه دامان (افغانستان) نه دلته راغے وو.

(۱۳) په پيښور ښهر او خواؤ شا علاقوکښې مشواني سادات موجود دي. او ډير لوئ لوئ عالمان او بزرگان پکښې تير شوي دي. په

دوئ کښې د پلوسئ نومے کلي د ساداتو خاندان زيات مشهور دے.

(۱۴) په ضلع هزاره کښې چه کوم مشواني سادات دي. د دوئ په حقله دلندن په اخبار ما پسټر ګارډين بابت ۲۲، ستمبر ۱۹۲۲ء کښې د مسټرجے. کوټ مين يو مضمون چاپ شوي وو. په هغے کلي يئے د دوئ د ټولو لويو وړو. نارينه وؤ. زنانه وو. مجموعي تعداد ديرش زره ښودلے وو. د هغے نه روستو تر نن ورځے په تيرو شوؤ دوه څلويښتو کلونو کښې د دوئ تعداد به يقيناً چه څلويښت زره ته رسيدلے وي. د دے ساداتو خلق د ضلع هزاره په دے لاندينو کلو کښې آباد دي. سري کوټ. کنډي. امر خانه. ګدواليا. پيپل. په ديکښ "سري کوټ" د دوئ مرکزي مقام دے. او په مجموعي لحاظ سره د کوه کنکر نه واخه د تر بيله پورے او د ميدان هزاره. ميدان يوسفزاے. ميدان چچهـ په علاقو کښې خواره پراته دي. د سري کوټ تحصيل هري پور ضلع هزاره په علاقه کښې د دوئ د کلو او بانډو شمير ټول يو شپيته دے. او د کنډي او امراخانه سره متعلقه اوه بانډے دي. په دے حساب په ضلع هزاره

کښې مشواني سادات تقريباً په اويا وړو او لويو کلو کښې آباد دي.

د ضلع هزاره علاقے ته د مشواني ساداتو د راتللو په باب چه د "حالات مشواني" نومے کتاب فاضل مؤلف سيد يوسف شاه مشواني څومره روايتونه راجمع کړي دي. په هغے کښې يو هم د تاريخ د تنقيدي مطالعے په رنړا کښې صحيح نه ثابتيږي. البته دومره صحيح ده چه د سيد محمد ګيسو دراز نه راښکته او د هغه په نمسو کښې په دولسمه پيړۍ کښې نمسے حضرت سيد عبدالغفور المعروف کپور شاه" اولنے مورث اعلى دے چه سري کوټ ته راغلے وو. بيا د ده دوه نمسي وو. يو ابو سفيان چه د هغه اولاد په مراضعات کنډي او امرا خانه کلې آباد شول. او دويم شاه مراد وو وو چه د ده اولاد په سري کوټ او خواؤ شا علاقه کښې آباد شول.

حضرت سيد سليمان عليه الرحمة

د حضرت سيد شاه مراد په اولاد کښې حضرت حاجي سيد سليمان عليه الرحمة المروف په لنډه بابا عليه الرحمة مشهور روحاني پيشوا تير شويدے. چه د زمانے

په په لحاظ دلودهي خاندان د بادشاهئ بزرگ دے. ځما مهربان دوست سید نصرمن الله مشواني پي. اے د "شمالي وزیرستان" د دے نامور بزرګ په اولاد کښې دے. چه یو نیک دینداره او عالم فاضل انسان دے.

(۱۴) په ضلع ډیره اسماعیل خان وزیرستان او علاقه خوست افغانستان کښې هم د مشواني ساداتو ګنړ خاندانونه موجود دي.

حضرت سید الطائفه سید نا آدم بنوري

په مشواني ساداتو کښې چه کوم جلیل القدر بزرګ تیر شویدے. او د هغه فیوضات په ټول مغربي پاکستان خصوصاً د سابق صوبه سرحد. قبائیلي علاقےسرحدي ریاستونو او افغانستان په علاقو کلې خواره دي. هغه د حضرت سید الطائفه و سید السادات شیخ او مولانا حضرت سید نا سید آدم بنوري علیه الرحمة ذات بابرکت دے. ځمونږ په دے ملک کښې د دے نامورو روحاني رهنما مریدان او خلیفه ګان د دین اسلام روښانه مشعلونه دي. ځلانده ستوري دي چه د ټول ملک پرے روښانه دے. حضرت سید نا شیخ حبیب پشاوري حضرت سید نامولانا محمد فاضل پاپید مته مغل خیل. حضرت سیدنا حاجي عبدالله بهادر کوهاټي. حضر سید نا میا نور محمد سلامپور

سوات حضرت سید نا اکون الیاس د ریاست دیر. حضرت سید محمد عمر د چینکئ اتمان خیل باجوړ. حضرت سید نا محمد امین صدیقي د پیښور ښهر. حضرت سیدنا محمد صدیق د آلو قاسمي ضلع مردان. حضرت سید نامحمد صدیق د تهکال ضلع پیښور. حضرت شیخ محمد گل ولد سید نا شیخ رحمکار کاکا صاحب د نوښهر حضرت مولانا سعد الله صاحب د وزیر آباد پنجاب. حضرت مولانا شیخ سعدي بخاري د لاهور او داسے بے شمیر نور مشاهیر بزرگان او بیا د هغوئ مریدان او د مریدانو مریدان یو عظیم الشانه سلسله ده چه ځمونږ په دے ملک کښې د دریاے آمونه تر مشرقي پاکستان پورے خوره ده. او دا ټول ملک د حضرت سید نا آدم بنوري د انفاس قدسي په خوشبویئے معطر دي. حقه خبره دا ده که په سادات مشواني کښې بل یو بزرگ هم نه وے پیدا شوے نو یواځے د حضرت سید نا آدم بنوري علیه الرحمة په وجود مبارک چه دے مبارک خاندان ته کوم افتخار حاصل شویدے. هغة ورله پوره وو. په وادئ پیښور کښې حضرت میا محمد مؤمن د ماشوکهکر. شیخ عبدالغفور د پیښور ښهر. شیخ جنید پشاوري. د بشونی صاحب. د عمر زو صاحب. د تور ډهیري صاحب د سوات صاحب. د کربوغے صاحب. د چارسدے میا رامباز. میا محمد شیخ رحمداد صاحب. د اکبر پورے شیخ رضوان. د ریگي شیخ محمد اکرم. د گوجرو گرهئ میا عبدالحکیم بخاري. میان عبدالحکیم کاکر د بلوچستان او بے شمیره نور مشاهیر دا ټول د حضرت سید نا آدم

بنوري د سلسلے هغه بزرګان دي چه د سلسله عاليه نقشبنديه په فيوضاتو يئے ځمونږ په دے ملک کښې د شريعت محمدي خدمت کړے دے. او د دوئ د تعليماتو له برکته په دے ملک کښې اسلام ته عزت. حرمت. شرافت او وقار حاصل دے. (روستو به د دے اکثرو مشاهير بزرګانو تذکره راشي.)

د حضرت سيد نا آدم بنوري عليه الرحمة د ځامنو او نمسو اکثر مزارونه ځمونږ په دے علاقه کښې دي او د ده اولاد په بنور خيل ساداتو مشهور دي. په شرارو د افغانستان کښې او په کويټه کښې چه کوم بنور خيل سادات دي. د هغوئ مورث على سيد داؤد په نهم پشت کښې د حضرت سيد نا آدم بنوري عليه الرحمة نمسے دے. بنوري سادات. په پيښور. کوهاټ. کابل. باجوړ. سوات. مردان کويټ. پنجاب. سندهاو هر وطن کښې موجود دي. او دلوئ عزت. قدر او منزلت او فضل او بزرګئ خاوندان دي. رحمة الله عليه اجمعين.

سادات تــارن

دسمت مشرقي افغانستان او شمال مغربي پاکستان هغه علاقے چه په فقره نمبر۱۱ کښې يئے ذکر او شه. په هغے کښې چه کوم مشراني سادات آباد دي. د دوئ سره د "سادات افاغنه" د يو بل شاخ سادات هم يو ځاي آباد دي. چه هغوئ ته تارن او تاران سادات وئيلے شي. تارن سادات په قبائيلي علاقه باجوړ. درۀ بابو قره. وادئ جندول. وادئ ميدان. وادي برول وغيره علاقو کښې اوسيږي. او د بلوچستان په مختلفو علاقو خصوصاًفروټ سنډيمن او د افغانستان په علاقه کوه دامان کښې هم آباد دي. او د رياست کشمير په زمکه کښےهم د دے ساداتو کورنئ موجود دے.

حضرت سيد طاهر حسيني

د تاريخ صولت افغاني "د روايت مطابق د پښتنو مورث اعلی کاکړ نيکه په وصلي ځامنو کلې د يو ځوئ نوم تارن وو. د ده اصلي نوم سيد طاهر وو. او لقب يئے تارن وو. او کاکړ نيکه پخپل ځوي نيولے وو. په دغه وجه په ويش کښې د کاکړ قوم سره حسابيږي. او هر کله چه د سيد مشوان مور بي بي هم د کاکړ نيکه لور وه. په دغه وجه سادات مشواني او سادات تارن په اکثرو ځايونو کښې سره شريک آباد دي. د دے ساداتو نوم په بلوچستان کښې تارن او تارنړ دے. او په قبائيلي علاقه باجوړ

وغيره کښې د تاران او تارانړ په نامه يادېږي. د دوئ د مورث اعلی حضرت سيد طاهر عليه الرحمة شجره د نسب داسې ده.

سيد طاهر الملقب په تارن بن سيد ناصر بن سيد علاء الدين بن سيد قطب الدين. بن سيد داؤد. بن سلطان کبير بن سيد شمس الدين. بن سيد احمد بن سيد علي رفاعي بن سيد حسن بن سيد محمد بن سيد خود بن سيد امام علي رضا بن سيد امام موسی کاظم بن سيد امام جعفر صادق بن سيد امام محمد قرين سيد امام علي زين العابدين بن سيد الشهداء امام حسين رضي الله عنه بن سيدة انسائ بتول الجتنه بنت رسول الثقلين محمد مصطفی صلي الله عليه وسلم

د حضرت سيد تارن عاليه الرحمة د څوي نوم ابخر وو. د هغه د څوي نوم حضرت خواجه کبري وو. بيا د هغه پنځه ذهمن وو. مکانون، اذين، اسماعيل، نور، ابراهيم چه روست وهم د دوئ نه د دې تارن ساداتو د نسب سلسله خوره شوې ده. او هر کله چه د سيد تارن او سيد مشوان عليهم الرحمة دواړو يوه زمانه ده. په دغه اعتبار سره د دې دواړو زمانه ۴۳۰هـ اندازه کوؤلې شي. د قطب بنګاله حضرت شيخ علاء الحق عمر ابن اسعد لاهوري الافغان د نوم سره د اخوندرويزه په کتاب تذکرة الا ابرار کښې لفظ "نوري" ليکلې شويدې. خيال دا دې. چه دې هم د "تارن" ساداتو د زيلي شاخ "نور" د کورنئ او خاندان څنې وو. او په دې

اعتبار د سادات افاغنه يو ممتاز فرد وو. عليهم الرحمة والغفران.

حضرت شيخ خواجه يحى كبير

ولادت:.. شهر علي ۷۰۷هـ

وفات: .... شهر علي ۸۳۴هـ

د ۴۰۰هـ په شاؤ خوا کښې د غور غشتي. نيازي. لودهي پښتنو خلق د مغربي پاکستان د ډيره ډويشن او کوئيټه ډويژن په قبائيلي علاقو کښې د وادئ ګومل او وادئ ژوب د عزئيزه علاقو تر منځه د کوه سليمان او کوه کسي په ښاخونو کښې آباد وو. او په خصوسيت سره د غرغشتي قبيلے د دے واړه ښاخونو کاکړ ناغر. داني د نسل خلق د وادئ ژوب په خواؤ شا کښې اوسيدل. او بيا روستو هم د دے ځايونو ځنے دوئ په ټول مغربي پاکستان او بهارت کښې خوره شوي وو.

د تاريخ د بيانونونه معلوميږي. چه هسے خو په پښتون قام کښې ډير لوئ لوئ

بزرگان تیر شوي دي. لیکن کله داسے هم شویده چه د سړ بن. غرغشت. بیسټ په یوه نه یوه قبیله کښې یو داسے عظیم الشان بزرګ شخصیت پیدا شوے دے. چه هغه د دے درے واړه ځامن یعنے سړ بن غر غشت، بیټ د ټولو قبیلو او خیلونو روحاني رهنما او پیشواګرځیدلے دے. لکه حضرت شیخ متي. خلیل سړ بنے علیه الرحمة شه. چه هغه د ټول پښتون قوم د تمامي تمنونو روحاني رهنما وو. روایت دے چه هم د دغه شان اوچتے روحاني مرتبے خاوند او د پښتنو د ټولو تمنونو روحاني پیشوا یو بل بزرګ حضرت خواجه یحی کبیر علیه الرحمة وو. چه د ۷۰۰هـ په ابتدائ زمانه کښې د کوه سلیمان په غرغشتی قوم کښې پیدا شوے وو. او د هغه فیوضات په ټول برصغیر پاک او هند کښې خواره شوي وو.

د تاریخ صولت افغاني مؤلف زرداد خان نا غر د دوي. په تذکره کښې لیکي. د حضرت برهان الواصلین. قطب السالکین. متجلي په تجلي د ذات. متحلي په حیله د صفات. معدن د الهامات رباني. منبع د انواریزداني. هغه غریق د فناء د وحدت. هغه لامبوزن د دریاب د کثرت. ګنجینه د حقیق آلهي. خازن د مخزن لا متناهي خواجه یحی کبیر غورغشتي. چشتي. سهرورد دي. علیه الرحمة د لیکه نوم محمد بختیار وو. د پلار نوم سید ابي سید لحاق وو. او د په مشیراني قبیله کښې اوسیده. چه د مغربي پاکستان د کوئیټے ډویژن د کوه سلیمان په ښا خونو کلې د دوئ د قبیلے خلق استوګن وو. د

غلته په مقام د شهر علي کښې په ۷۰۷هـ کښې دا نیک انسان پیدا شوے وو. روایت دے. چه دے په ماشوم والي کښې هم د برخے خاوند وو. او د ولایت او بزرګي نخښے پکښې موجودے وے. د رمضان شریف روژے به یئے نیولے.ا و لکه د نورو ماشومانو خوشے لوبے به یئے نهٔ کوؤلے. هیله به ځوانئ ته رسیدلے وو. چه د دیني علمونو د تحصیل نه فارغه شوے وو. او بیا چه د پوخ ځلمی توب عمر ته رسیدلو. نو د پاکیزه اخلاقو معنوي او روحاني فضیلتونه یئے کمال ته رسیدلي وو. او د معرفت او حقیقت په تالاش کښې د ملک نه د سفر کؤولو آرزو مند وو. چه د کوم یو مرشد کامل نه بیعت اوکړي او د طریقت او محرفت کمال حاصل کړي.

په دے سلسله کښې یو روایت داسے دے. چه په کومو ورځو کښې د دوئ په زړهٔ کښې دا خیال ګرځیده. هم په دغه ورځو کښې یوه شپه یئے په خوب کښې د حضرت محمد مصطفی صلي الله علیه وسلم دیدار نصیب شه. ده ته یئے او فرمائیل چه ستا پیر د اوچ بهاولپور سید جلال الدین حسین مخدوم جهانیان جهان ګشت دے. چه د خوب نه رابیدار شه. نو ډیر زیات خوشحاله شه. اراده یئے اوکړه چه د شهر علي نه روان شي. د بهاولپور اوچ ته ورشي. او هلته د حضرت مخدوم جهانیان نه بیعت اوکړی. لیکن اتفاق ته ګوره چه هم په دغه منځ کښې حضرت مخدوم جهانیان چه د دنیاءے اسلام د سیاحت دپاره په کوم اولني سفر تلے وو. د هغے نه د ایران او سیستان په لاره واپس

چه بهاولپور ته راروان وو. د کوه سلیمان دغه شهر علي نومےمقام ته را اورسیده. او د دمے د پاره دغلته پاتے شه. د دوئ د راتللو نه چه خواجه یحی کبیر خبر شه نو بے اختیاره وررروان شه. وئیلے شي چه په دغه وخت کښې مخدوم جهانیان په جماعت کښې ناست وو. ناګاه یو هاتف پرے غیبي آواز اوکړو. چه د کوه سلیمان و غر غشتي قیام یو سید ځلمے چه د نیکه نوم یئے محمد بختیار دے. او د هغه د پلار نوم ابي سعید اسحاق دے. ستا سلام له راروان دے. پاسیږه د هغه استقبال اوکړه. ځکه چه خدائ پاک هغة له د بزرګئ لویه حصه ورکړے ده. ستا په ذمه د هغه تربیت کوؤل دي. چه د معرفت او طریقت په مشهورو څوارلسو سلسلو کښې اجازت او خرقه د خلافت ورله ورکړے. چنانچه مخدوم جهانیان پاسیده. د خواجه یحی کبیر مخے له ورغے. په غیږ کښې یئے اونیولو. او ډیره مهرباني یئے ورسره اوکړله.

په تاریخي اعتبار سره دا د ۷۴۹هــ واقعه ده. د دغے نه روستو حضرت خواجه یحی کبیر د حضرت مخدوم جهانیان سره اوچ بهاولپور ته راغے. او د مخدوم جهانیان د وفات ۷۸۸هــ پورے څلویښت کاله زمانه یئے د دے خپل پیر سره په سفر د حضرت کښې په ملګرتیا کښې تیره کړله. او حضرت مخدوم جهانیان چه د دغے نه روستو هر څوواره د دنیاے اسلام سیاحتونه کړي دي، دے به ورسره وو. په ۷۷۰هــ کښې یئے د هغوي سره

یو ځاي حج ګذارلے وو. او د خراسان بلخ. بخارا. سمر قند. عراق عرب. عراق عجم. شام عغیره ملکونو سیاحتونه یئے کړي وو. او په ایران. خراسان برصغیر پاک و هند خصوصاً د پښتونخواه په ټولو علاقو کښې د اسلام د تبلیغ د پاره یئے دورے کړے وے. عام او خاص خلقو ته یئے د شرعیت او معرفت تعلیم ورکړلو. ډیر نیکان خلق یئے مریدان شول. او د بزرګئ او ولایت لوړو درجو ته یئے اورسؤل. بلکه د اسلام د رنړا بے شمیر مشالونه یئے د ټول مغربي پاکستان په ګوټ ګوټ کښې خواره کړل. او بیا چه په ۷۸۸هـ کښې د ده پیر طریقت حضرت محدوم جهانیان په حق اورسیده نو د بخاري ساداتو د خاندان ګنړ خاندانونه هم د دے حضرت خواجه یحی کبیر ګورغشتي په صلاح باندے د کوئټه ډویژن پشین نومے مقام ته راغلل. او د بیارو ستو د دے ځاي نه د مغربي پاکستان په ډیره ډویژن. پیښور ډویژن او نورو بے شمیره علاقو کښې د ساداتو دغه خاندانونه په تابین تابین خواره شول. د پاره د دے چه د اسلام د شریعت او معرفت کومه رنړا چه خواجه مخدوم جهانیان او خواجه یحی کبیر ځاي په ځاي روښانه کړے ده. چه هغه بدستور روښانه او ساتلے شي. او د دے ټولو علاقو تر منځه چه د دوئ په کوششونو د دین اسلام "روحاني تړون" قائم شوے دے. چه هغه برقراره پاتے شي.

حضرت خواجه یحی کبیر له خداي پاک ډیر اوږد عمر ورکړے وو. شپږ ځلویښت کاله

د خپل پیر د وفات نه روستو هم ژوندے وو. او د یو سل اوه ویشت کالو په عمر کلې په دوئم تاریخ د صفر المظفر ۸۳۴هـ کښې په حق اورسیده. په دے روستونو شپږ څلویښتو کالو کښې یئې هم د خپل پیر طریقت حضرت محدوم جهانیان هغه طریقه (یعنے د دین اسلام د اشاعت او تبلیغ د پاره دورے کوؤل) جاري اوساتله. د مغربي پاکستان په بیله بیله علاقه کښې یئے د تبلیغ او هدایت د پاره دورے به کوؤلے. او خپل عمر یئے د خدائي په یادو او د خدائي مخلوق ته په فیض رسولو کښې تیره ولو.

د مغربي پاکستان په خاوره چه هر څومره قومونه او خلق په هغه زمانه آباد وو. په هغوئ کښې چه څومره خلقو ته د دوئ نه روحاني فیض رسیدلے دے. د هغے مثالونه ډیر کم موندلے شي. د چشتیه او سهروردیه بزرګانو په تذکرو کښې لیکلي دي. چه د حضرت خواجه یحی کبیر غرغشتي د باقاعده مریدانو او خلیفه ګانو تعداد یو لک درے سوه شپیته (۱۰۰۳۶۰) وو. په دومره لوئ تعداد کلې ګنړ مریدان یا خو د ده د پیر حضرت ؤکدوم جهانیان یادیږي. او یا د دهغه روستو د حضرت سیدنا آدم بنوري علیه الرحمة دومره په لکهنو مریدان یاد شوي دي. خصوصاً په پښتنو بزرګانو کښې د بل چا دومره زیات مریدان نه دي یاد شوي.

د حضرت خواجه یحی کبیر غورغشتي هغه مشهور او لوئ لوئ بزرګان مریدان چه هغه په قام پښتانه دي. او بل د هغوئ

زیارتونه د ټول مغربي پاکستان په مختلفو علاقو کښې خواره دي. او د دین اسلام روښانه او منور مشعلونه دي. چه تر نن ورځې د هغوئ په روحاني انوارو دا ملک روښانه دے. د تبرک په طور فقط د هغوئ د نومونو یو فهرست دلته درج کوؤلے شي. رحمة الله علیهلم اجمعین.

(۱) حضرت شیخ داؤد بټیني. چه د حضرت خواجه یحی کبیر زوم هم وو. مزار مبارک یئے په وزیرستان کښې دے.

(۲) حضرت خواجه عیسی دوتاني کلان، علیه الرحمة

(۳) حضرت خواجه عیسی دوتاني خورد. علیه الرحمة.

(۴) حضرت خواجه حسن سرخ بیټني. چه د حضرت خواجه یحی کبیر سخر وو علي الرحمة.

(۵) حضرت خواجه ترک دوتاني. علیه الرحمة.

(۶) حضرت خواجه مولانا ایوب سړبني علیه الرحمة.

(۷) حضرت خواجه محمد ابراهیم اشتراني. علیه الرحمة.

(۸) حضرت خواجه حسین جلواني علیه الرحمة. چه د حضرت خواجه یحی

کبیر خوریئے وو. او مزار مبارک یئے د ضلع مردان په موضع شاه منصور کښې دے.

(۹) حضرت خواجه شمس الدین خضر خیل سرواني علیه الرحمة. چه مزار مبارک یئے د ډیوه ډویژن په موضع خضر خیل کښې دے.

(۱۰) حضرت خواجه ملهي هندي، سرمیر سرواني علیه الرحمة چه مزار مبارک یئے په بلند شهر نومے ښهر (بهارت) کښې دے.

(۱۱) حضرت خواجه جلال سرواني علیه الرحمة. چه مزار مبارک یئے په ښهر لاهور کښې دے.

(۱۲) حضرت خواجه ذکریا سوري علیه الرحمة. چه مزار یئے په ملتان کښې دے.

(۱۳) حضرت خواجه مکي کرلاني چه مزار یئے په کوه سلیمان کښې دے.

(۱۴) حضرت خواجه خلیل کړلاني. چه مزار یئے په اورکزائي قبایلي علاقه تیراه کښې دے.

(۱۵) حضرت خواجه رکن الدین میاني علیه الرحمة چه مزار مبارک یئے د ضلع بنوں په علاقه مروت کښې

دے. (میاني قبیله د شیراني قبیلے یو ښاخ دے)

(۱۶) حضرت مولانا علاء الدین غرغشتي چه مزار مبارک یئے د ضلع کیمبل پور علاقه چچ په موضع غرغشتي کښې دے.

(۱۷) حضرت خواجه خیر الدین کا ذر علیه الرحمة.

(۱۸) حضرت خواجه بلال نسباح علیه الرحمة.

(۱۹) حضرت خواجه بختیار غرغشتي چه مزار مبارک یئے په حیدر آباد دکن کښې دے.

(۲۰) حضرت خواجه حسن بختیار غرغشتي چه مزار مبارک یئے د ضلع مردان. تحصیل صوابئ په گدون نومے علاقه کښې دے.

(۲۱) حضرت خواجه خان بختیار علیه الرحمة.

(۲۲) حضرت خواجه شیخ سهیل بختیار غرغشتي علیه الرحمة چه مزار مبارک یئے په ایران کښې دے.

(۲۳) حضرت خواجه شیخ علي لاغري علیه الرحمة چه د خواجه یحی کبیر غر غشتي سکه رور وو.

(۲۴) حضرت خواجه احمد علیه الرحمة.

(۲۵) حضرت خواجه شیخ ګدا علیه الرحمة.

(۲۶) حضرت خواجه شیخ الک علیه الرحمة.

دا درے واړه روستني بزرګان سکه رونړه وو. په قام سرواڼی وو. د دوئ زیارتونه مبارک د ډیره اسماعیل خان ډویژن په علاقه سرواني کښې دي. علیهم الرحمة.

(۲۷) حضرت خواجه ارغند مو جازائ علیه الرحمة.

(۲۸) حضرت خواجه شیخ اسماعیل علیه الرحمة دے په سلسله عالیه نقشبندیه کښې د حضرت مولانا عبدالرحمان جامي هروي علیه الرحمة هم مرید وو. په قام فرملي پښتون وو. د ده اولاد د ضلع کیمبلپور په علاقه چچ موضع فرملي کښې موجود دے. او پخپله د دوئ مزار مبارک په ښهر لاهور (پنجاب) کښې دے.

(۲۹) حضرت خواجه کالونو حاني. علیه الرحمة.

(۳۰) حضرت خواجه حیدر ذرکني. علیه الرحمة. د دوئ ولادت، د کوئټه

ډیوژن په موضع ساوان کښې شوے وو. مزار یئے په پیښور کښې دے.

(۳۱) حضرت خواجه معروف علیه الرحمة. دے د حضرت خواجه یحی کبیر فرزند ارجمند وو. د خپل والد د وفات نه روستو په مقام د پیښور ښهر او بیا روستو په مقام د کابل ښهر کښې شیخ الا سلام او صدر الصدور وو. په پیښور ښهر ګنج دروازه کښې یو جامع مسجد دے چه هغه په "مسجد جامع خواجه معروف" نوم باندے یادیږي او تر نن ورځے د دوئ یادګار پاتے دے.دا ډیر مبارک جماعت دے. د د اوستنے زمانے مشهورو بزرګانو پکښې قیام او اعتکافونه کړي دي. لکه حضرت اخون درویزه علیه الرحمة. حضرت سید عبداللطیف المعروف بري امام د نورو په شاهان حضرت شیخ جنید پشاوري علیه الرحمة او میاں صاحب محمد عمر د څمکنو علیه الرحمة شول. د خواجه معورف د دے مبارک جامع مسجد یو لوئ بختور والے دا دے چه د تیرو شپږو سوؤ کالو نه د دیني علمونو درسګاه او مدرسه پاتے شویدے. ما عبدالحلیم اثر د علم حدیث صحیح بخاري. صحیح ملسم صحیح ابو داؤد او صحیح نسائ دوره هم په دے جامع مسجد کښې کړیده. حضرت میا محمد عمر

د ځمکنو بـه د خپـل کـلـي ځمکـنـو نـه د جمعـے نـمـونـځ ګـذارلـولـه دلـتـه راتـلـلـو. د حضرت خـواجه معـروف پـه مـزار مـبـارک کـښې اخـتـلاف دے. پـه يـو روايـت پـه کـابـل کـښې دے او پـه دوئـم روايـت پـه پـيـښـور ښـهـر کـښې دے. چـه دا دوئـم روايـت صـحـيـح دے.

(۳۲) حضرت خـواجه شـيـخ صـدر الـديـن عـلـيـه الـرحـمـة. دے هـم د حـضـرت خـواجـه يـحـی کـبـيـر فـرزنـد ارجـمـنـد وو. دے او د ده رور خـواجـه مـعـروف د کـرامـت او بـزرګـئ د اوچـت عـرفـانـي مـقـام خـاونـدان وو. عـلـيـهـم الـرحـمـة.

دا پـورتـه چـه يـاد شـول. دا ټـول ځـمـونـږ هـغـه روحـانـي رهـنـمـايـان دي. چـه تـر نـن ورځـے د دوئ د کـوشـشـونـو پـه بـرکـت ځـمـونـږ زړونـه اوسـيـنـے د اسـلام پـه انـوارو روښـانـه دي. او دوئ چـه ځـمـونـږ د پـاره کـوم عـظـيـم الـشـان "روحـانـي تـړون" قـائـم کـړے دے. د هـغـے پـه رشـتـه مـونـږه تـړلـي شـوي او ټـول يـو رونـړه يـو. خـدائـي دے ورلـه نـيـک اجـر ورکـړي.

حضرت شیخ صدر الدین صدر جهان

۹۳۲هـ

د ډیره اسماعیل خان ډویژن د د راین په علاقه کښې د پښتنو د سرواني نومې قبیلې خلق اوسیږي. په دې کښې یوه وړه قبیله ده (یو ښاخ دې) چه د هغې نوم دې هري پال. او د هري پال د پلار نوم دې دې سرواني. د ده دوه رونړوه وو. یو سیني. دوئم بلي (د حوالې د پاره ملاخطه کړئ صولت افغاني صفحه نمبر۴۸۶ و نمبر ۴۸۹).

د دې سری پال نیکه نه راپه ښکته په دولسم پشت کښې یو ډیر لوئ روحاني پیشوا او بزرگ سړے تیر شویدے. چه هغه د شیخ احمد زنده پیر سروني په نوم سره مشهور وو. چه په تاریخی اعتبار سره د ۸۰۰هـ د زمانې بزرگ وو. د دې شیخ احمد شجره د نسب داسې ده.

"شیخ احد زنده پیر. ولد شیخ علي شهباز، ولد شیخ ملهي قتال. ولد شیخ سلیمان دانا ولد شیخ احمد جوانمرد. ولد شیخ موسی ولد شیخ محمود زاے. ولد ابراهیم ولد ملک یار ولد شهباز ولد جعفري ولد هري پال ولد سرواني. په دې شجره کښې د شیخ احمد زنده پیر نه بره تر شپږمې پیړۍ یعنې تر شیخ موسي پورې دا ټول نیکونه لوئ لوئ بزرگان تیر شویدي.

چه د تاریخ کتابونه د دوئ د حالاتو نه ډک دي.

حضرت شیخ ملهي قتال

په دوئ کښې په خصوصیت سره حضرت شیخ ملهي قتال هغه جلیل القدر بزرګ دے چه د حضرت غوث العالم شیخ بهاء الحق والملة والدین ذکریا ملتاني علیه الرحمة نه او د حضرت سید عثمان الملقب په لعل شهباز قلندر نه یئے فیض حاصل کړے وو. او د سلسله عالیه قادریه او سهرودیه مشهور روحاني رهنما وو. او د دوئ د روحاني فیوضاتو نه په وادئ ګومل. وادئ ژوب او ولوئ کرم په میداني او غرثیزه دواړو علاقو کښې د اسلام رنړا خوره شوے ده. او هر کله چه غزاکانے یئے کړے دي په دے وجه د قتال په لقب یادولے شي. د شیخ احمد زنده پیر په مشرانو کلې هم دغه حضرت شیخ ملهي قتال او لنئ بزرګ دے چه د قبائیلي علاقے سرواني نه د ډیره اسماعیل خان درابن نومے مقام ته راغلے وو. او مزار مبارک یئے هم دغلته دے. علیه الرحمة والغفران.

د حضرت شیخ احمد زنده پیر ولد شیخ علي شهباز علیه الرحمة پنځه ځامن وو. چه په هغوئ کښې د ټولونه د مشر ځوئ یئے شیخ صدر والدین نوم وو. او روستو په حضرت شیخ صدر جهان نامه باندے مشهور شوے وو. او په خپله زمانه فاضل عالم. ولي کامل او خدائ ته رسیدلے بزرګ وو.

حضرت شيخ صدر جهان د خپل اصلي وطن يعنې در ابن ضلع ډيره اسماعيل خان ته د تبليغ په غرض هندوستان ته روان شه. او هغه ځائ ته ورغې چرته چه نن ورځې د "ماليركوټله" نومې ښهر آباد دې. د ستلج درياب په غاړه د يوې وړې چړې (د درياب ښاخ) په غاړه په کوم ځاي کښې چه حضرت صدر جهان استوګنه فرمائيلې وه. د هغې نخښې تر اوسه پورې شته دې. په دغه زمانه لاجوده ماليركوټله نومې ښهر نه وو آباد شوې. څه نوم نښان ئي هم نه وو. سرف يو ورکوټې شان کلې دلته موجود وو. چه د هغې نامه وه. "جهوم" هر ګله چه حضرت شيخ صدر الدين د غلته ديره شه.او د خداي پاک عبادت يئې شروع کړ. نو د دوئ د عبادت خانې خواته يوه عاجزه بوډئ ښځه اوسيدله. مسلمانه وه سالي نوم يئې وو. د ټولونه اول هم دغه بوډئ د حضرت شيخ صدر الدين مريده شوې وه.

څه زمانه پس د دهلي مشهور پښتون بادشاه سلطان بهلول لود هي اولګيده. خپله لورئې شيخ صدر الدين له په نکاح ورکړله. څه زمانه پس د هرې خوانه د د خدائ مخلوق پرې رامات شه. د مريدانو سلسله يئې ورځ په ورځ زياتيدله. د دوئ د روحاني فيوضاتو په برکت د لاهور او سرهند ترمنځه په دغه لويه علاقه کښې اسلام خور شه. په لکونو کفار او مشراکان مسلمانان شول. نو په رشيتا سره چه په دغه علاقه کښې اسلام ژوندې شه. ځکه چه ددوئ لقب هم "زنده پير" وو.

دلته دا یاد لرل پکار دي. چه سلطان بهلول لودهي په ۱۷، ربیع الاول ۸۵۵هـ کښې په تخت ناست وو. او په دوئم تاریخ د شعبان ۸۹۴هـ وفات شوے دے. د دے نه د حضرت شیخ صدر الدین د زمانے اندازه لګیدلے شي. او دا وئیلے شو چه په شیخ صدر الدین باندے د سلطان بهلول لودهي لور چه واده شوے وه. نو د هغه د هغه د بادشاه کیدلو د زمانے ۸۵۵هـ نه روستووه.

د هندوستان د دغه دور په تاریخ کښې د "صدر جهان زنده پیر" نوم لکه د نمر په شان ښکاره دے. د "لودهي خاندان" د دهلي بادشاهان که په طاهر شکل د هند حکمرانان وو. نو "صدر جهان زنده پیر"صدر جهان زنده پیر" د دے هیواد روحاني باد شاه وو. حضرت "زنده پیر" علاوه د روحاني بزرګئ نه ډیر لوئ عالم او فاضل هم وو. د علم فقهه او شریعت په کتابونو کښې "فتاوي صدر جهان" د ده اهم تالیف او مشهور کتاب دے. او هم د دوئ په برکت د موجوده مشرقي پنجاب په علاقو کلې د "علم رنړا" جوړه شوے وه. او په دغه خاوره کنړ اسلامي درسګاهونه او جماعتونه جور شوي وو.

هر کله چه "د شیخ صدر الدین" د روحاني کشش او اثر په وجه د خلقو ګنړه زیاته شوله نو حضرت "زنده پیر" د یو نوي لوي کلي جوړ والو اراده اوکړله. او په هغے باندے هم د هغه مریدے او عاجزے بوډئ چه مالي نوم یئے وو. د هغے د نوم په

مناسبت سره مالیر نوم کیښودلو. او بیا چه په ۹۳۲هـ کښې حضرت شیخ صدر الدین صدر جهان وفات شه. او هم په دغه مالیر کلي کښې دفن شه. نو د هغې نه روستو د اور کوټې مالیر نومې کلې ورځ په ورځ آبادیده. آبادي یئې زیاته شوه. ان تر دې چه ښهر یه ترینه سازه شوه.

د حضرت شیخ صدر جهان زنده پیر د وفات تاریخ د دې دوه جلملونه خیژی "فضل ایزد" "عارف المتقي". د حضرت صدر جهان دوه بیبیانې وې. یوه بي بي په قام باندې راجپو ته وه. او دوئمه پښتنه شهزادګئ وه. د شهزادګۍ د نسل نه یئې چه کوم اولاد پاتې وو. د دغه کورنئ خلق تر نن ورځې پورې د حضرت شیخ د مزار منجوران دي. او د دوئمې راجپوتې بي بي اولا دیئې روستو د دغه علاقې حکمرانان شوي وو. مګر مقامي خلق د دې دواړو خاندانونو هر یو فرد ته خان صاحب وائي. د حضرت شیخ دې نمسو روستو د مالیر خواته چه کومه حکومتي قلعه د کوټله په نوم جوره کړې وه. د هغې په وجه دغه ښهر د مالیر کوټله په نوم یادیدلو. په ۱۸۵۷هـ کښې چه د مالیر کوټله په دې عزتمند خاندان کښې کوم نواب وو. د هغه نواب سکندر علي خان نوم وو. شجره د نسب یئې داسې وه. نواب سکندر خان بن نواب محبوب علي خان بن امیر خان بن وزیر خان بن بهیګن خان بن جمال خان بن شیر محمد خان بن فیروز خان. بن بازید خان اول. او د ۱۹۴۷ء نه مخکښې چه د

ریاست مالیر کوټله کوم نواب وو د هغه نوم وو. نواب ذوالفقار علي خان چه یو علم دوست او علم پرور انسان وو. او دا به ډیر وکمو خلقو ته معلومه وي. چه د پاکستان د نظریئے د باني علامه محمد اقبال مرحوم پرورش هم دغه نواب ذوالفقار علي خان کړے وو. په لاهور کښې چه د علامه اقبال کوم محل دے. او په "جاوید منزل" نامه یادیږي. دغه مکان او کوټې د نواب ذوالفقار علي خان ملکیت وو چه د علم نوازئ او ادب پرورۍ په طور یئے علامه مرحوم ته بخشش ورکړے وه. د علامه اقبال مرحوم په اشعارو کلې ځنے اشعار د "زنده پیر" په عنوان سره موجود دي. قطع نظر د دے نه چه په دغه اشعارو کښې مخاطبه د چاسره ده. پس منظر یئے دا دے چه په هغے کښې د حضرت شیخ صدر الدین صدر جان خصوصي او خانداني لقب

"زنده پیر"

ته بلیغه اشاره ده.

علیهم الرحمة والغفران

یادګیرنه:

مخکښې د سید احمد زنده پیر په دولسم پشت کلې بره نیکه نومهري پال درج شوے دے. د ده اصلي نوم سید عارف الله ابن سید باقر الملقب په عطاء الله المعروف په شیخ اتو شوریاني خویشکي غوغشتي ابن

سيد محمد الملقب په بختيار ابن سيد ابي سعيد اسحاق حسيني دے.

د ده نوم عارف الله داسے لوستلے شويدے. عارف آل. عارف وال بهري پال سري پال (د حوالے د پاره ملاخطه کرئ د مجله اولس کويټه خصوصي ګنړه بابت ۱۹۲۳ء صفحه۳۱۶) د اشتراني ساداتو خاندان د کوه سليمان په علاقه شيراني کښې د قبيله شيراني سره يو ځاي آباده ده. د شيراني قوم وصلي قبيله ده. وجه يئے دا ده چه د سيد محمد بختيار والده ماجده حضرت سنجره بي بي عليها الرحمة په قام شيرانئ وه په دے وجه د بختياري خاندان آتوزی سادات خصوصاً عارف آل (هري پال) په شوریاني نامه ياديږي.

د تفصيل د پاره ملاخطه کړئ ځمونږه دويم کتاب "سادات افاغنه".

(عبدالحليم اثر)

حضرت پیر سید ابراهیم شاه شیرازي
المعروف حصار بابا

ولادت:
....
شیراز ایران ۹۶۳هـ

وفات:
.... پیر
خیل ملاکنډ ایجنسي ۱۰۴۴هـ

حضرت شیخ المشاءخ عمدة العلماء الکاملین و قدوة الفضلاء والرسحین عوث العالم و قطب المکنة الوجود والا ارشاد سید ابراهیم شاه المعروف حصار بابا د شیرازي ساداتو د کورنی یو لوئي عالم فاضل صاحب کرامات بزرگ تیر شوے دے. چې د پیر بابا سید علي ترمذي شاګرد او خلیفه وو.

چې ۹۶۳هـ کښې د ایران په ښار شیراز کښې د حضرت سید محمد ولي شیرازي په درنه کورنی کښې زیګیدلے وو.

د حضرت پیر سید ابراهیم شاه شیرازي د والد ماجد نوم سید محمد ولي شیرازي وو اوپه نسب حسیني سید وو د باغ کنډي شریف (دېر) د ساداتو مطابق یه شجره دا ده.

شجره طیبه

سید محمد ابراهیم شاه المعروف حصار بابا، بن سید شیر محمد ولي شاه، بن سید رحمت ولي شاه، بن سید نعمت ولي شاه، بن سید مبارک شاه، بن سید عمر ولي شاه، بن سید مهرولي شاه، بن سید عباس شاه، بن سید احمد شاه، بن سید رحمت الله شاه، سید حکمت ولي شاه، بن سید نظام الدین شاه، بن سید ناصر الدین محمود بخاري بن سید جلال الدین حسین محدوم جهانیا جځاګشت بخاري، بن سید سلطان احمد کبیر، بن سید جلال الدین حسن میر سرخ بخاري، بن سید علي الموعید، بن سید ابو علي جعفر، بن ابو الفتخ صفي الدین محمد، بن محمد احمد مختار الله، بن شیخ المائشیخ جلال الدین احمد قتال بخاري، بن شهاب الدین عبدالله، بن ابو عبدالله علي اصغرالا شتر بن، ابو علي جعفر ثاني عسکري سلام الله، بن حضرت امام علي نقي سلام الله علیه، بن حضرت امام تقي سلام الله علیه، بن حضرت امام علي رضا، بن حضرت امام موسي کاظم سلام الله علیه، بن حضرت امام جعفر صادق

سلام الله علیه، بن حضرت امام با قر سلام الله علیه، بن حضرت امام علي زین العابدین سلام الله علیه، بن حضرت امام حسین رضي الله عنه، بن حضرت فاطمه، بنت حضرت محمد صلي الله علیه وآله وسلم.

د دوي مشران د عربو د ملک نه د ایران په لاره هندوستان، بیا کشمیر او دغه شان د صوبه سرحد علاقے پیر خیل ملاکنډ ایجنسي ته راغلي وو.په حصار بابا باندی ده سید کستیر ګل عرف شیخ رحمکار کاکا صیب خور بي بي واده وه. د حصار بابا څلور ځامن او دري لونړه وي. د مشر ځوي نوم ئې سید حسن شاه وو د دویم ځوي نوم یې سید محمد فتح خان شاه او د دریم ځوي نوم یئے سید محمد ریحان وو. او د څلورم ځوي نوم یې سید رحمان شاه وو. د حصار بابا ځوي سید محمد رحمان شاه په ټول عمر کښې واده نه وو کړے. (د سید ابراهیم شاه بابا لوڼره بي بي درمرجان، بي بي رابعه او بي بي عائیشه وي. د حصار بابا د لونړو په حقله معلومات مې پیدا نه کړے شو.

د حصار بابا اولاد پیر خیل، بټ خیله، باغ کنډي شریف (دیر) سفرونه، بغرۍ چې موجوده نوم یئے چنار کوټ دے او ضلع دیر کښے دے، تانګیر کوهستان ضلع سوات خریړۍ،

ضلع سوات علاقه چغرزی بونیر او هزاره کښې آباد دے. د حصار بابا په اولاد کښې هم ډېر لوئ او صاحب کرامات بزرګان تیر شوي دي، لکه سید حسن شاه بابا د دوئ ځوے پیر سید هارون شاه بابا او دغه شان د روحاني سلسله د حصار بابا. د دویم ځوي په اولاد کښې یعني د سید محمد فتح خان شاه بابا په اولاد کښې سید احمد شاه عرف حافظ جي بابا (کوز شمنال) علاقه چغرزئ بونیر سوات، د سید لعل بیګ شاه د ځوي سید سردار شاه ځوے دے.

سید احمد شاه بابا العروف حافظ جي بابا، د خپل تره ځوي سید هارون شاه په حکم غریز و علاقو ته د دین د خدمت د پاره ولیګلو. هغوي هلته د شرک و بدعت خلاف خپل جهاد شروع کړه. دوئ د بونیر په علاقه کښې د حافظ اخوند محمد صدیق بیشوني نه خرقه خلافت حاصل کرے وو او د هغوي په خاصو شاګردانو کښې وو. دوي په سهروردیه او په نقشبندیه سلسله کښې د اخوند صیب نه خلافت حاصل کړے وو.

حافظ جي بابا د قرآن حافظ او عالم وو. او تر ډیره وخته پوري د حافظ اخوند محمد صدیق بیشونی په صحبت کښې پاتے شوے وو. د حافظ جي بابا مزار مبارک په کوز شمنال کښې دے او مرجع خاص و عام دے او

مرکز د انوارو او فیوضاتو دے. علیه الرحمة والغفران.

سید احمد شاه بابا عرف حافظ جي بابا شمنال روحاني او د هغوئ اخلاق نه د علاقي خلق، زمان خیل کومه چې د یوسفزو یو مشهوره قبیله ده د حافظ جي بابا له د روایاتو مطابق سیرئ ورکړي وي. حافظ جي بابا له یئے په څلور ځایونو کښې سیري ورکړي وي. سیرئ، کوز شمنال، بر شمنال او انګ. حافظ جي بابا چې د علاقي د خلقو دي محبت ته وکتل نو هتله یئے د مستقل اوسیدو فیصله وکړه. حافظ جي بابا پنځه ځامن او دري لوڼره وي د لونړو او د دوه وو ځامنو په حقله یې معلومات نشته. د هغه د دري ځامنو تذکره لاندي د هغوئ مشر ځوي نوم سید محمد جي او د دویم ځوي نوم یئے سید حضرت جي بابا او د دریم ځوي نوم یئے سید احمد حسن باباوو.

د سید محمد جي اولاد په کوز شمنال، د سید حضرت جي اولاد په سیرئ کښې آباد دي او په قریش ملیانو مشهوردي. د دوئي په اولاد کښې قابل ذکر احمد شاه او فضل حق دي. حضرت جي بابا دریم ځوي سید احمد حسن کوم ته چې د بر شمنال او انګ سیرئ میلاؤ شوي وه. هغه اناګ چوپړا نومي یو هندو له

پناه ورکړي وه. د کوم چې د ټانګوړی د خلقو سره په جائيداد جګړه وه.

سيد احمد حسن ته ويره وه چې د يو بې اسری او بې ګناه هندو ژوند ته خطره پيښی دے شي هغوئ د انسانيت په خاطر د هغوي د ژوند د بچ کولو کوشش وکړو. هغوئ د فريقين په مينځ کښې د جګړي ختمولو او د يو بې سهارا او بې ګناه انسان ژوند ته د خطري په وجه خپل حجره کښې پناه ورکړي وه. اناګ چوپړا له د پناه په تور د علاقي خلقو د سيد احمد حسن اولاد ته د پيغور په توګه د هغوي خاندان ته چوپړا خيل وئيل شروع کړه. سيد احمد حسن د انک سيری د بټاړي په پښتنو خرڅه کړه.

او د شمنال نه يئے د ډګر او ټوپدري په پوله مواټ نومے ځائے ته هجرت وکړو.

د سيد احمد حسن بابا د سيد ابراهيم شاه بابا سره د نسلي نسبت په وجه مواټ د علاقي په خلقو کښې د حصار په نوم مشهور شو.

د موا ټ يعني موجوده حصار شاړه علاقه وه د سيد احمد حسن او د سيد ملندان بابا د آباد کيدلو نه پس نور خلق وهم دلته آباد شو.

د پښتو په دور کښې به د ډګر د ټولونه غټې قبیلې حسن خیل خپل اهل و عیال د سید احمد حسن د کورنۍ د جلات بابا او نجیب بابا کره د امانت په توګه لیګل او د هغوي کورنۍ به ورته محفوظې ښکاریدې. د سید احمد حسن د خاندان د دیني او روحاني تړون په وجه به د پښتو په دور کښې جنګی پښتنو قبائیلو د سید احمد حسن کورنئ خیال ساتلو د ډګر د حسن خیلو سید احمد حسن له په بر حصار کښې د دډګر د جائیداد شپاړسمه برخه سیرئ ورکړی وه. بیا روستو د سید احمد حسن او د حسن خیلو د رشته دارو په مینځ کښې د شاملاتو په حدودو بانڈے تاؤ تریخ والے راغے چې په هغې بانڈے سید احمد حسن ډیر زیات خفه شو او هغه د حسن خیلو مشرانو ته د هغوي ورکړي شوي سیری واپس کړه.

په حصار کښې د سید احمد حسن د اولاد جائیداد ذر خرید دے.

د سید احمد حسن دري ځامن وو. او د لونړو باره کښې څه معلومات نشته.

د سید احمد حسن دري ځامن وو سید امان شاه، سید کبیر او سید اجمر ولي.

د سید امان شاه ځوے انوار الدین د هغه ځوے هاشم بابا د هاشم بابا دوه ځامن

سید ببرک شاه او سید احمد نبي شاه وو. د سید ببرک شاه یو ځوے وو چي نجیب بابا ئے نوم وو. د نجیب بابا دو ځامن پیر خدا د او میاداد وو.

د سید احمدنبي شاه یو ځوے وو چې جلات بابا ئے نوم وو. د سید کبیر دوه ځامن سید غوث الدین او سلطان میا وو. د سید غوث الدین یو ځوے وو چې نوم ءې محمد حسین وو. د محمد حسین دو زامن وو نومونه ئے دا دي انوار الله دري زامن وو حبیب الله، بهرام او میا رسول د سلطان میا اولاد نه وو.

د سید احمد ولي بابا دو زامن چې حسن محمود او شیر شاه ئے نومونه وو د شیر شاه یو ځوے وو چې سید حسن نوم ئې وو. د سید حسن د ځوي احسن رسول نوم وو. د احسن رسول د ځوے نوم سید رسول او د بل ځوے نوم ئي غلام رسول وو.

د سید رسول اولاد ما شرین عرف ماشے، خټک او خړے دي د غلام رسول د ځوے نوم صاحب رسول دے.

سید ملندان بابا

د سید ابراهیم شاه المعروف حصار بابا د ځوي سید محمد ریحان شاه ځوئے سید

عبدالحد شاه ځوئے سید ملندان بابا (بر شمنال علاقه سوات بونیر چغرزئ یو ډیر لوئ عالم او ساحب کشف بزرګ د خپل د تره ځوي سید احمد شاه عرف حافظ جي بابا سره د پیر خیل ملاکنډ ایجنسي نه علاقه چغرزئ ته راغلے وو. چې د الله په یاد کښې به هر وخت مشعول وو)

د بر شمنال خانانو ورته د سیرۍ بطور تحفه ورکوله خو حضرت سید ملندان سره د دنیا څه اهمیت نه وو. نو هغوي سیرۍ قبوله نه کړه. د بر شمنال زمان خیلو ورته درخواست وکړو چې هغوي د خپل تره ځوي حافظ جي سره نه بلکه په بر شمنال کښې دي پاتے شي چې دوئ تر اسلامي تعلیم حاصل کړي.

حضرت سید ملندان ورسره دا دویم تجویز و منلو او هم هلته پاتي شو.

د احمد حسین او د ملندان بابا اولاد ته د علاقي پختنو قبیلو ډیر په درنه سترګه کتل. او د پختو په زمانه کښې به دا کورنئ پختو د خپل اهل و عیال د پاره محفوظي ګنڼلي.

د سید ملندان ځوي عبدالحي بابا د هغه ځوئے ګل مستان بابا او دهغه ځوئے منان بابا د هغه ځوي ګلستان بابا د خپل

تر ځوي سيد احمد حسن سره يو ځوئے هجرت وکړو او هم هلته مواتړ (موجوده حصار) آباد شول. په مواتړ (موجوده حصار) کښې جوسه خيل د حضرت سيد ملندان اولاد دے د سيد ګلستان بابا زامن سيد زيور شاه، محمد ولي، سيد ګلشان او سيد مير شان وو.

د سيد زيو رشاه يو ځوے وو چې نوم عيور شاه وو.

د عيور شاه زامن يار داد، ځوءيداد او ولي داد وو.

او د محمد ولي دوه زمان وو. نومونه ءې دا دي نور محمد شاه او کمال شاه د نور محمد شاه زمان امير ولي او سيد ولي دي

او د کمال شاه يو ځوے وو چې مير خواس ئي نوم وو

د سيد ګل شان بابا د ده زمان وو چې نومونو ئي ګل رحمان او محمد ګل د ګل رحمان زامن خان ګل او زيارت ګل دي.

د سيد مير شان بابا يو ځوے وو چې نوم ئې شاه حسين وو. د شاه حسين دوه زمان وو چې پير شان او دوران شاه نومونه ئي وو.

د پیر شان د ځوی نوم خیر الله وو. عجب، سید رحمان د دوران شاه زمان وو.

(د نور محمد شاه د ځوي امیر ولي د ځوي نوم غریب دی

حضرت سيد علي تر مذي پير بابا

ولادت:

....

خواجه غلطان قندز ۹۰۸هـ

وفات:

....

كدائزي زي بونير ۹۹۱هـ

حضرت شيخ الا سلام والمسلمين محي السنت و ماحي البدعة غواص د درياب د اسرارو او رموزو الهی سيد علي ترمذي بخاري المعروف په پير بابا، شهنشاه خراسان چشتي نظامي. قادري، سهروردي. كبروي، شطاري قدس ستره العزيز په خصوصي لقب "پيربابا" سره زيات مشهور دے. د دوئ د والد ماجد نوم سيد قنبر علي وو. او د نيكه نوم يئے سيد احمد نور عليه الرحمة وو. شجره د نسب يئے داسے ده.

سيد علي غواص بن سيد قنبر علي. بن سيد احمد نور بن سيد يوسف نور بن سيد محمد (الملقب په نور بخش) بن سيد احمد بيغم بن سيد براق بن سيد احمد مشتاق بن سيد شها ايوب ابو تراب بن سيد حامد بن سيد محمود بن سيد اسحاق بن سيد عثمان بن

سید جعفر بن سید عمر بن سید محمد بن سید حسام بن سید شاه ناصر خسرو بن سید جلال الدین جعفر بن سید امیر علي بخاري بن سید محمود مکي بن سید محمد مهدي بن سید امام حسن عکسري بن سید امام علي نقی بن سید امام محمد تقي بن سید امام موسی رضي بن سید امام موسی کاظم بن سید امام جعفر صادق بن سید امام محمد باقر بن سید زین العابدین علي بن سید الشهداء امام حسین رضي الله تعالی عنهم اجمین.

سید شاه ناصر خسرو

د حضرت پیر بابا علیه الرحمة په دے مبارک سلسله کښې د دوئ درے مشران نیکونه داسے تیر شوي دي چه د هغوئ مزارات مبارک په مغربي پاکستان کښې دي.

(۱) یو سید جلال الدین جعفر ګنج علم شهید دے چه مزار یئے په ریاست دیر تالاش کښې دے او مخکښې د دوئ تذکره په تفصیل سره بیان شوے ده.

(۲) حضرت سید شاه ناصر خسرو شهید قدس سره دے. چه مزار مبارک یئے د ریاست کشمیر د تخت سلیمان نومے غرونو په سلسله کښې د چیلاس او تانګیر په غرونو کښې د تانګیر په یو ډیر اوچت سر باندے دے. دغه علاقه نن ورځے د پاکستان یو حصه ده. او په ګلګت

اینجسئ کښې شامله ده. د شاه ناصر خسرو ولد ماجد سید جلال الدین جعفر بخاري ګنج علم چه د تالاش په مقام شهید شه او وریسے روستو د دریاءِ سوات په جنوبي غاړه د بریکوټ، غالیګي. هوډي ګرام په غزا کښې مشهور غازي ملک عارف المعروف په ملک خوشحال شهید شه. او د صفي الله خټک د کتاب "نظم الدروني سلک السیټر" د روایت مطابق د د دریائے سوات په شمالي غاړه د کانجو په مقام په غزا ګانو کښې د سلطان محمود غزنوي دوه څامن شهیدان شول چه زیارتونه یئے اوس هم دغلته دي. او بیا وریسے د غازیانو لویه حصه د بونیر او ملاکنډ په لارو باندے د مردان د سمے علاقے ته راشکته شول. او د سمے په هره یوه حصه کښې د کفارو او مشرکانو سره غزاګانے او کړلے. نو په دغه دوران کښې حضرت سید شاه ناصر خسرو علیه الرحمة د موجوده ریاست سوات د کوهستان د رانولیا، او ججشوئ وغیره علاقو د کفارو سره د غزاګانو کولو او په دغه زمکه د اسلام د بیرغ او دره ولو نه روستو د چیلاس او تانګیر علاقو ته رسیدلے وو. او هم هلته شهید شوے وو.

د حضرت شاه ناصر خسرو مزار مبارک د تخت سليمان په اوچتو سرونو د السما يو روښانه مشعل دے. چه چار چاپيره ملکونه او علاقے پورے روښانه دي. په مسلمانانو کښې نن هم د جهاد روح تازه کوي. او داورته ښائي چه د اسلام بيرغ چه دوئ تر چيلاس او تانګير پورے رسولے دے. هغه دے د اسلام غازيان واخلي او د کشمير د تخت سليمان د غرونو د سلسلے تر آخري سر پورے دے اورسوي. حضرت شاه ناصر خسرو د ۴۰۹هـ په خواؤ شاه کښې شهيد شويدے.

سيد شاه ابو ايوب ابو تراب

د حضرت سيد جلال الدين جعفر ګنج علم په نمسو کښې په يؤولسم پشت کښې د يو نمسى نوم سيد شاه ابو ايواب ابو تراب دے. چه د ۷۰۰هـ د زمانے بزرګ دے. او مزار مبارک يئې د ملاکنډ اينجسئ رياست دير په سندهـ نومے علاقے کښې د درياءے پنجکوړه په شمالي غاړه باندے د منجائي او هوډي ګرام نومے کلو تر منځه د شهيدانو په مشهوره اديره کښې دے. چه د بهارئ، هوډي ګرام او منجائي د کفارو سره په غزا کښې شهيد شوے دے.

سيند قنبر علي

د حضرت پير بابا عليه الرحمة د والد ماجد حضرت سيد قنبر علي عليه الرحمة مزار مبارک د افغانستان د سمت شمالي د ولايت مزار او ميمنه په شمال مشرق طرف ته

علاقه کښې د قندز نومې علاقې په چار دره نومې تپه کښې دے. او په کوم کلي کښې چه د دوئ مزار مبارک دے د هغه کلي نوم "خواجه غلطان" دے. د قندز او چار درے دغه علاقه د تاريخ په پخوانو کتابونو کښې په "ترمذ، نامه ياديږي. حضرت سيد قنبر علي په ژوند هم په دغه ځاي کښې او سيده او مزار مبارک يئے هم په دغه مقام "خواجه غلطان کښې دے. عليه الرحمة والغفران.

سيد علي غواص پير بابا

حضرت سيد علي غواص المعروف پير بابا عليه الرحمة د حضرت سيد قنبر علي په کور کښې په مقام د خواجه غلطان (چار دره قندز) په ۹۰۸هـ کښې پيدا شه ابتدائ تعليم يئے د خپل نيکه حضرت سيد احمد نور عليه الرحمة نه اوکړو چې. د علم نحو د مشهور کتاب شرح جامي پورے کتابونه يئے د هغوئ نه اولوستل. او د ظاهري علمونو نه علاوه د طريقت او معرفت فيض يئے هم د هغوئ نه بيا منده. په دے سلسله کښې د حضرت اخونددرويزه د روايت مطابق د پير بابا خپل بيان داسے دے. فرمائي:

"زما د مشفق پلار نوم "قنبر علي" وو. د خپلے زمانے د بادشاهانو سره يئے تعلق وو. د خپل پلار نيکه هغه زړۀ د زهد او رياضت طريقه يئے پريښے وه. او د دنياوي منصب يئے حاصل کړے وو. د حکومتي دربار خلقو به ورته "امير نظر بهاردر" وئيلو

لیکن ځما نیکه یعنے ځما د پلار والد ماجد سید احمد نور علیه الرحمة د علم او فضل خاوند وو. خپل قیمتي وخت به یئے په درس او تدریس او زدهد او ریاضت کښې صرف کؤلو. د پلار نیکه په سجاده بانډے ناست وو. د سلسله عالیه کبرویه پیر طریقت وو. په قندرز کښې اوسیده. د دنیا او د نیادارئ نه بے پرواه وو. مګر دا چه نظر د مهربانئ یئے ځما په حال لرلو. مور او پلار م ځما د نورو رونړو خویندو سره به مینه کوؤله. زۀ د دواړو په نظر کلې نه راتلم لیون سارے ورته ښکاره کیدلم. نیکه به م فرمائیل. چه علي ځما ځوي دے. تاسو د ده د قدر نه خبر نۀ یئے. چه د ده نه به ځومره ښه سړے جوړیږي. چنانچه ځما تعلیم او تربیت یئے په خپله ذمه واخیسته. سلسله عالیه کبرویه ځمونږ په خاندان کلې نسلاً بعد نسلٍ د شیخ جمال الدین کبري علیه الرحمة نه تر دے وخته پورے جاري ده. کله چه ځما نیکه علیه الرحمة وفات کیده زۀ یئے خپلے خوا ته را اوبللم راته یئے اووئیل قرآن مجید تلاوت کړه. ما ورته سورة تبارک الذي او لوست. دے فرمائیل بیا یئے تلاوت کړه. ما ورته سورت تبارک الذي اولوست. وے فرمائیل بیا ئې تلاوت کړه. ما ورته سورة تبارک الذي دوباره تلاوت کړ. وے فرمائیل بیا یئے راته او فرمائیل. رانزدے شه. زۀ ورنزدے شوم. راته یئے او فرمائیل اے ځویه! هر یو برکت او نعمت چه د خپلو نیکو او پلرونو نه م نسباً او د سلسله شریفه کبرو

ته نه ادناً موندلے وو. او ماته حاصل وو. هغه هر څۀ م تاته او بخښل. چنانچه په سلسله عاليه کبرويه کښې ما عاجزه ته ازان او اجازه د خپل نيکه نه حاصله شوے ده. د خپل مهربان نيکه د وفات نه روستو زۀ پريشان پاتے شوم. د دنيا د خلقو سره م تړون ههم نه راتلو. او د تيښتے لارم هم نه وه. په دغه حال کښې مي ګزاران وو. تر هغے چه کله سلطان همايون د هند په لوري عزم اوکړ. څما والد ماجد يئے هم د تبريک په طور د ځان سره هند ته روان کړ. او زۀ هم ورسره هند ته روان شوم.

د حضرت پير بابا د دے قول چه هر کله همايون بادشها هند ته تللو نو څما پلار يئے د ځان سره په طور د تبرک بوتللو. تاريخي پس منظر داسے دے. چه د همايون پلار بابر بادشاه په ۶، محرم ۸۸۸هـ کښې پيدا شوے وو. او په ۵، رمضان المبارک ۸۹۹هـ د دولسو کالو په عمر د ماورالنهر په اندا جان نومے مقام حکمران کړے شوے وو. روستو د ۹۳۰هـ پورے زمانه يئے د مارالنهر خراسان (د موجوده افغانستان قديم تاريخي نوم خراسان دے) او د وادئ پيښور په کشالو کښې تيره کړے وه. چه د پيښور ډيوژن د يو سفزو قبيلے سره جنګونه او بيا روستو د ملک شاه منصوريو سفزي لور بي بي په نکاح کوؤل. او د دغه بي بي د پاره د باجوړ په مرکزي مقام شهر باجوړ کښې محل جوړول د يادولودي. په ۹۳۲هـ کښے چه د وادئ پيښور نه د هند په لور روان

شه. نو هم په دغه کال لاهور ته اورسیده. او په آخر کښې یئے دهلے فتح کړ. بیا د دغے نه روستو چه په ۹۳۷هـ کښې بابر وفات شه. او د هغه ځوئ همایون د نولس کالو په عمر په اکبر آباد (آکره) کښې په ۴، جمادي الاول. ۹۳۷هـ کښې بادشاه شه. نو د هغے نه پنځه کاله روستو په ۹۴۲هـ کښې افغانستان ته د خپل پلار د قبر زیارت او نورو انتطاماتو د پاره راغلے وو. او بیا د دغه ۹۴۲هـ نه روستو چه همایون واپس هند ته تللو نو د حضرت پیر بابا علیه الرحمة والد ماجد یئے د ځان سره هند ته بوتللے وو. او هم په دغه موقع کښې حضرت پیر بابا د خپل پلار سره د هند په سفر کښې ملګرے وو.

د تزک بابري د بعض بیانونو نه معلومیږي چه د بابر بادشاه کیدو په ابتدائ ورځو کښې چه د هغه سره کوم مخصوص اتباري ملګري او سره کرده فوځي مشران وو. یو په هغوئ کښې سید قنبر علي وو. لیکن روستو بیا دانه معلومیږي چه هر کله په ۹۳۲هـ کښې بابر د هند په لور روانیده یا د هغے نه مخکښې چه په کابل. باجوړ. سوات. سمه او وادئ پیښور کلې یئے جنګونه کؤل چه په دغه نیتہ حضرت سید قنبر علي د بابر سره یو ځاي موجود وو. که نه وو. په دے سلسله کښې د پیر بابا علیه الرحمة چه خپل کوم بیان دے د هغے نه خو دا معلومیږي چه سید قنبر علي د بابر سره د هند په دغه سفر کښې ملګرے نه وو. او

همايون بادشاه چه په ۹۴۲هـ کښې دے د ځان سره بوتلو نو غالباً وجه يئے دا وه چه د ساداتو د يوے روحاني خاندان ممتاز فود وو. بله دا چه دے د همايون د والد شهنشاه بابر په پخوانو فوځي سالارانو کښې يو ممتاز سپه سالار وو. او بله دا چه د همايون او سيد قنبر علي تر منځه د قرابت دارئ يوه رشته هم موجوده وه.ا و دهمايون د پاره د ده حيثيت د يو خانداني مشر او سر پرست کيدلے شه. (په ۹۴۲هـ) کښې په اول ځل سيد قنبر علي سره د خپل ځوي پير بابا هند ته تلے وو.

د همايون بادشاه او سيد قنبر علي عليه الرحمة تر منځه چه کومه رشته موجوده وه. د هغے په حقله اخوندرويزه ليکي: (تذکرة الا برار مطبوعه نسخه صفحه۱۱) چه حضرت پير بابا د امير تيمور گورگان د خور د اولاد ځنے وو. د دے مطلب دا کيدے شي چه د پير بابا په نيکونو کښې چه کوم يو نيکه دا امير تيمور معاصر وو. په هغه به د امير تيمور خور واده وه. په دے سلسله کښې که فکر اوکړلے شي. نو حضرت پير بابا او همايون دواړه معاصر دي بلکه همزولي دي. (د پير بابا ولادت ۹۰۸هـ او د همايون ولادت ۹۱۳هـ دے.) نو مونږ له د دے دواړو په شجره نسبو نو يو نظر اچول پکار دي. چه د امير تيمور اصلي خور يئے د پير بابا په نيکونو کښې کوم يو نيکه کيدلے شي. د د دواړو شجرے دا دي:

(الف) همایون ولد بابر ولد ابو سعید مرزا ولد محمد میر زا ولد جلال الدین میران شاه ولد امیر تیمور گورگان.

(ب) سید علي ولد قنبر علي ولد سید احمد نور ولد سید یوسف نور. ولد سید محمد نور بخش ولد سید احمد بیغم.

د دے پورته نسب نومو نه دا معلومیږي چه په سید احمد بیغم به د امیر تیمور گورگاني خور واده وه. او په دے اعتبار دا خوندرویزه هغه خبره صحیح ده چه پیر بابا د امیر تیمور د خور د اولاد نه وه.

د دے پورتني وضاحت نه دا معلول غرض وو. چه پیر بابا د قندز افغانستان نه برصغیر پاک او هند ته اول ځل په کومه نیټه راغلے دے. او هر کله چه په ۹۴۲هـ کښې ددوئ لا تړ معلوم شه. نو د دے له مخه د ښاغلي شیخ محمد اکرام مؤلف رود کوثر (صفحه۳۶۳) هغه بیان صحیح نه معلمیږي چه حضرت پیر بابا علیه الرحمة د حضرت خواجه نظام الدین عبدالشکور بلخي تهانیسری المعروف په نظام الدین تهانیسري نه په بلخ کښې د چشتیه طریقه سبقونه حاصل کړي وو. ځکه چه پخپله موصوف د دغه خپل کتاب په صفحه۳۶۳ باندے دا لیکلي دي. چه دغه شیخ نظام الدین تهانیسري د جهانگیر د لاس نه د خسرو د بغاوت د فتنے دفع کولو ۱۰۱۶هـ نه روستو بلخ ته جلا وطن شوے وو.

او ظاهره ده چه هر کله حضرت پیر بابا د دغه ۱۰۱۶هـ نه ۶۸کاله وړاند په ۹۴۲هـ کښې هند ته راغلے وو. نو بیا په ۱۰۱۶هـ کښې یئے د حضرت خواجه نظام الدین تهانیسري نه په بلخ کښې بیعت کؤل په فکر کښې نه راځی. او د ټولونه غټه خبره دا ده چه د دغه ۱۰۱۶هـ نه ډیر مخکښې په ۹۹۲هـ کښې حضرت پیر بابا علیه الرحمة وفات شوے وو او د پیر بابا د مرګ نه ۲۵کاله کاله پس نظام الدین تهانیسري بلخ ته تلے وو.

حضرت پیر بابا په هند کښې

په هند کښې د حضرت پیر بابا علیه الرحمة د روحاني او عرفاني حالاتوپه حقله د دوئ د خپل بیان نه معلومیږي چه اګر چه د خپل والد ماجد د اصرار په وجه به یئے شاهي درباري لباس اغوستلو. لیکن چه د بادشاه د دربار نه به راواوتلو. نو هغه لباس به یئے سمدست او ښکلو. او د نیکانو او عالمانو خلقو د صحبت په تالاش کښې به ګرځیده. پیر بابا فرمائي: "هر کله چه رب الجلیل ځما په باب دا مقرر کړے وه. چه د دنیا او اهل دنیا نه م کناره او ساتي. په دغه وجه د درباري کاروبار سره تعلق لرل راته ګران شول". چنانچه په داسے حالاتو کښې چه څه وخت دا شاهي قافله منزل په منزل د پاني پت مقام ته اورسیدله. نو پیر بابا روان شه. او د حضرت شیخ شرف الدین پاني پتي مزار مبارک ته لاړ. فرمائي: "د حضرت شیخ مزار ته چه ورغلم

نو د هغوئ په توجه ځما په زړهٔ کښې تاثير پيدا شه. او ټول و جود م په لړزان شه".
نتيجه يئے داشوه چه د دنيا د کاروبار نه يئے نور هم پسے زړهٔ تور شه. د دے نه پس دوه روايتونه دي. يو روايت دا دے. چه دا خيال يئے اوکړ چه که بيرته ځے او د خپل پلارنه اجازت غواړے بوشايد چه هغوئ رضانه شي. په دے وجه چه دمزار نه را اوتلو اس وسله هر څه يئے نو کرانو ته ورکړل. مخ سريئے اونخښتل. او په يو ګوشه ځائ کښې د خدائ په عبادت مشغوله شه. مګر څه نيټه پس يئے پلار ته درک او لګيده. بيائې د ځان سره بو تللو او د پلار او ځوي تر منځه د بحث او خبرو اترو نه پس پلار ورته اجازت ورکړ. چه د علم او معرفت په طلب پسے روان شي. په دسے سلسله کښې دويم روايت د پير بابا د ځوئ ميا مصطفے دے. هغه فرمائي. چه پير بابا د شيخ شرف الدين پاني پتي عليه الرحمة د مزار مبارک نه په بله لاره اووتلو. مخه يئے اوکړه. لار په ځنګلو نو کښې پناه شه. څه ساعت پس چه کوم نوکران ورسره راغلي وو هغه ورپسے زيارت ته ښکاره شول. نو که څه ګوري د حضرت پير بابا هيڅ پته نشته دے. تالاش يئے ورپسے اوکړ. ليکن پيدا يئے نه کړ. چه پلار يئے خبر شه. نو هغه پوهه شه چه د معرفت په طلب کښې به ئې مخه کړي وي. چنانچه د خداي په کړويئے صبر اوکړ. ميا مصطفے فرمائي څه موده پس چه په ګجرات کښې د پلار او ځوئ تر منځه سره ملاقات شوے وو. د دغه د دوئ د پاني پټ په

مقام د يو بل نه د جدا كيدلو نه پس اولنے او آخرينے ملاقات وو.

بهر حال حضرت پير بابا چه د پاني پت نه روان شه. نو مانک پور ته اورسيده. دغلته د يو ديني عالم او روحاني شيخ طريقت په درس كښې شامل شه چه د هغه نوم وو "شيخ سيلونه" د علم نحوكتاب كافيه يئے دوباره د هغوئ نه اولوستله. او د علم فقهه د مشهور درسي كتاب هدايه پورے ديني كتابونه يئے د هغوئ نه اولوستل. حضرت شيخ سيلونه چه د دوئ روحاني استعداد طلب او تندے ته اوكتل نو هغه ورله د حضرت شيخ سالار رومي په نوم باندے خط وركړ. او ورته يئې اور فرمائيل چې هغه څما پير بائي دے. مونږ دواړه د شيخ بهاء الدين صامت مريدان يو. ليكن چونكه ماته د مريدانو نيولو اجازت نشته دے. نو ته داسے اوكړه چه هغه له ورشه. او د روحانيت او طريقت درس د هغوي نه حاصل كړه. حضرت شيخ سيلونه چه د شيخ سالار رومي په نوم كوم خط ليكلے وو. په هغے كښې يئے د پير بابا د حسب او نسب او نورو حالات تفصيل هم ليكلے وو. او د دغه تعارفي خط سره يئے دے اجمير شريف ته اوليږي.

حضرت شيخ سالار رومي د چشتيه طريقے پير طريقت وو. او په دغه زمانےپه اجمير كښې د دعوت او ارشاد په گدئ ناست وو. پير بابا د هغوئ په خدمت كښې حاضره شه. بيعت يئے اوكړ. څه موده يئې د خپل پير

په حضور کښې تيره کړه. د نمانځه د مصلے او سجادے وړلو، غوړولو، په اوګه ګرځولو خدمت به يئے کاوه. او بيا ورته مغوئ په سلسله چشتيه. شطاريه. سهرورديه. ناحيه. حاجيه څلورو سلسلو کښې خلافت ورکړ. د دے درے واړه طريقو شجريئے دا دي.

(۱) طريقه چشتيه: سيد علي ترمذي پير بابا له شيخ سالار رومي مغه له شيخ بهاء الدين صامت مغه له شيخ حامد الدين. مغة له شيخ حساب الدين مغه له شيخ نور قطب عالم مغة له شيخ علاء الدين عمر اسعد الله نوري مغه له شيخ عثمان اخي سراج مغه له شيخ المشائيخ نظام الدين او لياء مغة له شيخ فريد الدين ګنج شکر. مغه له قطب الدين بختيار کاکي. مغه له شيخ معين الدين حسن چشتي سنجري اجميري.

(۲) طريقه سهرورديه: سيد علي ترمذي له شيخ سالار رومي مغه له شيخ نظام الدين مهاجري. مغه له شيخ قطب الدين مهاجري. مغه له شيخ فخر الدين محبوبي مغه له شيخ جلال الدين حسين مخدوم جهانيان مغه له شيخ ابو الفتح رکن الدين مغه له شيخ صدر الدين عارف مغه له شيخ بهاء الدين ذکريا مغة له شيخ شهاب الدين سهروردي.

(۳) سلسله شطاریه او (۴) سلسله ناجیه جلالیه اجازت هم ورته د شیخ سلار رومي نه حاصل وو. لیکن د خپلو دري واړو سلسلو د طریقت د شجرې نومونه یئے اخوندرویزه ته نه وو بیان کړي. ځکه دلته ذکر نه کړے شو.

(۵) د سلسله کبرویه اذن ورته د خپل نیکه نه حاصل وو. شجره یئے دا ده:. سید علي ترمذي له سید احمد نور هغه له سید یوسف نور هغه له سید محمد نور بخش هغه له شیخ ابو اسحاق قتلاني هغه له شیخ سید علي همداني هغه له شیخ علي لاله هغه له شیخ نور عبدالرحمان. هغه له شیخ جم الدین کبری هغه له شیخ عمار ابن یاسر هغه له شیخ نجیب سهروردي هغه له شیخ احمد غزوالي هغه له ابابکر نسباح هغه له ابو القاسم جرجاني هغه له ابو عثمان مغربي هغه له ابو علي کاتب هغه له شیخ علي رود باري هغه له شیخ جنید بغدادي هغه له شیخ سري سقطي هغه له معروف کرخي هغه له امام علي رضا هغه له موسی کاظم هغه له جعفر صادق هغه له محمد باقر هغه له علي زین العابدین هغه

له سید الشهداء حسین ابن علي رضوان الله تعالی عنهم اجمعین.

د خلافت ورکړلے کیدلو نه روستو حضرت سلار رومي ورته او فرمائیل چه کوهستاني علاقوته لاړ شه او دا تخصیص یئے ورته اونه کړ چه کوم کوهستان ته به ځے پیر بابا د دغه حکم مطابق کشمیر ته د تللو په نیت راروان شه. د جهلم دریاب نه مغرب طرف ته د څلور میله په فاصله "پنډداؤد" المعروف پنډدادت خان نومے کلي ته چه رااورسیده نو یو سړے په مخه ورغے. کیلاش نوم یئے وو. د هغه چه په پیر بابا نظر پریوؤت. نو ټول کلے یئے خبر کړو چه هغه نیک ولي د خدائ دا دے. (دا خبره داسے وه چه دغه کیلاش څه ورځے مخکښې په خوب کښې د پیر بابا حلیه لیدلے وه. چه پنډ داؤد ته راروان دے او ټول کلے د هغوئ په انوارو روښانه شه. او په صبا له کیلاش د دغه خپل خوب حال د کلي ټولو خلقو ته وئیلے وو. او د دوئ رنګ د مخ نقشه کړده. کړه وړه هر څه یئے د کلي خلقو ته بیان کړي وو) پیر بابا وائي چه څه وخت دغه کیلاش شور جوړ کړو. نو ماورته اووے چه هسے نه تا به په خوب کښې بل څوک لیدلے وي. هغه راته اووے چه دا ته د کلي د خلقو نه تپوس اوکړه چه ماورته مخکښې ستا رنګ نمونه هر څه بیان کړي دي کنه. تر دے حده چه ستا په تندي چه دزخے کوم خال دے دغه م هم ورته ښودلے دے. پیر بابا دغلته حصار شه. دلته چه هر څومره ورځے پاتے وو. خلقو ته به یئے وعظ نصیحت او امر

معروف کولو. او د مغرفت او طریقت لار یئے خلقو ته ښودله.

د دے روایت په بناء چه اول دوئ "پنډ داؤد" ته راغلي وو. د ابه اووایو څه د دغے نه څه نیټه پس گجرات ته راغلے وو. ځکه چه پیر بابا پخپل بیان کښې دا هم فرمائي چه دا پورتنی واقعه د گجرات په مضافاتو کښې پیښه شوے وه. او د هغے نه روستو گجرات ته راغلم. دلته په گجرات کښې په ۹۵۰هـ کښې د حضرت پیر بابا سره د دوئ د والد ماجد سید قنبر علي ملاقات او شه. دا هغة ورځے وے چه هر کله همایون د شیر شاه سوری د لاس نه د ملتان. سندهـ او بلوچستان په لاره ایران ته تللو. خو د لاهور په شا او خوا کلي ترینه حضرت سید قنبر علي جدا شوے وو. او د جهلم. اټک. پیښور. کابل په لاره واپس خپل وطن قندزته د تلو اراده یئے کړے وه. لکه چه مخکښې هم ذکر شوے دے. د پیر بابا د ځوي میا مصطفی روایت دے چه پیر بابا علیه الرحمة په پاني پت کښې چه د خپل پلار نه جدا شوے وو. د هغے نه پس د گجرات په مقام د خپل والد ماجد سره دایئے اولنے او آخرینے ملاقات وو. حضرت پیر بابا وائي. پلار م راته او فرمائیل چه ځما سره وطن ته لاړ شه. لیکن ما ورته عذر اوکړو. چنانچه پلار زۀ په سرسترگو شکل کړم. او په دے باندے رانه خوشحاله شه. چه د خپل پلار نیکه د زهد او ریاضت او طریقت او معرفت لار دے راټینگه کړه. بیا پلار م د رخصت په وخت کښې یوه همیانئ د اشرفو او بیله د سپینو

زرو د روپود خرڅ د پاره راته پریښودلے. حالانکه څما روپۍ څه پکار وے. مګر د هغوئ د خاطره م قبولے کړے. پلار م راته او فرمائیل چه دا م نذر کړے دي. په فقیرانو یئے خرڅ کړه. د پلار د رخصت کیدلو نه روستو په ګجرات کښې د څه ورځو تیره ولو نه پس دوباره د خپل پیر سلام له اجمیر ته روان شوم. په لاره کښې شیر شاه سوري سپاهیان په مخه راغلل. او هغه دواړه هنٔ ابئې رابي یغوے واخستلے.

د دے پورته بیان نه معلومیږي. چه د ے دوباره اجمیر شریف ته د خپل پیر لیدلو له د شیر شاه سوري د حکومت په زمانه کښې تلے وو. هر کله چه شیر شاه سوري په دولسم تاریخ د ربیع الاول ۹۵۲هـ وفات شوے دے. نو د دے مطلب دا شه چه پیر بابا د دغه تاریخ نه مخکښې ۹۵۱-۸۵۰هـ کلې اجمیر شریف ته تلے وو.

پیر بابا فرمائي: د خدائ حکم وو. اجمیر شریف ته څما د رسیدلو نه وړاندے څما پیر سالار رومي وفات شوے وو. زهٔ چه د هغوئ درګاه ته اورسیدلم. د هغه مشر څوي حضرت شیخ حسین په مراقبه کښې ناست وو. څه وخت چه د مراقبے نه یئے سر راپورته کړ. او زهٔ یئې اولیدم. نو راته یئے او فرمائیل . چه پلار م هم دا وختے په مراقبه کښې راته او فرمائیل چه څما دوه چغے او قباګانے چه پاتے دي. یوه د خرقه خلافت په طور دغه سړي ته ورکړه چه کوم اوس به دلته را اورسیدږي. او بله چغه

ټوټې ټوټې کړه او څما په ټولو مریدانو یئې اوویشه. چنانچه سمدستي ئي هغه دواړه قباګانې را اوغوښتلې په هغې کښې په یوه خرقه څما نوم لیکلې وو. هغه یئې ماته راکړه سمدستي م په غاړه کړه. او څه ورځې م هلته تیرې کړې.

مخکښې فرمائي:

څه ورځې پس راته څما مخدوم زاده (شیخ حسین) او فرمائیل. چې ستا د پاره څما د پلار وصیت دا دې. چه په کوهستانونو کښې استوګنه اختیار کړه. اوس خوښه ستا خپله ده. چه دهند په شمالي کوهستانونو کښې په کوم یو کوهستان و نو کښې په کوم یو کوهستان کښې پاتې کیږې. او که خپل وطن قندزته ځې. ځکه چه ستا خپل وطن خو هم کوهستاني ملک دې. زۀ د دې حکم په آوریدلو حیران شوم. ځکه چه زۀ خو اجمیر شریف ته د خپل پیر لیدلو له د دې د پاره راغلې ووم. چه د حقیقت او عرفان په دې منزلونو کښې چه کوم بوج رابانده راپریوتلې وو. چه د هغې نه خلاص شم. لیکن دا خو د هغې نه هم زیات بوج راپه حواله شه. بهر حال د خپل مخدوم زاده نه م په دې نیت رخصت واخستلو چه خپل وطن قندزته به لاړشم.

حضرت پیر بابا فرمائي:

د طریقت او معرفت په لار کښې هر یو سالک او صوفي ته د دې مقامات حاصلیږي.

(۱) اول مقامد شهرت دے. چه د خدائ مخلوق عام او خاص پرے بے دریغه رامات شي.

(۲) دوئم مقام د کشف او کرامت دے. چه مختلف کرامتونه او خرق عادات کارونه ترینه څرگندیږي.

(۳) دریم مقام هغه دے. چه د یو سالک ټول مطلب او مدعا محض د الله تعالی رضا حاصلول وي. په دے مقام کښې بیا د سالک نه ځان پکا روي. او نه یئے په جهان څه کار وي.

چنانچه زۀ څه وخت په اول ځل اجمیر شریف ته تلے ووم. او هلته د حضرت شیخ سالار رومي په خدمت مشرف شوے ووم. او بیا روستو هغوئ په څلورو واړو طریقو کښې خلیفه او ماذون کړے ووم. نو په هغه نیټه د تصوف دغه اولنے مقام راته حاصل شوے وو. او ځما د نوم شهرت تر لرے لرے پورے خورشوے وو. او د هغے په وجه حاجي سیف الله ککیاني او ملک گدائ ککیاني رانه په شریعت کښې لاس نیوه کړے وه. دا دواړه ککیاني ملکان د خپل قام مشران او قومي سرداران وو. همایون بادشاه چه په ۹۴۲ھـ کښې هندوستان ته راتللو نو د سرحد نه یئے دځان سره راوستلي وو. د دے نه مخکښې چه په شاهي دربار کښې ځما هم تګ راتګ وو. نو د دوئ سره م پیژندګلو راغلے وه. لنډه دا چه زۀ په دغه نیټه د دے شهرت او

د خلقو د ګنړے نه تنګ شوے ووم. نو دوباره اجمیر شریف ته د خپل پیر سلام له د دے د پاره راغلے ووم. چه د شهرت دا مخه رانه واوړي. بوجهه او پیټے رابانده کم شي. چه خپل ریاضت او عبادت له وخت او کښلے شم. لیکن قسمت ته ګوره پیر م وفات شوے وو. او د وفات په وخت کښې بیا یئے راته وصیت پریښے وو. چه کوهستان ته لاړشه. چنانچه هم دغه وجه وه چه څه وخت ما د خپل مخدوم زاده نه د خپل پیر د وصیت دا حکم واوریده. نو مخدوم زاهد ته م عرض اوکړو. چه اوس هر څه چه کیږي خپل وطن ترمذ ته ځم. د هغوئ نه م رخصت واخیست. په دغه اراده راروان شوم او پیښور ته را اورسیدم.

حضرت پیر بابا په وادئ پیښور کښې

په پیښور ښهر کښې د حاجي سیف الله ګګیاني او ملک ګدائ ګګیاني سره م ملاقات اوشه. د سلام او ملاقات نه روستو د هغه پخوانئ عیقد تمندئ په وجه چه ځما سره یئے په اجمیر کښې پیدا شوے وه. د دوئ دواړو راته سوال اوکړ. چه ځمونږ وطن پیښور ښهر سره نزدے دے. د یو څو ورځو دپاره ځمونږ سره تشریف یوسه. چه ځمونږ آل اولاد ماشومان او وطن داران ستاسو د صحبت ا و عظ نصیحت نه فائده واخلي او د غلطو کارونو، بد عتونو او سمونو رواجونو نه لاس واخلي د دوئ بلنه او د عوت م قبول کړ. او د هغوئ سره د دوآبے علاقے ته لاړم. د هغه ځائ بے شمیره خلقو ځمانه بیعت

اوکړ. او په طريقه کښې داخل شول. ډير مخلوقات په راتلل. وعظ نصيحت به ئې آوريده. او د ناکاره کارونو او خلاف شرع بد عتونونه به توبه ګار کيدل او د سمے لارے ته را آوريدلو توفيق به يئے نصيب کيده. تر څه زمانےپورے خو په سمه لار روان وو. ليکن په دے ورځو کښې بيا د بدعتونو (رسمونو رواجون) په لاره روان شوي دي.

پير بابا فرمائي:

د دے وجه څه ده. چه دا خلق سمے لارے ته راوختل او بيا کاړه شول؟ وجه يئے دا ده چه د پښتنو دا عادت دے. چه دوئ ښے خبرے او نکاره خبرے دواړه اوري. ليکن د نيکئ د خبرو پابندي ډيره کمه کوي. او دا هم ځکه چه نن ورځے په دوئ کښې بے عملي ډيره ده. او د دغه بے علمئ په وجه اکثر پښتانه داسے هم وي. چه هډو د نيکئ او خير خبرو او نصيحت ته غوږ هسے هم نه کيږدي. او د شرا او بدئ خبرے به ښے آوري. ځکه چه علم نشته. او چه سړے ورته فکر اوکړي. نو موجب يئے دا دے. چه په دوئ کښې پخپل منځ کښې د يو بل سره بغض او عنا د ډير زيات دے. او په دے آفت کښې تر دے حده راګيره وي. چه که پخپله منځ کښې د يو بل سره د مينے محبت او صلح صفايئے خوږ او په آرام د شريعت اسلام مطابق ژوند تيره ولو او د اسلام د احکامو د پابندئ کولو د پاره ورته نصيحت کيږي.

نو هغے ته غوږ کیښودل هم ورته ګران ښکاري.

پیر بابا فرمائي:

چه هر کله په دوه آبه کښې په دے شان سره روغ کال رابندے تیر شه نو خپل وطن قندز ته م د تللو اراده اوکړله. مګر په ګګیاني قبیله کښې چه څما کوم مخلص دوستان او عقیدتمندان وو. هغوئ څما د پاتے کولو د پاره بهانے شروع کړے. راته یئے اووئیل چه د یوسفزو په علاقه کښې دوه ملحدان پیدا شوي دي. چه د حضرت محمد مصطفی صلي الله علیه وسلم د سمے لارے نه رغړیدلي دي. او ډیر شهرت یئے حاصل کړے دے. د یو کس پیر طیب نوم دے. چه په قام باندے غلجے پښتون دے. او د دویم پیر ولي نوم دے. چه په قام باند مریح دے. دغه داړو د یوسفزو قام اکثر خلق د اسلام د سمے او برابرے لارے نه ګمراه کړیدي. او نور یئے هم پسے ګمراه کوي. دغه پیر ولي برخ او پیر طیب غلجي چه په یوسفزو کلې کومه ګمراهي شروع کړے ده. هغه دا ده چه دوئ ډنګ ډونګ او سرود حلال کړے دے. هر وخت ورته سرودونه غړیږي. دوئ یئے آوري. ښځے او نارینه لوی واړه ګډوډیئے د څان نه راتاؤ کړي وي. ا و هغوئ ته خوشے بیهوده او خلاف شروع خبرے ښائي. او د شریعت د دائرے نه دومره باهر وتلي دي. چه پیرولي بریږ خو د خدائي دعوه شروع کړیده. (المعیاذ بالله) نو ښه خبره دا ده چه تاسو د قندز تللو اراده پریږدئ. د

یـو سفـزو علاقـے تـه لاړ شئ. او د دغه علاقـے عوام د دے کفـر او ګمراهئ نـه بـچ کړئ. هر کلـه چـه د دوآبـے مـخلصو عقـیدتـمنـدانـو دا احوال راتـه بـیان کړ. او د دیـن اسلام خبـره پـه مـنځ کلـې راغلـه. نـو هلـتـه تـلـل م پـه ځـان بـانـدے واجب او ګـنړل او د یـو سفـزو علاقـے تـه روان شوم.

حضرت پـیر بـابـا د یـوسفـزو پـه علاقـه کښې

حضرت پـیر بـابـا فـرمـائـي:

چه څه وخت زهٔ د یـوسفـزو علاقـے تـه اورسیـدم نـو پـه دوئ کښې یـو څو عاداتـونـه او خویـونـه م اولـیـدل چه هغه دا دي.

(۱) یـو دا چـه سادہ خلـق دے. چـل. مـکر. فـریـب یـئـے نـه دے زده.

(۲) بـلـه دا چـه د مـشرانـو نـه یـئې کشران پـه دیـنداری او دیـانـتداریٔ کښې زیـات پـاخه دي.

(۳) بـلـه دا چـه د دوئ د نـاریـنه ؤ نـه د دوئ زنـانـه د دیـن اسلام زیـاتـے پـابـنـدے دي. او مـضبـوطـےدي.

(۴) بـلـه دا چـه د دوئ مـاشومـان پـه عین مـاشوم والـي کښې د دیـن سره او د دیـن د زدکړے سره مـیـنه لـري.

(۵) بله دا چه خدمتګاران او مریونه یعنې عاجز خلق یئې دخپلو نائیکانو نه زیات دینداره دي.

لیکن سره د دې ټولو خبرو په ګمراهي کښې ځکه اخته کیږي. چه علمي مدرسې نه لري. او ورسره پرهیزګاره او خدایئ عالمان پکښې نشته دې. په دې وجه دا خلق ټول بې تعلیمه او بې عمله دې. او بل خواته ناکاره شیخان اوګمراه پیران د دوئ په علاقه کښې ډیر زیات دي. هغه د دوئ د بې علمئ نه فائده اخلي. د شریعت اسلام نه یئې په غلطه لاره بیائي. او ډیر کسان په دغه شان غلطو پیرانو پسې روان شوي هم دي. او د اسلام په نامه د هغوئ ډیر بد عتونه یئې قبول کړي هم دي.

پیر بابا علیه الرحمة فرمائي:

د پښتنو دا قاعده ده. چه کله هم څوک نا اشنا عالم یا شیخ یا بزرګ یا زاهدیا نیکو کار سړے د دوئ وطن ته راشي. نو دهغه د نوم آوریدلو سره سم دومره خلق پرے رامات شي. چه ډلے ډلے ورله راځي. چه څه شے خبرے تریئه واوري. لیکن عیب یئې دا دے چه صرف وعظ او نصیحت اوریدل یئې خوښ وي. یعنې تش د خبروآوریدلو شوقیان دي. او اکثریت یئې داسې دے. چه د عمل نه غافله دي. نتیجه یئې دا ده چه عام پښتانه د خپلے بے علمئ په وجه دا فرق نه شي کوؤلے. چه په رښتیا بزرګ او عالم یا صحیح مسلمان شیخ څوک دے. او مکرژن او

فریب ګو څوک دے. دوئ د اهل حق او باطل جدا والے نۀ شي کوؤلے. دومره علم نه لري چه په دے پوهه شي. چه دا نوے بزرګ یا عالم چه څمونږ دے علاقے ته راغے. چه آیا د ده وینا او عمل دواړه د اسلام په صحیح او حقه لاره باندے برابر دي اوکه نه ګمراه دے. البته پوهه خلق پکښې هم شته دے. چه د اهل حق او اهل باطل تمیز کوؤلے شي. لیکن داسے خلق پکښې دیر لږ دے.

پیر بابا علیه الرحمة فرمائي:

لکه چه مخکښې م اووئیل. د یوسفزو علاقے ته چه په اول سر کښې راغلم. نو د سدوم" نومے علاقے پورے لاړم. (دلته دا یادول پکار دي. چه هر کله پیر بابا سدوم ته راغے نو د رستم نومے کلي نه شمال مشرق طرف ته د یو نیم میل په فاصله په الي نومے کلي کښې چه دا کلے نن ورځے په "الی لنډي" مشهور دے. دیره شه. په دغه موقع د ده مشهور مرید اخوندرویزه هم ورسره وو. د الي نومے کلي جنوب طرف ته او رستم نومے کلي ته مخامخ هغه ځاي چرته چه پیر بابا دیره شوے وو اوس هم موجو دے.)

په سدوم کښې د اوسیدلو په ورځو کلې د تیر چاپیره علاقو نه ډلے ډلے خلق به څما صحبت او مجلس له راتلل. او وعظ نصیحت به یئے آوریده. او د شریعت اسلام هر څومره احکام او مسئلے چه ماته معلومے وے. هغه به م ورته بیانولے. او دوئ ته

به م دا نصيحت کؤولو چه "د علم او عرفان يعنې د شريعت او طريقت دواړو نه د ځان خبرولو د پاره چه څومره درنه کيدلې شي. کوشش کوئ. علم حاصل کړئ. او د حضرت محمد مصطفې صلي الله عليه وسلم په روښانه شريعت باندې ټينګ شئ. او د اهل هوا او اهل بدعت خلقو نه ځان ا ساتئ". چنانچه هم دغه شان وعظ او نصيحت کول م جاري او ساتل. چه موقع به په لاس راغله د خدائ احکام به م دوئ ته بيانول. هر کله چه دا خلق هم د خدائ د حقې لارې لټونکې او د حق طالبان وو. ځما خبرو به د دوئ په زړونو اثر کؤلو ځما نصيحتونو ته به يئې غور کيښودلو. عمل به يئې پرې کؤول. او د اهل هوا او اهل بدعت او ګره پيرانو نه يئې بيزاري ښکاره کؤوله. تر دې حده چه لکه آيت شريف دې. **جاء الحق وزهق الباطل ان الباطل كان زهوقا** ط يوسفزي خلق چه د باطلو پيرانو په دام کښې ګير شوي وو. د هغې نه خلاص شول. بدعتونه او ګمراهي ختم شوه او د اسلام حق دين غالب شه."

د دېنه روستو پير بابا عليه الرحمة ډير په تفصيل سره هغه واقعات بيان کړيدي چه د پير ولي بريخ او د پير طيب غلجي سره يئې کوم بحثونه شوي دي. هغه يئې ملامته کړې دې. او يوسفزی يئې د هغوئ د ګمراهي نه خلاص کړي دي. او بيا فرمائي:

"پير طيب غلزائ دې وطن ته د هندوستان نه راغلې وو. هغة د دې نه هم خبر وو. چه زۀ په نن صبا کښې خپل وطن

قندزته روان یم. نو هغه پخپله خو ځما د راتللو نه روستو هزارے ته تشتیدلے وو. لیکن په خلقو کښې یئے دا مشهوره کړه چه سید علي (پیر بابا) م د دے ملک نه اوکښلو او قندز ته م ګزار کړلو. د دے خبرے په آوریدلو سره دوستانو او تعلقدارانو زور اولګاوه چه په داسے حالاتوکښې که تاسو لاړشئ نو پیر طیب به لافے شروع کړي. چه د هغه وینا رښتیا شوه. په دے وجه بهتره به دا وي. چه تاسو یو کال نور هم دلته پاتے شئ چه د پیر طیب دغه دعوی د روغ ثابت شي. او د دے قوم د کمزورے عقیدے خلق د هغه په مکر او فریب بیرته ګمراه نه شي. چنانچه د دوستانو او عقیدتمندانو دا مشوره م قبله کړه. د وطن تللو اراده م پریښودله او د یو کال نور تیره ولو د پاره په دے علاقه کښې پاتے شوم

د پیر بابا په یو سفزو کښې وادهٔ کؤل

پیر بابا فرمائي:

د پښتنو یوه عامه قاعده. اصول او رواج دے. په څوک عالم یا ښه سړے چه هغه په قام د دوئ رور عزیز نه وي. او هغه دوئ ته ښه سړے ښکاره شي. نو د پښتنو مشران او قبائیلي سرداران داسے کار اوکړي. چه په غیر د ولور (جهیز) او مهر غوښتلو نه بالکل ویړ یا خپله خور، لور هغه سړي له په نکاح ورکړي. د پاره د دے

چه د دغه ښه سړي د دوئ سره خپلوي او رشته دارئ پيدا شي. او د تللو اراده پريږدي او د دوئ سره يو ځاي هم د دوئ په وطن کښې پاتي شي. او په دغه طريقه سره د هغه نيک سړی تر ژونده د هغه د روحاني فيوضاتو نه د بهر مند کيدلو موقع دوئ ته په لاس ورشي. (د پير بابا د دے خبرے په تائيد کښې د حضرت سيد محمد گيسو دراز مثال موجو ددے.)

چنانچه هم د دے اصول مطابق د يوسفزي قام د ملي زي قبيلے د بارکشاه زي ښاخ يو ملک چه نوم يئے دولت وو. هغة راته خپله خور بي بي چه (بي بي مريمه) نوم يئے وو. په نکاح راکړله. پخپله ماکه هر څومره کوشش کؤلو چه د عيالدارئ او د وادهٔ کوؤلو د پابندئ نه ځان بچ کړم. ځکه چه بال بچه داري يو داسے څيز دے. چه د روحاني شغل په لاره کښې د سړي مخے ته ډيرے کشالے را دوخاره کوي. او بيا سړے په پوره توجهه او فراغت د زړهٔ سره خدائي چرته ياده ولے شي. ليکن هر کله چه واده کول د شريعت يو ضروري سنت وو. او بله دا چه د يو مسلمان زړهٔ ساتل هم لازمي وو. او دا راته بے مورتي ښکاره شوه. چه د ملک دولت زړهٔ آزار کړم. په دغة وجودهاتو د نا کامه نه م واده کولو ته غاړه کيښودله. او هغه وخت راته د خپل پير حضرت شيخ سالار رومي عليه الرحمة هغه خبر رايا ده شوه. چه کوهستان ته لاړ شه او هلته استوگنه اختيار کړه. چنانچه واده م اوکړ. دلته پاتے شوم. ځامن لونړه م

اوشول. څه موده پس م اراده اوکړه چه قندز ته یعنے خپل وطن ته لاړشم. او د خپل مور، پلار سلام او ملاقات اوکړم. چنانچه بال بچ م په یوسفزو کښې پریښودل. یواځے قندز ته لاړلم. پلار م وفات شوے وو مور بي بي م ژوندئ وه. د مغوي سلام م اوکړ. چه په قلاره شوم. نو مور بي بي رانه د تیرو شوو ورځو شپو د حال احوال تپوسونه کوُل. چه دا دومره عمرو دے په کوم کوم ځاي کښې تیر کړ. چنانچه ماورته د حالاتو بیانولو په سلسله کښې دا عرض هم اوکړ. چه د یوسفزو په علاقه کښې م واده کړے دے. او بال بچ م هم پیدا شوے دے. مور بي بي د دے خبرے په آوریدلو سره په ډیر شفقت او مهربانۍ بانده راته او فرمائیل چه هر کله واده دے کړیدے نو ښه ده. ته اوس نور دلته زیات مه حصاریږه. بیر ته زر لاړ شه. که کیدلے شي. نو بال بچ د ځان سره راروان کړه. دلته یئے راوله. او که بالغرض داسے نه شوه کیدلے نو بیا خپل حق م دربخښلے دے. هم هلته پاتے شه. چه د مغوئ حق ځمونږ په غاړه پاتے نه شي." د دغے ننه پس مور بي بي علیها الرحمة راله د سفر تیاري اوکړله. واپس راغلم. او د خپلے مور بي بي په اجازت سره دلته د یوسفزو په علاقه کښې پاتے شوم. ټولو خلقو ته م امر معروف شروع کړ. د حق لارے ته به م رابلل په دے خلقو ځما د نصیحت اثر کیدلو. او د دین اسلام په حقه لار روان وو.

تاریخي جائیزه

پورته چه د حضرت پیر بابا علیه الرحمة د خپل بیان مطابق د دوئ کوم حالات بیان شول. په تاریخي اعتبار سره به په دے یو نظر واچوؤ. حضرت پیر بابا علیه الرحمة په ۹۰۸هـ کښې په قندز (ترمذ) کښې پیدا شوے دجے. د څلور دیرش کالو په عمر په ۹۴۲هـ کښې هندوستان ته راغلے دے. په ۹۴۳هـ کښې د شیخ شرف الدین پاني پتي زیارت ته د ورتللو نه پس یئے دنیا او دنیاداری هر څه پریښي دي د حق په طلب کښې وتلے دے. کال دوه یئے په مانک پور کښې د شیخ سیلونه علیه الرحمة نه دیني کتابونه لوستلي دي بیا د ۹۴۵هـ په نیټه د شیخ سیلونه د مشوري مطابق اجمیر شریف ته راغلے دے. او د شیخ سالار رومي نه یئے بیعت کړےدے. بیا د ۹۴۸-۴۹هـ په شاؤ خوا کښې د پنجاب گجرات ته راغلے دے. کال دوه یئے دلته تیر کړي دي. او په کال ۹۵۰-۵۱هـ کښې دوباره اجمیر شریف ته تلے دے. په کال ۹۵۱-۵۲هـ کښې یو ځل بیا د اجمیر شریف نه رارووان شویدے. پیښور ته راغلے دے. پیښور ښهر ته د دوئ د راتللو زمانه ۵۳-۹۵۲هـ اندزه کوؤلے شو. ځکه چه دا پیره چه د اجمیر شریف نه دوئ راتلل نو په لاره کښې یئے په سیالکوټ کښې هم څه ورځے تیرے کړے وے. چه پیښور ښهر ته د دوئ د راتللو زمانه دغه ۹۵۲-۵۳هـ کښې تلے وو. کال یئے هلته یتر کړ. مخې کال له په ۹۵۴هـ کښې د

یوسفزو علاقے سدهوم ته لاړ. او د ۹۵۵هـ یو بل کال تیرولو نه روستو یئے د مغه خلقو په خواست په ۹۵۶هـ کښې واده اوکړلو. او هر کله چه د بال بچ پیدا کیدلونه روستو قندزته تلے دے. نو ممکنه ده چه د ۹۷۰هـ په شاؤ خوا کښې تلے وي. د واقعتو او حالات دے پورتني تفصیل ته چه اوکتلے شي. نو دا یو څو نتیجے په لاس راځي.

(الف) د واده کولو په وخت کښې د دوئ عمر اته څلویښت کاله وو. او نن ورځے چه په عوامو کښې کوم روایت مشهور دے. چه هر کله د پیر بابا عمر د سل کاله نه زیات شه. نو اخوندرویزه بابا ورته اووئیل پیره واده درله کوؤم. چنانچه واده یئے ورله اوکړ. نو دا روایت په تاریخي اعتبار سره څکه غلط دے. چه د پیر بابا د پیدائیش د کال ۹۰۸هـ سره چه سل کاله جمع کړے شي نو مطلب یئے دا کیږي چه پیر بابا په ۱۰۰۸هـ کښې واده کړے وو. حالانکه د پیر بابا خپل ټول عمر سل کاله نه وو. او د یو اتیا کالو په عمر کښې په ۹۹۱هـ کښې وفات شوے وو.

(ب) بله خبره هغه الزام دے. چه حضرت پیر بابا د همایون په اشاره باندے دلته راغلے وو. په

دے سلسله کښې د یوسفزو علاقے ته د پیر بابا د راتللو ټول تفصیل څمونږ دوړاندے دے. او هغه دا چه همایون ایران ته رسیدلے وو. چه پیر بابا د اجمیر شریف نه پیښور ته راتللو. او بیا چه په ۹۶۲هــ کښې همایون دوباره د دهلي د تخت اخیستلو د پاره هند ته تللو نو حضرت پیر بابا په دغه نیټه د یوسفزو د بونیر په علاقه کښې وو. نو آخر په داسے حالاتو کښې چه د پیر بابا او همایون تر منځه هډو ملاقات نه دے شوے. او پیر بابا د ابتداء نه درباری ژوند نه د امیرانو. بادشاهانو د صحبت نه او دنیاداریٔ نه کناره کش وو. نو د همایون سره د رابطے اواره ورسم یئے هډو امکان نه شي کیدلے. او بله دا چه پیر بابا هم لکه د نورو ټولو روحاني پیشوایانو باندے د خپل پیر طرقت حضرت سالار رومي په هدایت سره دے کوهستاني علاقو ته راغلے دے. نو د دے نه معلومیدلے شي. چه دغه پورته الزام څومره تاریخي غلط بیاني ده. بیشکه د پیر بابا والد ماجد سید قنبر علي یو درباري انسان وو. امیر وو. نظر بهادر خطاب یئے لرلو. لیکن د دغے خبرو د پیر بابا د خپل

ژوند سره څه تعلق دے. هر کله
چه پیر بابا پخپله د فقیری
ژوند اختیار کړے وو. او دا خولا
د پیر بابا علیه الرحمة والد
ماجد یو امیر او سردار وو.
ځمونږ په وړاندے د حضرت سلطان
ابراهیم ابن ادهم. او سلطان
جلال الدین تبریزي مثالونه
موجود دي. چه بادشاهي ئے پریښے
وه. فقر یئے اختیار کړے وو. نو
بیا یئے د بادشاهانو سره تعلق
نه ساتلو په دے وجه پیر بابا و
داسے الزامونونه پاک دے. دے
علاقے ته خالص د اسلام د تبلیغ
او اشاعت د پاره راغلے وو. او
په خپل ژوند یئے دغه حق په ډیر
ښه شان سره ادا کړے وو.

اخلاق، عادات او طریقه د کار

د حضرت پیر بابا علیه الرحمة په
طبیعت مبارک کښې دومره سخاوت وو. چه هیڅ
یو سوالګرے د دوئ د دروازے نه تش لاس نه
ووتلے. مسافرانو له به یئے د لارے خرڅ
ورکولو. د بیمارانو بیمار پرسي به یئے
هم کوؤله مګر ورسره ورسره به یئے د هغوئ
مالي امداد هم کولو. د دوي لنګر به هر
وخت جاري وو. بے شمیره خلقو ته به. ډوډئ
او جامے به ورته ورکیدلے شول. لویه صبر
ناکه او د عفو او درګذر صفتونه یئے لرل.
چه دا د یو کامل انسان د پاره د تعریف
لایق ډیر لوئ صفت دے. د حضرت پیر بابا

علیه الرحمة د کشف، کرامت او خرق عادت کارونو واقعات دومره ډیر دي چه په شمار کښې نه راځي. اګر چه د دوئ د کشف او کرامت اظهار به نه خوښولو. لیکن څرنګ چه دوئ پخپله بیان فرمائیلےدے چه کشف او کرامت د تصوف او سلوک په لاره کښې یو مقام دے. څوک چه دے مقام ته رسیدلي وي. د هغوئ نه بیا په خوښه یا نا خوښه د کرامت اظهار کیږي. او د هغے مقصدر دا وي چه کومو خلقو ته دے تبلیغ کوي د دین اسلام اسرار او رموز ورته بیانوي چه د دے کرامت په لیدلو د هغوئ عیقده پخه شي او د دے بزرګ خبرے په غور سره واوري او قبولے یئے کړي. هر کله چه حضرت پیر بابا علیه الرحمة روحاني مقام د غوثیت وو. نو د دوئ نه د کرامتونو اظهار لازمي وو.

د دوئ طریقه د کار دا وه چه د هر سړي حالت ته به یئې کتل او هغه شان تعلیم به ئي ورته خمولو. عامو خلقو ته به یئے چه کوم بیعت کولو. په هغے باندے پیر بابا یو خاص نوم ایښے وو. "بیعت شریعت" د دے مطب دا وو. چه عامو مسلمانانو ته به یئے د شریعت په احکامو د مکمل تابعدارئ بیعت کؤلو. او چه کوم به د علم عقل. پوهے او زیر کتیا خاوندان د حق طالبان به وو. او د اسرارو او رموزو د حاصلولو اهل به وو. هغوئ ته بایئے چه کومه طریقه کوله. هغے ته به یئے "بیعت طریقه" وئیلو. دا مخصوص بیعت به یئے جاهلانو ته نه کولو. فرمائیل به یئے چه په دے لاره که بے علمه او جاهله

سړي روان شي نو د هغه د ګمراهۍ خطره ده. د بے علمه او عوامو د پاره د نجات لویه ذریعه دا ده چه په حق دین اسلام باندےپوره پوره روان اوسي. د دین اسلام د اشاعت. تبلیغ. رشد او هدایت په سلسله کښې چه د دوئ کوم تعلیمات دي. هغه په تفصیل سره د اخون درویزه علیه الرحمة په کتابونو کښې نقل شویدي. دے پخپله د اهل سنت والجماعت په حنفي عقیده باندے وو. او د اهل سنت والجماعت صحیح اسلامي عقیدے ته د دوئ په سبب تقویت اورسیده او لکه چه مخکښې ورته اشاره شویده د یو اتیا کالو په عمر په ۹۹۱هـ کښې په حق اورسیده. او د بونیر علاقه ګدائي زی کښې دفن کړلے شه. ورسره جخت د ده د ځوي سید حبیب الله قبر دے. د مزار مبارک په چار دیوارئ کښې دوه غبرګ قبرونه دي. نمر خاته طرف ته قبر د پیر بابا دے. او مغرب طرفته قبر د پیر بابا د خپل سکه ځوي حبیب الله دے چه لاولد وفات شوے وو. علیهم الرحمة والغفران.

اولاد او خلیفه ګان

د حضرت پیر بابا علیه الرحمة فقط دوه ځامن وو. (۱) سید حبیب الله چه د پلار په ژوند وفات شوے وو. (۲) سید مصطفی چه د پلار په ژوند د افغانستان د سمت مشرقي کنړ نومے علاقے ته تلے وو. هلته آباد شوے وو. او بیا هم هلته وفات شویدے. او مزار یئے د علاقه کنړ په موضع

دونـائـي پـشت کـښې دے. د دغـه مـيـا مـصطفـی درے ځـامـن وو. مـيـا عـبـدالـوهـاب الـمـعـروف پـه مـيـا عـبـدال چـه زيـارت يـئـے د عـلاقـه بـونـيـر پـه "تـخـتـه بـنـد" نـومـے مـقـام کـښې دے. مـيـا مـحـمـد قـاسـم چـه زيـارت يـئـے د سـوات پـه مـوضـع "پـيـر کـلـي" کـښې دے. مـيـا مـحـمـد حـسـن چـه مـزار يـئـے د سـوات پـه مـوضـع کـوکـړئ کـښې دے. او بـيـا روستـو د پـيـر بـابـا عـلـيـه الـرحـمـة د اولاد ټـولـه سـلـسـلـه د دے درے واړه نـمـسـونـه خـوره شـويـده. او ډيـر لـوئ عـالـمـان، بـزرگـان او صـالـحـان خـلـق پـکـښې تـيـر شـوي دي. مـشـهـور تـاريـخـي شـخـصـيـت سـيـد جـمـال الـديـن افـغـانـي هـم د دے کـورنـئ نـامـور انـسـان وو. سـيـد مـبـارک شـاه او سـيـد اکـبـر شـاه هـم د ده پـه اولاد کـښې دوه داسے نـامـور کـسـان تـيـر شـويـدي. چـه پـخـپـلـه زمـانـه د عـلاقـه سـوات او بـونـيـر بـادشـهـان وو. او د حـضـرت سـيـد اسـمـاعـيـل شـهـيـد او سـيـد احـمـد شـهـيـد کـلـک مـلـګـري وو.

د دوئ پـه خـلـيـفـه ګـانـو کـښې د يـو څـو مـشـاهـيـرو خـلـيـفـګـانـو نـومـونـه دا دي:

(۱) حـضـرت اخـونـد درويـزه نـنـګـرهـادي چـه د دو آبـے د قـيـام ۹۵۲هــ پـه زمـانـه يـئـے مـريـد شـوے وو. او بـيـا تـر اخـره عـمـره پـورے د خـپـل پـيـر سـره مـلـګـرے وو. (روستـو بـه يـئـے تـذکـره راشـي)

(۲) مـلا صـالـح الـکـوزئ چـه د خـپـل وخـت ډيـر لـوئ فـاضـل عـالـم وو. پـه قـنـدهـار کـښې قـاضـي وو. مـزار يـئـے

په علاقه بونير رياست سوات کښې دے. په ديوانه بابا مشهور دے.

(۳) ملا يوسف بن الياس ګدائيزے زايے. مزار مبارک يئے د ملندرئ کنډو په لويه لاره کښې دے په اخون يوسف ياديږي.

(۴) ميا عبدالکريم ولد اخوندرويزه المعروف په ميا کريمداد او بحر المعاني او محققي افغان او ميا شهيد. مزار مبارک يئے په موضع کانجو. سوات کښې دے. په شهيد بابا ياديږي.

(۵) سيد ابراهيم شاه المعروف حصار بابا چې د پير بابا خليفه وو، مزار مبارک ئې په حصار توتکان ملاکنډ پير خيل کښې دے. تذکره ئي وړاندي تيره شوي ده.

د دے نه علاوه نور بے شميره مريدان او خليفه ګان يئے دي. چه لوی بحث غواړي. عليهم الرحمة والغفرن.

حضرت شيخ احمد سون عليه الرحمة

غرغشتي، قادري (۱۰۳۰هـ)

حضرت قطب الولايت والهدايت. محرم د پر دو د جلال. مکرم کړے شوے په درجو د کمال. واقف دا اسرار د دوه کون. حضرت شيخ احمد سون عليه الرحمة په قام باندے غرغشتے پښتون وو. لوي روشن ضمير صوفي د محبت د سوز او ګداز او درد خاوند وو. د دو آبۀ بست جالندهر په بجراړهنومے کلي کښې اوسيده. د دغه ولايت چه هر څومره خلق وو. ټول پرے رامات وو. ظاهري تصرفات اوکرامات يئے له حده ډير وو. او هر وخت به د دوئ په دربار کښې د خداۍ مخلوق دومره ګڼره جوړه وه. چه څه حد حساب به يئے نه وو. د دوئ د حالاتو په سلسله کښې يو څو وضاحتونه بيانول مناسب معلوميږي.

(۱) د حضرت شيخ احمد نوم سر لفظ د "سون" ليکلے شي. د دے لفظ وضاحت داسے دے. چه د پښتنو د مورث اعلی غرغشت نيکه درے ځامن وو. (۱) داني (۲) ماني (۳) مندو. په دوئ کلې بيا د مورث اعلی داني څلور ځامن وو. ناغر، کاکړ، داوي، هني، په دوی کښې بيا د مورث اعلی هني (تبني)

شپاړس ځامن وو. چه نومونه یئے
دا دي: متکا. اسوت. مرغزالي،
مندو، موغنین، دهمال. یوانے
امرزی. جدون، سالی، سون، علي
(علي خیل) کړک. (قاسم کرک)
تون. ختابق. رضي (مووسي)

په دے اعتبار سره شیخ احمد د غرغشت قام د داني نیکه په خاندان کښې دهني کورنئ د یوؤلسم ښاخ او قبیلے (سون) د نسل پښتون وو. ځکه ورته شیخ احمدسون وائ.

(۲) لکه چه مخکښې ذکر اوشه. حضرت شیخ احمد سون په بجواړه نومے کلي کښې اوسیده. نو د دے وضاحت داسے دے. چه په دو آبۀ بست جالندهر کښې د لاهور ښهر نه پنځه نوي میله نمبر خاته طرف ته "هشیارپور نومے یو مشهور ښهر دے. د دے ښهر نه شپږ میله نور مخکښې نمر خاته طرف ته "بجواړه" نومے کلے دے. دا کلے په هندوستان کښې د اسلام د رنړا خوریدلو نه مخکښې آباد شوے دے. علاقه زر خیزه او آباده ده.د غرونو دي. باغونه پکښې ډیر دي. د پښتنو د غرغشتي قبیلے خلق دلته په ۸۲۱هـ کښې آباد شوے وو. چه په هغے کښې د حضرت شیخ احمد سون علیه الرحمة نیکونه هم وو. او بیا روستو د حضرت شیخ احمد

سون په برکت په دې علاقه کښې چه ځوک مشرکان او کافران پاتې وو. هغوئ اسلام قبول کړے وو. روستو د شیر شاه سوري په زمانه کښې په دې علاقه کښې د پښتنو آبادي ډیره زیاته شوے وه.د پښتنخواه ډیر لوئ لوئ عالمان او بزرګان د بهلول لودهي د زمانے نه واخله د اسلام شاه سوري تر زمانے پورے چه دلته راغلي وو. هغوئ د دې علاقے ګوټ ګوټ ته د اسلام پیغام اورسولو. په دې سلسله کښې په موضع ټانډه کښې د حضرت یونس خان افغان علیه الرحمة او په موضع علاول پور کلي د حضرت دلاور خان پټهان متوفي ۱۰۲۴هـ زیارتونه د یادولو دي.

د حضرت شیخ احمد سون غرغشتي د پلار نوم شیخ محمد الیاس سون غرغشتي وو چه د پنجاب په علاقه کښې په بجواړه کښې اوسیده. په ۹۹۵هـ کښې چه حضرت شیخ محمد الیاس وفات شه. نو د بزرګئ او طریقت ګدئ او سجاده نشیني حضرت شیخ احمد سون ته حواله شوله. حضرت شیخ احمد سون د شریعت او طریقت علمونه د خپل والد ماجد نه او د حضرت شیخ الله د اولاد هوري علیه الرحمة نه حاصل کړی وو.

حضرت شیخ احمد سون هغه قابل ذکر او بزرګ ترینه هستي ده. چه د دوئ د ژوند

حالات او د حضرت شیخ احمد سرهندي د ژوند حالات دواړه دومره د یو بل سره مطابق دي. او داسې هو بهریو شاندي. چه په سرسري نظر د سړي ګمان پیداشي. چه شاید د حضرت شیخ احمد سون معتقدانو د حضرت شیخ احمد سرهندي مجدد الف ثاني حالات او واقعات په دوئ پورې تړلي وي. لیکن هر کله چه د "ګلزارابرار" او "مخزن افغاني" دواړو کتابونو مصنفان د حضرت شیخ احمد سون د زمانےهمعصر مؤرخان دي. او د دے دواړو مؤورخانو د حضرت شیخ احمد سون سره د ملاقات شرف هم حاصل کړے دے. په دے وجه د څه قسم شک او شبهې ګنجائش نه پاتے کیږي.

د حضرت شیخ احمد سون او حضرت شیخ احمد سرهندي دواړو د ژوند شریکه واقعه دا ده. چه څه وخت دا دواړه بزرګان په جدا جدا اوخت کښې د مغولي بادشاه جهانګیر دربار ته رااوغوښتلے شول. او حاضر شول. نو دوئ بادشاه ته د تعظیم سجده اونه کړله او په دغه جرم دا بزرګان د ګوالیار په قعله کښې په بند کښې اچولے شوي وو. صرف دومره فرق دے. چه د تاریخ و زمانے په لحاظ د شیخ احمد سون دا واقعه وړاندے پیښه شوے وه. او هم دغه واقعه دشیخ احمد سرهندي سره څو کاله روستو پیښه شوے وه.

د تاریخ "مخزن افغاني" مؤلفان نعمت الله خان هروي. او هیبت خان کاکړ لیکي:

په ۱۰۱۲هـ کښې د شهنشاه جهانګير په حکم سره شيخ احمد سون آګرې ته را اوغوښتلے شه. ليکن چه څه وخت دے د بادشاه دربار ته حاضر شه. نو د ملاقات په وخت کښې يئے بادشاه ته سجده اونه کړله. په دغه زمانه د مغليه بادشاهانو د شاهي دربار دا اصول وو. چه هر څوک چه د بادشاه ملاقات له به راغے نو هغه به د بادشاه په مخکښې د تعظيم. تحريم. او تکريم په طور باندے سجده کوؤله. ليکن حضرت شيخ احمد سون د دے نه انکار اوکړ. او وے ويل چه په غير د الله تعالى نه بل چاته سجده کول ناروا دي. چنانچه په دغے باندے حضرت شيخ احمد سون يئے د ګواليار په قلعه کښې بند کړ.

شيخ احمد سون درے کاله د ګواليار په قلعه کښې بنديوان وو. مګر ډير په فراخة تندي يئے دغه ورځے د پاک خدائي په عبادت کښې تيرے کړے. او ډير لوئي روحاني مرتبے ورته حاصلے شوے.

په ۱۰۱۹هـ کښې خان جهان لودهي (پير خان ابن دولت خان لودهي المعروف په خان جهان لودهي) ته د صوبۀ خان ديس او دکن حکومت حواله شه. چه څه وخت خان جهان دکن ته تللو. نو د کتاب مخزن افغان دواړه مؤلفان يعنے نعمت الله خان هروي او هيبت خان کاکړ هم د خان جهان سره ملګري وو. چه څه وخت دوئ د دکن په دے سفر کښې د ګواليار قلعه ته اورسيدل. او د شيخ احمد سون د حالاتو نه خبر شول. نو حصار شول.

بادشاه ته یئے خط راولیږه. چه شیخ احمد سون د دے بند نه آزاد کړي. چه څمونږ سره د کن ته لاړ شي. جهانګیر او لګیده د خان جهان د زړهٔ ساتلو د پاره یئے د هغه دا سوال قبول کړ. چنانچه حضرت شیخ احمد سون دوه کاله یعنے د ۱۰۲۱هـ پورے په دکن کښې پاتے شه. او د کفارو خلاف په جهادونو کښې یئے غزاګانے اوکړلے. په دے سلسله کښې په "مخزن افغاني" کښې لیکي چه څه وخت به د کفارو خلاف د جهاد میدان ته د مسلمانانو مجاهدینو فوځونه راااووتل. او صفونه به تیار شول. نو حضرت شیخ احمد سون به دا کوشش کؤلو چه په قدم کښې د ټولو غازیانو نه مخکښې لاړ شي. او د شهادت درجه حاصله کړي.

بیا چه څه وخت خان جهان لودهي د خان دیس نه واپس آکرے ته راته.نو حضرت شیخ احمد سون هم ورسره ملګرے وو. په واپسئ کښې چه دوئ مانډو نومے ځاي ته راااورسیدل نو د کتاب "ګلزار ابرار" مؤلف حضرت غوثي منډوي شطاري علیه الرحمة د حضرت شیخ احمد سون سره لیدل، کتل، ملاقات شوے وو. او د دے دواړو مشاهیرو بزرګانو تر منځه په صوفیانه اسرارو او موزو باندے بحثونه هم شوي وو. د حضرت شیخ احمد سر هندي مجدد الف ثاني په شان شیخ احمد سون غرغشتي هم په تصوف او طریقت کښې د شیخ علاء الدین سمناني هم خیال وو. او حضرت شیخ سمناني چه په شیخ محي الدین ابن عربي کوم اعتراضات کړي دي. او هغه د وحدت الوجود د نظرئي مخالفت او تردید

يـئـے كـړيـدے. دا دواړه بـزرګـان يـعـنـے شـيـخ احـمـد سـون او شـيـخ احـمـد سـرهـنـدي د دغـه شـيـخ علاء الـديـن ولـه سـمـنـاتـي د نـظـرئـي سـره مـتـفـق وو. دوئ دواړو هـم د ابـن عـربـي د وحـدت الـوجـود نـظـريـه صـحـيـح نـه ګـنـړلـه او حـضـرت غـوثـي مـنـډوي چـونـكـه د شـطـاريـه سـلـسـلے شـيـخ وو. او هـغـة د ابـن عـربـي د نـظـرئـي پـه حق كـښې وو. پـه دے وجـه د غـوثـي مـنـډوي او د حـضـرت شـيـخ احـمـد سـون تـر مـنـځـه دغـه صـوفـيـانـه بـحـثـونـه پـيـښ شـوي وو.

د "تـاريـخ صـولـت افـغـانـي" مـؤلـف زرداد خـان نـاغـر غـورغـشـي لـيـكـي. چـه د حـضـرت شـيـخ احـمـد سـون غـوغـشـتـي عـلـيـه الـرحـمـة دوه لـوئ تـعـريـفـونـه وو.

(۱) يـو دا چـه پـه شـجـاعـت، سـخـاوت او هـمـيـت كـښې يـئـے پـخـپـلـه زمـانـه كـښې څـوك هـم څـنګ او سـيـال نـه وو. بـے مـثـالـه نـنـګـيـالـے. غـيـرتـي او سـخـاوتـي پـښـتـون بـزرګ وو.

(۲) بـلـه دا چـه د حـقـيـقـت او مـعـرفـت پـه عـلـمـونـو كـښې نـا پـايـا بـه سـمـنـدرو و. او د عـجـائـبـو او غـرائـبـو او رمـوزو مـظـهـر وو. او ډيـر لـوئ كـشـف او كـرامـات يـئـے لـرل. او د ډيـر و لـويـو فـيـوضـاتـو خـاونـد وو.

د حـضـرت شـيـخ مـحـي الـديـن ابـن عـربـي پـه كـتـاب فـوصـوص الـحـكـيـم كـښې چـه د مـسـئـلـه وحـدت الـوجـود د عـقـيـدے پـه حـقـلـه كـوم بـحـثـونـه دي.

او د هغے سره د حضرت شیخ احمد سون علیه الرحمة کوم اختلافات وو. او د ابن عربي د نظریئے تر دیدئي په کومو دلائلو په کولو په دغےباندے حضرت شیخ احمد سون یوه رساله لیکلے وه. چه د هغے "مسیح القلوب" نوم وو. او د غه رساله یئے بیا میان شیخ عیسی مشوانے سندهي برهان پوري علیه الرحمة ته لیږلے وه. او په هغے کښې یئے د شیخ میاڼ عیسی په دے رباعي باندے سخت تنقید کړے وو. د میاعیسی هغه رباعي چه د وحدت الوجود د نظر یئے ترجماني کوي او شیخ احمد سون پرے تنقید کړے دے. دا ده.

پخپله کار کړي، خپله انکار کړې کله با داریم کله م خوار کړې

ته خو قادریئے په صفتونو کله م نور کړي، کله م نار کړې

عیسی حیران دے په دے شیونو کله م یار کړي، کله اغیار کړې

د تاریخ صولت افغاني مؤلف لیکي. .چه میاڼ شیخ عیسیمشواني هم د دغه رسالے په جواب کښې یوه رساله لیکلے وه. هغه یئے حضرت شیخ احمد سون ته رالیږلے وه.

میا عیسی مشوانے

دغه میا عیسی د مخزن افغاني د روایت مطابق د شیر شاه سوري زمانه هم لیدلے وه. او په هغه زمانه په "داملہ" کښې اورسیده لیکن د "گلزار ابرار" د بیان نه

معلومیږي چه دے بیا روستو د وادئ سندھـ برهانپور کښې اوسیده. په دے سلسله کښې د ګلزار ابرار د مؤلف رائې څکه قوي ده. چه د ګلزار ابرار مؤلف غوثي منډوي پخپله د دے حضرت شیخ عیسی مشواني مرید وو. او هر کله چه د حضرت شیخ عیسی او حضرت شیخ احمد سون تر منځه علاوه د خط و کتابت نه بحثونه هم شویدي. نو په دے وجه د تاریخ ادیبات پښتو (صفحه۳۴) د مؤلف هغه قول صحیح نه دے چه د شیخ عیسی زمانه تر ۹۵۰هـ اندازه کؤولے شو. لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه د غوثي مانډوي د بیان نه دا معلومیږي چه روستو د حضرت شیخ احمد سون او حضرت شیخ میا عیسی تر منځه په دے مسئله باندے بحثونه هم شوي وو. هر کله چه غوثي منډوي پخپله په دغه بحثونو کښې موجود وو. په دے وجه دغه ټول بحثونه یئے د دواړو مشائیخو د دلائلو په پوره تفصیل سره پخپل کتاب "ګلزار ابرار" کښې درج کړي دي.

د صولت افغاني مؤلف لیکي چه: حضرت شیخ احمد سون علیه الرحمة په علم تصوف کښې ګنړ کتابونه اورسالے نورے هم لیکلے دي (چه اوس نایاب دي) مخکښې لیکي چه په ۱۰۳۱هـ کښې چه کله خان جهان لودهي د خان دیس نه راواپس شه. نو حضرت شیخ احمد سون د هغه نه رخصت شه خپل وطن بجوړه ته لاړ. په دغه وخت کښې د دوئ عمر مبارک د اتیا کاله وو.

د دے پورته روایت په اعبتار سره که د دوئ عمر مبارک په ۱۰۲۱هـ کښې اتیا کاله وو. نو وئیلے شو چه د دوئ ولادت به د کال ۹۳۶هـ په خواؤ شا کښے شوے وو. البته د وفات صحیح تاریخ یئے معلوم نه دے. کیدلے شي چه د ۱۰۳۰هـ په شاؤ خواؤ کښې په حق رسیدلے وي. مزار مبارک یئے په بجواړه کښې دے. علیه الرحمة.

نسبت رسول صلي الله علیه وسلم

د مخزن افغان مؤولف لیکي: چه حضرت شیخ احمد سون علیه الرحمة په قام باندے غرغشتی پښتون دے. لیکن سره د دغے د ده د نوم سره لفظ د "سید" لیکلے شي. وجه یئے دا ده چه یوه ورځ د ده والد ماجد حضرت شیخ محمد الیاس سون علیه الرحمة په خواب کښې د حضرت محمد مصطفے صلي الله علیه وسلم په زیارت او ملاقات مشرف شه. حضور نبي کریم علیه التحیة واتلسیم ورته او فرمائیل چه اے شیخ محمد! ستا ځوي احمد ځما په اولاد کښې داخل دے. سید دے. هغه ته بیا صرف شیخ احمد هرګز مه وائیے. بلکه شیخ سید احمد به ورته وائیے. چنانچه د هغه ورځے نه روستو لفظ "سید" په طور د "عطایئے رسول لقب "باندے د دوئ د نوم احمد سره لیکلے او وئیلے شي. د صوفیانو او بزرګانو په اصطلاح کښې دے خصوصي اعزاز ته "نسبت رسولؐ وئیلے شي. علیه الرحمة والغفران.

حضرت سيد پير ابراهيم بخاري

ولادت .... ملتان

وفات.................................... قبائيلي علاقه، باجوړ

(۱۰۳۳هـ)

په قبائيلي علاقه باجوړ کښې د ساداتو ګنړ خاندانونه آباد دي. لکه سادات بنور خيل، سادات مشواني. سادات تارن. سادات ترمذي (د پير بابا اولاد) سادات مکي (حاجي خيل سادات) سادات ابراهيم خي. سادات کاکاخيل. په باجوړ کښې د ترکلاني قوم مختلفې قبيلې چه په هر څومره علاقو وادی ګانو. درود او رود بار کلې آباد دې. په هغې کلې د دې قوم د کلي مقبوضه جائيداد پنځمه حصه د دې ساداتو سيرئ ده. په دې ساداتو کښې ډير لوئ لوئ عالمان او بزرګان تير شوي دي. او هر کله چه د ترکلانی قوم د ټولو قبيلو لکه ماموند سالار زاے. اسماعيل زاے. عيسی زائ خلق د عالمانو ساداتو او مشائيخو دومره قدر او احترام کوي. چه پخپل مجموعي جائيداد او ملکيت کښې روغه پنځه حصه يئې دوئ ته په طور د سيرئ ورکړے ده. نو هم د غه وجه ده. چه د دے عالمانو او بزرګانو د

فیوضاتوله برکته په دے علاقه کښې د دین اسلام عزت او حرمت له حده زیات دے. او خلق یئے په دین مئین دے. دینداره او اهل سنت والجماعة مسلمانان دي.

د قبائیلي علاقے باجوړ د ابراهیم خیلو ساداتو مؤرث اعلی حضرت شیخ المشائیخ سید ابراهیم بخاري علیه الرحمة دے. چه مقامي طور په پیر ابراهیم بابا علیه الرحمة مشهور دے. د دے د خپلے زمانے لوئ ولي الله تیر شویدے. او د دین اسلام د اشاعت او تبلیغ او د معرفت او طریقت د فیوضاتو خوږولو د پاره یئے دے علاقه ته تشریف راوړے وو. د ده شجره د نسب حضرت سید جلال الدین حسن میر سرح بخاري علیه الرحمة ته رسیږي.

مخکښې مونږه د حضرت سید جلال الدین میر سرخ بخاري علیه الرحمة په تذکره کښې په تفصیل سره بحث کړیدے. چه د دوئ د مشر ځوي نوم سید محمد غوث کبیر وو. او د دوئم ځوي نوم یئے سید سلطان احمد کبیر وو. حضرت سید جلال الدین حسین مخدوم جهانیان جهان ګشت د دغه کشر ځوي سید سلطان احمد کبیر فرزند ارجمند وو. چه مخکښې د دوئ تذکره هم په تفصیل سره بیان شوے ده. او د حضرت پیر ابراهیم بابا شجرے وضاحت داسے دے.

سید ابراهیم بخاري ابن سید عزیز الله ابن سید نور الله ثاني ابن سید فتح الله ابن سید نور الله اول. ابن سید نور

الدين بن سيد نور محمد ابن سيد ابو سعيد مبارک ابن سيد غوث ابن سيد محمد غوث. ابن سيد ابو البرکات جلال الدين حسن مير سرخ بخاري ابن سيد علي ابو المؤيد ابن سيد ابو علي جعفر ابن سيد ابو علي جعفر ابن سيد صفي الدين ابو الفتح. ابنس يد محمد. ابن سيد محمود اصغر ابن سيد احمد قتال ابو يوسف ابن سيد عبدالله ابن سيد علي اشترا بن سيد عبدالله جعفر ثاني ابن سيد امام حسين عسکري ابنس يد امام علي نقي ابن امام محمد تقي ابن امام رضا ابن امام موسي کاظم ابن امام جعفر صادق ابن امام محمد باقر ابن امام علي زين العابدين ابن سيد الشهداء امام حسين رضي الله عنهم.

مخکښې مونږ دا بحث کړے دے چه د قبائيلي علاقے باجوړ او قبائيلي علاقے مهمند په شجرو کلې د سيد عبدالله جعفر ثاني د پلار نوم سيد امام حسين عکسري بيان شوے دے. ليکن د ګوجر ګړهئ د بخاري ساداتو بيان دا دے. چه د حضرت سيد امام علي نقي درے ځامن وو. (۱) امام حسن عسکري (۲) سيد حسين (۳) جعفر ثاني. په دوئ کښې د سيد ابراهيم بخاري د مورث اعلی مير سرخ بخاري د نسب شجره حضرت سيد جعفر ثاني ته رسيږي لکه چه د حضرت سيد علي تر مذي پير بابا عليه الرحمة د نسب شجره چه حضرت امام حسن عکسري ته رسيږي. او د قبائيلي علاقے مهمند د سيد شيخ

ذکريا د نسب شجره چه حضرت سيد حسين ته رسيږي.

حضرت سيد ابراهيم قدس سره په شجره کښې د حضرت مير سرخ بخاري عليه الرحمة په يوؤلسمه پيړئ کښې نمسے دے. هر کله چه حضرت مير سرخ بخاري په ۶۹۰هـ کښې وفات شويدے. او د علم اصول تاريخ د يو روايت مطابق په يو سل کاله زمانه کښې درے کسان راتللے شي. نو په دغه حساب حضرت سيد ابراهيم د ۱۰۳۳هـ د زمانے بزرګ دے. او په تاريخي اعتبار سره حضرت پير سيد علي تر مذي پير بابا او حضرت سيد ابراهيم بابا دواړه د يوے زمانے بزرګان دي. او دواړه د حضرت شيخ سالار رومي مريدان هم دي.

د حضرت سيد پير ابراهيم بابا عليه الرحمة متعلق د باجوړ او مهمند و سيدانو د شجرو بيانونه مختلف دي. د مهمندو د شيخانو سيد انور روايت دا دے. چه دے د باجوړ قبائيلي علاقے ته د غزني نه راغلے دے. او د باجوړ د پير ابراهيم خيلو سيد انور خيل صحيح روايت دا دے. چه دے د ملتان نه د موجوده ضلع کيمبلپور چچ نومے علاقے ته او بيا د هغه ځاي نه دد باجوړ د ماموندو علاقے ته راغلے وو. دلته آباد شوے وو. او هم دلته وفات شويدے. او مزار مبارک يئے د ماموندو په علاقه کلي په وادئ چارمنګ کښې د کوټکي نومے کلي خواته دے. د ولادت او دفات دواړه صحيح تاريخونه يئے تر دے وخته پورے راته معلوم شوي نه

دي. البته زمانه يئے هم هغه ۱۰۳۳هـ د خواؤ شا ده. او په ۱۰۰۴هـ کښې باجوړ ته راغلے دے.

د باجوړ د پير ابراهيم خيلو ساداتو روايت دے چه دحضرت سيد پير ابراهيم د ځوي نوم سيد اسماعيل وو چه د هغه دوه ببيانے دے. يوه د پير بابا لور وه.د هغے نه يئے دوه ځامن پيدا شوي وو.

(۱) ميا نور محمد چه مزار مبارک يئے په باجوړ وادئ بابو قره موضع چورک کښې دے. په چورک بابا ياديږي.

(۲) دوئم ميا شاه نور چه زيارت يئے د بابو قره په ډانډو کئ نومے کلي کښې دے.

د سيد اسماعيل دويمه بي بي په قام مامونده پښتنه وه. د هغے نه يئے يو ځوئ پيدا شوے وو. سيد جلال عليه الرحمة. دے پخپل ژوند کښې د علاقه چارمنګ نه وادئ جندول ته راغلے وو. دلته آباد شوے او ورپسے روستو دلته وفات شوے وو. په تاريخي اعتباره سره د ۱۰۸۹هـ د زمانے بزرګ دے. د ده مزار مبارک د وادئ جندول په دره شالکنډئ موضع چنګنړ کښې دے. د حضرت سيد جلال درے ځامن وو.

(۱) د يو ځوي زيارت د ټاکره سره نزدے په موضع "ډوپ" کښې دے.

(۲) د دویم ځوي زیارت په دره شالکنډئ موضع "ګودر" کښې دے.

(۳) دریم ځوي سید مشهور نوم وو. د ده زیارت د درۀ شالکنډئ په موضع چنګنړ کښې د پلار د مزار سره یو ځاي دے.

روستو د میا مشهور ځوي وو میا نشان، د هغه ځوي وو. میر سید د هغه ځوي وو سید شمال بیا د هغه ځوي وو سید غلام تر دے پنځم پشت پورے د ساداتو دا خاندان د باجوړ په جندول نومے علاقه کلے اوسیده. او د دوئ ټولو پنځه واړو زیارتونه په دره شالکنډئ کلې دي. چه اولاد یئے نن ورځے په دے لاندینو کلو کښې آباد دے. ګودر، شیخجئ. ډوپ. بازارک. شداس بغرئ. مولي. ډپکئ. ډینګي سار وغیره (دلته دا یادلرل پکار دي. چه بغرئ مولے نومے دواړه کلي د وادئ میدان په دره انګوړئ کښې دي. او د بغرئ کلي نوم نن ورځے په چنار کوټ باندے بدل کړے شویدے.)

د ۱۲۵۴هـ په شاؤ خوا کښې د حضرت سید غلام محمد علیه الرحمة ځوي سید جمدر د وادئ جندول نه د وادئ میدان چنارکوټ نومے ځاي ته راغے. او دلته آباد شه. د ۱۲۸۷هـ په شا او خوا کښې وفات شوے دے. او مزار مبارک یئے په چنار کوټ کښې دے. د دۀ د ځوي نوم سید ابو الحسن وو. او د هغه نه یئے د اولاد سلسله پاتے وه. چه سید جعفر نوم ځوي په اوس ژوندے دے.

په مجموعي اعتبار د بخاري ساداتو د ابراهيم خيل خاندان سيدان د باجوړ په علاقه مامونډ. بابو قره. جندول. ميدان. برول. رودبار. او چار منګ کښې آباد دي. د شريعت او طريقت سجاده نشين خاندان دے. او د دے علاقے د ديني او روحاني رهنمايئے په سلسله کښې يوه مبارکه کورنئ ده.

د بابر. همايون او د اکبر د حکومت په ابتدائ ورځو کلے چه باجوړ د مغليه حکمرانانو په قبضه کښې وو. نو په باجوړ يو سالانه خراج مقرر وو. د حضرت سيد ابراهيم بخاري عليه الرحمة په زمانه کښې چه د شهنشاه اکبر امير زين خان کوکه باجوړ د وباره رعيت کړ. نو د حضرت سيد ابراهيم عليه الرحمة له يئې په ۱۰۰۴هـ کښې د يو فرمان په ذضريعه د علاقه باجوړ خراج په جاګير کلې ورکړ. د شهنشاه جلال الدين اکبر دغه تاريخي فرمان چه د ابو الفضل علامي د ستخط هم پرے موجود دے. د حضرت سيد ابراهيم بخاري عليه الرحمة د خاندان سره موجود وو. چه د تانبے په يوه لويه تختئ کنده شوے ليک وو. د دے نه هم معلوميږي چه د باجوړ د قبائيلو د پاره د دےساداتو د مبارک خاندان وجود ځومره د برکت باعث وو. عليهم الرحمة والغفران.

بسم الله الرحمن الرحيم

شهنشاه عبدالاکبر (۹۷۳هـ)

در ۱۰۰۴هــ بـاجوړ سیـد ابـراهیم ولـد سیـد عزیـز الـلـه رانـجشیـدم وجه آن بـووکـه من بـیـمـار بـووم. ورآن رحمت اواز مـلـتـان آمـدو دعـا از بـرائـے من بـخـواسـت وو دعـائـے او خداونـد کـریـم قـبـول کـرد. ازان وقـت مـراصحت شده ازیـن سبـب من بـاجـور اورانـجیـژم. از دریـائـے کـسز تـا دریـاءے پـنـجکوره وازبـیـابـان لـکړه تـا از غـار ګـنـورمـن او انـجشدم.

جلال الـدیـن اکـبـر شـاه. ولـد نـصیـر الـدیـن همـایـون ولـد ظهیـر الـدیـن بـابـر بـادشـاه

سیـد ابـراهیـم مـلـتـافـي ولـد عزیـز الـلـه ولـد سیـد نـور الـلـه الـراقـم مفـتـي ابـو الـفـاضل

حضرت مولانا شیخ عبدالوهاب

المعروف اخون پنجو بابا علیه الرحمة

ولادت .... تره کئي ضلع مردان ۹۳۷هـ

وفات .... اکبر پوره ضلع پشاور ۱۰۴۰هـ

حضرت مولانا شیخ قدوة العلماء والعارفین عبدالوهاب المعروف په اخون پنجو بابا علیه الرحمة د اکبر پورے د وادئ پیښور یو مشهور عالم او روحاني شخصیت تیر شوےدے. چه د شمال مغربي پاکستان په اولیائے کرامو کښې ډیر اوچت مقام ورته حاصل دے. په ۹۳۷هـ کښې پیدا شوے او په ۱۰۴۰هـ کښې د ۱۰۳کالو په عمر وفات شویدے. علیه الرحمة والغفران.

څما د مطالعے او معلوماتو مطابق د دوئ حالات په لاندینو کتابونو کښې ذکر شوي دي. تذکرة الابرار. آئین اکبري. مناقب د شیخ عبدالوهاب. چه په دے نوم ګڼرو کسانو کتابونه لیکي دي. مثلاً (۱) تالیف د اخوند سالاک (۲) تالیف د شیخ عبدالغفور (۳) تالیف د شیخ میا علي (۴) تالیف د ملا خاکي (۵) او تالیف د میا بادشاه. سلوک

الغزاة. آئینه تصوف . بیاض د میا غلام صدیق. بیاض د میا ابو حامد تحفة الولیاء. د پښتو د ادب تاریخ. پښتانه شاعران تذکره شیخ رحمکار. تاریخ یوسفزائے. مشایخ و علماء سرحد.

دلته اول د تحفة الولیاء په روایت د مولانا عبدالوهاب حالات په اختصار سره درج کوؤ ځکه چه د دے کتاب په بیان کښې بعض داسے تاریخي نکتے دي چه د هغے وضاحت او د نورو تذکرو د بیانونو سره یئے تطبیق ضروري دے. ورپسے په دغه پورته ذکر شوؤ ټولو کتابونو. او دهغے د بیانونو په تاریخي پس منظر باندے یوه تاریخي او تحقیقي تبصره درج کوؤل مناسب ګنړو. چه د دے مشهور و نامور عالم او روحاني پیشوا. د قومیت. زمانے علمي او روحاني کار نامو او د هغے د پس منظرپه حقله په معلومات وکښې زیاتوالے اوشي.

د تحفة الاولیاء بیان داسے دے چه:

د حضرت مولانا عبدالوهاب د والد ماجد نوم سید غازي بابا نو سلجامي وو. او په نسب حسیني سید وو. د دوئ مشران د عربو د ملک نه راغلي وو. او د رو هیلکنډ په سنبهل نومے علاقه کښې آباد شوي وو. (سنبهل په هندوستان کښې دروهیل کنډ په علاقه د مراد آباد ښهر سره نزدے د یو مشهور مقام نوم دے. چه د تاریخ په تولو کتابونو کښې پر سرکار سنبهل سره یاد شوے دے. په آئین اکبري کښې د "خدیو نشاتین"

په عنوان سره د دوئ ذکر په "شیخ پنجو سنبهلي نامه سره شوے دے) د خد یو نشاتین معنے ده سردار د تیرو شوؤ او راتلونکو دواړو ټولګو د عالمانو او عارفانو. او صاحبان د دین او دنیا او خاوندان د ظاهر او باطن:

په ۹۳۲هـ کښې چه د بابر مغولي د لاس نه د لودهي خاندان حکومت زوال بیاموندہ نو د دوئ والد محترم سید غازي بابا د چچ هزارے په لاره د یوسفزو علاقے ته راغے او په موضع تره کئ تحصیل صوابئ ضلع مردان کلي استوګن شه (دا کلے د موضع یار حسین نه جنوب مشرق طرف ته واقع دے. او نن ورځے په ګجوانو ډهرئ یادیږي. د خان ګجو قبر هم دغلته دے) د تره کئ د قیام په ورځو کښې سید غازي بابا د مولانا محمد صالح علیه الرحمة المعروف په دیوانه بابا د ترور سره واده اوکړ. او هم په دغه موضع کښې په ۹۴۵هـ کښې یئے نارینه فرزند پیدا شه. عبدالوهاب نوم یئے پرے کیښوده چه روستو په اخون پنجو بابا مشهور شه.

په هغه زمانه د یو سفزو په علاقه د خان ګجو خاني او سرداري وه. خان موصوف خوب اولیده چه ډیر سخت باران شویدے. ملک سر سبز او شاداب شه. او د دے رحمت نزول د یو ماشوم له برکته اوشه. چه نن شپه په دے کلي کښې پیدا شوے دے. او د هغه نوم عبدالوهاب دے. خان چه صباله د خوب نه بیدار شه. که څه ګوري رشتیا باران شوے

وو. ډیر زیات خوشحاله شه. ځکه چه د دغه نه وړاندے سخته سوکړه وه. او د خدائ مخلوق د خشک سیالئ نه په هلاکت کښې ګیر وو. چنانچه سحروختي یئے وینځه اولیږدله. کور په کور یئے تپوسونه اوکړل. معلومه شوله چه د سید غازي په کور کښې نارینه فرزند پیدا شوے دے. خان سمدستي راروان شه او د دے بختور ماشوم لیدلو له راغے.

په هغه زمانه د دے علاقےد خلقو دا رسم وو. چه د کلي او کندي ځلمی به را غونډ شول. د چاکره چه به نارینه فرزند پیدا شوے وو. د هغه په کوځه کښې به یئے ډرے کوؤلے. خوشحالي به یئے کووله. او د صحبت په طور پنځه روپئ به يءے ترینه غوښتلے. هر کله چه د سید غازي بابا نه هم د کلي ځلمو د صحبت د پاره د پنځه روپو مطالبه اوکړله. او د هغوئ سره دغه رقم موجود نه وو. نو پریشانه شول. لیکن هم په دغه حال کښې یو مجذوب فقیر راغے. حضرت غازي بابا له یئے د دے بختور ځوي په پیدا کیدلو مبارکی ورکړه. د دے ماشوم دیدار یئے اوکړ. او یوه اشرفئ یئے د دوئ په خدمت کښې نذر کړله. چه سید غازي هغه د کلي ځلمو له په صحبت کښې ورکړله. بیا چه خان ګجو د دے ټولے واقعے نه خبر شه. نو حکم یئے اوکړ. او د صحبت غوښتلو دا رسم یئے په ټول علاقه کښې بند کړ. (په دے خیال چه د دیو سړي به نارینه فرزند پیدا شوے وي. د حجرے ځلمي به ترینه صحبت غواړي. دهغه به وس نه رسیږي. دوئ به یئے تنګوي. او په دےشان به د ځوي د پلار زړهٔ

ته دړد او تکلیف رسیږي) چناچنه د دغه ۹۴۵هـ نه راپه روستو تر نن ورځے پورے د یو سفزو په علاقه کښې دغه رسم ختم شویدے.

رضواني مخکښې لیکي:

سید غازي بابا په ترکئ کښې څو کلونه تیرولو نه پس اراده اوکړله. چه د دے ځاي نه کډة کول پکار دي. وجه یئے دا ده. چه په دغه زمانه یوسفزے اولس ټول باغیان وو. ځکه چه تعلق یئے د مغل حکمرانانو سره لولو. او دست پرورده د بابر او همایون وو. او هم په دغه ورځو کښې هر کله چه د شیر شاه سوري د لاس نه همایون د هندوستان نه اوکښلے شوے وو. او د هغه په ځفاي شیر شاه سوري د هند بادشاه شوے وو. او ګجو خان نومے سردار د اولس یوسفزی د شیر شاه سوری نه باغي وو. په دغه وجه مولانا سید غازي په ۹۵۸هـ کښې په زمانه د سلطنت د اسلام شاه کلې د یو سفزو د علاقے نه د پیښور علاقے ته په کډه رارروان شه. دا خاندان په دے افردو مشتمل وو. سید غازي د ده خپل والد ماجد د سید غازي ټبر او دوه ماشومان یو عبدالوهاب چه په دغه نیټه د څوالرس کالو په عمر وو. او دویم د عدبالوهاب کشر رور. د علي محمد په ګدر (موجوده د مؤمن خان ډهیرئ ګدر) راپورے وتل. د مصري پورے په مقام یئے کډه واړه وله. (کوم ځاي کښې چه نن ورځے د اخون پنجو بابا مزار مبارک دے، د دے زوړ نوم مصري پوره وو. د اکبر پورے موجوده کلے لا په دغه نیټه (۹۵۸هـ) نه وو جوړ شوے.)

څاروي او مال چه ورسره وو. هغه به یئے د دے ځائے په ورشو کښې ساتل.

په دغه زمانه چه سید غازي مصري پورے ته راغے. د همایون رور مرزاکامران په پښاور ښهر قبضه کرے وه. او د قبیله داؤدزی خلق یئے کومکیان وو. هر کله چه د مصري پوره پوره (حال اکبر پوره) علاقه هم د قبیله داؤدزی په عملدارئ کښې وه. په دے وجه مولانا سید غازي د دغه ځائ نه هم کډه اوکړه. د پښاور ښهر خواته نزدے چوهاګو جرنومے کلي ته راغے. دلته یئے د کلي خواته ځان له دوه درے سپرونه جوړکړل. مال مویشي به یئے ساتل او په هغے به یئے خپله ګذاره کوؤله.

رضواني مخکلې لیکي:

هر کله چه مولانا غازي بابا په موضع چوهاګو جر کښې استوګن شه. نو دغلته یو لوئ عالم وو. چه جامع د علومو او فنونو وو. خپل ځوي عبدالوهاب یئے هغه ته د تعلیم او تربیت د پاره څواله کړ. څۀ موده یئے د هغوئ سره علم حاصل کړ. بیا د دے ځاي نه د علم په طلب کښې هندوستان ته لاړ. او په رو هیلکنډ کښې دیره شه په دغه وجه په بعض پښتو اشعارو کښې د ده نوم افغاني نو سلجامي لیکلے شویدے لکه په دے شعر کښې

پس له ده نه ابوالفتح لاچاني دے پس
له ده اخون پنجونو سلجامي دے

(نو سلجام د هند ديو پخواني مقام نوم دے.) په هند کښې د څه زمانه تيرولو نه پس بيا خپل کلي چوهاګجر ته راغے. د حضرت غازي بابا والد ماجد هم د چوهاګر د قيام په په دوران کښې په حق اورسيده. او هم دغلته دفن کړے شه. په دے کلي کښې تقريبا ديرش کاله زمانے تيرولو نه پس (۹۵۸هـ تر ۹۸۸هـ) په ۹۸۹هـ کښې د پشاور ښهر د قلعه سر متصل شمالمغرب طرف ته شاه ډهنډ نومے مقام ته راغے (دا مقام د موجوده بالا حصار پيښور نه مغرب طرف ته په ژوره کښې دے. او نن ورځے د جبے په نوم ياديږي) غازي بابا او د هغه ټبر دواړه هم په دغه کال (۹۸۹هـ) دغلته وفات شول. او هم دغلته (د بالا حصار نه مغرب طرف ته په ژوره کښې) يئے مزارونه جوړ شول.

د والد د وفات نه روستو (په ۹۹۰هـ) کښې مولانا عبدالوهاب سره د خپل کشر رور نه اکبر پورے ته راغے. او دلته يئے د علمي دينونو په په درس او تدريس. تصنيف او تاليف او د دين اسلام په تبليغ کښې ژوند تيره ول شروع کړل. د خدائ بے شميره مخلوق ته ترينه فيض اورسيده. او تقريبا درے سوه کسانو د دوئ نه په ديني علومونو کښې فيض حاصل کړے دے. او درجے د فضيلت ته يئے رسوؤلي وو.

د تحفة الاولياء مؤلف ليکي: (صفحه ۱۶)

چه په کال ۹۹۳هـ کښې د حضرت شیخ جلال الدین محمود الفاروق تهانیسري مشهور مرید حضرت شیخ ابو الفتح کماچي علیه الرحمة وادئ پیښور ته تشریف روړے وو. په مقام د اکبر پوره یئے د دوئ سره ملاقات اوشه. او په سلسله صابریه چشتیه کښې یئے دوئ ته خلافت عطا کړ. دا هغه زمانه وه. چه د دے نه څلور کاله وړاندے په کال ۹۸۹هـ کښې حضرت شیخ جلال الدین محمود الفاروق تهانیسري وفات شوے وو. او د دغے نه دوه کاله وړاندے په ۹۹۱هـ کښې پیر سید علي تر مذي په حق رسیدلے وو. او هم په دے کال مرزا امحمد حکیم والي کابل وفات شوے وو. شهنشاه اکبر پیښور ته راغے وو. اوزین خان کوکه په علاقه د سوات او باجوړ لښکر کشي کړے وه.

په وادئ پیښور بلکه ټول مغربي پاکستان کښې حضرت مولانا شیخ عبدالوهاب علیه الرحمة د سلسله عالیه چشتیه صابریه په مشاهیرو بزرګانو کښې دے. د سید علي ترمذي پیر بابا طریقه هم چشتیه وه. لیکن هغه د نظامیه سلسلے شاخ وو. په سلسله عالیه صابریه کښې د مولانا عبدالوهاب علیه الرحمة نه د وادئ پیښور لویو لویو عالمانو فیض موندلے دے. (چه روستو به یئے ذکر راشي) صابریه طریقه د ډیرو سختو مجاهدو او ګرانو اعمالو او و ظائفو طریقه ده. او هم په دغه وجه یئے فیوضات هم ډیر زیات دي. او حقه خبره دا ده. چه د حضرت مولانا شیخ عبدالوهاب اخوند پنجو

بابا علیه الرحمة نه چه کوم فیوضات خواره شوي دي. هغه مثال نه لري. علیه الرحمة والغفران.

تاریخي او تحقیقي جائزه

د حضرت مولانا عبدالوهاب علیه الرحمة د ژوند پحقله دا مختصر تذکره چه مخکښې درج کړلے شوه. دا د قاضي میر احمد شاه رضواني د کتاب تحفة الاولیاء (زمانه تالیف ۱۳۲۱هـ) د بیان خلاصه ده. مخکښې مونږ د دے کتاب نه علاوه د شپاړس نورو کتابونو یو فهرست درج کړے دے. په کومو کښې چه د دوئ ذکر موجوده دے. اوس مونږ له دا کتل پکار دي. چه د رضواني مرحوم دا بیان د چاپه استناد او حواله بناء دے. په دے کښې کومے داسے نکتے دي چه هغه په تاریخي طور سره ډیر اهمے دي. لیکن چونکه وضاحت ئے نه دے شوے. نو روستو د هغے نه غلطے نتیجے اخیستے شوے دي.او مشکلات یئے پیدا کړي دي. او کومے داسے نکتے دي چه هغه په تاریخي لحاظ سره غلطے دي. او بله دا چه در ضواني مرحوم نه د مخکښې زمانے نورو تاریخي تذکرو روایات څه دي. او صحیح حقیقت څه دے. په دے خبرو د پوهیدلو د پاره دا ضروري ده. چه مونږ اول د هغه ټولو کتابونو پیژند ګلو او کړو. په کومو کلې چه د مولانا عبدالوهاب ذکر راغلے دے. او بیا دهغے په مندرجاتو بحث اوکړو. او دا بحث ځکه ضروري دے. چه ځمونږ اکثر مناقب لیکونکي اصحاب بنیادي طور مؤورخان نه دي. روایات یئے راجمع

کړي دي. لیکن د هغې تاریخي ربط اوپس منظور یئې په خیال کښې نه وې ساتلې. او بله دا چه د عقیدتمندئ په وجه زیات زور یئې د یو بزرګ د کشف او کرامت د واقعاتو بیان له ورکړې وي. کوشش یئې دا وي چه هر څومره ممکن کیدلې شي چه د زیارت نه زیارت د بزرګئ واقعات خپل ممدوح ته منسوب کړلې شي. په دې طریقه د واقعاتو او حقائقو اصلي شکل مسخ شي. او په غلط رنګ کښې پیش شي. د رضواني په دې بیان کښې هم یو دوه داسې ځایونه موجود دي چه روستو به ورته اشاره اوکړو. کتابونه دا دي.

(۱) د حضرت مولانا عبدالوهاب د تزکرې په سلسله کښې د ټولونه اولنې کتاب د اخوندرویزه کتاب "تذکرة الابرار" (زمانه تالیف ۱۰۲۱هـ) دې. چه په دغه نیټه مونا عبدالوهاب اخون پنجو بابا (متوفي ۱۰۴۰هـ) لا شوندې وو. او په دې لحاظ دا یو معاصرانه شهادت دې.

(۲) دوئم کتاب آئین اکبر تالیف د ابو الفضل دې. چه د دې یو حواله په تحفة الاولیاء کښې نقل شوې ده.

(۳) مناقب شیخ عبدالوهاب. د اخوند سالاک متوفي (۱۰۶۷هـ) دې. اخوند سالاک د حضرت اخون پنجو بابا

مشهور مرید دے. دا کتاب اوس نه پیدا کیږي.

(۴) "سلوک الغزات" د اخون سالاک د مشهور مرید ملا مست تالیف دے. د دے یوه نسخه د افغانستان "پښتو ټولنه" په کتب خانه کښې ده.

(۵) مناقب شیخ عبدالوهاب تالیف د شیخ عبدالغفور عباسي المعروف په بوډا بابا د پیارئ شغارئ علاقه داؤدزائ. چه دے هم د مولانا عبدالوهاب مرید وو. دا کتاب هم نه پیدا کیږي.

(۶) مناقب شیخ عبدالوهاب. تالیف د میان شیخ علي مامون زي د شیر پاؤهشنغر. دے هم د حضرت اخون پنجو بابا مرید وو. دا کتاب هم اوس نه پیدا کیږي.

(۷) مناقب شیخ تالیف د ملا خاکي (۱۱۹۸هـ) منظوم فارسی. د شیخ میا علي مناقب په فارسی نثر کښې وو هغ یئے په فارسی نظم کړے دے.

(۸) مناقب شیخ تالیف د میا بادشاه د ملا خاکي منظوم فارسي کتاب یئے پ پښتو ژبه نظم کړے دے.

(۹) آئینه تصوف تالیف د حضرت شاه محمد حسن رامپوري (زمانه تالیف ۱۲۳۲هـ).

(۱۰) بیاض د میا غلام صدیق قلمي (۱۲۸۴هـ)

(۱۱) بیاض د میا ابو حامد قلمي (۱۳۰۰هـ)

(۱۲) تحفة الاولیاء تالیف د قاضي میر احمد شاه رضواني د اکبر پورے (زمانه تالیف ۱۳۲۱هـ) د دے کتاب لوئ ماخزونه د ملا خاکي و میا بادشاه منظوم فارسی او پښتو مناقب دي. او ځنے ذاتي روایات دي. رضواني دا هم لیکي چه د میا بادشاه د منظوم مناقب اکثر واقعات غلط دي.

(۱۳) د پښتو د ادب تاریخ. تارلیف د صدیق الله رشتین. د دے کتاب ماخذونه "سلوک الغزات" تالیف د ملامست او تذکرة الا برار د اخندرویزه دي.

(۱۴) "پښتانه شاعران" او "پښتانه مؤورخان" تالیف ځما عبدالحلیم اثر. ځما ماخذونه د میا غلام صدیق او میا اوبو حامد قلمي بیاضونه او تذکرة الابرار او

نور مختلف تاريخي ياداداشتو نه دي چه روستو به پرے بحث راشي.

(۱۵) تذکرۀ شيخ رحمکار. تاليف د مياں سياح الدين کاکا خيل.

(۱۶) تذکرۀ علماء و مشائيخ سرحد. تاليف د سيد امير شاه ګيلاني.

د دے دواړو کتابونو لوئ ماخذ د رضواني کتاب تحفة الاولياء دے. تاريخ يو سفزائے. تاليف د الله بخش يوسفي. د ده لوئ ماخذ بعض روايتونه دي چه هم په تاريخي لحاظ سره غلط دي.

حقيقت څه دے؟

مناسب معلوميږي چه د دے اهم روحاني شخصيت په حقله بعض تاريخي واقعات او حقاءق په تفصيل سره پيش کړے شي. او دا معلومه کړلے شي چه حقيقت څه دے؟ په دے سلسله کښې د دوئ د قوميت د والد ماجد د نوم او وادئ پيښور ته د دوئ د راتللو په باب کښې معلومات په ترتيب سره بيان کړو. او ورسره ورسره چه په مختلفو تذکرو کښې کوم بيانونه صحيح نه دي هغه هم په نخښه کړو. چه فائده يئے عامه شي.

د تحفة اولياء د مؤلف رضواني مرحوم کوم بيان چه مخکښې تير شوے دے. په هغے کښې يو څو نکتے داسے دي. چه فاضل مؤلف يئے وضاحت نه دے کړے مثلاً.

(الف) ليکي: د مولانا عبدالوهاب د والد ماجد نوم سيد غازي بابا نو سلجامي وو". ظاهره ده چه غازي بابا د مولانا عبدالوهاب د پلار لقب کيدلے شي. اسم محضه يئے نه شي کيدلے. او سوال پيدا کيږي چه د دوئ اسم محضه څه وو...؟

(ب) ليکي: سيد غازي بابا په نسب حسيني سيد وو. د دوئ مشران د عربونه راغلي وو. او د روهيلکنډ په سنبهل کښې آباد شوي وو. دا درے خبرے شوے. او رضواني مرحوم دانه ده ښودلے چه:

(۱) حضرت سيد غازي بابا په حسيني ساداتو کښې د کوم خاندان وو.؟

(۲) په څو يم پشت کښې مشر نيکه يئے د عربو نه راغلے وو.؟

(۳) په څويم پشت کښې نيکه يئے په روهيلکنډ کښې آباد شوے وو.؟

دا درے واړه سوالونه ځکه حل کول پکار وو. چه د دے په رنړا کښې دا معلومول آسانيدلے شي. چه سيد غازي بابا هر کله د هند نه د يوسفزو علاقے ته تشريف راوړلو نو آخر په کوم يو مناسبت دلته راغلے وو. بيا د يوسفزو په علاقه کښې چه يئے قرار او نه موندلونو په کوم مناسبت

پيښور ته يئے تشريف وړے وو.؟ او دا سوالونه څکه پيدا کيږي چه بنيادي طور د پښتنو د بيلے بيلے قبيلے سره د ساداتو بيله بيله او مخصوصه کورنئ تړلے ده. چه د حضرت سيد غازي بابا د خاندان تعين اوشي. نو د دغے نه د يو سفزو علاقے ته د دوئ د راتللو مسئله په آسانه حل کيدلے شي.

(ج) ليکي: حضرت مولانا عبدالوهاب ته اخون پنجو څکه وائي چه دوي به په خپل تبليغ کښې زيارت زور په پنج بناء د اسلام باندے محکم پاتے کيدلو له ورکؤلو. ليکن دا توجيهه عجيبه څکه ده. چه آخر هغه کوم يو بزرگ او روحاني پيشوا دے چه هغه په پنج بناء د اسلام باندے په کلکه سره د عمل کولو وعظ او نصيحت نه کوي. ظاهر ده چه د دے لقب "اخون پنجو" وجه څه نور ده.

پورته چه کومے نکتے بيان شولے د دے د وضاحت د پاره د تذکرة الا برار صفحه نمبر۱۰۷ و او نمبر۱۵۹ بيانونه او د ميان غلام صديق مرحوم او ميا ابو حامد مرحوم د بياضونو د بيانونو يوه تقابلي مطالعه کول پکار دي.

(۱) اخون درويزه بابا فرمائي: (تذکرة الا برار صفحه ۱۵۹) د وادئ پيښور. سمه. سوات د ا

ملکونه د سلاطین سوات په قبضه کښې وو. بیا پرے د شلماني قوم دوران راغے. بیا پرے د دلازاک قبیلے دوران راغے. او د هغه نه روستو پرے دخشي او غري په قبیلو کښې د یو سفزو وغیره قومونه قبضه راغله. د اخوند رویزه دا بیان په تاریخي لحاظ سره ډیر اهم دے. تر نن ورځے پورے چه کومو مؤورخانو د وادئ پیښور تاریخونه لیکلي دي. هغوئ په دے ملک د سلاطینو د خاندان او قوم په تفصیل سره ذکر نه دے کړے. چه دا څوک وو. آیا دا سلاطین ټول د یو قوم خلق وو. اخوندروزه پخپل کتاب تذکره الابرار کښې په مختلفو ځایونون کښې د سلاطینو د مختلفو خاندانونو ذکر کړے دے. د مثال په طور په صفحه۱۰۷ لیکي. چه اسلطان بهرام او سلطان فکهل (پکهل چه د ضلع هزاره پکهلي نومے علاقه د ده نوم ته منسوبه ده) دا دواړه رونړه وو. او د "سلطانان پنج" د خاندان ځنے وو. روست وپه صفحه۱۱۳ یئے چه کوم تفصیل درج کړیدے (د خپلے والدے ماجدے د شجره نسب په سلسله کښې) د هغے نه معلومیږي چه دغه سلطان بهرام او سلطان

فکهل د واړو د ۷۰۰هـ د زمانے سره تعلق لرلو.

(۲) پورته د اخون درویزه په بیان کښې د "سلطانان پنج" د خاندان فقط د دوه سلطانانو یعنے سلطان بهرام او سلطان پکهل نومونه راغلي دي. ظاهره ده چه د سلطانانو کوم پنځه خاندانونه وو. دا په هغے کښې دوه خاندانونه شول چه نور درے خاندانونه کوم وو. په تاریخونو کښې چه وادئ پیښورته د یو سفزو وغیره قبائیلو د راشریک کیدلو ذکر راغلے دے. ورسره دا بیان هم کیږي چه په هغه زمانه په پیښور ښهر. چارسده. چکدره. سوات کښې یو څو سلطانان وو. لکه سلطان هنده. سلطان اویس. چه د هغه په قوم تاجک وو. د دے نه د "سلطانان پنج" د خاندان د یوے بلے کورنئ پته لګیږي.

(۳) د بلوچستان په پخواني تاریخ کښې د سلطان ارغون ذکر موجود دے. چه دغه سلطان اوغون هم د دے "پنج" خاندان په سلطانانو کښې وو. او د ۸۰۰هـ په شا او خوا کښې په قندهار حکمران وو. او د کوئټه ډویژن په سبی باندے حمله کړے وه. د دے سلطان ارغون په حقله د زیاتي تحقیقي په

سلسله کښي د میا غلام صدیق مرحوم د بیاض د مطالعے نه چه کوم معلومات په لاس راغلي دي. هغه دا دي. چه غلام صدیق یو فاضل عالم او ادیب وو. د ۱۲۸۴هـ په شاو خوا کښي د پیښور ښهر په بالا مانړۍ کښي اوسیده د یو عربي کتاب حصن حضین تالیف د محمد ابن جوزري الشافعي په آخر کښي یئے خپله شجره د نسب داسے درج کړے ده.

د سلطان ارغش (ارغوش) درے ځامن وو. جان شاه. طوغاشاه. عبدالله (اودل شاه) په دوئ کښي د اودل شاه (عبدالله) دوه ځامن وجو. بوړا بابا مصحت خان (صفحان خان) په دوئ کښي بیا د مصحف خان شپږ ځامن وو. ایاز خان، خواص خان، احسن خان، نبي خان. اجا خان. سلطان غازي بابا. په دوئ کښي د سلطان غازي بابا دوه ځامن وو. عبدالرحیم عبدالوهاب (اخون پنجو بابا) په دے پسے غلام صدیق خپله شجره د نسب داسے درج کړے ده. غلام صدیق ولد محمدجي ولد محمد عظیم ولد نشان بابا ولد عبدالرحمان بابا ولد تختي بابا ولد جان بیک بابا ولد احسن خان بابا علیهم الرحمة.

د میا غلام صدیق په دے شجره چه مونږه زیاتي غور اوکړونو معلومیږي چه هغه سلطان چه د سلطان ارغون په نامه د بلوچستان په تاریخونو کښي یاد شویدے. او

د دغه سلطان چه د ارغش او ارغوش په نومونو سره د میان غلام صدیق په بیاض کښې درج دے. دا درے واړه په حقیقت کښې د یو سړي نومونه دي. چه په تاریخي لحاظ سره د ۸۰۰هـ د خواؤ شا زمانے سړے دے. او بله دا چه ارغش. ارغوش ارغون په حقیقت کښې د دے سلطان نوم نه دے. بلکه دا دیو کلي. یو کوهستان او یوے علاقے نوم دے. ارغش د قند هار په صوبه کښې د ۵۵ کیلومیټره په فاصله د قلات غلزاے نه جنوب مغرب طرف ته واقع دے. او هم د دغه قندهار په علاقه کښې د چهل خانه نومے کلي نه جنوب طرف ته په دهله نومے علاقه کښې د یو غر نوم هم ارغش دے. او ارغون یا ارغوان هم د خاشرود او بکوا په علاقه کښې د قندهارا او فراه تر منځه د یو غرئیز مقام نوم دے. په دے اعتبار د سلطان ارغش معنے ده دا رغش نومے علاقے سلطان".

ځمونږ د دے بیان نه دا یو څو نتیجے په لاس راځي. یوه دا چه سلطان ارغش په حقیقت کښې نسبتي نوم دے. لکه سلطان پیښور. سلطان سوات وغیره شول. او اسم محضه نه دے. بله دا چه د سلطان ارغش دا خاندان د "سلطان پنج" (پنځه) سلطانانو په کورنئ کښې د سلطانانو یوه بله کورنئ ده. چه د ۸۰۰هـ په شاؤ خوا کښې د فراه. قندهار او بلوچستان په علاقه کښې یئے حکومت کؤلو. او بله دا چه حضرت مولانا عبدالوهاب هر کله چه د دغه "سلطانان پنج" د خاندان ځنے وو. ځکه ورته اخون

پنجو بابا" وائي. او د دے لقب کومه وجه تسمیه چه رضواني مرحوم بیان کړے ده هغه صحیح نه ده.

د میا غلام صدیق د دے بیان نه دا خو معلومه شوه چه د حضرت اخون پنجو بابا د والد ماجد نوم سلطان غازي بابا وو. او په پنځمه پیړئ کښې د نیکه نوم یئے سلطان ارغش وو. لیکن څرنګ چه مونړ مخکښې هم ورته اشاره کړیده. ظاهره ده. چه دا د دوئ القاب دي. اصلي نومونه یئے نه شي کیدلے. سوال دا پاتے کیده چه اصلي نومونه یئے څه دي. او بله دا چه د سلطانانو دا خاندان په اصل باندے په قام څوک دي. ځکه چه رضواني مرحوم تصریح کړیده چه حضرت اخون پنجو بابا په قام حسیني سید دے. نو چه ځمونږ د دے پورته ذکر شوؤ معلومات سره د رضواني مرحوم د بیان تطبیق څرنګ راتللے شي. که فکر اوکړو دا یو اهم سوال دے. لیکن د میا ابو حامد مرحوم د قلمي بیاض نه چه کوم معلومات ماته په لاس راغلي دي. د هغے په ذریعه حل کیدلے شي. موصوف د حضرت مولانا عبدالوهاب شجره داسے بیان کړیده.

مولانا سید عبدالوهاب ابن مولانا سید برهان الیدن ابن سید عبدالمالک ابن سید شمس الدین عبدالله ابن سید ابراهیم ابن سید جلال الدین ابن سید محمد حسین ابن اسحاق ابن احمد ابن محمود ابن اسعد ابن علي ابن هر مزابن مروان ابن قرا ابن سید محمد طاهر الملقب په تارن علیهم الرحمة

ابن سید ناصار ابن علاء الدین. ابن قطب الدین ابن داؤد ابن سلطان کبیرا بن شمس الدین ابن احمد ابن سید علي رفاعي ابن حسن ابن محمد ابن سید جواد ابن سید امام علي رضا ابن سید امام موسی کاظم ابن الا مام الهمام جعفر صادق ابن امام محمد باقر ابن امام زین العابدین علي ابنالا مام سید الشهداء حسین رضي الله عنهم.

د میاڼ ابو حامد مرحوم د دے شجرے سره چه د میا غلام صدیق مرحوم شجره مقابله کړونو دے نتیجے ته رسیږو چه د مولانا عبدالوهاب د والد ماجد سید برهان الیدن لقب سلطان غازي بابا وو. او د هغه د والد ماجد سید عبدالمالک لقب سلطان مصحف خان وو. د هغه د والد ماجد سید شمس الدین عبدالله لقب سلطان او دل شاه وو. او دهغه د والد ماجد سید ابراهیم لقب سلطان ارغش وو. او دارغش او ارغون په علاقو باندے هم دے حکمران وو. او بله دا چه دا کورنئ په قام باندے "تارن سادات" دي. او لکه چه مخکښې مونږه د سید محمد ګیسو دراز اول په تذکره کښې پرے په تفصیل سره بحث کړیدے. چه سید محمد طاهر الملقب په تارن صحیح النسب حسیني سید دے. مګر هر کله چه کاکر نیکه په خپل ځوي نیولے او پاللے وو. په دغه وجه د حسیني ساداتو دا کورنئ په ویش کلې د کاکړ قوم یوه قبیله یعنے افغانان شمارلے کیږي. البته ورسره ورسره د "سادات افاغنه" په خصوصي نوم سره هم یادیږي. او د کاکړ قوم د تولو قبیلو او شاخونو خصوصاً ګدون

قبيلے پير خانه او ستانه دار خاندان ګڼل‌ے شي. په دے سلسله کښې ځمونږ د دے خبرے تائده د اخوند رويزه د کتاب تذکرة الا برار صفحه نمبر۱۷۲ د هغه بيان نه هم کيږي چه د مشهور بزرګ حضرت خواجه حضر عليه الرحمة په حقله يئے کړيدے. ليکي: "خواجه خضر په قام افغان دے. له افغانان تاون ځنے د واخوندرويزه نه روستو د نورو ټولو پښتنو مؤرخانو هم دغه رائ ده چه د دوئ تارن د افغانانو يوه قبيله او د کاکړ قوم يوه ذېلي شاخ ګڼړئي. لکه به تاريخ پشاور صفحه۳۴۲ و صفحه۳۴۳ کښې هم داسے ليکلي دي (اخون پنجو قوم افګان تارے) البته بنيادي طور حسيني سيدان دي. او هر کله چه حضرت سلطان معزالدين محمد ابن سام الملقب په سلطان شهاب الدين غوري د دهلي د فتح نه روستو د پښتنو مختلف قبائيلي په وادئ پيښور. سوات باجوړ کښې او د کوه سليمان اوکوه کسي په متعلقه ميداني علاقو کښې آباد کړل او په هغے کښې د پنځه وو سلطانانو کوم خاندانونه چه حکمران شوي وو په هغے کښې يو خاندان د سلطان ارغش وو. او حضرت سيد عبدالوهاب د دغه سلاطين پنج کورنئ يو ممتاز فرد وو. او په ويش کښې د کاکړ قوم د ګدون قبيلے سره يئے تعلق وو.

د ګدون قبيلے په حقله مولانا محمد اسرائيل ګدون د موضع جهنډا ضلع مردان پخپله مقاله ګدون کښې ليکي: "د ګدون قبيلے خلق په اصل کاکړ دي. د نورو

قبائيلو په شان دوئ هم د پيښور مخه نيولے وه. په دغه زمانه يوسفزو دا علاقه اخيستے وه. دوئ اول خليل مهمند وله راغلل. چه کلې يئے ځاي کړي. خو هغوئ ورته غاړه نه ده ايښے محمد زوله يئے ليږلي دي. هغوئ هم ترينه ځان خلاص کړے دے يوسفزو ته يئے ليږلي دي. دغسے د اتمانزو (منډړ) علاقے ته چه رسيدلي دي. نو هغوئي ورله د مها بن علاقه ورکړه او د ملا تړ په طور يئے ځاي کړل."

په تاريخي اعتبار سره د ګدون قبيلے دا نقل و حمل د ۸۰۰هــ په آخرينئ حصه کښې معلوميږي او په دغه خانه کوچ کښې د سلطانان پنج د خاندان هغه کورنئ چه د سلطان ارغش خاندان وو. د هغے بعض نامورسلطانان اوول شاه او د هغه ځامن بوډا بابا او سلطان صفحان (سيد عبدالملک) او دهغه ځامن سيد اياز خان. سيد خواص خان. سيد حسن خان. سيد نبي خان. سيد اجا خان او سيد برهان الدين الملقب په سلطان غازي بابا ورسهر ملګري راغلي وو. او په کومو ورځو کلې چه د موجود خليل مهمند په علاقه کښې استوګن شوي وو. د موجود پيښور ښهر جنوب طرف ته او د کوټله محسن خان نه مشرق طرف ته د موجوده وزير باغ په مغربي حصه کښې چرته چې نن ورځے د پير سيد حسن قادري ګيلاني عليه الرحمة مزار مبارک دے. دلته يئے د سلطان پوره په نوم يو کلے هم آباد کړے وو. (چه دغه کلے تر ۱۱۰۰هــ پورے موجود

وو.) او بیا چه کله د ګدون قبیلے خلق د موجوده ضلع مردان د مهابن علاقے ته لاړل نو په دغه دوئم خانه کوچ کښې هم د سلاطین پنج د خاندان دا مشاهیر افراد ورسره ملګري وو. او بیا د دے ځاي نه د سلطان بهلول لودهي په زمانه کښې روهیلکنډ ته تلي وو.

په دوئ کښې د حضرت سید عبدالملک دوئم ځوي خواص خان هغه دے. چه د سلطان سکندر لودهي امیر الا مراء وو. او حضرت شیخ عبدالقدوس ګنګوهي په خپلو مکتوباتو کښې یو مکتوب د ده په نوم هم لیکلے دے. او هر کله چه خواص د حضرت شیخ عبدالقدوس ګنګوهي (متوفي ۹۴۵هـ) مرید وو. نو ظاهره ده چه د ده د ټولو نه کشر رور سید برهان الدین الملقب په غازي بابا به هم د حضرت شیخ عبدالقدوس مرید او خلیفه وو. او هم په دغه مناسبت به حضرت مولانا عبدالوهاب اول د خپل والد ماجد مولانا برهان الدین نه او ورپسے د هندو په سفر کښې د حضرت شیخ جلال الدین محمود الفاروق تهانیسري نه بیعت کړے وو. او په هر حال په سلسله عالیه چشتیه کښې د مولانا عبدالوهاب د مرید کیدلو او خلافت موندلو دا واقعه د هندوستان نه چوهاکو جرته د واپس راتللو نه د مخکښې زمانے واقعه ده. او هم د دے له مخه د رضواني مرحوم هغه روایت صحیح نه دے. چه هر کله په ۹۹۳هـ کښې حضرت ابو الفتح کماچي اکبر پورے ته راغے نو په دغه نیټه یئے مولانا عبدالوهاب مرید شوے

وو. ځکه چه د رضواني مرحوم د راويت يو خوا ته د پورته واقعاتو د تاريخی تفصيل له مخة صحيح نه دے. او بله لويه وجه يئے دا ده چه د "آئينه تصوف" د روايت مطابق حضرت اخوند سالاک په ۹۸۹هـ کښې د حضرت اخوند پنجو بابا نه بيعت کړے وو. نو که د رضواني هغه روايت او منلے شي. چه پخپله حضرت اخوند پنجو بابا په ۹۹۳هـ کښې بيعت کړے وو. نو بيا دا څرنګ ممکن کيدلے شي چه دے لا پخپله د چا مريد شوے هم نۀ وو. او د هغے نه څلور کاله اول يئے په ۹۸۹هـ کښې اخوند سالاک ته طريقه کوؤله.

د دے وجهے له کبله دا وئيلے شو چه حضرت ابو الفتح کماچي او حضرت مولانا عبدالوهاب دواړو د حضرت شيخ جلال الدين تهانيسري مريدان وو. او هم په دغه رابطه حضرت ابو الفتح کماچي د دوئ ملاقات له تشريف راوړے وو. البته دا يوه وجه ممکن کيدلے شي چه چونکه په ۹۸۹هـ کښې د مولانا عبدالوهاب پير طريقت شيخ جلال الدين محمد الفاروق تهانيسري وفات شوے وو. نو په ۹۹۳هـ کښې چه حضرت ابو الفتح کماچي (قبناچي) د دوئ ملاقات له راغلے وي. نو مولانا عبدالوهاب په د تبرک په طور د مغوئ نه تجديد د بيعت کړے وي. چه د بيعت د تجديد کؤلو دا طريقه په هغة زمانه په ټولو مشائيخو کښې رائجه وه. او د دے حيثيت د ادب او احترام له قسم نه وو.

ځمونږ د دے پورته بیان نه دایو څو خبر واضحه کیدلے شي.

(۱) یوه دا چه رضواني مرحوم لیکي دي: چه د دوئ مشران د عربونه راغلي وو". نو د هغے نه به دا مراد اخیستل پکار وي. چه د حضرت مولانا عبدالوهاب په اولسمه پیړئ کښې مشر نیکه سید محمد طاهر الملقب په تارن د عربو نه د کوه سلیمان علاقے نه د کاکړ تمن ته راغلے وو.

(۲) او هغه چه رضواني مرحوم لیکي دي چه: د دوئ مشران په روهیلکنډ کښې آباد شوي وو. نو د دغه نه دا مراد اخیستل پکار دي. چه د حضرت مولانا عبدالهواب نیکه یعنے د پلار پلار سید عبدالملک المقلب په سلطان مصحف خان سره د خپلو ځامنو او د ګدون قبیلے د ملاتړ نه د ۸۵۵هـ په شاو خوا کښې د سلطان بهلول لودهي په درخواست باندے هند ته تشریف وړے وو. د فاضل مؤرخ اکبر شاه خان نجیب آبادي د تالیف آئینه حقیقت نماء (صفحه ۶۳۳) د بیان نه د دے تصدیق کیږي. مرحوم لیکي: بهلول چه په ۸۵۵هـ کښې په مقام د سر هند خپله خطبه اوسکه جاري کړه نو دهلي ته د تللو او د تخت نشینئ

د مراد سمو ادا کولو نه يئے وړاندے د ملتان. پنجاب او ديبالپور د طرف نه د هر قسم خطر الو ختم کولو او د افغانستان نه هند ته د پښتنو راغو ښتلو ضرورت اوکنړه. چه د اسلامي سلطنت د استحکام بند بناء او کړلے شي. افغانستان ته يئے استازے را اوليږل او د دے ملک د قبائلي سردارانو نه يئے خواست اوکړ. چه د ځان سره خپل خپل ملا تړ راروان کړئ او سمدستی راروان شئ. ماله د هندوستان حکومت په لاس راغلےدے. هندوستان يو ډير فراخه ملک دے. د دے ملک ټولے صوبے چه فتح کړو. نو د يو مضبوط اسلامي سلطنت جوړولو ښه موقع ده... د نيازي. لوحاني. سنبهل. شيرواني وغيره قبائيلو ټول خلق هندوستان ته راغلل.

د دے پورته بيان نه دا هم معلومه شوه چه د حضرت اخون پنجو بابا د نوم سره چه لفظ سنبهلي ليکي نو دا درو هيلکنه د سنبهل نومے کلي د اوسيدلو په مناسبت سره دے. بله دا چه په پښتنو کښې د يو مخصوص خاندان نوم سنبهل دے. او د دے قبيلے دا استوګنے په وجه د روهيلکنه

د هغه کلي نوم سنبهل مشهور شیودے.

(۳) بلکه دا چه مولانا برهان الدین الملقب په سلطان غازي بابا چه د هند نه واپس د یو سفزو علاقے ته راتللو. نو وجه یئے داوه چه د دوي خاندان په خصوصیت سره د کاکړ قوم او ګدون قبیلے ستا نه دار وو. او د کاکړ قوم د مختلفو ښاخونو خصوصاً ګدون قبیلے خلق په دے علاقه کښې آباد وو. او ورپسے چه د پیښور ښهر علاقے خصوصاً چوهاکو جرته راتللو نو د هغے وجه هم دا وه چه د غرغشتي قوم د ګنړو قبیلو خلق په هغه زمانه دلته آباد وو.

(۴) په دے سلسله کښې د رضواني مرحوم هغه بیان صحیح نه دے. چه حضرت مولانا عبدالوهاب سره د خپل کشر رور نه د خپل والد ماجد د وفات نه روستو د پیښور ښهر د شاه ډهنډ نومے ځاي نه په ۹۹۰هـ کښې راروان شه او اکبر پورے ته په کډه لاړ. بلکه د دے په حقله د کتاب "سلوک الغزات" هغه روایت زیات صحیح دے. چه د پښتو ادب تاریخ" مؤلف په صفحه (نمبر۵۵) نقل کړیدے. لیکي:

"مولانا عبداوهاب د لسمې پيړۍ له مشهور عالمانو او قائدانو څخه دې. وائي چه ددې د سلطان محمود ګدون ملګرې وو. سلطان محمود ګدون د ۱۰۰۰هـ په حدود کښې د اباد سيند په غاړه د پښتنو يو ملي مشر وو. عبدلوهاب د هشنغر په دو آبه کښې لوئ شوې دې. د سلطان ګدون له خوا خليفه او يو مشهور پير او عالم وو."

اخون درويزه هم ضمناًديته اشاره کوي. چه: ملا عبدالواهاب له مشاهيرو د دې مقام نه دې". د ګدون قوم سره د دې خصوصي تعلق او د ګدنو په علاقه کلې د مولانا عبدالوهاب د استوګنې تائيد د هغه بيان نه هم کيږي. چه روستو رضواني مرحوم د تحفة الاولياء په صفحه نمبر۲۶ درج کړيدې. چه د ګدون او مهابن او کوهستان خلق تر نن ورځې د مولانا اخون پنجو دربار ته د دوئ قلنګ او شکرانې حاضره وي.

د دې پورتنع بيان وضاحت داسې دې. چه مولانا عبد الوهاب په ۹۹۰هـ کښې د پيښور ښهر نه د آباسين په دواړه (مشرقي او مغربي او مغربي) غاړو اوسيدونکي ګدون نوم قوم سالار نومې قبيلې علاقې ته تلې وو. (ټول ګدون قوم په دوه لويو قبيلو تقسيم دې. د يوې نوم دې سالار او د بلې نوم دې منصور) او هلته په مانکرا وه نومې کلي کښې استوګن شوې وو. د تذکرة الا برار صفحه نمبر۱۷۱ د بيان مطابق دغه "مانګ رايې" نومې کلې په هزاره (موجوده تحصيل هريپور کښې دې) او نن ورځې په

"مانکراوه او مانکرا" نومونو یادیږي. او دلته د سالار قبیلے خلق آباد دي.

اخونرویزه چه په ۱۰۲۱هـ کښې تذکرة الا برار نومے کتاب تالیف کولو. نو په دغه نیټه مولانا عبدالوهاب او د هغه رور مولانا عبدالرحیم دواړه په دغه کلي کښې اوسیدل. د شریعت او طریقت د علمونو فیوضات ئے خوره ول. او په تصنیف او تالیف کښې مصروف وو. او اخوند درویزه په تذکره الا برار (مطبوعه نسخه صفحه۲۲۱) کښې د دے دواړو بزرګانو نومونه داسے لیکي دي. ملا عبدالرحیم مانکراوي. او ملا عبدالوهاب مانکروای یعنے دحضرت اخون پنجو بابا د خپل نوم سره یئے د هغه د مقام سکونت نوم لیکلے دے. او چونکه د رضواني مرحوم د نظر نه د سلوک الغزاة بیان نه وو تیر شوے چه اخون پنجو بابا د سلطان محمود ګدون سره اوسیده. نو ځکه دے د اخوندرویزه په دغه پورتنی عبارت او د هغے په مطلب نه دے پوهه شوے. او د خپل کتاب تحفة الاولیاء په صفحه نمبر۳۸ یئے ګله کړے ده. فرمائي:

"زۀ تعجب کووۇ چه اخون درویزه پخپل تالیف تذکرة الا برار کښې چه په ۱۰۲۱هـ کښې یئے اختتام ته رسوۇلے دے. ولے ذکر د اخون عبدالوهاب د اکبر پورے یئے نه دے کړے". او بیا رضواني مرحوم چه د دے ذکر نه کولو کومه وجه د خپل طرف نه بیان کړے ده. چه شاید اخون درویزه بابا یو متشرع عالم وو. دا به یئے خیال کړے وي. چه

مولانا نا عبدالوهاب چشتیه طریقه لري. د وجد او سماع قائیل به دي. نو د اخوندرویزه دغه خیال صحیح نهٔ دے. ځکه چه اخوندرویزه هم د چشتیه طریقے بزرګ وو. او چه څرنګ ده پخپله سماع نهٔ خوښوله. او جوش خپل یئے په ضبط کښې ساتلو. او په استغراق کښې به اوسیده. دغه حال د اخون پنجو بابا هم وو. بیشکه اخون پنجو بابا د چشتیه صابریه سلسلے مرید وو. او اخونروزیزه بابا د چشتیه نظامیه سلسلے مرید وو. نو خداي. شه پوهیږي چے ولے یئے ذکر نه دے کړے."

رضواني مرحوم ته دا غلط فهمي د دے نه ولاړه شوے ده. چه ده پخپله د "آءین اکبري" په روایت حضرت مولانا عبدالوهاب د اخون پنجو سنبهلي او شیخ پنجو سنبهلي په نومونو پیژندلے دے. او په تذکرة الا برار کښې د دوئ نوم د عبدالوهاب سنبهلي په ځاي عبداوهاب مانکرادي یاد شویدے. او هر کله چه رضواني مرحوم په دغه فرق نه دے پوهه شوے. نو ځکه یئے پورته ذکر شوے غلطه رائ قائمیه کړے ده. بله دا چه رضواني مرحوم په تحفة الاولیاء صفحه (نمبر۱۱ و نمبر۱۲) کښې د مولانا عبدالوهاب د یو کشر رور ذکر کړے دے. لیکن د هغه نوم یئے نه دے یاد کړے چه څه نوم یئے وو.؟ که چرے رضواني مرحوم د اخوندرویزه په دغه عبارت پوهه شوے وے. نو دا به ورته معلومه شوے وه. چه د مولانا سید عبدالوهاب د دغه رور نوم عبدالرحیم وو. او بله دا چه هغه یئے کشر

رور نه وو. بلکه مشر رور يئے وو. او د شريعت او طريقت د علمونولرونکے لوئ فاضل عالم مؤلف او مصنف او روحاني پيشوا وو. اخوند رويزه بابا چه د دے دوارو مشاهيرو بزرګانو تذکره په کومو لفظونو سره کړيده د فائدے د زياتوالي په خاطر دلته درج کوؤلے شي.

ملا عبدالرحيم مانکراوي

ملا عبدالرحيم مانکراوي دا نشمند مدقق دے. او يو داسے مربي (پير طريقت دے. چه مهرباني لرونکے دے. په اثبات د مذهب د اهل السنت والجماعت او ابطال د اهل هوا او بدعت کښې د علم منقول رفقهه. تفسير. حديث) د معتبرو کتبانو او د تفاسيرو او احاديثو د اماما نو عالي برکات د ټولو کتابونو ځنے مساءل راجمع کوي. او کتابونه ترينه تاليف کوي. په دے مضمون ئے يو څو کتابونوه ليکي دي. لکه "رد البدع" وغيره. ليکن په بعض تاليفاتو کښې ئې ځنے کلمات نامنا سب هم موجود دي. او په بعض امورو کلې يئے بے فائدے زيارونه او تکليفونه په ځان تير کړي دي. د مثال په طور هغه چه دوئ فرمائيلي دي. د مهتر ابراهيم عليه السلام د پلار نوم تارخ وو. او آذرئې د تره نوم وو. دغه د دوئ نه سهره شوے ده. ځکه چه په تيئسير الکلام وغيره کښې راوړي دي. چه د حضرت ابراهيم عليه نبينا و عليه الصلوة والسلام د پلار نوم آذر "چه تاريخ هم ورته وئيلے شي. هم دغه رنګه بله هغه مسئله

ده. چه دوئ فرمائيلي دي. چه هر څوک چه د يوے ورځے قوت لري. د اختر سرسايه ادا کول پرے واجب دي. نو دغه مسئله د حنفي مذهب نه ده. بلکه د امام شافعي د مذهب ده.

دلته د ايادلورل پکار ده چه حضرت اخوندرويزه د ملا عبدالرحيم قوم سره لفظ د مربي يعنے پير طريقت او مهرباني لرونکے استعمالوي. او ورسره چه د هغوئ قول ذکر کوي. نو وائي هغوي فرمائيلي دي. او بله دا چه سره د دے نه چه د هغوئ په بعض تاليفاتو يئے تنقيد هم کړے دے. بيا هم په خپلو کتابونو خصوصاً تذکرة الا برار کښې يئے د ملا عبدالرحيم د دغه مشهور کتاب "ردالبدع" نه بے شميره حوالے هم نقل کړے دي. او د دے کتاب پوره نوم يئے داسے ليکلے دے. "الردع علي اهل الهوا والبدع" او دا ټولے داسے خبرے دي. چه د دے نه د مولانا سيد عبدالرحيم مانکراوي عليه الرحمة دا اوچتے علمي او عرفاني درجے اندازه لګيدلے شي.

ملا عبدالوهاب مانکرواي

ملا عبدالوهاب مانکراوي دانشمند مدقق او فقهه محقق دے متع الله المقتبسين بطول بقائه (ترجمه نفع منددے کړی خداي طالب علمان له ده نه په درازي د عمر د ده سره) دا څوا نمرد هم له فاضلانو د دے ايام او يوله مشاهيرو د دے مقام نه دے. په اثبات د طريقه شريفه د شريعت محمدي

او په اثبات د دلائل نقلي او عقلي په صحت د سنت احمدی ډیر تالیفات اوبے شمیره تصنیفات لري. او هم په ابطال د ټولو اقسامو باطلو مذهبونو له قسم نه د قدریه. جبریه او ملاحده وغیره هم نه دلائل واضح زیات او ډیر له هغے نه چه په شمار کښې راشي قائم لري. او هر کله چه د ابهادر انسان په تولو دیني علمونو کښې متعبر عالم دے. هم د نثر په تالیفاتو یئے لاس لري. او هم د شعر په تصنیفاتو او چته مرتبه لري. بناء په دغے بعض تالیفات یئے په ژبه عربي کښې دي. او بعض په ژبه هندي کښې او کتاب "کنزالدقایق" (د علم فقهه) یئے هم په نظم کړیدے. امید لرم چه په تحریر بلند پایه د ده کښې به سهوا او خلل لار بیانه مومي. په فضل د الله تعالی او توفیق دهغه سره."

حضرت اخوندروزیزه چه په کومو درنو الفاظو د دے دواړو دونړ و د عملي فضیلت تعریف کریدے. د یو فاضل همعصر مؤرخ او روحاني پیشوا د دے شهادت نه د دے دوارو رونړو د اوچتے دیني علمي او عرفاني مرتبے اندازه لګیدلے شي. او د دے نه دا هم معلمیږي چه د ۱۰۲۱هـ نه روستو بیا مولانا عبدالوهاب اکبر پورے ته راغلے دے. او د ده رور عبدالرحیم هم هلته په ګدون (هزاره) کښې پاتے شیدے. ځکه چه روستو د مولانا عبدالوهاب چه په اکبر پوره کښې هر څومره تیره شوے ده. د مولانا عبدالرحیم ذکر ورسره نه دے راغلے. د دے په حقله به

د ګدون د میا ګانو د خاندان د عالمانو زیات تحقیقي پکار وي.

(۵) رضواني مرحوم لیکي دي. چه مولانا سید غازي بابا په موضع د ترکئ کښې د مولانا محدم صالح المعروف په دیوانه بابا علیه الرحمة د ترور بي بي سره نکاح اوکړ. او د هغے نه یئے په ۹۴۵هـ کښې نارینه فرزند مولانا عبدالوهاب پیدا شه." لیکن د رضواني دا روایت په دے شکل کښې صحیح نه دے. بلکه په ۹۳۵هـ کښې چه مولانا سید برهان الدین الملقب په سلطان غازي د هندنه د یوسفزو علاقے ته راغے او دلته یئے واده اوکړ. نو د دغه بي بي صاحبے نه یئے په ۹۳۵هـ کښې مشر ځوي مولانا عبدالرحیم پیدا شوے وو. او د کتاب آئینه تصوف د بیان مطابق په ورځ د یکشنبے (اتوار) نهم تاریخ د صفر المظفر ۹۳۷هـ کښې حضرت مولانا سید عبدالوهاب اخون پنجو بابا پیدا شوے وو.

دغه شان رضواني مرحوم (تحفة الا ولیاء صفحه ۳۹) دا خون پنجو بابا تاریخ وفات ۲۷، رمضان المبارک ورځ دو شنبه وخت د چاشت ۱۰۴۰هـ بیان کړے دے. لیکن د دے په مقابله کښې د "آئینه تصوف" د بیان

مطابق د دوئ د وفات تاریخ ۱۳، رجب المرجب ورځ دو شنبه وخت نماز چاشت ۱۰۴۰هـ دے. او ځما په خیال د آئینه تصوف بیان زیات صحیح دے.

په دے سلسله کښې دوئمه خبره د حضرت مولانا محمد صالح المعروف په دیوانه بابا عالیه الرحمة په حقله ده. دغه محمد صالح علیه الرحمة د تحصیل صوابئ د جلبئ نومے کلي اوسیدونکے وو. (دا کلے نن په جبلئ، جلسئ نوم یادیږي) او بیا روستو د دے ځاي نه د بونیر علاقے ته تلے وو. د حضرت سید علي ترمذي پیر بابا علیه الرحمة نه یئے خرقه د خلافت موندلے وه. هر وخت به د جذب او استغراق په حالت کښې وو. په دغه وجه په دیوانه بابا مشهور شویدے. مزار مبارک یئے د بنیر په موضع کلیاړي کښې دے.

په پښتنو مشاهیرو بزرګانو کښې د یو بزرګ شیخ محمد صالح ذکر موجود دے. چه په قام باندے الکوزے وو. د قندهار په جلدک نموے مقام کلي اوسیده. او عمر یئے په ارشاد او تدریس تیرولو. ملا الله یارالکوزي د ده په سوانح حیات کښې د "تحفه صالح" په نوم یوه تذکره لیکلے ده. چه د هغے څه حصه کتاب "پټه خزانه" صفحه نمبر۸۴ کښې رانقل شوے دے. دے د قندهار د صوبیدار ارشاد بیګ خان(۱۰۱۴هـ) پورے د قندهار نائب الحکومة (صوبیدار. ګونر) وو. د ده د حالاتو د پاره ملاحظه کړئ اکبر نامه. ترک جهانګیري. اقبال نامه. منتخب اللباب بحث د و قائع قندهار.

د دې تفصیل په رڼرا کښې ممکن ده چه په قام الکوزائیې شیخ محمد صالح علیه الرحمة او دغه مولانا شیخ محمد صالح المعوف په دیوانه بابا علیه الرحمة دواړو د یو بزرګ نومونه وي. که دا خیال صحیح اوګڼرلې شي. نو بیا وئیلې شو چه د مولانا محمد صالح خاندان به دې ملک ته پخوا راغلې وو. او پخپله به دې د علم حاصلولو نه پس خپل اصلي وطن قندهار ته تلې وو. او بیا چه ارشاد بیګ خان د ۱۰۱۴هـ نه روستو د پیښور ښهر نائب الحکومت مقرر شوې وو. نو دې به هم دغه سره د قندهار نه وادئ پیښور ته بیا راغلې وو. او روستو به د بونیر علاقې ته یئې تشریف وړې وو. او که بالغرض حقیقت داسې نه وي. نو بیا دا به معلومول غواړي چه دغه حضرت مولانا شیخ محمد صالح المعروف په دیوانه بابا علیه الرحمة په قام څوک وو. او دا هم ممکن کیدلې شي چه دې هم په قام تارن وي.

(۶) د رضواني مرحوم په تالیف تحفة الاولیاء کښې د حضرت مولانا اخون پنجو بابا علیه الرحمة په حقله یو څو نور روایتونه داسې دي. چه د هغې تصحیح کؤل ضروري معلومیږي. یو روایت یئې دا دې. رضواني مرحوم لیکي (تحفه صفحه۲۸) هر کله چه اخون درویزه د خپل پیر سیند علي ترمذي پیر بابا د وفات (۹۹۱هـ) نه روستو پیښور ته راتللو. نو اکبر پوره ته د اخون پنجو بابا د ملاقات د پاره راغلې

وو. لیکن په دغه وخت کښې اخون پنجو بابا د مراقبے او استغراق په حالت کښې وو. نو د شاه د طرف نه یئے اخون پنجو بابا اولیده او هر کله چه د خپل شغل نه یئے د دوئ رابیداره ول مناسب او نه گنړل. نو توقف یئے او نه کړ. روان شه. څه ساعت پس چه اخون پنجو بابا رابیدار شه. او د دے حال نه خبر شه. نو په اخون درویزه بابا پسے روان شه. چه ملاقات یئے ورسره اوشي. لیکن د لرے نه یئے چه اولیده. نو هم په دغه لید لویئے اکتفاء اوکړه او واپس را اوگرځیده. د دے روایت خلاصه مطلب دا دے چه د دے دواړو مشاهیرو بزرگانو تر منځه باقاعده ملاقات او علمي او روحاني خبرے اترے نه دي شوے.

لیکن د رضواني مرحوم دا قیصه صحیح نه ده. یو خو په دے وجه چه مولانا عبدالوهاب په دغه نیټه (۹۹۱هـ) لا اکبر پوره ته راغلے نه وو. او بله وجه دا ده چه په دے سلسله کښې د "آئینه تصوف" واضحه بیان موجود دے. چه:. مولانا عبدالوهاب په یوؤلسم تاریخ د ذي القعده ورځ دو شنبه ۹۹۷هـ په مقام د قلعه تمن (پیښور ښهر) له اخون درویزه ننګر هاري نه په طرهقه عالیه سهروردیه کښې بیعت کړے وو. چه روستو بیا د مولانا عبدالوهاب نه دغه سلسله اخون سالاک ته بیا له هغة نه شیخ اخوند الله دا د چشتي سهروردي (مزار اله ډةنه ډهیرئ مالاکنه ایجنسئ) ته. بیا له هغه نه شیخ اخون محمد صدیق

بهلواري (مزار شهر رامپور هندوستان) ته. بيا له هغه نه حافظ عبدالمقتدر المعروف په حافظ الپورئ ته رسيدلے وه. (دا بحث به روستو د حافظ محمد صديق د بشونځ په تذکره کښې راشي.)

(۲) د رضواني دويم روايت هغه دے (تحفه صفه۴۸) چه د اخون صاحب د سوات د پير طريقت حافظ محمد شعيب د تور ډهيرئ د کتاب مرراة اولياء په حواله يئے بيان کړيدے. چه حضرت اخون پنجو بابا عليه الرحمة په سلسله عاليه نقشبنديه کښې د حضرت سيد نا آدم بنوري عليه الرحمة مريد او خليفه وو."

ليکن د رضواني مرحوم دا روايت هم صحيح نه دے. ځکه چه حضرت سيد نا آدم بنوري مشواني عليه الرحمة په تاريخي لحاظ سره د حضرت مولانا عبدالوهاب نه د روستو زمانے بزرګ دے. او مولانا عبدالوهاب (ولادت ۹۳۷هـ وفات ۱۰۴۰هـ) او حضرت شيخ احمد سرهندي مجدد الف ثاني (ولادت ۹۷۱هـ وفات ۱۰۳۵هـ) دواړه معاصر دي. او که فکر او کړو په سلسله عاليه چشتيه کښې هم دواړه په يوه يوه واسطه باندے د حضرت شيخ عبدالقدوس ګنګوهي مريدان دي. يعنے شيخ عبدالوهاب د شيخ جلال الدين تهانيسري په واسطه د حضرت شيخ عبدالاحد په وسطه سره د شيخ عبدالقدوس ګنګوهي مريد دے چه د دے نه هم د دواړو زمانے يو والے او همعصر معلوميږي. ليکن هر کله چه په هندوستان کښې د نقشبنديه

طریقے مجدد حضرت شیخ احمد سر هندي وو. په دغه وجه حضرت مولانا عبدالوهاب د هغوئ نه بیعت کړے وو. د دغے نه علاوه د حضرت مجدد الف ثاني علیه الرحمة د مشاهیرو مریدانو په فهرست کښې چه کوم نومونه درج دي. لکه شیخ فرید. مهابت خان. اسلام خان. سکندر خان. حکیم فتح الله. سید محمود اختر. سید احمد. خضر خان لودهي. مرزا بدیع الزمان. جباري خان. خان جهان. قلیج خان وغیره شول. په هغے کښې د شیخ عبدالوهاب نوم هم په خصوصي امتیاز سره درج دے. او چه هر کله شهنشاه جهانګیر او لګیده مجدد الف ثاني یئے قید کړ. او په هغے دغه پورته ذکر شوي نامور کسان جهانګیر ته راپورته شوي وو. نو په هغے کښې د وادئ پیښور او کابل په علاقه شیخ عبدالوهاب او مهابت خان چه کوم عملي اقدامات کړي وو. د هغے ذکر به روستو په تفصیل سره راشي.

حضرت سید نا آدم بنوري چه د شاهي لښکر نوکري پریښودله. بیا د خواجه خضرتارن مرید شه. او بیا د هغے نه روستو د حضرت مجدد الف ثاني قدس سره مرید شه. نو په تاریخي لحاظ سره دغه د روستو زمانے واقعات دي. او بیا چه په ۱۰۵۰هـ کښې د شهاجهان په حکم سید نا آدم بنوري د دهلي نه اوویستلے شه او د حج په سفر راروان شه او په ۱۰۵۱-۱۰۵۲هـ کښې وادئ پیښور ته یئے تشریف راوړ. او په مقام د اکوړه خټک ورسره د حضرت سید نا شیخ

رحمکار کاکا صاحب علیه الرحمة ملاقات شوے وو. نو د دغے نه دیارلس څوارلس کاله وړاندے په ۱۰۴۰هـ کښې حضرت اخون پنجو بابا علیه الرحمة وفات شوے وو. او هم د دے وجوهاتو له مخه د سیدنا آدم بنوري قدس سره نه د حضرت سیدنا مولانا عبدالوهاب بیعت کول څه معنی نه لري. او ځکه مونږه اووئیل چه د رضواني مرحوم دغه روایت صحیح نه دے.

(۳) په دے سلسله کښې بل وضاحت او تصحیح "د تاریخ یوسفزائے" د یو بیان په حقله ضروري ګنړو. ځما په خیال د حضرت مولانا عبدالوهاب په باره کښې په تاریخي لحاظ سره د ټولونه زیات غلط بیان د تاریخ یوسفزایئے د مؤلف دے. موصوف لیکي: (صفحه ۲۴۳) "ګجو خان د خپل نظام سلطنت د چلولو د پاره ټیکسونه هم لګولي وو.... د نورو ټیکسونونه علاوه د هریو بچي په پیدا کیدلو به یئے پنځه روپئ (سکه رائج اوقت) اخیستلے."... اخون پنجو بابا چه مزار یئے د پیښور د ترناب سره نزدے دے او هر کال د هغه په مزار میله لګیږي. هم د دے ګجو خان په زمانه کښې پیدا شوے وو. د هغه په پیدا کیدلو د هغه پلار د ټیکس ورکولو په ځائ هډو دا علاقه پریښودله او د هغه ځائ نه او تښتیده. د ګجو خان سپاهیان ورپسے هپه اوکړه. لیکن هغه د دریاے کابل نه پورے وتلو کښې کامیاب شه. او د ټیکس اداکولو نه بچ شه."

(۱) چه فکر اوکړلے شي د "تاریخ یوسفزائیې" دا بیان په دوه وجهو صحیح نه دے یو دا چه د مولانا سید غازي بابا د یوسفزو د علاقے نه د کلي کؤلو کومه وجه چه تاریخ یوسفزاۓ بیان کریده. که دغه صحیح او منلے شي. نو بیا به دا هم منل پکار وي چه حضرت موصوف د ترکئ نه څمونږ د تحقیقي مطابق په ۹۳۷هـ کښې یا د رضواني د بیان مطابق په ۹۴۵هـ کښې کلي کړے وه. حالانکه د رضواني بیان (تحفه صفحه۱۱) دا دے چه مولانا غازي په ۹۵۸هـ کښې د ترکئ نه په کلي راوتلے وو. چه په دغه وخت کښې بیا دمالانا عبدالوهاب اخون پنجو بابا عمر ۲۱کاله یا۱۴ کاله وو. او یو مشر رور هم ورسره وو. نو پو هغه نه یو چه د مولانا سلطان غازي د کلي کولو سره د څوئ د پیدا کیدلو د ټیکس څه تلعق کیدلے شي.؟ بیشکه رضواني هم د مولانا اخون پنجو بابا د پیدا کیدلو په موقع د پنځه روپو د مطالبې ذکر کړیدے. لیکن هغه بیخی په بل رنګ کښې دے. چه غه د کلي د حجرے د څلمو د صحبت غوښتلو مطالبه ده. چه مخکښې د دغے بیان په تفصیل سره تیر شوے دے.

(۲) دویمه وجه دا ده چه د تاریخ یوسفزایي مولف د مولانا سید عبدالوهاب د والد ماجد سید برهان الدین المقلب په سلطان غازي د سیاسي او روحاني شخصیت اندازه نه ده لګولې. او مولانا نا غازي بابا چه دهند نه د یوسفزو علاقې ته او بیا د یوسفزو د علاقې نه پیښور ته په کومه وجه راغلې وو. او هغه وجه رضواني مرحوم بیان کړې هم ده. په هغه وجه او د هغې په تاریخی پس منظر یئې هډو غور نه دې کړې. که نه دا دومره غلط روایت به یئې نه وو بیان کړې. د آسانتیا د پاره د رضواني د بیان هغه دوه نکتې چه د دې موضوع سره تعلق لري. دلته بیا رانقل کوؤ.

(الف) د مولانا غازي بابا مشرانډ روهیلکنډ په سنبهل کښې آباد شوي وو. هر کله چه په ۹۳۲هـ کښې د بابر د لاس نه د لودهي خاندان حکومت زوال بیا منده. نو د ده واله محترم سید غازي بابا د چچ هزارې په لاره د یوسفزو علاقې ته راغې. او په ترکئ کښې استوګن شه.

(ب) غازي بابا په ترکئ کښې چه څه موده تیره کړه. په دغه زمانه

اولس د یوسفزو بالکل باغیان
وو. ځکه چه تعلق یئے د مغل
حکمرانانو سره لرلو. او دست
پرورده د بابر او همایون وو.
او په دغه ورځو کښې چه هر کله
د شیر شاه سوري د لاس نه همایون
په تیښته باندے د هند نه ایران
ته لاړ او د هغه په ځاي باندے
شیر شاه سوري د هند بادشاه شه.
اوګجو خان نومے سردار د اولس
یوسفزے د شیر شاه سوري نه باغي
وو. نو په دغه وجه مولانا غازي
بابا په ۹۵۸هـ کښې په زمانه د
سلطنت د شیر شاه سوري کښې د
یوسفزو د علاقے نه په کډه مصرے
پورے ته او بیا پیښور ته راغے.

که د تاریخ یوسفزائے فاضل مؤلف په دے دواړو وجوهاتو غور کړے وے. نو ورته به معلومه شوے وه چه د مولانا غازي مشران د بهلول لودهي په بلنه هند ته تلي وو. چه په هند کلې د اسلامي حکومت بنیادونه مظبوط کړي او د حضرت مولانا عبدالوهاب والد ماجد سید برهان الدین دومره غزاګانے کړے وے چه د "سلطان غازي" خطاب یئے ګټلے وو. او بیا چه کله په هند کښې دلودهي خاندان د حکومت زوال راغے. او د مغلیه حکومت دوران شه. او بیا په هند کښې د سابقه حکومت حمایت کوؤنکو مشاهیرو علامانو او روحاني پیشوایانو او قبائلي سردارانو له ژوند تیرول ګران شول او په دغه وجه ئے واپس خپل وطن ته مخه کړے وه.

او هم په دغه سياسي بناء باند مولانا سلطان غازي بابا د هندوستان نه يوسفزو ته راغلے وو. او دا يوه داسے خبره ده. چه د دے ګنړ مثالونه هم موجود دي. لکه:

(الف) يو شال هغة د ملک سيف الله ګګياني او ملک ګدائي کيکياني او د پير بابا عليه الرحمة د والد ماجد سيد قنبر علي دے. چه همايون په ۹۴۲هـ کښې ځان سره هند ته بوتلي وو. ليکن چه په همايون زوال راغے. او په تيښته ايران ته لاړ. نو سيد قنبر علي خپل وطن قندزته او دواړه ګګياني ملکان خپل وطن دو آبے پيښور ته واپس راغلے وو.

(ب) دوئم مثال د پير روښان بايزيد انصاري د والد ماجد شيخ عبدالله انصري دے. چه په جالندهر کښې د لودهي حکومت د طرف نه قاضي القضاة وو. و د لودهي حکومت د زوال (۹۳۲هـ) نه روستو خپل وطن کاني ګرم وزير ستان ته تلے وو.

(ج) دريم مثال د مشواني ساداتو د مشهور تاريخي شخصيت سيد غفور شاه المعروف کپورشاه دے. چه د ۹۳۲هـ د انقلاب نه روستو د هند نه د ضلع هزارے سري کوټ ته راغلے وو. او د لودهي خاندان

سره د دے تعلق او دے پس منظر په وجه بيا روستو د شيخ عبدالله انصاري مشهور تاريخي شخصيت لرونکي فرزند پير روښان او د سيد کپور شاه نامور فرنزد سيد شاه مراد دوارو ټول ژوند د مغليه حکمرانان په خلاف جدوجهد کښې تير شوے وو.

ليکن دا پس منظر چه رضواني مرحوم بيان کړيدے او د هغے نه د سلطان غازي بابا د مغل حکمرانانو څنے نفرت کول واضحه کيږي. دا پخپل ځاي باند د سياسي نوعيت دے. د دے نه علاوه يو بل پس منظر هم دے. چه هغه ښاغلي شيخ محمد اکرم پخپل کتاب "رود کوثر" (صفحه نمبر۷۴) کښې بيان کړيدے. موصوف ليکي: د لطائف قدوسي د ګنرو بيا نونو نه معلوميږي. چه حضرت شيخ عبدالقدوس ګنګوهي عليه الرحمة او د هغه اکثر مريدان د مغلونه خوشحاله نه وو. هر کله چه په ۹۳۲هـ کښې د بابر او ابراهيم لودهي تر منځه د پاني پت په ميدان کښې جنګ جوړ شه نو شيخ عبدالقدوس ګنګوهي د ابراهيم لودهي په لښکر کښې موجود وو. حضرت شيخ عبدالقدوس پخپله دا فرمائيل چه د ابراهيم فتح ډيره په شک کښې ده. ليکن بادشاه (ابراهيم لودهي) اصرار کولو چه تاسو به خامخا د شاهي لښکر ملګرتيا فرمائيے. چنانچه هر کله بابر فتح او موندله نو حضرت شيخ هم ګرفتار کړلے شه. د دوئ سره خپل دوه مريدان هم وو. هغه هم

اونـيولـے شول. د حضرت شيخ عبدالـقـدوس پـه سر بـانـدے چه د خپل پـيـر طريـقـت د لاس نـه کـوم د تـوررنـګ پـټـکـے پـه سروو. پـه هغـے بـانـدے يـئـے ورلـه غـاړه او تـړلـه او شيـخ تـه يـئـے حکم اوکړ. چه مخکښې شه پـيـاده روان شه. چنانچه هم دغه شان پـيـاده د پـانـي پـټ نـه وهلي تـه راوستلـے شه. او روستو بيـا دلـتـه پـريـښودلـے شه. شيـخ عبدالـقـدوس ګـنـګـوهي د لـودهي پـښتـنـو سره تـعـلق د خاطر لـرلـو. ځکه چه دوئ اوکـتـل چه لـودهيـانـو خصوصاً سکندر لـودهي د هـنـدوستـان پـه زمکه د نـوي سر نـه شعـائـر د اسلام سر بـلـنـد کړي دي. پـه دے وجه حضرت شيـخ بـه د دے پـښتـنـو حکمرانـانـو ډيـر قـدر کـؤلـو. شيخ محمد اکرام روستو (صفحه ۷۵) لـيـکي: د شيـخ عبدالـقـدوس ګـنـګوهي د وفـات (۹۴۵هـ) نـه روستـو هم د افغـانـانـو او مغلو کشمکش جاري وو. او پـه هغـے کښې د حضرت شيـخ مريـدانـو حصه اخيـستـے وه. موصوف مخکښې لـيـکي: (صفحه ۷۶) چنـانـچه هر کله شيـر شاه سوري همايـون لـه شکست ورکړ. او د هـنـدوستـان نـه يـئـے اوکـښو. نـو پـه بـعض مذهبي حلقـو کښې پـه هغـے د خوشحالـئ اظهار اوشه. او د شيخ عبدالـقـدوس ګـنـګـوهي مريـدان پـه هغـے کښې شامل وو.

واپـس منظر چه پـورتـه بيـان شه دا بـه پـه مخکښې کـيـږدو. او فـکر بـه اوکړو چه پـه داسے حالاتـو کښې چه هر کله سيد بـرهـان الـديـن سلطان غـازي بـابـا د حضرت شيـخ عبدالـقـدوس ګـنـګوهي مريـد وو. او د دهٔ د دغه محبوب پـيـر طريـقـت سره د مغل

حکمرانانو د لاس نه داسے سلوک شوے وو. او بیا د یوسفزو په علاقه کښې د ده د قیام په دوران کښې په ۹۴۷هـ کښې د شیر شاه[24] سوري د لاس نه همایون شکست او خوړ نو دا بالکل قدرتي خبره وه چه سلطان غازي بابا به په هغے خوشحالیدلو لکه چه د شیخ محمد اکرام د تصریح مطابق په هند کښې د شیخ عبدالقدوس ټول مریدان خوشحاله شوي وو. اوبل خواته په عین دغه حال کښې چه خان کجو د شیر شاه سوري نه باغي وو. او د مغل حکمرانانو وفاداري یئے کؤوله. نو د خان کجو د کښې ترکئ نه چه غازي بابا کډه اوکړله. نو د هغے وجه پنځه روپئ ټیکس ورکول نه وو. بلکه دغه تاریخي واقعات وو. چه متاسفانه د تاریخ یوسفزائے مؤلف ورته فکر نه دے کړے. او د سلطان غازي بابا علیه الرحمة د یوسفزو د علاقے نه د کډے کولو واقعه یئے په ډیرو نامنا سبه الفاظو بیان کړے ده.

په دے سلسله کښې د رضواني مرحوم هغه بیان هم صحیح نه دے چه هر کله سلطان غازي بابا د یوسفزو نه په پیښور ته په کډه راتللو. نو پیښور ته په کډه راتللو. نو ټوله پنځه کسان وو. یوئے پلار وو. یو د ده خپل ټبر وه. او دوه یئے ځامن وو. بلکه څرنګ چه ما په خپل تالیف پښتانه شاعران کښې پرے بحث کړے دے. (د سلطان

24جلوس د شیر شاه سوري ۱۵، ماه صفر ۹۴۷هـ او تاریخ وفات ۱۱، ربیع الاول ۹۵۲هـ مزار یئے په موضع سهسرام صوبه بهار هندوستان کښې دے (اثر)

غازي بابا د مشر رور سلطان احسن د تذکرے په ضمن کښې) د سلطان غازي بابا سره د خپل خاندان او د رونړو تربورانو د اولاد او قبيله ګدون د نورو کډو بے شميره نور خلق هم وو چه د هغوئ د نسل خلق نن ورځے د پيښور په خواو شا کښې آباد دے. او ګڼړ مشاهير بزرګان پکښې تير شوي دي.

دلته يوے بلے خبرے ته اشاره کوؤل هم ضروري معلوميږي. او هغه داده. چه رضواني مرحوم پخپل کتاب تحفة الولياء کښې اخون پنجو بابا د مقام ولادت دوه ځايه ذکر کړيدے.

(۱) يو په صفحه نمبر۹ باندے او په هغے کښې يئے په تفصيل سره دا ښودلے ده. چه د دوئ ولادت په موضع تره کئ کښې شوے وو. چه دغه مقام د يار حسين نه جنوب مشرق طرف ته واقع دے. او نن ورځے په ګجورانو ډيرئ ياديږي.

(۲) او دوئم په صفحه نمبر۳ باندے. چه دلته يئے مجملا داسي ليکلي دي. تولد د آنحضرت په علاقه ديو سفزائے کښې په توابع دالکايئے پشاور کښې شويدے."

رضواني مرحوم چه په دے خپل کتاب کښې هر څومره ځايه لفظ د الکايءے ذکر کړيدے. د هغے نه يئے مراد دے. د پښاور ښهر په توابع علاقه جاتو کلے چه په اخري سر حد باندے آباد دي. ليکن د بد قسمتئ نه د

کتاب "تذکره علماء و مشائیخ سرحد" مؤلف د نظر نه د تحفة الاولیاء صفحه نمبر۹ تفصیلي بیان نه دے تیر شوے. او بل خواته د صفحه نمبر۳ د لفظ "الکایئے" په معنع نه دے پوهه شوے چه دغه فارسی لفظ "الکایئے" د عربي لفظ الغايءے. الغاية نه مغرس شوے شکل چے. او ددغه ناپوهتیا په وجه یئے د خپل کتاب په صفحه نمبر۱۷ لیکلي دي. حضرت شیخ اخون پنجو بابا د یوسفزو په علاقه کښې په موضع "الکایئے" کښې پیدا شوے دے. چونکه د موصوف دا بیان صحیح نه وو. د دے د پاره ورته اشاره کوؤل مناسب اوګنړلے شول.

مذهبي خدمات او فیوضیات

مخکښې مونږه د مولانا عبدالوهاب حالات په تفصیل سره په دے غرض بیان کړل. چه د دے نامور شخصیت چه کوم اوچت علمي او عرفاني مقام دے. د هغے ه متعین کولو کښې آساني په لاس راشي. او هر کله چه دا معلومه کړلے شي چه دے د کوم مکتبۀ فکر سړے وو. نو د هغے نه به دوه د مذهبي علمي او عرفاني خدماتو او فیوضاتو اندازه لګول هم آسان شي.

هر کله چه دا معلومه شول چه حضرت مولانا عبدالوهاب په سلسله چشتیه صابریه کښې د خپل والد ماجد سید برهان الدین غازي بابا او د شیخ جلال الدین محمود الفاروق تهانیسري دواړو مرید وو. چه دا دواړه د حضرت شیخ عبدالقدوس ګنګوهي

مریدان وو. او په طریقه سهروردیه کښې یئې دا خونددروزه ننګرهاري نه فیض موندلې وو. او دا درے واړه بزرګان په کلکه سره د اهل السنت والجماعت د عقیدے پیروکاران، عالمان او او مبلغان وو. د آسانئ د پاره به دے درے واړه نامورو روحاني رهنمایا نو په ژوند یو نظر واچوؤ.

(۱) د حضرت شیخ عبدالقدوس ګنګوهي په حقله مولانا شیخ رکن الدین د کتاب "رشید نامه" په حاشیه کښې لیکلي دي. حضرت شیخ عبدالقدوس په شرع محمدي او دا اهل النست واجماعت په عقیده کښې داسے راسخ العقیده وو. چه یوه ذره به یئې هم د شرع نه تجاوز نۀ کؤلو. او لکه چه مخکښې ذکر اوشه د لودهي حکمرانانو سره یئې ځکه مینه وه. چه د دوئ په وجه په هند کښې د اهل السنت والجماعة د عقیدے مطابق د اسلام شعائرو ته سر بلندي حاصله شوے وه.

(۲) دا خوندرویزه په حقله مفتي غلام سرور لاهوري پخپل کتاب خزینة الا صفیاء کښې لیکي: په دفع د زنادقه. ملاحده او رفضل کښې به یئې ډیر زیات کوشش کولو. او چه چرته به د کوم ملحدیا رافضي نه خبر شه. هغه ته به یئې ځان

رسؤلو. هغه يئے ملامته کولو. او خلق به يئے د هغه د غلطو خيالاتو او فاسده عقيدهونه بچ کؤلو. چنانچه په دے شان سره د اخوندرويزه ټول ژوند د هغه بدعتي شيخانو او پيرانو په خلاف جهاد کښې تير شويدے. چه يو خواجه به يئے طريقت له په شريعت ترجيح ورکوؤله. او بل خواته به يئے د طريقت هم داسے غلطه ترجماني کؤوله. چه د قرآن او څديث او د اهل السنت والجماعة دائمه سلف د پيروی په ځاي به يئے د روحاني مطلق العنانئ نه کار اخيسته. او بدعتونو له به يئے رواج ورکول.

(۳) د مولانا عبداوهاب دريم پير طريقت شيخ احمد سرهندي مجدد الف ثاني وو. چه د هغوئ ټول ژوند د رسول الله صلي الله عليه وسلم د سنت طيبه د صحيح طريقے په راژوندي کولو کښې او درافضيانو په ترويد کښې تير شوے دے. حضرت امام رباني په لانديني درے طريقو سره د هندوستان د مسلمانانو اصلاح کوله (۱) يوه دا چه د فقيرانو. درويشانو يوه داسے جامعت يئے تيار کړلو چه هغوئ خپل ژوند عملي نمونه کړ.ا و خلقو ته يئے

اسلامي روايات پيش کړل. د دے غرض د پاره حضرت مجدد الف ثاني د روحاني کمالاتو نه کار اخيستے وو (۲) په دوئمه درجه کښې يئے دا هل علم او سنجيده طبقے په ذهنونو کښې انقلاب راوستلے وو. او صحيح اسلامي عقايد يئے هغوئ ته رسوولي وو. د دے د پاره حضرت امام رباني د تاليف او تصنيف په ذريعه د علم او استدلال د طاقت نه کار اخيستے وو. (۳) په دريمه درجه کښې هغه اميران او حاکمان چه خالص سني مذهبه وو د اهلالسنت والجماعة عقيده لرونکي وو. او د واک او اختيار خاوند وو. هغوئ ته يئے د خپلو ذموارو محسوس کؤلو تلقين اوکړ. او هغئ يئے د اسلام د خدمت کؤلو او د مسلمانانو د عزت او حرمت بر قراره ساتلو د پاره جدوجهد او ايثار کولو ته تيار کړل.

چنانچه د حضرت مولانا شيخ عبدالوهاب اخون پنجو بابا ټول ژوند هم د دے خپلو نامورو پيرانو د علمي او عرفاني ژوند په رنګ کښې رنګ دے. دوئ هم پخپل ژوند کښې د فقيرانو او د درويشانو يو داسے ټولګے تيار کړے وو. چه په هغوئ کښې د يو څو مشاهيرو خليفګانو تذکره به روستو راشي. او په دوئمه درجه کښې يئے د پښتنخوا د

اهل علم او سنجیده طبقے په ذهنونو کښي د انقلاب راوستلو د پاره او عامو مسلمانانو ته د صحیح اسلامي عقائدو ښودلو په خاطر یئے چه د تالیف او تصنیف نه کوم کار آخیستے وو. د هغے په حقله د حضرت مولانا عبدالوهاب د خپل همعصر مؤرخ او پیر طریقت اخوندرویزه تفصیلي بیان مخکښې تیر شوے دے.او هم دغه د دین د حمایت او د اهل السنت والجماعة د عقیدے د حفاظت جذبه وه. چه د علم او عرفان دواړو طاقتونو په زور یئے د اکبر پورے او خواؤ شاه میداني علاقو خلق د سرمست نومے فقیر د بدعتونو او ګمراهی د لارے نه بچ کړل. او د مهابن نه تر کابل پورے په دے علاقو کښې یئے د دین اسلام د تجدید اواحیاء د پاره داسے مبارک کوششونه اوکړل. چه د هغے نیک او بختور آثار تر نن ورځے پورے باقي دي.

حضرت مولانا عبدالوهاب علیه الرحمة په دریمه درجه کښې چه د خپلو بزرګوارانو پیرانو د مسلک او روحاني طریقے د کار په رنړا کښې د خپلے زمانے خالص سني مذهبه امیرانو او دواک او اختیارلرونکو حکمرانو ته د خپلو ذمه وارو محسوس کؤلو کوم تلقین کړے وو. او د هغوئ نه یئے د دین اسلام کوم خدمات اخیستي وو. د هغے په سلسله کښې د سلطان محمد ګدون. سلطان صدر الدین (مزر مبارک اټک) د کابل نائب الحکومة نواب مهابت خان مثالونه څمونږ د وړاندے دي. چه د خپل وخت دا اهم مشاهیر امیران او حکمرانان ددوئ عقید تمند وو.

او د دوئ د هدايت او ارشاد مطابق يئے ددين اسلام په مرسته کښې تاريخی کار نامے انجام ته رسوؤلے دي.

د دوئ د هدايت اور ارشاد مطابق چه د دوئ نامور و مريدانو د اباسيند کوهستان، سوات کوهستان. دير کوهستان. باجوړ کوهستان په علاقو کښې کوم جهادونه کړے دي او په دے پورته ذکر شوؤ ټولو علاقو کښې د هغے په برکت د اسلام کومه رنړا خوره شوے ده. د هغے د بيان نه د تاريخ کتابونه ډک دي. او د دے غزاګانو په فهرست کښې د اخوند سالاک. ملامست علي خان د شور تن هند وراج. عمر خان د شوے شيخ جانا. بهاګو خان د پنجتار. بهو خان د رجړ. مولانا نور محمد کاټني وغيره نومونو ته لافاني شهرت حاصل دے. چه دا ټول د دوئ د سلسله ارادت روښانه مشعلونه وو او د دوئ په برکت د شريعت او طريقت د سوز او سازنه ډک يو نوے مجاهدانه روح په پښتو ادب کښې پيدا شه چه د هغے مثال مشکله ده چه د دنيا په بل کوم يو ادب کښې پيداشي. لکه د مولانا عبدالوهاب يو فيض موندونکي مجاهد عارف او اديب ملامست چه په دے الفاظو کښې پيش کړے دے. فرمائي:

د يقين زغره م واغوسته سپاهي شوم
د باور په تيغ م غوڅ کړل کمانونه
د معرفت لينده په لاس د بدو جنګ کړم

د حقیقت غشے م ځي تر
آسما نونه

د مولانا عبدالوهاب مکتبه فکر هغه مجاهد مست علي خان پیدا کړ چه فرمائي:

هر چه واخلي و کفارو وته توره
له صورته به یئے پاک هر څه گناه کا

یوه شپه تیره په حد د کفار شه ده
کال ورسرکه عبادت په خانقاه کا

چه په حد د کفارو مری بے له تیغه
خدائي روزي به یئے دیدار بے اشتباه کا

اوس غازیان دي ډیر خشي صافي شنواري
چه غزا همیش پر نیت د عندالله کا

او دغه لله في الله د غزا کوونکو ډله راپیدا کوؤل یقیناً چه د مولانا سید عبدالوهاب ابن سید برهان الدین الملقب په سلطان غازي د دیني خدماتو په سلسله کښې څمونږ د تاریخ یو زرین باب دے.

دغه شان هر کله چه په ۱۰۲۶هـ کښې د شهنشاه د جهانګیر د لاس نه د حضرت اخون پنجو بابا پیر طریقت حضرت امام رباني شیخ احمد سره هندي مجدد الف ثاني د ریاست ګوالیار اجین نومے قلعه کښې بندیوان کړلے شه. په دے وجه چه شهنشاه جهانګیر مشهور ملکه نور جهان او د هغے رور آصف جاه په وزیر مملکت هم وو. دواړه یئے خلاف وو. او چونکه تر دغے نیټے حضرت

مجدد الف ثاني د خپلو مکتوباتو اولنی دوه دفترونه مکمل کړي وو. او په هغې کښې یئې د ملحدانو د عقیدو په ډیره بې باکئ سره رد کړې وو. بلکه د اهل بدعت او ملاحده په رد کښې یئې یو مستقله رساله هم لیکلې وه. او د شهنشاه جهانګیر ملکې او د هغې رور آصف جاه دا هر څه نه شول برداشت کوؤلې. بل خواته د شهنشاه جهانګیر بعض درباري امیران چه د رقص او سرود شیدایان وو. هغوئ د امام رباني د نقشبندیه مسلک نه سخته بیزاره وو. ځکه چه په روایت د شیخ محمد اکرام (رود کوثر صفحه۲۴۲) په دې نقشبندیه مجددیه طریقه کښې په تمامي اصولي او فروعي امورو کښې د سنت د رسول الله مکمله تابعداری او دټولو بدعتونونه په کامل طور سره اجتناب کول ضروري ګنړلي شي. یعنې په دې طریقه کښې د اصحابو کرامو لباس اختیار کوؤل شرط دې. هم د هغوئ په شان ژوند تیرول. هم د هغوئ په شان اذکار او اشغال. هم هغه شان د نفس محاسبه. او هردم خدائ یاد لرل. او هغه شان د شیخ ادب په ځاي راوړل. هم هغه شان کم ریاضت کول او زیات فیوضات خورول. تبلیغ او ارشاد او تعلیم ورکول. د ولایت د کمالاتو نه علاوه د نبوت کمالات زده کؤل. د ساز او سرور د نه اجتناب. په قبرونو د چراغونو بلولو. غلافونو غوړولو. د زنانه ؤ په ګنړه ګونړه کښې شاملیدلو. د تعظیم سجدې کؤلو. چاته سرټیټلو. لاس او پښو ښکولو. پښوته کښته کیدلو د وحدت الوجود سندرې وئیلو. د بې

پردے ښځو سره خلط ملط ساتلو هر څه نه د پرهيز حکم وو. او دا ټولے داسے خبرے وے چه د شهنشاه جهانګير د دربار رافضيه عقيده لرونکو اميرانو چرته منلے شولے. ځکه چه ظاهره ده په دے مسلک کښې د رسول الله د شريعت او سنت مکمله پابندي کول دي. او دا د اهل هوا او اهل بدعت د پاره ګران کار دے. نتيجه يئے دا شوه چه امام رباني په قيد کښې واچولے شه.

د حضرت امام رباني د قيد کولو په دے واقعه د شهنشاه جهانګير هغه ټول اميران چه د سلطنت جهانګيري مختارارکان وو. او بل خواته د امام رباني عقيدتمند او د اهل السنت والجماعة د عقيدے منونکي وو. لکه خانخانان خان اعظم. سيد صدر جهان. اسلام خان. نواب مهابت خان. تربيت خان . خان جهان لودهي. سکندر خان . حيات خان. دريا خان دا ټول راپورته شوله بغاوت ته جوړ شول. پخپل منځ کښې يئے خط او کتابت اوکړ. او د دے ټولو په اتفاق سره د کابل ګورنر نواب مهابت خان يئے خپل سردار تسليم کړ. ټولو ورسره د فوځ او خزانے امداد اوکړ. نواب مهابت خان د بد خشان . خراسان او توران د بادشاهانو نه هم امداد او غوښت په جهانګير يئے لشر کشي اوکړه د خطبے اوسکے نه يئے د جهانګير نوم او کښه. چه څه وخت جهانګير هم د مهابت خان د مقابلے د پاره د دهلي نه راروان شه نو پورته چه نومونه يئے ذکر شويدي. دغه ټولو اميرانو بغاوت اوکړ. او چه د نواب مهابت خان سره يئے مقابله

راغله او په هغے کښې جهانګیر او د هغه وزیر اعظم آصف جاه او ورپسے پخپله ملکه نور جهان دا ټول د مهابت خان په لاس قید شول. او بیا چه څه وخت نواب مهابت خان دا غوښتل چه د دے درے واړوله مناسب سزا ورکړي. په عین دغه حال کښې نواب مهابت خان ته او پورته ذکر شوو ټولو امیرانو ته د حضرت مجد دالف ثاني قدس سره خطونه را اورسید. چه د بغاوت نه لاس واخلئ. بادشاه د قید نه آزد کړء. او د هغه اطاعت قبول کړئ. نو په دغه خطونه کلې یو خط د حضرت شیخ عبدالوهاب اخون پنجو بابا علیه الرحمة په نوم هم وو. او د دغے نه معلومیږي چه د نواب مهابت خان په دے. دومره لویه کامیابئ کښې د حضرت شیخ عبدالوهاب قدس سره روحاني توجه. همت او برکت شامل وو.

د یقني خبره ده. که دا لویه تاریخي واقعه په دومره کامیابئ سره انجام ته نه وے رسیدلے دے. نو د اکبر او جهانګیر په زمانه چه د ملاحده جبریه. قدریه او اهل بدعت د نورو مختلفو طریقو د پیرانو او آزاد خیالو خلق په وجه د شریعت اسلام او سنت نبوي د اثر کمولو د پاره کوم اقدامات کیدل او د دغے اقتداماتو چه کومو دیندارو عالمانو او بزرګانو خصوصاً پښتنو مشاهیرو بزرګانو مخالفت کولو هغه په جیلخانو کلې اچولے شول. لکه چه د حضرت امام رباني نه وړاندے د شهنشاه جهانګیر د لاس نه حضرت بابا ابراهیم افغاني د ښهر قصور او سیدونکے چه د چنار

په قلعه کښې بنديوان کړے شوے وو. د دغے نه مخکښې حضرت شيخ سعد الله افغان سره بنی د ګواليار په قلعه کښې بنديوان کړے شوے وو او ورپسے حضرت شيخ احمد سون غورغشتي د ګواليار په قلعه کښې په زندان کښې اچولے شوے وو. نو په داسے حالاتو کښې چه هر کله چه حضرت امام رباني هم په بند کښې واچلولے شه. که د هغے وخت د اهل سنت والجماعت عقيده لرونکو اميرانو خصوصاً د مولانا عبداولهاب اخون پنجو بابا په برکت او همت او روحاني تو جهاتو په وجه جهانګير ته مناسب سبق نه وے ورکړے شوے نو نن به د برصغير پاک او هند د مذهب تاريخي شکل يقيناً څه بل شان وو. او د شهنشاه جهانګير په زمانه چه د مغليه سلطنت حدود تر کوم کوم ځائي رسيدلي وو. په هغے ټولو علاقو خصوصاً شمالي هند کښې تر افغانستان پورے به نن د اهل السنت والجماعة دغه دور دوران په نظر نه راتللے. کوم چه نن موجود دے. بلکه د دے په ځائ به د اهل بدعت. زنادقه. ملاحده او خلوليه عقيده لرونکو دوران وے. او د پښتونخواه دا بهادران او ننګيالي مسلمانان چه څرنګ نن ورځے د اهل السنت والجماعت په عقيده لرونکو مسلمانانو کښې په توله دنيا کښې يو مثالي حيثيت لري. دا حيثيت به يئے نن نه وو. الله تعالی دے د حضرت مولانا عبدالوهاب اخون پنجو بابا په مزار باندے د انوراو باران وکړي. دا د دوئ د مبارکو کوششونو برکت

دے چه په دے علاقو کښې د اسلام مشعل روښانه دے.

د دے پورته بیان نه دا اندازه په آسانه لګیدلے شي چه د یو خاص پروګرام ما تحت د شمالي هند د پښتنو علاقے ته داسے پیران او مشائیخ را خواره شوي وو. چه هغوئ د اهل السنت والجماعت عقیده لرونکو پښتنو په منځ کښې د اباحیه. قدریه. جبریه. ملامتیه او حلولیه عقیدو افکار او خیالات د پیرئ او مریدئ په رنګ کښې خوره ول. او د بدعت ټولو رسمونو لکه رقص او سرود او د مذهب نه بے پرواهئ. بے پردګي وغیره فحش کارونو له یئے رواج ورکؤلو. د دغه نمونے یو پیر چه د هغه سرمست فقیر نوم وو. د پیښور سره نزدے د اکبر پورے په علاقه کښې اوسیدلو. حضرت مولانا عبدالوهاب چه د جهانګیر د دغه پورتنی مهم نه فارغه شه نو د دے نمونے ټولو اهل بدعت پیرانو په خلاف یئے کوششونه اوکړل. د وادئ پیښور په مختلفو علاقو کلے چه کوم کوم ځاي ته د اهل بدعت پیرانو اثر رسیدلي وو. هغه یئے ختم کړل. په دغه سلسله کښې د سرمست فقیر د ناکاره اثراتو نه یئے دا علاقه پاکه کړه او روستو پخپله یئے هم د پیښور ښهر خوا سره نزدے دا کبر پوره په دغه مقام کښې سکونت او فرمائیلو چه بیا هم دلته وفات شه او هم دلته یئے مزار جوړ شه. علیه الرحمة والغفران.

اولاد او مریدان

د حضرت مولانا عبدالوهاب اخون پنجو بابا قدس سره د کومو تالیفاتو او تصنیفاتو ذکر چه مخکښې اوشه. نن په هغې کښې یو کتاب هم ځمونږ په لاس کښې نشته دے. کیدے شي چه د ګدون د میا ګانو عالمونو سره د دے کومه نسخه موجوده وي. د دغے نه راپه دیخوا د دوئ د اولاد او مریدانو په حقله معلومات موجود دي. په تحفة الاولیاء د رضواني کښې د دوئ د څلورو ځامنو نومونه درج دي. یو میا محمد عثمان چه د ټولونه مشر وو. او د خپل والد د وفات نه روستو سجاده نشین شوے وو. دویم سلیمان. دریم لقمان او څلورم حاجي فریدالدین چه د حج کولو نه روستو په اجمیر شریف کښې اوسیدۀ. او هم هلته وفات شویدے. دا څلورو واړه د خپل پلار مریدان او خلیفه ګان وو. د میا ابو حامد په بیاض کښې د مولانا عبدالوهاب د پنځم ځوي عبدالمؤمن ذکر هم راغلے دے.

حضرت شیخ فرید

په دوئ کښې څلورم ځوئ شیخ فرید الدین د شیخ فرید په نوم مشهور دے. حضرت میاں صاحب محمد عمر د څمکنو په خپل کتاب "سرالسرار" کښې د ده د اوچتے عرفاني مرتبے زیاته ستائینه کړیده او پخپلو استاذانو کښې یئے شمارلے دے. د رضواني مرحوم د روایت مطابق حضرت شیخ حبیب پشاوري هم د دے حضرت شیخ فرید الدین مرید وو. چه روستو د حضرت اخون پنجو بابا مبارکه سلسله د دے حضرت شیخ حبیب

په ذریعه شیخ محمد مؤمن د ماشو ګګهر ته د هغه نه حافظ اخون محمد صدیق د بشونئ ته د هغه نه حافظ اخوند محمد د عمر زو ته د هغه نه حافظ اخوند محمد شعیب د تور ډهیرئ ته د هغه نه حافظ اخوند عبدالغفور د سوات ته رسیدلے وه. او د اخوند صاحب د سوات په ذریعه د دے مبارکے سلسلے شا خو نه تر نن ورځے پورے په ټول شمالي مغربي پاکستنا او افغانستان کښې خواره دي.

حضرت شیخ میا علي

د حضرت اخوند پنجو بابا علیه الرحمة په مشرانو مریدانو کښې د حضرت شیخ اخوند میا علي نوم یاد ولے شي. دے په اصل دهشنغر د شیر پاؤ نومے کلي وو. په قام مامون زایئے یوسف خیل وو. ټول عمر یئے د خپل پیر سره تیر شوے وو. د اوچتے عرفاني او روحاني مرتبے خاوند وو. زیارت یئے د اخون پنجو بابا د مزار د نور ختیزے دروازے نه باهر دے. او لکه چه مخکښې ذکر شوے دے. د خپل پیر په مناقب کښې یو کتاب یئے یادګار پاتے دے. روستو د ده ځوي میا عبدالرحیم هم د خپل وخت لوئ بزرګ تیر شویدے چه زیات یئے په موضع ټټاره کښې دے.

حضرت شیخ عبدالغفور عباسي

حضرت شیخ عبدالغفور عباسي المعروف په بوډا بابا د علاقه داؤد زایے د موضع پیارئ شغارئ اوسیدونکے وو. د خپل وخت یو

صاحب د کمال بزرگ وو. ډیر مریدان یئے لرل. حضرت شیخ صاحب د ریګي. او حضرت شیخ اخون بابا (د باړے د شیخانو نیکه) حضرت شیخ اخوند صاحب د بیسئ (دا کلے د موضع اچینی خواته دے) او حضرت میا جي صاحب د موضع مټئ علاقه داؤد زایے. د دوئ په مشهورو مریدانو کښې دي. داسے معلومیږي چه په آخر عمر کښې د خلیلو علاقے ته تلے وو. مزار مبارک یئے د تپه خلیل په موضع کوچیان کښې د چل ګزیانو په ادیره کښې دے.

حضرت شیخ اخوند سالاک

حضرت شیخ اخون سالاک په اصل د ترکستان وو. (یو بل اخوند سالاک چه په قام خټک وو. او د موضع ترئ اوسیدونکے وو. هغه د زمانے په لحاظ د ده نه د مخکښې زمانے بزرګ تیر شویدے چه د اخوندرویزه په تذکره کښې او په تاریخ موصع کښې یئے ذکر راغلے دے) د اباسینده کوهستان او سوات کوهستان وغیره په علاقو کلے د جهاد کولو په وجه د اخون پنجو بابا په مریدانو کښې ده ته زیات شهرت حاصل شویدے. اخوند سالاک علاوه د روحاني او عرفاني مرتبے لرلو نه یو فاضل عالم. ادیب او مؤرخ هم وو. د ده په تالیفاتو کښې فتاوي عربیه. بحرالانساب او عزویه زیات مشهور کتابونه دي. حضرت اسماعیل شهید چه په وادئ پیښور کښې د کوم اسلامي ریاست بنیاد ایښے وو. د هغے اکثر شرعي فیصلے به یئے د دے فتاوي عربیه مطابق

کوؤلے. (د اخوند سالاک په حقله مار عبدالحلیم اثر) پخپله کتاب "پښتانه مؤورخان" کښې په تفصیل سره بحث کړیدے) دے په ۱۰۶۷هـ کښې وفات شوے دے. مزار مبارک یئے په اباسیندهـ کوهستان کښې په علاقه چغرزایئے کښې په کابل ګرام نومے کلي کښې دے.

د اخوند سالاک په مریدانو کښې ملامست علي خان د شوړتن (سمت مشرقي افګانستان) ته زیات شهرت حاصل شوے دے. چه مزار مبارک یئے د خیبر ایجنسئ په علاقه شنوارو کښې دے. او کتاب سلوک الغزات یئے علمي او ادبي یادګار پاتے دے. د ۱۰۷۵هـ په شاؤ خوا کښې وفات شویدے. د ده په حقله د زیات تفصیل د پاره ملاحظه کړئ څما تالیف "پښتانه مؤرخان".

د اخون سالاک په مریدانو کښې بل مشهور مرید د شاه ډهنډ بابا دے. چه مزار یئے د مردان او صوابئ په پوخ سړک باندے دهوتي نومے کلي سره نزدے دے. او بل مشهور مرید یئے حضرت اخوند محمد یونس د تورو معیارو دے. چه مزار یئے د خاوؤ ډهیرے خوا سره نزدے دے. (د معیارو د موجوده کلي جنوب طرف ته د کلپانئ په مغربي غاړه) حضرت اخون شیخ محمد یونس د خپل وخت فاضل عالم وو. او حضرت میا صاحب محمد عمر د څمکنو د دیني کتابونو درس د دوئ سره لوستلے وو.

حضرت شیخ میا موسي

د دې نه علاوه د سمت مشرقي افغانستان حضرت شيخ ميا موسى صاحب د بټي کوټ هم د حضرت اخون پنجو بابا په مريدانو کښې د اوچتے روحاني درجے خاوند بزرګ تير شويدے. چه فيوضات يئے تر اوسه جاري دي.

حضرت شيخ رحمکار کاکا صاحب

رضواني مرحوم په خپل کتاب تحفه الا ولياء (صفحه نمبر۳۰) کښې حضرت شيخ رحمکار کاکا صاحب عليه الرحمة هم د حضرت اخون پنجو بابا عليه الرحمة په مريدانو کښې شمارلے دے. ليکن د حضرت کاکا صاحب عليه الرحمة د نمسو کاکا خيلو په تذکرو کښې د دے خبرے نه انکار کوؤلے شي. او ترکومه حده چه ځما تحقيق دے. د کاکا خيلو مؤر خانو رائ صحيح معلوميږي. وجه يئے دا ده چه مخکښې د حضرت اخوند پنجو بابا د ژوند حالات چه په کوم ترتيب سره بيان شول. د هغے نه دا واضحه کيږي. چه د رضواني هغه بيان صحيح نه دے. چه د حضرت کاکا صاحب والد ماجد حضرت سيد عبدالله الملقب په بهادر خان د اخون پنجو بابا مريد وجو. يا دا چه هر کله کاکا صاحب پيدا شه. نو خپل والد ماجد په اورنړی کښې نغښتے راوړ او خپل پير طريقت اخون پنجو بابا ته يئې دعا کولو د پاره پيش کړ". ځکه چه رضواني مرحوم روايت خو راجمع کړيدي. ليکن دايئے فکر نه دے کړے چه آخر د تاريخ سره د هغے تطبيق څرنګ راتللے شي.؟ سوال دا دے چه که مونږه د رضواني مرحوم د خپل بيان مطابق د حضرت

اخون پنجو بابا ولادت په ۹۴۵هـ کښې او منو. نو په دغه حساب د حضرت کاکا صاحب عليه الرحمة د ولادت ۹۷۱هـ په وخت کښې په دا خون پنجو بابا خپل عمر۳۶ کاله وو. او رضواني دا هم وئيلي دي چه اخون پنجو بابا په۹۹۳ هـ کښې د ابو الفتح فنباچي مريد شوے وو. چه د دغے واضحه مطلب دا دے. چه د کاکا صاحب د پيدا کيدلو (۹۸۳هـ) په نيټه چه هر کله دے لا پخپله د چا مريد نه وو. نو آخر د کاکا صاحب د والد ماجد پير طريقت څرنګ شه؟ بلکه د رضواني د خپل تفصيلي بيان مطابق په ۹۸۳هـ کلي لا اخون پنجو بابا په روهيل کنډ کښې وو. علم يئے حاصلولو. او بيا د ده د خپل بيان مطابق د کاکا صاحب د پيدا کيدلو په نيټه په اکبر پوره کښې موجود هم نه وو. چنانچه د دے وجوهاتو له مخه هر کله چه تاريخ د رضواني د بيان مرسته نه کوي. نو څکه مونږ اووئيل چه د رضواني مرحوم دغه بيان صحيح نه دے چه د کاکا صاحب والد ماجد د اخون پنجو بابا مريد وو. يا دا چه حضرت کاکا صاحب يئے په اورنړي کښې دوئي له راوړے وو. بلکه صحيح قول دا کيدلے شي چې حضرت سيد عبدالله الملقب په بهادر خان د حضرت اخوند پنجو بابا عليه الرحمة د زمانے مشر بزرګ وو. او حضرت شيخ رحمکار کاکا صاحب عليه الرحمة د حضرت شيخ سيد مولانا عبدالوهاب اخون پنجو بابا قدس سره همعصر بزرګ وو. عليهلم الرحمة اولغفران وقدس الله اسرار هم.

حضرت سید شیخ محمد طاهر قادري

بندګي، لاهوري

حضرت سید شیخ محمد طاهر بندګي، قادري، لاهوري علیه الرحمة په طریقه عالیه قادریه کښې د حضرت شاه اسکندر ابن شاه کمال کهیتلي مرید او خلیفه وو. د هغوي په حکم سره یئے لاهور ته تشریف راوړے وو. او د لته یئے د دیني علمونو درس ورکؤلو او د روحاني فیوضاتو سلسله یئے جاري کړے وه. او د دوئ د روحاني فیض دا سلسله تر لرے لرے پورے خوره شوے وه.

د سابق صوبه سرحد مشهور قوم یوسفزی درانی زائی قبیلے د خان خیلو یوه کورنئ په ملتان کښې آباده وه. د دے کورنئ مشهور خان ملک کاچو په دغه زمانه په ملتان کښې اوسیده. او هغه د حضرت سید شیخ محمد طاهر بندګی علیه الرحمة نه په قادریه طریقه کښې بیعت کړے وو. دا ملک کاچو د خپل پیر په حکم سره د ملتان نه د ملاکنډ ایجنسئ د سوات رانیزی علاقے ته راغلے وو. چه اولاد یئے په الله ډهنډ او ډهرئ نومے دواړو کلو کښې د کاچو خیل په نوم سره اوس هم موجود دے. دغه ملک کاچو په ۹۹۴هـ کښې د پښتنو تاریخ په نوم یو کتاب لیکلے دے. او د حضرت سید نامحمد

طاهر بندګی په اولاد کښې چه کوم کسان یئے د ځان سره د خپلے پیر خانے د بزرګانو په حیثیت د ځان سره د رانیزئ علاقے ته راوستلي وو. د دغه ساداتو درے کلي دا وخت د سوات رانیزئ په علاقه کښې موجود دي.

د دے تاریخي واقعاتو نه معلومیږي. چه ملک کاچو د خپل پیر په حکم سره د ملتان نه د ۹۹۴هـ نه مخکښې راغلے وو. او د دغے نه ورسره دا هم معلومیږي چه حضرت سیدنا محمد طاهر بندګی قادری د ۹۹۴هـ نه مخکښې په ملتان کښې وو. او د هغے نه روستو د خپل پیر حضرت شاه اسکندر کهیلتي په حکم سره لاهور ته تشرف راوړے وو.

دغه زمانه چه په کومه کښې حضرت سید نا شیخ محمد طاهر بندګی قدس سره په لاهور شهر کښې د دینی علمونو د درس او تدریس. وعظ. نصیحت. امر معروف او د قادریه طریقے د فیوضاتو خوره ولو سلسله جاري ساتلے وه. د لاهور ښهر په تاریخ کښې د سلسله عالیه قادریه د عروض زمانه ګڼړلے شي. او د قادریه خاندان ګڼړ مشاهیر بزرګان په لاهور کښې موجود وو. لکه:

(۱) حضرت شاه ابو المقالي قادري کرماني متوفي ۲۰۴۶هـ

(۲) حضرت شاه بلاول قادري لاهوري. متوفي ۲۸، شعبان ۱۰۴۶هـ

(۳) حضرت شیخ میان میر بالا پیر قادري. متوفي ۱۰۴۵هـ (د تاریخ وفات ماده یئے دا جمله ده. "مقتداءِ تحقیق")

په داسے زمانه کښې چه په لاهور ښهر کلې د سلسله عالیه قادریه دومره بزرګان موجود وو. د خپل پیر حضرت شیخ شاه اسکندر کهیتلي د طرف نه چه حضرت شیخ محمد طاهر ته د لاهور د راتللو او هلته د خپلو فیوضاتو د سلسلے جاري کولو حکم ته چه فکر اوکړلے شي. نو داسے معلومیږي چه هر کله د دوي د روحاني درجے او مرتبے سره سره د دوئ د دیني علمونو مرتبه هم ډیره اوچته وه. نو حضرت شاه اسکندر پخپل روحاني بصیرت سره د پنجاب په مرکزي ښهر لاهور کښې د علم او عرفان دواړو یو داسے مشعل روښانه کول غوښته. چه د هغے په انوارو د پنجاب او سرحد ګوټ، ګوټ روښانه شي.

حضرت سیدنا محمد طاهر بندګي قدري په ۱۰۴۰هـ کښې وفات شوے دے. د تاریخ وفات ماده یئے دا جمله ده (غم ۱۰۴۰هـ) مزار مبارک یئے د لاهور ښهر د مه کښې په علاقه کښې دے.

د حضرت سید نا شیخ محمد طاهر قادري علیه الرحمة په مریدانو کښې حضرت شیخ ابو محمد قادري علیه الرحمة د خپلو زمانے مشهور بزرګ تیر شوے دے. چه مزار یئے د خپل پیر د مزار سره یو ځاي. دے. د

دے حضرت شیخ ابو محمد په مریدانو کښې حضرت شیخ محمد افضل قادري علیه الرحمة د لاهور نه موضع کلانور ضلع گوردا سپورته تشریف وړے وو. او هلته یئے د سلسله عالیه قادریه د فیوضاتو سلسله جاري کړے وه. کلانور نومے ښهر په ضلع گور دا سپور کښې د دریائے راوي نه راپه دے خوا د پنځه کوس په فاصله آباد دے. او د حضرت شیخ محمد افضل قادري کلانوري علیه الرحمة مزار مبارک د دے ښهر نه جنوب طرف ته باهر دے. علیه الرحمة والغفران.

د دے حضرت شیخ محمد افضل قادري په اولاد کښې حضرت شیخ محمد فاضل قادري علیه الرحمة د شهنشاه د عالمگیر اورنگ زیب په زمانه کښې د کلانورنه د علاقه بادي دو آب مشهور ښهر بټاله ته تشریف یوړلو. یو جامع مسجد. او د هغے سره پیوسته د دیني علمونو یوه لویه او شانداره مدرسه او خانقاه یئے جوړکړل. او د ظاهري او باطني علمونو درس او تلقین یئے شروع کړ. او د شریعت او طریقت په فیوضاتو یئے د خواؤ شا عام او خاص خلق سر فرازه کړل او بے شمیره غیر مسلم خلق یئے د دین اسلام په سعادت مشرف کړل.

د حضرت شاه محمد فاضل قاري علیه الرحمة په برکت د ټول سابق پنجاب او سرحد په زمکه سلسله عالیه قادریه تر لرے لرے خوره شوه. او د ومره فروغ ورته حاصل شه. چه د دوئ نه روستو دا سلسله په "طریقه قادریه فاضلیه" سره یاده شوه.

حضرت شیخ محمد فاضل علیه الرحمة په ۱۱۵۱هـ کښې وفات شوے دے. د لفظ (غم عام ۱۱۵۱) نه د دوئ د وفات تاریخ راخیژي.

د دوئ په اولاد کښې حضرت پیر حسن شاه د خپل وخت ډیر لوئ فاضل او محقق عالم او د اوچتے مرتبے عارف وو. چه د بټاله نه لاهور ته راغلے وو. او دلته یئے د سلسله عالیه قادریه فیوضات جاري کړي وو. د هغوئ نه روستو حضرت پیر حسین شاه قادري په لاهور کلي د هغوئ جانشین وو. علیهم الرحمة

د حضرت شیخ محمد فاضل قادري علیه الرحمة په اولاد کښې چه کوم خاندان په بټاله کښې پاتے وو. هغوئ هم د طریقه قادریه د فیوضاتو خورولو. د دیني علمونو د درس او تدریس او خانقاه جاري ساتلو دا سلسله قائمه کړے وه.ا و د ظاهري او باطني فیض حاصلونکو د پاره د لنګر عام انتظام موجود وو. د دے خاندان په روستنو بزرګانو کښې حضرت شیخ نذر محي الدین قادري فاضلي علیه الرحمة د پاکستان د جوړیدلو نه روستو د بټاله نه لاهور ته تشریف راوړے وو. او بیا هم دلته وفات شه. چه اوس د هغوئ فرزند ارجمند حضرت شاه بدر محي الدین سجاده نشین دے. او د لاهور ښهر په فیوروز شاه روډ فاضلیه کالوني کښې یئے خانقاه دے. او څما محسن او مهربان دوست سید آغا عنایت علي شاه ضیاء جعفري قادري په سلسله عالیه قادریه فاضلیه کښې د دغه مرحوم شاه نذر محي

الدين علیه الرحمة مرید او خلیفه دے.
ادام الله فیو ضاتهم.

حضرت اخوندرویزه علیه الرحمة

د لاودت
....
۹۴۰هـ

وفات
....
۱۰۴۷هـ .

حضرت مولانا شیخ المشائیخ قدوة العلماء الراسخین زبدة الاولیاء الاکملین شیخ عبدالله المعروف په الله داد ملقب په اخوندروزیزه ننګر هاري پاپیني علیه الرحمة یوه مشهور دیني عالم او روحاني پیشوا دے. چه د لسمے پیړۍ په روستنۍ او د یؤولسمے پیړۍ په اولنۍ نیمه حصه کښې ژوندے وو. او د علم او عرفان ادب او تاریخ په میدان کلې ډیر لوئ نوم یئې ګټلےدے. او کوم شهرت چه دوئ ته حاصل شوے دے. هغه د پښتونخوا بل کوم یو عالم او بزرګ ته نه دے نصیب شوے شجره د نسب یئے داسے ده.

عبدالله (الهداد) اخوندرویزه بن ګدائي بن سعدي بن احمد بن مته (معروف په درغان) بن جیون بن جنتي.

شپږم نیکه یئے چه نوم یئے جیون وو. هغه په لمغان کښې اوسیده. د هغه ځوي مته د ننګر هار په مهمند دره کښې اوسیده. د هغه ځوي احمد د ننګر هار د شنوارو په علاقه کښې په پاپین نومے علاقه کښې اوسیده. د هغه ځوي سعدي هم په دغه پاپین کښې اوسیده. او چه هر کله په ۸۱۲هـ کښې د یو سفزو وغیره قبائیلو خلق د کابل نه د ننګرهار په لاره خانه کوچ وادئ پیښور ته راتلل نو د هغوئ سره دغه سعدي چه په تاریخ کښې په "شیخ سعدي" نامه مشهور دے. یوځائي ملګرے وادئ پیښور ته راغلے وو. او بیا چه د یوسفزو د قبائلي مشر ملک احمد خان او نورو قبائیلي سردارانو په اتفاق سره د ۸۲۱هـ نه تر ۸۲۹هـ پورے زمانه کښې مشهور پښتون مقنن شیخ ملي علیه الرحمة د ټولو مفتوحه علاقو ویش په ټولو قبیلو باندے د افرادو د شمار په حساب کړلو. نو شیخ سعدي له یئے د مندیزي قبیلے سره په ویش کښې حصه ورکړه. د شیخ ملي د ویش له مخه مندیزي قبیله د موجوده ضلع پیښور د تحصیل چارسده د دو آبے په علاقے کښې د خیالي او سردریاب نوم سیندونو تر منځه د خیالي په قبلیزه غاړه د سریخ او مروزي نومے کلو خوا ته آباده شوے وه. چه د دے قبیلے د نوم په مناسبت سره په دغه علاقه کښې یو کلے تر اوسه

پورے په منديزي نامه مشهور دے. حضرت شيخ سعدي عليه الرحمة دغلته آباد شوے وو. او بيا هم دغلته په يوه پيښه کښې شهيد شوے وو. مزار مبارک يئے د سريخ او مروزي نومے کلو خواته مقبره کښې دے.

د حضرت شيخ سعدي ځوي (او د اخوندرويزه والد ماجد) اخوندګدائي د غلته پيدا شوے وو. او د خپل والد ماجد د شهادت په وخت چه د دشمنانو په بند کښې پريوتلے وو. د هغے نه چه راخلاص شه. نو څه زمانه پس حضرت شيخ ګدائی عليه الرحمة بنير نومے علاقے ته د چغرزی نومے قبيلے خلقو له لاړ. او هغوئ ورله په خپله اسماعيل خيل نومے کورنئ کښې د لس کسانو برخه ورکړه. او هلته آباد شه. د تاريخونو او تذکرو د مطالعے نه دا صفا نه معلوميږي چه آيا د حضرت ګدائي دغه نامورځوي حضرت اخوندرويزه د ضلع پيښور په منديزو نومے کلي کښې پيدا شيودے او که د بنير د چغرزو په علاقه کښې. البته زيات خيال دا دے. چه پيدائش يئے د بنير د علاقے دے. او بيا دورکوټي والي په عمر کښې خو يقيناً چه په چغرزو کښې وو.

اخوندرويزه په ۱۰۲۱هـ کښې د "تذکرة الابرار" په نوم يو کتاب تاليف کړے دے د دغه کتاب په صفحه نمبر۱۱۹ ليکي چه د اوخت ځما عمر اتيا کاله دے. د هغے نه په قياس سره د دوئ د ولادت کال ۹۴۰هـ اندازه کؤولے شي. مور يئے د ننګرهار دپاپين د ملک نازو خان لور وه چه قراره نوم يئے

وه او ډېره زاهده عابده او صالحه بي بي وه. علیها الرحمة. د اخوندرویزه پادر په قندز (ترکسان) کښې هم څه زمانه تیره کریده. هر کله چه د اخوندرویزه بعض نیکونو په ننګرهار کښې عمر تیر کړے دے. په دغه وجه د خپل نوم سره نسبتي نوم "ننګرهارے" لیکي. او د پاپین سره د تعلق په وجه ځان ته پاپینے هم وائي. او هر کله چه دے پخپله د وادئ پیښور استوګن وو. او مزار یئے هم په پیښور ښهر کښې دے. په دغه وجه روستو راتلونکي مؤرخان لکه مفتي غلام سرور لاهوري پخپل کتاب "خزینة الاصفیاء" (صفحه ۵۹) کښې د دوئ نوم" اخوندرویزه پشاوري" یاد کړیدے.

حضرت اخوندرویزه بابا علیه الرحمة د لویو او مشهررو استاذانو سبق وئیلے دے. لکه ملا سید مصر احمد پاپیني علیه الرحمة. ملا محمد زنګي علیه الرحمة او ملا سنجر پاپیني علیه الرحمة شول. د ظاهري علمونونه علاوه په باطني علمونو او طریقت کښې هم د کمال درجے ته رسیدلے وو. د ملا زندګي علیه الرحمة په واسطه سره یئے د مشهور بزرګ او پیر طریقت حضرت شیخ الا سلام والمسلمین قدوة الا صفیاء الکاملین قطب الوجود وغوث العالم، غواص بحر الاسرار والرموز والمعاني السید علي الترمذي الحسیني المعروف په پیر بابا علیه الرحمة د بنیر نه لاس نیوه کړے وه. چه بیا روستو هغه خپل خلیفه او ماذون کړ. او په څلورو واړو طریقو یعنے قادریه سهروردیه. چشتیه اوکبرویه کښې یئے اجازت

ورکړ. او په پنځمه طریقه شطاریه ته کښې یئے هم خلیفه او مجاز کړے وو. (د زیات تفصیل د پاره ملاحظه کړئ د اخوندرویزیه کتاب تذکرة الا برار بحث د "خپل سوانح حیات".)

د خزینة الا صفیاء د بیان مطابق اخوندرویزه په کال ۱۰۴۸هـ کښې په حق رسیدلے دے. په دے حساب سره د ده عمر (۱۰۹) کاله جوړیږي. زیارت یئے د پیښور ښهر د ګنج دروازے نه بهر د پیښور ښهر په لویه ادیره کښې د هزار خانئ نومے کلي سره نزدے واقع دے. علیه الرحمة والغفران.

په دے دومره اوږد عمر کښې چه حضرت اخوندرویزه علیه الرحمة کومے علمي، ادبي. تاریخي. مذهبي او تبلیغي کارنامے انجام ته رسؤلے دي. د هغے له مخه روستو راتلونکو ټولو عالمانو. مؤرخانو او بزرګانو او په خصوصیت سره د پښتو ژبے ادیبانو او شاعرانو ورته په حیثیت د عالم. ادیب. مورخ. صوفي واعظ. مناظر او مبلغ او مصنف سره خراج د عقیدت پیش کړیدے. حضرت حافظ عبدالمقتدر نقشبندي چشتي. سهروردي المعروف د الپورئ حافظ د دوئ په حقله فرمائي:

لکه زړۀ په ټول پښتون
دے اخون ایښے
همبره زړۀ کله په څوي
خپل پردږدي

د روستو زمانے راتلونکو عالمانو او بزرگانو چه پخپلو یاد داشتونو کښې دے په کومو تعریفي الفاظو یاد کړیدے. په هغے کښې یو څو دا دي. (۱) د دین اسلام ډیوه (۲) د مذهب اسلام رنړا (۳) د حق خاوند (۴) فاضل عالم (۵) د اهلهوا او بد عت په مقابل کښې د ایمان او اسلام لوي مدافع (۶) قطب المکنة ورکن السنة و منبع الا نوار (۷) شیخ شیوخ الطریقة (۸) علامه د امور شریعت (۹) مجذوب د جذباتو د وحدت (۱۰) قبلة الا برارو نقطة الا حرار (۱۱) الشیخ الفاضل والولئ الکامل" حضرت مولانا اخوندرویزه علیه الرحمة.

ابتدائي احوال او نور واقعات

ځما دا خیال دے. چه د دے بزر ګنریني هستئ ابتدائي احوال او د ژوند نور واقعات په ترتیب سره بیان کړو. نو فائده به یئے زیاته شي.

حضرت اخوندرویزه د پلار د طرف نه په قام تاجک دے. د مشهور مؤرخ میکتینهز د بیان مطابق د تاج، طایک قوم خلق اریبئین ټائ. عرب طائیان یعنے د سبائي نسل خلق دے. چه د ۵۰۰ق م نه په دے علاقه کښې آباد وو. او په افغانستان کښې د دیګان او د وادئ پیښور په پخواني تاریخ کښې د دهقانان په نوم یاد شوي دي. د دے قوم خلق د مغربي پاکستان په مختلفو حصو کښې تر نن ورځے پورے آباد دي. او ددغے نه

علاوه په خصوصیت سره د سمت مشرقي او سمت شمالي افغانستان په وادئ کنړ. لمغان. کوهستان ریزه. کوهد امن. تګاب. بخراب. پنجشیر وغیره علاقو کښې د اندار اب تر علاقے پورے تقریباً د یوویشت لکهه په تعداد کښې غونډ آباد دي. او د سوویت روس په ریاستونو کښې د تاجکستان په نوم یوه علاقه د دے قوم د خلقو موجود ده. چه د اشتراکی نظام د لاندے دي. لیکن مسلمانان دي. او نسلاً عرب دي چه د جنوبي عرب نه راغلي دي.

د حضرت اخوندرویزه مور بي بي علیها لرحمة د سلاطین پنج په خاندان کښې د سلطان تومنا په اولاد کښې وه. د اخوندرویزه خپل روایت دے. چه د سلاطینو دا خاندان په اصل یونانیان وو. په دے سلسله کښې څما (اثر افغاني) چه نور څه معلومات دي. هغه چونکه اوږد بحث غواړي. په دے وجه هغه ټول تفصیل م پخپل کتاب. اخوندرویزه" کښې بیان کړیدے. هلته دے ملاخطه کړے شي.

د حضرت اخوندرویزه خپل اصلي نوم عبدالله دے. او په عامو تذکرو کښې "الله داد" راغلے دے. وجه یئے دا ده چه په هغه زمانه د عربي نومونو ځنے د فارسی ترکیب مطابق د نومونو جوړولو یو عام رواج وو. او د دغه عامے قاعدے مطابق د عبدالله نه الله داد نوم جوړ کړے شوے دے. دا یوه داسے خبره ده. چه د دے ګنړ مثالونه موجود دي. لکه پخپله د اخونرویزه په

کورنۍ کښې د ده د يو ځوي نوم عبدالکريم دے په ميا کريمداد ياديږي. د دوئم ځوئ يئے پير محمد نوم دے پير داد ياديږي د ده په نمسو کښې د يو نمسي نوم عبدالرحيم دے. رحيمداد بللے شي. د دغه شان د بايزيد انصاري په خاندان کښې د عبدالکريم په ځاي کريمداد د عبدالواحد په ځاي احداد. د عبدالقادر په ځاي قادر داد. د پير محمد په ځاي پير داد. د عبدالخالق په ځاي خالقداد او د عبدالهادي په ځاي هادي داد نومونو په طور د مثال ځمونږ په وړاندے دي.

اخوند درويزه پخپل کتاب تذکرة الا برار کښې (د صفحة نمبر۱۰۵ نه تر نمبر۱۲۵ پورے) په ډير تفصيل د علم دين مطلب او د علم معرفت د حصول حلالت بيان کړيدي. فرمائي. چه په ورکوټي والی کښې د طريقه د سنت د تابدارئ د بدعت او ناکاره کارونو نه د بيزارئ او د زهد او ياضت شو ق م لرلو. په وړوکوالي کښې م دا حال وو. چه هر وخت به د خدائ د ويرے نه په ژړا ووم والده ماجده چه به ځماله ډيرے ژړا نه تنګه شوه. نو ښپيړه به يئے هم راکړه چه لږ لوئ شوم نو هر وخت په اودس کښې اوسديل د ورځے روژه او د شپے عبادت م روزګار شه. د احکام شريعت په ځاي راوړل او د خلاف شريعت کرونو نه ځان ساتل م چه اختيار کړل. په دغے راته د زړۀ صفايي حاصل شوه او ډير څه م اوموندل. او د افغانانو په اصطلاځ کښې کامل بزرګ رانه جوړ شه. کشف راته حاصل شه او د غيب حالات

به م خلقو ته بیانول. او په دے بیا روستو پوهه شوم چه دغه هر څه چه مالیدل او کوؤل یعنے د غیبو خبرے کؤل او ځان بزرګ ګنړل. دغه ټول د طریقت په نزد هیڅ قدو قیمت نه لري. چه څه وخت د دین د علمونو نه خبر داره شوم نو د هغے په ذریعه د حقاني وار دا تو او شیطاني وارداتو تر منځه م فرق اوکړلے شه. او د حق و باطل تر منځه په تمیز کولو پوهه شوم. او نتیجه یئے دا شوه چه نا شائیسته واردات م په شائیسته بدل شول. او د اهل سنت والجماعة په سمه لاره د تللو توفیق خدائ پاک راکړ.

د اخوندرویزه د خپل بیان نه معلومیږي. چه په ابتداء کښې د حضرت ملا سنجر پاپیني نه یئے علم حاصل کړے وو. لیکن باقاعده تعلیم او خط و کتابت یئے د ځلمي توب په زمانه کښې د حضرت مولانا سیدمصراحمد بخاري نه حاصل کړے وو. دغه مولانا مصر احمد د حضرت سید محمود تارن بخاري په اولاد کښې وو. اخوندرویزه وائي چه د ده نه م د لیکلو او لوستلو ابتداء اوکړه. نو مور بي بي م شیریني ویشلے وه. ابتداء یئے د لیکلو نه اوکړه. قرآن مجید یئے په یو کال کښې یاد کړ. او په دوه کاله کښې یئے د علم دین ابتدائي کتابونه اولوستل. څه زمانه یئے د مولانا جمال الدین هندوستاني نه هم درس اولوست. بیا خپل پخواني استاد ملا سنجر له راغے خپل احوال یئے ورته بیان کړل. چه له خپلے روحاني بے قرارئ نه پریشاننه یم. او د

ظاهري علم د حصول نه پس هم د زړۀ اطمینان راته حاصل شوے نه دے. غرض دا چه د پیر طریقت په تالاش کښې ئي د هغوئ نه راهنمایيئ اوغوښتله. هغه ورسره شه. او حضرت شیخ المشاءیخ سید علي تر مذي پیر بابا له یئے "شل بانډئ" له بوتللو. د هغوي په خدمت کښې چه حاضر شه. نو اخوندرویزه بابا وائي چه د خپل زهد. ریاضت. عبادت او کشف وغیره ټول حالات م هغوئ ته بیان کړل. هغوئ راته او فرمائیل چه بیشکه د پښتنو په اصطلاح کښې کامل شیخ او بزرګ درنه جوړ شوے دے. لیکن په دے کښې یوه خبره ده. او هغه دا ده چهد یو کامل پیر د رهنمائے نه په غیر چه د زهد او ریاضت لاره اختیار کړلے شي. د هغے آخر انجام ګمراهي وي. د زهد او ریاضت کؤلو نه اول د دے خبرے علم ضروري دے. چه د زهد او ریاضت هغه بنیادي اصول کوم کوم دي.. چه د نبي کریم علیه التحیة واتسلیم په اقوالو او افعالو کښې ښودلي شوي دي. یعنے منبتدي له پکار دي چه زهد او ریاضت خالص هم په هغه طریقه سره اوکړي کومه طریقه چه د رسول الله صلي الله علیه وسلم په علمي او عملي تعلیماتو کښې بیان شویده. اخوندرویزه فرمائي. چه د دغے نه پو نور نصیحتونه یئے هم راته اوکړل. د توبے تجدید یئے رابانده اوکړ. د جمعے سره نمونځ ګذارل. د ایام بیض روژے نیول. صلوة آوابین ګذارل. او نور واجب او سنت کارونو اد اکولو هدایت یئے راته او فرمائیلو. اګر چه په دے ټولو عبادتونو

بـانـدے د وړانـدے نـه م هم پـه کـلـکـه عمل کـولـو. لـیـکن حضرت پـیـر بـابـا د قـاعدے پـه مطابـق د دے آمد راتـه فـرمـائـیـلـے وو.

اخونـدرویـزه پـنځه کـالـه د احکام شریـعت د مکملـے پـابـنـدئ د غه وطائـیـف چه پـه ځاي راوړل. نـو بـیـا د حضرت سید مصر احمد علیـه الـرحمة پـه وسیـلـه سره یـئـے حضرت پـیـر بـابـا تـه درخواست اوکړ چه اوس د ذکر الـهی تـلـقـیـن ورتـه اوکړي. اخونـدرویـزه پـه یـو بـل ځاي کښې د دے وضاحت داسے کړیـدے چه د پـیـر بـابـا طریـقـه د کـار داوه چه اول بـه یـئـے مریـدانـو تـه د شریـعت بـیـعت کـولـو او چه مریـد بـه د شریـعت پـه ټولـو احکـامـو استـقـامت اومونـده نـو هالـه بـه یـئـے ورتـه د طریـقـت بـیـعت کـولـو. او عامه قـاعده یـئـے دا وه چه د طریـقـت بـیـعت بـه یـئـے ډیـرو کـمـو خلـقـو تـه کـؤلـو. او چه پـه چا کښې بـه د دے درونـد بـار د سنبـالـولـو او پـورتـه کـولـو اهلـیـت نـه وو. هغه نـه بـه یـئـے داراز نـه ځرګنـدولـو. دا بـه یـئـے فـرمـائـیـل چه دا یـو الـهی امـانـت دے. او دا فـقـط هغه کسانـو تـه سپـارل پـکـار دي چه څوک یـئـے ساتـلـے شي. بـهـر حال پـیـر بـابـا د پـوره تـسلـئ نـه پس د اخونـدرویـزه درخواست منـظور کړ. او درجه پـه درجه یـئـے ورتـه پـه سلـسلـه چشتـیـه. سهروردیـه. قـادریـه. کـبـرویـه. شطاریـه کښې اجازت او خلافـت ورکړ. او پـه دغه منځ کښې د تـصوف د علم حاصلـولـو هدایـت یـئـے هم ورتـه کړے وو. او د علم تـصوف د یـو مشهور کـتـاب "جام جهان نـمـا" د مطالـعے کـولـو شودنـه یـئـے ورتـه کړے وه. چنـانـچه اخونـدرویـزه بـابـا دغه "جام جهان

نما" دیوان د خواجه قاسم لعات او لوائح د جامي او نور د تصوف کتابونه د پیر بابا نه اولوستل. او دومره کمال یئے پکښې حاصل کړ چه روستو یئے پخپله د "ارشاد المریدین" په نوم یو کتاب تالیف کړ چه په هغے کښې یئے د کتاب "جام جهان نما" ټول تصوفی مطالب په زیارت واضح شکل کښې بیان کړل. او د ده په پیروئ کښې د ده نامور فرزند یعنے میا کریمداد ولد اخوندرویزه په "جام جهان نما" باندے یوه ډیره فاضلانه شرح اولیکله (څو ورځے کیږي چه ما اثر افغاني د میا کریمداد په دے کتاب شرح جام جهان نما باندے یوه مبسوطه د یابچه لیکلے ده.)

هر کله چه اخوندرویزه د پیر بابا په صحبت کښې د طریقت او معرفت په علمونو کښې د کمال درجه حاصله کړله. نو د خپل پیر طریقت په ملګرتیا کښې د علم ظاهري او باطني په اشاعت او تبلیغ کښې مصروف شه. او د پښتونخواه په ګوټ ګوټ کښې د اهل السنت و الجماعة د عقیدے مطابق عوامو او خواصو ته یئے امر معورف او نهي عن المنکر شروع کړو.

د اخوندرویزه په مخکښې دوه کارونه وو. یو د اهل هوا او بدعت مقابله کؤل. عوام د هغوئ د غلطو عقیدو د اثراتو بچ کؤل او دوئم د اهل السنت والجماعة د عقیدے تبلیغ او نشر و اشاعت کؤل. د اخوندرویزه د دے کارونو په ضرورت او اهمیت باندے او ده چه پخپله زمانه کښې

په رشتیا سره د دین اسلام کوم عظیم الشان خدمت کړیدے. د هغے په قدر او قیمت باندے سړے هاله پوهیدلے شي. چه د ده په زمانه کښې د اهل سنت والجماعة په مخالف د نورو عقیدو لکه. قدریه جبریه. ملامتیه حلولیه وغیره عقیدو خصوصا باطنیه فرقے کوم عالمان بزرګان او داعیان وو. اول د هغے په پوره حقیقت باندے خبردار شي. او دا اورته معلومه شي چه بنیادي طور په دغه پورته ټولو عقیدو کښې خرابے څه څیز دے او که اخون درویزه او د ده شیخ طریقت پیر بابا د اهل السنت والجماعت د صحیح اسلامي عقیدےپه حمایت او مدافعت کښې کوششونه نه وے کړے. نو چه نن به د پښتون قوم په مذهبي اعتبار سره څه حال وو. اخوندرویزه وائي." که بالغرضپه دے زمانه کښې حضرت شیخ المشائیخ پیر بابا علیه الرحمه په دے ملک کښې موجود نه وے. نو معلومه نه ده که یو فرد له افرادو نه هم مسلمان پاتے شوے وے." د آخون درویزه د دے وینا د حقیقت معلومولو د پاره هم مونږ له د هغه زمانے او د هغے په پس منظر باندے غور پکار دے. د دے غرض د پاره به اول دا یو څو خبرے په فکر کښې اوساتو چه مطلب ته رسیدل آسان شي.

(۱) بره خبره دا ده. چه برصغیر پاک وهند ته د اسلام د دعوت او پیغام اکثر داعیان او مبلغان د مغربي د طرف نه په هغه لاره راغلي وي. چرته چه پښتانه قبایل آبادي دي. دغه شان په مسلمانانو کلي چه روستو کومے نورے فرقے پیدا شوے دي. چه

په هغې کښې قرامطه. باطنيه. رافضيه قدريه جبرته. حلوليه فرقې په خاص طور سره د ذکر قابلې دي. د دې ټولو فرقو داعيان او مبلغان هم په دغه لاره راغلي وو. دا ټول فرقې چه پورته يئې نومونه ذکر شول. د مسلمانانو د هغه صحيح او بر حقه ډلې او جماعت نه خلاف دي. کومې ته چه د اهل السنت والجماعت ډله وئيلي شي. او قرآن حديث. فقهه او اجماع د امت د خپل دين د اسلام د پاره مشعل راه ګنړي. او بنيادي طور د حنفي. مالکي. حنبلي. شافعي څلورو واړه بر حق مذهبونو پريرو کاران دي.

ظاهره ده چه تبليغي مهمونه هم لکه د عامو سياسي مهمونو په شان په قدم قدم وړاندې روان وي. د دې په بناء د مسلمانانو د هر ځومره مختلفو فروقو د اعيانو او مبلغانو چه په برصګير پاک او هند کښې د خپلو عقيدو د اثراتو خورولو کوشش کړيدې. د هغې د پاره يئې اول د پښتونخواه په علاقه کښې خپلې جرړي مضبوطې کړي دي. او بيا روستو د پاک او هند خاورې ته ود شريک شوي دي. د تاريخ په کومه دور کښې چه يو خواته د مشرقي او مغربي پښتونخوا علاقو ته اووريسې د برصغير پاک و هند نورو علاقو ته د دغه مختلفع فرقو مثلاًقرامطه. باطنيه وغيره د اعيان او مبلغان راخواره شوي وو. دلته يئې خپلي پنجې مضبوطې کړې وې. او چه کوم مسلمانان وو. هغه يئې د بدعت او الحاد په لاره روان کړې وو. نو بل خواته د

تاريخ هم په دغه دور کښې د اهل السنت والجماعة عقيده لرونکو عالمانو او بزرګانو مشهور مرکزي مقام بغداد وو. د دغه ځاي نه دوئ هم د ماورالنهر. خراسان او هند طرف ته توجه راو ګرځوله. بخارا. هرات غزنے. پيښور. لاهور او ملتان يئے د خپلو تبليغاتو د پاره مرکزونه اوګرځول او بيا د دے ځايونونه د اهل السنت واجماعة مشاهير بزرګان لکه سيد محمد ګيسود راز اول. سيد محمد طاهر تارن. سيد محمود تاج الدين. سيد علي هجويري وغيره چه مخکښې يئے ذکر راغلے دے د پورته ذکر شوؤ ملکونو مختلفو علاقو ته متوجه شول. او اهل بدعت چه کوم ناکاره تعليمات خواره کړي وو. د خدائ مخلوق يئے دغه غلطو عقيد واونا کاره تعليماتو د ناکاره اثراتو بچ کړ.

د اهل السنت والجماعة او د اهل بدعت د مختلفو فرقو تر منځه چه کوم مذهبي کشمکش او جدوجهد تير شيودے. او د هغے چه کوم تاريخي اثرات او نتائج وو. او بعض ثرات يئے د اخوندرويزه تر زمانے پاتے وو. او اخوندرويزه هم لکه د اهل السنت والجماعة د نورو پخوانو او همعصرو مشاهيرو بزرګانو او عالمانو په شان د هغے په خلاف کوششونه کړي دي. د دغے په خلاف کوششونه کړي دي. د دغي په حقله ما پخپل کتاب "اخوندرويزه" کښې په تفصيل سره بحث کړيدے. چه دلته په اختصار سره درته اشاره کؤل مناسب ګڼړو.

په تاريخي اعتبار سره د دے مذهبي کشمکش واقعات مونږ په ځلورو طبقاتو تقسيم کړولے شو. (۱) د قرامطه او باطينه فرقو دور (۲) د قدريه. جبريه. حلوليه فرقو دور (۳) د وجوديه اباحيد فرقو دور (۴) د روشانيه حلوليه، باطنيه فرقو دور په دے هر يو دور کښې چه د اهل السنت والجماعة د مسلک کومو مشاهيرو بزرګانو د دين اسلام خدمتونه کړي دي. وسره ورسره به په اختصار سره هغے ته هم اشاره اوکړلے شي.

(۱) فرقه قرامطه او باطنيه

د فرقه قرامطه او باطنيه د ابتداء وضاحت داسے دے. چه د حضرت سيد نا امام جعفر صادق رضي الله عنيه نه روستو شيعه ګان دوه ډلے شول. يوے ډلے حضرت سيد نا امام موسى کاظم ابن سيد امام جعفر صادق خپل امام تسليم کړ. او بلے ډلے حضرت سيدنا امام اسماعيل ابن سيد امام جعفر صادق خپل امام تسليم کړ. په دغه وخت کښې چه دا دواړه ډلے جوړيدلے سيد نا امام اسماعيل وفات شوے وو. په دے وجه د هغه په ځائ د هغه ځوي سيدنا محمد ايئے امام تسليم کړ. بيا د هغه جانشين سيدنا احمد وفي او ګرځولے شه. د هغه نه روستو سيد نا محدم تقي الحبيب. د هغه نه روستو سيدنا حسين الرضي او د هغه نه روستو سيد نا امام عبدالله (عبيد الله) المهدي جانشيان شول. دغه سيد امام عبدالله

المهدي افريقې ته په کډه لاړ. او هلته یئې د "خاندان بني فاطمه" په نوم د "فاطمي سلطنت" بنیاد کیښوده او په خپلو شیعه ګانو یئې د "فرقه اسماعیلیه" نو کیښود. روستو دې فرقې د یو منظم خفیه تحریک شکل اختیار کړ. چه د هغې په وجه ورته "فرقه باطنیه" (خفیه انجمن) وئیلې شوه. عبدالله المهدي دا خپله ډله د یو منظم تحریک په شکل سره (د بغداد د عباسیه خلافت برخلاف) په ټول دنیا کښې خوره کړه. او ټولو اسلامي ملکونو ته یئې خپل داعیان اولیږل. چه په هغې کښې په ۲۷۰هـ کښې د عبدالله ابن هباري وائی سندهـ، (مغربي پاکستان) په زمانه کښې هیثم نومې یو داعي یئې سندهـ ته هم رالیږلې وو. لیکن هغه کامیاب شوې نه وو.

د اسماعیلیانو اولنې مرکز په شام کښې وو. بیا په افریقه کښې قیروان او بیا مهدیه یئې مرکزشه. او د هغه ځاي نه ټول احکامات جاري کیدل. او بیا چه په مصر کښې د "فاطمي خاندان" بنیاد کیښودلې شه. نو دې ملکونو ته به دا عیان د مصرنه رالیږلې شول. او د باطنیه تحریک کار کنانوبه پټه په پټه کار کؤلو. د ۶۷۰هـ نه تر ۳۷۲هـ پورې هر کله چه په خراسان او مغربي پاکستان کښې د طبقات ناصري (صفحه نمبر۷ طبع کلکته) د بیان مطابق د "فرقة باطنیه" مشهور شاخ قرامطه پوره اثر ورسوخ حاصل کړ. نو په ۳۷۲هـ د مصر د فاطمي خلیفه العزیز بالله په زمانه کښې

جلم ابن شیبان په طور د داعي دلته را اولیږلے شه. هغه د خراسان په لاره ملتان ته اورسیده. په حکومت یئے قبضه اوکړه. په هغه زمانه په خراسان کښې چه کومو پښتنو قبائلو فرمطي عقیده قبوله کړے وه. خصوصاً د لودهي قبیلے ځنے خلوق. نو چونکه جلم ابن شیبان د دوئ په ملا تړ د ملتان د اهل السنت والجماعت د ابن منبه خاندان د حکومت تخته آړولے وه. په دغه وجه چه کله جلم ابن شیبان مړشه. نو د هغه په ځائې شیخ حمید لودهي (قرمطي) د ملتان بادشاه شه. ورپسے د هغه ځوي نصر بادشاه شه او په هغه پسے دهغه ځوئ ابو الفتوح داؤد لودهي بادشاه شه.

د ټولومؤور خینو په دے اتفاق دے. چه د فرقه باطنیه د دغه خصوصي شاخ قرامطه پیرو کاران ملحدان وو. هم دغه وجه ده چه سلطان محمود غزنوي علیه الرحمة په ۴۰۱هـ کښې د شیخ حمید لودهي په نمسي ابو الفتوح داؤد باندے حمله کړے وه. او د قرامطه وو طاقت یئے ختم کړے وو. د چانه یئے لاس اوپښے پرے کړی وو ځوک یئے قتل کړل. او ځوک یئے ختم کړے وو. د چانه یئے لاس اوپښے پرے کړي وو ځوک یئے قتل کړل. او ځوک یئے قید کړل. چه په دغه قیدیانو کښې شیخ ابو الفتوح داؤد هم شامل وو. غزني ته بندیونا یئې بوتلے وو. او تر مرګه د غزني په غوک نوم مقام کښې بندیوان وو. په تاریخي اعتبار سره د یو مسلمان بادشاه د طرف نه د اهل بدعت په خلاف دا اولنے جهاد ګڼړلے شي. حضرت پیر

بابا او حضرت اخوندرویزه چه بار بار كومه خبره كوؤله چه افسوز چه څمونږ په زمانه څوک مسلمان بادشاه نشته دے چه د اهل بدعت زور ختم كړي. هغه يئے د سلطان محمود دے جهاد ته اشاره كوله. ځكه چه د دوئ د زمانے بادشاه اكبر پخپله د دين اسلام په مقابله كښې يوه نوے طريقه جوړه كړے وه. چه په دين الهى ياديږي. او د هغه نه روستو جهانګير هم د بد قسمتئ نه د هغه خلقو سرپرستي كوؤله چه هغة د وحدت الوجود قائل وو. لكه شيخ عيسى مشوانړے وغيره شول. او د هغه چا سره يئے سختي كوله چه څوک پاخه اهل السنت و الجماعة وو. لكه شيخ ابراهيم بابا شورياني خوشكي. شيخ احمد سون غورغشتي. او شيخ احمد سر هندي مجدد الف ثاني عليهم ارلحمة شول.

(۱) حضرت شيخ رضي لودهي عليه الرحمة

دا خبره چه قرامطه اهل بدعت او ملحدان وو. او په هغه زمانه چه كوم د اهل السنت والجماعة علماء او مشائيخ وو. هغوئ يئے هغه شان مخالفت كولو لكه چه اخون درويزه د خپلے زمانے د قرامطه عقيده لرونكو اهل بدعت او ملحه انو مخالفت كؤلو. د دے د پاره (د شيخ نصر لودهي حكمران ملتان د تره د ځوي) حضرت شيخ رضي لودهي د يواوړ د نظم يو څو شعرونه دلته درج كوؤ چه دا نظم ئے شيخ

نصر لودهي ته ليږلے وو. هغة شعرونه دا دي.

د الحادلور ته دے تر پلل
گروه دے څمونږ وکور اوه

مونږ رونړ که په زيارون
تاپه تورو تورا وه

لرغون ولے گروهيدلے
چه دے گوښې اړا وه

هغه گروه دے اوس اړه کړ
چه پلرو دے رونړا وه

لودهي ستا په نامه سپک شو
که هر څو مو درنا وه

نصره! نه موۍے له کماله
لودهي نه يئے په کا وه

څمونږ دغا ده ستاله گروهه
د ور څلوي په رغا وه

ظاهره ده چه اگر چه سلطان محمود په ۴۰۱هـ کښې د قرامطه و حکومتي طاقت ختم کړے وو. ليکن د دے فرقے د عقيدے او خيالاتو خلق په دے ملک کښې پاتے وو. او

چه په ژور نظر ورته اوکتلے شي د فرقه روشانيه په مسلک اعمالو. افعالو. دعوت او طريقت د کار کښې د قرامطه فرقے دومره بے شماره آثار په نظر راځي چه د هغے نه انکار کوؤل ګران کار دے نو اخوندرويزه چه د اهل بدعت او الحاد د کومو فرقو په خلاف د تبليغ جهاد کولؤ. يوه په هغے کښې دا فرقه وه. او د پير تاريکي نه علاوه نور ګنړ دا عيان يئے په دے ملک کښې موجود وو.

(۲) د قدريه. جبريه، حلوليه فرقے

د غزنوي سلطانانونه روستو چه د غورى سلطانانو دور راغے. نو دوئ هم د اهل السنت والجماعت د عقيدے پيرو کاران وو. او د دوئ په زمانه يئے بے شميره علماء او مشائيخ د خراسان او مغربي پاکستان علاقو ته راغلي وو. ليکن د غورى خاندان د کمزور تيا په زمانه کښې د سابق صوبه سرحد او قبائيلي علاقو په زمکه د .... قدريه. جبرته او حلوليه فرقو چه دا ټولے د اهل بدعت او الحاد فرقے دي. دومره بے شميره مبلغان را خواره شول. چه په خصوصيت سره د پښتون قوم د ګمراه کيدلو يوه عظيمه خطره پيدا شول. چه په خصوصيت سره د پښتون قوم د ګمراه کيدلو يوه عظيمه خطره پيدا شوه. دا د ۶۵۰هـ د زمانے واقعات دي. په دغه شان حالاتو کښې د حضرت سيد نامحمد طاهر تارن په شپږم پشت کښې نمسے حضرت سيد محمود عليه الرحمة او د هغه پنځه ځامن ميدان ته را

اووتل. او د بدعت او الحاد د دغه عظیم سیلاب مقابله یئې اوکړله.

پنځه پیران علیه الرحمة

حضرت سید محمود علیه الرحمة چه د حضرت سیدنا محمد طاهر تارن په شپږم پشت کښې نمسے وو. او د حضرت مولانا سید عبدالوهاب اخون پنجو بابا علیه الرحمۀ په لسم پشت کښې نیکه وو. دے دار غستان نه وادي برمل ته او بیا د هغه ځاي نه وادئ پاپین ته راغلے[25] وو. د موجوده مغربي پاکستان علاقے ته د ده پنځه ځامن د دین اسلام د تبلیغ او د ... قدریه. جبرته او حلولیه اهل بدعت فرقو د ناکاره اثراتو نه د مسلمانانو د عقیدو بچ کولو د پاره راغلي وو. د دوئ د تبلیغاتو اولنے مرکز د پیښور ښهر جنوب مشرق طرف د هزار خانئ او بهارر کلي تر منځه او د اخوندرویزه بابا د مزار سره نزدے جنوب مغرب طرف ته چه په کوم ځاي کښې وو. نن ورځے د دوئ د عبادت او استوګنے په دغه مقام باندے زیارت جوړ دے. او هغة د پنځه پیرانو په مزار مشهور دے. د دے پنځه پیرانو د خپلے او عبادت دوئم خانقاه په اکبر پوره ضلع پیښور کښې دے چه په دغه

---

[25] په دے سید محمود تارن باندے د پاپین د سلطان ملک تومنالور واده وه. او ملک قومنا د اخوندرویزه بابا د موربي بي په اووم پشت کښې نیکه وو. شجره یئے داده. قرارئ بنت نازو خان بن ملک دا وریاءے بن ملک بابو بن سلطان قران بن سلطان خواجه بن سلطان تومنا. د دے نه د پنځه وؤ پیرانو د کورنئ سره د اخون دریوزه بابا قرابت او رشته داري معلومیدلے شي. (اثري)

مقام بانده هم د پنځه پیرانو په نوم زیارت جوړ دے. د دوئ دریم د خپلے. عبادت او تبلیغاتو مرکز په ضلع مردان تحصیل صوابئ کښېوو. چه هغه مقام نن ورځے په پنج پیر نومے کلي یادیږي. روستو دا پنځه واړه رونړه د دے ملک مختلفو علاقو ته لاړل یعنے (۱) حضرت سید خواجه جود علیه الرحمة د ضلع پیښور دو آبه ته لاړ. هلته پاتے شه. مزار یئے هم دلته دے. (۴) حضرت سید خواجه محمد د ضلع مردان په لنګرنومے مقام کښې استوګن شه. مزار یئے هم دلته وو. په دوئ کلي دغه درئیم رور حضرت سید خواجه احمد علیه الرحمة چه مزار مبارک یئې د کلپانئ نومے خوړ په غاړه په موضع کنډا کښې دے. د سلسله عالیه قادریه په بزرګانو کښې د اوچتے مرتبے خاوند وو. او دا علاقه د دوئ په انوارو بانده تر دے ورځے پورے روښانه ده.

(۵) د دے پنځه پیرانو پنځم رور حضرت سید خواجه حسن علیه الرحمة وو. چه په حسن ابدال نوم بانده مشهور وو. او د دوئ د نوم په مناسبت سره په ضلع کیمبل پور کښې حسن ابدال نومے یو مشهور مرکزي مقام موجود دے. د حضرت اخوند رویزه بابا علیه الرحمة په استاذانو کښې حضرت مولانا سید مصر احمد پاپیئ د دے پنځه پیرانو د خاندان یو ممتاز دیني عالم او روحاني پیشوا وو. دا پنځه پیران چه په کومه طریقه د دے. لک بیلو بیلو علاقو ته خواره شوي وو. د هغے نه معلومیږي چه د دے ملک

په ګوټ ګوټ کښې اهل بدعت راخواره شوي وو. او دهغوئ د ناکاره عقیدو د ناکاره اثراتو نه د مسلمانانو د بچ کولو د پاره د ساداتو دغه مشائیخو ملاتړلے وه. ورپسے د هغوئ اولاد د دغه نیکه سلسله جاري ساتلے وه. او د دے خاندان یو ممتاز شاګرد یعنے اخوندرویزه د دغه فریضے په ښه شان سره سرته رسولو د پاره خپل ژوند وقف کړے وو. اخوندرویزه بابا وائي. (تذکره الا برار صفحه۱۵۹) دا پنځه پیران په قام سیدان وو. سني مذهبه وو. عالمان وو. او د کمال خاوندان وو. په دے ملک کښې چه د دوئ د پنځه واړه خاندانونو هر څومره سیدان تر نن ورځے پاتے دي. هغه هم ټول اهل السنت والجماعة دي.) د دغے پنځه پیرانو ساداتو په برکت د اهل هوا او اهل بدعت زور تر ډیره حده کم شوے وو.

د سادات بخاري تبلیغی دور

لیکن داسے معلومیږي. چه د پنځه پیرانو او د هغوي خلیفه ګانو روستو په دے علاقو کلي بیا د... قدریه جبریه. حلولیه عقیده لرونکو ګمراه پیرانو او ملحدانو دور دوران راغلے وو. د مثال په طور د اخوند رویزه د روات (صفحه۱۵۹ و صفحه ۱۶۰) نه معلومیږي چه څلولیه او اباحبه عقیده لرونکے یو ګمراه پیر چه د هغه شهباز قلندر نوم وو. د موجوده ضلع مردان د تپۀ امازي علاقے ته راغلے وو. او د دے علاقے خلق یئے تر دے حده لغزولي وو. چه د څجرت خواجه سید محمود تارن بخاري

علیه الرحمة مزار مبارک یئے وران کړے وو. د هغوئ لاش یئے ترینه اوخلښے وجو. بل ځاي یئے دفن کړے وو. د هغوئ د مزار احاطه یئې شرابو. کبابو او ډول سرنا غړولو حجره کړے وه. او د اوصیت یئے کړے وو. چه زهٔ مړشم. نو په دے مقام به ځما قبر جوړ کړئ. چنانچه روستو هر کله دے د هزارے د تناولي قوم د لاسه اووژلے شه. نو خپلو مریدانو هم په هغه د سید خواجه محمود په قبر کښې ښخ کړ. او نن ورځے د ده په نوم باندے د دغے هدیرے خوا ته جوړ شوے کلے په شهباز ګرهئ، یادیږي. چه د مردان او صوابئ په سړک لوئ مشهور مقام دے. دا ټول د ۷۰۰هـ د آخري ورځو واقعات دي.

په دغه زمانه په وادئ پیښور د د لازاک قبیلے قبضه وه. د شهباز قلندر او د دے نمونے نورو بے شمیره ګمراه او ملحدانو پیرانو په وجه چه د دے قام عقیدے تر دے حده خرابے شولے. چه نمونځ. روژه او د اسلام ټول احکام او ارکان هر څه ختم شول. نو په دے باندے د هغه وخت د ټولو اهل السنت والجماعة علماء او مشائیخو توجه دے طرف ته رااوګرزیدله. ځکه چه د یو لوئ روحاني پیشوا حضرت خواجه سید محمود علیه الرحمة د مزار مبارک په داسے شرمناک طریقه سره بے حرمتي ډیره لویه حادثه وه. چه د یو قوم عقیده داسے حدته اورسیږي چه د ځان نبوت او رسالت د بزرګانو سیدانو د قبرو نوبے حرمتئ کولو ته هم جوړ شي. نو دا یقیناً

چه معمولي واقعه نه وه. او په دے باندے په تولو علماؤ او مشائيخو کښې بے آرامي پيدا کيدل يو قدرتي خبره ده.

دلازاک قبيله چه په دغه زمانه په وادئ پيښور کښې آباده وه. دا قبيله په نسبت باندے د پښتنو د غور غشتي قوم يو شاخ دے. چنانچه په دغه پورتنئ واقعه باندے د کوه سليمان د شهر علي نومے مقام مشهور بزرگ حضرت خواجه يحی کبير غورغشتي عليه الرحمة راولار شه. خپل پير طريقت يعنے حضرت شيخ المشائيخ خواجه سيد جلال الدين حسين بخاري الملقب په مخدوم جهانيان جهانګشت عليه الرحمة يئے رااوغوښتلو. هغوئ تشريف راوړ. او د سابق صوب سرحد او قبائيلي علاقو په اوه مشهورو مقاماتو او علاقو کښې يئے د پښتنو د بيلو بيلو قبيلو په علاقو کښې د اهل بدعت او الحاد د ګمراه پيرانو او د هغوئ د ناکاره تعليماتو په خلاف کوششونه اوکړل. او مسلمانان يئے سمے لارے ته راواړول.

په تاريخی اعتباره سره دا د ۷۵۰هـ نه تر ۸۵۰هـ د منځ زمانے واقعات دي. په ۷۸۵هـ کښې د مخدوم جهانيان د وفات او په ۸۳۴هـ کښې د خواجه يحی کبير غورغشتی د وفات نه روستو د دوئ مريدانو او خليفهګانو دا سلسل جاري ساتلے وه. ليکن د ګمراه پيرانو او ملحدانو زور بالکل ختم شوے نه وجو. او د حق او د باطل دا معرکه دا اخوندريوزه تر زمانے پورے هم دغه شان را روانه وه.

چونکه حضرت اخوندرویزه په سلسله عالیه سروردیه کښې هم د دغه حضرت مخدوم جهانیان سید جلال الدینحسین بخاري د مریدانو په سلسله کښې وو. د حضرت اخوندرویزه له حضرت پیر بابا له حضرت سالار رومي له حضرت شیخ نظام الدین مهاجري له حضرت شیخ قطب الدین مهاجري له حضرت شیخ فخر الدین محبوبي له حضرت شیخ مخدوم جهانیان)

په دے وجه حضرت مخدوم جهانیان چه د تبلیغ او اشاعت کومه سلسله شروع کړے وه. هغه حضرت اخوندرویزه بر قراره او ساتله. او په دے علاقو کښې چه د مخدوم جهانیان په زمانه کښې کوم ګمراه پیران وو. لکه شهباز قلندر وغیره او د دغه ګمراه پیرانو نه چه کومه سلسله د .... الحاد. اباحت او حلول او جبریه عقیده لرونکو پیرو کارانو پاتے وه. حضرت اخوندرویزه علیه الرحمة د هغوئ ټولو په خلاف جهادونه اوکړل.

(۲) د وجودیه اباحیه فرقو دور

د وجودیه او ابا حیه فرقو د غلطو عقیدو په افکارو او خیالاتو باندے د پوهیدلو د پاره مونړله د حضرت پیر بابا علیه الرحمة هغه نسیحت او وصیت رایادول پکار دي. چه څه وخت اخوندرویزه له یئے خلافت ورکړ او په موقع یئے هغه ته کړے وو. حضرت پیر بابا علیه الرحؤة فرمائی.

اے اخوندرویزه! د علم تصوف په طالب کښې پوره پوره جدوجهد اوکړه. چه د شرعیت محمدیمطابق د عرفان مرتبه درته حاصل شي. او ورسره د نورو مؤمنانو سړو او زنانه ؤ ایمان د زوال نه بچ کړے شے.او د کمزورے عقیدے لرونکي مسلمانان د تشبیهه او تعطیل نه په امان کړے شي. ځکه چه نن ورځے اکثر اهل هوا پیران چه په علم توحید کښې کوم غور او فکر کوي. چونکه دوئ د دے علم د ضروري شراءطو او اصولو لحاظ نه ساتي په دغه وجه نتیجه یئے دا شوے ده. چه دوئ د اشاراتو او عبارتونو د دے علم نه بے خبره پاتے شوی دي او په معرفت د الله تعالی کښې چه د هغي ذات بچون او بیچکون دے. لاره یئے غلطه کړے ده.او حد د کفر او الحادته رسیدلي دي. کفر یئے دا دے چه د نن زمانے (۱) بعض گمراه پیران د خدائ د جسم او صورت قائل دي. د مثال په طور ملامیرو، میا خان خدر زایے. یا احمد خان وغیره د خدائي د صورت او جسم قائل وو. د دوئ وینا دا وه. چه خداي په تخت ناست دے. د عرش د پاسه فرش دے. بیا په هغے کانړے دے. او د هغه کانړي د پاسه تخت پروت دے. په هغے تخت خیمه راتاؤ ده. چه د هغے اویازره دروازے دي. خداي په هغے خیمے کښې ناست دي. مگر ملایان او عالمان ترینه بے خبره دي. (نعوذ بالله)

(۲) بعض نفسون اوا رواح خدایان گنړي. بعض کل اشیاء د خدائي پاک عین

وجود او ذات ګڼي. بعض خدائ په خلقو کښې او خلق په خدائې کښې محوه ګڼي. بعض د خدائ پاک د مثل او مثال قائل وو. (لکه ملا عمر شلمانے. ملارکن الدین. ملا رحمت الله ملا نعمت الله. ملا فیض الله. ملا بایزید. ملا عبدالرحمان وغیره شول.)

(۳) بعض د تناسخ او حلول قائل دي. د خداي مثال په مخلوق کښې داسے ګڼي. لکه په ګیاه کښې چه د نم مثال دے. بعض خداي پاک زره زره کیدونکے او په ټول عالم کښې خورکنړي (لکه شیخ یوسف مامو نزاے. ملا تاني او ملا عبید مامو نزائے)

چه دا ټول خبرے د همه او ست. حلول، اتحاد، له قسم نه د الحاد نه ډکے خبرے دي. دے فرقے ته وجودیه په دے اعتبار وئیلي شي چه په یو نه یو شکل کښې د خداي د جسم او وجود قائل دي. او د حضرت پیر بابا د ارشاد مطابق اخوندرویزه بابا د دے نمونے ګمهراه پیرانو مقابله کړله.

(۳) د آبا حیه فرقے ګمراه پیران

د اخودرویزه په زمانه کښې د ابا حیه فرقے د ګمراه پیرانو زیارت زور وو. د دے فرقے ګنړ قسم دا عیان او مبلغان وو. چه خلق یئے د اسلام د صحیح لارے نه ګمراه کول.

(الف) دیوے فرقے نوم حیدریه او قلمندریه وو. دا ډیره پخوانئ فرقه وه. بنیادي طور د قرامطه او زنادقه فرقے شاخ وو. ابتدائ یئے د ۳۰۰هـ نه شوے وه. بیا روستو د کتاب "مجموعه ملکي" د تفصیل مطابق په ۶۰۰هـ کښې په خراسان کښې د دے فرقے ګنړ داعیان او مبلغان پیدا شوي وو. د دوئ د مشر نوم حیدر وو. د ترکستان او سیدونکے وو. د هغه په نوم دا فرقه په حیدریه نوم مشهور شوے وه. د دوئ یوه مشهوره مصرعه ده (حیدر یم قلندروم مستم) نخښه یئے دا ده چه په لاسونو او پښو کلې یئے زنځیرونه اچولي وي. پښے ابله. سرتور سرګرځي. کمیص پرتوګ نه اغوندي. یوه پشمینه شړئ یئے د ځان نه تاؤ کړي وي. نمونځ اودس یا غسل نه کوي. زنا. لواطت جائز ګنړي. چنګ، رباب، ډول، سرنا وهیل ئے کسب وي. د علم او عالمانو دشمنی کوي. وائي د مار لړم سره کښیناستل ښه دي. او د عالم سره ښه نه دي. وائي عبادت ته حاجت نشته، زړهٔ سفا پکار دے. وائي شریعت حجاب دے. د طریقت مقام ته هاله سړے رسیدلے شي چه شریعت پریبدي. او بیا چه طریقت هم پریږدي نو هاله د معرفت مقام ته رسیدلے شي. حالانکه دا ښکاره خبره ده. چه هر هغه خوک چه د شرعت اسلام نه لاس واخلي هغه ته کافر وئیلے شي. لکه چه وړاندے ذکر اوشه. دا فرقه په حقیقت کلې د فرقه زنادقه یو شاخ دے. د دے فرقے لویه نخه دا ده چه دوئ د ظاهري شریعت د احکامو لکه نمونځ روژه، حج، ذکواة،

پاکي، پاکيزګي هر څه نه انکار کوي. او ابا حيه ورته څکه وائي. چه دوئ د شريعت اسلام ټول حرام په ځان حالال ګنړي. مباح يئے ګنړي. د دوئ وائي.

ان العبد اذابلغ المحبة وصفا قلبه واختار الدين علي الكفر من غير نفاق سقط عنه الا مروا النهي ولايد خله الله بارتکاب الکياءر النار. ويسقط عنه العبادة الظاهرة ويکون عبادتة التفکر. و قد تبين ان هذا کله کفر وضلال (تمهيدابي شکور سالمي)

(ترجمه: بنده چه د محبت مقام ته اورسيدړي. زړۀ يئې صفاشي. او د کفر په مقابله کښې په صدق سره دين اسلام يئے قبول کړے وي. نو بيا هغه د خدائ پاک امر اونهي که نه مني د حلال او حرام پرواه نه کوي. يا که داسے سرے ګناه کبيره لکه زنا. لواطت. شراب. رقص سرود وغيره کويل. په هغے يئے خدائي نه نيسي او نه يئے په دغه دوزخ ته ګزاروي. هغه ته ظاهري عبادت لکه نمونځ روژه وغيره هر څه معاف شي. صرف غور او فکر يئے عبادت ګنړلے شي. او ښکاره خبره ده. چه دا تولے خبره د کفر او ګمهرائ خبرے دي. تمهيد)

(ب) د دے ابا حيه فرقے دويم شاخ جبريه دے. د دے عقيدے خرابوالے دا دے. چه ځان د قضا او قدر په وړاندے مجبور محض ګنړي. او په دے شان د چواب او عقاب نه انکار کوي. دوئ وائي هر څومره اعمال او افعال چه د بنده نه صادريږي که هغه ښه وي که بد هر که چه دا هر ځ د خداي په حکم او اراده کيږي. او د بنده پکښې هيڅ

اختیار نشته دے. نو ځکه په هر قسم ګناهونو کولو کښې هیڅ عذاب نشته دے. نتیجه یئے دا ده چه د دے عقیدے خلق هره ګناه مباح ګڼري. ثواب او عزاب، دوزخ او جنت هر څه نه انکار کوي. ظاهره ده چه دا ټولے د کفر خبرے دي. د حضرت اخوندرویزه بابا د قول مطابق د اخوندروزه په زمانه کښې شیخ فتح خان مامون زایئے. شیخ حاجي عمر غوري خیل.... پیر طیب غلزاے. ملاولي بړیخ. پیرڅالاک خټک پیر سرمست. کریمداد غورغشتي. جلال الدین کلال.شیخ الیاس. شیخ ابراهیم میران شاه صواتے. شیخ میر داد خلیل. شیخ جلیل روغانے او شیخ حاجي محمد وغیره د پورته عقیدو لرونکي ګمراه پیران وو. چه اخوندرویزه علیه الرحمة د هغوئ د غلطو عقیدو په مقابله کلې د دین اسلام مدافعت کولو.

(۴) د روښانیه، حلولیه، باطنیه فرقو دور

د اخوندرویزه په زمانه کښې د ټولونه زیات زور د روښاني فرقے وو. د دے فرقے مشر بایزید انصاري ارمړ وو. چه روستو په پیر تاریک او پیر روښان دواړو لقبونو سره مشهور شوے دے. د عقیدے په لحاظ چه د پیر روښان کوم افکار او خیالات او اعمال او افعال وو. هغه د حلولیه. اباحیثه او د قرامطه د باطنیه فرقے هغه اعمال او افعال او معتقدرات وو. چه هغه په صراحت او یقین سره د شریعت اسلام د واضحه

احکامو او هدایاتو خلاف وو. د پیر روښان د متعقداتو په حقه چه د اخوندرویزه په دے کتابونو (۱) ارشاد المریدین (۲) تذکرة الا برار والا شرار. (۳) مخزن الا سلام کښې په کوم تفصیل سره بحث شویدے د پیر روښان پخپلو تالیفاتو (۱) مقصود المؤمنین (۲) حالنامه (۳) خیر البیان کښې او دپیر روښان د مریدانو لکه علي محمد مخلص، محمد عزیز ارزاني، دولت خان لواڼي مرزا خان انصاري په کتابونو کښې هم لفظ په لفظ هغه خبرے درج دي. د کومو خبرو نسبت چه اخوندرویزه دوئ ته کړے دے. یعنے د دے روښانیه فرقے د عقیدے په حقله د اخوندرویزه تول بیانو نه رښتیا معلومیږي.

د روښانیه فرقے د عقیدے خلاصه دا ده. چه د دوے فرقے د متعقداتو. اعمالو، افعالو ټول دارو مدارپه عقلي دلائلو او وهمي الهاماتو دے. داسے الهامات او واردات چه هغه د اسلام د منلو شوؤ اصولونه صراحتاً خلاف وو. د دے فرقے پیروکارانو د شرعیت اسلام د نقیاتو یعنے نص، قرآن او حدیث پیروي نه کؤله. او که چرته ګیر به شول نو د باطنیه فرقے د مخصوص حکمت عملي چه هګے ته تقیه وائي. د ځان د بچ کولو د پاره به یئے په خله باندے وقتي طور د اسلام د احکامو منلو اقرار هم کؤلو. لیکن ورسره ورسره د اسلامي احکامو داسے تاویلونه به یئے کوؤل چه هغه د اهل النست واجماعة او اجماع د

مسلمانانو د تعبير او تفسير نه بـه خلاف وو. د دے طريقے د كار نتيجه دا وه چه روښانيه مسلک د معتقداتو او اعمالو افعالو پـه لحاظ سره د حلوليه، اباحيه، او باطنيه فرقو د متعقداتو مسلک وو. چه پـه اتفاق د علماء اسلام دغه مسلک د گمراهئ مسلک گنړلے شه.

د روښانيئے فرقے عقيده دا وه. چه كل اشياء تـه بـه يئې خدائ وئيلو او مخلوقات صوري هر څومره چه دي. ديـته بـه يئے كلـه د خدائـي ذات وئيلے او كلـه بـه يئے ورجتـه د خدائـي صفات وئيل او د دے خپلے مدعا د ثبوت د پاره بـه يئے د قرآن پـه آيتونو كښې تحريف هم كولو د مثال پـه طور آيت دے. ان اللـه علي كُل شي محيط "دوي بـه دا آيت شريف داسے لوستول ان اللـه مع كل شئ محيط" يعنے د لفظ "علي" پـه ځاي بـه يئے "مع" لوستولو او د دے نـه بـه يئے د خدائـي او بنده يو والے او عين ذات كيدل مراد كول. د دوئ بل دليل دا وو[26]چه د خدائ مثال د درياب دے او بنده پـه مثال د مهي دے. مهي چه پـه درياب كښې هر خواتـه مخ گرځوي هغه خواتـه درياب وي. دغه شان بنده هم كه هر خواتـه مخ گرځوي هغه خواتـه خدائ وي. آيت شريف دے. اينما تولو افتم وجهه اللـه نو بيا پـه نمانځه كلې قبلے تـه مخ گرځول نـه دي پكار چه كوم خو ا دسړي خوښه وي هغه طرف تـه دے مخ كوي. پـه دے پسے پير

[26]د حوالے د پاره ملاحظه كړۍ د بستان مذاهب بحث د فرقه روشانيه د "حالنامے" اقتباسات.

روښانه په حالنامه کښې وائي چه: "هر کله بنده عين ذات د خدائ دے. نو بيا نمونځ کول او خدائي ته سجده کول خو داسے مثال دے. لکه سړے چه خپل ځان ته سجده کوي. چونکه د دے نه شرک لازميږي په دے وجه نمونځ کول م پريښوده." (حالنامه)

د فرقه روښانيه چه کوم معتقدات وو او اخوندرويزه په کومو دلائلو د هغے ترديد کړےدے. دغه ټول بحثونه په پوره تفصيل سره ما پخپل دويم کتاب "اخوندرويزه" کښې بيان کړي دي. هلته دے ملاخطه کړلے شي. دلته د نمونے په طور د پير روښان د يو دوه مشهور مريدانو علي محمد مخلص او محمد عزيز ار زاني يو څو شعرونه رانقل کوؤ چه د هغے نه د پيرو روښان د مخصوصے عقيدے اندازه لګول آسان شي. علي محمد مخلص وائي

په لطيف کښې الطف ګوره
که دے فتح د ذرۀ باب دے

دا الطف د حق هستي شوه
پرے بينا عارف ارباب دے

هم پکلې هم تر چاپيره
دے ماهي هستي يئے آب دے

ماهي هر لور ته چه ګرځي
واو بوته يئې مآب دے

سړے هر لوړ ته چه ګرځي
پرغه لور د حق جناب دے

وائي:

دغه جزؤ به يئې ګل شي په يقين کښې
چه مشغول د ګل په زکر شي مدام

دا وحدت مثال اوبه کثرت پر بخش
دغه بخش په څو رنګه په څو نام

د اوحدت په مچال بيخ کثرت ښاخونه
د يوه ميوه پخه د بل خو خام

محمد عزيز ار زاني وائي:

مولي پټه خزينه ده
دے مشغول په خپل وجوده

چه محبت یئے غالي شه
خلقے یئے کړے موجوده

د کثرت پر میدان راغے
پټ دے یو، ښکاره وو دوه

د عنصر لباس یئے واغوست
که مسلم اوکه هندو ده

د بندګۍ نامه یئے کیښوه
خو د ساجد او خود مسجوده

یو آواز دے چه یئے آروے
هم له چنګه هم له عوده

که فکر ورته اوکړلے شي نو په دے اشعارو کښې چه څه وئیلي شو دي دا په صراحت سره د اسلام خلاف خبرے دي.

د اخوندرویزه په زمانه چه هر حومره داسے پیران وو. چه د عقیدے په لحاظ د اهل سنت والجماعت د عام مسلک نه خلاف وو. او ده د هغوئ په خلاف تبلیغ او جدوجهد کړے دے په هغو ټولو کښې د پیر روښان بایزید انصاري د مسلک مخالفانه کوششونو ته یئے زیات شهرت حاصل شوے دے. په دے باب کښې اګر چه اخوندرویزه علیه الرحمة بالکل په حقه وو. او د ده تبلیغ ټول د اسلام د مدافعت له پاره وو. لیکن ځنے نور

داسے عوامل او خبرے منځ ته راغلے وے چه د هغے په وجه نن ورځے بعض خلق د اخوندرویزه او د هغ د پیر طریقت حضرت پیر بابا علیه الرحمة دغه د یني خدمتونو ته خالص په دیني نقطه نظر سره نه ګوري. بلکه په دے وجه چه بایزید انصاري پښتون وو. او په مقابل کلي اخوندرویزه او پیر بابا دواړه پښتانه نه وو. او بل خواته بازید انصاري د هغه زمانے د مغل حکمرانانو په خلاف سیاسي جدوجهد کؤلو. نو د ابعض خلق دا خیال کوي. چه که اخوندرویزه د بایزد انصاري مخالفت نه وے کړے نو بایزد به د مغلو په مقابل کلي د پښتنو د خود مختاره حکومت جوړولو په مهم کښې کامیاب شوے وجے. او هم په دے خیال نن ورځے بعض خلق د اخوندروزه علیه الرحمة په حقله نا مناسب الفاظ هم استعمالوي. لیکن دا خلق دا حقیقت په نطر کښې نه ساتي. چه د یو حقیقت پرست او رباني عالم په مخکښې دا سوالونه وي چه دا یو سړے چه د شرعیت اسلام د اصولو خلاف ورزي کوي دے په قام څوک دے؟ بلکه د دهغه په ناکاره عمل تنقید کوي. او هغه چه د بدعت او ګمراهئ کوم کارونه کوي د هغے مخالفت کوي. او د دے غټ مثال هغه د شیخ رضي لودهي علیه الرحمة دے چه مونږه مخکښې بیان کړه چه اګر چه شیخ رضي او شیخ نصر ابن حمدي دواړه په قام لودهان وو. او شیخ نصر د ملتان بادشاه شوے هم وو. لیکن هر کله چه شیخ نصر قرمطي عقیده قبوله کړے وه. نو شیخ رضي ورته وائي چه

"اے نصره! هر کله چه تا د الحاد لور ته ترپلل نو اوس ته ځمونږ د خاندان د پاره دشرم باعث يئے. ځکه چه کوم دين اسلام مونږه او ځمونږ پلرونو روښانه کړے وو. تا هغه تور او خړکړ". دغه مثال د بايزيد روښان هم دے. که فکر اوکړو د بازيد روښان په اومه پيړۍ کښې نيکه حضرت شيخ ابراهيم دانشمند عليه الرحمة د شجرت شيخ شهاب الدين سهروردي مريد وو. د شيخ ابراهيم ځوي شيخ سراج الدين هم د حضرت شيخ بهاء الدين ذکريا ملتاني مريد وو. د بازيد انصاري خپل پلار شيخ عبدالله دانمشند د سهروردیه طريقے شيخ او د سلطان ابراهيم لودهي قاضي القضاة وو. بل خواته اخوندرويزه هم په سهروردیه سلسله کلې د شيخ بهاء الدين ذکريا ملتاني مريد وو. دا ټولے خبرے حصے دي. ليکن هر کله چه د بايزيد پلرو نه نيکونه او د هغوئ د سلسلے ټول پيران حنفي مذهبه اهل السنت والجماعة وو. او بازيد دغه د اسلام صحيح مسلک پريښوده. او خپل پلار هم په هغے ترينه ناراضه شه. نو که اخوندروزه يئے مخالفت کؤلو نو دغه ديني تعصب ګنړلے شو. سياسي مصلحت او تعصب يئے نه شو ګنړلے. او نه ګنړل پکار دي. بلکه دا به اووايو چه اخوندرويزه له د نورو ټولو بدعتي پيرانو په مقابله کښې د بايزيد انصاري مخالفت کول زيارت لازمي وو. ځکه چه بازيد د يو داسے لويئے روحاني کورنيئ فرد وو. چه د هغے روحاني سر چشمه د حضرت شيخ الشيوخ شهاب الدين سهروردي فيوضات وو. د

حضرت شیخ الشیوخ شهاب الدین سهرودي په کتاب عوارف کښې صفا ارشاد ے. اجمع العلماء في الفناء و بالغوافیه. ان النعناء حرمه ابو حنیفة واهل العراق و حرمه الشافعي وهوا المشورمن مذهب المالک ولا امام ابن حنبل. وسیل (اے الا مام احمد) عن الغناء قال هو محدث اکرهته (اے حرمته) قیل (للا مام احمد) انه یرق علیه القلب. فقال(الا مام احمد) لا تجالسو معهم لا نهم المجرمون. قلوه تعلی انه لا یفلع المجرمون. فتبین انه بدعة.

(ترجمه: په اتفاق سره فیصله کریده عالمانو د اسلام په حرام والي د سرور باندے. او دا حرام کار یئےپه ډیر سخته سره منع کړے او ناجائز ګنړلے دے. امام ابو حنفیه او د عراق تولو عالمانو ساز او سرورد ته حرام وئیلے دے. امام شافعي د غناء د حرام والي حکم کرے دے او دا د امام مالک مشهور مذهب دے. او د امام احمد ابن حنبل هم دا مذهب دے. د امام احمد ابن حنبل نه د ساز او سرود په حقله پتوس اوشه. نو هغوئ جواب ورکړ چه دا یو داسے بدعت دے چه ما د دے د حرام والي فتوي ورکړے ده. دغه تپوس کوونکي امام احمد ابن حنبل ته عرض اوکړ چه په سماع سرورد او غناء اوریدلو خو د سړي زړۀ نرے کیږي. د دے په جواب کښې امام اڅمد ابن حنبل او فرمائل چه څوک ساز او سرورد کوي یایئے آوري د هغوي سره مه کښینئ. ځکه چه دوئ د خدائ او رسول مجرمان دي. او د قرآن مجید آیت دے. چه مجومان فلاح نه شي

مونـدلـے. د دے ټـول بـحث خلاصه دا ده چه سرود بـدعت دے. (د دے تـفـصيـل پـه رنـړا کښې انـصاف پـکـار دے. چه هر کـلـه هم د دغه شهاب الـديـن سهروردي د مـريـدانـو پـه کـورنـۍ کښې بـايـزد انـصاري راپـورتـه کـيـږي او د پـيـرۍ مـريـدۍ يـوه داسے سلسلـه بـنـاء کـوي چه پـه هغے کښې ښځے او نـرګـډوډ کښيـنـولـے شي. رقص او سرود کـؤولـے شي نـو کـه هم د دغه شهاب الـديـن سهرودي پـه مـريـدانـو کښې اخـونـد رويـزه راپـورتـه شي او بـايـزدي انـصاري تـه د د دغه بـد عتـونـو او حرامـو کـارونـو پـه کـولـو مجرم، بـدعتي او ګمراه او وائـي. نـو دا خو يـوه خالـصه ديـنـي مسئلـه ده. د دے سره د پښتـون او غيـر پښتـون د قـيـصو مـلـکـرو کـؤلـو کـوم جوا زدے؟ پـه دے وجه هم دا بـه وايـو چه پـه دے سلسلـه کـلـے اخـونـدرويـزه پـه حقـه وجو. او زيـاتـے د بـايـزيـد انـصاري وو چه د اهل الـسنـت والـجماعة د صحيـح اصولـو پـه خلاف يـئـے لاره اختـيـار کـړے وه. او د دے غلطۍ پـه وجه د هغه سيـاسي مقـاصدو تـه هم نـقـصان او رسيـده. بـهر حال دا يـو جدا بـحث دے. پـوره تـفـصيـل غواړي. او مونـږ پـوره پـه شرح او بـسط سره پـه خپـل کـتـاب "اخـونـدروزه" کښې پـر رنـړا اچولـے ده.

د اخوانـدرويـزه تـالـيـفـات

اخـونـدرويـزه د علـم د تـوسيـع او د خلـق وپـه زړونـو کښې د علـم سره د مـيـنـے او محبـت پـيـدا کـؤلـو د پـاره ډيـر کـوششونـه کـري دي. او پـه هغه خلـقـو يـئـے سختـه نـکـتـه چيـنـي کـړے ده. چه چا بـه علـم تـه حجاب اکـبـر وئـيـلـو.

فرمائی که د دے خلقو دا قول صحیح وے. نو بني کريم عليه التحية والتسليم به دا دعا نه کولے. چه رب زدني علماً. چنانچه د دے عرض د پاره دوء په پښتو او فارسئ دواړو ژبو کلې ګنړ کتابونه ليکي دي. لکه چه مخکښې ورته هم اشاره شويده.

(۱) د دوئ يو تاليف "ارشاد الطالبين" دے. ژبه يئے فارسي ده. تقريباً پنځه نيم سوه صفحاتو کتاب دے. په دے کښې څلور بابونه او يوه خاتمه ده. په اول باب کښې څلور فصلونه دي. (۱) فصل توحيد (۲) فصل د پير کامل علامات (۳) فصل د علم فضيلت (۴) فضل د ذکر الهي بيان. په دويم باب کښې دا بحثونه دي. سير سلوک. سير من الله. سير في الله. سير مع الله څلورم باب بيا په څلورو فصلونو مشتمل دے. (۱) اخلاق حميده (۲) اخلاق ذميمه (۳) صبر (۴) شکر. د کتاب خاتمه په درے فصلونو مشتمله ده (۱) قيامت علامات (۲)کيفيت د حشر او نشر (۳) او په دريم فصل کښې مکتلف مسائيل دي دے کتاب له د اخوندرويزه په ژوند کښې د غه نامور ځوي ميا کريم داد ترتيب ورکړے دے. او د برصغير پاک وهند په مختلفو چاپ خانو د هلي، لاهور، پيښور کښې ډير ډير

ځله چاپ شویدے او د خراسان د عالمانو منلے شوے کتاب دے.

(۲) د اخوندرویزه دویم کتاب "ارشاد المرین" دے. دا کتاب په ۱۲۸۴هـ کښې په مطبع مصطفائي پیښور ښهر کښې چاپ شوے دے. د دغے نه وړاندے په ۱۲۷۲هـ کښې په دهلي کښې هم چاپ شوے وو. د دے کتاب له هم د اخوندرویزه ځوي میا کریم داد خپل پلار په ژوند ترتیب ورکړے دے. میا کریم داد لیکي چه ځما د پلار دا شپړم کتاب دے چه زۀ یئے تصحیح کوؤم او ترتیب ورله ورکوؤم. ژبه یئے فارسی ده. او لکه چه مخکښې هم ورته اشاره شویده. دا کتاب په حقیقت کښې د مشهور کتاب "جام جهان نما" د مطالبو آزادانه شرح ده. چه د شیخ شهاب الدین سهروردي د کتاب عوارف د شیخ کمال الدین د کتاب "الاشراق" او مولانا عبدالرحمان جماي د کتاب "لوائح" مطالب ئے د خپل پیر طریقت حضرت پیر بابا د فیوضاتو او ارشاداتو په رنړا کښې مرتب کړي دي. دا یو قسم له د تصوفي مسالکو او مطالبو د پوهے د پاره تنقیدي کتاب دے. دے کتاب په دیابچه کښې فرمائي دا کتاب م په دے غرض او لیکه چه پیران

مريدان ټول صحيح طريقه اختيار کړه. د ملاحده او اهل بدعت په لاره لاړه نه شي. او دا اورته معلومه شي چه د مشائيخو د طريقے حصول څرنګ کيدلے شي. او غرض يئے څه شے دے.

دا کتاب په يوه مقدمه اوه نکتو او يوه خاتمه باندے مشتمل دے. په مقدمه کښ د مريدانو د پاره د فيض حاصلولو د طريقو بيان دے. په دے کښې دهغه پخوانو بزرګانو پيرانو طريقے بيان شوے دي. چه تر نن ورځے زرګونه او لکونه خلق ترينه فائده اخلي. بيا په اولنۍ نکته کښې د دے بيان دے. چه د طريقت د حصول د پاره د شريعت فرمانبرداري او مکمله پيروي ضروري ده. په دوئمه نکته کښې هغه فوايد بيان شيودي چه د دے اولنۍ نکتے په وجه حاصليږي. په دريمه نکته کښې د دے بيان دے. چه اهل طريقت چه دا کوم نومونه لکه پير. شيخ. صوفي. درويش. مريد وغيره استعمالوي د دے استنياط د کرم ځاي نه کيږي او شويدے. په څلورم نکته کښې د پير د مرتبے. او د پير د حصول د شرائطو بيان دے. په شپږمه نکته کښې د بعض اذ کارو بيان دے. او مه نکته د نمانځه په بيان کښې ده. خاتمه د طريقت سره تعلق لرونکو نورو مسائلو په بيان کښې ده. دا کتاب په علم تصوف کښې يو بهترين تحقيقي او تنقيدي کتاب دے. خصوصاً د دے کتاب په مقدمه کښې د خداي پاک د توحيد په موضوع او د اهل سلوک د سير او عروج او د تنزل لاتوجه په باب ډير بهترين

تفصيلات درج دي. د تنز لاتو دا حصه يئے خالص علمي ده. په كتاب جام جهان نما كښې چه د عرفان او طريقت او سلوک د تنز لا تو او عروج د پوهه كولو د پاره كوم اشكال او نقشے درج كړے شويدي. او د يو نان په فلسفه كښې چه د تنزلاتو كوم تصور دے په دغه موضوع د ارشاد المريدين بحثونه د ملاخطه كولو دي.

دا كتاب د تصوف په موضوع تحقيقي او تنقيدي په دے لحاظ دے. چه په دے كښې د صحيح او غلطو پيرانو د پيژندلو د پاره ډير مفيد او ضروري معلومات بيان شوي دي. او په دے باندے زور وركړے شوے دے. چه هر هغه پير چه په سنت نبوي باندے عمل نه لري. د علم تفسير علم حديث او علم فقهه نه ناخبره وي. هر گز هرگز هغه پير گنړل نه دي پكار. فرمائي:

د اخوندرويزه اقوال

(۱) د مسلمانون په منځ كښې د اختلافاتو پيدا كيدلو. د عوامو د گمراه كيدلو او د خدائ په قهر او غضب اخته كيدلو، اصلي باعث بدعتيان او گمراه پيران دي. چه غلطے دعوې او بدعتي طريقے په خلقو كښې رايجے كړي. د دے فقط يو علاج دے چه د پخوانو نيكانو او صحيح العقيده مسلمانانو بزرگانو پيروي اختيار كړے شي او هر هغه كار

چه د قرآن او حدیث بر خلاف وي د هغے نه توبه اوکښلے شي.

(۲) که یو سړے د خلقو په نظر کښې ډیر لوئ سړے او ډیر لوئ بزرګ وي. لیکن چه د شریعت محمدی نه یوه زره هم قدم چپ کیږدي. او په دین کښې خود سري او مطلق العناني اختیار کړي د داسے مطلق العنان او بے واکو پیر په لاس کښې لاس مه ورکوئ.

(۳) نن ورځے د پیرئ مریدئ دا روزګار د دکاندارئ او خپلو نکاره غرضونو پوره کولو. او د خلوق نه د مالو نوراغونډه ولو. خزانو جمعه کولو. خپل خیټے غټلو یوه ذریعه ګرځیدلے ده. او ډیرو ګمراه پیرانو د پیرئ مریدئ روزګار له د یو داسے بدعت شکل ورکړے دے. چه د خدائ پاک ډیر مخلوق یئے ګمراه کړے.[27]

د ښاغلي شیخ محمد اکرام خبره[28]. اخوندرویزه یو زبردست اهل قلم (مؤلف، مصنف، ادیب) وو. لیکن د دوئ اصلي مرتبه د مصلح او مجد د ده دوئ نه صرف دمیا بازید انصاري د روحاني مطلق العنانی د خپل حمیت اسلامي او مضبوط علمي خدماتو په ذریعه مقابله اوکړه. بلکه د اسلام د

---

[27] ارشاد المریدین طبع پشاور صفحه نمبر۲۵
[28] رود کوثر صفحه نمبر۳۶۸ و نمبر ۳۶۹

بنیادی عقائیدو خلاف چه چرته هم څه څیز به یئې په نظر راغلو او ترینه خبره به شو د هغې مخالفت به یئې کول"... تر دې حده چه خپل پیر طریقت یعنې پیر بابا علیه الرحمة چه چشتیه طریقه یئې لرله او د دغې طریقې د مسلک په وجه دا اخوندرویزه په قول "د سماع بلا مزا میر شنیدې" د ساز او سرو د ټنګ او ټکور نه په غیر تشه په خوش آوازۍ سره قوالي به یئې آوریدله. هغهٔ یئې هم پیر بابا بنده کړې وه د کتاب اخبار الا ولیاء روایت دې. چه پیر بابا علیه الرحمة پخپل ژوند کښې بیا دغه تشهه قوالي هم نه آوریدله.

دا تفصیل چه شیخ محمد اکرام بیان کړیدې د دې نه اندازه لګیدلې شي چه اخوندرویزه هر کله د امر معروف په سلسله کښې د خپل پیر هم لحاظ نه کوي. نو د نور چا به یئې څه لحاظ کولو او د اټولې خبرې د ده په زبردست قوت ایماني او د میان کریمداد د قول مطابق د ده په دیني تعصب دلالت کوي. او هم په دغه وجه د حاجي عبدالله بهار کوهاټي نمسې ولي الله علیه الرحمة ورته " د مذهب اسلام رنړا" د حق خاوند، قطب المکنة، و رکن السنة، و منبع الانوار، قبلة الا برار و نقطه الا حرار وائي.

(۳) د اخوندرویزه دریم کتاب "مخزن الا سلام" دې. د دې کتاب ثبه پښتو ده. دا د نثر مقفي ارمسجع په یو مخصوص ادبي سبک کښې

ليکلے شوے دے. دا کتاب په د دے نومونو ياديږي. مخزن اسلام، مخزن د درويزه. مخزن پښتو. دا کتاب څو څو ځله چاپ شوے دے. موجوده چاپ شوے نسخه په څلورو حصو تقسيم ده.

(۱) اولنئ حصه تاليف د اخوندرويزه د صفحه نمبر۱ نه تر صفحه نمرب ۱۳۳

(۲) دويمه حصه تاليف د ملا عبدالسلام بن پايدنده محمد بن اخوندرويزه د پنج گوهر په نوم سره صفحه۱۳۳

(۳) دريمه حصضه تاليف د ميا کريم داد بن اخوندرويزه د صفحه نمبر۱۳۳ نه تر صفحه نمبر۱۵۲ پورے. په دے حصه کښې يو غزل دے او بله "الف نامه" ده چه کلمات الوافيات" نوم يئے دے. او حضرت حاجي بهادر صاحب د کوهاټ د "تبيان الحقايق" په نوم د دے شرح ليکلے ده.

(۴) څلورمه حصه د اخوندرويزه تاليف دے. د صفحه نمبر۱۵۲ نه تر صفحه نمبر۱۶۷ پورے.

د دے کتاب کومه حصه چه د اخوندرويزه تاليف دے په هغے کښې د علم فقهه د مشهور کتاب خلاصه کيداني. د علم عقايد د ابتداء کتاب "فقهه اکبر" (۳) د قصيدۂ امالي"

"قصيدهٔ برده" پښتو ترجمے دي. چه د اهل السنت والجماعة د عقيدے مطابق د ايمان او توحيد مسائل او نور ابتدائ ديني او مذهبي مسائيل يئے پکښې په ساده او آسانه پښتو ژبه ر اجمع کړي دي. د دے نه علاوه يوه الف نامه ده چه په خصوصيت سره د پير تاريکي د مشهور مريد علي محمد مخلص د الف نامه په جواب کښې ده د دے کتاب په حقله اخوندرويزه فرمائي: ښائسته مخزن م وکيښ پر په درکوهرو"

(۴) د دے نه علاوه د اخوندرويزه نور ګنړ تاليفات دي. لکه شرح قصديه آمالي فارسي. شرح د اسماء حسنی فارسع. برهان الا نبيا والا وليا‏ء[29] وغيره.

ځامن او خلفاء

مياڼ کريمداد:

د اخوندرويزه بابا ځلور ځامن وو. (۱) عبدالکريم چه په ميا کريم داد شهيد مشهور دے. په ظاهري او باطني دوړو علمونو کښې يئے د خپل پلار نه فيض موندلے دے. او په قول د مفتي غلام سرور لاهوري د پير بابا ما ذون او خليفه هم وو. مؤلف، او محقق عالم دے. اديب او شاعر دے. په علم فقهه کښې د "تحفة الخانيه په نوم يو

[29] اخوندروزه د دے خپل تاليف "برهان الا نبياء والاولياء" ذکر پخپل کتاب ارشاد المريين کښې کړے دے. او په خپل کتاب تذکرة الا برار کښې يئے هم د دے کتاب بعض اقتباسات رانقل کړي دي. دا کتاب نن ورځے ناياب دے. (اثر)

مستند کتاب یئے لیکلے دے. چه د روستو زمانے د خراسان ټولو عالمانو ترینه استناد کړے دے شرح جام جهان نما، او کلمات الوافیات یئے د علم تصوف کتابونو دي. د اولني کتاب ژبه فارسی او د دوئم پښتو ده. د پښتو ژبے د اشعارو یو دیوان یئے یادګار پاتے دے. د زنانه ؤ د پاره یئے د علم فقهه په مسائلو یو خصوصي کتاب لیکلے دے. په دے کښې صرف هغه مسائل یئے راجمع کړي دي. چه هغه د زنانه ؤ سره تعلق لري. په شریعت، طریقت او حقیقت درے وارو کښې لویه مرتبه یئے لرله د کرامت او ولایت خاوند وو. د روستو راتلونکے زمانے تولو عالمانو او ادیبانو او بزرګانو د ده د اوچتے علمي او عرفاني مرتبے ستائینه کړیده. د حضرت میا کریمداد په شاګردانو او مریدانو کلې د ده خپل ځوي میا نور محمد. وریرونه ملا عبدالسلام. ملا عبدالحلیم د پیر بابا دروے واړه نمسي میا قاسم. میا عبدل. میا حسن. د کوهاټ حضرت حاجي بهادر صاحب. اخوند قاسم پاپین خیل او د پښتو ژبے مشهور شاعر حضرت عبدالرحمان بابا مهمند د یادولو دي. مزار مبارک یئے په موضع کانجو ریاست سوات کښې دے. په میا شهید بابا یادیږي.

میا الهداد:

د دویم ځوي نوم یئے میا عبدالله دے چه په میا الله داد مشهور دے. عالم او فاضل وو. روحاني مرتبه یئے ډیره اوچته

وه. مزار مبارک يئے په موضع سلامپور رياست سوات کښې دے په ميان جينو بابا يادېږي. د خپل پلار مريد او خليفه وو.

ميا خالقداد:

د دريم ځوي يئے عبدالخالق نوم دے. په خالقداد مشهور دے. د خپل پلار مريد او خليفه وو. عالم فاضل او مؤلف وو. د "شرائط و احکام ايمان" په نوم يئے يو کتاب تاليف کړيدے. زيارت يئے د رياست سوات د موضع منګوره سره نزدے په موضع نوي کلي کښې دے.

ميا پائنده محمد:

د څلورم ځوي يئے پائينده محمد نوم دے. د خپل پلار مريد او خليفه وو. عالم او فاضل وو. د علم فقهه په ګڼړو کتابونو يئے حاشيے ليکلي دي. مزار مبارک يئے د رياست دير په آند ليزائې نومے علاقه کښې دے.

اخون پنجو بابا:

د حضرت اخوندرويزه په بے شميره شاګردانو، مريدانو او خليفه ګانو کښې فقط د يو مريد او خليفه حضرت اخون پنجو بابا نوم ذکر کول کافي ګڼړو چه د دے نامور بزرګ مريد په ذريعه د اخون درويزه بابا د روحاني فيوضاتو سلسله په ټول خراسان او برصغير پاک وهند کښې تر نن ورځے پورے باقي پاتے ده.او انشاء الله

چه تر آخره به باقي پاتے وي. او د دوئ چه د علم او فضل او حقائق او معارف كوم مشعلونه روښانه كړي دي. د هغے رنړا به هم دغه شان روښانتيا خوره ونكے. او د بدعت او الحادتياره لرے كوونكے باقي پاتے شي. او د دغے په ذريعه به د مسلمانانو تر منځه روحاني تړون ته دوام حاصل شي.

د مفتي غلام سرور لاهوري دبيان مطابق اخوندرويزه بابا په ۱۰۴۸هـ كښې په حق رسيدلے دے. د وفات تاريخ يئے د دے جملے نه خيژي (والي رضا ۱۰۴۷هـ) مزار مبارک يئے د پيښور ښهر د ګنج دروازے نه جنوب مشرق طرف ته د موضع هزار خانيئ سره نزدے دے. قبر يئےد زړے زمانے پوخ دے. پخه چار ديوارى ترينه چاپيره ده. ورسره نزدے پوخ جماعت دے. عام خلق يئے زيارت له ورځي. البته زنانه ؤ ته زيارت ته د دننه تللو اجازت نشته دے. د روحاني فيوضاتو لوئ مركز دے. عليه الرحمة والغفران.

حضرت مولانا شیخ سید محمد ذکریا

ولادت .... وردګ (پیښور) ۹۸۱هـ

وفات .... اتمر خیل (قبایلي علاقه مهمند) ۱۰۵۵هـ

حضرت مولانا شیخ المشائیخ سید محمد ذکریا علیه ارلحمة د قبائیلي علاقه مهمند (مهمند ایجنسي. مغربي پاکستان) په مشاهیرو رومان پیشوایانو کښې د اوچتے مرتبے خاوند بزرګ تیر شوے دے. په عام او خاص کښې د حضرت "شیخ بابا" نوم مشهور دے. د کشف او کرامت او روحاني تصرفاتو لرونکے وو. فیوضات او برکتونه یئے عام دي. او په خصوصیت سره د قبائیلي علاقه مهمند او باجوړ او سمت مشرقي افغانستان ټول خلق که واړه دي. که لوئ دي. د دوئ نوم په عزت سره اخلي. او د دوئ د روحانیت او کرامت د فیوضاتو له برکت دا ملک د اسلام په رنړا روښانه دے. حضرت مولانا شیخ المشایخ سید محمد ذکریا علیه الرحمة صحیح النسب حسیني سید دے. شجره د نسب یئے داسے ده.[30]

---

[30]شجرۂ قوم سادات (قلمي)

حضرت سید محمد ذکریا ابن سید خواجه علي ابن سید محمد عمر ابن محمد ثابت. ابن محمد یحی ابن محمد جمال ابن سید نور اس محمد باقر ابن نعمت الله ابن علي اکبر ابن عبدالکریم ابن محمد ناظر ابن محمد محبوب ابن محمد معصوم ابن سید ملائم ابن محمد ابن تقي ابن فتح الله ابن محمد طاهر ابنمحمد اسماعیل ابن محمد محسن ابن احمد ابن عبدالله الملقب په سید الرجال ابن علي نقي ابن محمد مکي ابن محمد مهدي ابن الا مام سید محمد حسن عکسري ابن الامام علي نقي ابن سید محمد تقي ابن سید امام موسی رضا ابن الا مام موسی کاظم ابن الا مام الهام محمد جعفر صادق ابن الا مام محمد باقر ابن الا مام علي زین العابدین ابن الا مام سید الشهداء حسین ابن موی الکائنات علي ابن ابي طالب کرم الله وجهه ورضوان الله تعالی عنهم اجمعین.

د حضرت مولانا شیخ سید محمد ذکریا والد ماجد حضرت مولانا شیخ سید خواجه علي او د هغه مشرور حضرت خواجه سید هارون دواړه د غزني په خواؤ شا کښې د وردګ قبیلې په علاقه کلې په موضع چنار کښې اوسیدل. د دوئ والد ماجد، حضرت سید محمد عرم او د هغه نه پورته د حضرت مولانا سید عبدالکریم علیه الرحمة پورې د پلورونو او نیکونو نهه پیړئ مشران ټول د غزني په وردګ نومې علاقه کښې آباد وو. او د ساداتو دا خاندان د علاقه غزني د حسیني ساداتو په خاوندانونو کښې د علم او عرفان په لحاظ سره یو اوچت او عزتمند

خاندان وو. د دے خاندان په مشرانو بزرگانو نیکونو چې یو نظر واچوؤلے شي. نو معلومه شي. چه د دے خاندان ټول مشاهیر سیدان د افغانستان په غزني او قندهار کښې او د مغربي پاکستان په پشین کښې اوسیدلي وو. د مثال په طور.

(۱) د حضرت موولانا شیخ سید محمد ذکریا په یوؤلسم پشت کښې حضرت سید عبدالکریم علیه الرحمة زیارت په غزني کښې دے. لیکن د هغه د والد ماجد حضرت سید محمد ناظر علیه الرحمة مزار مبارک په پشین کښې دے.

(۲) د حضرت سید محمد ناظر د والد ماجد سید محبوب مزار مبارک په موضع شش ګاؤ غزني کښې دے. او د سید محبوب د والد ماجد سید محمد معصوم زیارت هم په غزني کښې دے.

(۳) د حضرت سید محمد معصوم د والد ماجد سید محمد ملائم مزار مبارک په موضع مشکی بلوچستان کښې دے. حال دا چه د هغه د پلار او نیکه دواړو یعنے حضرت سید محمد او سید نفي مزارونه په غزني کښې دي.

(۴) بیا د دغه حضرت سید تقی د والد ماجد سید خواجه فتح الله

(زمانه ۴۰۰هـ) مزار پرانوار په
ښهر قندهار کښې دے

(۵) د دے حضرت مولانا خواجه سید فتح
الله نیکه حضرت سید خواجه
اسماعیل هغه نامور بزرګ دے. چه
د حضرت خواجه شیخ سید محمد
زکریا او د حضرت خواجه شیخ
المشائیخ سید رحمکار کاکا صاحب
دواړو مشاهیرو بزرګانو مشر
نیکه دے. او ددوئ دواړو د نسب
شجره پرے یو ځائے کیږي.[31]

حضرت مولانا سید خواجه محمد هارون او سید خواجه علي دواړه رونړه د افغانستان د وردګ نومے علاقے نه د ۹۷۰هـ په شا او خوا کښې وادئ پیښور ته راغلي وو. او دلته اول په پیښور ښهر کښې او بیا د ضلع پیښور تحصیل چارسده د دوآبے په علاقے کلې د ګکیانړی قبیلے د خلقو سره آباد شوي وو. حضرت خواجه سید هارون او حضرت سید خواجه علي دواروه رونړه د حضرت شیخ المشائیخ پیر سید علي تر مذي المعروف په پیر بابا علیه الرحمة نه په سلسله عالیه چشتیه کښې بیعت اوکړ. خرقه د خلافت یئے حاصله کړه. په هغه زمانه د حضرت پیر بابا او د هغه د نامور خلیفه حضرت اخوندرویزه د طرف نه د بایزید روښان المعروف په پیر تاریکي سره چه کوم علمي بحثونه او مقابلے کیدلے. په هغے کښې سید

[31] په حواله د شجره نسب سادات شیخ ذکریا خیل (قلمي)

خواجه هارون او سيد خواجه علي دواړه د اخوندرويزه بابا په کلکه ملګري وو[32].

اخوندرويزه بابا د دې دواړو رونړو د اوچتې علمي او عرفاني ډيره ستائنه کړې ده. او مخکښې يئې ليکلي دي. چه د دې دواړو رونړو د محکمه قضا عهده قبوله کړي وه[33]. هر کله چه اخوندرويز دا بيان په ۱۰۲۲هـ کښې ليکلې دې. په دې بناء کيدلې شي چه دې دواړو رونړو د قاضي توب عهده د جلال الدين اکبر ته روستو د شهنشاه جهانګير په زمانه کښې قبوله کړي وي. او خيال دا دې چه د کابل يا خواؤ شا علاقې قاضيان شوي وو. او د دې خيال تائيد د دې نه کيږي. چه د حضرت سيد خواجه علي مزار پرانوار د عالقه وردګ په موضع چنار کښې[34] دې. د دې دواړو رونړو د وفات صحيح تاريخونه تر دې وخته راته معلوم شوي نه دي. البته دا اخوندرويزه د پورتنی بيان نه معلوميږي چه تر ۱۰۲۲هـ پورې ژوندي وو. او په دې اعتبار د وفات تاريخ يئې د دغې نه روستو ګنړل پکار دي. په دوئ کښې د حضرت خواجه سيد هارون مزار مبارک نه دې معلوم چه چرته دې. يا دا چه اولاد يئې ه کومه زمکه آبا دې.

روايت دې چه په حضرت سيد خواجه علي باندې د حضرت اخوندرويزه بابا لور واده وه. د ۹۸۱هـ په شا او خوا کښې يئې د هغې

[32]تذکرة الا برار صفحه نمبر ۲۲۲.
[33]تذکرة الا برار صفحه نمبر ۲۲۲.
[34]شجره نسب سادات شيخ ذکريا خيل

نه چه کوم فرزند پیدا شه. په هغه بانډے یئے محمد ذکریا نوم کیښوده[35].چه نن ورځے په "شیخ ذکریا بابا" او "شیخ بابا" نومونو مشهور دے. او اولاد یئے په "شیخانو میاګانو" یادیږي.

لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه د حضرت شیخ سید خواجه محمد ذکریا والد ماجد سید خواجه علي د ۹۸۱هـ په خواؤ شاه زمانه کښې د ضلع پیښور په علاقه دو آبه کښې اوسیده. شیخ ذکریا د دیني علمونو کتابونه د خپل والد ماجد نه او بیا په هغه زمانه چه په دغه علاقه کښې کوم نور عالمان وو. د هغوئ نه لوستلي وو. او په ظاهري علمونو کلې یئے درجه د کمال او فضیلت حاصله کړے وه. د هغے نه روستو د حضرت اخونددرویزه علیه الرحمة نه یئے بیعت کړے وو. خرقه د خلافت یئے موندلے وه. او بیا د خپل پیر طریقت او د مور د طرف نه نیکه حضرت مولانا اخوندرویزه علیه الرحمة د ارشاد او هدایت مطابق غالباً د ۱۰۴۰هـ په شا او خوا کښې قبائیلي علاقے مهمند ته یئے تشریف وړے وو. چه روستو هم دغلته پاتے شوے وو.

حضرت مولانا شیخ مځمد ذکریا علیه الرحمة په اول سر کښې د جلال آباد سره نزدے موضع کامله ته تلے وو. بیا دهغه ځائ نه د قبائیلي علاقے مهمند د موسی خیل قبلے سپینکي تکی" نومے علاقے ته راغے.

---

[35] تذکرة الا برار صفحه نمبر۲۲۵

هلته آباد شه. د دين اسلام د تبليغ او اشاعت سلسله يئے شروع کړه. د شريعت او معرفت په فوضاتو يئے د خدائ مخلوق سرفرازه کرلو. او آخره په ۱۰۵۵هـ کښې وفات شه. مزار مبارک يئے د قبائيلي علاقه مهمند د "بابازي مهمندو" په علاقه کښې د قبيله "اتمرخيل" په علاقه کښې دے. او دغه مقام د دوئ د نوم په مناسبت سره په "شيخ بابا"ياديږي[36]. او مرجع د خاص و عام او مرکز د انوارو او فيوضاتو دے. عليه الرحمة والغفران.

لکه چه مخکښې ورته اشاره شويده. د حضرت مولانا شيخ خواجه محمد ذکريا عليه الرحمة نه بے شميره خلقو ته روحاني فيض رسيدلے وو. او د دوئ بے شميره مريدان او خليفه ګان وو. چه په هغوئ کښې د دوئ خپل درے نامور فرزندان د يادولو دي. چه د دوئ درے واړه د خپل والد ماجد مريدان او مآزونان وو. د ولايت درجے ته رسيدلي وو. باکماله عارفان او اولياء الله وو. نومونه يئے دا دي.

(۱) حضرت شيخ سيد محمد موسى چه مزار مبارک يئے په بائيزي مهمند کښې د بابازي قبيلے په علاقه کښې دے. د ده دوه ځامن وو. سيد حبيب . سيد حيات چه روستو د دوئ دواړو نه اولاد سلسله خوره شوے ده.

[36] شجره نسب د حضرت شيخ ذکريا (قلمي)

(۲) حضرت شیخ سید خواجه اوبکر د ده یو ځوي وو. سید خواجه علي شیر چه د ده اولاد په شیر کوریادیږي. د ده څلور ځامن وو. سید نوروز. سید ایمل. سید بهائي. سید میا. د دوئ نه یئے د اولاد سلسله خوره شوے ده.

(۳) حضرت سید خواجه محمد عسی[37] (د ده اولاد شجره په لاس نه ده راغلے) د حضرت سید خواجه محمد ذکریا علیه الرحمة د دے درے واړه ځامنو د اولاد کومه سلسله چه په قبایلي علاقه مهمند (مهمند ایجنسئ) کښې خوره شوے ده. د ساداتو دا خاندان نن ورځے یو عزتمند قوم دے. په کنړو خپلو نو او خاندانو نو مشتمل دے. او په پخوانی او موجده زمانه کښې ډیر لوئ لوئ بزرګان او عالمان پکښې تیر شوي دي. چه د دین اسلام ډیر شاندار خذمتونه یئے کړي دي. او نن هم ډیره بختوره کورنئ ده. د ساداتو د دے خاندان په خصوصي تعریفونو کښې اهم تعریف د دوئ "جلالي شان" دے او انقلابي جذبه" ده. چه د دین اسلام د حمایت. سر لورئ. عزت او ناموس ساتلو د پاره هر وخت او په هر حالت کښې

---

[37]شجره نسب د حضرت شیخ زکریا (قلمي)

د حق اواز پورته کؤلو او د کلمه حق وئیلو نه دریغ نه کوي. او همیشه د حق ملګرتیا کوي. خدائ پاک دے د دین اسلام د روحاني رهنمایئے د پاره د دے خاندان عزت او برکت نور هم زیات کړي.

حضرت مولانا سید شیخ اخوند محمد یونس

ولادت .... خاوه (افغانستان)

وفات.......................... غله ډهیر (مردان) ۱۰۵۹هـ

حضرت مولانا شیخ المشائیخ اخوند حافظ سید نور العلماء محمد یونس فیضي الملقب په شیخ نور محمد[38] ګیلاني قادري چشتي نقشبندي سهروردي علیه الرحمة د وادئ پیښور هغه جلیل القدر بزرګ دے. چه د افغانستان په موضع خاوه کښې پیدا شوے وو[39].او د موجوده شمالمغربي پاکستان په سمه او سوات کښې یئے دعلم او عرفان د فیوضاتو خوره ولو نه علاوه د دین اسلام د اشاعت تبلیغ او سرلوړئ د پاره مسلسل جهادونه کړي دي. او د اسلام بیرغ یئے د وادئ پیښور د شمال. شمال مشرقي او مشرقي کوهستانونو تر آخري سرپورے رسوؤلے دے.

---

[38]د دوئ په مزار مبارک چه کومه کتبه ده. په هغے کښې د الفاظ په جلي قلم درج دي. (خاوؤ بابا نور العماء اخون محمد یونس فیضي معروف په شیخ نور محمد پشاور)

[39]د کابل ښهر په شمال کښې د وادئ لهوګر په چرغ (سرخ) نومے علاقه کښې (خاوه) دي وکلي نوم دے. چه (خاوي) هغے ته نسبتي نوم دے. او په دغه مناسبت حضرت اخوند محمد یونس په "خاوؤ بابا" نوم مشهور دے. خاوؤه ډیر مبارک مقام دے. د حضرت دا تاګنج بخش استاذ حضرت خواجه احمد خاوي هم د دے کلي وو.

او هم دا هغه جليل القدر بزرگ دے. چه روستو د ده په اولاد او خاندان کښې پشت په پشت بے شميره روحاني پيشوايان او عالمان تير شوي دي. چه د هغوئ په کوششونو او د هغوئ د علمي او روحاني فيوضاتو په انوارو باندے لاتر نن ورځے پورے دا ملک روښانه دے. د حضرت مولانا سيد شيخ محمد يونس شجره د نسب داسے ده.

سيد محمد يونس ابن سيد محمد درويش ابن سيدنور الدين ثاني ابنسيد حسام اليدن ابن سيد نور الدين اول ابن سيد ولي الدين الفاضل ابن سيد زين الدين ابن سيد شرف الدين سيد السادات شمس الدين ابن سيد محمد الهتاک ابن سيد الحنان عبدالعزيز ابن السيد الشيخ قطب رباني محبوب سبحاني محی الدين عبدالقادر الجيلاني الحسني الحسيني قدس سره.

د حضرت مولانا سيد محمد درويش درے ځامن وو. سيد زين الدين. سيد محمود. سيد محمو يونس عليه الرحمة. دلته اول د حضرت شيخ سيد محمد دريوش او ورپسے د دوئ د درے واړه ځامنو حالات په ترتيب سره درج کوؤلے شي.

سيد محمد درويش

لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه حضرت مولانا سيد محمد درويش گيلاني قادري عليه الرحمة د علاقه لهر کر (افغانستان) په چرخ (خاوه) کښې اوسيدلو. په يو قلمي

کتاب کښې چه د فارسۍ ژبې په مخصوصه لهجه (زبان دري) کښې په نظم کښې ليکلې شوې دې. (صفت نامه) نوم يئې دې. او د دې قلمي نسخه څما (اثر افغان) د يو دوست سره موجوده ده. په هغې کښې د حضرت سيد محمد درويش د ژوند او هغوئ چه کومې غزاګانې کړي دي. د هغې حالات ليکلي دي. په دې کتاب کښې روايت دې چه حضرت مولانا شيخ سيد محمد درويش په سادات افاغن کلې هغه نامور سيد دې. چه د کافرستان (موجوده نورستان) په درهٔ بچګان او درهٔ پراچګان کښې يئې غزا ګانې کړي دي. دا ملک يئې فتح کړې وو. د دې علاقې (کافرستان) کفار او مشرکان يئې مسلمانان کړي وو. او چه کومو کفارو د اسلام مقابله کوؤله هغه يئې له تيغه تير کړي وو. او د کافرستان په خله کښې د لمغان په علاقه کښې په درهٔ اليشنګ کښې يئې د اسلام آباد په نوم يوه مضبوطه قلعه جوړه کړه د پاره د دې چه د کافرستان په حالاتو او واقعاتو قابو او ساتلې شي. په هغه زمانه شوې وو. او تر نن ورځې يو لوئ علمي مرکز دې. د "اسلام آباد" يو تعريف د دنيا په عجائباتو ترکانړان دي. که چمياران که جولاګان که زميندار ان او که دهقانان دي. تول خپلي کسب کار هم کوي. او ديني علمونه هم حاصلوي. د "اسلام آباد" تر ښځې. لوئ، واړه. خوار غريب، مالداران او اميران هر څوک چه ګورې د علم دين نه خبردار او د ليکلو په فن به پوهه وي. او د غه د حضرت سيد محمد درويش ګيلاني قادري

عليه الرحمة يو داسے فيض دے. چه تر نن ورځے پورے جاري دے.

په دے کتاب کښې هلته ټول واقعات درج دي. چه د حضرت سيد محمد درويش په قيادت کښې غازيانو کوم جهادونه کړي دي. او د کفارو سره يئے کومے مقابلے راغلے دي. د دے کتاب د مطالعے نه معلوميږي چه حضرت سيد محمود درويش عليه الرحمة د محمد حکيم مزار (ابن نصير الدين همايون ابن ظهير الدين بابر بادشاه) متوفي ۹۹۴هـ د شهزادګئ په زمانه کښې ژوندے وو. او د محمد حکيم مزار د طرف نه د مملکت کابلستان د وزيرامينه عهده يئے لرله. او چه کله د وزارت او حکومتجي منصب نے ئ ے لاس واخيست نو د يو روحاني پيشوا په حيثيت يئے د اسلام د سرلوړئ د پاره د کافرستان او المغان په تنګواو درو کښې غزاګانے کوؤلے او د اسلام رنړا يئے خوره وله. د دوئ د وفات صحيح تاريخ راته معلوم شوے نه دے. مزار مبارک يئے په اسلام آباد کښې دے.

سيد زين الدين ګيلاني

د حضرت سيد محمد درويش د يو ځوئ نوم سيد زين الدين وو. د ده تذکره په "نسب نامه" سادات شيخ سيد ذکريا خيل کښې راغلے ده. د ده د ځوي نوم وو. سيد مصطفى د هغه د ځوي نوم وو سيد سليمان د هغه د ځوي نوم وو. سيد علي او بيا د هغه د ځوي نوم وو. سيد سليمان ثاني. داسے معلوميږي

چه د حضرت سید زین الدین اولاد او خاندان د افغانستان په علاقه کښې آباد وو. نور حالات یئے په لاس نه دي. راغلي کیدلے شي چه د دے خاندان حالات د افغانستان په سمت مشرقي کنړ او لمغان کښې پیدا شي.

سید محمود گیلاني

د حضرت سید محمد درویش د دوئیم ځوئي نوم وو. حضرت مولانا سید محمود گیلاني علیه الرحمة رامپور (هند) ته یئے تشریف وړے وو. او هلته آباد شوے وو. د دوئ د فرزند ارجمند نوم وو سید عبدالجلیل د هغه د ځوي سید عبدالله نوم وو. او دا هغه نامور بزرگ دے. چه مفتي غلام سرورئے په دے الفاظو ذکر کړے دے[40]. "سید العرب و العجم عمدة اولاد غوث الا عظم حضرت شاه عبدالله بغدادي قادري گیلاني قدس سره العزیز". د حضرت مولانا سید عبدالله د فرنزد ارجمند نوم مولانا سید عبید الله وو. د سلسله چشتیه نظامیه نیازیه باني حضرت شاه نیاز احمد نیاز بریلوي[41] چشتي نظامي قادري علیه الرحمة په سلسله عالیه قادریه کښې هم د دے حضرت سید عبدالله گیلاني قادري ممتاز خلیفه وو. او د دے تعلق په وجه د حضرت مخدوم سید عبدالله فرزند ارجمند سید عبید الله په چشتیه

---

[40] خزینة الا صفیاء جلد نمبر۱ صفحه نمبر۵۱۳

[41] د حضرت شاه نیاز احمد نیاز د ولادت کال ۱۱۷۳هـ دے. او د وفات کال ۱۲۵۰هـ دے.

سلسله کښې د حضرت شاه نیاز احمد بریلوي نه خرقه د خلافت حاصل کړے وه[42].

حضرت سید عبدالله په سلسله عالیه قادریه کښې د خپل والد ماجد سید عبدالجلیل خلیفه وو. او په سابق هندوستان کښې د دوئ په واسطه د قادریه سلسلے فیوضات خواره وو.

سید محمد یونس گیلاني

د حضرت مولانا سید محمد درویش علیه الرحمة د دویم ځوي نوم حضرت مولانا حافظ سید اخوند محمد یونس المعروف په حافظ نور محمد پشاوري علیه الرحمة دے. چه دلته د دوئ تذکره په تفصیل سره درج کوؤل غواړو.

حضرت مولانا سید اخوند محمد یونس د دیني علمونو تحصیل او تکمیل د خپل والد ماجد او ورپسے په هغه زمانه چه په علاقه لهوگر. غزني او کابل کښې کوم عالمان وو. د هغوئ نه کړے وو. د بغداد شریف د گیلاني ساداتو یوه خصوصي قاعده ده. او هغه دا ده چه د حضرت شیخ محي الدین شیخ عبدالقادر جیلاني قدس سره ټول نمسي پشت په پشت هر یو د خپل والد ماجد نه په سلسله عالیه قادریه کښې بیعت کوي. او خرقه د خلاف ترینه حاصلوي. د دغة قاعدے

---

[42] تحفه سعادت (قلمي) تالیف د سید عبدالستار شاه نظامي. نیازي. لکه چه روستو به بحث راشي. د دے حضرت سید عبید الله د مرید نوم وو شیخ محمد عظیم کشمیري او د هغه مرید وو. سید عبدالستار پشاور.

مطابق حضرت مولانا اخون محمد یونس هم د سلسله عالیه قادریه فیوضات د خپل والد ماجد نه حاصل کړي وو. د هغے نه روستو یئے وادئ پیښور ته تشریف راوړے وو.او د حضرت مولانا شیخ المشائیخ عبدالوهاب المعروف په اخون پنجو بابا علیه الرحمة د خذمت نیک بختي ورته حاصله شوے وه. او د حضرت مولانا شیخ عبدالوهاب اخون پنجو بابا نه یئے په سلسله چشتیه صابریه. او سهروردیه کښې خرقه د خلافت حاصل کړے وه. او په سلسله عالیه نقشبندیه کښې یئے د حضرت سیدنا آدم بنوري قدس سره نه خرقه د خلافت موندلے وه.

د حضرت مولانا سید اخون محمد یونس علیه الرحمة پیر طریقت حضرت مولانا سید اخون پنجو بابا علیه الرحمة چه د سلطان محمود ګدون په ملکرتیا کښې د اباسینده کوهستان په علاقو کښې کوم جهادونه کړي دي. مخکښې د اخون پنجو بابا په تذکره کښې د هغے بیان په تفصیل سره درج شوے دے. چه هر کله حضرت اخون پنجو بابا د خپل عمر په آخرینئ حصه کښې د موجوده ضلع هزاره د موضع مانککرانه (چه دغلته د ګدون قوم د سالار قبیلے خلق آباد وو) راروان شه. او د موجوده ضلع پیښور موضع اکبر پوره ته یئے تشریف راوړ. نو د اباسینده کوهستان په علاقو کښې چه کوم غیر مسلم قومونه آباد وو. او هغوئ ته د اسلام د پیغام رسولو د پاره د جهاد کومه سلسله یئے شروع کړے وه. دغه دیني فریضه یئے خپلو نامورو خلیفه ګانو سپارلے وه.

هر یو خلیف له یئے د مختلفو پښتنو قبائیلو د غازیانو د لښکرو نو د پاره جداجدا بیرغ ورکړے وو. چه د هغه خلیفه ګانو نومونه دا دي.

ملامست:

حضرت مولانا شیخ اخون ملا مست علیه الرحمة له یئے چه کوم بیرغ ورکړے وو. د هغے د لاندے د باجوړ. مهمند. خیبر د علاقو د ترکاني. مهمند شنواري. ملاګوري. صافي وغیره قبائیلو غازیان راجمع وو[43].

اخوند سالاک:

د حضرت مولانا اخوند سالاک علیه الرحمة[44] دبیرغ د لاندے د کړلاني قوم قبائیل لکه آفریدي. خټک. ځدان. اتمانخیل شامل وو. جهادونه یئے کول د جهاد د پاره

---

[43] د ملامست منتوفي ۱۰۷۱هـ د حالاتو د پاره ملاخطه کړۍ ځما کتاب "افغان مؤورخین".

[44] حضرت مولانا اخوند سالاک او حضرت مولانا پیر سباک دواړه رونړه وو. او په قول د اخوندرویزه (تذکرة الابرار صفحه نمبر۱۳۲) دوئ په قام خټک وو. د مولانا سالاک په نوم یو کلے د قندهار په ارغنداب نومے علاقه کښې (خالا) او بل کلے د ضلع مردان په علاقه بایزاءے کښې د لوند خوړ نه مشرق طرف ته (سالاک) نومے موجوده دے. مزار یئے د آباسیندهـ کوهستان په کابل ګرام کښې دے. په ۱۰۷۵هـ کښې وفات شویدے.د ده رور اخونه سباک علیه الرحمة د نوښهر ضلع پیښور په علاقه کښې په موضع ولئ کښې اوسیدلو. فاضل عالم او کامل عارف وو. حضرت شیخ رحمکار کاکا صاحب د دوئ د صحبت نه فیض حاصښ کړے وو. روستو د نوښهر د سیند په ګاړه په کوم کلي کښې چه اوسیدولو هغے کلے د دوئ د نوم چه مناسبت سره په "پیرسباک" نامه یادیږي. مزار مبارک یئے د ضلع مردان علاقه سدهوم په موضع رستم کښې دے.د وفات تاریخ یئے راته معلوم نه دے. (اثر)

د دوئ د لښکر د راجمع کیدلو مرکز کاټلنګ وو.

سلطان محمود:

حضرت سلطان محمود ګدون قوم د دوه مشهورو قبیلو سالار او منصور قومي مشر او حکمران وو. په علاقه هزاره او کوهستان مهابڼ کښې چه د ګدون قوم کوم خلق آباد وو. د هغے غازیانو د جهاد بیرغ د ده په لاس کښې وو.

اخون محمد یونس:

حضرت مولانا اخون محمد یونس علیه الرحمة ته یئے د یوسف او منډنړ دوه مشهورو قبیلو د غازیانو بیرغ ورکړے وو.

د حضرت مولانا حافظ اخوند سید محمد یونس د بیرغ لاندے د دے دواړو قبیلو خلق چه د جهاد د پاره کوم ځاي ته به راغونډیدل. هغة د جهاد مرکز د موجوده طورو نومے کلي نه مغرب طرف ته د کلپانړئ نه قبلے غاړے ته. د "طورو ډهیرئ" په مقام وو. په دغه مقام د دلازاک قبیلے د اقتدار د زمانے راسے د ساداتو خاندانونه آباد وو. هر کله چه حضرت مولانا سید اخوند محمد یونس علیه الرحمة دغه مقام د جهاد د لښکرو د پاره فوځي مرکز او ګرځولو. نو په دغه مناسبت سره دا ځایے په "جهادګے" نوم مشهور شه. چه نن ورځے د کثرت استعمال په وجه په "جات کے" نامه یادیږي. لکه چه مخکښې ذکر او شه د حضرت

اخون پنجو بابا دے ټولو نامورو خلیفه ګانو د اباسیند کوهستان. کوهستان سوا.ت کوهستاني دیر. کوهستان باجوړ. (ساؤ. ناړئ. نرصات. بیلم) او د سمت مشرقي افغانستان په علاقه کافرستان باندے غزاګانے اوکړلے. او دا سلام د تبلیغ او نشر و اشاعت حق یئے ادا کړ.

(۱) حضرت مولانا حافظ، سید، اخوند محمد یونس ګیلاني درے ودونه کړي وو. د دوئ د یوے بي بي نوم حضرت "آلینه" علیها الرحمة وو. چه د حضرت اخون پنجو بابا علیه الرحمة لور بي بي وه. د هغے نه یئے دوه ځامن پیدا شوي وو. د یو نوم وو حضرت اخوند محمد یوسف او د دوئم نوم وو حضرت اخون محمد عنایت الله.

(۲) د دوئ دویمه بي ام ولیده وه. چه د هغے "جهان آرا نوم وو. د دے بي بي نه یئے چه کوم فرزند ارجمند پیدا شوے وو. د هغه نوم حافظ اخوند محمد رفیع وو.

(۳) دریمه بي بي یئے د حضرت مولانا شیخ المشائیخ محمد عمر المعروف په پیرسباک علیه الرحمة لور بي بي وه. چه د هغے "بیګم" نوم وو. د ضلع مردان تحصیل صوابئ د موضع پرمولي پیران یئے د دغه بي بي اولاد دے.

حضرت مولانا اخوند محمد یونس د زهد او ریاضت. تقري او پرهیز ګارئ. د دیني علومونو د درس او تدریس د روحاني فیوضاتو د خوره ولو او د دین اسلام د تبلیغ د پاره د مجهادانه کارنامو انجام ته رسولو نه پس په ۱۰۵۹هـ کښې د دے دنیا نه سفر او کړ او په مقام د "غله ډهیر" ضلع مردان کښې یئے مزار جوړ کړلے شه. او د دوئ د نوم په مناسبت سره دغه مقام هم نن ورځے په "خاوؤ" نامه یادیږي[45]. د ولادت صحیح تاریخ یئے راته معلوم شوے نه دے. علیه الرحمة والغفران.

د دوئ د اولاد تذکره

هر کله چه تیرو شوؤ درے سوه کلونو راسے د حضرت مولانا اخون محمد یونس علیه الرحمة اولاد پشت په پشت د دین اسلام ډیر شاندر خدمتونه کړي دي. او لکه چه مخکښې ورته اشاره شویده په دے مبارک خاندان کښې ډیر لوئ لوئ عالمان او بزرګان تیر شوي دي. چه روستو ځاي په ځای ځمونږ په دے کتاب کښې په روئ کښې د بعض مشاهیرو حالات به په اختصار سره مخے ته راشي. په دے وجه دا مناسب معلومیږي چه دلته د حضرت خاوؤ بابا د اولاد په حقله په اختصار سره تذکره درج کړلے شي.

عنایت الله:

---

[45]"تذکرۀ جمیل"تالیف د مولانا سید عبدالجمیل ګیلاني. او مکتوب د مولانا محمد امین خوګیاني. (اثر)

د حضرت اخوند پنجو بابا علیه الرحمة حضرت اکینه بي بي نه یئے کوم دوه ځامن وو. په هغوئ کښې د مشر نوم وو. محمد عنایت الله د ده دوه ځامن وو. (۱) جلال الدین (۲) شرف الدین . د شرف الدین دوه ځامن وو (۱)امام الدین (۲) شرف الدین بیا د ظهیر الدین دوه ځامن وو. قیام الدین. ضیاء الدین (لاولد) او د قیام الدین یو ځوي وو. عین الدین (لاولد) او د دوئ نه روستو د دے خاندان سلسله ختم شوے ده.

محمد یوسف:

دا هغه نامور عالم او روحاني پیشوا دے. چه په "محمد یوسفزیئے" نامه مشهور دے. او د پښتو ژبے او ادب دوه مشهور صوفي شاعران حضرت شیخ عبدالرحمان بابا سربنی مهمند. او حضرت شیخ اخوند بابو جان لمکانے علیهم الرحمة د واړه د دوئ شاګردان وو. حضرت مولانا اخوند محمد یوسف علیه الرحمة د حضرت اخوند سالاک بابا علیه الرحمة په ملکرتیا کښې د کوهستان دیر په علاقه لرجم او برجم کښې حصة اخیستے.د ولادت او وفات تاریخونه یئے راته معلوم شوي نه دي. مزار مبارک یئے د خپل والد ماجد سره په موضع خاوؤ (طورو) کښې دے. او مرکز د انوارو او فیوضاتو دے.

ولي محمد:

د حضرت مولانا اخوند محمد یوسف علیه الرحمة یو ځي وو. چه د غه نوم وو. "ولي محمد" دا هغه جلیل القدر عالم او ممتازعارف وو. چه نادر شاه افشار خپل دربار ته سره د نورو درے اهل السنت والجماعت عالمانو او قومي مشرانو غوښتلے وو. چه د ایران د مجتهد العصر عالم سره بحث اوکړي. د مولونا ولي محمد د رے نورو ملګرو نومونه دادي.

(۱) حضرت مولانا عبدالرشید قریشي ملتاني چه د ضلع مردان په موضع لنګر کوټ (امازو ګړهئ) کښې اوسیده. لوئ فاضل عالم وو. او د پښتو ژبے د مشهور دیني کتاب "رشید البیان" مؤلف دے.

(۲) مولانا صاحب د موضع "سړه چینه" (تحصیل صوابی ضلع مردان) د دوئ نوم راته معلوم شوے نه دے.

(۳) ملک نازو خان مندنړ د قومي مشر په حیثیت.

هر کله چه بحث جوړ شه. نو باوجود د دے چه د ایرن هغه مجتهد العصر عالم شکست اوخوړلو. بیا هم نادرشاه افشار او لیکده دا څلور واړه یئے اونیول او د غزني په بندیخانه کښې یئے قید کړل. څه لږة زمانه پس حضرت مولانا سید ولي محمد او ورسره یو بل عالم چه غالب او د مولانا عبدالرشید قریشي وو. دواړه هلته د غزني

په بندیخانه کښې وفات شول. او زیارتونه یئے په غزني کښې جوړ شول. او بیا چه احمد شاه ابدالي بادشاه شه نو ملک نازو خان او مالا نا صاحب د سره چینه یئے د بند نه آزاد کړل. او هغوئ واپس خپل وطن ته راغلي وو[46].د حضرت مولانا سید ولي محمد درے ځامن وو[47].

تاج محمد:

د مشر ځوي نوم یئے وو. حضرت سید تاج محمد. د ده دوه ځامن وو (۱) سید نظام الدین (۲) سید جمال الدین. د سید نظام الدین د ځوي نوم محبوب شاه وو. د هغه دوه ځامن وو. (۱) صاحب شاه (لاولد) (۲) حضرت شاه چه د ده د ځوي نوم حسین شاه وو. او د حضرت جمال الدین د ځوي نوم ووعرب شاه چه د هغه د ځوي نوم وو. فضل شاه او د هغه د ځوي نوم سید اصغر وو.

سید محمد:

د حضرت مولانا سید ولي محمد د دوئم ځوي نوم "سید محمد" وو. د دوئ دوه ځامن وو. حضرت سید معظم شاه او حضرت سید محمد سعید دا دواړه رونړه جلیل القدر عالمان د قرآن مجید ځافظان او د اوچتے مرتبے لرونکي عارفان وو.

سید معظم شاه:

[46]مکتوب د سید محمد امین خوګیاني
[47]تذکرۂ جمیل (قلمي) (اثر)

حضرت مولانا سید محمد معظم شاه د علم دین ابتدائ کتابونه د خپل والد ماجد نه لوستلي وو. او د هغے نه روستو د موضع شیخ جانا (تحصیل صوابئ ضلع مردان) د حضرت مولانا محمد ضیاء علیه الرحمة[48] نه په ټولو دیني علمونو کښې درجه د فضیلت حاصله کړے وه. او د هغے نه روست ویئے په سلسله عالیه نقشبندیه کښې د حضرت اخوند محمد صدیق د بشونړئ نه خرقه د خلافت حاصله کړے وه. د پښتو شبے ادیب او شاعر هم وو. یوه منظومه پښتو الف نامه ترینه یادګار پاتے دے[49].

د حضرت بدر العلماء مولانا سید محمد معظم شاه شپږ ځامن وو. حفظي الل، حمید الله، حبیب الله، عبدالله، فیض الله، سعد الله، دا شپږ واړه رونړه فاافضلان

---

[48]حضرت مولانا محمد ضیاء علیه الرحمة لوي فاضش عالم. کامل عارف او صاحب لفظ بزرګ تیر شویدے. د علم فقهه په ګنړو کتابونو د دوئ حاشیے موجودے دي. د حضرت مولانا محمد ضیاء د څمکنو د حضرت میا محمد عمر قدس سره مرید وو. او حضرت میا صاحب ورته دعا فرمائیلے وه چه خداي پاک دے د علماء روز ګار سر آمد کړه.

[49]په دیوان حافظ الپورئ مطبوعه نسخه کښې چه د حافظ محمد معظم کومه الف نامه شامله ده او لنے شعر یئے دا دے. الف اول د کائناتو نور د پاک نبي نیک ذات وو. د دیوان حافظ د طابع او ناشر قاضي عبدالسلام د نوښهر هغه بیان صحیح نه دے. چه د حافظ الپورئ نوم محمد معظم وو. لکه چه روستو به بحث راشي. د حافظ الپورئ خپل نوم عبدالقتدر دے. بله دا چه په دیوان حافظ الپورئ مطبوعه نسخه کلي چه کومے درے الف نامے دي. په دغے کلي فقط یوه الف نامه د حافظ عبدالقتد دۀ. دویمه د دے حافظ محمد معظم شاه ده او دریمه د حافظ حضرت شاه و چړچوړ ضلع مردان ده. او دا درے واړه حافظان د حضرت اخوند محمد صدیق د بشرنړئ مریدان وو. کوم خلق چه د دے حقیقت نه نا خبره دي. هغئ په اشتباه کښې پریوتلي دي. (اثر)

عالمان او د قادري، چشتیه، صابریه، او نقشبندیه طریقې بزرګان وو.

په دوئ کښې حضرت مولانا سید اخوند حفیظ الله علیه الرحمة (متوفي ۱۳۰۷هـ) په سلسله عالیه قادریه او نقشبندیه کښې د خپل والد ماجد نه او په سلسله عالیه چشتیه کښې د حضرت مولانا سید ذکري میا صاحب چشتي صابري نه خرقه د خلافت حاصل کړې وه. د حضرت اخوند صاحب د سوات او د دوئ تر منځه پر خلوص تعلق وو. د حضرت مولانا حافظ سید اخوند حفیظ الله پنځه ځامن وو. دا پنځه واړه رونړه د حضرت ذکر یا صاحب شاګردان وو. او قادریه چشتیه نقشبندیه مسلک یئې لرلو.نومونه یئې دا دي.

(۱) مولانا محمد اسحاق متولد ۱۲۵۷هـ د ده دوه ځامن وو. عبدالشکور مرحوم مولانا حافظ سید امین الحق (چه نن ورځې په جامع مسجد شیخپوره پنجاب کښې خطیب دے.)

(۲) مولانا محمد اسماعیل (متولد ۱۲۶۹) د دوئ دوه ځامن وو. مولانا لطف الرحمان حافظ (مرحوم)

(۳) مولانا ځافظ فیض الرحمان زاد مجده. د مولانا لطف الرحمان مرحوم درے ځامن دي. ظهور الحق نور الحق. عزیز الحق او د

مولانا حافظ سید فیض الرحمان یو ځوي دے. سید عبدالحق سلمهم الله حضرت مولا نا محمد اسماعیل علیه الرحمة ځما (عبدالحلیم اثر) استاز وو. "مناقب غوثیه" د دوئ تالیف دے.

(۴) مولانا محمد اسرائیل شهید (متولد ۱۲۷۳هــ) دا هغه نامور عالم دے چه د ۱۲۹۵هــ نه تر ۱۳۳۴هــ پورے د وادئ پیښور او افغانستان په علاقوکښې په ټولو غزاګانو کښې شریک وو. او په روحاني طریقه سره ځما (عبدالحلیم اثر) مربي او مشفق دے. روستو به ئے تذکره راشي.

(۵) مولانا عبدالجمیل (متولد ۱۲۸۱هــ) فاضل عالم. ادیب. مؤرخ. واعظ او خطیب وو. د پاک وهند د نامورو عالمانو نه یئے درس لوستلے وو. "تذکرهٔ جمیل" د دوئ تالیف دے. د دوه درے ځامن دي. لطف الله. عنایت الله حافظ امانت الله (درے واړه ژوندي دي) په دوئ کښې (۱) د لطف الله دوه ځامن دي سلامت الله. شرافت الله (۲) د عانیت الله دوه ځامن دي اسرار الرحمان. مشتاق الرحمان (۳) د امانت الله دوه ځامن دي. اظهار الله طیب الله.

(۶) مولانا عبدالجليل (متولد ۱۲۹۶هـ) فاضل عالم وو.د معقول او منقول درس به يئے ورکول. د دوئ درے ځامن دي حافظ عبدالنبي. عبدالعليم عبدالغني سلمهم الله.

محمد سعيد:

د حضرت مولانا حافظ اخوند سيد محمد د دويم ځوي نوم محمد سعيد وو. ډير لوئ فاضل عالم او کامل عارف وو. د حضرت شيخ المشائخ فضل احمد معصومي المعروف حضرت جي صاحب د پيښور نه يئے په سلسله عاليه نقشبنديه کښې خرقه د خلافت حاصله کړے وه. د دوئ دوه ځامن وو. سيد مځمد مير. سيد محمد غلام. د سيد محمد مير دوه ځامن وو. محمد اکرم (لاولد) عبدالوهاب. او د مولانا سيد محمد غلام پنځه ځامن وو. عطاء محمد. محمد اکبر. محمد اعظم علي اسغر. سيد سلطان.

سيد حافظ محمد رفيع کيلاني

د حضرت مولانا حافظ سيد اخوند محمد يونس کيلاني المعروف په خاوؤ بابا د هغه بي بي نه چه ام ولده وه. د هغي نه يئے چې کوم ځوئ شوے وو. د هغه نوم حضرت مولانا سيد اخوند محمد رفيع عليه الرحمة وو. د ده د ځوئ نوم وو عبدالله د هغه ځوي وو محي الدين چه د هغه شپږ ځامن وو. نياز الدين (لاولد) فضل الدين (لاولد)

سراج الدین(لاولد) بدر الدین. محمدین . میر ملنګ. په دوئ کلې د حضرت بدر الدین درے ځامن وو. (۱) قطب الدین چه د هغه ځامن وو عبدالحلیم. عبدالعلیم . (۲) غفران الدین چه د هغه یو ځوي وو سید شهزاده (۳) رفیع الدین چه د هغه دوه ځامن وو. قیاس الدین. سید حسین. په دوئ کښې بیا د قیاس الدین دوه ځامن وو. ریحان الدین. رحمان الدین. دریحان الدین دوه ځامن وو. غالب الرحمان. کلیم الرحمان. او د رفیع الدین د دویم ځوي سید حسین یو ځوي وو. سید حافظ سراج الدین.

او د حضرت مولانا سید محي الدین د پنځم ځوي سید محمد الدین دوه ځامن وو. (۱) سید نجم الدین چه د هغه د ځوي سید شجاعت نوم وو. (۲) سید زین الدین چه د هغه د ځوي سید غلام نوم وو.

لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشه هر کله چه د ګیلاني ساداتو د دے بختور خاندان د نامورو علمي او عرفاني شخصیتونو په ذریعه د تیرو شوو درے سوؤ کلونو راسے په ټول شمالمغربي پاکستان کښې د فیوضاتو یوه لویه سلسله جاري ده. په دے وجه د دوئ حالات په تفصیل سره دلته درج کړے شول. خدائ پاک دے د دوئ اجر نور هم زیات کړي. علیهم الرحمة والغفران.

حضرت شيخ امام الدين عليه الرحمة

ولادت .... بـهٔ هيـنئ (پـيښور) ۱۰۲۰هــ

وفـات.............................. بـهٔ هيـنئ (پـيښور) ۱۰۶۰هــ

پـه وادئ پـيښور کښې چـه کـوم پـښتـانـه قـبـائـل آبـاد دي. هـغـه د دوه لـويـو قـومـونـو شاخونـه دي. چـه د قـوم نـو دے خشے او د بـل قـوم دے غرے. پـه غري. غوری نـومـے قـوم کـښې مـهمند خلـيل. داؤدزيـے. زيـړان. څمکنـے مشهورے قـبـيلـے دي. چـه هره يـوه قـبـيلـه نـن ورځـے جدا جدا الـوئ قـوم ګـرځيـدلـے دے. پـه دوئ کـښې د خلـيل قـبـيلـے زيـاتـه آبـادي نـن ورځـے پـه ضلع پـيښور تـحصيـل پـيـښور کـښې ده. حضرت مولانـا شيخ امـام الـديـن عليـه الـرحمة هم پـه قـام بـانـدے خلـيل وو. او د ضلع پـيـښور د مـوضع بـهٔ هنئ اوسيـدونـکے وو. شجره د نـسب يـئے داسے ده.

شيخ امـام الـديـن ابـن شيـخ کـبـيـر الـمعوف پـه پـيـر بـالا. او بـالا پـيـرا بـن شيـخ قـاسم افـګـان الـقـادري ابـن شيـخ قـدم ابـن مـحمد زاهد ابـن مـيـر داد ابـن سلـطـان ابـن شيـخ کـټـه ابـن شيـخ يـوسف ابـن شيـخ مـتـي ابـن شيـخ عبـاس

ابن شیخ عمر ابن خلیل (چه د قبیله خلیل مورث اعلی دے) علیهم الرحمة والغفران.

د حضرت شیخ امام الدین علیه الرحمة دا خاندان ډیره بختوره کورنئ ده. د ده مشران نیکو نه پشت په پشت عالمان او بزرګان تیر شوي دي. چه علمي او روحاني روړ و لحاظونو سره ډیر آثار ترینه یادګار پاتے شویدي. چه دلته مختصراً تذکره کول یئے مناسب معلومیږي.

حضرت شیخ متي علیه ارحمة

حضرت شیخ متي علیه الرحمة هغه لوئ. او معروف بزرګ دے. چه په "قلات بابا" مشهور دے. او زیارت یئے د قلات (افغانستان) په لوړه غونډئ باندے د عام او خاص د زیارت کؤلو ځائے دے. شیخ متي علیه الرحمة لوي عالم عارف او ادیب وو. او په پښتنو کښې یئے په علم او عرفان دواړو کښې ډیر زیات شهرت لرلو. چه د وفات نه روستو هم د دوئ د ذات سره د خلوق په عیقدتمندئ کښې څه کمے نه دے راغلے.

حضرت شیخ متي علیه الرحمة خپلے کورنئ ته علم. تقوی اور عرفان دا ممتاز صفتونه په میراث کښې پریښی وو. او روستو د ده په اولاد کښې چه څومره بے شمیره عالمان او بزرګان تیر شوي دي. د هغے مثال نه پیدا کیږي. حضرت شیخ متي علیه

الرحمة يو کتاب هم ليکلے وو. چه د هغے نوم دے "د خدائيےمينه"

حضرت شيخ متي عليه الرحمة په سلسله عاليه سهرورديه کښې د حضرت شيخ بهاء الدين ذکريا ملتاني خليفه وو. په ۶۰۳هــ کښې پيدا شوے او په ۶۸۸هــ کښے وفات شوے دے. اولاد يئے د خليل قبيلے څلورم کندے دے. په متي زی خليل ياديږي.

حضرت شيخ کتبه عليه الرحمة

د حضرت شيخ متي عليه الرحمه د نمسي نوم حضرت شيخ کټه عليه الرحمة وو. د حضرت شيخ متي د وفات کيدلو نه روستو د هغه په ګدئ باندے د هغه ځوي شيخ يوسف کښيناستلے وو. د ده اوه ځامن وو او چه کله وفات شه. نو په دغه اوه رونړو کښې حضرت شيخ کټه عليه الرحمة د خپل پلار شيخ يوسف عليه الرحمة په ګدئ سجاده نشين شه. د ده د مور "مرادبخته" نوم وو. چه په قوم د زمند قبيلے وه.

په دے خاندان کښې حضرت شيخ کټه عليه الرحمة ته زيات شهرت حاصل شوے دے. د کتاب "پټه خزانه" د يو روايت نه معلوميږی. چه حضرت شيخ کټه څه زمانه په "والشتان" کښې هم تيره کړے وه. داسے معلوميږي چه د قلات (افغانستان) نه وادئ پيښور ته د خليل قبيلے خلق د حضرت شيخ کټه په مشرئ کښې راغلے وو. او دے پخپله د پيښور ښهر نه د نهه ميله په فاصله

شمال مشرق طرف ته په موضع "بډهينئ" کښې اوسيده د ولادت او وفات صحيح تاريخونه يئے معلوم شوي نه دي. دومره معلومه شوے ده چه د ده دے ۷۵۰هـ د زمانے بزرګ دے.

د حضرت شيخ کټه تاريخي يادګار "لرغوني پښتانه" نومے يو کتاب دے. چه په دے کښې يئے د پښتنو مشاهير بزرګانو او عالمانو حالات ليکي دي. او په دے اعتباره يوه "روحاني تذکره" ده.

د حضرت شيخ کټه عليه الرحمة اته ځامن وو. چه نومونه يئے دا دي. سلطان ثابت. حاجي سليمان. فهي . اکاذے. يوسفزے. ابراهيم. ملک باجي چه دا تول په خپل وخت عالمان، عارفان او اولياء الله تير شوي دي. د حضرت شيخ کټه عليه الرحمة د وفات نه روستو د هغه مشر ځوئ حضرت سلطان عليه الرحمة سجاده نشين شوے وو.

حضرت شيخ قاسم عليه الرحمة

د حضرت شيخ قاسم ابن شيخ قدم ابن شيخ محمد زاهد ابن شيخ ميرداد ابن شيخ شلطان عليهم الرحمة په دے نامورہ کورنئ کښې د ډيرے اوچتے عرفاني او عملي مرتبے خاوند جليل القدر بزرګ تير شوے دے. د ده والده ماجده حضرت بي بي نيک بختجه المعروف په حضرت بي بي ګله د حضرت شيخ الله داد مامون زئ لور وه. او په ۹۵۱هـ کښې د حضرت شيخ قدم خليل عليه الرحمة په

نکاح کښې راغلے وه[50].دا بي بي ډيره لويه عالمه او عارفه او اديبه ميرمن وه. د "ارشاد الفقراء" په نوم يو بلند پايه اخلاقي او تصوفي کتاب يئے يادګار پاتے دے. د دے بزرګے او عارفے بي بي ګلے په غيږ کښې په ۹۵۶هـ کښې حضرت شيخ محمد قاسم پيدا شوے وو. چه روستو په "شيخ قاسم افغان" د ډير لوئ شهرت خاوند شوے وو. حضرت شيخ قاسم د حرمينو شريفينو حج او زيارت له تلے وو. او هلته يئے د حضرت شيخ المشائيخ ميران محي الدين عبدالقادر جيلاني قدس سره په نمسو کښې د يو بزرګ زاهد او عارف نمسي نه په سلسله عاليه قادريه کښې بيعت کړے وو. هر کله چه د حج بيت الله نه واپس راغے او خپلو علمي او روحاني فيوضا تو خوره ولوله يئے نوره هم ترقي ورکړه نو دغه "شيخ قاسم افغاني" چه د حرمينو شريفينو د عالمانو او بزرګانو په طبقه کښې په "شيخ قاسم سليماني" نامه مشهور شوے وو. د مغليه حکمرانانو ويره ترينه نوره هم زياته شوه. د جلال الدين اکبر په حکم د وادئ پيښور نه جلا وطن کړے شه. ه لاهور ښهر کښې استوګن کړے شه. چه هلته هم د عوامو او خواسو د عقيدت مرکز او ګرځيده او ډير وخلقو ترينه په ظاهري او باطني علمونو کښې فائده او موندله. په ۱۰۱۴هـ کلې د جلال الدين اکبر د وفات نه روست چه شهنشاه جهانګير بادشاه شه. نو د هغه په حکم "چنار ګډه" په قلعه کښې

---

[50] پټ هخزانه صفحه نمبر۹۸ او څما تاليف "پښتانه مؤورخان صفحه نمبر۲۶

نظر بند کړلے شه او هم هلته د نظر بندۍ په حالات کښې په ۱۰۱۶هـ کښې په حق اورسیدهٔ[51] او مزار مبارک یئے هم هلته جوړ کړلے شه. چه د فن تعمیر په لحاظ سره ډیر لوئ شاندار درګاه دے.

حضرت شیخ قاسم علیه الرحمة علاوه د روحاني مرتبے نه په علمي او ادبي سلسله کښې یو فاضل ادیب او مؤرخ هم وو. د پښتنو بزرګانو او مشاهیرو په حالاتو کښې یو تاریخي کتاب یئے د "تذکرة الاولیاء" په نوم لیکلے دے. چه ډیر اهم علمي او تصوفي کتاب دے.

د حضرت شیخ قاسم علیه الرحمة اوه ځامن وو. چه نومونه یئے دا دي شیخ نور، شیخ اسماعي، محمد واصل، شیخ کبیر (المعوف په پیر بالا. او بالا پیر) عبدالکریم فرید. ابراهیم. علیهم الرحمة چه دا ټول پخپله زمانه مشهور عالمان او عارفان تیر شویدي.

شیخ امام الدین علیه الرحمة

په دوئ کښې شیخ امام الدین هغه نامور بزرګ دے. چه مونږ یئے تذکره اولیکله. دے د محرم الحرام میاشتے په اولني تاریخ ۱۰۲۰هـ کښې د پیښور په خالصه نومي علاقه موضع بډهنۍ کښې پیدا شوے وو. د مورئے تاج بي بي نوم وو. چه د ملک درویزه لور وه. او د خلیل قبیلے د

[51] مخزن افغاني (قلمي نسخه) صفحه ۲۶۰ (اثر)

یوے مشهورے کورنئ ځنے وه. امام الدین هم لکه د خپلے کورنئ د نورو نامورو کسانو په شان او چته علمي او روحاني مرتبه بیا موندله. او د وادئ پیښور په ټوله علاقه او اولس کښې یئے د قدر. عزت او احترام او چت مقام حاصل کړ.

حضرت شیخ امام الدین یو تاریخي کتاب هم لیکلے دے. چه "تاریخ افغاني" نوم یئے دے. ژبه یئے فارسي ده. او د مشاهیر و پښتنو بزرګانو او نورو اوحوالو او واقعات باندے مشتمل دے. د دے کتاب د مقدمے نه معلومیږي. چه امام الدین یو فاضل مؤرخ هم دے. د علم تاریخ پوره پوره معلومات ورته حاصل وو. او د خپل کتاب د لیکلو د پاره مستند تاریخي مواد او بے شمیره تاریخي کتابونه ورسره موجود وو. چه د هغے نه یئے د خپل کتاب په تالیف کښې اقتباسات او حوالے نقل کړے دي. د دغه ماخذونو او د حوالے د کتابونو نومونه دا دي (۱) "روضة الا حباب" (۲) "مجمع الا نساب"تالیف د امام صاغګاني لاهوري (پاکستان) (۳) "اصناف المخلوقات" (۴) تاریخ ابراهیم شاهي" وقائع سوري" (د شیر شاه سوري وقائع) تالیف د عباسي سروانړي (۷) "اسرار الا فغاني" او داسے نور بے شمیره کتابونه شول.

حضرت شیخ امام الدین قدس سره د چار شنبے په ماښام۲۳ ،تاریخ د محرم الحرام ۱۰۶۰هـ کښې وفات شوے وو. مزار مبارک یئے

په موضع پلوسئ تپه خليل ضلع پيښور کښې د خوړ په غاړه واقع دے او ګنبد پرے جوړ دے. عليه الرحمة والغفران.

حضرت قطب الا قطاب شیخ رحمکار کاکا صاحب علیه الـرحمة

ولادت .... علاقه خټک ۹۸۳هـ

وفات......................... علاقه خټک ۱۰۶۳هـ

د سابق صوبه سرحد په علاقه کښې چه د سهروردیه طریقے او سلسلے په خاندان کښې کوم بزرګان تیر شویدي. په هغے کښې د ټولونه زیات مشهور زیارت قدرمند او د لویو روحاني فیوضاتو خاوند او د روحاني انوارو لوئ مرکز د حضرت قدوة السالکین، زبدة العارفین قطب الا قطاب شیخ رحمکار الملقب په شیخ کاکا صاحب سهروردي علیه الرحمة خاندان دے.

د حضرت کاکا صاحب علیه الرحمة خاندان د بخاري ساداتو کورنئ ده. مخکښې د حضرت خواجه یحی کبیر غورغشتي او د هغوئ د پیر طریقت حضرت مخدوم جهانیان سید جلال الدین حسین بخاري په بحث کښې دا خبره ذکر شوے ده. چه د بخاري ساداتو کنړ خاندانونه د موجوده کوئټه ډویژن په پشین کښې آباد شوي وو. چنانچه هم په دغه خاندانونو کښې یو خاندان د حضرت سید

ناشیخ رحمکار کاکا صاحب علیه الرحمة هم وو چه د ۵۵۰هـ په شاؤ خوا کښې دغلته آباد شوي وو. او بیا د دغه ځائ نه د دے خاندان مشران د غزني، خواست او کوهاټ په لاره دے موجوده علاقے ته راغلي وو.

د حضرت شیخ رحمکار کاکا صاحب علیه الرحمة کومه شجره د نسب چه په کتاب مقامات قطبیه او مقالات قدسیه کښې حضرت سید مهتدالله مرحوم او په "تذکرهٔ شیخ رحمکار" کښې سید سیاح الدین درج کړے ده هر کله چه هغه مکمل نه ده. او په هغے کښې د حضرت کاکا صاحب په نولسمه پیړۍ کښې نیکه سید اسماعیل او حضرت الا مام امام جعفر صادق تر منځه د یوڅو پشته نیکونو نومونه پاتے وو. په دے وجه د هغے تکمل م د کوئټه ډویژن د ساداتو د "شجرهٔ اکملیه" نه او د پشین د ساداتو د دوه خاندانو لو د شجره نسبونو نه اوکړ.

(الف) یوه شجره د نسب د حضرت سید محمد نقشبندي سدومي ده چه دے په اصل د پشین وے او د ۱۲۰۰هـ د زمانے دے.

(ب) بله شجره نسب د حضرت شیخ ذکریا قادري د قبائیلي علاقے مهمند ده چه دے هم په اصل د پشین دے او د ۱۰۵۰هـ د زمانے دے د کاکا خیلو ساداتو په شجرو کښې د بعض مشرانو نومونه چه څرنګ لیکلي شوي دي هغه د پشین او شرار ود

د ساداتو په شجرو کښې يا القاب دي يا اسماء کنيت دي. او اسم محصه نه دي. دلته چه کومه شجره مونږ درج کړه په دے کښې مونږه د هر يو مشر نيکه خپل اصلي نوم. اسم کنيت او اسم لقب ورسره ورسره درج کړل. او چه د کاکاخيلو ساداتو په شجرو کښې کوم کموالے وو. هغه مو پوره کړ. دا تالاش و تحقيقي په دے وجه ضروري اوګنړلے شه. چه د کاکا خيلو ساداتو د موجوده شجرے مطابق حضرت شيخ رحمکار کاکا صاحب عليه الرحمة د حضرت سيد الشهداء امام حسين رضي الله عنه نه په دروېشتمه نه بلکه په يوويشتمه پيړئ کښې راځي. او چه د علم اصول تاريخ د قاعدے مطابق د سل کاله زمانے د پاره په انتهائي کم حساب سره درے کسان حساب شي. نو به هم په دغه حساب د حضرت شيخ رحمکار زمانه ۷۷۵هـ يا ۷۲۵هـ جوړيږي. حالانکه د دوئ د ولادت تاريخ ۹۸۱هـ دے. ښکاره خبره ده. چه دا شجره په موجوده شکل کلي ناقصه وه. او په دے کښې د بعض مشرانو نيکونو منځ تر منځه پاتے وو. د کوئټه او قلت ډيوژن د شرارو او پشين د ساداتو د شجره نسبونو د تقابلي مطالعے نه

معلومه شوه. چه د کاکاخیل ساداتوپه شجره نسب کښې چه د حضرت شیخ رحمکار په نولمسه پیړۍ کښې د کوم نیکه نوم اسماعیل ذکر شیودے. او دغه سیدنا اسماعیل یئے د حضرت الا مام الهام جعفر صادق رضي الله عنه ځوئ ګنړلے دے. په حقیقت کښې دوئ ته د دے اسماعیل په نوم کښې التباس پیش شویدے. د پشین د ساداتو د شجره نسب د بیان مطابق دا اسماعیل هغه مشرنیکه دے چه د حضرت الا مام امام جعفر صادق ځوئ نه دے. بلکه په یولسمه پیړۍ کښې د هغوئ یعنے امام جعفر صادق نمسے دے. د دے معلوماتوله مخة حضرت کاکا صاحب علیه الرحمة په یو دیر شمه پیړۍ کښې د حضرت سید الشهداء امام حسین رضي الله عنه نمسے کیږي. او په دے شان په تاریخي لحاظ سره زمانه یئے برابره راځي. د دے نه علاوه د کاکا خیلو ساداتو په موجوده شجره کښې بعض نومونو کښې وړاندے روستو والے او نور کمے هم وو. چه هغه د پشین د ساداتو د شجرے نه پوره کړے شه. په دے سلسله کښې هر کله چه د شرارود. پشین. سدوم. قبائیلي علاقے مهمند د ساداتو او د کاکاخیلو

ساداتو ټولواصلي مرکزي مقام پښين دے. په دے وجه ځمونږه دا تقابلي مطالعه چه د پښين د ساداتو په شجره نسب باندے بناء ده. دا به مستنده او ګنړلے شي. ځمونږه د تقابلي مطالعے نه روستو د حضرت سيد نا شيخ رحمکار کاکا صاحب عليه الرحمة شجره داسے ده.

سيد کستير الملقب په رحمکار بن سيد بهار الملقب په ابک ابن سيد نادر ابن سيد غالب ابن سيد آدم ابن سيد يسين ابن سيد محبت ابن سيد باقوابن سيد محمود ابن سيد سيف الدين محمد هاجر ابن سيد سعد الدين ابو علي عبدالغفار ابن سيد ابو عمر فرد الدين علي الملقب په سيدر جال ثاني او "سيد علي اکبر" ابن سيد ابو محمد حمزه فتح الدين الملقب په قائين (قائم) ابن سيد ابو حمزه او ابو محمد، علي سيد الررجال او الملقب په خاتم ابن سيد اسماعيل ابن محسن ابن احمد ابن عبدالله ابن علي ابن محمد مکي ابن محمد مهدي ابن حسن عکسري ابن الا مام علي نقي ابن الا مام محمد تقي ابن الا مام علي رضا ابن الا مام موسى الکاظم ابن الا مام الهمام جعفر صادق ابن الا مام محمد باقر ابن علي زين العابدين ابن الا مام الهام سيد الشهداء حسين رضي الله عنهم اجمين .

د حضرت شيخ رحمکار د مشاهيرو بزرګانو نيکونو د سکونت او د مزاراتو د

ځایونو په حقله په اختصار سره تذکره مناسب معلومیږي.

(۱) د حضرت سید نا شیخ رحمکار مزار مبارک د خټکو په علاقه کښې په تحصیل نوشهره ضلع پیشور کښې دے. او د دوئ د لقب کاکا صاحب په مناسبت سره د دغه کلي نوم هم زیارت کاکا صاحب دے.

(۲) د دوئ د والد ماجد سید بهادر مزار د موضع زیارت نه جنوب مغرب طف ته د شپږ میله په فاصله د خټکو په علاقه کښې دے.

(۳) د حضرت سید نادر المعروف په مست بابا مزار مبارک د موضع زیارت نه جنوب مغرب طرف ته د اته میله په فاصله د خټکو په علاقه کښې دے.

(۴) د حضرت سید غالب علیه الرحمة مزار مبارک د خټکو په علاقه کښې د چراټ د غرونو په سلسله کښې دے.

(۵) د حضرت سیدنا آدم علیه الرحمة مزار مبارک په ضلع کوهاټ کښې د دو آبے په علاقه کښې د موضع کربوغه سره دے (زمانه ۸۱۸هـ)

(۶) د حضرت سید یسین علیه الرحمة او د هغه د والد ماجد حضرت سید

محبت علیه ارلحمة دواړو زیارتونه په علاقه خوست رسمت جنوبي اندازه سړي ته خود بخود لګیدلے شي. او غټه نخښه یئے دا وي چه په سړي کښې د خپل محبوب پیغمبر نیک اخلاق لکه د یانت. امانت. عدالت. صدق. عفوه. رحم او د خدائ د مخلوق سره محبت او شفقت پیدا شي.

په مسلمانانو کښې بعض نیکبخت کسان داسے هم وي. چه هغوئ ته په بارګاه رسالت کښې خصوصي مرتبه حاصلوي. او ډیر په خصوصیت سره یئے پالنه کیږي. داسے خلقو ته هم د اویسي طریقے بزرګان وائي. د دے نمونے اویسي بزرګانوته پښتانه پخپله مخصوسه اصطلاح کلې "مادر زاد ولي" (مورزاده ولي) وائي. د حضور نبي کریم صلي الله علیه وسلم روح پر فتوح د دے نمونے" مادروزاد ولیانو چه کوم تربیت کوي د هغے شکل د اویس قرني د تربیت په مثال وي. روایت دے چه پاک نبي خپلو یو څو کسانو اصحابو وصیت کړے وو. چه یمن ته لاړ شئ. او هلته اویس قرني نه بیعت اوکړئ. هوبهو هم په دغه نمونه د پاک نبي صلي الله علیه وسلم روح پر فتوح د هرے زمانے مجاز بزرګانو ته هدایت فرمائي. چه هغه لاړ شی او چه کوم مادرزاد ولي وي. هغه ته بیعت اوکړی. چنانچه حضرت سیدنا شیخ رحمکار پخپله زمانه د دغه قسم مادرزادولي وو. حضور پاک نبي یئے په اویسي طریقه سره خصوصي تربیت فرمائیلے

وو. او د هغه وخت چه هر څومره مجاز بزرګان وو. هر يو پخپله خپله سلسله کښې حضرت کاکا صاحب ته برخه بخښلې وه. لکه چه مخکښې هم ورته اشاره شويده هر کله چه حضور نبي کريم عليه التحية واتلسيم رحمة العالمين دے. سراپا. رحم . کوم مهرباني او شفقت دے. نوکوم بزرګ ته چه په اوليسي طريقه د هغوئ تربيت حاصل شوے وي. هغه هم د ظاهر شريعت د مکملے پابندئ نمونه وي. سرپا رحيم او شفقت وي. نو په دے نقطه نظر که د حضرت کاکا صاحب عليه په خصوصي لقب "رحمکار" بندے غور اوشي. نو حقيقت به نور هم واضحه شي.

د اويسي طريقے دوئم شکل مونږه دا شودلے دے. چه يو بزرګ لاړ شي د کوم يو پخواني بزرګ په مزار کښې زهد، رياضت، مراقبه، ذکر او فکر او کړي. او دهغه بزرګ روح يئے رهنمايئ او تربيت اوکړي. دا طريقه هم ډير مشهوره ده ځمونږ په پخوانو بزرګانو کلې حضرت شيخ ابو الحسن خرقاني رحمة الله عليه هم په دے طريقه سره د حضرت بايزد بسطامي عليه الرحمة د مزار نه فيض حاصل کړے وو. او تر نن ورځے د حضرت ابوالحسين خرقانی د سلسلے د نقشبنديه خاندان ټول پخواني او موجوده بزرګان د خپلو مشائيخو د مزاراتو نه په دے اويسي طريقه سره فيض حاصلوي.

دغه شان ځمونږه په پخوانو بزرګانو کښې حضرت خواجه خواجګان خواجه غريب نواز معين الحق والملة والدين حسن سنجري

چشمتي اجميري د حضرت دا تاګنج بخش هجويري لاهوري د مزار نه په اويسي طريقه سره فيض حاصل کړے دے. چه هغے ته يئے په دے شعر کښې اشاره کړے ده.

ګنج بخش فيض عالم مظهر نور خدا
نا قصان راپيرا کامل کاملان رارهنما

او څمونږ په روستنو مشاهيرو مشائيخو کښې حضرت شيخ المشائخ پير سيد علي ترمذي المعروف پير بابا عليه الرحمة د حضرت شيخ شرف الدين پاني پتي د مزار نه فيض حاصل کړے وو.

چنانچه د اويسي طريقے د دے دوئمے قاعدے مطابق حضرت سيدنا شيخ رحمکار عليه الرحمة د خپل والد ماجد حضرت سيد شيخ بهادر ابک بابا عليه الرحمة نه د هغوئ په ژوند په سلسله عاليه سهرورديه کښې بيعت کړے وو او بيائے د وفات نه روستو د مزار مبارک نه فيض حاصل کړے وو[52].

هر کله چه د حضرت کاکا صاحب د زمانے په شوند بزرګانو کښې د ځلورو واړه طريقو د هدايت او ارشاد مجاز بے شميره مشائيخ د دوئ ليدلو له راغله وو. نو يقيناً چه دغه بزرګانو به پخپله خپله طريقه کښې دوئ ته خلافت بخښلے وو. دا يوه داسے خبره

---

[52]حضرت ابک بابا په ۱۰۰۱هـ کښې وفات شيودے چه په دغه نيټه د حضرت کاکا صاحب عمر شل کاله وو.

ده چه د دے د حقیقت او ضرورت وضاحت د میامحمد عمر الرحمة څمکنو د بیان نه کیږي. چه پخپل تالیف "توضیح المعاني" کښې یئې د خپلو حالات وپه سلسله کښې لیکلے دے فرمائي.

"څما طریقه اویسي وه.د حضور پر نورنبي کریم علیه التحیه واتسلیم روح پرفتوح څما تربیت کړے وو. لیکن په ظاهره کښې څما د پاره دا خبره ضروري وه. چه د کوم یو ژوندي پیر څنے بیعت دے او کړم. په دے وجه د اټک د حضرت شیخ یحی المعروف حضرت جي صاحب نه م په نقشبندیه طریقه کښې بیعت اوکړ."

د حضرت میا صاحب د دے بیان په رنړا کښې هر کله چه د حضرت شیخ رحمکار کاکا صاحب سره د نقشبندیه خاندان د دوه مشهورو بزرګانو شیخ احمد سرهندي مجدد الف ثاني او د هغوئ د نامور خلیفه حضرت سیدنا آدم بنوري علیهم الرحمة د تعلق او رابطے او ملاقات ذکر په تولو تذکرو کښې موجود دے. نو دا خبره کیدلے شي چه د نقشبندیه طریقے فیض دے د هغوئ نه حاصل کړے وي. د تحفة الاولیاء روایت که صحیح او ګنړلے شي. نو بیا د شیخ عبدالوهاب اخون پنجو بابا نه په سلسله چشتیه صابریه کښې د دوئ فیض حاصلول هم امکان لري. د دغے نه علاوه په دغه زمانه په وادئ پیښور کښې د څلورو وارو طریقو نور بے شمیره مشاهیر بزرګان تیر شویدي دا به نور زیات تحقیقي غواړي چه حضرت کاکا

صاحب په اویسي طریقه سره د خپل والد ماجد د مزار نه د فیض حاصلولونه پس په ظاهري طور سره د نورو کومو ژوندو بزرګانو څنې فیض مونـدلې دې. ځکه چه د هر یو اویسي بزرګ د پاره په ظاهري طور بیعت کول لازمي ځیز دې.

نسبت

په دې مرحله باندې ضمناً د یوې بلې نکتې بیان هم مناسب معلومیږي. چه هغې ته د تصوف په اصطلاح کښې "نسبت" وائي. د دې معنی دا ده چه یو بزرګ که په هر څومره سلسلو کلې ماذون او خلیفه وي. لیکن د هغه زیاته علاقه او تړون د یوې خاصې سلسلې د پیرانو سره یاد یو خاص پیر سره قائم شي. او د هغې په وجه بیا د هغه نسبت هم هغې یوې مخصوصې سلسلې ته کیدلې شي. او هم دهغه سلسلې ه بزرګانو کښې شمیرلې شي.

د دې عامې قاعدې په رڼرا کښې حضرت سید نا شیخ رحمکار قدس سره ته د طریقت او معرفت او روحانیت په سلسلو کښې په خصوسیت سره په سهروردیه طریقه کلې نسبت حاصل دې. د حضرت کاکا صاحب د تصوفي مسلک په کومه طریقه سره وضاحت کړې دې. د هغې نه هم دا ثابتیږي چه د دوئ فیوضات د سهروردیه طریقې سره زیات تړلي وو. او د دغه فیوضاتو چه کوم انوار اوس هم په نظر راځي د هغې سر چشمه د دوئ د خپل والد ماجد حضرت شیخ سید بهادر علیه الرحمة

روحانیت دے. چه په دغه انوارو کښې تر نن ورځے پورے څه فرق نه دے راغلے. د دوئ په مزار مبارک کښې چه کوم روحاني کیفیت او انوار په نظر راځي. هغه د نوعیت په لحاظ داسے دي لکه د حضرت سید جلال الدین جعفر گنج علم بخاري د مزار چه کوم انوار دي. یا د حضرت اسد الله الغالب علي ابن ابي طالب کوم الله وجهه د مزار مبرک چه کوم انوار دي.

قطب مدار

حضرت شیخ عبدالحلیم حلیم گل صاحب پخپل کتاب "مقامات قطبیه (افغانستان) کښې دي.

(۷) د حضرت سید محمد باقر علیه الرحمة مزار مبارک په غزني (افغانستان) کښې دے.

(۸) د حضرت سید باقر د والد ماجد سید محمود د هغه د پلار سید احمد د هغه پلار سیف الدین محمد هاجر د هغه د پلار سعد الدین ابو علي عبدالغفار د هغه د پلار او بو عمر فود الدین علي اکبر پنځه واړه نیکونو مزارات په علاقه پشین کوئټه د ډویژن کښې دي.

(۹) د حضرت سید علي اکبر الملقب په سید رجال ثاني د والد ماجد سید ابو مسعود جعفر الملقب په سید

واقف الدین (قاف) او سید لقامن
علیه الرحمة مزار مبارک په
بخارا کښې دے.

په دے اعتبار سره د حضرت سید ناشیخ رحمکار علیه الرحمة په دیارلسمه پیړۍ کښې مشرنیکه حضرت سید ابو عمر فرد الدین علي الملقب په سید رجال ثاني د ۵۵۰-۵۶۱هـ په شا او خوا کلےد بخارا نه پیشین ته راغلے وو.

پورته چه د حضرت کاکا صاحب علیه الرحمة د مشرانو نیکونو د زیارتونو کوم تفصیل درج کړلے شه. د هغے نه داسے معلومیږي چه د خټک قبیلے خلق هم اول په بلوچستان کښې وو. بیا غزني ته بیا خوست ته بیا کوهاټ او په آخره کښې د ختکو دے موجوده علاقے ته راغلي دي. او دحضرت سید نا شیخ رحمکار د خاندان بزرګان په طور د روحاني پیشوایانو سره ملګري وو.

د خټکو په موجوده علاقه کښې د حضرت کاکا صاحب په څلورمه پیړۍ کښې نیکه حضرت سید غالب بابا علیه الرحمة د زمانے په لحاظ د ۸۵-۸۳۰هـ د زمانے دے. او تقریباً دا هغه زمانه ده. چه مختلف پښتانه قبائل یوسفزي محمدزي. ترکلاني. داؤدزي. خلیل. مهمند. ګګیاني وغیره وادۍ پیښور او خواؤ شاه عزیزه علاقو ته راغلي وو. او په دغه خانه کوچ د پشین د دے بخاري ساداتو د غه خاندان هم د دوئ سره راغلے وو. دلته یئے د دے قوم د روحاني رهنمائي خذمات سر ته

رسولي وو. چه د غه سلسله لاتر اوسه جاري ده.

حضرت سید نا شیخ رحمکار کاکا صاحب د جمعې په ورځ وخت صبح صادق د شعبان المعظم په دیر شم تاریخ یا د رمضان المبارک په یکم تاریخ (ورځ شکمنه وه) په ۹۸۱هـ کښې پیدا شو په دغه زمانه په برصغیر پاک و هند د جلال الدین. اکبر مغل حکومت وو.

د حضرت کاکا صاحب خپل نوم د عامو تذکرو د روایت مطابق "کستیرګل" وو. په پښتو ژبه کلې کستیر زعفران ته وائي. هر کله چه زعفران زیړرنګې ګل دې. په دغه مناسبت سره په ځنې تذکرو کښې د دوئ نوم "زیړې کاکا" هم لیکې شویدې "رحمکار" د دوئ لقب دې. دغه شان "کاکا صاحب" هم د دوئ لقب دې. بعض پښتانه قبائل پلار ته هم کاکا وائي. لیکن دعامو پښتنو په اصطلاح کښې د پلار رور یعنې تره ته کاکا وائي. او عموماً د عزت په طور هر یو مشر او عزتمند سړي ته کاکا وئیلې شي.

حضرت کاکا صاحب علیه الرحمة یو عظیم روحاني پیشوا وو. په دې وجه ورته "شیخ" وائي. او چونکه د خدائ. د مخلوق سره یئې بې دریغه او عظم الشانه همدردي لرله. په دغه وجه ورته "رحمکار" وائي. یعنې د دوئ القاب او تعریفي او توصیفي نومونه دومره مشهور شوي دي. چه د دوئ اصلي نوم "کستیر ګل" ډیر و کمو کسانو ته یادي دې. او نن

په عام او خاص ټولو کښې په "شيخ رحمکار" مشهور دے.

حضرت کاکا صاحب عليه الرحمة ابتدائي تعليم د هغه وخت دعالمانو نه حاصل کړے وو. ماته د علم قرات يوه زړه قلمي نسخه[53] په لاس راغلے ده. چه د مولانا قاري لملان تاليف دے او د حضرت سيد بهادر بابا په وينا يئے دغه کتاب تاليف کړيدے. کيدلے شي. چه حضرت کاکا صاحب عليه الرحمة د دغه مولانا لمان عليه الرحمة نه ابتدائي ديني کتابونه او په خصوصيت سره د قرآن مجيد د تجويد او قرات علم حاصل کړے وي. د روستو زمانے په استاذانو کلې يئے د حضرت مولانا ناخ الدين صاحب د اکوړي[54] نوم زيات مشهور دے. چه د هغوئ نه يئے د علم احاديث مشهور کتاب مشکواة المصايح په درس لوستلے وو. د عامو تذکرو د روايت مطابق د حضرت کاکا صاحب عليه الرحمة د عرفان او تصوف طريقه سهرورديه او چشتيه وه. ليکن د ميا حميم ګل ولد عبدالرحيم ولد عبدالضيم ولد محمد فهيم ولد دلدار الدين ولد ضياء الدين شهيد ولد شيخ رحمکار د يو قلمي يا داشت مطابق حضرت شيخ رحمکار په څلورو واړو سلسلو يعنے قادريه سهروديه. چشتيه. نقشبنديه کښې پير طريقت وو. او هر کله چه د حضرت کاکا

[53] دانسخه ما د مولانا ارباب عبد الرحيم خليل مرحوم په کبتخانه کښې ملاخطه کړے وه. (اثر)

[54] مولانا اخ الدين مزار په اکوړی کښې دے. اولاد يئے په زيارت کښې آباد دے. په قاضيانو مشهور دے. علمي کورنئ ده. (اثر)

صاحب علیه الرحمة په شپږمه پیړۍ کښې مشرنیکه حضرت نور الدین یسین علیه الرحمة په سهروردیه طریقه کښې د حضرت مخدوم جهانیان جهانګشت بخاري مرید وو. او د هغه ته روستو دا سلسله په دے خاندان کښې پشت په پشت راروانه وه. نو حضرت کاکا صاحب علیه الرحمة نه په اویسي طریقه سره د خپل ولد ماجد حضرت سید بهادر علیه الرحمة نه د سلسله سهروردیه فیض رسیدلے وو. او په دے اعتبار سره دے په خصوصیت سره په سهروردیه طریقه کښې د خپل والد ماجد خلیفه وو.

اویسي طریقه

په دے مرحله بانددے د لفظ اویسي لږ شان وضاحت مناسب معلومیږي خبره داسے ده. چه اویسي لفظ په اصل کښې حضرت اویس قرني تابعي رضي عنه ته منسوب دے. چه هغوئ غائبانه طور د رسول پاک صلي الله علیه وسلم د وفات نه روستو د حضرت نبي کریم علیه التحیه واتلسیم د روح پرفتوح نه فیض حاصل کړے وو. په دے بناء د اویسي طریقے دوه تعبیرونه کوؤلے شي.

(۱) هر هغه بزرګ چه براه راست د حضور پر نور محمد مصطفی صلي الله علیه وسلم د روح پرفتوح نه فیض حاصل کړ. نو د صوفیانو په اصطلاح کښې هغة ته اویسي وائي. یعنے دے بزرګ لکه د اویس

قرني رضي الله عنه په غائبانه طور فیض موندلے دے.

(۲) هر هغه بزرګ چه د کوم پخواني بزرګ مزار ته ورشي او د هغوئ د روح نه هدایت او ارشاد حاصل کړي د دے نمونے فیض حاصلولو ته اویسي په دے اعتبار سره وائي چه ده هم لکه د اویس قرني په غائبانه طور سره د یو پخواني او وفات شوي بزرګ د روح نه فیض بیا مونده

په پورتنو دواړو و طریقو کښې د اولنئ طریقے مطابق د بزرګانو نه علاوه هر یو مسلمان نارینه او مسلمانه ښځه چه په پاک رسول صلي الله علیه وسلم د رود شریف لوستل وظیفه کړي هغه ته یقیناً چه د رسول صلي الله علیه وسلم د روح پرفتوح نه فیض حاصلیدلے شي. که فکر او کړو نو دا چه هر یو مؤمن مسلمان د توحید کلمه لااله الا الله محمد رسول الله اوائي د دغه کلمه د وینا سره د دوه تعلق د پاک رسول صلي الله علیه وسلم د روح پرفتوح سره قایم شي. او ورپسے چه د دے برحق پیغمبر د راوړي دین د هدایات هر څومره ډیره، یا لږه پیر وي کوي د نیک اعمالو د کمي او زیاتي په اندازه د حضور نبي کریم علیه التحیة واتلسیم د تربیت او سرپرستئ او فیوضاتو او مقالات قدسیه "کښې د حضرت کاکا صاحب روحاني مرتبه "قطب مدار" ښودلے ده. د تصوف په اصطلاح کښې قطب مدار

او غوث دواړه مرادف لفظونه دي. دا ډیره اوچته مرتبه ګنړلے شي. وائي چه په هره زمانه کښې په یو وخت کښې په دے اوچته درجه بانډے صرف یو بزرګ ولاړ وي. د هغه مرتبه د ناءب رسول وي. او د بزرګانو په دائره کښې هغه د "عبدالله" په نوم یادیږي خپل نوم یئے چه هر څه وي. هغه بیا نه یادیږي. په دے اعتبار د حضرت سید ناشیخ رحمکار علیه الرحمة روحاني نوم عبدالله دے. چه په خپله زمانه کښې "غوث العالم" وو. او د سهرودیه طریقے په بزرګانو کښې د حضرت غوث العالم شیخ بهاء الدین ذکریا ملتاني د مریدانو په سلسله کښې دغه د "قطب مدار" او چته مرتبه حضرت خواجه یحی کبیر غورغشتی ته ورکړے شوے وه. او د هغے نه روستو په دے سلسله کښې حضرت شیخ رحمکار علیه الرحمة په دے لویه مرتبه سرفرازه کړے شوے وو.

غوث العالم

د تصوف د اصطلاح مطابق غوث العالم په څلور کنجه دنیا کښې د خدائ خلیفه وي. نائب د رسول وي. او د اسلام د دین او مذهب ستن وي. د دنیا ټول بزرګان په هغه راټول وي. هغه د ټول ملت مرکز وي. او د مسلمان ملت د وحدت او اتحاد شیرازه په هغه راټوله وي. په دے اعتبار حضرت شیخ رحمکار علیه الرحمة د اسلام د "روحاني تړون" یو داسے ځلانده نمر دے. چه پلوشے یئے هر خواته خورے شوے دي. او د خداي په

لوئ فضل او مهربانئ تر نن ورځے پورے خورے دي.

حضرت شيخ رحمکار چه پخپل ژوند کښې د اسلام کوم اهم او نمايان خدمت کړے دے. هغه د علم خوره ول. تبليغ او ارشاد. بے مثله سخاوت په خلقو کښې اسلامي کردار او اخلاق پيد اکول. په خلقو کښې اسلامي مينه محبت. رورولي. اتحاد پيدا کوؤل. او د مخلوق سره د رحم و شفقت نه کار اخيستل او د دے نيک مقصد دپاره علمي او عملي کوششونه کول دي. د خان خوشحال خان خټک دور فقير جميل بيګ عليه الرحمة په خپل کتاب "تذکرة الا ولياء کښې چه د حضرت شيخ رحمکار د ژوند کومه خاکه راښکلے ده. او د دوئ د خوراک څښاک. ناستے ولاړے. جامو. لباس. د خدائي سره د تعلق. د خدائ د مخلوق سره د نيک روزګار په حقله يئے کوم تفصيلات درج کړي دي. د هغے خلاصه دا ده:

(۱) هر وخت د خدائ مخلوق ته وعظ او نصيحت کوؤل. د اسلام د حقے لارے هدايت کؤول. د علم دين اشاعت. درس ورکوؤل د نيک عمل نيکو اخلاقو. روحاني صفايئے. ښودنه او تربيت ورکؤول.

(۲) پخپله انتهائي ساده ژوند تيرول. د عزت نفس او خود دارئ او پاکيزه اخلاقو ژوند تيره ول. بے مثله سخا. حلم. برد باري.

شفقت. مروت رحم، همدردئ او مهربانئ نه کار اخیستل.

(۳) د مسلمانانو په مینځ کښې صلح. امن. مینه او اتحاد قائم ساتل. او دخدائ د مخلوق خیر غوښتل. د راعي او رعایا تر منځه د عدل او انصاف فضا قائم ساتل.

چه د حضرت کاکا صاحب علیه الرحمة د ژوند دے پاکیزه صفتونو ته او کتلے شي. نو دا حقیقت واضحه شي. چه د مسلمانانو تر منځه د کوم "روحاني تړون" قائم کولو او قائم کیدلو د پاره چه اسلام کومه "ضابطه د اخلاقو" پیش کړے ده. د حضرت کاکا صاحب ژوند او عمل د هغے روښانه آئینه وه. او په حقیقت کښې د اسلام د تعلیم او څمونږه د دے جلیل القدر بزرګانو د کوششونو برکت دے. چه مونږه د ټولولے دنیا مسلمانان یئے یو رونړه کړي یو. او څمونږ تر منځه یو عظیم الشان روحاني تړون قاءم دے.

حضرت خواجه شیخ رحمکار قدس سره چه د روحاني فیوضاتو کومه سلسله جاري کړے وه. هغه د برصغیر پاک او هند او افغانستان تر علاقو د هغوئ د نامورو خلیفه ګانو او مریدانو په ذریعه رسیدلے وه. چه دلته د دوئ د یو څو مشهورو خلیفه ګانو نومونه لیکلے شي.

شیخ خواجه شمس الدین هروي

د دوئ مزار مبارک په توران کښې دے. د دے ډیر لوئ عالم او مؤلف هم وو. د "اسرار السالکین" په نوم یو کتاب یئے یاد ګار پاتے دے.

حضرت شاه عبداللطیف

د افغانستان د مشهور ښهر بلخ اوسیدونکے وو. مزار یئے هم هلته دے. لقب یئے کمال الدین بلخي وو.

شیخ جمال الدین خټک

د خان خوشحال خان کشر رور وو. په جمیل خان جمیل بیګ. جمال الدین او فقیر بابا نومونو مشهور وو. د اوچتے روحاني مرتبے. تصرف.جذب او مستئ خوند وو. عالم او مؤلف وو. یو کتاب یئے د تذکرة الاولیاء په نوم لیکلے دے. چه په هغے کښې یئے د خپل پیر طریقت کاکا صاحب حالات په تفصیل سره بیان کړي. دي. مزار مبارک یئے د ضلع پیښور تحصیل نوشهره علاقه خټک په موضع تنګاړو کلې دے. اولاد یئے په فقیر خیل نامه یادیږي.

حضرت شیخ اخ الدین

په دیني علومونو کښې د حضرت کاکا صاحب استاد وو. لیکن په طریقت کښې د کاکا صاحب مرید او خلیفه وو. مزار مبارک یئے په اکوړئ کښې دے. اولاد یئے په قاضي خیل نامه یادیږي. په زیارت کښې آباد دي.

حضرت شيخ ګلنور

په قام خټک وو. د حضرت کاکا صاحب په ټولوچې خليفه ګانو کښې د ګلنو حضرت جميل بيګ په سلسله چشتيه کښې د کاکا صاحب خليفه او ما ذون وو.کښې د زهد، رياضت، تقوي، پريهيز ګارى، علم او عمل. تصرف او کراماتو او د دين اسلام د عملي او عملي خذماتو په وجه د ممتازے درجے خاوند بزرګ وو. ددوئ د اوچتے علمي او روحاني مرتبے اندازه د دے نه لګيدلے شي چه د روستو راتلونکے زمانے مشهورو بزرګانو د دوئ په مناقب کښې کتابونه ليکلي دي. چه په هغے کښې د يو څو مناقب ليکونکو نومونه دا دي (۱) صاحبزده محمد رفيق قادري د تور ډهيرئ، صوابى. مردان (۲) اخوند حافظ شير محمد بنو موضع بازار احمد خان (۳) حضرت شيخ ابو القاسم کابلي (۴) حضرت شيخ ابراهيم ننکر هاوي (۵) اخوند خليل د موضع عمر زائے چارسده. پيښور. حضرت ګلنور صاحب په سلسله سهرورديه کښې د حضرت کاکا صاحب خليفه وو.

حضرت خواجه غازي

د کاکا صاحب په عزيزانو کښې وو. په موضع زيارت کاکا صاحب محله قنبر خيل کښې دے. او په غازي خان بابا مشهور دے.

حضرت خواجه سيد عبدالرحيم

حضرت خواجه شيخ سيد عبدالرحيم په قام باندے درو پښتون وو. ماشومانو ته به يئے درس لوستلو په دغه وجه په حضرت ميا جي ګل نامه مشهور وو. مزار يئے د ضلع کوهاټ په شويکي نومے کلي کښې دے. دا کلے د لاچئ او شکردرے په سړک باندے د لاچئ نه د نهه ميله په فاصله واقع دے. اولاد يئے د پيرانو په نامه ياديږي.

شيخ علي ګل او ملي ګل

دواړه د کاکا صاحب ممتاز خليفه ګان او خصوصي خذمتګاران وو. د دواړو زيارتونه يو ځائ دي. او د کاکا صاحب د مزار په احاطه کلې د ګنبند نه قبلے طرف ته دي.

حضرت خواجه شيخ بابر

په قام خټک وو. د حضرت شيخ ګلنور خور يئے وو. زيارت يئے په موضع ډاک اسماعيل خيل کښې دے. د تصرف او کرامت خاوند بزرګ وو. د روحاني فيوضاتو سلسله يئے تر اوسه جاري ده.

حضرت خواجه دريا خان ځمکنے

حضرت خواجه شيخ دريا خان ځمکنے په قام باند يسين خيل ځمکنے وو. د خپل قام لوئ خان او قبائيلي سردار وو. دنيادارئ يئے پريښوده. فقيرى يئے اختيار کړه. ښه عالم وو. په اول سر کښې د حضرت سيدنا آدم بنوري مريد وو. روستو د کاکا صاحب

مرید شه. او د دوئ په ممتازو خلیفه ګانو کښې شمار شه. چه روستو د دوئ نه هم لویو لویو بزرګانو فیض موندلے دے.

حضرت شیخ فتح ګل

د کاکا صاحب نامور خلیفه دے. مزار یئے د ضلع کوهاټ په علاقه خوړه کښې په نیلاب نومے حصه کښې دے.

حضرت مرزا ګل بابا

د حضرت شیخ رحمکار کاکا صاحب په خلیفه ګانو کښې زیات شهرت لري. مزار مبارک یئے په موضع جلوزائے تحصیل نوشهره کښې دے.

حضرت خواجه شیخ ادین

د کاکا صاحب مشهور خلیفه دے. مزار یئے په موضع نیل بنړ کښې دے.

حضرت خواجه شیخ عبدالریم

په شیخ رحیم خټک نامه مشهور دے. مزار یئے په موضع دوړان علاقه خټک کښې دے.

خواجه محمد حیات

د کاکا صاحب په مشهورو خلیفه ګانو کښې دے. او مزار یئے په موضع پلوټ کښې دے. دا کلے دد حسن ابدال او ټیکسلا په علاقه کښې دے او په "میا صاحب" مشهور دے.

د دے نه علاوه د حضرت کاکا صاحب په مشهورو خلیفه ګانو کښې د یو څو نورو بزرګانو نومونه په طور د اختصار سره دلته درج کوؤلے شي.

چه د دوئ د روحاني فیوضاتو دائره تر څومره لرے لرے ملکونوخوره ده د هغے اندازه ترینه او لګیدلے شي.

(۱) حضرت شاه عبدالرحمان ملتاني. مزار مبارک یئے په ملتان پنجاب کښې دے.

(۲) حضرت شیخ چنګیروزیر. مزار یئے په وزیرستان ډیر ډویژن کښې دے.

(۳) حضرت خواجه مسکین مامون زاے. مزار یئے په موضع اتمانزاۍ هشنغر کښې دے.

(۴) حضرت خواجه یار محمد خان. مزار یئے په پاپین علاقه ننګر هار (افغانستان) کښې دے

(۵) حضرت خواجه نور الحق، خواجه عبدالحق، خواجه عبدالخالق د دے درے واړو زیارتونه په علاقه داؤد زائے ضلع پیښور کښې دي.

(۶) خواجه عباس، خواجه عثمان زیارتونه یئے په کوهاټ کښې دي.

(۷) خواجه اخوند هلال، زیارت یئے په کوهستان ریاست سوات کښې دے.

(۸) خواجه اخون یوسف قندهاري، مزار قندهار افغانستان.

(۹) خواجه اخوند اسماعیل زیارت یئے په موضع چارباغ ریاست سوات کښې دے. عالم او مؤلف وو. د خپل پیر مناقب یئے لیکلے دے. د فارسئ ژبے بهترین شاعر او ادیب و..

(۱۰) خواجه محمد سعید خټک عالم، ادیب او مشاعر وو. یو دیوان یئے یادګار پاتے دے. زیارت یئے په حیدر آباد دکن کښې دے.

(۱۱) خواجه اخون زخر کوهستاني. عالم ادیب او مؤلف وو. مزار یئے په علاقه پالس اباسندهـ کوهستان کښې دے. د خپل پیر مناقب یئے په فارسئ ژبه په نظم کړیدي.

(۱۲) خواجه پني خان بنګش. زیارت یئے په علاقه کوهاټ کښې دے.

(۱۳) خواجه شادي خان. زیارت یئے په موضع شادي خیل کوهاټ کښې دے.

(۱۴) خواجه میا کمال خان زیارت یئے په موضع کمال خیل کوهاټ کښې دے.

(۱۵) حضرت خواجه کمال الدین ثاني بلخي. زیارت یئ په بلخ افغانستان کښې دے.

(۱۶) حضرت خواجه شیخ رسول سواتي. المعروف په سرتور بابا زیارت یئ په موضع عمرزاے علاقه هشنغر ضلع پیښور کښې دے.

(۱۷) فقیر بابا اخوند خیل. مزار علاقه هشنغر.

(۱۹) خواجه شیخ بختیار کوهستاني. د دوئ دواړو زیارتونه په موضع رجړ تحصیل چارسده ضلع پیښور کښې دے.

(۲۰) حضرت خواجه شیخ حافظ علیه الرحمة مزار مبارک یئ په موضع حضر و علاقه چچ ضلع کیمبل پور کښې د کلي نمر خاته طرف ته واقع دے او مرجع د خاص او عام دے. روستو په دے خاندان کښې ډیر لوي عالمان او بزرګان تیر شوي دي.

(۲۱) حضرت شیخ نمیر علیه الرحمة
(۲۲) حضرت شیخ سر مست علیه الرحمة

د دوئ دواړو زیارتونه په موضع ترنګزائے علاقه هشنغر کښې دي.

(۲۳) حضرت شیخ شهباز علیه الرحمة
(۲۴) حضرت شیخ میا داد علیه الرحمة

د دوئ دواړو زیارتونه په موضع اتمانزائیے علاقه هشنغر کښې دے.

(۲۵) حضرت شیخ عبدالروف علیه الرحمة
(۲۶) حضرت شیخ سالار علیه الرحمة

د دوئ دواړو زیارتونه په موضع شیر پاؤ علاقه هشنغر کښې دي.

(۲۷) حضرت شیخ حیات خان علیه الرحمة
(۲۸) حضرت شیخ خوش میر

(۲۹) حضرت مرتضي ثاني

د دوئ درے واړو زیارتونه په موضع تنګي علاقه هشنغر کښې دي.

(۳۰) حضرت شیخ ګلنور ثاني. مزار یئے په موضع جوره متصل تنګي علاقه هشنغر کښې دے.

د دے نه علاوه د حضرت کاکا صاحب نامور خلیفه ګان په شماره دومره ډیر دي چه د ټولو نومونه لیکل هم لوي تفصیل غواړي.

وفات

حضرت سید نا شیخ رحمکار کاکا صاحب قدس سره په ورځ د جمعے څلیرشتم تاریخ د رجب المرجب ۱۰۲۳هـ د دے دنیا نه سفر کړے

وو. په کومه ورځ چه وفات کیده د هغې نه په مخکښینې شپه یعنې د جمعې په شپه د ناجوړتیا خذمت یئې حضرت ګلنور علیه الرحمة. خان خوشحال خان خټک علیه الرحمة او فقیر جمیل بیګ علیه الرحمة درې واړه معتقدنیو او خاصو مریدانو کړې وو. د وفات نه روستو د تجهیز او تکفین خدمت یئې چه کومو مریدانو کړې وو. د هغوئ نومونه دا دي. (۱) حضرت شیخ عبداللطیف (۲) حضرت شیخ ګلنور (۳) حضرت فقیر محمد سعید (۴) حضرت خواجه مسکین علیه الرحمة (۵) قاضي ولي محمد.

حضرت فقیر جمیل بیګ فرمائي: چه د کفن ور آغوستولو په وخت کښې ځما وروړ خان خوشحال خان خټک او د دې حضرت کاکا صاحب استاذ حضرت مولانا اخ الدین صاحب دواره هم ډېر دې دنهه ورغلي وو. او د جنازې کټ له یئې اوګه ورکړې وه. د وفات په وخت کښې د دوئ عمر اتیا کاله یوه میاشت شپږ ورځې وو. علیه الرحمة والغفران.

(۱) د حضرت کاکا صاحب نه روستو څلور ځامن پاتې شوي وو. نومونه یئې دا دي. ضیاء الدین آزاد ګل شهید د ټولونه مشر وو. د پلار نه روستو سجاده نشین شوې وو. د یو روایت مطابق په ۱۰۸۶هـ کښې په مقام د اکوړه شهید کړې شوې وو. مزار یئې د حضرت کاکا صاحب

د مزار په احاطه کښې په يو ځان
له ګنبد کښې دے.

(۲) شيخ محمد ګل، قادري، نقشبندي.
مزار يئے د حضرت کاکا صاحب د
مزار سره جحت يو ځاے دے. قبلے
غاړے ته د حضرت کاکا صاحب قبر
دے او نمر خاته غاړے ته دروازے
ته سيلمه د ده مزار دے. دے په
نقشبنديه طريقه کښې د سيد نا
آدم بنوري خليفه وو.

(۳) شيخ خليل ګل المعروف "زمرے
بابا" زيارت يئے په موضع "کوټ"
ټوټئ علاقه ملاکنډ ايجنسئ کښې
دے.

(۴) شيخ عبدالحليم المعروف حليم ګل
بابا دانشمند، لوئ عالم او
فاضل او د اوچتے روحاني او
عرفاني مرتبے خاوند وو. په علم
تصوف کښې لويه مطالعه يئے
لرله. د سهروديه طريقے د
مشاهيرو بزرګانو د کتابونو د
بيانونو په رنړا کښې د حضرت
کاکا صاحب د عرفاني مقام د
وضاحت د پاره يو بهترين تحقيقي
کتاب د "مقامات قطبيه او مقالات
قدسيه"په نوم ليکلے دے د دے
خپل والد ماجد مريد او خليفه
وو. څه زمانه يئے په هندوستان
کښې هم تيره کړے ده. مزار

مبارک یئې د کاکا صاحب د مزار نه جنوب مغرب طرف ته په یوه ځان له احاطه کښې دے. او مرجع د خاص او عام دے. د دوه په اولاد کښې ډیر لوئ فاضلان عالمان او مشائیخ تیر شوي دي[55].

په مجموعي طور سره د حضرت کاکا صاحب د څلورو واړو ځامنو په خاندانونو کښې چه په تیره شوے زمانه کښې څومره لوئ عالمان او نومور بزرګان تیر شوي دي. او د شمال مغربي پاکستان په مختلفو علاقو کښې د خدائ مخلوق ته څومره دیني فیوضات یئے رسولي دي. د هغے د پوره بیان د پاره یو ځان له د فتر پکار دے[56]. خدائ دے د دوئ ټولو اجر لوئ کړي.

[55]حضرت شیخ حلیم ګل علیه الرحمة په ۲۷محرم الحرام ۱۰۹۶هـ کښې وفات شویدے. د دوئ یو بل کتاب "شمس العارفین" هم تالفي کړے دے.

[56]د تفصیل د پاره ملاحظه کړئ څما تالیف "شیخ رحمکار" (اثر)

حضرت مولانا شيخ حميد دانشمند منګل کوټي

منګل کوټي، مشرقي پاکستان

ولادت

.... هـ

وفات

.... ۱۰۶۳هـ

مخکښې د بنګال د ګوړ نومې علاقې او دارالحکمة د اسلامي حکومتونو تذکره شوې ده. څه زمانه پس دغه حکمران خاندان باندې زوال راغې. نو د هغه ځائې د مشاهيرو مسلمانانو خاندانونه د بنګال نورو مرکزونو مرشد آباد او بردوان ته راغونډه شول. او د دغة خاندانونو خلقو دلته ځان له روغ روغ کلي آباد کړل. لکه سالار، بنوريه. منصور پور وغيره شول

دلته دا خبره ياد لرل پکار دي چه د مغليه حکومت په دوران کښې د مرشد آباد او بردوان په علاقه کښې د ملک ټوله هغه حصه چه د دې دواړو ښهرونو تر منځه وه. او په خصوصيت سره په هغې کښې د ګوړ او نورو علاقو نه شريف او عزتمند سادات. مشائيخ او عالمان خلق راغلي او آباد شوي

وو. د هغه علاقے ته به يئي "شريف آباد" وئيلو. دا څه وړوه علاقه نه وه. بلکه پوره سرکار يعنے ډويژن وه چه په هغے کلې شپېږويشت پرګنے وے. او په هغے کلې د يو پرګنے نوم نګل کوټ وو.

په مغليه عهد کښې په شريف آباد سرکار کښې دغه منګل کوټ د دين اسلام او اسلامي علمونو د اشاعت عظيم الشان مرکز وو. ښه آباد لوئ کلے وو. چه نن ورځے د بردوان ضلع په شمال کښې د يو معمولي کلي حيثيت لري. د پاکستان د جوړيدونه مخکښې د منګل کوټ په پرګنه کښې د مسلمانانو اکثريت وو. په سلوک کلې څلورنمے شلے خلق مسلمانان وو. او دلته ګڼړ جماعتونه او زيارتونه وو. چه د ديني او روحاني عظمت يادګارونه ګڼړلے شول.

(۱) يو مزار د محدوم شاه محمود غزنوي العمروف په راهي پير وو. د مقامي خلقو روايت دے. چه دا پرګنه په اول سر کښې هم د دوئ فتح کړے وه. غزايئے پرے کړے وه.

(۲) دويم مزار د حضرت مخدوم شاه عبدالله ګجرتي دے.

(۳) يو پخوانے جامعت دے. چه په ۹۲۴هــ کښې سلطان علاء الدين حسين د ګوړ پخواني حکمران ساز کړے دے.

(۴) یو بل پوخ جماعت د سلطان علاء الدین ځوئ سلطان نصرت شها په ۹۳۷هـ کښې ساز کړے دے.

د دے وضاحت نه مطلب دا دے چه دمنګل کوټ پرګنے ته د ګوړ د مسلمانانو بادشاهانو په زمانه کښې هم اهمیت حاصل وو. او بیا چه د ګوړ نه علماء. سادات. او مشائیخ دلته راغلل نو اهمیت یئے نور هم زیات شه. په پرګنه منګل کوټ کښې چه کوم عزتمند خلق آباد شوے وو. په هغے کښې یوه د انصاري خواجه ګانو او اخندزاد ګانو هغه کورنئ هم راغلے وه. چه هغوئ خپله شجره د نسب حضرت شیخ قاضي سراج الدین انصاري ارمړ ته رسوله او د طریقت او معرفت سلسله یئے حضرت نور قطب عالم قطب بنګالي علیهالرحمة ته رسولے وه. په دغه انصاري خاندان کښې حضرت مولانا حمید الدین دانشمند نقشبندي مجدوي یو لوي عالم او عارف تیر شویدے. چه په مغلیه دور کښې د بنګال په په مشاهیرو مشائخو او عالمانو کښې لویه درجه یئے لرله او د دوئ په برکت سره پرګنه منګل کوټ ته په علمي او روحاني دواړو لحاظونو سره نور هم زیات اهمیت حاصل شوے وو.

لکه چه مخکښې ذکر اوشه. مولانا حمید الدین دانشمند د ګوړ او منګل کوټ د قاضیانو د مشهور خاندان فرد وو. د ده نزدے مورث اعلی قاضي ضیاء الدین المعروف احمد سالار بنګال ته د شاه فعي الدین سره راغلے وو. د دے شاه صفي الدین زیارت په

موضع پنډوه ضلع هګلی کښې دے او زیارت ګاه د خاص او عام دے.

مولانا حمید دانمشند د علم حاصلو د پاره د موجوده مغربي پاکستان دارالحکومة لاهور ته تشریف راوړے وو. او دلته یئے د ټولو دیني علومونو تکمیل کړے وو. د ظاهري علمونو د تحصیل د ده په طبیعت باندے داسے اثر او شه. چه د تصوف او صوفیانو مخالف شه. په دغه زمانه کښې حضرت شیخ احمد سرهندي مجدد الف ثاني هم په لاهور کښې وو. لیکن هر کله چه شیخ حمید الدین دانمشند د صوفیا نوځنے خلاف وو. په دے وجه د حضرت مجدد الف ثاني علیه الرحمة نه یئے څۀ قسم فیض نه وو حاصل کړے.

څه وخت چه شیخ حمید الدین د دیني علمونو د حاصلولونه فارغ شه. نو د څه ورځو د پاره د هلي ته لاړ. او هلته د مفتي عسکر میلمه شوے وو. دلته کښې اتفاقي طور د دوئ ملاقات د حضرت شیخ مجدد الف ثاني سره وشه. حضرت مجدد صاحب د خپل پیر طریقت خواجه باقي بالله سلام له راغے وو. هر کله چه د شیخ حمید او شیخ احمد سرهندي لیدل کتل او شول. نو په شیخ حمید یئے دومره اثر اشه. چه هر څه یئے پریښودل. د حضرت مجدد صاحب په خدمت کښې دیره شه. روغ کال یئے د باطني علمونو په تحصیل کښې تیر کړه کمال یئے حاصل کړ. حضرت مجدد صاحب چه د خلافت خرقه ورته ورکړله. نو شیخ حمید د خپل پیرکنړاوے د

تبرک په طور سره د ځان سره واخیستلے په پټکي کلي یئے اوتړلے. په سر یئے کیښودلے. او بنګال ته روان شه. باقي پاتے عمر یئے د بنګال په پرګنه منکل کوټ کښې د اسلام په تبلیغ ارشاد او هدایت کښې تیر کړ. او په ۱۰۲۳هـ کښې وفات شه. رحمة الله علیه وقدس سره.

حضرت شیخ احمد سرهندي مجدد د الف ثاني علیه ارلحمة ته پخپلو ټولو مریدانو کښې دغه شیخ حمید الدین دانشمند حده زیات ګران وو. او هم د دغه شان د مغلیه حکومت په نامورو بادشاهان کښې د دهلي شهنشاه شاهجهان به یئے هم ډیر زیات قدر کؤلو. وئیلے شي چه په کومو ورځو کښې شاهجهان بادشاه بنګال ته راغلے وو. نو ورپسے منکل کوټ ته هم راغلے وو. او د شیخ حمید دانمشند نه یئے فیض حاصل کړے وو. او د دوئ د جماعت. مدرسے او خانقاه د د اخراجاتو د پاره یئے د سیرئ په طور دومره زمکه بخښلے وه. چه د هغے آمدن اتیازره روپئ سالانه کیدلے شه. دا واقعه د ۱۰۳۴هـ د زمانے ده. چه په دغه زمانه شاهجهان د خپل پلار په ژوند د بنګال په بردوان کښې اوسیده.

د حضرت مولانا شیخ حمید الدین حمید دانمشند په نوم باندے د حضرت مجدد الف ثاني علیه الرحمة په مکتوباتو کښې (مکتوب نمبر۲۲۰ جلد نمبر۱) یو ډیر اهم او اوږد مکتوب دے. چه په هغے کښې د صوفیانو د بعض غلطو فهمو او د روحاني

مقاماتو متعلق وضاحت شویدے. دغه شان د مکتوباتو په دوئم جلد کښې مکتوب نمبر۴۶ د نبوت د کمالاتو او د ولایت د کمالاتو تر منځه د فرق پیژاندلو په بیان کښې دے. د حضرت مجدد علیه الرحمة سره به هر وخت د دے خپل ګران مرید چه په لرے وطن کښې استوګن وو. ډیر خیال او فکر وو. په یو مکتوب (نمبر ۸۴) کښې د شیخ حمید الدین دانمشندنه ګله کوي. او فرمائي چه ستا د طرف نه کاغذونه او سوال جواب ډیر کم رارسیږي. لیکي:

"مشره روره شیخ حمیده! عجیبه یو ډ ډے ته کیدل دے غوره کړي دي. چه سلام او سولا جواب هم د هغه ځای نه کمتر رارسیږي په دے اوه اته کاله کښې ستا سوله خو انه یو کاغذ غذارار سیدلے دے. هغه هم نیمګړے او بے سر انجامه دے. کوم خطونه چه له دے طرف نه درلیږلے شي. معلومه نه ده چه تا ته درسیږي. که نه؟"

حضرت مجدد الف ثاني هم په دے مکتوب کښې مخکښې لیکي.

شیخ عبدالحئ دلته
ځما سره پنځه کاله تیر
کړي دي. تا له یئے
درلیږم چه ستا د
روحاني احوالونه فائده
بیا مومي. او د مخکښې
د پاره مناسب مشورے
ورته ورکړے.

په بنګال کلې چه د نقشبندیه طریقے فیوضات کومو بزرګانو خواره کړي دي. د حضرت شیخ حمید علیه الرحمة مبارک نوم د هغے فهرست اولني سر کښې دے. او هم دا هغه بزرګ او بختور انسان دے. چه د دوئ له برکته د مسلمانون تر منځه د "روښاني تړون" رشتیه او رابطه دومره مضبوطه شوے ده. چه تر نن ورځے پورے قائمه ده. د نقشبندیه طریقے لوئ خصوصیت دا دے. چه دا د شریعت ظاهري او سنت نبوي د مکملے تابعداریٔ طریقه ده او نن ورځے چه د مشرقي پاکستان په عوامو او خواصو ټولو کښې د دین اسلام سره مینه دینداریٔ. دیانتداریٔ، او خلوص په نظر راځي. دا درے پاک باطنه بزرګانو د جدوجهد او تبلیغ او نیک سیرت په برکت دا هر څه لیدلے شي. علیه الرحمة والغفران.

حضرت مولانا شیخ حاجي عبدالله المعروف حاجي بهادر علیه الرحمة

ولادت

.... قصور پنجاب۹۸۲ هـ

وفات

.... کوهاټ ۱۰۹۰هـ

لکه چه مخکښ ورته اشاره شوې ده .د حضرت سید الطائفه سید نا آدم بنوري نقشبندي مجدد دوی د مریدانو تعداد د یو لک نه زیارت وو. او د هغوئ هر څومره خلیفه ګان او صاحبان د اجازې او ماذونان چه وو. هغه هر یو د کمال خاوند وو[57].

د سابق صوبه سرحد د میداني او غرئیزه علاقو ګنړ قدیم تاریخي نومونه دي. چه په هغې کښې یو نوم "روه" دے. په دغه وجه په برصغیر پاک وهند کښې د دې علاقو خلق په روهیل نوم مشهور شوي دي. دوئم نوم یئے ولایت دے. د سابق هندوستان په تولو علمي حلقو کښې د دې علاقو خلق

---

[57] د حاجي بهادر صاحب په حقله زیات تفصیل د پاره ملا خطه کړۍ زما بل تالیف سادات افاغنه (اثر)

عالمان او بزرګان تول په ولایتي نوم یادیدل.

په دے زوړ تاریخي ولایت نومے ملک کښې چه د حضرت سید نا آدم بنوري هر څومره ممتاز خلیف ګان تیر شوي دي. لکه:

(۱) حضرت شیخ حبیب الله المعروف په شیخ حبیب پشاوري. مزار پیښور.

(۲) حضرت شیخ اخون دالیاس ملي زایءے. مزار لاجبوک ریاست دیر.

(۳) میا محمد عمر سلار زائے. مزار چینګئ، باجوړ.

(۴) حضرت اخوند محمد صدیق، مزار آلو، قاسمے، مردان.

(۵) حضرت محمد فاضل پاپینی. مزار متہه مغل خیل پشاور.

(۶) حضرت خواجه محمد ابراهیم ملي زاے خلیل، پشاور

(۷) حضرت حاجي دریا خان چمکنی پشاور

(۸) حضرت حاجي محمد ګل مزار زیارت کاکا صاحب. پشاور

(۹) حاجي عبدالله المعروف په حاجي بهادر. مزار کو هاټ.

په دې تولونا مور و خليفه ګانو کښې حضرت شيخ المشائيخ حاجي عبدالله بهادر عليه الرحم يئې ممتاز خليفه وو. او د اهل تصوف په اصطلاح کښې "خليفه اکبر" وو دوئ خليفه اکبر هغه چاته وائي. چه د هغه نه روستو د مريدانو په ذريعه د سلسلې فيض يئې جاري پاتې شي. او لکه چه روست وبه د اخوند حافظ محمد صديق د بشوڼې په تذکره کښې بحث راشي. څمونږه په دې علاقه کښې چه د "سوات صاحب" د طريقت کومه سلسله جاري ده. د هغې يوه سلسله حضرت حاجي بهادر عليه الرحمة ت رارسيدلې ده.ا و د دغې نه علاوه په خصوسيت سره حاجي بهادر صاحب ته د "صاحب الولايت" لوړه درجه او مرتبه حاصله وه.

دلته د کتاب "طهرت نامه" کتاب "مکتوب نطاب" څنې د کتاب "آئينه تصوف" په حواله د حضرت شيخ المشائيخ حاجي عبدالله بهادر کوهاټي عليه الرحمة د ولادت، بيعت، وفات په حقله مختصره تذکره درج کوؤلې شي. په روستو د بعض تاريخي تکتو ضاحت به يئې هم اوکړلې شي. او د دې کتابونو په بيان کښې چه کومه غلطي ده د هغې تصحيح به هم اوکړلې شي.

(۱) ولادت

حضرت شيخ عبدالله المعروف په حاجي بهادر کوهاټي په تاريخ ۹۸۹هـ ۱۶،رجب المرجب ورځ دو شنبه وخت ماښام نمانځه نه وړاندې په آغره کښې پيدا شوې وو. دا

روایت د دوئ د خپل والد ماجد دے. (ظهرت نامه)

(۲) بیعت

په تاریخ ۱۶، د ماه شعبان ۱۰۵۲هـ په ورځ د چار شنبے وخت د نماز دیگر نمانځه نه روستو په مقام د مکه مکرمه د حضرت سید نا آدم بنوري علیه الرحمة نه یئے خرقه د خلافت حاصله کړے وه. (ظهرت نامه)

(۳) وفات

په تاریخ شپږم د رجب المرجب ۱۰۹۹هـ په ورځ د جمعے په وخت د صبح صادق په مرتبه د جبروت کښې یئے وفات بیا موند. مزار مبارک یئے په کوهاټ کښې دے. د تصوف او عرفان په روحاني عالم کښې د دوئ یو خپل "مکتوب نطاب" هم موجود دے. چه د دوئ د دغه روحاني تالیف نوم "نورالافکار" دے. (ظهرت نامه)

(۴) خلفاء

د دوئ شپږ مشهور خلیفه ګان وو. تفصیل یئے دا دے. (۱) یو کس یئے خلیفه اکبر وو. چه د هغه نوم شیخ مانون یوسفزئیه شاه منصور دے. چه روست وبه یئے تذکره راشي.

(۵) باطني فیض

روحاني بيعت او باطني فيض ورته د حضرت شيخ المشايخ خواجه باقي بالله او حضرت خواجه امام رباني مجدد الف ثاني نه حاصل شوے وو. ا وهغه لوئ كرامتونه چه هغے ته د تصوف په اصطلاح كښې "خرق عادت" وئيلے شي. دغه شان كرامتونه ترينه په شماره نهه ځرګند شوي وو. چه ځنے په خلقو كښې تر نن ورځے پورے مشهور هم دي. او پوره تفصيل يئے په مكتوب نظام كښې درج دے. (آئينه تصوف صفحه نمبر۲۵۹)

ملاخطه

پورته د كتاب ظهرت نامه فقره (۱) په ضمن كښې د حضرت حاجي بهادر صاحب عليه الرحمة تاريخ ولادت ۹۸۹هـ۱۶، رجب المرجب په مقام د آكره (هندوستان) ښودلے شويدے. ا د فقره (۲) په ضمن كښې وفات يئے ۶،تاريخ د رجب ۱۰۹۹هـ ښودلے شويدے. ليكن په كتاب "مجمع الا نساب" كښې چه د حضرت حاضي بهادر صاحب د يو خپل نوسي تاليف دے. د دوئ د ولادت او د وفات تاريخونه يئے په دے تفصيل سره ليكلي دي.

"حضرت حاجي بهادر عليه ارلحمة په تاريخ يكم محرم الحرام ۹۸۴هـ پيداشه او په تاريخ۱۷، ربيع الا خر ۱۰۷۸هـ له دارفاني نه يئے په موضع متخوزه كښې عالم جاوداني ته انتقال او

> فرمایه. په اول سر کښې د دوئ طریقه نقشبندیه وه. د هغې نه روستو یئې په پنځه واړه طریقو کښې خلافت حاصل کړ. د پنځه واړه طریقو خاوند وو. مزار یئې د کوهاټ په ښهر کښې د سنګیړ نومې غر په لمن کښې دے د هند او سند او افغانستان په مملکتونو کښې د دوئ د کرامتونو شهرت تلے دے. اولاد یئې ډیر دے. جاګیرونه او معافي لري. ډیره ښه ګذاره یئې جوړه ده". (د فارسی نه ترجمه)

دا کتاب "جمع الانساب" قلمي نسخه ده. چاپ شوے نه دے. ژبه فارسی ده. یوه نسخه یئې د حاجي بهادر صاحب په اولاد کښې د جناب عطوف شاه سره په کوهاټ ښهر کښې موجوده ده. د کتاب په ابتداء یا آخر کښې د مؤلف نوم نه دے لیکلے شوے. لیکن د کتاب د مندرجاتونه معلومیږي. چه اولنئ مسوده یئې میامحمد نور[58] ولد میا. محمد قاسم ولد حاجي بهادر لیکلے ده. بیا د ده ځوي محمد ګل[59] او بیا د هغه ځوي ولي الله

[58]میا محمد نور په ۵، جمادي الاول ۱۱۵۰هـ وفات شویدے.
[59]میا محمد ګل متولد ۱۲، رجب ۱۱۳۸هـ

پکښې اضافے کړے دي. او د ټولو نه روستئ اضافے پکښې مولوي احمد شاه کړي دي. او دا موجوده نسخه په ۱۳۰۱هـ کښې قلمي کړے شوے ده. هر کله چه دا کتاب یو خانداني بیاض دے. په دے وجه د دے کتاب "مجمع الانساب" بیان د کتاب "آئینه تصوف" نه زیات معتبره معلومیږي. لیکن د حاجي محمد امین بدخشي مکي په تالیف "مناقب آدمیه" صفصه نمبر۱۵۵ (قلمي نسخه) کښې د دوئ تاریخ وفات ۱۰۹۰هـ درج دے. دا سحیح دے. د "آئینه تصوف" په حواله چه د حضرت حاجي صاحب د مزار په کتبه کښې تاریخ وفات ۱۰۹۹هـ درج شویدے. هغه صحیح نه دے. پکار ده چه اصلاح یئے اوکړلے شي. د مجمع الانساب په روایت د حضرت حاجي بهادر صاحب پنځه ځامن وو.

(۱) محمد یوسف علیه الرحمة. چه په ۱۱، تاریخ د صفر المظفر ۱۱۳۶هـ فوت شویدے.

(۲) میامحمد قاسم علیه الرحمة. تاریخ وفات یکم ربیع الاول ۱۱۳۷هـ

(۳) میا حاجي محمد عمر[60] علیه الرحمة. تاریخ وفات محرم الحرام ۱۱۴۰هـ

---

[60] دا د دواړه رونړه د شیخ محمد اسماعیل مدرس سهرودي لاهوري الملقب میا کلان صاحب کامل خلیفه ګان وو. او د ضلع

(۴) میا محمد عثمان [61]علیه الرحمة.
تاریخ وفات۱۵، شوال ۱۱۵۰هـ

(۵) میا محمد یعقوب علیه الرحمة.
تاریخ وفات ۱۵، شوال ۱۱۵۰هـ

روستو د دے پنځه واړه ځامنو اولاد یئے زیات شوے دے. او په چار چاپیره ملک کښې خوردے. یوه کورنئ په موضع خویشکي بالا. پیښور ښهر کښې ده. او نور په کوهاټ ښهر کښې آباد دي.

د "مجمع الانساب" د یو بیان نه معلومیږي. چه یو ځله عالمګري اورنګزیب دیوے علمي مباحثے او مناظرے د پاره حضرت حاجي بهادر صاحب علیه الرحمة د کوهاټ نه لاهور ښهر ته غوښتلے وو. روایت دے. چه دغه یوه لویه علمي مناظره وه. د هند. سند او پنجاب بے شمیره عالمان پکښې موجود وو. د فریق مخالف په عالمانو کښې د مولانا نور محمد مدقق نوم زیات مشهور دے. دغه علمي مرکزه پوره یو ویشت ورځے جاري وه. په هغے کښې د حضرت حاجي بهادر صاحب علمي استدلال په تولو بر راغے. تولو عالمانو تسلیم کړ. د دوئ علمي اع عرفاني فضیلت یئے اومنلو تر دے حده چه د مخالف فریق د ټولو نه لوئ عالم حضرت مولانا نور

پیښور مشهور بزرګ اخوند قاري عبدالله المعروف په پندو باباء پیر هائي وو.

[61]دا د دواړه رونړه د شیخ محمد اسماعیل مدرس سهرودي لاهوري الملقب میا کلان صاحب کامل خلیفه ګان وو. او د ضلع پیښور مشهور بزرګ اخوند قاري عبدالله المعروف په پندو باباء پیر هائي وو.

محمد مدقق د حضرت حاجي صاحب نه بیعت اوکړ. د دوئ سره په کډه باندے کوهاټ ته راغے. بیا هم دلته وفات شه. مزار مبارک یئے په کوهاټ کښې د موضع جنګل خیل نه جنوب مغرب ته او د بالاحصار نه قبیلے طرف ته واقع دے. شهنشاه اورنګ زیب ته هم د دوئ اوچته علمي او عرفاني مرتبه څرګنده شوه. یوه سیده بي بي حضرت رقیه علیها الرحمة یئے دوئ له په نکاح ورکړله.او د جاګیر په طور یئے د کوهاټ د محمد جونه ونه زر جریبه زمکه سره د څلوروارهټونو ورکړه. دغه شان په پیښور (باګرام) او لاهور کلي یئے هم یو زر جریبه زمکه ورکړه. چه د دوئ د خانقه او مدرسے د دیني علمونو د طالب علمانو د معاش زریعه اوګرځیږي. روستو د لاهور زمکه انګریزانو ضبط کړے وه. او د پیښور او کوهاټ جاګیریئے د اولاد په تصرف کښې دے.

حضرت شیخ حاجي بهادر په قام څوک دے؟

د حضرت شیخ المشائیخ حاجي بهادر صاحب علیه الرحمة د حالاتو په سلسله کښې یوه اهمه خبره دا ده. چه دے په قام څوک دے؟ په دے سلسله کښې تر دے وخته پورے چه کوم معلومات ماته په لاس راغلي دي. هغه په پوره تفصیل سره دلته درج کوؤم چه د دے جلیل القدر بزرګ په حقله که د دے نه علاوه څه نور مستند معلومات پیدا شي نو چه د هغے په رنړا کښې څمونږ په دے بیان

کښې مناسب ترمیم او اضافه اوکړلے شي. دا یادلرل پکار دي چه دا یوه خالصه علمي او تاریخي مسٴله ده. او هم په دے نقطه نظر پرے دلته بحث کوؤلے شي.

اولنے شهادت

په دے سلسله کښې د ټولونه اولنے شهادت د کتاب مجمع الانسان د قلمي نسخے ۱۳۰۱هـ دے. په دے کتاب کښې چه د حضرت حاجي عبدالله بهادر کومه شجره د نسب درج کړے شویده. او بیا د دے کتاب په حواله دغه شجره د هفته وار اخبار همدم په خصوصي اشاعت حاجي بهادر نمبر(اشاعت ۱۵، دسمبر ۱۹۶۱ء) کښې د سید دلبر شاه په یو مضمون کښې چاپ شوے ده. په دغے مضمون کښې دا ښودلے شوے ده. چه حضرت حاجي بهادر علیه الرحمة په قام سید دے. او د سادت شجره یئے داسے درج کړے ده.

سید عبالله شاه بن سید سلطان محمد شاه بن سید سلطان میر سرور بن سید سلطان میر اکبر بن سید سلطان میران شاه بن سید سلطان سبحان شاه بن سید سلطان محمد زبیر بن سلطان محمد کبیر. بن سلطان میر کمال بن سلطان میر جمال بن سلطان ابي فضل بن سلطان سراج الدین بن سلطان بهاء الدین بن سلطان عبدالرحمان بن سلطان محمد عرمان بن سلطان محمد حسین بن سید سلطان محمد محسن بن سلطان برهان بن سلطان شعبان بن سید سلطان محمد زاهد بن سید سلطان امیر احمد سلطان عبدالعزیز بن سید

محمد ابراهیم بن سید امام حسین عکسري بن سید امام علي نقي بن امام محمد تقي بن الا مام الهمام علي رضا بن الا مام موسی کاظم ابن الا مام جعفر صادق ابن الا مام محمد باقر ابن الا مام علي زین العابدین ابن الا مام سید الشهداء حسین رضي الله عنهم اجمعین.

د حضرت حاجي بهادر صاحب په حقله فقط دا یو شهادت دے چه مدار یئے د مولوي احمد شاه په قلمي نسخه (۱۲۰۱هـ) باندے دے. د دے نه علاوه د حضرت حاجي بهادر صاحب د خپل خاندان د مشاهیرو بزرګانو په قلمي یاداشتونو کښې چه روستو به یئے ذکر راشي د دوئ د نوم سره لفظ د سید نه دے لیکلے شے.

دوئم شهادت چه حضرت حاجي بهادر علیه الرحمة پښتون دے.

د حضرت مولانا شیخ حافظ حاجي عبدالله بهادر علیه الرحمة د شجره نسب په حقله د دویم تاریخي شهادت نه چه روستو به په تفصیل سره ذکر کړے شي. دا معلومیږي چه دے په قام باندے خویشکے افغان دے.

د دے خبرے وضاحت داسے دے. چه د باجوړ په قبائیلي علاقه جندول درهٔ مسکیني کښې په ۱۲۰۰هـ تا ۱۲۸۴هـ زمانه کښې یو عالم تیر شوے دے. چه د هغه نوم میا محمد وسیم کاکا خیل دے. د مختلفو علمونو خصوصاً ریاضي، هیئت فلسفه، فقهه او حدیث

لوئ عالم وو اديب او مؤرخ او شاعر وو. د ۱۲۷۰هـ نه تر ۱۲۷۳هـ پورې په پيښور ښهر کښې هم اوسيدلے وو. د مشهور تاريخی شخصيت سيد جمال الدين افغاني استاذ وو. په فقهه، حديث. اصول. منطق. رياضي هيئت. جعرافيه. ادب. تاريخ عروضي وغيره کښې يئے تقريبا يو نيم سو کتابونه او رسالے تاليف کړے دي. د دغه مولانا ميا محمد وسيم کاکا خيل په ۱۲۴۷هـ کښې (يعنے د نن ورځے نه ۱۳۷کاله پخوا) په "ديوان حافظ شيرازي" باندے د "تحفة الناظمين" په نوم سره په فارسی ژبه يوه شرح ليکلے ده. د دے کتاب دغه نسخه چه د ميا وسيم د خپل لاس ليکلے ده. ټوله ۱۶۷مخونه ده. د صفحاتو سائز يئے۲ ۱/۲ x ۱/۴ ۱ دے.په هر مخ کښې کرښې۲۶ دي. د دے کتاب دريباچے او آخري سرخه حصه يئے د تاريخي اهميت په لحاظ دلته درج کوؤلے شي.

ديباچه

نحمد ک يا حافظ القلوب عن الا ختلاج ما يخا لف نظم الکتاب و نصلي عليه يا صاحب ديوان الشفاعة للا مم يوم العتاب. وعبد

''چنین گوید بندۀ پر تفصیر محمد وسیم کہ چون شرح دیوان شمس الدین خواجہ حافظ شیرازی کہ مشہور راست یہ (شرح) عبداللہ قصوری مشتمل بودیہ غایت تطویل و درازی. خواستم کہ ہمہ مطلب او رابمعہ زیادة از جیہات بخلاصہ آوردہ شو د. کہ خورمی طبع یاران باشد. وسمٔ کردہ شو.

''به تحفة الناظمين''. فرد:

بين پيش قصورى، كتابم برحقارت * مضاعف زو بمطلب، منصف ورعبارت

خاتمه:

تمت النسخة الماخوذة من شرخ المسمي "بجرالفراسة" المشهور بقصوري من تاليف عبدالله المعروف بعبدالله الافغان خويشكي الچشتي الي رديف الشين (ش) في سلطنة شاهجهان في قصبة قصور و من بعده الي الا خرني بلدة بيجا پور اللهم اغفرلنا ولوالدينا والجميع الؤمنين. ۱۲۴۷هـ حرره محمد وسيم كاكا خيل في قريتة بوسته من مضافات دره جندول مملكة الباجور

د ميا محمد وسيم د تاليف "تحفة الفاظمين" كوم اقتباسات چه پورته درج كړے شول. د دغے نه دا واضحه شوه. چه د ديوان حافظ د شرح "بحرالفراسة" نوم وو. او د مؤلف نوم يئے عبدالله وو چه په عبدالله الا فغان او "عبدالله قصوري" دواړو نومونو باندے مشهور وو. او په قام باندے خويشكے زمند وو. د طريقه عاليه چشتيه پير طريقت وو. څه زمانه يئے په قصور كښې تيره كړے وه. (د حرف ش پورے د ديوان حافظ شرح يئے دغلته ليكلے وه) او بيا بيجا پور (دكن) ته تلے وو. چه د ديوان حافظ باقي پاتے شرح يئے هلته په بيجا پور كښې مكمله كړے وه. هر كله چه ددے د عبدالله قصوري په. لقب سره

یادیدلو. په دے وجه د ده دغه شرح (بحر الفراسته) هم د شرح قصوري په نامه یادیدله.

تاریخي څیړنه

د میا محمد وسیم دا تصریح چه عبدالله قصوري په قام افغان دے. په تاریخي اعتبار سره ډیره اهمه نکته ده. او د بحث یوه داسے موضعغ یئے را وړاندے کړه چه په هغے باندے په تفصیل سره تاریخي څیړنه مناسب معلومیږي. چه دا واضحه شي چه عبدالله قصوري په حقیقت کښې هم دغه حضرت شیخ حافظ حاجي عبدالله بهادر کوهاټي دے. د دے غرض د پاره مونږ له د دے تاریخي شهادتونو تقابلي مطالعه به پکار وي.

اولنے تاریخي شهادت

د موضع پړانګ چارسده ضلع پیښور د ارباب عبدالرحیم ابن ارباب عبدالکریم خلیل په قلمي کتابونو کښې چه د نصر الله بن محمد جمال لودهي سکنه جالندهر د تالیف "کنز الد قایق منظوم فارسي" کومه قلمي نسخه ده. دا قلمي کتاب د لاهور (پنجاب) عاشور بیګ نومے کاتب د عنایت الله ولد کالو متوطن پرګنه قصور او سکنه مزنګ لاهور د پاره قلمي کړے دے. د دغه کتاب (کنزالد قایق منظوم فارسي) په حاشیه باندے د میا عبدالکریم المعروف په میا کریمداد شهید ولد اخوندرویزه دهغه

"الف نامه" چه په مخزن الا سلام پښتو تالیف د اخوندرویزه کښې شامله ده. د دغه الف نامه یوه شرح په فارسی ژبه لیکلے شویده. او د دغه قلمي شرح په آخر کښې په سره سیاهي باندے په غټ قلمي لیکلي شوي دي. من تالف" عبدالله قصوري."

دوئم شهادت

د اخوندرویزه د کتاب مخزن الا سلام پښتو کومه نسخه چه په ۱۲۸۴هـ کښې د پیښور ښهر د محمد صحاف نوم تاجر کتب د پاره د لاهور (پنجاب) په مطبع فیض عام کښې په ۸/۲۹x۲۲ سایز باندے دو میا کریمدادشهیدد الف نامه هم هغه شرح چاپ شوے ده. چه کومه د پړانګ چارسدے په قلمي نسخه کښې دغه شرح د عبدالله قصوري تالیف ښودلے شوے دے او د لاهور په دے چاپ شوے نسخه کښې دغه شرح د عبدالله کوهاټي تالیف ښودلے شویده. په دغه قلمي نسخه او دے چاپ شوے نسخه کښې په مضمون کښې هیڅ فرق نشته دے. یعنے هم دغه یو کتاب دے چه په قلمي نسخه کښې یئے عبدالله قصوري ته نسبت شویدے. او په چاپ نسخه کښې یئے عبدالله کوهاټي ته نسبت شویدے. د دے مطلب دا شه چه ۱۲۸۴هـ پورے په قصور، لاهوري او پیښور درے واړو کلي دغه یو تاریخي او روحاني شخصیت په عبدالله قصوري او کوهاټي دوه نسبتي نومونو سره یادیدلو. او پښتون ګنړلے شه.

دریم شهادت

لکه چه مخکښې ورته اشاره شويده د سابق هندوستان د عالمانو په اصطلاح کښې د سابق صوبه سرحد علاقو ته به ولايت وئيلے شو او هم په دغه مناسبت د حضرت حاجي بهادر صاحب)په القابو کښې يو خصوصي لقب "صاحب الوايت" وو. چه دغه د دوئ روحاني لقب وو. لکه چه روستو به بحث راشي د حضرت حاجي بهادر صاحب نمسي ولي الله هم د حاجي بهادر په القابو کښې يو لقب "صاحب الوالايت" زکر کړيدے. بله خبره دا ده چه حاجي بهادر صاحب د ميا کريمداد د الف نامه شرح ليکلے ده. دغه الف نامه، يوه داسے سي حرفي ده. چه په "کلمات الوافيات" نامه هم ياديږي. د دے وضاحت په رنړا کښې د مفتي غلام سرور لاهوري د کتاب خزينة الا صفياء جلد نمبر۲ صفحه نمبر۴۷۱ (طبع نو لکشور) دا لانديني عبارت څمونږ د خبرے د پاره دويم شهادت دے.

"مخزن الا سلام يو کتاب دے. چه هغه مولانا اخون درويزه په افغاني ژبه تاليف کړيدے. ليکن نا تمام پاتے وو. د هغه نه روستو ځوي يئے مولانا عبدالکريم اتمام ته اورسلو. پس هغه چه تاليف د مولانا (درويزه) دے په هغے کښې تذکره د معارفو د شريعت ډيره ده. او هغه

چه د هغوئ د څوي تالیف
دے. په هغے کښې اکثر
حقایق او معارف مذکور
دي. او "صاحب الولایة"
په مخزن الا سلام یوه
شرح لیکلے ده او په
"شرح کلمات الوافیات"
یئے موسومه کړے ده.
(له فارسئ نه ترجمه)

د مفتي غلام سرور د دے بیان نه څمونږ د هغه خبرے تصدیق کیږي. چه د حضرت حاجي عبدالله بهادر کوهاټي یو روحاني لقب "صاحب الولایت" دے.

څلورم شهادت

حضرت حاجي بهادر صاحب علیه الرحمة چه د مخزن الا سلام په الف نامه باند د "شرح کلمات الوافیات" په نوم کومه شرح لیکلے ده. تر دے وخته پورے د دے شرح څلور نسخے څما د نظر نه تیرے شویدي.

(۱) یوه قلمي نسخه هغه ده. چه د اوخت د پرانګ چارسده د ارباب عبدالرحیم په کتبخانه کښې ده.

(۲) دوئمه چاپ شوے نسخه ده. چه د اوخت څما (عبدالحلیم اثر) سره موجوده ده.

(۳) دریمه قلمي نسخه په کتابي شکل کښې د مدرسه رفیع الا سلام بهانه ماړي په کتبخانه کښې ده.

(۴) څلورمه نسخه د موضع قاضي خیل (چارسده ضلع پیښور) د محمد اخند زاده مرحوم په کتبخانه کښې ده. چه دا نسخه څمونږه د دے بحث په سلسله کښې خصوصي اهمیت لري.

(الف) ددے نسخے د مطالعے نه دا ثابتیږي چه کومے قلمي او چاپ شوے نسخے چه مونږه پورته ذکر کړلے هغه واقعي د حاجي بهادر صاحب تالیف دے.

(ب) د مفتي غلام سرور لاهوري د هغه خبرے تصدیق کیږي. چه د حضرت حاجي بهادر صاحب یو عرفاني او روحاني لقب صاحب الولایة وو.

(ج) په دے نسخه کښې دے خبرے ته قطعاً اشاره نشته. چه حضرت حاجي صاحب په قام سید دے.

د دے قلمي نسخے تفصیل داسے دے. چه د حضرت حاجي بهادر صاحب تالیف په فارسئ ژبه وو. مرحوم ولي الله بن محمد ګل بن محمدنور بن محمد قاسم بن عبدالله حاجي بهادر په عربي ژبه دهغے ترجمه کړے ده. او د دے عربی ترجمے په دیباچه کښې یئے د خپل طرف نه د علم تصوف په بنیادي اصولو.

قواعدو او اصطلاحاتو باندے یوه ډیره عالمانه او مبسوطه مقدمه ورسره شامله کړے ده. ولي الله په پنځم پشت کښې د حاجي بادر صاحب نمسے دے او په تاریخي لحاظ د ۱۲۰۰ھـ د زمانے دے. د هشنغرد چارسدے د قاضي خیل نومے کلي په هغه حصه کښې چه پخوانے نوم یئے منګله وو. په دغه منګله کښې د مکرم خان دراني په جماعت کښې د نن ورځے نه ۱۴۰کاله وړاندے محمد اخوندزاده[62] نومے یو عالم تیر شوے دے. ددغه عالم په کتبخانه کښې دا قلمي نسخه ځما د نظر نه تیره شوے ده. د دے نسخے روستونئ حصه ناقصه ده. د آخري حصے څه پانړی نه لری. موجوده قلمي نسخه ټوله (۲۶۰) مخونه ده. په هر یو مخ کښې (۱۵) کرښے دي. د هر کرښے اودږدوالے پنځه انچے دے. او د هر مخ پلن والے ۱/۲ ۲انچے دے. او اوږد والے یئے ۱/۲ ۹ انچے دے. هر کله چه د دے ناقصه نسخے په آخرینئ صفحه باندے د محمد اخند زاده مرحوم دستکط موجود دے. نو د دغے نه داسے معلومیږي چه محمد اخندزاده ته د ۱۲۳۴ھـ په خواؤ شا کښې دا نسخه هم دغه شان ناقسه په لاس ورغے ده. او ډیره ممکنه ده چه دا کتاب د یا ولي الله ابن محمد ګل یعنے مؤلف د دے کتاب د خپل لاس لیکلے وي.

[62] د دے محمد اخند زاده پلار چه ر امباز نوم یئے وو. هغه د اتک حجرت جي صاحب شیخ یحی مرید وو. هر کله چه شیخ یحی د شیخ سعدي لاهوري مرید وو. او شیخ سعدي صاحب د حضرت حاجي عبدالله پیر باءي وو. نو محمد اخندزاده ته د دے کتاب په لاس ورتلل په آسانه سره په فکر کښې راتللے شي. (اثر)

د یوې خاصې تاریخي نکتې په وجه چه مخکښې ورته اشاره او شوله. د دې عربي کتاب دیباچه دلته نقل کوؤلې شي. چه روستو پرې وضاحتي تبصره اوکړلې شو. دیباچه داسې ده.

الحمدللله رب العالمین والصلوة علے سیدنا وحبیبنا محمد واله واصحابه واز واجه امهات المؤمنین اجمعین. اما بعد فیقول العبد الضعیف والي الله ابن محمد ګل[63] نجل قطب الا قطاب و غوث الوقت المصنف بصفات العارفین المستغني عن تو صیفه الواصفین. سکینه قلوب العاشقین. المخصوص بالطاف رب العلامین انه کالنفحة في ریاض التحقق و کلاقطرة في حیاض التوفیق. عنوان صحائف الطریقة. ولمعان لوانح الشریعة. سلطان الملة المصطفویه و برهان الحجج النبویة. قبلة التابعین و قدوة الاربعین مقدم الزهاد العباد "صاحب الولایة" مظهر الهدایة. قطب کبار المحققین. غوث عظما الموحدین سلطان العارفین. و برهان المدققین. خلیفة الله في عصره. اعني حضرت حاجي الحرمین الشریفین حاجي عبدالله المشتهر بحاجي بهادر نقشبندي کوهاتي. ان بعض خلاني التمسو امني قلت بضاعتي ان اشرح ترجمه "تبیان الحقائق" لبعض المشکلات والد قائیق عند المبسئین دون المهدیتین من مخزن الا سلام مولانا قطب المکنة. ورکن السنة منبع الا نوار شیخ شیوخ الطریقة. علام امور الشریعة. حصال

---

[63] نجل معنی ئمسے

حصول الحقيقة. مجذوب جذبات الوحدة. لباس العزة. قبلة الا برار. و نقطة الاحرار زين العبادة و عين العبودية الشيخ الفاضل والولي الكامل المسى باخون درويزه و ابنه الفاضل اخون کريمداد فبعثنا استعداد هم والتماسهم علي ذالک مع اني لست من اهل ذالک. لقصور فهمي في حل المباني. و ضبط المعاني. مابينت من شرح جدي المذکور المسمی بتبيان الحقايق ومن الکتب المعتبرة في ابتداء الترجمة بناء علي مايفال حب الشئ يعمی و يصم. فليس لي فيه الا سفارة. فشرعت فيه بعد تمهيد بعض ادصلاحات الصوفية ليسهل بحفظ الا حکام المتعلقة بهذا الفن من هذالکتاب و بالله التوفيق و بالا جابة جدير".

د میا ولي الله د دې بیان نه واضحه شوه چه "صاحب الولایة" د حضرت حاجي عبدالله بهادر لقب دې. او مخکښې چه مونږة د مفتي غلام سرور لاهوري کومه حواله درج کړې وه چه صاحب الولایة د مخزن الا سلام شرح لیکلې ده. او د دغه "صاحب الولایت" نه مراد حاجي بهادر علیه الرحمة د دې د ولي الله د دې وضاحت نه څمونږ د هغه قول تصدیق کیږي. او هر کله چه د ولي الله دا عربي تالیف د هغه فارسی شرح لفظي ترجمه ده چه په چاپ شوې نسخه کلې عبدالله کوهاټي ته او په قلمي نسخه کښې عبدالله قصوري ته منسوبه ده. نو د دې نه مونږ ته دا تاریخي نکتې په لاس راځي.

(الف) يوه دا چه عبدالله قصوري او عبدالله کوهاټي دواړه د حضرت حاجي بهادر صاحب نومونه دي. او د پړانګ چارسدے په نسخه کلې د دوئ نسبتي نوم عبدالله قصوري ليکلے شوے دے. نو وجه يئے دا ده چه دے په قام باندے د قصور د غرغشتي قوم د خويشکي قبيلے د شوريانے نومے کورنئ د چشتی مشائخو د خاندان يو ممتاز فرد وو. په ابتدائ کښې په قصور کښې اوسيده. او بياد دغه ځاي نه د اخوندرويزه د ځوي ميا کريمداد په ملګرتيا کښې د کن ته تلے وو. هلته په بيجا پور کښې يئے څه موده تيره کړے وه. د ميا وسيم (۱۲۴۷هـ) د روايت مطابق د ديوان حافظ شرح "بحر الفراسة" يئے څه حصه په قصور کښې او باقي پاتے حصه په بيجا پور کښې تاليف کړے وه. د ميا کريم داد د ځوئ ميا نور محمد[64] د يو قلمي ياداشت مطابق بيا روستو حاجي بهادر صاحب د بيجا پور (دکن) د مغليه حکمرانانو دارالخلافے آګره ته راغښے وو. دغلته يئے د سيدنا آدم بنوري سره ملاقات شوے وو. بيا د حضرت سيد نا آدم بنوري سره د آګرے

[64] دا ميا نور محمد هم د حضرت سيد نا آدم بنوري خليفه او د حضرت حاجي بهادري صاحب پير بائي وو. (اثر)

نه دهلي ته راغلي وو. او هر کله چه په ۱۰۵۱هـ کښې د شاهجهان په حکم سیدنا آدم بنوري د دهلي نه لاهور ته راغے. او بیا دشاه جهان د دویم حکم په مطابق د لاهور نه هم روان شه د حج د سفر اراده یئے اوکړله. نو په دغه سفر کښې حاجي بهادر صاحب ورسره وو. په ۱۰۵۲هـ کښې یئے په مقام د مکه مکرمه د خپل پیر طریقت نه چه خرقه د خلافت حاصله کړه. نو بیا هم هلته په حرمینو شریفینو کښې څه موده یئے تیره کړے وه. د هغے نه روستو غالباً د ۱۰۶۳هـ په خواو شا کښې کوهاټ ته راغښے دے او دلته په ۱۰۹۰هـ کښې په حق رسیدلے دے. پخپل ژوند چه په کومو کومو ځایونو کښې یئے عمر مبارک تیر کړے وو. د هغے په نسبت سره ورته عبدالله قصوري، عبدالله بیجا پوري او عبدالله کوهاټي وئیلے شي. او دا داسے خبرے دي چه په آسانتیا سره په فکر کښې راتلے شي.

(ب) د میا ولي الله د دے بیان نه د میا محمد وسیم د هغے تاریخي نکتے تصدیق هم کیږي. چه میا محمد وسیم پخپل بیان کښې عبدالله قصوري ته عبدالله

الافغان خویشکي وائي. او د چشتیه مسلک صوفي یئے یاده وي. که میا ولي الله او د تذکره شیخ حمکار مؤلف (صفحه نمبر۱۱۲) یئے نقشبندي یاده وي. نو دا خبره مشکل نه پیدا کوي. وجه یئے دا ده چه (۱) د حضرت حاجي عبدالله بهادر علیه الرحمة د خاندان ټول مشاهیر اولیاء د چشتیه طریقے پیران وو. مخکښې د حضرت شیخ المشائیخ عطاء الله المعروف په شیخ اتو شوریاني خویشکي په تذکره کښې دا بحث تیر شیودے. چه قصور ته د خویشکي قبیلے خلق د ۵۳۰هـ شا او خوا کښې هم د دغه حضرت شیخ اتو خویشکي په مشرئ کښې راغلي و.و او بله دا چه دغه مورث اعلی حضرت شیخ اتو شوریاني د حضرت مودود چشتي مرید او خلیفه وو. او په قصور کښې د دے خویشکي قبیلے چه هرڅومره بزرګان تیر شویدي. د هغوئ خانداني طریقه چشتي وه. د دغے نه علاوه هر کله چه په ۱۰۴۲هـ کښې د اخوندرویزه ځوي میا کریمداد سره د خپل ځوي میا نور محمد نه قصور ته راغلے وو. نو حضرت حاجي بهادر صاحب علیه الرحمة ترینه په طریقه عالیه چشتیه کښې بیعت کړے وو. د میا کریمداد تالیف "شرح جام

جهان نما" یئے د میا کریمداد نه په درس لوستلے وو. د دے معلوماتو په رنړا کښې حضرت حاجي عبدالله بهادر د قصور داستوګنے په زمانه کښې په طریقه قادریه. چتیه. سهرودیه. کبرویه کښې خلاف حاصل کړے وو. او په طریقه عالیه نقشبندیه کښې د حضرت سید نا آدم بنوري علیه الرحمة نه یئے چه کوم فیض حاصل کړے دے. دا د۱۰۴۷ هـ نه د روستنئ زمانے سره تعلق لري. یعنے روستو چه په مقام د بنور کښې د حضرت سیدنا آدم بنوري نه یئے په نقشبندیه طریقه کښې بیعت کړیدے[65].

(ج) میامحمد وسیم چه کومه تصریح کړے ده. چه عبدالله قصوري د عبدالله الافغان په نوم مشهور دے. د میا ولي الله د پورته بیان نه یئے تصدیق داسے کیږي. چه میا ولي الله فقط داسے لیکي: حاجي عبدالله المشتهر بحاجي بهادر نقشبندي" او په دیباچه کښې چه د دے خپل نیکه بے شمیره علمي او روحاني القاب

---

[65]حضرت حاجي بهادر صاحب اول د حضرت هیخ فرید ابن اخون پنجو بابا نه په سلسله عالیه نقشبندیه کښې بیعت کړے وو. بیا ئي د حضرت بنور صاحب نه لاس نیوه کړے وه. حضرت شیخ فرید د حضرت بنور ساحب خلیفه وو. په حواله د مناقب آدمینه صفحه۱۵۴ (قلمي) (اثر)

يـئـے ذكـر كـړي دي. پـه هغـے كـښې پـه
يـو لـقـب كـښې يـئـے هم د دوئ د
سيـادت ذكـر نـه دے كـړے. او د دغـے
نـه د هغـه نـتـيـجـے تـائـيـد كـيـږي چـه
حـاجي بـهـادر علـيـه الـرحمة پـه قـام
خويـشكـے افـګـان دے. چـه د دے قـوم
خلق پـه اتـوزئ شوريـانـي خويـشكي
نـامـه يـاديـږي[66].

يـو خواتـه دا واقـعـات او تـاريـخي حقـائـق
دي چـه پـورتـه پـه وضاحت سره د د تـاريـخي
حوالـو بـيـان شول او بـل خواتـه لـكـه چـه
مخكښې پـړے بـحث اوشه. د حضرت حاجي بـهـادر
صاحب هغـه نـمسي چـه نـن ورځـے پـه كـوهـاټ كـښې
آبـاد دي. هغـوئ دا خپـل نـيـكـه سيـد ګـڼـړی.
لـيـكن ورسره پـه كـوهـاټ كـښې چـه د حـاجي
بـهـادر صاحب د ورود د نـسل كوم خلق دے
هغـوئ ځان تـه سيـدان نـه وائـي. او تـر كـومـه
حده چـه مـاتـه معلـومـه شوے ده. د دوئ دا
دعوی پـخوانـي. هم نـه ده. د مولـوی احمد ګـل
(احمد شاه) مرحوم د ورځو نـه راپـيـدا شوے
ده. بـهـر حال پـه دے نـزدے ورځو كـښې چـه د
خپـل نـيـكـه پـه مزار كـښې يـئـے كـومـه كـتـبـه
لـګولـے ده. پـه هغـے كـښې يـئـے د دے خپـل نـيـكـه
د سيـادت شجره هم درج كـړيـده. (چـه مخكښې
مونـږ نـقـل كـړيـده) او لـكـه چـه مخكښې مونـږ
عرض اوكـړ پـه دے كـتـبـے كـښې د حـاجي بـهـادر
صاحب د ولادت. مقـام ولادت. او وفـات
تـاريـخونـه او نـومونـه ټول غلط دي (صحيح

[66] البـتـه دا يـادلـرل پـكـار دي چـه د اتـوزی شوريـانـي خويـشكي قـوم خلق پـه نـسب بـانـدے سيـدنـا دي. (اثـر)

تاریخونه مونږه وړاندے درج کړیدي) هر کله چه دا یوا هم بڅث وو. په دے وجه په دومره تفصیل سره دلته شه. د پاره د دے چه څمونږ د دے علاقے د ادب او تاریخ عالمان ورته توجه را اوګرځوي. او په دے کښې چه کومه خبره ورته صحیح ښکاره شي. که د هغے په حقله نور معلومات د چا سره موجود وي. چه د هغے اضافه پرے اوکړلے شي. او که څمونږ دا رائ غلطه ثابته شي نو چه دا هم صحیح کړلے شي.

(د) تر اوسه پورے د بعض خلقو دا خیال وو. چه عبدالله قصوري. عبدالله کوهاټي او عبدالله خویشکي. درے واړه جدا جدا بزرګان دي. او درے واړه د حضرت سید نا آدمبنوري قدس سره خلیفه ګان وو. لیکن مخکښې چه کوم بحث تیر شه. د خزینة الا سفیاء. تحفة الناظمین شرح کلمات الواخیات. تبیان الحقائق وغیره کنړ و شهادتونو نه معلومه شوه چه دا درے واړه نومونه په حقیقت کښې هم د یو صاحب القاب دي. چه په قام خویشکے وو. څه زمانه په کوهاټ کښې اوسیدلے وو. او د سابق صوبه سرحد (ولایت) د نسبت په وجه "صاحب الولایة. د دوئ لقب وو.

(ه) د پورته تاریخي حوالو نه او د نور زیاتي تحقیقي له مخه حضرت

حاجي بهادر صاحب چه په علم تصوف. ادب. اخلاق او حکمت کښې چه کوم کتابونه تاليف کړي دي. د هغے نومونه دا دي.

(۱) تبيان الحايق. ياشرح کلمات الوافيات. (د مخزن الا سلام د الف نامے شرح ده.)

(۲) بحرالفراسة. (د ديوان حافظ شرح ده)

(۳) نور الا فکار. (د روحاني اسرار واو د تصوف د رموزو په بيان کښې مکتوب نطاب دے.

(۴) شرح مثنوي مولانا نائے روم
(۵) شرح ګلستان سعدي

دا دواړه کتابونه د شيخ عبدالخالق ولد شيخ مراد قصوري د روايت مطابق د حضرت شاه محمد غوث قادري ګيلاني لاهوري په کتاب خانه کښې موجود وو. دلته دا يادلرل پکار دي چه حضرت شاه محمد غوث د ميا محمد نعيم د کامے مريد وو. ميا محمد نعيم کاموي د شيخ مانون يو سفزی شاه منصوري مريد وو. او شيخ مانون د حضرت حاجي بهادر صاحب مريد او خليفه وو. نو که د حضرت شاه محمد غوث په کتب خانه کښې د حضرت حاجي بهادر صاحب کتابونه

موجود وو. نو دا خبره په آسانه سره په عقل کښې راتللے شي. شيخ عبدالخالق دا هم ليکي چه د شاه محمد غوث په کتاب خانه کښې د حضرت حاجي بهادر صاحب اليف "شرح ديوان حافظ يعنے" بحرالفراسته" هم موجود وو.

شيخ عبدالخالق قصوري او د هغه پلار شيخ مراد قصوري دواړه عالمان او فاضلان وو. د شيخ محمد مراد قصوري د تاليف نوم "لجة الشق" وو چه په نظم او نظر دواړو مشتمل وو. او په موضع فارسی غزلونويئے شائسته کړے وو. د شيخ عبدالخالق خويشکي قصوري د تاليفاتو نومونه دا دي (١) عقو د انامل (دا کتاب يئې د خپل پير طريقت شاه محمد غوث قادري کيلاني لاهوري د فرزند ارجمند شاه محمد غلام د پاره تاليف کړے وو. دا شاه محمد غلام د شيخ عبدالخلاف شاگرد هم وو.)

(٢) شرخ شبستان (٣) نوادر الجائب په علم عروض او قواني کښې دے.

د حضرت حاجي عبدالله بهادر نقشبندي مجدري روحاني فيوضات هغه عظيم الشان سمندر دے. چه چپے او موجونه يئے تر لړے لوے خواره دي. يو داسے روښانه نمر دے. چه په مبارکو انوارو يئے دا هيواد رنړا

دے. د قصور نه را ولاړ شه اوپه کوهاټ میشته شه او نن دوئ له برکته د کوهاټ. قصور. لاهور مسلمانان د روحاني تړون په رشته او رابطه یو دونړه او یو تن وجود دے. او د دوئ له برکته نور محمدمدقق لاهوري نن د کوهاټ په خاوره کښې آرام فرما دے. او د دوئ د پاکو انفاسونه چه فیض یئې حاصل کړے دے. درس یئے لوستلے دے. روحاني ترتیب یئے موندلے دے. هغه عبدالرحمان بابا مهمند سړبنے چه د دوئ خاص شاکر او مرید دے. وائي:

هومره خلق یئے زیارت
کړي پس له مرګه
چه بازار وي په مزار د
درديشانو

نو که مونږ او وایو چه عبدالرحمان مهمند دا شعرو د خپل استاز او پیر طریقت عبدالله خویشکي کوهاټي په حقله وئیلے دے. او نن د مغربي پاکستان او افغانستان په مشاهیرو بزرګانو کښې دے هغة نامور بزرګ دے چه هر وخت یئے په مزار د زائرینو او معقدینو او فیض حاصلو نکویو بازار لګیدلے وي. نو بے ځایه به نه وي. خدائي دے. د دوئ په مبارک مزار نور هم دا نورو باران اوکړ. علیهم الرحمة والغفران.

حضرت اخون الیاس ملي زائ علیه الرحمة

ولادت

.... نیاګ دره ۹۹۰هـ

وفات

.... لاجبوک ۱۰۸۶هـ

حضرت مولانا شیخ المشایخ قدوة العلماء العارفین وزبدة العرفاء الکاملین قطب الا قطاب و فرد الناس حاجي اخوند محمد الیاس ملي زائ قدس سره په سلسله عالیه نقشبندیه کښې د لویئے روحاني مرتبے. ولایت. کشف او کرامت خاوند وو. چه د روحاني فیوضاتو او انوارو سلسله یئے تر نن ورځے جاري ده.

د ریاست دیر په علاقه کښې د یو سفزایئے قوم یوه لویه قبیله آباده ده. چه د خپل مشر نیکه ملي ابن خواجه ابن اکو ابن یوسفزائے د نوم په مناسبت سره د ملي زائے په نوم یادیږي. دغه ملي زائے قبیله په څلورو لویو قبیلو تقسیم ده. پینده خیل. او ساخیل. نصرت دین خیل. سلطان خیل د دے څلورو واړه قبیلو خلق په تالاش. لرسیند برسیند. نیاګ. دره. غشیرئ

وغیهر کښې آبادي. د دے "ملي زي" قوم په " پینده خیل" نومے قبیله کښې په علاقه د "نیاګ دره" کښې په ۹۹۰هـ کښې د محمد عیسی خان نومے یو قبائیلي مشر په کور کلې یو بختور انسان پیدا شه. د هغه نوم محمد الیاس کیښودلے شه. چه نن ورځے په حضرت شیخ اخوند الیاس علیه الرحمة نامه باندے یادیږي.

په تاریخي لحاظ سره د پاکستان په قبائیلي علاقو کښې د ریاست دیر علاقے ته د اسلام رنړا ډیره پخوا راسیدلے ده. د عربو موؤرخانو په تاریخونو کښې د "جنګ تالاش" په نوم د کوم جهاد ذکر راغلے دے. چه دغه[67] جهاد د اسلام د دوئمے صدئ په اوله نیمائي کښې یعنے په ۱۳۹هـ کښې دا یو ملسم خراساني د مشهور سپه سالار حضرت زیاد ابن صالح په مشرئ کښې د ریاست دیر د تالاش په علاقه کښې شوے وو. او د ملک چین د مورخانو په قول دا یو فیصله کن جهاد وو. په دے جهاد کښې چه مسلمانونه فتح حاصله شوه. نو هغے دا فیصله اوکړه. چه د دے علاقو راتلونکے مذهب به اسلام وي" د پروفیسر بار تهولډ د تحقیقي او د عربو مؤرخانو د روایت مطابق په دے جهاد کښې پنځوس زره کفار وژلي شوي او قید یانو تعداد دیرش زره ښودلے شوے دے. ورپسے په ۲۸۰هـ کښې د امیر سبکتګین په مشرئ کښې.

---

[67]د حوالے د پاره ملاخطه کړئ د ثعالبي کتاب "لطائف المعارف" او د امام جوینی کتاب المسالک والمالک" او د بارتولډ کتاب "ترکستان" (اثر)

بیا په ۴۰۱هـ کښې د امیر سبکتګین د نامور فرزند سلطان محمود غزنوي په مشرئ کښې. بیا په ۸۹۴هـ کښې د سلطان معزالدین محمد ابن سام غوري په مشرئ[68] کښې. بیا په ۷۰۰هـ کښې د خاندان سلاطین بنج د مشهور سلطان امیر هنده په مشرئ کښې په دے علاقو غزا ګانے شوے وے. او د سلاطین پنج د ۷۰۰هـ د غزاګانو نه روستو دا ملک په پوره طور سره د اسلام په رنړا روښانه شوے[69] وو.او بیا چه د ۸۵۰هـ په شاؤ خوا کښې د یوسفزی قوم د ملي زائے نوم قبیلے مشهور قومي سردار او غازي ملک محمد شاه په دے علاقو غزاګانے اوکړلے[70]. او د سلطان محمد شاه په نوم یئے په دے علاقو کښې د مسلمانانو اقتدار قائم کړو. نو د ملي زاي قبیلے خلق د نیاګ دره کارو دره. عشیرئ دره. پنجکوړه دره وغیره وغیره تر بره سرو نو خواره شول. او د اسلام رنړا د دے ملک تر آخیري سرونو او رسیدله.

دے ملک ته د اسلام د رنړا رارسیدلونه روستو بے شمیره عالمان بزرګان او مشائیخ د تبلیغ د پاره رارسیدلي وو. د هغوئ له برکته په دے ملک کښې هم ډیر لوئ لوئ بزرګان او عالمان پیدا شوي وو. چه د هغوئ د روحاني فیوضاتو له برکته تر نن ورځے پورے دا علاقه سر سبزه او آباده ده.

---

[68] تاریخ صولت افغاني.
[69] تذکرة الا برار
[70] تذکرة الا برار

د رياست دير علاقے ته د ملي زايئے قبيلے د راتللو د ۸۵۰هـ نه تقريباً يو نيم سل كاله روستو په ۹۸۳هـ كښې چه د شهنشاه جلال الدين اكبر مشهور جرنيل زين خان كوكه د باجوړ علاقه په مغولي حكومت كښې شامله كړه[71]. نوا ګرچه د شهنشاه اكبر د يو فرمان (۱۰۰۴هـ) نه معلوميږي چه د رياست دير هغه علاقه چرته چه د ملي زائيے قبيلے خلق آباد دي. د مغولي اقتدار د لاندې نه وه راغلے آزاده وه. ليكن د حكومتي اقتدار سره بے شميره سادات. عالمان او مشائيخ دے ملك ته راخوره شوي وو. او د هغوئ له بركته د شريعت او طريقت د علمونو يو نوے دور دوران په دے ملك راغلے وو. او چه كوم د خدائي نيك بندګاه وو. د هغوئ مخه د علم دين. شريعت. معرفت او حقيقت حاصلولو ته راګرځيدلے وه. چنانچه په دغه شان نيكانو بندګانو كښې يو نيك بنده محمد الياس خان ولد محمد عيسى خان "ملى زائے" وو. چه د نياګ درے نه راولاړ شه او د علم دين حاصلولو طرف ته يئے توجه را اوګرځوله. او د قابلو استادانو په تعليم او تربيت سره د كمال درجه يئے حاصل كړه په هغه زمانه د موجوده رياست دير د علاقه لرسيند په "سدو" نومے كلي كښې حضرت نجيب الدين اخندزاده نومِ عالم وو. د هغوئ نه يئے ديني علمونه په درس او لوستل د علم دين حاصلولو په سلسله كښې څه موده يئے چه

[71] تذكرة الا برار

موضع "خونګو" کښې د تالاش په زيارت کښې او د باجوړ په چار منګ نومے علاقه کښې هم تيره کړے وه. په دغه دوران کښې حضرت ميا محمد عمر (مزار چينګئ علاقه شموزاۍ ے اتمانخيل) او ميا محمد اسماعيل (مزار موضع بابړه علاقه چار منګ باجوړ) يئے د سبق ملګري[72] وو په ديني علمونو کښې د کمال حاصلولو نه پس يئے د طريقت او معرفت د علمونو حاصلولو طرف ته توجه او فرمائيله او په دغه غرض د هندوستان په سفر روان شه.

په دے سفر کښې ميا نور محمد ولد کريم داد شهيد ولد اخوندرويزه ورسره ملګرے [73]وو.داسے معلوميږي. چه څه وخت د هند په سفر د روانيدلو اراده يئے کوله. نو د دغے نه وړاندے د دے دوړو بزرګانو يعنے اخون الياس او ميا نور محمد تر منځه مشوره شوے او نيته ايښودے شوے وه. ځکه چه د محمد شريف سواتي د روايت مطابق دوئ دواړه د بټ خيله په مقام يو ځاي شوي وو. او بيا د دے ځاي نه دواړه د شاه کوټ په کنډو ښکته او ختلي او هند ته تللي وو. چه اولنے پراؤ يئے د پنجاب په لاهور نومے ښهر کښې نيولے وو.

لاهور ته دوئ په ۱۰۴۰هـ کښې رسيدلي وو. چه په دغه وخت کښې د حضرت اخوند الياس عليه الرحمة عمر۴۹ کاله وو. يعنے

---

[72]د ابراهيم خيلو ساداتو قلمي ياد داشتو نه.

[73]تذکرة اخون الياس تاليف د محمد شريف سواتي.

پوره د پوخ عمر بزرګ وو. په دغه زمانه حضرت سیدنا آدم بنوري قدس سره په لاهور کښې موجود وو. حضرت سید نا آدم بنوري قدس سره چه په اصل مشوانے سید دے. او د سرهند نومے علاقه د بنور نومے کلي د استوګنے په وجه په بنوري نامه یادیږي[74].په اول سر کښې د حضرت خواجه حضرت تارانړ مرید[75] وو.(تا رانړ د حضرت سید محمد طاهر الملقب په تا رانړ اولاد دے او سیدان دي. په ویش کښې د کاکړ قبیلے سره شمار دي په دغه وجه د افغان په نوم هم یادیږي. دا بحث مخکښې هم تیر شویدے) چه حضرت خواجه خضر تارن وفات شه نو بیا یئے د حضرت مجدد الف ثاني قدس سره نه په سلسله عالیه نقشبندیه کښې بیعت کړے وو. او چه په ۱۰۳۵هـ کښې حضرت مجدد الف ثاني وفات شه. نو بیایئے د حضرت شیخ احمد سرهندي مجدد الف ثاني د مشر خیلفه حضرت خوجاه سید محمد طاهر قادري، نقشبندي مجددي المعروف په طاهر بندګی علیه الرحمة نه تجدید د بیعت کړے[76] وو. (دغه حضرت سید طاهر بندګی د حضرت مجدد الف ثاني مشهور خلیفه او د حضرت مجدد د صاحب د دواړو ځامنو حضرت شاه معصوم او حضرت احمد سعید استاذ هم وو. او د حضرت مجدد صاحب د حکم مطابق په لاهور کښې اوسیده.) په ۱۰۴۰هـ کښې حضرت سید طاهر بندګی وفات شوے وو. او د هغه د

---

[74]شجره اکملیه.

[75]نوارالاصفیاء

[76]انوار الا صفیاء.

فاتحے د پاره حضرت سیدنا آدم بنوري قدس سره لاهور ته تشریف راوړے وو. چه په دغه نیټه حضرت اخون الیاس او میا نور محمد قدس الله اسرار هم دواړه د حضرت سید نا آدم بنوري په خدمت کښې حاضر شول. او د هغوئ نه یئے په سلسله عالیه نقشبندیه مجددیه کښې بیعت[77] اوکړلو. ورپسے روستو د دوئ دواړو د خپل پیر طریقت په ملګرتیا کښې څه موده په لاهور کښې او بیا په قصور کښې تیره کړله. حضرت حاجي عبدالله بهادر کوهاټي علیه الرحمة په دغه زمانه په قصور ښهر کښې وو. هغه هم ورسره ملګرے شه او د حضرت سیدنا آدم بنوري قدس سره نه یئے لاس نیوه اوکړله. څه نیټه پس (۱۰۴۳هـ) حضرت میا کریم داد ولد اخوندرویزه علیه الرحمة هم قصور ښهر ته تشریف راوړے وو. د دے ځاي نه بیا دا بزرګان د دکن بیجا پوره ته او بیا د هغه ځاي نه آکرے ته لاړل. په دے سفر کښې حضرت میا کریمداد شهید په اګره کښې پاتے شه[78]. او حضرت میا نور محمد ولد میا کریمداد شهید حضرت اخون الیاس قدس سره. حضرت حاجي بهادر صاحب د کوهاټ قدس سره او حضرت میا محمد عمر شموزائے اتمان خیل د چینګئ قدس سره. میا محمد صدیق بائي زاے (مزار آلو قاسمے. مردان) او نور کنړ

---

[77] د مناقب آدمیه صفحه۱۳۴ د روایت مطابق حضرت شیخ محمد الیاس علیه الرحمة ه دے موقع باند د حضرت بنور صاحب د مشر فرزند حضرت خواجه محمد (متوفي ۱۰۶۵هـ) نه بیعت کړے وو. او بیا روستو چه د حضرت بنور صاحب سره حج له تلے وو. نو هلته یئے د هغوئ نه خرقه د خلافت حاصل کړے وه.
[78] قلمي یاد داشتو نه د میا نور محمد محمد پشاوري.

پښتانه مريدان د حضرت سيدنا آدم بنوري قدس سره په ملګرتيا کښې د هلي ته راغلي. په تاريخي اعبتاره سره دا د ۱۰۴۹هـ واقعات دي او په دغه نيټه په دهلي باندې د شاه جهان بادشاهي وه.

روايت دے چه د بعض سياسي وجوهاتو په بناء د شاهجهان بادشاه د طرف نه حضرت سيدنا آدم بنوري قدس سره ته اووئيلے شو چه د دهلي نه دے لاړ شي. د شاهجهان د دے حکم وجه دا بيان شويده. چه حضرت سيدنا آدم بنوري په قام مشوانے وو. مشواني اګر چه سيدان دي. ليکن په ويش کښې د غرغشتي قوم د کاکړ وپښتنونه شميرلے شي[79]. بله دا چه حضرت سيدنا آدم بنوري چه په اول سر کښې د حضرت خواجه حضرت تارن نه لاس نيوه کړے وه. د هغے نه وړاندے د جهانګير بادشاه په زمانه کښې په فوځ کښې عهده دار وو. روستو اګر چه سيدنا آدم بنوري دنياداري پريښے وه. ليکن چه څه وخت دهلي ته راغے او څه د پاسه يو لک مريدان ورسره وو. چه په هغے کښې زيات تعداد د پښتنو مريدانو وو. نو د شاهي دربار بعض اميرانو او وزيرانو ترينه خطره محسوسه کړه. او بادشاه يئے په دغه شان حکم ورکولو مجبوره کړ[80].حالانکه د دوئ دغه خطره بيځايه وه.

---

[79]صولت افغاني، مخزن افغاني او شجره اکمليه.

[80]شجره اکميله.

حضرت سیدنا آدم بنوري قدس سره د دهلي نه راروان شه او په ۱۰۵۰هـ کښې لاهور ته اورسیده. او یو ځل بیا شاهجهان بادشاه ته هغه خطره وړاندې کړې شوه چه کومه وړاندې بیان شوه. بادشاه داسې کار او کړ چه خپل وزیر اعظم نواب سعید الله او مولانا عبدالحلیم سیالکوټي یئې د حال احوال معلومولو د پاره د بنور صاحب لیدلو له اولیږل. هغوئ چه کوم تحقیقات اوکړل شاهجهان په هغې فکر مند شه. او حضرت سیدنا آدم بنوري قدس سره ته یئې دا مشوره ورکړه چه تاسو د حج د پاره تشریف یو سئ نو بهتره به وي[81].چنانچه حضرت سیدنا آدم بنوري قدس سره د ۱۰۵۰په آخر کښې د حج په سفر روان شه. او په ۱۰۵۲هـ کښې د حج په موقع بیت الله شریف ته اورسیده. په دغه سفر کښې د نورو بې شمیره مریدانو نه علاوه حضرت اخون الیاس قدس سره هم د خپل پیر طریقت سره ملګرې وو. او دهغوئ په ملګرتیا کښې یئې په دغه ۱۰۵۲هـ کښې اولنې حج اوګذاره د کتاب "قائد الانام" د روایت مطابق حضرت سیدنا آدم بنوري سره د خپلو مریدانو د مکې معظمې د کوه صفا خواته نزدې په دار الخیرزان کښې اوسیدلو. چه د دغه ځاي پخوانې نوم دارارقم وو او د حضرت نبي کریم علیه التحیة والتسلیم پکښې استوګنه کړې[82] وه.په ۱۰۵۳هـ کښې درویم حج ګذارلو

---

[81]انوار الا صفیاء
[82]قاءد الا نام قلمي ۱۱۷۲هـ

نه پس چه حضرت سید نا آدم بنوري قدس سره په مدینه منوره کښې وفات شه نو حضرت اخون الیاس قدس سره شپږ کاله نو هم په مدینه منوره کښې تیر کړل. او په ۱۰۵۹هـ کښې خپل وطن ته راروان شه[83].په دے اعتبار سره په ۱۰۶۰هـ کښې خپل وطن ریاست دیر ته د دوئ د واپس رارسیدلو زمانه اندازه کوؤلے شو.

حضرت شیخ المشائیخ اخوند الیاس قدس سره چه خپل وطن ته واپس راغے نو د موجوده ریاست دیر د میدان نومے علاقے مشرق طرف ته غرونو کښې په لاجبوک نومے مقام کښې یئے استوګنه اختیار کړه. او د خدائ مخلوق یئے د شریعت او معرفت د علمونو په ظاهري او باطني فیوضاتو سر فرازه کړل. د دوئ روحاني فیوضات بے شمیره او بے حسابه دي. د دوئ د پاکےاو مبارکے سینے نه چه د انوارو کومے تجلے پورته کیدلے او تر نن ورځے هم پورته کیږي. د هغے مثال د روښانه نمر د شغلو دے. چه دا ملک پرے د یو ګوټ نه تر بله ګوټه پورے روښانه شوے وو. او تر نن ورځے پورے روښانه دے.

حضرت اخوند الیاس قدس سره د خپلے زمانے ډیر لوئي فاضل عالم وو. او تر ډیر روستو زمانے پورے په دے خاندان کښې ډیر لوي لوئ عالمان او بزرګان تیر شوي دي. چه په علم تفسیر. حدیث او فقهه کښې د

---

[83] نظرت نامه

درجه د فضیلت یئے لرله. د مثال په طور د دے خاندان د یو نامور عالم ملا باز میر اخون زاده تالیف "لاجبوکئ حاشیه" د عالم فقهه یو غوره کتاب دے. چه تر اوسه پورے د عالمونو په درس کښې مقبولیت ورته حاصل دے[84].

نقشبندیه طریقه یوه خاموشه طریقه ده. "خلوت درجلوت" او "دست باکار ودل بایار "یئے اصول د. په دے طریقه کښې د شریعت اسلام د ظاهري او باطني احکامو د مکملے پابندئ کولو تعلیم او تربیت ورکوؤلے شي. او هر کله چه په دے طریقه کښې د ذکر کولو ټول دارو مدار په زړهٔ باندے دے. د زړهٔ په ژبه د لفظ الله ذکر کوؤلے شي. نو لازمی نتیجه یئے داشي. چه د بنده زړهٔ مسلمان شي. بیا د بنده مسلماني تشه د خولے مسلماني نه وي. بلکه د زړهٔ مسلماني وي. او که فکر اوکړو نن چه د ریاست دیر د خلقو زړونه مسلمانان دي نو دا په حقیقت کښې د اخون الیاس قدس سره د مبارکو تعلیماتو او پاکیزه انفاسو برکت دے. بیشکه نن په توله دنیا باندے خرابه هروا را آلوتلے ده. ناکراره خویونه او عادتونه عام شوي دي. بد عملي زور شوے ده. لیکن بیا هم په مجموعي حیثیت سره د ریاست د خلقو په زړونو کښې چه د اسلام سهر کومه مینه ده. هغه ډیر لوئ څیز دے.

---

[84] حاشیه لاجبوکئ مطبوعه مطبع مصطفائ پشاور

حضرت اخون الیاس قدس سره په ۱۰۸۶هـ کښې د څلور کم سل اکالو په عمر کښې د دے دنیا نه سفر اوکړ[85]. او په مقام د لاجبوک کښې یئے مزار مبارک جوړ کړلے شه. چه د روحانیت او ولایت د انوارو مرکز دے. او مرجع د خاص او عام دے.

د حضرت اخون الیاس نقشبندی مجد دی قدس سره په نمسو کښې یو نامور نمسي اخندزاده غلام محمد خان علیه الرحمة د لاجبوک نه د موجوده ریاست دیر مرکزي مقام "دیر" ته په کډه لاړ. او هلته یئے د روحاني رهنمایئ او پیشوائئ سره سره د قبائیلي سر دارئ په شکل د حکومت بنیاد کیښودلو. او د ده نه روستو د هغه نامور فرزند حضرت محمد قاسم خان علیه الرحمة د هغه ګدئ نشین شه.

اخندازاده قاسم خان علیه الرحمة

حضرت اخند زاده محمد قاسم خان علیه الرحمة یو ډیر جلیل القدر بزرګ تیر شوے دے. چه په یو وخت د روحاني پیشوا. قومي رهنما. مرد مجاهد او غازي او د فاتح حکمران تعریفونه یئے لرل. د الفنستن د تاریخ افغانستان د بیان مطابق د ده په زمانه کښې د ریاست دیر په مختلفو علاقو او خواؤ شانزدے علاقو کښې تقریبا دیرش لوئ خانئ وے. چه څه موده پس هغه ټولو د

---

[85] مکتوب نظاب

ده اقتدار او مشری تسلیم کړله. او چه زیاتي قوت او طاقت یئے حاصل کړلو. نو د ریاست دیر د کوهستاني علاقو فتح کولو نه روستو ترکا شغر او چترال پورے ملکونه یئے فتح کړل. او بل خواته د سمت مشرقي افغانستان په مشهوره علاقه کافرستان یئے غزاګانے اوکړلے. او د شاه شجاع په زمانه کښې چه انګریزانو په افغانستان کښې عمل دخل حاصلول غوښته په دغه نیته هم اخندزاده محمد قاسم خان علیه الرحمة د مجاهدین اسلام په مرسته او د انګریزانو په خلاف جهادونه کړي وو[86].

تاریخي افتخار

د حضرت اخند زاده محمد قاسم خان یوسفزئي په لویو افتخارانو کښې یو لوئ افتخار چه هغه ډیر لوئ تاریخي اهیت لري دا دے. چه د مشهور تاریخي شخصیت حضرت سید جمال الدین افغاني د والد ماجد سید محمد صفدر مور بي بي یعنے د سید جمال الدین افغاني نیا بي بي علیه الرحمة د دے محمد قاسم خان لوروه[87]. او د دغے نه علاوه د ریاست دیر دوه مشهور بزرګان (۱) حضرت اخوند صاحب د کوټو چه د باجوړ د مشهور حکمران سخي عرب خان نمسکے دے. او د مزار جان جانان نقشبندي خلیفه دے. (۲) او حضرت صاحبزاده مرید احمد صاحب د اوچ چه دے هم د حضرت مرزا جان جانان نقشبندي

[86] جهان دیر (قلمي) چه ځما (اثر افغاني) تالیف دے.
[87] تذخرة د سید افغاني

محمدي، معصومي مريد وو. دا دواړه بزرګان د حضرت اخندزاده محمد قاسم خان همعصر وو[88]. او د دے درے واړه مشهورو بزرګانو په ذريعه د رياست دير په زمکه د حضرت مجد الف ثاني قدس سره د سلسله نقشبنديه مجدديه د دواړو شاخونو "بنوريه" شاخ فيوضات د اخندزاده محمد قاسم خان په واسطه او د معصوميه شاخ فيوضات د کوټو او اوچ د حضرت صاحبانو په ذريعه خواره وو. او په دے شاه سره په دے ملک کښې اسلام ته تقريت حاصل وو. په روحاني اعتبار سره د حضرت محد قاسم خان اخند زاده زمانه د رياست دير يو زرين عهد ګڼړلے شي. د دوئ د حکومت په ابتدائ ورځو کښې.

(۱) د حضرت ميا محمد عمر موسى خيل چه په اصل د جندول د شالکنډئ درے دے. او د پيښور په څمکنو کښې د استوګنے په وجه په ميا عمر چمکني مشهور دے. د هغه کشرے ځوي حضرت عبيد الله ميا ګل په موضع معيار علاقه جندول کښې اوسيده[89].

(۲) حضرت سيد يوسف نور ولد سيد عظيم الدين ولد سيد پير بخش ولد سيد ميا داؤد[90] ولد سيد ميا اودل ولد ميا مصطفع ولد پير

[88] نظم الدرد
[89] کليات دا دين
[90] شجره سادات شيخ ذکريا خيل

بابا علیهالرحمة په موضع کامبټ کښې اوسیده[91]. او په طریقه نقشبندیه مجددیه بنوریه کښې د حضرت عبیدالله میا ګل مرید وو[92].

(۳) د بنوریه خیل ساداتو ګنړ خاندانو هم د دوئ په زمانه کلې د ریاست دیر علاقے ته راغلي وو.

(۴) د حضرت کاکا صاحب علیه الرحمة د یو ځوئ نوم محمد ګل دے. چه د حضرت سیدنا آدم بنوري قدس سره خلیفه وو. او د حضرت اخون الیاس قدس سره پیر بهائي او د حج د سفر ملګرے وو. د دے حضرت میا محمد ګل قدس سره اولاد د ملاکنډ اینجسئ په موضع کوټ مینه کښې آباد وو. د حضرت اخندزاده محمد قاسم علیه الرحمة د حکومت په زمانه کښې دا کورنئ د مجوده ریاست دیر میدان نومے علاقه ته راغلله . او دلته آباده شوله. چه اولاد یئے نن ورځے په موضع ګاورکټ کښې دے او په شیخانو یادیږي[93].

---

[91] تضمین د پند نامه عطا
[92] شجره شیخ محمد ګل
[93] د حضرت سید داؤد مزار مبارک په موضع کامبټ علاقه جندول کښې دے. (اثر)

غرض دا چه د حضرت اخندزاده محمد قاسم نقشبندي مجد دي بنوري په زمانه کښې د رياست دير حدود تر ډير لرے لرے پورے رسيدلي وو. د چار چاپيره علاقو نه عالمان او مشايخ ورته راغونډ شوي وو. او په دے ملک کښې د دنيدارئ يو ښکلے دوران وو.

حضرت غزن خان اخندزاده عليه الرحمة

د حضرت اخندزاده محمد قاسم خان نه روستو د هغه نامور فرزند حضرت اخندزاده محمد غزن خان سجاده نشين شه. دے ډير لوئ فاضل عالم وو. تقوی دار بزرگ وو. او نامور حکمران وو. د ده په زمانه کښې د سوات تر څه حصے پورے د رياست دير د اقتدار لمنه اوګده شوے وه. د دوئ زمانه د دے ملک د پاره په هر لحاظ سره د برکت زمانه ګنړلے شي. او په ديني او دنياوي دواړه لحاظ سره دے ملک ته او د دے ملک خلقو ته نيک بختئ حاصلے وے.

حضرت رحمت الله خان اخندزاده عليه الرحمة

د حضرت محمد غزن اخندزاده عليه الرحمة نه روستو د هغه نامور فرزند محمد رحمت الله خان ګدئ نشين شه. دے ډير فاضل عالم. ديندار او پرهيز ګاره مشر او مجاهد او غازي بزرګ وو. د سرکاوئ په جهاد (۱۸۶۳ء) کښې سره د يو عظيم الشان لښکر نه شامل شوے وو. او د روحاني

رهنمایئے سره سره یئې د دے ملک د منظم حکمرانئ بنیادونه نور هم مضبوط کړي. او په دے شان یئے د اسلام لوئ خذمتونه کړي دي. حضرت اخندزاده رحمت الله خان علیه الرحمة چه په ۱۳۰۲هـ کښې وفات شه. نو دهغه په ځاي اخندزاده نواب محمد شریف خان ګدی نشین شه. د هغه د وفات ۱۳۲۳هـ نه روست واخندزاه دبادشاه خان ګدی نشین شه. بیا د هغه د وفات (۱۳۴۴هـ) نه روستو نواب محمد شاه جهان خان اخندزاه ګدی نشین شوے وو. چه په ۱۳۸۰-۱۳۷۰هـ کښې د هغه د معزوله کیدلونه روستو د هغه فرزند ارجمند نواب محمد خسرو خان ګدي نشین شوے دے.

حضرت اخوندالیاس یوسفزیے نقشبندی مجددي قدسر سره چه په ۱۰۲۰هـ کښې د حج بیت الله الځرام نه په واپسئ کښې د ریاست دیر په زمکه کوم مبارک قدمونه ایښي وو. او د هغوئ د پاکے او صافے مینے په انوارو چه کومه زمکه رنړا شوے وه.په هغه زمکه د هغه اولاد او خاندان په دیني او دنیا وي دواړو لحاظونر سره په عزت کښې دے. شرافت او بزرګي ور ته حاصله ده. او دا د دے خبرے یو روښانه دلیل دے. چه هر هغه څوک چه هغوئ خپل ژوند د اسلام خذمت ته وقف کړے وي. پس د مرګ نه هم چه هغه په کومه خاوره کښې پوروت وي. هغه ملک پرے روښانه وي.

علیهم الرحمة والغفران

یادګیرنه:

د حضرت سیدنا آدم بنوري علیه الرحمة د مشهور مرید حضرت محمد امین بدخشي مکي په کتاب "مناقب آدمیه" (قلمي نسخه) صفحه۱۳۲ کښې لیکي چه شیخ محمد الیاس باجوړ چه د حضرت سیدنا آدم بنوري په خاصانو مریدانو کښې دے. په مکه مکرمه کښې کعبه معظمه ته مخامخ ناست وو د روژے میاشت وه. په اعتکاف کښې وو. اخوند الیاس راته اووئیل چه ما د حضرت سیدنا آدم بنوري د مشرى فرزند حضرت خواجه محمد صاحب نه ډیر فیوضات موندلي دي. (او بیائے روستو د فیوضاتو موندلو واقعات ذکر کړیدي)

مریدان:

(۱) د حضرت اخوند الیاس علیه الرحمة یو مشهور مرید هغه بزرګ دے چه د ریاست دیر د اخند زادګانو صاحبانو نیکه دے. او پخپله زمانه لوئ صاحب تصرف بزرګ تیر شویدے. اولاد یئے بختوره او عزتمنده کورنئ ده.

(۲) دویم مرید یئے حضرت ملا مزید صاحب علیه الرحمة وو. چه په قام باندے تاراڼ سید وو. مزار مبارکت یئے په علاقه میدان کښې د مرکزي مقام لعل قعله نه د دوه درے میله په فاصله د درهٔ

قتوړ زائے او اننګوړي دره په منځ کښې دے. اولاد یئے نیک خلق او پشت په پشت عالمان دي.

حضرت شیخ حبیب پشاوري علیه الرحمة

ولادت .... سرهند ۹۸۷هـ

وفات................................ پیښور ۱۰۹۲هـ

حضرت مولانا حافظ اخوند شیخ حبیب الله المعروف په شیخ حبیب پشاوري په تاریخ ۱۱، د محرم الحرام ۹۸۷هـ په ورځ د چار شنبې په مقام د سرهند پیدا شوے وو. ابتدائ تعلیم یئے په سرهند کښې حاصل کړے وو. او هر کله چه د دوئ عمر مبارک یو ځلیوښت کاله ته اورسیده نور په ۲۱، تاریخ د رجب المرجب ۱۰۲۸هـ ورځ دا تبارلوړ مازیګر یئے د حضرت سید الطائفه سید نا آدم بنوري قدس سره نه په سلسله عالیه نقشبندیه کښې بیعت اوکړ.ا و دهغے نه روستو تر ۱۰۵۳هـ یعنے د سیدنا آدم د وفات تر زمانے پورے یئے د خپل پیر طریقت په ملګر تیا کښې عمر تیر کړ. او په مقام د مکه مکرمه (۱۰۵۲هـ) کښې یئے د هغوئ نه خرقه د خلافت حاصله کړے[94] وه. د خپل پیر طریقت د وفات (۱۰۵۳هـ) نه روستو اوه

[94] آئینه تصوف

کاله نور یئے هم په حرمینو شریفینو کلې تیر کړل او په ۱۰۲۱هـ کښې واپس پیښور ښهر ته یئے تشریف راوړلو.

د کتاب "تحفة الاولیاء" د روایت مطابق حضرت شیخ حبیب پشاوري قدس سره په سلسله عالیه چشتیه صابریه کښې د حضرت شیخ فریدالدین المعروف شیخ فرید ابن شیخ اخون پنجو بابا مرید وو. او د هغوئ نه یئے د سلسله عالیه سهروردیه فیوضات هم حاصل کړي وو[95].

حضرت شیخ حبیب پشاوري د حضرت سید نا آدم بنوري په مشاهیرو خلیفه ګانو کښې د ممتاز درجے خاوند دے. په وادئ پیښور کښې چه د حضرت سیدنا آدم بنوري هر څومره خلیفه ګان وو. ټولو به یئے قدر او اخترام کؤلو خصوصي امتیاز یئے دا دے چه د سلسله عالیه نقشبندیه مجددیه د بنور یه شاخ فیوضات هم د دوئ په ذریعه تر نن ورځے په وادئ پیښور کښې خواره دي [96]. او روستو د دوئ د مریدانو په سلسله کښې ډیر لوئ لوئ بزرګان تیر شویدي چه روستو به یئے تذکره راشي.

حضرت سیدنا شیخ حبیب پشاوري د دوشنبے په شپه د ماسختن د نمانځه نه روستو په ۱۳، تاریخ د صفر المظفر ۱۰۹۳هـ وفات شوے دے[97].مزار مبارک یئے د پیښور

---

[95] تحفة الاولیاء

[96] شجره صدیقیه او شجره غفوریه

[97] کتبه د مزار

ښهر د وزیر باغ په مغربي ګوشه کښې دے. د وفات ماده د تاریخ یئے دا جمله ده (شیخ مامکمل بود) د دوئ د مزار په احاطه کښې د نورو ګنړو بزرګانو مزارات هم موجود دي. مزار یئے د روحاني فیوضاتو مرکز او مرجع د خاص او عام دے. علیهم الرحمة والغفران.

حضرت شيخ مانون يوسفزايے عليه الرحمة

ولادت
....
دهلي ۱۰۰۱هـ

وفات.................................
... شاه منصور ۱۰۹۹هـ

حضرت شيخ اخوند مانون عليه الرحمة په قام منډړيو سفزاے دے. د ضلع مردان تحصيل صوابي د موضع شاه منصور اوسيدونکے وو. والد ماجد يئے ه دهلي کښې اوسيده او هم هلته په ۱۴، تاريخ د شوال المکرم ورځ پنجشنبه وخت د تهجدد نمانځه ۱۰۰۱هـ حضرت شيخ اخوند مانون عليه الرحمة پيدا شه. ابتدائي تعليم يئے په دهلي او سهارنپور کښې حاصل کړے وو.د شاهجهان د حکومت په آخري زمانه کښې د دهلي (انډيا) نه خپل وطن ته راغے. او د حضرت مولانا شيخ المشائيخ صاحب الولايت حاجي بهادر عبدالله کوهاټي قدس سره نه يئے په سلسله عاليه نقشبنديه کښې بيعت اکړ. او په ۱۸، تاريخ د ربيع الاول ۱۰۶۸هـ ورځ د سه شنبے په مقام د آميرو نومے کلي د حضرت جي

بهادر صاحب قدس سره نه یئے خرقه د خلاف حاصل کړے وه[98].

حضرت شیخ اخون مانون قدس سره د حضرت حاجي بهادر صاحب قدس سره خلیفه اکبر وو. او هم د ده په ذریعه سره د دوئ د طریقت سلسله روست وباقي پاتے شوے ده. او روستو د ده په مریدانو کښې ډیر لوئ لوئ بزرګان تیر شوي دي. چه روستوبه یئے تذکره راشي.

حضرت شیخ مانون قدس سره په ۱۴، تاریخ د شوال المکرم ورځ د جمعے ۱۰۹۹هـ کښې د یو اتیا کالو په عمر وفات شه. مزار مبارک یئے په موضع تهکال بالا ضلع پیښور کښې دے. او مرجع د خاص او عام دے[99].

حضرت شیخ مانون چه په مقام د شاه منصور د دیني علمونو کوم درسګاه جوړ کړے وو. د دیني علمونو د درس او تدریس دغه مرکز تر نن ورځے قایم دے. ډیر لوئ لوئ عالمان پکښې تیر شویدي. چه په هغې کښې د مولانا محمد علیه الرحمة نوم د یادولو دے چه د ۱۲۳۰هـ د زمانے فاضل عالم وو. او په علم فقهه کښې سند ګڼړلے شه[100]. عالیهم الرحمة والغران.

---

[98]آئینه تصوف

[99]آئینه تصوف او قلمي یادداشتونه د شاه محمد سداومي "مرة الا ولیا تالیف"اخون محمد شعیب د تور ډهیري.

[100]یاداشتونه د شیخ عبدالغفور المعروف اخون صاحب د سوات (اثر)

حضرت مولانا شیخ سعد الله علیه الرحمة

ولادت
....
وزیر آباد ۹۷۷هـ

وفات...................................
.. وزیر آباد۱۱۰۲۲هـ

حضرت مولانا شیخ المشائیخ قطب الا قطاب سعد الله خان وزیر آبادي (پنجاب) د سلسله عالیه نقشبندیه، مجددیه، بنوریه په مشاهیرو بزرګانو کښې هغه جلیل القدر بزرګ دے. چه د دوئ فیوضات په مغربي پاکستان او افغانستان کښے تر نن ورځے خوارهٔ دي. او دا ملکونه نن هم د دوئ د پاکے او سفا سینے په انوارو باندے روښانه دي. د دوئ د سلسلے فیوضات چه د دوئ د کومو نامور و خلیفه ګانو او بیا د خلیفه ګانو د اولاد او خلیفه ګانو په ذریعه خواره شوے دي. د هغے تذکره به روستو راشي.

حضرت مولانا سعد الله خان په ورځ د چار شنبے (وخت د ماښام او ماسختن ترمنځه) تاریخ ۱۶، د ماه شوال المکرم ۹۷۷هـ په مقام د وزیر آباد (پنجاب) کښې پیدا شه. ابتدائ تعلیم یئے دهغه زمانے د

نامورو عالمانو څخه په وزیر آباد کښې او بیا په لاهور کښې اوکړ. او بیا د برصغیر پاک وهند د نورو ګڼرو عالمانو څخه د دیني علمونو تکمیل یئے کړے وو. د هغے نه روستو په ورځ دو شنبے روخت د نماز پیښین نه روستو) په ۱۴، تاریخ د صفر المظفر ۱۰۳۷هـ کښې په مقام د بنور د حضرت سید الطائفه شیخ آدم بنوري قدس سره نه یئے خرقه د خلافت حاصل کړے وه. د حج بیت الله الحرام په مبارک سفر کښې د خپل پیر طریقت ملګرے وو. د هغے نه روستو تر ډیرے مودے پورے د افغانستان. خراسان او مغرب پاکستان په مختلفو علاقو کښې یئے د شریعت او معرفت په فویضاتو خوره ولو کښې عمر تیر کړ. او په ۱۰۸۲هـ کښې یئے واپس وزیر آباد ته تشریف راوړ. او د رشد او هدایت د یو ډیر شاندار او پاکیزه ژوند تیره ولو نه روستو د یو سل پنځویشت (۱۲۵) کالو په عمر په ورځ د پنجشنبه (د ماښام د نمانځه نه مخکښې) په ۱۹، تاریخ د ذالحجه ۱۱۰۲هـ په مرتبه د جبروت کښې وفات شه[101].مزار مبارک یئے په وزیر آباد (مغربي پاکستان کښې دے. او مرجع د خاص او عام دے. علیه الرحمة والغفران.

د حضرت مولانا سعد الله خان قدس سره نه روستو د دوئ فیوضات چه د دوئ د کومونا مورو خلیفه ګانو په واسطه سره خواره شوي دي. دلته په خصوصیت سره د دوئ

---

[101] آئینه تصوف بحث د سلسله جنیدیه. او د کتاب نافع المسلمین. شجره طریقت

د دوه مشهورو خلیفه ګانو مبارک نومونه ذکر کول ضروري ګڼو. د پاره د دے چه د دے جلیل القدر بزرګ د اوچتے عرفاني او روحاني مرتبے اندازه لګول ترینه اسان شي.

حضرت میا عبدالحئ حبیب الله

د حضرت مولانا سعد الله خان د یو نامور خلیفه نوم حضرت مولانا میا عبدالحئ المعروف په حبیب الله سندهي[102] دے چه د وادئ سندهـ د مشهور ترین بزرګ حضرت شاه عبداللطیف بهټاني قدس سره والد ماجد دے. (روستو به یئے تذکره راشي.)

حضرت مولانا شیخ احمدداؤد زائے

د حضرت مولانا سعد الله خان د دویم نامور خلیفه نوم دے حضرت مولانا شیخ المشائیخ احمد داؤد زایئے[103]. چه د ضلع پښاور د موضع پجګئ (علاقه داؤد زایے) اوسیدونکے وو. لوئ فاضل اع کامل عارف وو. د پښتو ژبے ادیب او شاعر هم وو. د عالم فقهه یو منظوم پښتو کتاب ترینه یادګار پاتے شویدے[104]. د قادریه او نقشبندیه دواړو سلسلو پیر طریقت وو. او په خصوصیت سره په سلسله عالیه نقشبندیه مجددیه، بنوریه کښې چه کوم نسبت ورته

[102] آئنه تصوف
[103] نافع المسلمین
[104] الشرایع والا حکام (قلمي)

حاسل وو. د هغے فیوضات یئے په شمال مګربي پاکستاني پاکستان کښې خواره کړي دي. په آخر عمر کښې په موضع نحقئ خرقئ (علاقه داؤدړے) کښې اوسیده. او هم دغلته په ۱۱۱۸هـ کښې وفات شوے وو. علیه الرحمة والغفران.

حضرت شیخ سعادت داؤد زایے

د حضرت مولانا شیخ احمد داؤد زایئے په مشاهیرو خلیفه ګانو کښې حضرت مولانا شیخ سعادت قدس سره یو جلیل القدر (بزرګ) عالم، فقیهه، اصولي او مځدث عالم وو. د سلسله عالیه نقشبندیه او قادریه پیر طریقت وو. د خدایئے مخلوق ته ترینه ډیر لوئ فیض رسیدلے دے. دمیا ګل اخوند شیخ سعادت په نامه مشهور دے[105].په موضع تحقئ خرقئ (علاقه داؤد زایے) کښې اوسیده. په ۱۱۴۵هـ کښې وفات شویدے. مزار مبارک یئے د حضرت مولانا شیخ احمد سره یو ځایے دے. دا دواړه بزرګان (پیر او مرید) د نحقئ په اخونانو یادیږي[106]. علیهم الرحمة والغفران.

حضرت شیخ مولانا اخوند ګدا

د حضرت مولانا میا ګل اخوند سعادت نه د سلسله عالیه قادریه او نقشبندیه فیض حضرت مولانا شیخ المشائیخ اخوندګد اقدس سره ته رسیدلے وو. چه دے هم پخپله زمانه

---

[105]نافع المسلمین
[106]قصیده د محمد خان عمرزایئے

مشهور بزرګ نامور فاضل او محقق عالم وو. د شریعت او طریقت په دواړو علمونو کښې درجه د کمال ورته حاصله وه. د پښتو ژبے نامور ادیب هم وو. د علم توحید، فقهه او تصوف په موضع یئے د "نافع المسلمین" په نوم یو کتاب تالیف کړیدے چه شهرت او مقبولیت ورته حاصل شویدے. او ټولپښتانه که نارینه دي که زنانه یو شان ترینه فائده حاصلوي.

حضرت مولانا شیخ المشایخ اخون ګدا قدس سره تر ۱۱۷۳هـ پورے ژوندے وو. د وفات صحیح تاریخ یئے راته نه دے معلوم شوے. مزار مبارک یئے په ضلع پیښور علاقه دؤد زایې کښې د شاه عالم نومے سیند په غاړه په "بابوزي" نومے کلي کښې دے او مرکز د انوارو او مرجع د خاص و عام دے. علیه الرحمة والغفران.

حضرت شيخ سعدي بخاري لاهوري عليه الرحمة

ولادت .... سرهند ۱۰۰۳هـ

وفات................................... لاهور ۱۱۰۸هـ

د حضرت مولانا شيخ حاجي سعدي بخاري نقشبندي مجد دي نوم سعد الله وو. په ۱۰۰۳هـ کښې په مقام د سرهند پيدا شوے وو. مادر زا دولي وو. اويسي طريقه يئے وه. ابتدائي تعليم يئے د سهرند، ډهلي او لاهور د ممتازو عالمانو نه حاصل کړے وو. د هغے نه روستو حضرت سيدنا آدم بنوري قدس سره يئے پرورش کړے وو. خرقه د خلافت يئے ورته بخښلے وه. او د خپلو ځامنو د تعليم او تربيت کار يئے ورته حواله کړے وو. د حضرت سيدنا آدم بنوري مشر خليفه وو. او هم په دغه مناسبت روحاني فيوضات يئے عام وو. او په خصويصت سره د وادي پيښور. قبائيلي علاقو او افغانستان په علاقو کښې د حقيقت او معرفت کوم روښانه مشعلونه چه د دئ د مبارکو لاسونه روښانه شوي دي. هغه هر يو داسے ځلانده نمر دے. چه تر اوسه پورے دا ملک روښانه دے.

د حضرت سید نا شیخ سعدي خپل نوم سعد الله وو. لیکن خپل پیر طریقت به ورته له ډیرے مینے نه "شیخ سعدي" وئیلو او نن ورځے هم په دغه تعریفي نوم یادیږي. دے د حقیقت د معنی ګانو یو داسے پدر بزرګوار وو. چه روستو د لاهور ښهر په مزنګ نوم مقام کښې یئے استوګنه اختیار کړے وه. او د ددوئ د روحاني فیوضاتو او برکاتو دائره چار چاپیره تر لرے لرے ملکونو خوره وه. دلته په اجمال سره د دوئ د یو څو مشهورو خلیفه ګانو نومونه درج کوؤ چه روستو په هغوئ کښې د بعض مشاهیرو بزرګانو تذکره به هم په اختصار سره درج کړو.

(۱) حضرت مولانا اسماعیل غوري: (د دوئ تذخره په روستو راشي)

(۲) حضرت شیخ عبدالغفور کشمیري: (د دوئ تذکره به روستو راشي)

(۳) حضرت شیخ یحی چغتائي: (د دوئ تذکره به روستو راشي)

(۴) حضرت سید محمد قطب بنوري: (د دوئ تذکره به روستو راشي)

(۵) حضرت عبدالقادر خان خټک:

د خالق علیئین مکان خوشحال خان خټک فرزند دے په ۱۰۶۳هـ کښې پیدا شوے وو. په سلسله چشتیه او نقشبندیه دواړو کلي د حضرت مولاناشیخ سعدي بخاري مرید او خلیفه

وو. د پښتو ژبې نامور شاعر اديب. عالم او فاضل وو. په دې وجه خپل ټول همعصر شاعران لکه ميا عبدل ميا قاسم. مصري خان او اشرف خان هجري يئې د "خليفه صاحب" په نامه ياده وي. ګڼړ علمي او ادبي تاليفات لکه د اشعارو ديوان. قطعات. ګلدسته (ترجمه د ګلستان سعدي) شرح د قصيده برده وغيره ترينه يادګار پاتې شوي دي. په آخري عمر کښې په نوښهر (ضلع پيښور) کښې اوسيده. او په ۱۱۲۷هـ کښې شهيد شوې دې[107]. عليه الرحمة والغفران.

(۶) حضرت حليمه سعديه خټکه عليها الرحمة

حضرت حليمه بي بي عليها الرحمة د خان خوشحال خټک لور بي بي او د خان عبدالقادر خان خټک خوروه. د حضرت شيخ سعدي بخاري عليه الرحمة نه يئې په سلسله عاليه نقشبنديه کښې بيعت کړې وو. لويه عالمه فاضله. عارفه او د کشف او کرامت خاوند بزرګه بي بي وه. او د دغې نه علاوه اديب او شاعره هم وه. اشاعر يئې عارفانه او د تصوفي مسائلو نه ډک دي. د وفات تاريخ يئې راته معلوم شوې نه دې مزار مبارک يئې د خان خوشحال خان خټک د مزار په احاطه کښې دې او مرکز د انوارو او تجلياتو دې[108]. زهٔ (اثر افغاني) يئې د

---

[107] او

[108] پښتانه شاعران (قلمي څما اچر افغان تاليف)

مزار سلام له ورغلے یم. علیها الرحمة والغفران وقدس سر هالعزیز .

(۷) جضرت مولانا شیخ محمد فاضل پاپیني علیه الرحمة

حضرت مولانا شیخ محمد فاضل پاپیي علیه الرحمة د خپل وخت ډیر لوئ فاضل عالم وو. د حضرت سیدنا آدم بنوري قددس سره د مشهور خلیفه حضرت عبدالخالق حضور نه یئے په سلسله عالیه نقشبندیه کښې بیعت کړے وو. او بیا روستو د حضرت مولانا شیخ المشائیخ سعدي بخاري لاهوري نه یئے تجدید د بیعت کړے وو. خدائے پاک ورله ډیر اوږد عمر ورکړے وو. په وادئ پیښور. قبائیلي علاقو او افغانستان کښې چه د حضرت سیدنا آدم بنوري قدس سره هر څومره مریدان دي. غالباً چه د هغوئ ټولو د وفات نه تر ډیر روستو زمانے پورے ژوندے وو.

د پښتو ژبے مشهور شاعر مصري خان ګګیانړي چه د ۱۱۱۳هـ د زمانے د ایمل خان ګګیانړي د مرګ کومه واقعه بیان کړے ده. په هغه قصیده کښې یئے د حضرت مولانا شیخ محمد فاضل ډیر تعریف کړے[109] دے.او حضرت میا محمد عمر د څمکنو چه په خپل کتاب "اسرارالاسرار" کښې د دوئ کوم ذکر کړے دے. هغه به روستو راشي.

حضرت مولانا شیخ محمد فاضل قدس سره د ضلع پیښور تحصیل چارسده علاقه دو آبه په

---

[109] د مصري خان دیوان

موضع مته مغل خیل کښې اوسیده. هم هلته وفات شوے دے. او مزار مبارک یئے د موضع "کتوازایئے" ته مغرب طرف ته دے. مرجمع د خاص و عام دے[110].علیه الرحمة والغفران.

حضرت مولانا شیخ سعدي بخاري لاهوري قدس سره چه په خپل آخري عمر کښې هر څومره څله وادئ پیښورته تشریف راوړے دے. او د خپلے پاکے سینے په انوارو یئے دا علاقه روښانه کړے ده. د هغے بحث به روستو د میا محمد عمر ځمکنی قدس سره د تذکرے په ضمن کښې راشي. دا نامور بزرګ چه د طریقت پدر بزرګوار دے. او د دوئ د بلاواسطه او بالواسطه مریدانو په ذریعه په وادئ پیښور کښې او په نورو غواؤشا علاقو کښې چه د شریعت او سنت نبوي د احیاء د پاره کوم عظیم الشان کوششونه شوي دي. دیني علمونو او عالمانو ته کوم عظیم الشان کوششونه شوي دي. دیني علمونو او عالمانونه کوم عزت او وقار حاسل شوے دے. او د دوئ د روحاني فیوضاتو یوه عظیم الشانه سلسله تر نن ورځے په تول شمالمغربي پاکستان کښې خوره ده. دغه نامور ترین او بزرګ انسان په ورځ د چهار شنبے دریم تاریخ د ربیع الثاني په ۱۱۰۸هـ کښې په مقام د لاهور ښهر علاقه مزنګ کښې دے دنیا نه سفر اوکړ[111].مزار مبارک یئے د مزنګ په کومه حصه کښې واقع دے. هغه د دوئ د نوم په نسبت سره په

110پښتانه شاعران (قلمي) اثر
111خزینة الا صفیاء. او سر الا سرار

"سعدي پارک" یادیږي دهٔ (اثر افکان یئے سلام له ورغلے یم) علیه الرحمة والغفران.

حضرت شیخ سید محمد قطب علیه الرحمة

ولادت .... بنور ۱۰۴۵هـ

وفات.. پشاور ۱۱۰۸هـ

حضرت مولانا شیخ المشائیخ سید محمد قطب ابن سید خواجه محمد ابن سیدنا آدم بنوري قدس سره د حضرت سید خواجه محمد مشرے ځوي وو. په ۱۰۴۵هـ کښې په بنور کښې پیدا شوے وو[112]. ابتدائی تعلیم یئے د خپل والد ماجد نه حاصل کړے وو. حضرت میا محمد عمر څمکنو د حضرت سید خواجه محمدیو قول نقل کړے دے[113]. فرمائي! څما د فرزند سید محمد قطب د شیخ سعدي مرید دے" د دے قول نه معلومیږي چه د سید محمد قطب تول روحاني تربیت شیخ سعدي لاهوري فرمائیلے وو. او د نقشبندیه طریقے او نورو درے واړه سلسلو سهرودیه، قادریه، چشتیه فیوضات یئے هم د حضرت شیخ سعدي علیه الرحمة نه حاصل کړي وو.

---

[112]بنور د یو کلي نوم دے چه موجوده ریاست پټیاله جالندهر ډویژن کلي واقع دے. او دلته په هغه زمانه د غرغشتي قوم خصوصاً د مشواني ساداتو د قبیلے خلق آبد وو.

[113]خزینة الا سرار صفحه

د كتاب "مناقب حاجي بهادر" عليه الرحمة د يو روايت نه معلوميږي[114] چه هر كله حضرت شيخ حاجي عبدالله بهادر عليه الرحمة د حرمينو شريفينو د زيارت نه راواپس شه. او د ضلع كوهاټ علاقه هنگو په موضع متخوزه كښې يئې قيام او فرمايه. نو خپل پير زاده حضرت سيد محمد قطب قدس سره يئې كوهاټ ته رابللے وو. له پاره د دے چه د خاندان نبوت د دے گرامی قدر سيد زاده په بركت د دے علاقے خلق د اسلام صحيح لارے ته راواړوي. او خود ساختي پيرانو او سيدانو چه د خپلو ذاتي مفادو او ناكاره اغراضو د پوره كولو د پاره د دے ملك په مسلمانانو كښې كومے ډله بزي جوړے كړے دي. د خدائي مخلوق يئے د يو بل دښمنان كړي دي. ا د نوؤ نوؤر سوما تو راپيدا كؤلو په ذرعه يئے عوام گمراه كړی دي. د عالمانو سپكاوے كوؤل. وژل او د اسلام په نوم د اسلام خلاف كارونه كوؤل. او د د اهل بيت د رسول الله صلي الله عليه وسم او د خلفاء راشيدنو دښمنی كوؤل يئے خپل فرائيض گنڼلي دي. نو چه د دے صحيح النسب سيد زاده د تعليماتو او توجهاتو په بركت د دے گمراه شوي مخلوق اصطلاح اوشي. او دين اسلام ته تقويت حاصل شي.

مخكښې ليكي: هر كله چه حضرت سيد محمد قطب قدس سيره كوهاټ ته تشريف راوړ. نو د دوئ د مباركو انفاسو. تعليم او تبليغ په بركت د دے علاقے د مسلمانانو په

[114]كتاب مجمع الا نساب صفحه نمبر۱۳۱ و نمبر۱۳۷ (قلمي)

اعمالو او عقیدو کښې تر ډیره حده اصلاح اوشوه. څه موده پس دوئ بیا خپل وطن "بنور" ته تشریف یوړلو. او درے کاله پس سره د بال بچ نه کوهاټ ته په کډه راغے.

دا واقعات چه په اختصار سره د کتاب مناقب حاجي بهادر نه دلته رانقل کړے شول. په دے کښې دا نه ده ښودلے شوے. چه حضرت سید محمد قطب په اول ځل په کومه سنه کښې کوهاټ ته تشریف راوړے وو. بیا په کومه سنه کښې بنور ته واپس لاړ. او بیا په دویم ځل په کومه سنه کښې د بنور نه کوهاټ ته په کډه راغلے وو. بهر حال دومره یقیني ده. چه دا ټول واقعات د حضرت شیخ المشائیخ حاجي بهادر علیه الرحمة کوهاټي د وفات نه مخکښې واقع شوي وو. که مونږ د حضرت مولانا شیخ حاجي بهادر قدس سره د وفات تاریخ ۱۰۷۸هـ یا ۱۰۹۰هـ یا ۱۰۹۹هـ هر یو چه تسلیم کړونو د هغه تفصیل له مخه چه حضرت میا محمد عمر څمکني قدس سره پخپل کتاب "خزینة الا سرار" (صفحانمبر۴۰۰ نمبر۴۳۶ نمبر۴۴۲ و نمبر۵۲۰) کښې درج کړیدے. دے واضحه نتیجے ته رسیږو چه حضرت مولانا سید محمد قطب علیه الرحمة د حضرت حاجي بهادر قدس سره د وفات نه روستو لاهور (پنجاب) ته تشریف وړے وو. او باقي پاتے عمر یئے په سفر او حضر دواړه کښې د حضرت پدر بزرګو او شیخ المشائیخ سعدي بخاري لاهوري قدس سره په صحبت کښې تیر کړے وو.

د حضرت میامحمد عمر څمکنی علیه الرحمة د کتاب "سرالا سرار" په مختلفو حصو کښې چه د حضرت مولانا سید محمد قطب علیه الرحمة متعلق کوم تفسیلات درج دي. د هغې د مطالعې نه معلومیږي. چه حضرت سید زاده صاحب موصوف ګنړلې پیرې پیښور شهر ته تشریف راوړې وو. یو ځل په ۱۱۰۵هــ کښې. په دوئم ځل په ۱۱۰۶هــ کښې. او په دریئم ځل په ۱۱۰۷هــ کلې. د ۱۱۰۵هــ او ۱۱۰۶هــ د تشریف راوړلو حال به ئې روستو د حضرت میا محمد عم څمکنی په تذکره کښې بیان شي. البته په ۱۱۰۷هــ کښې چه دوئ پیښور ته تشریف راوړې وو. د هغې بیان د "سرالا سرار" صفحه نمبر۴۴۲ په حواله دلته درج کوؤلې شي. فرمائي:

"حضرت مولانا سید محمد قطب علیه الرحمة په دوئیم ځل پیښور ته په ۱۱۰۷هــ کښې راغلې وو. څه ورځې پس یئې باجوړ ته تشریف یوړلو. په دغه سفر کښې د دوئ خپل فرزند ارجمندمولانا سید محمد سعید بنوري علیه الرحمة هم ورسره وو حضرت میا محمد عمر د څمکنو هم د دوئ په خذمت کښې حاضر وو. په باجوړ کښې د څه ورځو تیره ولو نه پس هم هلته کښې حضرت مولانا سید محمد قطب بیمار شه. چه بیماري یئې سخته شوه. نو خپل ځوي مولانا سید محمد سعید ته یئې او فرمائیل چه پیښور ته م اورسوئ. چنانچه حضرت مولانا محمد سعید داسې کار اوکړ. چه د باجوړ نه یئې د علاقه دوابه مته مغل خیل نومې کلي ته د مولانا شیخ محمد فاضل

پاپيتي عليه ارلحمة ځاي ته راوړلو. دغه د مولانا سيد محمد قطب د ژوند آخريني ساعتونه وو. دا تبار په شپه د ماښام په وخت کښې په اولسم تاريخ د رجب المرجب ۱۱۰۸هـ په حق اورسيدل. د هغه ځاي نه پيښور ښهر ته راوړلے شه. او د حضرت شيخ حبيب پشاوري په مزار مبارک کښې د يو کال د پاره امانت او سپارلے شه. د پاره د دے چه کال پس د دوئ د نعش د پاره سرهند ته د ورپو انتظام اوکړلے شي."

ليکن داسے معلميږي چه روستو دغه رائ باندے عمل او نه کړلے شه. د دوئ جنازه کوهاټ ته يوړلے شوه.ا و د حضرت حاجي بهادر صاحب قدس سره د قبر سره حجت يو ځائ قبلے غاړے ته د دوئ مزار مبارک جوړ کړلے شه. په دے شان چه په يوه شريکه چبوتره باندے غبرگ دوه قبرونه دي. قبلے ته د حضرت سيد محمد قطب قبر دے او نمر خاته طرف ته د حضرت مولانا عبدالله حاجي بهادر قبر دے. عليهم الرحمة والغفران.

د حضرت مولانا سيد محمد قطب د فرزند ارجمند مولانا سيد محمد سعيد قدس سره مزار مبارک په بنور کښې دے. دا راته نه ده معلومه شوے چه دے بنور ته واپس کله تلے وو. او په کوهاټ کښې چه د دے بنوري ساداتو کوم خاندان آباد دے. چه دوئ بيا کله د بنور نه دلته راغلي دي.

حضرت ميا محمد عمر څمکني چه د حضرت مولانا سيد محمد قطب د روحاني تصرفاتو او

کمالاتو کوم واقعات بیان کړي[115] دي.د هغے نه معلومیږي چه دوئ د کراماتو اظهار نه خوښولو. لیکن د خپل روحاني طاقت او قت په ذریعه یئے داخلاقو او اځوالو داسے اصلاح به کوؤله. چه د هغے اثرات به ډیر بهترین وو. او نتیجه به یئے ډیره شانداره وه. حضرت سید محمد قطب د یو ډیر بختور خاندان ډیر بختور انسان وو. او د دے ملک په مسلمانانو چه د دوئ کوم احسانات دي. د هغے په بدله کښې هم دا وئیلے شو. چه خدائ دے د دوئ اجر لوئ کړي. او د دوئ چه د اسلام د بوزغلي کومه آبیاري کړے ده. هغه بوزغلے دے تل تر تله سر سبزوي.

علیه الرحمة والغفران

حضرت شیخ محمد اسماعیل غوري علیه الرحمة

ولادت

.... پشاور ۹۹۶ هـ

وفات................................. پشاور ۱۱۱۱هـ

[115] سر الا سرار صفحه نمبر۴۰۰

حضرت مولانا محمد اسماعيل غوري قدس سره د وادۍ پیښور په مشاهيرو بزرګانو کښې د اوچتې درجې خاوند دے. د ابتدائي تعليم حاصلولو نه پس د طريقت او معرفت د فيوضاتو حاصلولو د پاره د اسلامي دنيا سياځت يئے کړے وو. د حرمين شريفين نه علاوه په بخارا. بسطام. کربلا معلي او بغدادشريف کښې د هغه زمانے د بزرګانو. عالمانو او مشائيخو په صحبت کښې يئے ورځے تيرے کړے وے. او د څلورو واړه طريقو يعنے قادريه چشتيه او نقشبنديه د مشائيخو نه يئې فيوضات حاصل کړي وو. او درجه د کمال يئے موندلے وه. د عرب. عراق عرب او عراق عجم د سياحت نه پس د موجوده مغربي پاکستان مرکزي مقام لاهور ته يئے تشريف يوړلو. او هلته يئے د لاهور په مزنګ نومے مقام کښې د حضرت شيخ سعدي بخاري لاهوري (متوفي ۱۱۰۸هـ) نه په سلسله عاليه نقشبنديه مجدديه بنوريه کښې خرقه د خلافت حاصله کړه. او د مفتي غلام سرور لاهوري د قول مطابق د څجرت شيخ سعدي لاهوري د پير طريقت حضرت سيد نا آدم بنوري قدس سره د ۱۰۴۰هـ نه تر ۱۰۴۳هـ لاهور کښې وو. او بيا په دوئم ځل په ۱۰۵۰هـ کښې لاهور ته راغلے وو. نو په دے اعتبار وئيلے شو. چه حضرت مولانا محمد اسماعيل غوري قدس سره و ۱۰۴۰هـ او ۱۰۵۰هـ په منځ زمانه کښې لاهور ته تلے وو. يو روايت دا هم ده. چه دوئ د خپل پير طريقت د پير بهائي يار محمد کابلي نه هم د

سلوک او معرفت په مسائلو کښې پوره حصه مونډلې وه.

وئيلې شي چه څه وخت خپل پير ورته خرقه د خلافت ورکړه. نو وصيت يئې ورته اوکړ. "چه ځه لاړ شه. د حلالو کسب کار کوه. حلاله روزئ کټه او خوره يئې او خدائي او رسول ياده وه." د دے ارشاد مطابق پيښور ښهر ته يئې تشريف راوړلو. دلته يئې د کريانې دکان اوکړ. تجارت يئې شروع کړ. او د سلسله عاليه نقشبنديه د روحاني فيوضاتو په عام کولويئې خپل همت او ګماره. د عبادت ذکر او مرقبه شروع کړه. نو د مهابت خان جماعت دغه پخه او مضبوطه آبادي به هم داسے په لړزان شوه او چړقابه يئې شروع کړه لکه چه غټه زلزله راشي.

په لږه موده کښې د لرے لرے ملکونو نه لکه غزنې. بخارا. قندهاره پورے خلق پرے رامات شول. لاس نيوه به يئې ترينه کوؤله. د وادئ پيښور خلق وته ترينه هم پوره فيض او سيده د نقشبنديه طريقے سلسله نوره هم خوره شوه. پخپله په ډير کلکه سره د سنت نبوي صلي الله عليه وسلم تابعدارئ به يئې کوؤله. د دوئ د صحبت او تبليغ له برکت د شريعت اسلام قدر او احترام نور هم زيات شه. د دوئ په طبيعت کښے ډير تحمل. بردباري او عفوه وه. ليکن که يو کار به يئې خلاف شريعت او سنت اوليده. نو په هغے کښې يئې د چا مخ لحاظ

نه کولو او ډیر په زورنه سره به یئې د هغې نه هغه سړے یا خلق منع کول.

مفتي غلام سرور لاهوري پخپل کتاب خزینة الا صفیاء کښې د دوئ د خرق عادت کارونو او کرامتونو ګنړ واقعات ذکر کړي دي. چه دهغې نه د دوئ د روحاني مرتبې عظمت معلومیږي. خدائي ورله لوئ عمر ورکړے وو.چنانچه د پنځه کم شپږ شلے کالو په عمر په ۵، جمادي الا خر ۱۱۱۱هـ یئې د دے دنیا نه سفر اوکړ. او په پیښور چهاونړئ کښې د تهانه شرقي سره جخت د مچنی روډ سهیل غاړے ته یئې مزار مبارک دے. او چونکه د دوئ سره جخت یو ځاي اوګه په اوګه د حضرت شیخ عبدالغفور قدس سره مزار دے. په دے شان چه دوه غبرګ قبرونه دي. حالانکه دغه مولانا عبدالغفور د دوئ مرید دے. لیکن نن ورځې د حضرت مولانا محمد اسماعیل غوري د نوم نه ډیر کم خلق خبر دي. او دغه مزارونه د شیخ عبدالغفور په زیارت یادیږي. (د حضرت شیخ عبدالغفور تذکره به روستو راشي.)

علیهم الرحمة والغفران

حضرت پیر سید حسن القادری علیه الرحمة

ولادت
....
ټهټه، سندهـ ۱۰۲۳هـ

وفات..............................
... پیښور ښهر ۱۱۱۵هـ

د حضرت پیر سید حسن ګیلاني علیه الرحمة د نسب شجره په پنځلسم پشت کښې حضرت سید نا شیخ المشائیخ میران محی الدین عبدالقادر جیلاني قدس سره ته رسیږي. اسم محضة یئے حسن دے. ابو ابلبرکات یئے لقب دے. د والد ماجد نوم یئے سید عبدالله دے. چه د "صحابئ رسول" په لقب سره مشهور دے.

حضرت سید عبدالله د بغداد او سیدونکے وو. څه زمانه روستو یئے د مملکت شام په "ځما" نومے مقام کښې استوګنه اختیار کړے وه. بیا د هغه ځاي نه د مختلقو اسلامي ملکونو د سیاحت په غرض روان شوے وو. او د سابق صوبه سندهـ مشهور ښهر ټهټه ته چه تشریف یئے راوړ. نو دلته یئے مستقله استوګنه اختیار کړه. دلته یئے د ساداتو په یوه کورنئ کښې یئے واده اوکړ. او په جمادي الاخر ۱۰۲۳هـ کښې

يـئـے د هغه سيدے بـي بـي نـه مشرے ځوي پـيدا شه. محمد حسن نـوم پـرے کيښودلـے شه. چه روستو پـه پـير سيد حسن ګيلانـي نـامه بـانـدے مشهور شه. ورپسے هم د دغه بـي بـي نـه يـئـے بـل ځوي محمد فـاضل پـيدا شه. چه پـه شاه محمد فـاضل نـوم بـانـدے شهرت لـري. حضرت سيد عبدالـلـه ګيلانـي څه موده پس هم پـه دغه ټـهټـه ښهر کښې وفـات شه. مزار مبـارک يـئـے د ټـهټـه ښهر نـه مغرب طرف تـه پـه مشهور او تـاريخي قبرستـان مکلي کښې دے. پـه سيد عبدالـلـه صحابـئ رسول نـامه مشهور دے او مرجع د خاص و عام دے.

حضرت پـير سيد محمد حسن الـګيـانـي پـه سلسله عالـيـه قـادريـه کښې د خپـل والـد ماجد سيد عبدالـلـه نـه بـيعت کړے وو. او خرقـه د خلافـت يـئـے حاصله کړے وه. د ګيلانـي ساداتـو پـه خصوصي تـعرفـونـو کښې يـو لـوئ تـعريـف دا دے. چه د دوئ پـه پـوره الـتـزام سره پـشت پـه پـشت د پـلار نـه ځوي تـه او د ځوي نـه نـمسی تـه د قـادريـه طريـقـے بـيعت ورکوي. او خرقـه د خلافـت وربـخښی. پـه دے اعتـبـار سره حضرت پـير سيد حسن عليـه الـرحمة يـو داسے ممتـاز بـزرګ دے. چه د شجره نـسب مشاهير نـيکونـه يـئـے د طريـقـت د شجرے مشاهير پـيران هم دي. او د نـسب او بـيعت دواړه سلسلے يـئـے پـه يـوه سلسله بـانـدے حضرت شيخ عبدالـقـادر جيلانـي قـدس سره تـه رسيږي. روايـت دے چه د شپـاړس کالـو پـه عمر کښې د ديـنـي علمونـو د تـکمل نـه فـارغه شوے وو. او د اولـس کالـو پـه عمر کښې يـئـے د درس او تـدريـس سلسله شروع کړے وه. او ورسره ورسره يـئـے د علوم

طریقت او معرفت حاصلولو طرف ته خپل همت اوګماره. نو د خپل والد ماجد په روحاني رهنمایئے کښې یئے د سلوک او عرفان منزلونه رالنډ کړل او په دے کښې یئے هم مرتبه د کمال حاصله کړله. د دے مبارک خاندان په فضائلو کښې یو لوئ فضیلت دا بیان شوے دے. چه پشت په پشت ټول او لیاء الله او عالمان تیر شوي دي. په دیني لحاظ سره ژوند یئے په شریعت محمد برابر وو. او د اسلام تعلیم تبلیغ او نشر و اشاعت یئے وظیفه وه. او د دوئ د تعلیم او تربیت له برکت عام او خاص خلق به د اسلام په اصولو برابر ژوند تیرولو ته غاړه بسته کیدل. او په دنیاوي لحاظ سره هم دا خاندان د اوچتو اخلاقو او د عزت شهرت او شرافت خاندان وو. او د دخدائي مخلوق ته د دوئ د پاکیزه اخلاقو نه په عملي طور سره ډیر لوئ درس او فیض رسیدلے دے.

روایت دے چه د خپل والد ماجد د وفات نه روستو تر څه مودے پورے د وادئ سندھ په ټهټه نومے ښهر کښې مقیم پاتے شوے وو. ورځے شپے یئے په ذکر. فکر. مراقبه. عبادت او ریاضت کښې تیرے کړلے. او څه نیټه پس د برصغیر پاک او هند د عالمانو او مشائیخو سره د لیدلو. د هغوئ نه د فیض حاصلولو او د خدائي مخلوق ته د فیض رسولو په خاطر د وادئ سندھ د ټهټه ښهر ته روان شه. خپل رور شاه محمد فاضل هم ورسره ملګرے وو. د ګجرات او کټهیاواړ علاقو ته یئے تشریف یوړلو. او څه زمانه

يئے په دغه علاقو کښې په درس او تدريس او د اسلام په تبليغ کښې تيره کړله. د هغه ځاي نه د هلي ته راغلے دلته څه نيټه د استوګنے نه د پنجاب لاهور ښهر ته راغے. داسے معلوميږي چه په لاهور کښې يئے څه موده تيره کړے وه. د ټهټه نه د روانيدو او د هلي ته او بيا د هغه ځائ نه لاهور ته د دوئ د رارسيدلو صحيح تاريخيونه تر دے وخته پورے راته معلوم شوي نه دي. په تذکره غوثيه[116] کښې کښې يوه واقعه بيان شوے ده چه څه وخت حضرت پير سيد حسن قادري ګجرات ښهر ته رااورسيده. او د څجرت شاه دوله ګجراتي سره يئے ملاقات اوشه. نو هغه ورته اووے "ډير ښه او شول چه تشريف دے راوړ زۀ د آخرت په سفر روان يم. چه ګو رو کفن روستنے خذمت م ستا په مبارکو لاسونو او شي". نو هر کله چه د تاريخ مخزن پنجاب[117] د روايت مطابق حضرت شاه د وله ګجراتي په ۱۰۸۵هـ کښې وفات شوے دے. او د هغوئ د وفات په وخت حضرت پير سيد حسن په ګجرات کښې وو. نو د دے نه دا نتيجه راخيژي چه د ۱۰۸۵هـ په شاؤ خوا کښې به د لاهور نه ګجرات ته راغلے وو. او هم په دغه کال به بيا پيښور ته راروان شوے وي. په دے اعتبار مونږه پيښور ته د دوئ د تشريف راوړلو زمانه د ۲۰۸۵-۲۰۸۶هـ خواؤ شا زمانه متعينه کړيده. حضرت پير سيد حسن القادري چه پيښور ښهر ته تشريف راوړلو. نو د موجوده ښهر د

---

[116] تذکره غوثيه تاليف د شها محمد غوث قادري لاهوري.
[117] تاريخ فخزن پنجاب جلد نمبر۵ صفحه نمبر ۵۳۴

فصيل نه باهر جنوب طرف ته په سلطان پوره نومې مقام کښې يئې استوګنه اختيار کړله. په هغه زمانه د پيښور ښهر دا موجوده شکل نه وو. بلکه په دې جداجدا حصو مشتمل وو. او د هرې يوې حصې ځان له جدا جدا نوم وو. چه د تاريخي فائدې په لحاظ دلته مختصراً اشاره ورته کوؤلے شي.

سلطان پوره

د پيښور ښهر د موجوده دروازه بې رزقان او سرد چاه نه جنوب مغرب طرف ته د موجوده بالا مانړئ او کوټله محسن خان نه نمرخاته طرف ته او د موجوده وزير باغ نه نمر پر يواته طرف ته په دغه منځ کښې چه نن ورځې کومه هديره ده. او باغونه دي. او چرته چه نن ورځې د حضرت پير سيد حسن مزار مبارک دې. په هغه زمانه په دغه ځائ باندې يو تاريخي کلے آباد وو. چه حدود يئې تر موجوده نمک منډئ او ډبګرئ دروازې راسيدلي وو. د دې آبادئ نوم سلطان پوره وو. د دې قصبې نوم په تولو پخوانو تاريخونو کښې موجود دې. دا خون درويزه په کتاب "تذکرة الابرار" کښې د يوسفزو. خليلو. مهمندو تر منځه د جنګ (۸۵۰هـ) په سلسله کښې د دې سلطان پوره نوم ياد شوې دې. دا قصبه د سلطان معزالدين محمد ابن سام ګوري د دريمې حملې (۵۹۰هـ) نه روستو د سلطان ارغش تارن په اولاد کښې سلطان مصحف خان آباده کړې وه. په دې سلطان پوره کښې چه د حضرت پير سيد حسن قادري د تشريف راوړلو په نيټه کوم بزرګان اوسيدل

په هغې کښې د حضرت شیخ حبیب الله المعروف په شیخ حبیب پشاور (متوفي ۱۰۹۳هـ) او د هغه مشهور خلیفه حضرت شیخ شهباز مهمند (مفتوفي ۱۱۲۶هـ) او حضرت شیخ فرید الدین تارن چه د حضرت شیخ اخون پنجو بابا ځوئ وو. او د حضرت شیخ حبیب پشاوري په سلسله چشتیه صابریه کښې پیر طریقت وو. او داسے نور ګنړ بزرګان موجود وو.

باګرام:

د پیښور ښهر د موجوده هسپتال. بالا حصار. ډهکي نعلبندي. اندر شهر وغیره حصوڼ نوم باګرام او قصبه باګرام وو. دلته مسجد مهابت خان آباد وو. او په دے حصه کښې حضرت مولانا محمد اسماعیل غوري حضرت شیخ محمد آمین صدیقي (چه د حضرت مجدد الف ثاني د مشر فرزند شاه محمد معصوم خلیفه وو) او نور د نقشبندیه مجددیه طریقے بزرګان موجود وو. او نه د طریقت او معرفت د خانقاهونونه علاوه د دیني علمونو درس سلسله جاري وه.

قلعه تمن:

په ۵۹۴هـ کښې چه حضرت شهاب الدین غوري الملقب په معزالدین محمد ابن سام غوري د دهلي د فتح نه راواپس شه. او د ده سره چه د پښتونخوا د اولس تمنونو (قبائلو) کوم خلق وو. او هغوئ د قصبه باګرام او قصبه سلطان پوره ته نمرخاته

طرف ته د موجوده ګورکهتړئ او علاقه ګنج په مقام باندے کومه آبادي کړے وه. دهغے نوم قلعه ثمن (يعنے قلعه قبائل) وو. په کتاب "آئينه تصوف" کښې چه يئے ليکي دي. چه د حضرت شيخ جنيد پشاوري مزار مبارک د "قلعه تمن" نه نمر خاته طرف ته دے. نو د هغے نه دغه "قلعه قبائل" مراد ده چه د هغے په بنيادونو نن ورځے د ګور ګهتړئ قلعه آباده ده. په کومو ورځو کښې چه حضرت سيد حسن القادري کيلاني پيښور ښهر ته تشريف راوړلو. په هغه نيټه د دے قلعه تمن په مقام د ځجرت خواجه معروف سهرودي په جامع مسجد کښې لويه ديني مدرسه قائمه وه. حضرت شاه بري امام عبداللطيف قادري چه مزلار يئے د راولپنډئ سره نزدے په نور پور شاهان کښې دے. او په پنځم پشت کښې د حضرت سيد بهاء الدين المعروف پير بودله (مزار ترنګزائے علاقه هشتنګر ضلع پشاور) نمسے دے[118].په دغه نيټه د موجوده ګور ګهتړئ قلعه د نمر ختيز فصل سره نزدے اوسيده. او نور ګنړ بزرګان هم دلته موجود وو. لکه سيد ابو تراب. پير شاهسوار او ير عبدالله بخاري قدس الله اسرار هم شول.

هر کله چه په داسے روښانه زمانه کښې چه په پيښور ښهر کښې دومره لوئ مشاهير بزرګان موجو دوو. حضرت پير سيد حسن

---

[118]د شاه بري لطيف امام مشر نيکه سيد بهاء الدين په نسب باندے د تارن ساداتو د خاندان دے او د پير حسن ابدال نمسے دے. چه د دغه حسن ابدال په نوم د واه سره نزدے يو مرکزي مقام ياديږي.

القادري هم پيښور ښهر ته تشريف راوړلو. نو په لږو ورځو کښې د دوئ د بزرګئ. علم. تقوي او پرهيز ګارئ آوازه په خواؤ شا علاقو کښې خوره شوه. عام شهرت يئې اوشه. او د خدائ مخلوق پر رامات شه. د دوئ د ژوند مبارک دوه لوئ خصوصيتونه وو. امر معورف او نصيحت کول. (۲) دويم د علم دين طالب علمانو ته د ديني علمونو درس ورکوؤل. او چه کوم خلق به د دوئ درګاه ته حاضر شول د هغوئ د خوراک څښاک د پاره د لنګر انتظام کوؤل.

په سلطان پوره کښې د څه ورځو تيرولو نه روستو د سلطان پوره سره نزدې د کوټله محسن خان نومې کلي نواب حسن خان مهمند خپله لور بي بي حضرت پير سيد حسن ته په نکاح ورکړله. د هغه بي بي نه يئې دوه ځامن پيدا شول.

سيد زين العابدين:

د يو ځوي نوم يې سيد زين العابدين وو. چه ډير لوئ مځدث عالم وو. د علم احاديث عدرس يئې ورکولو. په زرګونو شاګردان يئې وو. مزار مبارک يئې د ضلع هزاره د ځوليان نومې ښهر سره نزدې په سلطنا پوره نومې کلي کښې دې. مرجع د خاص او عام دې. او په حضرت صاحب مشهور دې.

حضرت پير سيد حسن عليه الرحمة دويم واده د مشرقي افغانستان د وادئ کن د سيدانو په کورنئ کښې کړې وو شه هغه بي

بي د کنړ د ساداتو د مورث اعلی سید عباس. سید غیاث او سید عیسی پاچا دي خور وه او د سید محمد جمال ولد سید عبدالوهاب ولد سید میا مصطفے ولد سید علي تر مذي پیر بابا نمسي وه. د دے بي بي نه یئے هم دوه ځامن پیدا شول.

(۱) حضرت شاه محمد غوث قادري (چه روستو به یئے تذکره راشي.)

(۲) شاه معصوم چه په ورکوټي والي کښې وفات شوے وو.

ځجرت پیر سید حسن قادري په ۱۰۸۹هـ کښې د اسلام د تبلیغ او ظاهري او باطني فیوضاتو د خوړولو د پاره د کشمیر په سفر روان شه. د روانیدلو په وخت کښې خپل خلیفه حضرت شیخ عنایت الله کجراتي پخپل ځاي باندے جانشین پریښوده. د خانقاه د تعلیم او تربیت کار یئے ورته حواله کړ. د دهمتهوړ. پکلئ هزره په لاره کشیمیر ته ورغے د تاریخ کمشیر[119] د روایت مطابق دوئ په ۱۰۹۱هـ کښې کشمیر ته رارسیدلي وو. د کشمیر د قیام په دوران کښې چه کوم کسانو ترینه روحاني فیض روحاني فیض موندلے وو. په هغوئ کښې د خواجه عبدالرحیم قادري. میر محدم افضل اندرابي او شاه عنایت الله قادري نومونه د یادولو دي. د حضرت سید غلام شاه د روایت مطابق چه څه وخت د دوئ کشمیر ته تشریف راوړ. نو د سرنګر په

[119] تاریخ کشمیر قلمي تالیف د مفتي محمد شاه سعادت

محله عید ګاه کښې د منصبدارانو په ډیره کښې یئے قیامنیولے وو. په دے سفر کښې خپل کشرے رور حضرت شاه محمد فاضل علیه ارلحمة هم ورسره وو. شپږ میاشتے یئے دلته تیرے کړلے. درس او تردیس. دعوت او ارشاد یئے روزګار وو د خدائي مخلوق پرے راغونډ وو. د ملمنو او غریبانانو د پاره د لنګر انتظام یئے جاري وو. روایت دے چه تقریبا شپږ سوه کسانو به روزانه د دوئ په لنګر کښې غله خوړله. او حاجتمندوته به یئې اغوستن هم ورکولو. د سخاوت او بخشش یو دریاب وو. چه موجونه یئے وهل او د حاجتمندو هاجتونه پرے سرکیدل.

په کشمیر کښې د شپږ میاشتے قیام نه روستو پیښور ته واپس راروان شه. او خپل کشر رور حضرت ابو المکارم سید شاه محمد فاضل یئے خپل خلیفه کړ.ا و په کشمیر کښې د استوګنے اجازے یئے ورکړے. چه د خدائ مخلوق ته د دین د تعلیم او تبلیغ کولو فریضه ادا کړي. حضرت ابو المکارم شاه محمد فاضل په ۱۱۱۷هـ کښې وفات شویدے. مزار مبارک یئے د سري نګر ښهر په منځ کښې په محله خانیار کښې دے. مرجع د خاص و عام دے.

حضرت پیر سید حسن القادري چه د کشمیر د سفر نه پیښور ته واپس راغے. نو یو څو میاشتے پس د کابل په سفر روان شه. د دے اولني سفر نه روستو دوه ځل بیا ءې هم د کابل سفرونه کړي وو. او د هغه ځاي د مشهورو عالمانو. مشائیخو او بزرګانو

سره یئے ملاقاتونه شوي وو. او ورسره ورسره یئے د سلسله عالیه قادریه فیوضات عام کړي وو. چنانچه هم په دغه سلسله کښې د هغه زمانے د کابل ګورنر امیر خان هم د دوئ نه لاس نیول کړے وه. د دوئ د کابل دویم سفر هم د دغه امیر خان په دعوت باندے کړے وو. او د کابل د شاهي دربار امیرانو د نورو عامو مسلمانانو د دوئ د تعلیماتو او تبلیغ په ذریعه د شریعت اسلام په کلکه سره تابعداران او خذمتګاران ګرځیدلي وو. په دے سفر کښې دوئ د غزني او هرات سیاحت کړے وو.

تعلیمات او اخلاق

حضرت پیر سید حسن القادري ته الله تعالی ډیر غوره اوښکلي اخلاق او صفتونه ورکړي وو. د غریبانانو زړهٔ ساتنه. د مسافرانو سره ښه سلوک کولو. د امیرانو او حاکمانو تحفے تحائف نه قبلول. او د هغوئ په غیر شرعي حرکاتو او کارونو باندےپه غیر د څه دیرے او مخ لحاظ نه زور نه ورکؤل. کنډو او رندو او ناداره جینکو په خپل خرڅ ودونه کوؤل د دوئ نیک اخلاق وو. د دوئ خپل ځوي شاه محمد غوث بیان دے. چه ځما والد ماجد به د فقیرانو او مسکینانو ډیر زیات خذمت کولو. او د عام مخلوق سره به یئے دومره زیات شفقت فرفائیلو لکه چه د یو سړي خپل سکه اولاد وي." د شاه محمد غوث د ځوي شاه غلام محمد نه هم دغه شان روایت شویدے. فرمائي: "د عامو خلقو سره یئے داسے د شفقت نرمئ او

مهرباني سلوک به کؤلولکه یو پلار چه د خپل اولاد سره یئے کوي."

ښکاره خبره ده. چه د دوئ د عفوے اوکرم. صبر د بارئ او تواضع دغه پاکیزه اخلاقو نیک اثرات به په نورو خلقو هم پریوتل او ځوک چه د دوئ عقید تمند. ارادتمند او تلعقاداران وو. د هغوئ د اخلاقو اصلاح به کیدله. او په حقیقت کښې دا هغة بنیادي څیز دے. چه یو بزرگ د خپلے روحاني صفایئ په ذریعه ځان د حضرت محمد مصطفی صلي الله علیه وسلم د پاکیزه اخلاقو عملي نمونه اوګرځوي. خپل پاکیزه اخلاق د عامو مسلمانانو د پاره په عملي شکل کښې یو مثال پیش کړي. د خدائ مخلوق ته د هغے درس. تعلیم او تبریت ورکړي. او د صالحه مسلمانانو یوه داسے ډله راپیدا کړي. چه د هغوي ژوند د اسلام د اصولو مطابق صحیح ژوند وي. چنانچه هم په

دے صحیح اسولي طریقه
سره چه حضرت پیر سید
حسن القادري قدس سره د
اسلام کوم خذمت کړیدے د
هغے نیک اثرات تر نن
ورځے پورے باقي دي.
خدائي دے د دوئ اجر
نور هم لوئ کړي.

د دوئ بل لوئ تعریف استغناء وه. چه هغه د هرے زمانے د پیرانو او د خانقاهونو د سجاده نشینا نو د پاره سبق ګرځیدلے شي. روایت دے. چه یو ځل د کابل ګورنر امیر خان د اورنګ زیب عالمګیر نه یو فرمان په دے مضمون واخیست چه د پیر سید حسن قدس سره ځوي شاه محمد غوث له دے یوه قطعه زمکه په جاګیر کښې ورکړے شي. دګه فرمان چه دوئ له رااولیږلے شه. نو د دوئ هغه واپس کړ. او نواب امیر خان ته یئے دا جواب اولیکه:

"اے امیره! جزاک
الله، چه په زړهٔ کښې د
فقیرانو سره د خیر
خواهئ جذبه لرے. لیکن
زهٔ د دے څیزونو طلبګار
نه یم. او حاجت ورته
نه لرم. پکار داده. چه
د ابخشش په حاجتمندانو
او عاجزانو غریبانانو
باندے اوویشے. چه

د هغوئ د قوت لايموت
ذريعه اوګرځيږي."

حضرت پير سيد حسن القادري الکيلاني په دے مختصر شان خط کښې د ټولو ساداتو. مشايخو او پيرانو د پاره يو لوئ درس او سبق او تعليم بيان کړيدے. د مثال په طور يو سجاده نشين پير دے. په قالين ناست دے. يو غريب مريد ورله راځی. شليدلے جامے. خوارخسته په بد حال او يو دوه روپئ نذر پير صاحب ته پيش کوي. نو په داسے حال کښې پير صاحب له پکار دي چه هغه دوه روپئ جيب ته وانه چوي. بلکه هغه غريب مريد ته يئے واپس کړي. بلکه هغه غريب مريد ته يئے واپس کړي چه ةغه پرے خپل بال بچ له يو سيروړه واخلي. يايو مالدار سړے پير صاحب ته نذر نياز پيشکوي. نو پکار ده چه پير صاحب ورته هدايت اوکړی چه دا نذرنياز ماله مه راکوه ځکه چه ځما ورته حاجت نيشته . بلکه دا په غريبانانو تقسيم کړه چه چاته بال بچ نهروي. او د روزئ درک يئے نه لګيږي. ځما په خيال د حضرت پير سيد حسن القادري الکيلاني د کرامت. ولايت او تعليماتو نورو ټولو درسونه که هرڅه هير کړے شي. او دا يو نصيحت يئے ياد ساتلے شي. نو د نن ورځے د مسلمانانو ډيره لويه اصلاح پرے کيدلے شي. ځکه چه په حقيقت پسندانه نظر که ورته اوکتلے شي. نو د اسلام حقيقي روح هم دغه څيز دے. د څجرت پير سيد حسن القادري د کراماتو دير روايتونه په تذکرو کښې موجود دي. ليکن

مونږه د هغې بيان دلته ځکه ضروري نه ګڼرو. چه د کشف او کرامت په حقله د دوئ خپل قول دا وو. چه د يو مسلمان لوئ کرامت دا دے. چه د پاک خدائي د ياد نه غافل نه شي. د پاک رسول صلي الله عليه وسلم د سنت په پيروئ او تابعدارئ کښې قصور اونه کړي. ځکه چه په آخرت کښې نجات هم په دے څيز موقوف دے. د دے نه علاوه چه نور کوم څيزونو ته خلق کشف اوکرامت وائي. هغه د ماشومانو لوبے دي. او پخپله د سالک د ځان د پاره آفت ګرځيږي. او اوچتو مرتبو ته د رسيدلو نه يئے پاتے کوي."

حضرت پير سيدحسن القادري په ورځ د جمعة المبارک يو ويشتم تاريخ د ذي القعدة الحرام ۱۱۱۵هـ د دے دنيا نه سفر اوکړ. په مقام د سلطان پوره يئے مزار جوړ شه. چه مرجع د خاص او عام او دانوارو او فيوضاتو مرکز دے. عليه الرحمة والغفرن.

حضرت شيخ حافظ عبدالغفور پشاوري عليه الرحمة

ولادت .... کشمير ۱۰۰۴هـ

وفات....................................... پشاور ۱۱۱۶هـ

د حضرت شيخ المشائخ مولانا حافظ عبدالغفور عليه الرحمة د والد ماجد نوم صالح محمد عليه الرحمة وو. پلرونه نيکونه يئے په کشمير کښې اوسيدل. د قرآن مجيد د حفظ کولو نه روستو يئے د درس نظامي مطابق په ټولو دين علمونو کښې درجه د کمال حاصله کړله.ا و چه هر کله د ظاهري علمونون په کمال آراسته شه. نو د روحاني تسکين حاصلولو د پاره د مرشد کامل په تالاش کښې د کورنه اووتلو. او د کشمير د مشهور روحاني پيشوا حضرت پير سيد علي همداني عليه الرحمة خانقاه ته حاضر شه. هلته يئے څو ورځے تيرے کړلے. او د حضرت پير همداني د روحانيت نه يئے بے شماره فيوضات حاصل کړل. بيا د کمشير په مختلفو علاقو اوګرځيده. د ډيرو مشائيخو او بزرګانو سره يئې ملاقاتونه

اوکړل. بیا د هغه ځاي نه راروان شه. د موجوده مغربي پاکستان دارالخلافې لاهور ته راغې. په دغه زمانه باندې لاهور ښهر د مشاهیرو عالمانو او بزرګانو د استوګنې ځاي وو. او د علم او ادب مرکز وو. حضرت شیخ حافظ عبدالغفور قدس سره چه دلته راغې نو ګڼرو عالمانو او بزرګانو درس او خانقاهونوته حاضر شه. د صحبت فیض یئې حاصل کړ. بیا د هغه ځاي نه راروان شه. پیښور ښهر ته راغې. او دلته کښې د نورو عالمانو او بزرګانو نه علاوه د حضرت مولانا شیخ حافظ محمد اسمعیل غوري علیه الرحمة په صحبت یابرکت کښې یئې ورځې شپې تیرې کړلې او د طریقت او معرفت ډیر فیوضات یئې ترینه حاصل کړل.

حضرت مولانا حافظ محمد اسماعیل غوری چه د حضرت شیخ حافظ عبدالغفور د حالاتو او ا حوالو مطالعه اوکړه. نو درته یئې او فرمائیل چه لاهور ښهر ته لاړ شه. او د حضرت شیخ المشائخ سعدي بخاري لاهوري نه بیعت اوکړه. چنانچه د دوئ دغه حکم اومنلو. دوباره لاهور ته لاړ. او هلته یئېد حضرت شیخ سعدي بخاري قدس سره نه په طریقه عالیه نقشبندیه کښې بیعت اوکړ. ورپسې پوره یوؤلس کاله د هغوئ په خذمت کښې پاتې شه.د سلوک او تصوف ټول منزلونه یئې خلاص کړل. د هغې نه پس خپل پر طریقت ورله په څلورو واړو سلسلو یعنې قادریه، نقشبندیه، شتیه، سهرودیه کښې خلاف ورکړ. او حکم یئې ورته او فرمایه چه د دین اسلام د ظاهري او باطني علمونو د فیض

خوره ولو د پاره پيښور ښهر ته لاړ شه. چنانچه دوئي خپل پير د هدايت مطابق پيښور ښهر ته راغے. او دايئے د خپلو تبليغي کوششونو مرکز اوګرځولو. او د "امر معروف او نهئ عن المنکر" يوه منظمه سلسله يئے په ډيره لويه پيمانه باندے شروع کړله. د ظاهري او باطني علمونو د طالبانو او سالکانو د استوګنے د پارله يئے خانقاه جوړ کړه. ورسره د لنګر ورکولو سلسله يئے هم شروع کړله. چه په سوؤنو سوؤنو خلقو به دواړه وخته په هغے لنګر کښې ډوډئ خوړله. که څوک به بربنډ لغړ وو. هغوئ له به جامے ورکيدلے شولے. د عاجزانو او غريبانانو به د شتګيري کيدلے شوه. او د روحانيت او حقيقت طالبانو ته به ترينه فيض حاسليدلو.

د حضرت شيخ حافظ عبدالغفور خپله طريقه دا وه.چه د پيښور ښهر په چار چاپيره علاقو او کلو به ګرځيدل. د ورے به يئے کوولے. امر بالمعروف به يئے کؤلو خلق به يئے د اسلام سمےلارے ته رابللو. او د بدو کارونو او ناکاره کارونو او خلاف شريعت رسمونو او واجونو نه به يئے خلق منع کؤلو. او بيا به واپس پيښور ښهر ته شپے له راتللو. دوئ چه به پخپله د اسلام د تبليغ د پاره کلي په کلي ګرځيدل او د بدعاتوا و رسمونو رواجونه به يئے خلق منع کوؤل. نو په دغه سلسله کښې کوم لوئ ککارونه چه به يئے کوؤل هغه دا وو.

(۱) د کونډو ښځو نکاحونه تړل.

(۲) د خور او لور په سرد پیسو اخیستلو او جهیز اخیستلو چه ناکاره رواج موجود وو. د هغې نه به یئې خلق منع کؤلو. او په صحیح اسلامي طریقه سره په شروعي طریقه سره په شرعي مهربانۍ به یئې په خلقو ودونه او نکاحونه کوؤل.

(۳) د کلو او د باندو د عامو خلقو ژوند د تربګنئ او دشمنئ وي. چرته چه به د دوه کسانو یا کلو یا قبیلو تر منځه ورانه او اختلاف پیدا شوے وو. د هغوئ په منځ کلې به یئې صلح کوؤله. روغه او صلحه به یئې راوستله. د هغوئ کور به یئې جوړ ولو. هغوئ به یئې د نوي سرنه خواږه رونړه کؤل. کله به داسې هم او شوه چه د دوه ډلو په منځ کښې د صلح کؤلو په سلسله کښې ډیر مشکلات هم وو. لیکن هر کله چه حضرت شیخ حافظ عبدالغفور علیه الرحمة د ډیرے اوچتے مرتبے بزرګ وو. او بله دا چه دوئ دا تول کوششونه د خدائ د رضا د پاره کوؤل. په دے وجه هغه سخت مشکلات په هم خدائ آسان کړه. او د مسلمانانو ورانشوے کور به جوړ شه. اتفاق او اتحاد به یئې نصیب شه.

اخلاق او عادات

د حضرت مولانا شيخ حافظ عبدالغفور قدس سره په خاصو صفتونو کښې دا دوه تعريفونه د دوئ اهم او لوي صفتونه وو.

(۱) يو دا چه د رسول پاک صلي الله عليه وسلم د سنت او صحيح عملي ژوند د پيروئ کولو د احکامو پخپله هم په سختئ سره پابند وو. او چه څوک به د شريعت او سنت د صحيح لارے نه په خلاف ورته ښکاره شه. تو اول خو به يئے هغه په نرمئ سره پوهه کؤلو چه ستا دا دا کارونه يا دا فلانکے کار د رسول پاک صلي الله عليه وسلم د سنت او احکامو نه خلاف دے. دا کار پريږده او داسے مه کوه. بيا که هغه سړے به په خوږه پسته او نرمئ سره پوهه نه شه. نو د هغه سر به يئے سختي فرمائيله. او په دے معامله کښې به يئے د امير او غريب هيڅ فرق نه کولو. که ډير لوئ مالدار به وو. يا حاکم او حکمران به وو. خو چه دوئي به د هغه کوم قول يا فعل د شرعي نه خلاف اوليدلو نو اول به يئے په نرمئ پوهه کړلو. او چه به اونه شوه. نو بيا به يئے سم او سنډلو. او توبه گار به يئے کړلو.

(۲) دویم عادت مبارک یئے دا وو. چه مالدارانو او صاحب حیثیت خلقو ته به یئے فرمائیل. چه ستا سوه په دے مال هال کښې چه د غریبانانو خوارانو عاجزانو او محتاجانو او کنډو. یتیمانونو او نورو حقدارانو مثلا عاجزه خپلو خپلو انو کوم حق دے. او کومه حصه الله پاک مقرره کړے ده. هغه دغه حقدارارانو خلقو له ورکړئ. او پردے حق مه خورئ. او دا خبره وادئ چه ستاسو په مال کښې چه د دے غریبانانو کومه حصه الله پاک مقرره کړے ده. هغه دغه حقدارانو خلقو له ورکړئ.

او دا خبره واورئ چه ستاسو په مال کښې چه د دے غریبانانو کومه حصه ده. دا حق او حصه ورله هغه خدائ مقرر کړے ده. چه هغه ډیر زور آوردے. که دا غریبانان ستاسو نه خپل حق او حصه نه شي غوښتلے او اخیستلے. نو چا چه دوئ له دا حصه ورکړے ده. هغه خوزور او طاقت لري کنه. هغه به یئے درنه واخلي. او پخوا د دینه چه خدائ درله د پردي حق په غضب کؤلو سزا درکړي. ښه خبره او ښه کار به دا وي. چه تاسو خپله غاړه پخپله خلاصه کړئ. غریبانانو او حقدارانو له خپل حق ورکړئ. خدائ پاک جل و علي شانه په دے ناراضه کیږي. چه په یو کلي په یو کوڅه او یوه محله کښې دے یو سړے شته من او مالداره وي. هغه دے

عیشونه کوي. او د هغه په چم ګاونډ کښې دے غریبانان او خواران په ژوند پورے تنګ وي.

غرض دا چه حضرت شیخ حافظ عبدالغفور علیه الرحمة به د هرے طبقے او حیثیت د خلقو که هغه عوام وو. که خواص. یو شان اصلاح به یئے فرمائیله. او د دین اسلام سمے لارے ته به یئے رابلل. چنانچه په لږه موده کښې د دوئ د غریب پرورئ آوازه او شهرت تر لرے لرے پورے خور شه. او د دوئ په لنګر کښې به په یو یو وخت د پنځه پنځه سوه نه هم زیاتو خلقو ته طعام ورکیدلے شه.

د حضرت پیر سید حسن القادري نامور فرزند حضرت شاه محدم غوث قادري پخپل کتاب شرح صحیح بخاري کښې یو خاص باب کښې چه د هغے عنوان دے "کسب د سلوک او بیان د طریقت او حقیقت". فرمائي: حضرت مولانا شیخ حافظ عبدالغفور به توله شپه د نقشبندیه طریقے د ذکر د مخصوسے طریقے "جس دم" په طریقه سره د الله ذکر کؤلو. او ټوله شپه به یئے په مراقبه کښې تیره وله. دنیا او اهل دنیا ته به یئےهیڅ توجه او التفات نه کولو. همیشه به د مسکینانو او فقیرانو په خدمت کښې مصروفه اوسیده. په دے سلسله کښې د حضرت شاه محمد غوث قادري دا الفاظ د لوستلو دي. فرمائي: (د فارسی نه ترجمه)

"په عشق د الله تعالی کښې په داسے بیدار زړۀ سره یئے ژوند تیرولو. چه که چابه یو آیت له آیتونو د قرآن مجید نه د دوئ په حضور کښې تلاوت کړ. یا به یئے لفظ د الله په ژبه واخیست نو ژړا او نا قلاری به په حضرت حافظ علیه الرحمة راولاړه شوه".

د تصوف په اصطلاح کښې څه وخت چه یو پیر طریقت خپلو مریدانو ته مخ رااوګرځوي او په روحاني طریقه سره د معرفت اسرار او موز ورته ښودل او غواړی نو هغے ته "توجه" وائي. چنانچه حضرت حافظ عبدالغفور قدس سره چه به کله خپلو مردانو ته "توجه" فرمائیله. نو د دغے په حقله مفتي غلام سرور لاهوري لیکي:

"څه وخت چه حضرت حافظ عبدالغفور قدس سره به خپلو مریدانو ته توجه فرمائیله. نو ټوله محله به جړ قیدله. او داسے به معلومیدله لکه چه لویه زلزله راغلے وي. په ابتدائ کښې خود محلے خلق به یریدله چه دا

هره ورځ زلزله څرنګ
راځي. لیکن بیا چه په
په حقیقت پوهه شول. نو
چه څه وخت به زمکه
کورونه او مکانونه په
زلزلے شول. نو دوي به
پوهه شول چه حضرت حافظ
قدس سره، خپلو مریدانو
ته بیا توجه فرمائیل
شروع کړیدي." (د فارسی
نه ترجمه)

حضرت حافظ صاحب دکشف او کرامت خاوند بزرګ وو. که د دوئ تول کرامتونه دلته جمع کړے شي. نویولوئ کتاب به تریه جوړ شي. (۱) مفتي غلام سرور لاهوري په خپل کتاب "خزینة الا صفیاء" کښې (۲) مولانا شرف الدین صاحب کشمیري پخپل کتاب "روضة السلام" کښې (۳) سید ابو المعالي کشمیري پخپل "مکتوبات" کښې (۴) حضرت شاه محمد غوث قادري په "شرح د صحیح بخاري" کښې (۵) او حضرت میا محمد عمر څمکني پخپل کتاب "خزینة الا سرار" کښې د دوئ بے شمیره کرامتونه ذکر کړي دي. هلته دے او کتلے شي.

د اولیاء الله کرامتونه حق دي. د یو بزرګ نه چه کرامتونه څرګندیږي. نو د هغے حقیقت داسے دے. چه څه وخت یو بنده د خدائ د فرض. واجب او سنت. احکامو په ځاي راوړلو کښې ثابت قدم پاتے شي. او ورپسے د نفلي عبادتونو په ادا کؤلو خدایے پاک

ته نزدے والے حاصل کړي. نو په دغه حال کښې د هغه غوړونه سترګے، ګرځیدنه، ناسته، ولاړ. خوراک. څښاک هر څه د خداي. پاک د رضا او منشاء تابع او ګرځیږي. او د هغے په وجه د هغه د نظر کؤلو او خولے خوزولو په ذریعه بعض داسے کارونه کیږی. چه هغه خالص د خدائي پاک مهرباني کیدلے شي. اهل السنت والجماعة عالمان فرمائي. چه د یو بزرګ نه که د کرامتونو اظهار کیږي. نو دا ښه خبره ده او د ادے خبرے نښه ده چه دے بنده ته د الله تعالی په دربار کښې قریب حاصل شوے دے. البته عام بزرګان د کرامت اظهار صرف په هغة صورتونو کښې جائز ګنړي چه د دین د سرلوړئ د پاره ورته سخت ضرورت پیښ شي. مثلاً یو سړے وي یا خلق وي او هغه د دین اسلام په بعض احکامو کښې شک کوي. غاړه ورته نه ږدي. تعلیم و تربیت. وعظ او نصیحت پورے اثر نه کوي. نو په داسے موقع که یو بزرګ د خل کرمت اظهار اوکړي. چه دهغه خلقو د زړونو شک رفع شي. نو د دے قسم کرامت ظاهره ول ښه ګنړلے شي.

حضرت مولانا شیخ حافظ عبدالغفور علیه الرحمة په ۱۴، تاریخ د شعبان العظم ۱۱۱۲هـ د شهنشاه اورنګ زیب عالمګیر د حکومت په زمانه کښې د دے دنیا نه سفر اوکړ. مزار مبارک یئے د پیښور ښهر په چهاونړئ کښې د شرقئ تهانړے خواته دمچنئروډنه سهیل غاړے ته په سړک پورے متصل د حضرت مولانا محمد اسمعیل غوري د

قبر سره جخت او عبرگ په يوه چبو تره باندے دے. نمر خاته غاړه ته د مولانا محمد اسماعيل مزار دے او مغرب غاړے ته د مولانا حافظ شيخ عبدالغفور مزار دے. يعنے استاذ او شاګر د يو ځاے آرام فرمادي.

د حضرت مولانا عبدالغفور قدس سره اولاد د ضلع پيښور تحصيل نو ښهر په موضع بالو کښې آباد دے. دا کلے د تر ناب فارم سره نزدے دے د شاهراه عام (جي، ټي، روډ) نه شمال طرف ته واقع دے.

د حضرت مولاناشيخ حافظ عبدالغفور قدس سره په نامورو شاګردانو او خليفه ګانو کښې د حضرت اخوندزاده عبدالحليم کاکړ. حضرت شاه محمد غوث قادري لاهوري. او حضرت ميا محمد عمر څمکنی نومونه د يادولو دي. (چه روستو به د دے درے واړو تذکره راشي.) عليهم الرحمة والغفران.

حضرت میاعبدالحئ الملقب په حبيب الله عليه الرحمة

ولادت .... سرهند ۹۹۹هـ

وفات................................... حيدر آباد ۱۱۱۷هـ

حضرت مولانا شيخ المشائيخ ميا عبدالحئ علوی الملقب په سيد حبيب الله او مشهور په سيد حبيب سندهي. د علوي ساداتو د خاندان يو نامور ترين بزرګ دے. شجره د نسب يئے داسے ده. مياعبدالحئ (حبيب الله) ولد سيد عبدالقدوس ولد سيد جمال الله ولد سيد عبدالكريم[120] عليه الرحمة چه پورته دا شجره حضرت مولانا اسد الله الخالب عليه ابن ابي طالب كرم الله وجهه ته رسيږي. او دا هغه جليل القدرولي الله دے. چه حضرت شاه عبداللطيف بهټائي والد ماجد دے.

[120] حضرت شيخ سيد عبالكريم يو مشهور ولي الله تير شوے دے. چه ډير ښه شاعر هم وو. او مزار مبارک يئے په موضع بلړی کښې دے. حضرت شاه لطيف بهټائی پرے د سنګ مرمروپوخ قبر جوړ کړے دے.

حضرت مولانا سید عبدالحئ الملقب په حبیب الله په یوؤلسم تاریخ د ذي القعده ۹۹۹هـ (ورځ د وشنبه د ماښام د نمانځه نه روستو) په مقام د سرهند پیدا شوے وو. په ۱۶، تاریخ د شوال المکرم (ورځ چارشنبه وخت ماسختن) د حضرت مولانا شیخ سعد الله خان وزیر آبادي نه په مقامد وزیر آباد ښهر (پنجاب) کښې یئے خرقه د خلافت حاصله کړے وه. او د یو سل اتلس کالو په عمر کښې یئے په ۱۳، تاریخ د شوال (ورځ یکشنبه د مازیګر مانځه نه وړاندے) په ۱۱۱۷هـ کولو په عمر کښې یئے په ۱۳، تاریخ د شوال (ورځ یکشنبه د مازیګر مانځه نه وړاندے) په ۱۱۱۷هـ کښې په مرتبه د ملکوت کښې وفات موندلےوو. مزار مبارک یئے د حیدر آباد ښهرنه باهر په میره کښې دے.

د دوئ بے شمیره خلیفه ګان وو. چه په هغوئ کښې خلیفه اکبر یئے حضرت شیخ جنید پشاوري علیه الرحمة وو. نهه خلیفه ګان یئے نور هغه وو. چه هر یو خلیفه اصغر بللے شه. د دوئ نه علاوه نور اوه مریدان یئے هغه وو. چه هر یو ما ذون او د اجازت خاوند وو. حضرت شیخ المشائیخ میا عبدالحئ ته فیجان باطني او روحاني بیعت د حضرت خواجه معین الدین حسن چشتي اجمیر نه حاصل شوے وو. او بے شمیره حفي او جلي خوارق د عادات او کشف او کرامات يءے لرل

چه په "مکتوب نطاب" کښې په تفصیل سره درج دي[121].

یو تحقیقي نظر

تر دې وخته پورې د حضرت میا عبدالحئ قدس سره په حالاتو باندې په تفصیل سره بحث نه دې شوې. وجه یئے دا ده چه د دوئ حالات په دوه مختلفو نومونو سره بیان شوي دي. او د هغې نه اکثر مور خان او تذکره لیکونکي په التباس کښې پریتلي دي. او افسوس ناکه پهلو یئے دا ده چه د دغې په وجه د مغربي پاکستان د ګنړو نامورو او مشاهیرو بزرګانو صحیح حالات هم تر دې وخته پورې په پرده کښې پاتې شویدي. په دې بناء د فائدې د زیاتوالي په خاطر دلته یو تحقیقي نظر پر اچولې شي. مونږه چه کوم التباس ته اشاره اوکړله هغه د دې نه پیدا شوې دې. چه دمثال په طور په "آئینه تصوف" [122]کښې.

(۱) د وادئ پیښور د یو مشهور ولي الله حضرت شیخ جنید پشاوري، قادري، نقشبندي علیه الرحمة د پیر طریقت د تذکرې په سلسله کښې د دوئ خپل اصلي نوم میاعبدالحئ لیکلې شوې دې. او ورسره دا لیکلي شویدي. چه د دوئ مزار مبارک د حیدر آباد په

---

[121] آئینه تصوف صفحه نمبر ۱۷۱

[122] آئینه تصوف صفحه نمبر ۱۷۱

صحرا کښې دے (چه دا حواله پروته درج کړے شوه)

(۲) او د حضرت شيخ شهباز نقشبندي چشتي قلندري سدا سهاګ د پير طريقت په تذکره کښې د دوئ نوم سيد اخون حبيب الله درج دے. او ورسره دا ليکلي شوي دي. چه د دوئ مزار د وادئ سنده په سيلان سيون کښې دے.

يعنے د "آئينه تصوف" د مؤلف ديته فکر نه دے کړے چه شيخ جنيد او شيخ شهباز دواړه په حقيقت کښې د يو بزرګ مريدان دي، چه دهغه اصلي نوم عبدالحئ دے او حبيب الله يئے لقب دے يا دا چه سيولان سيون هم هغة مقام دے چه په صحرايئے حيدر آباد کښې دے. دغه شان د "انوار اصفياء" او "نغمات لطيف" مؤلفانو هم دے خبرے ته خيال نه دے کړے. چه دوي چه د شاه لطيف بهټائي د والد ماجد نوم سيد حبيب الله ياد کړے دے. نو دا هم په حقيقت کښې هغه بزرګ دے. چه حبيب الله يئے لقب دے. او اسم محضه يئے عبدالحئ دے. بل خواته د سابق شمال مغربي سرحدي صوبے تذکره ليکونکو او مؤورخانو ته د سابق سنهد او پنجابد مؤورخانونه نور هم زيات مشکل پيښ وو. او هغے يو عجيبه پيچيدګی پيدا کړے وه. هر کله چه دوئ به د حضرت اخون صاحب د سوات د نقشبنديه طريقے په شجره کښې دا اولوستل چه اخون صاحب د سوات بيعت کړے دے له حافظ محمد شعيب نه هغه له حافظ

محمد نه هغه له حافظ محمد صديق نه هغه له اخون محمد مؤمن نه هغة له اخون شهباز نه او هغه له شيخ حبيب سرهندي پشاوري نه. نو د دے سره به يئے دا ليکل چه حضرت حبيب پشاوري دسيدنا دم بنوري مريد دے. او د دے حبيب پشاور د خليفه شيخ شهباز نه مراد شيخ شهباز مهمند دے چه مزار يئے د ضلع پشاور په موضع پبتي کښې دے. په دے سلسله کښې قاضي مير احمد شاه رضواني "د تحفة الاولياء" مؤلف اولنے تذکره ليکونکے دے. چه هغه ديته اشاره اوکړه. چه د حضرت شيخ حبيب پشاوري د خليفه اکبر شيخ شهباز مهمند مزار د خپل پير طريقت شيخ حبيب پشاوري د مزار په احاطه کښې دے. او د پبی په مقام چه د کوم شيخ شهبز مزار دے. دا بل څوک بزرگ دے. ليکن هر کله چه د موضع پبی د شيخ شبهزا په حالاتو کښې دا خبره مخے ته راغله چه دے د شيخ حبيب سرهندي مريد دے. او د هغه مزار د حيدر آباد په صحرا کښې دے. نو بيا دا مشکل مخے ته راوړاندے شه. چه د شيخ حبيب پشاوري اصلي نوم خو هم حبيب الله دے. او په اصل د سرهند هم دے. ليکن مزار يئے په پيښور کښې دے. که دغه شيخ حبيب الله سرهندي چه مزار يئے د حيدر آباد ښهر نه باهر په صحرا کښې دے څوک دوئم بزرگ دے. نو چه هغه څوک دے؟ په دے مشکل کښې لوئ د پريشاني باعث دا وو چه د شيخ حبيب په نامه دواړه بزرگان او د شيخ شهباز په نامه دواړه مريدان ټول همعصر هم دي.

چنانچه د دے تول صورت حال د پیدا کیدلو اصلي باعث دا وو. چه بنیادي طور دانه وه معلومه چه:

(الف) یو بزرگ میا عبدالحئ الملقب په حبیب الله سرهندي او المعروف په شیخ حبیب سندهي دے. او حضرت شیخ شهباز بندهیلکنډی قادري نقشبندی چشتي. قلندري سدا سهاک چه مزار یئے په پبوکښې دے هغه د دے حضرت شیخ میا حبیب سندهي مرید او خلیفه دے[123].

(ب) او دویم بزرگ شیخ حبیب الله سرهندي المعروف په شیخ حبیب پشاور دے. او حضرت شیخ شهباز مهمند غوریا خیل قادري نقشبندي د دے شیخ حبیب پشاوري مرید دے. چه مزار یئے په وزیر باغ پشاور شهر کښې د خپل پیر طریقت د مزار په احاطه کښې دے[124].

دا یوه داسے بے خیری وه. چه د دے نه درے تاریخي نتیجے پیدا شوے وے

(۱) یوه دا چه د حضرت شیخ میا عبدالحئ الملقب په حبیب الله علوي سرهندي قادري نقشبندی مجددي چشتي المعروف په حبیب

[123] اود دوئ دواړه تذکره به روستو راشي.
[124] د دوئ دواړه تذکره به روستو راشي.

سندهي د اوچتے علمي عرفاني او تصوفي مرتبے او نورو عامو حالاتونه پوره آگاهي نه وه حاصله. او ورسره دا هم نه وه معلومه چه حضرت شاه عبداللطيف بهټائي هم د دے جليل القدر بزرگ فرزند ارجمند دے. او د دغے نه علاوه دا هم نه وه معلومه چه د شاه عبداللطيف بهټائ په روحاني حالاتو او وارداتو کښې د قادريه طريقے د جلال او جمال د نقشبنديه مشرب د محبوبيت او جذب او د چشتيه مسلک د مجذوبيت او استغراق چه کوم حسين امتزاج دے. هغه د شاه لطيف د خپل والد ماجد د روحاني فيوضاتو اثر دے. چه قادري. نقشبندي. چشتي درے واړه نسبتونه يئے لرل. او ورپسے د شاه لطيف بهټائي د خپل والد ماجد د نامور خليفه حضرت شيخ شهباز اول قادري، قلندري، چشتي سدا سهاگ فيوضات دي. چه د شاه لطيف په محبوبيت کښې يئے د حسن او رنگينئ آثار پيد اکړی دي. او د هغه کلام ته يئے د حسن او جمال د لاويزي بخښلے ده.

(۲) بله دا چه دانه وه معلومه چه په حقيقت کښې د وادئ پيښور دوه جليل القدر بزرگان حضرت شيخ شهباز اول عليه الرحمة او حضرت

شيخ جنيد پشاوري عليه الرحمة دواړه هم د دے شيخ ميا عبدالحئ المعروف په حبيب سندهي مريدان او خليفه ګان دي.

(۳) دريمه دا چه تر اوسه دا نه وه معلومه چه د حضرت شاه لطيف قدس سره په کلام کښې د نغمات لطيف[125] د قول مطابق څرنګ چه د سندي، بروهي. ملتاني . پنجابي. بلوچي. جتکي. مارواړي ژبو لغات موجود دي. دغه شان د پښتو ژبے د الفاظو. لفاتو. اصطلاحاتو ذخيره هم پکښې موجوده ده. که تذکره ليکو نکو ته داخبره معلومه وے. چه د حضرت شاه لطيف د والد ماجد د وفات (۱۱۱۸هـ) نه روستو د شاه لطيف د والد ماجد خليفه اکبر حضرت شيخ شهباز اول بند هيلکنډی هم د ده تربيت کړے دے. او د دے خپل پير طريقت په ملګر تيا کښې شاه لطيف د برصغير پاک وهندنه علاوه د خراسان. افغانستان او په خصوصيت سره د وادئ پيښور سياحت هم کړے وو. او څه زمانه يئے په قندهار کښې[126] او څه زمانه په پيښور کښې[127] تيره کړے وه. نو د

[125] نغمات لطيف صفحه نمبر ۱۱۱
[126] آئينه تصوف بحث د شيخ مؤمن.
[127] بحث د شيخ شهبز اول

دے قسم معلوماتو له مخه د شاه لطیف په کلام کښې د پیښتو ژبے د الفاظو. لغاتو. اصلطاحاتو د موجود والي په راز پوهه شوي وے.

دا خبره چه پورته ذکر شوے. د دے له مخه مونږه له په دوه خبر و بحث پکار دے. یوه دا چه په آئینه تصوف کښې چه د میا عبدالحئ حبیب الله مزار د حیدر آباد ښهر نه باهر په صحرا کښې په مقام د سیلاسیون کښې ښودلے شویدے چه دغه مقام چرته دے؟ او بله دا چه دے وادئ سندھ ته کله راغلے دے؟ د دے سوالونو د جواب د پاره مونږه له هغة روایتونه مطالعه کول پکار دي. چه په هغے کښې د حضرت میا عبدالحئ د نکاح کؤلو. او د سخر ګنئ او د دوئي د نامور فرزند شاه لطیف بهټائي د مقام ولادت ذکر راغلے دے.

(۱) په یوه تذکره کښې د شاه لطیف د مقام ولادت نوم هالا حویلي ذکر شویدے[128].

(۲) په بله تزکره کښې د دے مقام نوم بالا حویلي ذکر شوے دے[129]. او په حاشیه کښې یئې لیکل دي. چه اوس د دے کلي فقط کنډرونه پاتے دي.

---

[128]لغمات لطیف صفحه ۱

[129]انوار اصفیاء صفحه نمبر ۴۹۶

(۳) د یوې بلې تذکرې بیان داسې دې. "حضرت شیخ حبیب الله د وادئ سندهـ د سمات نوم قوم د ډیره نوم قبیلې د یو درویش او نیک انسان "شیخ ثابت پوتا" علیه! لرحمة د لور بي بي سره نکاح کړې وو. په دغه ورځو کښې د دې قبیلې خلق د خپل مال مویشي د ساتلو په خاطر د سایا تن نومې قبر ستان سره نزدې په یو کلي کښې اوسیدل. د وادۀ کولو نه پس حضرت سید حبیب د خپلې سخر کنئ سره په دغه کښي کښې استوګنه اختیار کړه. او هم دغلته په ۱۱۰۱هـ مطابق ۱۶۹۰-۱۶۸۹ء کښې د ده نامور فرزند شاه عبدالطیف بټهائي پیدا شوې وو[130].

د دې روستنئ تذکرې (نغمات لطیف) په بیان کښې د بڅث قابلې دوه خبرې دي.

(۱) یوه دا چه هر کله فاضل مؤلف د سایا تن نومې قبرستان سره نزدې کلي نوم نه دې لیکلې. او په نورو تذکرو کښې د دغة کلي نوم حالا حویلي او بالا حویلي لیکلې شوې دې. په دې وجه مونږه به هم دا وایو چه د سایاتن نومې قبرستان سره نزدې چه کوم کلې

---

[130] لطیف صفحه نمبر ۴

ذکر شویدے. د هغے نه هم دغه بالا حویلي نوم کلے مراد کؤل پکار دي او په آئینه تصوف کښې چه د دے کلي نوم سیالاسیون ذکر شویدے. دغه د لفظ سایاتن بدل شوے شکل دے. (ځکه چه د آئینه تصوف په مطبوعه نسخه کښې د حدنه زیاتے د کتابت غلطئ موجود دي.)

(۲) دویمه خبره دا ده چه فاضل مؤلف د شاه بهټائی د والدے ماجدے د پلار حضرت شیخ ثبت علیه الرحمة د نوم سره لفظ د "پوتا" ذکر کړیدے. او هر کله چه په سندهي ادب کښې لفظ "پوتا" د لفظ "آل" مرداف دے. او د قریشي او علوی ساداتو د پاره استعمال شویدے. لکه د شاه بهټائي د علوي ساداتو خاندان چه د "پوتا" په نومهم یاد شوے دے. او د حضرت میا محمد عباسی د نامور فرزند میا داؤد عباسی اولاد چه په "داؤد پوتا" یادیږي. نو د دے لفظ "پوتا" نه دا خبره راولاړیږي. چه حضرت شیخ ثابت علیه الرحمة په قام باندے سمات نه وو. بلکه دے په نسل باندے "پوتا" وو. او د عباسي قریشي خاندان یو نامور فرزند وو. دا نتیجه مونږ د مفتي غلام سرور

لاهوري د دے بیان نه آخیستے ده. لیکي[131]:

"عباسي خاندان د مشهور خلیفه هارون الرشید په اولاد کښې حضرت

میا محمد[132] نومے مورث العی د خپلے برادرئ د نورو خاندانونو سره د شام د حلب نومے ښهر نه د وادئ سندهـ علاقه کاچهـ ته راغلے وو. د کالړی علاقه یئے په جاګیر کښې موندلے وه. د هغه دوه ځامن وو (۱) داؤد (۲) محمد روستو د میا داؤد اولاد په داؤد پوتا نوم مشهور شه چه دغه میا داؤد د بهاولپور د نوابانو مورث اعلی دے. او د میا محمد اولاد (محمد پوتا) د سکهر په شاؤ خوا کښې آباد شه. په دے محمد پوتا خاندان کښې میا آدم

---

[131] تاریخ مخزن پنجاب جلد نمبر۲ صفحه نمبر ۳۴۰.

[132] دلته دا یادلرل پکار دي چه مفتي غلام سرور د علوي خاندان او عباسي خاندان د بزرګانو د پاره لفظ د سیدنه استعمالولي. بلکه لفظ د میا یئے استعمال کړیدے. په دے نوم میا محمد کښې اصلي نوم محمد دے. او لفظ میا ورسره د لفظ سید په ځاي استعمال شوے دے. د دے خاندان د نورو ټولو نو مونو سره هم د لفظ سید په ځاى لفظ میا استعمال شوے دے. او په آئینه تصوف کښې هم د شاه بهټائي د پلار نوم میا عبدالحئ المعروف میا حبیب الله په معنی کښې استعمال شوے دے. (اثر)

شاه علیه الرحمة مشهور بزرګ تیر شویدی. چه د حضرت حیات المیر خلیفه وو. مزار مبارک یئے په سکهر کښې دے. او مرجع د خاص او عام دے. روستو د دے میا آدم شاه په اولاد کښې میا نصیر محمد د ملک او مال خاوند شه. او دومره ترقي یئے اوکړه چه ښهر د حیدر باد سندهـ (نیرون) هم د ده په حکومت کښې راګے. د نصیر محمد د وفات نه څه زمانه روستو په دے خاندان کښې یار محمد او غلام شجاه حکمرانان شول. او ملک د هغوئ په قبضه کښې راغے غلام شاه د سندهـ نه ورپسے اووتلو. د کالا باغ پورے ملک یئے فتح کړ. نواب غازي خان ثاني چه د کالا باغ په حکمران خاندان کښې د غازي خان اول په اولاد کښې وو. هغه دے غلام شاه ګرفتار کړے وو. سندهـ ته یئے قیدي راوستلے وو. او د هغه په ځاي یئے په ډیره غازي خان باندے محمود خان نواب کړے وو. د غلام شاه نه روستو د هغه ځوي محمد سر فراز او د هغه نه روستو د هغه ځوي عبدالنبي حکمران شوے وو. چه د عبدالنبي د احمد شاه ابدالي همعصر وو."

پورته چه کوم تاریخي روایتونه درج کړے شول. که مونږ د دے ټولو مطالعه په

غور سره اوکړو نو دا نتیجه په لاس راځي. چه هر کله د حضرت شاه لطیف د والدے ماجدے پلار شیخ ثابت "پوتا" د سایا تن سره نزدے په بالا حویلي کښې اوسیده. او دغه هالاحویلي د کوټري ښهر سره نزدے ده. او کوټري د حیدر آباد په خواؤشا علاقه باندے په دغه زمانه باندے د محمد پوتا د نسل د عباسیه قریشو یو طاقتور حکومت قائم شوے وو. او د دغه شیخ ثابت د نوم سره هم لفظ د "پوتا" لیکلے شوے دے. او دا شیخ ثابت پوتا په یو معمولي کلي کښې نه اوسیده. بلکه د کوټري غوندے اهم ښهر سره نزدے په یوه حویلۍ (قصر. ښهر) کښې اوسیده. نو دا داسے خبرے دي چه د دے په رنړا کښې مونږه دا وئیلے شو چه حضرت شیخ ثابت پوتا په قام باندے د محمد پوتا د خاندان ځنے وو. او عباسي قریشي بزرګ وو. البته د سمارټ نومے قوم سره دومره تعلق یئے تسلیم کیدلے شي. چه دے په کوم کښي (حالاحویلي) کلي اوسید. د هغے کلي عام رعایا به د سمات قوم خلق وو. یا دا چه شیخ ثابت پوتا به هم د هغه زمانے د معیشت مطابق خپل ژوند په مال مویشی ساتلو تیره ولو. که ځمونږ دا دلائل صحیح او منلے شي. نو وئیلے شو چه حضرت میا عبدالحئ قدس سره د علوي سادات و دیو ممتاز خاندان فرد وو. او د عباسیه خاندان په یوه ممتازه کورنۍ کښې ئې واده کړے وو. او د دغه خپلے سخر ګنۍ سره په هالا حویلي کښې اوسیده. بیا ګوټري ته راغے. او په ۱۱۱۷هـ کښې د کوټري په مقام

د وفات نه روستو د سیاتن په قبر ستان کښې یئے مزار جوړ کړلے شه.علیه الرحمة والغفران.

د دے نه مخکښې دے خبرے ته اشاره شیوده چې د میا عبدالحئ د مشرنیکه سید عبدالکریم مزار مبارک په موضع بلړی کښې دے. د دغه نه معلومیږي چه د دے خاندان مشاهیر بزرګان د څریشته نه په مغربي پاکستان کښې اوسیدل. او د میا عبدالحئ په سرهند کښې ولادت دا ښائي چه د دوئ والد ماجد سید عبدالقدس به سرهند ته تللے او هلته آباد شوے وو. د دے نوؤ معلوماتو نه به دا مسئله په آسانتیا سره په فکر کښې راشي چه د حضرت شاه عبدالکریم علوي د خاندان د یو نامور فرزند میا حبیب الله عبدالحئ علوي سندهي د روحانیت په برکت یو داسے بزرګ روحاني خاندان تشکیل شوے وو. چه د هغوي د انفاسو په برکت د سرهند. سندهـ. سرحد مسلمانانو تر منځه یو عظیم الشان روحاني تړون او روحاني رابطه قائمه شوے وه او تر نن ورځے قائمه ده. قدس الله اسرار هم.

حضرت شیخ اخوند محمدنعیم علیه الرحمة

ولادت .... کلیم پور ۱۰۲۹هـ

وفات.................................. ... کامه ۱۱۲۱هـ

حضرت مولانا شیخ اخوند محمد نعیم د موضع کامه علاقه مهمند (سمت مشرقي افغانستان) په موضع ګلیم پور کښې په ۱۳، د رجب المرجب ۱۰۲۹هـ په ورځ د زیارت وخت د سحر نمانځه نه وړاندې پیدا شوې وو[133]. (دا علاقه چه نن ورځې د صوبۀ ننګر هار یوه حصه ده په هغه زمانه د کابل د ولایاتو نه شماریدله) او بیا روستو چه علاقه کنړ کښې د سرکانی نومې کلي خواته په موضع "محمود کلې" کښې اوسیدۀ. پوه نه یم چه دا کلې اوس موجود دې که نه.؟

حضرت مولانا محمد نعیم قدس سره ډیر لوئ فاضل عالم وو. د علم فقهه او اصول فقهه درس به یئې ورکؤلو او د دې ثبوت دا دې. چه هر کله حضرت پیر سید حسن القادري په کنړ کښې د تر مذي ساداتو په کورنئ کښې د سید میر جمال ترمزي لور بي بي کړې

---

133 آئینه تصوف صفحه ۱۲۹

وه. او د هغې بې بېنه يئې مشرے فرزند سيد محمد غوث قادري پيدا شه (چه روستو به يئې تذکره راشي) نو په کومو ورځو کښې چه دغه شاه محمد غوث په موضع دونائي پشت علاقه کنړ کښې د خپلو ماما ګانو سره اوسيده نو د علم اصول فقهه کتابونه تلويح او توضيح يئې د دے مولانا اخوند محمد نعيم قدس سره نه ه درس لوستلي وو[134].

حضرت مولانا محمد نعيم د ديني علمونو درس په وادۍ پيښور کښې تکميل ته رسوؤلے وو. او بيا د هغې نه روستو د څلويښت کالو په عمر کښې په ۱۰۲۹هـ ، محرم ورځ دو شنبه کلې د حضرت مولانا شيخ مامون يوسفزائ قدس سره نه په مقام د جلال آباد (سمت مشرقي افغانستان) کښې خرقه د خلافت حاصله کړے وه.ا و په تاريخ ۱۲، د جمادي الثاني ورف پنجشنبه (وخت د ماښام نمانځه نه روستو) په ۱۱۲۱هـ کلې وفات شوے دے. مزار مبارک يئې د کامه خوا سره د غره په لمنه کښې دے. او مرجع د خاص و عام دے[135]. عليه الرحمة والغفران.

په ۱۱۰۵هـ کښې چه حضرت شيخ سعدي بخاري لاهوري قدس سره وادۍ پيښور ته تشريف راوړے وو. نو د دوئ ملاقات له يئې جلال آباد ته تشريف وړے وو.

---

[134] تذکرۀ غوثيه

[135] آئينه تصوف صفحه ۱۶۹

د حضرت اخوند محمد نعيم عليه الرحمة په مشهورو خليفه ګانو کښې د حضرت اخون محمد سدومي قدس سره نوم د يادولو دے چه روستو به يئے تذکره راشي[136].

[136] خزينة الا سرار صفحه ۴۰۰

حضرت مولانا شيخ محمد يحی عليه الرحمة

ولادت .... سرهند ۱۰۲۴هـ

وفات.............................. اټک ۱۱۳۱هـ

حضرت مولانا شيخ محمد يحی نقشبندي مجدري قدس سره د حضرت شيخ سعدي لاهوري قدس سره خليفه اکبر وو. او هم د دوئ په ذريعه د سلسله بنوريه سعديه فيوضات په شمالمغربي پاکستان کښې تر نن ورځے خواره دي. او دا ملک پر روښانه دے. او هم دا هغه ناموره او بزرګه هستي ده چې د ده په خليفه ګانو کښې د حضرت سيد مولانا ميا محمد عمر د ځمکنو په شان د ولايت او عرفان قطب الا قطاب پيدا شويدے.

حضرت ميا محمد عمر د ځمکنو چه "خزينة اسرار" په نوم کوم کتاب ليکلے دے. د هغے په دريمه منظوره دوئم فصل کښې يئے د حضرت مولانا محمد يحی قدس سره حالات په ډير تفصيل سره ليکلي دي. چه مونږه دلته په اختصار سره د هغے اقتباسات درج کوؤ.

حضرت ميا صاحب فرمائي:

(۱) د حضرت مولانا شیخ یحی د والد ماجد نوم پیر داد وو[137].

(۲) حضرت سیر الا عظم خدمت مولانا به فرمائیل چه ځمونږ د پلرو نو وطن ماوراء النهر دے. او ځما نیکونه په قام چغتائي وو[138].

(۳) د حضرت شیخ محمد یحی لقب "سر الاعظم" دے. د دوئ دوه ځامن وو. محمد اسماعیل او محمد عیسی. چنانچه د مشرئ ځوي د نوم په مناسبت د دوئ اسم کنت ابو اسماعیل وو[139]. ادام الله تعالی انفاسه النغیسه و افامن علیهنا فیوض برکاته المنیفه. مثنوي.

قطب هفت اقلیم شیخ رهنا
شیخ یحی بندة خاص خدا

مخزن لطف غایات خدا غوث
اعظم خواجة هر دوسرا

پورته دا ذکر اوشه چه حضرت مولانا سر الا عظم شیخ ابو اسماعیل محمد یحی د حضرت مولانا شیخ سعدي بخاري لاهوري خلیفه اکبر وو. مخکلې مونږه په دے خبره بحث کړے دے چه د تصوف په اصطلاح کښې خلیفه اکبر هغه مرید ته وئیلے شي چه یو پیر طریقت پخپل ژوند د خپلو کشرانو مریدانو تربیت هغة

---

[137] خزینة الا سرار صفحه ۵۱۰
[138] خزینة الا سرار صفحه ۳-۵
[139] خزینة الا سررار صفحه نمبر ۵۰۱

ته اوسپاري لکه حضرت خواجه غريب نواز چه پخپل ژوند خواجه بختيار کاکي ته او حضرت خواجه باقي بالله پخپل ژوند کښې خواجه شيخ احمد سرهندي ته د خپل وکشرانو مريدانو د تربيت کار سپارلے وو. چنانچه دغه امتيازي مقام حضرت مولانا شيخ يحی قدس سره ته هم حاصل وو. د دے واقعے تفصيل حضرت ميا محمد عمر قدس سره داسے بيان کړے دے. فرمائي[140]: (د فارسئ نه ترجمه)

> او حضرت ايشان (شيخ سعدي) به اکثر خپلو مخلصانو او محبانو له نوغيب ورکؤلو چه شرف د ملازمت د سر الا عظم حاصل کړئ. او د حضرت شيخ مولانا سيد محمد قطب ابن سيد خواجه محمد ابن سيد آدم بنوري قدس سره به هم دغه شان خپلو عزيزانو ته د سر الا عظم نه د فيض حاصلولو هدايت فرمائيلو. او هر کله چه په دوئم ځل په ۱۱۰۶هـ کښې ځضرت مولانا شيخ سعدي د پيښور نه لاهور ته مراجعت فرمائيلو . نو په يوه

[140] خزينة الا سرار قلمي صفحه نمبر ۵۲۰

صحرا کښې چه زۀ فقیر لیکونکے د دے حرفونو (محمد عمر څمکنے) هم په رکاب د آنحضرت (شیخ سعدي) کښې دوران وو. او په دغه موقع یو لوئ جمیعت یعنے ډیر ګڼړ مریدان نور هم په خدمت د آنحضرت (شیخ سعدي) کښې روان وو. ناګاه نظر مبارک د حضرت یشان (شیخ سعدي) په سر الا عظم (شیخ یحی) باندے پریوتلو. یو کس ته یئے په خپلو مخلصانو مریدانو کښې او فرمائیل چه تاسو شیخ یحی پیژنئ. هغه اووے چه زۀ یئے نه پیژنم. په دے جواب آوریدلو حضرت ایشان (شیخ سعدي) او فرمائیل چه دے اووینئ او د دوئ د ملازمت او خدمت شرف حاصل کړئ (یعنے د ده صحبت اختیار کړئ او د ده نه فیض حاصل کړئ.)

د حضرت مولانا شیخ سعدي قدس سره د دے ارشاداتو نه دا اندازه په اسانه لګیدلے شي. چه د خپل پیر طریقت په نظر کښې د دوئ مقام. او مرتبه څومره اوچته وه. او

په روحانیت. زهد او تقوی کښې د دوئ بزرګو او شخصیت څومره لوئ شان لرلو.

حضرت میا محمد عمر څمکنے د خپلے شجرے د طریقت په بیان کښې فرمائي[141]. "الله تعالی جل و علي شانه چه د معراج په شپه کومے د راز خبرے د خپل حبیب محمد مصطفي صلي الله علیه وسلم سره کړے وے. او هغه د راز خبرے سید نا ابوبکر صدیق رضي الله ته ښودلے شوے وے. او بیا سلسله په سلسله دغه راز حضرت سر الا عظم مولانا شیخ محمد یحی قدس سره ته رارسیدلے وو. په هغے ځما سینه منوره شوے ده." د دے بیان په رنړا کښې د دوئ د لقب "سر الا عظم" معنی په فکر کښې راتللے شي یعنے هغه بزرګواره هستی چه د "عظیم راز، رازدار وو. او د پاک خدائ خاص محبوب بنده وو. د خزینة الا صفیاء مؤلف هم لیکي چه: "مولانا محمد یحی د اسرار اعظم" په لقب مخاطب وو." حضرت شاه محمد غوث قادري د دوئ په تذکره کښې فرمائي[142]: چه حضرت شیخ یحی قدس سره له افراد د زمانے ځنے وو". چونکه د تسوف په اصطلاح کښې "فرد او "قطب" دواړه مرادف لفظونه دي. نو د حضرت شاه محمد غوث د خبرے معنی دا شوه چه حضرت شیخ یحی ته مرتبه د "قطب الا قطاب" حاصله وه.

حضرت مولانا شیخ محمد یحی قدس سره د سلسله عالیه نقشبندیه په ترویج او اشاعت

---

[141] توضیح المعاني صفحة نمبر۹

[142] رساله قلمي د حضرت موصوف.

کښې ډیره سعی فرمائیلے ده. خوش اخلاقه. سخي. او منکسر المزاج وو. هر وخت په د خدائ په یادو کښې مشغوله وو. د دوئ په نظر کښې د امیر او غریب هیڅ فرق نه وو.د عاجزانو او مسکینانو د پاره لنګر یئے چلیدلو. د حاجتمندو حاجتونه پرے سرکیدل. او د کرامات ظهور به ترینه کیدلو. چه په کتاب سیرالا سرار خزینة الا صفیاء او کلیات دا دین[143] کښې یئے بیان راغلے دے. حضرت شاه محمد غوث قادري د دوي په مناقب کښې لیکي:

حضرت شیخ محمد یحی قدس سره به د نقشبندیه طریقے د مخصوصے طریقے د ذکر چه هغے ته "جس نفس" او "جس وم" وئیلے شي د لفظ الله ذکر کؤلو. او په ټوله شپه کښې به یئے یو ځل یادوه ځله ساه اخیستله. مطلب دا چه انتهائي ریاضت او عبادت کوؤنکے وو. هر وخت به د خدای په یادو کښې مشغوله وو. او د دوئ په مجلس کښې دا تاثیر وو. چه هر څوک به پکښې شامل شه. دهغه

[143]کلیات دا دین (قلمي) دا کتاب د میا محمد عمر څمکني په مناقب کلي په ۱۲۱۹هـ کښې لیلے شویدے. قلمي نسخه یئے ځما (اثر افغاني) سره موجوده ده.

نه به د دنیا تعلقات هیر شول او د خدائي په زکر به مشغوله شه. د دوئ د روحاني عظمت دومره رعب او دبدبه وه. چه د دوئ په مجلس کښې به چا فضول خبره نه شوه کوؤلے. او نۀ به یئے د فضولو خبرو او خیالاتو طرف ته توجه کرځیدلے شوه. (د کامل بزرګ یوه نښه دا وي چه څوک د هغه مجلس له ورشي. نو د سړي خیالات په قابو کښې راشی غلط تصورات یئے ختم شي. او یو خدائ ته یئے توجه را اوګرځیږي او زړۀ. د ماغ ته یئے یکسوئي او سکون حاصل شي." (اثر افغاني)

حضرت مولانا شیخ محمد یحی قدس سره خپل ټول عمر مبارک په تدریس تبلیغ. ارشاد او تلقین کښې تیر کړ. د دوئ د فیوضاتو له برکت زرګونه خلق د دے د قرباو نیکبختئ ته اورسیدل. لوئ لوئ عالمان او فاضلا د دوئ په خذمت بابرکت کښې حاضر شول او د اجازت. ارشاد او خلافت مرتبے یئے بیا موندلے. د پنجاب او صوبه سرحد په علاقو کښې د دوئ بے شمیره خلیفه ګان داسے تیره شوي دي. چه هغه هریو د

روحانیت او طریقت په آسمان لکه ځلانده غر وو. او د هغوئ د پاکو او صاف سینو په انوارو دا مالک تر دے وخته روښانه دے.

د حضرت مولانا شیخ محمد یحی قدس سره په حقله د کتاب "مجمع البرکات" روایت دے چه دے په سلسله عالیه چشتیه کښې د حضرت کاکا صاحب د مشهور مرید فقیر جمیل بیګ خټک مرید هم وو. او د حضرت کاکا صاحب په مناقب کښې یو کتاب یئے هم تالیف کړیدے.

د حضرت مولانا شیخ محمد یحی قدس سره د یو څو مشاهیر وخلیفه ګانو نومونه په اختصار سره دلته درج کوؤلے شي. چه فائده یئے عامه شي.

حضرت میر عبدالله

حضرت مولانا شیخ میر عبدالله ولد مولانا میر عبدالرحمان بخاري قدس سره چه فاضل عالم او عارف کامل وو. د بیت الله شریف د حج نه چه واپس شه نو اجمیر شریف ته راغے بیا اټک ته راغے د حضرت مولانا شیخ یحی حضرت جي صاحب نه یئے په سلسله عالیه نقشبندیه کښې بیعت اوکړ. څه موده یئےد نیلاب سیند په غاړه په موضع چیل علاقه چچ کښې زهد او ریاضت اوکړ. بیا موضع پنډي ګهیپ ته او بیا د هغة ځاي نه اکبر پورے ته راغے او ژوند یئے په درس و تدریس او زهد او ریاضت کښې تیر ولو. په ۱۱۸۴هـ کښې چه د احمد شاه ابدالي غازي په حکم د وادئ پیښور قاضي میر عبدالرحیم

معزوله کړے شه نو د هغه په ځائ حضرت میر عبدالله په تاریخ ۲۴، رجب المرجب ۱۱۸۴هـ قاضي مقرر کړے شه د تیمور شاه په زمانه ۱۷، رمضان المبارک ۱۱۸۷هـ باندے د دوئ د قاضي توب د عهدے تجدید اوشه. او ه دے شان د خدائ مخلوق ته ترینه فائده اورسیدله. په ۱۲۰۶هـ کښې وفات شویدے. او مزار مبارک یئے په اکبر پوره کښې د قاضیانو په مقربه کښېدے. علیه الرحمة والغفران[144].

حضرت شیخ ذکریا

د حضرت مولانا شیخ یحی بل نامور خلیفه حضرت شیخ زکریا المعروف په شهید میا صاحب قدس سره ولد شیخ بهار غازي ولد شیخ اورنګ امین زاىے علیه الرحمة وو.د شیخ زکریا والد ماجد شیخ بهار غازي د خپل والد ماجد شیخ اورنګ نه ه سلسله عالیه چشتیه صابریه کښې بیعت کړے وو. شیخ اورنګ د علاقه داؤد زایئے په موضع خړکئ کښې اوسیده او د حضرت شیخ عبدالغفور عباسي سکنه مټئ مرید وو. چه دغه شیخ عبدالغفور د اخون پنجو بابا مرید او خلیفه وو.

د حضرت شیخ زکریا والد ماجد شیخ نو بهادر ته غازي په دے اعتبار وائي. چه د باجوړ په سرحد د کافرستان د کفارو سره په غزا کښې شهید شوے وو.

---

[144] تحفة الاولیاء صفحات نمبر ۳۴ تا ۴۶ او کلیات دا دین.

حضرت شیخ زکریا د حضرت شیخ یحی حضرت جي صاحب نه په سلسله عالیه قادریه کښې بعیت کړے وو.ا و د خپل والد ماجد نه یئے په سلسله عالیه چشتیه کښې طریقه کړے وه. په دغه وجه ه جهر به یئے ذکر کؤلو. او هر کله چه حضرت میا محمد عمر د څمکنو د ده پیر بهائي وو. او هغه په نقشبندیه طریقه کښې بیعت وو. او په نقشبندیه طریقه کښې په جهر ذکر نه شي کوؤلے. نو په کومو ورځو کښې چه شیخ زکریا او حضرت میا محمد عمر په موضع ګهړی مومن خان کښې دیره وو. سبق یئے وئیلو. نو د دواړو تر منځه د زکر جهر په مسئله اختلاف او بحث پیښ شه. دواړه حضرت سر الا عظم له لاړل. او هغوئ شیخ زکریا ته هدایت او کړچه ته د میا عمر سره بحث مه کوه او ځه په کډه موضع صاحبئ ته لاړ شه چنانچه دغه کلي ته راغے. روستو دلته شهید کړلے شه. دا کلے نن ورځے په میا ګوجر یادیږي. او د علاقه داؤد زایئے مشهور کلے دے[145].

حضرت شیخ میا عنصر قریشي

د حضرت مولانا شیخ محمد یحی قدس سره په ممتاز و مریدانو کښې یو مشهور مرید چه د زاهد او ریاضت او کشف او کرامت خاوند وو. حضرت میا عنصر قریشی وو. چه د موضع پنډی ګهیب او سیدونکے وو. او مزار

---

[145] د کلیات دا دین او تحفة الاولیا، صفحه نمبر۴۲ نه په اختصار.

مبارک یئے هم هلته دے. علیه الرحمة والغفران.

حضرت شاه محمد غوث قادري:

حضرت شاه محمد غوث قادري لاهوري په سلسله عالیه نقشبندیه کښې د حضرت مولانا شیخ یحی مرید وو. (تذکره به یئے روستو راشی).

حضرت شیخ جنید پشاوري:

حضرت شیخ جنید پشاوري قادریه په سلسله عالیه نقشبندیه کښې د حضرت شیخ یحی خلیفه وو. (تذکره به یئے روستو راشي)

حضرت میا محمد عمر څمکنی

حضرت میا محمد عمر د څمکنی د حضرت میامحمد عمر د څمکنی د حضرت میا شیخ یحی حضرت جي صاحب قدس سره نامور خلیفه دے. (تذکره به یئے روستو راشي) د ده نه علاوه یو بل شیخ محمد عمر پشاوري نومے بزرگ هم د حضرت جي صاحب د اټک مرید وو. چه په پیښور ښهر کښې اوسیده. او دا دین پخپل کلیات کښې د هغة زکر کړیدے نور احوال یئے نۀ دے معلوم. علیهم الرحمة والغفران.

حضرت حافظ محمد صادق

حضرت مولانا شیخ حافظ اخوند محمد صادق قادري، نقشبندي قدس سره چه په قام باندے سید حسینی وو. په یو روایت د سوات نه او په بل روایت د قدنهار نه راغلے وو. او د علاقه هشتنګر د موضع رجړ اوسیدونکے وو. په سلسله عالیه نقشبندیه او قادریه کښې د حضرت مولانا شیخ محمد یحی مرید او خلیف وو. فاضل عالم وو. د موضع رجړ په یو جامع مسجد کلي چه د شکو جماعت په نوم مشهور دے. درس به یئے ورکولو. ډیر لوئ مرتاض زاهد او مقبول عارف وو. صاحب د کشف، کرامت او تصرف وو. د ډیر ولویو فیوضاتو خاوند دے. مزار مبارک یئے د رجړو کلي نه جنوب مشرق طرف ته د پوخ سړک سره نزدے نمر خاته غاري ته دے. او مرجع د خاص و عام دے. علیه الرحؤة والغفران.

حضرت شیخ میا رامباز

حضرت شیخ میا رامباز قدس سره د موضع پړانګ (چارسده) اوسیدونکے وو. فاضل عالم او کامل عارف وو. اوچه روحاني درجه ورته حاصل وهپه سلسله عالیه نقشبندیه کښې د حضرت مولانا شیخ محمد یحی خلیفه وو. محمد خان د عمر زو (۱۲۰۱هـ) په یوه قصیده کښې د دوئ د اوچتے عرفاني[146] درجے ډیره ستائینه کړیده. روستو د دے شیخ میا رامباز علیه الرحمة نامور فرزند حضرت شیخ میا مولانا محمد قدس سره هغة علامه

---

[146] قصیده د خان محمد خان د عمر زو قلمي.

دهر او فاضل العصر محقق عالم تیر شوے دے[147]. چه په سلسله عالیه نقشبندیه کښې د دے خپل والد ماجد مآزون او خلیفه وو.. او په وادئ پیښور کښې د استاز کل حیثیت ورته حاصل وو. او د پنجاب. سرحد. خراسان او افغانستان په سوؤنو شاګردانو به ترینه په خصوصیت سره د علم فقهه درس حاصلولو. د هشنغر په زمکه د علم فقهه دومره لوئ درسګاه په نزدے زمانه کښې بل نه دے تیر شوے او هم دا هغه نامور عالم دے چه حضرت مولانا ارباب عبدالکریم خلیل. حضرت مولانا اخوند شیخ عبدالغفور د سوات (د سیدو باباجي) او حضرت مولانا اخوند فاضل د ده شاګردان وو. تر ۱۲۸۰هــ ژوندے وو. د وفات صحیح تاریخ یئے نه دے معلوم. د دے دواړو پلار او ځوي قبرونه دواړه غبرګ یو ځائ جوړ دي. او مزار مبارک یئے د موضع پړانګ (چارسده) کندي سدو خیل نه نمر خاته طرف ته په نزدے هدیره کښې دي. اولاد یئے په پړانګو کښې موجود دے. علیه الرحمة والغفران.

حضرت شیخ سنت:

حضرت مولانا شیخ سنت قدس سره په سلسله عالیه نقشبندیه کښې د حضرت مولانا شیخ محمد یحی میرد او خلیفه وو. فاضل عالم او صاحب د کشف او کرامت بزرګ وو. مزار مبارک یئے د موضع پړانګ چارسده په مقبره کښې د حضرت مولانا میاب رامباز د

147 بیاض د تبیسان الحایق قلمي

مزار مبارک نه مغرب طرف ته دے. او مرجع د خاص او عام دے. او لادیئے "شیخ سنت خیل" یادیږي. په پړانګ کلي کښې آباد دي. د وفات تاریخ یئے راته معلوم نه دے. علیه الرحمة والغفران.

حضرت شیخ اخوند قاسم علیه الرحمة:

حضرت مولانا الفاضل والولي الکامل شیخ اخوند محمد قاسم علیه الرحمة په قام باندے د علاقه هشنغر د مامون زی قوم د اتمانزی قبیلے وو. او په موضع اتمانزی کښې اوسیده. په سلسله عالیه نقشبندیه کښې د حضرت مولانا شیخ رامباز علیه الرحمة د پړانګ خلیفه وو. او ډیره اوچته عرفاني مرتبه یئے لرله. ډیر لوئ فاضل عالم او کامل ولي د خداي وو. د کشف او کرامات او تصرفاتو خاوند دے. ادیب او مؤرخ هم وو. په روستو عمر کښې موضع تنګي (هشنغر) ته تلے وو. هم هلته وفات شه. مزار مبارک یئے د موضع تنګی بره زائ نه مغرب طرف ته د خوړنه قبلے غاړے ته د سرو ډهیرو په لمن کښې دے. په "شړو میا" صاحب مشهور دے. یو کتاب "تاریخي تذکره" یئے تالیف کړی دے. چه هغه ترینه علمي یارګار پاتے دے. په دے تذکره کښې یئے د هشنغر د محمد زی قوم خصوصاً اتمانزئ قبیلے او نور

و بزر ګانو حالات درج کړي دي[148]. د حضرت مولانا اخوند قاسم علیه الرحمة د وفات صحیح تاریخ راته معلوم شوے نه دے.

حضرت شیخ محمد اکرم اوسید شیخ محمد کرم علیه الرحمة:

حضرت مولانا الفاضل شیخ سید محمد اکرم علیه الرحمة او حضرت مولانا شیخ سید محمدکرم علیه الرحمة دواړه رونړه وو. مولانا شیخ محمد اکرم مشر وو. دوئ په قام باندے مشواني سیدان وو. د ضلع هزاره (مغربي پاکستان) د موضع سري کوټ اوسیدونکي[149] وو. (د ضلع هزاره په مشوانی ساداتوکښې د دوئ قبیله په حسین خیل نامه یادیږي. په سین خیل مشهور ده) په سلسله عالیه نقشبندیه کښې د حضرت مولانا شیخ محمدیحی حضرت جي صاحب د اټک نه یئے بیعت کړے وو. او بیا روستو د خپل پیر طریقت په حکم سره د هزارے نه د وادئ پیښور (ضلع مردان) اسماعیلا نومے کلي ته راکلل. او د "اکو خیل" نومي قام د ملک زی قبیلے سره آباد شول او په احمد خیل نومي قبیله کښې یئے ودونه اوکړل. بیا په دوئ کښې کشرے رور محمد کرم علیه الرحمة په اسماعیله (مردان) کښې پاتے شه. چه اولاد یئے نن ورځے د ضلع مردان په اسماعیلا یارحسین او سره چینه نومي کلو کښې آباد

---

[148] دا کتاب په ۱۹۳۰ء کښې د موضع تنګی بره زائیے کندی روړان کوم یو صاحب په حمیدیه پریس پیښور کښې چاپ کړے وو. چه اوس بالکل نایاب دے. (اثر)

[149] قلمي یاد داشتونه د سید نظر الله جان بیرسټر مردان.

دے. او ډیر لوي عالمان. فاضلان او مشاهیر بزرګان پکښې تیر شوي دي. او حضرت مولانا شیخ محمد اکرم علیه الرحمة د ضلع او تحصیل پیښور موضع "رنګی" ته تشریف یوړلو. نور عمر یئےهلته تیر کړ او هم هلته وفات شه. اولاد یئے په رنګی کښې آباد دے[150].

حضرت مولانا شیخ محمد یحی قدس سره په تاریخ د ۱۰۴۱هـ کښې پیدا شوے وو. او په ۱۱۳۱هـ کښې په مقام د اټک وفات شوے وو[151]. مزار مبارک یئے د اباسندهـ په ګاړه د اکبر د قلعه نه شمال مشرق طرف ته د سړک سره نزدے دے. او مرجع د خاص و عام دے. علیه الرحمة والغفران.

[150]کلیات مولوي دا دین.
[151]خزینة الا صفیاء

حضرت مولانا شيخ شهباز قلندر قادري عليه الرحمة

ولادت .... بند هيلکنډ ۱۰۳۳هـ

وفات................................ ... پشاور ۱۱۳۳هـ

حضرت مولانا شيخ المشايخ اخوند شهباز په ۲۷، تاريخ د جمادي الاخر ۱۰۳۳هـ په موضع طوري ملک بند هيکنډ (انډيا) کښې پيدا شوے وو. روحاني او باطني فيضان ورته د حضرت شاه شرف الدين پاتي پتي المعروف بوعلي شاه قلندر نه حاصل شوے وو. په دغه وجه د سدا سهاګ قلندريه مشرب باکماله بزرګ وو. په آخر عمر کښې په ۱۰۹۲هـ کښې (په ورځ د پنجشنبے۹، تاريخ د ربيع الاول) په مقام د حيدر آباد سندهـ د حضرت مولانا ميا عبدالحئ الملقب په شيخ حبيب سندهي قادري نقشبندي چشتي نه يئے په سلسله عاليه قادريه نقشبنديه او چشتيه کښې خرقه د خلافت حاصله کړے وه[152]. او د خپل پير د وفات نه روستو د

[152] آئينه تصوف صفحه ۱۷۱

مغربي پاکستان خراسان او و افغانستان د سیاحت نه روستو وادئ پیښور ته یئے تشریف راوړے وو. او دلته په تاریخ یکم رمضان ورځ چار شنبه وخت نماز چاشت ۱۱۳۳هـ کښې وفات شه. مزار مبارک یئے په موضع پبی تحصیل نوشهره ضلع پیښور کښې دے. او مرجع د خاص و عام دے.

په "قلندریه سداسهاګ" او قادریه طریقه کښې د ده مشهور خلیفه نوم اخوند نعیم احمد دے. او هغه د "آئینه تصوف" مؤلف لیکي دي. چه حضرت اخوند مؤمن د ماشوګکهر د دے شیخ شهباز خلیفه وو. نو لکه چه مخکښې د میا عبدالحئ په تذکره کښې پرے بحث شویدے هغه دوئم شیخ شهباز مهمند نقشبندي دے. (چه روستو به یئے تذکره راشي) او په دے بناء دغه روایت صحیح نه دے. بلکه صحیح شکل یئے دا دے چه اخوند مؤمن د شیخ شهباز قلندر نه په چشتیه طریقه کښې مرید وو. او په نقشبندیه طریقه کښې خلافت حضرت شاه عبداللطیف بهټائي قدس سره دے. چه روستو به یئے تذکره راشي.

حضرت شیخ شهباز قلندر سدا سهاګ چونکه واده نه وو کړے. اولاد یئے نه دے پاتے شوے. په دے وجه د پبو میاګان د دے شیخ شهباز اولاد نه دے. غالباً دهغه د خلیفه میا نعیم احمد اولاد دے. یا د حضرت شیخ شهباز قلندر علیه الرحمة په اولس نورو مشاهیرو خلیفه ګانو کښې د بل کوم یو خلیفه اولاد دے. روایت دے چه په دے

حضرت شیخ شبهاز قدس سره باندے مزار حضرت میا محمد عمر د څمکنو جوړ کړے دے[153].
حضرت شیخ شهباز قلندر علیه الرحمة ډیر فیوضات او فتوحات لري. د څرګند او ښکاره کرامتونو خاوند دے. په مزار مبارک یئے د هر چار شبنے په ورځ میله وي. د لرے لرے اطرافونه د وجع مفاصل. رعشه او فالج بیماران مزار ته یئے حاضریږي او شفابیا مومي. د دوئ روحاني تصرفات یو ناپایا به سمندر دے. چه عام او خاص ترینه فیض حاصلوي.

علیه الرحمة والغفران

یادګیرنه:

د دے شیخ شهباز علیه الرحمة نور حالات چه مونږه پرے پخپل کتاب "سادات افاغنه" کښې بحث کړے دے. هلته دے ملاحظه کړلے شي. (اثر)

---

[153] مناقب د میا عمر څمکنو (قلمي)

حضرت مولانا شیخ المشائیخ شهباز مهمند نقشبندي

ولادت
....
ادی زایئے ۱۰۳۴هـ

وفات..............................
... پشاور ۱۱۴۶هـ

حضرت مولانا شیخ شهباز غوریه خیل مهمند علیه الرحمة په ۱۰۳۴هـ کښې په موضع ادی زایئے، متني (ضلع پیښور) کښې پیدا شوے وو. دینی علمونه یئے د موضع ادي زایئے د مولانا سید حسن بخاري[154] قدس سره نه حاصل کړے وو. بیا د هغوئ سره کوهاټ ته تلے وو. هلته یئے د حضرت مولانا شیخ المشایخ حاجي عبدالله بهادر کوهاټي علیه الرحمة نه په سلسله عالیه نقشبندیه کښې خرقه د خلافت حاصله کړے وه[155]. بیا چه کله حضرت مولانا حاجي بهادر قدس سره وفات شه. نو واپس پیښور ته یئے تشریف راوړ. او دلته یئے د حضرت مولانا شیخ حبیب الله خان المعروف په شیخ حبیب پشاوري نه د

[154] حضرت سید حسن د کوهاټ د بخاري ساداتو نیکه دے. د ادي زاے نه بیا کوهاټ ته په کډه تلے وو. مزار یئے په جنګل خیل کوهاټ کښې دے.
[155] د حضرت حاجي بهادر علیه الرحمة د مریدانو شجره قلمي

بیعت تجدید اوکړ. او د دوئ نه یئے هم د خلافت خرقه حاصله کړه[156].

حضرت شیخ المشائیخ اخوند شهباز علیه الرحمة هغه جلیل القدر بزرگ دے. چه د مولانا حاجي عبدلاله بهادر کوهاټي او مولانا شیخ حبیب الله پشاوري دواړو مشاهیرو بزرگانو د نقشبندیه مجددیه. بنوریه طریقے د فیوضاتو روحاني سلسله هم د ده په واسطه سره تر نن ورځے پورے په تول شمال مغربي پاکستان او افغانستان کښې خوره ده. د دوئ نه دا سلسله شیخ محمد مؤمن د ماشوگگهرته بیا د هغه نه اخوند حافظ محمد صدیق د بشونړئ ته رسیدلے وه. (روستو به د دے دواړو بزرگانو او د دوئ د خلیفه گانو د شجرے تذکره راشي)

حضرت مولانا شیخ شهباز مهمند قدس سره په ۱۱۴۶هـ کښې وفات شویدے. او مزار مبارک یئے د حضرت مولانا شیخ حبیب پشاوري قدس سره د مزار په احاطه کښې دے[157].

علیه الرحمة والغفران

حضرت شیخ المشائیخ مولانا شاه محمد غوث قادري

[156] د شیخ حبیب د مریدانو شجره.
[157] تحفة الا ولیاء صفحه نمبر۴۸

ولادت
....
پیښور ۱۰۸۸هـ

وفات.......................................
... لاهور ۱۱۵۲هـ

د حضرت مولانا شیخ لامشائیخ شاه محمد غوث قادري اصلي نوم محمد غوث دی. په شاه محمد غوث قادري مشهور دی. او شیخ المحدثین یئې لقب دی. د والد ماجد یئې پیر سید حسن په تذکره کښې بیان شوی دی. د سید محمد غوث والده ماجده د سید محمد جمال ولد میا عبدالوهاب ولد میا مسطفی ولد پیر سید علي تر مزي المعروف پیر بابا) لور وه. او په دې اعتبار حضرت شاه محمد غوث د مور او پلار دوارو د طرف نه صحیح النسب حسنی او حینني سید دی.

استاذان

محمد نعیم

حضرت شاه محمد غوث د دیني علمونو ابتدائي کتابونه د خپل والد ماجد نه. او بیا روستو نوریئې د حضرت مولانا اخوند محمد نعیم د کامه (سمت مشرقي افغانستان نه لوستلې وو[158]. هر کله چه د حضرت شاه محمد غوث)ماما گان د موضع کامه سره نزدې

[158] د حضرت محمد نعیم تذکره مخکښې درج شویده.

د علاقه کنړ په موضع د ونائي پشت کښې اوسيدل. نو په دغه مناسبت سره د علم حاصلولو ابتدائي زمانه يئےهتله په کامه کښې تيره کړے وه.ا و د حضرت شاه محمد غوث د يو بل قول مطابق د علم فقهه او اصول فقهه مشهور کتبونه تاريخ توضيح يئے هم د مولانا ميا محمد نعيم نه په درس لوستلي وو.

مونږ چه د دوئ دا خپل بيان په نظر کښې اوساتو. نو د وئيلے شو چه کم از کم تر پنځلس کاله عمر (۱۱۰۳هـ) پورے دے په کنړ کښې وو. او بيا د هغے نه روستو پيښور ته واپس راغلے دے.

نور محمد او محمد مراد:

د حضرت شاه محمد غوث يو بل قول داسے دے. چه ما د علم دين ځنے کتابونه د مولانا ميا نور محمد مدقق. حاجي ياربيګ. مولوي عبدالهادي او ميا محمد مراد نه وئيلي دي." د دوئ د دے قول نه معلوميږي. چه په ۱۱۰۳هـ کښې چه د کنړ نه واپس پيښور ته راغلے وو. نو بيا کوهاټ ته تلے وو ځکه چه په دغه زمانه (۱۱۰۳) کښې دا پورته چه ذکر شول. دا ټول نامور عالمان په کوهاټ کښې استوګن وو. دوئ چه د حضرت حاجي عبدالله بهادر کوهاټي عليه الرحمة سره د لاهور د مشهورے علمي مناظرے نه روستو کوهاټ ته رواغلي وو.. نو بيا لاهور ته نه وو تلي او دلته پاتے شوي وو. او د حضرت ميا نور محمد مدقق او مولانا ميا

محمد مزار[159] غرغشتي قصوري عليهم الرحمة مزارونه مبارک په کوهاټ کښې دي[160].

جان محمد

د حضرت شاه محمد غوث يو بل قول داسے دے. چه "د علم حديث درس او اجازه م د حضرت مولانا جان محمد کلان نه چه په منډی فاليز آباد کښې اوسده حاصله کړے ده". د دے جان محمد په حقله مفتي غلام سرور لاهوري ليکي[161].

"ميا جان محمد کلان د جناب شيخ محمد اسماعيل مدرس او خليفه وو. په طريقت شريعت. فقهه او حديث کښې کامل عالم او مقدداد زمانے وو. په ۱۱۲۰هـ کښې وفات شويدے."

[159]مولانا محمد مراد غرغشتي قصوري لوي محقق عالم او فاضل مؤلف وو. د "لجة العشق" په نوم يو کتاب يئے يد ګار پاتے دے. د دوه څوي مولانا اخندزاده عبدالخالق المعروف په خليف عبدالخلاق قصوري هم فاضل عالم تير شويدے. د شاه محمد غوث مريد شوے وو. او بيا په پيښور ښهر کلي اوسيده. او د شاه محمد غوث د ځامنو او نمسو استاذ هم وو. د شاه محمد غلام المعروف په شاه غالم ابن سيد محمد عابد ابن شاه محمد غوث د پاره يئے د "عقود انامل" په نوم يوکتاب ليکلے دے. يو بل کتاب يئے په علم عروض او قواني کلي تاليف کړيدے چه نو ادرا العجائب نوم يئے دے. شاعر او اديب هم وو. د مصري خان ګګيانړی په ديوان صفحه نمبر۲۲۹ کښې خليفه عبدالخالق په نوم يو نظم موجود دے.

[160]مجمع الا نساب قلمي

[161]خزينة الا صفياء صفحه ۷۸۳

هر کله چه د دے مولانا جان محمد کلان مزار مبارک په لاهور کښې د حضرت مولانا محمد اسماعیل المعروف په "وړے میا" علیه الرحمة د مزار په احاطه کښې دے. نو د شاه محمد غوث او مفتي غلام سرور د دے پورته دواړه بیانونو او دګه صورت حال په وجه بعض تذکره لیکونکي په دے غلط فهمئ کښې پریوتلي دي. چه مولانا جان محمد کلان به هم د دغه مولانا محمد اسماعیل المعروف" وړے میا" مدرس او خلیفه وو او د علم حدیث درس به یئے هم په لاهور کښې ورکولو. او مولانا شاه محمد غوث قادري به هم د طالب علمئ په زمانه کښې لاهور (پنجاب) ته تلے وو. او هلته به یئے د مولانا جان محمد نه د علم احادیث سند او اجازه حاصله کړے وي. حالانکه حقیقت داسے نه دے.

خبره داسے ده چه د مولانا محمد اسماعیل په نوم د دے بزرګان تیر شوي دي. او د رے واړو په لاهور کښې قیام فرمائیلے دي. په دوئ کښې (۱) مولانا محمد اسماعیل الرحمة هغه دے چه په قام فرملے غرغشتي پښتون دے. د حضرت خواجه یحی کبیر غور غشتي (متوفي ۸۳۴هـ) مرید او خلیفه وو. او په سلسله نقشبندیه کښې د مولانا عبدالرحمان جامي مرید وو. ظاهره ده چه د زمانے په لحاظ ډیر پخوانے بزرګ دے. په دے وجه مولانا جان محمد کلان چه د ۸۵۰هـ د زمانے دے. (۲) دویم مولانا محمد اسماعیل المعروف" وړے میا صاحب" دے چه د حضرت

میا میر بالا پیر قادري مرید او خلیفه دے. او د هغه د مزار په احاطه کښې د مولانا جان محمد کلان مزار هم دے. لیکن باوجود د دغې مولانا جان محمد د دے محمد اسماعیل المعروف وړے میان مرید نه دے بلکه دا مولانا جان محمد کلان د مولانا محمد اسماعیل غوري پشاور (متوفي ۱۱۱۱هـ) مرید او خلیفه دے[162]. او لکه چه مخکښې د مولانا محمد اسماعیل غوري په تذکره کښې دا خبره بیان شوې ده. چه مولانا محمد اسماعیل په جامع مسجد مهابت خان کښې د شریعت او طریقت سبقونه ورکؤل. نو هم په دغه زمانه مولانا جان محمد هم د دے خپل پیر طریقت په موجودګئ کښې هم په دغه جامع مسجد مهابت خان کښې د علم احادیث درس ورکولو. بیا چه په ۱۱۱۱هـ کښې حضرت مولانا محمد اسماعیل غوري وفات شه او په ۱۱۱۲هـ کښې جان محمد قندهارے المعروف په جان محمد کلان لاهور نه تشریف یوړلو. نو د ده نه روستو هم په جامع مسجد مهابت خان کښې علم حدیث د درس داسلسله جاري وه. او د ۱۱۲۴هـ نه روستو حضرت محمد غوث قادري په دے درسګاه کښې شیخ الحدیث وو. او په دغه منځ کښې په ۱۱۳۱هـ کښې یئے د صحیح بخاري شرحه د "شرحه غوثیه" په نوم لیکلے وه. تر سل کاله روستو زمانے پورے هم جامع مسجد مهابت خان د علم څدیث درسګاه وو. په ۱۲۱۲هـ کښې دلته حضرت استاذ الانس والجان مولانا اخندزاده عبدالله خان او

---

[162] په قول

مولانا اخندزاده فیض الله خان د علم فقهه. اصول. قرآن او حدیث درس ورکؤلو. په ۱۱۱۵هـ کښې چه حضرت مولانا اخندزاده فیض الله خان حج له لاړ. او څو کاله یئے په حرمینو شریفینو کښې تیر کړي وو[163]. نو په دغه دوران کښې د ده یونامور شاګرد مولانا جان محمد کاکړ د بلوچستان به دلته درس[164] ورکؤلو.دا دوئم ورکوټے (خرد) جان محمد په عالم فقهه. اصول وغیره کښې د حضرت اخوند حافظ شیر محمد بنو چي[165] هم شاګرد وو. هر کله چه په دے یو درسګاه کلي د جهان محمد نوم دوه مشاهیر عالمان تیر شویدي. په دے وجه او لنے په جان محمد کلان یاد شویدے[166].

دا دومره او ګد تاریخي بغث په دے غرض دلته راوړلے شه چه دا معلومه شي چه حضرت شاه محمد غوث قادري د علم حدیث کتابونه په مقام د پیښور ښهر د علم حدیث په مشهور درسګاه جامع مسجد مهابت خان کښې لوستلي وو. د طالب علمئ په دوران کښې د لاهور سفر نه وو کړے. او په دے شان د اتلسو کالو په عمر کښې یئے په ۱۱۰۶هـ کښې د دیني علمونو تکمیل کړے وو.

---

[163]ذخیرة القراء قلمي نمبر۲

[164]دیباچه د دیوان جان محمد نمبر ۶

[165]د شیرمحمد تذکره روستو راشي.

[166]جامع مسجد مهابت خان تر ۱۲۶۳هـ د علم حدیث درسګاه وو. حضرت حافظ محمد احسن خلیل المعروف په حافظ دراز پشاوري هم په دے درسګاه کښې د فتح البادي په نوم د صحیح بخاري شرح لیکلے ده. د حوالے د پاره ملاحظه کړۀ کتاب "مفید المفتي" تالیف د عالمه عبد العلي آسي مرحوم. (اثر)

حضرت شاه محمد غوث فرمائي: د ديني علمونو د طالب علمئ په دوران کښې هم د حق د طالب شوق م په زړهٔ غالب وو. ليکن قبله ګاه به م راته فرمائيل چه د علم حاصلولولنه فارغه شے. نو هاله به کتلے شي."

چنانچه د اتلسو کالو په عمر(۱۱۰۶هــ) کښې چه حضرت شاه محمد غوث فارغ التحصيل شه. نو د خپل والد ماجد نه يئے په سلسله عاليه قادريه کښې بيعت اوکر. او د شپږ کاله رياضت او مجاهدے نه پس په ۱۱۱۲هــ کښې يئے خرقه د خلافت حاصل کړه. د هغے نه پس د حضرت شيخ عبدالغفور نقشبندي کشمري پشاور نه اوبيا د حضرت سر الاعظم شيخ محمد يحی حضرت جي صاحب د اټک نه يئے په سلسله عاليه نقشبنديه کښې بيعت اوکړ. حضرت شاه محمد غوث په يو بيان کښې پخپله فرمائي چه حضرت سير الا عظم راسره ډير مهرباني اوکرله. دهغوئ په صحبت کښې ذکر قلبي غالب وو. چنانچه ذکر قلبي. او طريقه د حبس نفس او نور مقامات چه د جس نفس د مخصوص رياضت او مجاهدے سره تعلق لري. د دوئ په صحبت کښې هغه راته حاصل شول. او په نقشبنديه طريقه کښې يئے اجازت راکړ. په تاريخي اعبتار سره دا ټول واقعات د دوئ د والد ماجد وفات (۱۱۱۵هــ) نه د مخکښې زمانے دي بيا چه هر کله د دوئ والد ماجد وفات شه. نو دهغے نه روستو دوئ د برصغير پاک او هند په سفر روان شوي وو. چه په هغے کښې يئے د

هغه زمانے د عالمانو او بزرگانو چه کوم ژوندي وو. د هغوئ د ملاقات او صحبت نه او چه کوم وفات شوي وو. د هغوئ د مزاراتونه فیض حاصل کړے وو. چه دلته په اختصار سره د هغے ذکر کوؤلے شي.

شاه لطیف

د راولپنډئ سره نزدے په موضع نور پور شاهان کښې یئے حضرت سید عبداللطیف قادري سره ملاقات کړے وو. دا یو مجذوب بزرگ وو. د دغے نه څه زمانه وړاند د پیښور ښهر نه دلته راغلے او اباد شوے وو. شاه محمد غوث فرمائي. ډیر با اثره فقیر وو. څما سره یئے ډیر په مینه ملاقات اوکړ. توجه یئے راته او فرمائیله. په اثر یئے پوهه شوم. لیکن یوه ورځ چه تیره شوه د هغوئ د توجه اثر ختم شه. هیڅ باقي پاتے نه شه.

حاجي کلگو

د نور پور شاهانه نه چه د گجرات علاقے ته اورسیده نو هلته یئے په موضع نوشهره کښې د حضرت حاجي کلگو سره ملاقات اوکړ او فیض یئے تیرنه حاصل کړ.

محمد جعفر

د گجرات ه علاقه کښې یو بل بزرگ حضرت شیخ محمد جعفر سره یئے ملاقات او شه. او د هغه نه یئې فیض حاصل کړ. شیخ جعفر په دغه زمانه د ډیر عمر خاوند وو. څه زمانه

يئے په اټک کښې هم تيره کړے وه. د شيخ رحمکار کاکا صاحب ځوي شيخ عبدالحليم صاحب هم ورسره ملاقات کړے وو[167].د وفات تاريخ يئے نه دے معلوم. البته دومره معلومه ده چه د نقشبنديه طريقے بزرګ وو.

شيخ حامد

د ګجرات نه لاهور (پنجاب) ته چه اورسيده نو د حضرت مولانا شيخ حامد قدس سره په صحبت بابرکت کښې يئے فيوضات حاصل کړل (د دے ملاقت تفصيل به روستو راشي) د لاهور د قيام په زمانه کښې يئے د خپل استاد مولانا جان محمد کلان سره او د حضرت مخدوم مولانا سيد محمد سعيد ابن مولانا سيد محمد قطب بنوري قدس سره ملاقاتونه شوي وو. حضرت مولانا محمد سعيد په دغه ورځو کښې د کوهاټ نه راغلے وو. په لاهور کښې يئے قيام فرمائيلے وو.

اولياءِ سرهند

د لاهور د قيام نه پس يئے سرهند ته تشريف يوړلو. او دله چه د کومو مشاهيرو بزرګانو د صحبت فيض يئے حاصل کړے دے. د هغوئ نومونه دا دي:

شاه بهګه

د سر هند په علاقه کښې حضرت شاه بهيکه چشتي يو باکماله بزرګ وو. د هغه

---

[167]مقامات قطبيه تاليف د شيخ عبدالحليم

يئے په سلسله عاليه چشتيه کښې خرقه د خلافت حاصله کړه.

شيخ صبغته الله او ميا عبدالاحد

بيا په سرهند کښې د حضرت مولانا خواجه شيخ احمد سرهندي مجدد الف ثاني خانقاه ته حاضر شه او دلته يئے د (۱) حضرت مولانا شيخ صبغة الله ابن عروة الوثقي خواجه محمد معصوم ابن حضرت مجدد الف ثاني (۲) او د حضرت مولانا دليل الله شيخ عبدالاحد الملقب[168] په ميا گل ابن شيخ محمد سعيد ابن حضرت مجدد الف ثاني(۳) او حضرت ميا فرح شاه عليهم الرحمة سره ملاقاتونه اوکړل. او د دے بزرگ ترينو هستيو او معمر ترين روحاني شخصيتونو د پاکو انفاسونه يئے سعادت حاصل کړ. روايت دے. چه حضرت شيخ ميا گل قدس سره ورته توجه هم او فرمائيله. او بياءِ په ډير شفقت سره د خپل تاليف "معجزات نبوي" يوه قلمي نسخه هم په طور د تبرک ورکړله.

شيخ محمد او شيخ کليم الله

حضرت شاه محمد غوث چه د سرهند د قيام نه دهلي ته لاړ. نو هلته يئے د حضرت شيخ محمد چشتى او حضرت شيخ کليم الله جهان آباد سره ملاقاتونه اوشول. حضرت شيخ کليم الله ورله د يادکار په طور د خپل

---

[168] حاشيه د تحفة المرشد صفحه ۱۴

تعليمات يوه قلمي نسخه ورکړله. په دغه دوران کښې يئې د حضرت خواجه قطب الدين بختيار کاکي او حضرت خواجه نظام الدين اولياء د مزارونو زيارتونه او کړل. بيا اجمير ته لاړ. او د حضرت خواجه غريب نوار د توجه او عناياتونه يئې فيض حاصل کړ. د اجمير شريف نه چه په واپسئ کښې لاهور ته راغے نو د لاهور سره نزدے د موضع "سيام چوراسي" نومے کلي يو بزرګ حضرت سيد عبدالغنی عليه الرحمة هم په لاهور کښې موجود وو. اکثر به د هغوئ په خدمت کښې حاضر يده. فرمائي:

"زۀ فقير به اکثر په خدمت د حضرت ايشان (سيد عبدالغني) کښې حاضريدم. د دوئ صحبت او خاص مجلس به په لاس راتللو. توجه د نسبت د زات بحث (وجود مطلق خالي د تقليدانونه) به يئې راته فرمائيله. چنانچه د هغے په سبب به بيخودئ او بيرنګئ رابانده غلبه کوؤله. او د هغه نسبت او د زکر او شغل د نورو مراقبو اجازت يئې راکړ. چنانچه کله ناکله رابانده دغه نسبت غالب شی او کله بيخی ورک شي.

هر کله چه د دے دومره اوګد سفر نه یئے (غالباً په ۱۱۲۰هـ) کښې واپس پیښور ته تشریف راوړ. نو دلته یئے د پیښور ښهر جنوب مغرب طرف ته واقع مشهور کلي اخون محمد لنډئ د حضرت اخون بزرګ سهروردي علیه الرحمة نه په سلسله عالیه سهروردیه کښې بیعت اوکړ. او خرقه د خلافت یئے حاصله کړله. او په دے شان سره دوئ ته په څلورو واړو طریقو قادریه، نقشبندیه، چشتیه او سهرورد دیه کښې اجازت او خلافت حاصل شه. او د علوم شریعت او طریقت په مسندد درس او ارشاد باندے کښیناست. او د دیني علمونو د تدریس سلسله یئے شروع کړله. او لکه چه مخکښې ورته اشاره شویده په ۱۱۲۴هـ کښې په جامع مسجد مهابت خان کلي د شیخ الحدیث او چته مرتبه ورته حاصله شوه. او د چار چاپیره ملکونو طالب علمانو ترینه فیض حاصل کړ. او بیا روستو په ۱۱۴۸هـ کښې د پیښور ښهر ته لاهور (پنجاب) ته یئے تشریف یوړلو. هلته یئے څلور کاله د علوم دین په درس، نشرو اشاعت او د دین اسلام په تبلیغ او رشد او هدایت کښې تیر کړل. او په دے شان سره دا نومور بزرګ او محقق عالم په ۱۷، تاریخ د ربیع الاول ۱۱۵۲هـ کښې وفات شه.

د حضرت شاه محمد غوث دا وچت علمي او عرفاني مقام د روستو راتلونکے زمانے عالمانو او مؤرخانو او همعصرو مشاهیرو بزرګانو ډیره ستائینه کړیده. د مثال په طور حضرت خواجه مراد بیګ لیکي چه:

"حضرت شاه محمد غوث قادري په ټولو علمونو آراسته دے. او په ذکر او فکر کښې مشغول دے".

"جامع د ظاهر او باطن او کاشف د رموز و د حقيقت او طريقت دے"

او حقه خبره هم دا ده چه حضرت شاه محمد غوث محمد غوث قادري په دغه ټولو صفتونو موصوف وو. کوم چه د دے دواړو مشاهيرو کسانو ليکلي دي.

اولاد

د حضرت شاه محمد غوث نه روستو څلور ځامن پاتے شوي وو. چه دهغوئ نومونه دا دي:

(۱) سيد مير محمد عابد عليه الرحمة (چه مزار مبارک يئے په کشمير کښې دے)

(۲) سيد محمد شاکر عليه الرحمة (چه مزار يئے په ضلع جهلم کښې د جلالپور شريف سره د۱/۲ ۱ ميل په فاصله د غرة په لمن کښې دے.)

(۳) سيد شا مير عاليه الرحمة (چه مزار يئے په مظفر آباد آزاد کشمير کښې دے)

(۴) سید محمد باقر علیه ارلحمة (چه مزار یئے ه کشمیر کښې دے)

دا څلور واړه ځامن یئے په سلسله عالیه قادریه کښې خلیفه ګان وو. او د خپلے زمانے فاضلان عالمان او بزرګان تیر شوي دي. د دغې نه علاوه د یو څو نورو خلیفه ګانو نومونه یئے دا دي:

خلفاء

(۱) حافظ محمد صدیق لاهوري علیه الرحمة

(۲) قاضي محمد غوث پشاوري علیه الرحمة

(۳) شیخ وجیه الدین المعروف په پیر زهدي[169] د مزنګ لاهوري علیه الرحمة .

(۴) سید غلام محمد ابن سید محمد عابد ابن شاه محمد غوث چه د ده خپل نمسے وو. او مرید یئے هم وو. په شاه غلام مشهور وو. علیهالرحمة

---

[169] د پهر زهدي په حقله مفتي غلام سرور لاهوري لیکي (خزینة الا صفیا صفحه ۱۰۰۰) چه دے د شاه محمد غوث خلیفه وو. په متاخرینو مشائیخو کښې کامل ترین بزرګ او د روئے زمین په اولیاؤ کښې د اوچے مرتبے خواند وو. جامع د علوم ظاهري او باطني مور د دفیوضات وصوري او معنوي او واقف د اسرار جلي او حنفي وو. مقتداء د زمانے وو. او خپل مثال یئے نه لرلو. په ۱۱۴۰هـ کښې وفات شوے دے. مزار مبارک یئے د لاهور په مزنګ کښې دے. علیهالرحمة والغفران. (اثر)

(۵) اخون زاده عبدالخلاق قصوري علیه الرحمة

تالیفات

تر دے وخته پورے چه د حضرت شاه محمد غوث علیه الرحمة د کومو کتابونو تالیفاتو او تصنیفاتو نومونه راته معلوم شوي دي. د هغے نومونه دا دي.

(۱) شرح گثیه: د علم حدیث د مشهور کتاب صحیح بخاري شرحه ده. او لکه چه مخکښې ورته اشاره شویده دا کتاب یئے په ۱۱۳۱هـ کښې تالیف کړے دے.

(۲) "رساله اصول حدیث"ـ په علم اصول حدیث کښې یو عالمانه کتاب دے دے".

(۳) "کسب سلوک" "د طریقت او معرفت د اصولو او طریق کار په بیان کښې په فارسی ژبه یو مفید کتاب دے. ژبه یئے فاسی ده. د دے یوه ناقصه اردو ترجمه د "اسرار طریقت" په نوم په لاهور کښې چاپ شویده."

(۴) "ذکر جهر":. په عربی ژبه یوه مختصره رساله ده. د ذکر جهر په ثبوت کښې دلائل پکښې بیان شویدي. د دے رسالے د تالیف پس منظر داسے دے. چه په ۱۱۰۶هـ کښې

چه حضرت مولانا شیخ سعدي بخاري لاهوري پیښور ته تشریف راوړے وو. نو په دغه موقع په مقام د پیښور ښهر د ذکر جهر او ذکر حفي په موضع یوه لویه علمي مناظره شوے وه چه دهغے تفصیل حضرت میاصاحب محمد عمر د څمکنو پخپل کتاب "خزینة الا سرار" کښې درج کړیدے. په دغه مناظره کلې غالباً د مولانا محمد غوث قادري استاد مولانا عبدالهادي قصوري هم د ذکر جهر په حق کښې وو. دا رساله د هغه دلائیلو مجموعه ده. چه د ذکر جهر په حق کښې بیان شوي وو. او بله دا چه حضرت شاه محمد غوث قادریه لا په دغه زمانه په سلسله عالیه نقشبندیه کښې بیعت شوے نه وو. د قادریه طریقے مسلک د ذکر جهر دے او د نقشبندیه طریقے مسلک د زکر حنفي دے. د بحث بنیاد هم دا څیز وو."

(۵) "اسار التوحید": دا یو انتهائي اهم عالمانه تحقیقي او تصوفي کتاب دے. د علم توحید په موضوع لیکلے شویدے. ژبه یئے عربي ده. دا کتاب لا چاپ شوے نه دے."

(۶) "جامع العلوم": د دے کتاب ژبه عربي دي. د مختلفو علومو او فنونو جامع کتاب دے. د ۱۲ x ۲۷

/ ۴ سائز په اوه سوه صفحاتو مشتمل دے. د دے کتاب يوه قلمي نسخه څما (اثر افغاني) د نظر نه تيره شويده. يقين نه دے که د دے کتاب بله نسخه يدا شي. او دغه نسخه چه د چا سره وه هغة يئے چاله کتلوله نه ورکوي.

(۷) "تذکرة غوثيه". د قصيده غوثيه په فارسی ژبه عالمانه ترجمه ده. په ۱۹۱۰ء کښې د شرح خمريه په نوم په لاهور کښې چاپ شوے ده.

(۸) "رساله غوثيه". مولوي نور احمد چشتي پخپل کتاب تحقيقات چشتي کښې د حضرت شاه محمد غوث قادري د يو کتاب نوم "رساله غوثيه" ياد کړے دے. او دا هم ليکي چه په دے کتاب کښې يئے خپل حالات بيان کړي دي. خيال دا دے چه مولوی نور احمد به رساله "کسب سلوک" د رساله غوثيه په نوم ياده کړے وي. ځکه چه د رساله کسب سلوک په شپږم فصل کښې هم حضرت شاه محمد غوث خپل حالات بيان کړي دي. او که داسے نه وي. نو بيا وئيلے شو چه رساله غوثيه د دوئ يو بل د "خود نوشت سوانح حيات" کتاب دے چه اوس ناياب دے.

تاريخي او تحقيقي څېړنه

د حضرت شاه محمد غوث قادري عليه الرحمة لاهور ته د تللو او د پنجاب د مشائيخو نه د فيض حاصلولو. او بيا وروسته د دوئ د وفات په تاريخ کښې چه د لاهور (پنجاب) کومو پخوانو مشهورو تذکره ليکونکو تاريخي ياد داشتونه ليکلي دي. او په هغے کښې چه په تاريخ اعتبار سره کومے غلطئ او التباسات دي. په هغې باندے يو تحقيقي نظر اچول راته ضروري ښکاري. ځکه چه د دغه تاريخي تذکرو دغه غلط روايتونه هم دغه شان پرله پسے تر نن ورځے پورے په مختلفو کتابونو رسالو او اخبارونو کښې غلط رانقل کوؤلے شي. نو چه اصلاح يئے اوکړلے شي.

په دے سلسله کښې به اول د مولوي نور احمد چشتي مرحوم په تاليف تحقيقات چشتي باندے بحث اوکړو. موصوف په دےخپل کتاب کښې د حضرت شاه محمد غوث پحقله دا دوه واقعے نقل کړي دي. ليکي:

(الف) حضرت شاه محمد غوث پخپل تاليف "رساله غوثيه" کښې لاهور ته د خپلو راتللو حال داسے بيان کړے دے.

"هر کله چه زۀ د حق په تلاش کښې لاهور ته را اورسيدم. نو ورځ به م ښهر کښې تيره وله او شپے له به د حضرت ميان مير بالا

پیر قادري علیه الرحمة زیارت له تللم. او شپه به م هلته تیروله. یوه شپه په خوب کښې حضرت میا میر علیه الرحمة رابانده حضور شه. نو جه یئے راته او فرمائیله او ورسره یوه وظیفه او شغل یئے هم راته او ښوده. بیا یئے راته او فرمائیل چه سحر پاسیږه. نو د شیخ حامد لیدلو[170] له لار شه". زۀ چه سحر د خوب نه بیدار شوم. لاهور ښهر ته راغلم. د شیخ حامد پته م اولګوله. او د هغه سلام له لاړم. دا یو ډیر بزرګ سړے وو. او د حضرت دا تاګنج بخش علیه الرحمة د مزار خواته اوسیده. هغة له ورغلم او او فیض م ترینه حاصل کړ."

(ب) د تحقیقات چشتي" مؤلف دریمه خبره دا لیکلے ده چه: "هر کله حضرت شاه محمد غوث علیه الرحمة د پیښور نه پنجاب ته راغے. نو لاهور ته د رارسیدلو نه مخکښې په ګجرات نومے ښهر کښې یئے د حضرت شاه دوله دریائي قادري نه فیض حاصل کړ."

مونږ دا اوایو چه د "تحقیقات چشتي" د مؤلف د دغه اولنے روایت صحیح دے. لیکن

---

[170] د انوار اصفیاء صفحه نمبر۴۵۳ په روایت شیخ حامد قادري د حضرت میا میر بالا پیر قادري خلیفه وو.

دوئم روایت یئے په هیڅ شکل هم صحیح نه دے. اولنے روایت ځکه صحیح دے. چه مخکښې مونږ هم په تفصیل سره دا بحث درج کړ. چه هر کله حضرت شاه محمد غوث د خپل والد ماجد د وفات (۱۱۱۵هـ) نه روستو تر ۱۱۲۰هـ پورے د برصغیر پاک او هند د عالمانو او مشائیخو د زیارتونو کولو د پاره کوم سیاحت او سفر کړے وو. د هغے په دوران کښې د لاهور د قیام په موقع یئے د نورو عالمانو او بزرګانو نه علاوه د حضرت شیخ حامد قادري نه هم فیض حاصل کړے وو." وجه یئے دا ده چه حضرت شیخ حامد قادري په دغه زمانه د (س ۱۱۱۵هـ نه تر ۱۱۲۰هـ) ژوندے وو.ا و د تحقیقات چشتی د مؤلف دوئم روایت ځکه صحیح نه دے چه حضرت شاه دوله دریائی ګجراتي د شاه محمد غوث د دے سفر او سیاحت نه ډیر پخوا وفات شوے وو. په دے سلسله کښې د واقعاتو تاریخي ترتیب داسے دے.

(۱) د شاه دوله دریائي ګجراتي قادري سهروردي علیه الرحمة سره د حضرت شاه محمد غوث د والد ماجد پیر سید حسن قادري ملاقات شوے وو. غالب ګمان دا دے. چه روستو تذکره لیکونکي په التباس کښې پریوتلي دي.

(۲) مخکښې مونږه د حضرت شاه محمد غوث د والد ماجد پیر سید حسن قادري په تذکره کښې په تفصیل سره دا واقعه ذکر کړے ده. چه

هر کله د حضرت پیر سید حسن قادري او حضرت شاه دوله گجراتي ملاقات اوشه. نو پیر سید حسن په گجرات کښې قیام لرلو چه حضرت شاه دوله گجراتي وفات شه".

(۳) د مفتي غلام سرور لاهوري د تالیف تاریخ مخزن پنجاب جلد نمبر۵ صفحه۵۳۴ د بیان مطابق حضرت شاه دوله دریائي گجراتي په ۱۰۸۵هـ کښې وفات شوے دے. او د وفات د تاریخ ماده یئے دا جمله ده. خواجه عشق.

(۴) د حضرت پیر سید غلام محمد ابن سید محمد عابد ابن شاه محمد غوث د تالیف "خوارق عادت[171]" (قلمي نسخه) د بیان مطابق هر کله چه حضرت سید حسن القادري د دغه ۱۰۸۵هـ نه روستو پیښور ته را اورسیده. نو بیا هاله دلته د پیښور د قیام په زمانه کښې یئے دوه ودونه کړي وو. او د هغے نه روستو یئے اولاد پیدا شوے وو".

(۵) د دے پورته بیان نه مونږ ته دوه نتیجے په لاس راځي.

[171]خوارق عادت (قلمي نسخه)

(الف) یوه دا چه د حضرت شاه دوله ګجراتي د وفات (۱۰۸۵هـ) په زمانه کښې لاحضرت شاه محمد غوث پیدا شوے هم نه وو.

(ب) بله دا چه حضرت شاه محمد غوث د خپل والد ماجد د وفات (۱۱۱۵هـ) نه روستو پنجاب ته تلے دے. نو د دے تاریخي واقعاتو په رنړا کښې دا عقل نه اخلي چه حضرت شاه محمد عوث دے د ۱۱۱۵هـ نه روستو پنجاب ته راشي. او د هغه چا سره دے ملاقات او کړي. چه هغه د ده د راتللو نه دیرش کاله مخکښې په (۱۰۸۵هـ) کښې وفات شوے وو. البته دا وئیلے شو چه حضرت شاه محمد غوث خرنګ چه د نورو بزرګانو د مزاراتو سلام او فاتحے له ورغلے وو. دغه شان د حضرت مولانا شیخ شاه دوله[172] دریائي قادري سهرودي زیارت له به هم ورغلي وي.

د بحث دوئمه حصه

د حضرت شاه محمد غوث قادري په حقله د تاریخي و تحقیقي بحث دوئمه حصه دا ده چه د سابق پنجاب مختلفو تذکره لیکونکو

---

[172]حضرت شاه دوله دریائي په چشتیه او سهروردیه طریقو کښې د حضرت شیخ سدن سیالکوتي مرید وو. پخپل وخت کښې صاحب د تصرفاتو او کراماتو بزرګ وو. مزار یئے د ګجرات په زوړ ښهر کښې دے. کرامات یئے اوس هم ځرګند دي.

مؤ لفانو د دوئ په تاريخ وفات ډير اختلاف ښکاره کړيدے. پکر ده چه مونږ د دے نامور بزرګ د وفات صحيح تاريخ متعين کړو. په دے سلسله کښې د مختلفو تذکرو بيانونه دا اسے دي.

(الف) مولوي نور احمد چشتي مرحوم پخپل تاليف "تحقيقات چشتي" کښې ليکي چه حضرت شاه محمد غوث عليه الرحمة په ۱۰۷۷هـ کښې وفات شوے دے. ليکن عجيبه کار يئے دا کړے دے. چه د دوئ د وفات د تاريخ کومه قطعه چه يئے ليکلے ده. د هغے نه د وفات تاريخ د ۱۰۷۷هـ په ځائ ۱۱۷۷هـ راخيژي. هغه قطعه دا ده.

محمد غوث پير راهنمائيے که بد درسدان دين مرتاض

بتاريخ وصال آں شه دين نذرا آد که سيد پير فياض

(ب) منشي محمد الدين فوق مرحوم په خپل کتاب "ياد وفته ګان" کښې ليکي چه د حضرت شاه محمد غوث قادري عليه الرځمة د وفات يقيني تاريخ ۱۱۷۷هـ دے.

(ج) مفتي غلام سرور لاهوري پخپلو دوه ؤ کتابونو کښې د حضرت شاه محمد غوث قادري د تاريخ وفات ذکر کړيدے. (۱) په "خزينة الاصفياء"

کښې یئے د دوئ د وفات تاریخ ۱۱۵۲هـ ښودلے دے. او د تاریخ د وفات د پاره یئے دا قطعه لیکلے ده.

چون محمد غوث رفت از این جهان سال وصل آن ولی متقی

عارف مخدوم سالک کن رقم ہم بضرما راہبر سید سخی

(ج) مفتي غلام سرور لاهوري پخپل دویم کتاب تاریخ مخزن پنجاب کښې هم د حضرت شاه محمد غوث د وفات تاریخ ۱۱۵۲هـ ښودلے دے. او د وفات د تاریخ ماده یئے دا جمله لیکلے ده. "تاج حشمت".

(د) د سید غلام محمد المعروف په شاه غلام ابن سید محمد عابد ابن شاه محمد غوث علیه الرحمة پخپل تالیف "خرق عادت" کښې د دوئ د وفات تاریخ۱۸، ربیع الاول ۱۱۵۲هـ ښودلے دے.

چنانچه په دے پورته څلورو واړو روایتونو کښې مونږه د مفتي غلام سرور لاهوري روایت په دے وجه صحیح کنړو چه د ده د بیان تائید د شاه محمد غوث د نمسی د روایت نه کیږي. والله اعلم.

د حضرت شاه محمد غوث قادري علیه الرحمة په حقله دا دومره اوکد تاریخي

بحث په دے وجه دلته راوړلے شه. چه د شمال مغربي پاکستان په بزرګانو کښې دے يو داسے بزرګ تير شويدے. چه په پيښور د ښهر کښې پيدا شويدے. او زيارت يئےد پنجاب په لاهور ښهر کښې دے او د ځامنو زيارتونه په جهلم او کشمير کښې دي. د نيکه زيارت يئے په ټهټه سنهد کښې. د پلار زيارت يئے په پيښور کښې. د تره زيارت يئے په کشمير کښې او د مشرور زيارت يئے په هزاره کښې دے. او نن د دے خاندان اولاد په پيښور. لاهور. کشمير. هزاره او کابل کښې خور دے. غرض دا چه ددين اسلام يو بزرګ تبليغي خاندان دے. چه په يو خاص ملک او وطن پورے په يو خاص درګاه او يوه خاصة سجاده پورے يئے زړه نه دے تړلے او چه چرته د اسلام د تبليغ او شد او هدايت ضرورت يئے ګنړلے دے هلته رسيدلي دي. او دا خبره د دے بزرګ خاندان په تعريفونو کښې د ټولونه لوئ تعريف دے.

واقعات دا دي چه دا ډيره لويه ستانه ده. په افغانستان او برصغير پاک و هند او عراق عرب کښې يو شان د قدر په نظر ورته کتلے شي. او لکه چه په ديباچه کښې ورته اشاره شويده. په بغداد شريف کښې چه د حضرت ميران محى الدين شيخ عبدالقادر جيلاني قدس سره په درګاه کښې د ګيلاني ساداتو کوم سجاده نشينان دي او نقب الا شراف ورته وئيلے شي. د دغه نقب الا شراف خاندان سادات او د حضرت شاه محمد غوث د خاندان سادات دا ټوله يوه کورنئ ده. او نن ورځے د دوئ په برکت د بغداد. کابل.

پيښور. کشمير. هزاره. لاهور. او ټهټه تر منځه د مسلمانو "روحاني رابهط" قائمه ده. حضرت شاه محمد غوث هم د دې بزرګ خاندان هغه ممتاز فرد وو چه په ظاهر او باطني دواړو علمونون کښې د لوئ فضيلت او کمال خاوند وو. شيخ الحديث وو. د دين اسلام مبلغ او روحاني رهنما وو. د تاريخ په کتابونو کښې د دوئ د کرامتونو بې شماره واقعات بيان شوي دي. ليکن د دوئ اصلي او لوئ کرامت دا دې. چه خپل تول ژوند يئې د اسلام او مسلمانانو خذمت د پاره وقف کړې وو. د ديني علمونو او د اسلام د پاکيزه اخلاقو رنړا يئې خوره وله. او د دوئ د مبارک وجود ذريعه د مغربي پاکستان د مختلفو حصو خلقو نه چه کومې ديني او دنيا وي فائدې رسيدلې دي. څومره نا اشنا زړونه د خدائ سره آشنا شويدي. او د دوئ په تبليغ چه څومهر کفار او مشرکان مسلمانان شوي دي. هغة د دوئ د ژوند يو زرين باب دې. او د دوئ د دې پاکيزه ژوند نه مونږ نن هم درس حاصلولوې شو چه څمونږ د بزرګانو اصلي مقصد داوؤ چه مونږه دې د خپلو اخلاقو او کردار اصلاح او کړو او د اسلام خذمت دې اوکړو. که مونږ په رښتيا سره د خپل ځان اصلاح. د اسلام سرلوړي او د مسلمانان قوم بهتري غواړو نو مونږ له د دې بزرګانو په نقش قدم تلل پکار دي.

مزار:

په "تاریخ" تحقیقات چشتي[173]" کښې لیکي دي. چه د حضرت شاه محمد غوث مزار مبارک په هغه ځاي کښې جوړ شوے دے. چه هلته د دغے نه وړاندے د فدائی خان کوکه عالمګیري حویلي وه. دا فدائي خان کوکه هغة سړے دے. چه په ۱۰۸۹هـ کښې وفات شوے وو. او د ده د مرګ نه پنځه کاله وړاندے هم د ده په اهتمام سره په ۱۰۸۴هـ کښې د لاهور شاهي مسجد جوړ شوے وو. داسے معلومیږ چه دغه حویلئ روستو د نادر شاه فشار د حملو (۱۱۵۰هـ) په دوران کښې روانه شوے وه. او بیا روستو په دغه مقام چه د حضرت شاه محمد غوث مزار جوړ شه. نو د دنوي سرنه رونق ورته حاصل شه.

د دوئ زیارت د دهلي دروازے او اکبري دروازے تر منځه د سرکلر روډ نه قبیلے غاړي ته دے. نمر خانه لاس ته ئے درے دروازے جورے دي. د منځنئ دروازے سهیل طرف ته کوهے دے. څرخ پرے لګیدلے دے. ورسره د میلمتو د پاره دیره ده. او دغه دروازے ته مخامخ یو څلور ګوټیزے حوض دے. دننه د مزار په احاطه کښې د چار دیوارئ دوه دروازے دي. سهیل ګاړے ته لویه دروازه ده. او نمر خاته طرف ته وړه دروزاه ده. د څضرت مزار مباک په یوه اوچته چونتره جوړ دے. د چونترے د پاسه دوه قبرونه دي. یو قبر د دوئ دے او دویم یئے د ټبر (بي بي صاحبے) دے. په دواړو قبرونو باندے غلافونه پراته دي. او د

[173] تحقیقات چشي

زیارت سره جخت قبلے طرف ته دالان دے. څوک چه زیارت له لاړ شي. هلته کښینی او د قرآن مجید تلاوت کوي. د مزار د احاطے د ننه ټول فرش د سنګ مر مرو پوخ جوړ دے. د دوئ د درګاه نمر خاته طرف ته عام قبرستان دے. چه په هغے کښې څلويښت خويواځے د سادات کرام مزارونه دي. او ځنے د درانی خاندان د سدوزی او محمد زی قبیلو د شا هزاد ګانو قبرونه دي. علیهم الرحمة والغفران.

حضرت شيخ ميا عبدالحكيم کاکړ عليه الرحمة

ولادت .... خانوزايئے ١٠٧٠هـ

وفات..................................... ... لورالائي ١١٥٣هـ

د مغربي پاکستان هغه مشاهير بزرکان چه هغوئ د خپل پاکيزه ژوند په تبليغي کارنامو د دے هيواد د اسلام د باغ مالياري کړے ده. او ښيرازئي يئے وربخښلے ده. او د هغوئ د مجاهدانه سرکرمو او کارنامو يادونه تر او ځمونږ زړونو او روح ته کرمي رسوی ځمونږه او ده شوی صلاحيتونه ر ابيداره وي. او د عمل او اخلاص جوهر پکښې پيدا کوي. او ځمونږ د پاره د دين او د نيا دوارو د سعادت او نيک بختئ موجب کرځيدلي دي او کرځيږي. د دغه لويو روحاني رهنمايانو په ډله کښې د

حضرت شيخ المشائيخ ميا عبدالحکيم کاکړ نقشبندي مجددي، قادري عليه الرحمة

مبارک نوم د یاد ولو دے. چه مزا رمباک یئے د کوئټه ډویژن د لور الائي په ضلع کښې په موضع "چوټیالي" کښې دے. چه دغه مقام د ګمبد په نوم سره هم یادیږي.

د مغربي پاکستان د مشهورے قبیلے "ترین" چه کوم قبائیلي سرداران دي. هغوئ د حضرت میا عبدالحکیم علیه الرحمة د مزار مبارک خذمت کؤول او مجادوري کوؤل خپل سعادت او نیکبختی ګنړي. او نن ورځے هم دغه قبائیلي سرداران دغه خذمت کوي. دلته دا خبره یاد لرل پکار دي. چه ځمونړ ښاغلے مشر او د مملکت پاکستان محبوب صدر فیلډ مارشل محمد ایوب خان هم په قام باندے د دے ترین قبیلے یو ممتاز فرد دے.

په "تاریخ سلطاني" (طبع بمبئ ۱۲۹۸) کښې د حضرت میا عبدالحکیم علیه الرحمة د ابتدائ حالاتو په حقله دا مختصره تذکره درج ده. لیکي:

حضرت ایشان (میا عبدالحکیم) د خپلے زمانے جلیل القدر بزرګ وو. د عالمانو او بزرګانو په ډله کښې ورته د مقبولیت مقام حاصل وو. د خاص ا و عام د راتولیدلو ځاي وو. د خلقو مرشد او رهنما وو. په اصل کښې د کاکړ قبیلے سره یئے تعلق وو. یعنے په قام کاکړ وو. چه په لویه کښې دا قبیله د غرغشت نومے قوم یو شاخ دے. حضرت میا صاحب په ورکوټي والی کښې د علمونو حاصلولو او په مختلفو علمي فنونو کښې د کمال پیدا کولو طرف ته توجه را

اوګرځوله. چونکه فطرتا ذهن وو. او په طبیعت کښې یئے د لیاقت جوهر موجود وو. په دغه وجه په لږه موده کښې یئے د فضیلت او کمال درجه حاصله کړله. ورسره بله خبره دا هم وه.چه د ابتدا نه ئےئے طبیعت د خدائي پاک بندګۍ او عبادت طرف ته مائل وو. نو داسے کار به یئے کؤلو چه څه وخت به د عبادت نه فارغ شه. نو بیا به یئے خپل وخت عثبت نه تیره ولو. بلکه د مختلفو علمونو د کتابونو په مطالعه به مشغول وو. او کوشش به یئے کولو. چه د مختلفو علمونو په مختلفو بحثونو. مسئلو او فنونو کښې پوره پوره کمال پیدا کړلے شي. په دے سلسله کښې یوه لحظه ساعت به یئے هم غفلت نۀ کؤلو. کار یئے ورته وئیلے وو. تکلیفونه یئے تیر کړل. کوششونه یئے اوکړل. تر دے حده چه لږه موده لا نه وه تیره شوے چه د علم صرف په اشتقاقاتو کښې. د علم نحو په قواعدو کښې. د علم منطق په قوانینو کښې. د علم حکمت په آئین او نکاتو کښې. او په علم بدیعح. علم معاني. او علم بیان کښې. او په علم د اصول او میزان د حدیث کښې.ا و د علم تفسیر په دلائیلو کښې. او د علم فقهه په قواعد واو مسائیلو کښې او په علم احکام و علم کلام کښې او د علم عقائدو په فوائدو کښې د خپلے زمانے د فاضلانو عالمانو استاذا او منلے شي.

په ظاهري علمونو کښې د کمال حاصلونه روستو د مجاز په لاره یئے مخ په وړاندے قدم کیښوده. او حقیقت ته یئے رسائي

حاصله کرله. د طریقت او معرفت په سلسله کښې یئے لاس نیوه اوکړه. او په لږه زمانه کښې د طریقت او معرفت د اسرارو او موزونه خبردارے یئے حاصل کړ. پیژانډ ګلوئے حاصله کړه. او په دے میدان کښے یئے هم د خپلو همعصرو مشائیخو نه په وړاندے قدم کیښوده. هغه د چا خبره.

د همیت په وزرتبر شي تر اسمانه

حضرت میا عبدالحکیم علیه الرحمة د شرعیت او طریقت په منزلونو کښې د همت نه کار واخیستلو. قدرت ورسره ملګرتیا اوکړله. په ریقت او معرفت کښې د مرتبے خاوند شه خپل پیرورله د خلافت خرقه ورکړه.د بیعت او ارشاداجازت یئے ورکړ. او ماذون یئے کړ. د ګدی نشین کیدلو نه روستو د خدائ مخلوق پرے رامات شو بے شمیره خلق یئے مریدان شول. د دوئ په ناسته صحبت او خبرو کښې اثر وو. چه څوک به ورله ورغے. هغه به یئے بیا مرید شے وو. په ټول ښهر کښې یئے آوازه خوره شوه. نتیجه یئے دا شوه چه د چار چاپیره نه خلق لکه د سیلاب په شان پرے رامات شول. که عالمان وو. که جاهلان که خواص وو. که عوام. د دغے هڅو سوال نه وو. بس خلق وو. چه سم قطارونه یئے جوړ کړي وو. راروان وو. او د دوئ په دعا نصیحت. او لار ښودلو باندے کامیاب کیدل. او چه کله د دوئ سره د خدائ د مخلوق عقیدت زیات شه. او د دوئ د معقدانو او مریدانو تعداد زرګونه ته اورسیدۀ نو بعض ناپوهه بلکه نا عاقبت

اندیشه کسانو چه زړونه یئے د بعض. کینے او حسد د لاس نه تور وو. هغوئ د وخت حکمران او بادشاه سلطان حسین شاه هوتک (ووالئ قندهار) ته چغلئ اوخوړلے. هغه یئے ورته بد غضبه کړ. او په نتیجه کښې د شاهي دربارنه حکم صادر شه. چه حضرت میا عبدالحکیم دے د قندهار نه اوځي.

(د فارسئ نه ترجمه)

"د تاریخ سلطاني" د دے مختصر بیان نه علاوه د حضرت میا عبدالحکیم علیه الرحمة د حالاتو په حقله کوم تفصیلي بیان په کومه تاریخي تذکره کښې موجود نه وو. په دے وجه د پوره تالاش او تحقیقي نه روستو چه کوم معلومات په لاس راغلي دي. هغه د مرحوم حافظ محمد خان د روایت مطابق د نورو ضروري تفصیلونو وضاحتونو او معلوماتو د اضافے سره دلته درج کوؤلے شي. د پاره د دے چه د مغربي پاکستان د دے جلیل القدر بزرگ په باره کښې که نور زیاتي حالات د چاسره موجود وي. چه هغه پرے اضافه کړلے شي. او په دے شان سره مونږ د خپلو نامورو اسلافو د قابل فخر ژوند او کارنامونه خبرداري حاصله کړلے شو.

د حضرت میا عبدالحکیم کاکړ علیه الرحمة د والد ماجد نوم میا سکندر شاه دے. او په قام باندے د مورث اعلی غرغشت نیکه د لاندیني شاخ کاکړ د یو بل لاندیني ښاښ سیتهیا د لاندینئ پښے ډیو ډزی د

لانديني کڅول او زيلي شاخ: شموزي سره تعلق لرلو. د دے قبيلے خلق په تحصيل پشين ضلع کوئټه (کوئټه ډويژن) کښې آباد دی. د دوئ يو څوکلي په سب تحصيل خانوز ائ کښې نمر خاته او سهيل طرف ته د غرهٔ په لمنو کښې خواره واره پراته دي. دا خلق څه خو زراعت پيشه دي. او څه داسے دي چه مالونه او څاروي ساتي او په هغے خپل ژوند تيره وي. په اندازه باندے داسے معلوميږي چه د حضرت ميا عبدالحکيم عليه الرحمة والد ماجد هم د مال مويشئ په پالنه او ساتنه باندے ژوند تيره ولو. که فکر او کړو. نو د مغربي پاکستان د ټولو قبائيلي علاقو د ډيرو زياتو خلقو هم دغه پيشه ده. ځکه چه د کروندے قابلے زمکے او د زراعتي وساءيلو د کم والي په وجه په پخوانئ زمانه کلې د مال او څارو ساتلو نه په غير څه بلکه وسيله او ذريعه هم نه وه. او د دغے نه علاوه دا يو مبارک کسب هم دے. ځمونږ لويو لويو پيغمبرانو او بزرګانو هم مالونه ساتلي دي. او چرپاني يئے کړے ده.يو فارسي شعر دے.:

بحکم آنکہ امت پر دری را شبان لائق بود پیغمبری را

د حضرت ميا عبدالحکيم ولد ماجد عليهم الرحمة په موضع خانوزائ کښې اوسيدهٔ. هلته وفات شه او مزار مبارک يئے هم دغلته دے.

د دې علاقې د مقامي عالمانو روایت دی. چه د میاعبدالحکیم والد ماجد به پوخ عمر کښې واده کړے وو. د میا صاحب مور بي بي هم نیکه او بزرګه بي بي وه. هغې یوه شپه خوب لیدلے وو. چه د وجود نه یئے د نمر پلو شے خیژي. او دغه پلوشے دے پخپلو جامو کښې راپټے کړلے. د میا عبدالحکیم د مور د طرف نه نیکه د دے خوب تعبیر داسے کړے وو. چه ځمالور ته به خدائ پاک یو داسے بختور ځوي ورکړي. چه د هغه د ظاهري او باطني علمونون په انوارو به جهان روښانه شي. د حضرت میا صاحب دغه نانا صاحب ډیرلوئ عالم او بزرګ سړے وو. د مرتبے خاوند وو. د هغه خبره پاک خدائ د شتیا کړه. او لکه چه هغه وئیلي وو. واقعي د میا عبدالحکیم د ظاهري او باطنيٍ علمونون په انوارو باندے دنیا او خصوصاً د مغربي پاکستان هیواد تر نن ورځے پورے روښانه دے.

د تاریخي دلائلو او شهادتونو په رنړا کښې د حضرت میاعبدالحکیم علیه الرحمة د ولادت زمانه ۱۰۷۰هـ اندازه کیدلے شي. د دوئ د پیدا کیدلونه څه لږه نیټه روستو مور بي بي یئے وفات شوه د پلار یئے نور اولاد نه وو. بل واده یئے اوکړ. مګر نن ورځے د دے دوئم ټبر د اولاد یئے څه پټه نه معلومیږي. چه میا عبدالحکیم رالوئ شه. او د سبق د وئیلو شه. استاد ته کښینولے شه سبق یئے شروع کړ. لیکن د میرے مور سلوک ورسره ښه نه وو. شامدام به یئے وهلو. او کړه ولو. او زهره ولو

به یئې. چه د دغې نه تنګ شه. نو د کورنه په سفر تللو ته جوړ شه. لاړ اوؤت. په سبق پسې روان شه. سختئ او تکلیفونه یئې تیر کړل. کتابونه یئې اووئیل. مروجه علمونه یئې حاصل کړل. او لوئ عالم شه.

داسې معلومیږي چه د هغه زمانې مروجه علمونه یئې د کاکړو په علاقه کښې حاصل کړي دي. او بیا د زیاتې تکمیل د پاره د افغانستان دوه مشهور و وعلاقو قندهار او ننګرهار ته او د وادئ پیښور د علاقو ته یئې د مسافرئ کولو تکلیفونه برداشت کړي دي. او بیا ورپسې هم په په دغه پورته یادوشوؤ علاقو کښې یئې د علوم شریعت نه علاوه د طریقت او معرفت علمونه هم حاصل کړی دي.

د طریقت او معرفت په علمونو کښې د دوئ د ټولونه ړومبنې استاد او پیر د طریقت حضرت میا سید لعل جیو ننګر هاري علیه الرحمة وو. چه د هغه نه یئې د طریقت او سلوک د ابتدائي منزلونو د زر کړې تربیت حاصل کړے وو. او چه څه وخت حضرت میا سید لعل محمد صاحب علیه الرحمة[174] دد میا عبدالحکیم په حالت توجه او کړله. او د دوه د شوق زیاتوالې.ا و د حوصلې فراخ والې یئې اولیده نو داسې کار یئې اوکړ. چه د دے خپل بختور شاګرد او مرید ته یئې او فرمائیل چه په پیښور ښهر کښې څما یو استاذ دے. چه د طریقت پیر م

[174]د دوئ تذکره به روستو د سید عبدالحکیم د تذکرے په ضمن کښې راشي

هم دے. دهغه حضرت شیخ عبدالغفور نوم دے. ته هغه له لاړ شه. چه هغوئ دے تربیت او فرمائي.

حضرت شیخ عبدالغفور نقشبندي علیه الرحمة

د حضرت شیخ عبدالغفور نقشبندي مجذدي، قادري، کشمیري پشاوري علیه الرحمة تذکره مخکښې په تفصیل سره بیان شوے ده. چنانچه میا عبدالحکیم علیه الرحمة د خپل استاذ حضرت میا سید لعل ننګر هاري علیه الرحمة د هدایت مطابق هم د دغه حضرت شیخ عبدالغفو رعلیه الرحمة په خذمت کښې حاضر شه او هغوئ ورته توجه او فرمائیله. د حضرت مولانا شیخ عبدالغفور علیه الرحمة د کیمیا اثر توجه پوره پوره بیان حضرت شاه محمد غوث قادري پخپلو دوه تالیفونو نمبر۱ روضة السلام کښې نمبر۲ او شرحه غوثیه (دا کتاب د صحیح بخاري شرح ده) کښې راوړے دے. چه دوئ به کله مرید ته توجه فرمائیله. نو د دوئ د خانقاه سره نزدے د خواؤ شا محلے په ټولو مکانو نو به یو قسم زلزله راتلله. او د مرید په زړه او احوالو کښې به دومره تیز. دومره تنده او دومره په قوت سره تبدیلي راتلله چه د تصوف او عرفان د لارے د کلونو مزل به یئې په یو نظر رالنډ کړو.[175]

---

[175] د شیخ عبدالغفور تذکره مخکښې په تفصیل سره درج شویده.

د حضرت میا عبدالحکیم علیه الرحمة د زرهٔ او حوصلے لوښے ډیر لوئ وو. دریابونه پکښې ځي کیدل. چنانچه حضرت شیخ عبدالغفور علیه الرحمة ورسره نور هم شفقت او فرمائیلو او د زیاتي فیوضاتو حاصلولو د پاره یئے د پاره یئے د مغربي پاکستان دارالحکومة لاهور ته خپل استاذ حضرت مولانا شیخ الله یار علیه الرحمة له اولیږلو هلته ورغے او د دے جلیل القدر بزرګ نه یئے نور فیضان هم حاصل کړ او د کمال درجے ته اورسیده. او په دے ان سره د کوئټه. قندهار. ننګر هار. پیښور او لاهور د روحاني او عرفاني مرکزونونه فیضوات حاصل کوؤنکے دغه کاکړ فرزند د یو جلیل القدر زبرګ په حیثت سره د ځلیندونکي نمر په مثال د مغربي پاکستان یو جهان روښانه کوؤنکي نمرشهٔ.

قادري او نقشبندي نسبت

د حضرت میا عبدالحکیم علیه ارلحمة د شریعت او طریقت په استاذانو چه نظر واچوؤلے شي. نو د ده درے واړه استاذان یعنے (۱) حضرت سید لعل محمد بخاري علیه الرحمة (۲) حضرت شیخ عبالغفو رعلیه الرحمة (۳) او حضرت شیخ الله یار علیه الرحمة. په خصوسیت سره د قادریه او نقشبندیه طریقو پریوان وو. او بیا حضرت میا صاحب ت د ټولونه زیات فیض د حضرت شیخ عبدالغفور علیه الرحمة نه رسیدلے دے. او حضرت شیخ عبدالغفور علیه ارلحمة

ته د خپل پیر طریقت حضرت پدر بزرګوار مولانا شیخ سعدي بخاري لاهوري علیه الرحمة نه د تذکرۀ د تذکره اولیاء هند (صفحه نمبر۱۱۳ د روایت مطابق په څلورو وارو سلسلو یعنی قادریه، چشتیه، نقشبندیه او سهرودیه، کښې د خلافت خرقه حاصله شوې وه[176]. لیکن د دې روایت سره چه مونږ د حضرت مولانا شیخ عبدالغفور علیه الرحمة په مبارک ژوند نظرو اچوؤ. نو معلومه شي. چه دوئ ته په خصوصیت سره په سلسله عالیه قادریه او نقشبندیه کښې نسبت حاصل وو. نسبت دیته وائي چه په کوم یو بزرګ باندې د کومې یوې خاصې سلسلې د حالاتو او مقاماتو غلبه اوشي. او په دې شان سره د دغه بزرګ پوره ژوند دهم د دغه خاصې سلسلې د مشائیخو په رنګ کښې رنګ شي.

حضرت مولانا شیخ عبدالغفور علیه الرحمه ته په قادریه او نقشبندیه مسلکونو کښې د نسبت حاصلیدلو نه مراد دا دې. چې د دوئ ټول ژوند د حضرت شیخ لامشائیخ مجدد الف ثاني شیخ احمد سرهندي علیه ارلحمة ه رنګ کښې رنګ شوې وو. او ښکاره خبره ده. چه دې دواړو لویو مشائیخو خپله توله زندګی د احیاء دین اجراء شریعت، امر معروف او نهی عن المنکر د پاره وقف کړې وه. د دې پس منظر په رنړا کښې حضرت شیخ عبدالغفور علیه ارلحمة څرنګ چه خپلو مریدانو ته به د طریقه عالي نقشبندیه د اصولو مطابق د

[176] تذکره اولیاءِ هند صفحه ۱۱۳

تذکیه نفس تعلیم ورکولو او د هغوئ تربیت یه یئے فرمائیلو نو د هغے سره سره به یئے د پیښور ښهر په خواؤشا کښې تر لرے لرے ځایونو پورے د اسلام د تعلیم او تبلیغ د پاره تشریف وړلو. او خلقو ته به یئے امر معورف کؤلو او د ناکاره کارونو غلطو رواجونو او رسمونونه یئے منع کوؤل. او د اسلام د سر لوړئ د پاره به یئے کوشش کؤلو. او هم دا هغه روحاني تعلیم او تربیت وو. چه په خصوصیت سره د دوئ د مبارک درګاه نه حضرت میا عبدالحکیم کاکړ علیه الرحمة ته حاصل شوے وو. او چه د حضرت میا عبدالحکیم په ژوند او کار نامو نظر واچوؤلے شي. نو معلومه شي چه پ دوئ باندے هم قادري او نقشبندي نسبت غالب وو.

حضرت میا عبدالحکیم علیه الرحمة ته چه د خپلو مشائخو د طریقت نه د خلافت خرقه حاصله شوه. نو قندهار ته لاړ. په دے غرض چه هلته د اسلامي علمونون د درس او تدریس سره د دیني احکامو د تبلیغ او اشاعت خذمت اوکري. چنانچه قندهار ته اورسیدۀ. نو د شریعت د علمونو د درس نه علاوه د وعظ او تبلیغ سلسله یئے هم جاري کړله. او په ډیره لږه موده کښې یئے د قندهار هیواد د علم په رنړا روښانه کړ. ډیر بے علمه خلق د دوئ په تعلیم او تربیت سره د دعلم او عرفان اوچتو مرتبو ته اورسیدل. د دوئ په وعظ او تقریر کښې دومره تاثیر وو چه چا به واوریدۀ. نو هغه به د ناکاره کارونونه توبه کار

کیدۀ. د ګناهونو نه به یئے لاس آخیسته. او د دیندارئ او نیکوکارئ نیک بختی به ورته حاصلیدۀ. د دوئ په تشریف راوړلو سره قندهار د رڼرا مرکز شه.

په کومو ورځو کښې چه دوئ قندهار ته راغلي وو. ه هغه ورځو کلے دغلته د حاجي میر ویس خان هوتک حکومت وو. میر ویس خان په ۱۱۲۱هـ کښې بادشاه شوے وو او په ۱۱۲۷هـ کښې وفات شه. د هغه نه روستو د هغه رور عبدالعزیز خان بادشاه شه. په ۱۱۳۱هـ کښې د حاجي میرویس خان ځوي شاه محمود خان د خپل تره په ځاي بادشاه شه. په ۱۱۳۸هـ کښې د ده د وفات کیدلو نه روستو د شاه محمود کاکاځوي شاه اشرف بادشاه شه.ا و تر ۱۱۴۲هـ پورے یئے بادشاهي اوکړله. په دغة منځ کښې د شاه محمود خان په زمانه کښې هم د دے شاه محمود خان کشرے رور شاه حسین د خپل رور د طرف نه په ۱۱۳۵هـ کښې په قندهار نائب الحکومتة وو. د شاه اشرف د خوانه هم په دغه عهده پاتے وو. او بیا د شاه اشرف د مرګ نه روستو په ۱۱۴۲هـ کښې د قندهار مستقل حکمران شه[177].

دا پورته تفصیل په دے غرض دلته راوړلے شه. چه هر کله حضرت میا عبدالحکیم علیه الرحمة د حاجي میرویس خان د حکومت په زمانه (۱۱۲۱هـ تر ۱۱۲۷هـ) کښې قندهار ته راغلے وو. نو د دے مطلب

---

[177]د پښتو ادبیاتو تاریخ نه په اختصار

دا شه. چه دے د ۱۱۲۱هـ نه روستو دلته راغلے وو. او په قندهار کښې د دوئ د قيام په زمانه کښې د حاجي مير ويس خان عبدالعزيز خان. شاه محمود. شاه اشرف او شاه حسين پنځه وو کسانو د بادشاهئ دوران د دوئ په مخکښې راغلے وو. او په دوئ کښې د دغه وړاندينو څلورو بادشاهانو تعلق د حضرت ميا عبدالحکيم عليه الرحمة سره ډير ښه او د عقيدتمندئ وو. ليکن د روستنی پنځم بادشاه، شاه حسين تعلق ورسره ښه نه وو.

هر کله چه په ۱۱۴۲هـ کښې شاه حسين د قندهار مسقل بادشاه شه. نو د ده تعلقات د حضرت ميا عبدالحکيم عليه الرحمة سره خراب شول. د تعلقاتو د خرابيدلو په باب چه کوم وجوهات بيان شوي دي. د هغے په سلسله کښې د تاريخ "خورشيد جهان" تاريخ سلطاني" او تذکره اوليلاے هند" د روايتونو نه علاوه په مقامي روايتونو کښې هم له حدنه زيات اختلاف دے. ليکن په دے يوه خبره ټول اتفاق لري. چه د قندهار حکمران شاه حسين خان هوتک دا حکم کړے وو. چه "حضرت ميا عبدالحکيم عليه الړحمة دے د قندهار د ښهر نه په کډه لاړ شي.[178]

چنانچه حضرت ميا عبدالحکيم عليه الرحمة د خپلو بے شميره شاګردانو او مريدانو سره د قندهار نه هجرت او کړ. په کډه را اووتلو. دا يوه داسے خبره وه. چه

[178]مقدمه د حصن الايمان

په دے باندے د قهندهار عام اولس ته لويه روحاني صدمه اورسيدله د هر يو در او ديوارنه د ژړا چغے او سورے او چتے شولے. چه د عوامو د غم او دړد دغه دردناک تا ثرات د هغه وخت ملي شاعرانو په ډيرو درد ناکو الفاظو کښې په نظم کړي دي. او يو روايت چه ډير عام دے. هغه دا دے. چه د حضرت ميا عبدالحکيم عليه ارلحمة جلا وطنه کوؤل د شاه حسين والئ قندهار د پاره د بدبختئ باعث او گرځيده. لږه موده نه وه تيره چه د حکومت تخته يئے واوړيدله. او د ډيرے خوارئ او سختئ په مرگ اووژلے شه. يو شاعر په لانديني شعر کښې هم دے خبرے ته اشاره کړے ده. چه وائي.

ميا صحاب يئے ويست شاه
حسين له دغے ښاره
غرق يئے چهي شوه د
وليانوله گفتاره

شاه حسين په ۱۱۴۲هـ کښې بادشاه شوے وو[179].د ده د بادشاهئ په څلورم کال په ۱۱۴۲هـ کښې حضرت ميا عبدالحکيم عليه الرحمة د قندهار نه هجرت اوکړ. که قندهار ته د دوئ راتږ په ۱۱۲۱هـ کښې او منلے شي. نو په دے حساب د وئ پنځويشت کاله زمانه د لته تيره کړے ده. او چه د قندهار نه په کډه تللو نو په زرگونو مقتعدين او مريدين يوه لويه گنړه ورسره را اووتله. دوئ چه د ښهر نه باهر راغلل.

179مقدمه د حصن الايمان

نو هلته حصار شول. عامو خلقو ته يئے نصيحت اوکړ. چه دوئ خپلو خپلو کورونو ته واپس شي. ډير خلق داسے وو. چه هغوئ بيرته اوګرځيدل. ليکن چه کوم خلق په هيڅ حالت کښې هم د دوئ نه په جدا کيدلو رضا نه وو. د هغوئ يوه ډله يئے د ځان سره کړله. رارواں شه. او خپل آبائي کلي خانوزايئے (کوئټه) ته يئے تشريف راوړ. د ده والد وفات شوے وو. د هغه زيارت يئے جوړ کړ. ور سره يو باغ او جماعت يئے هم سازکړ. تقريبا يو کال يئے دلته تير کړ. او بيا په غرونو، غرونو کښې روان شه. د يو سف کڅ. کهواس. بفاؤ. سلملن. بورے او تهل نومے کلو په لاره مخکښې لاړ. موضع چوټيالي ته اورسيده. او دلته يئے سکونت اختيار کړ. او د خپل ژوند روستنئ د شپږو کالو زمانه يئے دلته تيره کړه. او بآلاخر په ۱۱۵۳هـ کښې وفات شه[180]. عليه الرحمة والغفران.

خدائي پاک ښه پوهيږي. چه حضرت شيخ ميا عبدالحکيم عليه الرحمة ته د رنج او آزار پيښولو وجه وه. که بل څه سبب وو. څه لږه زمانه تيره شوے نه وه. چه په ۱۱۴۹هـ کښې يعنے د حضرت ميا صاحب د جلاوطن کيدلونه د دي کاله پس په قندهار باندے نادر شاه افشار حمله اوکړه. ښهر يئے فتح کړ. او سلطان حسين شاه هوتک يئے د شاهي خاندانو د ټولو افراد وسره ګرفتار کړلو. د مملک ايران صوبه ما ژوند

---

[180] مقدمه د حصن الايمان.

ران ته يئے اوليږه. هلته يئے په قيد کښې واچول. او ورپسے روستو يئے هم هلته په ډير زلت مړه کړل. نادرشاه د قندهار پخوانے ښهر هم وران کر چه تر اوسه وران پروت دے. او ورانے کهنډرے يئے مرثيه خواني کوي. د شاه حيسن هغه شاهي محل چه د "قصر نارنج" په نوم به ياديدهٔ. نن ورځے د خاورو يوه ډهيرئ ده. ليکن د حضرت ميا عبدالحکيم عليه الرحمة جماعت او خانقاه (زير زمين تهه خانه) تر نن ورځے پورے هم هغه شان تر او تازه او صحيح او سلامت دي. او ننهم زرګونه خلق د هرے جمعے او زيارت په ورځ دغلته دعاله ورځي. کوم يو شاعر څه ښه خبره کړيده.

جزائے حسن عملی بین کر روزگار ہنوز
خراب می نکند بارگاه کسرٰ را

روايت دے. چه يوه ورځ حضرت شيخ ميا عبدالحکيم عليه الرحمة د قندهار په کوم يو بازار کښې تللو. چه له ورايه يو ځلمے هلک يئے اوليد چه راروان دے. ميا صاحب دغه ځلمے را اوغوښته او دعايئے ورته او فرمائيله او بيا يئے رخصت کړ. چه ملګرو تپوس او کړ. نو ميا صاحب ورته او فرمائيل چه دا ډير نيک بخت ځلمے دے. د ده په تندی کښې د بادشاهئ رنړا ځليږي. چنانچه د حضرت ميا صاحب عليه الرحمة هغه وينا رشتيا شوله. و د حضرت ميا صاحب د وفات (۱۱۵۲هـ) نه اوه کاله روستو په ۱۱۶۰هـ کښې هغه بختور ځلمے د غازي سلطان احمد شاه ابدالي، شاه در دران. او فاتح

پـانـي پـت)پـه نـومـونـو سـره يـو لـوئ مـجـاهـد بـادشـاه شـه.

د حـضـرت مـيـا عـبـدالـحـكـيـم عـلـيـه الـرحـمـة ظـاهـري اولاد څـوک هـم نـه دے پـاتـے شـوے لـيـكـن روحـانـي اولاد يـئـے پـه شـمـيـر بـانـدے د لـكـهـونـونـه هـم زيـات دے. د دوئ پـه خـلـيـفـه ګـانـو كـښـې د دے مـشـاهـيـرو بـزرګـانـو نـومـونـه ريـاد ولـوي دي.

(١) حـضـرت مـيـانـور مـحـمـد جـيـو درانـے د قـنـدهـار عـلـيـه الـرحـمـة.

(٢) حـضـرت مـلا مـحـمـد عـثـمـان يـسـيـن زئ د پـشـيـن (كـوئـټـه) عـلـيـه ارلـحـمـة

(٣) حـضـرت مـيـا مـحـمـد حـسـن يـسـيـن زئ پـشـيـن (كـوئـټـه) عـلـيـه الـرحـمـة.

د دے نـه عـلاوه د حـضـرت مـيـا عـبـدالـحـكـيـم عـلـيـه الـرحـمـة چـه كـوم اصـلـي يـادګـار دے. هـغـه د دوئ مـخـتـلـف تـصـنـيـفـونـه دي. چـه پـه خـصـوصـيـت سـره پـه عـلـم عـقـايـد او عـلـم تـصـوف كـښـې يـئـے لـيـكـي دي. چـه نـومـونـه يـئـے دا دي.

(١) حـسـن الايـمـان

پـه فـارسـئ ژبـه كـښـې دے. پـه دے كـښـې د عـلـم عـقـايـد مـسـائـيـل پـه روان او سـاده لـفـظـونـو كـښـې پـه دلائـلـو راوړلـو سـره پـه تـعـلـيـمـي طـريـقـه بـانـدے بـيـان شـوي دي. روسـتـو بـيـا مـيـا صـاحـب عـلـيـه ارلـحـمـة پـخـپـلـه دا كـتـاب

کوتـاه کـړے دے. او د "مـختـصر حسن الایـمـان" نـوم یـئـے پـرے ایـښـے دے.

د دے کـتـاب یـوه قـلـمي نـسخه چه د حضرت میـا صاحب د لاس لـیکلے وه. ما (یـعنے عبدالـحلیم اثـر) تـه د لاهـور ښهر د یـو تـاجر کتب سره پـه لاس راغلے وه. پـه قـیمت م واخیستـه. او بـیـا م د علمي تـحفـے پـه طور مفتـه پـښتـوا کـاډیـمئ پـیښور تـه نـذر کـړلـه. دا کـتـاب پـه ۱۳۷۲هـ کـښې د کـوئـټـه ښـهر یـو مشهـور تـاجر کتب حافظ خان محمد مـرحوم د یـوے فـاضلانـه دیـبـاچے سره شائـع کـړے هـم دے.

(۲) مـجمـوعه رسـائـل

پـه دےمـجمـوعه کـښې شپـږ رسـالـے دي. چه ټـولـے د علم تـصوف د مـختـلـفـو مـوضع ګـانـو سره تـعلق لـري. او پـه دے کـښې د تـصوف د مـختـلـفـو طریـقـو د ابـتـداء د اصولـو د قـواعدو د تـن کیـه او تـنـزیـهـه د طریـقـو د فـیـوضاتـو د کـیفـیت وضاحت. د نـمونـځ حقـیقـت د فـقـر حیـقـیـقـت مـحدي او د نـفـي او اثـبـات بـحثـونـه یـئـے پـه مـحقـقـانـه انـداز کـښې لـیکي دي. پـه دے کـښې پـه خصوصیت سهـره پـه پـنـځم نـمبـر رسالـه کـښې یـئـے د هـغـه علـمونـو او معارفـوتـذکـره کـړے ده. چه دوئ تـه د حضرت میـر سید لـعل جیونـنکر هـاري علـیه الـرحمة نـه حاسل شوي وو. او پـه شپـږم نـمبـر رسالـه کـښې یـئـے د هـغه علـمونـو او معـار فـوتـذکـره کـړے وه. چه د حضرت مـولانـا شیخ میـا حافـظ الـلـه یـار لاهـوري علـیـه الـرحمة نـه ورتـه حاصل شوي وو. او پـه شپـږم نـمبـر رسالـه کـښې

د شریعت طریقت او حقیقت درے واړو موضع ګانو بحثونه یئے په تفصیل سره راوړي دي. او دا کتاب په پنځه فصلونو باندے مشتمل دے. فصل داز کارو او مظائفو په بیان کښې. فصل دنهي او اثبات په بیان کښې فصل د تنز یهاتو په بیان کښې فصل د فیوضاتو په بیان کښې فصل په سفر د ذات او د طریقت د مراتبو په سیر کښې[181].

د حضرت میا عبدالحکیم علیه الرحمة د تالیفاتو د دے مختصر تعارف نه څرګنده ده. چه ده ته په ظاهري او باطني دواړو علمونو کښې اوچته مرتبه حاصله وه. او د خپلو تالیفاتو په ذریعه یئے د خپلو فیوضاتو سلسلے له د دوام ژوندون بخښلے وو.

لکه چه مخکښې ذکر شوے دے. د کوئټه ډویژن د نامورے قبیلے ترین قبائیلي سرداران د حضرت میا عبدالحکیم کاکړ علیه الرحمة د مزار مبارک مجاوران دي. او د مجاورئ دا خذمت د خپل څان د پاره د خیر او برکت موجب ګنړی. د کوئټه ډویژن او قبیله ترین نامور قبائلي سردار جناب حاجي صورت خان ترین (مرحوم) چه هغه بل کال یئے د پاکستنا صدر مملکت فیلډ مارشل شل محمد ایبو خان ترین ته د خپلے ترین قبیلے د قبائلي سردارئ او مشرئ پټکے ور پسر کړے وو. د ستاربندی یئے کړے وه. اویوه توره یئے هم ورته پیش کړے وه. دغه

[181]مقدمه د حضن الایمان

عزتمند جناب حاجي صورت خان ترين د اوه ديرش زره روپو په خرخ باندے د حضرت ميا عبدالحكيم عليه الرحمة مزار مبارك پوخ جوړ كړے دے. او د تيرو شوؤ درے ديرش كالو نه د دے مبارك خانقاه د لنگر خانے د ټول كال خرڅ يعنے دولس سوه گونے غنم او دولست سوه رپو نقدر اخراجت هم برداشت كوي. او په دے اعتبار سره حضرت ميا عبدالحكيم كاكړ، نقشبندي مجددي قادري عليه الرحمة د مكربي پاكستان د ترين قبيلے خصوصي روحاني پيشوا دے. چه د دوئ د فيوضاتو دائره د ټول پاكستان د پاره عامه هم ده[182].

عليهم ارلحمة الغفران

---

[182] څما (اثر افغاني) تاليف "ترين سردار".

حضرت شيخ المشائيخ شاه عبدالرحيم عليه الرحمة

ولادت
....
کشمير ۱۰۷۳هـ

وفات...
... مشرقي پاکستاني ډهاکه ۱۱۵۸هـ

په بنګال کښې د حضرت شيخ حميد دانشمند نقشبندي[183] مجددي نه روستو چه د دے مبارکے سلسلے د بل کوم مشهور بزرګ نوم مونږ ته معلوم دے. هغه حضرت شيخ المشائخ شاه عبدالرحيم شهيد نقشبندي مجددي عليه الرحمة دے. چه مزار مبارک يئے د مشرقي پاکستان په مرکزي ښهر ډهاکه کښې دے[184].

حضرت شيخ عبدالرحيم شهيد په اصل باندے د کشمير او سيدونکے وو. په ۱۰۷۳هـ کښې په کشمير کښې پيدا شوے وو. او داسے معلوميږي چه د شهنشاه عالمګير اورنګ زيب په زمانه کښې په ۱۱۰۷هـ کښې بنګال (مشرقي پاکستان) ته راغلے وو. بنګال ته چه راغے نو څه موده يئے په مرشد آباد کښې تيره کړے وه. بيا د هغه ځاي نه

---

[183] د دوئ تذکره مخکښې درج شويده
[184] تذخره اولياءے مشرقي پاکستان

ډهاکه ته یئے تشریف راوړے وو. دلته یئے د دیني علمونو درس او تبلیغ او علوم طریقت د رشد او هدیات د پاره خانقاه او مدرسه جوړه کړے وه. او باقي پاتے عمر یئے هغلته تیر کړے وو. دلته یئے د دیني علمونو د درس او تبلیغ او علوم طریقت د رشد او هدایت د پاره خانقاه او مدرسه جوړه کړے وه. او باقي پاتے عمر یئے هم دلته د دین اسلام په خذمت او اشاعت کښې تیر کړے وو.

د حضرت شاه عبدالرحیم د طریقت سلسله چه درے واسطو سره حضرت خواجه عروة الوثقي محمد معصوم علیه الرحمة ته رسیږي. او په څلورو واسطو سره د حضرت شیخ احمد سرهندي مجدد الف ثاني قدس سره مرید او خلیفه وو. بیعت یئے د وادئ کشمیر د مشهور بزرگ حضرت شیخ صوفي هدایت الله المعروف په صوفي حسن علیه الرحمة نه کړے وو. او خرقه د خلافت یئے حاصله کړے وه. او حضرت شیخ صوفي حسن قدس سره د حضرت خواجه عروة الوثقی محمد معصوم خلیفه وو.

حضرت شاه عبدالرحیم شهید علیه الرحمة له خدائی پاک لوئ عمر ورکړے وو. د پنځه اتیا کولو په عمر په ۱۱۵۸هـ کښې په یو جهاد کلې شهید شوے وو. او په دے اعتبار د ۱۱۰۷هـ نه تر ۱۱۵۸هـ پورے روغه نیمه صدئ عمر یئے د مشرقي پاکستان په خاوره د اسلام په تبلیغ او نشرو اشاعت کښې تیر کړ او د خدائ د مخلوق زړه او

دماغ یئے دخدائي او رسول په ایمان او مینه بانـدے سر شار کړل. د دوئ په برکت سره د بنګال (مشرقي او مغربي دواړه حصو) په زمکه د سلسله عالیه نقشبندیه فیوضات ډیر زیات خواره شوي وو. او د عام او خاص مسلمانانو تر منځه روحاني رابطه او روحاني تړون ډیر زیات مضبوط شوے وو.

د حضرت شاه عبدالرحیم شهید په مشهورو خلیفه ګانو کښې د دوئ نامور خلیفه ګانو نومونه د یادولو دي. چه په مشرقي پاکستان کښې د هغوئ په واسطه د دے روحاني رهنما شاه شهید د فیوضاتو سلسله تر اوسه پورے جاره ده.

حضرت شاه امانت الله

د حضرت شاه عبدالرحیم شهید د خلیفه اکبر نوم حضرت شیخ المشائخ شاه امانت الله نقشبندیه وو. چه په صوفي امانت الله نقشبندي.

نامه مشهور وو. په چټا ګانګ مشرقي پاکستان کښې اوسیدلو. د غلته یئے د علوم شریعت او طریقت د طالبانو او مریدانو د پاره یو خانقاه او مدرسه جوړه کړي ده. چه په دے علاقو کښې د اسلام رنړا یئے خوره وله.

حضرت صوفي سید محمد دائم

حضرت صوفي سید محمد دائم قدس سره په اول سر کښې د حضرت شیخ شاه امانت الله

نـه بـيعت كړے وو. بـيا يـئے د حضرت شيخ شاه شهيد نـه بـيعت كړے وو. چه پـه تـفصيل سره تـذكره بـه يـئے روستو راشي.

عليه الـرحمة والـغفران.

حضرت مولانا قطب الا قطاب شيخ جنيد پشاوري عليه الرحمة

ولادت .... حيدر آباد سندهـ ۱۰۶۹هـ

وفات.................................... پشاور شهر ۱۱۶۲هـ

حضرت مولانا قطب الا قطاب شيخ جنيد پشاوري الملقب په شيخ الا سلام شيخ جنيد ثاني قدس سره د سلسله عاليه قادريه په بزرګانو کښې د ډير اوچتے عرفاني درجے خاوند وو. په تول شمال مغربي پاکستان. افغانستان او وسطي هند کښې چه په څومره لويه پيمانه د دے مبارکے سلسلے فيوضات د دوئ په واسطه خواره شوي دي. دومره همه ګير والے د بلے کومے يوے سلسلے کوم يو شيخ ته هم نه دې حاصل شوې. او نه يئے مثال پيدا کيږي.

حضرت شيخ جنيد ثاني قدس سره په ۲۷، تاريخ د رجب المرجب (ورځ پنجشنبه وخت د تهجد د نمانځه) ۱۰۶۹هـ کښې په مقام د حيدر آباد (سندهـ) پيدا شوے وو. ابتدائي تعليم يئے د دغه مرکزي مقامد مختلفو

عالمانو څنې حاصل کړي وو. د هغې نه روستو په تاريخ ۱۸، جمادي الا ول (ورځ يکشنبه وخت نماز ديګر او د يو بل قول مطابق په داسې وخت کښې چه د ماښام نمانځه ته لږ ساعت پاتې وو.) په ۱۱۰۳هـ کښې د شيخ المشائيخ ميا عبدالحئ الملقب په سيد حبيب علوي[185] سرهندي، سندهي، نقشبندي، مجددي عليه الرحمة نه يئې په سلسله عاليه نقشبنديه کښې په مقام د حيدر آبادبيعت کړې وو[186]. او د خپل پير طريقت په صحبت کښې د يوؤلس کاله تيره ولونه پس ۱۱۱۴هـ کښې يئې خرقه د خلافت حاصل کړې وه. د هغې نه روستو د حضرت سيد حبيب سندهي عليه الرحمة په امر او اجازه سره يئې ملتان ته تشريف راوړې وو. او د خپل پير طريقت د پير بهائي حضرت مولانا شيخ احمد داؤد زايئې عليه الرحمة نه (چه په دغه زمانه په ملتان کښې اوسيده. او په دغه مناسبت په شيخ احمد ملتاني قادري نامه باندې مشهور وو[187].) په سلسله عاليه قادريه کښې بيعت اوکړ. او خرقه د خلافت يئې حاصله کړه. په ۱۱۱۶هـ کښې چه د دوئ د قادريه طريقې دغه پير طريقت حضرت مولانا شيخ احمد داؤد زيې د ملتان نه

---

[185] د دوئ تذکره مخکلې درج شوې ده.

[186] آئنه تصوف صفحه نمبر ۱۷۱

[187] مخکښې د حضرت مولانا سعد الله خان په تذکره کلې دا بحث راغلې دې. چه حضرت مولانا شيخ احمد او حجرت مولانا عبدالحئ دواړه په نقشبنديه طريقه کښې د مولانا سعد الله خان خليفه ګان وو. او حضرت مولانا شيخ احمد په قازدريه طريقه کښې د شيخ شاه عالم دهولي مريد وو. چه هغه د شيخ منور اله آبادي مريد وو.

وادئ پیښور ته تشریف راوړ (وجه دا چه په ۱۱۱۵هـ کښې د پیر سید حسن قادریه او په ۱۱۱۶هـ کښې د شیخ عبدالغفوري قادري نقشبندي د وفات نه روستو په وادئ پیښور کښې د قادریه طریقے د دعوت او ارشاد سجاده خالي پاتے شوے وه او په روحاني طور سره په دغه سجاده باندے د شاه ولایت په حیثیت سره د دوئي تقرر شوے وو.) او د وادئ پیښور علاقه داؤد زے په موضع نحقی خرقئ کښې یئے اقامت اختیار کړ. نو حضرت شیخ جنید ثاني قدس سره په مقام د ملتان د خپل پیر طریقت حضرت شیخ احمد سجاده نشین شه. د قادریه او نقشبندیه طریقے د فیوضاتو او د دیني علمونو د درس او تدریس سلسله یئے جاري اوساتله. په ۱۱۱۷هـ کښې چه د دوئ د نقشبندیه سلسلے پیر طریقت حضرت شیخ میاعبدالحئ حبیب الله سندهي په مقام د کوټري وفات شه نو حضرت شیخ جنید قدس سره سندهـ ته لاړ. او هم هلته پاتے شه. په ۱۱۱۹هـ کښې یقیناً په حیدر آبا دکښې وو. ځکه چه په هم دے کال حضرت شاه عبدالکریم رامپوري د دوئ نه په سلسله عالیه نقشبندیه کښې خرقه د خلافت حاصله کړے وه[188]. د هغے نه روستو د بلوچستان. قندهار. غزني او کابل په لاره وادئ پیښور ته تشریف راوړے وو. د قندهار په سفر کښې حضرت مولانا شیخ شهباز قلندر او حضرت شاه عبداللطیف ورسره ملګري وو. او هغوئ ترینه په قندهار کښې پاتے شوي

---

[188] آئنه تصوف صفحه نمبر ۱۷۱

وو. چه تر ۱۱۳۱هـ پورے دوئ دواړه هلته وو[189]. او حضرت شیخ جنید قدس سره د هغوئ نه مخکښې د ۱۱۲۱هـ او ۱۱۲۴هـ تر منځه وادئ پښاور ته تشریف راوړے وو. او په ۱۱۲۴هـ کښې د حضرت مولانا شیخ احمد قدس سره د وفات په وخت کښې دلته موجود وو. او د هغوئ د وفات نه روستو.

د هغوئ په ګدئ باندے د سلسله عالیه قادریه سجاده نشین شه[190]. په ۱۱۲۷هـ کښې د حضرت مولانا شیخ المشائیخ سر الا عظم محمد یحی المعوف حضرت جي صاحب د اټک نه یئے په سلسله عالیه نقشبندیه کښې تجدید د بیعت کړے وو[191]. او بیا په ۱۱۳۱هـ کښې حضرت مولانا شیخ شهباز قلندر علیه الرحمة چه وادئ پیښور ته تشریف راوړے وو. هغة هم په ۱۱۳۳هـ کښې وفات شه[192].نو د هغے نه روستو د قادریه او نقشبندیه دواړو سلسلو د فیوضاتو د خلافت په عظیم روحاني منصب باندے حضرت مولانا قطب الا قطاب شیخ جنید قدس سره سرفراز شه. او د خدائے پاک د بے شمار نیکانو بندګانو زړونه او سینے یئے د دے دواړو مبارکو سلسلو خصوصاً سلسله عالیه قادریه په انوارو روښانه کړے.

---

[189] په ۱۱۳۱هـ کښې په مقام د قندهار د دوئ نه د شیخ مؤمن نه بیعت کولو زکر دا ښائي چه په دغه نیټه دوئ په قندهار کښې وو.

[190] تذکرة الاولیاء الا فغان (قلمي)

[191] د پیښور د بخاري ساداتو قلمي یاداشتو نه

[192] دا بحث مخکښې تیر شوے دے. (اثر)

حضرت مولانا شيخ المشائيخ جنيد پشاوري د قطب الا رشاد او چته مرتبه لرله د دوئ چه د کومو نامور واو مشاهيرو بزرګانو تربيت کړے دے. په هغوئ کښې

(۱) يو حضرت مولانا ميا ګل شيخ سعادت احمد وو. چه د حضرت مولانا شيخ المشائيخ تعليم احمد داؤد زيے قدس سره فرزند ارجمند وو. او د حضرت شيخ جنيد قدس سره پير زاده وو.

(۲) دوئم حضرت شاه عبدالکريم رامپوري قدس سره وو چه په ۱۱۱۹هـ کښې يئے د دوئ نه په مقام د حيدر آباد په سلسله عاليه نقشبنديه کښې خرقه د خلافت حاصله کړے وه. او په سطي هند کښې سلسله نقشبنديه جنيديه د هغوئ په ذريعه خوره شوے وه.

(۳) د دوئ دريم خليفه اکبر حضرت مولانا اخوند حافظ محمد صديق د بشونئ وو. چه د دوئ په واسطه د حضرت مولانا شيخ جنيد قدس سره د قادريه سلسلے فيوضات په ټول شمالمغربي پاکستان او افغانستان کښې تر نن ورځے خواره دي. او په تيرؤ (۲۲۳) کلونو کښې د دوئ د مريدانو په دے سلسله کښې بے شميره مشاهير اولياء الله تير شويدي.

حضرت مولانا شیخ المشائیخ قطب الا قطاب شیخ جنید پشاوري په آخر عمر کښې په مقام د پیښور ښهر علاقه ګنج کښې اوسیده. او په تاریخ ۲۸، د شوال المکرم (ورځ د جمعې د جمعې د نمانځه نه روستو په ۱۱۶۲هـ کښې په مرتبه د جبروت کښې وفات مونډلې دې[193]. مزار مبارک یئې د قلعه تمن (پیښور ښهر علاقه ګنج) نه نمر خاته طرف ته (د لاهورئ دروازې نه باهر) واقع دې. او مرضع د خاص او عام او مرکز د فیوضاتو دې. علیه الرحمة والغفران.

په آئینه تصوف (صفحه نمبر ۱۷۱) کښې د دوئ د وفات کال ۱۱۹۶هـ ښودلې شویدې. چه دغه صحیح نه دې. ځکه چه په صحیح روایت سره دا ثابته ده چه په حضرت شیخ جنید قدس سره باندې د جنازې د نمونځ امامتي حضرت میا محمد عمر د څمکنو قدس سره کړې وه.ا و هر کله چه حضرت میا محمد عمر قدس سره په ۱۱۹۰هـ کښې وفات شوې دې. په دې وجه د آئینه تصوف روایت صحیح نه شي کیدلې. مزار مبارک پرې حضرت میا محمد عمر د څمکنو علیه الرحمة جوړ کړې دې. قدس سره.

یادګیرنه

د موضع اضاخیل علاقه مهمند د کاکا خیل میا ګانو روایت دې. چه حضرت شیخ جنید علیه الرحمة په قام سید دې او د

---

[193]خزینة الا سرار (قلمي) او قلمي یاد داشتونه د حضرت شیخ جنید علیه الرحمة د سجاده نشینانو (اثر)

حضرت شيخ رحمكار كاكا صاحب عليه الرحؤة نمسے دے شجره د نسب يئے داسے ده. شيخ جنيد ابن مشيخ فخر الدين ابن شيخ افضل بابا ابن شيخ عبدالحليم المروف په حليم گل ابن شيخ رحمكار عليه الرحمة. بهر حال دا يو داسے روايت دے چه زيات تحقيق غواړي.

حضرت شاه عبداللطيف بهټائي عليه الرحمة

ولادت .... بالاحويلي ۱۰۹۹هـ

وفات.................................. ... بهټ ۱۱۶۵هـ

حضرت مولانا شيخ شاه عبداللطيف بهټائي قدس سره د وادئ سندهـ په مشاهيرو بزرګانو کښې د اوچت عرفاني مقام علم او فضل. کشف او کرامت خاوند وو. د حقيقت او معنی نه ډک بليغ پيغام په وجه د يوے لوئے امتيازي درجے او لوئ شان خاوند تير شوے دے. او د دوئ منظوم تصوفي کلام ته په وادئ مهران بلکه په ټول مغربي پاکستان کښې د مقبوليت او شهرت دوام درجه حاصله شوے ده. د والد ماجد نوم يئے ميا عبدالحئ. (المعروف په شاه حبيب سندهي) ابن سيد عبالقدوس ابن سيد جمال الله ابن سيد عبدالکريم دے. چه مخکښې يئے تذکره درج شويده.

د حضرت شاه لطيف د ولادت په تاريخ کښې اختلاف دے. ۱۰۹۹هـ[194] ۱۱۰۱هـ او

[194] نغمات لطيف صفحه نمبر ۱

۱۱۰۲هـ[195] د دوئ د ولادت کال بیان شویدے. چه په دے کښې مونږه هم ۱۱۰۱هـ له ترجیح ورکوؤ. د کوټري (حیدر آباد) سره نزدے د سایاتن نومے قبرستان خواته په بالا حویلي نومے کلي کښې پیدا شوے وو[196]. د ماشوم والي عمر ئے په بالا حویلي کښې تیر شوے وو. بیا چه والد ماجد یئے کوټري ته په کډه راغے. نو د نوي ځلمیتوب عمر یئے دلته تیر شوے وو. په دے اعتبار ابتدائي تعلیم یئے په بالا حویلي کښې او د علم دین تکمیل یئے په کوټري کښې کړے وو. د والد ماجد د وفات (۱۱۱۷هـ) نه روستو یئے د عامو تذکرو د بیان مطابق د زیاتي علم حاصلولو د پاره د ملتان. جیلمیر. لس بیلا. مکران کچهـ او کاټهیاواړ د علاقو او ملکونو سفر کړے وو. او څمونږه د معلوماتو مطابق د حضرت شیخ شهباز قلندر نقشبندي په ملګرتیا کښې د قندهار اوودئ پیښور سفر هم کړے وو. او د دے ملک د بزرګانو نه یئے فیض موندلے وو.

د حضرت شاه لطیف د سوانح حیات هر څومره تذکرے چه تر دے وخته څما د نظرنه تیرے شویدي. په هغے کښې دا خبره په اتفاق منلے شویده. چه د دوئ په طبعیت کښې جذب او استغراق ډیر زیات وو. او د دا هغه څیز دے چه په دوئ کښې یئے د عرفان نفس صفتونه پید اکړي دي. او ظاهره

---

[195]انوار لا صفیاء صفحه نمبر۴۹۶

[196]مخکښې د میا عبدالحئ په تذکره کښے د دے کلي په محل وقعو تفصیلي بحث شویدے. (اثر)

ده. چه د خپل نفس عرفان د خدائ د معرفت ذريعه ده. آيت دے. و في انفسکم افلا تبصرون. د طريقت په لاره کښې سالک په خپلو معنوي مشکلاتو د قابو حاصلولو د پاره د خپل نفس اصلاح کوي. او چه د رياضت و مجاهدے په ذريعه د کردار بلندي پيدا کړي نو بيا د ده نفس د کمالاتو مجموعه ګرځيږي. او په دے شان سره يو سالک ته د حقيقت لاره برسيره کړي. شاه لطيف فرمائي:

نہ کلن نہ کائين نہ کی ګالهائين
کنهن جنهن م آهين سا پر پروڙن ڏاکڙا

"يعنے کامل انسان نه خاندي نه خوراک کوي. نه خبرے کوي. او دا نه ده معلومه چه په کوما افکارو او خيالاتو کښې مسغرق وي. چه په هشغے پوهيدل اسان کار نه دے."

د شاه عبد اللطيف په دے تصوفي مسلک او د فکر په دے خاص انداز باندے او د دوئ د پيغام په معنويت باندے چه غور اوکړے شي. او ورسره دا خبره هم په خيال کښې اوساتلے شي چه د دوئ والد ماجد ميا عبدالحئ قدس سره په سلسله عاليه نقشبنديه. قادريه. چشتيه کښې پير طريقت وو. او د خپل والد ماجد د وفات (۱۱۱۷هـ) په نيټه د شاه لطيف عمر په اختلاف د رواياتو۱۶،۱۷،۱۹ کاله وو. او د ديني علمونو د تکميل نه فارغه شوے وو. نو د دے نه معلوميږي چه د خپل والد ماجد نه يئے په سلسله عاليه نقشبنديه او چشتيه کښې بيعت کړے وو. او روستو نوره پالنه

او تربیت یئے حضرت شیخ شهباز قلندري، نقشبندي، قادري، چشتي کړے وه. دا خبره مونږ په دے بناء اوکړله چه اګر چه مونږه د مولانا شیخ حبیب الله سندهي مزار نه دے لیدلے لیکن د دے شیخ حبیب الله عبدالحئ سندهي د دوه مشهورو خلیفه ګانو حضرت شیخ شهباز پشاوري او حضرت شیخ جنید پشاوري[197] مزارات چه په پیښور کښې واقع دي. د دے دواړو بزرګانو د مزاراتو سره او د حضرت شاه لطیف د مزار سره د مخلوق د محبت او عقیدت چه کوم نوعیت دے. هغة بالکل یو شان دے. د دے درے واړه بزرګانو د مزاراتو چه کوم روحاني کیفیات دي. آثار دي. او د فیوضاتو عام والے دے. هغة تول یو شان دي. البته دومره فرق موجود دے. چه د حضرت شیخ شهباز او حضرت شیخ جنید په مزارونو قوالي نه کیږي. چه دغه د سلسله عالیه قادري او نقشبندیه د نسبت خصوصي وصف دے. او چونکه په شاه لطیف د چشتیه نسبت غلبه ده ځکه د هغة په مزار قوالي هم کیږي. او دا هغه روحاني اثرات دي چه د دے په اثر د شاه لطیف په کلام کښې د سوز سره سره د سز او غنائیت آمیزش پیدا شویدے.

په "صقال الضمائر" نومے کتاب[198] کښې د حضرت قطب الار شاد مولانا مخدوم آدم ټهټوي نقشبندي، مجددي، معصومي تذکره د

---

[197] د دوئ تذکره به روستو راشي.

[198] صقال الضمائر و مسامرة السرار. تالیف د خواجه محمد سعید نقشبندي طبع بمنئ در ۱۲۹۸هـ صفحه نمبر۱۴ و نمبر ۱۵ دا کتاب ځما سره موجود دے. (اثر)

هغوئ د خپلو مکتوباتو په حواله سره راغلے ده. لیکي:.

"حضرت قطب الا رشاد مولانا مخدوم آدم علیه الرحمة د خواجه عروة الوثقي محمد معصوم ابن حضرت احمد سرهندي مجدد الف ثاني قدس سره خلیفه وو. او د حضرت خواجه عروة الوثقي د ارشاد مطابق یئے په ټهټه ښهر کښې خانقاه جوړ کړے وو. چه روستو ډیرو مشاهیرو بزرګانو پکښې تربیت حاصل کړے وو. (دا خانقاه تر ۱۲۹۸هـ پورے موجود وو.) مخکښې لیکي:.

"هر کله چه حضرت خواجه مخدوم آدم سرهند ته تشریف وړلو. نو شیخ عبداللطیف یئے پخپل ځائي جانشین کړے وو. او وعده یئے ورسره کړے وه. چه کله سرهند ته لاړ شم . نو خواجه محمد سبغة الله ابن عروة الوثقي خواجه محمد معصوم ته به ستا سفارش عرض کړم. او چه کله حضرت مخدوم د دے سفر نه واپس راغے. نو په شیخ عبداللطیف یئے زیرے اوکړ. چه مبارک شه. څه وخت چه خواجه محمد صبغة الله ته م ستا د پاره دتوجه کولو درخواست اوکړ. نو هغوئ د توجه کولو شفقت او فرمایه او دایئے هم او فرمائیل چه د شیخ عبداللطیف علم او سلوک دواړه صحیح دي. او دومره نوره ترقي م ورته هم و بخښله. د دغے نه علاوه د شیخ عبداللطیف یو ځوي به پیدا شي. چه د سلسله عالي نقشبندیه د ټولو کمالاتو جامع به وي. او د دے طریقے د ترویج او تزئین باعث به

اوګرځیږي[199]. مخکښې لیکي: چه حضرت عالم کامل محقق او شیخ مدقق ابو القسام چه د دحضرت مولانا مخدوم آدم ټهټوی علیه الرحمة کامل خلیفه وو. د دے خواجه ابو القاسم په خلیفه ګانو کښې خواجه ابو المساکین محمد معین ټهټوي. شیخ عبداللطیف. او مولانا عبدالسلام نومونه د یادولو دي. چه دا درے واړه پخپل منځ کښې هم صحبته خواړه دوستان وو. یوه ورځ حضرت مولانا محقق ابو القاسم خواجه ابو المساکین محمد معین ټهټهوي ته مخ را اوګرځولو. چه د دے شیخ عبداللطیف د پشت نه چه کوم ځوي پیدا کیدونکے دے. هغه به ستا مرید وي. چنانچه د دے بشارت په آوریدلو مولانا عبدالسلام (چه په مرتبه د ابدالو کښې وو) خپله لور بي بي شیخ عبدالطیف ته په نکاح ورکړله[200].

بل خواته په کتاب "نغمات لطیف" کښې لیکي[201]: چه د کتاب "لطف اللطیف" مؤلف دین محمد وفائي ته "رساله اویسیه" نومے یو فارسی رساله په لاس ورغلے وه. چه په هغے کښې د شاه لطیف بهټائي او مخدوم محمد معین ټهټوي تر منځه چه کوم خط کتابت شویدے. هغه درج وو.

په دے دواړو روایتونو چه نظر واچوؤلے شي نو خیال پیدا کیږي چه په صقال الضمائر کښې چه د کوم شیخ

---

[199] و

[200] صقال الضمائر صفحه ۱۵

[201] نغمات لطیف صفحه ۳

عبدالطیف ذکر دے چه د مولانا محقق ابو القاسم مرید او خلیفه وو. او خپل دا دا پیر شیخ آدم ټهټوي یئے هم تربیت کړے وو. او روحاني تربیت یئے شیخ خواجه محمد صبغة الله فرمائیلے وو. که دا هم دغه شیخ عبدالطیف بهټائي وي چه په رساله اویسیه کښې یئے ذکر راغلے دے. نو دا به د بحث یو نوے باب پرانزي. او هغة دا چه دا به هم معلومول پکار وي. چه د دغه شیخ ابو القاسم څوک وو.؟ وجه یئے دا ده چه څمونړه سره د حضرت سید ابو القاسم ولد میا مصطفی ولد پیر سید علي ترمذي المعروف په پیر بابا یو قلمي دیوان (د پښتو ژبے) موجود دے[202]. چه په هغے کښې د آدم ذکر یئے په ډیر والهانه محبت او عقیدت سره کړیدے. نو که دا ابو القاسم هم دغه سید ابو القاسم وي. (لکه چه څمونږ یقین دے) نو بیا د بحث نومے موضوع دا هم کیدلے شي چه څرنګ د شاه لطیف د سندهي. بروهي ملتاني پنجابي وغیره ژبو منظوم کلام موجود دے. او په هغے کښې (لکه چه مخکښې ورته اشاره شویده) د پښتو ژبے الفاظ لغات. اصلاحات هم موجود دي. نو ډیر ممکنه ده چه کوشش او کړے شي او د حضرت شاه عبدالطیف بهټائي د پښتو ژبے

---

[202] حضرت سید ابو القاسم په ۱۰۶۸هـ کښې پیدا شویدے. عالم. عارف او د پښتو ژبے نامور شاعر هم وو. د خپل پیر طریقت آدم علیه الرحمة په یادو کښې یئے درد ناک اشعار وئیلي دي. په ۱۰۹۰هـ کښې یئے د شاعرئ آغاز کړے وو. خپل پیر طریقت د اوچتے مرتبے کاوند ګنړي. وائي:

دا غزل چه قاسم کښې اوښکے یئے څاڅي
په فراق د تا آدم خیر البشر (اثر)

عارفانه کلام هم په لاس راشي. او دا یوه داسې خبره ده چه د دې د پاره د زیات تحقیق ضرورت دے.

روایت دے چه حضرت شاه عبداللطیف د ځلمتیوب په زمانه کښې دوه غټ تعریفونه لرل. (۱) یو دا چه زیات وخت به یئے د صاحب طریقت صوفیانو او عالمانو په صحبت کښې تیره ولو. (۲) بله دا چه د نیکانو خلقو د مجلس نه به اوز ګار شه نو باقي پاتې ټول وخت به یئے په عبادت او ریاضت کښې صرف کولو.

د خوراک. څښاک. جامې. لباس. استوګنې. ناستې ولاړې په ټولو خبرو کښې یئے ساده ژوند تیره ولو. رحمدلي پکښې دومره زیاته وه چه که یو څاروے به یئې په تکلیف کښې اولیده نو زړهٔ به یئے ورسره دړد کولو. او چه په هر جوړ به یئے لاس برکیده. د هغه بے زبانه حیوان به يءِ علاج او خصمانه کوؤله.

حضرت شاه عبداللطیف علوي څه زمانه پس په سندهي ژبه کښې په شعر وئیلو شروع اکړه. لکه چه مخکښې ورته اشاره شوے ده. د ده مشر نیکه حضرت شیخ عبدالکریم هم ادیب او شاعر وو. چنانچه د دے خپل جدا مجد عارفانه کلام د ده رهنما وو. او د هغے نه علاوه د مولانا یئے روم مثنوي یئے هم په مطالعه کښې وو. د تصوفي مسلک. روحاني صفایئےاو پوخ فکر په وجه په اولو ورځو کښې هم د دوئ ابتدائي کلام دومره

شکلے او معنی دار وو. چه خلقو به زیات خوښولو. او په لږو ورځو کښې د دوئ د عارفانه کلام په وجه بے شمیره خلق یئے مریدان شول.

په دغه ورځو کښې د دوئ په طبیعت کښې د خلقو نه ځان له د کناره اسیدلو خواهش پیدا شه. چه د مخلوق نه ځان له جدا په یکسویئ سره د الله پاک عبادت اوکړلے شي. په دے وجه یو مقام ته لاړ. چه د هغے نوم "بهټ" وو. په سنهدي ژبه کښې د "شکوډهرئ" ته بهټ وائي. د شکو په ډهریئ (بهټ) یئے ځان له کور جوړ کړ. پخپله لاسونو یئے خټے لوټے کوؤلے. چه مکان یئے تیار شه. نو هغه د چا خبره "شمع چه بله شي پتنګان ورله خامخا راځي". په دے وجه به یو ځائي کښې چه د خدائي یو بنده په خپله سینه او زړهٔ کښې د معرفت چراغ روښانه کړی. نو هغه ته د مخلوق مخه را ماتیدل. راغونډیدل. او د هغه چار چاپیره ګنړه جوړیدل یو لازمي څیز وي. چنانچه څه وخت شاه لطیف علوي د "بهټ" په مقام استوګنه اختیار کړه. نو د چار چاپیره نه خلق ورته رغونډ شول. او په لږه موده کښې د شاه صاحب په ژوند د "بهټ شاه عبدالطیف" په نوم یو ورکوټے کلے جوړ شه. چه نن ورځے صرف د "بهټ" په نوم یادیږي. او د حیدر آباد ښهر نه د دیرش میله په فاصله مشرق طرف ته آباد دے.

حضرت شها لطیف علوي باقي پاتے عمر هم په دغه مقام بانده تیر کړے وو. د

خدائ مخلوق ته د هدایت. وعظ . نصیحت. تبلیغ او ارشاد به یئے کؤلو. د دغه "بهټ" نومے مقام د اوسیدلو په نسبت سره په "بهټائي" نامه مشهور شه. او خر په ۱۱۶۵هـ مطابق ۱۷۵۲هـ کښې یئې د دے دنیا نه سفر اوکړ. او مزار مبارک یئے هم په دغه "بهټ" نومے مقام کښې جوړ شه. چه د انوارو مرکز او مرجع د خاص و عام دے. علیه الرحمة والغفران.

په ۱۱۷۸هـ مطابق ۱۷۶۸ء کښې چه د وادئ سندهـ نامور حکمران غلام شه کلهواړ د سنهدـ د پخواني تاریخي ښهر "نیرون" په کهنډراتو باندے د یو نوي ښهر بنیاد کیښوده او د هغے نوم یئے د حضرت امام المشارق و المغارب علي ابن ابي طالب کرم الله وجهه د لقب "حیدر" په مناسبت سره "حیدر آباد" کیښوده. نو ورسره یئے د حضرت شاه عبداللطیف بهټاءي مزار مبارک هم په انتهائي ښکلي او شاندار طرز تعمیر سره جوړ کړ. چه د وادئ سندهـ په تولو تاریخي عمارتونو کښې د فن تعمیر د حسن او خوبئ په لحاظ بے نظیره دے. او دومره ډیر خلق یئے مزار ته راځي چه د شهرت فیض او برکت په لحاظ د وادئ سندهـ پ بل مزار دومره ګنړه نه ده لیدلے شوي. په دے سلسله کښې دا دوه خبرے د یادلرلو دي.

(۱) یوه دا چه د دوئ مزار مبارک ته د سلام او دعا د پاره د هر مذهب او ملت خلق مثال عیسایان،

هندوان، سکهان، پارسیان او مسلمان ټول یو شان راځي.

(۲) بله دا چه د دوئ د پند او نصیحت نه ډک صوفیانه کلام هم د هر مذهب او ملت خلق یو شان په شوق سره په سوز او ساز باندے وائي.

د حضرت شاه عبداللطیف بهټائي علیه الرحمة ژوندے یادګار د هغه تصوفي اخلاقي و عشقي اشعار دي. چه په سندهي، بروهي وغیره ژبو کښې یئے وئیلي دي. د هغه صرف اشعار نه دي. بلکه د مادي او روحاني ژوند د حقیقتونو راز ته د رسیدلو او په هغے د پوهیدلو د پاره یو همه ګیر پیغام دے. چه زړهٔ روح او دماغ یو شان متاثر کوي.

د حضرت شاه بهټائي پیغام

د حضرت شاه لطیف بهټاءئی پیغام یو عالمګیر حیثیت لري. د ده شاعری د یو داسے روښانه نمر په مثال ده. چه د هغے د روښانتیا پلوشے د ژوند په هر یو اړخ باندے پریوځي. د دوئ په شاعرئ کښې د حب الوطني جذبه دومره زیاته ده چه د انسان فطري صلاحیتونو لره ځلا ورکوي. د دوئ په خپل دعوت او پیغام کښې د قسماقسم احساساتو. آرزوګانو. اورمانونو. امیدونو. غمونو او خوشحالو تر جماني کړي ده. او په ځنے اشعارو کښې یئے د ژوند د

پښود نکو واقعاتو ډیر ښکلي تصویرونه راښکلي دي.

حضرت شاه عبداللطیف بهټائي چه په خپلو منظومو ارشاداتو کښې مونږه ته کوم پیغام راکړے دے. د دوئ دغه عارفانه کلام اګر چه اکثر په سندهئ ژبه کښې دے. لیکن هغه یواځے د سندهیانو د پاره خاص نۀ دے. لکه د هر یو مسلمان څه چه د هر یو انسان د پاره عام دے. او په دغه اعتبار سره د دوئ کلام د یو داسے "روڼاني تړون" او "روحاني رابطے" پیغام دے. چه دهغے بنیاد په نیکئ. نیکو کارئ. خدا پرستئ انسانیت دوستئ او محبت باندے دے. او په دے لحاظ یو عالمګیر پیغام دے.

حضرت شاه بهټائي مونږه د ناکاره کارونو ځنے منع کوي. او مونږه د ژوند په یوه داسے شاهراه باندے بوتلل غواړي. چه په هغے کښې د هیڅ قسم نه څه خوف او خطره نشته دے. د دوئ هر یو لفظ مونږ ته داسے پیغام راکوي. چه په هغے کښې د کامیابئ رازونه پټ پراته دي. کوم خلق چه د ژوند دپه کشالو کښې ناکامه شوي وي. هغه ته ښودنه کوي. چه همت مه بائله. پاسیږه په خدائ توکل اوکړه. اراده پخه او مضبوطه کړه او د دے وینا سره سره بیا ورته داسے لار هم ښائ چه سړے پړے د کامیابئ منزل ته اورسیږی.

په دے نظر سره چه د دوئ منظوم کلام ته اوکتلے شي. نو مثال یئے د یو داسے

رونړ مشعل دے چه د ژوند په هره یوه نازکه. تیاره او پر خطره کوټ او کږلیچونو کښې مونږ ته سمه او پر امن لار ښائي. د دوئ د عارفانه کلام په هر یو شعر کښې یو نوے پیغام په نظر راځي. او هم دا هغه څیز دے. چه د دوئ د افکارو. خیالاتو. تعلیماتو او ارشاداتو روح دے. او د آوریدونکي روح ته تازګی او بالیدګي بخښي.

د حضرت شاه بهټائي علیه الرحمة په ارشاداتو کښې بے شمیره داسے د عبرت او نصیحت نه ډکے خبرے موجودے دي. چه هغه مونږ ته پخپل روزمره ژوند کښې قدم په قدم د هغے ضرورت پیښیږي. د دوئ ارشادات د علم او عرفان داسے بیش بها خزانه ده. چه د هغے په رهنمایئ کښې که بنیادم تکل او کړي نو کله هم ګمراه کیدلے او بے لارے کیدلے نه شي او د سعادت او نیک بختئ منزل ته به رسیږي.

د شاه عبداللطیف بهتائي د بیان په اسلوب باندے ځان پوهه کول پکار دي. د دوئ د پیغام نوعیت د طرز ادا په لحاظ لکه د مولانا یئے روم د مثنوي په شان دے. د دوئ د قیمتي خبرو مثال داسے دے. لکه خورے ورے مرغلرے. چه د هغے د پاره یئے تمثیلي پند او موعظت طریقه اختیار کړي ده.د پاره د دے چه د آوریدونکي ذهن ته په آسانتیا سره پریوځي.

د فائدے د عام والي په خاطر د مرغلرو د دغه لړ نه او ډهرئ نه د دوئ د منظوم کلام د څه حصے پښتو ترجمه دلته درج کوؤلے شي. د دوئ د پيغام د امر غلرے داسے دي. چه هريو چاته په هر يو وخت کښې ضرورت يئے پيښيدلے شي. ليکن په دے موقع يوه خبره په فکر کښې ساتل ضروري دي. او هغه دا چه څمونږ د پاره صرف په مرغلرو راغونډ ولو او د هغے په ليدلو غافل کيدل نه دي پکار. دا قيمتي افکارچې د مرغلرو په مثال دي. هاله څمونږ پکار راتللے شي چه په دغے عمل اوکړو. چه د خپل اسلامي ژوند او چت نصب العين پر حاصل کړے شو. او په حقيقت کښې هم دغه د شاه بهټائي عليه الرحمة د تصوفي او اخلاقي پيغام اصلي روح او مطلب دے. حضرت شاه بهټائي فرمائي:

(۱) په خوشے صحرا او چوله بيابان کښې که سفر درپيښ شه نو که هر څومره ستومانه يئے چه معطل نه شے قدم مخ په وړاندے اخله."

د دے پيغام وضاحت داسے دے. چه د ژوند يو نصيب العين پکار دے. او د هغے د حاصللو د پاره مونږله کوشش پکار دے. که په دے تکل کښې يو بنده هر څومره ډير ستومانه شي. بيا هم پاتے کيدل نه دي پکار. بلکه نرتوب دا دے. چه بنده خپل ځان اصلي منزل او نصيب العين ته اورسوي.

(۲) "خوشي او تش په تشه اميدونه او آرزوګانې پرېږده. نيت اوکړه. خپل اراده محکمه کړه. قدم پوره کړه. چه مخ په وړاندې تلل درته آسان شي."

(۳) "يوه داسې لوبه" ټپ (سندره) واوره چه ستا د زړهٔ او د ماغ نه د طمع او اسرې زنګ لرې شي".

(۴) هر هغه څوک چه نور هر څه ته يئې شاکړی وي. او فقط ګيډه او خوړل څښل يئې آسره کړي وي. خدائ پاک هم د هغوئ نه لرې اوسيږي".

(۵) "بنده د نفس مثال داسې دے. لکه د اوښ چه په دواړو جامو شخوند وي. دے اوټړه چه سرايله او آواره نه شي. بلکه دا چه بار پرے آچوه که خوشے د پريښوده. او ځربيدلو له دے ورکړه نو خراب به شي.

(۶) که ساز او سامان درنه ورک شي. نو د لګير مه شه. نوميده کيږه. په خدائ يقين لره. د خدائ آسره واخله. په پوره کوشش او اخلاص سره که قدم واخلې. نو خپل منزل مقصود ته رسيدلے شې. تا ته که خپل منزل لرے ښکاري نو دغه به ستا د نظر خرابي وي.

(۷) څوک چه د حق طالبان وي. هغة خپل منزل ته د رسیدلو په تکل کښې تر هغے نا قلاره وي. چه تر څو یئے بدن کښې ساه وي.

(۸) چه په لاسونو څه کار کوے نو سترګے بینا ساته.

(۹) د حقیقي حسن د جلوؤ نظاره په رندو سترګو نه شي کیدلے.

(۱۰) د بے مطلبه خبرو کؤلو نه دا ښه ده. چه سړے د بل خبرو ته غوږ کیږ دي.

(۱۱) د علم حاصلولو نه روستو په هغے عمل کؤل ضروري دي.

(۱۲) اے بنده لوئے سفر د په مخکښې دے. د هغے د پاره څه تیاري اوکړه.

مخکښې مونړه دا خبره کړے ده. چه د حضرت شاه عبداللطیف بهټائي کلام تمثیلي دے. یوه خبره چه ښودل غواړي. نو د هغلے د پاره به مثال راؤړي. او په دغه طریقت سره به د سړي توجه اصلي مدعاته راګرځوي. د مثال په طور د حضرت رسول پاک صلي الله علیه وسلم د تعریف په سلسله کښې فرمائي:

"ځما د محبوب په
تندی کښېد نیکئ نور
ځلیږي. هم دغه وجه ده.

چه ځما په شان ناکاره بنده نه ځان نه رانغاړي. په دے وجه زۀ خپلو دوستانو ته وائم. چه نمر او سپوږمئ دواړه ځما د محبوب برابري نۀ شي کوؤلے. ځکه چه په دے دوارو کښې بيشکه چه خوبصورتي شته دے. ليکن نيکی نه لري. ځما محبوب د حسن او نيکئ دواړ ومجموعه ده.

حضرت مولانا شیخ محمد مؤمن علیه الرحمة

ولادت

.... کابل ۱۱۰۵هـ

وفات............................... ... سوات ۱۱۸۴هـ

حضرت شیخ المشائخ اخون محمد مؤمن علیه الرحمة په ورځ د دوشنبه (وخت د سحر نمانځه نه وراندے) ۱۲، د رجب المر جب ۱۱۰۵هـ په کابل کښې پیدا شوے وو. او په ورځ د سنبه (وخت د زوال)۱۴، تاریخ د شوال المکرم ۱۱۳۱هـ په مقام قندهار کښې د حضرت مولانا شیخ شهباز قلندر قادری چشتي نقشبندی علیه الرحمة نه یئے پ چشتیه سلسله کښې بیعت کړے وو. او بیا د هغوئ په ملکرتیا کښې وادئ پیښور ته راغلے وو. روستو چه په ۱۱۳۳هـ کښې حضرت شهباز قلندر علیه الرحمة وفات شه. نو د حضرت شیخ شهباز مهمند نقشبندي نه یئے په سلسله عالیه نقشبندیه نه یئے په سلسله عالیه نقشبندیه کښې لاس نیوه (بیعت) اوکړ. او خرقه د خلافت یئے حاصله کړله.

حضرت اخوند محمد مؤمن علیه الرحمة د وادي پیښور د سلسله عالیه نقشبندیه په

مشاهیرو بزرګانو کښې د اوچتې عرفاني مرتبې خاوند وو. په شامل مغربي پاکستان کښې د نقشبندیه، مجددیه، بنوریه د فیوضاتو سلسله د دوئ په واسطه سره خوره شویده. د دوئ نه د دې مبارکې سلسلې روحاني خلافت د دوئ خلیفه اکبر حضرت محمد صدیق د بشونئ ته رسیدلې وو. او بیا روستو د هغوئ نه دا سلسله خوره شوې ده. د دغې نه علاوه اوه کسان نور د هغه مریدان وو. چه هر یو ته د خلیفه اضعر روحاني مرتبه حاصله وه. او د دغې نه علاوه دوه کسان یئې مجاز او ماذون خلیفهګان وو. روحاني بیعت او باطني فیضان ورته د حضرت محبوب سبحاني. غوث صمداني. قطب رباني شیخ عبدالقادر جیلاني قدس سره نه حاصل وو. او د حضرت شیخ احمد ملتاني داؤد زې قادری نه یئې هم فیض موندلې وو. د خلافت خرقه یئې د نقشبندیه طریقې نه په غیر په بله سلسله کښې چاته نه ده ورکړې.

حضرت شیخ محمد مؤمن قدس سره په تاریخ ۱۶، د شعبان المعظم ۱۱۸۴هـ(ورځ سه شنبه) په مرتبه د ملکوت کښې وفات شوې دې. مزار مبارک یئې په سوات کښې دې[203].

علیه الرحمة والغفران.

---

[203] آئینه تصوف نمبر۱۷۸ او د سلسله غفوریه شجرې. (اثر)

حضرت غوث العالم میامحمد عمر د څمکنو علیه الرحمة

ولادت
....
فرید آباد ۱۰۸۴هـ

وفات.......................................
... چمکنی ۱۱۹۰هـ

حضرت شیخ المشائیخ عمدة العلماء الکاملین وقدوة الفضلاء الر[204]سخین غوث العالم و قطب المکنة والو جود ولار شاد میا محمد عمر موسی خیل تر کلاني سړبنی افغان نسباً و چمکنی مسکناً و نقشبندي، مجددي مشرباً قدس الله سره العزیز د وادئ پیښور په مشاهیرو بزرګانو کښې د مراتب عالیه او کرامت باهره خاوند تیر شوے دے. د شریعت او طریقت د علمونو یو روښانه نمروو. چه پلوشے یئې هر خواته خورے وے. یو داسے جلیل القدر روحاني پیشوا وو. چه د اسلام د دعوت تبلیغ. هدایت او ارشاد د طریقے میر کاروان وو. او د دوئ د روحاني حلال او جمال او تصر فاتو په برکت د مجاهدین اسلام لښکرو ته فتح او نصرت او اسلام ته شان او شوکت حاصل شوے وو. لوئ

[204] مکتوبات میا فقیر الله جلال آباد شکار پوري سندهـ

غازي بابا احمد شاه ابدالي د ده مرید وو[205]. او چه د پاني پت روستنی غزاله تللو نو د مجاهدین اسلام په دغه لشکر کښې په شماره اولس نیم زره د حضرت میا صاحب ممتاز مریدان وو. او د دوئ د روحاني تصر فاتو په برکت د دین اسلام غازیانو ته شانداره تاریخي فتح حاصله شوے وه[206]. حضرت میا محمد عمر د احسان او کرم خاوند وو. د شفقت، مروت او مهربانئ سرچشمه وه. پخپله ډیر لوئ فاضل عالم وو. بالغ نظره محقق وو. اصولي. فقیهه. مځدث مفسر. مبلغ. واعظ. مناظر. متکلم. ادیب. مؤلف. مصنف او بلند پایه مورخ وو. او د علم او عالمانو سر پرستی کوؤنکے وو[207].د دوئ په خانقاه او درسگاه کښې په سوؤونو و زرگونو طالب علمانو به د علوم شریعت او طریقت درس و تربیت حاصلولو. د هغوئ د قیام طعام د پاره ښکلي انتطامات یئے کړی وو. او په دے شان سره د دوئ په برکت د علم او عالمانو قدر او عزت او په عوام کښې د اسلام سره مینه او محبت پیدا شوے وو.

حضرت شیخ المشائیخ میا محمد عمر قدس سره چه په میا عمر څمکنی مشهور دے. خپله شجره د نسب یئے په خپلو څلور[208] تالیفاتو

[205] کلیات دا دین او مناقب د مسعود گل.

[206] کلیات د دادین

[207] د حوالے د پاره ملاحظه کړئ توضیح المعاني. کلیات د دا دین. شرح قصیده برده له نور محمد اوریا حین الصلوة (قلمي) تالیف د محمد سعید بار گل.

[208] د مبار صاحب څلور تالیفات چه خپله شجره د نسب یئے پکښې بیان کړي ده. د هغے نومونه دا دي. توضیح المعاني

کښې دا سې بیان کړې ده.محمد عمر ابن محمد ابراهیم خان ابن کلا خان ابن فقیر جان بن آدم خان ابن احمد خان ابن یوسف خان ابن ایمل خان ابن موسی ابن عیسی ابن ترک ابن خشې ابن سر شبون ابن سړبن.

په دې څلورو تالیفاتو کښې پخپل یو تالیف "توصیح المعاني" کښې یئې خپله شجره د نسب حضرت اسرائیل یعنې یعقوب علیه السلام ته رسؤلولې ده. په بنی اسرائل کښې د افغنه نیکه په نسبت سره ځان ته "افغاني" وائي. بیا په بني افغنه کښې د قیس نیکه په اولاد کښې د سړه بن نیکه په نسبت سره ځان ته "سړبنی" وایي. په سړ بن کښې د خشي نیکه په نسبت سره ځان ته خشې او بیا په خشی کښېد ترک نیکه په نسبت سره ځان ته ترکلانې وائي. د ترکلاني" قبیلېد یو زیلي شاخ نوم دې. موسی خیل په دې موسی خیل قبیله کښې د یو ذیلي شاخ نوم دې "ایمل خان" چه حضرت میا محمد عمر قدس سره په دغه ایمل خیل قام کلي د "میا خان خیل" خاندان یو نامور فرزند وو.

حضرت میا محمد عمر علیه الرحمة چه پخپلو تالیفاتو کښې دا خپله شجره د نسب په کوم تر تیب سره بیان کړې ده. روستو د حضرت میا عمر صاحب دواړه ځامنو (۱) محمدي صاحبزاده پخپل کتاب "مقاصد الفقهه" کښې (۲) عبید الله میا ګل په

شمایل بنوري (قلمي) خزینة الا سرار (قلمي) المعالي (قلمي) (اثر)

خپل کتاب "کلیات" کښې اوده میاڼ صاحب واړه حضرت محمد سعید بار ګل پخپل تالیف "ریا حین الصلوة" کښې هم په دغة پورتنی تریب سره درج کړي ده. د مثال په طور حضرت میا محمد عمر قدس سره د خپل تالیف "شمایل بنوي" په اخر کلې لیکي.[209]

محمد عمر ابن ابراهیم
سړ بني "شمائیل" راوړ
په پښتو ژبه طالبان به
یئے په لوست شي
خوشحال."

د حضرت میا محمد عمر د نیکه عیسی ابن موسی ابن ترک (تر کلاني. ترکانړي) اولا د د باجوړ په جندول نومے علاقه کښې آباد دي. چه عیسی زی. عیسوزئ السوزی ورته وئیلي شی. او د دے عیسی د ځوي موسی (موسی ابن عیسی ابن موسی ابن ترک) اولاد په موسی خیل نامه یادیږي. چه د وادئ جندول د مجموعے رقبے په څلورمه حصه (جنوبي اړخ) باندے په خصوصیت سره په "دره شالکنډي" کښې آباد دي. او د دوئ آباد د میداني علاقے د دوه مرکزي مقامونو مونډه او معیار پورے رارسیدلے ده. او په دغے کښې د ایمل ابن موسی نیکه اولاد په خصوصیت سره په شالکنډئ کښې آباد دي.

---

[209]"شمایل نبوي" قلمي نسخه صفحه۲۱ د مدرسه رفیع الا سلام بهانه مانړی پشاور.

دهغه یو زوی د سوات بونیړ ته کډه شو او موات موجوده حصار کلي، موضع ډګر کي مېشت شو. دحضرت میا محمد عمر نیکونه پشت په پشت ښه خلق وو. په قادریه او چشتیه طریقو کښي صاحبان د معرفت او حقیقت او روحاني پیشوایان تیر شوي دي[210]. په دے وجه دا کورنئ د یوسف ابن ایمل نیکه نه روستو په میا خان خیل نمه یاده شویده.

د حضرت میا محمد عمر قدس سره خپل سکه نیکه حضرت کلا خان علیه الرحمة پخپله زمانه کښي صاحب د طریقت بزرګ. او لوئ دیني عالم وو. د خپل قام خان او قبائیلي سردار وو. د شاهجهان په زمانه کښي یئے لاهور پنجاب ته تشریف وړے وو[211].داسے معلومیږي چه شاهجهان بادشاه په دغه موقع په لاهور کښي وو. او چه د حضرت کلا خان د تشریف راوړلو نه خبر شه. نو د دوئ ډیر قدر مدار یئے اوکړ. او د یو شاهي فرمان په ذریعه یئے دوئ له په فرید آباد کښي جاګیر ورکړ[212].

---

[210]توضیح المعاني صفحه نمبر۹

[211]شاهجهان په ۱۰۳۶هـ کښي بادشاه شوے. او په ۱۰۶۸هـ کښي وفات شویدے.

[212]د حضرت میا محمد عمر نیکه له چه شاهجهان په فرید آباد کښي جاګیر ور کړے وو. دغه مقام د دریاءے راوي په قبلیزه ګاړه د موضع "سیدان والا" نه د یو نیم کوس په فاصله دي. د لاهور او پیښور تر منځه د شیر شاه سوري د سړک نه شمال طرف ته د یو نیم کوس په فاصله د سیدان والا کلے دے. او بیا د هغے نه شمال طرف ته دغه فرید آباد دے. په دے کلي کښي د راجپوت قوم د بهټي نومے قبیلے خلق اوسیږي. د دے قبیلے یو قبائیلي سردار چه نوم یئے محترم خان وو. هغه د خپل ځوي فرید خان په نوم د دے کلي نوم "فرید آباد" ایښے وو. او په شماره یونیم زرکورونه او یو نیم سودو کانونه

حضرت شیخ المشائیخ کلا خان علیه الرحمة د ۱۰۴۶هـ په شاؤ خوا کلې لاهور ته او په ۱۰۴۸هـ بیا فرید آباد ته راغلے وو. په فرید آباد کښې یئے د خپل جاګیر انتظام. او د دیني علمونو درس شروع کړ. او د معرفت او طریقت د دعوت او ارشاد سلسله جاري کړه. څه نیټه روستو (په ۱۰۵۲هـ) کښې یئے د سیدان والا نومے کلي د مشواني ساداتو[213] په خاندان کښې یوه سیده بي بي په نکاح واخیستله. د هغے نه یئے چه ځوئ پیدا شه. په هغه یئے محمد ابراهیم خان نوم کیښوده.

څو کلونه پس چه د حضرت کلا خان نیکه علیه الرحمة ځوي (محمد ابراهیم رالوئ شه. نو دوئ دغه خپل ځوي د ځان سره کړ. نور بال بچ یئے په فرید آباد کښې پریښوده. او باجوړ ته د تللو په نیت راروان شه. چه څه وخت د "تربهیله" په ګودر کال خان نیکه د اباد سیند نه راپورے وتلو. او د خدو خیلو علاقے ته را اورسیدلو. نو دغلته په کلا خان (کالو خان) نومے کلي کښې شهید کړے شه. دا واقعه په ۱۰۶۶هـ کښې پیښه شوے وه.

چه څه وخت کلا خان علیه الرحمة شهید کړلے شه. نو د ده ځوي ابراهیم خان علیه

یئے لرل. دا توله آبادي د مخترم خاند زمانے وه. د دے کلي خواته نزدے په دریائے راوي باندي یو ګودر هم شته دے. چه په "فرید آباد ګودر" باندَ مشهور دے. د حوالےد پاره ملا حظه کړئ تاریخ مخزن پنجاب جلد نمبر۲ صفحه ۲۴۶.

[213] المعالي شرح آمالي (دیباچه) صفحه نمبر ۲۴

الـرحمة او لـګيده هم هلـتـه يـئـے دفـن کړ. او د هغه ځـائ نـه بـاجوړ تـه لاړ. څه مـوده يـئـے د خپـل پـلار نـيکه پـه اصلـي وطن (وادئ جنـدول علاقـه بـاجوړ) کښې تـيـره کړلـه. نـو بـيـا فـريـد آبـاد تـه د تـلـلـو پـه نـيـت روان شه. ځکه چه مور بـي بـي يـئـے هلـتـه وه. او د خپـل جاګيـر انـتـظام کـول هم ور پـغـاړه وو. چـنـانـچه هر کـلـه فـريـد آبـاد تـه راغـے. دلـتـه يـئـے خپـلـے شپـے ورځـے تـيـره ولـے چه پـه دے کښې څه زمـانـه پـس پـه پـيښور بـانـدے قـحط سـالـي راغـلـه. خلـق د هغے د لاسه پـنـجاب تـه پـه کډه خواره شول. پـه دغه خلـقـو کښې د څمـکـنـی نـومے کـلـي مـلـک سعيـد خان چه پـه قـام هم څمـکـنـے وو. پـه کډه بـانـدے فـريـد آبـاد تـه لاړ. او هلـتـه آبـاد شه. څه ورځے پـس دغه مـلـک سعيـد خان نـيـکه د ابـراهيـم خان علـيـه الـرحمة سره خپـلـوی او کړه. خپـلـه لـور بـي بـي يـئـے ورلـه پـه نـکـاح ورکړه. د هغه بـي بـي نـه د حضرت ابـراهيـم خان علـيـه الـرحمة درے ځامن پـيـدا شول. محمد عمر. محمد مـوسی محمد عيـسی چه پـه دوئ کښې دغه مشر فـرزنـد ارجمـنـد ه غوث الـعـالـم مـيـا محمد عمر د څمـکـنـو سره مشهور شه.

څه زمـانـه پـس چه پـه وادئ پـيښور کښې د قـحط سـائـي دوران ختم شه. او مـلـک بـيـا آبـاد شه. نـو سعيـد خان نـيـکه بـيـرتـه واپـس څمـکـنـو تـه پـه کډه راغے ورځے وے تـيـريـدلـے. څه مـوده پـس چه هلـتـه پـه فـريـد آبـاد کښې ابـراهيـم خان علـيـه الـرحمة پـه حق اورسيـده. او سعيـد خان نـيـکه تـريـنـه خبـر شه. نـو د څمـکـنـو نـه روان شه. فـريـد آبـاد تـه ورغے.

خپله لور بي بي او خپل يتيمان نمسى (محمد عمر. محمد موسى. محمد عيسى) ټول يئے د ځان سره روان کړل او څمکنونه يئے په کډه راوستل[214].

کم معلومات چه تر دے وخته پورے لاس ته راغلي دي. د هغے له مخه د حضرت ميا محمد عمر د څمکنو عليه الرحمة د پيدا کيدلو تاريخ ۱۰۸۲هـ اندازه کوؤلے شو. د فريد آباد (پنجاب) نه چه د خپل نيکه سره څمکنو ته راتللو د دوئ عمر به زيات نه زيات دولس يا څوارلس کاله وو. څمکنو ته د راتللو نه روستو ټول ديني علمونه يئے د وادئ پيښور د عالمانو وئيلي دي. حضرت ميا صاحب چه د خپلو کوما استاذانو ذکر کړے دے[215]. په هغے کښې حضرت مولانا شيخ المشائيخ محمد يونس عليه الرحمة[216]. حضرت مولانا محمد فاضل پابينى[217] عليه الرحمة. حضرت مولانا شيخ سيد محمد قطب بنورى[218]

---

[214]توضيح المعاني صفحه۹ تا صفحه۱۴ (قلمي نسخه)

[215]خزينة الا سرار (قلمي)

[216]د حضرت مولانا شيخ محمد يونس مزار مبارک د موضع معيار (طورو معيار) جنوب طرف ته د کلپانئ په مغربي غاړه (نور په صفحه۸۶۱ ملاحظه کړئ)

(پاتے حاشيه د صفحه۷۶۰ نه) باندے دي. قبر يئے کچه جوړ دے. چار ديوالى ترينه تاؤده. د دے مزار بالمقابل د کلپانئ په نمر ختيزه گاړه هغة درسگاه دے. چه په هغے کښې په ميا محمد عمر د دے خپل نامور استاز نه درس لوستولو. اوس په هغه مقام د ونو بنړ دے. د طورو نومے کلي مغرب طرف ته په موضع خاوؤ ډميرئ باند د يو بل حضرت شيخ محمد يونس عليه الرحمة مزار دے. چه هغه د حجرت اخوند سالاک عليه الرحمة ملگرے وو. (او اخون سالاک د اخون پنجو بابا خليفه وو)

[217]د دوئ تذکره مخکښې درج شوے ده.

[218]د دوي تذکره مخکښې درج شويده

عليه الرحمة. حضرت مولانا شيخ المشائيخ خواجه محمد امين صديقي بدخشي[219] عليه الرحمة. حضرت مولانا شيخ المشائخ عبدالغفور[220] پشاوري عليه الرحمة. حضرت مولانا شيخ المشائيخ حاجي دريا[221] خان عليه الرحمة

د علوم شريعت د تحصيل او تكميل نه چه فارغ شه نو خپل ټول هميت يئے د معرفت او طريقت د علومونو حاصلولو طرف ته را اوګرځولو او په اول سر كښې د حضرت مولانا شيخ المشائيخ شيخ سعيد بخاري لاهور قدس سره نه او بيا د هغوئ د دوه نامور خليفه ګانو حضرت مولانا شيخ المشائيخ سر الا عظ محمد يحى المعروف حضرت جي صاحب دا ټک نه يئے روحاني فيوضات حاصل كړل.

د حضرت شيخ سعدي نه بيعت

د حضرت مولانا شيخ سعدي قدس سره تذكره په تفصيل سره مخكښې درج شويده. حضرت ميا محمد عمر په ۱۱۰۴هـ كښې په اول ځل (پنجاب) ته د دوئ سلام له تلے وو. او بيا روستو چه هر څومره ځله د دوي په خذمت كښې حاضر شوے او د هغوئ په صحبت

[219] حضرت خواجه محمد امين صديقي، قريشي، نقشبندي مجددي په اصل د بد خشان وو. په پيښور ښهر كښې اوسيده. فاضل عالم او كامل عارف وو. د حجرت خوجاه عروة الوثقى محمد معصوم خليفه وو. مزار مبارک يئے په پيښور چهاؤ نړئ كښې د دوميلي بار كونو سره دے. اولاد يئے په پيښور ښهر كښې په خواجه، صديقي نومونو مشهور دي.

[220] د دوي تذكره مخكښې درج شوے ده.

[221] د دوي تذخرة مخكښې درج شوے ده. (اثر)

بابرکت کښې پاتې شوي دي. د هغې تفصيل يئې پخپل کتاب "خزينة الاسرار" کښې درج کړي دي.

حضرت ميا عمر فرمائ: هر کله چه په ۱۱۰۴هـ کښې لاهور ته د حضرت ايشان شيخ سعدي بخاري لاهوري سلام ته حاضر شوم. نو څرنګ چه حکم دے. کل امر مرهون باازقاتها(هر يو کار پخپل خاص وقت پورے موقوف وي.) نو په دغه ځل دومره فرصت په لاس رانغي چه څو ورځې د هغوئ په حضور کښې تيرے کړم[222]. (په دے وجه د کوم مقصد يعنے بيعت کؤلو د پاره چه تللے وو. هغه تر سره نه شه.)

د حضرت ميا محمد عمر قدس سره د دے بيان نه معلوميږي. چه هر کله په پيښور ښهر کښې د دوئ ګنړا ستاذان لکه حضرت مولانا شيخ عبدالغفور وغيره داسے وو. چه هغه د حضرت شيخ سعدي لاهوري خليفه ګان او مريدان وو. نو قدرتي طور د هغوئ نه به يئې د حضرت شيخ سعدي تعريفونه آوريدل. او په ۱۱۰۴هـ کښې چه فريد آباد ته د خپل جاګير د انتظام د پاره يئې تشريف وړے وو. نو لاهور ته د حضرت ايشان يعنے شيخ سعدي سلام له او په خصوصيت سره د فيض حاصلولو د پاره حاضر شوي وو. ليکن د نورو ضروورياتو په وجه دا فرصت په لاس ورنرغے چه د حضر ت ايشان عليه الرحمة په صحبت کښې څه ورځې تيرے کړے شي. او د

---

[222]خزينة الا سرار (قلمي صفحه نمبر ۴۰۰) (اثر)

هغوئ نه بيعت اوکړلے شي. دلته د يوے خاصے نکتے وضاحت ضروري دے. او هغه دا دے چه په طريقه عاليه نقشبنديه کښې د خپل روحاني رهنما او پير طريقت نه د فيض حاصلولو په سلسله کښې صحبت (يعنے د خپل پير سره څه موده يو ځاے تيره ول) لازمي او ضروري څيز ګڼړلے شي. اګر چه د بيعت کولو نه روستو هر يو پير طريقت په غائبانه طريقه سره هم خپل مريد ته توجه ورکؤولے شي. ليکن د پير په صحبت ملګرتيا او حضور کښې چه کوم لطف او برکت وي. هغه څه بل څيز وي.

بيا چه په ۱۱۰۵هـ کښې حضرت مولانا شيخ سعدي عليه الرحمة د لاهور نه وادئ پيښور ته راغلے او په علاقه دو آبه کښې موضع متِه مغل ته د حضرت مولانا شيخ محمد فاضل پاپيني عليه الرحمة ځاى ته يئے تشريف يوړلو. او د هغوئ په خذمت کښې ګڼړ مريدان او تعلقداران حاضر شو ى وو. نو حضرت ميا محمد عمر هم په دغه موقع د حضرت ايشان سلام ته حاضر شوے وو. او د هغوئ نه يئے بيعت کړے وو. دا واقعه حضرت ميا محمد عمر پخپله داسے بيان کړے ده.

"زۀ فقير هم په خزمت د عزايزانو کښې حاضر شوم. او په علاقه دو به کښې په کلي متِه مغل خيل کښې په منزل د مولانا محمد فاضل پاپيټي کښې شرف د

حاصليدلو د ملاقات د
حضرت شيخ سعدي په لاس
راغے. دغه ورځ يا خو د
ماه شولا آخرينئ ورځ
وه. يا د ماه ذي لقعده
اولنے تاريخ وو. ورځ د
اتبار ارهجري سنه يوزر
يو سل پنځه کاله د
پاسه (۱۱۰۵هـ) وه.
وريسے مخکلې د ګل شپے
له هغوئ بل کلي ته
لارل. په صباله چه د ګل
ورځ وه. او که نه په
بله وځ (يعني د نهے په
ورځ) مونړه کوم دوستان
چه سره غونډ د هغوئ په
خذمت کښې حاضر شوي وو.
پيښور ته يئے را رخصت
کړلو. زۀ هم پيښور ته
راغلم. او حضرت شيخ
سعدي د خيبر طرف ته
لاړلو. او هر کله چه د
خيبر نه را اوګرځيلد
نو د پيښور سره نزدے
په آچيني نومے کلي کښې
د حضرت شيخ محمد
ابراهيم چشتي په ديره
کښې ميلمه شوے وو. زۀ
ورغلم او د هغوئ د
ملاقات شرف م حاصل کړ
حضرت شيخ سعدي پيښور

ته داخل نه شه. او باهر په باهریئے کوهاټ تشریف یورلو. و بیا چه مخے کال له د کوهاټ نه واپس راتلل. او په ورځ د چارشنبے پنځلسم تاریخ د صفر المظفر سنه شپږ د پاسه یوؤلس سوه هجري (۱۱۰۶هـ) کښې پیښور ښهر ته رانوتل. نو زهٔ د بعض نورو دوستانو، مخلصانو سره یو ځاي د حضرت شیخ سعدي استقبال له تر څه ځاي پورے تلے ووم."

د حضرت شیخ یحی نه بیعت

حضرت میا محمد عمر د څمکنو علیه الرحمة د حضرت شیخ المشائیخ پدر بزرګوار شیخ سعدي علیه الرحمة د وفات نه روستو بیا د حضرت مولانا سر الا عظم شیخ المشائیخ محمد یحی المعروف حضرت جي د اټک علیه الرحمة نه بیعت کړے وو. د دے پحقله د میا صاحب علیه الرحمة خپل بیان داسے دے فرمائي:

"حضرت ایشان (شیخ سعدي) به اکثر خپلو محبانو او مخلصانو له ترغیب ورکؤلو. چه د حضرت "سرالا عظم" یعنے

شیخ محمد یئی المعروف حضرت جي صاحب د اټک نه (بیعت) فیض حاصل کړي. د مثال په طور حضرت سید محمد قطب ولد سید خوجه محمد ولد سیدنا آدم بنوري علیه الرحمة به هم دا خبره فرمائیله (چه د شیخ یحی نه فیض حاصل کړئ) هر کله چه په دوئم ځل په (۱۱۰۶هـ) کښې حضرت شیخ سعدي علیه الرحمة د پښاور نه واپس لاهور ته تللو. په یوه صحرا کښې روان وو. زهٔ (میا محمد عمر) د حضرت شیخ سعدي په رکاب کښې روان ووم. په دغه موقع نور ګنړ خلق هم موجود وو. ناګاه د حضرت ایشان (شیخ سعدي) نظر مبارک په سر الا عظم (شیخ یحی) باندې برابر شه. نو یو خپل مخلص دوست[223] ته یئې او فرمائیل چه تاسو ملانا محمد یحی پیژنئ. هغة اووئیل نه یئې پیژنم. حضرت ایشان

[223]د مخلص دوست نه مراد پخپله میا عمر دے یعنے شیخ سعدي دا خبره میا صاحب ته کړے وه

(شیخ سعدي) او فرمائیل چه دے اوویـنه او فیض تـریـنـه حـاصل کړه.[224]

د حضرت میا محمد عمر د دے بیان نه معلومیږي. چه هر کله حضرت شیخ سعدي په ۱۱۰۸هـ کښې وفات شه. نو د هغوئ د حکم مطابق یئے د حضرت سر الا عظم شیخ محمد یحی حضرت جي صاحب د اټک نه لاس نیوه کړے وه.

دلته د یو "سر" (یعنے راز) وضاحت ضروري معلومیږي. او هغه دا دے چه د معرفت او روحانیت یوه خاصه قاعده ده. چه د روحانیت په سلسله کښې کوم یو سړے دا خلیږي. او خدائي پاک وسره مهرباني کوي. نو د هغه حصه یئے د کوم خاص بزرګ سره مقرره کړی وي. یو سړے که په هر څومره هغه خاص بزرګ له نه وي ورغلے. د چاسره په د دوه حصه مقرره وي. تر هغے پورے د ده کار نه کیږي. او د پخوانو مشاهیرو بزرګانو طریقه کار هم دا وه چه څوک به د بیعت کیدلو د پاره ورله راغے او ده به په روحاني بصیرت دا معلومه کړه چه د دے نیک بخته انسان روحاني حصه د فلانکي بزرګ سره ده. نو هم هغه بزرګ له به یئې لیږلو. د دے نمونے بے شمیره واقعات د بزرګانو په تذکره کښې درج دي. مشهوره خبره ده چه رزق مقسوم دے. ویشلے شوے دے. چه په کوم ځاي کښې د سړي روزق روزی

---

[224] خزینة الا سرار صفحه نمبر ۵۲۰

مقرره وي. هغه له يئے هم هغة ځاي ته رسوي. دغه حال د روحاني فويا ضتو هم دے. د كوم بزرگ سره چه د يو بنده د روحاني فيوضاتو حصه وي. نو هم د هغه ځاي نه ورته وركړے كيدلے شي.

چنانچه د دے قاعدے په رنړا كښې د حضرت ميا محمد عمر دغه پورتنے قول چه:

"زۀ هم د حضرت ايشان په ركاب كښې روان ووم... او بيا يئے او فرفائيل چه د ده نه فائده واخله" نو په دے واقعه بيانولو كښې دے خبرے ته اشاره ده چه حضرت مولانا شيخ المشائيخ سعدي عليه الرحمة په حقيقت كښې ميا محمد عمر ته دا او فرمائيل چه ستارو حاني حصه د دے سر الا عظم شيخ محمد يحی سره مقرره شويده. او د ده نه فيض حاصل كړه. ليكن دلته يوه بله خبره هم ياد ساتل پكار دي. او هغه دا ده چه لكه مخكښې ميا صاحب عليه الرحمة فرمائيلي دي. "كل امر مر هون باوتاتها" د حضرت سر الا عظم نه ميا محمد عمر له د فيض حاصلولو د پاره يو وخت پكار وو. او غالباً دغه وخت په ۱۱۰۸هـ كښې د حضرت شيخ المشائيخ سعدي بخاري لاهوري د وفات نه روستو په لاس راغلے وو.

د حضرت سيد محمد قطب بنوري نه فيض حاصلول

د حضرت ميا محمد عمر عليه الرحمة په خپلو ټولو تاليفاتو كښې د حضرت مولانا شيخ سيد محمد قطب بنورى عليه ارلحمة نه

د بیعت کولو څه ذکر نشته دے لیکن د دوئ د یو بیان نه معلومیږي. چه حضرت سید قطب قدس سره د دوئ روحاني تربیت فرمائیلے وو. او په تاریخي اعتبارسره د دے روحاني تربیت دا واقعه وړاندیني ده. او بیا د دے نه پس یئے د حضرت شیخ محمد یحی نه بیعت کړے وو.

د دے وضاحت داسے دے. چه هر کله په ۱۱۰۵هـ کښې حضرت شیخ سعدي علیه الرحمة وادئ پیښور ته تشریف راوړے وو. او د آچیني په مقام د حضرت شیخ محمد ابراهیم چشتي په خانقاه کښې حضرت میاں محمد عمر د څمکنو د هغوئ د ملاقات شرف حاصل کړے وو. نو په دغة موقع حضرت سید محمد قطب بنوري قدس سره هم موجود وو. او د هغوئ نیازیئے هم حاصل کړے وو. میا صاحب د دے ملاقات یوه واقعه بان کړے ده فرمائي:

"یوه شپه رانه حضرت سید محمد قطب علیه الرحمة تپوس او فرمایه چه د معاش ذریعه د څۀ ده. نو ماورته عرض او کړ چه کتابت کووم (قلمي کتابونه نقل کوؤم) او د هغے نه چه څه آمدن راځی په هغے خپله گذاره کوؤم"[225]

225خزینة الاسرار صفحه نمبر ۴۴۲

میا صاحب علیه الرحمة مکخښې فرمائي:

"هر کله چه حضرت مولانا سید دوئم ځل پېښور ته تشریف راوړ[226]. (۱۱۰۷هـ) نو د دے فقیره نه چه لیکونکے د دے حروفو یم. تپوس یئے اوکړ چه څه کار کئے. او په څه مشغول یئے. ما فقیر عرض او کړچه د یو سړي سره م تعلق دے. او د هغه ځامنو ته سبق ښایم. او په دغه ذریعه چه څه په لاس راځي په هغے ګذاره کوؤم. د دے نه علاوه په دے مجلس کښې څه نورے خبرے هم په منځ کښې راغلے. بیا هم حضرت مولانا سید باجود د دغے خبرے چه دے پوره خبرداره شه. چه زۀ د چا ملازمت کووم. او د هغه چا ځامنو ته سبق ښایم. په بله ورځ یئے یو مخلص عقیدت مندله میلمستیا کړے وه. ماته یئے او فرمائیل چه ته هم پاتے شه. چنانچه د دوي حکم م قبول کړ. پاتے شوم. لیکن ځما په زړۀ کښې یوه سودا ګرځیلده.هغه دا چه دغه د خالي ورځ وه (یعنے ځما په زړۀ کښې دا سودا راولاړه شوه چه مولانا سید دنن ورځے د میلمستیا د پاره ما پاتے کوي نو نن خو د خالي (هفتے شنبه) ورځ ده. د چتهئ ورځ خود جمعے وه هغه تیره شوه) نن خو سحر وختي ماله پېښور ښهر ته تلل او په مکتب کښې حاضریدل پکار دي. د پاره د

[226] هر کله چه په ۱۱۰۶هـ کښې شیخ سعدي لاهور ته تشریف یوړلو. او ټول ملګري ترینه واپس شول. نو په هغے کښې حضرت سید محمد قطب هم چه واپس شه. نو کوهاټ ته تلے وو. ځکه چه دے مستقل طور په کوهاټ کښې اوسیده. دا پیره په دویم ځل دوئ په ۱۱۰۷هـ کښې دکوهاټ نه پېښور ته راغلي وو. چه وریسے باجوړ نه یئے تشریف یوړلو. لکه چه روستو به یئے ذکر راشي.

دے چه د چا سره ملازم یم. چه هغه زهیر نه شي. (لیکن حضرت مولانا سید ځما په دغه پریشانئ څه خیال اونه فرمائیلو او زۀ یئے د خالي په ورځ د خپل ځان سره حصار کړلم) بیا چه هم په دغه ترد داو پریشانئ کښې (صباله) مکتب خانے ته لاړلم. نو هغوئ ځما په فائي بل څوک طالب علم (استاذ مقرر کړے وو. او ماله یئے د ملازمت نه رخصت راکړلو.[227])

راز

دا واقعه چه په دومره تفصیل سره حضرت میا محمد عمر قدس سره بیان کړے ده. په دے کښې چه کوم روحاني راز دے. هغے ته اشاره کول مناسب معلومیږي. لکه چه روستو به ذکر راشي. حضرت میا محمد عمر قدس سره ما د رازادولي وو[228].او په اویسي طریقه سره د حضور پر نور محمد مصطفی صلي الله علیه وسلم روح پر فتوح د ده تربیت کولو. په دے سلسله کښې دا یوه عامه قاعده ده. چه د بارګاه رسالت نه په اویسي طریقه سره د کوم یو سړي سر پرستي کیږي. نو د هغه په تندی کښې یو "نور" ځلیږي. او هغه ته د محبوبیت یو خاص ممتاز مقام حاصل وي. د خداي ټول نیک بندګان او بزرګان چه دغه قسم سړي او دیني./ نو د هغه سره مینه او محبت کوي. روحاني امداد ورسره

---

[227]خزینة الا سرار صفحه ۴۴۶

[228]په "کلیات دا دین" کښې د دے په حقله یو شعر دے:

ته اویسي ولي کامل م مور زاردي راغلے   که په ظاهر د نقشبند تابحمل راوړے

کوي. او که هغه په څه داسے کارونو مشغول وي. چه هغه د دغه مادرزاد ولي د شان سره نه ښائیږي. نو د هغے نه یئے په ورحاني تصرف سره خلاصوي. چنانچه حضرت مولانا سید محمد قطب چه د حضرت مولانا میا محمد عمر په حال باندے توجه فرمائیله او یو ځل یئے د کتابت د کاروبار نه خلاص کړ. او بل ځل د ماشومانو د درس او تدریس د ملازمت نه خلاص کړ. نو وجه یئے داوه چه مولانا سید د میا صحب په مبارک تندی کښې د اویسي بزرګئ او محبوبیت اونوار لیدل. او ورسره دا یئے هم لیدل. چه داخلے میا محمد عمر د غوثیت لوړ مقام ته رسیدونکے دے. د دے ډیر لوي شان دے. د ډیرے او چتے درجے خاوند دے. په دے وجه حضرت مولانا شیخ سید محمد قطب بنوری علیه الرحمة ورسره خصوصي مهرباني فرمائیله.

د دے نه روستو د مولانا سید په ملکرتیا کښې باجوړ ته تلل او په واپسئ کښې د حضرت مولانا سید علیه الرحمة په ۱۱۰۸هـ کښې د وفات کیدلو تذکره بیان شوے ده. په هم دغه ۱۱۰۸هـ کښې حضرت مولانا شیخ سعدي او حضرت مولانا سید دواړه چه پرله پسے وفات شول. نو د هغے نه روستو بیا میا صاحب د حضرت مولانا شیخ محمد یحی نه بیعت کړے وو.

تالیفات

حضرت میا محمد عمر د څمکنو پخپل تالیف "توضیح المعاني" کښې فرمائي[229] چه ما په عربئ، فارسئ او پښتو ژبه کښې ګنړ کتابونه تالیف کړي دي. چه ځني پکښې ډیر مشهور دي فرمائي:

تصانیف له دے فقیره چه عیان دي
په فارسئ په عربئ کښې نمایات دي

په پښتو ژبه هم مالړي بسیار دي
ځني ځني بیا مشهور په هردیار دي

په دے کتابونو کښې چه کوم تر دے وخته پورے ماته په لاس راغلي دي. یا م لیدلي او مطالعه کړي دي. هغه دا دي:

(۱) توضیح المعاني

دا کتاب په اصل کښې د علم فقهه د عربي کتاب "خلاصه کیداني" منظومه پښتو ترجمه ده. لیکن خصوصیت اهمیت یئے دا دے. چه د دے په اول سر کښې یئے خپله شجره د نسب تر آدم علیه السلام پورے بیان کړے ده او بیا یئے خپله د نقشبندیه سلسلے شجره درج کړي دي. او د کتاب په آخر کښې یئے مذهبي او اخلاقي نصیحتونه شامل کړي دي. نظم یئے د مثنوي په شکل دے. او په تاریخي اعتبار سره ډیر اهم کتاب دے. د دے کتاب کومه نسخه چه په ۱۲۹۸هـ کښې په مطبع فیض عام دهلي کښې چاپ شویده. هغه نا قصه ده. البته مولانا فضل حق د تنګی

[229]توضیح المعاني صفحه نمبر ۵

هشنغر چه پکښې کومے اضافے کړي دي. هغه قابل قدردي. مکمله نسخه یئے په مدرسه رفیع الا سلام بهانه ماړی پشاور کښې (قلمي) موجوده ده.

(۲) د پښتنو نسب نامه

دویم کتاب یئے د علم الانساب په موضوع دے. چه د علم تاریخ یو اهم شاخ دے. د دے کتاب یوه قلمي نسخه په لندن میوزیم کښې ده. بلکه نسخه یئے د کتاب "صولت افغاني[230]" مؤلف زر داد خان ناغر خویشکي سره موجوده وه. چه د دے خپل کتاب په صفحه نمبر۳۲۹ یئے د دے نه اقتباسات نقل کړي دي. د دغے نه علاوه په حیات افغاني کښې هم د دے کتاب پښتو نسب نامه ذکر راغلے دے[231].

(۳) المعالي

د دے کتاب پوره نوم دے "المعالي شرح آمالي" چه په ۱۱۵۸هـ کښې یئے تلیف کړے دے. دا کتاب اګر چه د علم عقاید سره تعلق لري. لیکن منځ تر منځه یئے بعض تاریخي مضامین هم پکښې ذکر کړے دے. د مثال په طور د خپلو حالاتو په سلسله کښې لیکي:

---

[230] تاریخ صولت افغاني طبع حیدر آباد دکن ۱۸۷۶ء

[231] تاریخ حیات افغاني تالیف نواب محمد حیات خان توانه صفحه نمبر ۱۵۴

"پس دا فقیر محمد ابن محمد ابراهیم علیهم الرحمة محمدي مشرب دے. صلي الله علیه وسلم د جهت د نسب نه مشهور په افغاني سره دے. او په واقعاتو او حقیقت کښې د دے افغان والي نه غیر ځان ته د بل څه نسب کولو د عوی نه لري. لیکن هر کله چه د خپل نسبت نه په انکار کولو وعید یعني د سزا حکم وار د دے. د دے وجهے نه کومه خبره چه په نفس الامرکښې رشتیا ده. دلته وئیلي شي"

(الف) ځما والد ماجد لکه چه مخکښې بیان اوشه نوم یئے ابراهیم دے. او په نسب باندے افغان دے. چه افغان مذکور د ملک طالوت د اولاد ځنے دے. او ملک طالوت د بني اسرائیل ځني دے. او اسرائیل چه عبارت دے د مهتر یعقوب نه ځوي دے د مهتر اسحاق چه هغه ځوئ دے. د مهتر ابراهیم صلوة الله علی نبینا وعلیهم اجمعین.

(ب) او والده ماجده د ابراهيم مذكور چه والد ځما فقير دے. د جهت د نسب نه په پرله پسے صحيح سلسله باندے د سيد محمد گيسود راز عليه الرحمة نمسئ ده. او سيد محمد گيسود راز مذكوره حسيني سيد صحيح النسب دے.

خزينة الا سرار

څلورم كتاب يئے چه پ تاريخي اعتبار سره ډير زيات اهم دے او په حقيقت كښې دا يو داسے كتاب دے. چه د معلوماتو د زياتوالي او د صحت او اعتماد په لحاظ سره ډير زيات اهم دے او په حقيقت كښې دا يو داسے كتاب دے. چه د معلومات د زياتوالي او د صحت او اعتماد په لحاظ سره ډير زيات قيمتي دے. حضرت مياں محمد عمر قدس سره د علم او عرفان د اوچتو درجو نه علاوه يو فاضل مؤرخ هم وو. د شريعت او طريقت په علمونو او روحاني مرتبو كښې د كمال درجو ته د رسيدلونه روستو چه څه وخت په تصنيف او تاليف يئے شروع كړي ده. نو علاوه د نورو تاليفاتو نه خپله روز نامچه ليكل يئے هم شروع كړى وه. چه دغه په يوه معنى "تذكرة الاولياء" ده. او په بله معنى روزنامچه ده. چه د دوئ د تول ژوند په تولو اهمو واقعاتو مشتمله ده. د دے كتاب نوم "سر الاسرار"

او "خزينة الاسرار[232]" دے. په دے الفاظو شروع کيږي.

الحمد لله حق حمده والصلوة علي خير رسله واله اجمعين.

بعد از تمہید ور ودبر رسول مقبول بعض حکایات صالحین فقیر حقیر گوشہ نشین از ہر نکتہ نکتہ آموختہ التماس وارم۔ کہ ایراد نگریند۔ واین کتاب رانام نہاد بہ ''خزینۃ الا سرار'' قطعہ

ما خازنان مخزن اسرار و حدتیم نبود عجب کہ سر حق از ما کندظہور

ماہچو۔ صح پردہ ظلمت دریدایم انیک علم زسینہ ماشعلہ ہائے نور

شمائيل نبوي

د حضرت ميا محمد عمر پنځم کتاب "شمائيل نبوي" دے. دا يو ورکوټے منظوم کتاب دے. ژبه يئے پښتو ده. او نظم يئے څه بحر طويل کښې او څه په ورکوټي بحر کښې ليکلے شويدے[233]. د اول سر يو څو اشعار يئے دا دي:

---

[232] د دے کتاب يوه قلمي نسخه د مفتي غلام سرور لاهوري (۱۸۷۲ء) سره موجوده وه. هغه پخپل کتاب "خزينة الا صفياء" کښې د دے اکثر حصه نقل کړے ده. د دويمه قلمي نسخه د "کابل پښتو ټولنه" په لاءبريرئ کښې نمبر۵ ديني ۶/۲۵ ۱۳۳۴ش هـ

[233] د شمايل بنوي يوه قلمی نسخه د مدرسه رفيع الا سلام بهانه ماری په کتبخانه کښې ده. او بله ځما (اثر افغاني) سره ده. دا دين پخپل کتاب مناقب کښې د دے"شمايل نبوي" په حقله وائي

تل ثنا ده د هغه پاک پروردګار
چه ممکن یئے له نا بوده کړ اظهار

بیایئے ګوره په عالم کښې پاک رسول کړ
هم یئے موږد ده امت کړو ایماندار

او درود دے پاک الله پرده وئیلے
بیا یئے موږ پرے مامور کړو په دا کار

دغه پس شمایل د پاک رسول دې
چه لوستونی منور شی په انوار

شمایل په لوست وعده د بهښت شوي

څکه هر څوک یئے د لوست طلبګار

د دے نه علاوه د حضرت میا محمد عمر قدس سره که نور هو څومره عبري فارسی، پښتو تالیفات او تصنیفات دي. د هغے علم تر دے وخته راته حاصل شوے نه دے.

وفات

حضرت میا صاحب محمد عمر علیه الرحمة په اولنی تاریخ د زبرګی میاشتے (یعنی یکم رجب) په ورځ د پنجشنبے ۱۱۹۰هـ وفات شه. د وفات ماده یئے دا جمله ده (غصق) د میا صاحب د وفات د تاریخ د حوالے د پاره ملاحظه کړئ.

تا دے جوړ کړے شمایل د حجرت مسے رنګه چه په لوستل یئے هره خوا الاچي لونګ پریزي

(۱) مناقب د میا عمر" تالیف د"دا دین"

(۲) "ریاحین الصلوة" تالیف د محمد سعید باز ګل

(۳) کلیات د کاظم خان شیدا خټک.

(۱) دا دین وائي:

سن غصق د پنجشنبې په ورځ اے جانه
د رجب په غرۍ لاړ شه له جهانه

(۲) کاظم خان شیدا وائي:

د میا په درد و غم کښې
ناله ډیره شوه هم آه
وایه دا "عمر ولي
ورسره "رحمت الله"
"علیه" ورسره ضم کړه
په تاریخ به شي آګاه

(دویمه قطه)

میا عمر پخپل دوران کښې
چه کشاده یئے د فیض باب وه
شاه ګدایئے په در حاضر وه
مرجع د خلقو عالم مآب وه
تاریخ یئے دا دے د رحلت واوره
شیخ اجل وه قطب اقطاب وۀ

۱۱۹۰هـ

خليفه ګان

د حضرت میا صاحب محمد عمر عليها الرحمة نه چه کومو خلقو روحاني فيض موندلے دے. د هغوئ شميره ډيره ګرانه ده. البته "دا دين" او "مسعود ګل" پاسنی چه پخپلو کتابونو کښې د دوئ د بعض مشاهيرو خليفه ګانو کوم نومونه ذکر کړي دي. هغه دلته درج کوؤلے شي.

قاضي اخوند عبدالرحمان

حضرت مولانا قاضي اخون عبدالرحمن عليه الرحمة د پيښور ښهر، اوسيدنوکے وو. د حضرت ميا صاحب عليه الرحمة په خاصو مريدانو کښې وو. په پيښور ښهر کښې د قاضي خيلو د وه کورنئ دي. په دوئ کښې يوه کورنئ چه په خصوصيت سره د علم او فضل خاوند وو. هغه د دے قاضي عبدالرحمان عليهارلحمة کورنئ وه. څه وخت چه حضرت ميا صاحب وفات شه. او تجهيز او تکفين يئے کيدلو. نو د غسل په وخت کښې د ميا صاحب خپل دوه رونړه ميا محمد موسی. ميا محمد عيسی او د دوئ دواړونه علاوه قاضي عبدالرحمان د پيښور او حضرت پير رضوان د کوهاټ موجود وو. او آخري خذمت يئے دے څلور وواړو کړے وو. د قاضي عبدالرحمان مزار مبارک په پيښور ښهر کښې دے. تاريخ د وفات يئے راته معلوم شوے نه دے.

نور محمد قریشي

حضرت مولانا نور محمد قریشي د موجوده مالاکنډ ایجنسئ د تهانړه نومے کلي اوسیدونکے وه. په نسب باند قریشي وه. عالم. فاضل او زاهد سړے وه. حضرت فتح خان علیه الرحمة چه په قام بانډے کمال زاي وو. او د هوتي مردان د موجوده خانانو[234] وو. هغه د دے مولانا نور محمد قریشي د علم او فضل ډیر تعرفیونه کړي دي. د حضرت میا محمد عمر قدس سره یو بل مرید مسعود ګل پاسنی هم د مولانا نور محمد د اوچتے عرفاني مرتبے ستائینه کړي ده. نور محمد قریشي د حضرت میاصاحب علیه ارلحمة په ممتازو مریدانو کښې وو. تر ۱۲۰۰هـ پورے ژوندے وه. د وفات صحیح تاریخ یئې راته معلوم شوے نه دے. د قصیده برده یوه منظومه شرح یئے یادګر پاتے ده.علیه الرحمة والغفران.

ارباب معزالله خان مهمند

حضرت ارباب معز الله خان مهمند د سر بند (سنګو، سر بند) اوسیدونکے وو. ارباب محسن خان یئے د تره ځوي وه. د خپل وخت قبائلي سردار وه. د پښتو ژبے مشهور شاعر

[234] خان فتح خان علیه الرحمة پخپله زمانه د کمال زائي قبیلے قومي سردار وو. د غازي احمد شاه ابدالي علیه الرحمة په مشعئ کښې یئې غزاګانے کړے دي. د ده په اولاد کښې حاجي محمد علي خان رئیس اعظم دهوتي مردان په موجوده وخت کلي یو نیک کرداره. عالم او علم دوست. د یندار او پرهیزګار انسان دے. په نقشبندیه طریقه کښې یئے بیعت کړے دے. (اثر)

او اديب وه. د اشعارو ديوان يئے يادګار پاتے دے. د حضرت ميا محمد عمر عليه الرحمة مخلص مريد وو. صوفي. زاهد او عالم سړے وو. ډير عمر يئے د خپل پير په صحبت کښې تير کړے وو. د لاهور او باجوړ په سفرونو کښې ورسره ملګرے وو. دحضرت ميا صاحب عليه الرحمة په مناقب کښې يئے په فارسئ ژبه يو شکلے کتاب ليکلے وه. چه مسعود ګل پاسنى په ۱۲۱۲هـ کښې او "دا دين" په ۱۲۱۹هـ کښې ليدلے وه. او د هغے نه يئے اقتباسات په پښتو ژبه را نقل کړي دي. په يو تاريخي دستاويز يئے په ۱۲۲۴هـ کښې په حيثيت د ځاکم پيښور د ستخط کړے دے[235]. د دے نه معلوميږي چه تر دے نيټے (۱۲۲۴هـ) پورے ژوندے وو. د وفات صحيح تاريخ يئے نه دے معلوم.

عليه الرحمة والغفران

---

[235] دا تاريخى دستاويز د سيد ډاکټر انور الحق د شيدو سره دے.

غازي احمد شاه ابدالي

د حضرت میا محمد عمر قدس سره په مشهورو مریدانو کښې لوئ احمد شاه بابا د اوچتې روحاني مرتبې غازي بادشاه تیر شوې دې. د حضرت میا صاحب سره یئې ډیر زیات عقیدت او ارادت لرلو. چه د مناقب په کتابونو کښې په تفصیل سره د هغې ذکر راغلې دې. او دا خبره په وضاحت سره بیانشوې ده چه د لوئ احمد شاه بابا په فتوحاتو او کامیابیو کښې دحضرت میا محمد عمر علیه ارلحمة د روحاني تسرفاتو همت او برکت شامل وه. او لکه چه روایت دې د پاني پت په آخریني جهاد کلې چه حضرت لوئ احمد شاه بابا ته شانداره فتح حاصله شوي وه. هغې کښې اولس نیم زره کسان یواځې د حضرت میا صاحب مریدان او خلیفهګان وو. چه په هغې کښې د میا صاحب څلور خلیفه ګان په خصوسیت سره داسې وو چه هغه په مرتبه د اوتادو کښې وو. او د حضرت میا صاحب د طرف نه د روحاني رهنمایانو په حیثیت سره د احمد شاه ابدالي سره په ټولو غزاګانو کښې شامل وو. نومونه یئې دادي. اخوند محمد یوسف، اخوند جان محمد کلان. اخوند محمد اکرم. عبیدالله میا ګل (د میا صحب کشرې ځوي.) علیهم الرحمة والغفران.

اخوند صوفي عبدالرحمان باجوړي

حضرت اخوند صوف عبدالرحمان په قام باندې سر کانړی خیل شموازیې وو. او د

علاقه باجوړ اتمانخیل د موضع کلاله اوسیدونکے وو. د حضرت میا صاحب محمد عمر د ځمکنو په ممتازو مریدانو کښې وو. ډیره عمر یئے د خپل پیر طریقت په صحبت او ملازمت کښې تیر کړے دے. او د حضرت میاڼ صاحب علیه الرحمة د کشف او کرامت ډیر واقعات چه د ده په مخکښې پیښ شوي وو. هغه هم د ده په روایت سره ارباب معز الله خان مهمند. مسعود ګل پاسني. دا دین او فضل حق اخندزاده په خپلو کتابونو کښې بیان کړي دي. مزار مبارک یئے په باجوړ (مالاکنډ ایجنسئ) کښې د شنګس نومے غره په لمن کښې اخندزاده محمد صدیق او اخندزاده محمد رفیق نومے دوه مشران د وادئ پیښور د موضع تنګی (هشنغر) په میره کښې په ګنډیري نومے کلے کښې اوسیدل. چه د دوئ په اولاد کښې مولانا محمد فقیر شاه د ۱۲۵۰هـ په شاؤ خوا کښې د ضلع مردان جلاله نومے کلي ته په کډه راغلے وو[236]. تر آخره پورے دا خاندان علمي او روحاني کورنئ وه. د علم دین تبلیغ او اشاعت به یئے کولو. علیهم الرحمة والغفران.

مشاهیر مریدان

[236] نن ورځے د حضرت اخوند صوفي عبدالرحمان اولاد ځنے د ضلع مردان په جلاله. مدیح بابا پانیئ نومے کلو کښې آباد دي. مولوي حمد الله او حکیم عبدالمالک مجاهد کشمیریکښې عالمان او نیک کسان دي. او ځنے نور چه په اخندازادګانو نامه بلے شي د قبائیلي علاقه باجوړ په تپه شمونزیئے اتمانخیل کښې په کلاله. ډب وغیره کلو کلي آباد دي. او عزتمنده کورنئ ده. (اثر)

د دے نه علاوه د حضرت میا صاحب د بعض مشاهیرو مریدانو نومونه د فائدے د زیاتوالي په خاطر دلته درج کوؤلے شي. چه په دوئ کښې هر یو د دے عظیم المرتبت او جلیل القدر ولي الله نه فیض موندلے دے روحاني صفائی یئے حاصله کړے ده. او د دین اسلام خذمت یئے کړے دے. خداي پاک دے ورله نیک اجر ورکړي.

(۱) نور الدین خان: چه د احمد شاه ابدالي د طرف نه د کشمیر صوبه دار (ګورنر) وو.

(۲) موز اعبدالله خان: چه د احمد شاه ابدالي خصوسي محرر (میر مغشی) وو.

(۳) نواب نصر الله خان اوکزئے رئیس د پیښور.

(۴) سردار جهان خان حاکم د پیښور.

(۵) سردار شاه ولي خان چه د احمد شجاه ابدالي وزیر وو[237].

(۶) نور محمد خان کوکیانے چه د پیښور حاکم وو.

(۷) نواز جنګ خان کوهاټے چه د پیښور حاکم وو.

(۸) نواب زاد خان چه د کوټلی د ارباب محسن خان ځوي وو.

[237] دولت درانیه صفحه ۹

(۹) حاجي کریمداد خان چه د کشمیر حاکم وو.

(۱۰) امانت خان څمکنے علیه الرحمة.

حضرت امانت خان علیه الرحمة د میا محمد عمر قدس سره مرید وو. احمد شاه ابدالی چه د پانی پت آخرینی غزالي روان شه. نو امانت خان هم د خپلے څمکنی قبیلے د بهادرو غازیانو د سواره او پیاده وو لښکر د د ځان سره واخیست او د احمد شاه ابدالی په کومک کښې روان شه. او د جهاد په میدان کښې یئے داسے مرانه ښکاره کړه چه د تاریخ په پانړو به یادګار پاتے وي. په یوه ډیره نازکه موقع په داسے حال کښې د ریاب موجونه وهل او د مسلمانانو لښکر د دښمن په ګیره کښې راغلے وو. امانت خان د خپلے څمکنی قبیلے د ځوانان وسره په دریاب اسونه ورواچول بلے ګاړے ته اوختل. د کفارو په لښکرو د پریوتل. د الله اکبر نعره یئے اوچته کړه چغه یئے کړه یا میا عمره رارسیږے! او د سپینو تورو په خرپهار او شړقهار یئے په کفارو شړق پریستلو. او د فتح بیرغ یئے او چت کړ. په دے جهاد او لښکر کښې

(۱۱) ارادت خان څمکنے

(۱۲) او مسعود خپل څمکنے هم ورسره ملګري وو[238].

---

[238]"کلیات دا دین" بحث د پانی پت د جهاد

علیهم الرحمة والغفران.

(۱۳) میا شمس الدین ولد میا عبدالرحیم د اکبر پورے.

(۱۴) قاسم خان ارکزے.

(۱۵) عظمت خانبنگښ.

(۱۶) فیض طلب خان محمود زایئے.

(۱۷) وجیه الدین خان خټک

(۱۸) جیون خان سواتے.

(۱۹) احمد د پیښور ښهر.

(۲۰) اخوند ملابنادي خان

(۲۱) محمد زاهد د اکبر پور.

(۲۲) سعادت خان د پیښور

(۲۳) حضرت اخوند ملا طلعه علیه الرحمة.

(۲۴) میر حسن خان

(۲۵) میر جعفر خان

(۲۶) ګل محمد خان ارمړ

(۲۷) حضرت ملا عبدالحق اخندزاده علیهالرحمة

(۲۸) حضرت ملا رحمت اخندزاده

(۲۹) حضرت اخوند ملا حسن علیه الرحمة.

(۳۰) حاضي عبدالصمد

(۳۱) سید محمد د سدوم[239]

(۳۲) قاضي مسعود عالیه الرحمة

(۳۳) میا حکم اخندازاده د تنګی ضلع پیښور.

(۳۴) حضرت سید غلام محمد ګیلاني المعروف په سید غلام ابن شاه محمد غوث قادری. ګیلاني لاهوري علیهم ارلحمة والغفران (د بعض نرو مشاهیرو خلیفه ګانو تذکره به روستو راشي)

د میا عمر فیوضات

د حضرت میامحمد عمر د څمکنو علیه الرحمة د مبارک ژوند او حالاتو د تذکرے په سلسله کښې د ټولو نه اهم څیز د هغوئ روحاني تصرفات او فیوضات دي.د دوي په مناقب کښې چه هر څومره کتابونه لیکلي شوي دي. هغه ټول په دے خبره متفق دي. چه په تیرو شوؤ څو سوؤ کالو نو کښې په ټوله پښتونخوا کښې د پښتنو په ټولو قبیلو کښې د بطني او طاقت لرونکے داسے عظیم الشان او جلیل القدر بزرګ بل نۀ دے تیر شوے.

---

[239]د سید محمد شاه سدوم تذکره به روستو راشي.

او د دے پـه رشتـیـا سره چـه "غـوث الـعـالـم" او "غـوث الا فـغـان" وو. او د ژونـد پـه هـر ارخ کښې د هر خاص او عام د پاره د دوئ د روحـانـي. عرفـانـي او عـلـمي فـيـوضاتـو سـلـسـلـه عامه وه. د دوئ د عظیم تـریـن روحـانـي تـصر فـاتـو او کـرامت انـدازه د دے نـه لـګـیـدلے شي. چه پـه سابق صوبـه سرحد. ټـولـو قـبـائـلـي علاقـو او ټـولـو سرحدی ریـاسـتـونـو او افـغـانـسـتـان کښې د پـښـتـو د هر یـو قـام او قـبـیـلے خـلـقـو چـه څـومـره ډیـرے زیـاتـے سـیـرئ دوئ تـه ورکـړے دي. تـذکـري دي. د هغے مـثـال نـه پـیـدا کـیـږي. روغے روغے د دے. کـلي او مـلـکـونـه ورتـه خـلـقـو د سـیـرئ پـه طـور نـزر کـړی دي. او حضرت مـیـا صاحب عـلـیـه الـرحمة د دغه تـولـو جائـیـدادونـو چـه د هښغے شـمـیـره د لـکـهـونـو جـربـیـبـه زمکے نـه هم زيـاتـه وه. د هغے نـه چـه هر څـومـره آمدن بـه راتـلـلـو. هغه بـه یـئے د عالـمـانـو پـه سر پـرسـتئ د دیـنـي عـلـمـونـو پـه درسـګـاهـونـو جـوړه ولـو. د طالـب عـلـمـانـو د کـتـابـونـو. جامو خـوراک څښاک پـه ضرورتـونـو خرڅ کـؤلـو. او د دوئ پـه عظیـم الـشـان خـانـقـاه کښې چـه هر څـومـره د طـریـقـت او مـعـرفـت طالـبـا. سـالـکـان. فـقـیـران. محـتـاجـان او عام مـسـافـر او مـیـلـمـانـه بـه راجمع وو. د هغوئ د پـره د لـنـګـر پـه انـتـظـام بـه یـئے خـرڅ کـولـو. د نـاداره محـتـاجـه. یـتـیـمـانـو او کـنډو د پـاره بـه یـئے د هغوئ پـه ضرورتـونـو صرف کـولـو. او چـه څـوک بـه بې خانـمـانـه وو. د هغوئ د پـاره بـه یـئے پـرے د کـورونـو بـادولـو د زمکے او نـورو سـازو سـلـمـان تـول اخـراجـات مـفـت او د خـدائـي

په نوم کوؤل. غرض دا چه هر څومره مال. هال. دولت جائيداد چه به دوئ ته نذر کيدلو هغه به يئے د خدائي په نوم د خدائي د مخلوق د ښيګړے د پاره خرڅ کولو.

د دغے نه علاوه د دے عظيم الشان جائيدادنه چه کوم بے اندازے آمدن وو. د هغے يو خاص مصرف بل هم وو. او هغه دا چه د دوئ په ژوند مبارک کښې چه د هندوستان په زمکه د کفارو او مشرکانو په خلاف هر څومره جهادونه شوي وو. په دغه غزاګانو کښې چه د دوئ په زرګونو زرګونو مريدانو حصه به اخيستله د هغوئ د پاره د جهاد ټول ساز او سامان به هم د دے جائيداد په آمدني باندے تياريدلو. لکه چه مخکښې ذکر او شه لوئ احمد شاه بابا ابدالی د حضرت ميا محمد عمر قدس سره مريد وو. د پانی پټ مشهورے آخرينی غزاله چه تللو او څمکنوته د حضرت ميا صاحب عليه الرحمة سلام له او د عا غوښتلو له راغے. نو حضرت ميا صاحب علاوه د دعا او روحاني مرستے نه په شماره باندے اولس نيم زره خپل داسے مريدان هم ورسره غزا له ليږلي وو. چه په هغوئ کښې هر يو دا درے اقرارونه کړي وو. (۱) يو دا چه پخپل ژوند کښې د دوئ نه فرض نمونځ نه دے قضا شوے. (۲) دوئم دا چ روژے يئے پورله ساتلي دي. (۳) درئم دا چه د دوئ په غاړه باندے د زکوة حق نه دے پاتے. او د داسے نيکانو صالحانو مسلمانون د جهاد د پار ساز او سامان حضرت ميا محمد قدس سره تيار کړے وو.

د حضرت میا محمد عمر علیه الرحمة خپل ژوند انتهائي ساده وو. ساده خوراک. ساداه لباس. او د دومره لوي جاءیداد او مال دولت باوجود په ساده. د ختونه جوړ کچه مکان کښې اوسیده. د دوئ د دغه ساده کور آبادی تر نن ورځې پورے موجوده ده. او څمونږ د دے خبرے ثبوت پیش کوي. چه د حضرت میا صاحب علیه الرحمة هر څه د الله د پاره وو. د هغوئد خپل ځان د پاره نه وو. او د هغوئ ټول مال د الله تعالی په لاره کښې وقف وو.

د حضرت میا صاحب علیه الرحمة په فیوضاتو کښې بل اهم څیز دا وو. چه د دے ملک په عوامو کښې یئے اتحاد او اتفاق راوستلے وو. هیڅ یو زور اور او مالدار. په کمزوروی او غریب باندے ظلم نه شه کوؤلے. او نه یو قام او قبیلے په بل قام او قبیله باندے تجاویز کوؤلے شه. د امر معروف او نهي عن المنکر دور دوران وه. د شریعت د پابندئ او دینداری دوران وو. د عالمانو قدر او عزت وو. او دین اسلام ته په صحیح معنی سره سرلوړي حاصله شوے وه.

د حضرت میا محمد عمر قدس سره دوه ځامن وو. محمد صاحب زاده. او عبید الله "عبید الله" (چه روستو به د دوئ تذکره راشي.) البته د دے دواړه ځامنو د اولاد سلسله یئے روستو نه ده پاتے شوے او تر کومه حده چه د رحاني فیوضاتو د سلسلے تعلق دے هغه تر نن ورځے جاري ده او

انشاء الله تعالی چه تر ابده به جاري وي.

حضرت شيخ اخوند محمد نقشبندي عليه الرحمة

ولادت ١٠٩٣هـ

وفات.. ١١٩١هـ

حضرت شيخ المشائيخ مولانا اخوند سيد محمد شاه نقشبندي مجددي عليه الرحمة په ١۴، تاريخ د ذي الحجه په ورځ د يكشنبه (وخت د ماښام) ١٠٩٣هـ په مقام د "كنډر كلے" علاقه سدهوم ضلع مردان كښې پيدا شوے وو. (په دے سلسله كښې د "آئينه تصوف" هغه روايت صحيح نه دے. چه حضرت سيد شاه محمد په مقام د قلات بلوچستان كښې پيدا شوے وو.) ابتدائ تعليم يئے د وادئ پيښور رخصوصاً علاقه سمه د هغه زمانے د عالمانو اوكړ. او په ١٧، تاريخ د صفر المظفر (ورځ سه شنبه وخت د ماښام د نمانځه نه روستو) په ١١١۵هـ كښې يئے د حضرت ميا محمد نعيم د كامه (سمت مشرقي افغانستان) نه په نقشبنديه طريقه كښې بيعت كړے وو. او په ورځ د يكشنبه ١۴، تاريخ د ذي الحجه ١١٩١هـ په مرتبه د ملكوت كښې يئے وفات بيا مونده. مزار مبارك يئے په ضلع

مردان علاقه سدوم کښې د رستم کلي نه شمال طرف ته چه کوم خوړ دے. د هغے په شمالي غاړه بانډے دے[240].او د ونو يو لوئ بنړ پرے ولاړ دے. عليه الرحمة والغفران.

د مولانا سيد محمد شاه عليه الرحمة اصلي نوم محمد دے. په "آئينه تصوف" کښې د ده نوم "شاه محمد" ذکر شويدے. او د دوئ د خپل اولاد په شجره کښې محمد شاه ليکلے شويدے. د پلار نوم يئے سيد بهائي خان وو. چه هغه د سليد علي المعروف په لو خان څوي وو. او شجره د نسب يئے پورته د حضرت سيد علاؤالدين حسن سنجري عليه الرحمة په واسطه سره حضرت سيد احمد الملقب په مشوان ابن سيد محمد ګيسو دراز اول حسيني عليه الرحمة قدس سره ته رسيږي.

د حضرت سيد علي خان والد مسجد د ۱۰۰۰هـ په شاؤ خوا کښې د بلوچستان د پشين نومے ځاي نه وادئ پيښور ته تشريف راوړے وو. او د ضلع مردان په موضع طور و شهامت پور کښې د دے کلي د مشهور قبائيلي سردار ملک حسن خان[241] يوسفزی په درخواست يئے طورو کښې قيام فرمائيلے وجو. او د درے اتيا کالو په عمر په ۱۰۲۵هـ کښې په مقام د کاټلنګ (ضلع مردان) په يو جنګ

---

[240] آئينه تصوف صفحه نمبر۱۵۹ پر ترميم او اضافه سره.

[241] په ادب کښې د "آدم خان درخانئي" په نوم يو روماني داستان ډير زيات مشهور دے. دا ملک حسن خان د دغه آدم خان پلار وو. چه مزار مباک يئے د موضع طور و شهامت پور جنوب طرف ته د بلړ په غاړه په يوه ډهرئ بانډے واقع دے. په حسن نيکه ياديږي. (اثر)

کښې شهید شوے وو. مزار مبارک یئے د جمال ګړهئ او کاټلنګ نومے کلو تر منځه د ګره په لمن کښې په شکرئ نومے کلي کښې دے. او په شکرئ بابا یادیږي. علیه الرحمة والغفران.

سید بهائي خان

روستو د ده ځوي حضرت سید بهائي خان علیه الرحمة علاقه سدهوم ته لاړ. او هلته د موجوده رستم نومے کلي شمال طرف ته چه کوم خوړ دے. د هغے نه شمالي غاړه په اوچته لوړه زمکنه باندے په. "کنډر" نومے کلي کښې آباد شوے وو. او بیا هم دلته وفات شه. مزار مبارک یئے د دغه کنډر کلي نه نمر خاته طرف ته د کمر د پاسه دے. او مرجع د خاص او عام دے. د ده فرزند ارجمند حضرت خواند سید محمد شاه علیه الرحمة هم په دے کلي کښې په ۱۰۹۳هـ کښې پیدا شوے وو.

د حضرت مولانا شیخ المشائیخ اخوند حافظ عبدالغفور باباجي صاحب د سوات علیه الرحمة د طریقت په شجره کښې لیکي دے. چه حضرت مولانا سید محمد شاه سدومي د حضرت میا د ځمکنو علیه ارلحمة نه هم بیعت کړے وو. او دغه روایت صحیح دے. هر کله چه په ۱۱۲۱هـ کښې حضرت مولانا اخوند میا محمد نعیم وفات شه. نو د هغے نه بیا روستو د عامے قاعدے مطابق حضرت میا محمد سدومي د حضرت میا محمد عمر ځمکنی نه تجدید د بیعت کړے وو. او په ۱۱۵۱هـ کښې یئے د

هغوئ نه خرقه د خلافت حاصل کړے وه. او هر کله چه حضرت ميا محمد عمر د شيخ محمد يحى مريد دے. او هغه د شيخ محمد يحى مريد دے. او هغه د شيخ سعدي لاهوري مريد دے. نو په دے اعتبار حضرت مولانا سيد محمد شاه سدومي عليه الرحمة د حضرت مولانا حاجي بهادر کوهاټي او حضرت مولانا شيخ سعدي لاهوري په دوه واسطو سره د حضرت سيدنا آدم بنوري قدس سره د سلسله بنوريه مجدديه نقشبنديه خليفه وو.

خليفه ګان

د حضرت مولانا اخوند سيد محمد شاه سدومي عليه ارلحمة هغوي په ممتازو خليفه ګانو کښې د دوئ د دوه نامورو خليفه ګانو تذکره کول. مناسب معلوميږي په هګوئ کلې يو ممتاز خليفه يئے حضرت اوخوند حافظ محمد صديق د بشونړئ عليه الرحمة دے[242].چه روستو به يئے تذکره راشي.

حضرت اخوند عبدلکريم عليه الرحمة

د مولانا سيد محمد شاه سدومي د دويم ممتاز خليفه نوم حضرت اخوند عبدالکريم عليه الرحمة وو. چه په ورځ د يکشنبه (وخت مازيګر) ۹، تاريخ د صفر المظفر ۱۱۵۹هـ کښې په مقام د غزني ښهر (افغانستان) يئے د دوئ نه په سلسله

---

242 و

عالیه نقشبندیه کښې خرقه د خلافت حاصله کړي وه[243].بیا د دے اخوند عبدالکریم د خلیفه نوم میا غلام شاه وو. چه په رامپور (هند) کښې اوسیده بیا د هغه د خلیفه نوم محمد امیر اخندزاده وو. او بیا د هغه د خلیفه نوم حضرت شیخ محمد حسن رحمة الله علیه وو. چه د ده د مریدانو سلسله لا تر اوسه پورے په هغه ملک (موجوده بهارت) کښې موجود ده[244].

هر کله چه حضرت اخوند عبدالکریم علیه الرحمة په ۱۱۵۹هـ کښې د حضرت شیخ سید محمد شاه سدومي نه په مقام د غزني ښهر (افغانستان) کښې بیعت کړے وو. نو د دے نه دا نتیجه په لاس راځی چه په دغه زمانه حضرت سید محمد علیه ارلحمة د وادئ پیښور نه غزني ته د بزرګانو د مزاراتو لیدلو او نورو ژوندو بزرګانو نه فیض حاصلولو په خاطر غزني ته تلے وو. او هغة چه په بعض خلقو کښې مشهور ده. چه د حضرت سید محمد شاه علیه الرحمة د سدوم علاقے ته د غزني نه راغلے دے. نو د هغے نه دا مطلب آخیستل پکار دي. چه د دوئ د خلافت حاصلولو نه پس چه د اسلامي دنیا د سیاحت په سلسله کښې په ۱۱۵۹هـ کښې په غزني کښې وو. نو د دغے نه روستو د ۱۱۲۰-۱۱۲۱هـ په خواو شاه واپس د سدوم علاقے ته راغلے وو. او د غالباً د دوئ د ډیرے اکدے زمانے سفر

---

[243] و

[244] آئینه تصوف صفحه نمبر۱۵۹ چه دا کتاب هم د دے شیخ محمد حسن تالیف دے او په ۱۲۱۱هـ کښې چاپ شوے دے.

په وجه په موضع کنډر کلي کښې چه د دوئ کوم پيدری جاءيداد وو. په هغې به د سدوم مبين خلقو قبضه کري وه. او د هغې په وجه به بيا د موجوده رستم کلي ته دوئ تشريف راوړے او دلته استوګن اختيار کړے وي. چه هم دلته په ۱۱۹۱هـ کښې وفات شول. عليه الرحمة والغفران.

د دوئ د اولاد يوه کورنئ د علاقه بونير (رياست سوات) په موضع تورورسک کښې آباده ده او بقاقي پاتے نور په موضع رستم کښې آباد دے[245].او تر نن ورځے علمي کورنئ ده. د موضع تور ارسک يو خاندان په کراچئ کښې[246] او د رسم يو خاندان په بهار (انډيا) کښې هم آباد دے.

[245]په دے خاندان کښې سيد عرفان الله عليه الرحمة ښه سړے تير شوے دے. چه د هغه ځامن سيد عالم شاه وغيره ده.
[246]د کراچئ په دے خاندان کلي سيد خانم الله د نقشبنديه سلسلے پير طريقت دے. فاضل عالم او روحاني رهنما دے
د بهار په ساداتو کلي حضرلت سيد عرفان الله کامل عارف او روحاني رهنما وو. مزار مبارک يئے په موضع اعظم نګر تحصيل پورنيا صوبه بهار کښې دے. (اثر)

حضرت مولانا شیخ اخوند محمد صدیق پهلواړی

ولادت .... پهلواړي مردان ۱۱۰۵هـ

وفات.................................... ... رامپور (انډیا) ۱۱۹۵هـ

حضرت مولانا شیخ اخوند محمد صدیق علیه الرحؤة د ضلع مردان علاقه سیدوم په موضع پلئ[247] کښې په ورځ د چار شنبے (وخت نماز دیګر)۱۴، تاریخ د صفر المظفر ۱۱۰۵هـ کښې پیدا شوے وو. او په ۲۷، تاریخ د رجب المرجب ۱۱۵۰هـ (ورځ دوشنبه وخت مازیګر) د اخوند الله داد چشتی[248] علیه الرحمة نه یئے په مقام د الله ډهنډ ډهرئ کښې په سلسله عالیه چشتیه صابریه کښې خرقه د خلافت حاصله کړے وه. او دالله تعلی د ټولو صفاتي اسماؤ ذکر او مشغل یئے حاصل کړے وه. او د الله تعالی د

---

[247] دا کلے نن ورځ په پلو ډهرئ او پلئ نومونو باندے یادیږي. چه د دے اصلي نوم پهلواړۂ دے.

[248] د حضرت اخوند الله داد چشتي مزار مبارک په موضع ډهرئي (الله ډهنډ ډهرئ) مالاکنډ ایجنسئ کښې دے. حضرت مولانا الله داد په ۱۰۸۹هـ کښې پید اشوے وو. په ۱۱۱۵هـ کښې یئے د اخوند سالاک چشتي صابري نه خرقه د خلافت حاصشه کړے وه. او په ۱۴، تاریخ د محرم الحرام ۱۱۵۷هـ وفات شوے دے. مزار مباکر یئے مرضع د خاص او عام دے.

ټولو صفاتي اسماؤ ذکر او مشغل يئے حاصل کړ. خلافت کبری درته حاصل شوے وو. او د ذات الهی د صفاتي اسماؤ د تجلی انوارو آثار ورته حاصل شوي وو. دا جليل القدر بزرگ په تاريخ۱۰، محرم الحرام ۱۱۸۵هـ د اتياؤ کالو په عمر ضلع مردان د پهلواړئ نومے کلي نه روان شه د سابقه هندوستان مشهور ښهر "مصطی آباد" المعروف رامپور ته يئے تشريف يوړلو. او هم هلته پاتے شه. د دين اسلام تبليغ او اشاعت يئے کولو. چه بالا خر په ۱۵، تاريخ د صفر المظفر (ورځ د جمعه د اشراق د نمانځه نه روستو) په ۱۱۹۵هـ کښې په مرتبه د جبروت کښې وفات شه. مزار مبارک يئے د رام پور ښهر په کومه محله کښې جوړ شوے دے. د هغے نوم د دوئ د مزار مبارک په وجه په "محله پهلواړي" سره مشهور دے[249].

د وادئ پيښور مشهور بزرگ او صوفي شاعر حافظ صاحب د الپورئ عليه الرحمة په سلسله عاليه چشتيه کښې د ده خليفه وو. چه روستو به يئے تذکره راشي.

عليهم الرحمة والغفران

---

[249] آئينه تصوف صفحه نمبر۱۷۱

حضرت مولانا حافظ اخون محمد صديق بشوني

ولادت

....

کجرات د مردان ۱۰۹۵هـ

وفات...............................

... بشونئ د بنير ۱۱۹۸هـ

حضرت شيخ المشائيخ مولانا حافظ اخون محمد صديق قادري، چشتي، سهرودي نقشبندي عليه ارلحمة د بشونئ په ۷، محرم الحرام ورځ دو شنبه (وخت نماز تهجد) ۱۰۹۵هـ کښې د ضلع مردان په موضع ګجرات کښې (چه په ګجرات بخشالي مشهور دے.) پيدا شوے وو. روستو د ده والد ماجد او والده ماجده او نور خاندان موضع بشونئ د علاقه بنير رياست سوات) ته په کډه تلي او هلته آباد شوي وو. د دوئ د والد ماجد او والدے ماجدے دوارو زيارتونه په موضع بشونئ کښې دي.

حضرت مولانا حافظ محمد صديق ابتدائ تعليم د وادئ پيښور اوولوى سوات د د هغه زمانے د نامور و عالمانو څنے کړے وو. قرآن مجيد ئے حفظ کړے او په ديني علمونونۍ کښ درجه د کمال ئےحاصله کړي وه. په دغه مناسبت د حافظ اخوند محمد صديق

په نامه ياده ولے شي. د شريعت د علومونو د تکميل نه روستو د طريقت اور معرفت د فيض حاصلولو دپاره پيښور ښار ته ئے تشريف راوړ. او دلته ئے په ۱۱۲۹هــ کښ د حضرت مولانا شيخ المشائخ اخوند محمد مومن نقشبندي د ماشو ګکهور (ضلع پيښور) نه په سلسله عاليه نقشبندي کښ لاس نيوه اوکړه. او د بے شميره رياضتونو او مجاهد ونه پس ئے خرقه د خلافت حاصله کړے وه . د هغے نه روستو ۱۱۵۹هــ کښ ئے د حضرت مولانا شيخ المشائخ جنيد پشاوري قدس سره نه به سلسلسه عاليه قادريه کښ بيعت اوکړ. او خرقه د خالفت ئے حاصله کړله. بيا په هغے پسے ئے په ۱۱۷۹هــ کښې د حضرت مولانا شيخ المشائخ سيد محمد شاه د سدوم نه په عمريه سعديه بنوريه کښې خرقه د خلافت حاصله کړي وه.

حضرت حافظ اخوند محمد صديق عليه الرحمة په روحاني طريقه سره د معرفت اوروحانيت په سلسلو کښې په شماره د اوه وو پخوانو مشاهيرو بزرګانو نه بيعت کړے وو. او باطني فيضان ورته د حضور پر نور محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم د روح پر فتوح نه حاصل شوے وو. او په ژوند و بزرګانو کښې د خپلے د زمانے د يوولس مشاهيره بزرګانو نه ئے بيعت او تجديد د بيعت کړے وو.

د چه په هغوئ کښ د دوئ د پورتنو ددے مشائخونومونه مونږته معلوم شوي دي

او په دې شان سره دوئ ته په شماره يوولس خفي او جلي خرقې د خلافت حاصلې شوي وي[250].

حضرت مولونا حافظ اخوند محمد صديق عليه الرحمةله خداۍ پاک لوئ عمر ورکړې وو. چنانچه دا ته د پاسه سل کالو په عمر په تاريخ ۱۷د صفر الظفر په ورځ د چار شنبې دو خت د مازيګر د نمانځه نه روستو چه ماښام نه ډير لږ وختې پاتې وو) په ۱۱۹۸هـ کښ په مرتبه د جبروت کښ ئې وفات بيا مونده . مزار مبارک ئې په موضع بشونړئ علاقه بنير رياست سوات کښ دې [251]. او مرجع د خاص اع عام دې. عليه الرحمة والغفران.

د مغربي پاکستان په شمالمغربي علاقو کښې حضرت شيخ المشائيخ اخوند حافظ محمد صديق عليه الرحمة يو داسې د اوچتې مرتبې لرونکې روحاني پيشوا تير شوې دې. چه د ټول مغربي پاکستان د څلورو واړو طريقو د مشهورو بزرګانو د طريقت سلسلې په دوئ باندې رايو ځاي شوي دي. او په دې اعتبار سره د دوئ ذات مبارک ته که "مجمع البحار" او وايو نو حق لري. د دوئ ذات د طريقت او عرفان په دنيا کښې د يو دسې سمندر مثال لري. چه بې شميره دريابونه ورته رابهيدلي دي. او نه صرف دا بلکه په تيرو شوؤ دوه سوؤ کلو نو کښې چه د سابق صوبه سرحد او پاکستاني قبائلي علاقو او

---

250 و

251 آئينه تصوف صفحه نمبر۱۵۹ په ترميم او اضافه سره

افغانستان په ګوټ ګوټ کښې د لا اله الا الله محمد رسول الله مبارکه نعره پورته شوې ده، او پورته کیږي. هغة هم د دي حضرت مولانا اخوند حافظ محمد صدیق د روحاني فیوجاتو برکت دے. او د دوئ د طریقت د سلسلو کښې پرله پسې داسې مشاهیر خلیفه ګان تیر شوي دي او موجود دي. چه د فیوضاتو د ا سلسله لا هغه شان جاري ده[252].

د معرفت او طریقت په څلوو واړو سلسلو کښې خپلو مریدانو ته به یئے بیعت او خلافت ورکؤلو. د دوئ بے شمیره مریدان. شاګردان او خلیفه ګان وو. لیکن داسې مریدان چه د کمال درجې ته رسیدلي وو. او خلافت ورته حاصل شوے وو. هغة په شماره شپږ بزرګان دي. چه روستو به د هغوئ نومونه او تذکره په تفصیل سره درج کړے شي. په دغه شپږو خلیفه ګانو کښې یئے په قادریه. نقشبندیه، سهروردیه. چشتیه سلسلو کښې په هره یوه سلسله کښې یو خلیفه اکبر او ورسره دوئم خلیفه اصغر وو. او د دغې نه علاوه پنځه یئے داسې خاص مریدان وو.چه هغه صاحب مجاز او ما زونان وو. د دوئ نه په خصوصیت سره د سلسله عالیه قادریه او سلسله عالیه نقشبندیه فیوضات د کومونا مورو خلیفه ګانو په ذریعه خواره شوي دي. په هغوئ کښې د څلورو مشاهیرو خلیفه ګانو تذکره دلته درج کوؤلے شي.

---

[252]تیر هیر شاعران "بحث د حافظ محمد.

(۱) حضرت مـالانـا شیخ اخونـد حـافـظ حضرت شاه علیـه الـرحمة

حضرت مـولانـا شیخ اخونـد حـافـظ حضرت شاه علیـه الـرحمة نـقشبـنـدي د ضلع مـردان علاقـه بـائـي زایـے مـوضع "چرچوړ" اوسدونکے وو. پـه طریقـه عـالـیـه نـقشبـنـدیـه مجددیـه کښې د حضرت مـولانـا اخونـد حـافـظ محمد صدیق د بـشونـئ خلـیفـه وو. د کشف او کرامت خـاونـد وو. اوچتـه روحـانـي او عرفـانـي مـرتـبـه ورتـه حـاصلـه ده. حـافـظ قـرآن وو. او د دغـے نـه علاوه د پـښتو ژبـے نـامـور ادیـب هم وو. د تـصوفـي او اخلاقـي اشعـارو یـو دیـوان تـریـنـه یـادګـار پـاتـے دے. پـه نـقشبـنـدیـه کښې صاحب د مجاز خلـیفـه وو. ګـنړو خلقـو تـه یـئے فـیض رسوؤلـے دے. د دوئ پـه خلـیفـه ګـانـو کښې حضرت مـولانـا شیخ مـیـا حـافـظ شمس الـدیـن د مـوضع "چـارغلـی" علاقـه سدهوم ضلع مـردان نـامـور بـزرګ تـیـر شوے دے. حضرت مـولانـا اخونـد حضرت شاه تـر ۱۱۱۵هـ پـورے ژونـدے وو. پـه یـو د عـائـیـه نظم کښې یـئے زمـان شاه درانـي بـادشاه تـه پـه جهـاد کښې د کـامـیـابـه کیـدلـو دعا کړے ده. چه پـه هغـے کښې ۱۱۱۵هـ یـئے یـاده کړے ده. د وفـاتـه صحیح تـاریـخ یـئے نـه دے معلـوم. مـزار مـبـارک یـئے پـه مـوضع "چړچوړ" کښې دے[253]. علیـه الـرحمة والـغفـران.

---

[253] د تـفصیل د پـاره ملاحظه کړئ څما تـالـیـف. تـیـر هیر شاعران "بـحث د" حضرت شاه

(۲) حضرت مولانا شیخ اخوند حافظ محمد علیه الرحمة.

حضرت مولانا شیخ اخوند حافظ محمد ابن مولانا دور خان علیه الرحمة په قام محمد زایئے وو. د موضع عمر زایئے[254] علاقه هشنغراد سیدونکے وو. په سلسله عالیه نقشبندیه او خصوصاً قادریه طریقه کښې د حضرت مولانا اخوند حافظ محمد صدیق د بشونئ خلیفه او ما زون وو. حضرت مولانا اخوند محمد د عمر زو د روحاني او باطني علومونو نه علاوه په ظاهري او دیني علمونو کښې ډیر لوئ فاضل عالم وو. او په علم فقهه کښې یئے ګنړ کتابونه تالیف کړي دي. ځمونږه په دے وطن کښې د سلسله عالیه قادریه عظیم الشان فیوضات او برکات هم د دوئ په واسطه خواره شوي دي. د دوئ بے شمیره مریدان او خلیفه ګان وو. چه په هغه ټولو کښې نامور خلیفه یئے حضرت مولانا شیخ حافظ اخوند محمد شعیب د تور ډهیری وو. او بیا د تور ډهیري د حضرت صحب رحمة الله علیه ممتاز او نامور خلیفه حضرت مولانا شیخ اخوند حافظ عبدالغفور علیه الرحمة د سوات وو. چه

---

[254] موضع عمر زایٔے پخوانے تاریخي کلے دے. پخوانو تاریخونو کښې د دے مقام نوم" کله ډهیر" ذکر شوے دے. ګنړ مشاهیر بزرګان پکلي تیر شوي دي. چه په هغے کلي د حجرت مولانا شیخ رسول سواتي المعروف په سرفور بابا علیه ارلحمة چه د حضرت شیخ رحمکار خلیفه وو. او د مولانا محمد اسماعیل علیه الرحمة چه د حجرت شیخ ګلنور علیه الرحمة خلیف وو. نومونه د یادولو دي. علیه الرحمة والغفران. (اثر)

روستو به د هغوئ تذکره په تفصيل سره اوليکلے شي.

(۳) حضرت اخوند حافظ د الپورئ عليه الرحمة

د حضرت مولانا اخوند حافظ محمد صديق د بشونړئ دريم ممتاز او نامور خليفه حضرت مولانا اخوند حافظ عبدالمقدر د الپورئ وو. چه روستو به يئے تذکره راشي.

لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه. د حضرت مولانا حافظ اخوند محمد صديق قادري. چشتي. سهروردي. نقشبندي عليه الرحمة ذات مبارک واقعي چه د علم او عرفان مجمع البحار" وو. او د دوئ په واسطه سره ځمونږ د دے ملک (مغربي پاکستان) د مشاهيرو بزرګانو او روحاني سلسلو يو داسے "روحاني تړون" په وجود کښې راغلے وو. چه دا ملک د هغي په فيوضاتو او انوارو لا تر نن ورځے بهره مند دے.

عليهم الرحمة والغفران.

(۴)

حضرت سيد احمد شاه عرف حافظ جي بابا کوز شمنال چغرزئي سيد احمد شاه بابا د حضرت مولانا اخوند حافظ محمد صديق د بيشونړئي څلورم نامور او ممتاز خليفه وو. د سيد احمد شاه عرف حافظ جي بابا تذکره د سيد ابراهيم شاه شيرازي عرف

حصار بابا په تذکره کښې شوي ده سيد احمد شاه عرف حافظ جي بابا د اخوند حافظ محمد صديق د بيشونړئي نه په سلسله سهروديه او په سلسله نقشبنيه کښې حرقه خښافت حاصل کړے وو. دوئ د قرآن پاک حافظ وو او په فقهه ورته مکمل عبور حاصل وو. د سيد احمد شاه بابا مزار مبارک د کوز شمنال د کلي نه مشرق طرف ته د سړک په غاړه په لوئي قبرستان کښې دے. چه مرجع د خاص و عام دے.

عليهم الرحمة والغفران.

حضرت صوفي سيد محمد دائم عليه الرحمة

ولادت
....
چټا کانګ مشرقي پاکستان

وفات.................................
... ډهاکه مشرقي پاکستان ۱۲۱۲هـ

د ډهاکه (مشرقي پاکستان) يو روحاني خانقاه چه د هغې فيوضات تر اوسه پورې جاري دي. او د هغې مشران د نقشبنديه مجدديه طريقې بزرګان وو. هغة د "عظيم پور" د رګاه دې. د دې خاندان د ټولونه مشر بزرګ صوفي سيد محمد دائم عليه الرحمة د چټا کانګ اوسيدونکےوو. او د حضرت بختيار ماهي سوار په اولاد کښې وو. چه تقريباً پنځه سوه کاله مخکښې په ۷۰۰هـ کښې يئې دې ملک ته تشريف راوړے وو. او د دې درګاه ابتداء هم د دغې زمانې نه شوے ده.

حضرت صوفي سيد محمد دائم عليه الرحمة پخپل وطن چټاکانګ کښې د حضرت شاه امانت الله عليه الرحمة نه بيعت کړے وو. چه هغه د حضرت شاه عبدالرحيم قدس خليفه او ماذون وو. او د مشرقي پاکستان په

دےعلاقه کښې يئےد اسلام د تبليغ او اشاعت سلسله جاري ساتلي وه.

حضرت صوفي سيد محمد دائم په اول سر کښې چه د حضرت شاه امانت الله نه بيعت اوکړ. نو د زيات فيوضاتو حاصلولو د پاره د خپل دادا پير حضرت شاه عبدالرحيم په خذمت کښې د حاضريدلو د پاره. "ډهاکه" ته راغے. په دغه زمانه د هغوئ خانقاه په "ډهاکه" کښې وو. حضرت شاه عبدالرحيم ورته او فرمائيل چه په معرفت او روحانيت کښې ستايوه خاصه برخه د پټنه نومے ښهر د حضرت "شاه منعم پاکباز" عليه الرحمة سره خدائ پاک مقرر کړے ده. ته هلته لاړ شه. او د هغوئ نه هم فيض حاصل کړه. چنانچه حضرت صوفي سيد محمد دائم عليه الرحمة پټنه ته لاړ. د هغوئ نه يئے فيوضات حاصل کړل. او واپس ډهاکه ته راغے. په محله عظيم پوره کښې ديره شه او په هيڅ وخت کښې به د خپل خانقاه به باهر نه وتلو. دغه طريقه تر اوسه پورے د دے خانقاه په سجاده نشينانو کښې را روانه ده. چه د حضر د سفر نه علاوه د بل هيڅ کار د پاره د خانقاه نه را ووځي[255].

حضرت صوفي سيد محمد دائم عليه الرحمة له خدائي ډير شهرت او مقبوليت ورکړے وو. د لرے لرے علاقو نه به خلق ورله راتلل. او فيض به يئے حاصلولو. په "تاريخ ډهاکه" کښې ليکي دي. چې د چا

[255] اولياءے مشرقي پاکستان.

ټکام. نوا کهالي. او کوميلا اکثر خلق د دوئ مريدان وو. د شريعت د ظاهري احکامو سخت پابند وو. هر وخت به د قال الله او قال الرسول دور دوران وو. د دوئ په خانقه کښې د د ديني علمونو د طالب علمانو څه شمير او حساب نه وو. او د هغوئ د درس د پاره عالمان مقرر وو. او ټولو ته به جامے او خوراک د خانقاه د لنګر نه ورکيدلے شول. دا نيکو کاره بزرګ په ۱۲۱۳هـ کښې وفات شوے دے. عليه الرحمة والغفران د دوئ نه روستو د ده په خاندان کښې د علم او عرفان د فيوضات دغه سلسله جاري پاتے شوے ده. چه لاتر اوسه پورے جاري ده.

د حضرت شاه عبدالرحيم شهيد عليه الرحمة د دے دوه ناموره مريدانو او خليفه ګانو يعني نمبر۱ حضرت شاه امانت الله نمبر۲ او حضرت صوفي سيد محمد دائم عليه الرحمة د حالاتو نه دا اندازه لګيدلے شي. چه د دوئ په برکت په بنګال (مشرقي پاکستان کښې دين اسلام ته څومره تقويت اورسيده او د دے ملک د مسلمانانو تر منځه "روحاني رابطه) او روحاني تړون، رشته څومره مضبوطه شوے وه.

عليهم الرحمة والغفران

حضرت اخوند حافظ شير محمد فاروقي عليه الرحمة

ولادت .... دولت پوره

وفات.................................. بازار احمد خان بنو ۱۲۱۲هـ

حضرت مولانا شيخ المشائخ اخوند حافظ شير محمد فاروقي قادري سهروردي نقشبندي عليه الرحمة د خپل وخت ډير لوئ فاضل محقق او کامل مدقق عالم وو. په علم فقهه، اصول فقهه، تفسير، حديث، علم قرات، صرف نحوا او علم عروض کښې يئے پوره مهارت لرلو. د بنوں ښهر سره درے ميله په فاصله په بازار احمد خان نومے کلي کښې اوسيده د دوئ د برکته دغه کلي ته ديو لوئ علمي درسنګاه او عرفاني خانقاه حيثيت حاصل وو. د مختلفو علمونو په سوؤ نو طالب علمان به ورسره وو. او علاوه د ديني علمونو د تحصيل نه علاوه د مولانا اخوند شير محمد عليه الرحمة سره چه د ديني علمونو کومه عظيم الشانه کتبخانه وه. د هغے د نقل کولو د پاره به بيشميره خوشنويسان او طالب علمان ناست

وو. هغه قلمي نسخې به ئې نقل کوؤولې. او په دې شان سره به مختلفو ملکونو ته دا علمي سرمايه خوريدله اورسيدله.

د حضرت مولانا اخوند حافظ شير محمد د درس طريقه د پخوانو عالمانو په شان وه. چه هغې ته د املاء طريقه وائي. د دوئ تقريرونه به د درس په موقع شاګردانو ليکل او په دې شان سره د عملي معلوماتو يوه تحقيقي ذخيره به د تحرير په ذريعه په ضبط کښې راتلله او محفوظ کيدله. حضرت مولانا اخوند علم فقهه په ګڼرو کتابونو حاشيې ليکلې دي. چه په هغې کښې څنې چاپ شوي هم وي. په موضع بازار احمد خان ضلع بنو کښې د علم فقهه د مشهور درسي کتاب خلاصه کيداني د شرح سعديه يوه قلمي نسخه ځما د نظر نه تيره تيره شويده. چه په هغې باندې د حضرت مولانا اخوند شير محمد بنوڅی حاشيه موجوده ده. او تر دې وخته چاپ شوې نه وه.

پروسکال زه عبدالحليم اثر افغاني بازار احمد خان ته په دې غرض تللې ووم چه د مولانا اخوند حافظ شير محمد عليه الرحمة حالات معلوم کړلې شم. هلته م د عزيزي فاروق شاه ابن پير خمار شاه ابن عظيم شاه ابن جهان ګل ابن پير نذر شاه ابن پير منظر شاه ابن اخوند شير محمد عليه الرحمة سره شپه کړله. او د دې خاندان ګڼرو مشرانونه تپوسونه اوکړل. هغوئ راته اووئيل د حضرت اخوند شير محمد عليه الرحمة دومره لويه کتبخانه وه. چه

په څلويښت ګزه اوږده کوټه کښې څلور واړه طرف ته د فرش نه تر چت پورې په تختو باندې لاندې باندې قط په قط کتابونه پراته وو. او بعض داسې کتابونه هم پکښې موجود وو. چه هغه د "برج" نومې ونې په پوستکو او دهوسئ په پوستکو ليکي شوي وو. ليکن هر کله چه ځمونږه په خانداني کښې څوک عالم نه وو پاتې شوې. نو په دې خيال چه د دې کتابونو بې ادبي کيږي. دا مو بهتره اوګنړله چه د کوم سيند ته ګذار کړلې شي. چنانچه په دې کتبخانه کښې د کتابونو تعداد دومره زيات وو. چه درې ورځې سر په سرپه او ښانو خرو او قچرو بار کړي د کرم سيند ته لاهو کوؤلې شول. نو هاله خلاص شول."

د بازار احمد خان بنو د پيرانو د خاندان د دې بيان نه معلومه شوه. چه د حضرت اخون شير محمد بنوڅي هغه عظيم الشانه کتبخانه چه غالبا په ټوله پښتونخوا کښې يئې مثال نه وو. هغه د خپل لاسه په داسې مکمل طور سره تباه کړې شويده چه نن د دغه خاندان د افرادو په لاس کښې د هغې يوه پانړه قدر ته هم نشته دې. او نن د دوئ سره څه دا سې هيڅ تحريري ياداشت نه دې پاتې شوې. چه د دوئ دغه نامور نيکه په قام څوک وو؟ د پلار يئې څه نوم وو. او بازار احمد خان ته د کوم ملک نه راغلې وو؟ په دې سلسله کښې يو مقامي روايت دا هم دې چه د حضرت اخوند شير محمد عليه الرحمة خپل اولاد نه دې پاتې شوې. حضرت پير منظر شاه چه

پورته يئے نوم درج کړے شوے دے په قام سيد دے او دا خوند شير محمد عليه الرحمة ځوئے نه دے بلکه مريد يئے دے. په هر حال دا يو بحث دے. چه زيات نور تحقيق به غواړي.

د دے عظيم الشانے کتبخانے په داسے طريقه سره د تباهی حال چه رامعلوم شه. او صباله سحر د حضرت اخوند حافظ شير محمد مزار پرانوار ته د دعا او سلام د پاره حاضره شوم. نو د زړهٔ د دړدونه د افسوز سرے او ښکے م د دغه نامور عالم او عارف په مزار مبارک باندے نثار کړلے. په دے وجه چه کيدلے شي چه د دوئ بے شميره تاليفات او تصنيفات چه لا چاپ شوي نه دي هغه هم پکښې ضائيع شوي وي.

دا وخت ځمونږه په لاس کښي د دوئي د تاليفاتو په حقله صرف هغه ياد داشتو نه او يادونه موجود دي. چه د دووي د ذاتي کتبخانے نه باهر وو. او د دغه دردناکے تباهئ نه بچ پاتے شويدي. او د هغے نه د دوئ د قوميت او نسب د والد ماجد نوم. د دوئ د زمانے، د دوي د همعصرو عالمانو او بزرګانو او د دوئ د شاګردانو او مريدانو په حقله څه نه څه معلومات حاصليدلے شي. په دے وجه کوم معلومات چه ماته په لاس راغلي دي. هغه په اختصار سره دلته ترتيب وار درج کوؤم.

(۱) د ټولو نه اولنے تحريري ياد داشت د حضرت اخوند شير محمد يو تاليف

دے. چه د فارسئ ژبے د مشهور درصي کتاب "نام حق" په شرح کښې يئے ليکلے دے. د دے کتاب قلمي نسخه په موضع کوهاټ ښهر کښې د مولانا عبدالحميد (زمانه ۱۲۷۳هـ) ابن حافظ محمد عظيم ابن ګل محمد اوسيدونکے د محله فتح خان خيل کوهاټ ښهر په کتبخانه کښې د هغه د نمسی ښاغلی غالم جفعر ابن غلام سرور ابن عبدالحميد سره موجوده ده. د دے کتاب ژبه فارسی ده او شروع يئے داسے کړے ده.

الحمدلله علي نواله والصلوة علي نبيه واله.

بيت:. گودد اين بنده حقير فقير در کمند هواے نفس اسير

شير محمد قريشي شيخ محمد فاروقي. که بعض از خلان د خلص اخوان التماس نموده که بعض الفاظ کتاب "مقدمة الصلوة "مشهور بنام حق. به فهم بعض ياران نمي رسد. اگر به تشريح آن هرباني شوو. از فضل و کرم اميده اري است.

بنا بران بحکم اما الساعل فلا تنهر از مستعان کہ نعم المعين است امداد خواستہ شروع اور استعان مرام تحرير آن کروشد. وللہ المستعان و عليہ التکلان قال رحمہ اللہ.

نام حق بر زبانہمی رانم کہ بجان درش ہمیں خوانم

بدانکہ حرف شين درفاسی ضميراتست. اين جا راجع بہ نام حق

او د دے شعر په حاشيه کښې ليکي:

نام حق سر زبان همي رانم که بجان د دشي همي خواتم

فلاعات مفاعلن فعلن فاعلاتن مفاعلن فعلن

بدانکہ این رابحر خفیف گرنید کہ مصراع سہ کلمہ می شوو.

د دې کتاب په آخر کښې لیکي: **تم تمام شد شرح نام حق تصنیف شیر محمد قریشی ولد شیخ محمد قریشی فاروقی ساکن بازار والد احمد خان عیسکی حسن خیل. بیت**

شیر محمد نوشت این اوراق گفت تمتا لدی الا شراق

شیر محمد کہ این بخیر نوشت از برائے اخی زبیر نوشت

یا حبیب محمد عربی بنده راروز اخرت طلبی

بطنیل شفاعتش کن شاد وزتمامی شدایدش آزاد

گرندار یم خرمن اعمال خوشہ چینیم ز خرمن افضال

شیر محمد سفا عتش جوید کن شفیعا لد لتی گوید

چون برادرم محمد زبیر باعث بود بناء بران الحمد للہ علی کل حال فی ماضی و مستقل و حال الہہم صلی علی محمد آلہ برائے اخون خلص خلان تشریح شد. شاید کہ نفع دارو. کتاب رابہ دعائے خیر باد دارند وقت ظہر روز پنجشنبہ بتاریخ ۲۱، جمادی الثانی ۱۱۴۲ھ در مسجد غربا شہدائ مرحوم مغفور مسکین مظلوم نامدار موند. بدستخط فقیر حقیر حبیب اللہ نوشتہ شد.

د دې تحریري شهادت نه معلومیږي چه د اخوند شیر محمد د پلار شیخ محمد نوم دې. ویدور نوم یئې محمد زبیر دې په نسب فاروقي قریشي دې. او په صحیح ډول دانه ده معلومه چه دې موضع بازار احمد خان ته

د کوم ځاي نه راغلے دے. هر کله چه د فاروقي خاندان خصوصاً د حضرت مجدد الف ثاني شيخ احمد سرهندي فاروقي کابلي د نسل بيشميره خاندانونه د لوه پښتونخوها په مختلفو سيمو کښې خواره دي نو دا به معلومول غواړي چه د حضرت اخوند شير محمد فاروقي مشران په کوم ځاي کښې آباد وو.

مونږه د دے کتاب په اولنی اشاعت کښې ليکلي دي. چه اخوند شير محمد په اول سر کښې د وادئ پيښور علاقه هشتنګر په موضع دولت پوره کښې اوسيده. او بيا روستو د دے ځاي نه د ۱۱۵۰هـ په شاو خوا کښې د علاقه بنو بازار احمد خان ته راغلے او دلته آباد شوے وو.

(۲) د بلو چستان د ژوب په علاقه کښې حضرت ملا جان محمد کاکړ نومے يو صوفي عالم او بزرګ تير شويدے هغه د خپل ديوان په آخر کښې ليکي: تمت بعوان الله في يوم الخميس وقت ضحی من يد جان محمد نسخه هذا ۱۲۱۵هـ في شهر ربيع الاول درجماعت اخند زاده شير محمد استاذ نادر ملک بنو ايام طالب علمي شاګرد او بودم. مذهبي من حنفي از نسل کاکړ. ملک من ژوب

د دے حواله نه معلو ميږي چه حضرت مولانا اخوند حافظ شير محمد فاروقي عليه ارلحمة د دغے. وړاند په ۱۲۱۲هـ کښې وفات شوے وو. غالباً چه دے د خپل استاذ فاتح له ورغلے وو. او دلته يئے خپل ديوان له ترتيب ورکړے وو. او بيا چه څه وخت د دے

ځاي نه رخصت کيده نو د ځان سره يئے د اخوند رويزه بابا عليه الرحمة د مشهور کتاب مخزن الاسلام يوه ډيره اهمه تاريخي نسخه په طور يادګار وړے ده. چه دغه نسخے له په ۱۱۱۲هـ کښې حضرت شيخ محمد مصطفے محمد ابن حضرت شيخ المشائخ نور محمد ابن حضرت شيخ امام الدين مولانا عبدالکريم المعروف په ميا کريمداد ابن اخوندروزيه د نوي سر نه ترتيب ورکړے دے. او روستو په ۱۱۲۴هـ کښې د ملا محمد ولد اخوند عبالواحد مرحوم ابن ملا شير خان مرحوم په لاس قلمي شوے ده. د دے (په ۱۱۲۶هـ کښې قلمي شوي) نسخے په آخر کښې د شير محمد او ورپسے د جان محمد منظوم کلام دے چه (صفحه۴۱۹ نه تر ۴۳صفحے نسخے په آخر کښې د شيرمحمد کاکړ کلام دے. او دا نسخه د خپل استاذ د وفات نه روستو ضان محمد ځان سره بلوچستان ته وړے وه. د حضرت مولانا حافظ اخوند شير محمد د کلام نمونه دا ده.[256])

محمد رسول د دوه کونو سرور دے
د اسلام د لارے څه عجب رهبر دے

کل نبيان ځما د سترګو تور ليمه دي
محمد رسول پکښې بهتر دے

نبيان واړه ښائسته دي لکه ستوري
محمد د عبدالله شمس و قمر دے

---

[256]قلمي نسخه د مخزن اسلام صفحه نمبر ۴۲۱

که دین د نورو مر سلانو شریعت وو
شریعت د محمد پکښې اظهر دے

دین د نورو مرسلانو نهایت دے
او د ده دین م تر قیامته معتبره دے

د موسی عیسی دین یئے منسوخ کړ
د عظمت یئے دغه هسے رنګ اثر دے.

دا یو ډیر اوږد نظم دے. په آخر کښې فرمائي:

چه په شروع د نبي برابر درومی
شیر محمد یئے په خدمت بسته کمردے

شیر محمد! توښه زیات واخله د لارے
چه د ګور په سخته لار د تا سفر دے

د یو بل نظم یو څو اشعار یئے دادي. فرمائي:

یو بیان به درته وایم مختصر
تهٔ یئے یاد لره دائم د زړهٔ په سر

همیشه د خدائي په ذکر فکر اوسه
هم لازمه بیداری کړه په سحو

مرګ او خدائ همیشه یاد لره مؤمنه
چه نر دا نصیحت نشته دے بهتر

که ته دا وظیفه او نیسی محکمه
پخپل زړهٔ کښې به د بیاموميي اثر

په آخر کښې فرمائي:

شیر محمد دا منګیر د علم او سه
چه دا علم ستا رهبر دے مقرر

د توښے زیر مه د اوکړه شیر محمد!
یوه ورف به دي روان کا په سفر

د مولانا شیر محمد په منظوم کلام پسے چه د جان محمد کوم منظوم کلام درج کړے شویدے د. هغے د یو غزل اولنے او آخرنے شعر په طور د نمونے دلته راوړلے شي.

لیکي!

چه لښکر د بیلتانه راته ولاړ شه
هر همه ځما د زړهٔ ښهر و یجاړ شه

د وصال له ډیره قدره وي خیر کړم
چه م زړهٔ ستا په هجران باندے لتاړ شه

د هجران په سنګ د ولے ویشت نامور!
جان محمد چه شینه مات له تالاړ شه

(۳) د علم فقهه په کتاب نور الهدعی کښې په صفحه ۴۱۷باند د مولوی عبدالله لاهوري یوه فتوی ده د تماکو د استعمال پحقله درج ده. په دے باند د ګنړو عالمانو د ستخطونه دي چه نومونه یئے دا دي. (۱) عبدالله لاهوري. شیر محمد. محمد وصال. محمد رقیق. پیر شیخ کبیر. ملا سالاړ. ګل شیر. میا داد. یوسف. تراخان. په دے عالمانو کښې مولانا محمد رفیق د تور ډهریی ضلع مردان او سیدونکے وو. او

د مجمع البرکات در وایت[257] مطابق حضرت مولانا اخوند شیر محمد. ابوالقاسم کابلے. شیخ ابراهیم. ننګرهارے او حضرت مولانا محمد رفیق او اخون خلیل علیهم الرحمة پنځه واړو عالمانو د حضرت مولانا قطب الا قطاب شیخ رحمکار د مشهور خلیفه حضرت مولانا شیخ ګلنور علیه الرحمة په مناقب کښې کتابونه د کښې دي. چه دے روایت باند نظر واچوؤلے شي. نو داسے معلومیږي چه حضرت اخوند شیر محمد د بنو. محمد رفیق د تور ډهیری. ابو القاسم کابلے. شیخ ابراهیم ننګرهارے.او اخون خلیل عمر زاے دا ټول همعصر وو. او هر کله چه دے پنځه واړه بزرګانو د حضرت شیخ ګلنور په مناقب کښې کتابونه لیکلي دي نو ډیره ممکنه ده چه د دوئ د طریقت سلسله ه کومه واسطه حضرت شیخ علیه الرحمة ته رسیدلي وي.

په دے سلسله کښې یوه واقعه داسے ده. چه د هغے نه څه نه څه معلومات پلاس راځی. او هغه دا ده چه د اخوند اسماعیل بن مولانا مهرجان د روایت مطابق حافظ اخوند محمد ابن مولانا دور خان عمر زایئے (هشنغر) هم لکه د حافظ اخوند شیر محمد د بنو په شان د نون قطني لوستلو حمایت کؤلو. د حضرت میا محمد عمر قدس سره یو مشهور مرید حافظ مرغزي علیه الرحمة د نون قطنی د تحریک په عدم جواز ثابتولو کښې یوه رساله لیکلے وه. حافظ اخوند مولانا محمد عمر زو په هغے شرح اولیکله.

---

[257]تذکره شیخ رحمکار صفحه نمبر۱۱۸

حافظ مرغزی پرے جوابي شرح الشرح او لیکله. بیا حضرت حافظ محمد عمو زایئے د هغے په جواب کښې په شرح الشرح باند شرح او لیکله چنانچه هم په دغه سلسله کښې اخوند اسماعیل ابن مهر جان هم د حافظ مرغزي په شرح باند یوه جوابي رساله اولیکله.

دغه د نون قطني علمي بحث وو چه منځ ته را پریوتلے وو. روایت دے. چه حافظ اخوند شیر محمد هم د عالمانو او قادریانو دیوے لویې ګنړے سره څمکنو ته د حضرت میا صاحب محمد عمر د څمکنو سره بحث کولو د پاره راغلے وو. په دغه موقع باندے د دے دواړو بزرګانو تر منځه په عملي او عرفاني دواړو طریقو سره بحثونه شوي وو. د حضرت میا محمد عمر په مناقب کښې بیان دے چه په دغه موقع مخالفے ډلے چه د هر څومره قرآن شریفونو نسخے به ښکاره کوؤلے په یو کښې به هم نون قطني لیکلے موجود نه وو. د حضرت حافظ محمد عمر زایئے قادریه نقشبندي د شرح د هغه عبارت نه چه حافظ مرغزي او اخوند اسماعیل نقل کړیدے[258]. معلمیږي چه حضرت میا صاحب د مجلس مناظره ټولو حاضرینو ته اووے چه پورته لوح محفوظ ته اوګورئ. چه اوی٘ے کتل په لوح محفوظ کښې هم نون قطنی موجود نه وو.

[258]مصباح القین صفحه نمبر ۵۸

ددې معلوماتونه داسې معلوميږي چه مولانا حافظ اخون شيرمحمد بنو او مولانا حافظ محمد عمر زاىءے دواړه به د حضرت مولانا اخوند حافظ محمد صديق د بشونئ مريدان او خيلفه ګان وو. والله اعلم (مولانا حافظ محمد د عمر زايئې په ۱۲۰۷هـ کښې وفات شوے دے)

لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه. د حضرت مولانا اخوند حافظ شير محمد فاروقي د بنو د وفات تاريخ ۱۲۱۲هـ اندازه کړلے شه. د وفات يقيني تاريخ يئې راته معلوم شوے نه دے. مزار مبارک يئې په بنو کښې د بازار احمد خان نومے کلي مغرب طرف ته دے. قبر يئې پوخ جوړ دے. او لکه د عامو نقشبنديه طريقې د بزرګانو ګنبند پرے نشته دے. مزار مبارک يئې مرجع د خاص و عام دے. اولاد يئې د د پيرانو په نوم ياديږي. عزتمنده کورنئ ده. او د دے کلي شمال طرف ته د پيرانو چوک په نوم د دوئ ځان له کندے دے. او لويه ستانه ده.

عليهم الرحمة والغفران

په بازار احمد خان بنو کښې د حافظ شير محمد دا يو شعر په عام و خاص کښې زيات مشهور دے.

ښومره بد کړے هومره ښه کړه شير محمد! چه نيکي بدي دي اونسي سراسر

حضرت مولانا حافظ عبدالمتقدر علیه الرحمة (المعروف حافظ الپورئي)

ولادت .... الپورئ ۱۱۳۸هـ

وفات.................................. ... الپورئ ۱۲۱۵هـ

حضرت مولانا شیخ المشائیخ قدوة السالکین اخوند حافظ عبدالمتقدر علیه الرحمة د ریاست سوات د اباسیند کوهستان د غور بند نومے علاقے د الپورئ نومے کلي اوسیدونکے وو. او په دغه وجه د "حافظ الپورئ" په نوم زیات مشهور دے[259]. په سلسله عالیه قادریه او نقشبندیه کښې د بیشونړئ د حافظ اخوند محمد صدیق علیه الرحمة خلیفه وو. او په سلسله عالیه چشتیه کښې یئے د حضرت اخوند محمد صدیق

---

[259] په دے سلسله کښې پخپله وائي
(الف) ته چه په غور بند کښې شناخت مدار غواړے حافظه
یوئ د مشکو غواړے د د بګرو په دکان کښې
(ب) باز په جاله کښې چانه دے پیژندلے
قدر نشته د حافظ په الپورئ کښې

پهلواړي عليه الرحمة نه خلافت موندلے وو[260].

د حضرت حافظ الپورى عليهالرحمة د تذکرے په سلسله کښې دا خبره د ياد لرلو ده. چه د دوئ د اوچتے عرفاني او روحاني مرتبے نه ډير کم خلق خبر دي. او د پښتو ژبے د يو نامور صوف اديب په حيثيت سره ورته زيات شهرت حاصل شوے دے. او لکه چه د ده خپل اصلی نوم هم چاته معلوم نه دے. دغه شاند ده د تخلص "حافظ" نه اکثر خلق په دے شک کښې پريوتلي دي چه دے په سترګو معذوره وو.

واقعات دا دي چه حضرت مولانا اخوند حافظ عبدالقتدر عليه الرحمة د الپورئ په سترګو ړوند نه وو. بلکه روغ وو. او د قرآن مجيد د حفظ کولو په وجه په حافظ نامه بللے شوے دے. که د دے سلسلے نور بزرګان هم ټول حافظان تير شوي دي. د مثال په طور د حضرت حافظ د الپورئ درے نور پير بهائيان چه د يو نوم (۱) حافظ سيد معظم شاه د طورو ضلع مردان دے[261]. (۲) حضرت مولانا حافظ حضرت شاه د چړ چوړ ضلع مردان دے. او (۳) حضرت مولانا حفظ محمد خان ابن مولانا دور خان د عمر زو ضلع پيښور دے. دوئ درے واړه هم د قرآن مجيد حافظان وو. دغه شان دوئ څلورو واړو پير طريقت حضرت اخوند حافظ محمد صديق د

---

[260] آئينه تصوف

[261] د حافظ محمد معظم تذکره به روستو راشي (اثر)

بشونړئ. بیا د هغه پیر طریقت حافظ محمد سدوم رستم. بیا د هغه پیر طریقت حافظ محمد نعیم د کامے. بیا د هغه پیر طریقت حافظ مامون د شاه منصور بیا د هغه پیر طریقت حضرت مولانا شیخ المشائیخ حاجي حافظ عبدالله بهادر کوهاټي شول. چه سلسله په سلسله دا ټول بزرګان د قرآن مجید حافظان وو. او د دے مبارکے سلسلے په ادابو کښې یو ادب د قرآن مجید حفظ کول هم وو. لکه چه حافظ علیه الرحمة پخپله فرمائي[262].

حافظ بے ماله غني دے که شاکر شي
خزانه یئے قرآن سبع المثاني ده

حضرت مولانا حافظ علیه الرحمة د خپل قادریه مشرب ذکر په خپلو اشعارو کښې ځائ په ځائي کړے. لکه چه وائي[263].

(۱) جلب دار د جیلاني مړني پیریم
پاک نبي نیک مربي غمخوار ځما دے

(۲) د حافظ تندے په تاؤ د غرمو
سوزيو سایه ته یئے رجوع د جیلاني ده

د پورته اولنی شعر نه یئے دا هم معلومیږي چه د حضرت رسول مقبول اویسي نسبت ورته ځاصل شوے وو. د دغه شان د لاندینو شعرونو یئے معلومیږي. چه روستو د نقشبندیه مسلک نسبت پرے غلبه کړے وه. فرمائي:

---

[262] دیوان حافظ صفحه ۱۲۱
[263] دیوان حافظ صفحه ۱۶۱ و ۱۲۱

(۱) ج. جلی ذکر صیقل دے
خفي ذکر ترے افضل[264] دے

(۲) په خلوت په خاموشئ کښې دلبر
ستایه[265] خزانه خښول هر کله په غلاشي

حضرت اخوند حافظ د الپورئ د خپل پیر طریقت اخون محمد صدیق پهلواړي علیه الرحمة په فراق کښې ګنړ درد ناک او سوزان شعرونه وئیلي دي. لیکن دغه رسوزه نغمے یئے دومره په رمزاو کنایه کښې دي چه څوک د حال او حقیقت نه خبر نه دي. د هغوئ فکرورته نه شي رسیدلے.

فرمائي[266]:

ګلونه ډیر دي بورا ګل د پهلواړئ خوښوي
څما بے یاره په چا زړۀ خوړیدے ولے نه شي

د حضرت حافظ علیه الرحمة د وفات صحیح تاریخ نه دے معلوم. ده په خپلو اشعارو کښې د احمد شاه ابدالی (متوفي ۱۱۸۶هـ) میا محمد عمر د څمکنو (متوفي ۱۱۹۰هـ) اخوند حافظ محمد صدیق د بشنړئ (متوفي ۱۳۰۷هـ) او حضرت صاحبزاده صاحب د سرهند علیه الرحمة ذکر کړے دے. د "سرهند صاحبزاده نه مراد حضرت قدوة العابدین شاه میا غلام حسین ابن حضرت زبندة

[264] دیوان حافظ صفحه ۷
[265] دیوان حافظ صفحه ۷۴
[266] دیوان حافظ صفحه ۱۱۰

الاولیاء حضرت شاه غلام محمد بن قطب الا قطاب حضرت شاه غلام معصوم ابن حضرت شیخ محمد اسماعیل ابن قیوم زمان حضرت صبغة الله ابن عروة الوثقی خواجه محمد معصوم ابن امام رباني مجدد الف ثاني قدس الله اسرار هم دی. حضرت خواجه میا غلام حسین صاحب زاده سر هندي په ۱۲۰۴هـ کښې وفات شوی دی. او مزار مبارک یئے دپیښور ښهر د باجوړئ دروازی نه باهر د موجود شعبه تجارت د جامع مسجد سره متصل نمر خانه طرف ته وقع دی[267]. او ورسره د دوئ د والد ماجد حضرت شاه غلام محمد سرهندی متوفي ۱۱۷۵هـ او د هغوئ د خلیفه خواجه محمد صدیق قدس الله اسرار هم مزارونه هم دي[268]. چرته چه د دوئ مزارونه واقع دي. په هغه زمانه دلته یو باغ وو. چه په "باغ اسدالله خان دراني" سره مشهور وو. د دی نه معلومیږي چه حضرت حافظ الپورئ علیه الرحمة د حضرت خواجه میا غلام حسین مجددي سر هندي نه هم فیض موندلے وو. هغه شرونه دا دي:

چه هند او سند یئے ایل
کول ایران توران احمد
شاه
د سلطنت له باغه لاړ
برخور دار پاتے نه شه
د څوکنو میا غروب او
کړ لکه نمر د عصر

---

267 و

268 تحفة المرشد صفحه نمبر۱۵۶ و نمبر۱۵۷

چه شاه ګدا تر خوشبويئ
وړه عطار پاتے نه شه
د بشونړئ اخون صيقل وو
د زنګ دار وزړونه
بل د سرهند صاحبزاده
خوشيدار پاتے نه شه[269]

د حضرت حافظ عليه الرحمة په کلام کښې د څان فيض الله خان د هزار خانئ او امير تيور شاه دراني د جنګ او د فيض الله د مرګ ذکر راغلے دے وروسے د آزاد خان د واقعے ذکر هم کوي. چه د غه د ۱۳۱۵هـ نه د مخکښې زمانے واقعات دي. په دے اعتبار مونږه د دوئ د ژوند زمانه تر ۱۲۱۵هـ پورے متعينه کوؤلے شو. مزار مبارک يئے په الپورئ کښې دے او مرجع د خاص او عام دے.

تعليمات

د حضرت حافظ الپورئ کوم اخلاقي او تصوفي درس چه د هغوئ د منظوم کلام په شکل کښې مونږ ته پاتے دے. د هغے حسن او خوبي دا ده چه د دوئ هره يوه مصرعه د څان له درس او تعليم حيثيت لري. د مثال په طور يو څو ملفوظات يئے دلته راوړلے شي.

❖ نيک مرادان په منزل د فرښتو دي.

[269] دا مسرعه د ديوان حافظ په مطبوعه نسخه کښې په غلطئ سره داسے چاپ شويده:
بل د کوهاټ حاجي بهادر خوش ديدار پاتے نه شه" پکار ده چه تصحيح يئے اوشي.

- پارسا خپل ستر ساتي بې ستري نه کا
- غیبت خوئ د مخنثو نا مړ دانو
- دا نا غم کا د تنګئ په فراخئ کښې
- چه ځان پیر کړی بې کمال ضال باله شي
- بې راعي رمه خوراک شي د ګرګانو
- سل عیبه که وي په دنیا دار کښې نه ښکاریږي
- پیلي کم هنر مشکنړی در په یوه مزی
- هر ساعت د عمر شبقدر دے په قدر
- په احسان لطف، انسان اهل شرف دے
- له بې دینه قریشی، حبشي ښه دے
- عمر د کو تاه دے امید لاتر کو تاه تر کړه
- خود بینی انانیت مکره بنده یئے
- د نعمت کفران خسران د دین دنیا دے
- د سحر د بازار سود بیدارو یوړو
- د تهمت ځاي له مه ځه عسمت به بائیلے
- خالق د هیر شه چه مخلوق آزاره وے بیباکه
- فاسق فرزند د فخر کا په شرف د پدر
- زاغ که اشناشي له طوطي سره خپل خوئ نه پریږدي

- زړۀ سلیم، زبان حلیم، دوه لاس کریم کړه
- یار چه کرم شي ته پرے لا مزید کرم کړه
- دا هنر نه دے چه څوک په الزام زیر کړے
- په نسب نشه دے خلاصے بے له تقوی عمله
- کړه له دوست سره مروت له دشمن صلحه
- مشوره کوه په کار کښې له دوستانو
- سعادت اقبال د زړونو پاسباني ده

د حافظ وئیل په ګوش کرئ سخندانو

و پند ګوئ ته دا نایان غوږ د عبرت ږدي

علیه الرحمة والغفران.

حضرت محمد صاحبزاده علیه الرحمة

ولادت .... چمکنۍ د پیښور ۱۱۰۹هـ

وفات................................... چمکنی د پیښور ۱۲۳۰هـ

حضرت مولانا شیخ المشائیخ محمد صاحبزاده علیه الرحمة د حضرت میا محمد عمر د څمکنو مشر ځوی وو. په ۱۱۰۹هـ کښې په مقام د څمکنی ضلع پیښور کښې پیدا شوے وو. د دیني علمونو درس یئے د خپل والد ماجد نه او نورو عالمانو څنے حاصل کړی وو. او په علوم شرعیت کښې یئے درجه د کمال او فضیلت حاصله کړے وه. فاضل عالم. کامل محقق او په عربی ادب کښې د ډیرے اوچتے ادبي مرتبے لرونکے وو. د طریقت او معرفت علمونه یئے هم د خپل والد ماجد نه حاصل کړی وو[270]. او د قدوة السالکین زبدة العارفین په اوچتو القابو یاد شوي دې. د حضرت میا محمد عمر علیه الرحمة یو مرید شیخ مولانا دا دین علیه الرحمة د ده په حقله لیکي:

---

[270] د کتاب تحفة الرشد صفحه۱۷۶ د روایت مطابق د حضرت قطب وقت فضل احمد معصومي المعروف په حضرت جي صاحب د پیښور نه یئے هم روحاني فیض موندلے وو.

په قللو د جبال د جبروت کښي
لکه بازنسی کوتر په ناسوت کښی

چه کثرت د ده د "لا" یوه غړی ده
ده خوړلي د "الا" د غره جړئ ده

له سائي چه یئے د پلار رهنمائے
موندلے د حضرت ستنی م خوله ده پر کنډلي

د حضرت میا محمد عمر ځمکنی علیه الرحمة یو بل مرید حضرت میا نور محمد قریشي علیه الرحمة د دوئ په حقله فرمائي:

جانشین یئے اوس پسر دے په آئین د خپل پدر دے

متابع د پیغمبر دے پسند کړے جن بشر دے

هم ځما عاجز غریب سر او چشمان دے

چه له بدو آزاده دے په نیک امر نیک زاده

هم په شرع استاده دے
"محمدی صاحبزاده" دے

چه په فضل محبوب شوے د رحمان دے.

په ۱۱۹۰هـ کښې چه حضرت مولانا میا محمد عمر قدس سره وفات شه. نو د هغوئ په ځاي باندے حضرت محمد صاحبزاده علیه الرحمة جناشین شه. او د خدائي د مخلوق د

علمي او عرفاني رهنمايئ سلسله يئے جاري او ساتله د مناقبو په کتابونو کښې د دوئ د کشف. کرامت او ولايت بے شميره واقعات درج دي. ليکن د دوئ لوی روحاني فيض چه تر اوسه پورے جاري دے. په خصوصيت سره دوه څيزونه دي.

(۱) يو د دوئ تاليفات او تصنيفات دي. چه د رشد او هدايت يوه جاري سلسله ده. و تر نن ورځے پورے روح او زړۀ ته د ايمان تازګی رسوی.

(۲) دوئم څيز دا دے. چه د حضرت ميا محمد عمر عليه الرحمة نه د زراعتي زمکو وغيره په شکل کښې يو عظيم الشان جايداد او املاک ورته په ورثه کښې پاتے شوے وو. او د دوئ د هغے ټوله آمدني د ديني علمونو نشر او اشاعت او تعليم ته وقف کړي ده د په ۱۲۱۱هـ کښې يئے په مقام د څمکنی د حضرت ميا محمد عمر قدس سره د مزار سره نزدے يو جامع مسجد جوړ کړ چه هغه د اسلامي علمونو درسګاه شه. د هغے سره يوه ډيره لويه کتبخانه يئے قائمه کړه او بے شميره کاتبان يئے د نايابه کتابونو په نقل کولو ماموره کړل. چه په دغه کاتبانو کښې د محمد شفيق خټک. فتح خان څمکنی ملاولی قندهاري. ګل محمد پشاوري

نمبریک او ګل محمد پشاوري دوئم نومونه خاص طور د یادولو دي. په خصوصیت سره نن ورځې د پیښور ژبې ادب. او تاریخ هر څومره قلمي نسخې چه په لاس راځي. اکثر هغه دے چه د حضرت محمد صاحبزاده په خرڅ او اهتمام سره په بهترین رسم الخط سره منقش او مطلا قلمی شویدي. او د دوئ دغه جاري فیض مونږ ته رارسیدلے دے.

تالیفات

د دوئ په تالیفاتو کښې د یو نوم کتاب نوم دے "مقاصد الفقهه" ژبه یئے عربی ده. ټول ۱۴۰ مخونه لري. سائز یئے ۲۰ x ۳۰ ۸ دے. په هر مخ کښې اوه کرښے دي. په علمی او ادبي دواړه لحاظه سره د اوچتے پائے کتاب دے. په ۱۲۰۳هـ کښې د فتح خان ابن محمد سید څمکنی په لاس قلمی شویدي. په آخر سر کښې یئے دا عبارت درج دے.

رساله مبارکه مقاصد الفقهه از مصنفات و مؤلفات جناب فیضماب هدایت اکتساب پیشوایئے رهروان منازل تحقیق مقتدائے سالکان مراحل تدقین قدوة الصالحین زبدة العارفین اسوة المحققین عمدة المدققین مرشد کونین مربي دارین افضل الفضلاء اصلح الصلحاء حضرت صاحبزاده

صاحب سجاده صورت و معنی میا محمدي چمکنی دام برکاته.

او دا اول سر دیباچه یئے داسے ده.
الحمدلله الذي و قانا عن آفات الجهل یو قایة علومه و نور ناعن ظلمات الشکوک بهدایته نجومه. بین لنا احکام الشراءع قبیینه و اظهر علینا خفیات الا سرار بجوامع رموزه و تلقینه. اطلعنا علي غوامض العلوم عجراج الدرایة و فجر لنامن ینا بیع الحکمة بمافیه من الکفایة والصلوة والسلام علي سید لا ابنیاء و سندالاولیاء محمد عین الحنایة. شفیع الا مم لب الهدیة. حبیب الواهب المختار. رحمة اللعلمین من الفجار والا برار و علي آله کنوز الهدی و اصحابه بدور الدجي و بعد فان العبدا المحتاج الي جناب الحضرت الا حدي. فقیر محمدي ابن فقیر محمد عمر الچمکنی الا حمدی ملة والحنفی مذهباً والنقشبندي طریقه والا ویسي استفادة تغمده الله بغفرانه واسکنه فرادیس جنانه افاض علیه ادلاء الفضل ولا متنان واطفي برشحات برکاته نوائرالنیران روح الله روحه وزادي جوار الصدیقین فتوحه اللهم برد مضجعه و نور مرقده واعل علي بناء الناس بنائه و املاء بالا لاء الو فرات و عائه واحشره في زمرة الصالحین الا خیار و انشره في طائفة الصدیقین الا برار برحمتک یا عزیز الغفار. ابن ابراهیم ابن کله خان ابن جان ابن آدم ابن احمد ابن ایمل ابن یوسف ابن موسی (ابن عیسی ابن موسی ابن ترک) سره بنی الا سرائیلي رحمة الملک

الرحمة وافاض عليه سجال العفرو الغفران و غرقهم في بحار الفضل والر ضوان و جعل مثوبهم في روضة من رياض الجنان و لبسهم خلاع المكرمة والا حسان و توجهم بتيجان الا نعام ولا متنان يقول ان علم الفقهه لكونه مبينا عليى احكام الكتب الكريم من بين العولم اشرفها مستنبطا من افعال السيد الجسيم او ضعها فست الحاجة الى تدوينه و تصنيفه و تصدي الراسخون في العلوم لا ملائه و تاليفه فقد شغفني حب التاليف فيه حبا جما ولم يكن لدي منه امرا مهتما. على ابن يسالني اخي المكرم عندي و عند اكثر خلق الله عبيدالله الملقب بميا كل عززه الله عند الكل اطال الله عمره و شرح صدره واجل قدوه نورفي سماء العلوم بدره وضاعف اجلاله و جعل الي كل خير ماله وير حم الله عبدً اقال امينا. و قال لي علي زعم منه في ان الف له مختصراً في تنفيح مسائل الطهارة والصلوة و توضيح ضوابط الصوم و الزكوة و كنت اتر قب الوقت المعهور و اتر صد الان الموعود حني بشرت بتصدي ذالک الفعل الجميل و الهمت با متشال هذا لا مر الجزيل. هشموت عن ساق الجد لتا ليف رسالة مشتملة عليه اصول الا يمان و مسائل الطهارة والصوة و ضوابط الصوم والزكوة لكونها اكثر و قوعاً واشه حاجة اليه مع الا شارات بجوامع الكلم المركبات من حروف مقطعات و بيا نها بعبارات واضحاتٍ فجاء ت بفضل الله تعالى و حسن توفيقه كما شنت محتوية عليه ما اردت و منظوريةٍ علي ما قصدت و كان ذالک

في سنه الف و ماة و سبع و تسعين (۱۱۹۷هـ) من هجرة النبی الکريم و رسول رب العزيز العليم عليه وعلی آله و اصحابه التحيه والتسليم فسيمتها "بمقاصد الفقهه" ور تبتها علي مقدمةٍ و تسعة ابواب مشتمله علي خمسة عشر فصلا و خاتمةٍ.

درود محمدی

د حضرت صاحبزاده عليه الرحمة دويم تاليف "درود محمدی" دے. چهد مخمس په شکل ليکلے شوے دے. کومه قلمی نسخه چه دا وخت څما د نظر په وړاندے ده. دا په۲۶X۳۰ ۱۶سائز ليکلي شويده ټول ۵۷مخونه دي. په هر مخ کښې ۹کرښے دي. په دے حساب ټولے ۴۷۱کرښے لوی. مګر په هره دريمه کرښه کښې يوه مصرعه او په نوروتولو کرښو کښې دوه دوه مصرعے دي. او په هره مصرعه کښې يو څل د رسول الله صلي الله عليه وسلم مبارک نوم "محمد" راغلے دے. په دے حساب په دے منظوم درود شريف کښې د کلمه "بسم الله الرحمن الرحيم" د حروف ابجدد اعداد و شمار مطابق۷۸۶ څله لفظ محمد تکرار شوے دے. نمونه يئے دا ده.

بسم الله الرحمن الرحيم

والی ولا محمد علي علا محمد

خالي خلا محمد صلوا علي محمد

تسليم بر محمد

رشف عطا محمد نشف خطا محمد

كشف غطا محمد صلوا على محمد

تسليم بر محمد

صبح ضياء محمد تابع رضا محمد

مالک غناء محمد صلوا علي محمد

تسليم بر محمد

هم مصطفی محمد هم مجتبی محمد

هم منتهی محمد صلوا علي محمد

تسليم بر محمد

كوه علا محمد كان حيا محمد

لعل جلا محمد صلوا علي محمد

تسليم بر محمد

په آخر کښې ليكي:

حب حفي محمد ذكر جلي محمد

از حق ولي محمد صلوا علي محمد

تسلیم بر محمد

برچمکنی محمد بخشد سنی محمد

صد روشنی محمد صلوا علي محمد

تسلیم بر محمد

یا ارشدي محمد یا مرشدي محمد

یا اسعدي محمد صلوا علی محمد

تسلیم بر محمد

طالب بدی محمد تنها شدی محمد

زود آمدی محمد صلوا علی محمد

تسلیم بر محمد

به "محمدي" محمد نرسد بدی محمد

که توا مجدي محمد صلوا علي محمد

تسلیم بر محمد

حضرت محمد صاحبزاده علیه الرحمة پخپله د پښتو ژبے لوئ شاعر او ادیب وو. او چونکه خداي پرے لوئ فضل کړے وو. عالم

او عارف وو. په دے وجه د دوئ کلام د مضمون او معنی دواړو په لحاظ سره اوچت عرفاني. تصوفي او ادبي مقام لري.

حضرت محمدي صاحب زاده په ۱۲۳۰هـ کښے وفات شویدي. او د وفات ماده د تارنج یئے دا جمله ده:. "محمدی د خل الجنة" ۱۲۲۰هـ مزر مبارک یئے د حضرت میا محمد عمر علیه الرحمة د مزار په احاطه کښې د خپل والد ماجد د مزار نه نمر خاته طرف ته متصل واقع دے. او مرکز دا نورو دے. نارینه اولاد یئے نه دے پاتے شوے. د دوئ ټبر د حضرت مولانا شیخ اخوند جان محمد دراني لور بي بي وه. هر کله چه په ۱۲۳۴هـ کښې په وادئ پیښور باندے د سکهانو عمل دخل راغے. نو حضرت بي بي صاحبه علیه الرحمة د قبایلي علاقے باجوړ د وادئ جندول معیار نومے کلي ته لاړله. هلته وفات شوه. مزار مبارک یئے په موضع معیار کښې دے. رحمة الله علیها.

د حضرت محمدي صاحب زاده د وفات (۱۲۳۰هـ) نه روستو دوئ کشر رور حضرت عبید الله میا ګل سجاده نشین شوے وو. چه روستو به یئے تذکره راشي. علیهم الرحمة والغفران.

حضرت مولانا شیخ فضل احمد معصومي علیه الرحمة

ولادت .... سرهند ۱۱۵۰هـ

وفات.. پشاور ۱۲۳۲هـ

حضرت مولانا شیخ المشائیخ قطب المکنة والو جو د غلام محمد الملقب په فضل احمد معصومي او مشهور په حضرت جیو صاحب پشاوري علیه الرحمة د وادئ پېښور د نقشبندیه خاندان په مشاهیرو بزرګانو کښې د اوچتې عرفاني او روحاني مرتبې جلیل القدر بزرګ تیر شویدے. چه سلسله د نسب یئے په اتم پشت کښې حضرت شیخ احمد فاروقي سرهندي مجدد الف ثاني قدس سره ته رسیږي. شجره د نسب یئے داسے ده[271].

حضرت شیخ میا غلام محمد الملقب په فضل احمد ولد شیخ شهید اکبر عمدة الوصلین قدرة العارفین[272] ابو داؤد نیاز احمد ابن

[271]تحفة المرشد صفحه ۴

[272]د حضرت شاه فضل احمد والده د حضرت شاه محمد رسا ولد خواجه محمد پارسا ولد شیخ عبید الله ولد عورة الوثقي خواجه محمد معصوم ولد حضرت مجدد الف ثاني لور بي بي وه

قدوة المحققین و غوث السالکین حضرت میر صفر [273]احمد ابن سید العاشقین حضرت شیخ محمد فضل الله[274] بن عامل الحسنات النوادر حضرت شیخ عبدالقادر بن عارف الیقین محمد امین بر کاشف اسرار الخلاق شاه عبدالرزاق. چه دغه شاه عبدالرزاق د حجرت مجدد الف ثاني مشر روروه. په دے اعتبار حضرت شاه فضل احمد معصومي فاروقي نسب، حنفي مذهب، او نقشبندي مشرب وه. په ۱۱۴۹هـ کښې په مقام د سرهند پیدا شوے وو[275].او د خپلے والدے ماجدے د طرف نیکه حضرت شاه محمد رسا د دوئ سر پرستي او تربیت فرمائیلے وه. ځلویښت کاله یئے د هغوئ په خذمت کښې درس او تعلیم. ذکر. فکر مجاهده او ریاضتونه کړي وو. په ظاهري علمونو کښې درجه د کمال او فضیلت او په علوم باطني کښې دره د استقامت. محبوبیت او کرامت حاصله کړي وه. د سلسله عالیه قادریه نقشبندیه. چشتیه فیوضات

---

[273]د حضرت شاه نیاز احمد والده ماجده د حجرت شیخ صبغة الله ابن عروة الوثقی خواجه محمد معصوم ابن حضرت مجدد الف ثاني لور بي بي وه.

[274]د حضرت شاه محمد فضل الله والده ماجده د حجرت مجدد الف ثني لور بي بي وه.

[275]د تحفة المرشد په حاشیه صفحه نمبر۱۳۱ لیکلي دي. چه د دوئ عمر مبارک دوه اتیا کاله وو. چه ماده د تاریخ یئے دا جمله ده. (ولي اله) او هر کله چه د دوئ د وفات یقیني تاریخي ۱۲۳۳هـ دے. نو په دغه حساب د دوئ د ولادت تاریخ ۱۱۵۰هـ صحیح راځي. او په صفحه نمبر۳ په حاشیه کښې چه د دوئ د ولادت ماده د تاریخ "ظهرولي" لیکلے ده. د هغے نه تاریخ د ولادت ۱۱۵۱هـ جوړیږي. حالانکه د تحفة المرشد په صفحه۱۲۹ چه د حضرت جیر صاحب کوم خپل اورد بیان ورځ دے. د هغے نه د دوئ تاریخ ولادت ۱۱۴۸هـ معلومیږي. و الله اعلم (اثر)

ورته حاصل شوي او د رشد، او هدايت په مبارکو اخلاقو او صفتونو متصف شوے وو. په خصوصيت سره په نقشبنديه سلسله کښې خرقه د خلافت يئے حاصله کړے وه. او چه هر کله حضرت شيخ محمد رسا قدس سره وفات شه. نو د حضرت مولانا دليل الله ابن حضرت خواجه محمد سعيد ابن حضرت خواجه مجدد الف ثاني د مشهور خليفه حضرت شيخ عبدالله بخاري الملقب په حضرت مير صاحب عليه الرحمة نه يئے په خصوسيت سره په سلسله عاليه قادريه و چشتيه کښې تجديد د بيعت کړے وو. او خرقه د خلافت يئے حاصله کړے وه. حضرت جيو صاحب فرمائي. چه دے فقير بنده د حضرت مير صاحب عليه الرحمة ډير خذمتونه کړي دي. او دا ټول برکتونه چه م موندلي دي. د هغوئ د التفات او صحبت برکت دے.

په ۱۱۷۲هـ کښې چه حضرت احمد شاه ابدالي در دران د پاني پت په مقام د مشرکانو. هندوانو او سکهانو متحده طاقت له شکست ورکړ او فتح يئے حاصله کړله نو هر کله چه شاه در دران د حضرت ميا محمد عمر د څمکنو عليه الرحمة مريد وو. او د نقشبنديه مجدديه طريقے پيروکار وو. په دغه وجه د حضرت مجدد الف ثاني قدس سره د مبارک خاندان سره يئے زيات عقيدت لرلو. څه وخت چه افغانستان ته واپس راروان شه نو په دے خيال چه د حضرت مجدد الف ثاني د خاندان عزتمندو افرادو ته روستو بيا د کفارو او مشرکانو د لاس نه تکليف او نه رسيږي. لکه چه د حضرت شاه فضل احمد

معصومي والد ماجد عمدة الواصلين قدوة العارفين خواجه ابر داؤد نياز احمد د دغې نه وړاندې په جهاد کښې شهيد شوې وو. حضرت شاه فضل احمد معصومي سره د خپل خپلوانو رونړو عزيزانو او والدې[276] ماجدې يئې د ځان سره پيښور ته راوستل. د دغې نه وړاندې د دې عزتمند خاندان يو بل نامور بزرګ حضرت شيخ غلام محمد ابن غلام معصوم ابن حضرت شيخ اسماعيل ابن حضرت قيوم زمان صبغة الله ابن حضرت عروة الوثقى خواجه محمد معصوم ابن حضرت مجدد الف ثاني هم د سرهند نه لاهور ته تشريف راوړې وو. چه بيا هغه هم روستو مستقل طور پيښور ښهر ته تشريف راوړې وو. او د لته په مقام د پيښور ښهر په ۱۱۷۵هـ کښې وفات شوې وو. چه مزار مبارک يئې د باجوړ دروزاې نه باهر په شعبهٔ کښې دې.

په دې اعتبار سره حضرت مولانا شيخ المشائيخ فضل احمد معصومي په ۱۱۷۳هـ کښې د سرهند نه هجرت اوکړ. او د لاهور. هزاره. چچ په لاره وادئ پيښور ته يئې تشريف راوړ. او د پيښور ښهر په محله "کاکا جمعدار" کښې يئې استوګنه اختيار کړه. په کوم ځاي کښې چه نن ورځې د دوئ مزار مبارک واقع دې او خواؤ شا ته يئې د محله فضل حق په نوم کومه آبادي ده. دا ټوله علاقه تر غله منډهئ او چوک ناصر خان

[276] د حضرت شاه فضل احمد قدس سره والد ماجد په ۱۲۱۴هـ کښې وفات شويده. مزار مبارک يئې د حضرت جي صاحب د مزار مبارک په خوا کښې دې. عليها الرحمة والغفران. بحواله د تحفة المرشد صفحه۵

پورے په هغه زمانه باندے باغ وو[277]. د احمد شاه ابدالي د طرف نه دغه باغ دوئ ته د سيرئ په طور ورکړلے شه. او بيا چه هر کله په شپه د عيد الفطر ماه شوال ۱۱۸۵هـ کښې حضرت قدوة الا ولياء خواجه غلام محمد فاروقي المعروف په حضرت جي صاحب کلان او په يکم رجب ۱۱۹۰هـ کښې حضرت ميا محمد عمر د څمکنو عليه الرحمه. او په ۱۲۰۲هـ کښې حضرت شاه غلام حسين ولد خواجه غلام محمد المعروف حضرت جي صاحب کلان د دے واړه د نقشبنديه سلسلے مشاهير بزرګان پر له پسے وفات شول. او د هغوئ نه روستو د دوئ د وجود مبرک په ذريعه سلسله عاليه نقشبنديه مجدديه ته په کامله طريقه سره عروج حاصل شه. او د لکهونو په تعداد کښې د برصغير پاک و هند خراسان بلخ او بخارا مسلمانانو ته ترينه فيض اورسيدلو.

حضرت مولانا شيخ المشائيخ شاه فضل احمد معصومي قدس سره چه په ۱۱۸۳هـ کښې پيښور ته تشريف راوړ. په دغه وخت کښې د دوئ عمر مبارک په اختلاف د رواياتو ۲۳يا ۲۴يا ۲۴کاله وو. د تحفة المرشد د حاشيے د يوے تصريح نه معلوميږي[278]. چه څه وخت دوئ پيښور ته را اورسيدل. نو د حضرت ميا محمد عمر څمکنو عليه الرحمة نه يئے په سلسله عاليه نقشبنديه کښې تجديد د بيعت اوکړ. او په ظاهري او باطني دواړو

[277] تحفة المرشد صفحه نمبر۱۲۹ و نمبر ۱۳۰
[278] حاشيه د تحفة المرشد صفحه نمبر ۱۴۶

علمونون کښې يئے د هغوئ نه فيض حاصل کړ. او هغوئ د دے خپل نامور شاګرد او پيرزاده روحاني تربيت په ښه شان سره او فرمائيلو. د تحفة المرشد دا روايت صحيح دے. په دغه زمانه (۱۱۷۳هـ) کښې حضرت ميا محمد عمر د۹۳ کالو په عمر وو. جليل القدر بزرګ وو. او هر کله چه په ۱۱۰۵هـ کښې يئے د حضرت مولانا شيخ سعدي لاهوري بخاري نه په سلسله عاليه نقشبنديه کښې بيعت کړے وو. او د تيرو شوؤ۶۸ کالو (۱۱۰۵هـ تا ۱۱۷۵هـ) د دے مبارکے سلسلے روحاني رهنما وو. نو د هغوئ نه د ظاهري او باطني علمونو فيض حاصلول د حضرت شاه فضل احمد قدس سره د پاره يوه اصولي خبره وه. دغه شان پيښور ته د رارسيدلونه روستو د مجدديه خاندان د يو بل تربيت يافته بزرګ حضرت مولانا شيخ سيد عبدالله بخاري نه يئے په سلسله عاليه قادريه او چشتيه کښې تجديد د بيعت کړے وو. لکه چه مخکښې ورته اشاره شوي ده حضرت مير عبدالله بخاري د حضرت خواجه مولانا دليل الله ابن حضرت خواه محمد سعيد ابن حضرت خواجه مجدد الف ثاني نامور خليفه وو. او د حضرت مولانا سيد جلال الدين حسين بخاري الملقب په مخدوم جهانيان جهان ګشت د خاندان جليل القدر بزرګ وو. په پيښور ښهر کښې اوسيده. مزار مبارک يئے په موضع دلازاک علاقه دا ود زائيے کښې دے.

عليه الرحمة والغفران

د دې تفصيل له مخه حضرت جيؤ قدس سره په درې واړه طريقو قادريه. چشتيه.نقشبنديه کښې مجاز او مازون وو[279]. مقام درشد او هدايت ورته حاصل وو. او په دې درې واړه طريقو کښې به يئې مريدانو ته بيعت کولو. ليکن په خصوصيت سره د نقشبنديه طريقې د ذکر او فکر تعليم به يئې زيات ورکولو. او فرمائيل به يئې چه هر کله نن ورځې په زمانه کښې فساد ډير شوې دې. او د نبوت د مبارکې زمانې نه خلق ډير لرې وتلې دې. د نورو طريقو د تعليم نه د نقشبنديه طريقې تعليم زيات بهتر ا وزيات مناسب دې. ځکه چه په دې طريقه کښې التزام د شريعت او متابعت د سنت د نورو طريقو په نسبت سره په زياته کامله او مکمل وجه موجود دې[280].

حضرت شاه فضل احمد الملقب په حضرت جيو صاحب له خداي پاک دومره برکت او دومره تصرف عنايت کړې وو. چه څوک به د مولئ په طلب کښې د دوئ خذمت ته حاضر شه. هغه ته به په يو نظر کيميا اثر سره کامله روحاني صفايئ حاصله شوه او د هغه زړۀ به د نورو د معرفت نه ډک شه.

اګر چه د دوئ مستقله استوګنه په پيښور ښهر کښې وه. ليکن افغانستان او

[279] د تحفة المرشد صفحه نمبر۷

[280] د تحفة المرشد صفحه نمبر۱۳ د بيان مطابق حضرت جيو قدس سره ته په روحانيط ريقه سره د حضرت عروة الوثقى خواجه محمد معصوم او حضرت مجدد الف ثاني تربيت هم حاصش وو. په دغه وجه په سلسله عاليه نقشبنديه کښې د دوئ په فيوضاتو کښې همه ګير والې زيات دې. (اثر)

ماوراء النهر بخارا ته پرله پسے پنځ ځله سفرونه يئے کړي دي چه په دغے کښې په يو سفر کښې د بخارانه د هرات. قندهار او غزني په لاره راغلے وو. په دغه اعتبار سره د دوئ د روحاني رشد او هدايت دوه ګدئ او سجادے وے. يوه پيښور ښهر او دويمه بخارا او په دے دواړو مرکزونو کښې بے شميره بزرګانو د دوئ نه خرقه د خلافت حاصله کړے وه. په مجموعي طور سره د دوئ جليل القدر خليفه ګان په شماره څلور سوه وو. چه د هغوئ نومونه په کتاب تحفة المرشد کښې په تفصيل سره درج دي. چه په هغے کښې بعض مشاهير علماء دي. او د علمي فضيلت و کمال خاوندان دي. او د دغے نه د حضرت جيو قدس سره د روحاني عظمت نه علاوه د علمي منزلت عظمت او بزرګی معلوميدلے شي. د دوئ او د دوئ نامورو خليفه ګانو پخپله زمانه د حق دين اسلام د تبليغ فريضه په ښه طريقه سره ادا کړي وه. د ديني علمونو او سنت نبوي اشاعت يئے کړے وو. د ا هل سنت والجماعت د عقيدے پابندي يئے کړے وه. او طريقت کړے وو. د اهل سنت والجماعت د عقيدے پابندئ يئے کړے وه. و تقريت يئے ورکړے وو. او په کمال اخلاص او محبت سره يئے د سلسله نقشبنديه مجدديه د فيوضاتو عام کولو خذمات سرته رسوؤلي وو. د دوئ چه کوم اسلامي خذمات وو. په هغے کښې "امر بالمعروف" او "نهي عن المنکر" کوول. د دوئ خصوصي تعريف وو. د دوئ د رياضت او عبادت اعمالو. افعالو. ازکارو. و ظائيفو. تعليم. درس او توجه تفصيلي

بیان په تحفه المرشد کښې راغلے دے. هغه ځان له روغ باب دے. او د حضرت شیخ سید امیر بلخي مزاري مؤلف د تحفة المرشد خبره حضرت جیو صاحب قدس سره انسان وو. مګر د ملائیکو پاکیزه صفتونه خداۍ پاک ورکړي وو. د دوئ د مجاهدے. ریاضت او عبادت داشان وو. چه د دویارلس کالو د عمر نه تر وفات پورے همشه به روژه وو. فقط دا چه د پاک رسول صلي الله علیه وسلم د سنت د تابعدارئ په خاطر کله ناکله به یئے کوجه هم کوؤله. اکثر اوقات یئے په عبادت کښې تیرده کور او په سفر دواړه حالته کښې اوراد او وظائف به یئے لوستل. د چاشت د نمانځه نه روستو به یئے د علم حدیث او تفسیر درس ورکؤلو. د نماز پیښین نمانځه نه روستو به یئے د فقهه حنفی درس کؤلو. د نمازیګر نمانځه نه روستو به یئے مراقبه فرمائیله. مریدانو ته به یئے توجه ورکؤوله. او ورپسے ټوله شپه به خدائي ته په عبادت ولاړ وو. او لبته چه کله عمر مبارک یئے شپیته کالو ته اورسیده نو بیا به یئے نفلي عبادت په ناسته کؤلو.

د خدائي پاک کوم محبوب بندګان چه د پاکئ، پاکیزګی او محبوبیت دے او چت مقام ته اورسیږي نو خداي پاک هغوئ ته خپلے د غیبو خزانے پرانزي. چنانچه د دے قسم نه کوم فتوحات چه به دوئ ته رتلل هغه به یئے سمدستی په خپلوانو، نورو ملګرو، مرید انواو طالب علمانو او عامو غریبانانو باندے ویشل. او څه څیز به یئے

د ځان سره نه ساتلو. او هيڅ يو سوالګرے به يئے تش لاس نه پريښودلو. او سره د دوئ د دومره لويئے مرتبے او شان نه فرمائيل به يئے "چه مرنړ غيرله ګناه نه غفلت او پريشانئ. سهو خطا او نسيان ځنے په خپله عملنامه کښې نور څه نه لروبے له دے چه خداۍ پاک په خپل فضل او کرم عفوه راته اوکړي د نمانځه نه روستو به يئے ډيره اوږده دعا کوؤله. و ډيره په عاجزئ او زارئ به يئے د خپل خدائي نه بخښنه غوښتله. او ه دغه دعا کښې به يئے دا سوال په ډيره عاجزئ سره کولو. اے خدايه د محمد صلي الله امت او بخښے. اے خدايه د محمد صلي الله په امت رحم اوکړے مهرباني پرے اوکړے. شفقت ورسره اوکړے. دا ټولي داسے خبر دي. چه د دے نه د دوئ د مخلوق سره بے دريغه محبت معلوميدلے شي. يوه ورځ يو طالب علم د دوئي په حضور کښې د حضرت محمد مصطفے صلي الله عليه وسلم يو نعمت اولوستلو هغه ته يئے خپل ملکيت کوم ارهټ او پنځه جريبه زمکه چه لرله هغه يئے بخشش ورکړه او ورته يئے او فرمائيل چه دا د دے نعمت د دغه يو شعر صدقه ده.

شعر دا وو:

وصف وچنا که لائق نعمت بود کجا است

بعد از خدا بزرګ توئي قصه مختصر

تعليمات

د مشائيخو. پيرانو. استاذانو. عالمانو او سادات کرامو به ډير عزت حرمت. تعظيم او تکريم کؤلو او خپلو مريدانواو دوستانو ته به يئے هم د دے کار ډيره سپارختنه کوؤله. دوئ به فرمائيل:

د خپل پير په بزرګئ يا په خپلو نيکو اعمالو مه غره کيږئ.

خپل نيک عمل لږ ګنړئ استغفار ډيره وايئ.

د شريعت د مخالفت نه ځان ساتي.

د طريقت د بے ادبي کولو نه ځان لرے ساتئ.

فقير. فاقه او رياضت د ولت ګنړئ

د بل چا په اوګومه بار کيږئ.

بے ضرورته د چاپه کور مه ميلمه کيږئ

د هر کس او ناکس په شکور ډوډئ مه خورئ. او خپله ډوډئ د هيچا نه مه منعه کوئ.

او د خدائي د مخلوق خدمت کوؤل خپله نيک بختئ ګنړئ.

خپل تول حقداران راضي ساتئ. او د هغوئ د ناراضه کؤلو نه ځان ساتئ د فال ګرو. منجمانو. کاهنانو. رمالا نو وغيره په خبرو چه قطعا اعتماد او نه کړئ.

بلکه که توانیږئ د دے قسم خلق د دغه کارونونه منع کړئ.

د بے باکه خلقو د مجلس او صحبت نه ځان اوساتئ. د لیونو. نا پاکو. بدرکارانو. مفسدانو. فاسقانو. متبدعانو. بد مذهبه او د خدائي نه نا خبره او بد عملانو. جاهلانو او کاهلانو سره مه کښینئ. د ناکاره مجلس نه داسے تیښته کوئ لکه د زمرئ نه چه څوک تښتئ.

دا هل الله. کاملانو. عالمانو تقری دارو بزرګانو. صالحانو. نیکانو باهمته نکمر دانو صحبت او مجلس غنیمت او ګنړئ.

د مؤمن مسلمان سره په خوږه نرمة او پسته ژبه خبرے کوئ.

د چا سره چه ملاویږئ تندے رونړ ساتئ

حضرت مولانا شاه فضل احمد معصومي به فرمائیل چه حضرت نبي کریم علیه الرحمیة و اتسلیم چه خپل اصحابي حضرت ابو ذر غفاری رضي الله عنه ته کوم اوه نصیحتونه کړی دي. په هغے عمل پکار دے. د پاک نبي صلي الله علیه وسلم هغه مبارک تعلیمات دا دي:.

(۱) د مسکینانو سره مینه محبت کوئ ځان ته یئے رانزدے کوئ. کښینئ ورسره.

(۲) په دے دنیا کښې چه څوک ستا نه لاندے دي. هغوئ ته نظر کوه ستانه چه څوک بردي هغوئ ته

خيال مه كوه. (د مالدارانو په ځاي د عاجزانو قدر كوه)

(۳) د صلي رحمې په ځاي ساتلو خيال ساته. كه خپل خپلوان درنه هر څو ځان شو كوى. ته ترينه تعلق مة لنډه وه. مة پريكوه. مه شوكوه.

(۴) په هيڅ حال كښې د هيڅ څيز سوال. خواست. درويزه ګدا د چانه مه كوه. بلكه كه په اس سور وے. كر وړه درنه اولويده. پخپله وركوز شه. را اوچته يئے كړه او چا ته سوال مه كوه چه تازيانه، كروړه قمچين م راكړه.

(۵) پنځم دا چه حق خبره كوه اګر كه ه چا تر خه او لګيږي. قل الحق ولو كان مرا.

(۶) د امر معورف او نهئ عن المنكر كؤلو نه ويريږه. اګر كه خلق دربانذي ملامته وائي.

(۷) لا حول ولا قوة الا بالله العلى العظيم0 دا كلمه ډيره ډيره وايه خصوصاً چه كوم وخت شيطان دربانذے غلبه اوكړى.

حضرت شاه فضل احمد معصومي به فرمايل

(الف) کوم احوال او وجدان چه د بعض پیرانو نه څرګندیږي که هغه د اهل السنت والجماعة د عقیدے او احکامو په خلاف وي. هغه اتدراج دے. توله خرابي ده.

(ب) تکبر او غرور کؤل سبب د ذلیل والی او خوارئ دے. ډیر بادشاهان او امیران چه د شوکت او حشمت خاوندان وو. د کبر او غرور په وجه خوار او ذلیل شوي دي.

(ج) د شریعت په تابعدائ د کمال درجه موندلےشي. چه څومره متابعت زیاتو وي. هومره به یئے کمال زیات وي.

(د) د خدائي په رښتینی بندګئ کولو یقین حاصلیږي.

(ه) خدائي پاک چه د چا نه ناراضه شي. بیا هغه سړے د اولیاء الله. د خدائي د دوستانو او نازبینو بندګانو په حقله بدګوئ شروع کړی. ژبه یئے د خدائي د دوستانو په غیبت او سپکوالي خوزیږي. د دے تباهئ نه ځان او ساتئ. چه په دے کښې د دنیا او د اخرت دواړو زیان دے. د خدائ نه پناه اوغواړئ. د خداي نیکان بندګان د نمر په مثال دي. که نمر ته څوک خاؤرے شیندي د هغه

رنړا ته نقصان نه شی رسوؤلے خپل سر او مخ به خړ کړی. العياذ بالله.

(و) د خدائي سره مينه لرل هاله قبليږي. چه د هغه د پاک رسول محمد مصطفی صلي الله عليه وسلم د شريعت متابعت او کړلے شي. که دا څيز ورسره نه وي نو خدائي د هغه چا دوست نه دے. دغه رنګ سړے ولي نه دے او بزرګ هم نه دے. که د دے قسم محبت دعوی څوک لري (ان که په هوا آلوزی) هغة استدراج دے. جو ګيان. ارمنيان يهود او نصاری هم د خدائي د محبت دعوه. ليکن چه د حضرت محمد مصطفی متابعت نه کوي. ټول کافران او بد بخته دي. "باخدا ديوانګي کن بانبي هشيار باش." که څوک خدائي ته رسيدلي غواړي.د پيغمبر لمن دے راټينګه کړي.

(ز) نيک عمل هم کوئ او استغفار هم وايئ. بنده څه خبر دے چه کوم عمل يئے قبول دے او کوم نه دے. دا دعا لوستل پکار دي اللهم اغفر لي و تب علي انک انت التوب الرحيم.

د دوئ په مريدانو کښې غريبان او اميران. علماء او مشائيخ ټول شامل وو.

او ډیر داسے بزرگان وو. چه پخپله سجاده نشینان وو. د نورو بزرگانو خلیفه ګان او روحاني پیشوایان لیکن د تبرک د پاره یئے د دوئ په مبارکو لاسونو هم بیعت کړے وو. لکه حضرت میا محمد صاحبزاده علیه الرحمة د څمکنو شه. چه پخپله ډیر لوئ فاضل عالم او کامل عارف او شیخ د وقت وو. سجاده نشین وو. یا لکه حافظ محمد عظیم پشاوري چه د حافظ محمد حسن رامپوری نقشبندی خلیفه وو. لیکن د برکت په طور د دوئ نه یئے هم فیض موندلے وو. او د دے نه معلومیدلے شي چه د هغه وخت مشاهیرو بزرګانو هم د دوئ ډیر عزت او احترام کؤلو.

د دوئ په مشاهیرو خلیفه ګانو کښې د ټولو نه اول د دوئ خپل نامور فرزندان دي. چه په دوئ کښې هر یو صاحب د معرفت کشف او کرامت وو. او د ولایت په اوچتو درجو سر فراز وو. او ډیر لوئ شان یئے لرلو. نو مونه یئے دا دي.

(۱) حضرت میا غلام قادر علیه ارلحمة[281]

(۲) حضرت یا فضل الله علیه الرحمة [282]

---

[281] المعروف په میا کلاں چه په بخارا کښې د خپل پلار په ځاي سجاده نشین وو.

[282] المعروف په میا صاحب دے هم صاحب د ارشاد وو. او د خپل پلار په ځائ په بخارا کښې سجاده نشین وو.

(۳) حضرت میا فضل احد المعروف په میا بزرگ علیه ارلحمة

(۴) حضرت صاحبزاده فضل حق المعروف په "میا اولیاء" علیه الرحمة په دے د حضرت جي صاحب جي صاحب علیه الرحمة د وفات نه رستو سجاده نشین وو. مزار مبارک یئےد خپل والد ماجد د مزار سره یو ځائے دے.

(۵) حضرت میا فضل محمود المعروف په میا ولي علیه الرحمة[283].

(۶) حضرت میا فضل صدیق علیه الرحمة[284]

(۷) حضرت میاڼ فضل کریم[285] (متوفي ۱۲۲۷هـ) علیه لرحمة شول.

په دوئ کښې د حضرت صاحبزده فضل حق علیه الرحمة شپږ ځامن وو. فضل هادي. محمد فضل. فضل حسین. فضل عظیم. فضل مهدي. فضل لطیف چه بیا په دوئ کښې حضرت مولانا شیخ میا فضل هادي علیه الرحمة د سکهانو په زمانه کښې د پیښور ښهرنه هجرت کړے وو. او د ملاکنډ ایجنسئ په موضع بخته

[283]حضرت میا ولي صاحب د نسبت او کرامت وو. مزار یئے د خپل والد ماجد سره یو ځائے دے..

[284]صاحب د جذب او حال او جلالیت وو. په ځلمیتوب کښې وفات شوے وو. مزار مبارک یئے په بخارا کښې دے

[285]مزار مبارک یئے د ولایت ختلان په کولاب نومے مقام کښې د حضرت امیر کبیر سید علي همداني د مزار قبلیږے دروازے سره دے.

کښې آباد شوے چه نن ورځے مزار پرانواریئے هم په دغه کلي کښې دے. د دوئ اولاد خور شوے دے. د ملاکنډ ایجنسئ په تهانه گهرئ حضرت خیل. اله ډهنډ. او طوطه کان کښې آباد دے[286].

د دے نه علاوه د یو څو مشهورو خلیفه گانو (چه په خصوصیت سره د مغربي پاکستان او افغانستان د علاقو وو) نومونه دا دي. حافظ عبدالکریم پشاوري. میا ظهور مهدي. خواجه عمر کابلے مفتي نور محمد پشاوري فقیر صاحب محمد رضانو حاني المعروف پیر زکوړی شریف. ملا محمد غوث. ملا جان. محمد ملا رسول نور حاني. دولت خان نور حاني. میر شیر خان عثمان خیل ملا سعیدالله. مل اعیسی. ملا شاه نواز (درے واړه) د بنو، حاجي محمد قابل حاجي محمد سعید (دواړه رونړه) یوسفزایئے[287]. ملا نیاز محمد اخندزاده باجوړ ملا احمد سواتے. ملا منصور علي سواتے[288]. نعیم گل اخونزاده باجوړي. ملا احمد سواتے. ملا منصور علي سواتے. نعیم گل اخنزداده د پهکلئ. ملا جنید پشاوري. ملا عوض اخندزاده لاهوري (پنجاب) ملا مؤمن اخند تیراهي ملانو یوسفزایے. خلیفه عبدالرحیم فضل بن خان محمد پشاوري شاه منصوري (ضلع مردان) الملقب په حافظ

---

[286] نظم الدر دفي سلک السیر صفحه نمبر۴۴۷ و تحفة المرشد صفحه نمبر ۱۳۷ و شجره حضرات طوطکان صفحه ۴

[287] دا دواړه رونړه د ملانا یار محمد ابن عبدالغفور ابن هر بیگ ځامن وو. د موضع کوټي ضلع مردان اوسیدونکي وو.

ملا منصور علي په اصل د کالو خان علاقه رجړ ضلع مردان وو. د ریاست سوات په علاقه چغرزاے کښې اوسیده. د حوالے د پاره ملا خطه کړئ "تذکرة جمیل" [288]

جيو صاحب. چه د خپل پير طريقت په حکم په بخارا کښې په مسند د ارشاد ناست وو. او اتلس کاله يئے هلته تير کړي وو. صلاح محمد پشوري ساکن موضع کانغړه علاقه دو به ضلع پشاور. خيلفه خير محمد پشاوري. حاجي محمد داغستاني رومي. دے ډير لوئ عالم وو. خصوصاً په علم قرات کښې يئے پوره فضيلت لرلو. د "تجويد القرآن" په نوم يوه رساله يئے تاليف کړے ده[289].چه د مولانا فتح محمد خان د چمکنى د حاشيے سره چاپ شوے ده. حضرت حاجي جي ساحب عليه الرحمة نه د بيعت اراده کړے وه. پيښور ته راغلے وو. دلته د څه موده تيرولو نه پس بخارا ته تلے وو. او څه زمانه د حضرت شاه بهاء الدين نقشبند په مزار کښې د مجاهدے کولو نه پس خپل وطن مملکت دوم ته تلے وو[290]. حافظ محمد خان پشوري. ملا بزرگ پراچه سواتے. حافظ محمد سعيد ساکن پهټوار ضلع پيلور. اخوند ملا سعد الله قندهاري ثم کابلي. ملا محمد امين بارکزاىٔے قندهاري. حيات علي کان علي زايئے محمد سعيد خان بارکزاىٔے. خليل خان بار کزاىٔے. محمد زمان خان پوپل زاىٔے. انبياء الکوزئے. شير محمد خان پوپل زاىٔے. ملا ابدال هوتکي. مدر خان بارکزايئے اعظم خان پوپل زاىٔے او د هغه مشر رور مشرف چه دواړه مجاز او مازونان وو. پابنده خان. نصر الله خان. عبدالرحيم خان او ملا محمود (څلور واړه د

[289] تجديد القرآن طبع دهلي
[290] تحفة المرشد سفحه نمبر۱۶۸ و نمبر ۱۶۹

پیښور) ملا قلار خوستے. ملا امیر شاه خوستے . میر غلام شاه پشاوري چه له اولاده د حضرت خواجه محمد صدیق پشاوري وو. شیخ نوروزیرستانے ملاشفیق. ملا احمد ملا عظم اخوند او ملا محمد عطار (څلور واړه) د موضع شیر پاؤ هشنغروو. ملا زین الدین د شیر پاؤ. نجیب الله خان حاکم هزاره. سرفراز خان ملا دوست د پیښور. ملا لطیف الله پشاوري. خواجه قاضي عالم او د هغه ځوي خواه عبدالعزیز نقشبندي چه د حضرت خواجه بزرګ بهاء الدین نقشبندي له اولاد ځنے وو. او د مزار شریف حاکم او قاضي وو. خلیفه مزار سلیم نور الله مرقده (متوفي ۱۲۳۳هـ) چه په زهد. پار سائي قناعت دیانت. خلوص د عقیدت او صدق د نیت کښې بے نظیر وو. مزار مبارک یئے په بخارا کښې دے. حضرت مولانا محمد سعید ابن حافظ سید محمد ابن سیولي محمد ابن سید محمد یوسف ابن اخون محمد یونس المعروف په خاؤ بابا چه د موضع طور و ضلع مردان اوسیدونکے وو. علیهم الرحمة والغفران.

حضرت شاه فضل احمد معصومي مجددي. نقشبندي علیه الرحمة نه کشف عیاني او کشف کوءي دواړه حاصل وو. او ډیر ښکاره خرق عادت کرامات یئے لرل. لیکن دوئ د کرامتونو اظهار په نه خوښولو په غیر د هغے نه چه بے اختیاره به تړینه څرګند شول. د دوئ د کرامتونو بے شمیره واقعات په کتاب تحفة المرشد کښې بیان شوي دي. هلته د ملا خطه کړے شي.

د وفات نه دوه کاله وړاندې د مریدانو د روحاني تربیت او توجه ورکؤلو ټول زمواري یئے خپل نومور فرزند حضرت صاحب فضل حق المعروف په میا اولیاء ته سپارلي وه. او هر کله چه د وفات وخت یئے راغې. نو خپل ټول ځامن او مریدان یئے راجمع کړل. د صبر تقوی د خدائ او رسول د منابعت او فرمانبردارئ وصیت یئےو رته اوکړ. بیا په ذکر او فکر کښې مصروف شول او په دغه حال کښې په ورځ د چارشنبې وخت د سحر په اولنی تاریخ د محرم الحرام ۱۲۳۴هـ یئے د دے دنیا نه سفر اوکړ. عاشق سعید او مات سعیدا.

علیه الرحمة والغفران.

حضرت عبیدا لله میا ګل علیه الرحمة

ولادت

....

پیښور څمکنی ۱۱۱۶هـ

وفات.................................

... پیښور څمکنی ۱۲۳۳هـ

د حضرت میا محمد عمر د څمکنو د دویم ځوي نوم عبیدالله وو. میا ګل یئے لقب وو. او په دغه اسم لقب زیات مشهور دے. خپل والد ماجد میا صاحب علیه الرحمة ته ډیر ګران وو. کتاب توضیح المعاني یئے د ده د پاره تالیف کړے وو[291].دغه شان خپل مشر رور حضرت محمدي صاحبزاده هم ورسره ډیر شفقت لرلو. او د دوئ له خاطره یئے خپل مشهور عالم کتاب" مقاصد الفقهه" تالیف کړے وو[292]. دے د یني علمونو ډیر لوئ فاضل عالم وو. د عالم فقهه او عالم عقاید په ګڼرو کتابونو یئے حاشیے لیکلے دي. د هغے د مطالعے نه معلومیږي چه دے فاضل محقق او کامل مدقق وو. په یوه مقاله کښې د زمان، د هر، سر مد په حقله

---

[291]د یا چه د توضیح المعاني صفحه ۹

[292]دیباچه د مقاصد لافقهه.

داسې ليکي[293]. اعلم ان الفرق بين الزمان والدهر والسرمدان الزامان امر زاءد علي معنى الو جود و علي ميزان نفس النسبته المعبر عنها بالکون في الزامان کالمکان علي الاين فان الزمان هو المقدار المنقضي الممتد بنفس ذاته وهو ليس نفس احد هما. والدهر فليس شي ورائ نفس الو جود و نسبته الموجود الثاتبة الي الموجودات بالقبلية والبعدية وان کان ذالک ربمايکون بعد العم الصرف. وکذالک السرمد نفس الوجود و النسبة التي للمو جود المحض الذي يس بعد العدم اصلا....

حضرت مولانا صاحبزاده عبيد الله. ميا ګل د خپل والد ماجد نه په طريقه عاليه نقشبنديه کښې فيض حاصل کړے وو. او چته عرفاني مرتب يئے لرله. حضرت ميا محمد وسيم کاکا خيل يئے په "قطب جندولي" سره يادوي[294]. فرمائي: ع "قطب جندولي مرا مخمور کرد". بل ځائے فرمائي" تربيت کړده عبيد الله کريم" حضرت ميا ګل عليه الرحمة د خپل والد ماجد د وفات (۱۱۹۰هـ) نه روستو پ جندول (رياست دير) کښې اوسيده. او په دغه نيته يئے د مشر رور حضرت محمدي صاحبزاده عليه الرحمة نه تجديد د بيعت کړے وو. پخپل تاليف شجره طريقت کښې فرمائي[295]:

[293]حاشيه د کتاب المباحث العلميه قلمي چه ميا وسيم په ۱۲۴۰هـ کښې قلمي کړے دے.
[294]تضمين د پندنامه عطا د تاليف دميا وسيم صفحه ۴۱۶
[295]شجره طريقت ميا ګل صفحه ۱۰

میا ګل هم بیا له دا
دا جي ارشاد موندلے
ما د بابا جي کمال له
ده څخه لیدلے
ګوره د کمال منکر یئے
تل دے شرمیدلے
دے چه وو سیرو نو کښې
الله ته رسیدلے
قطب د اقطاب وو بابا
جي غوث عالم

په ۱۲۲۰هـ کښې چه حضرت محمدي صاحبزاده علیه الرحمة رحلت او فرمایه نو د هغوئ په ځائ باندے حضرت میا ګل علیه الرحمة سجاده نشین شه. او د سلسله عالیه نقشبندیه فیوضات یئے عام کړل. عالم او علم پرور بزرګ وو. او د دغے نه علاوه د پښتو ژبے نامور ادیب هم وو. میا ګل. احمدي غریب درے واړه تخلصونه یئے کول د دوئ په تالیفاتو کښې یو اهم تالیف "عبرت نامه" ده. چه اخلاقي او تصوفي کتاب دے. بل کتاب یئے "هفت پیکر"چه دے کښې د تصوف او عرفان په مضامینو مشتمل بلیغ کلام موجود دے. دریم تالیف "منظوم مناجات" دے[296].

ما میا ګل روئ د حبیب
تاله راوړے
چه م عفوه کل خطا کړی

[296] د تفصیل د پاره ملا خطه کړئ څما تالیف تیر هیر شاعران صفحه۱۳۷ تا صفحه۱۴۷

ځما ربه!

حضرت عبید الله میا ګل علیه الرحمة په ۱۲۳۳هـ کښې وفات شوے دے. د وفات ماده د تاریخ یئے دا جمله ده. (غربال) مزار مبارک یئے د خپل والد ماجد د مزار په احاطه کښې دے. د حضرت د مزار په دروازه چه سړي ور دننه کیږي. دروازے ته مخامخ اولنے مزار د حضرت عبید الله میا ګل دے چه مرکز د انوارو او فیوضاتو دے.

علیه الرحمة والغفران

حضرت اخندزده فیض الله علیه الرحمه

ولادت .... آکره د هشنغر ۱۱۳۶هـ

وفات.............................. ... رامپور ۱۲۳۴هـ

حضرت مولانا حاجي اخونزاده فیض الله خان او اخندزاده عبدالله خان دواړه رونړه وو. د هشنغر تحصیل چارسده ضلع پشاور د موضع آکره اوسیدونکي وو. ډیر لوئ عالمان فاضلان وو. مولانا عبد الله خان د استاز الانس والجان په عزتمند لقب یاد شوے دے[297]. مسعود کل پاسنی د مولانا فیض الله خان په حقله لیکي[298]:

دستکاه د حقایق او فیض وسان
معارف آکاه اخوند فیض الله خان

د دےشعر نه د دوئ د علوم ظاهري او علوم باطني او چته مرتبه او فضیلت په ښه شان سره څرکندیږي. حضرت اخند زاده فیض

[297]مجموعه مناقب تالیني د مسعود کل زمانه تالیف ۱۲۱۲هـ
[298]مجموعه مناقب مذکور.

الله د علم قرات لوئ عالم وو. د حج بيت الله نه په واپسی کښې په ۱۲۱۵هـ کښې يئے د پښتو ژبے په ورکوټی بحر کښې د "ذخرة القراء" په نوم سره يو کتاب ليکلے دے[299]. او د علم قرات په موضوع کوم تحقيق چه يئے د مدينے منورے د قيام په زمانه کښې د مدينے شام او بصرے د قاريانو نه کړے ده. هغه يئے منظوم کړے دے. دا يو بهترين مفيد کتاب دے د عالمانو په طبقه کښې مقبوليت ورته حاصل دے. د بلوچستان مشهور اديب او عالم جان محمد کاکړ د ده شاګرد وو. د هغه د بيان څنے معلوميږي چه حضرت مولانا اخندازاده فيض الله خان څلور کتابونه تاليف کړي وو[300]. چه دا وخت د دوئ د دے يو کتاب نه په غير نور درے کتابونه يئے څمونږ په لاس کښې نشته دے.

د حضرت محمد حسن نقشبندي د روايت مطابق[301] حضرت مولانا اخندزاده فيض الله خان په ورځ د چار شنبے وخت مازيګر ۱۴، تاريخ د رمضان المبارک ۱۱۲هـ کښې د حضرت شاه بدر الدين المعروف شاه بلاقي نه بيعت کړے وو. حضرت شاه بلاقي عليه الرحمة د ضلع مردان تحصیل صوابئ په موضع مينئ کښې اوسيده. د هغے نه روستو حضرت اخندزاده فيض الله د حضرت ميا محمد عمر عليه الرحمة د څمکنو نه په سلسله عاليه نقشبنديه کښې خرقه د خلافت حاصله کړے وه.

---

[299]ذخرة القرآء قلمي نسخه صفحه نبر ۲
[300]د حوالے د پاره ملا خطه کړئ "تير هير شاعران" صفحه ۱۳۴
[301]"آئنه تصوف" صفحه ۱۸۴

د ۱۲۳۰هـ په خواؤ شا کښې د ۹۴کالو په عمر کښې د هلي ته يئے تشريف يوړلو. تر ۱۲۳۲هـ پورے هلته يئے قيام فرمائيلے وو. بيا رامپور ته لاړ. او په ۲۷، تاريخ د ربيع الا خر ورځ يکشنبه د نما ښام نمانځه نه روستو په ۱۲۳۴هـ کښې په مرتبه د ملکوت کښې يئے وفات بيا مونده. په رامپور ښهر کښې يو جماعت دے. چه هغے ته "حلقه والي مسجد" وائي. د دوئ مزر مبارک د دغه جماعت سره نزدے دے.

عليه الرحمة والغفران

حضرت خواجه محمد فیض الله تیراهي علیه الرحمة

ولادت .... تیزئ تیره هـ

وفات.................................. تیزئ تیره ۱۲۳۵هـ

خواجه خواجگان حضرت بابا محمد فیض الله د مغربي پاکستان د قبائیلي علاقے تیراه لوئ صاحب د کمال بزرگ وو. په کشف او کرامت کښې اوچته درجه یئے لرله. د والد ماجد یئے خان محمد نوم او. چه یو فاضل عالم. د کوهاټ ښهر په مضافاتو کښې په شادي خیل نومے[302] کلي کښې اوسیده. او د دیني علمونو درس به یئے ورکولو. داسے معلومیږي چه مولانا خان محمد په آخرینی عمر کښې د تیراه تیزئ نومے کلي ته په کډه تلے وو. او هلته یئے دا نامور ځوئ پیدا شوے وو.

---

[302] دا کلے د حضرت شیخ رجکار کاکا صاحب سهروردي د یو مشهور خلیفه حضرت شیخ شادي خان په نوم آباد شوے وو. او هر کله چه د ده اولاد پکښې آباد وو. ځکه په شادي خیل نامه یادیږي. حضرت مولانا محمد د دغه شیخ شادي خان په اولاد کښې وو.

حضرت اخندزاده محمد فیض الله ټول دیني علمونه د خپل والد ماجد نه په درس لوستلي وو. او د یو ویشت کالو په عمر کښې یئې درجه د کمال او فضیلت حاصله کړے وه. او هر کله چه د علمونو د تکمیل نه فارغ شه. نو د باطني علمونو او معرفت په طلب کښې شه. چونکه پخپله عالم وو. او د عالم او عرفان د ستانے عزتمند بزرګ وو. په هر څومره پیرانو چه ګرځیدلو تسلي به یئے نه کیدله. روایت دے. چه د یو بزرګ شهرت یئے واوریده. ورغے. هغه بزرګ په نمانځه ولاړ وو. لیکن پښے یئے دومره ارتے ایښے وے. چه د دواړه قدمونو تر منځ یئے یوه لویشت فاصله وه. د دے حال په لیدلو او واپس شه. د هغه بزرګ ملاقات ته حاضر نه شه. او دا یئے اوویل چه کوم پیر پخپله د شریعت خلاف دے. هغة به چا ته څه هدایت اوکړی[303].

حضرت بابا فیض محمد په ځلمي توب کښې (د علم حاصلولو نه پس) په حکومتي فوځ کښې نوکر شوے وو. په دغه منځکښې رامپور ته لاړ. د نواب رامپور سره نو کر شه. هلته یئې د حضرت خواجه حافظ جمال الله سره ملاقات او شه. د هغوئ په نظر ثر سره د هغوئ د عقیدتمندانو په دائره کښې داخل شه. بیعت یئے ترینه اوکړ. بیا حضرت حافظ صاحب د دوئ تربیت خپل محبوب خلیفه خواجه

---

[303] د دے مسئلے د زیاتي تفصیل د پاره ملا خطه کړئ تذکره شیخ رحمکار بحث د "شیخ ګلنور" او کتاب "تذکره سعیدیه".

محمد عیسی ولي ګنډاپوري[304] ته حواله کړ. او بیا چه کله حضرت خواجه محمد عیسی ګنډاپوری ملتان ته روان شه. نو حضرت جمال الله به یئےپخپله تربیت فرمائیلو. په دے شان سره څلور کاله نور یئے د حضرت حافظ جمال الله په خذمت کښې تیر کړل نو هغوئ ورته اجازت ورکړ. چه اوس خپل وطن ته لاړ شه. وطن ته د واپس راتللو په دوران کښې یئې څه ورځے په مقام د ډوډه قیام فرمائیلےوو. او د هغه ځائ قاضي صاحب خپله لور بي بي ورله په نکاح ورکړے وه. دغه بال بچ یئے د ځان سره کړ. او په دے شان سره د اتلس کاله مسافرئ کولو نه پس خپل وطن تیراه موضع تیزئ ته تشریف راوړ. او دلته یئے د دیني علمونو د درس او تدریس او د معرفت او طریقت د علمونو د فیوضاتو سلسله شروع کړه. او د دوئ په برکت دا علاقه د شریعت. روحانیت او معرفت په انوارو رنړا شوله.

خواجه بابا محمد فیض الله به هر کاله د تیراه نه د خپل پیر طریقت خواجه محمد عیسی سلام له د ملتان "چوړه شریف" نومے مقام له تشریف وړلو. یو ځل چه د خپل پیر سلام له لاړ. نو د هغوئ نه یئے رخصت واخیست او د خپل مشر پیر طریقت حضرت حافظ محمد جمال الله سلام کولو له رامپور ته لاړ. پوره اوه کاله یئے د هغوئ

[304] حضرت خواجه محمد عیسی ولي په قام ګنډاپورے پښتون وو. د ملتان په چوړه نوم مقام کښې اوسیده په یو روایت د دغے مقام نوم ګنډا پور وو. په ۷، ذي الحجه ۱۲۲۰هـ وفات شوے دے.

په خذمت کښې تیر کړل. او بیا د هغوئ په اجازت سره واپس وطن ته راغے.

حضرت خواجه محمد عیسی ولي ګنډا پوری به د دے خپل نومور مرید او خلیفه سره ډیر محبت او شفقت لرلو. او د دوه ځله یئے د بابا محمد فیض الله د لیدلو د پاره تیراه ته تشریف راوړے وو. په تذکره سعیدیه کښې د دوئ د تیراه د قیام د دوران په سلسله کښې د ګنړو کراماتو په تفصیل سره سره ذکر راغلے دے. چه د هغے نه بعض نور معلومات هم په لاس راځی. یوه واقعه یئے داسے بیان کړے ده. چه یو ځل حضرت خواجه عیسی ولي تیزئ ته تشریف راوړے وو. بابا فیض الله ورته عرض اوکړ چه ځما یو عزیز دوست دے. د هغه محبت م د زړهٔ نه چاپیر دے. پریشان کړے یئے یم. د طالب علمئ په زمانه کښې مونږ یو ځائي سبق لوستلے وو. د هغه حضرت جي نوم دے. په پیښور شهر کښې اوسیږي. زړهٔ م غواړي چه د هغه ملاقات م اوکړلے". د دے سوال په آوریدلو په هغه وخه خو حضرت خواجه عیسی والي خاموش پاتے شه. لکن څه نیټه پس یئے بابا فیض الله ته او فرمائیل چه پاسه ځما سره روان شه. چه د کلي د آبادئ نه باهر اووتل. نو حضرت خواجه عیسی ورته اووئیل چه کښینه مراقبه شه. دواړه مراقبه شول. په دغه حال کښې څه ګوری چه دوه سړي راروان دي. چه رانزدے شول. هغوئ سلام اوکړ. دوئ ورپورته شول مصافحه یئے ورسره اوکړله. بابا محمد فیض الله چه وته اوکتل. په دغه دوه کسانو کښې یو کس

هم د ده د سبق ملګرے حضرت مولانا شیخ فضل احمد معصومي نقشبندي مجددي المعروف په حضرت جي صاحب علیه الرحمة وو چه په پیښور ښهر کښې اوسیده او دے د هغه دلیدلو ډیر مشتق وو. حضرت خواجه عیسی ورته اووے. د دے دویم کس سره هم مصافحه اوکړه. چه دے حضرت خضر علیه السلام دے.

د تذکرهٔ سعیدیه په دے روایت چه غور اوکړلے شي چه حضرت بابا فیض الله تیراهي او حضرت جي صاحب پشاوري دواړه هم درس طالبعلمان وو. او ورسره دا خبره هم یاده کړے شي چه حضرت جي صحب علیه الرحمة ټول دیني علمونه په سرهند کښې د خپل (د مور د طرف نه) نیکه محمد رسانه په درس لوستلي دي. او د ۱۱۷۳هـ نه روستو باقي پاتے درس یئے د حضرت مولانا میا محمد عمر د څمکنونه لوستلے دے. نو د دے له مخه دا خیال پیدا کیږي. چه په بابا فیض الله تیراهي رامپورته د تللو نه مخکښې څه زمانه په پیښور یا سرهند کښې هم تیر کړے وو. او د دیني علمونو فیض یئے حاصل کړے وو. بله دا چه د رامپور نه په واپسئ کښې یئے بیا د حضرت جي صاحب سره ملاقات نه وو شوے. اوزړه مینه یئے په زړهٔ وریدله. بله دا چه ددے روایت نه دا هم معلومیږي چه حضرت بابا فیض الله ته په نقشبندیه طریقه کښې هم نسبت حاصل وو.

حضرت بابا محمد فیض الله صاحب لفظ بزرګ وو. چه کومه خبره باندے به یئے خله او خوزیدل الله تعالی به هغه سر ته

رسوله. په زرګونو حاجتمندانه خلق به د خپلو مرادنو د پاره د دوئ خانقاه ته حاضریدل. او د هغوئ حاجتونه به الله تعالی پوره کول. چه آخر په ۱۲۳۵هـ کښې او په بل روایت په ۱۲۴۵هـ کښې د دے دنیې انه یئے سفیر او کړ. مزار مبارک یئے موضع تیزي کښې دے. او مرجع د خاص و عام دے. علیه الرحمة والغفران.

حضرت سید عبدالحکیم بخاري علیه الرحمة

ولادت
.... پیښور ۱۱۵۵هـ

وفات............................... ... کوجرکړهي، مردان ۱۲۳۶هـ

حضرت مولانا شیخ المشاءخ میا، اخوند سید عبدالحکیم بخاري علیه الرحمة په قوم باندې حسیني سید وو. د ده والد ماجد. د ده نیکه او ورپسې د دې خاندان پورتني ټول مشران نیکونه پشت په پشت د ولایت او کرامت خاوند لوي عالمان او سجاده نشین بزرګان تیر شوي دي. او د مغربي پاکستان په شمالمغربي علاقو کښې د دین اسلام کوم خذمت چه د دې خاندان بزرګانو کړې دې. او د ظاهري او باطني علمونو کوم فیوضات چه ددئ خواره کړي دي. هغه د دې ملک د تاریخ یو زرین باب دې.

د حضرت سید جلال الدین حسین المعروف په مخدوم جهانیان جهان ګشت بخاري علیه الرحمة په پنځم پشت کښې نیکه نوم حضرت سید ابو علي جعفر علیه الرحمة وو. چه په ۵۷۵هـ کښې وفات شوې دې. او مزار مبارک یئې په بخارا کښې دې. چه شجره د نسب یئې

داسې ده. سيد جلال الدين حيسن مخدوم جهانيان بخاري ابن سيد سلطان احمد كبير ابن سيد جلال الدين حسن الملقب په مير سرخ بخاري ابنسيد علي ابوالمؤويد (متوفي ۶۱۵هـ مزار بخارا) ابن سيد ابو علي جعفر عليه الرحمة. د دے حضرت سيد ابو علي جعفر يو ځوي سيد علي ابو الموید وو. چه د حضرت مخدوم جهانيان مشرنيكه وو. او د ديم ځوي يئے حضرت سيد عبدالغفور عليه الرحمة وو چه په حوار لسم پشت كښي د حضرت اخون ميا عبدالحكيم بخاري عليه الرحمة نيكه دے. او شجره د نسب يئے داسې[305] ده. حضرت مولانا اخوند سيد يار علي ابن سيد ابراهيم. ابن سيد حسين ابن سيد علي بلخي ابنسيد نا ظر ابن سيد شاكر محمد ابن سيد عبدالكريم ابن سيد نور الدين ابن سيد ابو الفتح ابن سيد عبدالغفور ابن سيد ابو علي جعفر. ابن سيد محمد ابوالفتح صفي الدين (متوفي ۵۱۹هـ) ابن سيد عبدالله (متوفي ۲۲-۳۵۲هـ) ابن سيد علي اشتر (متوفي ۳۲۱هـ) ابن سيد جعفر ثاني ابن حضرت امام علي نقي ابن حضرت امام محمد تقی ابن حضرت امام علي رضا ابن حضرت امام موسى الكاظم ابن حضرت امام جعفر صادق ابن حضرت الا مام الهمام محمد باقر. ابن حضرت امام زين العابدين ابن حضرت سيد الشهداء امام حسين ابن علي ابن ابي طالب رضوان الله تعالى عنهم اجمعين.

---

[305] شجره سادات جگر گړهي

حضرت سيد لعل محمد بخاري

د حضرت يا، سيد، اخوند عبدالحكيم بخاري عليه الرحمة نيکه يعني د پلار پلار حضرت سيد لعل محمد عليه الرحمة په ننګر هاري نامه مشهور دے. چه په سلسله عاليه نقشبنديه کښې د حضرت مولانا شيخ حافظ عبدالغفور پشاوري قدس سره خليفه وو. او هم دا هغه نامور بزرګ حضرت شيخ سيد لعل محمد ننګر هارے دے. چه د بلوچستان د مشهور بزرګ حضرت ميا عبدالحکيم کاکړ ابتدائي تربيت يئے کړے وو. او بيا روستو يئے د زيات تربيت د پاره خپل پير طريقت شيخ عبدالغفور پشوري قدس سره ته ليږلے وو. مزار مبارک يئے په ننګر هار سميت مشرقي افغانستان کښې دے.

حضرت سيد يار محمد بخاري

د حضرت مولانا سيد لعل محمد ننګر هاري فرزند ارجمند او د حضرت ميا اخوند عبدالحکيم والد ماجد حضرت مولانا سيد يار محمد بخاري په يار محمد کابلي نامه مشهور دے او دسلسله عاليه نقشبنديه په مشاهيرو بزرګانو کښې د اوچتے مرتبے خاوند دے. د ظاهري ا وباطني علمونو فيض يئے د خپل والد ماجد او د هغوئ د پير طريقت مولانا شيخ المشائيخ عبدالغفور پشاوري نقشبندي څنے حاصل کړے وو. روستو د ننګر هارنه پيښور ښار ته راغلے او د لته استوګن شوے وو. په ديني علمونو کښې درجه د فضيلت ورته حاصله وه. لوئ فاضل

عالم وا کامل عارف وو. د علم عقاید او علم فقهه په موضوع د دوئ یو تحقیقي تصنیف ما (عبدالحلیم اثر) د طالب علمئ په ورځو کښې لیدلے وو. چه د دغے نه علاوه د علم فقهه په اکثرو کتابونو د دوئ حاشیے هم موجود دي. مزار مبارک یئے په پیښور کښې دے. علیه الرحمة والغفران.

حضرت مولانا اخندزاده سید عبدالحکیم بخاري علیه الرحمة د دغه جلیل القدر پلار او نیکه نامور فرزند وو. دیني علمونه یئے د خپل والد ماجدنه او ورپسے د حضرت میا محمد عمر د څمکنو علیه الرحمة نه لوستلي وو. او چه په علوم ظاهري کښې درجه د کمال ورته حاصله شوه نو د طریقت او معرفت سبقونه یئے په طریقه عالیه نقشبندیه کښې د حضرت میا محمد عمر علیه الرحمة د څمکنو نه آخیستي وو. ډیر عمر یئے د خپل پیر طریقت په صحبت کښې تیر کړے وو. او خرقه د خلافت یئے حاصله کړے وه.

مسعود گل پاسنے د دوئ په حقله لیکي[306]:

د ارنګ نقل کاندي میا عبدالحکیم
څمکنو کښې ډیر مدت ووم زۀ مقیم

دغه رنګ د اوین هم د اخندزاده عبدالحکیم یو بیان نقل کړے دے. چه د هغے

---

[306] کتاب مناقب د قاضي مسعود گل زمانه تالیف ۱۲۱۲هـ

نه د حضرت میا محمد عمر قدس سره د دوئ خصوصیت معلومیږي لیکي[307]:

ده ویل چه عبادت خانه خاصه وه
د انوار وه اسرار وخلاصة وه

خاد مان هم ورته ناست وو په حضور کښې په حضور د ده کامل فائض النور کښې

دلے نور شول مرخص د دغه ځایه
یو زۀ پاتے بل صاحب وو خوشنمایه

حضرت سید، اخوند عبدالحکیم بخاري د خپل پیر طریقت په اجازت سره د ضلع مردان موضع ګجر ګړهئ ته تشریف راوړے او دلته استوګن شوے وو. چه روستو هم دلته په ۱۲۳۶هـ کښې وفات شه. د دوئ د قیام په برکت سره ګجر ګړهئ د دیني علمونو د درس او تدریس مرکز ګرځیدلے وو. او چه په کوم جماعت کښې دوئ درس ورکولو. روستو بیا هغه د میا عبدالحکیم په جماعت مشهور شه. او تر ډیرے زمانے پورے د دیني علمونو د مشهور او بختور درسګاه حیثیت یئے لرلو. وجه یئے دا وه چه د دے دیني درسګاه استازان چه هغه پشت په پشت د حضرت میا عبدالحکیم بخاري د خاندان افراد وو. هغه یواځے عالمان نه وو. بلکه کامل عارفان هم وو. او په دغه وجه د هغوئ په درس کښې یو خاس قسمه اثر او برکت وو. دا دومره بختور جماعت دے. چه کومو طالب علمانو په دے کښې درس لوستلے

---

[307] کلیات د ادین صفحه نمبر ۲۲۷

دے. هغه پخپله زمانه د علمي فضیلت او شهرت وچتے مرتبے ته رسیدلے دے. بلکه په دے نزدے زمانه کښې حضرت شیخ المشائیخ اخوند عبدالغفور المشهور باباجي صاحب د سوات شه. یا مولانا پائینده محمد عثمان خیل مهمند[308] شه. چه دے دوارو هم په دے جماعت کښې درس لوستلے دے. لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه. د حضرت میا عبدالحکیم بخاري د وفات نه روستو د ده په اولاد او نمسو کښې هم د اسلام د ظاهري او باطني دوارو علمونو د درس او رشد او هدایت دا سلسله پاتے شوي وه. او ډیر لوئ بزرګان او فاضل عالمان پکښې تیر شوي دي. او د دیني علمونو د قلمی کتابونو یوه لویه ذخیره یئے روستو راتلونکو نسلونو ته پریښې ده چه د هغے نه د خدائي مخلوق ته لوئ فیض رسیدلے دے. او په خصوصیت سره ما (عبدالحلیم اثر) ترینه ډیره فائده اوچته کړي ده. جزا هم الله خیر الجزاء.

هر کله چه د بخاري سادات و ددے خاندان کورني د مغربي پاکستان په نورو علاقو کښې خوره شوي نه ده. په غیر د هغه خاندانونه چه په افغانستان کښې. یا په دے کلي ګجر کړهی کښې آباد دي. په دے وجه د حضرت میا عبدالحکیم بخاري نقشبندي قدس سره د اولاد یوه مختصره شان شجره دلته راوړلے شي. چه د دے په ذریعه به د دے

---

[308] د ضلع مردان مشهور قومي شخصخیت نواب عبدالمتین خان مهمند مرحوم د دوئ فرزند ارجمندو.

مبارک خاندان د روستو زمانے د بعض نامورو بزرگانو حالات هم معلوم کړلے شو.

د حضرت مولانا سید. اخوند عبدالحکیم بخاري د ځوئ نوم سید عبدالرحیم وو. چه د هغه د ځامنو نومونه دا دي.

(۱) سید میر غیاث الدین چه بیا د ده د ځوي نوم سید حسن وو.

(۲) سید معظم الدین. چه د ده د ځوي نوم سید حمید شاه وو. او بیا د هغه د وه فامن وو. سید غني شاه. سید احمد شاه.

(۳) سید میر حبیب الله چه د هغه د ځوي نوم سید افضل شاه وو. چه په تور میا مشهور وو. او بیا د هغه پنځه ځامن وو. سید احمد سید فضل احمد سید ابوبکر. سید عبدالله. سید محمد.

(۴) سید حمید چه د هغه د ځوي نوم سید محمد عمر وو. او بیا د هغه شپږ ځامن وو. سید ابو القاسم. سید رسول. سید عبدالله. سید غلام محمد سید شاه رسول. سید محسن شاه.

(۵) سید محمد عیان د هغه د ځوي نوم وو. سید زرشاه د هغه د ځوي نوم وو سید علي. او بیا د هغه دوه ځامن وو. سید ولي. سید خان

ولي. په دوئ کښې بیا د سید احمد ولد سید فضل شاه ولد سید میر حبیب الله دوه ځامن وو.

(الف) علي احمد چه بیا دهغه درے ځامن وو. فضل رحیم. فضل دیان. فصیح اللسان. په دوئ کښې د سید فضل د یان د خوي نوم سید حبیب الرحمان دے چه ځما ډیر مشفق دے.

(ب) غلام حبیب چه بیا د ده پنځه ځامن وو. سید محمد امین. سید روح الامین سید نصر الله. سید سعد الله. سید عبدالمفتاح. چه په دوئ کښې سید روح الا مین نن ورځے قاضي شریعت دے او فاضل عالم دے.

حضرت ابوبکر علیه الرحمة

په دوئ کښې حضرت مولانا سید ابوبکر ابن سید فضل شاه ابن سید میر حبیب الله د دے مبارک خاندان په روستنو مشرانو کښې لوئ فاضل عالم او کامل عارف وو. په ۱۳۰۹هـ کښې یئے په مقام د بمبئ (بهارت) دحضرت سید محمد صالح قادري جیلاني نه په سلسله عالیه قادریه کښې بیعت کړے وو. حضرت موصوف چه ورله د اجازت کوم لیکلے سنه ورکړے وو. د هغے د اول سر او روستی سر یو څو جملے دلته درج کوؤ چه د دے نه د حضرت سید ابوبکر علیه الرحمة د مرتبے

د لوئ والي اندازه لګول آسان شي. فرمائي:

هذ شجرة اصلها اصيل و فرعهانبيل د حاملهار جل جليل استل الله ان يرزقه الا استقامة بحرمة سيد نا محمد المهبط عليه الوحي والتنزيل امضيتها والقدتها و انا افقرالورى و خادم الفقراء السيد محمد صالح القادري الجيلاني.... اما بعد فان الرجل الصالح الكامل المقبل على مولاه المعرض عمن سواه الراغب في دارا لا خرقه الدرويش سيد ابو بكر ابن سيد فضل شاه مرحوم جاء الينا بعد قدو منافي ولاية بمبئ (من الهند) وطلب واتمس منا الد خول في سلك الطريقة القادرية فرايته رجلاً صالحاً فلقنته كلمة التوحيد بادلة واضحة عن شيخي والدي السيد الشيخ خميس القادري رحمة الله عليه.

په هغه زمانه چه هر څومره د مذهبي احکامو فتوي په برصغير پاک و هند کښې چاپ شوے دي. په هغے کښې په اکثرو باندے د حجرت مولانا شيخ ابوبکر عليه الرحمة مهراو دستخط موجود دے. ياد ده د مشرور مولانا سيد احمد المعروف په "ميا صاحب د ګوجر ګرهئ مهر او د ستخط دے.

عليهم الرحمة والغفران.

حضرت شيخ سچل سرمست

ولادت

....

موضع درازه سندھ١١٥٢ ھ

وفات...................................

... موضع درازه، سندھ ١٢٤٢ھ

د وادئ سندھ په بزرګانو کښې د حضرت "سچل سرمست" نوم ډېر زيات مشهور دے. د ده اصلي نوم عبدالوهاب او سچل يئے شاعرانه او عارفانه لقب دے. او چونکه دے يو مجزوب سالک او عارف وو. په دے وجه د "سچل سرمست" په تعريفي لقب سره ياد شه.

د ده د پلار نوم حضرت ميا صلاح الدين عليه الرحمة وو. او د نسب سلسله يئے په يو روايت په پنځه دير شم او په بل روايت په اته دير شم پشت کښې حضرت سيدنا امير المؤمنين عمر فاروق رضي الله عنه ته رسيږي. په دے وجه د دوئ د نوم سره "فاروقي قريشي" ليکلے شي. د حضرت "سچل سرمست" په نيکونو کښې حضرت شيخ شهاب الدين محمد بن عبدالعزيز بن عبدالله ابن امير المؤمنين عمر فاروق رضي الله عنه په ٩٣ھ کښې وادئ سندھ ته د جهاد د پاره راغلے وو. وئيلے شي چه حضرت شهاب الدين محمد فاروقي د مشهورو مجاهد محمد ابن قاسم فاتح سندھ سجره د سندھ په

جهادونو کښې ملګرے وو. د سندهـ د فتح کیدلو نه یئے روستو دے د سیوستان (سیوهن) حاکم کړے وو. او په ۹۵هـ کښې وفات شوے دے. چه مزار مبارک یئے په سیوهن کښې دے. د حضرت شهاب الدین محمد د وفات نه روستو د دوئ دا خاندان هم په دے علاقه کښې آباد پاتے شوي وو.

د غزنوي بادشاهانو په زمانه کښې چه سندهـ د مغوئ د حکومت په تصرف کښې راغے نو د دے خاندان مشرانو له په دے علاقه کښې جاګیرونه ورکړي شوي وو. څه زمانه پس د دے خاندان دوه مشران (۱) حضرت مخدوم ابو سعید او (۲) حضرت مخدوم بدر الدین د سیوهن نومے علاقے نه په کله را اوچت شول. ګاکړی نومے ځائے کښې آباد شول. په دوي کښې د حضرت مخدوم ابو سعید په اولاد کښې حضرت میا محمد حافظ نومے مشر بزرګ د ګاکړی نه ولاړ شه. د ضلع خیر پور میرس تعلقه کمبټ په دروازه نومے کلي کښې آباد شه. دغه میا محمد حافظ علیه الرحمة روستو د میا صاحب ډنه په لقب سره مشهور شوے وو. د دوئ دوه ځامن وو. د مشر نوم میا صلاح الدین وو. او د کشر نوم میا عبدالحق وو. چه په دوئ کښې دغه میا صلاح الدین علیه الرحمة د حضرت میا سچل سر مست والد ماجد وو.د دوئ دا خاندان د سلسله عالیه قادریه بزرګان او سجاده نشینان وو. په دے طریقه کښې د بیعت کولو او مریدانو نیولو اجازت ورته حاصل وو. او چه هر کله حضرت میا محمد حافظ

المعروف په صاحبډنه وفات شه. نو دهغه په ځاي د هغوئ کشرے ځوي حضرت میا عبدالحق علیه الرحمه سجاده نشین شوے وو.

حضرت میا سچل سر مست علیه الرحمة په ۱۱۵۲هـ مطابق ۱۷۳۹ء کښې په موضع درازه ضلع خیر پور میرس کښې پیدا شوے وو. د حجرت حافظ عبدالله قریشي صدیقي نه یئے قرآن مجید حافظ کړے وو. او ورپسے د علم قرات یئے هم د هغوئ نه حاصل کړے وو. بیا د هغه نه روستو د خپل تره میا عبدالحق علیه الرحمة نه یئے د عربئ او فارسئ او تصوف کتابونه اولوستل او چه د تعلیم نه فارغه شه. نو خپل تره ورله په قادریه طریقه کښې بیعت ورکړ. خلیفه او ماذون یئے کړ.

د حضرت سچل سر مست نیکه حضرت میا محمد حافظ المعروف "صاحبډنه" او حضرت شیخ عبداللطیف بهټائي دواړه یوه زمانه وه. او د دوئ دواړو تر منځه ډیر خواږه تعلقات وو. تر څو پورے چه حضرت میا صاحبډنه ژوندے وو. نو حضرت شاه عبداللطیف بهټائي به د هغوئ د لیدلو د پاره موضع درازه شریف ته راوړلو. چه څه وخت حضرت میا صاحبډنه وفات شه. او د هغه په ځاي باندے حضرت میا عبدالحق سجاده نشین شه نو حضرت شاه بهټائي د خپل زوړ تعلق مطابق د دوئ د ګدی نشین کیدلو په زمانه کښې هم موضع درازه ته تشریف راوړے وو. په دغه موقع چه حضرت میا عبدالحق صاحب د حضرت مولانا شیخ عبداللطیف بهټائي

په خدمت کښې د دعا د پاره خپل واړه ماشومان پیش کوؤل. نو په هغے کښې خپل ماشوم وراره عبدالوهاب (سچل سرمست) هم پیش کړلو. چه د حضرت شاه بهټائي په عبدالوهاب (سچل سرمست) هم پیش کړلو. چه د حضرت شاه بهټائي په عبدالوهاب باندے نظر اولګیده. نو ارشاده یئې ورته اوکړله او بیا یئے او فرمائیل:

"مونږ چه کوم دیګ پوخ کړے دے. دا بچے به د هغے سر پوش پورته کړي."

چنانچه روستو د حضرت شاه بهټائي قدس سره دغه پیشین کوینئ رښتیا شوه. او کوم پیغام چه شه بهټائي دنیا ته رسوؤل غوښته. هغۀ نور هم په ډیر وضاحت اوښکلے طریقه سره حضرت مولانا شیخ سچل سرمست قدس سره هر یو خاص او عام ته اورسولو. او په ډیر ښه طریقه سره یئے عام کړلو.

په دغه منځ کښې چه څه وخت حضرت شاه عبداللطیف بهټائي قدس سره وفات شه. نو د هغوئ په ګدئ باندے حضرت میا سخي قبول محمد ګدی نشین شوے وو. په دغه زمانه کښې حضرت سچل سرمست د څوار لس کالو په عمر وو. د میا قبول محمد علیه الرحمة په خذمت کښې حاضر شوے وو. او د هغوئ نه یئے د عربئ او فارسئ بعض کتابونه لوستلي وو. بیا پرے د خداي پاک د مینے او محبت جذب او استغراق غلبه کړے وه. ځنګلونو او خوشے صحرا ته وتلے وو. او ډیر سخت ریاضت او مجاهدے یئے شروع کړي وي.

د حضرت مولانا سچل سرمست عادتونه د ابتداء نه داسې وو. چه د خلقو نه به يئې کناره خوښوله. اکثر به ايکي يواځې ځنګل ته اووتلو. د خدائي عبادت به يئې کولو. ډير نرم او نازک زړهٔ خداي ورکړې وو. اکثر به يئې د سترګو نه اوښکې بهيدلې. ډيرې ساده جامې به يئې اغوستلې. د سپين رنګ جامې يئې زياتې خوښې وې. جامه به يئې سپينه خامتائزه وه. اکثر به روژه وو. د جوارو سکړک او د خپلو، بزوپئ دغه د ده خوراک وو. ډيره زمانه يئې واده نه کولو. آخر د خپل تره. استاذ او پير طريقت ميا عبدالحق عليه الرحمة لور بي بي يئې په نکاح کړله. د هغې نه يئې يو ځوئ شوې وو. چه "نياز علي" نوم يئې وو. او په ورکوتې والي کښې وفات شوي وو.

حضرت مولانا شيخ سچل سرمست عليه الرحمة د قادريه طريقې پيروکار وو. ليکن د ده په عرفاني او تصوفي انکارو باندې د حضرت شيخ اکبر محي الدين ابن عربي عليه الرحمة د "وحدت الوجود" او "همه اوست" د نظر يئې ډير زيات اثر وو. او د ده تول کلام د دغه نمونې افکارونه ډک دې. او پخپله به اکثر په جذب، مستئ او استغراق کښې وو. او په خصوصيت سره د خپل پير مولوي عبدالحق سره يئې بې دريغه مينه وه. او هم په دغه عالم د استغراق کښې به يئې شعرونه وئيل. چه هغه به د دوئ مقتقدانو او مريدانو ليکل. چه کله به دې په هوش کښې راغې. او هغوئ به ورته د ده شعرونه واوره ول نو ورته به يئې

وئيل."بابا زۀ څه خبر يم وئيونکي به وئيلي وي.

څه زمانه پس د ده د اشعارو پورته ديوان جور شه. چه مردانو ورته اوښوده نو دوئ هغه روغ ديوان راواخيسته او په اوريئے اوسيزلو. او هغوئ ته يئے داسے فرمائيل:

"يو صوفي چه د استغراق او مدهوشئ په حالت کښې څه اووائي هغه د دين په لاره کښې دليل ن شي ګرځيدلے. هغه د عامو خلقو د پوهے نه اوچتے خبرے وي. په دے وجه عوامو د هغے لوستل نه وي پکار. هسے نه چه په ناپوهتيا سره د شرعيت د حقے لارے نه ګمراه نه شي."

د حضرت مولانا سچل سرمست د دے واضحه بيان نه موندږ له په دے پوهيدل پکار دي. چه د دوئ په اشعارو کښې چه کوم د "وحدت الوجود" مطالب بيان شوي دي. هغة د دوئ هغه افکار دي چه هغه يئے د استغراق په حالت کښې وئيلي دي. عوامو له په هغے پسے تلل يا د هغے په نمونه خبرے کول نه دي پکار. بلکه د ظاهري شريعت د احکامو پيروي پکار ده.

د دغې پورتنۍ واقعې نه یعنی چه هر کله حضرت سچل سرمست د خپلو اشعارو دیوان په اوربانده اوسوزولو. د هغې نه روستو د دوئ عقیدت مندانو به پټ پټ د دوئ کلام راجمع کولو او هر کله چه دے وفات شه.ا و اشعار یئے او شمارلے شول نو هغه په شماره بانده نهه لکهه شپږ شپیته زره شپږ د پاسه شپږ سوه (۹۰۶۶۶۰۶) اوختل. چه نن په دغے کښې دیره لږه حصه پاتے ده.

حضرت مولانا شیخ سچل سرمست علیه الحمة ځلورو ژبو سندهي فارسی. اردو. سرائیکي (ملتاني) کښې شاعري کړے ده. په فارسی اشعارو کښې به یئے تخلص آشکارا، خدائي. او په سندهي. اروو. سرائیکي ژبو کښې به یئے سچل ، سچو. سچډینو تخلصونه کؤل.

لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوله. د ده په کلام کښې د عرفان و حقیقت بیانونه دي. د بیان طرز یئے ساده او اثر ناک دے. او کوم حقائق او معارف چه حضرت شاه بهټائي علیه الرحمة بیان کړي وو. د هغې شرح او تفسیر یئے په ډیره ښه طریقه سره کړے دے. د فارسئ ژبے د اشعارو مجموعه یئے د "دیوان آشکارا" په نوم چاپ شوے دے. دا کتاب د ریاست خیر پور سابق حکمران میر علي مراد خان چاپ کړے وو. د دغے نه علاوه د دوئ د فارسی ژبے نور کتابونه لکه (۱) داز نامه (۲) قتل نامه (۳) رهبر نامه (۴) گداز نامه (۵) قار نامه (۶) مرغ نامه (۷) وحدت نامه شول.

دا کتابونه يئے لاتر اوسه پورے نه دي چاپ شوي.

مرزا علي قلي بيګ د څو کاله پرله پسے کوشش نه روستو د دے جليل القدر سندهي عارف د "سندهي او سرائيکي" ژبو کلام يو ځائي راغونډ کړے وو. او په ۱۹۰۲هــ کښې يئے د "رساله سچل سائي" په نوم سره د سکهر په مطبع ميسرز هري سنګهــ کښې چاپ کري وو. چه په هغے کښې ورسره د دوی حالات هم درج دي. د تبرک په طور د دوئ د اردو او فارسی کلام د نمونے په طور يو څو اشعار دلته درج کړولے شي. فرمائي:

اے بجزدرگاہ احمد راہ نیست گرنمَ دافی دلت آگاہ نیست

آن کہ در احمد احد دانست فرق درجہ اور اقنافی اللہ نیست

جز محمد نیست در کون و مکان جز علی دیگر کسی ہمراہ نیست

گر کسی را عشق او دامن گرفت با لیقین دافی کہ آن گمراہ نیست

پکڑ کر تیغ لاہوتی سر میدان آونگا گلی اب چوڑ دلبر کی طرف دبگر نہ جاونگا

دوتی کا دین باطل کر نکل باہر مذاہب سے حکم یہ ایک ایکا ک بہر جا میں چلاونگا

او هم دغه د روحاني تړون او "روحاني رابطے" درس وو. چه حضرت مولانا شيخ

عبالوهاب سچل سر مست قادري علیه الرحمة په پوره جذبه او مستئ سره د خداي مخلوق ته ورکړ. او د پاکیزه روحاني ژوند تیرولو نه پس په ۱۴، تاریخ د رمضان المبارک ۱۲۴۲هـ د ځلور نیمو شلو کالو په عمر کښې وفات شه مزار مبارک یئے د وادئ سندهـ په ضلع خیر پور کښې د قصبه راني پورته د یو میل په فاصله په موضع "درازه" (د رازن) کښې دے. او مرجع د خاص و عام دے.

عالیه الرحمة والغفران

حضرت سيد احمد شهيد بريلوي عليه الرحمة

ولادت

.... رائيے بريلي ۱۲۰۱هـ

وفات.................................. بالاکوټ ۱۲۴۲هـ

حضرت سيد احمد شهيد بريلوي عليه الرحمة په ۶،صفر ۱۲۰۱هـ مطابق ۲۹، نومبر ۱۷۸۶ء کښې په رائي بريلي نومے ښهر (صوبه اودهـ) کښې پيدا شوے وو[309]. کورنئ يئے په تقوی او بزرګئ سره مشهوره. روحاني اثر و رسوخ يئے د اودهـ نه تر ميسور او سرنګا پټم علاقو پورے خور وو. تر دے چه حيدر علي او ټيپو سلطان هم د دوئ په عقيدتمندانو کښې شامل وو.

د ولی الله خاندان دے ځلانده ستوري يعنے سيد المجاهدين سيد احمد شهيد ابتدائي تعليم په راي بريلي کښې حاصل کړے وو. د هغے نه پس دهلي ته راغے. د حضرت شاه عبدالعزيز ابن شاه ولي الله محدث دهلوي په خذمت کښې حاضر شه. هغوئ

---

[309] په کتاب تاريخ يوسفزائے صفحه نمبر۳۳۵ کښې او په اوليائے کرام کښې د دوئ د پيدائش تاريخ ۲۹، نومبر ۱۷۸۶ء ليکلے شوے دے.

ترینه د حال احوال تپوس اوکړ. اویئے پیژانده چه جو هر قابل دے. د لوړ عزم او ارادے مالک ځلمے دے. او حضرت شاه ولي الله چه د حکومت الیه د قیام د پاره د کومو مجاهدینو ځلمو نښے نښانے بیان کړے ویے هغه یئے د دے نیکبخته ځلمي په تندی کښې ملا خطه کړلے. نو ډیره مینه یئے ورسره اوکړل. او بیا یئے د دوئ د تعلیم او تربیت کار خپل رور حضرت مولانا شاه عبدالقادر علیه الرحمة ته اوسپاره. هغوئ د ده تعلیم او تربیت په ډیره ښه طریقه سره اوکړ. او په ۱۲۲۲هـ مطابق ۱۸۹۰ء کښې یئے د حضرت شاه عبدالعزیز قدس سره نه په نقشبندیه. قادریه. او چشتیه طریقو کښې بیعت اوکړ او خرقه د خلافت یئے حاصله کړه. دوه کاله پس په ۱۲۲۴هـ مطابق ۱۸۱۱ء کښې د دهلي نه روان شه. د فوځي زده کړي او تربیت د پاره د نواب امیر خان سلارزی والي ریاست[310] ټونک (راجپور تانه) په فوځ کښې بهرتي شه.اوه کاله یئے د نواب په لښکر کښې تیر کړل. او بیا چه په ۳۰-۱۲۲۹هـ مطابق ۱۸۱۶ء کښې نواب امیر خان د انګریزانو سره صلح اوکړه نو سید صاحب ترینه جدا شه. ملازمت یئے پریښود. او واپس دهلي ته راغے.

په دغه زمانه کښې د مغلو د حکومت زور ختم شوے وو. ټولے صوبے د دهلي د مرکزي حکومت د لاس نه وتلے او جدا شوے

[310]نواب امیر خان په اصل د علاقه بنیر ریاست سوات د جوړ نومے کلي اوسیدونکے وو. او په قام سلارزے وو.

وي. ځاي په ځاي خانه جنګۍ وې او د بد نظمۍ دور دوره وه. يو طرف ته په ميسور کښې د حيدر علي او ټيپو سلطان صا لح جماعت د مرګ په خوب او ده شوې وو. بل طرف ته مرهټيان د ملک په لويه حصه يو ځل بيا راخواره شوي وو. ناتار يئې جوړ کړې وو. د يخوا ته په پنجاب کښې د سکهانو د لاسه ټول ملک اړې ګړې وو. په اودهـ کښې شجاع الدوله په دکن کښې نظام. په بنګال. بهار اواړيسه کښې علي وردي خان بيل بيل د حکمرانۍ سندې وئيلې.د على وردي خان د وفات نه پس انګريزانو د بنګال. بهار. اړيسه ټولي علاقې داسې را لاندې کړې. چه روستو هم دغه علاقې په هندوستان کښې د انګريزانو د مونځ لګيدلو د پاره مرکز اوګرځيدلې. د دې سياسي پس منظر نه دا اندازه په آسانه لګيدلې شي چه د سيد احمد شهيد د پيدايش نه شل ديرش کاله وړاندې پيرنګيانو په هندوستان کښې پنجې ښخې کړې وې. د مسلمانانو د مرکزيت ختم کيدلو نه پس په مسلمانانو حکمرانانو د ابلا پريوتلې وه چه هر يو د بل ګريوان ته لاس اچولې وو. په داسې حالاتو کښې چه د سيد صاحب د چانه د څه نه څه مدد طمع کيدلې شوه. هغه د ټونک پښتون حاکم امير خان وو. او چه هغه هم د انګريزانو د سياسي ډپلو ميسۍ ښکار شه. نو سيد صاحب د پاره په غير د جدا کيدلو نه بله څه لار پاتې وه. په دغه وجه د ټونک نه دهلي ته او بيا د هغه ځاي نه رائي بريلي ته راغلې وو.

د هندوستان چه په دغه زمانه کوم سياسي حالت وو. پورته د هغے مختصره خاکه راکښلے شويده. د دے مضبوط غير مسلم طاقتونه سکهان مرهټه او نګريزان د مسلمانانو د وړو، لويو حکومتونو په ختم کولو اړم وو. او د جنګ ميدان ګرم وو. په داسے حالت کښې د حضرت سيد احمد شهيد دا خيال بالکل صحيح وو. چه هندوستان دا وخت دارالحرب دے. د غزا کولو ځائي دے. په هر مسلمان جهاد فرض دے. او د عام جهاد د پاره عام مسلمانان تيارؤل پکار دي. هم په دے خيال حضرت سيد احمد شهيد د دهلي نه رائيے بريلي ته راغلے وو. رايءے بريلي په دغه زمانه د روهيله پښتنو مرکز وو. د دغے نه مخکښې روهيله مشاهيرو نمازيانو لکه حافظ رحمت خان او نجيب الدوله د غازي احمد شاه ابدالي په ملګر تيا کښې د اسلام په ننګ جهادونه کړي وو. او د مرهټه وو متحده طاقت له يئے شکست ورکړے وو. هغه جهاد له غازي احمد شاه ابدالي راغلے وو. او د راتللو يو لوي باعث يئے دا وو. چه حضرت شاه ولي الله دهلوي عليه الرحمة ورته درد ناک خطونه ليکلي وو. چه په هند کښې په اسلام او مسلمانون سخت ساعت جوړ شوے دے. د اسلام د سر لوړئ په خاطر توره تر ملا کړه او را اورسيږه. او دا پيره چه په هند کښې په اسلام او مسلمانانو باندے بيا سخت ساعت راغلے وو. نو د ولي الله مکتبه فکريو الو العزم شاګرد سيد احمد شهيد په رائي بريلي کښې راپورته شه. چه روهيله

غازيانو شاه ځلمو ته يو ځل بيا د جهاد د پاره غبږ اوکړی. د روهيلکنډ نه تر روره روادۍ پيښور اورسيږي. او د غه شه ځلمي يو ځل بيا د غزا ميدان ته را اوباسي.

سيد احمد شهيد راغے. يو عکسري نظام يئے جور کړ. مسلمانان يئے جهاد ته راپورته کړل. ميدان ته را اووتل. او د بهار په ملک کښې ترپټنه نومے ښهر اورسيدل. دلته د دوئ تحريک ته مقبوليت حاصل شا. مريدان يئے رو په رو زياتيدل. چه طاقت يئے او منډ نو عالمان يئے مقرر کړل. چه د صاحب حيثيت خلقو نه ټيکسونه وصول کړی. او د جهاد د تيارئ سامان پرے اوکړلے شي. مولوی عنايت علي. مولوی محمد علي. مولوي فرحت علي يئے دلته خپل نائبان او شاه محمد حسين يئے خپل خليفه اعظم مقرر کړل. چه ورځے پس يئےد حج بيت الله اراده اوکړه. او په مياشت د شوال ١٢٣٦هـ مطابق ٣٠، جولائي ١٨٢١ء کښې د حج بيت الله د پاره روان شه. د حض د دے مبارک سفر نه د بمبئ په لاره په ٢، تاريخ د صفر المظفر ١٢٣٩هـ کښې واپس کلکتے ته را اورسيده. د هغه ځائ نه رای بريلي ته رارروان شه. او په دے شان سره دوه کاله لس مياشتے پس په ٢٩، شعبان ١٢٣٩هـ مطابق ٢٩، اپريل ١٨٢٤ء کښې خپل وطن ته را اورګرځيدو. او په حقيقت کښې د دغے ورځے نه روستو د دوئ د ژوند هغة باب شروع کيږي. چه په تاريخ کښې د "اسلامي جهاد" په نوم بللے کيږي.

دا کوم "دیني مهم" چه حضرت سید احمد شهید شروع کړے وو. خداي پاک ورله د دے د پاره د کامیاب جدوجهد کولو صلاحیت هم ورکړے وو. که یو طرف ته "سید شهید" فاضل عالم. فقیهه او مځدث وو. نو بل طرف ته بهادر تورزن ښه نشانچي. اعلی مفکر، مدبر، د نظم او نسق ماهر او د میدان جنګ یو بهترین جرنیل هم وو. او د ده سره چه کوم نامور ملګري وو. هغه هم لکه د ده په شان سخت جان وو. او سخت کوش وو. د لوږو تندو تیره ولو د سختو او نورو تکلیفونو تیره ولو یئے پروا نه وه. سر او مال هر څه یئے د الله په لاره کښې قرباني کړي وو. په دے نمونه چه د "داعیان اسلام" کومه ډله یئے تیاره کړے وه. د هغے سر خیل حضرت مولانا شاه محمد اسماعیل[311] او حضرت مولانا عبدالحئ علیهم الرحمة وو. او په دے شان د دین د تحفظ او د دین د تجدید یو نوے تحریک یئے شروع کړ. د اسلام جهنډه یئے اوچته کړه. او مسلمانانو ته یئے د جهاد دعوت ورکړ. په دے سلسله کښې په "جامع مسجد دهلي" کښې چه دوئ د جهاد

---

[311] حضرت سید اسماعي شهید حجرت شاه ولي الله نمسے وو. او د حضرت شاه عبدالعزیز وراره وو. د پلار نوم یئے شاه عبدالغني وو. په ۱۱۹۳هـ مطابق ۲۹، اپریل ۱۷۷۹ء کښې پیدا شوے وو. چه په ۱۷۸۹ء کښې والد ماجد یئے وفات شه نو خپل تره شاه عبدالقادر یئے پالنه کړے وه. او خپله لور یئے هم په نکاح ورکړے وه.د سید احمد شهید په ملګرتیا کښې په ورځ د جمعه ۲۴، ذي تعده ۱۲۴۶ء مطابق ۶، مئ ۱۸۲۱ء کښې شهید شه. د دے د سید احمد شهید نه بیعت کؤنکو کښې اولنے مجاهد مرید وو. او تر خري دمه یئے ملګرے وو. د خپل وخت فاضل عالم او ولي الله وو. علیه الرحمة والغفران . (اثر)

په اهمیت کوم تقریر کړے وو.[312] دغے یو یو لفظ نن هم په زړهٔ او روح کښې ایمان تازه کوي. او هر مسلمان دیته جوړه وي چه کفن د سرنه تاؤ کړی او د جهاد میدان ته ور او دانګی. او د بهارت په خاور د مسلمانانو پخوانے عظمت او شوکت بیا په لاس راولي. چه یو ځل بیا د هند په زمکه د اسلام دور دوران راشي.

د حضرت سید احمد شهید دغه کوشش کامیاب شه. د مجاهدینو یر جمیعت یئے تیار کړ. څو زره مجاهدین یئےد ځان سره کړل. او په اوم تاریخ د جهادي الثاني ۱۲۴۱هـ مطابق۱۷، جنوري ۱۸۲۶ء د جهاد په اراده یئے د ملک نه هجرت اختیار کړ. تونک ته راغے. بال بچ یئے د نواب امیر خان سلار زي سره پریښوده. او د شکار پور. کوئټه پشین. قدنهار. غزني. کابل او خیبر په لاره باندے په نومبر ۱۸۲۶ء کښې پیښور ته را اورسیده. او دلته د مختصر قیام نه پس چارسدے ته لاړ[313].

د جهاد د پاره د سرحد انتخاب

دا سوال ډیر اهمیت لري. چه هر کله حضرت سید احمد شهید د جهاد اعلان کړے وو. نو په دهلي. رائي بریلي. سرهند. دکن یا په بل کوم یو ځاي کښې یئے د جهاد شروع کؤلو بسم الله ولے نه کؤله. او د وسطي

---

[312] اولیائے کرام
[313] اولیائے کرام

هندنه په دومره لاره باندے وادۍ پیښور ته ولے راتاؤشه. د دے وجوهات څه کیدلے شي.؟ کومو خلقو چه د حضرت سید احمد شهید "سوانح عمرۍ" لیکلے دي. هغوي د دے سوالونو په جواب کښې دا وجوهات[314] بیان کړي دي.

(۱) په سرحد کښې مکمله آبادي د مسلمانانو وه.

(۲) د سرحد نه ښه مرچه بله نه شوه کیدلے.

(۳) د سرحد خلق ښه جانباز وو. د دوئ جذبات د سکهانو د لاسه مجروح شوي هم وو[315]. او په آساني د دفاع د پاره منظم کیدلے شول.

(۴) د سرحد خلق هغه خلق وو. چه د تاریخ د ابتداء نه یئے په میدان جنګ کښې خپله سکه کښینولے وه. او د زمانے جابر نه جابر حکمران هم په خپل اطاعت قبلولو رضامند کړی نه وو.

(۵) سید صاحب دا علاقه په دے خوښه کړے وه. چه د دے ځایے نه د جهاد د پاره انتظام په تسلی سره کیدلے شه. د دے ځایے خلق پخپله ټول مسلمانان وو. او په

---

[314] تاریخ یو سفزائے صفحه ۳۵۵
[315] تاریخ یوسفزائے صفحه ۳۵۶

شابانده شمالمغرباو مغرب طرف
ته تر لرے لرے پورے اسلامي
آبادئ وے. او د هغوئ نه د پوره
پوره امداد او مرستے امید هم
کیدلے شه فقط یو نمر خاته طرف
ته دښمن پروت وو. نو درے واړه
طرفه محفوظ وو.

په دے سلسله کښې بعض کسانو دا شک
ښکاره کړے دے. چه په دغه موقع سید احمد
شهید د پاره به دا ښه نه وه چه په اودهــ
کښې یئے د انګریزانو خلاف جهاد شروع کړے
وے. په دومره اوږد مزل د سکهانو خلاف
جهاد له ولے راته؟ د دے سوال د جوابد
پاره دغه کوم وجوهات چه پورته بیان شول
د هغے په روح او اصلي راز باندے ځان
پوهه کؤل پکار دي. د ښاغلي یوسفی صاحب
په قول په دغه زمانه په هندوستان کښې هر
طرف ته د سلطنت اسلامیه هندیه د ختم کولو
خواهش لرونکو تګ ودو جاري وو. او یوه
داسے ټوټه زمکه نه وه پاتے چه د جهاد
مرکزیئے ګرځلے وے او د هغه ځاي نه یئے
په اطمینان سره د مجادهدینو لښکرے هر
خواته لیږلے وے[316].په دے وجه اصلي سوال
دا نه وو چه د هند په اسلامي سلطنت باند
چه کومود درے غیر مسلمو طاقتونو
انګریزانو. مرهټه وو. سکهانو حمله کړے
ده. په دے کښې په کوم یو طاقت اول غزا
پکار ده. بلکه اصلي سوال دا وو. چه د
"مجاهدین اسلام" د پاره کوم ځاي مرکز

---

[316]تاریخ یوسفزایے صفحه نمبر ۳۵۶

جوړول پکار دي. او په دغه زمانه باندې د سرحد نه علاوه بل زيات موزون ځائ د مرکز جوړولو د پاره نه شه کيدلې. که مونږ د هغي زمانې د هندوستان په سياسي وضعيت باندې يو نظر واچوؤ نو معلومه به شي چه په هند کښې د مسلمانانو واړه او لوئ بې شميره رياستونه موجود وو. ليکن څرنګ چه مخکښې پرې بحث شويدې. تول د دښمن د ساز شونو په وجه چنګ ونګ شوي وو. او د هند په خاوره چه د پښتنو د مختلفو قبيلو افريدو. ورکزو. بنګښو. غرغشتو. غلزو. وزيرو. يوسفزو کوم رياستونه موجود وو. او په شمالي. وسطي. جنوبي هند کښې چه هر څومره پښتانه. سيدان او مغل آباد وو. په هغوئ کښې د نجيب الدوله او حافظ رحمت خان په شان مشر قايد نه وو پاتې چه دا ټول پرې راغونډ شوي وې. او د جهاد ميدان يې ګرم کړې وې. بيشکه دې ټولو مسلمانانو د جهاد ميدان ګرم کړې وو ليکن حالات داسې وو. چه د متحده اسلامي قوت" شکل يئې نه شه حاصلولې.

ځما خيال دې چه د سيد احمد شهيد او د هغه زمانې د هند د اسلامي مفکرانو او مدبرانو د اندازه وه . چه په هند کښ د مسلمانانو د دفاع طاقت فوري طور ختم شوې دې . روستو هر څه چه کيږي دا وخت د انګريزانو نه زياته خطرناکه حمله د سکهانو ده چه په هغه ملک ئې حمله کړې ده او بلکه را لاندې کړې ئې دې چه حغه د هند شمال مغربي سرحد دې. چرته چه هغه مسلمانان قبائيل آباد دي چه هم ددغه

قبائلو د متو په زور غزنويانو ، غوريانو، لودهيانو، غلزيانو، سوريانو، او ابداليانو د هند په زمکه د اسلام بيرغ او درولے وو. دا زمکه (چه نن ورځے د شمال مغربي پاکستان او افغانستان په نو مونو يادېږي) په هند کښ د اسلام بيرغ او دره ونکو مجاهد ينو پيدا کولو مرکزي زمکه وه مرکزي مور چه وه . او د مجاهدين اسلام زړه وو. او په هند کښ د اسلام د مستقبل د تحفظ ټول دارو مدار ددے علاقے په تحفظ وو. دا اهميت ئے د تاريخ په هغه دور کښ هم وو. چه غوري ابدالي سوري، لودهي او غزنوي ميړونه په هند ورتلل. بيا د تاريخ په هغه دور کښې هم وو چه سيد احمد شهيد په اودهـ: پيدا شه . که فکر او کړو په اوده کښ چه د اسلام کوم مجاهدين وو. هغه ټول هم د دے شمال مغربي پاکستان قبايل وو. او د سکهانو حمله ددے قبائلو په مرکزي مور چه سرحد باندے شوے وه. انګريزانو چه د مسلمانانو په کوم دفاعي طاقت حمله کړے وه د هغے دا سے مثال وو. لکه لاس او پښے پريکول . مګر سکهانو د مجاهدين اسلام په زړه حمله کړے وو. د زړه بچ کول زيات ضروري وو. د کوم ځاي نه چه د شاهين بچي راپورته کيږي. د هغه جالے تحفظ زيات ضروري وو. دا ضروري وه چه سکهانو له مخه اووهلے شي. د مسلمانانو دا مرکزي مورچه بچ کړلے شي. او په شمال مغربي پاکستاني علاقه کښ د مسلمانانو طاقت راجمع کړلے شي . نو ممکنه ده چه د هند په خاوره د سکهانو او

انګریزانو متحده طاقت له شکست ورکړلے شي. او په هندوستان کښ د مسلمانانو زوال مونډونکے طاقت بچ پاتے شي. اګر چه خدایئ پاک ته نور څه منظور وو. او د روستو راتلونکو واقعاتو نتیجے ددغه امیدونو په خلاف څرګندے شولے. سید احمد شهید چه د کوم نیک مقصد دپاره راغلے وو. د مسلمانانو دبے اتفاقي او خود غرضئي په وجه همه ګیر او کامیاب شکل ئے اختیار نه کړلے شه. په هر حال سید احمد شهید وادئ پیښور ته راغے او د اسلامي جهاد د یونوي باب آغاز ئے اوکړ.

اولنے جهاد

سید احمد شهید لا هیله چارسدے ته رارسیدلے وو. خبر رااورسیده چه د سکهانو لښکر د جرنیل بده سنګه په مشرئي کښ په دریائے کابل راپورے وتلے او په نو ښهره دیر شوے دے. سید احمد شهید دداسے بے سر وساماني په عالم کښ چه لا میلمه وو. ددے ملک د خلقو سره ئے پیژاندګلو نه وه. دخلقو په خوئی بوئی پوهه نه وو. بیا هم په خدائے باندے ئے توکل اوکړ . او سمدستي ئے د جهاد اعلان اوکړ.

روایت دے . چه په دغه موقع مجاهدین اسلام ټول په شماره باندے یو نیم زر کسان وو. پنځه سوه هندوستاني مجاهدین وو. دوه

سوه قندهاري مجاهدين وو[317]. او اته سوه کسان ورسره د هشنګر مقامي غازيان ملګري شوي وو. د چار سدے په ۱۹،دسمبر ۱۸۲۶ء نوښهر ته راغله. صلاح په دے راغله چه په سکهانو باندے شپے حمله اوکړلے شي. هر کله چه د "شب خون" فيصله اوشوه. نو د دے کار د پاره نهه سوه غازيان منتخب کړلے شول. او بيا دغة چنړ شوؤ غازيانو په ۲۰-۲۱ جمادي الاول ۱۳۴۲ه مطابق – ۲۰-۲۱ء دسمبر ۱۸۴۲ء دشپے چه دريم پار شه ، او د سکهانو په کيمپ کښ ګډيال او کړ لکيده نو غازيانو د الله اکبر نعره اوچته کړه. د سکهانو په مورچه ور اوختل او دا سے په شړق حمله ئے اوکړه چه د سکهانو نه ئے وار پار خط کړ. په ماتے ئے سرکړل[318].په دے جنګ کښ يو زر سکهان اووژلے شول او د مسلمانانو دو طرف نه شپږ ديرش هندي مجاهدين، شپږ څلويښت قندهاري مجاهدين او څه د سرحد مقامي غازيان شهيدان شوي وو. په دومره زيات تعداد کښ د مسلمانانو د شهادت وجه دا وه. چه هر کله د مسلمانانو د اولنئ چغے سره سکهانو ماتے اوکړ. تيښته ئے شروع کړه. نو مسلمانانو ورپسے

---

[317] سيد احمد شهيد چه څه وخت د بولان په لاره قندهار ته رسيلدے و.و نو د قندهار حاکم پخپله د دوئ استقبال ته راوتلے وو. درے سوه غازيان يئے سيد صاحب ته پيش کړی وو. چه په هغے کښې د قندهار علماء مشائيخ. سادات او نامور قومي سرداران شامل وو. د قنهدار د مجاهدينو دغه لښکر د جهان په مختلفو مرحلو کښې د سيد شهيد ملګري وو. او اکثر پکلې شهيدان شوي وو.

[318] په دے موقع د سکهانو د فوځ تعداد لس زره بيان شوے دے . چه ښه فوځي ساز او سامان ورسره وو. (اثر)

هپ اونه کړه په مال غنیمت راغونډه ولو شول او سکهانو له دساه اخیستلو او جوابي حملې کولو موقع په لاس ورغلےوه . او بیا روستو د میدان خالي کولو په وخت کښ مسلمانانو ته دغه جاني نقصان رسیدلے وو.

ددے جهاد د کامیابۍ په خواوشاه خلقو ښه اثر اوشه. چه هغوی به ډلے ډلے راتلل او د سید صاحب په لاس به ئے د جهاد بیعت کولو. او ددوی د اسلامي بیرغ د لاندے راجمع کیدل به ئے د دنیا او آخرت ثواب ګنړلو. په دغه زمانه چه کوم مشائخ او قومي سرداران وو. هغوئ هم د سید صاحب سره مرسته اختیار کړے وه. او د دوي په لاس ئے د جهاد بیعت کړے وو.لکه حضرت سید محمد امیر نقشبندي المعروف د کوټهي حضرت صاحب ، حضرت ګل بابا قادري [319]د مزار ډهیر، هشنغر حضرت اخوند حافظ عبدالغفور د سوات المعروف په "خون بیکي". خان احمد خان. کمال زايءے د هوتي، مردان. ښادي خان درانے دهنډ. خان محمد اشرف خان منډنړ د زیدے. ارباب فیض الله خان مهمند د هزار خواني. ارباب بهرام خان خلیل د بر تهکال. خان محمد خان د موضع شاهئ علاقه شولګره هشنغر. خان امیر محمد خان باجوړ. خان فتح خان خدوخیل د پنجتار. خان امیر خان خټک. خان مقرب خان خدوخیل دپنجتار وغیره شول. د دے قومي سردارانو. عالمانو او مشائیخو

[319]حضرت ګل بابا اوخان محمد خان دواړه دخپلو اتیاءو مجاهدینو ملګرو سره د شید و په غزا کښ شهیدان شوي وو.

په اثر او رسوخ. دعوت او تبليغ د وادئ پيښور يوسفزو. مند نړو. خټکو. خليلو. مهمندو. داؤدزو ترکلانو. ګګيانړو. مامون زو وغيره قبائيلو ملا او تړله[320]. يو قسم ته د جميعت شکل يئے اختيار کړ. د بنادي خان دراني مشوره باندے سيد صاحب د هنډ قلعه د جهاد مرکز مقرر کړ[321].

د شيد هوجنګ

د نو ښهر په مقام د دے شبخون نه روستو که يو طرف ته سکهان پخپله تيارى کښې مصروف وو. نو بل طرف ته سيد صاحب هم د راتلونکے غزا د پاره د مجاهديون لښکر تياره ولو. بے شميره مندنړ. يوسفزي. مامونزي. ګګيانړى. تر کلاني. داؤدزى خليل. مهمند. خټک شاه ضلمی د جهاد ميدان ته وردنګلو د پاره ملا تړلي ولاړ وو[322]. فتح خان د پنجتار. اشرف خان د زيدے. ښادي خان د هنډ او امير محمد خان د باجوړ. او نور قومي سردارانو د راتلونکے غزا د تيارئ د پاره شپه او ورځ په ځان يوه کړے وه. صلاح په دے شوي وه. چه اسلامي لښکر به په نوښهر راجمع کړي. د ملک د دستور مطابق د هر قام او قبيلے سره خپل خپل بيرغونه او نشانونه وو. په پښتنو کښې دا رواج دے. چه ميدان جنګ له روان شي نو خپل مخصوص قومي بيرغ به يئې په مخکښې روان دي.چنانچه د نو ښهر په زمکه

[320] مناقب "اخون صاحب سوات" صفحه نمبر۹ و نمبر ۱۰
[321] اولياءِ کرام صفحه۱۲۱ بحرالانوار صفحه۱۳۱
[322] تاريخ يوسفزاے صفحه نمبر ۳۵۸

سوؤنه قومي او قبائيلي بيرغونه لک شول. دغه ورځو کښې په پيښور د بارکزو سر دارانو حکمراني وه. د غازي احمد شاه ابدالي د سدوزی خاندان د زوال نه روستو خداي په دے ملک باندے دے کورنئ له اقتدار ورکړے وو. دوئ درے رونړه وو. يار محمد خان. سلطان محمد خان. پير محمد خان. يارمحمد خان او پير محمد خان په پيښور اوسيدل[323]. او سلطان محمد د چارسدے سره نزدے په بالا حصار او سيده. د تحصيل چار سده او پيښور په څه حصه علاقه د دوئ حکمراني وه. دوئ چه د سيد صاحب دغه د غزاتيارے اوليده. نو دوئ هم راغلل او د سيد صاحب په لاس يئے د جهان د بيت اوکړ. او د خپل فوځ سره د مجاهديونو په لښکر کښې شامل شول[324].

روايت دے چه هر کله يار محمد خان د شيد هو په دے جنګ کښې سره د خپل لښکر نه شامل شه او سکهان ترينه خبر شول. نو هغوئ په يار محمد خان دهپکه د هړکه او کړله. چه که د مجاهدينو امداد د اوکړ. نو د دے بدل به درنه واخيستلے شي. يار محمد خان په دغه د باؤ باند کهبراؤ شه. او واپس کيدلوته جوړ شه. ميدان جنګ ته چه اورسيدل نو د جنګ شروع کيدلونه يوه شپه مخکښې د هغه په صلا يو لنګري په ډوډئ کښې سيد صاحب له زهر ور کړل. سيد اسماعيل شهيد يئے په وخت دارو درمل

---

[323] دا بار کزی سرداران روستو په تاريخ کښې په "سرداران پيښور" نامه ياد شوي دي.
[324] اوليائے کرام او تاريخ يوسفزائے.

اوکړل. د مرګ نه بچ شه. لیکن سخت یئے کمزور یئے کړ. یار محمد چه پوهه شه. چه سید صاحب د مرګ نه بچ شه. نو بیا یئے د بل منافقت نه کار واخیست چه د سید صاحب د پاره یئے میدان جنګ ته د تللو د پاره هاتي ور اولیږه. غرض یئے دا وجو. چه میدان د جنګ کښې د سید صاحب په نښه کوؤل اوویشتل اسان شي. او پخپله یئے د جنګ په میدان کښې داسے مورچه اونیوله. یو خواته د تماشے کولو د پاره کشیناست چه هلته د جنګ د دارومږد کي تود بار هم نۀ رسیدۀ. بل خواته د زهر و د اثر په وجه د سید صاحب حالات ښه نه وو. بے هوشی ب پرے راتلله. مګر سره د دغے نه هغوئ او فرمائیل چه هر څنګه چه وي ما په هاتي باندے د جنګ میدان ته اورسوي. شاه اسماعیل د دوئ په خوا کښې روان شه. غازیانو چه سید صاحب په میدان جنګ کښې اولیده. نو د هغه مرانے نه یئے کار واخیست چه هر چاه پرے آفرین اووے. د سمے سردارانو او د پیښور د دراني فوځ عام شاه ځلمي کوم چه د دے سازش نه بے خبره وو. هغوئ ټولو په میدان جنګ کښې ښه مرانه ښکاره کړله. او نزدے وه چه غازیانو میدان ګټلے وے. چه په عین موقع باندے یار محمد خان د میدان جنګ نه تیښته شروع کړه. د ماتے کولو چغے یئے او کښلے. قدرتي طور په اسلامي لښکر کښې الغاؤ تلغاؤ جوړ شه. د سمے سردارانو هم حوصلے بائیللے او ګټلي جنګ په شکست بدل شه. دا جنګ په ۲۵، فروري ۱۸۲۷ء کښې شوے

وو. او د عمدة التواريخ د بيان مطابق د پهاګن د مياشتے څوالسم تاريخ وو. ديوان امر ناتهـ ليکي چه په دے جنګ کښې د سکهانو چه کوم نقصان شوے وو. هغه له حد او حساب نه زيات وو. ليکن غازيان پکښې شپږ زره شهيدان شوي وو. او دا وينه د يار محمد خان بارکزي په غلطئ توئ شوے وه[325].

راتلونکي واقعات

د شيد هو د جنګ نه وړاندے او روستو چه کوم واقعات پيښ شوي دي په هغے باندے په تاريخي ترتيب سره يو نظر اچول پکار دي. چه د دے تاريخي جنګ نه وراندے کومه داسے واقعه پيښه شوے وه. چه د هغے د اثراتو په وجه د شهيد هو په جنګ کښې د مسلمانانو شکست او کړ او بيا روستو هغے دومره تريخ والے پيدا کړ چه په نتيجه کښې يئے نور افسوسناک واقعات هم په ظهور کښې راغلل.

واقعات داسے دي چه د نو ښهر د غزا چه په۲۰/۲۱ جمادي اولال ۱۲۴۲هـ مطابق ۲۰/۲۱دستمبر ۱۸۲۶ء وشوه. نو د دغے نه دوه ويشت ورځے روستو په تاريخ۱۲، جمادي الثاني ۱۲۴۲هـ مطابق ۱۱، جنوري ۱۸۲۷ء د سرحد اکثرو عالمانو د سيد صاحب په لاس باندے د قانوني او شرعي امام او امير المؤمنين په حيثيت سره سيد صاحب د تول

[325] اولياﺋے کرام صفحه ۱۲۲

هندوستان عالمانو او رئیسانو ته خطونه اولیږل. او په لږ وو ورځو کښې سید صاحب دومره قوت او جمعیت پیدا کړ چه یا خو په ۲۰، دسمبر ۱۸۲۶ء د نوښهر د غزا په موقع د غازیانو تول ټال تعداد یو نیم زر وو. او یا فقط دوه میاشتې پس چه په تاریخ ۲۸، رجب المرجب ۱۲۴۲هـ مطابق ۲۵، فروري ۱۸۲۷ء د شید هو غزا کیدله. نو په دغه غزا کښې یواځې د شهیدانو تعداد شپږ زره وو. د دې نه د ژوندو غازیابو د تعداد د زیاتوالي اندازه لګیدلې شي.

دا ملک چه په دې بانډې د سرداران پیښور حکمراني وه. دلته یو سړې د باهر ملک نه راځي. دوه څلور میاشتې پس د خپلې بادشاهئ اعلان کوي. تول خلق د هغه تابدار کیږي. اګر چه دا هر څه د دین د پاره کیدل. لیکن په دنیاوي نقطه نګاه سره د دې صورت حال په وجه د خپل اقتدار ختم کیدلو خطره که د سرداران پیښور سره پیدا شوې وه. نو د هغه بالکل فطري خبره وه. ځکه چه

(۱) د سرحد خلق قطرتاً غازیان دي. مجاهدین اسلام دي. دوئ په هغه چا پسې ځي چه څوک د میدان جهاد ځوانمرد وي. او دغه وخت د جهاد میدان ته سید صاحب د نګلي وو. او هم په دغه وجه بې مثال مقبولیت ورته حاصل شوې وو.

(۲) وړانـدې د پـیښور سرداران پـه دې
ملک حکمرانـان وو. او د سید
صاحب د امیر الـموالـمومنین
کیدلـو نـه پس پـه دې مـلک کښې یـو
دویـم داسې رقـیب حکمران پیدا شه
چه ټـول خلق یـئې ځـان تـه راکښلو
او علاوه د سیـاسي قـوت نـه مذهبي
اقـتدار هم ورتـه حاصل وو.

د دې وجوهاتـو پـه بـنـاء د پـیښور سردارانـو پـه خیـال د سید صاحب سره امداد کوؤل خپـل اقـتدار ختم کوؤل وو. افسوسناکه نـتیجه یـئې دا شوه چه یـو خالص دیـني تـحریک تـه د سیـاسي رقـابـت پـه نـظر کـتونـکي خلق پـیدا شول. او یـو بـل شکل یـئې اختیـار ک. د دې نـه دا هم معلومیږي. چه د اختلافـاتـو او راتـلونـکو ټـولـو واقـعاتـو بـنـیـاد د سید صاحب د امیر کیدلـو د اعلان د ورځې (۱۲،رجب المرجب ۱۲۴۲هــ مطابـق ۱۱، جنوري ۱۸۲۷ء) نـه پـریـوتـلې وو. او د یـار محمد خان چه د شید هو پـه جنګ کښې څه کوؤل د هغې اصلي بـاعث د سکهانـو دیـکه د هړکه نـه وه بـلکه د خپـل اقـتدار بـچ کؤلـو د پـاره یـو کوشش وو. چه پـه خپـل ځـائې ډیـر افسوسنـاک وو.

څه بـه او وایـو د حضرت سید احمد شهید مقـام او کـار نـامې ډیـر لـوئې شان لـري. د هغوئ دیـني او روحانـي مرتـبـه ډیـره او چتـه ده. پـاکه ده. لـویـه ده. بـل خوا تـه چه څه واقـعات پـیښ شوي دي. هغه پـیښ شویـدي. وس څه کیدلـې شي. البـتـه یـو خیـال مخې تـه راوړانـدې کیږي. چه کـه چرې حضرت سید احمد

شهيد عليه الرحمة او د هغوئ ملګرو عالمانو د زمانے د حکمرانانو د فطرت مطالعه کړے وے. چه څه وخت د يو حکمران د ذاتي اقتدار سوال راشي نو چه هغه بيا څه کوي.؟ يا دا چه حضرت سيد احمد شهيد عليه الرحمة د خپلو مشاهير وپخوانو بزرګانو په نقش قدم تلل کړي وے. نو د خپل امارت اعلان به يئے نه وے کړے. د څمکنو ميا محمد عمر قدس سره د خپلو اولس زره ميردانو لښکر احمد شاه ابدالي ته حواله کړے وو. د خپل امارت اعلان يئے نه وو کړے. حضرت شاه ولي الله د هلوي (چه د حضرت سيد احمد شهيد پير طريقت وو) هغه ته سپارلي وو. د خپل امارات اعلان يئے نه وو کړے. د ټولو مشايخو د کار طريقه دغه وه چه د خپلے زمانے د مسلمان بادشاه سره به يئے روحاني او مادي دواړه قسمه امدادونه کوؤل. بيرغ به د زمانے د حکمران وو. او امداد به د هغه زمانے د روحاني رهنما وو. په روستو زمانه کښے حضرت غوث الزمان د سيدو شريف هم په سوات باندے د ستانے سيد اکبر شاه صاحب او ورپسے سيد مبارک شاه صاحب بادشاهان کړی وو. د هغوئ د بيرغ لاندے يئے غزاګانے کوؤلے د خپل امارت اعلان يئے نه وو کړے. نو که د خپلو مشاهيرو بزرګانو په دغه طريقه سره سيد احمد شهيد هم د يار محمد خان بارکزی حکمران پيښور بادشاهي قبوله کړی وے. او د هغه د بيرغ د لاندے يئے جهاد کوؤلے. نو د شيدهو او ورپسے نورے افسوسناکے واقعے به په ظهور کښے نه وے راغلے. او ډيره

ممکنه وه چه په دغه صورت حال کښې يار محمد خان هم د جهاد هغه کارنامې انجام ته رسوؤلې وې. کومې چه د ده نيکه جمال خان د احمد شاه ابدالي په ملګرتيا کښې پاني پټ په ميدان کښې انجام ته رسوؤلې دې. که مونږ په ډير ادب او احترام سره د سيد صاحب او د هغه وخت د عالمانو دې طريقې د کار ته اجتهادي او سياسي غلطي او وايو . نو وئيلې شو چه روستو هر څومره افسوسناک واقعات پيښ شوي دي. د هغې اصلي باعث هم دا وو.

يوه بله افسوسناک پهلوئي دا وه. چه څه وخت د بارکزی سردارانو سره اختلاف پيدا شه نو بيا د سيد صاحب سياسي طاقت او اقتدار د ژمي د اور په مثال شه چه هر يو قبائيلي سردار به ځان ته راکښلو. چه خپل ذاتي اقندار پرې زيات کړي. د هنډ د ښادي خان او د پنختار د فتح خان کشمکش د دغې يو واضحه مثال دې. ښاغلې غلام رسول مهر ليکي.

خادي خان تر يو حده د رقابت د جذباتو ماتحت د سيد صاحب څنې نارضا وو. يعنې هغه ته د ا منظوره نه وه چه سيد صاحب د ده په مقابله کښې د زيدې د خان اشرف خان زيات قدر دي اوکړی. يا د ده نه يئې ښه اوګڼړي. په دې هم خفه وو. چه سيد صاحب هنډ پريږدي. او پنجتار خپل مرکز کړي او په دغه شان سره د خادی خان په

ځائ د فتح خان ته مرکزی حيثيت او اهميت حاصل شي[326]."

بے شکه دا ټولے خبرے په ديني نقطه نګاه سره غلطی دي. او سيد صاحب دنيا دارنه وو. ديندار وو. هغه دا هر څه د خپل ذاتي اقتدار د پاره نه کؤول د الله رضا د پاره يئے کوؤل. د هغه په وړاندے د حضرت شاه ولي الله د فلسفے مطابق د "حکومت آلهيه" قيام وو. چه د اسلام د تحفظ خدمات انجام ته اورسوؤلے شي. ليکن حالاتو ورسره برابرے اونۀ خوړ. د دے لوئ مقصد د پاره چه کومه طريقه اختيار کړے شوے وه. په هغے کښې خاميئ دے. او د دغه خامو په وجه په مقامي قومي سردارانو کښې د رقابت جذبه يئے را پورته کړه. او په ځائ د دے چه د سکهانو د مقابلے د پاره په اجتماعي شکل سره کار شوے وے يو خواته قومي سرداران يئے په خپلو کښې اړم کړل بل خواته قوم دوه ډلے شه يوه ډله د مجاهدينو د تحريک په حمايت که او بله يئے په مخالفت کښې ميدان ته رااووتلے. او په دے شان سره د مجاهدينو طاقت کمزورے شه. او سکهانو له دا موقعه په لاس ورغله چه يو خواته په دے ملک قبضه اوکړي. او بل خواته د مجاهدينو طاقت ختم کړي. او لوئ افسوسناک شکل يئے دا وو چه د مجاهدينو د ديني تحريک په وجه پيدا شوي قومي انتشار د دے ملک دمسلمانانو اجتماعي شيرازه باندي دومره تباه کړے وه

[326] سوانح سيد احمد شهيد تاليف د مهر

چه کله د سکهانو په ځاي انګريزان دے ملک ته رانغه وتل نو هغه شان مدا فعت يئے او نه شه لکه څرنګ چه پکار وو. دا څومره لويه سانحه ده. چه د يو خالص ديني تحريک راپورته کيدلو په وجه د مسلمانانو اجتماعي قوت. شوکت او طاقت ته نقصان اورسيږي. د مسلمانان تاريخ په دے ګواه دے چه کله هم د مسلمانانو د سياسي او مذهبي قيادت نه غلطي شوي ده نو هغے لويه تباهي راوستلے ده. او دايئے يو ادنی مثال دے.

د مشکلاتو دور

پورته چه د واقعاتو او حالاتو کومه خاکه راښکلے شوه. دهغے نه دا اندازه لګيدلے شي چه د مجاهدينو د تحريک د پاره راتلونکے ورځے د مشکلاتو دور وو.

د شيد هو د جنګ نه روستو سيد صاحب د بنير او سوات په طرف روان شه چه د ځان د پاره مستقل مرکز او ګوري. چنانچه په دے علاقو کښې د يوے يوے آبادئ دوره او کړله. هر ځائے ورته په عزت او احترام هر کلے اووئيلے شه. امداد و اعانت ورسره اوکړلے شه او په طاقت کښې يئے ورځ په ورځ اضافه کيدله. چنانچه سيد صاحب پخپله ليکي:

د دے فقير د يو سفرو د مختلفو علاقو لکه چمله. سوات. بنير دوره او کړله. او د دے علاقو مسلمانانو مؤمنانو له م بالمشافه د اقامت د جهاد او زلے د فساد

ترغیب ورکړے. دا افغانانو ګڼرو قبیلو لکه آفریدي. خلیل او مهمندوته م تحریري د عوتنامے اولیږلے. د دے سعادت عظمي او عبادت کبری طرف ته م متوجه کړل. الحمدالله چه دےے صادقانو مؤمنانو دا دعوت قبول کړ[327].

سید صاحب په دغه دوران کښې د فتح خان خدوخیل په دعوت خپل مرکز دهنډ نه پورته کړ او پنجتاریئے مقر رکړ. او د خواؤ شاه علاقے دوره یئے اوکړله. څه زمان روستو د بعض وجوهاتو په بناء باندے یئے موضع خارخپل[328] مرکز ګرځولے وو. او په جمادي الاخر ۱۲۴۳هـ مطابق دسمبر ۱۸۲۷ء کښې دغلته راغلے وو. او د جمادي الاخر ۱۲۴۴هـ مطابق ۱۸۲۷ء جنوري ۱۸۲۹ء پورے د خار په مقام کښې استوګن وو. د دوئ نامور ملګرے حضرت مولانا عبدالحئ هم دغلته په کارکښې وفات شوے وو.[329]

---

[327]"سید احمد شهید" تالیف د مهر صفحه نمبر ۴۳۰

[328]موضع خار عام طور د خاربټ خیله په شریک نوم یادیږي چه د ملاکنډ ایجنسئ د سوات رانع زیءے په علاقه کښې مشهور کلے دے.

[329]مولانا عبدالحئ په عمر کښې د سید صاحب نه لس کاله مشر وو. د پلار یئے هبة الله او د نیکه یئے نور الله نوم وو. مولانا نور الله د شاه عبدالعزیز استاذ وو. د شاه عبدالعزیز لور په مولانا عبدالحئ واده وه. وائي چه شاه اسماعیل یوه خپله کونډه خور هم مولانا عبدالحئ ته په نکاح ورکړے وه. د دے د شاه سید احمد شهید مرید وو خلیفه یئے وو ښے لاس یئے وو.ا و چه څه وخت په سرحد کښې الامي حکومت قائم شه نو مولانا عبدالحئ یئے مشیر اعلی او قاضي القضاة وو. چه ۲۴، فروري ۱۸۲۸ء مطابق شعبان ۱۲۴۳هـ **وفات شه. مزار مبارک یئے په موضع خار کښېدے او د عبدالحئ بابا په نامه یادیږي. علیه الرحمة والغفران (اثر)**

د شیدو جنګ ته روستو د حضرت سید محمد اسماعیل شهید په قیادت کښې چه د مجاهدینو کوم جماعت د ضلع هزاره طرف ته تللے وو. هغۃ هم د خپل فرض ادا کولو نه روستو دوباره د سید صاحب په خذمت کښې پنجتار ته را رسیدلے وو. او د خار د قیام په زمانه کښې ورسره موجود وو.

سید صاحب په خار ملاکنډ ایجنسئ کښې وو. چه خبردار اورسیده. د سکهانو په لمسه د درانو کوم لشکر چه په پیښور او هشنګر پروت دے. هغه په سید صاحب د حملے د پاره تیارے کوي. سید صاحب د هغے د مدافعت د پاره قدم پورته کړ. د اتمانزو په مقام جنګ اوشه. او د اتمازو زمکه د مسلمانانو د خپله لاسه په وینو سره شوه. او د سکهانو خوا یخه شوله چه مسلمانان پخپلو کښې کشیوتل. دا جنګ غالبا په مئ ۱۸۲۸ء کښې شوے وو.

د دے واقعے نه روستو سید صاحب د ملاکنډ ایجنسی د موضع خارنه مرکز راپور ته کړ بیا پنجتار ته راغے. صلاح کانے شروع شوے چه د تولو علاقے عالمان او قومي سرداران راغونډه ول پکار دي. چنانچه په یکم شعبان المعظم ۱۲۴۴هـ مطابق ۶، فروري ۱۸۲۹ء یوه "لویه جرګه. اوشوه. چه په هغے کښې علماء اسلام د "اسلامي شریعت د احکامو" د فوري نفاذ. قیام. اجراء فیصله اکړه. په دے "لویه جرګه" کښې اشرف خان د زیدے. شادي خان د هنډ. او فتح خان د پنجتار موجود وو. خپل خپل اولسي لښکر

ورسره وو. دا درے واړه په حقیقت کښې د خپلو خپلو علاقو با اختیاره حکمرانان وو. چه کله دا پورتنئ فیصله کیدله. فتح خان دا خبره کړے وه. چه وخت نازک دے. د دښمن سره مقابله راپیغاړه ده. د شرعیت اجراء نیکه خبره ده. لیکن د سوؤنو کلو نور سم او رواج پر افغانانو باندے یکدم پریښودل به مشکلات پیدا کړي. اختلافات به رابر ځیره کړي. او د جهاد مهم ته به نقصان اورسوي.". لیکن د فتح خان په دے خبره غوږ کښینه ښودلے شه. عالمان د خپلے فیصلے په منلو کلک شول. فتح خان. ښادي خان. اشرف خان ورته غاړه کښیښود له. لیکن نتیجه یئے هم هغه شوله چه کومه فتح خان وئیلے وه. د خانانو تر منځه کشمکش شروع شه. د اقتدار جنګ شروع شه. کوم ملایان چه عاملان مقرر شوي وو. د هغوئ سلوک خلق زهیر کړل. اشرف خان او فتح خان د سید صاحب په ملګر تیا کښې پاتے شول. لیکن ښادي خان ناراضه شه. د ښادي خان او اشرف خان تر منځه جهګړه پیدا شوه. اشرف خان په هغے کښې د اس نه اولویده په حق اورسیده. ښادي خان نور هم مخالفانه ممهم تیز کړ. سکهانو چه دا حالت اولیده د جرنیل ونتوره په کمان کښې یئے د پنځلس زره فوځ سره په پنجتار حمله اوکړه اګر چه د سکهانو فوځ شکست اوخوړ. لیکن د سکهانو یو مطلب تر سره شه چه د ښادي خان و مجاهدینو تر منځه خفګان دښمنئ ته اورسیده.

د دے واقعے نه روستو سید صاحب کوشش اوکړ چه د مسلمانانو تر منځه د مخالفت کومه فتنه راپیدا شوے ده چه دا ختمه کړے شي. په ځائ د دے چه د دے کار د پاره یئے د قام د سپین ږیرو مشرانو. ملکانو او خانانو جرګه راغوښتلے وے او هغوئ لوړه جوړه آواره کړے وے. د عالمانو جرګه یئے را اوغوښتله چه په وعظ او نصیحت خلق پوهه کړی اصلي مقصد خود اوو. چه ښادي خان سمے لارے ته را اواړولے شي. دا کار په خوړه پسته کیدلے شه. لیکن عالمانو سخته او نیوله. فتوي یئے اوکړله چه "د باغیانو سزا قتل دے". سید احمد شهید او سید اسماعیل شهید په دغه موقع ډیر درد ناک تقریرونه کړي وو. لیکن د عالمانو مخه چا وهلے شوه. بل طرف ته ښادي خان هم په دے پوهیده چه دا ټولے خبرے د ده د سرزنش د پاره کوؤلے شي. په یوه موقع چه سید صاحب ښادي خان را اوغوښت چه پوهه یئے کړي نو ښادي خان اووے. حضرت صاحب! مونږ پښتانه د ملک او ریاست په کاروبار ښة پوهیږو. دا مشوره او فتوی هغه ملایانو کړے ده. چه خیرات او اسقاط یئے خوراک دے. دوي د حکمرانی په کار څه پوهیږي. چنانچه سید صاحب ښادي خان دا الفاظ برداشت نه کړلے شو. قهر ورغے. او په ځاي د دے چه په سړه سینه د ښادي خان د دلجوئي یئے کړے وے. نور یئے خفه رخصت کړ.

په دغه منځ کښې سید صاحب په خواؤ شا علاقو کښې استاذي خواره کړه. مجاهدین

راغونډیدیل شروع شول. چه په دے کښې سکهانو یو ځل بیا د جرنیل ونتوره په قیادت کښې په پنجتار حمله اوکړه. د موضع سلیم خان نه ورانده شول تر طوطالئ اورسیدل. جنګ او نه شه د سکهانو فوځ واپس شه. لیکن د مسلمانانو ګنړ کلي یئے اوسیزل د مجاهدینو دا ګمان وو. چه دا هر څه د ښادي خان په لمسه کیږي. د مسلمانانو تر منځه بے اتفاقي نوره هم زیاته شوه.

د مجاهدینو مقصد د سکهانو په خلاف جهد وو. لیکن د غلطو تدبیرونو په وجه سکهان په ځائے پاتے شول. مخه یئے بل خوا شوه. د خپل مستقبل فکر ورسره ملګرے شه. خیال یئے اوکړه چه یا خو په بار کزی سردارانو حمله پکار ده. چه د سکانو حکم یئے منلے دے. او د مجاهدینو په لاره کښې اغزی کري یا د هنډ د ښادي خان قصه سفا کول پکار دي. ځکه چه د ده سرکشۍ ته ګوري نو ورځ په ورځ نور خانان هم سرکشي اختیار کوي. صلاح په دے شوه چه اول حمله په ښادي خان پکار ده. پټ په پټه تیاري او شوه. په هنډ یئے شبخون او واهه. او هغه ښادي خان په کښې اووژلے شه چه د سید صاحب د راتللو په موقع یئے د انصارو په شان د اسلام خدمتونه کړي وو. لاش یئے وار ثانو ته حواله شه. مګر اهل و عیال یئے بندیوان کړے شه. په هنډ باندے حمله په ۷، صفر ۱۲۴۵هـ مطابق ۸، اګست ۱۸۲۹ء شوے وه.

د دے واقعے نه روستو د ښادی خان ملکرو د هغه د بدل اخیستلو اراده او کړه او د ښادي خان د بال بچ د آزده ولو کوششونه یئے شروع کړل. د زیدے خان مقرب خان د سید صاحب جان فدا ملګرے وو. هر کله چه د خپل قریبي رشته دار خادي خان د بے ګناه بال بچ د قید نه په آزادولو کښې په جرګه او په سوال کامیاب نه شه. نو د شرم نه یئے کلے پیرښود. سترګے یئے پټے کړے ځان یئے ورک کړ. مجاهدینو د دغے احساس او نه کړ.

د هغه د مفرورتیا اعلان یئے اوکړ. د هغه په ځائ یئے فتح خان د زیدے خان کړ. د ښادي خان رونړه په نورو خانانو او ګرځیدل. امداد یئے اوغوښت. اخري پیښور ته ورغله. یار محمد خان بار کزي ته کښیناستل. هغه یئې په امداد کولو رضا کړ. هغة یو خپل اتباري مشر مقرر کړ چه لښکر د ځان سره ګړی. په هند چپاؤ اوکړی. چپاؤل جنګ شروع کړی. تر دے چه یار محمد خان پخپله "اریان"[330] ته سره د لښکره ور اورسیده. د اریان نه پسے ور مخکښې شه. د بدرئ نالے چه غاړه یئے توپے سورے کړے. تخته او شوه. یار محمد خان ماتے او خوړه. ژوبل شه. په لاره کښے وفات شه. مال اسباب یئے مجاهدینو لوټ کړ. د مسلمانانو د لاسه یو بل مسلمان سردار مړ شه. خپلے متے یئےپخپله نورے هم کمزورے کړے. دښمن

---

330 اریان د تور ډهیري سره نزدے د یو کلي نوم دے.

ته يئے نوره هم لاره صفا کړه. دا جنګ په ۴،يا۵، ستمبر ۱۸۲۹ء شوے وو.

بل خواته د رنجيت سنګهـ جرنيل هر سنګهـ نلوا د مسلمانانو د دے کشمکش نه فائده واخيسته. د پنځه زره فوځ سره يئے حمله اوکړه. تر بيله يئے قبضه کړه. مجاهدينو ښه مقابله وکړه خو برے يئے بيا نه موند.

سکها نو چه هزارے ته مخه اوکړه. سيد صاحب هم هغه خواته توجه وراوګرځوله. د لښکر سره هغه خواته لاړ. ګنړ نختے اوشولے. ډير علاقه يئے قبضه هم کړله چه په دے منځ کښې سلطان محمد خان بارکزی په هنڼ حمله اوکړه. په هنڼ کښې چه د مجاهدينو کمه څوکئ وه. هغة يئے اونيول (روستو بيا د دوئ د بندی خانے نه تښتيدلي وو.) سيد صاحب چه د دے نه خبر شه. بنجتار ته را واپس شه. ليکن چه د پيښور د طرف نه د حملے خطره يئے ورکي شوه. بيا يئے د هزارے طرف ته توجه او ګرځوله.

سيد صاحب چه د پنجتار نه هزارے ته روانيده. نو د يو سفزو ميداني علاقے ته يئے يو جماعت اوليږه. چه په خلقو د شريعت احکام نا فذ کړي. د عشر وصول کؤلو په طريقه د کار اختلاف پورته شه. په دغة منځ کښې د کلابټ د خان سره جنګ او شه خان شکست او خوړ. مجاهدين په وړاندے لاړ. مرغز. تنڼ کوځ. کڼے. پنج پير يئے را

لنډے کړل. په هنډ هیٔے هم قبضه اوکړه. لیکن د عشر په مسئله اختلاف هوا او خوره. چه چرته به د مجاهدینو زور وو. وصول به یئے کړ. چه زور به یئے نه وو. خلقو به نه ورکوؤلو. مجاهدینو اعلان او کړچه عشر د امیر حق دے. د دے نه اختلاف کفر دے. د مجاهدینو سر لښکر قاضي سید محمد جان ډیر سختي شروع کړه. یوه ورځ یئے اعلان اوکړ. چه "څوک د خدائ و رسول د حکامو په خلاف د پلار نیکه په رسم او رواج پسے ځي هغة کافران دي." یو سري د اقدار ته اووئیل چه په "منیة المصلي" کښې خو "اهل رسوم" ته ئي کافر نه دي وئیلي . هغه یئے را اونیولو په وهلو یئے پوست کړ. چه بیا یئے کلمه او وئیله آمنت بالله یئے تیره کړه هاله یئے پریښوده.

په داسے حالاتو کښې د هوتي مردان د خانانو سره هم اختلاف پیدا شول. مجاهدینو په دے دواره کلو حمله اوکړه. په دغه زمانه احمد خان کمالزئي د دے علاقے قبائیلي سردار وو. هغه شکست او خوړ. مال هالیئے مجاهدینو لوټ کړ. د هغه په ځائے د هغه رور محمد رسول خان له یئے معافي ورکړه د دے علاقے کان ئي کړ. د مجاهدینو سر لښکر قاضي سید محمد جان په دے جنګ کښې مړ شه. د عشر وصول کولو د پاره کلي په کلي تحصیلداران یئے مقرر کړل مشر یئے مولوي اسماعیل وو. اختلاف نور هم زیات شه.

احمد خان کمالزئي په دے شکست او معزولي زهير شه. د پيښور سلطان محمد خان بار کزی سردار ته يئے ځان او رسؤلو. امدا ديءے ترينه او غوښت. هغه د مخکښې نه د سيد مخالف وو. چه دا موقع په گوتو ورغله ناراسته يئے او نۀ کر. لښکر يئے اوکړ. په څوکنو ديره شه. د سمے خانانو ته يئے استاذي اوليږل. چه د سيد امداد او نه کړئ. بيا يئے لښکر د هشنغر اتمانزو ته را وړاندے کړ. اته زره سواره څلور زره پياده فوځ وو. څلور ورسره لوئے توپے وے. سيد صاحب چه د دے نه خبر شه. د هزارے نه پنجتار ته را اور سيده. بيا د شوے. اسماعيلا په لاره امازو گړهئ ته راغے. او د دواړه طرف نه د جنگ د پاره تياريانے شروع شوے يو طرف ته د بارکزو سردارانو دا خيال وو. چه دوئ د دے ملک جائز حکمرانان دي. بل طرف ته د سيد صاحب د امير المؤمنين والي او د شريعت د احکامو جاري کولو دعوی وه. آخر دا چه د طور و معيارو تر منځه جنگ اوشه. بار کزو شکست بيا مونده. د سيد صاحب د بند به نوره اوچته شوه (ليکن د مسلمانانو تر منځه اختلاف نور هم زيات شه.)

د دے جنگ نه پس مجاهدين پيښور ته روان شول. چه د بار کزی سردارانو د اقتدار خاتمه او کړی. د لښکر سره چار سدے ته اور سيدل د هغه ځائ نه د تنگی. ابازائے. مته مغل خيل، شبقدر. ميچنئ په لاره د خليلو په لاره د خليلو په علاقه کښے دريکی نومے کلي ته اورسيدل. دغلته

معلومه شوه چه سردار سلطان محمد خان د مجاهدینو د راتګ نه چه خبر شوے دے نو پیښور یئے خالي کړے دے. په دغه وجه جنګ ته نوبت او نه رسیده د سردار سلطان محمد خان طرف نه د هزار خواني خان فیض الله خان تر منځه شه. د صلح خبرے یئے اوکړے په دے نیک مقصد کښې کامیاب شه. سید صاحب د میلمستیا په شکل سره د خپلو ملګرو پیښور ته را دننه شه. د کابلي دروازے په لاره ګورګهټړئ ته لاړ. هلته دیره شه. فیض الله خان د صلح شرطونه فیصله کړل. چه حکومت دے سردار سلطان محمد خان ته بیا و سپارلے شي. د ضرورت په وخت به د سید صاحب امداد کوي خپل نا کاره عادتونه به پریږدي. مولوي سید مظهر علي خان عظیم آبادي یئے د ښهر قاضي مقرر کړ. او پخپله پنجتار ته واپس شه.

د پیښور ښهرد فتح کؤلو نه روستو په ملک کښې د شریعت د احکام وجاري کؤلو سلسله شروع شوه. امر معروف شروع شه. د رسمونو، رواجونو د بندیز د پاره اقدامات شروع شول. هر طرف ته امن امان شه. خویکدم حالات بدل شول. داسے معلومیږي. چه د دے دوه غټے وجے وے. (۱)یوه دا چه د شرعي احکامو یکدم نفاذ خلق او لږ زول د پیړو پیړو راسے چه په کوم رسم او رواج کښې مبتلا وو اګر که هغه خلاف شرع کارونه وو. لیکن د هغے یکدم پریښودل ورته ګران شو. (۲) بله دا چه د اکثرو مقاماتو خانان او قومي مشران او د اثر او رسوخ

خاوندان صرف د طاقت او قوت د رعب په وجه وقتي طور د مجاهدینو ملګري شوي وو. د مثال په طور سردار سلطان محمد خان بار کزاے به واخلو. د هغه رور یار محمد خان د مجاهدینو سره په جنګ کښې مړ وو. دا د هغه چرته هیریدلے شو. د دے نه وړاندي سردار سلطان محمد خان د پیښور خود مختاره حاکم وو. او د پیښور د فتح نه روستو د سید احمد شهید د لاسه حکمران وو. او په سر باندے د مجاهدینو قاضي سید مظهر علي عظیم بادي او یو بل تحصیلدار ناست وو. دا د هغه په زړهٔ چرته ځاي کیدله. نتیجه یئے دا شوه چه څه وخت سلطان محمد خان ته د مجاهدیونو د طرف نه اطمینان حاصل شه. د پیښور علاقه هم په لاس ورغله او د کوم حکومت د لاس نه وتلو چه یئے ویره وه. هغه محفوظ شه. نو د نز بیرو نو جال یئے شور کړ. داسے عالمان یئے راپیدا کړل چه هغوئ په سید صاحب او په مجاهدینو قسم قسم فتوی او لګولے. د سمے د خانانو سره یئے پټ په پټه راز باز جوړ کړ. صلاح ګاني اوشولے. فیصله او شوه چه په یوه شپه دے تول مجاهدین شهیدان کړلے شي. د دے خونړي واقعے ابتداء سلطان محمد خان د پیښور نه اوکړله. د ښار قاضي سید مظهر علي صاحب او د ښهر تحسیلدار او ورسره د سید صاحب وفادار ملګرے ارباب فیض الله خان مهمند د هزار خانئ یئے قتل کړل. په سمه کښې هم په دغه یوه شپه کلي په کلي مجاهدین قتل کړلے شول. او لوئ لوئ دینداره خلق د عالمان او مشران په

دے فتنه کښې بے موجبه شهیدان شول. او د ظلم او زیاتي یو داسے داغ یئے د افغان قوم په لمن او لګولو چه په وینځلو تللے نه شي.

مولوي خیر الدین شیر کوټي سره د یو څو ملګرو په مشکله سره څان سید صاحب ته پنجتار ته اورسؤولو. سید صاحب چه د هغه نه د قتل واقعه واوریدله نو ډیر د لګیر شه. او دائي او فرمائیل. و افوض امري الي الله دا نا پوهه خلق دے. په دوئ کښې اوس څما ګذاران ګران دے. بیا یئے هغه خوانین! و قومي مشران را اوغوښتل کوم چه په دے سازش کښې شریک نه وو. د حال احوال حقیقت یئے ذینه او تپوسه. بعض مجرمان هم په دغه جرګه کښې راغلي وو. هغوئ پخپله صفایئ کښې د سید صاحب په مقرر کړو. عالمانو. تحصیلدارانو او افسرانو ګناه وراچوله. چه ډیر سختي یئے شروع کړے وه. چابه وئیل چه څمونږه د لونړ خویندو نکاحو نه یئے څمونږ د تپوس نه په غیر په ساده پروني کښي به کوؤل. چا پکښي اووے چه د سردار سلطن محمد خان د طرف نه د هندوستاني عالمانو فتوي مرنږه ته راغلے وے. چه دا ملک د مجاهدینو نه صفا کړئ. حالانکه حقیقت دا وو چه مجاهدین سوچه مسلمانان وو. د اسلام په ننګ میدان ته راوتلي وو. خالص د خدائے د رضا د پاره یئے جهادونه کول. باقي پاتے چه کومے تیرے پاتے خبرے وے هغه د سردار سلطان محمد خان او داسے نورو د انتقامي جذبے خبرے وے. دروغ وو.

بهر حال سید صاحب د دے ملک نه د هجرت کولو اراده اوکړه. د پنجتار خلقو ډیر څه اوکړل خو هغوئ خپله اراده بدله نه کړه او په دسمبر ۱۸۳۰ء مطابق رجب المرجب ۱۲۴۶هـ کښې کشمیر ته روان شول.

حضرت سید احمد شهید چه د پنجتار نه روان شه. د هزاره علاقے ته اورسیده. په لاره یئے په ځاي ځاي تبلیغ کولو. د بالاکوټ علاقے ته اورسیده. دواورے وریدلو موسم وو. په ۱۸، جنوره ۱۸۳۱ء مطابق شعبان المعظم ۱۲۴۶هـ راج داره نومے ځاي ته اورسیده. هلته دیره شه. بیائې په بالاکوټ قبضه اوکړه. بالاکوټ نه چار چاپیره غرونه دي. په دے وجه دا یو محفوظ مقام وو. ورپسے د سچون او "درهٔ بهر کړ منګ" خلق یئے د سکهانو د پنجے نه خلاص کړل. او دلته یئے اویا کسان مجاهدین د درے د حفاظت د پاره پریښودل. د بالاکوټ د قبضے نه روستو د مولوي خیر الدین شیر کوټي په مشرئ کښې یئے مجاهدین مظفر باد ته اولیږل. د ښے مقابلے نه پس مجادینو په مظفر باد قبضه اوکړه. سید صاحب په دغه ورځو کښې درهٔ بهوګړ منګ ته تشریف راوړلو. خبرورسیده. چه د درهٔ بهوګړ منګ د حفاظت د پاره چه کوم اویا کسان مجاهدین مقرر وو. هغه بعض ملت فروشو د ګجرانو په مخبرئ قتل کړی دي. او راجه شیر سکهـ د شل زره فوځ سره د ګړهئ حبیب الله نه په درهٔ بهرګړ منګ د حملے کولو اراده لري. مجاهدینو دغه وخت ټول په

شماره دولس سوه وو. او حضرت شاه اسماعیل په دغه موقع په بالاکوټ کښې وو. چه دا یئے واوریدل. نو بالاکوت یئے سردار حبیب الله ته حواله کړ. او پخپله یئے ځان زر بهوګړ منګ ته رااورسؤلو. راجه شیر سنګهے ته چه پته اولګیده چه د بالاکوټ محاذ کمزورے پاتے شه. نو بالا کوټ ته راتاؤ شه. سردار حبیب الله چه خبر شه. نو هغه د سید صاحب نه سمدستی مدد او غوښت.

د شهادت واقعه

سید صاحب سره د مجاهدینو د سردار حبیب الله د مدد د پاره بالاکوت ته اورسیدهٔ. دلته د سکهانو راتلل ګران وو. خویو باخبره سړي سکهانو ته اسان کنډاؤ او ښوده. په دوئمه ورځ چه سکهان د مټي کوټ په غررا اوختل. نو سید صاحب غازیان د مورچونه را اوبلل. صلاح په دے شوه چه د غره په لمن کښې زمکو باندے به اوبه راپریښودلے شي. چه سکهانو ته پرے وړاندے اتګ ګران شي او کوم وخت چه سکهان په راکوزیدوشي نو د غه وخت به پرے حمله اوکړلے شي د دے صلاح په برابریئے مجاهدینو سنګرے اونیولے.

چه سحر شه. اذان اوشه. مجاهدین راجمع شول. سید صاحب مخکښې شه. د امامتئ نمونځ یئے مجاهدینو ته او ګزاره په سید صاحب د ننګیالو غازیانو دغه آخري د جمع نمونځ وو. چه د جهاد په میدان کښې ادا شه. د نمانځه نه پس سید صاحب ځان ښه

سنبال کړ. وسله يئے واچوله. يوه تماچه يوه چاړه او يوه کټارئ يئے واخيسته. هغه توره يئے هم تر ملا کړه. کومه چه ارباب بهرام خان خليل د برتهکال ورته نذر کړے وه. ارباب بهرام خان ورته په ادب ولاړ وو. دوه ټوپکے به يئے په جنګ کښې استعمالولے. دا به د دوئ دو ملګرو سره وے چه وار په وار به يئے ورله ډککولے. سيد صاحب چه تيار شه. نور مجاهدين هم تيار شول. نو د بالا کوټ د بر جماعت نه د روانيدلو په تکل شول. او کوز جماعت ته را اوورسيدل.

سکهان يوه ورځ مخکښې د مټي کوټ غره ته رارسيدلي وو. او چه سحر راښکاره شه. نو دو، نو د دوئي تعدد زياتيده او ګوله باري يئے شروع کړے وه. سيد صاحب چه کوز جماعت ته اورسيده نو د تنبو لاندے کښيناست چه د صورت حال اندازه اولګوی. دغه وخت دے صفا د ګولو په زد کښې ښکاريده. ملګرو ورته اووے چه په ډ ډه کښينئ. ليکن هغوئ او فرمائيل چه الله عالی هر ځاي حفاظت کوؤنکے دے. په دے کښې يوه ګولئ راغله په هغے د سيد صاحب ګوتے معمولي شان زخمي شوے. ارباب بهرام خان او نورو نمازيانو د حفاظت بندوبست شروع کړ. سيد صاحب د غازيانو يوه ډله واستوله چه د شولو په پټو کښې مور چے جوړے کړي. بيا د تولو غازيانو سره په يو وار يئے قدم ور پورته کړ. هله يئے اوکړه. په پټو پټو کښې يئے هغه ځاي ته ځانونه اورسول کوم ځاي کښې چه د سکهانو جمع وه. حمله

يئے پر اوکړه. او د غره لمنے ته چه هر ځومره سکهان راپریوتلي وو. هغه یئے په تورو کټارو اوپیش قیضو کوتره کړ. په دغه الغاؤ تلغاؤ کښې د مټي کوټ غره په کنډو کښې بره چه کوم سکهان پراته وو. هغوئ ډزے شروع کړے بے واره باړونه یئے چلول. هواد بره خوانه چلیده. لوګے یئے د نختے په سیمه راخور شه سکهانو خپل پردے نه پیژنده. بے شمیره خپل سکهان یئے په ګولو وراته کړل. په دے جنګ کښې د تورو او ټوپکو نه علاوه د کانړو وارے هم کیدلے لاس په لاس جنګ وو. غازیانو پکښې ښه مړانه ښکاره کړه.

سید صاحب چه د غره د لمن نه سکهان او ولیدل نو د مټي کوټ ؤورچه ئې خالي کړه. په ټوپک یئے مټ کیښوده. د دواړه طرفه نه باړونه وو چلیدل. کانړی هم پکښې وریدل. سید صاحب چه د مټي کوټ په ناله کښې د ښمن ته زنګون وهلے وو. مخ یئے قبیلے ته وو. شل پنځویشت غازیان ورسره وو. غازیان په یو ځاي غونډنه وو پراته. په مختلفو مورچو خواره شوي وو. د هر کانړی بوټی خواته د مسلمانانو او مجاهدینو تر منځه نخته وه. ارلچے برلچے وو. د کفارو سرو نه لکه د غونډ سکو د غریدل. او د مسلمانانو په پاکه وینه زمکه لاله زار کیدله. د سید صاحب سره چه کوم غزیان په شماره پنځویشت کسان ملګري وو. په هغے کښې د میا جي چشتي. نور بخش جراح. مولوي خان بهرام خان خلیل. لعل محمد قندهاري ناصر خان غازي نومونه د

یادولو دي. د سکهانو د طرف نه د ټوپو ګولئ وریدلے. ناتار یئے جوړ کړے وو. مجاهدین په لکو توپو ورختل او د شهادت جامونه یئے څښل. د سید جعفر علي د تحقیق مطابق د سید صاحب د ودون په ګولئ لګیدلے وو. او سر یئے په کانړي زخمي شوے وو. د خان بهرام خان د بیان مطابق سید صاحب ولاړ وو. او د ګولو باړیرے وریده. ګل محمد نومے یو شاعر د دے په حقله والي.

د زیړو توپے خلاصیدے چه
ډزها روونه
مزکه آسمان شو ترکمئ
چه د وند غبار وو نه
د مولوی صاحب په لاس
کلې ذولافقاروونه
چه له مردو د سره یئے
شه جنګ په سپین میدان
مولوي

روایت دے چه کوم خوش نصیبه غازیان د سید صاحب لمنے سره نښتي وو. هغوئ کښې غالبا یو هم ژوندے نه وو پاتے. په جنګ کښې مولانا سید اسماعیل شهید تپوس اوکړ چه امیرالمومنین کوم ځاي دے. ورته اووئیلے شو. دغه ګنړه کښې دے کوم ځاي چه تورے چلیږي. کوم غازي چه به د مورچے نه راته نو پتوس به یئے کولو چه حضرت کوم ځائ دے. لږ ساعت نه وو تیر چه امیر المومنین سید احمد شهید حمله اوکړه. په خوا پورے ورسره سید اسماعیل شهید ولاړ وو. دوه لاسي تورے چلؤلے. نور مجاهدین هم

ترینه تاؤ وو. چار چاپیره په کفارویئے حملے کوؤلے. چه په دغه منځ کښې لکه مخکښې ورته اشاره شویده حضرت امیر المؤمنین سید احمد شهید حمله اوکړه. په احوا پورے ورسره سید اسماعیل شهید ولاړ وو. دوه لاسی تورے چلؤلے. نور مجاهدین هم ترینه تاؤ وو. چار چاپیره په کفارویئے حملے کوؤلے. چه په دغه منځ کښې لکه مخکښې ورته اشاره شویده حضرت امیر المومنین په رون ګولئ او خوړله. سر مبارک یئے زخمي شه. قبیلے ته یئے مخ کړه. نور بخش جراح ورله مرهم پټۍ کوؤله. د دوئ دغه حال وو. او د دوئ یو یو مجاهد ملګري چه به د دشهادت جام څښلو نو په دوئ به داسے راغوړیدل لکه په شمع پتنګان. د دین اسلام پتنګانو ځان قربان کړ او د دین اسلام شمع آخري سلګئ او وهله.

مګر نه! دا خبره داسے نه وه. دغه د ذي تعدة الحرام۲۴، تاریخ وو. ۱۲۴۶هـ مطابق ۶، مئ ۱۸۳۱ء وو. لیکن د جمعے مبارکے ورځ وه. د یوؤ لسو بجو وخت وو. چه سید احمد شهید، سید اسماعیل شهید سره د خپلو مجاهدینو شهیدانو ملګر و د متې کوټ په ناله کښې د غره لمن سره نزدے شولګره کښې په خپلو پاکو وینو بانده او د سونه اوکړل چه د حضرت سید الشهداء امام حسین علیه السلام په امامتی کښې د جمعے نمونځ په جمعه بانده او ګذاري الله اکبر! د جمعے په مبارکه ورځ مرګ او د

شهادت مرګ! د یو سید شهادت او سید د بیرغ د لاندې شهادت په داسې حالت کښې چه په خله یئې دا نعره وي.

الله اکبر! الله اکبر الله اکبر ولا اله الا الله والله اکبر

حضرت خواجه سلیمان تونسوي علیه الرحمة

ولادت

....
ګړګوجي، ۱۱۸۹هـ

وفات..................................
... تونسه، ۱۲۶۷هـ

حضرت خواجه محمد سلیمان علیه الرحمة په ۱۱۸۹هـ کښې په مقام د ګړګوجي کښې پیدا شوے وو[331]. او مور پلار ئي پري "مانار خان" نوم ایښے وو[332].د واله ماجد یئے ذکر یا خان ابن عبدالوهاب خان ابن عمر خان نوم وو. د دوئ خاندان د افغان قوم څنے وو. لیکن د قبیلے په نوم کښې یئے اختلاف دے. د تاریخ مخزن پنجاب[333] ذروایت مطابق د دوئ نیکونه په قام باندے د عاشق خیل قبیلے وو. په دے اعتبار په وزیر نوم قوم کښې د احمد زي قبیلے د کالو خیل نومے شاخ د یو ذیلي شاخ نوم بره خانخیل دے. چه بیا د هشغے د یو ذیلي شاخ نوم عاشق خیل دے. د دوئ مشران د

---

[331] دا کلے د خزینة الا صفیاء صفحه نمبر۵۱۴ جلد نمبر۱ د روایت مطابق د موجوده تونسه نومے مقام نه قبیلے غاړے ته د دیرش کوس په فاصله په غره کښې آباد وو. چه د ګړ ګړي په نرم به هم یادیلو

[332] و

[333] تاریخ فخزن پنجاب جلد نمبر۳ صفحه نمبر ۳۳۷

خراسان نه راغلي وو. او د یاغستان په درګئ نومے مقام کلې چه په ګړ ګوجي نومے غرونو کښې د تونسه نه دیرش کوس قبلے غاړے ته (د موجوده ضلع کوهاټ په علاقه کښې) دے. هلته آباد شوي وو. د دے په مقابله کښې د تذخره انوار اصفیا [334]روایت دے. چه دے په قام باندے د رحیم خیل نومے کورنئ د ذیلي شاخ جعفر خیل سره تعلق لري. بهر حال چونکه حضرت خواجه سلیمان په قوم پښتون وو. په دے وجه په دے علاقه کښې د "روهیلي" په نوم به یادیدلو. دے لاوړ کوټے وو. چه والد ماجد یئے وفات شه. او روستو د دوئ ټول تعلیم او تربیت د دوي والدے ماجدے علیهما الرحمة کړے وو. د ده فقط یو رور وو چه نوم یئے یوسف وو او په ځلمیتوب کښې وفات شوے وو. او څلور یئے خویندے وے. چه روستو د هغوئ اولاد خور شوے دے[335].

هر کله چه خواجه سلیمان د څلورو کالو په عمر شه. نو والدے ماجدے یئے سبق ته کښینولو پنځلس سپارے یئے د هغوئي نه اولوستلے. بیا د خپلے قبیلے (جعفر خیل) د یو حاجي صاحب نه یئے باقي پاتے قرآن مجید اولوستلو د هغے نه روستو د علم په طلب پسے تونسه ته راغے. په بسکی مسجد کښې دیره شه. دلته یئے د میا حسن علي نه د هغه زمانے د نصاب مطابق د فارسی ژبے ابتدائی کتابونه لکه پندنامه عطار.

---

[334] انوارا صفیاء صفحه ۵۳۴

[335] خاتم سلیماني صفحه ۱۵

ګلستان او بو ستان د شیخ سعدي وغیره اولوستل[336]. د هغه ځاي نه بیا موضع لانګهے ته راغے[337]. او دلته یئے د مولوی ولي محمد نه د فارسی ژبے باقي پاتے کتابونه ختم کړل. بیا کوټ مټهن[338] نه لاړ. او هلته یئے د حضرت مولانا محمد عاقل علیه الرحمة په عربي مدرسه کښې د عربي علمونو زدکړه شروع کړه. د علم فقهه. اصول. صرف نحو منطق وغیره کتابونه یئے په درس اولوستل. حضرت خواجه محمد سلیمان چه په وکټ مټهن کښې د دیني علمونو د حاصلولو نه فارغه شه نو دغه وخت د دوئ عمر شپږ ویشت کاله او په بل روایت شپږ دیرش کاله وو. په ظاهري علمونو کښے درجه د کمال او فضیلت ورته حاصله شوي وه. او زیات وخت به یئے په امر معروف تیره ولو. په دغه منځ کښې د خلقو د خلے نه خبر شه چه حضرت خواجه نور محمد مهاروي چشتي علیه الرحمة د علاقه بهاولپور اوچ نومے مقام ته راغلے دے. او بله دا چه د دغه خواجه نور محمد په مجلس کښې سماع کیږي. چونکه په دغه زمانه به حضرت مولانا "مانار خان" امر معروف او نهي عن لامنکر کولو او د سماع

---

[336]خاتم سلیماني صفحه ۲۱

[337]دا کلے د تونسه نه د پنځه کوس په فاصله مشرقي طرف ته باد وو. په کوم جماعت کښې چه شاه سلیمان درس لوستلے وو. هغه په ۱۲۷۸هـ کښې سیلاب وړے دے.

[338]کوټ متهن په تحصیل راجن پور مغربي پنجاب کښې د یو مشهر (کلي نوم دے. چه په ۱۰۴۷هـ کښې متهن خان نومے یو بلوچ قبائلي سردار جوړ کړے دے. دا کلے د پنجاب د پنځه واړه سیندونو سندهـ جهلم جناب. راوي. ستلج د یو ځائي کیدلو مقام (بنج ند)) سره نزدے آباد درے او د بهاولپور نرمےعلاقے په پوله دے.

آوریدلو په خلاف به یئے وعظ او نصیحت کولو. چه د دے حال نه خبر شه نو ور روان شه چه د حضرت خواجه نور محمد مهاروي سره بخث اوکړي. او د سماع کولو او د هغے د اوریدلو نه یئے منع کړي. په دغه خیال چه واروړسیده او د هغوئ په خذمت کښې حاضر شه. بیا بل حال وو. علمي بحثونه په ځاي پاتے شول. د حضرت خواجه نور محمد نه یئے بیعت او کړ. د هغوئ په خذمت کښې پاتے شه. ډیره موده یئے ورسره تیره کړله. د طریقت، معرفت او د تصوف منزلونه یئے سرته اورسول. د علم تصوف کتابونه لکه آداب الطالبین. فقرات اولوانح جامي. عشره کامله. فصوص الحکیم وغیره یئے د هغوئ نه په درس اولوستل[339].څه وخت چه حضرت مولانا. مانار خان" د حضرت خواجه نور محمد مهاروي مرشید شه نو هغوئ پرے باندے محمد سلیمان نوم کیښوده او په دے شان سره د دوئ نوم د مانار خان په ځائ سلیمان خان شه. چه نن په حضرت خواجه محمد سلیمان چشتي قدس سره یادیږي.

حضرت خواجه محمد سلیمان د خپل پیر طریقت په حکم سره د حضرت شاه فخر الدین دلیدلو د پاره دهلي ته روان شه. او د لاور. جودهـ پور. اجمیر. جے پور ریواړي په لاره په ۱۱۹۹هـ کښې دهلي ته اورسیده. لیکن هغه د ده د رسیدلو نه څه موده وړاندے هم په دغه کال ۱۱۹۹هـ کښې د درے

[339]خاتم سلیماني صفحه ۴۶

اویا کولو په عمر[340] په اوم تاریخ د جمادي الثاني وفات شوے وو. د هغوئ په مزار د فاتحے لوستلو نه پس اجمیر شریف ته بیا لار او فیض یئے حاصل کړ.

حضرت خواجه سلیمان د شپږ دیرش کالو په عمر کښې د حضرت خواجه نور محمد مهاروي علیه الرحمة نه بیعت کړے وو. شپږ کاله یئے د خپل پیر په صحبت کښې د فیوضاتو حاصلولو په خاطر تیر کړي وو. او بیا د هغے نه پس د خپل پیر طریقت په حکم سره په مقام د تونس یئے قیام فرمائیلے وو. او د هغے نه روستو شپږ څلویښت کاله زمانه یئے په تونسه شریف کښې د اسلام په تبلیغ. امر معروف اشاعت. اصلاح او تربیت کښې تیره کړي وه. او هم دا هغه بختور انسان دے. چه دسلسله عالیه چشتیه په بزرگانو کښې ډیر اوچت مقام ورته حاصل دے. واقعات دا دي چه پنجاب ته د حضرت شاه فخر الدین علیه الرحمة فیوضات او د سلسله عالیه چشتیه نوم د حضرت نور محمد مهاروي په ذریعه رارسیدلے وو. او د حضرت خواجه محمد سلیمان په ذریعه تکمیل شوے وو. د دوئ د ارشاد او تلقین په ذریعه د مغربي پاکستان او افغانستان د زرګونو خلقو سینے د هدایت او روحانیت په انوارو روښانه شوے وے. او د خزینة الا صفیاء د تصریح مطابق[341] تقریبا یو لکھ کفار.

---

[340]حضرت خواجه فخر الدین د هلوي په ۱۱۲۶هـ کښې پیدا شوے او په ۱۱۹۹هـ کښې وفات شویدے.

[341]خزینة الا صفیاء جلد (۱) صفحه نمبر ۵۱۴

فاسقان او فاجران د هغه محبوب کردګار په لاس باندې توبه تائب شوي وو. بیعت یئې کړې وو. د خدائ پاک مقربان شوي وو. او بې شمیره مرید انو ته یئې خرقه د خلافت وربخښلې وه. د دوئ نامور خلیفه ګان د ملک په ګوټ ګوټ کښې خواره شول. او هم د دوئ د معرفت او روحانیت د روښانه مشعل نه په سیال شریف. ګولړه شریف. جلال پور شریف حیدر آباد شیخاواني. راجپورتانه. جزائر سرانديپ عدن. افغانستان کښې د رشد او هدایت هغه چراغونه روښانه شول. چه یو ځل بیا د پخواني زمانې د صوفیانو او روحاني رهنمایانو د مبارک دوریا دورئي تازه کړ. د مفتي غلام سرور د بیان مطابق د دوئ په مریدانو کښې درې خلیفه ګان داسې وو چه هر یو خلیفه اعظم و مشهور عالم وو. او د عرب او عجم دواړو رهنمایان ګرځیدلي وو. (۱) شیخ محمد یار (۲) حافظ محمد علي خیر آبادي (۳) محمد علي د مکهډ چه فکر او کړلې شي نو حضرت خواجه محمد سلیمان تونسوی د سلسله عالیه چشتیه نظامیه د ټولونه آخرینې هغه جلیل القدر بزرګ دې. چه د دوئ د علمي تجربه او روحاني عظمت او پاکیزګئ په وجه د خداي د مخلوق د احوالو. اعمالو. او اخلاقو اصلاح په لویه پیمانه سره شوي وه. د دوئ خپله ټوله توجه د شریعت محمدي او سنت بوي تلقین او تبلیغ طرف ته راګرځولې وه. او خدائ پاک په دغه نیکو کوششونو کښې کامیابي ورته بخښلې وه.

حضرت خواجه محمد سلیمان چه په ۱۱۹۹هـ کښې د دهلي او اجمیر شریف د سفر نه واپس شوے وو. نو خپلے قبایلي علاقے ګرګوجي ته د څه ورځوع د پاره راغلے وو. څه موده چه یئے دلته تیره کړه. نو د هغه نے روستو بیا واپس ترینه ته راغلے وو. تونسه[342] د مغربي پاکستان په علاقه مغربي پنجاب کښې په ضلع ډیره غازي خان کښې د مرکزي مقام ډیره غازي خان نه د دیرش کوس په فاصله یو معمولي کلے وو. لیکن چه څه وخت حضرت خواجه سلیمان چشتي قادري دلته استوګن شه. و بیائي مزار هم دلته جوړ شه. نو د هغے نه روستو د دے کلي په آبادئ او شهرت دواړو کښې زیاتوالے راغلے دے. څه وخت چه حضرت خواجه سلیمان دلته راغلے وو. نو یوه جونګره یئے ځان له جوړه کړه. بیا روستو چه د دے علاقے رئیس الف خان یئے مرید شه. نو هغوئ د دوئ د اوسیدلو د پاره یو مکان جوړ کړ. د هغے نه روستو نواب بهاولپور (د حضرت خواجه سلیمان علیه الرحمة سجاده نشین) خوجاه الله بخش ته رقم را اولیږلو. و دلته یئے یو جامع مسجد جوړ کړ. او په دے شان سره دغه معمولي کلے توسه یو بارونقه آباد مقم شه. حضرت خواجه سلیمان علیه الرحمة په خپل ژوند کښې توسه له دیو دارالعلوم شکل ورکړے وو. د دوي د خانقاه چار چاپیره څلور مدرسے جوړے شوي وي. چه په

---

[342]لفظ تونسه په تاریخ فخزن پنجاب جلد نمبر۲ صفحه نمبر۳۲۷ کښې "توسه" لیکلے شویدے. چه د عربي لفظ طروسه: طوس بدل شوے شکل دے چه نن ورځے دا نوم ترنسه لیکلے شي.

هغې کښې يو پنځوس عالمانو به د ديني علمونو درس ورکؤلو. د دوئ په دے تعليمی مرکز کښې د تعليم او تربيت کار په لويه پيمانه جاري اوساتلو. چه د لرے لرے ملکونونه د ديني علمونون طالبعلمان به د کمال او فضيلت حاصلو د پاره ورته راغونډيدل.

حضرت خواجه محمد سليمان قدس سره په خصوصيت سره په علم فقهه تفسير او حديث کښې متبحر عالم وو. په خپله به يئے هم درس ورکؤلو. او خپلو خاصو شاګردانو ته به يئے د سلوک او احسان کتابونه لکه عوارف او لوائيح وغيره شول د هغے درس ورکؤلو. او په دے شان سره د دوئ د مبارک وجود نه په ظاهري او باطني دواړو حيثيت سره د خدائ مخلوق ته علمي او عرفاني فائيدے او رسيدلے. عقيدتمندو خلقو به په زرګونو روپئ نقدے او نور هر قسم جنس څيزونه نذرانه پيش کوؤل. او په هغے کښې به يو پوټے څيز هم ماښام ته نه پاتے کيده. او په هغه ساعت به په غريبانو او عاجزانو ويشلے شه. چه تر نن وځے پورے هم هغه شان د دوئ دغه لنګر جاري دے. او څه کمے پکښې نه دے راغلے.

د حضرت خواجه محمد سليمان خان عليه الرحمة يو ډير لائيق. عالم او بزرګ مشر ځوي وو. چه ګل محمد نوم يئے وو. هغه د خپل پلار په ژوند باندے ۱۲۵۷هـ کښې وفات شه. ووپسے چه په ۱۲۶۷هـ کښې حضرت خواجه محمد سليمان قدس سره وفات شه. نو د دوئ

په سجاده باندې حضرت خواجه الله بخش عليه الرحمة سجاده نشين شوې وو. او په کومه حجره يا خلوتخانه کښې چه به دوي کښيناستل. او د دوئ د عبادت ځاي وو. هم هلته د دوئ مزار جوړ کړلې شه. نواب بهاولپور د دوئ صادق مريد وو. هغه د دوئ په مزار باندې عاليشان او شاندار عمارت جوړ کړ. چه په هغه زمانه پنځه اتيار زره روپئ خرڅ پرې راغلې وو. د دوئ د مزار سره نزدې د ملتان کو ټوال غلام مصطفې خان خاکو اني د لس زره روپو په خرڅ باندې مجلس خانه جوړه کړه. او د دوي يو پښتون مريد خان احمد خان د دونيم زره روپو په خرڅ د مزار مبارک سره نزدې پوخ کوهې او د اودس کؤلو ځايونه جوړ کړل. د مزار سره نزدې چه کوم پوخ جامع مسجد دې. هغه د دوئ يو سجاده نشين او خليفه خواجه احمد بخش عليه الرحمة جوړ کړې دې[343].

حضرت خواجه محمد سليمان خان په ۱۲۶۷هـ کښې د صفر المظفر په اوم تاريخ وفت شوې وو. په دغه وجه هر کال په دې ورځ باندې د دوي کليزه او عرس کيږي. او د دغه يو قسم له عظيم الشانه ميله وي. او ګومره خلق چه دې عرس ته د سندهـ، بلوچستان. مغربي پنجاب سابق صوبه سرحد او خصوصاً د ډيره ډويژن د قبائيلي علاقو نه حاضريږي غالباً په ټول مغربي پاکستان کښې د بل هيڅ يو بزرګ په عرس کښې دومره د خداي مخلوق چه دلته حاضريږي. د هغوي

[343]تاريخ مخزن پنجاب صفحه نمبر۳۳۸ جلد نمبر ۱

مقصد او غرض فقط د خداي پاک رضا حصولول وي بس! او دا دومره مخلوق چه دلته په يو مرکز بانديے د "يو روحاني پيشوا" سره د عقيدت له خاطره راجمع کيږي. دغه يو داسے عظيم الشان. روحاني تړون" دے. چه په هغے کښې د مغربي پاکستان د هرے حصے او هرے علاقے او هر قوم خلق موجود وي. ځکه چه اسلام مونږه مسلمانانو ته يو داسے اسلامي درس راکړے دے. چه هغه په هر يو حالت کښې مونږ ته دا ښائي چه ټول مسلمانان يو رونړه دي.

خليفه ګان

لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه. د مغربي پاکستان نه علاوه د برصغير پاک و هند او بيروني ملکونو په چار چاپيره علاقو کښې د حضرت خواجه محمد سليمان خان چشتي نظامي فخري قادري په لکهونو مريدان وو. چه په هغوئ کښې بے شميره کسانو ته يئے خلافت ورکړے وو. د سجاري اوار شاد خاوندان کړي او ما ذونان کړي يئے وو. د يو څو خليفه ګانونو مونه يئے بيا دلته ليکلے شي.

(۱) د دوئ د اولني خليفه نوم حضرت محمد باران عليه الرخمة وو. چه د کلاچي ضلع ډيره اسماعيل خان اوسيدونکے وو.

(۲) دوئم خليفه يئے حضرت خواجه حافظ محمد علي المعروف په حافظ

محرم علي وو چه د خير آبا د (بهارت) اوسيدونکے وو. او په حيدر باد دکن. دهلي او دهندوستان په نورو مختلفو علاقو وکښې يئے په لکهونو مريدان لرل.

(۳) دريم خليفه يئے حضرت خواجه مولوي محمد علي المعروف په پير مکهډ عليه الرحمة وو. چه د سابق پنجاب او سرحد خلق اکثر د دوي مريدان او عقيدتمندانه دي او تر نن ورځے پورے د دے علاقو و دټولو خلقو بزرګه ستانه ده.

(۴) څلورم خليفه يئے حضرت خواجه مير فضل علي عليه الرحمة وو. چه د جهجو اوسيدونکے وو. او په زرګونو خلقو ترينه فيض موندلے وو.

(۵) پنځم خليفه يئے حضرت امام المتوکلين خواجه شيخ محمد صالح المعروف په شيخ جيون عليه الرحمة وو. چه د دے هم د موضع جهجو او سيدونکے وو. د کشف او کرامت خواند وو. او ډيرو خلقو ته ترينه فيض رسيدلے وو.

(۶) شپږم خليفه يئے حضرت خواجه شمس الدين صاحب المعروف په پير صاحب سيال شريف وو. چه بيا د

ګولړے شریف حضرت خواجه سید مهر علي شاه ګیلاني هم د دوئ نامور خلیفه تیر شوے دے.[344]

که فکر اوکړو د ټول مغربي پاکستان عام او خاص مسلمانانو ته چه د درے لویو پیر خانو (۱) سیال شریف (۲) مکهډ شریف (۳) ګرلړه شریف. ځنے کوم فیض رسیدلے دے او تر نن ورځے پورے رسیږي. د هغے سر چشمه دغه احمد زئ وزیر پشتون بزرګ دے. چه نوم یئے مانار خان وو. او نن د اسلام د روحاني فضیلت په برکت د حضرت خواجه شیخ المشائیخ والعلماء سلطان التارکین سید الراسخین امام الهدی غیاث الوري قطب الا قطاب. فرد الا حباب غربانوار سلیمان زمان "خواجه سلیمان" رحمة الله علیه په نامه باندے یادیږي. د دوئ ژوند

او د دوئ حالات مونږ ته دا سبق ښائي. چه هر هغه څوک چه د خدائ مهرباني پرے اوشي. زړهٔ او سینه یئے د خدائي په معرفت روښانه شي او د اسلام خذمت خالص د خدائي د رضا د پاره اوکړي. هغه که مانا خان وي. سلیمان خان کیږي. پکار ده چه هر مسلمان د دغه نیک بنده د خداي په تعلیماتو عمل اوکړی د اسلام او مسلمانانو

[344] د یو څو نورو خلیفه ګانو نو موته یئے دا دي. (۷) مولانا احمد تونسري (۸) صاحبزاده الله بخش او صاحب ده قطب الدین او نور بخش چه د حجرت خواجه سلیمان خپل نوسي و وو(۱۱) مولوي نور جهانیان بهار لپوري (۱۲) مولوي شهسوار د مهارشریف. میا عبدالشکور خیر بادي (۱۳) مولوي امام الدین (۱۴) حاجي نجم الدین (۱۵) خواجه احمد میر وي.

خذمت خالص د خداي د رضا د پاره اوکړي. چه د دنيا او آخرت نيکبختي يئے نصيب شي. د حضرت خواجه محمد سليمان تعليمات دادي.

تعليمات

(۱) دوئ به فرمائيل[345]. "د روحاني ترقئ د پاره د زړۀ صفائي ډيره ضروري ده. او د د زړۀ صفائى د شريعت د مکملے تابعدارئ نه په غير نه شي حاصليدلے. که يو سړے ډير لوئ ولي د خدائ وي. او خلاف شرع کار ترينه اوشي. نو د هغه ولايت او روحانيت ته پرے نقصان رسيږي. په دے وجه:

(الف) هر هغه کار چه په شرع پوره نه وي ځان ترينه ساتي!

(ب) د خداي اورسول د ذکر نه ماسيوا چه څه کارونه ي هغه ټوله سر دردي ده.

(ج) د انساني کمالاتو حصول د شريعت محمدي د ظاهري او باطني دواړو د پيروئ کولو نه په غير له محالاتو نه دے.

(د) د رسول مقبول محمد مصطفى صلي الله عليه وسلم کامله تابعدارى کوئ.

[345] رياض السالکين صفحه نمبر۱۴ تا ۷۴

(ه) دوي به فرمائيل: په موجوده زمانه کښې چه مسلمانانو د نبي صلي الله عليه وسلم متابعت پريښې دے. هم دغه سبب دے چه حق سبحانه وتعالى په دوئ باند کفار مسلط کړى دي. دوئ به دا قصه ډيره کوله. چه يو ځل سکهانو د ملتان قلابندى او محاصره او کړله. نو يو بزرګ د رسول مقبول په خدمت کښې د امداد کولو درخواست اوکړ. په خوب کښې ورته رسول د خداي او فرمائيل "ځما امت ځما تابعداري پريښې ده.

(و) التجا او تکيه فقط د الله تعالى په پاک ذات پکار ده. په بل چانه ده پکار.

(ز) رياضت په قدر د استطاعت پکار دے. اکثر داسے اوشي. چه په هلکووالي کښې کوم سړي ډير رياضتونه کولے شي. هغة چه کمزورے شي. فرض عبادت پوره کول هم ورته ګران شي. په دے وجه اوراد. وظائف او نفلي عبادتونه لږ پکار دي فقط دومره پکار دي چه تر آخر عمره پورے يئے سړے کوؤلے شي.

حضرت نور محمد تیراهي علیه الرحمة

ولادت
....
تیزئ (تیراه) ۱۱۷۹هــ

وفات..............................
... چوره شریف (اټک) ۱۲۶۸هــ

حضرت خواجه نور محمد د مشهور پیر طریقت خواجه محمد فیض الله بابا[346] علیه الرحمة فرزند ارجمند وو. په ۱۱۷۹هــ کښې په مقام د تیزئ علاقه تیراه کښې پیدا شوے وو. ابتدائ تعلیم یئے د خپل والد ماجد نه حاصل کړے وو. اګر چه د ظاهري علمونو درس یئے ډیر کم لوستلے وو. لیکن د خپل والد ماجد د پیر طریقت حضرت خواجه محمد عیسی د نظر او توجه له برکته دوئ ته په علم لدنی کښې ډیره لویه حصه خداي پاک ورکړے وه. او مبارکه سینه یئے راسے پرانستے شوے او روښانه شوے وه. چه د ګرانے نه ګرانه مسئله به یئے په ډیره اسانتیا سره حل کوؤله.

حضرت خواجه نور محمد د خپل والد ماجد نه خرقه د خلافت حاصله کړي وه. خپل والد ماجد د دوئ په حقله فرمائیلي وو.

---

[346] د دوئ تذکره مخکښې تیره شوے دے

چه څما د افرزند به د کمال خاوند شي. د حضرت خواجه امام رباني مجدد الف ثاني قدس سره پیروي کوونکے ا ووارث به وي. د ده په ذریعه سره به نقشبندیه خاندان ته فروغ او ترقي حاصله شي. او د دنیا مخلوق به د ده د انوارونه روښانه او فیض یا به شي. چنانچه د هغوئ د اوینا خدائ رښتیا کړه او د دوئ د مبارک ذات نه د پاک وهند په مغربي پاکستان خصوصاً شمال مغربي پاکستان. افغانستان او نورو ملکو نو کلې هغه روحاني رنړا خوره شوه او دومره خلقو ته د دوئ فیض او رسیده. چه د حضرت امام رباني مجدد الف ثانی قدس سره د زمانے نه روستو د ارنگ به چا نه وي وریدلي. او د دوئ د فیوضاتو دغه مبارکه سلسله لا تر نن ورځے پورے جاري ده.

څه وخت چه بابا نور محمد د خپل والد ماجد د وفات ۱۲۳۵هـ نه روستو سجاده نشین شه. نو د دوي په خلیفه ګانو کښې د ټولونه رومبنی دوه خلفه ګان یئے فقیر الله نورا و فقیر عجیب نور نومے دوه پښتانه وو. چه په ټول افغانستان کښې د هغوئ په ذریعه د نقشبندیه سلسلے انوار خواره شول. اورپسے دریم مشهور خلیفه یئے حضرت خواجه نامدار شاه المعروف مولانا هاري پاک وو. چه په تول پنجاب کښې یئے دا سلسله خوره کړله. حضرت خواجه نور محمد نقشبندي د سجاده نشین کیدلو نه پس یو ډیرش کاله په موضع تیزئ تیراه کښې تیر کړل. او بیا د خپل وفات نه تقریباً

یو نیم کال مخکلې په ۱۲۶۶هـ کښې یئے د پنجاب ضلع کیمبل پور علاقه اټک موضع چوره ته تشریف راوړلو. دا مقام د اټک په خواؤ شا کښې دے. او د جهنډ نومے ریلوے سټیشن نه ورته تقریبا دوه میله پیاده لار تلے ده.

د دوئ مبارک اخلاق پاکیزه وو. د پاک رسول صلي الله علیه وسلم د سنت مکمله تابعداري کول. بدعتونه او ناروا کارونو ځنے اجتناب کوؤل چنانچه چلم تماکو څښل به یئې ښه نه ګڼړل. او چه کومو خلقو به چیلم څښولو هغة به یئے د خواجه ګان نقشبند په ختم کښې شریک کیدلو ته نه پریښودل. ډیر ساده او خاکسار طبعیت خدائ ورکړے وو. د طالبعلمانو او میلمنو به یئې قدر کولو. او په خصوصیت سره د سیدانو او عالمانو به یئے ډیر قدر تعظم او تکریم په ځاي راوړلو.

حضرت بابا صاحب علیه الرحمة په ۱۲۶۷هـ کښې وفات شوے دے. مزار پرانوار یئے په چوره شریف کښې دے. او هر کال د دوئ د وفات د کلیزے په موقع عرس کوؤلے شي. چه د لرے لرے نه عقیدتمندورته د سوؤنو په تعداد کښې حاضریږي[347].

علیه الرحمة والغفران.

[347] انوار صوفیه

میا مستجاب مامونزائے علیه الرحمة

ولادت

....

پړانګ (چارسده) ۱۱۹۰ھ

وفات...............................

... انځړے (قبائیلي علاقه مهمند) ۱۲۷۵ھ

حضرت میا مستجاب ابن میا شیخ عبدالکیرم الملقب په میا کریمداد ابن حضرت میا شیخ عبدالرحمان قادري شطاري. سهروردي علیه الرحمة په قام بانډے د هشنغر د محمدزي قوم د موسی خیل قبیلے نه وو. د میا موسی علیه الرحمة زیارت د پړانګ چارسدے په هدیره کښې دے. او د موسی خیل قبیلے خلق د چار سدے کلي په ویش کښې د څلور مے حصے مالکان دي[348]. ځان له څلورم کنډے دے. او دا کلے چه په اول سر کښې کومو څلورو مشرانو نیکونو آباد کړے دے. په هغوئ کښې څلورم نیکه میا موسی بابا علیه الرحمة وو. چه نن ورځے د ده اولاد موسی خیل یادیږي.

د دغے حضرت میا موسی علیه الرحمة په اولاد کښې حضرت میا شیخ عبدالرحمان موسی خیل محمد زائ د ۱۱۰۰ھ (یوؤلس سوه) په

---

[348] تاریخ پشاور بحث لفظ چارسده

آخر کښې کشمیر ته لاړ او هلته یئے د حضرت مولانا شیخ نعمت الله شاه قادري. شطاري. سهروردي علیه الرحمة نه بیعت اوکړ. د یارلس کاله یئې د خپل پیر طریقت سره په کشمیر کښې تیر کړل. بیا د خپل پیر په امر او هدایت سره موضع پړانګ (هشنغر) ته راغلے او د علم او عرفان د فیوضات وخورولو سلسله یئے شروع کړه. روستو د دوئ د درے ځامنو حضرت میا شاه زمان. حضرت شیخ عبدالکریم المعروف په میا کریمداد او حضرت شیخ میا احمد خان د دے خپل والد ماجد نه بیعت کړے وو. او خرقه د خلاف یئے حاصله کړے وه. د دغه نه علاوه حضرت شیخ عنایت الله قدس سره ابن حافظ بر خوردار علیه الرحمة متوفي ۱۱۵۸هـ هم د دوئ نه خرقه د خلافت حاصله کړے وه.[349]

د حضرت شیخ عبدالرحمان قادري سهرور دي علیه الرحمة خصوصي مسلک د زهد او ریاضت او ډیرو سختو مجاهدو کولو ژوند وو. چه هغے ته د دائمي احرام حالت وائي. په دے مسلک کښې چه کوم لباس وي. چونکه دوئ به د زیړ رنګ څادرونه وي لکه د احرام په حالت کښې چه کوم لباس وي. چونکه دوئ به د زیړ رنګ څادرونه استعمالول په دغه وجه د حضرت میا شیخ عبدالرحمان اولاد او خلیفه ګان په یو خصوصي نوم "د هشنغر زیړ څادري بزرګان" سره یادیږي. او ډیره لویه د فیض او برکت استانه ده.

---

[349]خزینة الا صفیاء جلد نمبر۱ صفحه نمبر۲۰۶

د حضرت شيخ عبدالرحمان قادري عليه الرحمة درے واړه ځامن حضرت ميا شاه زمان. ميا کريمداد. ميا احمد خان د پاني پت د جهاد په موقع د مرهټيانو په خلاف د جهاد کولو د پاره داحمد شاه ابدالي سره ملګري تلي وو. او په دغه غزا کښې يئے حصه آخيستے وه. خپل مريدان او د هشنغر د محمد زي قبيلے غازيان ورسره وو. په پاني پت کښې چه فتح يئے حاصله کړله. نو د هندوستان نه د واپسئ په موقع د احمد شاه ابدالي په ملګرتيا کښې تر جلال آباد (مشرقي افغانستان) پورے لارل. او هلته څه ډيره موده يئے د ميلمنو په حيثيت سره تيره کړله. په دغه زمانه د قبايلي علاقے مهمند او باجوړ په پخواني مرکز دارالحکومة ناوګئ باندے د احمد شاه ابدالي د طرف نه يو نائب الحکومة به حکمران وو. احمد شاه ابدالي عليه الرحمة د باجوړ او مهمندو د علاقے د دغه نائب الحکومت په نوم باندے يو فرمان او ليکه. چه پخپله علاقه کښې حضرت شيخ ميا شاه زمان عليه الرحمة او حضرت شيخ ميا کريمداد عليه الرحمة له جاګير ورکړي[350]. چنانچه د موجوده مهمند ايجنسئ په قبايلي علاقه مهمند کښې د "انځري علاقه" چه پنځه مربع ميله ده. او د باجور سره يئے پوله جنګيدلے ده. هغه يئے ورله جاګير ورکړه. دوئ چه د جلال آباد نه ناؤګئ ته راغلل. څو ورځے يئے دلته ميلمستيا په طور سره

[350] د احمد شاه ابدالي دا فرمان د انځري د ميان ګانو سره موجود دے. (اثر)

تیرے کړے د کشف او کرامت او خرق عادت کارو نوبے شمیره کرامتونه ترینه څرګند شول. د ناوګئ د نائب الحکومة په زړة کښې څه خیال پیدا شوے وو. لیکن هر کله چه دوئ د کرامت او بزرګئ ښکاره علامے او واقعات یئے اولیدل. سمدستي یئے خپله ملامتیا څرګنده. عذر معذت یئے پیش کړ. معافي یئے اوغوښتله. خپل پیاده اوسواره یئے ورسره کړل. او د انځري د جاګیر حدود یئے ورته اوښودل[351]. دے بزرګانو یعني حضرت میا شاه زمان او حضرت میا کریمداد علیهم الرحمة دغه علاقه ځان ته تسلیم کړه.او د خپل نیکه وطن پړانګ (چارسده) ته واپس راغلل. د ډیرو کلونو تیریدلو نه پس د حضرت میا شاه زمان او حضرت میا کریمداد ځوي حضرت شیخ میا مستجاب علیه الرحمة د واړه یئے انضري ته اولیږل. او وسره یئے کلا لان او هنکران چه د میا کریمداد صاحب شیخان وو. د هغوي کاله هم اولیږلے. په انجري کښې په "منډو شاه" نومے مقام کښې یئے خپله آبادي جوړه کړله او دلته مستقل طور باد شول. په "انځري" کښې ډیرے سیلابي زمکے وے. د هشنغر په طریقه یئے په هغے کښې بندونه واچول. ملک سیراب آباد او سر سبز شه او د معرفت او روحانیت سلسله یئے شروع کړه.د دے علاقه غر په دغه زمانه ځنګل وو. قدرتي او به پکښې ډیرے وے. لیکن آبادی او خوارئي یئے غوښتله. د دے دواړو بزرګانو په راتللو چه دا علاقه آبده شوه.نوجوار.

---

[351] تذکره میا مستجاب

اربشے، غنم به پکښې پیدا کیدل. حضرت میا مستجاب او میا احمد خان علیهم الرحمة پخپله زمانه د انجری په غره کښې دوه چینے او کوهیان کنستلي وو. او د دوئ د کرامت نښه دا ده چه د سپونړی او خار خښت بیماران د هغے په اوبو او لامبی نو خدائ پاک ورله صحت ورکړی. او دا د دوئ داسے ژوندے کرامت دے. چه تر نن ورځے پورے د لرے لرے علاقو دپم. سپورنړی او خارښت بیماران ورله راځي. او شفا بیا مومي[352].

روستو حضرت میا احمد خان د انځري نه د "پیپل دوایزائ" علاقے موضع اولس ته تشریف وړے وو. اولاد یئے هم په پیپل کښې آبا ددے. او د میا مستجاب زیارت په موضع انجړی (قبایلي علاقه مهمند) کښې دے. د اختر په ورځو کښې اوس هم میله پرے باندے لګیږي. او د خواؤ شا علاقو خلق ورله راځی. د میا مستجاب علیه الرحمة اوه ځامن وو. چه د ټولو اولاد په انځري کښې آباد دے. نومونه یئے دا دي. هشام. باچا. دادا. کوکي. خوجه ایوب. کا. روستو د دے هر یو د اولاد نه ځان له ځان له قبیله جوړه شوے ده. په هشام خیل خاندان کښې میا رحمدل شاه عالم او نیک سړے دے. او ځما (اثر افغاني) مهربان دے. میا مستجاب بابا په ۱۲۷۵هـ کښے وفات شوے دے[353].

لکه چه مخکښې ورته اشاره شوے ده. حضرت میا عبدالرحمان قادري شطاري.

---

[352]تذکره میا مستجاب

[353]تذکره میا مستجاب

سهروردي د محمد زی قوم د موسی خیل نومے قبیلے څنے وو. د دے کورنۍ خلق په موضع پرانګ (چارسده) او په موضع شیخ کلے (متصل موضع اګره) کښې اباد دي. د دے موسی خیل قبیلے نور خلق د هشنغر خانان دي.

ملک ګلو بابا علیه الرحمة

د قبائیلي علاقه مهمند د اتمانزی قبیلے په "میخ ډهنډ" نومے علاقه کښې د ګلو خیل قبیلے مورث علی حضرت ملک ګلو بابا علیه الرحمة د حضرت میا کریمداد علیه الرحمة ماذون او خلیفه وو. په دے وجه د دے ګلو خیل نومے قام خلق د انجري د میا ګانو خاص مریدان دي. او په دے شان سره د معرفت او روحانیت د دے مبارکے قادریه، شطاریه، سهروردیه سلسلو انوار په پنجاب، کشمیر. وادۍ پیښور او قبائلي علاقه مهمند کښې یو شان خواره دي. ا د دغے له برکته د مسلمانانو تر منځه یوه "روحاني رابطه" پیدا شوے ده.

مزارونه

د موجوده تحصیل بازار چارسده نه د منځ چوک سره د هدیرے په منځ کښې چه کوم سړک د پړانګ کلي ته تلے دے. د دغه سړک نه قبیلے غاړے ته په یوه کچه چار د یوارۍ کښې په یوي بانډے غونډ پنځه مزارات دي چه په هغے کښې

(۱) یو مزار د حضرت شیخ المشائیخ شاه عبدالرحمان مامونزائي قادري شطاري سهروردي دے.

(۲) دویم د حضرت میا عبدالکریم المعروف په میا کریمداد دے.

(۳) دریم د حضرت میا احمد خان ابن میا عبدالرحمان دے.

(۴) ځلورم د حضرت میا بادشاه ابن میا مستجاب ابن میا کریمدادے.

(۵) پنځم مزار د حضرت میا کریمداد د مشهور خلیفه حضرت ګل بابا دے. دا ټول زیارتونه په یو ځاي قط جوړ دي. عام او خاص یئے زیارت له راځي. او په مقامي خلقو کښې دا ټول زیارتونه د "احمد خان نیکه" په زیارت مشهور دي. د دے نه معلومیږي چه حضرت احمد خان بابا د وفات نه مخکښې د قبائیلي علاقے مهمند موضع پیپل دو ایزاے نه واپس پرانګ چارسدے ته راغلے وه. او بیا هم دلته وفت شوے وو. د سپونړی بیشاق. خارښت بیمارانو له خدائ پاک د دے بزرګانو د مزار خاوره دارو کوي. او شفا ورته حاصلیږي[354].

---

[354] تذکره میا مستجاب

عليه الرحمة والغفران.

حضرت مولانا سید محمد امیر علیه الرحمة

ولادت
....
کوټهه (صوابي. مردان) ۱۲۱۰هـ

وفات..............................
... کوټهه (صوابي. مردان) ۱۲۹۴هـ

حضرت مولانا و محدوم شیخ المشائیخ سید محمد امیر نقشبندي مجددي المعروف په حضرت جي صاحب د کوټهي علیه الرحمة د وادئ پیښور په نامورو روبزرګانو کښې د ټولونه زیات نامور او مشهور بزرګ دے. چه د دیارلسمے صدئ هجري په دوران کښې دا ملک د دوئ د علمی او روحاني انوارو په برکت روښانه شوے دے. فاضل عالم. زاهد عارف او ښتینی مجاهدوو. د دین اسلام د خذمت په لاره کښې یئے د خپلو مسلمانانو رونړو او پردو یعنے مشرانو او کفارو ټولو د لاسه نه سکتی او تکلیفونه په ځان وړي دي او په کمال استقامت او الوالعزمی سره یئے د دین اسلام د خذمت حق ادا کړےدے.

د ده اصلي نوم محمد امیر وو. شجره د نسب یئے داسے ده. محمد امیر ولد محمد

سعيد ولد يار محمد ولد عبدالغفور ولد مهر بيگ[355].

مهربيگ

د حضرت مهر بيگ عليه الرحمة په حقله دوه روايتونه مشهور دي. (۱) يو روايت د عامو تذکره ليکونکو دے. چه حضرت مهر بيگ د همايون بادشه همعصر وو. او مشران نيکونه يئے د کابل او غزني په منځ علاقه کښې اوسيدل[356]. (۲) دوئم روايت د مقامي مشرانو دے. چه حضرت مهربيگ د اکبر بادشاه د طرف نه د اټک په قلعه باندے نائب الحکومة وو. ليکن په دے دواړو روايتونو کښې مشکل. دا دے چه مهر بيگ سيد محمد امير (ولادت ۱۲۱۰هـ) په پنځمه پيړۍ کښې نيکه دے او د علم اصول تاريخ له مخه د ده زمانه ۱۰۹۵هـ متعين کيدلے شي چه د غه د اورنګزيب عالميګر زمانه ده. او همايون په ۹۶۲هـ ا اکبر په ۱۰۱هـ کښې وفات شوي وو. د اټک قلعه په ۹۸۴هـ کښې جوړه شوے ده. که د مقامي مشرانو د روايت مطابق د اکبر په زمانه د ۱۰۹۵هـ ده. کيدے شي چه د مهربيگ او عبدالغفور تر منځه په دے شجره کښې د دوه نيکونو نومونه پاتے وي. د مهربيگ نور حالات او د مزار ځائے نه دے معلوم. په کتاب نظم الدور کښې د مهر بيگ د نوم سره لفظ

---

[355] بحرالانوار صفحه نمبر۲۱۸ تاريخ يوسفزایۍ صفحه نمبر۵۴۸

[356] بحر الا نوار صفحه نمبر ۲۱۹

"بلغادري" ليکلے شوے دے[357]. د ابه معلومول غواړي چه د "بلغادري" نه څه مراد دے.؟

عبدالغفور

د حضرت عبدالغفور مزار مبارک د علاقه ګدون په کونډل نومے کلي کښې دے. د دے نه معلوميږي. چه دے هم دغلته اوسيده. د دوه درے ځامن وو. (۱) حضرت جان محمد عليه الرحمة چه د ده د دوه ځامنو سعد الدين او قطب الدين د نسل خلق په موضع بابينی او جهنډه (تحصيل صوابئ ضلع مردان) کښې آباد دي. (۲) يار محمد دوه دوه ځامن وو. محمد سعيد. محمد قابل چه په دوئ کښې د محمد سعيد اولاد په موضع کوټهه کښې او د محمد قابل د علاقه ګدون په منګل تهانه کښې آباد دے. (۳) شرف الدين د ده يو ځوي وو. محمد کاظم د هغه يو ځوي وو. محمد جي لاولد مړ دے او په ده باندے دا سلسله ختم شوے ده[358].

يار محمد

د حضرت عبدالغفور دوئم ځوي يار محمد د کونډل نه په کډه د علقه ګدون ميره کے نوم کلي ته راغلے وو. چه نن ورځے دغه کلے په ميراکی نامه مشهور دے. دغلته د څه مودے تيرولو نه روستو د تپه اتمانزي

---

[357] نظم الدري صفحه نمبر۳

[358] شجره نسب مطبوعه

کنډي کنازي مشهور کلي کوټهی ته په کډه راغے دلته يئے استوګنه اختيار کړه. هم دلته وفات شه. مزار مبارک يئے په کوټهه کښې دے[359].

حضرت يار محمد عليه الرحمة د موضع منګل تهانه د ترمذي ساداتو په کورنئ کښې واده کړے وو. د سيدانو دا خاندان حضرت پير بابا عليه الرحمة اولاد دے ليکن په خصوصيت سره د دوئ نيکه د کنړ نه دلته راغلے دے. په دے وجه د کنړ په سيدانو مشهور دي[360].د دغه سيدے بي بي نه يئے دوه ځامن پيدا شوي وو. محمد قابل. محمد سعيد. دا دواړه رونړه په سلسله عاليه قادريه او نقشبنديه کښې د حضرت شيخ المشائيخ فضل احمد معصومي مجددي نقشبندي المعروف په حضرت جي صاحب د پيښور خليفه ګان وو[361]. او لويه علمي او عرفاني مرتبه يئے لرله.

محمد قابل

حضرت مولانا سيد محمد قابل د کوټهے نه منګل تهانړے ته په کډه تلے وو. هلته آباد شوے او هم هلته وفات شوے دے. د ده نه روستو دوه ځامن پاتے وو. مير عبدالله، مير فضل الله، حضرت مير

---

[359]نظم الدر صفحه نمبر۲۲۳
[360]کښې چه ليکي دي چه سيد محمد امير په قام د کنړ سيد دے د هغه تصحيح داسے پکار ده چه نيا بي بي يئے په قام د کنړ د ساداتو د خاندان ځنے وه.
[361]تکمله د تحفة المرشد صفحه نمبر۱۴۵

عبدالله فاضل عالم او کامل عارف وو. د حضرت جي صاحب کوټهي مرید وو. د سوات او بنیر د کال ۱۲۷۲هـ، ۱۲۷۸هـ، ۱۲۸۱هـ په سفرونو کښې د حضرت جي صاحب ملګرے وو[362].

محمد سعید

د حضرت مولانا یار محمد کشر ځوي حضرت مولانا محمد سعید هم فاضل عالم او کامل عارف وو. د خپل والد ماجد یار محمد د وفات نه روستو په مقام د کوټهه کښې سجاده نشین شوے وو. مزار مبارک یئے په کوټهه کښې د خپل والد ماجد د مزر په خوا کښې دے[363].

د حضرت مولانا سید محمد سعید په مبارک کور کښې په ۱۲۱۰هـ کښې په مقام د کوټهه (تحصیل صوابی ضلع مردان) کښې حضرت سید محمد امیر پیدا شوے وو. مور بي بي یئے د ولادت په وخت کښې وفات شوے وه. د ده نه مشرانے اوه خویندے یئے وے. هغوئ یئے پروش کړے وو. او لکه چه مخکښې ورته اشاره شوے وه. نیا بي بي یئے په قام سیده وه. په دغه وجه د ده نوم سید محمد امیر او سید امیر باچاه هم لیکلے شوے دے.

حضرت سید امیر باچا د قرآن مجید لوستلو نه روستو د هغه زمانے مروجه دیني

---

[362]نظؤ الدر صفحه نمبر ۲۷۲
[363]نظم الدر صفحه ۲۳۳

علمونه د خپل والد ماجد سید محمد سعید او خپل تره سید محمد قابل او ورپسے د وادئ پیښور د نورو ګنړو مشاهیرو عالمانو نه لوستلي وو. چه په مغوي کښې یئے د یو څو استاذانو نومونه دا دي:

(۱) مولانا نیاز محمد اخند زاده باجوړي او سیدنوکے د موضع مرغز صوابي (مردان)

(۲) مولانا منصور علي د کالو خان[364] (صوبي. مردان)

(۳) مولانا حافظ محمد احسن المعروف په حافظ دراز[365] پشاوري.

(۴) مولانا بحر العلوم حافظ محمد عظیم پشاوري[366].

---

[364] مولانا منصور علي په آخر عمر کښې د بنیر په علاقه چغرزایۍ کښے اوسیده. په منصور علي سواتي مشهور وو. د حضرت جي صاحب د پیښور نامور خلیفه وو. ډیر اوچه علمي او روحاني درجه یئے لرله. (اثر)

[365] حضرت مولانا حافظ محمد احسن ابن مولانا محمد صدیق ابن مولانا محمد اشرف خان خلیل چه په اصل د موضع کوچیان علاقه خلیل وو. او په پیښور ښهر کښې اوسیده. په حافظ دراز نامه مشهور وو. د حضرت جي صاحب د پیښور عقیدت مند وو. په علوم عقلیه او نقلیه کښې متجر او ماهر عالم وو. په صحیح بخاری یئے شرح لیکلے ده. په قاضي مبارک و میر زاهد ملا جلال یئے حاشیے لیکلي دي. په مسجد مهابت خان کښے به یئے د علم حدیث درس ورکولو. د سرحد نه تر سمر قنه یئے د علمي فضیلت آوازه خوره وه. سید جمال الدین افګاني ترینه په علم هیئت او ریاضي کښې سبق وئیلے وو. مولانا سید امیر ترینه په علم حدیث کښې سند اخیستے وو.

[366] مولانا حافظ محمد عظیم پشاوري په علم او فضل او زهد او تقوي کښې د خپل رخت شیح وو. د صحاخ سته د اسنادونه ورته زباني یاد وو. ډیر زیات به یئے ژړل. له دغه کبله په آخر

په دوئ کښې د حضرت حافظ دراز پشاوري نه يئے په علم حديث کښې او د مولانا حافظ محمد عظم نه يئے په علم تفسير کښې د درجه فضيلت سندونه حاصل کړي وو. د ۲۸کالو په عمر په ۱۲۳۸هـ کښې په تولو ديني علمونو کښې لکه صرف. نحو. فقهه. اصول. منطق. علم کلام. حکمت. رياضي. معاني. ادب. حديث او تفسير کښې درجه د کمال موندلے[367] وه.

يو خواته د دے بزرګانو او نامور استاذانو د درس او تربيت فيض او برکت وو. بل خواته سيد محمد امير پخپله خدا داد فطري ذهانت لرلو. چه علمي استعداد يئے زيات شه. د مسئلو باريکئ ته. د رازو نو او حقيقتونو نه به په آسانه رسيدلو. او د دغه صفتونو په وجه په خپلو همعصرو عالمانو کښې ممتازه علمي درجه يئے بيا موندله. شهرت يئے اوشه او د خواؤ شا عالمان پرے راتول شول.

د حضرت سيد محمد امير پلار او تره او اکثر استاذان د حضرت شاه فضل احمد معصومي المعروف په حضرت جي صاحب د پيښور ښهر مريدان او خليفه ګان وو. په دغه وجه د ده تعلق د سلسله عاليه نقشبنديه د دے

عمر کښې نابينا شوے وو. په سلسله قادريه او نقشبنديه کښې د حضرت محمد حسن رامپوري مريد وو. او د حضرت جي صاحب د پيښور خاص منعقد وو. بيا روستو چه معاندانو په حضرت سيد امير باچا د کرتهي باندے د وهابي توب او کفر فتوی اولګوله نو دوئ د دغه فتوے مخالفت کړے وو. حضرت سيد امير په علم تفسير او حديث کښې د ده شاګرد وو.

367

بزرګ خاندان سره د ورکوټي والي نه پيدا شوے وو. د طالب عالمئ په زمانه کښې يئے په دے مبارکه طريقه کښې د خپل والد ماجد نه فيض موندلے وو. د علم د حصوصل په دوران کښې يئے رياضتونه او مجاهدے کړے وے. تقوي او پرهيز ګاری يئے کسب وو. د هغے په وجه باطنی صفائي او علم لدني ورته حاصل شوے وو. هر کله چه د ظاهري علمونو څنے فارغه شه نو په سلسله نقشبنديه کښې يئے د دوه مشهورو بزرګانو نه بيعت اوکړ. او خرقه د خلافت يئے حاصله کړه.

شجره طريقت

د دوئ د طريقت شجره داسے ده:

(الف) سيد امير له حضرت شيک المشائيخ عالم عامل او فاضل کامل عارف بالله او سالک د مسالک الي الله فاني عن النفس او باقي بالحق جناب ولايت مآب صاحبزاده فضل حق څنے بيعت کړے وو[368]. چه هغه مريد وو د خپل والد ماجد حضرت جي صاحب د پيښور. هغه د خواجه محمد رسا هغه د خپل والد خواجه محمد پارسا هغه د خواجه محمد رسا هغه د خپل والد خواجه محمد

[368]"ګلزار محبت" تاليف د شاه بهاء الدين ابن حاجي حافظ نور محمد د کوټ په حواله د قصيده نمبر۳۱ تاليف د نورو محمد ايض نظم الدر صفحه ۹

پارسا هغه د حضرت شاه نقشبند
ثاني (چه د محمد معصوم ځوي وو)
هغ ل خپل والد خواجه محمد
معصوم. هغه له خپل ولد حضرت
شيخ احمد سر هندي مجدد الف
ثاني قدس الله اسرار هم.

(ب) سيد امير له يار محمد کابلي[369].
هغه د (۱) حضرت سراج الاسلام (۲)
او حضرت محمد افاق هغة دواړه د
ضياء الله کشميري. هغه د حضرت
محدم زبير الملقب په قبله
عالم. هغه د شاه نقشبند ثاني.
هغه د خواجه محمد معصوم هغة د
حضرت شيخ احمد سرهندي مجدد الف
ثاني.

حضرت مولانا سيد محمد امير په ۱۲۳۹هـ کښې له حضرت يار محمد کابلي نقشبندي نه خرقه د خلافت حاصله کړي وه. د يو مشهور او بزرگ علمي او روحاني خاندان چشم و چراغ وو. عملي او روحاني درجه او د قطب ارشاد مرتبه ورته حاصله شوې وه. جيد عالم د دين وو. لوئ فقيهه. محدث او مفسر او اصولي عالم وو. د فهم او فراست خاوند وو. د قيادت ټول عملي صلاحيتونه پکښې موجود وو. چه د علم او عرفان په سجاده کښيناست نو په لږو ورځو کښې همه گير شهرت ورته حاصل شه. او د دوئ له برکت د

[369]نظم الدر في سلک السير صفحه نمبر۱۰ او "احکام اسلام" (منظوم پښتو) تاليف د يار محمد کابلي. (اثر)

علاقه صوابئ موضع کوټه د عالم او عرفان د طالب نومرکز شه. او د دغه علمي او روحاني اقتدار په ذريعه يئے په خانقاه کښے. په جماعت کښې، د تبليغ او جهاد په ميدان کښې په هر ډګر بانده په ډيره جفا کښئ او خلوص سره د دين اسلام خدمتونه اوکړل. چه د دوئ د دغه مجاهدانه کار نامو يار به تر ابده پورے د تاريخ په پانړو ياد ګار پاتے وي. خصوصاً هغه مجاهدانه کار نامے چه د حضرت سيد احمد شهيد په ملګرتيا کښې يئے د دين اسلام د سر لوړئ د پره کړے دي.

حضرت سيد احمد شهيد او حضرت سيد اسماعيل چه د حضرت شاه ولي الله دهلوي د مکتبه فکر دوه ځلانده ستوري وو. د جهاد په عرض په ربيع الاول ۱۳۴۲هــ کښې وادئ پيښور ته رارسيدلي وو. د حضرت سيد احمد شهيد د راتللو د زمانے پورے حضرت سيد محمد امير د کوټهی ته پوره علمي او روحاني اقتدار حاصل شوے وو. او د ټولو نه مخکښې حضرت سيد محمد امير د هغوئ د جهاد په اواز بانده لبيک اووئيلو او د مجاهدينو په صف کښې سره د خپلو مريدانو شاګردانو او تعلقدارانو شامل شه.

دلته دا ياد لرل پکار دي چه څه وخت سيد احمد شهيد دے زمکے ته راشريک شه نو دوادئ پيښور په عالمانو او سجاده نشينانو کښې د ټولونه اول چه کومو عالمانو او مشائخو ورسره ملا تړلے وه.

هغة په خصوصيت سره د دوه روحاني سجادو سره تعلق لرونکي وو.

(۱) يو د حضرت ميا محمد عمر نقشبندي د څمکنو د سجادے سره تعلق لرونکي خلق وو.

(۲) دويم د حضرت فضل احمد معصومي نقشبندي د پيښور د سجادے سره تعلق لرونکي خلق وو.

منطور په وجه د سيد احمد شهيد او د دے دواړو سجادو د عالمانو او روحاني پيشوايانو تر منځه يو "روحاني تړون" موجود وو. او هغه دا چه:

(۱) حضرت احمد شاه ابدالي د څمکنو د ميا محمد عمر نقشبندي مريد وو.

(۲) حضرت شاه فضل احمد معصومي د ميا محمد عمر شاګرد وو.

(۳) حضرت احمد شاه ابدالي د حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي د دردناکو مکتوباتو په بلکه باندے هند ته د جهاد د پاره روان شوي وو.

(۴) حضرت شاه ولي الله هم نقشبندي نسبت لرلو.

(۵) شاه سيد احمد شهيد د شاه ولي الله د مکتبه فکر شاګرد او مريد وو. او د ده ملګرے شاه

اسماعیل شهید د شاه ولي الله نمسے وو.

(۶) د میا محمد عمر د څمکنو اولس زره مریدان او خلیفه ګان د احمد شاه ابدالي سره په جهاد کښې شامل وو. او د پاني پت په جهاد کښې یئې غزاګانے کړے وے د شهادت درجه یئے موندلے وه.

(۷) د احمد شاه ابدالي په اولاد کښې تول نامور کسان لکه شاه محمود. شاه زمان. شاه شجاع الملک. شاه ایوب، شاه سلطان علي، جهاندر شاه (پشران تیمور شاه) شاه کامران ځوي د شاه محمود ټول د حضرت فضل احمد معصومي مجددي نقشبندي د پیښور مریدان وو[370]. او د ابدالي خاندان دي حکمرانانو چه هر څومره غزا ګانے په سند او هند کښې کړي دي. د میا محمد عمر څمکنی. او حضرت جي د پیښور مریدان او تعلقداران ورسره شامل وو.

(۸) د حضرت سید محمد امیر المعروف حضرت جي صاحب د کوټهی مشر تره مولانا سید محمد قابل او خپل پلار مولانا سید محمد سعید د احمد شاه ابدالي. تیمور شاه.

---

[370] تحفة المرشد صفحه ۳۱ و صفحه ۳۲

او شازمان د بيرغ د لاندې غزاګانې کړې دې.

(۹) په دغه وجوهاتو د دغه "روحاني تړون" له مخه چه څه وخت حضرت سيد احمد شهيد او حضرت سيد اسماعيل شهيد وادي. پيښور ته راغلل. نو د ټولو نه اول حضرت سيد محمد امير صاحب او د حضرت فضل حق عليه الرحمة فرزند ارجمند[371] حضرت فضل هادي صاحب عليه الرحمة د سيد احمد شهيد سره ملګرتيا اوکړله. او د جهان ميدان ته را اووتل. او هم دغه وجه وه چه حضرت سيد احمد شهيد به په ډير احترام سره د کوټهی د حضرت صاحب نوم اخيستلو او د "سيد امير مهربان" په نامه به يئے ياده ولو.

لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه. حضرت سيد احمد شهيد په ربيع الاول ۱۲۴۲هـ

---

[371] د حضرت فضل حق صاحبزاده شپږ ځامن وو. فضش هادي محمد افضل فضل حسين. فضل عظيم، فضل مهدي. فضل لطيف. په دوئ کښې د مشر ځوي فضل هادي درې ځامن وو. فضل جي. فضل غفر. فضل اکبر چه روستو د دے درے واړه رونړو نه د اولاد سلسله خوره شويده او د ملاکنډ ايجنسئ د سوات راني زایٔے په علاقه کښې په مواضعات تهانه ګهری حضرت خيل. اله ډهنډ او طرطه کان کښې آباد دي. د حضرت فضل هادي عليه الرحمة مزار مبارک په ګهړی حضرت خيل (بخيته) کښې دے. د سيد احمد شهيد سره دلته راغلے وو. او بيا ه م دلته وفات شوے وو. د حجرت فضل حق صاحبزاده د نورو پنځه واره ځامنو د اولاد سلسله باقي نه ده پاتے شوے. (په حواله د مکتوب د حضرت محمد حنيف صاحب زاد فير ضهم د طوطه کان. محرره د ۸، اګست ۱۹۵۴ء) (اثر)

کښې وادۍ پیښور ته راغلے وو. او تر رجب المرجب ۱۳۴۶هـ پورے څلور میاشتے او څلور کاله زمانه یئے په وادۍ پیښور کښې د سکهانو په خلاف په جهاد کلې او د عامو مسلمانانو په اصلاح او د شریعت د احکامو په اجراء او د نفاذ کښې تیره کړے وه. په دے ټوله موده کښې چه هر څومره علمي. مذهبي او عملي جهادونه یئے کړي وو. حضرت سید محمد امیر او د ده ټول شاګردان مریدان او تعلقداران ورسره ملګري وو. د دے خبرے په ثبوت کښې دا لاندینۍ واقعه په ور د مثال سره پیش کوؤل مناسب ګنړو.

یوه تاریخي واقعه

په کومو ورځو کښې چه حضرت سید احمد شهید د مجاهدینو مرکزي مقام هنډ مقرر کړے وو. په دغه دوران کښې د اټک په قلعه د حملے کولو په سلسله کښې یوه ورځ حضرت سید احمد شهید. حضرت سید اسماعیل شهید. حضرت سید محمد امیر د کوټهی او حضرت اخوند شیخ عبدالغفور د سوات په یوه بنده کوټه کښې دا مصلحت اوکړ. چه دا ټک په قلا به یوه لویه حمله کوُم. دغه وخت حضرت سید محمد امیر علیه الرحمة د کوټهی دوۍ ته اووئي. چه څما کوم مریدان او تعلقداران چه د اټک او حضرو په قلا ګانو کښې اوسیږي هغوۍ ته به پړي. میخونه. اندر پایئے وغیره د شبخون وهلو سامان پټ او رسوؤ. د حملے دوران کښې څه وخت چه د اټک قلعے ته مونږه ور اورسیږو نو د صلاح او مشورے مطابق به څما دغه مریدان پړي. اندر پائے

وغيره د قلا د يوالونو نه مونږ ته راشکته کړی. مجاهدين به پرے قلا ته ور واوړی. او په قلا به د مسلمانانو قبضه راشي. د دوئ ټولو په دے امنا اوکړه. دا کار د کوټهی حضرت سيد محمد امير صاحب ته اوسپارلے شه او هغوئ د شبخون وهلو ټول ضروري سامان خپلو مريدانو ته اورسوؤل. او د حملے کؤلو وخت ورته اوښودلے شه. بل خواته د دے صلاح مشورے نه پس حضرت اخوند عبدالغفور د سوات دا پټ راز ښادي خان د هنډ ته ښکاره کړ. او ورته يئے اووے چه ځان داټک په قلا د حملے کولو د پاره تيار کړه. ښادي خان چونکه پټ په زړهٔ کښې د مجاهدينو په اقتدار زياتيدلو خفه وو. دا موقع يئے غنيمت اوکنړله حضرت اخوند عبدالغفور د سوات يئے په ځان پوهه نه کړو. پټ په پټه يئے سمدستی د خپل يو اعتباري نوکر په حواله د مجاهدينو د دے مصلحت حال د اټک په قلا کښې د سکهانو لوئ افسر "وفتهورا" ته اورسؤلو. وئيلي شي چه يو بازاو آس يئے هم د سوغات په طور وراوليږل. چه د خپل وفادارئ اعتماد پرے حاصل کړی او بيائيے د زياتي اعتبار د پاره پخپله د حضرو په مقام دونتهرا سره پټ ملاقات هم اوکړ. نتيجه يئے دا شوه. چه و نتهورا د هر څه نه ړومبے د حضرت سيد محمد امير د کوټهی د ټولو مريدانو او تعلق دارانو تلاشيانے اوکړلے. د هغوئ د کورونو نه يئے هغه ټول سامان رااوويستلو چې د کومو ذکر ورته ښادي خان کړے وو. بيا يئے دغه تلو کسان ګرفتار کړل. په

لویو لویو کړهو کښې یئے تیل سره کړل د مجاهدینو دغه همدردان او د حضرت سید محمد امیر دغه مجاهد مریدان یئے پکښې اوسیزل. د مجاهدینو په اټک حمله په ځای پاتے شوه. د هغے په ځای د سکهاتویو لوئ لښکر د هنډ په ګودر په اباسیند باندے د راپورے وتلو په تکل کښې شه. حضرت سید احمد شهید د هنډ نه د مجاهدینو مرکز پوته کړ. پنجتار ته لاړ. حضرت سید محمد امیر د کوټهی ورسره وو او حضرت اخون عبدالغفور د سوات په واقعه پیښیدلو او د ښادي خان په غدارئ دومره زهیر شه. چه هلته نه یئے تشریف یوړلو. د سکهانو فوځ په اباسیند راپورے وتلو. ونتورائي په مخکښې وو. ښادي خان ورسره وو. په پنجتاریئے حمله اوکړه لیکن نا کامیابه شوه. په اباسیند واپس پورے وتلو "روستو ښادي خان هم د دغه جرم په پاداش کښې د مجاهدینو د لاس نه وژلے شوے وو." په تاریخي اعتبار سره دا د ۱۲۴۵هـ واقعه ده.

د دے پورتنی یوے واقعے نه دا اندازه په آسانه لګیدلے شي. چه تر کومه وخته پورے حضرت سید احمد شهید په وادئ پیښور کښې موجود وو. او جهادونه یئے کؤل. نو په هره یوه واقعه کښې حضرت سید محمد امیر علیه الرحمة سره د خپلو ټولو مریدانو. شاګردانو او تعلقدارانو ورسره ملګرے وو. او بیا چه څه وخت حضرت سید احمد شهید د پنجتار نه هزاره ته هجرت اوکړ. نو هغه ټول عالمان قومي سرداران

چه د سید شهید سره یئے عقیدت لرلو. د مغوئ د بیرغ لاندے د شریعت د اجراء په سلسله کښې علمي تربیت یئے حاصل کړے وو. جهادونه یئے کړي وو. هغهٔ ټول په حضرت سید محمد امیر حضرت جي صاحب د کوټهی راټول شول او د سکهانو او ورپسے د انګریزانو په خلاف یئے د جهاد سلسله جاري او ساتله.

د مجاهدانه کار نامو دویم دور

د حضرت سید محمد امیر د مجاهدانه کار نامو په سلسله کښې دے ته "دوئم دور" وئیلے شو. چه د دے ابتداء د سید احمد شهید د هجرت د کال ۱۲۴۶هـ نه کیږي. او د واقعاتو د تسلسل په لحاظ په پیښور باندے د انګریزانو د مکملے قبضے راتللو د زمانے کال ۱۲۶۴هـ پورے رسیږي. په دے منځ و میانه اتلس نولس کاله زمانه کښے چه د سکهانو په خلاف هر څومره څله جهادونه دوئ کړي دي. هغه ډیر لوئ تفصیل غواړي. بیا هم په اختصار سره دلته اشاره کوؤل ورته مناسب معلومیږي.

(۱) په ۱۲۴۹هـ مطابق ۱۸۳۴ء کښې چه د بارکزی سردارانو په د عوت باندے د امیر دوست محمد خان والئي کابل نه د تخت اخیستلو د پاره "هري سنګه نلوه" دیو لوئ فوځ سره وادئ پیښور ته رانوتلے وو. او په نتیجه کښې یئے د بارکزو سردارانو نه

پیښور هم لاړ. بارکزی سرداران د پنډیالئ په لاره اووتل. ملک، سکهانو ته خوشې پاتې شه. او هري سنګهـ نلوه په پیښور ښهر قبضه اوکړه نو په دغه موقع د مندنړیو یو سفزو قبائیلو د حضرت سید محمد امیر علیه الرحمة په قیادت کښې غزا ګانې کړې وې. خصوصاً د څمکنو په محاذ. وجه یئې داوه چه په ۱۲۳۴هـ کښې چه هري سنګهـ نلوه دڅمکنو په مقام کیمپ لګولې وو[372]. نو د هغې نه یو کال مخکښې په ۱۲۳۳هـ کښې د حضرت میا محمد عمر د څمکنو د ټولونه کشرې ځوي حضرت عبید الله میا ګل وفات شوې وو. او د دغه جلیل القدر مجاهد بزرګ سجاده خالي پاتې وه. او دا فرض د حضرت سید امیر باچا وو چه د دغه خپلې پیر خانې د روحاني ګدئ د عظیم الشان اسلامي شان بر قراره ساتلو د پره جهادونه اوکړی.

(۲) په ۱۲۵۰هـ مطابق ۱۸۳۵ء کښې په اول ځل په امیر دوست محمد خان والئ کابل د سکهانو بر خلاف د جهاد د پاره راغې. د کهجورئ د میدان سره نزدې د باړې په غاړه

---

[372] د هري "سنګه نلوه څمکنونه د راتللو ماده د تاریخ دهغه زمانې یو مسلمان ادیب داسې لیکلې ده. "راغې کج" ۱۲۳۴هـ

د شیخانو کلي په خوا کښې د سکهانو او مسلمانانو تر منځه جنګ جوړ شه. او یو بارکزئي سر دار پکښې د سکهانو د سازش ښکاره شه. او په غازیانو کښے ماتے ګډه شوه. نو د دغے په وجه مسلمانانو ته کامیابي حاصله نه شوه حضرت اخوند عبدالغفور د سوات علیه الرحمة هم په دغه جهاد کښې موجود وو. لیکن چه هر کله هغة بارکزی سردار د سیکهانو په سازش د جهاد د میدان ن په ماتے باندے د مهمندو په لاره اووتولو. نو د حضرت اخوند عبدالغفور زړهٔ ته سخته صدمه اورسیدله. روان شه. د وادئ پیښور ته د اتمان خیلو علاقے ته او بیا ورپسے وادئ سوات ته لاړلو. بل خواته حضرت مریدانو شاګردانو تعلقدارانو او د مندنړیو سفزو د قومي لښکر سره په دے غزا کښې شامل شوے وو. د جنګ د ناکامیابي کیدلو په ابابو. د سکهانو د سازش په نوعیت و د یو بارکزائ سردار د تښتے او ماتے کؤلو په وجوهاتو یئے غور اوکړلو. صلاح او مصلحت په دے شه. چه د دویم جهاد د پاره پوره پوره تیارئ کول پکار دي. د دے صلاځ نه پس امیر دوست محمد خان په ۱۱، مئ ۱۸۲۵ء کابل

نه واپس شه. کوم بار کزی سردار چه دغه ناکاره حکرت کړے وو. هغه له یئے عبرتناکه سز ورکړه. په کوریئے نظر بند کړ. او د جهاد تیاری یئے شروع کړه. بل خوا ته "حضرت جي صاحب د کوټهی" هم د مندنړیو سفزي او ګدانو په علاقه کښے د جهاد د پاره تیارئ راواخیستلے.

(۳) د ۱۲۵۰هـ مطابق ۱۸۳۵ء په جنګ کښې د مسلمانانو د ناکامیابئ نه روستو هري سنګه نلوه د فوجي ګورنر به حیثیت سره په پیښور حکومت شروع کړ. د پیښور ښهر د "بالا حصار" تعمیر یئے د نوي سر نه شروع کړ. دغه عظیم الشانه قلعه یئے په خلیلو. مهمندو. داؤ دزو. ګګیانړو باندے په بیګاراو جبر جوړوله. د هشنغر د برسره پورے خلق به یئے په وهلو ټکولو د دے بیګار د پاره راوستل[373]. د پیښور د خواؤ شا خلیل، مهمند یئے داسے په عذاب کښې اچولي وو. چه د خلیلو او مهمندو اکثر مشران او سپین ږیري مجبوره شول ملک یئے پریښوده خواؤ شا قبائیلي علاقو

[373]د بالا حصار د تعمیر او مرمت په سلسله کښې د ارسم د انګریزانو په زمانه کښې هم تر ۱۹۲۵ء (نور په صفحه)

ته اوتل. او د هغه ځائ نه يئے
په سکهانو داړے شروع کړے.

هر سنګهـ نلوه ته معلومه وه. چه د امير دوست محمد خان په دے جهاد کښې د ټولونه زياته حصه د حضرت سيد محمد امير عليه الرحمة په مشرئ کښې د مندنړيو سفزو قبائلو آخيستے وه. هري سنګهـ نلوه اولګيده د مندنړ يوسفزي په خلاف يئے فوځی اقدامات شروع کړل. د اټک او پيښور تر منځه سړک د حفاظت د پاره يئے د جهانګيري په مقام بله دويمه قعله جوړه کړه. بيا د مندنړ يوسفزي په ميداني علاقه (تحصيل صوابي او مردان) يعنے توله "سمه" باندے فوځونه ور واچول. ټوله علاقه يئے تخت او تاراج کړه. ولاړ فصلو نه يئے اوسوزه ول. يو کلے يئے هم روغ پرے نښوده. چټ کلي يئے وران کړل. او داسے ظلمونه يئے اوکړل چه د هغے مثال نه پيدا کيږي. په دغے باندے د مننړ يوسفزی د جهاد جذبه نوره هم تازه شوه. کومو خلقو چه د سکهانو مرسته کړے وه. ه هغوي پورے يئے يو متل جوړ کړ. "د سکهـ نه يئے ټيليا بتر دے". د دغه شان ټيلياګانو تا بيا يئے هم اوکړه را اولړزيدل. لکه د زمرو راميداني شول. حضرت سيد محمد امير المروف حضرت جي صاحب د کوټهی خپل مرکز د "کوټهی" نه پنجتار ته بدل کړ. مقرب خان د پنجتار ورسره ملا اوتړله. خدوخيل لاولاړ شول. او د سکهانو په خلاف د جهاد تيارى په پوره زور شروع شوے د امير دوست محمد خان سره يئے خبر اونيوه. په ۱۲۵۲-۱۳۵۳هـ مطابق ۱۸۳۷ء

کښې چه امیر دوست محمد خان دکابل نه په دوئم ځل د سکهانو په خلاف جهاد له راغے. د خیبر او پیښور تر منځه د جهماو تهکال په میره کښې د کفر او اسلام تر منځه خونړے جنګ اوشه. او په اوپیرل کښې هري سنګهـ نلوه پکښې اووژلے شه. نو په دغه جهاد کښې حضرت جي صاحب د کوټهی سره د خپلو تعلقدارانو او د مندنړیو سفزی د قومي لښکر شامل وو. او د هغے په برکت سره مسلمانانو غازیان ته داسے کامیابي حاصله شوے وه.

(۴) د ۱۲۵۲هـ د جهاد نه روستو سکهانو بیا بارکزی سرداران را اوغوختل هشنغریئے سردارا سید محمد خان له. دو آبه یئے سردار پیر محمد له. اوکوهاټ یئےسردارسلطان محمد خان له ورکړل. پیښور یئے پخپل لاس کښې اوساته. سردار تینجا سنګهـ یئے پر ګورنر کړلو. ځنے خلیل او مهمند یئے رضا کړل. جاګیرونه یئے ورکړل. د آفریدو وغیره قبائیلو په پوله یئے واچول. په سردار تیجا سنګهـ پسے لږے ورځے پس د سکهانو مشهور جرنیل ابو طبیله د پیښور ګورنر شه. د ۱۲۵۳هـ نه تر ۱۲۵۸هـ پورے ګورنري یئے اوکړه. د ده نه رورستو دوباره سردار تیجاسنګهـ

گورنر شه. او تر ۱۲۶۲هـ په
پېښور حکمران وو.

د ابو طبیله د ظلمونو واقعات ډېر لوئ تفصیل غواړي. غټه تباهي یئے داسے راوستلے وه. چه مقامي قبائیل او قومي سرداران یئے پخپل منځ کښې جنګوؤل. د ده په زمانه کښې عملاً یوسفزي او مندړنړ باقاعده رعیت نه وو. د مارے د هاړے حکومت وو. د مغوئ د تباهئ د پاره د خپل حکوت په آخر ورځو کښې ابو طبیله یو کار اوکړ. ارسلا خان د زیدے چه د سید احمد شهید د اقتدار په ورځو کښې د هنډ د ښادي خاند مرګ نه روستو پخپله ځان جلا وطن کړے وو. د بارکزی سردارانو په مشوره یئے هغه بیازیدے ته راووست په ځاي یئے کړ. او په دے بهانه چه د ښادي خان په وژلو کښې د سید احمد شهید سره د کوټهی حضرت جي صاحب سید محمد امیر هم ملګرے وو. ارسلا خان اولګیده د حضرت جي صاحب مخالفت ته یئے ملا اوتړله. ښکاره خبره ده دا هر څه یئے د بارکزی سردارانو او سکهانو په لمسون باندے کوؤل. آخر دا چه حضرت سید محمد امیر علیه الرحمة یئے دومره تنګ کړ چه په ۱۲۶۱هـ مطابق ۱۸۴۵ء کښې حضرت جي صاحب علیه الرحمة د کوټهی نه هجرت اوکړ. د یول ته لاړ او د مهابنړ په لاره بنیر ته وا ووخت په باجکټه دیره شه[374]. بار کزو سردارانو چه د سید احمد شهید د طاقت ختم کولو د پاره د وهابي توب د الزام کوم

[374]"ګنج سعادت" تالیف د اخندزاده فیض الله خان (قلمي)

مهم چلوؤلے وو د هغه مهم باقاعده آغاز په دغه ۱۲۶۱هـ کښې د حضرت سید محمد امیر علیه الرحمة په خلاف هم اوشه وجه یئے دا وه چه په دغه زما نه حضرت جي صاحب په باجکټه کښے اوسیده. او د ده په وجه د ګدون. چملے. بنیر او امازي علاقو خلقو په جهاد کښې حصه اخیستله.

(۵) په ۱۲۶۲هـ کښې د سر دار تیجا سنګهـ نه روستو سردار شیر سنګهـ او د هغه نه روستو سردار ګلاب سنګهـ د پیښور حکمران شول. د سردار ګلاب سنګهـ په زمانه کښې په ۱۲۶۵هـ مطاقب ۱۸۴۹ء کښې میجر جارج لارنس په پیښور قبضه اوکړه او د پیښور علاقه د سکهانو د لاس نه اوتله د انګریزانو په لاس ورغله په دغه منځ کښې میجر لارنس د حضرت سید امیر صاحب د کوټهی سره ملاقات کړے وو. خیال یئے دا وو چه دا مرد مجاهد" به لکه د بعض نورو خلقو خپل خیر خواه کړي. لیکن هر کله چه میجر لارنس پوهـ شه چه دا بلند همته شهباز د دوئ په دام کښې شتونکے نه دے. او بیا روستو د حضرت جي صاحب د کوټهی هغة خط انګریزانو له په لاس ورغے چه شاه شجاع الملک ته یئے کابل ته لیږلے وو. "چه پورته شه د انګریزانو خلاف د

جهاد اعلان اوکړه. دلته ما د انګریزانو د بیخ و خلو د پاره پوره پوره تیارے کړے ده." نو د انګریازانو په اشاره د حضرت جي صاحب په خلاف د وهابي توب الزام نور هم په زور او شور سره اولګولے شه. په دے کار کښې د سکهانو او بار کزایئے سردارانو د زمانے حکومتي خیر خواهانو پوره حصه واخیسته او انګریزانو د سید صاحب په خلاف د ۱۲۶۸هـ مطابق ۱۸۵۳ء نه روستو په خاص طور سره د "وهابي تواب الزام" له شه زور ورکړ. وجه یئے داوه چه په دغه نیټه حضرت جي صاحب علیه الرحمة د بنیر په باجکټه کښې اوسیده. په بنیر. چمله امازي حسن زي. ګدون او طوطالئ په علاقو کښې د دوئ ډیر زیات روحاني اثر او رسوخ وو. په داسے حالاتو کښې هر کله چه په جنوری ۱۸۵۳ء کښې انګریزانو د حسن زی قبیلے په خلاف لشکر کشي اوکړله. او مجاهدینو په دغه جنګ کښې د حسن زی قبیلے په مرسته حصه واخیستله په میدان د جهاد کښې یئې خپل ایمان ښکاره کړ. او په دغه جهاد کښې د حضرت جي صاحب مریدان او تعلقداران هم شامل شوي وو. نو انګریزانو دا ضروري ګنړلے وه. چه د حضرت

سید محمد امیر اثر او رسوخ ختم کړی. او د دے خپل سیاسي مقصد حاصلولو د پاره یئے په ډیره چالاکئ سره په مذهبي رنګ کښې سراسر غلط او بے بنیاده الزامو نه په حضرت سید محمد امیر صاحب اولګول او مشکلات یئے ورته پیدا کړل.

د سوات سفر

د ۱۲۶۹هـ مطابق ۱۸۵۳ء نه روستو چه انګریزانو د حضرت سید محمد امیر صاحب په خلاف کوم مهم شروع کړے وو. یو کال دوه چه دا هم نور هم په زور او شور سره اوچلید بل خواته انګریزانو د مجاهدینو په خلاف د نورو سختو اقداماتو کولو د پاره تیارئ شروع کړلے. او بل خواته د حضرت اخون صاحب سوات علیه الرحمة بعض مریدانو هم د حضرت جي صاحب په خلاف د وهابي توب په الزام لګولو کښې حصه واخیستله. نو په دے غرض چه خاص او عام خلق د انګریزانو د فریب نه او اصلي حالاتو نه خبر کړي او د بابا جي صاحب د سوات سره هم په دے سلسله کښې خبرے اترے اوکړی. په دولسم تاریخ د محرم الحرام ۱۲۷۶هـ د خپلو مریدانو. تعلقدارانو او عالمانو د یوے لوئے ډلے سره د سوات په سفر روان شه. د موضع باجکټه نه یئے اولنئ شپه موضع کلپانئ له او بله ریګاله وړے وه. او د کړاکړ په کنډو باندے بري کوټ ته شپے له راغلے وو. د دغه ځاي نه شپے له "ګرتی" ته تلے وو.

د دے ځاي نه چه روان شه په لاره کښې يئے د حضرت ميا موسی عليه الرحمة په زيارت فاتحه اولوستله او په ۱۹، محرم الحرام ورځ دوشنبه ۱۲۷۲هـ موضع ابو هاته چه اورسيده نو دغلته يئے د حضرت اخوند صاحب د سوات سره ملاقات اوشه. حضرت اخوند صاحب د سوات موضع بخته (مالاکانډ ايجنسی) ته د حضرت شاه فضل احمد معصومي المعروف حضرت جي صاحب د پيښور د نمسی حضرت فضل هادي عليه الرحمة ابن مولانا شيخ المشائيخ فضل حق صاحبزاده عليه الرحمة سلام له تلے وو. او په واپسئ کښې په ابو ها کښې يئے دمه کووله. اخوند صاحب د سوات د دوئ سره ملاقات کولو نه روسوتو حصار نه شه. د يو بل نه يئے دعا او غوښتله. رخصت يئے واخيست او خپل ځائے ته لاړ روان شه. د دغے نه مخکښې د حضرت جي صاحب د کوټهی او د اخوند صاحب د سوات تر منځه په موضع پنجتار او مهب (ضلع مردان) کښې ملاقاتو نه وي و.و دا دويم[375] ملاقات وو. حضرت جي صاحب د موضع ابو هانه تهانه او بيا بخته ته راغے دولس ورځے يئے د خپل پير زاده حضرت فضل هادي عليه الرحمة سره تيرے کړے. د هغوئ د ملاقات او صحبت شرف يئے حاصل کړ. په دغه منځ کښې يئے يوه شپه په موضع امان کوټ (امان وره) کښې هم کړے وو. او د حضرت ميا الله دا د چشتي او د هغه د نامور مريد ميا محمد عمر په زيارتونو يئے فاتحة لوستلے وه. د دغه

[375] نظم الدرر في سلک السير صفحه نمبر ۱۷۶

ځائ نه په دویم تاریخ د صفر ۱۲۷۲هـ د کوز سوات او برا سوات په دوره روان شه. او په جلاله جونکی ذره خیله. خزانه. سوئ کے. علي ګرامه. کانجو. بانډئ. نومے کلے. شل پیر کلے. خریړئ. شوخ دره. چپرایل. دیني. برشور. کوز شور. پیو چار. لک بویئ سیج بنړ. شان ګواټی. سین پوره. سنګ بټ. بیدره. درویش خیله (دلته په ۱۲، ربعي الاول ۱۲۷۲هـ راغلے وو او تر ۴، ربیع الثاني پورے دلته وو.) اصاله خوازه خیله. بانډئ عزی خیل. عالم ګنج. د کوړک چارباغ. منګلور کښې د شپو ورځو تیرولو نه پس په ورځ دیکشنبه دیارلسم تاریخ د ربیع الثاني ۱۲۷۶هـ موضع منګوره ته یئے تشریف راوړ. او د فضیلت پناه مایر اخوند زاده په جماعت کښې دیره شه. صباله په ورځ د ددوشنبه ۱۴، ربیع الثاني حضرت اخوند صاحب د سوات د موضع سیدو نه د دوئ ملاقات له تشریف راوړ. بے شمیره مریدان ورسره وو. حضرت جي صاحب هم د هغوئ د استقبال د پاره روان شه. د جماعت جنوب طرف ته په کوڅه کښې یئے ملاقات اوشه. د خلقو ډیره ګڼړه وه. د کلي جنوب طرف ته په کومه ډاګه کښې چه د جمعے نمونځ به کیده. هغے له لاړله. دواړه بزرکان کیناستل. بابا جي صاحب د سوات اووئیل چه دا وخت ډیر لویه ګڼړه. خبرے اترے کول ګران دي. ښه به دا وي. چه زۀ به اوس خپل ځائے ته لاړ شم. د شپے به بیا حاضر شم. او یو ساعت به په آرام مشغول شو. حضرت جي صاحب ورله رخصت ورکړ. دعا یئے ورته

اوکړه. د سوات بابا جي رخصت شه. او حضرت جي صاحب واپس خپل جماعت ته راغے. شپے له اخوند صاحب او د هغه استازی په ذریعه یئے د حضرت جي صاحب سره ضروري سوال جواب اوکړ[376].

بل صباله په ورځ د چار شنبے۱۶، تاریخ د ربیع الثاني صاحبزاده عبدالقادر د تور ډهري چه د اخوند صاحب د سوات د پیر ځوي وو. او د اخوند صاحب مرید هم وو.د حضرت اخون صاحب د طرف نه سوال جواب راوړ. چه د ماښام نمونځ اوشه. او حضرت جي صاحب دواړه د جماعت په حجره کښې سره کښیناستل. خبرے اتر یئے اوکړے. د اخبرو اترو نه پس حضرت جي صاحب خپلو خاصو مریدانو ته اواز اوکړ. (۱) حضرت میا صاحب محمد سرور د طورو. (۲) مولانا صفي الله خان ختک د مصري بانډے (۳) میر عبدالله اخوند زاده د منګل تهانه (۴) میا حاجي شمس الدین د سدهوم. (۵) محمد وحید ابن ملا احمد اخوند زاده د زړه مینه سکنه طورو. (۶) سید احمد اخند زاده المعروف په روهیلے ملا صاحب د غالیګي سوات. (۷) عبدالرؤف اخندزاده د ټوپئ وغیره ۍءے را اوغوښتل دا ټول چه حجرے ته ورغلل نو دوئ ټولو په مخکښې صاحب زاده عبدلقادر د طورو د حضرت اخون صاحب د سوات د طرف نه دا بیان اوکړلو.

---

[376] نظم الدري صفحه نمبر ۲۲۹

"حضرت اخوند صاحب د سوات مابنده عبدالقادر ته وئيلي دي. چه ته لاړ شه. او حضرت جي صاحب ته څما سلام اورسوه. او بيا ورته عرض اوکړه چه څما او ستا په منځ کښې هم هغة زړة خبره ده. چه کومه د دے نه وړاندے په موضع پنجتار کښے او بيا دوباره په موضع مهب بانړه (ضلع مردان) کښې موسره کړے ده. او هغه خبره دا ده چه زۀ او ته داړوه رونړه يو. د هغه نه روستو تر نن ورځے پورے اے حضرت صاحبه ستاسو په حق کښې څه داسے هيڅ خبره چه موجب د قبح او سپکوالي وي. مانه ده کړے. دا منافقان خلق څما او ستا په منځ کښې د نفاق. چغلي او غيبت خبرے کوي. حالانکه ما څه داسے هيڅ خبره نه ده کړے. بيا هم انسان يم. که بالغرض د کوم يو چغلخور د منافقت د خبرو په وجه څما د خلے

نه څه خبره وتلې وي. نو هغه به منافقانو په غلط رنګ کښې مشهوره کړې وي. خدائ د ورته هدايت اوکړی. تاسو په دين او دنيا دواړو کښې څما رور يئې. او ستا سو او څما تر منځه رور ولي ثابته ده. تاسو څما د پاره داسې يئې لکه د سر تاج اميد دې چه د نن ورځې نه پس به څه خلاف خبره وانه ورئ. و د نن ورځې نه پس څما هر يو مريد چه ستاسو په حق کښې بې ادبه الفاظ استعمال کړی هغه به مردود وي.[377]"

هر کله چه صاحب زاده عبدالقادر د اخوند صاحب د سوات د طرف نه دا پيغام واوره ولو. نو حضرت جي صاحب د کوټهي لاس پورته کړل. دعا يئې اوکړله د دعا نه پس يئې او فرمائيل چې څما او د اخوند صاحب د سوات تر منځه هيڅ دشمني او عداوت نشته دې. چونکه ډيرې ناکاره او خوشې خبرې په هغه سراسر بهتان او غيبت وو. افتراوه. او څمونږ په حق کښې ناکاره نسبتونه به کؤولې شول. او تر دې حده اورسيدل چه په هر ځاي کښې شروع شول او ورسره دا به هم

---

[377] نظم الدر في سلک السير صفحه نمبر ۲۳۰

وئیلے شول. چه دا هر څ د اخوند صاحب د سوات په حکم سره کیږي. نو چونکه د دے بے ادبئ او افتراء پر دازئ په وجه ډیره ممکنه وه چه دغه خلق تباه او برباد شي. ځکه ما مناسب اوګنړله چه سوات ته لاړ شم خپله د اهل السنت والجماعة حنفی مذهب عقیده کلي په کلي د عوامو خواصو او عالمانو په مخکښې بیان کړم. او دا خبره تحقیقي ته اورسوؤلے شي. چه څمونږ په حق کښے دا نامناسبه الفاظ او نسبتونه په کوم سبب کمه وجه کیدلے شي. اوس چه مینګوره ته راغلم. د اخوند صاحب د سوات سره م ملاقات اوشه. او اخوند صاحب خبره صفا کړه. چه دا نامناسبه خبرے مانه دي کړے. دا ټول شر او شور منافقانو خلقو جوړ کړے دے. او صفایئ اوشوله. مونږ هم عفوه اوکړه. د دے نه مخکښې هم څمونږ په منځ کښې د یو بل سره څه قسم عداوت نه وو. او نه اوس پاتے شه. څمونږه دواړو تر منځه هیڅ قسم خفګان پاتے نه شه او دا خبره په دے ځایے فیصله شوه. حضرت اخوند صاحب د سوات او زهٔ دواړه رونړه یو."

صباله په اولسم تاریخ د ربیع الثاني په ورځ د پنجشنبه یو ځل بیا صاحبزاده عبدالقادر د تور ډهیری د حضرت جي صاحب په خدمت کښې حاضر شه. او د اخون صاحب د سوات د طرف نه یئے یو ځل بیا هغه عرض معروض پیش کړ کوم چه یوه ورځ وړاندے یئے پیش کړے وو. د حضرت جي صاحب طبع تسلي یئے اوکړله. چه ستا سو په خلاف چه هر څه الزامونه لګولے شي. نامناسبه نسبتونه

درته کوؤلے شي. دغه مهم د بعض منافقانو کار دے. ځما ورسره قطعاً اتفاق نشته. زهٔ او ته خالص د خداي د رضا د پاره رونړه يو. ځما زړهٔ کښې چه ستاسو د علم او فضل تقوی او عرفان کوم قدر دے په هغے يو خدايئے ګواه دے. اميد لرم که د منافقانو په شرارت ستا سو په زړهٔ کښې ځما نه څه خفګان راغلے وي. هغه به لرے کړئ او عفوه به راته اوکړئ. حضرت جي صاحب چه د صاحبزاده عبدلقادر د خلے نه دا بيان واوريده. لاس يئے پورته کړل. او د حضرت اخوند صاحب د سوات. دهغه د ا هلبيت د هغه د ځامنو او نورو تابعدارانو په حق کښې يئے دعا خير او کړله[378].

نتيجه

دا دومره تفصيل په دے غرض راوړلے شه. چه هر کله د انګريزانو د سازش ماتخت د حضرت جي صاحب خلاف د "وهابي توب" دالزام لګولو مهم شروع کړلے شه. نوه انګريزانو بعض مخصوصو ايجنټانو به دا پرو پاګنډه کوؤله. چه مونږه دا هر څه د حضرت اخوند صاحب د سوات د حکم او هدايت په بناء کوؤ. غرض يئے دا وو چه دا دواړه مشاهير بزرګان په خپله منځ کښې او جنګوؤلے شي. بے اتفاقه کړلے شي. نو د دوئ دواړو طاقت به د يو بل په کمزوري کولو کښې صرف شي. د انګريزانو نه به يئے مخه واوړي. او د انګريزانو په خلاف چه په

[378]نظم الدرفي سلک السير صفحه نمبر۲۳۱ و نمبر ۱۳۲

قبائيلي علاقو خصوصاًسوات. بنير. امازي. او ګدون کښې د جهاد کوم تحريک شروع دے. هغے د جهاد تحريک ته به پورے نقصان اورسيږي. د دے پورته بيان نه دا معلومه شوه چه حضرت اخوند صاحب د سوات او حضرت جي صاحب د کوټهی دواړه د خدائے نيک بندګان وو. د حضرت جي صاحب لويه کارنامه دا ده چه هر کله دا پروپاګنډه شروع شوه. چه د اخوند صاحب سوات دا حکم دے. چه د کوټهی حضرت جي صاحب وهابي دے نو حضرت جي صاحب د خلقو په وينا عمل اونه کړ. بلکه پخپله سوات ته لاړ چه د حضرت اخوند صاحب سره ملاقات اوکړی او د دے پروپاګنډے حقيقت ترينه معلوم کړي. او د حضرت اخوند صاحب د سوات لويه کارنامه دا ده.چه دحضرت جي صاحب تسلی يئے اوکړه. چه دا مهم په حقيقت کښے منافقانو شروع کړے دے. او که کوم يو سرے دا غلطے خبرے کوي او خلقو ته دا ښائي چه زۀ د سوات د اخوند صاحب مريد ئم نو هغۀ څما مريد نه دے. بلکه هغه منافق او مردود دے. اميد دے چه څمونږ د دے وضاحت او تفصيل نه روستو که د دے دواړو بزرګانو په حقله د چا په زړۀ کښې څه شک وي. هغۀ به رفع شي. ځکه چه د اولياء الله په حقله په زړۀ کښې بدګماني او شک ساتل هم ښه کار نه دے. حضرت اخوند صاحب د سوات او حجرت جي صاحب د کوټهي دواړه ممتاز او لياء الله دي. په دوئ کښې د هر يو په حقله بے ادبه خبره کول ښه کار نه دے.

واپسي

د حضرت اخوند صاحب د سوات سره د ملاقات نه روستو حضرت جي صاحب د سوات نه واپس راروان شه. موضع کوټي ته او بيا موضع بلوګرام ته راغے. په ۲۰، تاريخ د ربيع الثاني د بلوګرام کښې دوئ ناست وو. چه سيد اصغر شاه ميا صاحب د سيتهانړے او مجاهد خان د بام خيل د سيدو شريف نه راغلل. او بيان يئے اوکړ چه مونږه د باباجي صاحب د سوات سره دوه په دوه ځان له ناست وو. او اخواند صاحب د سوات په ډيرو عزتمندو الفاظو د حضرت جي صاحب د کوټهی تعريف کولو. فرمائيل يئے چه د کوټهی حضرت جي صاحب پخپله بلکه پشت په پشت د دوئ پلرونه او نيکو نه لوئ عالمان او بزرګان دي. مثال يئے د درياب دے.او د دوئ په مخکښې ځما مثال د يو خذمتګار دے[379].

د دے دواړو مشرانو د بيان نه هم ځمونږ د هغه خبر تائد کيږي کومه چه پورته بيان شوه. د هغے نه روستو حضرت جي صاحب غالګي ته بيا شنکر دره. بري کوټ او تهانه ته تشريف راوړ. په ۲۶، تاريخ د ربيع الثاني موضع بخته ته راغلل. د حضرت شاه فضل هادي عليه الرحمة سره يئے ملاقات اوکړ. صباله رخصت شه. په شاه کوټ کنډؤ

---

[379]نظم الدر صفحه نمبر۲۳۵ د دے روايت نه هم دا ثابته شوه چه د حجرت اخوند صاحب د سوات او حضرت جي صاحب تر منځه هيڅ اختلاف نه وو. (اثر)

باند د مورے غر په لمنو کښې موضع نل له راغے. بیا په شیر خانے. قاسمي. کاټلنګ. سکرئ. شکر تنګی. ساؤل ډهیر حمزه خان باندے د رجړ امازي علاقے ته را اورسیده. او په دے شان په جمادي الا ول ۱۲۷۶هـ کښې د ځلورو میاشتو د دورے نه پس خپل کلي کوټهي ته راغے.

حضرت جي صاحب د کوټهي د سوات سفر په دوه غرضه کړے وو.

(۱) یو دا چه د اخوند صاحب د سوات سره ملاقات او شه. او هغه د حضرت جي صاحب تسلي اوکړه چه وهابي توب کوم غلط الزام چه په حضرت جي صاحب لګوؤلے شوے دے دا ټول قیصه خود غرضه منافقانو جوړه کړیده.

(۲) دویمه دا چه حضرت جي صاحب د انګریزانو په خلاف د جهاد د پاره خلق تیاره ول غوښتل او په دغه مقصد کښې هم کامیاب شه.

لیکن د دغے باوجود حضرت جي صاحب په خلاف چه کوم مهم شروع شوے وو. هغه ورځ په ورځ زیاتیده. چه کوم فاضلان او دینداره عالمان وو. هغه په ډیرلوئ تعداد کښې د حضرت جي صاحب ملګري شول. د دوئ مرسته یئے شروع کړه. د دے ملک عالمان با اثره قومي او قبایلي مشران دوه ډلے شول. د بحثونو او مناظرو بازار ګرم شه قومي

شاعرانو هم پکښې حصه واخیسته. او بیا چه په ۱۲۷۴هـ مطابق ۱۸۵۷ء کښې د انګریزانو په خلاف په ټول هندو کښې د آزادي اولنۍ همه ګیر جنګ شروع شه او د حضرت سید مبارک شه په مشرئ کښې مجاهدینو په دې جنګ کښې حصه واخیستله[380]. او ورپسې هم د دې کال په دوران کښې د مجاهدینو او انګریزانو تر منځه پرله پسې دوه جنګونه اوشول. نو د حضرت سید محمد امیر په خلاف په مخالفانه مهم کښې نوره هم سختۍ راوستلې شوه. په دې سلسله کښې په دوه ځلورو مقاماتو کښې د حضرت جي صاحب د تعلقدارانو او د مخالفانو د ډلې د عالمانو لوئې لوئې اجتماع ګانې اوشولې. چه په هغې کښې حضرت جي صاحب به پخپله هم موجود وو. او په هغې کښې حضرت جي صاحب په واضحه الفاظو خپله عقیده بیانوله. چه زۀ حنفي مذهب اهل السنتة والجماعة یم. غیر مقلد یعنې وهابي نه یم. لیکن چه جرګه به خوره شوله. بیا به هغه حال وو[381].

حنفي مذهب

دا خبره چه حضرت جي صاحب د کوټهې صحیح المشرب حنفي مذهب سني مسلمان وو. د دې په حقله د حضرت جي صاحب ګڼرو مریدانو

[380] د تفصیل د پاره ملا حظه کړئ تاریخ مخزن پنجاب جلد نمبر۴ صفحه نمبر۵۱۶

[381] ملا حظه کړئ نظم الدري باب نمبر۱۳ د صفحه نمبر۲۴۱ نه تر نمبر ۳۳۰ (اثر)

په تفصيل سره بحث کړيدے[382]. دلته د صفي الله خټک د منظوم کتابونو "مخزن الا سرار" او "بدر منير" نه يو مختصر شان اقتباس د معلوماتو د زياتواليد پاره درجکوؤلے شي ليکي:

پس له حمده د معبود په رسول يئے دے درود

چه پاک نوم يئے محمد دے هم محبوب د پاک احد دے

بيا په کل واړه اصحابو چه د ده دي له احبابو

بيا په وارو عالمانوتر قيامته اے يارانو

خصوصاً چه دے هم نور دے په امام اعظم مشهور دے

پس له دے نه مؤ منانود رسول متابعانو

چه دا عي دے والله ته هم نادي سبيل الله ته

عالم بولی و الله ته د الله ولوئ درگاه ته

بے له خدايه بل مقصود د دوئ نشته بل بهبود

---

382 د دے بحث د پاره ملاحظه کړئ نمبر۱ نظم الدره نمبر۲ ملدح الابرار نمبر۳ بدر منير نمبر۴ قصيده ميميه (عربي) د مولانا محمد علي گواليارى نمبر۵ گلزار محبت نمبر۶ مخزن الاسرار نمبر۷ گنج سعادت (اثر)

د عالمو دے خیر خواه دے په صباح هم په بیگا دے

مشهور چه په حضرت دے ښه یئے خوي ښه یئے خصلت دے

مسمی په سید امیر دے دے محبوب د رب خبیر دے

هر عالم چه نن زمان دے یاولي په دا دوران دے

وړاه دي له ده نه زیر په خوړو د ده دي ځیر

دے عالم دے د قرآن بے نظیره نن زمان

متابع دے د حضرت هم پیرو دے د سنت

د اصحابو پیروي کا په هر کار دے پس روي کا

په مذهب دے د نعمان چه عالم دے لوئ بے شان

هم سراج د امتیانو هم اتقی د مومنانو

ډیره چه غوره یئے مذهب دے هم یئے خوږ دغه مشرب دے

عقاید یئے د سنیا نو تاسو واوري مؤمنانو[383]

---

[383]دا شعرونه د کتاب مخزن الا سرار دي.

موافق په شریعت دےهم هر کار یئے په سنت دے

له ملوک دے د دین بے باورکړه هم یقین [384]

استبداد

د ۱۲۷۴هـ مطابق ۱۸۵۷ء نه روستو چه څومره څومره د مجاهدینو او انګریزانو تر منځه مخالفت او جنګونه زیاتیدل. ورسره ورسره هغه هومره انګریزانو په انتهائي استبداد سره د دے کارونو ته خپله پوره پوره توجه ګرځولے وه.

(۱) د مجاهدینو د جمعیت طاقت او مرکزونو په خلاف فوج کشي کؤول.

(۲) د مقرب خان دَ پنجتار د قومي. قبایلي او فوجي طاقت ختم کوؤل.

(۳) د حضرت مولانا شیخ المشایخ حضرت جي صاحب د کوټهی په خلاف د عالمانو په ذریعه یو لوی طوفان راپورته کوؤل.

د دے غرضو نو د پاره انګریزانو براه راست پخپله فوج کشي هم کوؤله. قبائیلي سرداران یئے هم ورسره جنګوؤل. او چه د تحریک جاهدین نور کوم حمایت کوؤنکي مشران او خانان په ملک کښې موجود وو. هغوئ ته ئے هم کلي په کلي پتنے راپورته کوؤلے او ختم کوؤل یئے او د حضرت جي

[384]دا دوه شعرونه د کتاب بدر منیر دي. (اثر)

صاحب په خلاف دغه ناپاک مهم یئے په دے وجه شروع کړے وو. چه د دوي په وجه تحریک مجاهدین ته امداد رسیدلو.

د هغه زمانے په تاریخ چه نظر واچوؤلے شي. نو معلومه شي. چه په حقیقت کښې انګریزان هم په دغه پورتنو درے محاذونو جنګیدل. او د جنګ د پاره یئے دغه پورتنی درے حربے استعمالولے. په دے سلسله کښې چه د تابیع په پاڼرو د واقعاتو کوم تفصیل درج دے. هغه ډیر درد ناک دے. او د عبرت نه هم ډک دے. د مجاهدینو په خلاف چه انګریزانو د ۱۸۵۷ء نه تر ۱۹۴۷ء پورے کوم ناپاک او استبدادي مهمونه چلولي وو. هغه روڼ داستان نه دے. او هغه مقرب خان چه سکهانو به ورته د "زمری بچے" وئیلو. او په یوه موقع چه د "یار حسین" میرے ته د سکهنا ولښکر راپر یوتے وو. تش په دے آواز چه د "زمري بچے" راغے. د سکهانو په لښکر د اسے الغاؤ تلغاؤ کړ شوے وو. او داسے تښیدلي وو. چه دوړے یئے ختلے. د هغه مجاهد مسلمان ژوندي یئے د ۱۸۴۶ء نه تر ۱۸۷۸ء پورے په عذاب کړے وو[385]. جرم یئے دا وو. چه په قوم او ملک کښې یئے اثر. رسوخ او اقتدار لرلو. د مجاهدینو او د کوټهي د حضرت صاحب جان نثار ملکرے وو.

قیدو بند

---

[385] د تفصیل د پاره ملا حظه کړئ تاریخ یو سفزاے د صفحه نمبر۴۰۳ نه تر نمبر۴۱۳ (اثر)

د حضرت جي صاحب په خلاف د انګریزانو مخالفانه مهم د ۱۲۴۷هـ نه روستو چه په ډیر زور او شور سره شروع شوے وو. هر کله چه په عوامو د هغے څه اثر او نه شه. نو انګریزانو په ۱۸۶۰-۱۲۷۷هـ ورځ د دوشنبے ۲۶، تاریخ د ماه شوال بانده حضرت جي صاحب ګرفتار کړو. او د مردان په فوځي چهاؤنړۍ کښې یئے په جیلخانه کښې واچولو. د حضرت جي صاحب په ګرفتارئ یو عظیم الشان شور په ملک کښې راپورته شه. په سمه. سوات. تولوه وادئ پیښور او افغانستان کښې د حضرت جي صاحب په لکهونو مریدانو تعلقداران وو. هغوئ د انګریزانو په خلاف عملي قدم پورته کولو ته جوړ شول. آخر دا چه انګریزانو د حالاتو د نزاکت په وجه په ورځ د چهار شنبے وخت مازیګر ۲۹، د محرم الحرام ۱۲۷۸هـ مطابق ۱۸۲۱ء د دے میاشتے او درے ورځو قید او بند نه روستو حضرت جي صاحب آزد کړ. او د آزادیدلو نه پس خپل کلي کوټهی ته راغلل[386].

لوئ روحاني اثر

دا خبره چه حضرت جي صاحب د خپل عظیم الشان روحاني اثر په برکت د انګریزانو د قید وبندنه خلاص شوے وو. د دے اندازه د دے یو مثال نه لګیدلے شي. چه یوه ورځ حضرت جي صاحب د کوټهي نه د ګدون د علاقے میراګی نوم کلي ته تللو. مریدانو په چپرکټ کښې په اوږو بانده وړلو. د کوټهي

[386]نظم الدرفي سلک السیر صفحه نمبر ۲۶۵

او میراکی تر منځه تقریباً څوارلس میله لاره ده. د حضرت جي چپرکټ (تخت روان) میراکی کلي ته رسیدلے وو. او د مریدانو کوم قطار چه په دوي پسے روان وو. د هغے بل سر لا په کوټهه کښې وو.. خلاص شوے نه وو. د دے دومره لوي روحاني عظمت او اقتدار مقابله انګریزانو په ډاګه نه شوه کولے. اګر چه یو ځل یئے ګرفتار هم کړ. لیکن مجبوراً یئے بیا پریښوده. په داسے حالاتو کښې د انګریزانو سره د حضرت جي صاحب د اثر ورسوخ او روحاني اقتدار ختم کولو یو علاج وو. او هغه دا چه د بعض دنیا پرستو عالمانو خدمات یئے حاصل کړي وو. او په دنه وسله باندے یئے د حضرت جي صاحب په خلاف جنګ کولو.

پس منظر او تاریخي دستاویز

مناسب معلومیږي. چه دلته د اخندزاده فیض الله خان د موضع تر بهیله کندي لمغانیان هغه بیان نقل کرو. چه د هغے نه د حضرت جي صاحب په خلاف د دے ناپاک مهم اصل حقیقت او پس منظر معلومیدلے شي. د اخندزاده مرحوم دا بیان چه د یو قلمي یاد داشت په شکل کښې ماته په لاس راغلے دے. او محفوظ پاتے شوے دے. یو اهم تاریخي دستاویز دے. چه په تاریخي اعتبار سره ډیر اهمیت لري.

اخندزاده فیض الله خان د تر بیلے دغه خپل تاریخي دستاویز د حسن زائي قبیلے او ود مجاهدینو او د کوټهي د حضرت

جي صاحب د مريدانو د لښکرو په خلاف د انګريزانو د لښکر کشئ په موقع په کال ۱۸۵۳ء مطابق ۷۰-۱۲۶۹هـ کښې ليکلے دے. په دغه ورځو کښې حضرت جي صاحب د علاقه بنير په موضع باجکټه کښې اوسيده. ټول مريدان يئے د حسن زائي په جنګ کښې د انګريزانو په خلاف جنګيدلي وو. او هم دا هغه ورځے وے چه انګريزانو د حضرت جي صاحب په خلاف د الزام ترشی او بدنامه کولو ناپاک مهم شروع کړے وو.

د اخوندزاده فيض الله خان په دے تاريخي دستاويز کښې چه ګنج سعادت نوم يئے دے. د حضرت جي صاحب د کوټهی د مجاهدانه کوششونو نوعيت داسے بيان شوے دے.

(۱) د حضرت سيد محمد امير د هغه خطونو ذکر چه حضرت سيد احمد شهيد ته يئے وخت په وخت ليکلي وو.

(۲) د حضرت سيد محمد امير د هغه خفيه ملاقاتونو ذکر چه د انګريزانو په خلاف يئے د بارکزو سردارانو سره کړي وو.

(۳) د هغه اهم تاريخي خط ذکر او تفصيل چه حضرت جي صاحب د کوټهي د خپل اتباري سړي په لاس کابل ته شاه شجاع الملک دراني ته ليږلے و.و (څه وخت چه شاه شجاع

په کابل قبضه اوکړه دا خط يئے
د هغے نه فوراً روستو ورليږلے
وو.)

(۴) د زيدے د ارسلا خان له طرف د
حضرت جي صاحب په خلاف چه کوم
مهم چلولے شوے وو. او د هغے په
وجه حضرت جي صاحب د علاقه بنير
په باجکټه په استوګنه مجبوره
شوے وو. د هغے د وجوهاتوتفصيل.

په دے کښې هغه تاريخي نکته او شهادت چه څمونږه د بيان تائيد پرے کيږي. دا بحث يوه نوے موضوع يئے ميدان ته راويستلے ده. د حضرت سيد محمد امير المعروف په حضرت جي صاحب د کوټهی له طرفه کابل ته شاه شجاع الملک ته دا لانديني خط ليږل دي. چه: د حضرت جي خصوصي استاذي شاه شجاع ته اووے ما درل پيغام واجب الا حترام راوړے دے. حضرت صاحب فرمائي:

شاه شجاع الملک ته يو ځل بيا دا خبره کوؤ چه څو ګذاره مخکښې م هم درته کرے ده. ته به څما په دے خبره يقين اوکړے ځکه چه د دے نه وړاندے هر څومره خبرے چه م درته کړي دي چه که ته داسے کار اوکړے. نو خدائے پاک به يئے سرته اورسوي. (يعنے څما د هر يو قول رښتين والے تا ته پخپله په تجربه سره هم معلوم شويدے) نو اوس دا پيغام درليږم. چه ما دلته په وادئ پيشور کښې د انګريزانو

ذبیخ ویستلو پوره پوره انتطامات کړي دي (او په روحاني طور سره په افغانستان کښې انګریزانو د بیخ نه لګیدلو په باره کښې څما دعا خدائے پاک قبوله کړي ده) چونکه دا کار لکه چه زۀ درته وایم هم دغه. شان کیدونکے دے. (چه انګریزان به په ډیر شرمناک شکست خوړلو د افغانستان نه رابهر کیبږي) نو څما پیر زوئینه دا ده چه د نورهر چانه وړاندے په انګریزانو باندے د جهاد اعلان ته اوکړه. چه نیکنامي درته حاصله شي. او په عام او خاص کښې لکه د غر په شان څرګندشي. تاته دے واضحه وي. چه که چرے ته څما د دے وینا په تعمیل کښې سستی او غفلت اوکړے. نو ته به هم خود پخپله زوال بیا مومے. تباه به شے (مړ به شے) زۀ درته یو ځل بیا دا خبره کوؤم چه دا کار د خداي پاک د منشا مطابق بے شکه او بے شبهي کیدونکے دے. خداي پاک ماله په دے باندے پخپله مهرباني علم راکړے دے. او څما پرے کلکه عقیده ده. والسلام علي من اتبع الهدي و جاهدوافي سبیله. و ما علیهنا الا البلاغ.

(سید) محمد امیر د کوتهي.

اخون زاده فیض الله خان مخکښې لیکي چه شاه شجاع الملک د حضرت جي صاحب د دے خط په جواب کښې چه کوم خط رالیبږه د هغے خلاصه مفهوم دا دے. چه شاه شجاع د عقل او فکر نه کار وانخستلو. ناداني یئے اوکړه. دیته یئے فکر اونه کړ چه اولیاء الله چه چاته څه خبره کوي په هغے کښې راز وي. د

حکمت نه خالي نه وي. او هر کله چه شاه سجاع د حضرت جي د حکم څنې نافرماني اوکړه. نو انجام یئې دا شه چه لکه حضرت جي صاحب فرمائیلي وو. فرنګیان خو هسې هم له کابل نه ورکیدل. ورک شول. لیکن د هغوئ د ملکرتیا په وجه شاه شجاع هم ورسره ورک او تباه شه. یقیناً که شاه شجاع د انګریزانو په خلاف د جهاد اعلان کړے وے. نو هغه تباهي به پرے ن وه راغلے. د کومے چه ښکار شه. اخندزاده د دے تفصیلي بیان په آخر کښې لیکي:

اولیاء چه کارونه دلبري کا کله
له ځان خواله خدایه رهبري کا

د اخندزده فیض الله خان د دے تاریخي بیان او د پورتنی خط د مفهوم دواړو نه معلومیږي چه حضرت جي صاحب شاه شجاع ته صرف دغه یو خط نه وو لیکلے بلکه د دے نه مخکښې هم وخت په وخت ورته هدایات او پیغامونه لیږلي وو. او بله دا چه د انګریزانو په خلاف یئې د بار کزي سردارانو سره پټے مشورے هم کوولے. هر کله چه شاه شجاع د انګریزانو په لاسونو کښې لوبیده. نو ښکاره خبره ده. چه د حضرت سید محمد امیر دغه اهم خط او دغه شان د دوئ نور خطونه انګریزانوله په لاس ورغلي وو. او بل طرف ته هر کله چه د بارکزی سردارانو در پرده د انګریزانو سره ساز باز وو. نو هغوئ به هم لازماً انګریزانو ته د حضرت سید محمد امیر صاحب د سرګرمو اطلاع ورکؤله. او هم د دغه وجه

وه چه انګریزانو د یوے منظمے منصوبے ما تحت د حضرت جي صاحب د طاقت او اثر او رسوخ د کمولو او ختم کولو د پاره مختلفے ذریعے استعمال کړے وے. چه په هغے کښې دوه حربے خصوصي اهمیت لري.

(۱) د حضرت سید محمد امیر علیه الرحمة او د تحریک مجاهدین د اولو العزم مجاهد ملکري مقرب خان د پنجتار طاقت او اقتدار ختم کوؤل. چه هغه ته یئے ټوله علاقه سور اوؤ کړے وه. په خانه جنګئ یئے اخته کړے وو. د پاره د دے چه د حضرت جي صاحب طاقت کمزورے شي.

(۲) په حضرت جي صاحب او د هغه په تعلقدارانو د وهابي حکم لګوؤل. چه دا الزام سراسر دروغ وو. بهتان وو. بے اصله او بے حقیقته وو. ځکه چه حضرت جي صاحب د کوټهی صحیح العقیده حنفی مذهب او صحیح المشربه اهل السنت والجماعت وو. (چه مخکښې یئے تفصیل بیان شه) لیکن د انګریزانو په چالاکئ او عیارئ د دے الزام په وجه د حضرت صاحب خلاف د مخالفت دا طوفان دومره په باقاعدګئ او منظمه طریقه سره راپورته کړےشوے وو. چه د خداي پاک ډیر نیک بزرګان. عالمان او نیک بندګان د

پـرفـريـبـه لـمسون او چغلئ پـه وجـه بـه غـيـر شعوري طور سره پـكښې شامل شوي وو. او د خدائـے پـاک يـو نـيـک بـنـده او رښتنی مجاهد مسلمان تـه يـئـے تـكـلـيـفـونـه رسوؤل. اوس چه پـه پـوره دلائـلـو او واضحه شهادتـونـو سره دا ثـابـتـه شوه. چه د كـوټـهی حضرت جي صاحب پـه خلاف د "وهابـي تـوب" كوم مهم چلـيـدلـے وو. پـه هغـے كښې د انـگـريـزانـو لاس وو. او دا هم ثـابـتـه شوه چه حضرت جي صاحب او د هغه تـعلقداران وهابـيـان نـه وو. صرف قصور يـئـے دا وو. چه د انـگـريـزانـو پـه خلاف يـئـے د مجاهديـنـو امدا دكـؤلـو. نـو دا بـه اووايـو چه كومـو خلقـو كه پـه غلط فـهـمئ سره د خداى پـاک د دے نـيـک بـنـده حضرت جي صاحب د كـوټـهی مخالـفـت كـړے وو. خدائ پـاک دے هغوء تـه هم عفـوه اوكـړى.

وفـات

هر كله چه انـگـريـزانـو پـه خلاف پـه رجب الـمرجب ۱۲۷۹هـ (تـاريـخ تـام) يـا ۱۲۸۰هـ (تـاريـخ نـاقص[387]) مطبق ۱۸۶۳ء كښې د سر كـاوئ مشهوره غزا اوشولـه. او انـگـريـزانـو پـه دغه موقـع بـانـدے يـو ځل بـيـا د مجاهديـنـو

---

[387]حاشيه د كـتـاب بـرخدي شرح زيـج الـغ بـيـگی تـالـيـف د ميـا محمد وسيم كـاكـا خيـل

مشهور مزکز "ملکا" او سیزلو. او د دے کامیابئ نه روستو انګریزي فوځ را واپس شه. نو د حضرت جي صاحب په خلاف یئے دومره په زور او شور سره مهم شروع کړه. چه حضرت جي صاحب یو ځل بیا د مهانبړ په لاره د چمله او بنیر په سفر کولو مجبوره شه. بنیر ته لاړ. او د باجکټه په مقام استوګن شه. لیکن په دے ځل د دوئ او د دوئ د ډلي په خلاف د سازشونو او محالفت کوم طوفان راپورته کړلے شه. د هغے تفصیل ډیر درد ناک دے[388].نتیجه یئے دا شوه چه حضرت جي صاحب بیا واپس سمے ته راغے. او په دے شان سره د کشمکش په انتهائي مشکلو حالاتو کښې د علم او عرفان تبلیغ ا وجهادونو د مبارک ژوند تیرولو نه پس د ځلور اتیا کالو وپه عمر کښې په ورځ د جمعة المبارک د جمعے د نمانځه نه روستو د ذالحجة الحرام میا شتے په آخرینئ ورځ ۱۲۹۴هـ کښې وفات شه. خپلو درے مریدانو مولانا عماد الدین. مولانا محمد ګلاب او مولانا محمد اشرف ورله غسل ورکړے وو. او د موضع کلا بټ حضرت جي ابي ذر علیه الرحمة پرے د جنازے نمونځ ګذارلے وو. او صباله په ورځ د شنبه یکم تاریخ د محرم الحرام ۱۲۹۵هـ (مطابق ۱۸۷۶ء) پخپل جامع مسجد کښې په شمالي ګوشه کښې ئي مزار جوړ کړلے شه. عله الرحمة والغفران.

اولاد

---

[388] نظم الدري صفخة نمبر۲۸۳ نه تر نمبر ۳۳۰

په تاریخ یوسفزایے کښې د دوئ د ځلورو ځامنو نومونه درج دي[389]. محمد اسرائیل. سید محمود. سید احمد. سید لطیف او په بحرالانوار کښې د دوئ د دوه ځامنو نومونه درج دي[390]. محمد اسرائیل سعید احمد. لیکن د دے دواړو وکتابونو دا بیانونه صحیح نه دي. ځکه چه د حضرت جي صاحب مشهور خلیفه مولانا صفي الله خان چه د حضرت جي صاحب په سوانح حیات کښې دوے اسم تاریخي کتابونه لیکلي دي نمبر۱ نظم الدرفي سلک السیر نمبر۲ مخزن الا برار. نمبر۳ "بدر منیر". هغه پخپلو دوه کتابونو "مخزن الا برار" او " نظم الدر" کښې په ډیر تفصیل سره د حضرت جي صاحب د اولاد حالات بیان کړي دي. په "مخزن الابرار" کښې د مولانا صفي الله یوه قصیده درج ده چه په اته د پاسه یو سل (۱۰۸) اشعارو باندے مشتمله ده[391]. په دیکښې د حضرت جي صاحب د اوه ځامنو نومونه د عمر په لحاظ سره ترتیب وار داسے درج دي. سید محمد اسرائیل سید محمود. سید احمد. سید ابدال. سید لطیف. سید عبدالوهاب. سید عبدالله. د مولانا صفي الله د دے تاریخي نظم آخرینے بند داسے دے.

---

[389] تاریخ یوسفزایے صفحه نمبر ۵۴۸

[390] بحرانوار صفحه نمبر۳۱۹ په دے کتاب کښې د دویم ځوي نوم یئے سعید احمد لیکلے دے. چه د دغه غلط دے. او صحیح نوم سید احمد دے. اثر

[391] دا قصیده د شاه بهاء الدین په تالیف ګلزار محبت (قلمي) کښې هم درج ده. ا د دپرله پسے نمبر په حساب نمبر۴۳ قصیده ده.

"صفي الله" چه دے خاکسار دے
د حضرت هم مددار دے

ملا زم يئے د دربار دے
هميشه په دا از کار دے

لا اله الا الله
مريدان او خليفه ګان

د حضرت مولانا شيخ المشائيخ حضرت سيد محمد امير المعروف په حضرت جي صاحب د کوټهي د مريدانو او خليفه ګانو شمار د حداو حساب نه زيات وو. دلته د دوئ د يو څو نامورو خليفه ګانو چه په دے کښې هر يو عالم او اديب وو. نومونه درج کوؤلے شي. او ورسره د هر يو مختصره تذکره هم د معلومات د زياتوالي د پاره درج کړو.

مولانا نور محمد

اخندزاده نور محمد عليه الرحمة په کهيا ملا صاحب مشهور وو. د حضرت جي صاحب په خاصو مريدانو کښې وو. د حضرت جي صاحب په مدح کښې يئے چه کومه قصيده ليکلے ده. د هغے آخرنے بند داسے دے[392].

په کيا ملا مشهور يم ګدا
ستا د پاک حضور يم

پرے مي نه ږدے په دامان د
کوټهے شاه مردانه

[392] دا قصيده په ګلزار محبت د مسلسل نمبر په حساب نمبر۳۲ قصيده ده. کهيانومے کلے د اباسيند په ګاړه دے. په کهيا کبل مشهور دے.

مولانا احمد جي

حضرت مولانا اخندزاده احمد جي د موضع خویشکي علاقه هشنغر اوسیدنوکے وو. د علم او بصیرت او سلوک خاوند وو. د خیبر ایجنسئ د شنوارو علاقے ته تلے وو. د هغه علاقے د خلقو روحاني پیشوا او مقتدا وو. د حضرت جي صاحب د کوټهي د تعلق په جرم په ۱۲۶۰هـ مطابق ۱۸۴۴ء کښې شهید کړے شه. مزار یئے په موضع قصابه علاقه شنواری کښې دے. او په شهید بابا جي یادیږي[393].

حضرت لاله جي صاحب

حضرت معارف آگاه مناقب انتباه صاحب د طریقت بیضاء تابع د شریعت غر اشریف النسب والحسب عامل د سنت سمیه نبویه حامل د محامدو او اخلاق مصطفویه خاوند د خلق کریم. الرکیم ابن اکریم ابن الکریم تابع د حق مبین مولانا عبدالحق الامین المعروف په "لاله جي صاحب" اسیدونکے د موضع بام خیل علاقه ابا خیل (صوابئ. مردان) چه مسلک قادري او نقشبندي دواره یئے لرلو. او پخپله زمانه عارف بالله فیاض د زمانے او قطب د دوران وو[394].

حضرت لاله جي صاحب د حضرت مولانا سید محمد امیر د کوټهی په ممتازو خلیفه گانو کښې د علم او عرفان په اعتبار د بزرگی او مشرئ او چته درجه لرله. په دغه وجه

---

[393]نظم الدر صفحه نمبر۸۴ (اثر)

[394]و

د عزت او احترام په خصوصي لقب "لاله جي صاحب" یادیدلو. او د کوټهی د حضرت جي صاحب نه روستو په علم او معرفت کښې او د خدائے مخلوق ته په بے دریغه فیض رسولو کښې چه کوم شهرت او مقبولیت دوئ ته حاصل شوے وو. دهغے مثال په سمه اوسوات دواړه کښې نه پیدا کیږي. پخپله ډیر رلوئ عالم وو او د عالمانو ډیر قدردان او مهربانه سر پرست وو. په ۱۳۱۰هـ کښے وفات شویدے. ماده د تاریخ یئے دا جمله ده "یغفرک" مزار مبارک یئے د موضع بام خیل شملا طرف ته په لوړه باندے دے. چرته چه د دوئ د بزرګانو او نیکونو مزارات دي. ورسره په خوا پورے جماعت دے چه د دیني علمونو مرکز وو.

د دوئ د وفات نه روستو د دوئ فرزند ارجمند حضرت صاحبزاده عبدالقیوم سجاده نشین شوے وو[395].چه دے هم عالم اجل او فاضل بے بدل وو. او په خصوصیت سره به یئے د عالمانو سره ډیره نیکي کوؤله. د ستګیري او سرپرستي به یئے فرمائیله. او د خدایئے پاک عام مخلوق ته ترینه ډیر دیني او دنیاوي فیوضات رسیدل. نن ورځے د حضرت لاله جي صاحب نمسي هم نیکان عالمان او د معرفت او طریقت د فیوضاتو خاوندان دي. علیهلم الرحمة والغفران.

حضرت مولانا صفي الله

[395] تذکره جمیل

حضرت مولانا صفي الله خان په قام خټک وو. د مصري بانډے او سيدونکے وو[396]. په ۱۲۷۲هـ کښے چه د سوات د سفر نه د حضرت جي صاحب په ملګرتيا کښے واپس خپل کلي مصري باندے ته لاړ. نو د هغے نه لږے ورځے روستو موضع امازو ګهړئ (مردان) ته په کډه راغے. بيا هم دلته وفات شه. فاضل عالم او کامل عارف وو. ډير باروعبه. باوقاره. خوش شکل. بلند پايه اديب او مؤلف وو. د حضرت جي صاحب د کوټهي نوم او د علمي او روحاني کارنامو يادونه د مولانا صفي الله د فاضلانه تاليفاتو "مخزن الا سرار" "نظم الدر" في سلک السير او "بدرمنير" او فصيحو بايغو قصيدوله برکته ژوندي پاتے شويدي. چه دغه په تاريخ باندے د دوئ لوئ احسان دے. دلته د يو څو قصيدو فقط يو يو آخرينے د مقط شعر د نمونے په طور درج کوؤلے شي. فرمائي.

صفي الله چه دے خټک دےله ګناهه واړه ډک دے

اعتقاد يئے په تا کلک دےووم مه باسے له فهمه

مولوي عاجز غمژن په اور سوے لو غړن

---

[396] د ده د تفصيلي حالاتو د پاره ملاحظه کړئ څما بل تاليف "تير هير شاعران" طبع پښتو اکاډيمي پشاور صفحه نمبر۲۳۳ تا ۲۴۳. څما عزيز مخلص او مشفق دوست عبدالودود خان ريسرچ آفيسر د وزارت اطلاعات مرکزي حکومت پاکستان راولپنډئ د لوړ د طرف نه د دے ولانا صفي الله خان نمسے دے. (اثر)

وائي هايئے ارمان ارمان د کوټهي شاه مردان

په خپل ملک کښې بے آسرے ستا په درنارے سورے

مولوي وهي بے شانه "د کوتهی شها مردانه"

مولانا حمد

حضرت علامه فهامه فاضل محقق کامل مدقق او بے مثله اديب مولانا احمد د تنګی (نصرت زائے) علاقه هشنغر اوسيدونکے وو. د ګنړ و علمي ادبي کتابونو مؤلف وو. د کوټهي د حضرت جي صاحب نامور مريد وو. او په دغه جرم په "مولانا احمد وهابي" مشهور وو. دے حضرت جي صاحب په مدح کښې يئے په عربئ. فارسی. پښتو ژبه ذزرينے قصيدے وئيلي دي. د دوئ د يوے قصيدے د مقطع يو شعر او د دوئيمے قصيدے آخريني دوه بندونه دلته درج کوؤلے شي. د دغے نه به معلومه شي چه د حضرت مولانا احمد په زړهٔ کښې د السام او مسلمانانو سره څومره بے دريعه مين وه، او څومره لوئ مجاهد عالم وو. او حق ګو او حق شناس عارف و.و فرمائي[397].

[397] ګلزار محبت قصيده نمبر ۲۴

احمد چه بیا مونده بهره
ستا وصاله ځنې
ځکه په خله کښې یئےکلام در
او ګوهر وینمه

د دویمې قصیدے د مطلع شعردے:ـه

دعا قبوله کړي د پیر بدر
منیر ځما
خزان د قهر د غماز په ارم
پریباسے

د درے قصیدے آخریني دوه بندونه دا
دي[398].

خزان د قهر د غمازو په
بوستان وینمه
صف د کفار ودے هلاک په دغه
قهروي تل
تازه خوشحاله همګی
مسلمانان وینمه
او په پیاله د مشرکانو کښے
دي زهروي تل
خراب تراب دوباره واړه
کافران وینمه
د مؤمنانو ترقي دي هم په
جهروي تل

چه په دعا د کامل
پیر کښې دے تاثیر ځما

---

[398]ګلزار محبت قصیده نمبر ۷۶

ربه توحيد م په خاطر کښې
محکم پريباسے
ربه محکم څمونږ په زړونو
کښې توحيد کړے ته
قلوب څمونږ کړے قائم په
شريعت د نبي
معمول څمونږ په ښه شان
قرآن مجيد کړے ته
مونږه کل واره مستقيم کړے
په سنت دنبي
ربه په خلقو د جهان فضل
مزيد کړے ته
چه شي د هر سړي روزي
متابعت د نبي

وائي احمد رښتيني دے دغه
تقرير څما
خدايه کفار په منزله د عدم
پريباسے

نور مريدان

د دوئ نه علاوه د حضرت جي صاحب د کوټهي د يو څو نورو نامورو مريدانو او خليفه ګانو فقط نومونه[399]

(١) حضرت مولانا حافظ حاجي نور محمد نقشبندي د ګجرات بخشالي (مردان)

[399] په حواله د مدح الابرار. فخزن الا سرار. ګلزار محبت او نظم الدر في سلک السير باندے دا نومونه دلته درج کړلے شول.

(۲) حضرت مولانا محمد جي د ديول (علاقه ګدون)

(۳) حضرت مولانا قاضي عبدالرحمان شهيد د امازو ګهړئ (مردان)

(۴) حضرت مولانا محمود المعروف په بزرګ ملا صاحب د معيار (مردان)

(۵) حضرت مولانا حمدي الله حميد د سوات چه روستو په کوټهه (صوابئ مردان کښې اوسيده)

(۶) حضرت مولانا ميا ګل حمد الله د موضع "سړه چينه" (صوابئ. مردان)

(۷) حضرت مولانا خان عبدلاغفار خان د ګنبت (مردان) مقيم د سوات.

(۸) حضرت مولانا الفاضل محمد عارف المعروف په مولانا فيضي د پکهلئ (هزاره)

(۹) حضرت مولانا سيد محمد طيب د پکهلي مقيم د رياست ټونک (راجپوتانه)

(۱۰) حضرت محب الحق اخندزاده د پاکوړئ (سوات)

(۱۱) حضرت مولانا محمد علي د ګواليار (هند)

(۱۲) حضرت مولانا محمد علي کریب د امب دربند (هزاره)

(۱۳) حضرت مالانا احمد الملقب په ابي ذر اخندازاده د کلابټ (صوابئ)

(۱۴) حضرت صاحب زاده مدثر د ټوپئ (صوابی)

(۱۵) حضرت مولانا سید عماد الدین د ډهیرئ (صوابي)

(۱۶) حضرت مولانا میا شمس الدین اخند زاده د چارګلئ (مردان)

(۱۷) حضرت میا محمد سرور علیه ارلحمة چه په قام سید وو. مشران یئے د جالند هر نه راغلي وو. د موضع طور و (مردان) اوسیدونکے وو. مزار یئے ه موضع ګړهي اسماعیل زاے کښې دے.

(۱۸) حضرت مولانا محمود المعروف په پیر باد شاه ګل. د سپینه وړئ (پشور)

(۱۹) حضرت مولانا بحر الدین صاحب د موضع کوپرئ میره (صوابي)

(۲۰) حضرت مولانا ابو الحسن بهاري (هند)

(۲۱) حضرت مولانا احمد علي خان المعروف اصولي ملا صاحب د چکیسر (سوات)

(۲۲) حضرت شفیع الله اخندزاده. مولانا حضرت الله اخندزاده د موضع بتاره (ګدون)

(۲۳) قاضي ناظم اخندزاده صاحب د ټانکوړه (ګدون)

(۲۴) حضرت خواص نور اخنزاده. علاقه ګدائي زایے (بنیر)

(۲۵) حضرت غلام نور اخندزاده. د بټ کړه (ګدون)

(۲۶) مولانا صاحب حبیب الله. د کلپانئ (بنیر)

(۲۷) حضرت مولانا محمد صفا اخندزاده. د باجکټه (بونیر)

(۲۸) حضرت مولانا میر عبدالله اخنزاده ولد سید محمد قابل (د حضرت جي صاحب د تره ځوي وو. او په موضع منکل تهانه ګدون کښې اوسیده.

(۲۹) حضرت مولانا اخند زاده فیض الله خان قریشي د تر بیله کندي لمغانیان مؤلف د "ګنج سعادت"

چه یو ډیر اهم تاریخي دستاویزے دے. مخکښې یئے ذکر راغلے دے.

(۳۰) حضرت مولانا اخندزاده عبدالرؤف د ټوپئ (صوابي. مردان) د حضرت جي صاحب د خور بي بي ځوي وو. او ځوم یئے هم وو. د سابق صوبه سرحد مشهور تاریخي. علمي او سیاسي شخصیت صاحبزاده عبدالقیوم مرحوم د ده فرزند ارجمند وو.

(۳۱) حضر احمد اخندزاده صاحب د مینئ (صوابی)

(۳۲) حضرت مولانا فضل احمد اخند زاده علیه الرحمة د یار حسین (مردان)

(۳۳) حضرت مولانا نجیم اخندزاده. حضرت مولانا حاجي دیدار شاه اخندزاده د چار ګلئ (سدوم. مردان).

(۳۴) حضرت مولانا عبدالرحمان د بر کلي (بنیر)

(۳۵) حضرت مولانا صاحب شاه اخوندزاده د علاقه چغرزاے. (بنیر)

(۳۶) حضرت مولانا پیر قدیم شاه ابن پیر د ارشاه ابن پیر انور شاه ابن پیر شاه جهان ابن پیر

نیکنام ابن پیر شاه عالم ابن پیر گل محمد علیه الرحمة مدیح خیل د مردان اوسدونکے او لوئ اصولي فقهه عالم وو. د حضرت جي صاحب په نامورو مریدانو کښې وو.

(۳۷) حضرت مولانا بهادر خان د توپئ (صوابي)

(۳۸) حضرت مولانا سر فراز اخند زاده د کوټهه (صوابی)

(۳۹) صاحب دوله اخندزاده د ټانکوړه (گدون)

(۴۰) حضرت مولانا المعروف په معقولي ملا صاحب د للوزئ (غوربند. سوات)

(۴۱) حضرت مولانا سید میر حمزه د طورو (مردان)

(۴۲) حضرت میا برهان الدین کاکا خیل د سري ډهیري (مردان)

(۴۳) حضرت مولانا غلام جیلاني ابن مولانا غلام حبیب د پیښور ښهر (محله آسیا)

(۴۴) حضرت مولانا غلام رسول عادل گړهي (لاهور. پنجاب)

(۴۵) حضرت مولانا حباب د اسماعیلا (مردان) هر کله چه د حضرت جي صاحب تعلق په وجه پخپل کلي کښې پرے ژوند تنګ شه. نو علاقه مروت (ضلع بنو) ته په کډه تلے وو. او هم هلته وفات شوے دے. مزار یئے په علاقه مروت کښې دے. د موضع نوښهر ضلع پیښور مشهور عالم مولانا عبدالقاهار المعروف مولانا صاحب مروت مرحوم د ده فرزند او جمند وو.

(۴۶) حضرت مولانا میا سید ولي د پیو چار (ګدون)

(۴۷) حضرت مولانا میر صاحب اخندزاده د موضع بټاره (بنیر)

(۴۸) حضرت مولانا خلیفه زین العابدین د موضع زړه مینه.

(۴۹) حضرت مولانا محمد وحید ابن مولانا احمد اخوند قوم خټک اصل اوسیدونکے د طورو او مقیم د سوات.

(۵۰) حضرت مولانا سید احمد اخوند زاده المعروف په روهیلے ملا صاحب دغا لیکي (سوات)

(۵۱) حضرت مولانا قاضي شاه غریب اخوند زاده د موضع طورو. (مردان)

عليهم الرحمة والغفران. د هغه زمانه د پښتو ژبې او ادب نامورو اديبانو صاحب د کوټهي په مدح او تعريف کښې مدحيه قصيدې وئيلي دي. د هغې اندازه د دې نه لګوؤلې شي. چه يواځې حضرت مولانا ميا ګل حمد الله فقير خيل د موضع سړه چينه (صوابی مردان) د حضرت جي صاحب په مدح کښې ځليريشت اوړدې بلند پايه ادبي قصيدې ليکلې دي[400]. او مونږه هم دا خپل بيان د ميا حميد الله عليه الرحمة په دې شعر ختم کوؤ[401].

ستا تعظم ادب
له مانه ادا
نه شه
حمد الله په
دې ملزم يم
حضرت جي

[400] دا تولې قصيدې په کتاب ګلزار محبت او کتاب مدح الا برار کښې درج دي.
[401] دا شعر د کتاب ګلزار محبت د قصيده نمبر۶۹ د مقطع شعر دے. (اثر)

حضرت شیخ عبدالغفور صاحب د سوات علیه الرحمة

ولادت .... چپړئ، سوات ۱۲۱۳هـ

وفات.. سیدو، سوات ۱۲۹۵هـ

د حضرت مولانا اخوند، حافظ، شیخ المشائیخ "بابا صاحب د سوات".[402] خپل

---

[402] په قبائیلي علاقه مهمند کښې یوه قبیله ده. چه په صافي نوم یادیږي. ګربز. مسعود. قنهدار پکښې مشهور ښا خونه دي. د دے صافي قوم د مختلفو قبائیلو خلق په افګانستان کلي او د مګربي پاکستان په مهمدن ایجنسئ او دپیښور مردان په ضلعو کلېد لکهونو په تعداد کښې آباد دي. د دے صافي قوم د قندهاري قبیلے هغه کورنئ چه د مهمند ایجنسئ په علاقه سور کمر او کنده غار کښې آباد دي. د دے خاندان څه کورونه د ۱۰۰۰هـ په شاؤ خوا کلي د مهمندو د علاقے نه د برسوات، شامي زایئے نومے علاقے ته راغلے او دلته آباد شوي وو. عبدالواحد خان هم د سوات په علاقه کلي آباد شوے قندهاري قبیلے یو بختور انسان وو. چه د شامي زاے نومے علاقے په چپړئ کښې اوسیده. د قندهاري قبیلے د خلقو سوات ته راتللو پس منظر دا دے. چه هر کله د ۹۸۳هـ او ۱۰۰۴هـ تر مځه د شهنشاه جلال الدین اکبر د دوه مشهورو جرنیلانو مان سنګها و زین خان کوکه په مهم د پیښور. مهمند. باجوړ. سوات علاقے فتحه شولے. نو د پښتنو قبائیلو د زور ماتولو د پاره یئے د مختلفو قبیلو خلق په مختلفو ملکونو او علاقو کښې خواره واره او چنګ ونګ کړل. د مثال په طور د یوسفزي قوم د شموزي قبیلے خلق یئے څه په باجوړ کښې د اتمانخیل سره څه په هشنغر کښې د محمد زي سره او

اصلي نوم عبدالغفور دے. د پلار نوم يئے عبدالواحد خان المعروف راوت خان دے. او په قام قندهارے دے. د موجوده رياست سوات په وادئ بر سوات کښې د شامي زايئے په علاقه کښے په چيړئ نومي کلي کښې په ۱۲۰۷هـ مطابق ۱۷۹۴ء کښې پيدا شوے وو[403].چه روستو دا بختور فرزند د خپل خاندان. ملک. قوم او دين اسلام د پاره د سرلوړئ. عزت نيکنامئ او نيکبختئ باعث اوګرځيده. د لوئ عزت او شهرت خاوند شه. او د عزت او احترام په ګنړو القابو لکه (۱) حضرت شيخ حافظ اخوند عبدالغفور (۲) غوث الزمان د سيدو. (۳) باباجي صاحب د سوات. (۴) صاحب د سوات (۵) اخون صاحب د سوات (۶) د سيدو غوث (۷) اخون ليکي صاحب وغيره باندے ياد شه. په مختلفو عربي کتابونو او رسالو کښې د دوئ نوم "صاحب السواد" ذکر شوے دے.

د حضرت بابا جي صاحب د سوات مشران نيکونه ښه خلق تير شوي دي. د مهمند ايجنسئ په علاقه سور کمر کښې په کوم کلي کښې چه د دوئ د مشرانو نيکونو قبرونه

څه په مردان کښې د بائي زي سره واچول. د باجوړ د سلارزی قوم څه حصه خلق يئے په بنير واچول او د هزارے مشواني يئے په علاقه سلارزي کښې په باجوړ واچول. دوادئ پيښور دا ؤوزي يئے په پنجاب واچول او د مهمند او باجوړ قندهاري. ماموند. اتمانخيل يئے ه تالاش آندليزي. کوز سوات او برسوات کښے واچول. او د پنجاب اعوان او جهګران نومے قومونو خلق يئے وادی پيښور ته راوستل. چنانچه هم په دغه اړي ګړي کښې د حضرت غوث الزمان د سوات مشران نيکونه سوات ته راغلي وو. (اثر)

[403] نظم الدرر صفحه نمبر۱۵۵

دي. د دوئ په وجه هغه کے د "زيارت" په نامه مشهور دے.

حضرت مولانا شيخ المشائيخ اخوند حافظ عبدالغفور قادري عليه الرحمة ابتدائي تعليم په سوات کښ او بيا په سمه کښې د هغه زمانے د نامور و بزرگانو عالمانو ځنے کړے وو. د اته وؤ کالو په عمر کښې د موجوده مالاکنډ اينجسئ موضع باډوان بړکونه ته راغلے وو. قرآن مجيد يئے دلته حفظ کړے وو. بيا د اتلس کالو په عمر د دے ځائے نه راوان شه. او په سمه کښې يئے په موضع گوجر گړهئي گړهئ کښې د حضرت مولانا سيد ميا عبدالحکيم بخاري نقشبندي مجددي[404] په جماعت کښې هغوئ د فرزند حضرت ميا عبدالرحيم بخاري سره درس اولوست. د هغے روستو په موضع پړانگ چارسده کښې يئے د حضرت مولانا اخند زاده محمد نقشبندي نه د علم فقهه او اصول فقهه ابتدائي کتابونه تر اصول شاشي پورے اولوسته. په دغه ارباب عبدالکريم خليل عليه الرحمة يئے د سبق ملگرے وو[405]. وروستو په موضع تنگي علاقه هشنغر کښې د ميا محمد حکيم اخند زاده په درس کښې يئے څه ورځے تيرے کړے. او بيا په موجع چمکني (ضلع پيښور) کښې يئے د ميا صاحب محمد عمر د څمکنو د کشري. ځوي حضرت عبيد الله ميا گل نه فيض حاصل کړ. او ورپسے په موضع زيارت کاکا صاحب کښې يئے د حضرت ميا محمد نعيم کاکا

404د ميا سيد عبدالحکيم بخاري تذکره مخکښې درج شويده.
405دمولانا محمد تذکره مخکښې درج شوے ده.

خیل څخه فیض او مونده په دغه نیټه حضرت مولانا اخند زاده محمد مسعود د اکوړي یئے د سبق ملګرے وو[406]. ورپسے په پیښور ښهر کښې د حضرت جیو شاه فضل احمد معصومي فاروقي نقشبندي مجددي په درس کښې شامل شه. څه موده یئے په دغه خانقاه کښې تیره کړه او فیض یئے حاصل کړ. په دغه نیټه حضرت مولانا حافظ سید محمد سعید ګیلاني د طورو[407] هم د حضرت جیو په خانقه کښې اوسیده. مشر مرید وو. هغوئ د صاحب بابا جي سره خصوصي شفقت لرلو.

حضرت بابا جي صاحب د سوات د داسے عالمانو څخه درس حاصل کړے وو. چه هغوئ علاوه د ظاهري علمونو څخه د سلسله عالیه نقشبندیه با کماله بزرګان وو. په دے اعتبار د دوئ ابتدائي تربیت د نقشبندیه خاندان بزرګانو عالمانو کړے دے. او روستو د روحانیت او معرفت په باطني علمونو کښې د کمال درجه ورته د سلسله عالیه قادریه د مشائیخو د روحاني فیضان څخه حاصله شوي وه. په دے سلسله کښې دوه

---

[406]حضرت مولانا محمد مسعود او صاحب بابا جي د سوات دواړه بیا روستو د حضرت جي صاحب د تور ډهیري په درس او خانقاه کښې هم ملګري وو. د مولانا محمد مسعود مزار مبارک په موضع نرئ او به (ملاکنډ ایجنسئ) کښې دے

[407]حضرت مولانا سید حافظ محمد سعید ابن سید محمد ابن سید حافظ ولي محمد ابن سید حافظ اخوند محمد یوسف ابن سید محمد یونس الملقب په نور محمد پشاوري ګیلاني سیدوو. د دے سید محمد سعید د ورور نوم سید معظم شاه وو. چه روستو د سید محمد سعید څوئ محمد میر او د سید معظم شاه ځامن حافظ سید سعید الله او حافظ سید حفیظ الله د بابا جي صاحب د سوات دوستان وو. او صاحب بابا جي به ورسره ډیر شفقت کولو. (اثر)

روایتونه داسې دي چه دهغې درج کوؤل مناسب معلومیږي.

(۱) یو روایت د کتاب "تحفة المرشد" دے[408]. لیکي چه حضرت شیخ المشائیخ مولانا فضل احمد معصومي فاروقي نقشبندي مجددي اګر چه په څلورو واړو طریقو کښې صاحب د ارشاد وو. لیکن خپلو مریدانو ته به یئې په نقشبندیه طریقه کښې توجه ورکؤوله. د ذکر خفي تلقین به یئې کولو. او ذکر جهر په یئې نه فرمائیلو.

(۲) دویم روایت څما (عبدالحلیم اثر) داستاد حضرت مولانا حافظ محمد اسماعیل ګیلاني[409] ابن سید حفیظ الله ابن سید حافظ معظم شاه د طورو دے. چه په خپل کتاب "تذکره غفوریه" (قلمي) کښې یئې د خپل نیکه د رور حضرت حافظ سید محمد سعید په روایت سره بیان کړے دے. فرمائي چه څه وخت حضرت اخوند حافظ عبدالغفور د

---

[408]کتاب تحفة المرشد د حضرت جیو پشاوري مفصله سوانح عمري ده. چاپ شویده. مګر نایابه وه.

[409]مولانا محمد اسماعیل متولد ۱۲۷۴هـ متوفي ۱۳۶۷هـ د حضرت بابا جي صاحب د سوات نیازبین شاګرد وو. و ډیر ورته ګران وو. د علم فقهه او علم نحو ابتدائي کتابونه یئې ترینه لوستلي وو. په دے اعتبار د مولانا سید محمد اسماعیل په یوه واسطه سره صاحب بابا جي د سوات څما عبدالحلیم اثر استاذ دے.

حضرت جیو شاه فضل احمد معصومي په خانقاه کښې په مقام د پیښور ښهر اوسیده نو په دغه زمانه د ځلمیتوب په عمر کښې وو. لیکن مجذوب وو. همیشه به د جذب او استغراق پ حالت کښې وو. خوراک څښاک ته به یئے ډیر کم فکر کؤلو... حضرت جیو علیه الرحمة چه به څه وخت د نقشبندیه مسلک مطابق د ذکر حفي په طور مریدانو توجه فرمائیله نو به د غه دوران کښې به بے اختیاره د ذکر جهر په طور د حضرت اخون عبدالغفور د خلے نه چغه ختله. په دے باندے حضرت جیو صاحب علیه الرحمة ورته هدایت اوکړ. چه د قادریه خاندان خانقاه ته لاړ شه. او هلته د سلسله عالیه قادریه د مسلک مطابق فیوضات حاصل کړه.

د دے دواړو روایتونو نه معلومیږي. چه حضرت مولانا اخوند حافظ عبدالغفور په حقیقت کښې ما در زاد ولي وو. او په اویسي طریقه سره د سلسل قادریه بزرګانو یئے تر بیت او فرمائیلو. جذب او استغراق ورته هم د دغه اویسي تربیت په وجه حاصل وو. او د نقشبندیه خاندان د بزرګانو عالمانو د تربیت په وجه په دوئ کښې در دا وسوز پیدا شوے وو.

حضرت مولانا شیخ حافظ اخوند عبدالغفور د پیښور ښهر نه تور ډهیرئ ته راغے. او هلته یئے د حضرت مولانا اخوند حافظ محمد شعیب د تور ډهیري نه په سلسله عالیه قادریه کښې بیعت اوکړ. سبقونه یئے واخیستل. هم د ذکر په سلسله کښې او هم د فکر په سلسله کښې په تاریخي اعتبار سره دا د ۱۲۳۱هـ واقعات دي. ورپسے سم مخي کال له په ۱۲۳۲هـ کښې حضرت جیو شاه فضل احمد فاروق معصومي د پیښور شه او ورپسے شپږ کاله پس په ۱۲۳۸هـ کښې حضرت اخوند حافظ محمد شعیب د تور ډهیري وفات شه. اوس چه سړے فکر کوي که بالغرض حضرت جیو صاحب د پیښور په دغه ۱۲۳۱هـ کښې دا خپل نامور شاګرد او مرید اخوند حافظ عبدالغفور د پیښور ښهر نه رخصت کړے نه دے. او څو کاله پس په ۱۲۳۸هـ کښې حضرت حافظ محمد شعیب د تور ډهیري وفات شوے وے. نو د قادریه سلسلے کوم فیوضات چه د تور ډهیري د خانقاه نه دوئ ته رسیدل او قدرت په هغے کښې دوه حصه مقرر کړي وه. هغه به حافظ اخوند عبدالغفور ته څرنګ رسیدلے وه؟. هغه چه وئیلے شي چه د اولیاء الله ؤ په هر کار کښې راز وي. دا د هغے مثال دے. دا د حضرت جیو شاه فضل احمد معصوم فاروقي نقشبندي د ولات او د حافظ اخوند عبدالغفور سره د شفقت نخه وه چه دے تور ډهیري ته راغے. د حضرت مولانا حافظ اخوند محمد شعیب نه یئے فیض حاصل خړ. او هم د دے پېر روشن ضمیر او د سلسله قادریه د ممتاز روحاني رهنما د

صحبت تربیت او توجه په برکت سره حضرت حافظ اخوند عبدالغفور ته د غوثیت مرتبه او کمال او د ولایت درجه او جلد هر څه حاصل شول. د غوث الزمان د سیدو شریف په عزتمند لقب یاد شه. سلسله عالیه قادریه ته یو نوے دوران حاصل شه. تر دے حده چه دا مبارکه سلسله د دوئ د خصوصي مرتبے او روحاني عظمت په وجه په "سلسله قادریه غفوریه" سره او ستائیلے شوه. او د دے مبارکے سلسلے بیرغ په سمه او سوات برصغیر پاک او هنداو افغانستان کښې تر عراق او عرب پورے اوچت شه. او تر نن ورځے پورے د دوئ د خلیفه ګانو او ما ذونانو په ذریعه د دے مبارکے سلسلے په انوارو دا ملکونه روښانه دي.

د سلسله عالیه قادریه خصوصي سبقونه چه هغه په خصوصیت سره د فکر د سلسلے سره تعلق لري. هغه ډیر ریاضتونه. مجاهدے. او چهلے او کښل غواړي هالیه یئے تکمیل کیږي. د دغه سلسلے د تکمیل د پاره د خپل پیر حافظ اخوند محمد شعیب په ارشاد باندے بابا جي صاحب د سوات د موضع تور ډهیري سره نزدے د اباسین په غاړه په موضع بیکي کښې (چه دا کلے په "نبي بهیکي" نامه مشهور دے) د خلقو نه جدا ځان له خلوت خانه جوړه کره. دولس کاله یئے په هغے کښې عبادت ریاضت او مجاهده اوکړله. چیلے یئے اوخکښے او د کمال درجه یئې حاصله کړله.

فائیده

دلته د عامو رونړو د فائیدے د پاره یو خبره لیکل ضروري ګنړم. او هغه دا ده. چه دقادریه طریقے سبقونه دوه قسمه دي.

(۱) یو عام دي. یعنے د عامو مسلمانانو د پاره دي. چه هغے ته ذکر وائي. او د تصوف په اصطلاح کښې ورته "بیعت شریف" وائي. د دے طریقے او بیعت په ذریعه د یو عام مسلمان دینداری ښه شي. د شریعت د ظاهري احکامو پابندۍ کولو توفیق ورته حاصل شي. اخلاق یئے ښه شي. د حرامونه ځان ساتي. حال احوال یئے په شرعه برابر شي. نمونځ. روژه. حج . ذکواة ټول احکام په ځاي راوړي. د قادریه طریقے پیران دغه د ذکر قسم "بیعت د شریعت " هر مسلمان ته کوي. په خصوصیت سره د حضرت شهنشاه خراسان پیر بابا علیه الرحمة طریقه د کار هم دغه وه. د نورو عامو بزرګانو هم دغه مسلک دے. او په دے شان سره په لکهونو لکهونو خلقو فیض رسوي. د "بیعت شریف" او "بیعت ذکر" په دے طریقه کښې د کلمه توحید لا اله الا الله محمد رسول الله0 په جهر سره لوستلو نه علاوه نور او راد اوو ظائف هم ورته ښودلے شي. چه د هغے په لوستلو او وظیفه کؤلو

او نقل نمونځونو خصوصاً د تهجد او اشراق د نمونځونو ګذارلو سره د زړهٔ صفايئ حاصلے شي.

(۲) د "قادريه طريقے" دويم قسم خاص سبقونه هغه دي. چه هغے ته فکر او "بيعت د طريقت" وائي. دا سبقونه په زړګونو کسانو کښې فقط هغه مريدانو ته ورکوي. چه چاله خدائي پاک د دغه طريقي د برداشت کولو صلاحيت او طاقت ورکړے وي. او د معرفت د اسرارو او رموزو دا درونه بار پورته کوؤلے شي. دا طريقه د قرآن مجيد د دے آيات شريف مصداق دے. والذين جا هد وا فينا لنهمد ينهم. يادا آيت شه. او لم يتفکروني خلق السموت والارضط ديته د طريقت په اصطلاح کښې "تفکرني الانفس والا فاق" وائي. د خپل نفس او کاينات مطالعه کوؤل. په هغے غور او فکر کوؤل. د هغے اسراروته. رازونو ته ځان رسؤل ځان پرے پوهه کوؤل. د اشياؤ ما هيت او حقيقت معلومول. د اسلام. قرآن. پيغمبر. خدائ منشا او رضا معلومول. د خالق او کائنات تر منځه چه اسلام کوم حد مقرر کړي دي. په هغے غور او فکر کوؤل د هغے اصلي روح معلومل. دا ټول د قادريه طريقے د دے خاص قسم

سبقونو چه فکرور ته وائي. بنيادي اوصولي طريقه د کار ده. او د دې د پاره د خلقو نه ځان له جدا ځاي کښې کښيناستل ضروري وي. که هغه ځنګل وي. که د غرونو سمې. او که د دريب غاړه. په دې سلسله کښې د حضرت شيخ المشائيخ ميا مير بالا پير قادري لاهوري عليه الرحمة قول دې. چه څه وخت ځمونړ مريد د ملکوت په مرتبه کښې داخل شي. نو مونړ بيا هغه د رياضت او مجاهدې د پاره ځنګل ته ليږو. ليکن په دې کښې سلسله قادريه غفوريه لږه اصلاح کړې ده. او هغه دا ده چه مجاهده او رياضت په خلوتخانه کښې کوؤلې شي او دا اصلاح د قادريه او نقشبنديه دواړو طريقو دا متزاج په وجه راغلې ده. او داسې معلوميږي چه دا د حضرت مولانا شيخ المشائيخ جنيد پشاوري قادري فيضان دې. چه د حضرت مولانا اخوند حافظ عبدالغفور په څلورمه پيرئ کښې پير طريقت دې. شجره يئې دا ده. حضرت حافظ اخوند عبدالغفور مريد وو. د حضرت حافظ اخوند محمد شعيب هغه مريد وو. د حضرت حافظ[410] اخوند محمد د عمر زائې

---

[410]حضرت اخوند حافظ محمد د عمر زو په ۱۲۰۶هـ کښې وفات شوې دې.

هغه مريد وو. د حضرت حافظ اخوند محمد صديق د بشونړئ. هغة مريد وو د حضرت مولانا شيخ جنيد پشاوري چه د دوئ په وجه دا سلسله په سلسله عاليه قادريه جنيديه ياده شوې ده.[411]

د قادريه سلسلې د فكريه دے طريقه كښې چه كومو كسانو ته كمال حاصل شي. نو هغه ته يو روحاني بصيرت حاصل شي. د هغه زړهٔ. د ماغ او روح هر څه منور شي. د هغه نظر كيميا اثر شي.د هغه نظر د مرد مومن نظر وي. هغه مرد مومڼ چه علامه محمد اقبال مرحوم ورته اشاره كړې ده.

نگاه مرد مومن سے بدل جاتي هيڼ تقديرين

هر كله چه حضرت بابا جي صاحب د سوات د رياضتونو او مجاهدو د تكميل د پاره په موضع بهيكى كښې دولس كاله تير كړي وو. په دغه وجه روستو د دوئ نوم په "اخون بيكي" عليه الرحمة سره مشهور شوے دے. په بيكي نومے كلي كښې د ۱۸۱۶ء نه تر ۱۸۲۸ء پورے استوگن وو. او هم په دغه زمانه كښې د دوئ د بزرگئ او كرامتونو شهرت تر لرے لرے پورے خورشوے وو.

په ۱۲۴۵هـ مطابق ۱۸۲۸ء كښې يئے د اباسيند په غاړه په نمل نومي ځائ كښې استوگنه او نيوله او دلته يئے څو كاله

[411] آئينه تصوف بحث د شيخ جنيد پشاوري.

نور عبادت او رياضت اوکړ. دغه يو څو کلو نه د شورش او انقلاب زمانه وه. يو خواته ايسټ انډيا کمپني وه. چه اقتدار يئے حاصلولو. بل خواته سکهان وو. چه په ۱۲۳۴هـ مطابق ۱۸۲۱-۱۸۲۰ء کښې د سابق صوبه سرحد علاقه ته رانوتلي وو. بل خواته سيد احمد شهيد او سيد اسماعيل شهيد وو. چه د مجاهدين اسلام په جانبازئ يئے د اسلام دننګ او ناموس حفاظت کول غوښتل. بل خوا د پيښور سرداران او خوانين وو. چه د خپل ذاتي اقتدار د بچ کولو په فکر کښې وو. او په دے شان سره هر يو فريق پخپل خپل ځاي باندے د بل فريق درالاندے کولو د پاره تدبيرونه کؤل. په دغه الغاؤ تلغاؤ کښې هر کله چه په ۱۲۵۰هـ مطابق ۱۸۳۵ء کښې د تهکال په ميره کښې د پيښور او جمرود تر منځه (د موجوده اسلاميه کالج پشاور په خواؤ شا مزکه باندے) د مسلمانانو او سکهانو تر منځه اولنئ مشهوره تاريخي غزا[412] کيدله. نو حضرت بابا جي صاحب د سوات په دغه تاريخي غزا کښې شامل وو. په دے غزا کښې د سمے او سوات او نورو قبائيلي علاقو لکه باجوړ. مهمند. خيبر. کرمه. وزيرستان او افغانستان تول مسلمانان د سکهانو بر خلاف د جهاد کؤلو د پاره راجمع شوي وو. دا جهاد په دين اسلام باندے د ننګ کولو غزاوه. غير مسلم فوځونو علاوه د نورو ظلمونو نه د

[412] د حوالے د پاره ملاحظه کړئ ديوان د عبدالعظيم راني زائ. ديوان د احمد د کلاچئ او اکبر نامه د عبدالحميد سواتي ثم الکاشميري. (اثر)

جماعتونو بے حرمتي کوؤله. وئيلي شي چه د سکانو لښکر چه په پيښور ښهر قبضه اوکړله. نو په مشهور تاريخي جماعت جامع مسجد "مهابت خان" کښې يئے اسونه او خره قچر تړلي وو.

د دے جهاد نه روستو بابا جي صاحب د سوات باجوړ ته لاړ. او څه موده پس د هغه ځاي نه د ملاکنډ ايجنسئ د سم رانړی زائيے د علاقے مشهور کلي قال دره" ته لاړ[413]. هلته د څه مودے تيره ولو نه پس دے وادئ سوات ته راغے. او دلته اول په ملوچ او بيا په رنګيلا او بيا په هوړي ګرام نومے کلو کښې يئے پرله پسے استوګنه اختيار کړے وه. بيا مرغزار ته راغلے وو. بيا سپل بانډئ ته تلے وو. په سلامپور کښېيئے واده کړے وو. او د غلته د څه ورځو تيره ولو نه پس په ۱۲۲۱هـ مطابق ۱۸۴۵ء کښې "سيدو" نومے کلي ته لاړلو. او هلته يئے د يوے چينے په غر ختيزه غاړه ځان له خلو تخانه جوړه کړه. د دغه چينے جنوب غاړے نه چه کوم يو څو کورونه وو. د هغے نوم "سيدو" وو[414]. او د دغه کلي مغرب طرف ته د يو پخواني شهيد مزار وو[415]. حضرت باباجي صاحب د سوات د باقي پاتے ټول عمر په دے ځائ کښې د تيره ولو په خيال په دغه کلي

---

[413] تاريخ صولت افغاني صفحه نمبر۷۰۰

[414] د باباجي صاحب د سوات په ذاتي کتبخانه کښې په يو قلمي کتاب دا نوم "شيدهو" درج دے بابا جي صاحب په ۱۲۵۱-۱۸۳۶هـ کښې راته په کډه راغلے وو.

[415] دا شهيد د سلطان محمود غزنوي د زمانے دے. مزار يئې اوس هم موجود دے.

کښې استوګن شه. د خپلې خلوتخانې[416] او چینې تر منځه یئې یو ورکوټې شان جماعت جوړ کړ[417]. او په دې شان سره دغه مقام د علمي او عرفاني د فیوضاتو مرکز شه. او د دغه نه روستو د د دوئي مبارک ژوند هغه دور شروع شه. چه د شمالمغربي پاکستان په تصوفي تاریخ کښې د یو نوي باب اضافه کوي. چه هغه د روحاني او عرفاني تصوفي مسلک سره سره د منظ جدوجهد په شکل کښې د امر معروف او جهاد کؤلو مسلک دې. او دا هغه خصوسي امتیاز دې چه د خپلې زمانې په نورو همعصرو روحاني پیشوایانو کښې صاحب بابا جي د سوات ته حاصل وو. چه دلته په اختصار سره تذکره کول یئې مناسب ګڼړو.

په ۱۸۴۹هـ کښې چه انګریزانو په مکمل طور سره د سابق صوبه سرحد په علاقه قابضان شول. او سکهانو له یئې شکست ورکړ. او په پیښور ښهر کښې یئې خپل دارالحکومت قائم کړ. نو حضرت بابا جي صاحب د سوات علیه الرحمة د ملاکنډ سوا.ت بنیر د علاقو بچ کولو او د انګریزانو د قبضې نه د محفوظ ساتلو د پاره خپل تول وسائل راجمع کوؤل شروع کړۀ. د دې غرض د کامیابي کؤلو د پاره یئې اولنې قدم پورته کړ. او د پښتنو د کورنی اختلافاتو

---

[416] د خلوتخانې آبادي روستو د باباجي صاحب کور وو. چه نن ورځې هغه د عامو مسافرانو د پاره لنګر خانه ده.

[417] دا جماعت نن ورځې د صاحب بابا جي نمسي میا ګل ګلشهزاده عبدالودود ابن حافظ عبدالخالق ابن حافظ اخوند عبدالغفور د سنګ مرمرو پوخ جوړ کړې دې او د دې جماعت په احاطه کښې د صاحب بابا جي مزار مبارک جوړ دې. (اثر)

او د ښمنيو ختم کولو. په دوئ کښې د اتحاد او اتفاق پيدا کولو. د مضبوط او مستحکم لښکر تياره ولو. او هغې له د تربيت ورکولو د پاره بابا جي صاحب عليه الرحمة وخت په وخت ګنړے جرګے او کړلے. چه که انګريزان ديخوا مخه اوکړي. نو چه دا علاقه ترينه بچ اوساتلے شي. چنانچه د يو شرعي او اسلامي حکومت د قيامت ضرورت يئے ښکاره کړ. قومي خلقو د دوئ صلاح منظوره کړله. او د حضرت شيخ المشائيخ سيد علي تر مذي المعروف پير بابا عليه الرحمة د اولاد کومه کورنئ چه د دريائے سندهـ د امازي په علاقه کښې په ستهانه (ملکا) نومے ځائ کښې اوسيږي. د دغه خاندان د جناب سيد اکبر شاه صاحب عليه الرحمة په مشرئي او بادشاهئ کښې د سوات په زمکه باندے د حضرت باباجي صاحب د هداياتو مطابق په ۱۸۵۰ء کښے اولنے اسلامي حکومت قائم شه. د سوات دا اولنے بادشاه حضرت سيد اکبر شاه ډير قابل انسان وو. د حضرت پير بابا نمسے وو. درنه کورنئ وه. د دے خاندان د شرافت او نجابت او د دوئ د مجاهدانه کارنامو په وجه په عامو خلقو ډير ښه اثر اوشه. او دا اميد پيدا شه چه دا نوے اسلامي حکومت په ډير زيات کامياب شي. ليکن يو خواته دا حکومت په نازکو حالاتو کښې قائم شوے وو. او بل خواته ورپسے ډير زر په ۱۱، مئ ۱۸۵۷ء کښې جناب سيد اکبر شاه عليه الرحمة وفات شه[418]. د

---

[418] تاريخ مخزن پنجاب جلد نمبر۴ صفحه۵۱۵ دا مغهو رخ وه چه هم په دے ورځ پيښور ښهر ته دا خبر رارسيدلے وو. چه په

هغوئ نه روستو د هغه ځوي جناب سيد مبارک شاه عليه الرحمة بادشاه کړلے شه[419].ليکن اجتماعي شکل يئے اختيار نه کړلے شه. او په دے شان سره دا سلسله تر څو ورځو معطله پاتے شوه. بيا هم بابا جي صاحب عليه الرحمة د يو منظم حکومت د قيام د پاره خپل کوششونه جاري ساتلي وو.

په دغه منځ کښې د انګريزانو ريشه دوانئ او فوځي اقدامات دے حد ته اورسيدل چه بابا جي صاحب يئے مجبوره کړ. چه د انګريزانو په خلاف يو فيصله کښې جهاد او کړلے شي. چنانچه په ستمبر ۱۸۶۳ء کښې هر کله چه د انګريزي فوځ يوه دسته د بنير علاقے ته د ښکاره په بهانه داخله شوله. نو حضرت باباجي صاحب د سوات په دے خبره. را اوچت شه او په ۲۶، اکتوبر ۱۸۶۳ء يئے د انګريزانو په خلاف د جهاد اعلان اوکړ.

په دے جهاد کښې د قبائيلي علاقو ټولو قومونو. قبيلو او خيلونو. او قومي مشرانو د باباجي صاحب د سوات بيرغ لاندے د سرکاوئ او امبيلے په محاذونو جهادونه او کړل. د انګريزي فوځونو کمان د سابق وزير اعظم برطانيه مسټر چيمبرلين د نيکه بريګيډير جنرل سرنيول چيمبرلين په لاس کښې وو. او د مسلمانانو د لښکرو رهنمايئ

دهلي کښې د جنګ آزادئ اعلان شوے وو.

419-تاريخ مخزن پنجاب صفحه نمبر۵۱۶ د دے کتاب مؤلف ليکي چه دمردان چهاونړئ نه د پلټن نمبر۵۵ پنځه سره سپاهان سره دوسلے او تښتيدل د سيد مبارک شاه د مجاهدينو په لښکر کښې شامل شول (اثر)

د سوات صاحب کؤله. او د سوات صاحب عقیدت مندان لکه د لالپورے خان سعادت خان د ریاست دیر د نوابانو د خاندان مشر نیکه حضرت مولانا اخند زاده محمد غزن خان نقشبندي[420] د باجوړ د مشهور مرد مجاهد غازي عمرا خان نیکه خان فیض طلب خان نقشبندي[421] ځما (عبدالحلیم اثر) مشر نیکه حافظ سید احمد خان سلار زائے او داسے نور قومي او قبائیلي سرداران او د صاحب بابا جي خپل خلیفه ګان او مازونان او د هغوئ عام تعلقداران. مریدان. عام قول او تول اولس د اولسی ښیکرو په شکل د لرے لرے علاقو نه راجمع ټول. او په دے جهاد کښې شامل شوي وو.

د ملکا سید مبارک شاه علیه ارلحمة چه د سوات د اولنی بادشاه حضرت سید اکبر شاه ځوي وو. هغه د حضرت امیر المجاهدین مولانا مولوي عبدالله صاحب شهید په ملکرتیا کښې د نهه سوه مجاهدینو د لښکر سره په دے جهاد کښې شامل شوے وو. او د اسلامي لښکر لوئ جرنیل ګنړلے شه.

انګریزانو چه دا مهم شروع کؤلو. نو دا ئي خیال وو. چه د بنیر. سوات او ملاکنډ ټولے علاقے به په مکمل طور سره فتح کړي. د قبائیلي خلقو طاقت به ختم کړي. د یاره د دے چه مجاهدین اسلام او ورسره د

---

420 د مولانا غزن خان اخنزاده والد ماجد د اوچ د حضرت صاحب نسیم احمد په واسطه د موزا مظهر جانجانان مرید وو

421 د خان فیض طلب خان پلار حیات خان. د کوټو د اکو نصاب په واسطه د مرزا مظهر جانانان مرید وو.

هغوئي نوے ځائے مرکز "ملکا" په مکمل طور سره تباه کرلے شي. و د ایئے ځکه غوښتل چه حضرت سید مبارک شاه او امیر المجاهدین مولانا عبدالله د دغه خپل لوئ مرکزي مقام ملکانه د ۱۸۵۷ء په اولنی جنگ د آزادئ کښې د انګریزانو خلاف په ډیره بهادرئ سره جهادونه کړی وو. چه د هغوے پوره تفصیل په تاریخ محزن پنجاب مطبوعه ۱۸۷۲ء کښې درج دے. د دے تاریخي او سیاسي پس منظر په وجوهاتو د سرکاوي او امبیله جهاد شروع شوے وو. او مسلمانانو ته په دے مرحله تر څه حده کامیابي حاصله شوے وه. چه هغه د زمانے ټولو پښتنو شاعرانو دغه کامیابي د صاحب د سوات د طریقت او روحانیت د تصرفاتو او کرامتونو یوه قابله د ذکر کارنامه ګنړلے ده. میا ولي محمد نومي یو پښتون شاعرپه علاقه چچ ضلع کیمبلپور کښې تیره شوے دے چه د صاحب مرید او ما ذون هم وو. هغۃ په یو ډیر اوګد نظم کښې د دے جهاد حالات په تفصیل سره بیان کړي دي[422]. د دغے نه علاوه په دے سلسله کښې سید احمد ګل مشوانی د ټهیکری ضلع هزاره. مولانا سید اکبر شاه د هزارے. حمید ګل د موضع ترنګړئ علاقه پکهلی پایاب د ډوډیال چه په خپلو قومي نظمونو کښے د دے جهاد کوم تفصیلونه بیان کړي دي. په هغے کښې د حمید ګل د ترنګړئ نظم دلته

[422] جهاد بونیر منظوم (قلمي)

درج کوؤ. دا یوه ښکلے رجزیه چاربیته ده چه تاریخي معلومات هم لري[423].

معامله جوړه شوه د کفر د اسلام
صاحب له ته ورکړي برے پروردګاره

د انګریز پلټني راغلے کلکتے نه
ورسره ځنے سکهان د بل ګوره وو
پښتنو ورته وئیل چه په ځاي کښینه
بنیروال واړه د ملک په تراره وو
چملے وال وائ مونږ نه خلاصیږو دینه
دښمنان یئے په ملکا باند ښکاره وو

مجاهدین ورکوي سر د رب په نام
حوریئے لوټ کړي نه ویریږي له کفاره

مجاهدین وائي ځمونږ مرګ د شهادته دے

[423] د حوالے د پاره ملاحظه کړئ د فرانسیسي مستشرق ډرامستټر تالیف "د پښتو هار اوبهار" بحث د حمد ګل.

په شهادت کښې تيښته نه کړوله ميدانه
راسره مل چه د مړدانو کرامت دے
په غزاپسے راتلو د هندوستانه
باج ګټه کښې عظيم خان شه په لعنت دے
بدي اوشوه د ډګر د زيد الله نه

په امبيله کښې صاحب اونيوه مقام
چه لښکرے ورله راغے بے شماره

په صاحب باند رحمت د خدائ وريږي
په غزا کښې يئے مرتبه کړله څرګنده
باباجي صاحب په اس باندے سوريږي
شوه نامه د سيد اکبر بادشاه بلنده
په لنډه کښې فرينګيان ترينه ويريږي
په سرکاوئ باندے پر اوشوله نا پسنده

د باجوړ ځلمي پرے واړه شول
تمام[424]
نور لښکرے ورله راغلے له
قاشقاره

د لښکر سره یئے مل دي
فقیران
یوسفزي کله ویریږي له دے
جنګه
په بنیر کښې زور آوردي تول
رندان
حکمتونه ځکه هیر شول له
فرنګه
د پیر بابا پالکئ اوچته په
میدان
د بشونړي صاحب ے هم ولاړ تر
څنګه

لاس په نام زۀ حمید ګل یمه
غلام
خلقه خیر م دے موندلے له
دلباره

ډار مستټر لیکي: چاربیته د احمد ګل شاعر چه د ټیکرئ (هزاره) اوسیدونکے وو. د صوات د اخون صاحب په حق کښېیئے وئیلے ده. چه له انګریزو سره یئے په بنیر جنګ

---

[424] په دے جهاد کلې د باجوړ شاه ځلمي په خصوصیت سره ډیر شهیدان شوي وو. په دے شعر کښې هغے ته اشاره شوے ده. (اثر)

کاوه. (د دے رجزیه نظم یو څو بندونه دا دي.[425])

غزا پسې راغلے دے په ګور
یئے الله نور که
مولی دي مشرف په هر طرف
عبدالغفور که

غزا پسے یئے راستل ګوجرله
بلیجے نه
صاحب لره راغلي دي خطونه
له مانجے نه
زهیر شه فرنګے چه شه خبر
له دے الانجے نه
مسواک یئے ذوالفقار ملک به په
وینو باند سور که

مولی دي مشرف په هر طرف
عبدالغفور که

په ښي لاس یئے مسواک په
کینړ منګزده لکه ډال
ګولئ یئے د تسپے غوڅول
کاندي په اقبال امسا یئے ده
نیره، پیش قبض، تنزئ پورے
رخلال
کوزه یئے تماچه ده خله به

[425] په دے نظؤ کښي دا ښودلے شوے ده. چه مسلمانان د جهاد په وخت کلي په یو الله توکل کوي. که ساز او سامان ورسره وي که نه وي.

ماته د تربور که

مولى دي مشرف په هر طرف
عبدالغفور که

تربور شه د انګريز د صاحب
څومره خزانه ده
خوراک يئے شکرانه جامه
يئےواړه زرغونه ده
قلعه يئے چار چوبۍ ده په جماعت
کښې يئے ستا نه ده
څنګل به د انګريز په وينو
رنګ لکه باتور که

مولى دي مشرف په هر طرف
عبدالغفور که

د مولانا سيد اکبر شاه د رجزيه نظم يو څو بندونه هم د ملاحظه کولو دي. فرمائي:

راغله غازيان د فرنګي په دغه کړ باندے

اوړي قتل کړهـ باندے!

راغله ګازيان غزا له واړه لور په لور
عالمه ګډ يئے کړ شور عالمه

دا شادومخي خدائ ور کړي دي په کور عالمه
اخلي تر پور عالمه

توره يئے نه وه ډز يئے او کړ په لوړ باندے

اوړی قتل کړهـ باندے

توره يئے نه وه د اولياؤ کرامت ور سره ډير يئے قوت ورسره

مولى به حوري ورله ورکړي هم جنت ورسره مرګ د شهادت ورسره

ملايان مړه شول غړ يئے خور شه په ګنړ باندے[426]

اوړي قتل کړه باندے!

ملايان مړه شول رامدت شے اے د سوات صاحب اوښکے برسات صاحبه

په عاجزانو باندے شوے دے پسات صاحب بنير ميرات صاحبه

لکه بلبلے چه پريړي په لګړ باندے

اوړي قتل کړهـ باندے!

په يو طرف ته د سرحد او پنجاب اکثر انګريزي فوځونه وو. توپ خانه وه سواره وو. پلټنے وے. چه په شماره دلس زره نه زيات فوځ وو. او بل خواته د سوات صاحب سره قومي او اولسی لښکر وو. او د

---

[426] په دے جهاد کښې په يوه ورځ د ديني علمونو طالب علمان دولس سره شاه ځلمی شهيدان شوي وو. چه د کفارو په مور چو داسے ورتلل لکه چه په شمع پتنګان. يا په لګړ باندے بلبلان. (اثر)

مسلمانانو غازيانو سره د وسلے او ساز او سامان دغه حال وو. چه د هغے اندازه د احمد گل د نظم نه په آسانه کيدلے شي. د مسلمانانو غازيانو د داسے بے سراو سامانئ په حالت کښې د اجنگ د سرکاوئ او امبيلے په محاذونو بانددے او شول. په تاريخ ۲۰، اکتوبر ۱۸۶۳ء بانددے شروع شوے وو. او تر ۲۷، دسمبر ۱۸۶۳ء پورے جاري وو. د جهاد په دوران کښے د باباجي صاحب جرگے او مشورے کولو ځاي د امبيلے په کنډو کښې وو. چه دغلته به يئے د خپلو مشرانو مريدانو او قبائيلي سردارانو سره د غزا د روزمره پيښ شوؤ حالات، او واقعاتو په باره کښې صلاح اومشوره کوؤله. په دغه "جرگه تون" باندےنن ورځے د سوات د رياستي حکومت له طرف نه يو پوخ جماعت جوړ شے دے چه د بنير د پوخ سړک په غاړه رسا په کنډو کښې دے. په دے جنگ کښې د انگريزانو فوځ ته لوئ نقصان اورسيده. ډير افسران يئے مړه او زخمي شول. د انگريزي فوځ جرنيل چيمبر لين هم پکښې زخمي شه. او بل طرف ته ډير مجاهدين هم پکښې شهيدان شوي وو.

کرامت

د جهاد په دوران کښې د بابا جي صاحب د سوات د ټولونه لوئ کرامت چه ښکاره شوے وو. او تر نن ورځے مشهور دے. هغه دا دے. چه څه وخت انگريزي فوځونه د سرکاوئ په کنډؤ واړيدل. او د امبيلے په کنډؤ يئے حمله شروع کړه او صاحب بابا جي چه په

کومه مورچه کښې پخپله ناست وو. هغے ته د انګريزي فوځونو سر اولګيده. او د مسلمانانو غازيانو لښکر يئے په شا او تنبولو. په عين دغه حال کښے د ډنبرو مچو يو لوئ لښکر په انګريزي فوځ باندے راخور شه. او انګريزي فوځ يئے بيرته په شا او تښولو او ډير کفار پکښې مړه شول. اکثر پکښې د ډنبرو په چيچلو داسے تروره شوي وو. چه د کمرونه يئے ځنونه ګذار کري وو. او پخپله يئے د جهنم کندو ته ځانونه غورزولي وو.

د دے واقعے د پيښيدلو نه پس د انګريزانو لښکر بنير ته په آوريدلو کښې کامياب نه شه مګر د چملے په لاره ملکاته اورسيدل. د مجاهدين اسلام د دغه مرکزي مقام او دارالحکومتة "ملکا" آبادي يئے په اور اوسيزله. مګر مجاهدين اسلام ختم نه شول. البته مرکز يئے بدل کر. د مجاهدينو څه تعداد د قبايلي علاقے باجوړ چمر کنډ نومے مقام ته لاړ. او د باجوړ او مهمندو په قبائلي علاقو کښې يئے خلق د جهاد د پاره تياره ول شروع کړه.

د دے تاريخي جنګ نه روستو د باباجي صاحب د سوات عليه الرحمة په ژوند کښې بيا انګيرزانو د سوات. بنير او ملاکنډ په علاقو باندے د قبضے کولو کوشش او نه کړ. البته ډير ځله انګريزانو دا کوششونه کړي وو. چه په څه نه څه قسم شرطونو باندے د "سوات صاحب" سره صلحه اوکړي. ليکن هغوئ

به انکار کؤلو. او تر اخره وخته پورے د جهاد د تيارئ اراده به يئے ښکاره کؤوله.

د باباجي صاحب د سوات ټول عمر د دين اسلام په تبليغ کښې د خلقو په اصلاح کښې په امر معروف او نهي عن المنکر کښې او د شريعت اسلام په پيروئ کولو باندے د خلقو د راجمع کولو او د پښتنو د رنسم او رواج په ختم کولو کښې تير شه. او بالا خر د ؤحرم الحرام په اتلسم تاريخ په ورځ د جمعے وخت د سحر په ۱۳۹۵هـ مطابق ۲۳، جنوري ۱۸۷۷ء يئے د دے دنيا نه سفر اوکړ. عليه الرحمة والغفران. ميا ولي محمد چه د بابا جي صاحب د وفات په حقله د مرثيے کوم نظم ليکلے دے. په هغے کښې وائي.

په اتلسم د محرم ورځ د جمعے وخت صبحدم

يغفره سن وو د ماتم صاحب چه پريښودا دا مکان

مناقب او محاسن

ځما (اثر افغاني) استاز مرحوم مولانا محمد اسماعيل چه د دے خپل مشفق استاز حضرت بابا جي صاحب د سوات محامد، مناقب او محاسن په کومو مختصر و لفظونو کښې بيان کړي دي[427]. د هغے نه د دے جليل القدر روحاني پيشوا د روحانيت او عرفان

---

[427] مناقب غوثيه تاليف د مولانا محمد اسماعيل (قلمي)

و روحاني جلال او جمال اندازه په ښه شان سره لګیدلے شي. فرمائي:

حضرت مولانا شیخ المشائیخ اخوند حافظ عبدالغفور قادري، نقشبندي قدس سره ه دے صفتونو موصوف وو.

(۱) دوام د صوم. همیشه به روژه وو.

(۲) دوام د ذکر: زړۀ او روح به یئے هر وخت په ویښه په اودو د خداي په یاد مشغول وو.

(۳) دوام د خلوت: په مخ مبارک به یئے څادر اچولے وو. که د خلقو سره به ناست وو. په جلوت کښې به وو. هم روحاني خلوت به ورته حاصل وو.

(۴) دوام د وضو: شامدام به په اودس کښے اوسیده. که اودس به یئے مات سمدستی به یئے بیا اودس تازه کولو.

(۵) دوام د ربط: هر وخت به ورته د الله تعالی د دربار سره رابطه حاصله وه. دیته په اسطلاح کښې دوام د بسط هم وائي. په دے مقام کښې یو صوفي ته هر وخت په دربار رسالت کښې حضور نصیب وي. رابطه یئے قائمه وي.

(۶) دوام د نفي خواطر. په زړهٔ کلې چه کوم رنګ په رنګ خيالات لکه د بريښنا په شان په تيزئ سره تيريږي. دغې ته خواطر وائي عينے په زړهٔ کښې تيريدونکي خيالات. دا د نفس او شيطان عمل وي. صوفي ته چه په خپل نفس قابو حاصله شي. نو هغه ته په دغه خيالاتو قابو راوستلو طاقت هم حاصل شي. بيا د هغه زړهٔ او د ماغ کښې فاسد خيالات نه تيريږي. د حضرت بابا صاحب د سوات چه هر څومره خليفه ګان وو. او د فکر په طريقه کښې د ارشاد صاحبان وو. د هغوئ په خصوصي تعريفونو کښې يو لوی تعريف دا وو. چه څوک به د هغوئ په مجلس کښې داخل شه.د هغه په زړهٔ کښې به هم پريشانه خيالات راتلل بند شول. ټول توجه به يئے د يو الله طرف ته رګرځيدله.

(۷) دوام اعراض عن الا نام: يعنے په هيڅ حالت کښې هم د مخلوق سره تعلق نه ساتل او خپله ټوله توجه د الله تعالی طرف ته ساتل. د مخلوق نه خالق ته مخ ګرځول.

(۸) دوام قلة طعام. شامدام لږ خوراک کول. روايت دے چه صاحب

بابا جي څومره کم خوراک کولو د هغے مثال نه پیدا کیږي.

(۹) دوام سکوت. شامدام چپ اوسیدل. په غیر د هغے نه چه مریدانو ته تلقین. عوامو ته وعظ او میلمنو سره ضروري خبرے او کړي.

(۱۰) دوام تجدید وضوله پاره د هر نمانځه به یئے لازماً نوے اودس کؤلو. اګر چه اودس به یئے وو.

(۱۱) دوام نوافل به قیام: نفلي نمونځونه به یئې په ولاړه کؤل. په روژه کښې هر شپه به یئے لس سپیپارے قرآن مجید آوریدلو. د هغے د پاره دا طریقه مقرر وه. چه شپږ سپارے به په شل رکعته کښې په ولاړے وئیلے شوے. او څلور سپارے به د تسبیحات وپه منځ کښې په ناسته آوریدلے شوے.

استاذ مرحوم مولانا محمد اسماعیل فرمائي:

(الف) توله شپه به یئے په ناسته تیره وله. نه سملاستلو. د شپے خوب یئے نه کولو. که ضعف به پري غلبه شه. تکیه به یئے اووهله. او د ورځے به یئے قیلوله کوله. لیکن د قیلوله کولو په وخت کښے به یئے په غزیدلو پښو خوب نۀ کولو. پښے

به يئے را غونډے لړلے په ارخ به پروت وو.

(ب) جامه يئے سپينه خامتائزه وه. د سپينے خامتا اوه ګزه پټکے به يئې پ سر کولو په آخر عمر کښې يئے د دوارو سترګو نظر تلے وو. د جمعه نمانځه له به د مريدانو په اوګو لاس اچولے راتللو.

(ج) دائم الکشف وو. او بيا کشف هم هغه عظيم الشان کشف چه په خصوصيت سره د غوثيت په مقام کښې حاصليږي. حضرت بابا جي صاحب د سوات ته دا مرتبه د قادريه طريقے د فيوضاتو په سلسله کښې د حضرت غوث الا عظم ميران محي الدين شيخ عبدالقادر جيلاني د نائب په حيثيت سره حاصله وه. دا هغه مقام دے چه حضور غوث پاک ورته د خپلے قصيدے خمريه په دے شعر کښې اشار کړي ده.

نظرت الي بلا د الله جمعا کخر دلة علي حکم انصال

هم دغه کيفيت د غوث الزمان د سيدو شريف وو. هر څومره خلق چه به د دوئ خانقاه ته حاضر شوي وو. د هر يو کس په زړهٔ کښې چه څه سوال به پيدا شه. حالانکه هغه سړے به لا د صاحب سلام ته

حاضر شے نه وو. چه صاحب به خپلو مریدانو ته او فرمائیل آواز اوکړئ د فلانکي ملک او فلانکي علاقے فلانکے سړے دي راشي. چه هغه سړے به راغے. د هغه د سوال کولو نه په غیر به یئې د هغه پوره پوره جواب ورکړ. په دے سلسله کښې استاز مرحوم مولانا محمد اسماعیل یوه واقعه بیان کړي ده. چه د موضع طورو حسن خان نومے یو سړے راغے. صاحب بابا جي له یئے لاس ورکړل. صاحب څادر په مخ اچولے وو. دے سړي عرض اوکړ. چه صاحب زهٔ دا ونه پیژندم څه.؟ صاحب ورته اووے چه زهٔ د پیژنم ستانوم حسن خان دے. د پلار نوم د عبدالله خان دے. د نیکه نوم د جلال خان دے. او د ورنیکه نوم دے فتح خان دے[428].د طورو او سیدونکے یئے. وایه نوره شجره د نسب دے بیان کرم.؟ او ته د دے کار د پاره راغلے یئے. د فلانکي فلانکي سره ملګرے یئے.

(د) کوم خلق چه به د باباجي صاحب سلام له راتلل. د کورنه چه په کوم نیت به راوتلي وو. هم د

---

[428]د مسعود ګل پاسني او نور محمد قریشي روایت دے چه خان فتح خان کمال زایٔے د څمکنو د میا محمد عمر علیه الرحمة مرید وو. د هوتي مردان د خانانو او نوابانو کورنئ د دے فتح خان اولاد دے.

هغوئ د نیت په مطابق به یئے د هغوئ قدر او منزلت کؤلو. (۱) یو طالبان د دنیا خلق. د دے قسم خلق که غریبانان به وو. که مالدار د هغوئي د پاره به یئے یو شان د عا کوؤله. د امیر غریب فرق به یئے نه ساتلو. (۲) صرف د ملاقات د پاره راتلونکے خلق د هغوئ سره به یئے مینه کؤوله. زیاته توجه به یئے ورته فرمائیله هغه به لا درګاه ته رارسیدلے نه وو. چه خادم به آواز اوکړ. د هغه سري نوم به یئے واخیست او په خپل ملاقات به یئے مشرف کړ. (۳) طالبان د خدائ د دے قسم خلقو په حال به یئے ظاهري او باطني دواړه قسمه توجه فرمائیله. او د معرفت او طریقت به فیوضاتو به یئے سر فرازه کؤل.

په دے سلسله کښې د حضرت لاله جي صاحب د بام خپل (صوابئ ضلع مردان) نه وایت دے[429]. چه حضرت بابا جي صاحب د سوات "صاحب اللفظ" بزرګ دے "سیف زبان"دے. کومه خبره چه د دوئ د خلے مبارکے نه اوزي. خداي پاک یئے رشیتا کوي او هغه کار هم هغه شان کیږي. چنانچه په دے ملک کښې داسے بے شمیره عام او خاص موجود دي چه صاحب باباجي د هغوئ په حقله کومه

---

[429] تذکرۂ جمیل (قلمي)

خبره کړي ده. تر نن ورځې پورې هغه خلق هم هغه شان ښه یا ناکاره دي. او ددا د اسلام د صداقت دلیل دے چه "من کان لله کان الله له" څوک چه د خداي شي. نو خداي د هغي شي. د مردان په ضلع کښې ګنبت نوم یو کلے دے. د هغے په یو جماعت کښے د صاحب بابا جي شپه راغله. د دغه جماعت خواته یو عظیم الشان دهنډ دے. چه هسے د ماشوجاله ده. په دے کلي کښې یو بل جماعت په لوړه ډهیرئ اباد دے د هغے بر جماعت خلق راغے صاحب ته یئے سوال اوکړ. چه څمونږه جماعت ته تشریف یوسئ. د دے کوز جماعت په دے ډهنډ کښې بے حسابه ماشي دي تاسوته به تکلیف شي. صاحب بابا جي او فرمائیل هو بیشکه په دے ډهنډ کښې ډیر زیات ماشي موجود دي. لیکن پاک نه لري د دے ډهنډ ماشي چیچل نه کوي. هغه ورځ ده او نن ورځ ده سل کاله زمانه تیره شوه د ګنبت کلي د خان محمد حسن خان مرحوم د جماعت سره نزدے د دغه عظیم شان ډهنډ ماشي چیچل نه کوي. دا ژوندے کرامت دے. د مردان نه په امازو ګهرئ ګنبت کلي ته لار تللے ده. چه څوک تسلي کول غواړي ورتللے شي او په هغة کلي کښې د مشرانو او سپین ږیرونه د دے تصدیق کوؤلے شي. او د دغه ماشي پخپل لیدلے شي.

(هـ) د صاحب بابا جي په مجلس کښې به ددیني او علمي بحثونه هم کیدل. او د دوئ به د دیني مسائل جوابونه په تحقیقي شکل کښې ورکوؤل یوه ورځ تپوس وشه. چه

تسميه په نومونو د خدائ رواده
که نه.؟ صاحب او فرمائيل. چه
نومونه د دخدائے دوه قسمه دي.
ذاتي او صفاتي. په ذاتي نومونو
تسميه په غير د اضافت د عبوديت
نه روانه ده. او په صفاتي
اسماؤ لکه رحيم. کريم وغيره
باندے تسميه جائزه ده. مګر
مصغر کول يئے روانه دي. لکه د
کريم په ځائے کريمے. کريمک
کريميا وغيره وئيل روانه دي.

صاحب بابا جي به درس هم ورکول. ډير لوئ لوئ عالمان به راتلل او د تبرک د پاره به يئے د دوئ نه په يو کتاب نيم کښې يو سبق دوه لوستل. او بعض طالب علمان چه به فارغ التحصيل شول نو د "د ستار فضيلت" تړلو د پاره د دوئ په خدمت کښې حاضريدل او د وئ به ورته پخپلو مبارکو لاسونو پټکے تړلو. او په دے شان سره يئے د علم او عالمانو سر پرستی فرمائيله . حقه خبره دا ده چه څومره لوئ لوئ عالمان د دوئ په زمانه په دے ملک کښې تير شوي دي. دومره د هغے نه روستو تر نن ورځے پورے نه دي پيدا شوي.

روحاني اثرات

لکه چه مخکښې ذکر شوے دے. د حضرت مولانا اخوند حافظ عبدالغفور عليه الرحمة ابتدائي تربيت د نقشبنديه طريقے د پيرانوپه صحبت کښې شوے دے. ليکن روستو

بيا د قادريه طريقے نسبت پرے غالب وو. او پخپله زمانه کښې د دوئ په ذذريعه باندے سلسله عاليه قدري ته ډير لوئ فروغ او تقويت حاصل شوے دے. او هم په دغه وجه باندے د دے مبارکے سلسلے په بزرګانو کښې صاحب د کشف او کرامت ولي الله وو. چه د دين اسلام د تقويت او سرلوړئ د پاره يئے جهادونه او غزاګانے کړے دي. او پخپله زمانه دومره لوئ مرد مجاهد وو. چه د تاريخ په پاڼرو د دوئ د جهادونو او غزاګانو کار نامے به تر قيامته پورے پاتے وي. د رشد او هدايت تبليغ. امر معروف. نهي عند المنکر. د شريعت د ظاهري احکامو د مکملے تابعدارئ د تقوی او پرهيز ګارئ. د ژوند تيره ولو او د جهاد کولو کوم مشعل چه يئے روښانه کړے دے. هغه تر نن ورځے پورے هم هغه شان روښانه دے. او په مخکښې ذکر شوؤ ملکونو خصوصاً په تول شالمغربي پاکستان او قبائيلي علاقه کښې يئے نن هم هغه روحاني دور دوران تازه دے. او د د روحاني فيوضاتو کومه سلسله چه د دوئ نه شروع شوے ده. هغة تر لرے لرے پورے رسيدلے ده. او نوره هم پسے رسيږي.

تبليغي او عملي ژوند

حضرت بابا جي صاحب د سوات چه په خپلي عملي ژوند کښې د دين اسلام کوم تبليغي خذمتونه کړي دي. هغه مختصراً دا دي.

(۱) د دین اسلام تجدید. د جهل. بدعتونو. او باطل رسمونو او رواجونو ختم کول.

(۲) د پښتون قوم مذهبي او اخلاقي اصلاح کوؤل. په دوئ کښې اتفاق او اتحاد قام کؤل. د قبایلو اتحاد امن او صحیح اسلامي شیرازه بندي.

(۳) په سوات او بنیر کښې یو مضبوط شرعي حکومت قائم کول. او دا علاقے د فیرنکي د قبضے نه بچ ساتل. او په دے لاره کښې غزاکانے او جهادونه کؤل.

(۴) د صالح مسلمانانو داسے یو ټولکے جوره ول. و داسے روحاني رهنمایانو تربیت کؤل چه د دوئ نه روستو په سمه او سوات او ټولو قبایلي علاقو کښې د اسلام بیرغ اوچت اوساتي.

(۵) طریقت مبني برشریعت له رواج ورکوؤل. او د طریقت او روحانیت داسے خانقاهونه جوړه ول چه هغه د امر معروف او نهي عن المنکر مرکزونه ثابت شي. او په ځاي د دے چه یو پیر طریقت په ګوټ کښې کشینی. چه میدان ته رابهر شي او د اسلام د سر لوړئ د پاره عملي جهاد اوکړی. خلق په نیکه

لاره روان کړی. غلط رسمونه او رواجونه بند کری. د قوم د سرکشه او فسادي عناصر و مقابله اوکړی. او قوم د هغوئ د ظلم نه خلاص کړی.

(۶) د علم او عمل امتزاج راوستل. علم خواه که ظاهري دے. که باطني د هغے سره عمل ملګرے کوؤل. او د خپلو عملي قوتونو په برکت او همت په قوم کښې صحیح عملي جذبه پیدا کوؤل او د بے کاره خلقو نه د کار خلق جوړول یعنے د یو داسے روحاني او اخلاقي پاکیزګئ فضا پید اکوؤل. چه په هغے کښې ټول عوام او خواص په انفرادي شکل سره د خپلو نفسونو اصلاح اوکړلے شي. او په اجتماعي شکل سره یوه دیندار او دیانتداره معاشره په وجود کښې راشي.

هر کله چه د بابا جي صاحب د سوات اراده نیکه وه. او په عمل کښې یئے خلوص وو. په دے وجه خدائ پاک ورله په دے ټولو نیکو مقصدونو کښې کامیابئ ورکړي وه. او د دوئ نه روستو د دوئ خلیف ګانو. ماذونانو او سجاده نشینانو دغه روښانه مشعل نور هم روښانه او ساتلو. چه لا تر نن ورځے پورے هم هغه شان روښانه دے.

خلیفه ګان او ماذونان

د تصوف او طریقت یوه اصلاح داده. چه کوم یو مرید د خپل پیر په صحبت کښې څه زمانه تیره کړی او د کمال درجه ورته حاصل شي. نو د پیر د طرف نه ورته اذن او اجازت ورکړلے شی. د خپل پیر نائب او خلیفه شي. او د دے قابل او ګڼړلے شي چه د رشد او هدایت په ګدئ بانډے کښینی او د خداي مخلوق ته هدایت او ارشاد اوکړی. چنانچه په دے معنی سره د دے نمونے کامل مریدانو ته د پښتو ژبے په مخصوصه اصطلاح کښې د "خلیفه صاحب" په ځائي "ماذون صاحب" وئیلے شي. عام طور د پیرانو دا طریقه وي چه په چار چاپیره ملکونو کښې خپل کامل مریدان د خلیفه ګانو او ماذونانو په شکل مقرر کړي. او هغه هر یو د خدائي مخلوق ته دنیکے لارے ښودنه کوي. چنانچه صاحب د سوات علیه الرحمة چه په دے طریقه سره په شمال مغربي پاکستان کښې په مختلفو علاقو کښې کوم مازونان مقرر کړي وو. دلته په هغئ کښې د یو څو مشاهیرو نومونه لیکلے شي.

عبدالرحیم

د عبدالرحیم په نامه د باباجي صاحب د سوات نر مازونان وو. (١) ارباب عبدالرحیم چه د ارباب عبدالکریم خلیل ځوي وو. په موضع پرانګ چاسده کندي سدي خیل کښې اوسیده. او صاحب ته ډیر ګران وو.سب ملګري وو[430]. (٢) مولانا عبدالرحیم د

[430] و

موضع امان کوټ تحصیل صوابئ ضلع مردان اوسیدونکے وو. چه ډیر لوئ فاضل عالم وو[431]. (۳) قاضي عبدالرحیم یوسفزیے د موضع فرملی تحصیل صوابی چه زاهد. عابد او فاضل عالم وو. (۴) عبدالرحیم د سهارنپور (یو. پي. انډیا) چه د دوئ په ذریعه په وسطع هند کښې د سلسله عالیه قادریه فیوضات خواره شوي دي. (۵) مولانا عبدالرحیم مهمند د بهادر کلي ضلع پشاور.

میا صاحب

د "میا صاحب" په نامه باندے شریک د حضرت بابا جي د سوات علیه الرحمة کنړ مریدان وو. (۱) یو حضرت میا محمد وسیم کاکا خیل وو. چه په بوستے ملا صاحب. "کاکه کځ ملا صاحب" او "حمکتي بابا" او د حضرت اخوند صاحب د کاکه کځ" په نومونو مشهوروو. د معقول او منقول محقق عالم وو. خصوصاً په علم ریاضت هیت. حکمت. فلسفه او اداب کښې علامه دهر وو.ا و د زمانے په لحاظ په عمر کښې د بابا جي صاحب د ټولو مریدانو نه مشر وو. بلکه پخپله د صاحب نه هم په عمر کښې مشر وو. د باجوړ په جندول نومے علاقه کښې په مسکینی دره کښې اوسیده. د سمے سوات باجوړ اکثر مشاهیر عالمان د ده شاګردان تیر شوي دي. مشهور تاریخي شخصیت سید

---

[431] د دوئ د تفصیلي حالاتو د پاره ملاحظه کړئ څما تالیف "تیر هیر شاعران" (اثر) د دوئ د تفصیل حالاتع دپاره ملاحظه کړئ څما مختصر تالیف "میا وسیم". (اثر)

جمال الدين افغاني هم د ده شاګرد وو. چه د علاقه چچ ضلع کيمبل پورپه "حضرو" نومي کلي کښې اوسيده. او په دغه علاقه کښې د قادريه سلسلے فيض د دوئ په ذريعه خورشوے دے. مزار يئے په حضرو کښې دے.

کربوغے ملا صاحب

په ضلع کوهاټ علاقه دو آبه کښې د خټک قوم يو کلے دے. "کربوغه" نوم يئے دے. د دغه کلي حضرت مولانا "محمد عمر شاه" چه روستو د "کربوغے ملا صاحب" په نوم مشهور شه. د سوات صاحب عليه الرحمة په خليفه ګانو کښے ډير لوئ او مشهور روحاني پيشوا تير شوے دے. چه روستو بيا د ده په ماذونانو کښې هم ډير لوئ لوئ مشهور بزرګان تير شوي دي. چه په هغے کښې د بوټهان شريف علاقه تيراه آفريدي. ماموزائ شريف علاقه تيراه ورکزايئے. شوال شريف علاقه شاملي وزيرستان سجاده نشينان ډير زيات مشهور دي. په دے سلسله کښې د حضرت حاجي محمد امين مهمند ماشو خيل عليه الرحمة نوم د يادولو دے. چه د کربوغے ملا صاحب د مشر ځوي مريد وو. ابتدائ تربيت يئے د کربوغے په خانقاه کښې حاصل کړي وو. او بيا روستو نورو فيوضات يئے د ترنکزو د حاجي صاحب عليه الرحمة نه مونډلي وو. او مشهور واعظ. مبلغ. عاشق رسول حاجي الحرمين او مجاهد اسلام وو[432]. د

[432]حضرت حاجي محمد امين عليه الرحمة او زۀ عاجز بنده عبدالحليم اثر دواړه په موضع جاله بيله هشنغر کښې د

جماعت "ناجیه صالحه" په نوم په دے ملک کښې د اسلام ډیر خذمتونه یئے کړي دي. او دغه سلسله لا تر اوسه پورے جاري ده. علیه الرحمة والغفران.

شاؤ باباصاحب

د ریاست دیر د مرکزي مقام د دیر سره متصل په قبلیزه غاړه بانډے د دیر د یوے محلے او کنډي په شکل بانډے یوه حصه ده. چه د هغے نوم "شاؤ" دے. او نن ورځے "ریحان کوټ" هم ورته وائي. حضرت مولانا شیخ المشائیخ خلیل الرحمان اخندزاده د دے کلي (شاؤ) اوسیدونکے وو. په دغه وجه په حضرت "شاؤ بابا" نوم بانډے مشهور دے. د منقول او معقول ټولو دیني علمونو لوي عالم وو. او د حضرت سوات صاحب علیه الرحمة په خلیفه ګانو کښې د اوچتے درجے او مرتبے خاوند وو. په ټول ریاست دیر او خواؤ شا کوهستاني علاقه کښې د سلسله عالیه قادریه فیوضات د دوئ په ذریعه خواره شوي دي. او روستو د دوئ په مریدانو کښې هم ډیر مشاهیر بزرګان تیر شوي دي. چه په هغوئ کښې د موضع تیمور ګله (تیمرګره) ریاست دیر مشهور جلیل القدر روحاني پیشوا د "تیمرګری حضرت صاحب" هم د دوئ خلیفه او ماذون وو. چه ډیر لوئ شان یئے لرلو. د کشف او کرامت او خرق عادت لویه درجه ورته حاصله وه.

حضرت مولانا اخندزاده فضل حق ننګر هاري په درس کښې په شرح جامي کښې د سبق ملګري وو.

او ځما مؤلف (عبدالحلیم اثر) مشر تره او استاذ حضرت عبدالکریم علیه الرحمة هم د دے شاؤ بابا صاحب شاګرد وو. د حضرت مولانا شیخ المشائیخ خلیل الرحمان علیه الرحمة د فیوضاتو سلسله تر نن ورځے پورے جاري ده. د دوئ ځامن او نمسی ټول عالمان او نیکان خلق دے. د ارشاد او سجادے خاوند دے. چه په هغوئ کښې حضرت بابا جي صاحب د ساؤنړی او بابا جي صاحب د تنګی د واړه د دعوت او ارشاد خاوندان دي. د کشف کرامت او ولایت مرتبه ورته حاصله ده. او د خداي مخلوق ته ترینه فیض حاصلیږي.

د هډی حضرت صاحب او د مانکي حضرت صاحب

د حضرت مولانا شیخ المشائیخ حافظ اخون عبدالغفور قدس سره په مشاهیرو خلیفه ګانو کښې حضرت مولانا نجم الدین صاحب علیه الرحمة د هډی او حضرت مولانا عبدالوهاب د مانکي دواړوته ډیر زیات شهرت حاصل دے. په دے وجه د دوئ دواړو حالات به روستو ځان له په تفصیل سره اولیکلے شي.

نور مازونان

د دغے نه علاوه د نورو ما ذونانو په سلسله کښې د یو څو مشاهیرو بزرګانو نومونه دا دي:

(۱) حضرت مولانا محمد نور ولد سید نور د موضع تیراوي[433]. پشاور

(۲) حضرت مولانا صاحب د منګلور (سوات) چه په معقولات علمونو کښې فرید العصر وو.

(۳) حضرت مولوي نصر الله جان قاضي د پیښور ښهر چه لوئ عالم وو.

(۴) حضرت مولانا مفتي محمد حسین د پیښور ښهر چه فاضل عالم او مؤلف وو.

(۵) حضرت مولانا عبدالمطلب د موضع کوټها صوابئ ضلع مردان. دا هغه عالم دے چه څه وخت فارغ التحصیل شه. نو د ستار بندي ورته باباجي صاحب د سوات کړې وه.

(۶) حضرت مولانا محمد سندی د کالو خان

(۷) حضرت مولانا صاحب د شیخ جانا.

(۸) حضرت مولانا حاجي احمد علي صاحب کابلي د طورو (د طورو دوه مشهور عالمان حضرت مولانا میر

---

[433] څما عبدالحلیم اثر استاذ مولانا محمد اسماعیل او د هغه رور مولانا محمد اسرائیل شهید د دے مولانا محمد نور شاګردان وو.

عتيق الله او امير عجبدالله د ده نمسی دي.

(۹) حضرت مولانا مولوي فضل احمد دهنډ، صوابئ. چه د مولانا لطف الله د عليګړه (هندوستان) شاګرد وو. او باباجي صاحب د سوات يئے دستار بندی فرمائيلے وه[434]. او لوئ رياضي دان عالم وو.

(۱۰) حضرت مولانا شيخ اخوند حبيب الله د موضع سرنيح علاقه دو آبه اوسيدونکے شيخ لاله صاحب د مان پور علاقه چچ.

(۱۱) حضرت مولانا شيخ اخوند حبيب الله د موضع سرنيح علاقه دو آبه اوسيدونکے چه په معقولات علمونو کښې د علم منطق فاضل عالم وو.

(۱۲) حضرت مولانا شيخ لاله صاحب د مان پور علاقه چچ.

(۱۳) حضرت مولانا صاحب د کنديا چه په علم منطق کښې په سلم العلوم باندے د هغوئ شرح "تحرير کنديا" ته خاص شهرت حاصل دے.

---

[434] خما عبدالحليم اثر استاذ مولانا محمد اسماعيل او د هغه رور مولانا محمد اسرائيل دواړه د دے مولانا فضل احمد شاګردان وو. د علم هيئت. رياضي او ميراث کتابونه يئے ترينه لوستلي وو.

(۱۴) حضرت مولانا اخوند فقير صاحب د ګړهی عثماني خيل مالاکنډ ايجنسی.

(۱۵) حضرت مولانا رحيم الدين صاحب د موضع سره چينه. ضلع مردان.

(۱۶) حضرت مولانا مولوی عبدالله خان صاحب د ضلع بنو. دوه رور مولانا سعد الله خان د کوټهی د حضرت جي صاحب مريد وو.

(۱۷) حضرت مولانا مولوي احسن الدين صاحب المعروف ګل بابا عليه الرحمة چه ډي رلوئ فاضل عالم وو. او د کشف او کرامت خاوند وو. د هشنغر دموضع رجړاو سيدونکے وو.

(۱۸) مولانا قاضي راز محمد صاحب د جلاله. مردان.

(۱۹) حضرت مولانا فقير شاه صاحب د موضع معيار. چه ډير لوئ فقهه عالم وو.

(۲۰) حضرت مولانا شيخ المشائخ انکړ ملا صاحب د علاقه تيراه افغانستان چه د باباجي صاحب په خليفه ګانو کښې د اوچتے عرفاني او روحاني درجے خاوند وو.

(۲۱) حضرت مولانا صاحب د ښپري علاقه تیراه.

(۲۲) حضرت مولانا پلام باباجي صاحب د ریاست دیر.

(۲۳) حضرت مولانا شیخ حمید الله المعروف په اسوټا ملا صاحب علاقه مردان.

(۲۶) حضرت مولانا حاجي محمد ابراهیم صاحب د بید منئ د قبایلي علاقے مهمند ایجنسئ. چه صاحب تصرف بزرګ وو. ډیره لویه مرتبه یئے لرله او په دغه علاقه کښې د روحاني فیوضاتو او انوارو مرکز دے.

(۲۵) حضرت فیض محمد اخند زاده دلهو ګر افغانستان چه په "مسهي صاحبزاده مشهور وو.

(۲۶) حضرت مولانا عبدالحق صاحب چه د ضلع پیښور د شیخ محمد کلي اوسیدونکے وو.

(۲۷) حضرت مولانا ابوبکر صاحب المعروف په پاسنے ملا صاحب چه د صاحب د لنګر واکدار وو.

حضرت میانګل عبدالخالق

د حضرت بابا جي صاحب د سوات علیه الرحمة دوه ځامن پاتے شوي وو. عبدالحنان اوعبدالخالق چه دواړه د مشر میا ګل او کشر میا ګل په نومو یادیدل. په دوئ کښې کشر میا ګل عبدالخالق علیه الرحمة د خپل والد ماجد سجاده نشین شه. او د هغ زمانے ټولو عالمانو او مشاهیرو مشائیخو په حیثیت د روحاني پیشوا او د صاحب د سوات د جانشین سره د دوئ رهنمایئ قبوله کړه. حضرت حافظ عبدالخالق د ډیرو نیکو صفتونو لرونکے انسان وو. د ده ژوند او کردار د شرعیت د اصولو یوه نمونه وه. او د ده په برکت د اصلاح او تبلیغ اسلامي فرائیض ډیره په ښه شان سره سر ته رسیدل. چه بیا روستو په حیثیت د "امیر شریعت" سره د اسلامي احکامو پ نافذ کولو کښې یئے هم کامیابي حاصله کړے وه. او د دین اسلام د سرلوړئ د پار یئے ډیر شاندار خذمات انجام ته رسوؤلي وو. حضرت میا ګل حافظ عبدالخالق په ۱۸۵۷ء کښې پیدا شوے وو. او د پنځ دیرش کالو په عمر په ۱۸۹۲ء کښې وفات شوے وو. علیه الرحمة والغفران. د دوئ نه دوه ځامن پاتے شول.

(۱) "عبدالودود" المعروف په میا ګل، ګل شهزاده.

(۲) "عبدالمنان" المعروف په شهزاده شیرین جان.

میا ګل، ګل شهزاده

په دوۀ کښې کشرے رور حضرت عبدالمنان المعروف شهزاده شيرين جان وفات شوے دے. عليه الرحمة والغفران. او مشر رور عبدالودود المعروف گل شهزاده هغه با همته انسان دے. چه د خپل والد ماجد حضرت حافظ عبدالخالق د وفات ۱۸۹۲ء نه روستو اولس کاله پس په ۱۹۱۵ء کښې يئے په سوات کښے د يو منظم حکومت بنياد کيښوده. چه نن ورځے د پاکستان په ټولو رياستونو کښې په هر لحاظ سره ډير ممتاز، ترقي يافته او مثالي رياست دے. او په دے وجه حضرت ميا گل، گل شهزاده ته بائي رياست وئيلے شي. حضرت ميانگل عبدالودود گل شهزاده دا وخت ژوندے دے. او ټول وخت يئے په عبادت رياضت او د قرآن مجيد په تلاوت کښې صرف کيږي.

ميا گل عبدالحق

حضرت ميا گل گل شهزاده د رياستي حکومت ټول اختيارات خپل مشر فرزند ميا گل عبدالحق المعروف شهريار جهانزيب ته حواله کړي دي. چه په ډيره کاميابئ او نيک نامئ سره د خداي د مخلوق خذمت کوي د علم او عالمانو سر پرستي کوي. د تعليم عام کولو طرف ته خصوصي توجه فرامئي. او د دے ملک د آبادئ او ترقی د پاره يئې خپل ژوند وقف کړے دے. او قدرت د دوۀ په دغه نيکوارادو کښې برکت اچولے دے. د غوث الزمان د سيدو شريف سره د خپل روحاني تعلق په وجه د دے باشرفه خاندان عزت او اقبال د خدائي نه غواړو.

حضرت هډي ملا صاحب عليه الـرحمة

ولادت
....
شيلګر (غزني)

وفات..........................
... هډه (جلال آباد) ١٣١٩هـ

د حضرت شيخ المشائيخ اخوند عبدالغفور غوث الزمان د سيدو شريف په نامورو او مشهورو خليفه ګانو کښې د حضرت هډے ملا صاحب نوم ډير زيات مشهور دے. او د خپل وخت ډير لوئ او جليل القدر روحاني پيشواتير شوے دے.

د هډے د حضرت صاحب اصلي نوم "نجم الدين" اخندزاده وو. د افغانستان د شيلګر نومي علاقے اورسيدونکے وو. د شيلګر علاقه د غزني په ملحقاتو کښې شمارلے شي[435].او په دغه اعتبار سره دے د غزني د علاقے يو نامور فرزند وو. په دغه علاقه کښې د احمد زی او د سليمان خيلو قبيلو خلق اوسيږي يو رواتي دا دے. چه دے په قام سليمان خيل وو. د دوئ د نوم سره

[435] د شيلګر زوړ تاريخي نوم هجوير دے حضرت شيخ علي الهجويري دا تاګنج بخش هم د دے هجوير (شيلګر) اوسيدونکے وو.

اخندزاده لیکلي شي. د دغې نه معلومیږي. چه د دوئ خاندان د علم او فضل کورني وه.

حضرت نجم الدین اخندزاده ابتدائي تعلیم پخپله علاقه شیلګر کښې او ورسره په نزدې علاقه لهو ګر کښې او بیا په غزني ښهر کښې حاصل کړې وو. د هغې نه روستو بیا د کابل ښهر ته راغلې او د دې ښهر په محله تندور سازان کښې یئې څه موده تیره کړه. دا محله په خصوصیت سره د کابل په زوړ ښهر کښې د ساداتو او عالمانو مرکز بللې شه. دلته یئې د هغه وخت د عالمانو نه د دیني علمونو مختلف کتابونه اولوستل. او بیا د افغانستان د سمت مشرقي مرکزي ښهر جلال آباد ته راغې او دلته یئې د دې ښهر سره نزدې دا اته کیلو میټره په فاصله جنوب طرف ته واقع مشهور تاریخي کلي هډه کښې دیره شه استوګنه یئې اختیار کړه. نو د دې ځاي د ونوم په مناسبت سره د هډی ملا صاحب په نوم مشهور شه.

لکه چه مخکښې ورته اشار اوشوه "هډه" یو مشهور تاریخي مقام دې آثار قدیمه وؤ یو عظیم الشان تاریخي مرکز دې[436]. مشهورو چیني سیا حانو لکه فاهایان. او هیوان تاسانګ د دې ځاي ذکر کړې دې. "هیوان" د دې ځائ نوم "هیلو" یاد کړې دې. لیکن ځمونږه بحث د هغې د تاریخي آثار قدیمه ؤ سره نه دې. کوم چه فرانسیسي مسشر قانون

[436] افغانستان ویک نګاه اجمالي به تاریخ آن. صفحه نمبر ۲۴

او د آثار قدیمه و ماهرانو موسیو "فوشه" او موسیو کدار په ۱۹۲۳ء کښې ا وموسیو "برتو" په ۱۹۲۶ء کښې تر ۱۹۲۸ء پورے دلته په لاس روانړي دي. بلکه ځمونږ بحث د دین مقدس اسلام د هغے روحاني رشتے سره دے. چه په هغه کښې اوسیدونکي یو دیني عالم او روحاني پیشوا او د سمت مشرقي افغانستان جلیل القدر بزرگ حضرت مولانا نجم الدین اخند زاده علیه الرحمة د افغانستان نه د مغربي پاکستان علاقے ته راغے. او د ریاست سوات د روحاني مرکز نه یئے فیض حاصل کړ. او د دوئ په ذریعه د مغربي پاکستان او افغانستان د ټولو مسلمانانو تر منځه یو مضبوط روحاني تعلق په وجود کښے راغے. او د انګریزانو د استعمار نه چه د برصغیر پاک او هند مسلمانانو د ځان خلاصولو په سلسله کښې کوم کوششونه کوؤل. او جهادونه او غزاګانے یئے کوؤلے. نو چه دا په یاد کړو. چه دغه مرد مجادیعنے د "هډي ملا صاحب" په هغے کښې ښومره شانداره حصه آخیستي وه.

د افغانستان د سمت مشرقي د جلال آباد د علاقے او د مغربي پاکستان د مختلفو علاقو تر منځه روحاني او عرفاني رشته او تعلق د ډیر پخوا زمانے راسے موجود وو. ډیر ځله داسے شوي دي چه د مغربي پاکستان بزرګان د دے ځائ نه د جلال آباد علاقے ته تلي دي. او هلته یئے علمي او روحاني فیوضات خواره کړي دي. او ډیر ځله داسے شوی دي. چه د دغه سمت مشرقي ته نن ورځے

ورته صوبه (ننګر هار) وائي. او چيني سياح هيوان تسانګ دغه نوم (نګاراهارا) ضبط کړے دے. او د فيلا لوژي (د ژبو د علم) د يو شاخ علم تطبيق الاسماء له مخه د دے نوم (ننګراهارا) مساوي (نګاراهار) تطبيق د (نګارا اسارا) سره کيدلے شي. چه د هغے نه مراد د (بني سارا) يعني بني اسرائيل قبائيل او قومونو کلي. کورونه او آبادئ دي. د دے ننګرا هارا نه بزرګان. عالمان او مشائيخ مغربي پاکستان ته راغلي وي. او دلته يئے د دين اسلام تبليغ او اشاعت کړے دے. او هم په دغه سلسله کښې د حضرت هډي ملا صاحب د ننګر هار نه د سوات روحاني مرکز ته راتلل فيوضات حاصلول او بيا د دے دواړو ملکونو په سرحد باندے د اسلام د سرلوړئ د پاره د جهادونو او غزاګانو کولو د يونوي دوران بنياد يو خصوصي اهميت لري. په دے ضمن کښې د دوه مشهورو بزرګانو مختصره تذکره دلته درج کوؤل مناسب ګنړو.

حضرت مولانا شيخ سيد مصطفى محمد ترمذي عليه الرحمة

چه مزار يئے د سمت مشرقي افغانستان علاقه کنړ په موضع وو نائي پشت کښې دے او د مغربي پاکستان د رياست سوات علاقه بنير نه هلته تلے او آباد شوے دے.

حضرت شيخ ميا فقير الله جلال آبادي[437] عليه الرحمة

حضرت مولانا شيخ ميا فقير الله نقشبندي مجددي عليه الرحمة چه د جلال آباد (صوبه ننګرهار) نه روان شوے او د مغربي پاکستان وادئ مهران (سابق سندهـ) علاقه ته راغلے وو. دلته آباد شوے وو. او روستو په ۱۱۹۵هـ کښې هم دلته وفات شوے وو. مزار يئے په شکار پور سندهـ کښې دے. او مرجع د خاص او عام دے.

پورته چه د دوه مشاهيرو بزرګانو نومون ياد شول دا يو مثال دے. او د دے نه غرض دا دے. چه په تير شوي تاريخ نظر واچوؤ. نو د افغانستان و مغربي پاکستان د بزرګانو تر منځه علمي او روحاني رشته او تعلق د ډير پخوا زمانے راسے موجود دے. چنانچه هم د دغه قاعدے له مخه حضرت نجم الدين اخندزاده عليه الرحمة د هډے نه راروان شه. او د پيښور ډويژن د مشهور رياست سوات مرکزي مقام سيدو شريف له راغے دلته حضرت مولانا شيخ اخند حافظ عبدالغفور قادري نقشبندي مجددي عليه ارلحمة د طريقت او عرفان په ګدئ ناست وو. هر چاته يئے د روحاني فيوضاتو برخه ورکوؤله. حضرت نجم الدين اخوند زاده هم د دوئ نه په طريقه عاليه قادريه کښې لاس نيوه اوکړه. او په لږو ورځو کښې د

---

[437] مکتوبات ميا فقير الل جلال آبادي. او د پښتو اديباتو تاريخ صفحه نمبر۱۱ و نمبر۱۰۴

روحانیت و عرفان په اوچتو درجو مقاماتو او مرتبو کښې یئے کمال حاصل کړ.

د حضرت سوات صاحب علیه الرحمة د مریدانو او خلیفه ګانو شمار ذَ حدنه زیات دے. او ځنے ځنے پکښې ډیر زیات مشهور هم دي. چه مخکښې د سوات بابا جي په تذکره کښے د یو څو مشاهیرو نومونه درج کړے شوي دي. لیکن په دے ټول کښې په خصوصیت سره حضرت مولانا نجم الدین اخوند زاده المعروف "هډي ملا صاحب" ته ډیر زیات شهرت په دے وجه حاصل شوے وو. چه دے هم لکه د خپل پیر طریقت په شان د ډیرے لوئ جلالي مرتبے خاوند وو. او ټول عمر یئے په جهادونو او غزا ګانو کښې تیر شوے دے. لوئ مجاهد او غازي وو. او د خپل پیر د وفات (۱۸۷۷ء) نه روستو تر (۱۹۰۲ء) یعنے پخپله د دوئ د وفات کیدلو د کال پورے چه هر څومره جنګونه د انګریزانو او مسلمانانو تر منځه پیښ شوي دي. په هغے کښې "هډي ملا صاحب" شامل وو. او لکه د خپل پیر طریقت "بابا جي صاحب د سوات" په شان د غازیانو د رهنمایئے بیرغ به د ده په لاس کښې وو. او بیا چه کله په ۱۹۰۲ء کښے دے وفات کیده نو د جهاد او غزا بیرغ یئے خپل نامور خلیفه او ماذون حضرت حاجي صاحب د ترنګزو علیه الرحؤة ته پریښوده. چه د پاکستان د جوړیدلو نه تر لږے ورځے وراندے پورے د مجاهدانه کار نامو دغه سلسله یئے جاري ساتلے وه. د حضرت "هډي ملا صاحب" علیه الرحمة د مجاهدانه کار

نامو دائره په خصوصيت سره د پيښور ډيوژن د دوه مشهور وايجنسو يعنے (۱) ملاکنډ (۲) مهمند ايجنسيو په سرحدونو او قبائيلي علاقو کښې خوره وه. او دا ټول کوششونه د انګريزي استعمار ختم کولو او يو اسلامي حکومت د قيام د پاره کيدل چه اخر د پاکستان په شکل کښې په وجود کښې راغے.

حضرت شيخ المشائيخ د سوات بابا جي چه په ۱۸۲۶ء کښې په سرکاوئ باند د انګريزانو خلاف کومے غزا کړي وه. او د صاحب باباجي په امداد کښې د مختلفو قبائيلي علاقو کوم قبائلي سرداران د خپلو خپلو قبائلي لښکرو او بيرغونو سره راغلي وو. په هغوئ کښې يو قبائلي سردار خان سعادت خان مورچه خيل مهمند د لعل پورے هم وو. د سرکاوئ غزا ختمه شوه. ليکن انګريزانو د قبائيلي علاقو مسلمانانو ته په زړۀ کښې واچوؤله. چه د دے سزا به خامخا ورکوي. چنانچه هم د دغے ورځے نه لکه د نورو ټولو قبائلي علاقو په شاند پاکستان د قبائيلي علاقے مهمندو غازيانو او د انګريزانو تر منځه د جنګونو او جهګړو بنياد شروع شوے وو. او په هره يوه غزا کښې به حضرت د هډې ملا صاحب عليه الرحمة د غازيانو د لښکر رهنمائي کوؤله.

په ۱۸۹۵ء کښې چه انګريزانو د باجوړ په مشهور مرد مجاهد خان عمر خان پسے لام او تړلو او د يو خونړی جنګ نه روستو د هغه اسلامي حکومت يئے ختم کړ. نو د ملاکنډ په دغه جنګ کښې حضرت نجم الدين اخندزاده

ښه مېرانه ښکاره کړي وه. روستو چه په ۱۸۹۷ء کښې يوه مشهور مرد مجاهد حضرت مولانا سعد الله خان المعروف په سرتور فقير د انګريزانو په خلاف د ملاکنډ په محاذ دوئمه غزا کوؤله. نو په دغه جهاد کښې د ټولو نه لويه حصه د حضرت نجم الدين اخند زاده عليه الرحمة وه. چه د خپلو غازيانو مريدانو د زرګونو په تعداد کښې لښکرے ورسره وے. چه په دغه موقع ورسره د دوئ يو مشهور مريد حضرت حاجي صاحب د ترنګزو عليه الرحمة هم شامل وو. او د دغه جنګ په دوران کښې د انګريزانو په مشهور فوځي کيمپ "قلعه چکدره" باندے په خصوصيت سره د هډي ملا صاحب عليه الرحمة لښکر او ر لګولے وو. که په دے موقع د حضرت هډي ملا صاحب د مريدانو لښکر نه وے رارسيدلے نو د خان عمرا خان کشر رور خان محمد شاه خان چه په دے مورچه جنګيده هغه به د دشمن په ګيره کښې راغلے وے. او هم دا هغه تاريخي غزا ده. چه هر کله د چکدره په محاذ د مجاهدينو په لښکر د کفارو فوځ چپاؤ راوړنو د باجوړ د دوۀ بابو قره د پشت نومي کلي "هارون" نومي سلار زي شاه ځلمي توره او کښله نعره تکبير الله اکبر چه يئے اوکړه. او په اوچت آواز يئے دا مصره اوکړه.

په ملاکنډ توره تياره شوه
هارون توره ځلوه چه رنړا شينه

او بیا لکه د زمري په شان د کفارو په لښکر ورګډشه. دوه لاسي توره یئے او چلوله او شهید شه. نن د هارون زیارت د چکدرے قلعه سره نزدے د پوخ سړک په غاړه جوړ دے. خواته ورسره د کانونه جوړ شوي دي. په شهیدانو یادیږي.

روستو دا جنګ ډیر اوګد شه. لیکن بالا آخر انګریزانو په ۱۸۹۷ء کښې په باجو رکښې شکست او خوړ. او په ماتے باندے یئےد مهمند ایجنسئ علاقے ته مخه اوکړه. په دغه ځل خوانګریزان راوپس شول. لیکن د ۱۸۹۷ء د دے شکست نه روستو د انګریزانو د لشکر کشئ مورچه او د مسلمانانو د پاره د جهاد محاذ د ملاکنډ ایجنسئ نه د مهمند ایجنسئ علاقے ته رابدله شوه. د انګریزانو فوځونو هم ناراسته نه کوؤله. لیکن په هر وار به غازیانو هم ورته د حضرت شیخ مولانا اخند زاده نجم الدین هډي صاحب په مشرئ کښې خپل ځان ښودلو تر دے حده چه څوواره غازیان به د انګریزانو په مضبوطه فوځي قلعه "شبقدر فوټ" را اوختل او د دغه قلعه به یئے ورله او سیزله. او انګریزان به یئے په سرو سترګو او ژړه ول. دا سلسله هم دغه شان جاري وه. چه په ۱۳۱۹هـ مطابق ۱۹۰۲ء کښې د مرد د مجاهد او لوئ روحاني پیشواحضرت نجم الدین اخندزاده په حق اورسیده. مزار مبارک یئے په هډه کښې دے. او مرجع د خاص و عام دے. علیه الرحمة والغفران.

جمالي شان

حضرت نجم الدين اخندزاده عليه الرحمة څرنګ چه يو لوئ جلالي شان لرلو. ديدبه يئے لرله. زرګونه زرګونه د غازيانو لښکر به ورسره وو. په ميدان کښې به ولاړ وو. د اسلام د سر لوړئ او د مسلمانانو ونګ او ناموس او د آزادئ د پاره به جنګيدلو. دغه شان يو ډير لوئ جمالي شان يئے هم لرلو. د ذرګونو مسلمانو پير طريقت وو. د روحاني او عرفاني تربيت په ذريعه يئے د خدائي بے شميره مخلوق د تصوف او عرفان اوچتو مرتبو ته رسوؤلے وو. د ده په باکماله مريدانو کښې ډير لوئ لوئ خلق تير شوے دے. چه د افغانستان او پاکستان دواړو ملکونو بے شميره د خدائ مخلوق ته ترينه فيض رسيدلے دے. او د نن ورځے پورے رسيږي. چه په هغوئ کښې د يو څو مشهورو خليفه ګانو نومونه دا دي:

(۱) نګاؤ ملا صاحب عليه الرحمة

(۲) د تبخاک حضرت صاحب عليه الرحمة

(۳) د شنوارو صوفي عالم ګل صاحب عليه الرحمة

(۴) د سرکانړو ميا صاحب عليه الرحمة

(۵) د چکنور ملا صاحب عليه الرحمة

(۶) د سلامپور باچا صاحب علیه الرحمة

(۷) د ترنګزو حاجي صاحب علیه الرحمة

(۸) حضرت مولانا محمد اسرائیل شهید علیه الرحمة

د دوئ نه علاوه داسے نور بے شمیره بزرګان شول چه روستو د دے هر یو نه بیا د روحاني فیوضاتو سلسلے خورے شوے دي. او تر اوسه پورے د اسلام د تبلیغ او اشاعت فرض ادا کوي. و د دوئ مریدان او تعلقداران د اسلام رښتیني مجاهدین بهادر سپاهیان او ننګیالي غازیان دي. او په هره موقع یئے د اسلام په لاره کښې سرونه قربان کړي دي. علیهم الرحمة والغفران.

حضرت مولانا شیخ عبدالوهاب علیه الرحمة

المعروف پیر صاحب د مانکي شریف

ولادت .... اکوړه خټک ۱۲۲۲هـ

وفات.............................. ... مانکي شریف ۱۳۲۲هـ

په وادئ پیښور کښې د دلازاک قبیلے خلق د ۶۰۰هـ د زمانے راسے آباد دي[438]. د دے دلازاک قبیلے یوه کورني ۱۰۰۰هـ په شاؤ خوا کښې په موضع پړانګ چارسده کښے آباده شوے وه. په دغه کورنئ کښې د ۱۰۵۰هـ په شاؤ خو کښې یو دیني عالم او روحاني پیشوا تیر شوے دے. چه د هغه نوم حضرت شیخ محمد یوسف علیه الرحمة وو. او په مړني بابا لقب باندے مشور وو. چه مزار مبارک یئے په موضع پرانګ کښې دے. د دے مړني بابا په اولاد کښې یوه کورنئ په کډه باندے اکوړي خټک ته تلے وه. و په دغه

---

[438] لفظ د لازاک په اصل کښې "عدل زائي" دے. چه روستو په کثرت استعمال سره دلازاک شویدے. د دے قوم د اصل او نسبت په حقله د پښتنو مؤرخانو روایتونه مختلف دي. د تاریخ صولت افغاني د یو رواتي مطابق دوئ په اصل کړ لاني پښتانه دي. او د وادئ پیښور د ټولونه پخوانے پښتون قوم دے. (اثر)

خاندان کښې یو نامور تاریخي سړے پیدا شه. چه د هغه نوم عبدالوهاب وو. او چې روستو د حضرت مولانا عبدالوهاب. پیر صاحب د مانکي شریف. او غوث د مانکي شریف په مبارکونو مونو سره یاد شه. د دوئ شجره د نسب داسے ده. حضرت شیخ المشائخ مولانا عبدالوهاب ابن مولانا ضیاء الدین ابن بدر الدین ابن محمد ابراهیم ابن کرم بیګ ابن فتح محمد ابن محمد یوسف المعروف په مړنی بابا علیهم الرحمة.

د حضرت پیر صاحب د مانکي شریف والد ماجد یعنے حضرت مولانا ضیاء الدین د ۱۲۵۰هـ پورے په موضع اکوړه خټک کښې اوسیده. او هم په دغه نیټه هر کله چه د سکهانو اقتدار تباهي راوستلے وه. د اکوړه خټک نه یئے هجرت اوکړ. او د نوښهر سره متصل په بدرشي نومي کلي کښې استوګن شه او د دے کلي په لوئ جماعت کښې به یئے د دیني علمونو درس ورکولو.

په هغه زمانه چه لاحضرت مولانا ضیاء الدین په اکوړی کښې اوسیده. د ۱۳۳۳هـ په شاؤ خوا کښې د حضرت مولانا ضیاء الدین په کور کښې حضرت مولانا شیخ عبدالوهاب پیدا شوے وو. دے یئے مشر ځوي وو. د ده نه دوه کشران ځامن یئے نو روو. چه په هغوئ کښې د تولونه د کشری یعنے دریم ځوي نوم ئې مولانا بحر الدین وو. د پیر صاحب د کشرے رور بیا روستو موضع خویشکي پایان ته په کډه تلے وو. او هم هلته وفات شوے دے.

حضرت مولانا ضیاء الدین علیه الرحمة په موضع بدر شي کښې وفات شه. خپل کلي اکوړی ته یوړلے شه. او هلته یئے مزار جوړ کړے شه.

حضرت مولانا عبدالوهاب ابتدائي دیني کتابونه په اکوړي کښې لوستلي وو. او روستو "بدر ښو" ته د راتللو په دوران کښې یئے د خپل والد ماجد او نورو مختلفو مشاهیرو عالمانو نه د ظاهري علمونو تکمیل اوکړه. څه زمانه پس حضرت مولانا عبدالوهاب او په ده پسے دوئم کشر رور یئے موضع ډهیري کټي خیل نومي کلي[439] ته په کډه لاړل. چنانچه هم د دے ډهیرئ کلي د استوګنے په وجه حضرت پیر صاحب د مانکي شریف د "ډهیرئ ملا صاحب" او د ډهیرئ میا صاحب" په نومونو مشهور شوے وو. په تاریخ پښاوري کښےد زیارت کاکا صاحب د یوے واقعے په ذکر کښې چه په ۱۸۷۱ء مطابق ۱۲۸۹-۱۳۸۸هـ کښې پیښه شوے وه. د دوئ نوم یئے "حضرت ډهیرئ میا صاحب المعروف په پیر صاحب د مانکي شریف" یاد کړے دے. د دے نه دا هم معلومیږی چه حضرت پیر صاحب علیه الرحمة د ۸۸-۱۳۸۹هـ مطابق ۱۸۷۱ء نه وړاندے بیا مانکي شریف ته په کډه تلے وو ځکه یئے د "المعروف پیر صاحب مانکي شریف" الفاظ ورسره زیات کړي دي.

---

[439] دا کلے د نوښهر او اکوړه خټک تر منځه دے. او د ریلوے لائن په جنوبي غاړه اوچت په لوړه باندے آباد دے. د دے کلي خلق په قام باندے مروت دي. چه د ضلع بنو د مروت نومے علاقے نه دلته راغلي دي. او دا کلے یئے آباد کړے دے. (اثر)

د ډهيري کټې خيل نه مانکي شريف ته د تللو واقعه داسې پيښه شوې وه. چه هم د دې ډهيرئ کلي د اوسيدلو په زمانه کښې حضرت مولانا عبدالوهاب صاحب عليه الرحمه سوات ته لاړ. او د حضرت غوث الزمان د سيدو شريف مولانا اخوند حافظ شيخ عبدالغفور نه يئے په سلسله عاليه قادريه کښې لاس نيوه اوکړه. او څه زمانه پس چه د کمال درجه ورته حاصله شوه. په چار چاپيره علاقو کښے د دوئ آوازه خوره شوه. او د خدائي مخلوق پرے رامات شه. نو چونکه د ډهيرئ کلے يو ورکوټے شان کلے دے. د بے شميره ميلمنو د ناستے ولاړے ځائ پکښې نه کيده. او بله دا چه د ډهيرئ خلقو به او به د نو ښهر د سيندنه راوړلي. په کلي کښې د څکلو قدر ته او بۀ هم نۀ وے. او دومره بے شميره ميلمنو ته به خالي اوبۀ رسؤل هم ګران وو. په دغه وجه څه ورځے پس چه حضرت مولانا عبدالوهاب سيدو شريف ته لاړ. نو د خپل مهربانه پير په حضور کښې يئے دا ټول احوال بيان کړ. چه د ډهيرئ کټې خيل خلق اګر چه ډير مخلص او نيک خلق دے. د ميلمنو خذمت ته ملا تړلي ولاړ دي. ليکن سره د دے هغوئ په لوئ تکليف کښې هم پراته دي. د دے په جواب کښې حضرت غوث الزمان د سيدو شريف ورته او فرمائيل چه د خټک نامے د غرونو په لمن کښې يو داسے کلے خوښ کړه. چه هلته د اوبو تکليف نه وي. هلته لاړ شه د دے حکم موندلو نه روستو چه حضرت مولانا عبدالوهاب واپس راغے نو خواؤ شا

کلوباندے د یو نظر اچولو نه پس د مانکي نومي کلي لیدلو له یئے هم تشریف راوړ. په هغه زمانه د دے کلي په خواپورے نزدے خوړ کښې اوبهٔ پیدا کیدلے چنانچه دا ځاي یئے خوښ کړ. او د حضرت غوث الزمان د سیدو شریف په اجازت سره یئے د موضع ډهیرئ کټي خیل نه مانکي شریف ته کډه راوړله. په دغه منځکښې څه وخت چه دوئ مانکي شریف ته په کډه تللو اراده ښکاره کړه نو د مانکي شریف یو مشر ملک چه ریحان نوم یئے وو. د دے کلي د نورو مشرانو سره ډهیرئ کلي ته لاړل. او د صاحب مبارک کډه یئے مانکي شریف ته راوړله[440].

مانکے او مهاراجے د مرکزي مقام نو ښهر نه جنوب طرف ته د څلور پنځه میلونو په فاصله باندے د خټکو د علاقے دوه کلي دي. چه د حضرت مولانا عبدالوهاب علیه الرحمة د استوګنے په وجه نن ورځے دا کلے د مانکي شریف په نامه باندے یادیږي. او هم د دے کلي د نوم په مناسبت سره د دوئ د نوم مبارک سره

(۱) حضرت باباجي صاحب د مانکي شریف

(۲) حضرت پیر صاحب د مانکي شریف

(۳) او حضرت غوث د مانکي شریف

په طور د لقب سره استعمالیږي. حضرت مولانا عبدالوهاب څه زمانه د اتمانخیلو د

---

[440] "مناقب غوث" تالیف د ولي محمد

علاقې د غرونو په لمن کښې او د کوټ ټوټې او دروازګۍ نومی مقاماتو سره نزدې. په موضع سپنخړو کښې هم تیره کړي وه. او په دغه مناسبت سره د دوئ یو لقب د "سپنخړو بابا جي" هم دے. چه د مانکي شریف نه روستو دغه د دوئ دوئم د ګدئ ځاي دے. کله نا کله به دلته او سیده. او نوره زیاته استوګنه به یئے په مانکي شریف کښې وه.

موضع سپنخړو ته د دوئ د تشریف وړلو واقعه داسې وه[441].چه د اتمانخیلو د یو دوه قبیلو تر منځه په خپلو کښې اختلاف وو. چه ورځ په ورځ به زیاتیده. او خبرے صلحه او جوړښت نه خوړلو. د دغه دواړه قبیلو مشران صاحب مبارک له جرګه راغلل چه په دے علاقه کښې د امن امان پید اکیدلو او د دوئ د دین دنیا د خیر او برکت د پاره پکارده چه صاحب مبارک سپنخړو ته تشریف راوړي. د ابه د اتمان خیلو قبائیلو د پاره د امن او امان او قومي جرګو یو مرکز او ګرزیږي. چنانچه صاحب مبارک د دوئ د غه. درخواست منظور کړلو او د ۱۸۸۰ء په شاؤ خوا کښې یئے د مانکي شریف نه سپنخړو ته تشریف یوړلو.

حضرت مولانا شیخ عبدالوهاب علیه الرحمة په ۱۸۶۳ء کښے د امبیلے (سرکارئ) په غزا کښې د خپل پیر طریقت حضرت غوث الزمان د سیدو شریف سره ملګرے وو. او په دغه تاریخي غزا کښې یئے حصه اخیستي وه.

---

[441]واقعات جهاد ملاکنډ تالیف د عبدالکریم (قلمي)

بیا روستو د خپل پیر طریقت د وفات نه پس چه په ۱۸۹۵ء کښے په ملاکانډ غزا وه نو صاحب مبارک په دغه نیته په سپنخرو کښې موجود وو.

د سابق شمال مغربي سرحد صوبے په ټولو علاقو کښې چه د حضرت باباجي صاحب د سوات هر څومره خلیفه ګان او ماذونان وو. په هغوئ ټولو کښې د مریدانو د تعداد د زیاتوالي او عالمګیر شهرت په لحاظ سره حضرت عوث و مانکي شریف ته ډیره اوچته مرتبه حاصله وه. او پخپله زمانه کښې د حضرت "سیدو غوث" نه پس د دوئ نوم مبارک به په حضرت غوث د مانکي شریف یادیدلو.

د حضرت مولانا شیخ عبدالوهاب قادري المعروف پیر مانکي شریف په تعریفونو کښې د ټولونه لوئ تعریف داؤؤ. چه د خپل پیر طریقت سوات صاحب هغه د "امیر معروف او نهئ عن المنکر" سلسله یئے په پوره زور او قوت سره جاري ستلے وه. و په خصوصیت سره د دوئ په مریدانو. ماذونانو او خلیفه ګانو کښې چه څومره عالمان وو. د هغے اندازه د دے نه لګیدلے شي. چه په هغه زمانه چه د سابق صوبه سرحد په ټولو علاقو کښې هر څومره مشاهیر فاضلان. عالمان وو. هغه اکثر د مولانا عبدالوهاب شاګردان او مریدان وو. او د علم او عالمانو کومه سر پرستي چه حضرت مولانا عبدلوهاب کړے ده. دهغے مثال نه پیدا کیږي. صاحب مبارک پخپله هم ډیر ښه عالم وو. د دوئ یو ممتاز خلیفه چه مولانا محمد حسن نوم یئے

وو. په "چغرزو ملا" مشهور وو. او د ضلع مردان په قطب ګړه نومي کلي کښې اوسيده. هغه د پير صاحب مانکي شريف ملفوظات د "هداية السالکين" په نوم راجمع کړي دي. چه دا کتاب[442] د علم او معرفت يوه ښکلې خزانه ده.

حضرت بابا صاحب د مانکي شريف عليه الرحمة د هفتې (سنبه) په شپه باندې په نولسم تاريخ د شعبان المعظم په ۱۳۲۲هـ مطابق د ۲۸، او ۲۹، تاريخ د اکتوبر په منځنۍ شپه په ۱۹۰۴ء کښې وفات شه. عليه الرحمة والغفران.

(الف) حضرت مولانا عبدالحق عليه الرحمة

د حضرت باباجي صاحب د مانکي شريف څلور ځامن وو. چه په هغوئ کښې د يو ځوئ نوم عبدالحق وو. چه په "حضرت ثاني صاحب" مشهور وو. دې ډير لوئ عالم او فاضل انسان وو. د علم معرفت او طريقت د ميدان شهسوار وو. د روحاني او عرفاني تصرفاتو يئې مثال نه پيدا کيده. د خپل والد ماجد د وفات نه روستو سجاده نشين وو. د خلافت. سجاده نشينئ او غوثيت د مرتبې د څليريشت کاله ژوند تيره ولو نه روستو په ستمبر ۱۹۲۸ء کښې تقريبا د اتياؤ کالو په عمر کښې وفات شه. عليه الرحمة

442هداية السالکين تاليف دمحمد حسن چغزائيې قلمي نسخه (اثر)

حضرت عبدالروف علیه الـرحمة

د دوئ نه روستو د دوئ فرزند ارجمند صاحبزاده عبدالرؤف المشهور په "ثالث" صاحب سجاده نشین شه. او د شپږ کاله سجاده نشینئ نه روستو په ۱۹۳۴ء کښے وفات شه.

حضرت امین الحسنات علیه الـرحمة

د ثالث صاحب نه روستو د دوئ مشر ځوي حضرت مولانا شیخ امین الحسنات علیه ارلحمة سجاده نشین شه. او د اسلام او مسلمانانو هغه خذمتونه یئے او کړل. چه د تاریخ پانړے د هغے نه ډکے دي. حضرت مولانا محمد امین الحسنات د علم او عرفان د ډیر واوچتو مرتبو خاوند وو. سراپا اخلاق وو. د شرافت او نجابت کان وو. د ملک او قوم د پاره سر پا اخلاص او ډیر اوچت انسان وو. د ډیر لوئ وسعت قلب مالک وو. دوئ د همدردئ. خلوص. حیاچشمي مروت. سخاوت. اولوالعزمي. نیکوکارئ. دینداری. دیانتداري. داسے بے مثله صفتونه لرل. چه په دنیا کښے یئے د تولو سجاده نشینانو او روحاني پیشویانو عزت زیات کړ. د ټولو مسلمانانو د پاره یئے ګټه اوکړله. او د ډیر باعزته ژوند تیره ولو نه پس په قضاء الهی سره په جنوری ۱۹۲۱ء کښے د شهادت درجه ورته حاصله شوه.

حضرت روح الا مین صاحب

د حضرت مولانا امین الحسنات د وفات نه روستو د دوئ فرزند ارجمند حضرت صاحبزاده روح الامین سجاده نشین شوے دے. او د شرافت او نجابت د دے بزرګ خاندان تول علمي او عرفاني فضيلتونه په دوئ را جمع دي. خدائي پاک د ورله د خپلو بزرګانو مشرانو د نوم روښانه کؤلو توفيق ورکړي.

(ب) حضرت عبدالرزاق علیه الرحمة

د حضرت مولانا شیخ عبدالوهاب علیه الرحمة د دوئم ځوي نوم صاحبزاده عبدالرزاق وو. چه په مانکي شريف کښې اوسیده. او د هغوئ فرزند ارجمند صاحبزاده عبدالقدس هم په مانکي شريف کښې آباد دے. او دا وخت ژوندے دے.

(ج) حضرت عبدالرحمان علیه الرحمة

د حضرت مولانا شیخ عبدالوهاب علیه الرحمة د دویم ځوي نوم حضرت صاحبزاده عبدالرحمان وو. چه د علاقه هشنغر په موضع تنګی کښې اوسیده او د هغري فرزند ارجمند صاحبزاده خلیل ارحمان هم په موضع تنګي کښې آباد دے. د اوخت ژوندے دے.

(د) حضرت عبدالقیوم علیه الرحمة

د مولانا شیخ عبدالوهاب علیه الرحمة د څلورم ځوي نوم حضرت صاحبزاده عبدالقیوم وو. چه د خپل والد ماجد نه یئے په سلسله عالیه قادریه کښې بیعت کړے وو. ماذون او خلیفه وو. د کمال درجه ورته حاصله وه. او په سپنخړو کښې اوسیده. او د خپل والد ماجد دغه دوئمه ګدئي په دوئ باندے د روحاني فیوضاتو مرکز وو. ډیر نیک او د ساده طبعیت لرونکي شریف النفس انسان وو. د کشف او کرامت مرتبه ورته حاصله وه لیکن د هغے اظهار به یئے نه خوښولو. د دوئ اولا د نن ورځے په سپنخړو کښې آباد دے. علیه الرحمة والغفران.

ما زونان او خلیفه ګان

د حضرت مولانا شیخ عبدالوهاب د مریدانو او ما ذونانو شماره د حد نه وتلے ده. البته یو کم دیرش یئے داسے مشهور مریدان او خلیفه ګان تیر شوي دي. چه روستو بیا د هغه هر یو نه د خداي پاک بے شمیره مخلوق ته فیض رسیدلے دے. او په تول ملک کښې هم د هغوئ په برکت به د ذکر جهر په طریقه سره دا آواز تر غوږه کیده چه:

لا اله الا الله محمد رسول الله

دلته د صاحب مبارک د دغه مشهورو او نامورو خلیفه ګانو فقط نومونه د تبرک په طور لیکے شي. د دے نه به واضحه شي. چه د پیر صاحب د مانکي شریف په برکت څومره عظیم الشان "روحاني تړون" د ملک د یو سر نه تر بل سر پورے په وجود کښې راغلے وو. او د دے مبارکے سلسلے دا ټول مشاهیر بزرګان د پاک خدائ هغه غوره بندګان وو. چه ټول عمر ئي د اسلام او مسلمانانو خذمتونه کړي وو. او نن که په دے ملک کښې د اسلام رنړا موجود ده.ا و د اسلام د احکامو کوم قدر. عزت او احترام موجود دے تقوی او دینداري موجوده ده. د روند پاکیزه لباس سوچه شرعي ږیرے. د شریعت پابندي. د نمونځ پابندي ذکر ازاکار او پاکیزه ګی موجوده ده. نو دا د دے نیکانو پاکیزه وؤ او پرهیز ګارانو بزرګانو د هدایت او اراشاد برکات دي. د یو څو مشاهیرو خلیفه ګانو نومونه یئے دا دي.

(۱) صاحبزاده عبدالحق المعروف په ثاني صاحب چه مخکښې یئے تذکره درج شوه او د صاحب ځوي وو.

(۲) صاحبزاده عبدالقویم چه د صاحب مبارک کشرے ځوي وو.(مخکښے یئے تذکره درج شوے ده)

(۳) د خویشکي بالا صاحبزاده صاحب چه د کوهاټ د حاجي بهادر نمسے وو علیه الرحمة

(۴) د اچينی (ضلع پيښور) ملا صاحب عليه الرحمة

(۵) حافظ عبدالرحيم المعروف د سورنے بابا جي صاحب عليه الرحمة

(۶) مولانا محمد حسن المعروف په چغرزو ملا صاحب د قطب ګړهـ عليه الرحمة

(۷) مولانا جنت شاه صاحب د قبائيلي علاقے باجوړ د موضع دوزخ شاه اوسيدونکے وو. عليه الرحمة

(۸) د چترال (قاشقار) حاجي صاحب عليه الرحمة

(۹) مولانا محمد اعظم صاحب د موضع سوراني بنو عليه الرحمة

(۱۰) مولانا صاحب د مروت چه د ضلع بنو د موضع ککي اوسيدونکے وو. عليه الرحمه.

(۱۱) شاه صاحب د موضع غوريواله، ضلع بنو. عليه الرحمة.

(۱۲) د کاکړو ميا صاحب (د مملکت افغانستان اوسيدونکے وو.) عليه ارلحمة

(۱۳) حضرت کابل ملا صاحب، دوئ دوه رونړه وو. چه په هغوئ کښې مشر

رور ماذون وو. او د ضلع پیښور په موضع "هند کو د امان" کښې اوسیده. او بیا د باباجي صاحب د وفات نه روستو خپل ملک افغانستان ته تلے وو. علیه الرحمة.

(۱۴) حضرت مولانا تاج الدین صاحب د لاهور (سابق پنجاب) علیه الرحمة.

(۱۵) مولانا حیدر آبادي چه په حیدر آباد دکن کښې اوسیده. علیه الرحمة.

(۱۶) مولانا صاحب د مټه مغل خیل (چه د باباجي صاحب په ژوند وفات شوے وو.) علیه الرحمة.

(۱۷) حضرت مولانا عبدالحنان صاحب المعروف په یار حسین باباجي صاحب د ضلع مردان د موضع یار حسین او سیدونکے وو. د ډیر لوئ عمر خاوند وو. د بابا جي صاحب د سوات مرید وو. او بیا د حضرت مانکي صاحب ته یئے تجدید د بیعت کړے وو. په ۱۹۴۰ء کښې وفات شوے دے. علیه الرحمة.

(۱۸) حضرت تیراه ملا صاحب چه په موضع کوهدامن علاقه اضاخیل کښې اوسیده علیه الرحمة.

(۱۹) حضرت شلمان ملا صاحب (د علاقه خیبر ایجنسی) چه نن ورځے د هغه فرزند ارجمند حضرت حاجي گل صاحب یئے سجاده نشین دے. او د فیوضاتو سلسله یئے جاري ساتلے ده.

علیهم الرحمة والغفران.

حضرت علامه محمد اسرائیل شهید علیه الرحمة

ولادت .... طورو (مردان) ۱۲۷۳هـ

وفات................................... ... کوکیاني (افغانستان) ۱۳۳۴هـ

حضرت مولانا الفاضل والعارف الکامل زبدة المحققین قدوة العارفین سید محمد اسرائیل ابن اخوند حفیظ الله ابن اخوند معظم شاه ابن اخوند سید محد ابن اخوند ولي محمد ابن اخوند محمد یوسف ابن اخوند محمد یونس الملقب په نور محمد پشاوري علیهم الرحمة. په قام ګیلاني سید وو. د علماء دوزګر سرخیل وو. د خپلے زمانے په مدرسانو عالمانو کښې عظیم الشانه مرتبه یئے لرله. بے مثله مشهور خطیب. واعظ. مبلغ. بدیهه ګومناظر. فقهه. اصولي. متکلم. محدث او مفسروو. د علم ادب ا ومحاضره په قواعدو پوهه بلیغ او بدیح نکته سنج ذهن او فکر یئے لرلو.په بیان کښې یئے نمکینی او شیرینی وه. بارعبه او پروقاره شخصیت یئے لرلو. بزرګ د زمانے

او عارف رباني وو. چه په مغربي پاکستان او افغانستان دواړو ملکونو کښې د خدائے پاک بے شمیره مخلوق ته ترینه فیض رسیدلے دے.

حضرت مولانا محمد اسرائیل په ۱۲۸۳هـ (قمري) مطابق ۱۲۳۵هـ (شمسی) مطابق ۱۸۵۷ء په موضع طورو (المعروف په طور و شهات پور، او طورو معیار)علاقه یوسفزائے (ضلع مردان) کښې په محله اخون خیل کښې د حضرت مولانا سید اخوند حفیظ الله علیه الرحمة په کور کښې پیدا شوے وو[443]. د دوئ د ولادت په وخت کښې حضرت مولانا فیضي د موضع شل بانډۍ علاقه بونیر چه په "مجذوب بونیري" مشهور وو. تقوی دار عالم او مستجاب الد عوات بزرگ وو. او د موضع طورو د حضرت مولانا اخوند احمدین المعروف په ذکري[444] میا صاحب ابن سید صلاح الدین[445] نه یئے په سلسله عالیه چشتیه صابریه کښې خرقه د خلافت حاصله کړے وه. په دغه موقع د حضرت مولانا اخوند حفیظ الله میلمه وو. دا مولود مسعود یئے د هغوئ په خذمت کښې پیش کړ. حضرت مولانا فیضي ورته په غوږ کښې اذان اووئیلو. دعا یئے اورکړله. چه خدائ د دے ماشوم له عمر. علم او برکت ورکړي.

---

[443] تذکرۀ جمیل" تالیف د مولانا عبدالجمید مرحوم. او مکتوب د حجرت محمد امین کوګیاني.

[444] د حضرات اخوند احمدین المعروف ذکري میاڼ صاحب مزار په اکبر پوره کښې د خپل نیکه حضرت اخون پنجو بابا د مزار په احاطه کښې دے.

[445] د حضرت میا صلاح الدین مزار مبارک په حمزه کوټ ضلع مردان کښې دے. او د ده د څوي میا محمد حسن مزار په موضع طورو کښې دے. (اثر)

او بیا یئے په ده باندے محمد اسرائیل نوم کیښوده.

معنوي حسن

د دوئ په دے نوم "محمد اسرائیل" کښې چه معنوي حسن دے. هغے ته اشاره کوؤل مناسب معلومیږي.

(۱) یوه وجه یئے دا ده. چه په دے نوم باندے د دے نه وړاندے په پښتونخوا کښې بل څوک عالم یا بزرګ نه دے تیر شوے. او د دوئ نه روستو دا نوم عام شوے دے.

(۲) بله دا چه دے د خپل والد ماجد دریم ځوي وو. د ده نه مشر حضرت علامه محمد اسماعیل وو. چه څلور کاله وړاندے په۱۲۶۷ هجری قمري کښې پیدا شوے وو. او د هغه نه مشر او اولنے ځوي حضرت مولانا الفاضل والشیخ الکامل محمد اسحاق وو. چه د ده نه شپاړش کاله وړاندے په ۱۲۵۷هـ کښې پیدا شوے وو. یعنے د ده د دوه مشرانو رونړو نومونه وو. اسحاق. اسماعیل "مجذوب بنیري" چه د ده نوم اسرائیل (یعقوب) کیښوده نو دا په حقیقت کښے د دے آیت شریف نه معنوي فیضان حاصلولو ته اشاره وه. آیت دے. و وهبنا له اسماعیل و اسحاق و

يعقوب نا فله ؒ او دا د خدائ لويه مهرباني وه. چه د دغه نيکانو بزر ګانو دعا قبوله شوه. او مولانا محمد اسرائيل ته عمر علم. او برکت درے واره حاصل شول. او د خدائي بے شميره مخلوق د دوئ د علمي او روحاني فيوضاتو څنے حصه او موندله.

فصاحت

په ورکوټي والي کښې به يئے ژبه نختله. څه زمانه پس حضرت مولانا فيضي بيا طورو ته تشريف راوړے وو. ماشومانو لوبے کوؤلے. حضرت مجذوب بنيري تپوس او کړ چه محمد اسرئيل کوم يو دے. حضرت مولانا حافظ سيد اخوند حفيظ الله ورته عرض اوکړ چه محمد اسرائيل دا دے ليکن ژبه يئے نخلي. حضرت مولانا فيضي او فرمائيل چه دا خو "طوطي شکر زبان" دے. د "مجذوب بنيري" دغه وينا خدائي رشتيا کړه. ژبه يئے خلاصه شوه. په بيان کښې يئے رواني راغله. په خبرو کښې يئے فصاحت پيدا شه. په ورکوټي والي او طالب علمي کښې دومره خوږ ژبے او فصيح بليغ بيان يئے وو. چه استاذانو او خپلو خپلوانو به يئے په يوه يوه خبره آفرين وئيلو. او رښتيا په" وئيلے شو. تر دے حده چه دا نوم بيا روستو د دوئ لقب شه. او په طوطي لالا"طوطي ماما" او "طوطي کاکا" نومونو به ياديدلو. او بيا چه کله عالم. خطيب. مبلغ او واعظ شه. نو د دوئ د بيان خوږوالي به د آوريدونکو په زړونو

داسے اثر کولو چه د هغے بیان نه شي کیدلے.

القاب

حضرت مولانا محمد اسرائیل ډیر خوبصورته خوش شکله. خوش پوش او خوش گفتار انسان وو. ذهني ذکاوت علمي فضیلت. تقوي. شجاعت و سخاوت یئے لرلو. طورو چه په وادئ پیښور کښې دویم بخارایا دیدلو. د دوئ په برکت یئے په توله پښتونخواه کښې نور زیات شهرت بیان مونده. د سلسله عالیه قادریه د مشائیخو تولو خاندانونو لکه اخوند صاحب د سوات اخون زاده صاحب د هډے. اخند زاده صاحب د سپړئ. اخندزاده صاحب د اورکزاے تیره اخندزاده صاحب د کربوغه او د هغوئ عقیدتمندانو به مولانا محمد اسرائیل ته "اخندزاده صاحب د طورو" وئیلو او خپل صاحب حق او داستاد څوئ به ئي گنړلو. د سوات. بنیر. بابا او کوتهی عوامو به ورته "قاضي صاحب د طورو" وئیلو. او د تیراه خلقو به ورته "د طورو میا صاحب" وئیلو او د ننګر هار خلقو به ورته" مولانا د پیښور" وئیلو.

استعداد عالي

د فکر او ذهن په لحاظ سره چه کوم استعداد عالي ورله خدائي پاک ورکړے وو. د هغے یو ثبوت دا دے. چه د دولس کاله عمر نه تر شل کاله عمر پورے د اته کالو په زمانه کښې یئے په ټولو مروجه علمونو

کښې علمي تبحر او درسي خصوصیت پیدا کړے وو. د علوم عقیله. علوم نقلیه او علوم وجدانیه چه هر څومره فنون او کتابونه دي. هغے کښې درجه د کمال یئے حاصله کړے وه. درس او تدریس یئے شروع کړے وو.

په هغه زمانه د علم حاصلولو طریقه ډیره د محنت او مشقت وه. لکه د نن ورځے د چاپ شوؤ کتابونو زمانه نه وه. بلکه د یوے یوے قلمي نسخے په لاس راوړلو د پاره به طالب علم سرګردانه وو. او د تعلیمي سامان پیدا کولو د پاره به پریشان وو. د بیل بیل علم. فن او کتاب کښې درس لوستلے شه. د هر یو علم. فن او کتاب ځان له ځان له متخصص او محقق عالمان به وو. یو په یوه علاقه. غرا و وطن کښې او بل په بله علاقه او وطن کښې. د مثال په طور که صرف میر به یئے په الی لنډی نومے کلے کښې اووئیلو نو د ذرادي وئیلو له به لا لا کالا ته تللو د کانئي د پاره به ایلئ ته ورغے نو د سلم د پاره به کندیاته تللو. طالب عالمان به کلي په کلي در په در. په سمه په غر روان وو. د عمرلویه حصه به یئے د یو کتاب یو فن یا یو څو کتابونو په تحصیل کښې تیر کړل. او چه په ډیره کښې به یئې سپین ویښته اولګیدل نو دے به هم چرته کښیناست او د دیو مخصوص کتاب. علم یا فن درس ورکولو به یئے شروع کړل. اکثر به یئے داسے اوکړل چه د خپل استاز د کلي خوا ته نزدے به یئے په درس شروع اوکړه. د پاره د دے چه په کومه مسئله کښې ورته مشکل پیښ شي نو چه اول د خپل استاذ نه

خان پوهه کړه او بیا پس له هغې خپل شاګرد ته هغه مسئله اوښائي.

فیضي

په داسې حالاتو کښې چه مولانا محمد اسرائیل د شل کالو په عمر کښې فارغ التحصیل شوې او په درس او تدریس یئې شروع کړې وه. دا ډیره لویه خبره وه. د دې نمونې دفکر او ذهن یو طالب علم چه به په هغه زمانه پیدا شه هغه ته به "فیضي" وئیلې شه. او دا به ګنړلې شوه چه دا د خوارئ او محنت خبره نه ده. بلکه الهی فیض دې. چه چاته حاصل شي. د مولانا محمد اسرائیل اکثر استاذانو به دا خبره کوؤله. چه د درس په وخت کښې چه دا شاګرد کتاب اوغوړوي او په سوال جواب ګوتې پورې کړي. نو ډیرې علمی نکتې داسې وي. چه هغه د ده نه مونږه زده کړو. دومره صاف ذهن خدائ ورکړې دې. چه د هغې په آئینه کښې ځمونږ مشکلات هم حل شي. د د ې خبرې ثبوت دا دې چه هر کله د دولس کالو په عمر کښې مولانا محمد اسرائیل د علم نحو کتاب کافیه خلاصه کړه او شرح جامي یئې شروع کړ. نو ورسره ورسرهٔ یئې نورو طالب علمانو ته د کافیئې درس ورکؤل هم شروع کړې وو. او بیا روستو دغه د دوئ عام دستور شه. د هر یو علم او فن کوم کتاب چه به یئې خلاص کړ. نو ورسره ورسره به یئې د هغې کتاب درس کؤلولو. د دې غونې په شاګردانو کښې چه د دوئ نه یئې د طالب علمئ په زمانه کښې درس لوستلې وو. یو

شاګرد د موضع اتمانزاۍ علاقه هشنغر وو. بل مولانا بابو خان وو. چه په اصل د ننګرهار (افغانستان) د علاقه خوږياني اوسيدونکے وو. او په قام باندے د موضع سنځلئ دا خون سرور صاحب عليه الرحمة له اولاد ځنے وو. چه تر آخره عمره پورے د دے خپل نامور استاذنه جدا شوے نه وو. او ټول عمر يئے د دوئ په خذمت کښې تير کړ.

مشاهير استاذان

طورو په هغه زمانه په علمي لحاظ سره "دويم بخارا" وو. څومره مشاهير عالمانه چه په دغه زمانه په طورو کښې وو. د هغے مثال نه پيدا کيږي. په دغه زمانه په طورو کښې د سلسله عاليه قادريه. نقشبنديه او چشتيه د دے وارو سلسلو مشاهير بزرګان عالمان موجود وو. چه اکثر پکښې په قام سيدان وو. په دے خاندانونو کښې د مولانا محمد اسرائيل د پلرونو نيکونو خاندان د علم او عرفان کورنئ وه. د دوي د مروج علمونو ابتدائي کتابونه د خپل والد ماجد حضرت مولانا سيد اخوند حافظ حفيظ الله عليه الرحمة نه حاصل کړی وو. او د خپلو ترونو لکه مولانا حميد الله مولانا فيض الله. مولانا محمد غلام. مولانا بهاء الدين نه حاصل کړے وو. او خپلے والدے ماجدے يئے په دغه تعليم او تربيت کښې پوره حصه اخيستے وه. د دغے نه علاوه د دوئ د نورو استاذانو نومونه دا دي.

(۱) حافظ مدد صاحب بنير مقيم د طورو. چه د مولانا محمد اسرائيل د والد ماجد مولانا حفيظ الله او د هغه د ورونړو نورو ځامنو او وريرونو هم استاذ وو.

(۲) مولانا صاحب د خاوؤ (نوم يئے نه دے معلوم البته د ځوئ يئے دعبالمجيد نوم وو)

(۳) ميا صاحب دغله ډهير چه د مولانا ميا شهزاده مشر رور وو.

(۴) ميا جي عبدالرشيد د طورو (چه د خط استاذ يئے وو)

(۵) جناب عالمه د هر خان مير عالم خان بن عنايت خان بن بهادر خان د طورو چه د درسی ژبو علم ادب او د ژوند او ستاژببو قواعد او د جديد مغربي علمونو تعليم يئے د هغوئ نه کړے وو.

(۶) قاضي نور سيد صاحب د طورو (چه د هغه د ځوي نوم عبدالقويم وو.) دشرح جامي حصه يئے د دوي نه لوستلے وو.

(۷) مولانا عصمت الله صاحب د معيار (مردان)

(۸) مولانا صاحب د موضع د هوبيان (مردان)

(۹) مولانا محمد نور ابن مولانا سيد نور د تيرائي بالا (بالا علاقه داؤد زائے ضلع پېښور)

(۱۰) حضرت مولانا سيد اکبر شاه ابن مولانا سيد مهر علي شاه ګيلاني کوهاټي. چه د علم طب او دو اسازئ علم يئے د دوئ نه حاصل کړے وو.

(۱۱) مولانا سيد احمد (سيد محمد) صاحب د اتمانزايے علاقه (هشنغر) المعروف په مولانا صاحب د کافور ډهيري. چه د علم فقهه کتابونه يئے د دوئ سره لوستلي وو.

(۱۲) مولانا حسن الدين صاحب المعروف په ګل بابا و "بزرګ ملا صاحب، د موضع رجړ (علاقه هشنغر) چه د علم تفسير او اصول فقهه کتابونه لکه تفسير بيضاوي او تلويح يئے ترينه لوستلي وو.

(۱۳) قاضي حسان الدين صاحب او قاضي سيد احمد صاحب د کوهاټ ښهر چه د دوئ نه يئے د علم فقهه اصول فقهه کتابونه لوستلي وو.

(۱۴) علامه قاضي محمد غلام د کړوئ (اکبر پوره ضلع پېښور) چه د شافيه تلخيص. مختصر المعاني او مطول استاذ يئے وو.

(۱۵) مولانا صاحب د سکندر پور (علاقه چچ هزاره چه د علم عروض. قواني کتابونه یئے ترینه وئیلي وو)

(۱۶) مولانا بادشاه ګل صاحب (د موضع دامان علاقه چچ هزاره) چه د علم طبعیات کتابونه لیکه د میر زاهد حاشیه. شرح تهذیب. قطیبه امور عامه یئے ترینه لوستلي وو.

(۱۷) مولانا محمد ابراهیم صاحب د موضع راجړ مند وال (علاقه حسن ابدال ضلع کیمبل پور.)

(۱۸) مولانا ګل زمان صاحب د موضع کاګه کس (علاقه جندول باجوړ) چه د علم منطق او حکمت کتابونه یئے ترینه لوستلي وو.

(۱۹) مولانا فضل احد صاحب د موضع هنډ المشهور په حکمتي ملا صاحب چه د علم هیئیت. ریاض او میراث کتابونه یئے ترینه لوستلي وو.

شخصیت او شجره نسب

لکه چه مخکښې ورته اشاره شوې وه د دوبئ د نسب شجره په اووم پشت کښې حضرت اخوند محمد یونس المعروف په نور محمد پشاوري ته رسیږي او د هغوئ په واسطه سره دا مبارکه شجره په اولسم پشت کښې حضرت غوث الاعظم میران محي الدین عبدالقادر

ګیلاني قدس سره ته رسیږي. او د علم او عرفان د دے مبارک خاندان له برکت د مغربي پاکستان او افغانستان په زمکه د شریعت او طریقت د علمونو فیوضات خواره شوي وو. او د تیرو شوو سوؤ نو کولونو راسے دا علاقه د دوئ په انوارو روښانه وه. په دے لحاظ دا خاندان استاذ کل خاندان وو. د دے علاقے اکثر ګردان وو. په دے اعبتار حضرت مولانا محمد اسرائیل به هم د "استاذ ګل" په نامه یادیدلو. عزت او احترام به یئے کیدلو. چنانچه حضرت میا ضیاء معصوم صاحب د چارباغ (افغانستان) چه پخپله هم مدقق صوفي او مرتاض محقق وو. فرمائیل به یئے. چه حضرت مولانا محمد اسرائیل له خدائ پاک یو محبوب ترین شخصیت ورکړے دے. د سیدانو سره سید دے. د خانانو سره خان. د سردارانو سره سردار. د مشائیخو سره شیخ. د صاحبزادګانو سره صاحبزاده. او د عالمانو سره عالم دے. ډیر زیات صفتونه خدائ پاک ورکړي دي. لیکن په تولو صفتونو کښې د علم صفت یئے ډیر زیات خوښ دے. ځکه چه ما به ورته "عالم" وئیلو. او د دے یوه وجه دا هم وه چه زۀ پخپله څه داسے بل نوم یا لقب نه بیا مومم چه د دوئ ټول تعرفیونه او صفتونه په هغے لفظ سره بیان کړلے شم. په دے وجه زۀ ورته "عالم" وایم داسے عالم چه پخپله علم پرے فخر کوي. داسے عالم چه یو طالب علم ورته کوم کتاب کیږدي. که هغه د هر علم او هنر کتاب چه وي. دے د هغے د مطالبو بیان او تشریح

داسے کوي. لکه چه دغه کتاب ده پخپله جوړ کړے وي. داسے عالم چه د فصاحت او بلاعت مثال يئے نه پيدا کيږي.

حضرت ميا ضياء معصوم به فرمائيل مولانا محمد اسرائيل يو داسے عالم دے. چه د نورو معاصرو عالمانو په شان په دنيا کارنه لري. بلکه پخپله نورو خلقو ته بخششونه ورکوي. سخاکوي. او د شجاعت او سخاوت نه کار اخلي. او اکثر عالمان يئے د دنيا د غم نه بے غمه کړي دي. ځما ډير مريدان دي. ډير سالکان م ليدلي دي. زۀ په هيڅ يو نامدار شيخ پسے نه يم زهير شوے. چه ارمان دے داسړے ځما مريد شوے وے. ليکن د مولانا محمد اسرائيل مبارک وجود داسے دے. چه ځما په زړۀ کښې دا ارمان څوڅو ځله ګرځيدلے دے. چه اے کاش! دے ځما مريد شوے وے. ليکن دے دومره خود دار وو. چه ما د دے خپل خواهش اظهار کله هم د دوئ په مخکښې نه شو کوؤلے.

(۲) حضرت قطب دوران مولانا محمد نجم الدين اخوند زاده صاحب د هډے به فرمائيل:

"اخوندزاده صاحبه خدايے پاک دے تا ځمانه وانخلي. نور خلق چه ماله راشي. نو زۀ د هغوئ اصلاح کوؤم. او ته چه راشے نو ځما اصلاح کويے. د هډے صاحب به د

ډيرے ميڼے نه راپورته
شه. مولانا محمد
اسرائيل به په خله او
سترګو کښل کړ او دعا
به يئے ورته کوؤله.

د مولانا محمد اسرائيل چه نور هر
ځومره مشاهير استاذان وو. ټول به يئے
دغه شان عزت او احترام کؤلو. او په هغة
زمانه چه هر ځومره عالمان، سادات فقيران
او مشائيخ يا سرداران او مشائيخ يا
سرداران او اميران وو. هغوئ ټولو به د
دوئ د اوچتے علمي او عرفاني مرتبے قدر
او عزت کولو. د دوئ وجود مبارک د منبر
او محراب زينت وو. په علمی درسګاهونو او
عرفاني خانقاهونو او د بادشاهانو په
ايوانونو کښې د دوئ د مبارک شخصيت په
وجه به په زيب او زينت کښې يوه عجيبه
ښکلا په نظر راتلله.

طريقت

د مولانا محمد اسرائيل په خاندان کښې
سلسله قادريه د خپل مورث اعلى حضرت شيخ
المشائيخ ميران محى الدين عبدالقادر
جيلاني قدس سره نه او سلسله چشتيه صابريه
د دويم مورث اعلى حضرت اخوند محمد يونس
پاتے اورارسيدلے وے. د مولانا محمد
اسرائيل خپل سکه نيکه حضرت مولانا حافظ
اخوند محمد معظم شاه عليه الرحمة په
سلسله قادريه جنيديه کښې د حضرت اخوند
حافظ محمد صديق د بشونړئ خليفه وو. په

دغه مناسبت سره د سلسله قادريه جنيديه د مشهور بزرگ حضرت اخوند حافظ عبدالغفور بابا جي صاحب د سوات سره يئے په دغه مناسبت خصوصي تعلق لرلو. او هم په دغه مناسبت سره حضرت مولانا محمد اسرائيل د اخوند صاحب د سوات او د هغوئ د درے مريدانو او نامور خليفه گانو (۱) حضرت اخوند زاده نجم الدين صاحب د هډے.

(۲) حضرت شيخ ولي الله صاحب د مامو زاے تيره (اورکزاے)

(۳) او حضرت شيخ محمد عمر شاه صاحب د کربوغه شريف (کوهاټ)

څلورو وارونه خرقه د خلافت حاصله کړے وه. او په سلسله عاليه نقشبنديه کښې په روښاني طرقه سره د حضرت صاحب د چارباغ نه يئے هم فيض موندلے وو. د علم او عرفان او سلوک د دے اوچت منصب په وجه لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه د دوئ په خبرو کښې خوږ والے وو. تاثير وو. په بيان کښې يئې فصاخت او بلاغت وو. زور وو. قوت او استدلال وو. په دنياوي لحاظ سره شوکت او اقتدار ورته حاصل وو. شجاعت او سخاوت او ديني غيرت يئے لرلو. په لوي خدائ باندے يئے توکل وو. سره د دے چه دنياوي او علمي مشاغل يئے لرل. د عوامو او خواصو سره يئے تعلق وو. د دوئ په رياضت. جذب او سلوک کښې فرقه نه راتللو. د دوئ نيک تعريفونه مختصراً دا وو.

(۱) سخاوت په عالم او مال دوا‌ړو سره.

(۲) خدمت د مخلوق د خدائ په هره امکاني جائزه طريقه سره.

(۳) د اسلامي محبت. د کفارو. فاسقانو او نورو بد خواهانو د اسلام د شر نه د اسلام مدافعت کوؤل. او په دے لاره کښې جاني او مالي. قولي او فعلي جهادونه کوؤل.

والده ماجده

د دوئ والده ماجده حضرت نيک بي بي عليها الرحمة د ملک بډا خان ابن خان عبدالکريم خان لور بي بي وه. په ضلع کيمبل پور تحصيل فتح جنګ علاقه مندوال کښې چه د رجړ قبيلے کوم خلق آباد دي. او د تپه رجړ (ضلع مردان) نه هلته تلي او آباد شوي دي. بډا خان په علاقه منډوال کښې د دغه رجړ قبيلے د خلقو مقامي قبايلي سردار وو. او د علم او عرفان او قومي سر دارئ خاندان وو. پخپله بډا خان په قوم رجړ نه وو. بلکه خپله شجره يئے د بلخ د کياني بادشاهانو خاندان ته رسوؤله.

اولاد

مولانا محمد اسرائيل دوه ودونه کړي وو. يوه بي بي يئے د موضع طورو په قام

باندے صدیق خیله یوسفزایۍ وه. د هغے نه یو ځوي محمد حسن الدین او دوه لونړه[446] ترینه شوے وے. (۲) دویمه بي بي یئے په قام خوګیانړئ وه. د هغے نه یئے درے ځامن شوي وو. محمد امین محمد انس. محمد شریف. چه په دوئ کښې حضرت مولانا محمد امین په محمد امین کوګیاني نامه مشهور دے. او په موجوده دور کښې د افغانستان په حکومتي. علمي. ادبي ممتازو شخصیتونو کښې د ډیر ممتاز علمي. ادبي تاریخي او حکومتي شخصیت خاوند دے.

هجرت

په ۱۲۹۵هـ مطابق ۱۸۷۷ء کښے د حضرت مولانا شیخ المشائیخ اخوند حافظ عبدالغفور بابا جي صاحب د وفات نه روستو چه د انګریزانو په استعمال کښې نور هم زیاتوالے راغے نو د عالمانو یوه ډله د وادئ پیښور نه د جهاد په غرض کابل ته په کډه لاړله. د پاره د دے چه د حضرت قطب دوران محمد نجم الدین اخند زاده صاحب المعروف په هډے ملا صاحب د بیرغ لاندے د دین اسلام د سرلوړئ د پاره جهادونه اوکړی. په دغه عالمانو کښې یو نامور

---

[446] په دے دواړه لونړو کلي مشره بي بي یئے د حافظ محمد ادریس شهید د طورو والده ماجده وه. حافظ محمد ادریس چه ځما عبدالحلیم اثر د سبق ملګرے وو. او ځما په دے کتاب"روحاني تړون" یئے تقریظ لیکلے دے. د پشاور یونیورسټي د شعبه عربي صدر وو. او په ۲۰. مئ ۱۹۲۵ء مطابق ۱۸. محرم ۱۳۸۵هـ په مقام د قاهره مصر په یوه هوائي حادثه کښې شهید شویدے. او د دوئیمے لور بي بي یئے یو ځوي دے عبدالحق نوم یئے دے. په طورو کښې اوسیږي.

عالم حضرت مولانا حافظ اخون[447] سید محمد اسرائیل ګیلاني د طورو هم وو. چه د حضرت هډے صاحب مازون او خلیفه وو. حضرت مولانا محمد اسرائیل چه افغانستان ته په ۱۲۹۵هـ کښې په کډه لاړ. نو د حضرت هډے صاحب سره د نزدے اوسیدلو په غرض یئے د ننګر هار په خوږ یاني نومے علاقه کښے واده اوکړ. هلته آباد شه. او هم هلته، په شپه د سه شنبه ماه جمادي الثاني ۱۳۳۴هـ کښې د یو شپیته کالو په عمر کښې شهید کړلے شه. مجاهد عالم وو. درجه د شهادت یئے بیا موند. مرزا مبارک یئے په علاقه خوګیاني کښې دے. د انوارارو او فیو ضاتو مرکز دے. علیه الرحمه والغفران.

---

[447] دلته دا یاد لرل پکار دي چه د مولانا محمد اسرائیل د خاندان د تولو مشاهیرو عالمانو او مشائخو کوم چه د شیخ اخوند محمد یونس خاوؤ بابا نه راپه ښکته تیر شوي دي. د هغوئ د نومونو سره لفظ "اخوند" لیکلے شي. او د حضرت شیخ اخوند محمد یونس علیه الرحمة نه چه په پورته کوم نیکونه دي. د ةغوئ د نومونو سره لفظ "سید" لیکلے شي. لفظ اخوند په معنی د "صوفي عالم" سره د بلخ او بخارا د عالمانو یو اصطلاحي لفظ دے. چه په خصوصیت سره په وادئ پیښور او پیښتونخوا کښې یئے ډیر زیات رواج موندلے دے. (اثر)

حضرت مولانا خواجه سید مهر علي شاه علیه الرحمة

ولادت .... ګولړه شریف ۱۲۷۴هـ

وفات.................................. ګولړه شریف ۱۳۵۶هـ

د سابق صوبه پنجاب په علاقه کښې کومو مشاهیرو عالمانو او مشائیخو چه د دین اسلام او د علم دین د ترویج او اشاعت د پاره عملي کوششونه کړي دي. په هغوئ کښې حضرت مولانا خواجه سید مهر علي شاه ګیلاني. قادري. چشی علیه الرحمة د ډیرے اوچتے علمي او عرفاني مرتبے خاوند دے. او لوئ تعریف یئے دا وو. چه د دے پخپله یو بلند پایه عالم وو. او د اسلام نه علاوه د نورو مذهبونو نه هم واقفیت ورته حاصل وو. بل لوئ تعریف یئے دا وو. چه پخپله هم په ډیره کلکه سره د شریعت اسلام د ټولو احکاما پابند وو. او نورو خلوق ته په یئے هم د شریعت د احکامو د پابندئ او پیروئ کولو ډیر په تاکید سره تلقین کولو. د دوئ د ملفوظاتو په مجموعه کتاب کښې د سنت نبوي صلي الله علیه وسلم د

تابعدارئ او پیروئ کولو د پاره چه کوم هدایات او اراشادات درج دي. هغه یو ډیر زرین درس دے. دوئ به فرمائیل چه د مسلمانان د پاره د شریعت نبوي د اتباع نه علاوه د مخزن کولو بل هیڅ څیز نه شي کیدلے[448].

حضرت خواجه سید مهر علي شاه قدس سره په تاریخ رمضان المبارک ۱۲۷۴هـ کښې پیدا شوے وو. د نسب سلسله یئے په پنځو یشتم پشت کښې حضرت شیخ میران محي الدین عبدالقادر جیلاني قدس سره ته رسیږي. شجره یئے دا ده[449]:

سید مهر علي شاه بن سید نذر الدین بن سید پیر غلام شاه بن سید پیرروشن دین. بن سید عبدالرحمان بن سید عنایت الله بن سید عنایت علي بن سید فتح الله بن سید اسد الله بن سید فخر الدین بن سید احسان بن سید درگاهي. بن سید جمال علي بن سید محمد جمال بن سید ابي محمد بن میران سید محمد کلان بن میران شاه قادر بن السید ابي الحسنات بن السید تاج الدین بن السید بهاؤ الدین بن السید جلال الدین بن سید داؤد بن سید علي بن سید ابي صالح نصر بن السید عبدالرزاق بن الشیخ السید عبدلاقادر محي الدین الجیلاني بغداري الحسني الحسیني رضي الله عنه.

448 ملفوظات شیخ صفحه نمبر ۱۴۴
449 انوار الا صفیاء صفحه نمبر ۶۰۴

د حضرت خواجه سید مهر علي شاه نیا بي بي علیها الرحمة د حضرت سید جلال الدین الحسین بخاري المعروف مخدوم جهانیان جهان ګشت له اولاد څنې وه. د دوئ په نیکونو کښې حضرت سید درګاهي المعروف په شاه قمبض (یا کمبض) علیه الرحمة هندوستان ته تشریف راوړے وو. او د حضرت شیخ عبدالقدوس ګنګوهي (متوفي ۹۴۵هـ) سره یئے ملاقات شوے وو. وئیلے شي چه حضرت شیخ عبدلاقدوس ګنګوهي چه څه وخت د حضرت سید کمبض المعروف سید درګاهي د راتللونه خبر شه. نو پخپله روان شه او د هغوئ د هر کلي د پاره د هندوستان او ایران ترسره حده پورے لاړلو. او د هغوئ استقبال یئے اوکړ.

حضرت سید درګاهي علیه الرحمة ټول عمر د هندوستان په موضع "ساڈهورا" یا "ساندهورا" علاقه سهارنپور کښے تیر کړ. هلته وفات شه او هم هلته یئے مزار مبارک جوړ کړلے شه. روستو د دوئ دوه څامن پاتے شوي وو. هغوئ ګولړه نه تشریف راوړ. دلته آباد شول. په دوئ کښې یو زوړ واده نه وو کړے. او د دویم زوړ حضرت سید احسان علیه الرحمة نه د نسبت سلسله باقي پاتے شوے ده. تر اوسه پورے چلیږي. حضرت خواجه سید مهر علي شاه د دغه حضرت سید احسان علیه الرحمة په اولاد کښې دے. د دوئ ابتدائي تربیت د خپل والد ماجد د سوري لاندي شوے وو. او هغوي ورله په ډیر محنت سره ابتدائي تعلیم ورکړے وو. چونکه ډیر ذهین وو. په دغه وجه د ورکوټي والي په عمر

کښې د علوم ظاهري د تحصیل نه فارغه شوے وو. او درس تدریس یئے شروع کړے وو. په دغه منځ کښې د حجاز سفر یئے هم کړے وو. په حرمین شریفین کښې د حضرت حاجي امداد الله مکي د صحبت شرف ورته حاصل شوے وو. داسے وئیلے شي چه حضرت مولانا حاجي امداد الله مهاجر مکي ورته مشوره ورکړے وه. چه واپس هندوستان ته لاړشه. ځکه چه هلته یوه فتنه[450] را پورته کیدونکے ده.

روحاني پس منظر:

واقعات دا دي چه په هندوستان کښې د مغلیه حکومت په زمانه کښې تصوف ته بیا عروج حاصل شوے وو. او د دوي صدیو تیریدلو نه روستو چشتیه سلسله ته د دوه درے داسے بزرګانو په ذریعه رونق حاصل شه. چه دغه بزرګان د زمانے په لحاظ په یو بل پسے پرله پسے په ظهور کښې راغلي وو. په دے بزرګانو کښې یو مشر بزرګ حضرت شیخ کلیم الله شاه جهان آبادي (متوفي ۱۱۴۲هـ) علیه الرحمة وو. چه هغوئ په خپل مولد شاه جهان آباد (دهلي) کښې د چشتیه سلسلے د اشاعت او تبلیغ کار په ډیره ښه طریقه سره انجام ته رسولے وو. دویم بزرګ د هغوئ سجاده نشین حضرت شیخ نظام الدین اورنګ آبادي وو. چه د دکهن په علاقو کښې یئے د خپل پیر او مرشد د فیوضاتو سلسله جاري ساتلے وه. او ورپسے درئم بزرګ د

---

[450] د دے فتنے نه مراد د قادیانیت فتنه وه. چه حضرت مولانا خوا جه سید مهر علي شاه ګیلاني د هغے د ختم کوؤلو د پاره ډیر لوئ علمي او تبلیغي جهاد کړے وو. (اثر)

مولانا شیخ نظام الدین فرزند ارجمند حضرت مولانا فخر الدین فخر جهان دهلوي علیه الرحمة وو. چه په مرکز ښهر د هلي کښې استوګن شه. او د هغه ځائ.نه یئے په شمالي هند کښې د سلسله عالي چشتیه اشاعت په کامیابه طریقه سره کړے وو.

حضرت مولانا فخر جهان مختلفو علاقو ته خپل خلیفه ګان اولیږل. په هغوئ کښې یو خلیفه یئے حضرت خواجه نور محمدمهاروي علیه الرحمه وو. چه د"تونسه شریف" دآستانے باني حضرت خواجه محمد سلیمان تونسوي علیه ارلحمة د هغوئ نا مور خلیفه وو. او روستو د دغه تونسه شریف د مرکزي آستانے نه نورے ګنړے استانے لکه:

(۱) د سیال شریف آستانه

(۲) د ګولړه شریف آسانه

(۳) د جلال پور شریف آستانه

(۴) او د چا چړان شریف آستانه. پیدا شولے. او دا ټولے د علم او عرفان مرکزونه او ګرځیدل.

د حضرت مولانا فخر جهان دویم نامور خلیفه حضرت شاه نیاز احمد چشتي نظامي قادري علیه الرحمة وو. چه مزار پرانواریئے پر بریلي کښې دے. او د دوئ له برکته په یو. پي او شاؤ خو املکونو

کښې د دے مبارکے سلسلے فیوضات خواره شوي دي[451].

حضرت خواجه سید مهر علي شاه په چشتیه او قادریه طریقو کښې د حضرت شیخ شمس الدین د سیال شریف خلیفه وو. او په دے دواړو سلسلو کښې ورته خلافت حاسل شوے وو. چه بیا روستو د قادریه طریقے نسبت پرے بندے غالب وو. او د دے خبرے تائید د دے نه کیږي چه د چشتیه طریقے د نورو عامو مشائیخو په درګاه کښې چه مجلس سماع کوؤلے شي. نو په قوالئ کښې ساز او سرود هم آوریدلے شي. لیکن حضرت خواجه سید مهر علي شاه علیه الرحمة به د قوالئ په دوران کښې د هیڅ قسم ساز او سرو د اجازت نه ورکولو. تر دے حده چه یوه ورځ یو قوال د کوم یو شعر اوره ولو په وخت کښې خپلو لاسونو له پړق قدر ته ورکړے وو. هغه قوال یئے د مجلس نه اوکښلو. یعني د دوئ په مجلس کښې سماع به کیدله. لیکن په هغے کښې به صرف قرآن مجید. حمد او نعت په خوش آوازي سره اوریدلےشه. و بس! ځکه مونږه اووئیل چه د حضرت خواجه سید مهر علیشاه قدس سره په عارفانه اځوالو او واقعتو باندے د قادریه طریقے نسبت غالب وو. او د شریعت د ظاهري احکامو به یئے پخپله هم په دیره سختة سره پابندی کوؤله

[451] د سابق صوبه سرحد په علاقه کښې حضرت خواجه سید عبدالستار شاه بینوا د دے چشتیه نظامیه نیاریه سلسلے پیر طریقت وو. چه روستو به یئے تذکره راشي. ځما مشفق قبله سید آغا عنایت علي شاه ضیاء جعفري قادري چشتي د پیښور هم د دے نیازي سلسلے خلیفه او ماذون دے. (اثر)

او نورو عامو سلمانانو ته به یئے هم د هغے تبلیغ کؤلو.

د دين اسلام عملي خذمتونه

دوي به د دين د عالمانو ډير قدر کؤلو. د مذهبي اختلافاتو په صورت کښې به يئې په ډيره عالمانه طريقه سره خپل نظريات پيش کوؤل. د شيخ اکبر محمد الدين ابن عربي په نظريه وحدت الوجود بانډے پوره عبور ورته حاصلوو. او د ابن عربي د مشهور کتاب "فصوص الحکم" په مشکل مقاماتو بانډے ډيره ښ ښه پوهيدلو او خپلو خاصو مريدانو ته به يئے د دے کتاب باقاعده درس ورکؤلو. د شيخ اکبر د وحدت الوجود نظريه ډيره پيچيده او مشکله ده. چنانچه بعض مشائيخ په دے باب کښې ډير احتياط کوي. د شيخ اکبر د کتابونو د لوستولو يا د وحدت الوجود په موضوع د چاسره د خبرو اترو کولو ته خپل مريدان منع کوي. او دا يئے خيال دے. چه دا نظريه د ډير او چت علم او عرفان او وجدان سره او د احولو او د واقعاتو د ډيرے اوچتے مرتبے سره تعلق لري. عوام يا د کم علم خلق چه په دے مسئله کښې بحث کوي نو د خپلے ناپوهتيا په وجه اکثر په الحاد او زندقه کښې پويوځي. ليکن هر کله چه حضرت خواجه سيد مهر علي شاه قدس سره له خداى پاک يو خصوسي علمي او عرفاني تبحرور کړے وو. په دے وجه د دوئ به د دے مسئلے نازکه او باريکه نتکے په ډير آسانه لهجه کښې حل کوؤلے. او يو صوفي ته

چه د سلوک په مقاماتو کښې دے قسم نه کوم نازک اشکال پیښیږي هغه به یئے حل کوؤل. لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه. دا یوه داسے ګرانه مسئله ده. چه یواځے د ظاهري علم په استدلال نه حل کیږي. عرفاني وجدان هم غواړي. چنانچه هم دا وجه وه چه حکیم الا مۃ علامه محمد اقبال علیه الرحمۃ د حضرت خواجه علیه الرحمۃ د قابلیت نه ډیر زیات متاثره وو. د دے مسئلے په حقله به یئے د دوئ سره خط او کتابت کؤلو. او د شیخ اکبر د بعض نظریاتو تپوسونه به یئے ترینه کوؤل.

غرض دا چه حضرت خواجه صاحب هغه بزرګ ترینه هستی ده. چه د علم د نشرو اشاعت د تصوف د احیاء او د باطله عقیدو په تر دید کښې یئے عمر تیر کړ. د اسلام خدمتونه یئے اوکړل. او د دوه اتیا کالو په عمر په ورځ د سه شنبه ۲۹، صفر المظفر ۱۳۵۶ھ مطابق ۱۱، مئ ۱۹۳۷ء یئے د دے دنیا نه سفر اوکړ. او په مقام د ګولړه د خپل والد ماجد مزار په خوا کښې او سپارلے شه. مزار مبارک یئے د ګولړه ریلوے سټیشن نه د دوه میلوپه فاصله شمال طرف ته واقع دے. د دهغوئ د مزار سره د دوئ د دوه رونړو پیر محمد شاه او پیر ولایت شاه او د دوئ د استاذ مولوي غازي صاحب مزارات هم دي. مزار مبارک یئے د سپین سنګ مرمر کانړی نه جوړ دے. ورسره جخت یو جامع مسجد دے. چه د دیني علمونو درس پکښې ورکوؤلے شي. د مزار سره ملحقه وقف په

ذریعه د طالب علمانو د تعلیم او رهایش او د استاذانو د تنخواه بندوبست کیږي. د جماعت په شاد د وئ د مشرانو قبرستان دے. او جماعت ته مامخ یوه کتبخانه ده. هر کاله په ۲۹، تاریخ صفر المظفر د دوئ سالانه عرس کوؤلے شي. د دے نه علاوه دلته د ربیع الاول په نهم. لسم. یوؤلسم تاریخونو د حضرت شیخ المشائیخ میران محي الدین عبدلاقادر جیلاني قدس سره د یوؤلسمے انتظام هم کوؤلے شي. چه په زرگونو عقیدتمند پکښې شاملیږي.

د حضرت خواجه سید مهر علي شاه قدس سره په تصنیفاتو او تالیفاتو کښې د دے کتابونو نومونه د یادولو دي.

(۱) تحقیق الحق في کلمة الحق

(۲) الا صلاح الفصیح لا عجاز المسیح المعروف په "سیف چشتیائي"

(۳) رساله شمس الهدایه.

(۴) رساله "اعلاء کلمة الله" في بیان و ما اهل به لغیر الله. د دے نه علاوه د دوئ مکتوبات او ملفوظات هم چاپ شویدي. نن ورځے حضرت خواجه غلام محي الدین دام مجده د دوي سجاده نشین دے. صاحب د کشف او کرامت بزرگ دے. ډیر لوي شان لري. او د دوئ په ذریعه د دے مبارکے سلسلے د فیوضاتو دا سلسله جاري ده. علیهم المرحمة والغفران.

حضرت حاجي صاحب د ترنګزو علیه الرحمة

ولادت

.... ترنګزايئے (چارسده) ۱۲۷۳هـ

وفات..................................... ... غازي آباد (قبائيلي علاقه مهمند) ۱۳۵۶هـ

په وادئ پيښور او قبائيلي علاقو کښې چه د قادريه طريقے کوم مشاهير بزرګان تير شوي دي. د دغه سلسلے په روستنو بزرګانو کښې حضرت حاضي صاحب عليه الرحمة د ترنګزو عليه الرحمة ډير لوئ روحاني پيشوا تير شوے دے.

د ترانګزائي د حاجي صاحب اصلي نوم فضل واحد دے. د پلار نوم يئے فضل احمد وو. دا کورنئ په قام باندے حسيني سيدان دي[452]. د دوئ نزدے مشهور نيکه حضرت شيخ

[452] په حوالاه د شجره نسب د حاجي صاحب ترنګزايئے (قلمي نسخے نه) چه مولانا مير عبدالله ابن مرلانا عطاء الله د طورو په ۱۳۷۹هـ کښې تاليف کړيده. د مولانا مير عبدالله نيکه مولانا احمد علي کابلے د باباجي صاحب د سوات مريد وو. او پخپله مولانا مير عبدالله د ترنګزو د حاجي صاحب مريد دے. د ده تره مولانا مير عتيق الله ابن مولانا احمدي علي کابلي ځما (عبدالحليم اثر) استاذ و.و په موضع طورو کښې د علم ادب مشهور کتاب "نفحة اليمن" م ترينه په درس لوستلے وو. د حضرت حاضي صاحب د سيادت شجره د نسب د

المشائیخ سید بهاء الدین ابن سید برهان الدین علیه الرحمة دے. چه مزار مبارک یئے د موضع ترانګزائے نه مغرب طرف ته په شولګره کښې په یو عظیم الشان بنر کښې دے. او په "پیر بودلے" او "ننیموړۍ بابا" تعبونو مشهور دے. شجره د نسبت یئے داسے ده:

سید فضل واحد (الملقب په حاجي صاحب ترنګرایئے) ابن فضل احمد ابن رستم خان ابن حیدر خان ابن عرب خان ابن نصرت خان ابن دولت خان ابن معظم خان ابن پیر شمسي بابا ابن پیر سدو بابا ابن شیخ المشائیخ قدوة الاولیائ بهاء الدین (المعروف په پیر بودلے بابا) ابن بهرهان الدین ابن رکن الدین ابن ناصر الدین بن ابوبکر ابن اسماعجي ابن عمر ابن سید شاه ابن داؤد شاه ابن محمد شاه ابن سلطان شجاه ابن جعفر شاه ابن علي اصغر ابن محمد ابن سید احمد الثاني ابنس سید محمد کلان بن عبدالملک بن زین الدین احمد اول بن مودود بن عبدالعزیز بن داؤد الاول بن محمد حسن الطاهر بن جمال الدین بن جمیل الدین بن موفق الثاني سید اسحاق ابن ابو الحسن الزاهد سید موسي بن محمد عالم بن سید ابو القاسم ابن سید عبدالله ابن سید محمد الاول بن سید حسن بن سید عباس بن موفق اول سید اسحاق ابن امام موسی کاظم ابن الامام الهمام جعفر صادق ابن امام

مولانا میر عبدالله د دغه قلمي نسخے په حواله دلته درج کړے شوه. (اثر)

محمد باقر ابن امام علي زين العابدين ابن الامام سيد الشداء حسين ابن علي المرتضي رضوان الله تعالی عنهم اجمعين.

تاريخي جائزه

د حضرت جي صاحب د ترنګزو دا شجر د نسب چه د مولانا مير عبدالله د قلمي نسخے په حواله دلته درج کړے شوه. د دے يوه "جائزه" اخيستل ضروري ګننړم ځکه چه په تاريخي لحاظ سره په دے کښې ډير زيات اضطراب دے. او د د لانديـنو وجوهاتو له مخه دا شجره د نسب په موجوده شکل کښې صحيح نه ده. وجوهات دا دي:.

(۱) د علم اصول تاريخ له مخه د سل کاله زمانے د پاره درے کسان يعنے درے پشته يادرے پيړۍ او د يوپشت د پاره۳۳ درے دريش کاله حسابولے شي. هم د دے اصول له مخه په موجوده شجره کښې چه د۵۳ پيړوکوم تعداد درج کړے شويدے. په هغے بحث کوؤ.

(۲) حضرت حاجي صاحب د ترانګزایءے په ۱۳۵۲هـ کښې وفات شويدے. د پورته اسولو مطابق د حضرت حاجي صاحب ترنګزائي نه د حضرت سيد الشهدا امام حسين رضي الله عنهم پورے کل يو څوليښت پيړۍ تيريدل پکار دي. په دے شجره کښې چه ۵۳ نومونه درج دي. ظاهره

ده چه په دے کښې دولس نومونه زیتا دي او مونږ له دا معلومل پکار دي چه دغه فرق او زیاتوالي د کومو کومو نیکونو د نومونو تر منځه راغلے دے.

(۳) په دے شجره کښې د دیارلسم نیکه نوم رکن الدین او د څوارلسم نیکه نوم ناصر الدین درج دے. مخکښې مونږه ورته اشاره کړیده. چه په قول د اخوند روزه دا دواړه د یو سړي نومونه دي. په دے اعتبار هر کله چه رکن الدین الملقب په ناصر الدین د حضرت حاجي صاحب ترنګزاے (۱۳۵۶هـ) په دیارلسمه پیړۍ کښې نیکه دے. په دغه حساب دے د (۴۲۹) کاله مخکښې زمانے او د ۹۲۷هـ د زمانے ثابتیږي. حالانکه دغه مولانا سید رکن الدین په ۱۰۲۲هـ کښې ژوندے وو[453]. د دے نه معلومیږي چه په موجوده شجره کښې د ۱۰۵۶هـ او ۱۰۲۲هـ تر منځه د نیکونو د نومونو تعداد صرف لس کسان پکار دے. او دلته درے نومونه زیات دي. او زیات په دے شکل دي. چه د بهاء الدین المعروف پیر بودلے اصلي نوم "عبدالله" دے. او د برهان الدین اصلي نوم

[453] تذکرة الا برار صفحه ۲۲۳

"نعمت الله" دے او دا دواړه رونړه دي د مولانا رکن الدین ځامن دي. پلار او ځوئ نه دي[454]. دغه شان حال د نورو اکثرو نومونو دے.

(۴) په موجوده شجره کښې په پنځو یشتم پشت کښې د سید جور علیه الرحمة نوم راغلے دے. مخکښې مونړه د اخوندزاده رویزه د تذکرے په ضمن کښې د "پنځه پیران"[455] د عنوان لاندے د حضرت سید جود علیه الرحمة په حقله چه کوم بحث کړے دے. د هغے له مخه حضرت سید جود ۸۲۵هـ د زمانے بزرګ دے چه مزار مبارک یئے په دو آبه ضلع پشاور کښې دے. او په دے شجره کښے چه د ده د ځوي نوم محمد درج کړے شوے دے. دغه محمد د ده ځوي نه دے. بلکه مشر رور یئے دے. په دے حساب د حضرت سید جود علیه الرحمة او د حضرت جي صاحب تر منځه کل۵۳۱ کاله زمانه تیره شوے ده. د دے زمانے د پاره کل شپاړس پیړئ پکار دي. هر کله چه په موجوده شجره کښې

---

[454] د دے وضاحت له مخه دوه نومونه نا صرا لدین او برهان الدین په غلطئ سره دلته درج کړے شوے دي یعنے په دے شجره کښې دا دوه نومونه زیات ګنړل پکار دي. (اثر)

[455] د حضرت سید محمود تارن پنځه ځامن وو. محمد. احمد. جود. وجود./ حسن دا پنځه واړه رونړه په "پنځه پیران" نامه یادیږي. مخکښې د دوئ تفصیل تزکره درج شویده. (اثر)

د پنځویشت پیړو نومونه درج دي. نوظاهره ده چه اوه نومونه پکښې زیات دي.

(۵) د حضرت مولانا سید رکن الدین (۱۰۲۲هـ) او حضرت سید جود (۸۲۵هـ) تر منځه۱۹۷ کاله زمانه تیره شویده. د دومره زمانے د پاره شپږ پیړئ پکار دي. په موجوده شجره کښې د پورتنو دواړو بزرګانو تر منځه د لسو نیکونو نامے درج دي. څلور پکښې زیات دي. یعنے په دے شجره کښې درے نومونه د مولانا رکن الدین نه مخکښې زیات دي. و څلور نومونه د هغه نه روستو د سید جود پورے په دغه منځ کښې زیات دي.

(۶) په موجود شجره کښې د سید جود (۸۲۵هـ) او سید محمد حسن طاهر (۵۹۴هـ) تومنځه د لسونیکونو نامے درج دي. حالانکه د دے دواړو بزرګانو تر منځه شپږ پشته تیر شوي دي. په دے حساب په موجوده شجره کښې د دے دوه بزرګانو تر منځه د څلورو پیړونومونه زیات دي.

(۷) په موجوده شجره کښې د حضرت سید محمد طاهر الملقب په تارن او حضرت سیدنا امام حسین رضي الله

عنه تر منځه پنځلس پشته درج دي. حالانکه کومه شجره چه مخکښې د "سادات تارن" په تذکره کښې مونږ درج کړي ده. په هغې کښې د دے دوارو نیکونو تر منځه شپاړش پشته تیر شوي دي د یو پشت نوم په موجوده شجره کښې کم دے.

د دے وجوهاتو له مخه دا ضروري ده چه د "پنځه پیرانو" په دے مبارک خاندان کښې د یو پیر حضرت سید جود علیه الرحمة د کورنئ د دے ساداتو چه د ۸۲۵هـ نه تر ورځے (۱۳۸۵هـ) پورے د تیرو شوؤ پنځه نمو سوؤ کلو نو داسے د هشنغر او د دو آبے په علاقه کښې د روحاني پیشوایئ یوه ممتازه کورنئ ده. چه د دے بزرګانو صحیح شجره د نسب د حضرت سید جود (۸۲۵هـ) د زمانے نه را په ښکه پیدا کړلے شي. ځکه چه د حضرت سید جود علیه الرحمة نه په وړاندے شجره مونږه د حضرت اخوند پنجو بابا د شجره نسب په ضمن کښې درج کړي ده. هلته دے ملاحظه کړلے شي. او دلته دا دومره تفصیل په دے غرض راوړلے شوے دے. چه د کومو خاندانو سره صحیح شجره موجوده وي چه هغه یئے تصحیح اوکړلے شي. د دے تفصیل له مخه دا نوره هم واضحه کیږي چه حضرت حاجي صاحب په قام تارن دے. صحیح النسب حسیني سید دے او د پنځه و پیرانو له خاندان ځنے دے.

حضرت حاجي صاحب فضل واحد د ساداتو په دغه بختور خاندان[456] کښې په ۱۲۷۳هـ مطابق ۱۷۵۲ء کښې د ضلع پيښور علاقه هشنغر په موضع ترانګزايئے کښې پيدا شوے وو. مور بي بي يئے په قام کاکا خيله وه. د حضرت مولانا شيخ المشائيخ رحمکار د يو ځوي نوم خليل ګل وو. چه په "زمری بابا" مشهور دے. او مزار مبارک يئے د ملاکنډ ايجنسئ علاقه اتمانخيل په موضع کوټ کښې دے. دغه بي بي صاحب عليها الرحمة د دغه زمري بابا نمسئ وه. او د کوټ اوسيدونکے وه.

حضرت حاجي صاحب عليه الرحمة ابتدائي ديني علمونه د خپل کلي ترانګزائي او خواؤ شا علاقے د نورو عالمانو ځنے په درس اولوستل. بيائے د زميندارئ کار شروع کړ.ا و څه زمانه يئے د کلي د عامو خلق وسره د بے پر پروائي ژون دتير کړ. ليکن په دغه منځ کښې بعض داسے واقعات پيښ شول. چه د دوه په ژوند کښې يئے تبديلي راوستله. د دنيا کاروبار او د دنيا د مخلوق ته يئے مخ او ګرځولو. خدائي پاک ته يئے مخ کړو. ورپسے لږے ورځے پس د حج په سفر روانه شه. د حرمينو شريفينو په

---

[456] د تارن. ساداتو دا خاندان په ويش کښې د پښتنو د زمند نومي توم د غرغشتي نوم شاخ د کاکړ او ګدون نومي قبيلو سره شمالے شوے دے. په موضع تر نګزایءے کښې هم د حضرت حاجي صاحب د تارن ساداتو کاندان. او د کاکړ قبيلے خلق يو ځاي آباد دي. د هشنغر محمد زايئے قوم هم په لويه پښه کښې زمند دے بلکه دا چه په ترانګزايئے کښے د اخون پنجو بابا اولاد هم آباد دے. او دغه اخون پنجو بابا هم په قام تارن سيد دے. او د پنځه پيرانو خاندان فنے دے. (اثر)

زیات مشرف شه. د نبي کریم علیه التحیه واتلسیم د بار ګاه رحمت ن یئے روحاني فیوضات او موندل. منزل ورته اسان شه چه د حج د سفر نه واپس راغے. نو په پورته توجه سره یئے زد او ریاضت طاقت او عبادت شروع کړ.

په ۱۸۹۷ء مطابق ۱۳۱۴-۱۳۱۵هـکښې په ملاکنډ باندے انګریزانو په دویم ځل حمله اوکړه. د دے جنګ په سلسله کښې مسلمانانو ته چه کوم مشکلات پیښ وو. هغه دا وو. چه "حضرت باباجي" د سوات د دغے نه څه کلونه وړاندے په ۱۸۷۷ء کښې وفات شوے وو. او د مشهور مجاهد حکمران خان عمرا خان والئ باجوړ حکومت په ۱۸۹۵-۱۸۹۶ء کښې ختم شوے وو. او د انګریزانو د اقتدار لمن تر دیر او چترال پورے خوره شوے وه. په هغه زمانه د سمے او سوات په مسلمانانو کښې داسے با اثره مشهور روحاني یا قومي شخصیت نه وو پاتے چه د ملاکنډ په محاذ انګریزي فوځونو ته یئے لار نیولے وے. مګر څرنګ چه ځمونږ عقیده ده. چه په هره سخته کښې خداي پاک د مسلمانانو امدادي کوي. د دے جهاد د پاره د حضرت باباجي صاحب دوه نامور او مشهور خلیفه ګان یعنے:

(۱) یو حضرت مولانا سعد الله خان چه په "سر تور فقیر" مشهور وو.

(۲) دویم حضرت مولانا نجم المشایخ هډي ملا صاحب د خپلو خپلو لښکرو سره د جهاد میدان ته رااووتل.

چه په هغې کښې د قبائلي علاقو ومهمند. باجوړ دير. سوات کنړ او ننګر هار غازيان شامل وو.

په دغه موقع حضرت حاجي سيد فضل واحد د ترانګزائي د دوه څلويښت کالو په عمر وو. د علم. عرفان او پرهيز ګارئ شهرت يئې شوے وو. د خلقو روحاني پيشوا. په دے جهاد کښې د شاميلدلو په نيت چه راپورته شه. نو د هشنغر او خواؤ شا علاقو بے شميره غازيان ورسره شول. او د خپلے والدے د طرف نه د نيکو نو علاقے کوټ، توتئ ته چه اورسيدل. نو د غه علاقو اتمانخيل غازيان هم ورسره ملګري شول. او د دغه ځائ نه د "اکره" په لاره په قلنګئ راتاؤ شول. او د ملاکنډ. پير کلي. بټخيله.او چکدرے په محاذونو چه د کفارو د لښکرو او غازيانو د لښکرو تر مينځه کوم جنګ وو. په هغے کښې حضرت حاجي صاحب د ترانګزئي شامل وو. په تاريخ اعتبار سره. د ۱۸۹۷ء دغه جنګ د حضرت حاجي صاحب عليه الرحمة په ژوند کښے اولنئ غزاوه. او په دغه موقع يئے د حضرت مولانا نجم المشائيخ" هډي ملا صاحب. سره ملاقات شوے وو.

روستو د دے جنګ لمن د ملاکنډ نه باجوړ پورے خوره شوے وه. انګريزان قدم په قدم مخکښې روان وو. او غازيانو قدم په قدم د اسلام د حفاظت د پاره خپلے پاکے وينے تويه ولي ولے. او د کفاررو په وينو يئے خپلے تورے سرے کوؤلے. د دواړه طرف

نه لوي جاني او مالي نقصان اوشه. انګريز شکست او مانه. فوځ يئې راوپس شه. په دغه موقع حضرت مولانا نجم الدين په باجوړ کښې وو. بيا مهمندو ته لاړ. حضرت مولانا سيد فضل واحد ورسره خدمت کښې حاضر و.و د مهمند وو د قيام په دوران کښې د حضرت هډے صاحب عليه الرحمة نه يئې په سلسله عاليه قادريه کښې بيعت اوکړ. څه زمانه يئې د هغوئ په صحبت بابرکت کښې تيره کړه. دا ديو مجاهد مريد د يو مجاهد پير نه په ميدان د جهاد کښې بيعت وو. د هغې مبارک اثرات روستو د حضرت حاجي صاحب ترانګزئي عليه الرحمة په تول ژوند باندے پريوتلي وو. او روستو ټول مبارک ژوند يئې او ساته. شکر الله سعيهم و اعظم لهم اجر هم.

په ۱۹۰۲ءکښې چه حضرت مولانا نجم المشايخ و نجم الملة والدين "هډے صاحب وفات شه. نو د ترنګزو حاجي صاحب او لګيده د حضرت هډي ملا صاحب د يو مشهور ما زون او خليفه حضرت مولانا محمد عالم المعروف په صوف عالم ګل صاحب نه يئې د بيعت تجديد[457] اوکړ.حضرت صوفي صاحب ورله خپل پټکے او توره تبر کاور کړل. خپل مازون يئې کړ او د خلافت او سجاده نشينئ اجازت يئې ورله ورکړ[458].

---

[457]کتاب "سلسله قادريه" تاليف د حاجي محمد آمين ماشو خيل.

[458]حضرت صوفي عالم ګل د حضرت مولانا نجم الدين صاحب د هډے مريد وو. او د هغوئ نه روستو يئې د هډے ملا صاحب د په

په ۱۹۰۸ء کښې حضرت حاجي سيد فضل واحد صاحب دوباره حج له لاړ. چه داځل د حج د سفر نه واپس راغے. نو پخپله علاقه او خواؤ شا د ضلع مردان او پيښور په علاقو کښې يئے امر معروف شروع کړلو. د انګريزانو ترينه ويره پيدا شوله. او يئے نيولو. درے کاله يئې قيد کړ. بيا يئے په ضمانت پريښوده. د هغے پس دوئي بيا امر معرف شروع کړ. او د خلاف شريعت رسمونو او رواجونو بنده ولونه علاوه په وادئ پيښور کښې‌يئے يو څلويښت لوئيے ديني او اسلامي مدرسے پرانستے چه په هغے کښې د ګدر حمزا خان او اتمانزو اسلامي مدرسے زياتے مشهور دي. په کوز تهکال کښې هم د دوئ په وجه ملا احمد علي المعروف په سنډاکئ ملا صاحب مدرسه جوړه کړے وه. چه روستو دغه ديني مدرسو پوره اهميت حاصل کړے وو. او په حقيقت کښې د حضرت حاجي صاحب د ترنګزو دغه د اسلامي مدرسو جوړولو تحريک د "اسلاميه کالج پيښور" د جوړيدلو باعث اوګرځيده.

د حضرت مولانا شيخ المشائيخ حاجي صاحب د ترانګزائي دے تعليمي سرګوموته چه حکومت سرحد اوکتل. او د عوامو د جذباتو اندازه يئے اولګوله. نو په مقام د پيښور د دارالعلوم جوړولو خيال يئے پيدا شه. د سر جارج روز کيپل او سر صاحبزاده عبدالقيوم خان په شريکه مشوره سره يوه

مشهور خليفه عبدالشکور صاحب ن ه هم تجديد د بعيت کړے وو. (په حواله د کتاب تذکره قادريه تاليف د مولانا مير عبدالله) (قلمي) اثر

جرګه را اوغوښتلے شوه چه په هغے کښې د میا رحیم شاه کاکا خیل. بابو غلام حیدر خان غلام سرور خان. خوشحال خان د سواتو کلي. حاجي صحبت خان د پړانګو. عبدالمجید خان د تنګی او سیټهي کریم بخش د پیښور نومونه د یاد ولو دي. دے جرګے د دغة تجویز سره اتفاق اوکړه. پخپله یئې هم په زرګونو روپئ چنده ورکړه. بیا په ملک کښې اوګرځیدل. د صوبه سرحد د نوابانو. غټانو. زمیندارو نوکر پیشه او عوامونه یئے د دارالعلوم د جوړولو د پاره چندے راغونډے کړے. او د خیبر په سړک د برټهکال نه مغرب طرف ته د یو میل په فاصله د دارالعلوم اسلامیه د پاره ځائ خوښ کړے شه. دغلته د موضع سپینه ورئ او برتهکال په رقبه کښې ۹۱۶کناله اولس مرلے زمکه واخیستلے شوه. او د ۲۱، مارچ ۱۹۱۲ء ورځ د دارالعلوم اسلامیه پیښور د افتتاح د پاره مقرره شوه. د صوبه سرحدنوابانو. غټانو. عالمانو. سیدانو. سپین ږیرو. اوبزر ګانو سجاده نشینانو ته د عوت نامے اولیږلے شوے. او فیصله دا اوشوه چه د دارالعلوم اسلامیه اولنئ خښته به د ترنګزو حضرت حاجي سید فضل واحد کیږدي. په دغه سلسله کښې منتظیمنو د حاجي صاحب سره ملاقات اوکړ. د افتتاح په ورځ د ترنګزو حاجي صاحب سره د خپلو یو څو مریدانو راغے. منتظیمنو د سپینو زرو کرنډئ سازه کړے وه. د سنګ بنیاد کیښودونه مخکښې د طورو مولانا عبدالله شاه عباسي د قرآن شریف تلاوت اوکړ. بیایو

جامع تقریر هم اوکړ چه په هغے کښې یئے د دے تقریب په اهمیت باندے رنړا واچوؤله. د تقریر نه پس سرصاحبزاده عبدالقیوم (کے. سي . آءي. اے) او کرنل محمد اسلم خان سدو زائے راپاسیدل. د ترنګزو حاجي صاحب ته یئے په باټلي کښې چونه اود سپینو زروکرنډۍ مخکښې کړه. حاجي صاحب کلمه طیبه اولوستله. کرنډۍ کښې یئے چونه واخیستله او د دارالعلوم اسلامیه پیښور اولنۍ خښته یئے اولګوله[459]. دعا د خیر او شوله حاجي سیټهي کریم بخش قادري چشتي په حاضرینو باندے مټهائي او ویشله سیدانو او عالمونو له یئے په طور د خلعت لنګۍ ورکړلے. د دے نه حضرت حاجي صاحب علیه الرحمة سره د خپلو مریدانو تهکال ته او بیا د هغه ځایئے نه ترنګزو ته راغے.

کوم ځاي کښې چه حضرت حاجي صاحب د ترنګزو د دالرعلوم اسلامیه پیښور سنګ بنیاد ایښے وو. هم په هغه ځاي باندے د پیښور ښهر سیټهي کریم بخش قادري چشتي مرحوم[460] پخپل خرڅ باندے د مهابت خان

---

[459]په دے سلسله کښې د مجله هاتف پشاور بابت اپریل ۱۹۲۵ء صفحه نمبر۴ الفاظ داسے دي. د دارالعلوم اسلامیه پشاور سنګ بنیاد د تقدس مآب اعلی حضرت حاجي صاحب د ترنګزاے په مبارکو لاسونو کیښودلے شه." (د اردونه ترجمه)

[460]حضرت حاجي سهټهیکریم بخش د حضرت مولانا شیخ المشائیخ پیر سید مهر علي شاه ګیلاني المعروف پیر صاحب د ګولړه شریف مرید وو. په قادریه او چشتیه طریقو کښېئي تړینه بیعت کړے وو. د پیښور ښهر مشهور علم دوست مخیر انسان وو. د صوبه سرحد په مختلفو مقاماتو کښې یئے پخپل ذاتي خرڅ بے شمیره جماعتونه جوړ کړي وو. لیکن د مجله هاتف (اپریل ۱۹۲۵ء صفحه نمبر۵) د بیان مطابق د اسلامیه کالج دغه کوم جماعت چه دوئ جوړ کړے دے. دغه د دوئ د اسلامي

جماعت په نقشه یو ښکلے جامع مسجد جوړ کړے دے.

حضرت حاجي صاحب چه ترنګزو ته واپس راغے نو د ترانګرائے او عمر زائےنومي کلو په منځ کښې نمر خاته طرف ته یو لوئ پوخ جماعت یئے جوړ کړ. ورسره یئے د طالبانو د پاره کوټے هم جوړے کړے. چه روستو د یو دیني مرکز په حیثیت سره پوره اهمیت ورته حاصل شوے وو[461].

حضرت او د هغے پس منظر

په ۱۹۱۴ء کښې اولنے جنګ عظیم شروع شه. د ترکو شیخ الا سلام فتوی ورکړه چه چرته مسلمانان آباد وي په تولو باندے جهاد فرض دے. د دے فتوی وجه دا وه چه په هغه زمانه د ټولے دنیا د مسلمانانو خلیفة المسلمین د ترکو سلطان وو. او د ترکیه خلیفه المسلمین د انګریزانو په خلاف د جنګ اعلان کړے وو. د هغه زمانے د برصغیر پاک او هند مسلمانانو عالمانو د شیخ الا سلام ترکیه دغه فتوی منظوره کړه. حضرت مولانا محمود الحسن صدر مدرس د دیوبند په دغه زمانه شیخ الهند وو. حضرت شیخ الهند هم د انګریزانو په خلاف د جهاد

جذبے بهترینه اسلامي جذبے بهترینه اسلامي نمونه ده. چه خپل نظیر نۀ لري. ځما مخلص دوست سهټهي محمد یونس هم د دے مرحوم سیټهي کریم بخش نمسے دے.

[461] د حضرت حاجي صاحب د ترنګزو د مشهور مرید حضرت حاجي محدم آمین علیه الرحمة مزار مبارک په دے جماعت کښې دے. او دا جماعت د مرحوم حاجي محمد آمین مجاهد کشمیر د مذهبي تحریک "جماعت ناجیه" مرکز وو.

فتوی ورکړله. او د جهاد تحریک شروع شه. د حضرت شیخ الهند مولانا محمود الحسن په مشرئ کښې چه په برصغیر پاک وهند کښې د جهاد کوم تحریک شروع شه. روستو هغې منظم شکل اختیار کړ. د یو بند. دهلي. بهمئ. بنګال. پیښور. کابل. مکه معظمه او استنبول تر منځه د رابطې پیدا کولو د پاره کار شروع شه. د اصلاح اوشوه چه د پیښور په ذریعه په کابل کښې د دې تحریک مرکز پکار دې. او د دې تولو مرکزونو رابطه په مکه مکرمه کښې د حکومت ترکیه د نائب امیر په ذریعه د استنبول. بغداد او نورو اسلامي ملکونو او مرکزونو سره پکار ده. چه د انګریزانو په خلاف په ټوله دنیا کښې په همه ګیر شکل سره په یو وخت کښې اقدامات اوکړلې شي. د دې خفیه مشورې د منظم سکیم په مکمل راز دارئ سره په انتهائي خفیه طریقه سره قابل اعتماد مسلمانانو مشرانو ته د رسوؤلو د پاره د ذاتي او زباني سفارت طریقه اختیار کړې شوه. او هم په دغه سلسله کښې حضرت مولانا سیف الرحمان علیه الرحمة چه په اصل د ضلع پشاور د علاقه دو آبه د متهري نوم کلي اوسیدونکې وو. او په دغه ورځو کښې په دارالعلوم دیوبند کښې مدرس وو. هغه یئې صوبه سرحد ته راولیږه. د ترنګزو په مقام یئې د حضرت حاجي صاحب فضل واحد علیه الرحمة سره ملاقات اوشه. د جهاد د دې منظ سکیم د تفصیلاتو او طریقه کار نه یئې خبر کړ. حضرت حاجي صاحب د ترنګزو په دې علاقه کښې د "تحریک جهاد امیر مقرر

کړلے شه. اګر چه دا تحریک انتهائي خفیه وو[462].او انګریزانو ته لاتر دغه وخته پورے د دے تحریک په حقله هیڅ هم پته نه وه. لیکن حضرت حاجي صاحب د تونګزو چه پخپله زړه طریق سره د امر بالمعروف سلسله نوره هم په زور اوشور شروع کړه. د "انجمن حزب الله" په نوم یئے پرے کیښوده او بیا د حضرت حاجي صاحب علیه الرحمة سره ګنړ پر جوش کار کنان ملګري شول (لکه خان عبدالغفار خان. عبدالاکبر خادم. مولوي تاج محمد خان. او داسے نور کسان چه روستو هغوئ ټول اهم قومي کارکنان ګرځیدلي وو.) نو د فیرنګیانو سره د حاجي صاحب نه سخته ویره پیدا شوه. او حکومت دا پټه فیصله اوکړه چه د حاجي صاحب نه دروند ضمانت اخیستل پکار دي. چه د ضمانت میعاد یئے پوره کیږي. بیا به تازه کوؤلے شي. او که د ضمانت میعاد یئے پوره کیږي. بیا به تازه کوؤلے شي. او که د ضمانت ورکولو نه انکار اوکړي. نو بیا دے ګرفتار او قید کړلے شي. دا فیصله د پیښور د ډپټي کمشنر په دفتر کښې شوے وه. په دغه دفتر کښې د باړے مهمند یو سړے محمد اعظم خان نوکر وو. هغه د دے خفیه فیصلے اطلاع پټ پټه د ترنګزو حاجي صاحب ته را اورسوؤله. حضرت حاجي صاحب دا خیال اوکړ. چه د ګرفتارئ په صورت کښې هسے نه د خفیه تحریک (تحریک ریشمي رومال) حال

[462] د دے خفیه تحریک "تفصیلي حالات په کتابي شکل کښې د حضرت مولانا حسین احمد مدني د ذاتي یاد داشتونو په صورت کلې د "تحریک ریشمي رومال" په نو چهاپ شویدي. ملاخطه دي کړے شي. (اثر)

چرته ځرګند نه شي. دا یئې بهتره او ګڼړله چه د "تحریک جهاد "موکز د انګریزانو د محفوظې علاقې نه باهر په قبائلي علاقه کښې قائم کول پار دي. محمد اعظم خان ور ته د شپې اطلاع رارسؤولې وه. صباله یئې هغه کسان چه په هغوئ یئې اعتماد کوؤلې شه هغه او بعض د خواؤ شا نور عالمان مریدان. تعلقداران. عالمان اوسیدان یئې رااوغوښتل چه په مور بي بي پسې خیرات کوؤم. خلق راغلل . خیرات او خوړلې شه. د ماسختن نمونځ یئې د جمع سره اوګذاره. چه د کومو کسانو سره صلاح مشوره او پټ راز یئې وو. د هغوئ سره یئې صلاح اوکړه عامه دعا او شوه. حاجي صاحب کورته ننوتلو. چه خلق خواره شول شومه دم شوه. د ټولو نه کشرې ځوي فضل معبود (مرحوم) یئې د خپلې خیلخانې سره د مردان په لاره بنیر ته پټ راستولو. او پخپله حضرت حاجي صاحب علیه الرحمة د خپلو دوه ځامنو حضرت قدوة العارفین بادشاه ګل فضل اکبر او حضرت مجاهد داسلام بادشاه ګل فضل شاه په ملګرتیا کښې د حاجي آباد ترنګزاې نه د هجرت په نیت روان شه. په آسونو سواره شول. دلوند خور. میا خان سنګاهو په لاره په ملندرئ کنډؤ بنیر ته وا ووختل او د طوطائي علاقې ته اورسیدل. بیا روستو چه کله د جهاد د خفیه تحریک دغه سکیم (تحریک ریشمي رومال) د کابل او پیښور د بعض کسانو په وجه انګریزانو د ملتان او سندهـ په مقام اونیولو. نو حضرت حاجي صاحب ترانګزائي د هغې نه مخکښې د دې ملک

نه هجرت کړے وو. اوس چه فکر اوکړلے شي. نو معلومه شي چه د حضرت حاجي صاحب سره د قدرت د طرف نه ډیر لویه مهرباني ملګري وه. که نه دوه نتیجے یئے بالکل واضحه وے.

(۲) یوه دا چه حضرت مولانا شیخ المشائیخ حاجي صاحب د ترانګزئي او د هغه ملګري به هم لکه د حضرت مولانا شیخ الهند شیخ محمود الحسن صاحب د هغه نورو ملګرو په مالټا کښې بندیوان شوے وے.

(۲) د حضرت حاجي صاحب له برکته چه د ۱۹۱۴ء نه تر ۱۹۳۷ء پورے پور درویشت کاله د سابق صوبه سرحد په قبائیلي علاقو کښې د انګریزانو په خلاف مسلسل کوم جهادونه کیدل او د هغے په وجه د سرحد په زمکه د انګریزانو په خلاف ټولو قومي تحریکونو ته لکه اصلاح الا فاغن. خلافت او تحریک پاکستان ته تقویت رسیده. دغه به نه وو رسیدلے.

د واقعاتو او حقایقو په ټول تاریخي پس منظر باندے چه پوره غور او فکر اوکړلے شي نو حقیقت دا دے چه د حضرت حاجي صاحب ترنګزائے دغه حضرت د روستو راتلونکو عظیم الشانو نتیجو په اعتباره سره د شمال مغربي سر حدي صوبه د ټولو

قومي تحريکونو د پاره سنګ بنياد وو. او روستو د تقويت او شاندارے کاميابئ باعث يئے همګرځيدلے دے. په بر صغير پاک وهند کښې د آزددئي هغه تحريونه چه په نتيجه کښې يئے برصغير پاک وهند ته آزادی حاصله شوي ده. او پاکستان جوړ شوے دے. د هغے د آغاز نقطه د اسلامي جهاد دغه عالمګير تحريک وو. چه روستو په "تحريک ريشمي رومال" ياد شوے دے. او په شمال مغربي سرحدي صوبه کښے د دغه تحريک مقامي نوم "انجمن حزب الله" وو چه د هغے قيادت د حضرت حاجي صاحب په لاس کښې وو. او هم د دے "حزب الله" په وجه هغة قومي او روحاني کارکنان راپيدا شول چه نن د هغوئ په مجاهدانه کوششونو دا علاقه په شمالمغربي پاکستان ياديږي. او ځرنګ چه نن هغه اسلاميه کالج پيښور" چه بنياد حضرت حاجي صاحب ايښے دے. په دے ملک کښې د علم رنړا خوره وي. هم دغه شان په دے ملک کښې چه حضرت حاجي صاحب د مجاهدانه تحريک کوم بنيادي ايښے وو. د هغے له برکته نن هم د دے علاقو په مسلمانانو کښې د اسلامي جهاد جذبه بيداره ده. او که خدائ ته منظوره وي هميشه به ژوندي او بيداره وي.

د حضرت نه روستو واقعات

حضرت حاجي صاحب چه سره د خپلو ځامنو صحيح او سلامت د بنير طوطالئ نومي علاقے ته را اورسيده. د روژے مياشت را اوختله. د غه مياشت يئے په ياد الهی او د جهاد

په تبليغ کښې تيره کړه. د حاجي صاحب په جهاد کؤلو کښې غرض دا وو. چه د فرنګيانو فوځي طاقت کمزورے کړلے شي. چه تر کوته د فيرنګيانو وهل آسان شي. د طوطالئ علاقه د سيد احمد شهيد د زمانے ن د مجاهدينو مرکز پاتے شوے وو. د حضرت حاجي صاحب خپل مريدان هم پکښې موجود وو. د جهاد د تبليغ نور ه ښه اثر اوشه. خپل مريدان او عام اولس ورته راجمع شه. ملاتړور سره ډير شه د څلور زره ځوانانو لښکر په فيرنګيانو د حملے کؤلو د پاره يئے تير کړ. په دغه دوران کښې د صوبه سرحد چيف کمشنر سرجارج روز کيپل[463] د سپين ږيرو يوه جرګه بنير ته اوليږله. د صلح پوره اختيارات يئے ورله ورکړل. چه تاسو د ترنګزو حاجي صاحب په هر څه چه رضا کړو حکومت ته به منظوره وي. دغه جرګه کښې د عمر زو خان بهادر سعد الله خان او د بهرتهکال نواب دوست محمد خان هم شامل وو. دا جرګه حضرت حاجي صاحب له ورغله. ورته يئے اووئيل چه ځمونږ دا جرګه د سرحد حکومت راستولے ده. چه د ترنګزو حاجي صاحب په رضا کيږي. رضايئے کړئ. پيښور ته يئے راولئ. د سرحد حکومت ته به ستا سو فيصله منظوره وي. دغه وخت کښې حاجي صاحب سره حضرت مولانا سيف الرحمان صاحب موجود وو. مولانا صاحب د دے جرګے وړاندے د نصيحت نه ډک وعظ اوکړ. ورته يئے اووے چه تاسوله شرم نه درځي. ستاسو

---

[463]سر جارج روس کيپل د ۱۹۰۸ء نه تر ۱۹۱۹ء پورے د صوبه سرحد چيف کشمنر وو. (اثر)

او ځمونږ مشرانو به د کفارو سره غزاګانې کوؤلې. او تاسو اوس مونږه د تيارے غزا نه منع کوئ.که فيرنګيان مونږه رضا کوؤل غواړي. نو هندوستان دي پريږدي خپل ملک انګلستان ته دي لاړشي.

دغه جرګې چه وعظ واوريده. سترګې يئې د اوښکو ډکې شولې. بينوا واپس پيښور ته راغلل. او حاجي صاحب تر نګزاے د خپلو ملګرو سره دا فيصله اوکره چه د اختر په دوئمه ورځ به د فيرنګيان د مردان په چاونړئ حمله کوؤ. د فرنګيانو يو مخبر وو ګل نوم يئې وو. په قام بيټنی وو. د غازينو په لښکر کښې يئې ځان شامل کړے وو. فيرنګيانو ته يئې د غازيانو د حملے خبر ورکړ. د صوبه سرحد چيف کمشنر سرجارج روز کيپل د غازيانو د حملے انتظار اون کړ. پخپله په حمله کښې ړومبے شه. فوځ يئې سرکاوئ ته اوليږه. د اختر نه پس درے ورځے لاندے باندے د غازيانو لښکر د فيرنګيانو د تربيت يافته فوځ سره لاس په لاس اوجنګيده. سخته مقابله يئې اوکړه. په دے جهاد کښې د سيد احمد شهيد د "جمعيت مجادهدين" د نسل کوم ننګيالي مجاهدين چه په مرکز ستهانه او ملکا کښې آباد وو. هغة هم شامل شوي وو. د مجاهدينو يو ټولي ته حاجي صاحب يوه ځان له مورچه حواله کړي وه. چه د دشمن لښکر ته لار اونيسي او مخکښې تړ ته يئې پرے نږدي. د مجاهدينو سره د ۱۸۵۷ء د زمانے درے زړے ورکوټے توپے هم موجودے وے. د دوئ د انګريزي فوځ سره سخته مقابله اوکړه. او تر هغے پورے

جنګیدل چه ټول شهیدان شول. په دغه موقع د مجاهدینو د دے سر لښکر مولانا رحمت رحمت الله وو[464].

د حضرت حاجي صاحب په مشرئ کښې د غازیانو لښکر د انګریزانو د منظم فوج سره اوه ویشت ورځے ښه مقابله اوکړه. آخر کښې د بنیر ملکان حاجي صاحب له جرګه ورغلل. عرض یئے اوکړ. چه ځمونږ د دغه لښکر دے. غربیانان یو د فرینګیانو د شاهي لښکر سره جنګ نه شو کوؤلے. فیرنګیان ځمونږ سره صلح کؤلو ته تیاري دي. که ستا سو خوښه وي صلح به ورسره اوکړو. حاجي صاحب چه د دوئ په نیت پوهه شه. مجبوراً د صلح اجازت یئے ورکړ. او پخپله د سوات علاقے ته روان شه. او په سوات کښې د یو څو ورځو تیرولو ن پس باجوړ ته روان شه.

حضرت حاجي صاحب د دغے نه وړاندے د باجوړ علاقه لیدلے وه د ۱۸۹۷ء د جهاد په موقع د حضرت مولانا نجم المشائیخ "هډي ملا صاحب" په ملګرتیا کښې یئې په باجوړ کښې ورځے تیرے کړے دے. بله دا چه د تحریک مجاهدین یو مرکز هم د باجوړ په چمرکنډ نومي ځاي کښې موجود وو. د دے وجوهاتو له مخه حضرت جي صاحب چه باجوړ ته راغلے نو د چمر کنډه سره نزدے په لکړئ نومي ځاي کښې دیره شه. باجوړیانو ورله د استوګنے د پاره قلعه جوړه کړه شپږ میاشتے یئے

[464] کتاب د "ترنګزو حاجي صاحب" تالیف د نصرالله خان نصر (مرحوم)

هلته تیرے کړے. د قبیلي علاقو مهمند د سلارزي. ماموند. اتمانخیل مهمند او صافي قبیلو خلقو یئې ډیر قدر او عزت اوکړ. بے شمیر خلقو ترینه لاس نیوه اوکړه. بیا د لکړئ نه ښکته اوارے ته راکوز شه. د قبائلي علاقے مهمند د صافي نوم قوم په زمکه په سور کمر نومي علاقه کښې د نمره په یوه ډ ډه کښې چه د هغے زوړ تاریخي نوم "ګندغار" دے. دغلته د حضرت حاجي صاحب د کور جوړولو د پراه زمکه په دے وجه خوښه کړلے شوه. چه دغلته داوبو یوه وړه شان چینه هم موجوده وه. او بله دا چه د محل وقوع په لحاظ هم دا ځاي موزون وه. د جهاد د تحریک د پاره مرکزیت یئے حاصلؤلے شه. د دے زمکه باندے حضرت حاجي صاحب یو جماعت. یوه قلعه او ورسره نور کورونه جوړ کړل. چه نن ورځے د دوئ د نوم په مناسبت سره دغه ځائ په "غازي آباد" نامه مشهور دے. د دے ځاي د قیام نه پس حضرت حاجي صاحب په خواؤ شا علاقه کښې امر معروف شروع کړ چه خلق د دین اسلام د سرلوړئ د پاره جهاد ته تیار کړي.

په ۱۹۱۶ء کښې حاجي صاحب د قبائیلي علاقے باجوړ او مهمند لښکر جمع کړ. او د شبقدر په قلعه یئے حمله اوکړه. فیرنګیانو ټول مهمند بلاک کړل. د میچنئ د پل نه واخله د آبازایئے د پل پورے په اولس میله (۱/۲ ۱۷) اوږده پوله باندے یئےد ځلور سوه ګزه او بعض ځاي کښې اته سوه ګزه فاصله باندے برجونه جوړ کړل. او

فوځیان یئے پکښې واچول. او ورسره ورسره یئے د میچنئ نه تر بازائے پورہ اووہ ګزہ پلن د ازغو د تارونو دیوال جوړ کړ. او د دغه تارونو سره یئے د بجلئ تارونه هم بوتلل چه څوک به ورنزدے کیدلو تارونو به نیولو. لیکن په دغے باندے هم د غازیانو حوصلے خرابے نه شولے.

انګریزانو اګر چه دغازیانو د حملے ن د ځان بچ کولو پخه تابیا کړي وه. لیکن چ لږے ورځے پس حاجي حاصل د شپږ وزرو غازیانو لشکر ځان سره کړ. او د انګریزانو په فوځونو یئےد شبقدر په مقام حمله اوکړله. فیرنګیانو په دے لښکر سختي بمباري اوکړله. رساله او پیاده فوض یئے مقابلے ته وراوویستو غازیانو د میچنئ د نهر په غاړه د فیرنګیانو د رسالے سره لاس په لاس جنګ اوکړ. او دغه رساله یئے تقریبا ټوله تباه کړله. د غازیانو له خوا چه کوم کسان شهیدان شوي وو. په هغوئ کښې د دواجان خوګان خیل. جان خان. غلام جان. شیر علي خان. سید میران. میا خان او حضرت خان عیسی خیل نومونه د یادولو دي. په دے شهیدانو کښې د "دواجان خوګان خیل" نوم په تل تر تله یادګار پاتے وي. په دغه دوران کښې چه لاس په لاس جنګ وو. دواجان په یو انګریز افسر ورټوپ کړ. د آس نه یئے را اوغورزولو. دواړه په پرزه ولو شول. انګریزیئے سملولو د پاسه په سینه ورته کښیناست. هغة د لاندے نه په تماچه اوویشت. دواجان په چاړه اووهلو.

دواړ ویو ځاي ساه ورکړه. انګریز لونډے پروت وو. او دواجان پرے د پاسه.!

په ۱۹۱۹ء کښې د امیر حبیب الله خان د شهادت نه روستو چه امیر امان الله خان د افغانستان بادشاه. د افغانستان د استقلال اعلان یئے اوکړ. او فیرنګیانو په دغه خبره بد او منل جنګ ته تیار شول. د افغانستان لښکرے. ډکے. کرم پاړه چنارته د فیرنګیانو د مقابلے د پاره راغلے. نو حضرت حاجي صاحب د ترنګزائے د باجوړ او مهمندوي غازیان د ځان سره کړل. او په "شبقدر قلعه" یئے دریمه حمله اوکړله.د فیرنګیانو فوځ مقابلے ته را اووتلو. د شبقدر سره نزدے په "سبحان خوړ" باندے جنګ اوشه لیکن په دغه منځ کښې هر کله چه د افغانستان فوځ د ډغه په مقام د افغان سپه سالار صالح محمد خان د ناپوهتیا په وجه شکست اوخوړ. د فیرنګیانو فوځ ډکه اونیوله. او د جلال آباد آخیستلو تیاري یئے شروع کړه. نو حضرت حاجي صاحب علیه الرحمة د غازیانو د لښکر سره شبقدر نه روان شه. د هزار ناؤ په لاره یئے د انګریزي فوځونو مخه اووهله. په ډکه یئے حمله اوکړه او د فرینګیانو فوځ یئے د مخکښې تګ اوپیش قدمئ نه حصار کړ. په دغه موقع د غازیانو مرکز په "باسول" کښے وو. د قبائیل علاقو نه او د سمت مشرقي افغانستان نه به ورته د کامے او لعل پورے په لاره امداد رسیدلو. د غازیانو لښکر د ډکه په مقام د فیرنګیانو سره تر هغے جنګیدلو. چه تر څو پورے د افغانستان

او انګریزانو صلح نه وه شوې. او د انګریزانو فوځ پیښور ته واپس شوې نه وو.

په ۱۹۲۳ء کښې انګریزانو د مهمندو په علاقه جنګ راوړے وو. د حضرت حاجي صاحب په مشرئ کښې غازیان د جهاد میدان ته راوتلي وو. لیکن دا جنګ اوګد نه شه او زر تر زره ضلع اوشوه.

په ۱۹۲۶ء کښې چه فیرنګیانو په زور باندے په قبائیلي علاقه مهمند کښې د سړک تیرولو اراده اوکړله. نو حضرت حاجي صاحب د انګریزانو په خلاف د جهاد اعلان اوکړ. حمله یئے اوکړه. د فیرنګیانو پروګرام یئے تالا ترغه کړ. فیرنګیانو خپل فوځونه پیښور ته واپس راکوز کړل.

په ۱۹۲۷ء کښې د انګریزانو او غازیانو تر منځه جنګ شوے وو. په دے غزا کښې د حضرت حاجي صاحب سره یو بل فقیر هم ملګرے شوے وو. چه د هغه نوم "النګار فقیر" وو. په ۱۹۲۸ء کښې حضرت جي صاحب علیه الرحمة ناجوړه شه. په پښو یئے ځه داسے چل اوشه چه ګرځیدلے نه شه. دا مشهوره شوے وه. چه د انګریزانو په وینا چاورله زهر ورکړي دي.

په ۲۳، اپریل ۱۹۳۰ء کښې چه فرینګیانو د پیښور په قصه خواني بازار کښې په مسلمانانو ګولئ اوچلولے او په هغے کښې نهه د بره سل (۱۰۹) مسلمانان شهیدا شول. نو د سرحد په خلقو کښے د

فرینګیانو د حکومت نه عام نفرت پیدا شه. د قصه خوانۍ د شهیدانو خبره چه قبائیلو ته اورسیده. نو هغة د انګریزانو په سرحدا تو حملے شروع کړے. دغه حملو کښې د قبائیلي علاقے همندله طرف نه حاجي صاحب یو لوئ لښکر راجمع کړ او په میچنئ یئے حمله اوکړله. د دے لښکر قیادت د حاجي صاحب مشر ځوي بادشاه ګل فضل اکبر صاحب کؤلو حضرت حاجي صاحب پخپله د غازیانو د یو بل لښکر سره د ګنداب غلنی نومی ځاي له راغے. روستو د غازیانو دا دواړه لښکرے په غلنئ باندے یو ځاي شوے وے. دا جنګ د اپریل ۱۹۳۰ء نه تر ۷، نومبر ۱۹۳۰ء پورے څه د پاسه شپږ میاشتے جاري وو. د النکر فقیر سره چه کوم غازیان دے جنګ له راغلي وو. هغه ترینه د جون میاشتے په آخره کښې سره د خپلو مړو ژوبلو واپس تلي وو. او د دغے نه روستو د حضرت حاجي صاحب په مشرئ کښې د شبقدر په محاذ او د حضرت بادشاه ګل فضل اکبر په مشرئ کښې د میچنئ په محاذ د غازیانو لښکرے جنګیدلے. په دے جنګ کښې چه انګریزانو د ګازیانو په لښکر باندے د هوائي جهازونو ځوموره بمباري کړي وه. هغه په تاریخ کښې خپل مثال نه لري. لیکن سره د هغے د غازیانو په همت او استقلال کښې فرق نه وو راغلے. او آخر چه فیرنګیان ډیر تنګ شول. نو د ملکانو د یوے جرګے په ذریعه یئے روغة اوکړه او په دے شان سره د غازیانو لښکر څه په ۳۰، اکتوبر ۱۹۳۰ء واپس شه.

په کال ۱۹۳۱ء ۱۹۳۲ء او ۱۹۳۳ء کښې پرله پسې د انګریزي فوځونو سره د حضرت حاجي صاحب په مشرۍ کښې د غازیانو لښکرو جهادونه اوکړل. دغه شان په کال ۱۹۳۵ء کښې هم یو جهاد شوے وو. چه د دے روستنو څلورو جهادونو پوره بیان لوئ تفصیل غواړي. د ۱۹۳۵ء په غزا کښې حضرت حاجي صاحب د غلنئ په مقام دیره وو. د غازیانو رهنمایئ کوؤله. دے ځل فیرنګیانو په قبائیلي علاقه مهمند ډیر ظلم راشکته کړے وو. د هوائي جهازونو نه به یئے اورلګوؤنکي بمونه د دوئ په درمندونو او کورونو غورزه ول. هر څه به یئے ورله سوزه ول. په چشمو. تالابونو. جوړونو کښې به یئې ورته داسے بمونه ګذارؤل چه ۃغه به یئے کندے کندے کړي. اوبه یه یئے ورکے کړے. د اوبو په جوړونکو کښې به یئے د زهرو بمونه ګورزول. د غازیانو په سمستو به یئے ګوله بارئ کوؤلے. بیایئے پرے باندے د زهرو ګولئ او بمونه وره ول. د داسے ظلم دښمن مقابله حضرت حاجي صاحب علیه الرحمة د ګوډی په لښکر کوؤله.

د ۱۹۳۵ء په دے جنګ کښې د انګریزانو مشهوره پلټن "ګایډپلټن" داسے تباه شوه چه یو سپاهي یئے هم ژوندے پاتے نه شه. د ګایډ پلټن په تباهئ کښې په خصوصیت سره د عثمان خیل قبیلے شاه ځلمو ښه مړانه ښکاره کړے وه. او چه د ګایډ پلټن په مکمل طور تباه کړلے شوه. غازیانوله د دغه پلټنے د سپاهیانو او افسرانو ټول

میګزین په لاس ورغے. او مغل خان نومي هغة غازی چه په قام عیسی خیل وو. هغه د یو انګریز سر پري کړ او د ځان سره یئے یوړو. نو د دے تباهئ نه پس د فیرنګیانو وار خطا شه او صلح ته تیار شول. په ۱۹۳۶ء کښې د صوبه سرحد ګورنر د حلیمزو یوه جرګه حاجي صاحب له اولیږله چه مونږه صلح کوؤ. حاجي صاحب صلح ته غاړه کیښوده. د صلح د پاره یئے د مهمندو سپین ږیوو ملکانو یو جرګه خوښه کړه. جرګه ګنداؤ ته راغله. خبرے اترے اوشوے صلح اوشوه. او د فرینګیانو فوځونه د ګنداؤ نه راواپس شول.

د حاجي صاحب په ژوند کښې د ۱۹۳۶ء جهاد آخرینے جهاد وو. قبائلی علاقے مهمند ته د راتللو نه روستو په ۱۹۱۶ء کښې یئے د جهادونو کومه سلسله شروع کړے وه. پوره شل کاله عمر یئے په دے زمکه په جهادونو کښې تیر شه. او د دغه شاندار مجاهدانه ژوند تیره ولونه روستو هم په دے ۱۹۳۶ء کښې حضرت حاجي صاحب علیه الرحمة یو ځل بیا بیمار شه. د علاج د پاره د کابل سفر یئےهم اوکړ هلته صدر اعظم محمد هاشم خان مرحوم یئے په ښه شاهانه طریقے سره علاجونه هم اوکړل. لیکن مزه یئے اونه کړله. بیرته غازي آباد ته یئے تشریف راوړ. او د څه ورځے تیریدلو نه پس په لسم تاریخ د شوال ۱۳۵۶هـ مطابق ۱۴، دسمبر ۱۹۳۷ء یئې د دے فاني دنیا نه سفر اوکړلو. علیه الرحمة والغفران. او په

غازي آباد کښې دخپل جامع مسجد په احاطه کښې یئے مزار پورانوار جوړ کړے شه. چه مرجع د خاص و عام دے. او لکه چه مخکښې ورته اشاره شوے ده. د ددوئ نه روستو د دے ځامن پاتے شوي وو. حضرت بادشاه ګل صاحب الغازي، المجاهد فضل اکبر چه دپلار د وفات نه روستو سجاده نشین وو. دویم حضرت بادشاه ګل ژاني غازي فضل شاه المعروف په قلعه باچا (دا دواړه رونړه دا وخت ژوندي دي) دریم حضرت کشر بادشاه ګل غازي فضل معبود مرحوم (چه څوکاله مخکښې په کابل کښې وفات شوے دے.)

د حضرت حاجي صاحب علیه الرحمة د روحاني او عرفاني فیوضاتو د خدائي پاک بے شمیره مخلوق ته فائده رسیدلے ده. ګنړ مشاهیر خلیفه ګان یئے هم وو په قادریه او نقشبندیه دواړو طریقو کښې به یئے خپلو مریدانو ته بیعت ورکؤلو. او سلسله عالیه چشتیه د دوئ په خپل خاندان کښې د حضرت پیر بهاؤالدین المعروف په نیموړئ بابا د زمانے نه راروانه وه. لیکن په دے سلسله کښې یئې په غیر د یو کس دوه نه چاته بیعت نه دے ورکړے. د حضرت حاجي صاحب علیه الرحمة تول ژوند په دیر سخت زهد او ریاضت کښې تیر شوے دے. شب بیدار او شب زنده دار ژوندیئے وو. د ډیر لوئ کشف او کرامت خاوند وو. په خپلو ټولو همعصرو بزرګانو کښې په دوه خبرو ممتاز وو. یو دا چه د کفارو د ملک نه یئې هجرت کړے وو. مهاجر في سبیل الله وو. او بله دا چه د اسلام د پاره یئے جهادونه کوؤل."

مجاهد في سبيل الله وو. د دوئ د روحاني عظمت يو بل سبب د وو. چه په منظمه طريقه يئے د امر معروف د پاره كوششونه كوؤل. د دے روحاني عظمتونو په وجه په حضرت حاجي صاحب عليه الرحمة كښې يو عظيم الشان روحاني كشش او روحاني شفقت پيدا شوے وو. د خدائي مخولق به يئے ځان ته راكښلو او فيض به يئے ورته رسوؤلو. الله تعالى دي د دوئ درجے نورے هم بلندے كړي. وقدس سره العزيز.

حضرت سيد مير آغا جان ګيلاني عليه الرحمة

ولادت .... کابل (افغانستان) ۱۲۸۴هـ

وفات.. پيښور (پاکستان) ۱۳۲۹هـ

د حضرت سيد مير آغا جان اصلي نوم سيد مير اصغر وو. او مير آغا جان، يئے لقب وو. د والد ماجد نوم يئے سيد مير اکبر وو. د دو د مشر نيکه مزار مبارک په خاص کابل ښهر کښې په "ګذر شهيدان" کښې د "شاه فهيد" په نوم مشهور دے. و مرجع د خاص و عام دے. حضرت شاه شهيد د بغداد نه کابل ته تشريف راوړلے وو. او شجره د نسب يئے حضرت غوث الا عظم مير ميران محي الدين عبدالقدار جيلاني قدس سره ته رسيږي. (رضي الله عمالى عنهم اجمعي.)

جناب سيد امير اکبر شاه بلند پايه عالم او صاحب د اثر و رسوخ او وجاهت وو. د افغانستان تولو خلقو به د دوئ د زهد. عبادت او سيارت په وجه قدر او عزت کولو. په سلسله عاليه قادريه کښے د طريقت او معرفت خاوند وو.د تهجد د نمانځه نه

روستو د سحر تر نمانځه پورې ذکر جهر کوؤل د دوئ خصوصي مسلک وو.

حضرت سید میر آغا جان د درے کالو په عمر وو. چه والد ماجد یئے وفات شه د هغے نه روستو خپل مشر رور حضرت سید میر احمد شاه و والدے ماجدے یئے د تعلیم او تربیت فریضه په ډیره ښه طریقه سره ادا کړله. د دوئ مشر رور او ماما دوارو د قالین فروشئ تجارت کولو.څه وخت چه د دوئ عمر شل کاله ته اورسیده نو هغوئ په خپل تجارتي کاروبار کښې د ځان سره شریک کړ. په دغه زمانه د دوئ تجارت په ډیره لویه پیمانه چلیده. کابل یئے مرکز وو. او په پیښور. دهلي. کلکته. بمبئ او کوئیټه کښې یئے شاخونه موجود وو. حضرت سید میر آغا جان به د دغه تجارت په سلسله کښې اکثر په دهلي او پیښور ښهر کښې اوسیدلو.

په پیښور ښهر کښې د قلین او قراقلي یو مشهور دلال وو. چه د هغے نوم اویس قندهارے وو. ددے دلال به د دوئ کاروبار هم کؤلو. یوه ورځ په خبرو خبرو کښې د حضرت حافظ عبدالغفور نقشبندي پشوري (متوفي ۱۱۱۲هـ) تذکره اغله. او په صباله حضرت سید میر غا جان د اویس قندهاري په ملګرتیا کښې حضرت شیخ عبدالغفور علیه الرحمة مزر پر انوار ته حاضر شول دغه حاضریدل وو. او د دوئ د حضرت شیخ عبدالغفو رعلیه الرحمة سره داسے مضبوط روحاني تعلق او روحاني رابطه قائمه شوه.

چه د سید میر آغا جان تر وفات بلکه د وفات نه روستو هم محکمه پاتے شوله.

حضرت سید میر آغا جان تر ډیرے مودے پورے د حضرت شیخ عبدالغفور نقشبندي قدس سره د مزار ته په روحاني طریقه سره د فیض حاصلولو او روحاني تعلق دغه راز پټ او ساتلو. پخپله یئے فرمائیلي وو. چه زه پوره لس کاله روزانه به دحضرت حافظ عبدالغفور مزار پرانوار ته حاضریدلم. لیکن څما چه کوم تعلق قائم شوے وو. د هغے اظهار م چاته نه وو کړے. یوه واقعه داسے پیښه شوه چه د هغے په وجه د دے تعلق په ښوکنډ کولو مجبوره شوم. هغة واقعه داسے پیښه شوے وه چه ماتجارتي سامان یاد کړے وو. هندوستاني ته روان ووم. چه په لاره کښے د میرټهـ چه د کابل کوم ټکټ که دوسره وي ماته یئے راکړه. اتفاقاً دغه وخت څما سره یوسل ټکټونه موجود وو. دا ټکټونه به مونږ ته د کسټم محکمے راکوؤل او مونږه به په هر یو بنډل یو یو ټکټ لګولو د پاره د دے چه دا معلومه شي. چه په دے مال باندے کستم ادا کړے شوے دے. عام طور د تجارت پیشه خلقو دا قاعده وه. چه دغه ټکټونه به یئے د مال په بنډلونو باندے نۀ لګوؤل په دے خیال چه ضائع نه شي. او د ځان سره به یئے د مال د بنډلونو د تعداد مطابق محفوظ ساتل. حضرت سید میر آغا جان فرمائي. چه ما هغه ټکټونه هغه محفوظ ساتل. حضرت سید میر آغا جان فرمائي: چه ما هغه ټکټونه هغه انګریزا ته ورکړل نو

هغه انګریز راته اووئیل چه په دے قسم دوه زره ټکټونه ځما د پاره د کابل نه نور را اوغواړه ما ورته ښه اوکړل. او چه د هلي ته اورسیدم نو خپل رور ته م کابل ته خط او لیکه. چه دغه کسټم والا ټکټونه دوه زره پیدا کره. د لرغي په یوه د بلي کښې یئے بند کره او مالته یئے دهلي ته را اولیږه.

سید میر آغا جان فرمائیل. چه یوه شپه م خواب اولیده چه امیر عبدالرحمان خان والئي کابل توره په لاس کښې نیولے ده. او په قهر سره ماته وائي چه ته ځما د حکومت ټکټو نه په د شمن خرڅوے. څه اوکړم. حضرت شیخ عبدالغفور علیه الرحمة ځما لاس نیولے دے. که نه ته به مي په دے توره ټکړے ټکړے کړے وے." حضرت فرمائي چه صبا شه. نو زهٔ ډیر پریشانه او په تشویش کښې ووم. بله ورځ د کابل نه سوداګران راغلل. تجارتي سامان ورسره وو. هغوئ راته قصه اوکړله. چه ستا د پاره چه کوم تجارتي سامان رالیږلے شوے وو. په هغے کښې د لرګي یوه بلے بر مد شه چه په هغے کښې د کسټم ټکټونه وو. د کسټم محکمے سامان راوړونکے ګرفتار کړلو. څو ورځے پس د حضرت سید میر غا جان د مشر رور حضرت سید میر احمد شاه خط هم را اورسیده. چه په هغے کښې لیکلي وو. چه ستا په وجه د والئ کابل امیر حبیب الله خان په دربار کښې پیش کیدل را پغاړه شول. بادشاه مونږله خو زور نه راکړه او پرے یئے ښودلو. لیکن تانه پریږدي." چنانچه هم په

دے فکرمندئ کښې حضرت سید میرآغا جان پیښور ښهر ته تشریف راوړ. او روزانه به د خپل دستور مطابق د حضرت شیخ حافظ عبدالغفور علیه الرحمة زیارت له تللو. په دے حال شپږ میاشتے تیرے شولے. یوه ورځ ډیر د پریشانئ په حالت کښې ناست وو. چه په دغه حال کښې حضرت حافظ علیه الرحمة ورته په روحاني طریقه سره او فرمائیل چه مه زهیریږه! د زمري په شان کابل ته لاړ شه. او د زمري په شان بیا واپس راشه. څوک درته پورته هم نه شي کتلے.!

حضرت سید میر آغا جان فرمائیل. چه د حضرت حافظ صاحب علیه الرحمة د مزار مبارک نه چه په روحاني طریقه سره دا زیرے راکړے شه. نو په څلویښت روپئ م یو آس او په شل روپئ زین واخیست. د سفر سامان م تیار کړ. او بله ورځ کابل ته روان شوم. چه څه وخت په کابل ښهر کښې خپل کورته اورسیدم په ټول کور کښې غوغا او وایلا جوړه شوه. چه حکومت به دے گرفتار کړي او ډیره سخته سزا به درکړی. مگر سید میر غا جان ورته په جواب کښې اووے چه تاسو وار خطا کیږئ مه. تسلئ لرئ خداي پاک به خیر کړي. چنانچه د دغے نه پس حضرت سید میر آغا جان ډیره موده په کابل کښې تیره کړه. څو څو ځله یئے د امیر شهید حبیب الله خان سره ملاقاتونه هم اوشول لیکن چا ورته پورته هم او نه کتل.

په ۱۹۱۱هـ کښې د حضرت آغاجان صاحب یو ځلمے عالم او فاضل ځوي سید میر جعفر د دوه ورځے بیمارئ نه روستو وفات شه. په دغه نیټه دے لوئ تاجر وو. او تقریباً درے لکه روپئ نقدے ورسره موجودے وے. آغا صاحب به فرمائیل. ځما په زړهٔ کښې به دا خیال ګرځیدلو چه څه داسے طریقه ممکنه شوے. چه ځما دا ټول مال او دولت خرڅ شولے. لیکن ځما دا ځوي دوباره راژوندے شولے. لیکن ظاهره ده چه داسے کیدل نا ممکن وو." چنانچه د دے خیال په راپیدا کیدلو د دوئ په ژوند کښې یو انقلاب راغے. چه د چاپرے څه حساب پورے وو. هغة یئے رااوغوښتل او خپل خپل حق یئے ورته ادا کړ. او چه په چا زهٔ د یو ویشت کالو ځلمے ووم. طالب علم ووم. د احادیثو دوره م کوؤله. د مولانا فضل رهاني د متهرے نه صحیح بخاري. صحیح مسلم او مسندابي داؤد م لوستلو او د مولانا عبدالله د داربنکونه م صحیح تر مذي او مسند ابن ماج لوستلو او د مولانا عبدالله د داربنکوم نه م صحیح تر مذي او مسند ابن ماجه لوستلو. او د خپل تره قاضي عبدالکریم علیه الرحمة نه م مسند امام طحاوي لوستلو. او چه کله به اوزګار ووم نو چه حضرت سید میر آغا جان به د حضرت مولانا شیخ عبدالغفور قدس سره مزار ته تللو. نو زهٔ به د دوئ په خذمت کښې ورسره تللم. د دئ به مزار مبارک ته پیاده تلل. او په لاره کښې چه به ستړي شول او دمه به یئے کوؤله نو ما به ورله په پښو او پنډو

بانده زور کولو. چاپي به م ورله کوؤله.
عام طور په داسې حالت کښې به دوئ د
استغراق په حالت کښې وو. و چه رابیدار
به شول. نو دا به یئې فرمائیل بچې ام
عبدلاحلیم ګپ بشنو! او بیا به یئې راته
داسې اسرار او موزبیان کړل. چه په هغې
کښې په ډیرو کمو خبرو په هغه ورځو کښې
زۀ پوهیدلم. یو ورځ د حضرت مولانا شیخ
عبدالغفور قدس سره د زیارت نه واپس را
روان وو. د دوئ یو ځاي دمه کوؤله. او ما
د قاعدې مطابق د دوئ پښې مبارکې چاپي
کوؤلې. راته یئې او فرمائیل بچې ام
عبدالحلیم! هشنغرئ دروازه دې لیدلې ده.
د هغې نه باهر د سړک په غاړه یو فقیر
ستوني ستق پروت دې. مخ یئې آسام ته
ګرځولےدې. او د خدائ نه دا سوال کوي. چه
اې خدایهٔ! یا دا انګریزان د دې ملک نه
اوباسه. او که دوئ نه اوباسې. نو ځما
روح قبض کړه. دغه فقیر خواراک څښاک هر
څه پریښې دي. او په دې خبره پورتې نختې
دې چه تر هغې پورې به خوراک څښاک نه کوي
چه تر څو د ده په دې دوه سوالونو کښې
خدائ پاک یو پوره کړې نه وي. د دې فقیر
د دې حال نه د خدائ پاک یو بنده خبر شه.
هغه ورله ورغې او د غه فقیر ته یئې
اووئیل. چه ته ناراضه کیږه مه. جلتي مه
کوه. خدائ پاک حکیم دې. ستا سوال خداي
پاک منظور کړې دې. انګریزان به د دې ملک
نه لاړ شي. لیکن شپاړس کاله پس!
انګریزانو بعض داسې کارونه شروع کړي دي.
چه هغه د دې ملک د فایدې دي. او بعض

داسې کارونه دي چه هغوه خدائ پاک د انګريزانو په ذريعه سر ته رسول غواړي چه د انګريزانو د حکومت ختم کيدلو نه پس په دے ملک د مسلمانانو کوم حکومت جوړيږي چه هغوئ ته اسانتيا په لاس ورشي. په دے وجه ته دا خپل ضد پريږد او د خدائ پاک په رضا باندے راضي شه.

حضرت سيد مير آغا جان دا خبره په ۱۹۳۱ء کښې ماته کړے وه او سپاړش کاله پش په ۱۹۴۷ء کښې انګريزان د دے ملک نه لاړل او د مسلمانانو حکومت د پاکستان په نوم جوړشه. دا ډيره لويه واقعه ده. ليکن حضرت آغا صاحب دا دومره لويه واقعه د خپل کشف او کرامت په طريقه سره نه بلکه د يو حکايت په شکل بيان کړے وه. او زهٔ (عبدالحليم اثر) يئے نن په ۱۹۶۵ء کښې څلور ديرش کاله پس ځکه بيانووم چه حضرت سيد مير آغا جان وفات شوے دے. ما دا راز د هغوئ په ژوند نه شو ښکاره کوؤلے. هغئ پخپل ژوند احول پټ ساتل غوښتل.

د حضرت سيد مير آغا جان په طبيعت مبارک کښې په کمال درجه انکساري موجود وو. او تواضع خود دوئ طبيعت وو.د دوئ د اوچتو اخلاقو اندازه د دے نه لګولے شئ. چه څوموره به يو سړے د اعمالو په لحاظ پريوتے وو. هغو مره به يئے د هغه سره زياته مينه کوؤله. او لکه چه مخکښې هم ورته اشاره اوشوله د دوئ د مينے فرمائيلو طريقه دا وه چه په ظاهره به يئې هغة سړي ته هيڅ هم نه وئيل. ليکن

دومره په غور او پوره توجه سره به یئے
هغه ته نظر فرمائیلو چه هغه سړے به په
ځان پوهه هم نه شه او د هغه حالت به بدل
شوے وو. په رښتیا سره چه حضرت سید میر
آغا جان کیمیا نظر بزرگ وو. او واقعات
دا دي چه داسے خلق ډیر کم پیدا کیږي. د
دوئ په خصوصیت تعریفونو کښې بل لوئ
تعریف دا وو چه د عالمانو به یئے ډیر
زیات قدر کؤلو. د دوئ صحبت او مجلس ته
به سادات، عالمان او صالحان خلق ډیر
زیات راتلل. دوئ به د هر یو سړے د هغه د
منصب مطابق گفتگو کوؤله. او په پوره
توجه سره به یئے د هغوئ خبرے آوریدلے. د
طالبانو او عالمانو به یئے هر ممکن خذمت
کوؤلو. کوم علم لذني چه خدائ پاک وو کړے
وو. د هغے په وجه ډیر لوئ علمي بصیرت
ورته حاصل وو. لیکن د عالمانو سره د
خبرو اترو په وخت کښې داسے طریقه به یئے
هر گز نه اختیار کوؤله چه د هغے په وجه
د دوئ علمي فضیلت او برتري معلومه شي.
یا د هغه عالم زړۀ مات شي. ذاتي طور ځما
(عبدالحلیم اثر) سره یئې دا طریقه وه.
چه کومه علمي مسئله به راته گرانه شوه.
اشکال به راته پیښ شه. نو چه د دوئ سهر
به مخامخ شوم. په غیر ځما د تپوس نه به
یئې د هغه مسئلے په حقله ځما نه سوال
اوکړ. او د دوئ سوال به وو. چه ځما د
ذهن په آئینه به د هغے مشکل سوال جواب
را څرگند شه. دے به مسکے شه. او خبره به
ختم شوه.

حضرت سیدنا آدم بنوري قدس سره په ۱۰۳۷هـ کښې د "خلاصة المعارف" په نوم یو کتاب لیکلے دے. دا کتاب تر اوسه پورے نه دے چاپ شوے. د دے یوه قلمي نسخه د کابل د سید آغا میر الفت" په ملکیت کښې وه. حضرت سید میر آغا جان دغه قلمي نسخه ماته راکړله. څما فارسی خط ښه وو. په ډیره خوشنویسئ م د هغے یو نقل د دوئ د پاره تیار کړ. روستو راته معلومه شوه چه د دے کتاب د نقل کؤلو په ذریعه دوئ یو روحاني فیض ماته رسوؤل غوښتل. داسے فیض چه تر څو ژوندے یم د هغے شکریه نه شم ادا کوؤلے. دغه کتاب او د نقشبندیه او قادریه طریقے د مشاهیرو بزرګانو کتابونه به یئے مطالعه کوؤل. لیکن هاله چه کله به ځان له وو.

د کابل نه هجرت او د پیښور قیام

د کابل نه د دوئ هجرت او پیښور ته راتلل هم د دیني غیرت او ننګ له باعثه وو. امیر امان الله خان وائي کابل چه څه وخت د یورپ د دورے نه واپس راغے. نو د کابل ښهر په "باغ حضوري" کښې یئے یوه عامه جلسه را اوبلله. ټول حاکمان. امیران عالمان. سیدان و قومي مشران یئے هغه جلسے ته را اوغوښتل. د تقریري په دوران کښې والي کابل امیر امان الله خان څه داسے خبرے او کړے چه هغه د شریعت خلاف وے.

حضرت سید میر آغا جان د دغه جلسے نه راپورته شه. خپلے دیرے ته راغے. پرله پسے درے ورځے یئے ډیرے په بے آرائي تیرے کړلے. د کابل په ښهر کښې یو مجذوب فقیر وو. معمر بزرگ وو. د امیر عبدالرحمان خان د زمانے نه هم پخوانے سړے وو. د هغه بابا خان محمد نوم وو. هغه له ورغے اجازت یئے ترینه واخیست. هم په دغه دریمه ورځ یئے د کابل نه هجرت اوکړ. پیښورته یئے تشریف راوړ. او لکه چه وړاندے ذکر او شه. باقي پاتے ټول ژوند یئے په پوره یکسویئ سره د خدائی پاک په عبادت کښې د حضرت مولانا شیخ عبدالغفور نقشبندي قادري علیه الرحمة په قدمونو کښې تیره کړلو. اګر چه د کابل امیرانو او حکومتي مشرانو به دوئ ته ډیر په کلکه سره کابل ته د واپس تللو بلنه ورکؤوله. تر دے حده چه یو ځل سردار محمد هاشم خان ذاتي طور پخپله د دوئ په خدمت کښې حاضر شوے وو. او کابل ته د تللو عرض یئے ورته کړے وو. لیکن د دوئ هم دغه یو جواب وو. چه هر کله چه حضرت شیخ عبدالغفور قدس سره راته اجازت او فرمائي نو کابل ته به درشم."

حضرت سید میر آغا جان علیه الرحمة به روزانه یو ختم د خواجه ګان نقشبند د حضرت شیخ عبدالغفور قدس سره په مزار کښې کؤلو. او بل ختم به یئې د ماښام د نمانځه نه روستو د خپلے محلے په جماعت کښې کؤلو. او په کال کښې یو ځل به یئے د شعبان د میاشتے په پنځلم تاریخ په ډیر

اهتمام سره د حضرت مولانا شيخ المشائيخ حافظ عبدالغفور قدس سره د تاريخ وفات ۱۵، شعبان ۱۱۱۶هـ په ياد كښې عرس كولو ختم او خيرات به يئې كؤلو. د حضرت مولانا حافظ عليه الرحمة يو نمسے وو. محمد افضل نوم يئے په موضع بالو ضلع پيښور كښې اوسيده. د عرس په موقع به يئے د هغوئ په خدمت كښې نذر عقيدت پيش كؤلو.

حضرت سيد مير آغا جان قدس سره چه د كابل نه پيښور ښهر ته تشيف راوړ. نو په محله ريتړئ كښې يئے ډيره موده تيره كړے وه. بيا څه زمانه په محله فضل حق صاحبزاده كښې يئے استوګنه لرلے وه. او په آخير كښې د نوے دروازے ته باهر د سړک په غاړه په بومكان كښې يئے استوګنه اختيار كړے وه. ډير كرامات يئے لرل. لوئ فياض او سخي انسان وو. چه څه به ورسره وو. د الله تعالى د رضا د پاره به يئے صرف كوؤل. هيڅ يو سوالكړے يئے تش لاس نه وو رخصت كړے. د محلے په جماعت كښې چه هر څومره طالب علمان به اوسيدل. د هغوئ د پاره دواړو وختو ډوډئ به د دوئ د كورونه ليږلے شوه. يو قسم لنګر به يئې چليدلو. او كرامت يئے دا وو. چه د دے دومره شاهانه اخراجاتو هيڅ ظاهري ذريعه نه وه. هيڅ تجارت. نذر. نياز او شكرانے راتلل نه وو. د عامو سجاده نشينانو په شان د مريدانو او عقيدتمندانو نه د مالي فائدو نذرونو او نيازو نورا تللو هيڅ ذريعه نه وه. خدائ پاک د دوئ د ژوند د پاره چه د

غیبو نه کوم سامان کړے وو. د عاما خلقو فکر هغے ته نه شي رسیدلے.

حضرت سید میر آغا جان د۸۵کالو په عمر په ورځ د چار شنبه ۲۷، تاریخ د ربیع الاول ۱۳۲۹هـ وفات شوے وو. او په پیښور چهاؤني کښې د حضرت حافظ عبدالغفور علیه الرحمة د مزار په احاطه کښې (مغربي ګوشه کښې) دغه د ولایت او عرفان روښانه نمر خاوروته او سپارلے شه علیه الرحمة والغفران.

د دوئ دوه ځامن دي (۱) سید غلام مجدد "چه په آغا ګل مشهور دے. (۲) سید غلام رباني. چه په "غلام جان" نامه مشهور دے. دواړه د کابل د حضرت نور المشائیخ مرحوم مریدان دي. د سلوک د منزلو نو تکمیل یئے کړے دے. د پاکیزه او صافو او حمیده اخلاقو لرونکي دي. د خپل والد ماجد په شان د خاموشئ او یکسویئ ژوند تیره وي. په ذکر او فکر کښې مصروف دي. دا دواړه رونړه د ورورکوټي والي په زمانه کښې ځما (عبدالحلیم اثر) شاګردان وو. ابتدائي دیني کتابونه یئے ځما نه لوستلي وو. په هغه زمانه هم د سعادت آثار د دوئ په تندی کښې ځلیدل.

حضرت مولانا سيد عبدالستارشاه بينوا

ولادت

....
ميران کلے (الائي ضلع هزاره) ۱۲۹۶هـ

وفات.............................
... پيښور ښهر ۱۳۷۲هـ

حضرت مولانا سيد عبدالستار شاه بينوا نقشبندي قادري. چشتي. نظامي. نيازي عليه الرحمة د موجوده دور په مشاهيرو مشائيخو او روحاني پيشوايانو کښې د ډيرے اوچتے روحاني او عرفاني درجے خاوند وو. کشف. کرامت او روحاني تصرفات يئے لرل. علم دوست، علم پرور او اديب پرور وو. د ډيرو نيکو پاکيزه وو اخلاق خاوند وو. د شفقت او مهربانئ نه ډکه کومه لويه سينه چه خدائ پاک دوئ له ورکړے وه. د هغے مثال نه پيدا کيږي. پخپله صحيح النسب حسيني سيد وو. او چه نوم يئے سيد به وو. که لوئ به وو. که ورکوټے که په هر حال کښې چه به وو. دهغه به يئے ډير زيات قدر او اختترام کؤلو د ځان سره به يئے په خپله سجادي کښينولو او په ډير ادب به يئے د هغه سره خبرے اترے کوؤلے. د دوئ ذات مبارک د عالمانو او سيدانو د پاره د قدر او عزت زياتيدلو مظهر وو. او د دوئ زيات

مبارک د سلسله عالیه چشتیه او قادریه دواړو فیوضاتو مجمع البحرین وو. او په خصوصیت سره په وادئ پیښور او خواؤ شا علاقو کښې د دوئ په برکت سره د سلسله عالیه چشتیه او قادریه دواړو د فیوضات ومجمع البحرین وو. او په خصوصیت سره په وادئ پیښور او خواؤ شا علاقو کښې د دوئ په برکت سره د سلسله عالیه چشتیه نظامیه خصوصي شاخ نیازیه ته لویه ترقي حاصل شوے وه. حضرت سید عبدالستار شاه قدس سره د "بادشاه جان صاحب" په لقب زیات مشهور وو. د حضرت سید بادشاه جان صاحب د نسب او طریقت دوارو شجرے دلته درج کوؤلے شي.

شجره د نسب:

حضرت سید عبدالستار شاه ابن سید برهان شاه. ابن سید گل شاه ابن سید امیر شاه ابن سید امیر شاه ابن سید کریم شاه ابن سید پیرامام ابن سید مسعود ابن سید عبدالوهاب ابن سید مصطفے محمد ابن سید علي ترمذي المعروف شهنشاه خراسان پیر بابا علیه الرحمة د بنیر. (ریاست سوات) د حضرت پیار بابا نه په پورته شجره نسب د پاره ملاحظه کړئ ځمونږ د دے کتاب تذکره د پیر بابا علیه الرحمة) د حضرت پیر بابا اولاد کښې د ټولونه اول د سید مسعود علیه الرحمة ځوي سید پیر امام هزارے ته راغلے وو. مزار مبارک یئے د اباسیند په غاړه دے. د هغه د ځوي سید کریم شاه مزار مبارک د ضلع هزاره د وادئ ټهکرئ الائي. په علاقه پیر یاړئ کښې په بلند کوټ نوم

مقام کښې دے. د هغه نه روستو د سید امیر شاه د هغه د ځوي سید برهان شاه زیارتونه د الائي علاقه پیریاړئ په موضع میران کلي کښې دي. علیه الرحمة والغفران.

د حضرت "بادشاه جان صاحب" د سکه نیکه سید ګل شاه علیه الرحمة درے ځامن وو. یو سید سمندر شاه چه د هغه بیا درے ځامن وو. سید عبدالقهار سید عطار شاه. سید اکبر سید. دویم سید حکیم شه. د دوه یو ځوئ وو. سید سوار شاه. چه بیا د هغه درے ځامن وو. پیر جلال سید. پیر جمال سي. پیر سید محمود.

دریم سید برهان شاه. د دوئ دوه ځامن وو. سید عبدالستار. سید عبدالمنان. او د وه ئي لونړ وے. یوه د حضرت سید عبدالستار شاه بادشاه جانب صاحب نه مشره وه. او یوه په دوئ پسے وه. او د سید عبدالمنان نه مشره وه. د دوئ په دغه خویندو کښې د یوے خورځوي سید واقف شاه صاحب دے. چه نن ورځے د حضرت بادشاه جان صاحب سجاد نشین دے.

شجره قادریه

د حضرت سید عبدالستار شاه بادشاه جان د سلسله عالیه قادریه شجره داسے ده. سید عبدالستار شاه. له شیخ محمد عظم چشتي قادري کا شمیري. هغه له مولانا سید عبید الله ګیلاني قادري هغه له خپل والد ماجد سید عبدالله هغه له خپل والد ماجد

سيد عبدالجليل هةغ له خپل والد ماجد سيد محمود. هغه له خپل والد ماجد سيد محمد درويش هغه له خپل والد ماجد سيد نور الدين ثاني. هغه له خپل والد ماجد سيد حسام الدين. هغه له خپل والد ماجد سيد نور الدين اول. هغه له خپل والد ماجد سيد ولي الدين الفاضل. هغه له خپل والد ماجد سيد زين الدين هغه له خپل والد ماجد سيد شرف الدين هغه له خپل والد ماجد سيد شمس الدين هةغ له خپل والد ماجد سيد محمد الهتاك هغة له خپل والد ماجد سيد الحنان عبدالعزيز هغه له خپل والد ماجد محبوب سبحاني، غوث صمداني قطب رياني شيخ محي الدين عبدالقادر جيلاني قدس الله اسرار هم. له دينه علاوه حضرت بادشاه جان صاحب په سلسله عاليه قادريه کښې په يوه بله واسطه سره هم مريد وو. چه روست وبه يئے ذکر راشي.

شجره چشتيه:

حضرت سيد عبدالستار شاه له حضرت شيخ (سائي) محمد عظيم هغه له مولانا سيد عبيد الله ګيلاني هغة له خواجه نياز احمد بريلوي هغة له شاه فخر الدين هغه له نطام الدين اورنګ آبادي هغه له شاه کليم الله هغه له حضرت يحى مدني هغه له حضرت خوجاه شيخ محمد هغه له شيخ جمال الدين جمن. هغة له شيخ محمود راجن هغه له شيخ علم الدين هغة له شيخ سراج الدين هغة له شيخ کمال الدين هغه له شيخ نصرالدين هغة له شيخ سراج الدين هغة له شيخ کمال

الدین هغه له شیخ نصر الدین چراغ دهلوي. هغه له محبوب الهی نظام الدین اولیاء دهلوي هغة ل خواجه فرید الدین ګنج شکر هغه له حضرت خواجه قطب الملة والدین قطب الدین بختیار کاکي هغه حضرت خواجه خواجګان معین الدین حسن چشتي اجمیري علیه الرحمة والغفران.

حضرت سید عبدالستار شاه بادشاه جان صاحب د ترمذي ساداتو په دغه مبارک خاندان کښي په ۱۲۹۶هـ مطابق ۱۸۸۰ء کښي پیدا شوے وو. او تقریباً د اتلسو کالو په عمر کښي د ۱۸۹۸ء په خواؤ شا کښے د علم په طلب پسے وتلے وو. او بیا پخپل ژوند خپل وطن ته د استوګنے په غرض فقط یو ځل بیا راغلے وو. د ۱۸۹۸ء نه تر ۱۹۵۴ء (یعنے د وفات د کال پورے) د دوئ د ژوند شپږ پنځوس کالو پوره حالات او واقعات لیکل لوئ تفسیل غواړي. دلته په اختصار سره د دوئ بعض هغة حالات درج کوؤلے شي. چه د دوئ د ټولونه مشر مرید او اولنی خلیفه جناب "زرین دادا صاحب" راته بیان کړئ دي. د زرین دا دا روایت دے چه حضرت "بادشاه جان" صاحب فرمائیلي دي:

هر کله چه په ۱۸۹۸ء کښي د خپل کور نه د علم دین په طلب کښي اووتلم. نو پنجاب ته لاړلم. هلته ځمونږ د وطن یو عالم وو هغه له ورغلم نور ملګري طالب عالمان هم راسره وو. لیکن هغه د ځان سره اونه ساتلو وطن ته د واپس تللو هدایت یئے راته اوکړ. لیکن ځمونږ د وطن اصول

دا وو. چه یو سړے به په یو مهم پسے لاړ. نو هغه به بیا په غیر د کامیابئ نه واپس وطن ته نه راته. په دے وجه ځمونږ د پاره وطن ته د واپس راتللو سوال نه پیدا کیده. په پنجاب کښې پاتے شولو. ډیر تکلیفونه رابانددے تر شول یو کال درے میاشتے مونږه محنت او مزدور او کړله. بیا زهٔ د ملګرو نه جدا شولم د خواجه هند الولي سلطان الهند خواه غریب نواز سلام او زیارت له اجمیر ته لاړم. او واپس چه راغلم. د دهلي یو حکیم صاحب وو. په تکړونو کښې یئے ټیکه داري کوؤله. هغه په دریمه حصه د ځان سره حصه دار کړلم. الله مهربانه وو. او د خواجه صاحب نظر وو. په ټیکه دارئ کښې ډیرے روپئ وے. په دغه ورځو کښې م دا خیال پیدا شوے وو. چه ډیرے روپئ او دولت اوګټم نو کورته به لاړم شم. څه زمانه م په دهلي کښے او په کشمیر کښې تیره کړله. کاروبار به م کؤلو او ورسره دیني تعلیم به م هم حاصلولو. د نیکی طرف ته م خیال راګرځیدلو او د خپلو پلرونو نیکونو لاره باندے د تللو شوق او محبت به م په زړه کښې پید کیدلو.

په ۱۹۰۴ء کښې پیښور ته ئې تشریف راړلو. څه زمان پس بنیر ته د خپل نیکه حضرت پیر بابا علیه الرحمة زیارت له لاړلو. هلته یئے استدعا اوکړه چه خدائے پاک مهربانه شي او د طریقت او معرفت علم ورته حاصل شي. قلب سلیم او تسکین قلب ورته حاصل شي. چه په آرام او اطمینان سره ژوند تیره کړلے شي. بادشاه جان صاحب

به فرمائیل د شپې په خوب کښې خپل نیکه بابا صاحب اولیده راته فرمائي: چه مونږ چاپسې نه ګرځو خلق په مونږ پسې ګرځي د دے خوب تعبیر ځما په فکر کښې داسې راغې. چه زۀ د بابا صاحب نه په لسم پشت کښې یم او ځمونږ په په دے خاندان کښې تر یوؤلسم پشت پورے روحاني فیوضات په اویسي طریقه سره حاصلیږي. ځکه بابا صاحب راته دغه شان جواب راکړلو. او مطلب یئے دا دے چه ماله دا تسلي لرل پکار دي چه کوم مقصد ما په زړۀ کښې نیولے دے. هغه به خدائ تر سره کړي.

په ۱۹۰۵ء کښې د ملاکنډ ایجنسئ په بټ خیله نومے مقام کښې یئے د حضرت سید یعقوب شاه نقشبندي نه په سلسله عالیه نقشبندیه کښې بیعت اوکړ. څه موده پس کشمیر ته لاړ. هلته یئے عادت او ریاضت کؤلو. هلته څوک شاه صاحب وو. هغة ورته په څلورو واړه طریقو کې اجازت ورکړ. په ۱۹۱۰ء کښې یئے کابل ته تشریف یو ړلو. هلته یئےد نقیب الا شراف حضرت سید حسن شاه ګیلاني قادري علیه ارلحمة نه په سلسله عالیه قادریه کښې بیعت اوکړ. او په ۱۹۲۱ء کښې د هغوئ نه چه رخصت یئے واخیست نو یو ځل بیا کشمیر ته لاړلو. په کشمیر کښې یئے د سید رسول شاه نومي یو نیک بنده د خدائ سره ملاقات او شه. د سید رسول شاه صاحب په خواؤ شاعلاقه کښې ډیر روحاني اثر موجود وو. تر دے حده چه د هغه له خاطر به چا چلیم قدر ته نه شه

ځښلے. بادشاه جان او سيد رسول شاه دواړو عبادت او رياضت شروع کړ. چيليئے اوکښلے. شهرت يئے اوشه. خلق پرے رامات شه. او د بزرګئ نوم يئے تر لرے لرے اورسيده بادشاه جان صاحب به فرمائيل چه ما سيد رسول شاه بادشاه صاحب ته عرض اوکړ. چه ما او تا خو ډيره ښائسته چله او کښله. مخلوق د خدائ رامت دے. هر څه بس بسيار دي. رسول شاه بادشاه اووے چه هو دا ځله خدائ په مونږه ډيره مهرباني اوکړله. بادشاه جان صاحب ورته اووئيل چه بادشاه صاحب هغه ځمونږ نيکونو چه څه لرل. او څه يئے غوښتل هغة خو دا شے نه دے. دا د دنياوي تصرفات خو يو داسے څيز دے. چه دا يو هندوته يو عيسائي ته يوسکهـ ته بلکه هر يو انسان ته په رياضت او چله کشئ سره حاصليدلے شي. بيشکه په دے چله کشئ ځمونږ د دنيا ډول ډالي جوړ شه. خلق رابانده رامات دے. او مونږ يئے پيران صاحبان يو. ليکن هغة آخرت څه شه؟ هغه قلب سليم څه شه.؟

د دے سوال په جواب کښې سيد رسول شاه بادشاه صاحب يو ساعت خاموش پاتے شه. بيائے اووئيل چه او هلکه ښه دے اووئيل. دا څير چه کوم مونږ ته حاصل شه. دا څيز ځمونږ نيکونونه دے غوښتلے. او نه يئے ښه ګڼړلے. يو څو ورځے په دغه پريشانئ کښې تيرے شوے. بيا رسول شاه بادشاه صاحب اووئيل. چه هلکه داسے کار اوکړه. چه ځه ته لاړ شه. په پنجاب او سرحد کښې ګرځه. او زه به په کشمير کښې تالاش کوؤم. په

سپینو جامو والا خلقو کښې خوو ځوک د قلب سلیم والارا ته په لاس رانغے. کیدلے شي چه دا ځوک په ګودړو کښې پراته دي. په دوئ کښې یئے پیدا کړو. چنانچه د دے صلاح او مشورے نه روستو دواړه یو ځل بیا د مرد کامل په تالاش پسے روان شولو. مریدان. خذمتګاران. تعلقداران هر څه مو په ځائي پریښودل. او مونږ ترینه په پټه مخ سر او نعښتل او د حق په طلب پسے روان شولو. بادشاه جان به فرمائیل چه په دے سلسله کښې ما ډیرے سختۍ او پریشانئ اولیدلے لیکن ماځوک پیدا نه کړ. په دغه دوران کښې بادشاه جان صاحب به د خپلو زړو ټهیکدارانو دوستانو سره په ټکرو کښې اوسیده. یو ورځ دے په سیالکوټ کښې د خپل یو ټهیکه دار دوست په دیره کښې ناست دے. د ده په مخکښې یو سړے تیر شه. چه د هغه اوګد کمیص دے. ببر سریو خادم ورپسے روان دے. او د تاتنے چلم یئے په لاس کښې دے. شکل شباهت یئے د فقیرانو وو. آثار یئے مبارک په نظرراتلل. ما د خپلو همنشیانو نه تپوس اوکړ. چه دا ځوک وو. هغوئ راته اووے. چه دا رسول شها بادشاه صاحب وو. او دے فقیر شوے دے. ما چه د رسول شاه بادشاه صاحب دا حالات او لیده نو حیران پاتے شولم. ځکه چه ځما په ملکرتیا کښې او ځما نه مخکښې به رسول شاه بادشاه دوه ګهوړا بوسکي او اعلی نه اعلی لباس اغوستلو. او بله دا چه د ده دویرے نه به چاپه کلي کښې هم چیلم نه شه ساتلے. او دا وخت پخپله د هغه دا حالت وو. او د

هغه د خادم په بغل کښې چيلم وو.؟ خير زهٔ
ورپسے روان شوم. کوم ځاي کښې چه دوئ
ډيره نيولے وه. هلته ورغلم. په فراخه
تندي يئے راته هر کلے اووايه. اوراته
يئے اووئيل چه زهٔ کامياب شولم. ماته
هغوئ په لږ وخت کښې تمام سرګذشت تير کړ.
چه په مظفر آباد کښې پاس په "راج کنډي"
نومے "تنړه" کښې يو فقير دے چه ډير ښکلے
سړے دے. د اصل نه هم راجه دے. خو ډيرے
ښے ښے خبرے پکښې شته دے زهٔ چه ورپسے
ورغلم د شپے تقريبا لس بجے د هغوئ محل
کښې کښيناستم. د هغوئ دا اصول وو. چه نو
سړي ته به يئے توجه ډير کوؤله زهٔ هم
ډيره موده ګرځيدلے ووم. ځما هم د
پيرانونه زړهٔ شين وو ليکن د پيرانو هم
ځما نه زړهٔ شين وو. دغه وخت چه زهٔ د دوئ
دربارله ورغلم. نو په توجه کښې ورته
برنډ شوے وو. چه خلق خو درنه ډير را
چاپيره دے. څه ټګي دے جوړه کړے ده.؟
روستو د سترګي مه شے خوار مه شے نه پس
يئے راته تپوس اوکړ. چه په دے غرونو کښې
څرنګ راغلے يئے؟ ماورته اووے. ګرځمه په
دے لغړو سوغړو پسے چه د خداي پاک يو
داسے بنده بيا موم چه دين او دنيا دواړه
م ښه شي. دين اول او دنيا روستو په دے
کښې تاله هم راغلم. چه هسے دے جامي او
کښلے دي. او که نه څه شته دے در پکښې.؟
د دے په جواب کښې هغوئ راته اووے. چه دا
دنيا د خدائ کار خانه ده. په دے کښې رنګ
رنګ خلق موجود دے. د خدائ بندګان شته
دے. خو څوک اخيستونکے نشته. فقر بے

محنته نه حاصليږي. خواری او محنت غواړي. فقير يو دا د انهی دے. ليکن ډير درونډ بار هم دے. چه څوک ورته غاړه هم کيږدي. که چرے ته دے درونډ بار پورته کولو ته تيار يئے نو سحر چه زۀ نمونځ اوکړم هغه واخت راشه.

د دےخبرو اترو نه پس چه زۀ د شپے ځملاستم. نو ټوله شپه م په تصور کښې تيره کړه. ما ډيره دنيا ليدلے وه. ليکن داسے فقير م نه وو ليدلے چه د نفس په ځاي د روح په ژبه خبرے کوي. او په زړۀ کښې لوبيږي. ما دا فيصله اوکړه چه ته هم د دے درګا نه کاميابه کيدلے شي. چه سحر شه. لاړله. او د هغوئ په دروازه کښې کښيناستلم. هغوئ چه راغلل. دواړه لاس يئے راکړل. بيا يئے فقط يو دوه لفظه راته او ښودل او راته يئے او فرمائي. چه دا لفظونه مختصر دي. ليکن معني يئے پوره ده. او د دے لفظونو چه کوم اثرات مرتب کيدل وو. په هغے يئے پوهه کړم. نو زۀ هلته ووم چه ځما زکر ماته لطف راکؤلو. د دوئ نه رخصت شوم. زۀ خو زوړ سپاهي ووم. د چيله کشئ کولو او رياضتونو کولو ټولے مرحلے م وهلے وے. دوئ چه کوم اسما ربي راښودلي وو. د هغے په ذکر ستومانه نه ووم. بلکه خوشحاله زيات ووم. ځکه چه دا رياضتونه مرنړ مخکښې ډير کړي وو. ما دا خيال او کړلو چه دا خو ستا فقط اولنے سبق دے. دومره خونډ يئے اوکړ. غوږ شوے. راشه بيا ورشه. چه بل سبق درکړي. چه دا سبقونه زر خلاص شي. زۀ بيا راغلم. چه

حاضر شوم. د ستړي مه شي په ځاي يئے ماله دومره سختي زور نه راکړه. چه ما دومره زور د دے نه مخکښې نه وو ليدلے. راته يئے اووئيل چه ځان دے لکه د بامبړانو غوړ کړ او ماله راغلے. فقير ويښته سوري کوؤل دي. او د هغے په منځ کښې کيښناستل دي. څه لاړ شه. او د ځان نه سړے جوړ کړه. واپس را اووتلم. نيغ د سيند پورے غاړه لاړلم. د کرم جاري شه. شپږ مياشتے م په غرونو کښې تيرے کړلے دا روغے شپږ مياشتے د الله او رسول ته په غير د بل هيڅ څيز نه خبر نه وو. نه د خوراک څښاک نه او نه د بل څه نه. بيا د هغه غرونو ګرجران چه د "سائي صاحب" مريدان وو. ځا په بے خبرئ کښې سائي صاحب ته تلي وو. او ځما په حق کښې يئے خواست کړے وو. د هغے نه پس ځما په احوالو کښې څه سوړ والے راغے. د هغوئ دليدلو خواهش م پيدا شه. ګوجرانو راته يو اوږد کميص راکړ. چه سلام ته حاضر شوم. په دغه وخت کښې ځما د بدن هر رګ او تار په ذکر جاري وو. سائي صاحب راته او فرمائيل. چه "جنړا" (هلکه) داسے مزه کوي. بيا يئے راته نور ذکرونه راکړل. او سوړ والے پيدا شه."

بادشاه جان صاحب به فرمائيل. چه څه وخت رسول شاه بادشاه صاحب رانه دا قيصه اوکړله نور ماورنه اووئيل چه بادشاه صاحب دغه سړي راته ښايه هغه راته اووئيل ډيره ښه ده. او بيائے يوه وظيفه راته راکړه. او خپل ځای ته هغه راته اووئيل ډيره ښه ده. او بيائے يوه وطيفه راته

راکړه. او خپل ځای ته یئے بوتللم. او د
د هغه ځاي نه "مظفر آباد" ته د حضرت شیخ
محمد عظیم علیه الرحمته د ملاقات د پاره
رارروان شوم. په مظفر آباد (ذاد کشمیر)
کښې م سل منړے (سیب واخیستلے. د پاره د
دے چه د حضرت صاحب په خدمت کښې یئے نذر
کړم. دا راته معلومه نه وه چه موضع "راج
کنډي نړا" نه چه په غره کښې کومه لار
ختلے وه. هغه ډیره اوږده او سخته وه. په
ډیر تکلیف سره ځاي ته اورسیدلم. د حضرت
صاحب سلام ته حاضر شوم. د منړو پنډاو
ورسره د څولور سوه روپو د قیمت د سرو
زروپونډونه م د هغي په خدمت کښې نذر
کړل. هغوئ د غه هدیه قبوله کړه لیکن په
دے شرط چه بیا به د دے قسم پنډونه نه
راوړے. نور محنت اوکړاؤ به نه کوے. او
مبارکي یئے راکړه چه تا کوم یوؤولس کاله
زهد او ریاضت د حضرت نقیب صاحب په خدمت
کښې کړے دے. هغه خدائي ته منظور شوے دے
او د سلوک او عرفان او چت منزل ته د
رسیدلو د پاره ډیر کم مشقت درته پاتے
دے. حضرت سائي صاحب راته او فرمائیل چه
قلب سلیم او تسکین قلب د حضرت محمد
مصطفی صلي الله علیه وسلم د قرب او
دحضرت علي المر تضی کرم الله وجه د
روحاني سر پرستئ او منظوي حاصلیدلو نه
پس حاصلیدلے شي. د دے نه پس حضرت شیخ
محمد عظیم قدس سره به د حضرت بادشاه جان
صاحب سره ډیر شفقت کولو. او روزانه به
یئے نوے نوے سبق ورکؤلو. چنانچه ډیرے
لږے ورځے یئے د دے پیر روشن ضمیر په

خدمت کښې تیر کړلے. او هغة فیوضات یئے ترینه حاصل کړه چه په الفاظو کښې نه شي بیانیدلے.

حضرت بادشاه جان صاحب به فرمائیل چه زهٔ د خپل شیخ طریقت حضرت محمد عظیم قدس سره د کمالاتو پحقله صرف دومره وئیلے شم چه هغه یو بے مثله عارف وو. دلیلة القدر د مبارکے شپے علم خداي ورکړے وو. د معرفت الهی او قرب رسول چه هر څومره مدارج او منزلونه دي. هغه یئے قرآن مجید د حروف مقطعات په ذریعه حل کړي او آسان کړي وو. کوم منزلونه چه په حروف مقطعات کښې دي.هر کله چهٔ زهٔ په دے نعمت باندے سرفراز کړلے شوم. نو هر هغه څه چه ماغوښتل هغه هر څه تر څه قدره پورے د حضرت سائي شیخ محمد عظیم علیه الرحمة د توجه. مهرباني او ملګرتیا په برکت خداي پاک ماته راکړل. نو بیا ما خیال او کړلو. چه دا نعمت دے. د خداي پاک په لوئ فضل او کرم زهٔ په یو ډیر لوئ نعمت بهره ورشولم. پکار ده چه زهٔ دا نعمت خپلو رونړه و او عزیزانو ته یو سم. خپلي کلي ته راغلم. د خپلو رونړو عزیزانو سره م شپے ورځے تیره ولے خپل ذکر اذکار م کؤلو. خو د وئ ځما د ملګرتیا خیال او نه ساته. او خبره تر دے را اورسیده چه زهٔ دا خپل کور کلے. پوله پټے. مال هال جائیداد هر څه دوئ ته پریږدم. او یو ځل بیا د دے خپل وطن نه لاړ شم.

حضرت بادشاه جان صاحب د ۱۹۲۵ء په خواؤ شا کښې پېښور ته تشريف راوړے وو. او دلته يئے يوه ديره نيولے وه. په دغه ديره کښے د دوئ د ټولو نه اولنے خادم مريد او بيا روستو د ټولو نه مشر خليفه (خليفه اکبر) يئے جناب زرين دادا صاحب وو. ورځے تيريدلے. د دوئ د روحاني او عرفاني مرتبے شهرت کيدلو. د معرفت طالبان به راتلل او فيض به يئے ترينه حاصلولو. په ۱۹۶۷ء کښې د حضرت خواجه معين الدين حسن چشتي اجميري قدس سره عرس ته يئے تشريف يوړلو. هلته ورته په روحاني طريقه سره هدايت اوشه. چه د حضرت خواجه غريب نواز په مزار پررانوار، باندے د ۲۳، او ۲۴،تاريخ د ماه ذالحجه په منځنی شپه کښې بيرغ او خيژوي او د حضرت خواجه غريب نواز د "جشن تاجپوشی" د ستوره اوکړي.

حضرت بادشاه جان صاحب به په چشتيه طريقه کښې مريدانو ته بيعت ورکؤلو. مريدان او خليفه ګان يئے ډير دي چه بعض پکښې مشهور او ښکاره خلق دے.

حضرت بادشاه جان صاحب په شلم تاريخ د ماله ذي قعده ۱۳۷۲هـ مطابق ۱۹۵۶ء د دے دنيا نه سفر او کړو. او مزار مباکر يئے د ډبګرئ دروازے (پيښور) نه باهر جوړ کړلے شه. چه مرجع د خاص و عام دے.

عليه الرحمة والغفران